كشف الباري
عما في
صحيح البخاري

تصنيف

حضرت مولانا سليم الله خان

مؤلف شيخ الحديث جامعہ فاروقیہ کراچی

مترجمان

مولانا انشاء فیصل فاضل جامعۃ الفاروق

وحاجی عبدالرحیم صاحب

زمزم پبلشرز

علماء دیوبند کے علوم کا پاسبان
دینی وعلمی کتابوں کا عظیم مرکز ٹیلیگرام چینل
حنفی کتب خانہ محمد معاذ خان
درس نظامی کیلئے ایک مفید ترین
ٹیلیگرام چینل

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

فضائل الصحابة

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان مدظلہ العالی
شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

ترتیب وتحقیق ← مولانا عزیز الرحمٰن عظیمی استاذ جامعہ فاروقیہ کراچی

ترجمہ ← **مولانا شاہ فیصل** فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

جلد ۹

① د احادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې په ره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ د حدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې د احدیث په کوم کوم خائې کښې دي

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب ټول حقوق د مصنف او ناشر سره محفوظ دی

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: فضائل الصحابة

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا عزیز الرحمٰن عظیمی استاذ جامعه فاروقیه کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پیښور یونیورسټی

د کشف الباری د پښتو اور فارسۍ د ترجمې د حقوقو په حقله وضاحت

دا خبره دې په ذهن کښې وی چې فیصل کتب خانه د صدر وفاق المدارس العربیه مهتمم جامعه فاروقیه شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مدظله العالی څخه د کشف الباری پښتو او فارسۍ ژبو کښې د ترجمو حقوق ترلاسه کړل اود حقوقو معاوضه ئې ورته ورکړه ددې څخه روسته هیڅ چاته د کشف الباری پښتو او فارسۍ د ترجمه کولو او چاپ کولو اجازت نشته او د هر یو جلد رجسټریشن ئې هم د حکومت پاکستان سره شوی دی.

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پیښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبة القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸٥٥۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

۶۶-کتاب فضائل الصحابة رضی الله عنهم

باب فَضَائِلِ أَصْحَابِ النَّبِی صلی الله علیه وسلم

د فضائل معنی: ۴۸
د لفظ "أصحاب" تحقیق: ۴۸
د صحابی تعریف: ۴۸
اولنی قول:- ۴۸
قوله: فهومن أصحابه: ۴۹
دویم قول: ۵۰
دریم قول: ۵۰
څلورم قول: ۵۱
پنځم قول: ۵۱
شپږم قول: ۵۱
د قسطلانی رائی: ۵۱
د رسول الله ﷺ یو نظر د صحابیت د پاره د کافی ګرځولو قول: ۵۲
د صحابی د تعریف په حوالې سره په امام بخاری اعتراض: ۵۳
د قسطلانی د ارخ نه د امام بخاری دفاع: ۵۳
د قسطلانی د رائې ضعف او راجح تعریف: ۵۳
د زین عراقی په "تعریف" باندې اشکال او د هغې جواب: ۵۴
د تمیز د عمر نه ورځندې د رؤیت حکم: ۵۴
د صحابی په تعریف کښې د "اسلام" قید:- ۵۵
آیا د ارتداد په وجه صحابیت ختمیږی؟: ۵۵
د اشعری قول: ۵۶
رؤیت په دُنیوی ژوند کښې شرط دی: ۵۷
د چا چې معاصرت ثابت وی، رؤیت نه: ۵۷
دصحبت په مصداق کښې داهل لغت اواهل عرف اختلاف او د اصحاب الحدیث رجحان: ۵۸
د صحابیت د معلومیدو طریقې: ۵۹

رجال الحدیث .....
عَلِیُّ بنُ عَبدِاللهِ: ۶۲
سفیان ۶۲

شمیره	مضمون	صفحه

عمرو: .....
جَابِرَبنَ عَبدِاللهِ: ٦٣
اَبوسَعیدِالخُدرِیُّ: ٦٢
قوله: فَیَغزُوفِئَامٌ: ٦٢
د قرون ثلاثه په ختمیدو سره د صحابهٔ کرامو، تابعینو او تبع تابعینو وجود ختم شو: ٦٢
د ۱۱۰ هجري نه ورسته د چا د صحابیت دعوی مسموع نه ده: ٦٣
د قرون اربعؤ ذکر: ٦٤
قرون ثلاثه کله ختم شو؟: ٦٥
د قرون ثلاثه نه ورسته به د فتنو باران وی: ٦٦
قرن څهٔ ته وائی؟: ٦٦
په قرون ثلاثه کښې د افضلیت مسئله: ٦٧
د جمهورو او د ابن عبد البر اختلاف: ٦٨
د علامه نووی توجیه: ٦٩
د ابن عبد البر دلائل: ٦٩
د ابن عبد البر د رائې جائزه: ٧١
د اختلاف ثمره: ٧٢
د جمهورو له ارخ نه د ابن عبد البر د دلائلو جوابونه: ٧٢
په خیر او شر دواړو کښې د غالب او اکثر اعتبار دې: ٧٣
رجال الحدیث .....
إسحاق: ٧٤
النَّضْرُ: ٧٤
شُعْبَةُ: ٧٤
اَبِی جَمْرَةَ: ٧٤
زَهْدَمُ بْنُ مَضْرِبٍ: ٧٤
عِمْرَانِ بْنِ حُصَیْنٍ: ٧٤
رجال الحدیث .....
مُحَمَّدُ بْنُ کَثِیْرٍ: ٧٥
سُفْیَانُ: ٧٥
مَنْصُوْرٍ: ٧٥
إبراهیم: ٧٥
عُبَیْدَةَ: ٧٥

شمیره	مضمون	صفحه

عَبْدُاللهِ: ۷۵

۲:-باب: مَنَاقِبِ الْمُهَاجِرِيْنَ وَفَضْلِهِمْ

مهاجرین او انصار څوك دی؟ ۷۵
د سیدنا ابو بکر رضی اللہ عنہ نوم نسب او مقام او مرتبه: ۷۶
قوله: منهم أبوبكر عبدالله بن أبي قحافة: ۷۶
په "عتیق" نوم سره د نومیدلو وجه: ۷۷
"صدیق" لقب او ددې وجه: ۷۷
د رسول الله ﷺ بلا فصل خلیفه: ۷۸
د الله تعالی رسول فقیر نه وو: ۷۹
د فقر او غنی قسمونه: ۷۹
دې آیت مبارکه سره د انصارو او مهاجرینو فضیلت ثابتیږی: ۸۰
په ابوبکر باندې د سکینې نازلیدو قول: ۸۰
قوله: قَالَتْ عَائِشَةُ، وَأَبُوسَعِيدٍ: ۸۰
رجال الحديث .....
عَبْدُاللهِ بنُ رَجَاءِ الغدانی البصری: ۸۲
إِسْرَائِيلُ: ۸۲
أَبِي إِسْحَاقَ: ۸۲
اَلْبَرَاءُ: ۸۲
د روایاتو اختلاف: ۸۲
حدیث باندې د اجرت د جواز استدلال: ۸۳
څه د چیلو د څرونکی او مالك په حقله: ۸۳
رسول الله ﷺ د عادت خلاف شوډ څکلو سره مړیدل: ۸۴
قَدْاٰنَ الرَّحِيْلُ: ۸۵
آیا د غیر مملوکه چیلې شوډ څکل جائز وو؟ ۸۵
د حربی مال کړونکو توجیه غلطه ده: ۸۶
د حدیث نور فوائد: ۸۶
د آیت ذکر دلته مناسب نه دې: ۸۷
رجال الحديث .....
مُحَمَّدُبنُ سِنَانٍ: ۸۸
هَمَّامٌ: ۸۸
ثَابِتٌ: ۸۸

شمیره	مضمون	صفحه
	أنیس:	۸۸
	د "عَنْعَنَه" په څانې "تحدیث":	۸۸
	د "لو" شرطیه په معنی کښې اختلاف:	۸۹
	د مشرکینو نه غار څنګه پټ پاتې شو:	۸۹
	ابو بکر د "دریو" دریم وو:	۹۰
	د حدیث باب نور متابعات:	۹۱
	۳۔باب: قَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ (سُدُّوا الْأَبْوَابَ، إِلَّا بَابَ أَبِي بَكْرٍ)	
	قوله: قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ:	۹۲
	رجال الحدیث	
	عَبْدِ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ:	۹۲
	أَبُو عَامِرٍ:	۹۲
	فُلَيْحٌ:	۹۲
	سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ:	۹۳
	بُسْرُ بْنِ سَعِيدٍ:	۹۳
	أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ:	۹۳
	حضور ﷺ دا ارشاد کله اوفرمائیلو:	۹۳
	قوله: بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ:	۹۴
	د الفاظو اختلاف او د هغې وجه:	۹۴
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ امتیازی مقام:	۹۴
	د جملې ترکیبی حیثیت:	۹۴
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په رسول الله ﷺ باندې څۀ احسان وو؟:	۹۵
	د امام نووی رائې:	۹۵
	د قرطبی قول:	۹۶
	رسول الله ﷺ سره حسن سلوك کونکی نور هم وو:	۹۶
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د احساناتو تفصیل:	۹۷
	د "دوستئ (خلّة)" مقام غوره دې یا د "ورورولئ (اخوت)":	۹۷
	قوله: لَا يَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ بَابٌ إِلَّا سُدَّ:	۹۹
	قوله: إِلَّا بَابَ أَبِي بَكْرٍ:	۱۰۰
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خاصوالې او ددې غرض:	۱۰۰
	آیا د ابوبکر رضی اللہ عنہ کور د مسجد نبوی سره نۀ وو؟:	۱۰۰

شمیره	مضمون	صفحه
	د "سد باب" نه د مجازی معنی مراد اخستلو تردید:	۱۰۰
	په بعضي روایاتو کښي د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره ددي خصوصیت ثبوت:	۱۰۱
	د ابن الجوزی تعصب:	۱۰۳
	د احمد امین مصری جاهلانه رائي:	۱۰۴
	په روایاتو کښي تطبیق:	۱۰۴
	یو اشکال او د هغي جواب:	۱۰۵
	د حدیث بعضي فائدي:	۱۰۶

۴-باب فَضْلِ أَبِي بَكْرٍ بَعْدَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم

رجال الحدیث

عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللهِ: ۱۰۶

سُلَيْمَانُ: ۱۰۷

يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ: ۱۰۷

نَافِعٍ: ۱۰۷

اِبْنِ عُمَرَ: ۱۰۷

په خلفاء أربعو کښي چي کوم ترتیب د خلافت دي هم دغه ترتیب د فضیلت دي: ۱۰۷

د امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ قول: ۱۰۷

د مجدد الف ثانی رائي، او د ائمهٔ اربعو مذهب: ۱۰۸

د علی رضی اللہ عنہ د تفضیل قول: ۱۰۸

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت نه وراندي مفضول او ورسته د أفضل کیدو قول: ۱۰۹

په خلافت او فضیلت کښي د فرق قول: ۱۰۹

د امام غزالی رحمہ اللہ قول: ۱۱۰

د تفضیل عثمان او تفضیل علی دوارو اجازت: ۱۱۰

حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه افضل ګرځول د صحابهٔ کرامو توهین دي: ۱۱۰

د کلام خلاصه: ۱۱۰

د بعضي نورو صحابهٔ کرامو د افضلیت اقوال: ۱۱۱

د خلافت په ترتیب افضلیت باندي اجماع ده: ۱۱۲

۵-باب: قَوْلِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا»

ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۱۲

قَالَهُ أَبُو سَعِيدٍ: ۱۱۳

رجال الحدیث

مُسْلِمُ بْنُ ابراهیم: ۱۱۳

شمیره	مضمون	صفحه
	وُهَيْبٌ:	۱۱۳
	أَيُّوبُ:	۱۱۳
	عِكْرِمَةَ:	۱۱۳
	اِبْنِ عَبَّاس:	۱۱۳
	آیا د رسول الله ﷺ د الله تعالی نه علاوه بل خلیل نهٔ وو:	۱۱۳
	ابوبکر د رسول الله ﷺ د خلیل کیدو ثبوت:	۱۱۵
	قوله: وَلٰكِنْ أَخِي وَصَاحِبِي:	۱۱۵
	خُلّت څهٔ څیز دی؟:	۱۱۵
	رسول الله ﷺ د پاره د الله تعالی خُلّت او محبت دواړه ثابت دی:	۱۱۶
	د خلیل معنی او د اشتقاق ماده:	۱۱۶
	رجال الحدیث	
	مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ:	۱۱۷
	مُوسَى بْنُ اسماعيل:	۱۱۷
	تبوذکی:	۱۱۷
	وُهَيْب	۱۱۷
	أَيُّوبَ:	۱۱۸
	رجال الحدیث	
	سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ:	۱۱۸
	حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ:	۱۱۸
	أَيُّوبَ:	۱۱۸
	عَبدِاللهِ بنِ أبي مُلَيْكَةَ:	۱۱۸
	قوله: كَتَبَ أَهْلُ الْكُوفَةِ إِلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ:	۱۱۸
	رجال الحدیث	
	اَلْحُمَيْدِيُّ:	۱۱۹
	مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدُاللهِ:	۱۱۹
	د راوی په نوم کښې غلطی:	۱۱۹
	دا نښه څوک وه:	۱۲۰
	د ابوبکر د نبی کریم ﷺ په منصب د ناستې اعلان:	۱۲۰
	رجال الحدیث	
	أَحْمَدُ بْنُ أَبِي الطَّيِّبِ:	۱۲۲

شمیره	مضمون	صفحه
	شیوخ او تلامذه	۱۲۳
	د جرح او تعدیل په باب کښې اقوال	۱۲۳
	إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُجَالِدٍ د جرح او تعدیل د امامانو په عدالت کښې	۱۲۵
	بَيَانُ بْنُ بِشْرٍ:	۱۲۷
	د جرح او تعدیل د امامانو په نظر کښې	۱۲۸
	د "بیان" په نامې سره د دوؤ راویانو ذکر	۱۲۸
	وَبَرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ:	۱۲۹
	جرح او تعدیل	۱۲۹
	هَمَّامٌ:	۱۳۰
	د دریؤ تابعینو ذکر	۱۳۰
	حضرت ابوبکر رضی الله عنه په رسول الله ﷺ باندې ایمان راؤړنکې اولنې سړي وو	۱۳۰
	پنځه غلامان چا چې د تولو نه اول اسلام قبول کړو	۱۳۱
	د "امرءتان" مصداق	۱۳۱
	د عمار ددې "حصر" مقصد	۱۳۲
	ترجمة الباب سره مطابقت	۱۳۲
	رجال الحدیث	
	هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ:	۱۳۳
	صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ:	۱۳۳
	زَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ:	۱۳۴
	د جرح او تعدیل په حوالې سره	۱۳۵
	بُسْرُ بْنُ عَبَيْدِ اللهِ:	۱۳۶
	عَابِدُ اللهِ:	۱۳۶
	أَبِي الدَّرْدَاءِ	۱۳۶
	أَبَدِي عَنْ رُكْبَتِهِ:	۱۳۶
	د احنافو په نیز زنګون عورت دې	۱۳۶
	قوله: أَمَّا صَاحِبُكُمْ فَقَدْ غَامَرَ:	۱۳۶
	د "مُغَامِرٍ" تفسیر	۱۳۷
	قوله: فَسَلَّمَ:	۱۳۸
	د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په مینځ کښې "خفګان"	۱۳۸
	د ابوبکر د عمر رضی الله عنهما نه معافی غوښتل	۱۳۸
	قوله: ثَلَاثًا:	۱۳۹

شمیره	مضمون	صفحه
	ابوبکر د پاره د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه د مغفرت د دعاء اعزاز:	۱۳۹
	قوله: أَنَمَّ أَبُوبَكْرٍ:	۱۳۹
	د نبی کریم ﷺ مخ مبارک سور شو:	۱۳۹
	قوله: فَجَعَلَ وَجهُ النَّبِيِّ ﷺ يَتَمَعَّرُ.....يتمعّر،بالعين المهملة المشدّدة:	۱۳۹
	د حضرت عمر رضی الله عنه پښیمانتیا او په بلیغ الفاظو کښې معافی:	۱۴۰
	حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د عتاب نه د بچ کولو د پاره ابوبکر د خپل ځان ذمه وار وګرځول	۱۴۱
	قوله: أَنَا كُنْتُ أَظْلَمُ:	۱۴۱
	قوله: مَرَّتَيْنِ:	۱۴۱
	قوله: وَوَاسَانِي:	۱۴۱
	د تارکولی صاحبی ترکیبی حیثیت:	۱۴۲
	قوله: مرّتين:	۱۴۴
	قوله: فَمَا أُوذِيَ بَعدَهَا:	۱۴۴
	د حضرت ابوبکر رضی الله عنه همدغه شان یوه بله واقعه:	۱۴۴
	د حدیث فوائد:	۱۴۴
	رجال حدیث	۱۴۶
	مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ:	۱۴۶
	عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ:	۱۴۶
	خَالِدٌ الْحَذَّاءُ:	۱۴۶
	ابوعثمان:	۱۴۶
	شیوخ:	۱۵۰
	تلامذه:	۱۵۰
	ذات السلاسل:	۱۵۰
	قوله: أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيكَ:	۱۵۱
	د عمرو بن العاص رضی الله عنه د پوښتنې وجه:	۱۵۱
	قوله: فقلتُ من الرجال؟:	۱۵۱
	قوله: فعدّ رجالاً:	۱۵۱
	د "رجال" نه څوک مراد دی؟:	۱۵۲
	رفع د تعارض:	۱۵۳
	ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت:	۱۵۳

شمیره	مضمون	صفحه
	أبو اليمان:	۱۵۴
	شعيب:	۱۵۴
	الزهري:	۱۵۴
	أبو سلمة بن عبد الرحمن:	۱۵۴
	أبا هريرة:	۱۵۴
	شپونکي څوك وو؟	۱۵۵
	د أومن بذلك، وأبو بكر وعمر وئيلو وجه:	۱۵۵
	د لفظ "سبع" ضبط او معنى:	۱۵۶
	د "سَبُع" بالضم معنى:	۱۵۶
	د "سَبْع" بالسكون معنى:	۱۵۷
قوله:	ورجل يسوق بقرة:	۱۵۸
قوله:	بينما راع:	۱۵۸
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۱۵۸
رجال الحديث		
	عبدان:	۱۵۹
	عبد الله:	۱۵۹
	يونس:	۱۵۹
	الزهري:	۱۵۹
	ابن المسيب:	۱۵۹
قوله:	على قليب:	۱۵۹
	په رسول الله ﷺ او سيدنا ابوبكر رضي الله عنه كښې اتحادي نسبت:	۱۵۹
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۱۶۰
رجال الحديث		
	محمد بن مقاتل:	۱۶۰
	عبد الله:	۱۶۰
	موسى بن عقبة:	۱۶۱
	سالم بن عبد الله:	۱۶۱
	حضرت ابوبكر رضي الله عنه كمزورې او نحيف وو:	۱۶۱
	د "أحد شقّ ثوبي" نه څه مراد دي؟	۱۶۱

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: لم ينظر الله اليه:	۱۲۱
	قوله: يَسْتَرْخِيْ:	۱۲۱
	قوله: فقلتُ لسالم:	۱۲۱
	قوله: أذكر.....؟:	۱۲۱
	د «جَرَّازَآن» يعنى لنګ راښکلو حکم:	۱۲۲
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۱۲۲
	رجال الحديث	
	أَبُوالْيَمَانِ:	۱۲۳
	شُعَيْبٌ:	۱۲۳
	الزُّهْرِيّ:	۱۲۳
	حُمَيْدُبْنُ عَبدِالرَّحْمٰنِ بن عَوْفٍ:	۱۲۳
	د «زوجين» نه څه مراد دی؟	۱۲۳
	د مختلفو دروازو نه د بلنې مطلب:	۱۲۳
	د فی سبیل الله مقصد:	۱۲۴
	آیا انفاق په هر عملِ صالح کښې کیږی:	۱۲۴
	قوله: هَذَا خَيْرٌ:	۱۲۵
	د جنت د دروازو شمیر:	۱۲۲
	کوم خلق به د ټولو دروازو نه بللې شی او ولې؟	۱۲۲
	قوله: وَأَرْجُوا أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ:	۱۲۷
	د حدیث فوائد:	۱۲۷
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۱۲۷
	رجال الحديث	
	سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ:	۱۲۹
	هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ:	۱۲۹
	عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ:	۱۲۹
	عَائِشَةَ رضی الله عنها:	۱۲۹
	قوله: وَأَبُوبَكْرٍ بِالسُّنْحِ:	۱۲۹
	قوله: قَالَ إِسْمَاعِيْلُ:	۱۲۹
	قوله: مَا كَانَ يَقَعُ فِي نَفْسِي إِلَّا ذَاكَ:	۱۷۰
	قوله: لَا يُذِيْقُكَ اللهُ الْمَوْتَتَيْنِ:	۱۷۰

شمیره	مضمون	صفحه
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ددې قول څه مطلب دې؟	۱۷۰
	د منکرین حیات في القبر استدلال او د هغې جواب	۱۷۱
	د قبر حیات مستمره د غیر انبیاؤ د پاره ثابت نه دې	۱۷۲
	ددې واقعې څخه د ابوبکر رضی اللہ عنہ امتیازی مقام ثابتیږی	۱۷۲
	قوله: أَيُّهَا الْحَالِفُ عَلَى رِسْلِكَ:	۱۷۳
	قوله: فَنَشَجَ النَّاسُ:	۱۷۳
	د رسول الله ﷺ د خلافت مسئله	۱۷۴
	د انصارو په سقیفة بنی ساعده کښې اجتماع	۱۷۴
	د انصارو خوا ته د اکابرو مهاجرینو راتلل	۱۷۵
	قوله: فَذَهَبَ عُمَرُ يَتَكَلَّمُ فَأَسْكَتَهُ أَبُوبَكْرٍ:	۱۷۶
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ بلیغ بیان او د هغې خبرې	۱۷۶
	قوله: فَقَالَ فِي كَلَامِهِ:	۱۷۷
	خلافت صرف د مهاجرینو حق دې	۱۷۷
	د حسب او نسب په خلافت کښې اعتبار	۱۷۸
	حُباب بن منذر په خلافت کښې د انصارو په برخې باندې کلک وو	۱۷۸
	قوله: لَا وَاللهِ لَا نَفْعَلُ:	۱۷۸
	د ابوبکر رضی اللہ عنہ د بصیرت ډک بیان نه ورسته د انصارو خبره پریښودل	۱۷۹
	قوله: هُمْ أَوْسَطُ الْعَرَبِ:	۱۸۱
	قوله: فَبَايِعُوا عُمَرَ، أَوْ أَبَا عُبَيْدَةَ:	۱۸۱
	حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ دخلافت دمستحق کیدو باوجود دعمر او ابوعبیده نومونه ولې وړاندې کړل	۱۸۱
	حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خپل استحقاق إشارةً اظهار کړې وو	۱۸۲
	حضرت عمر رضی اللہ عنہ دحضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې په بیعت کولو کښې وړاندیوالې کول	۱۸۲
	قوله: فَأَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ فَبَايَعَهُ:	۱۸۳
	د حضرت صدیق رضی اللہ عنہ دري امتیازات	۱۸۳
	د عمر په سعد بن عباده باندې غصه او د بعضې انصارو په هغې باندې رد عمل	۱۸۳
	د «الائمة من قُريش» روایتی او درایتی حیثیت	۱۸۴
	د خلیفه تاکل واجب یا سنت	۱۸۴
	رسول الله ﷺ یقیناً خلیفه نه وو تاکلې	۱۸۵
	د حضرت سعد بن عباده د پاره د بد دعا وجه	۱۸۷
	د حضرت سعد وفات	۱۸۷
	د حضرت سعد نه بغیر د اجماع منعقد کیدل	۱۸۸

شمیره	مضمون	صفحه
	رجال الحدیث	
	عَبدُاللهِ بنُ سَالِمٍ:	۱۸۸
	الزُّبَیدِیّ:	۱۸۸
	عَبدُالرَّحمٰنِ بنُ القَاسِمِ:	۱۸۹
	تعلیق:	۱۸۹
	قوله: شَخَصَ بَصَرُالنَّبِیّ:	۱۸۹
	د الرَّفِیقِ الاعلٰی نه څه مراد دی؟	۱۸۹
	قوله: وَقَصَ الحَدِیثَ:	۱۸۹
	د سیدنا عمر د انکار او د سیدنا ابوبکر د اقرار حکمت:	۱۸۹
	"وَاِنَّ فیهم لنفاقًا" ..... "کښې د تصحیف قول:	۱۹۰
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُبنُ کَثِیرٍ:	۱۹۱
	سُفیَانُ:	۱۹۱
	جَامِعُبنُ أبِی رَاشِدٍ:	۱۹۱
	أبُویَعلٰی:	۱۹۱
	مُحَمَّدُبنُ الحَنفِیَّةِ:	۱۹۱
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۱۹۱
	په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کښې د افضلیت مسئله:	۱۹۱
	د حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضلیت او بلا فصل خلافت:	۱۹۲
	د شیعه ګانو د تولو باطلو عقائدو او فکرونو بنیاد د "صحابهٔ کرامو دښمنی" ده:	۱۹۲
	د حضرت علی رضی الله عنه د ابوبکر رضی الله عنه په لاس باندې د بیعت کولو شیعی تاویلات:	۱۹۳
	د حدیث او تاریخ په کتابونو کښې "د حضرت علی رضی الله عنه د بیعت" تصریحات:	۱۹۳
	د حضرت فاطمې رضی الله عنها د وفات نه ورسته حضرت علی رضی الله عنه په دویم خل بیعت اوکړو:	۱۹۵
	د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خپل "أحق" کیدو اظهار:	۱۹۶
	د شیعه ګانو اعتراف:	۱۹۷
	په بیعت کښې د قرآن کریم د جمع کولو په سبب تاخیر:	۱۹۸
	په احادیثو کښې د شپږو میاشتو ورسته بیعت صراحت او د هغې توجیهات:	۱۹۹
	په "زهری راوی" باندې کلام:	۲۰۱
	د بیعت په حقله د زهری په روایت باندې د علماؤ عدم اعتماد:	۲۰۲
	د تطبیق او د جمع بین الروایات صورت:	۲۰۳

شمیره	مضمون	صفحه
	د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د روایت په حوالې سره توجیهات	۲۰۴
	حضرت علی رضی اللہ عنہ د تاخیر نه بغیر د بیعت کولو نور شواهد او دلائل	۲۰۵
	حضرت علی رضی اللہ عنہ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته بلا فصل خلیفه اووئیل	۲۰۵
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ دا اقرر چې ابوبکر رضی اللہ عنہ رسول الله ﷺ وراندې کړې وو	۲۰۶
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ دا اقرار چې ابوبکر رضی اللہ عنہ په دینی اعتبار سره د ټولو نه زیات افضل وو	۲۰۶
	هم حضرت علی رضی اللہ عنہ د ابوبکر رضی اللہ عنہ استعفی مسترد کړې وه	۲۰۷
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ دا اظهار کول چې دې کمزورې نه دې، ولې خلافت ددۀ حق نۀ دې	۲۰۷
	د شیعه ګانو د کتابونو نه ددې تائید	۲۰۹
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ او د خلفاء ثلاثو خپل مینځ کښې د اعتماد تعلق وو	۲۱۲
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ په ژبه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د فضیلت بیان	۲۱۳
	صرف د ظاهری اقتداء دعوی د علی المرتضی د شان سره منافی ده	۲۱۵
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ او خلفاء ثلاثو خپل مینځ کښې بشکلې تعلق وو	۲۱۶
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ په ژبه د أصحاب ثلاثۀ د فضائلو بیان	۲۱۷
	د محمد بن حنفیه حدیث باب	۲۱۸
	د بحث خلاصه	۲۱۹
	د حدیث باب مزید تشریح	۲۱۹
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ افضلیت صرف د راویانو خپل خیال دې	۲۲۰
	قوله: وَخَشِيتُ أَنْ يَقُولَ	۲۲۱
	حضرت علی رضی اللہ عنہ خپل خان ته رجل من المسلمي ولې وئیل؟	۲۲۱
	رجال الحدیث	۲۲۴
	قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ:	۲۲۴
	عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بن القَاسِمِ:	۲۲۴
	عَنْ أَبِيهِ:	۲۲۴
	عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا:	۲۲۴
	د ابوبکر د خاندان برکت	۲۲۵
	رجال الحدیث	
	آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ:	۲۲۵
	شُعْبَةُ:	۲۲۵
	اَلْأَعْمَشُ:	۲۲۵
	ذَكْوَانَ	۲۲۵
	أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ:	۲۲۶

شمیره	مضمون	صفحه
	د سابقینو اولینو مقام او مرتبه:	۲۲۶
	د تقی الدین سبکی توجیه او د هغې رد:	۲۲۶
	ټول صحابه ؓ په طریقهٔ اولی ؓ مراد کیدې شی:	۲۲۷
	خطاب متاخرینو صحابو ته دی:	۲۲۷
	صحابهٔ کرامو ؓ ته د کنځلو او بد رد وئیلو حکم:	۲۲۷
	آیا د صحابهٔ کرامو د گستاخۍ کونکی توبه به قبوله وی؟:	۲۲۸
	قوله: أنفقَ مثل أحد:	۲۲۸
	قوله: مُدَّ أحدِهم:	۲۲۸
	قوله: نَصيف:	۲۲۸
	د ؓ متابعاتو ؓ ذکر:	۲۳۰
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُ بنُ مِسكِين:	۲۳۳
	يَحيَى بنُ حَسَّانَ:	۲۳۳
	سُلَيمَانُ:	۲۳۳
	شَرِيكُ بنُ أبي نَمِر:	۲۳۳
	سَعِيدُ بنُ المُسَيَّب:	۲۳۳
	أبُو مُوسَى الأشعري:	۲۳۴
	د ؓ قُلتُ ؓ فاعل ابوموسی الأشعری دی:	۲۳۴
	قوله: قَالَ فَجَاءَ المَسجِدَ:	۲۳۴
	قوله: وَوَجَّهَ هَاهُنَا:	۲۳۴
	قوله: حَتَّى دَخَلَ:	۲۳۵
	بئرِ أَرِيس څه څیز دی؟	۲۳۵
	قوله: تَوَسَّطَ قُفَّهَا:	۲۳۵
	آیا رسول الله ﷺ ابو موسی اشعری ؓ پهره دار جوړ کړو؟	۲۳۵
	د ابن التین استدلال او د هغې رد:	۲۳۶
	قوله: فَجَاءَ أَبُو بَكرٍ فَدَفَعَ البَابَ:	۲۳۷
	قوله: يُبَشِّرُكَ بِالجَنَّةِ:	۲۳۷
	د ابوبکر رسول الله ﷺ سره یو شان والې اختیارول:	۲۳۷
	قوله: وَقَد تَرَكتُ أَخِي:	۲۳۷
	د ابن التین یو غلط استدلال او د هغې رد:	۲۳۸

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: فَجَلَسَ وَجَاهَه:	۲۳۸
	د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د صبر دعا:	۲۳۸
	مختلفو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم ارخ ته ددې واقعې نسبت:	۲۳۹
	د "بلوی" نه څه مراد دې؟:	۲۴۱
	د ابوبکر او عمر قبرونه رسول الله ﷺ سره د کیدو پیشن ګوئی:	۲۴۱
	په باغ کښې د کیناستو ترتیب په قبرونو کښې هم کیدل ضروری نه دی:	۲۴۱
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۲۴۳
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ:	۲۴۳
	يَحْيَى:	۲۴۳
	سَعِيدٍ:	۲۴۳
	قَتَادَةَ:	۲۴۳
	أَنَسَ بنَ مَالِكٍ:	۲۴۳
	أُحُدٍ يا حراء؟:	۲۴۳
	قوله: وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ:	۲۴۴
	أحد ته نداء حقیقی ده یا مجازی:	۲۴۴
	د غر خوزیدل د خوشالې نه وو:	۲۴۵
	د قسطلانی په رائې کښې دوارې احتماله دی:	۲۴۶
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۲۴۶
	رجال الحدیث	
	أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ:	۲۴۷
	وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ:	۲۴۷
	صَخْرٌ:	۲۴۷
	نَافِعٍ:	۲۴۷
	عَبْدَاللهِ بنَ عُمَرَ:	۲۴۷
	دا د خوب واقعه ده:	۲۴۷
	د "ذنوب" نه څه مراد دی؟:	۲۴۸
	د "ضعف" یو بل مطلب:	۲۴۹
	د "وَاللهُ يَغْفِرُ لَه" مطلب:	۲۴۹
	قوله: غَرْبًا:	۲۵۰

شمیره	مضمون	صفحه
	د "عبقری" معنی:	۲۵۰
	قوله: يَفْرِي فَرِيَّهُ:	۲۵۰
	قوله: حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ:	۲۵۱
	د عطن معنی او مفهوم:	۲۵۱
	قوله: الوَلِيدُ بنُ صَالِحٍ:	۲۵۳
	شیوخ او تلامذه:	۲۵۳
	جرح او تعدیل:	۲۵۳
	عِيسَى بنُ يُونُسَ:	۲۵۴
	عُمَرُ بنُ سَعِيدٍ:	۲۵۴
	اِبْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ:	۲۵۴
	اِبْنِ عَبَّاسٍ:	۲۵۴
	عبارت کښې په ترکیبی اعتبار سره اختلاف:	۲۵۴
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۲۵۵
	رجال الحديث	
	مُحَمَّدُ بنُ يَزِيدَ:	۲۵۶
	د جرحې او تعدیل په باب کښې:	۲۵۶
	اَلْوَلِيدُ:	۲۵۹
	الأَوْزَاعِيّ:	۲۵۹
	يَحْيَى بنِ أَبِي كَثِيرٍ:	۲۵۹
	مُحَمَّدِ بنِ ابراهيم:	۲۵۹
	عُرْوَةَ بنِ الزُّبَيْرِ:	۲۵۹
	عَبْدَاللهِ بنَ عَمْرٍو:	۲۵۹
	قوله: وَهُوَ يُصَلِّي:	۲۶۰
	قوله: رِدَاءَهُ:	۲۶۰
	قوله: فَخَنَقَهُ بِهِ:	۲۶۰
	قوله: فَجَاءَ أَبُوبَكْرٍ:	۲۶۰
	قوله: حَتَّى دَفَعَهُ عَنْهُ:	۲۶۰
	ابو بکر او "د ال فرعون مؤمن":	۲۶۰
	د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ وفات:	۲۶۰

شمیره	مضمون	صفحه

۶-بَابُ: مَنَاقِبُ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ أَبِي حَفْصٍ الْقُرَشِي الْعَدَوِي رضی الله عنه

د عمر بن الخطاب نوم او نسب: ۲۶۱

د "الفاروق" وجهٔ تسمیه: ۲۶۱

قوله: اَلْقُرَشِي: ۲۶۱

قوله: اَلْعَدَوِي: ۲۶۲

رجال الحديث .....

حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ: ۲۶۲

عَبْدُ الْعَزِيزِ الْمَاجِشُونُ: ۲۶۲

مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ: ۲۶۲

جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ: ۲۶۲

قوله: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ: ۲۶۳

قوله: الرُّمَيْصَاءِ: ۲۶۳

قوله: خَشَفَةً: ۲۶۳

قوله: فَقَالَ هَذَا بِلَالٌ: ۲۶۳

قوله: وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ: ۲۶۳

قوله: فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ: ۲۶۴

قوله: فَقَالَ عُمَرُ: ۲۶۴

قوله: بِأُمِّي وَأَبِي: ۲۶۴

قوله: أَعَلَيْكَ أَغَارُ: ۲۶۴

حضرت عمر رضی الله عنه ولې اوژړل؟: ۲۶۴

رجال الحديث .....

سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ: ۲۶۵

اللَّيْثُ: ۲۶۵

عُقَيْلٌ: ۲۶۵

اِبْنِ شِهَابٍ: ۲۶۵

سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ: ۲۶۵

أَبَاهُرَيْرَةَ: ۲۶۵

په دواړو روایتونو کښې فرق: ۲۶۵

د حدیث فائدې: ۲۶۶

شمیره	مضمون	صفحه
	په جنت کښې د اودس کولو نه څه مراد دي؟	۲۲۶
	د خطابی او د ابن قُتیبه عجیبه تاویل	۲۲۶
	"ترجمه"هم د خطابی تکذیب کوی	۲۲۷
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُبنُ الصَّلْتِ	۲۲۸
	ابْنُ المُبَارَكِ	۲۲۹
	يُونُسَ	۲۲۹
	الزُّهَرِيّ	۲۲۹
	حَمْزَةُ	۲۲۹
	أبيه	۲۲۹
	قوله: شَرِبْتُ،يَعْنِي اللَّبَنَ	۲۲۹
	قوله: حَتَّى أَنْظُرَإِلى الرِّي	۲۲۹
	قوله: يَجْرِي فِي ظُفُرِي	۲۷۰
	قوله: ثُمَّ نَاوَلْتُ	۲۷۰
	د خوب تعبیر چا بیان کړو ؟	۲۷۰
	د شودو تعبیر په علم سره ولې اوکړې شو؟	۲۷۱
	د علم نه مراد علم سیاست دي	۲۷۱
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُبنُ عَبدِاللهِ بنِ نُمَيرٍ	۲۷۲
	مُحَمَّدُبنُ بِشْرٍ	۲۷۲
	عُبَيدُاللهِ	۲۷۳
	أَبُوبَكرِبنُ سَالِمٍ	۲۷۳
	سَالِمٍ	۲۷۳
	قوله: بِدَلْوِبَكُرَةٍ	۲۷۳
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ عبقری کیدل او د هغې مفهوم	۲۷۳
	د مذکوره تعلیق تخریج او د هغې موصولاً ذکر	۲۷۴
	رجال الحدیث	
	عَلِيُّ بنُ عَبدِاللهِ	۲۷۶
	يَعْقُوبُ بنُ إبراهيم	۲۷۶
	صَالِحٍ	۲۷۶

شمیره	مضمون	صفحه
	اِبنِ شِهَاب:	۲۷۶
	مُحَمَّدبنَ سَعدِ:	۲۷۶
	عَبدُالعَزِیزبنُ عَبدِاللهِ:	۲۷۶
	إبراهیمبنُ سَعدِ:	۲۷۶
	عَبدِالحَمِیدِبنِ عَبدِالرَّحمٰنِ:	۲۷۶
	مُحَمَّدِبنِ سَعدِبنِ أبِی وَقَّاصٍ:	۲۷۷
	څلور مدنی تابعین یو خائې:	۲۷۷
	دا ښځې څوک وې؟:	۲۷۷
	د پیغمبر ﷺ وړاندې "د آواز اوچتولو" د ممانعت سوال:	۲۷۷
	قوله: أضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ:	۲۷۸
	قوله: أتَهَبْنَنِي:	۲۷۸
	حضرت عمر رضی الله عنه ته د ښځو د ویرید و علم څنګه اوشو:	۲۷۹
	قوله: أنْتَ أفَظُّ وَأغْلَظُ:	۲۷۹
	په قرآن او حدیث کښې د تعارض خبره:	۲۷۹
	آیا حضرت عمر رضی الله عنه د غیر ضروری حده پورې سختی کونکې وو:	۲۸۰
	قوله: إيهًا يَا ابْنَ الخَطَّابِ!:	۲۸۱
	قوله: إلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيرَ فَجِّكَ:	۲۸۲
	آیا حضرت عمر رضی الله عنه معصوم وو؟:	۲۸۲
	د نبی عصمت واجب او د غیر نبی ممکن دی:	۲۸۲
	د حضرت عمر رضی الله عنه نه د شیطان تختیدو مطلب:	۲۸۳
	د لارو جدا کیدو دوه مطلبونه:	۲۸۳
	رسول الله ﷺ داسې سختی ولې نه کوله:	۲۸۴
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُبنُ المُثَنّٰى:	۲۸۵
	یحیی:	۲۸۵
	قیس:	۲۸۵
	عبدالله:	۲۸۵
	قوله: مَا زِلْنَا أعِزَّة:	۲۸۵
	د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله د حضرت عبد الله بن مسعود تاریخی الفاظ:	۲۸۵
	د حضرت عمر رضی الله عنه اسلام قبلول او د هغې اثرات:	۲۸۶

شمیرہ	مضمون	صفحہ

رجال الحدیث .....
عَبْدَانُ: ۲۸۸
عَبْدُاللهِ: ۲۸۸
عُمَرُبْنُ سَعِيدٍ: ۲۸۸
ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ: ۲۸۹
قوله: وُضِعَ عُمَرُ عَلَى سَرِيرِهِ: ۲۸۹
قوله: فَلَمْ يَرُعْنِي: ۲۸۹
قوله: أُخِذٌ: ۲۸۹
قوله: فَتَرَحَّمَ عَلَى عُمَرَ: ۲۸۹
قوله: أُحَبَّ إِلَيَّ: ۲۸۹
د "صاحبین" مصداق او د "معیت" مطلب: ۲۸۹
حضرت علی رضی اللہ عنہ سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ مقام: ۲۸۹
قوله: وَحَسِبْتُ أَنِّي كُنْتُ: ۲۸۹
قوله: فَتَكَنَّفَهُ النَّاسُ: ۲۹۰

رجال الحدیث .....
مُسَدَّدٌ: ۲۹۰
يَزِيدُبْنُ زُرَيْعٍ: ۲۹۰
سَعِيدٌ: ۲۹۰
خَلِيفَةُ: ۲۹۰
مُحَمَّدُبْنُ سَوَاءٍ ۲۹۰
كَهْمَسُ بْنُ الْمِنْهَالِ ۲۹۱
سَعِيدٌ ۲۹۲
قَتَادَةَ ۲۹۲
أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ۲۹۲
قوله: فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٍّ، أَوْصِدِّيقٍ، أَوْشَهِيدٍ ۲۹۲

رجال الحدیث .....
يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ: ۲۹۳
ابْنُ وَهْبٍ: ۲۹۳
عُمَرُ: ۲۹۳

شمیره	مضمون	صفحه
	زَيْدبنَ أَسْلَمَ:	۲۹۳
	اِبْنِ عُمَرَ:	۲۹۳
	قوله: سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ:	۲۹۴
	قوله: فَقَالَ: مَارَأَيْتُ أَحَدًا:	۲۹۴
	قوله: أَجَدَّوَأَجْوَدَ:	۲۹۴
	قوله: بَعْدَرَسُولِ اللهِ:	۲۹۴
	رجال الحديث	
	سُلَيْمَانُ بنُ حَرْبٍ:	۲۹۵
	حَمَّادُبْنُ زَيْدٍ:	۲۹۵
	ثَابِتٍ:	۲۹۵
	أَنَسٍ:	۲۹۵
	د رجل نه څوك مراد دي؟:	۲۹۵
	ترجمة الباب سره د حديث مطابقت:	۲۹۶
	د اسلوب الحكيم په طريقه جواب:	۲۹۶
	د معيت نه څه مراد دي ؟:	۲۹۷
	رجال الحديث	
	يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ:	۲۹۷
	إبراهيم بنُ سَعد:	۲۹۷
	أَبِي سَلَمَةَ:	۲۹۷
	أَبِي هُرَيْرَةَ:	۲۹۷
	د ابو سلمه د حضرت نه روايت:	۲۹۸
	د "محدّثون" معنى او مطلب:	۲۹۸
	آيا د "محدّثينو" د راتلو صرف احتمال دي؟:	۳۰۱
	په امت مسلمه كښې د "محدّثينو" په وجود كښې څه حكمت دي؟:	۳۰۲
	دا د حضرت عمر رضي الله عنه امتيازي شان دي:	۳۰۲
	قوله: قال ابن عباس من نبي ولا محدّث:	۳۰۳
	رجال الحديث	
	عَبْدُاللهِ بْنُ يُوسُفَ:	۳۰۴
	اللَّيْثُ:	۳۰۴
	عُقَيْلٌ:	۳۰۴

شمیره	مضمون	صفحه
	ابْنِ شِهَاب:	٣٠٤
	سَعِيدِبْنِ الْمُسَيَّبِ:	٣٠٤
	أَبِي سَلَمَةَبْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ:	٣٠٥
	أَبُوهُرَيرَةَ:	٣٠٥
	ترجمة الباب سره مناسبت:	٣٠٥
	يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ:	٣٠٥
	اللَّيْثُ:	٣٠٥
	عُقَيْلٌ:	٣٠٥
	ابْنِ شِهَابٍ:	٣٠٥
	أَبُوأُمَامَةَبْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيفٍ:	٣٠٦
	عَنْ أَبِي سَعِيدِالْخُدْرِيِّ:	٣٠٦
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د افضل الصحابه کیدو خیال:	٣٠٦
	رجال الحديث	
	الصَّلْتُبْنُ مُحَمَّدٍ:	٣٠٧
	إِسْمَاعِيلُ بنُ إبراهيم:	٣٠٧
	أَيُّوبُ:	٣٠٧
	ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ:	٣٠٧
	المِسْوَربنِ مَخْرَمَةَ:	٣٠٧
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شهادت تفصیلات:	٣٠٧
	قوله: وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ:	٣٠٨
	قوله: وَلَئِنْ كَانَ ذَاكَ:	٣٠٨
	قوله: ثُمَّ فَارَقَتْ:	٣٠٩
	قوله: "فإن ذالك مَنٌّ":	٣٠٩
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ فکر مند کیدل:	٣١٠
	حضرت عمر رضی اللہ عنہ داسې ولې اوفرمائیل؟:	٣١٠
	قوله: طِلاَءَ الأرض:	٣١٠
	رجال الحديث	
	يُوسُفُبنُ مُوسَى:	٣١٢
	أَبُواُسَامَةَ:	٣١٢

شمیره	مضمون	صفحه
	عُثمَانُ بنُ غِيَاثٍ:	۳۱۲
	أَبُوعُثمَانَ النَّهدِيُّ:	۳۱۲
	أَبِي مُوسَى:	۳۱۲
	د مصیبت زغملو دعاء:	۳۱۲
	رجال الحديث	
	يَحْيَى بنُ سُلَيْمَانَ:	۳۱۳
	ابنُ وَهْبٍ:	۳۱۳
	حَيْوَةُ:	۳۱۳
	أَبُوعَقِيلٍ زُهرَةُ بنُ مَعبَدٍ:	۳۱۲
	عبدالله بن هشام:	۳۱۲
	قوله: وَهُوَآخِذٌ بِيَدِ عُمَرَبنِ الخَطَّابِ:	۳۱۷
	۷-باب: مَنَاقِبُ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَبِي عَمْرٍوالْقُرَشِي رضی الله عنه	
	حضرت عثمان رضی الله عنه:	۳۱۷
	په ذو النورین سره د ملقب کیدو وجه:	۳۱۸
	قوله: مَن يَحفِرْبِئْرَرُومَةَ فَلَهُ الجَنَّةُ:	۳۱۸
	قوله: مَن جَهَّزَجَيْشَ العُسْرَةِ:	۳۱۸
	قوله: فَجَهَّزَهُ عُثْمَان:	۳۱۸
	رجال الحديث	
	سُلَيْمَانُ بنُ حَرْبٍ:	۳۱۹
	حَمَّادٌ:	۳۱۹
	أَيُّوبَ:	۳۱۹
	أَبِي عُثْمَانَ:	۳۲۰
	أَمُوسَى:	۳۲۰
	قوله: دَخَلَ حَائِطًا:	۳۲۰
	قوله: فَسَكَتَ هُنَيْهَةً:	۳۲۰
	د "حماد" نه څوك مراد دی؟:	۳۲۰
	قوله: وَزَادَفِيهِ عَاصِمٌ:	۳۲۱
	رجال الحديث	۳۲۲
	أَحمَدُبنُ شَبِيبِ بنِ سَعِيدٍ:	۳۲۲

شميره	مضمون	صفحه
	يُونُسَ:	٣٢٣
	ابنُ شِهَابٍ:	٣٢٣
	عُرْوَةُ:	٣٢٣
	عُبيدَاللهِ بنَ عَدِيِّ بنِ الخِيَارِ (النوفلي):	٣٢٣
	المِسوَرَبنَ مَخرَمَةَ:	٣٢٣
	عَبدَالرَّحمٰنِ بنَ الاسوَدِبنِ عَبدِيَغُوثَ:	٣٢٣
	الوليد:	٣٢٣
	د حضرت سعد معزول کول او د ولید مقرر کول:	٣٢٣
	حضرت سعد د کوفې ګورنر کله جوړ شوې وو؟:	٣٢٤
	په ولید باندې د الزاماتو حقیقت:	٣٢٦
قوله	مايمنعك أن يتكلم عثمان:	٣٢٦
قوله	لأَخِيهِ:	٣٢٧
	د ولید بن عقبه په حوالې سره په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې رد بد:	٣٢٧
قوله	فَقَصَدْتُ لِعُثْمَانَ حَتَّى خَرَجَ:	٣٢٩
	د حضرت عثمان رضی الله عنه مقصد د هر شر نه د بچ کیدو وو:	٣٢٩
	په دغه وخت کښې د حضرت عثمان رضی الله عنه اَستاذي (قاصد) راغې:	٣٣٠
قوله	أكثَرَالنَّاسُ فِي شَانِ الوَلِيدِ:	٣٣٠
	د عبید الله بن عدی ولادت د رسول الله ﷺ په ژوند کښې شوې وو:	٣٣٠
	د سوال منشاء:	٣٣١
	د عدی بن خیار متعلق اختلاف:	٣٣١
قوله	وَلَكِنْ خَلَصَ:	٣٣٢
قوله	ثُمَّ أَبُوبَكرٍ مِثلُهُ ثُمَّ عُمَرُ مِثلُهُ:	٣٣٢
قوله	أَفَلَيسَ لِي مِنَ الحَقِّ.....؟	٣٣٢
قوله	فَمَاهَذِهِ الأَحَادِيثُ؟:	٣٣٢
قوله	فَأَمَرَهُ أَنْ يَجْلِدَهُ:	٣٣٣
	د ولید خلاف ګواهي چا اوکړه؟:	٣٣٣
	د کوړو په شمیر کښې اختلاف:	٣٣٣
	حدّ شرب الخمر کښې د شوافعو مذهب:	٣٣٥
	د احنافو او جمهورو مذهب:	٣٣٦
	د احنافو دلائل:	٣٣٧

شمیره	مضمون	صفحه

په شافعی مذهب باندې اعتراض: ۳۳۸
د شوافعو جواب: ۳۳۸
د حنفی مذهب تائید او ترجیح: ۳۳۹
د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په آثارو سره د حنفي مذهب تائید: ۳۳۹
رجال الحدیث .....
مُحَمَّدُ بنُ حَاتِمٍ: ۳۴۰
شَاذَانُ: ۳۴۰
عَبدُالعَزِیزِ بنُ أبِی سَلَمَةَ المَاجِشُونَ: ۳۴۰
عُبَیدُاللهِ: ۳۴۱
نَافِعٍ: ۳۴۱
ابن عُمَرَ: ۳۴۱
په خلفاء اربعؤ کښې د فضیلت مسئله او د حضرت علی رضی الله عنه مرتبه: ۳۴۱
د حضرت علی رضی الله عنه د افضل الصحابه کیدو تاثر: ۳۴۲
په حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه کښې د افضلیت مسئله: ۳۴۳
قوله: تابعه عبدالله بن صالح: ۳۴۵
ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۴۶
رجال الحدیث .....
مُوسَی بنُ إسمَاعِیلَ: ۳۴۶
أبُوعَوَانَةَ: ۳۴۶
عُثمَانُ: ۳۴۷
قوله: رَجُلٌ مِنْ أهلِ مِصرَ: ۳۴۷
سائل مذکور د حضرت عثمان رضی الله عنه سخت مخالف وو، ابن عمر د هغهٔ په امیدونو باندې اُوبهٔ واړولې: ۳۴۷
د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه توجیهات: ۳۴۸
ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۴۹
رجال الحدیث .....
مُسَدَّدٌ: ۳۵۰
یَحیَی: ۳۵۰
سَعِیدٍ: ۳۵۰
قَتَادَةُ: ۳۵۰

شمیره	مضمون	صفحه

أنَس: ۳۵۰
قوله: أُسْكُنْ أُحُدُ: ۳۵۰
په أحد او حراء دواړو باندې دا واقعه شوې ده: ۳۵۰
ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ۳۵۱
د روایت په تقدیم او تاخیر کښې د نسخو فرق: ۳۵۱

۸-باب: قِصَّةُ الْبَيْعَةِ، وَالِاتِّفَاقُ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضی الله عنه

رجال الحدیث .....
مُوسَى بنُ إسْمَاعِيلَ: ۳۵۴
أبُوعَوَانَةَ: ۳۵۴
حُصَيْن: ۳۵۴
عَمْرِوبنِ مَيمُونٍ: ۳۵۴
د ترجمې مقصد: ۳۵۴
قوله: رَأَيتُ عُمَرَبنَ الْخَطَّابِ قَبْلَ أَنْ يُصَابَ بِأَيَّامٍ: ۳۵۵
په حضرت عمر رضی الله عنه باندې حمله په کوم تاریخ اوشوه؟ ۳۵۵
د ابولُؤلؤة مدیني ته راتلل او په حضرت عمر رضی الله عنه باندې د حملې قیصه: ۳۵۵
د عبید الله بن عمر سخت رد عمل: ۳۵۷
د حضرت عمر رضی الله عنه دعا: ۳۵۹
د کعب احبار پیش ګوئی: ۳۵۹
حضرت حذیفه او عثمان بن حنیف سره خبرې اترې: ۳۶۰
حضرت عمر رضی الله عنه ته په خلقو باندې د زیات ټیکس مقرر کولو ویره: ۳۶۰
قوله: قال: أنظرا!: ۳۶۱
قوله: مَابَيْنِي وَبَيْنَهُ إلَّا عَبدُاللهِ بنُ عَبَّاسٍ: ۳۶۱
قوله: حتّٰى إذالم يَرَفيهن: ۳۶۱
قوله: قَتَلَنِي الْكَلْبُ: ۳۶۲
څومره کسان قتل کړې شو، او حضرت عمر رضی الله عنه څو ضربونه لګیدلې وو: ۳۶۲
په حضرت عمر رضی الله عنه باندې حمله څۀ وخت اوشوه؟ ۳۶۳
ابو لؤلؤه چا اونیولو؟ ۳۶۷
دردناکه پیښه او مونځ ادا کول: ۳۶۷
حضرت عمر رضی الله عنه د مسلمانانو په لاس په نۀ قتل کیدو باندې د آرام ساه واخسته: ۳۶۸
د "الصنع" معنٰی: ۳۶۹

شمیره	مضمون	صفحه
	صرف د نوم مسلمان په لاس قتلیدو سره به هم حضرت عمر رضی اللہ عنہ خفه کیدو:	۳۷۰
	د قتلِ عمد کونکی مسلمان د پاره مغفرت ثبوت:	۳۷۱
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د غیر مسلمو نه د احتیاط سوچ صحیح ثابت شو:	۳۷۲
	حضرت عمر رضی اللہ عنہ د جنګی بندیانو د قتل نه منع اوکړه:	۳۷۲
	قوله: فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ فَشَرِبَهُ:	۳۷۳
	د طبیب راتلل او د حالت د نازک کیدو اندازه:	۳۷۳
	د متعددو طبیبانو راغونډتلو قول:	۳۷۴
	د مختلفو وفدونو راتلل شروع شو:	۳۷۵
	هغه څوان څوک وو ؟:	۳۷۶
	حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ژوند په آخری لمحو کښې هم امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولو:	۳۷۶
	د "ثُمَّ شَهَادَةٌ" اعراب:	۳۷۷
	قوله: لاَعَلَى، وَلاَلِي:	۳۷۷
	قوله: أنفق لثوبك:	۳۷۷
	ساداتو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم ته د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د امتیازاتو علم او اعتراف وو:	۳۷۷
	د حقوقو په حوالې سره د خپلې ذمه وارئ فکر کول:	۳۷۹
	قوله: إِنَّ وَفَى لَهُ مَالُ آلِ عُمَرَ:	۳۸۰
	قوله: لاتعدُّهم:	۳۸۰
	آیا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په ذمه باندې قرضې نۀ وې؟:	۳۸۰
	حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خپل امارات نفی ولې اوکړه؟:	۳۸۱
	آیا مکان د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ملکیت وو؟:	۳۸۲
	حضرت عائشه رضی اللہ عنہا درسول الله ﷺ په روضه کښې ددفن کیدلو خواهش نه ولې ورستو شوه؟:	۳۸۳
	د ځآنې کیدلو سره هم سیده عائشې رضی اللہ عنہا دلته دفن کیدل خوښ نۀ کړل:	۳۸۳
	د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د پاره د ځائې نۀ پاتې کیدو قول:	۳۸۴
	د تطبیق صورت:	۳۸۴
	د حضرت عیسیٰ علیه السلام قبر به کوم ځائې کې وی؟:	۳۸۵
	آیا هغوی رضی اللہ عنہ ابن عباس رضی اللہ عنہما ته تکیه وهلې وه ؟:	۳۸۵
	"صالحینو" ته نزدې د دفن کیدو فضیلت:	۳۸۶
	د حضرت حفصې رضی اللہ عنہا په ژړلو د سیدنا حضرت عمر رضی اللہ عنہ خفګان:	۳۸۷
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ خلیفه نۀ مقرر کول او د هغې وجه:	۳۸۷
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ وصیت:	۳۸۸
	د خلافت په حوالې سره دوه اهم هدایات:	۳۸۹
	د خلیفه د ټاکلو دري طریقې:	۳۹۰

شمیره	مضمون	صفحه
	په عشره مبشره کښې د بعضو د نۀ ذکر کولو وجه:	۳۹۱
	سعید بن زید رضی اللہ عنہ په شورٰی کښې ولې وانخستې شو؟:	۳۹۱
	د ابن عمر رضی اللہ عنہما په شورٰی کښې د نۀ شاملولو وجه:	۳۹۲
	قوله: کهیئة التعزیة له:	۳۹۳
	د حضرت سعد د پاره خصوصی شفارس:	۳۹۴
	راتلونکی خلیفه او نورو حضراتو ته وصیتونه:	۳۹۵
	قوله: بِالْمُهَاجِرِيْنَ الْأَوَّلِيْنَ:	۳۹۶
	د مهاجرین اولین نه څوک مراد دی؟:	۳۹۶
	د "انصار" معنٰی او مصداق:	۳۹۷
	د عام اُولس (عوامو) د پاره وصیت:	۳۹۸
	د ټولو طبقو د پاره وصیت:	۳۹۸
	د قبور ثلاثۀ د وقوع کیفیت:	۳۹۹
	د نوې امیر المؤمنین تاکل او د عبد الرحمٰن بن عوف د عقل مندئ حکمت عملی:	۳۹۹
	قوله: وَاللهُ عَلَيْهِ وَالإِسلام:	۴۰۰
	قوله: لَيَنْظُرَنَّ أَفْضَلَهُم فِي نَفسِهِ:	۴۰۰
	قوله: فَأَسكَتَ:	۴۰۰
	قوله: فَأَخَذَ بِيَدِ أَحَدِهِمَا:	۴۰۱
	قوله: ثُمَّ خَلَا بِالآخَرِ:	۴۰۱
	د حدیث بعضې فوائد:	۴۰۱
	مفضول د افضل خلیفه جوړولو په جواز باندې استدلال:	۴۰۲
	د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په طرز عمل باندې اشکال او د هغې جواب:	۴۰۲
	۹-باب: مَنَاقِبُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبِ الْقُرَشِيِّ الْهَاشِمِيِّ أَبِي الْحَسَنِ رضی الله عنه	
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ ابو تراب کنیت ولې او کرځیدو؟:	۴۰۴
	کثرت فضائل او د هغې وجه:	۴۰۴
	قوله: أَنتَ مِنِّي وَأَنَا مِنكَ:	۴۰۵
	قوله: وَقَالَ عُمَرُ: تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ عَنْهُ رَاضٍ:	۴۰۵
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ خلافت:	۴۰۵
	د خلافت ترتیب د نسبی قرابت خلاف وو؟:	۴۰۵
	رجال الحدیث	
	قتیبة بن سعید:	۴۰۶
	عبد العزیز:	۴۰۶

شمیره	مضمون	صفحه
	سَهل بن سعد	۴۰۶
	قوله: كلهم يرجو:	۴۰۷
	قوله: فأرسلوا إليه:	۴۰۷
	قوله: فأعطاه:	۴۰۷
	قوله: من حُمر النعم:	۴۰۷
	د أوښانو د ذکر کولو مقصد:	۴۰۷
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۰۸
	رجال الحديث	
	قُتَيْبَةُ:	۴۰۹
	حَاتِمُ:	۴۰۹
	يَزِيْدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ:	۴۰۹
	سَلَمَةُ:	۴۰۹
	حضرت علی رضی الله عنه ارخ ته د الله او رسول د محبت د نسبت مقصد:	۴۰۹
	قوله: لأُعطِيَنَّ الرَّايَةَ، أولَيَأخُذَنَّ:	۴۱۰
	قوله: أوقَالَ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ:	۴۱۰
	د حضرت علی رضی الله عنه ستر کې خوږیدل او د رسول الله ﷺ هغه د پاره دعا:	۴۱۰
	د حضرت علی رضی الله عنه "بیرغ" والا کیدل:	۴۱۱
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۱۲
	رجال الحديث	
	عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ:	۴۱۲
	عَبْدُ العَزِيْزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ:	۴۱۳
	قوله: عَنْ أَبِيهِ:	۴۱۳
	قوله: أَنَّ رَجُلاً جَاءَ:	۴۱۳
	قوله: هَذَا فُلانٌ، لأَمِيرِ المَدِينَةِ:	۴۱۳
	قوله: يَدْعُو عَلِيًّا:	۴۱۳
	قوله: فَيَقُولُ مَاذَا؟:	۴۱۳
	قوله: واللهِ مَا سَمَّاهُ إِلاَّ النَّبِيُّ ﷺ:	۴۱۴
	قوله: فَاسْتَطْمَعْتُ الحَدِيثَ سَهْلاً:	۴۱۴
	قوله: يَا أَبَا عَبَّاسٍ كَيْفَ:	۴۱۴
	قوله: أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ:	۴۱۴

شمیره	مضمون	صفحه
	حضرت علی رضی اللہ عنہ ته د فاطمې د "ترهٔ خوی" وئیلو جواز او د هغې حکمت:	۴۱۴
	قوله: وَخَلَصَ التُّرَابُ إِلَى ظَهْرِهِ:	۴۱۵
	قوله: اِجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ:	۴۱۵
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ د خفه کیدو وجه:	۴۱۶
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۱۷
	رجال الحديث	
	مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ:	۴۱۷
	حُسَيْنٌ:	۴۱۷
	زَائِدَةُ:	۴۱۷
	سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ:	۴۱۷
	قوله: جَاءَ رَجُلٌ:	۴۱۷
	قوله: فَذَكَرَ عَنْ مَحَاسِنِ عَمَلِهِ:	۴۱۷
	د حضرت عثمان او حضرت علی رضی اللہ عنہما ښهٔ اعمال:	۴۱۸
	د حضرت علی رضی اللہ عنہ کور په مینځ کښې د کیدو معنی:	۴۱۸
	د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم دښمن دپاره بد دعا:	۴۱۹
	ابن عمر رضی اللہ عنہما صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم سره د بغض ساتونکی د شر پرواه اونهٔ کړه:	۴۱۹
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۴۲۰
	رجال الحديث	
	مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ:	۴۲۰
	غُنْدَرٌ:	۴۲۰
	شُعْبَةُ:	۴۲۰
	الْحَكَمِ:	۴۲۰
	ابْنِ أَبِي لَيْلَى:	۴۲۱
	قوله: مِنْ أَثَرِ الرَّحَا:	۴۲۱
	قوله: فَأَتَى النَّبِيَّ سَبْيٌ:	۴۲۱
	قوله: مَا سَأَلْتُمَانِي:	۴۲۱
	قوله: تُكِّبِرَا:	۴۲۱
	د "ذکر" د خیریت او افضلیت معنی:	۴۲۱
	ترجمة الباب سره مناسبت:	۴۲۱
	د خادم نهٔ ورکولو وجه:	۴۲۲

شمیره	مضمون	صفحه
	رجال الحدیث	
	مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، غُنْدَرٌ، شُعْبَةُ:	۴۲۲
	سَعْدٍ:	۴۲۲
	د حضرت علی رضی الله عنه د حضرت هارون سره د تشبیه وجه	۴۲۳
	قوله: بمنزلة هارون:	۴۲۴
	د حضرت علی رضی الله عنه د سوال نه ورستو اطمینان:	۴۲۴
	د حضرت علی رضی الله عنه به خلافت بلا فصل باندې استدلال او د هغې جواب:	۴۲۴
	رجال الحدیث	
	عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ:	۴۲۵
	شُعْبَةُ:	۴۲۵
	أَيُّوبَ:	۴۲۵
	ابْنِ سِيْرِيْنَ:	۴۲۵
	عَبِيْدَةَ:	۴۲۶
	قوله: اقْضُوا كَمَا كُنْتُمْ تَقْضُونَ:	۴۲۶
	حضرت علی رضی الله عنه دا الفاظ کله ارشاد اوفرمائیل؟	۴۲۶
	د اختلاف نۀ خوښولو مطلب:	۴۲۶
	په لفظ "أو" باندې اشکال او جواب:	۴۲۷
	قوله: كَمَامَاتُ أَصْحَابِي:	۴۲۷
	د ابن سیرین د خبرې مقصد:	۴۲۸
	د حضرت علی رضی الله عنه نه مروی د شیخینو مخالف روایتونه مردود دی:	۴۲۸
	د حضرت علی رضی الله عنه فضائل کثیره:	۴۲۹
	۱۰-باب: مَنَاقِبُ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ الْهَاشِمِيِّ رضی الله عنه	
	حضرت جعفر طیار:	۴۳۰
	قوله: أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي:	۴۳۰
	رجال الحدیث	
	أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ:	۴۳۱
	مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ دِيْنَارٍ أَبُوعَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيُّ:	۴۳۱
	ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ:	۴۳۱
	سَعِيْدِ الْمَقْبُرِيِّ:	۴۳۱
	ابو هریره او کثرت روایات:	۴۳۱

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: يُشْبِعُ بَطْنِي:	۴۳۳
	قوله: حين لا أكل:	۴۳۴
	قوله: لَآكُلُ الخَمِيرَ وَلَآلْبَسُ الحَبِيرَ:	۴۳۴
	قوله: الحَبِيرَ:	۴۳۴
	قوله: مِنَ الجُوعِ:	۴۳۴
	د شار حينو اختلاف:	۴۳۴
	قوله: وَكَانَ أَخْيَرَ:	۴۳۶
	د حضرت جعفر رضي الله عنه افضليت جزوي وو:	۴۳۷
	د تضاد تاثر او د هغې جواب:	۴۳۷
	حضرت جعفر رضي الله عنه به د سوال جواب ولې ورکولو؟	۴۳۷
	رجال الحديث	
	عَمْرُو بنُ عَلِيّ:	۴۳۸
	يَزِيْدُ بنُ هَارُونَ:	۴۳۸
	الشَّعْبِيّ:	۴۳۹
	قوله: إن ابن عمر كان يسلم:	۴۳۹
	د ابن ذی الجناحین وئیلو وجه:	۴۳۹
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۴۰
	۱۱-باب: ذِكْرُ العَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ	
	حضرت عباس رضي الله عنه:	۴۴۱
	حضرت عباس رضي الله عنه اسلام کله قبول کړو؟	۴۴۱
	رجال الحديث	
	الحَسَنُ بنُ مُحَمَّدٍ:	۴۴۲
	مُحَمَّدُ بنُ عَبْدِ اللهِ الأنصارِيُّ:	۴۴۲
	أَبِي، عَبْدُ اللهِ بنُ المُثَنَّى:	۴۴۲
	ثُمَامَةَ بنِ عَبْدِ اللهِ:	۴۴۲
	۱۲-باب: مَنَاقِبِ قَرَابَةِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ، وَمَنْقَبَةِ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنتِ النَّبِيِّ ﷺ	
	د قرابة الرسول نه څه مراد دي؟	۴۴۳
	قوله: فاطمة سيدة نساء أهل الجنة:	۴۴۴
	رجال الحديث	
	أَبُو اليَمَانِ:	۴۴۵

شمیره	مضمون	صفحه

شُعَيْبٌ ۴۴۵
الزُّهْرِيّ ۴۴۵
عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ ۴۴۵
قوله: أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ ۴۴۵
ترجمة الباب سره مطابقت ۴۴۵
رجال الحديث .....
عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ ۴۴۶
خَالِدٌ ۴۴۶
شُعْبَةُ ۴۴۶
وَاقِدٍ ۴۴۶
قوله: ارقبوا مُحَمَّدًا ۴۴۶
اهل بیت څوک دی؟ ۴۴۷
رجال الحديث .....
أَبُو الْوَلِيدِ ۴۴۸
ابْنُ عُيَيْنَةَ ۴۴۸
عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ ۴۴۸
ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ ۴۴۸
الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ ۴۴۸
د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د زړۀ له خاطره رسول الله ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ د دویمې نکاح نه منع کړو ۴۴۸
رجال الحديث .....
يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ ۴۴۹
عُرْوَةَ ۴۴۹
په نسخو کښې فرق ۴۴۹

۱۳-باب: مَنَاقِبِ الزُّبَيْرِ بْنُ الْعَوَّامِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

زبیر بن العوام رضی اللہ عنہ ۴۵۰
قوله: وقال ابن عباس ۴۵۱
قوله: وسمي الحواريون ۴۵۱
د "حواری" په معنی کښې اقوال ۴۵۱

شمیره	مضمون	صفحه
	حضرت زبیر ولي "حواری" اوګرځیدو؟	۴۵۲
	د امت محمدیه حواریین:	۴۵۲
	رجال الحدیث	
	خَالِدُ بنُ مَخْلَدٍ:	۴۵۳
	عَلِيُّ بنُ مُسْهِرٍ:	۴۵۳
	هِشَامِ بنِ عُرْوَةَ:	۴۵۳
	أَبِيْهِ:	۴۵۴
	مَرْوَانُ بنُ الْحَكَمِ:	۴۵۴
	قوله: رُعَافٌ:	۴۵۴
	د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه د خلیفه تاکلو مطالبه:	۴۵۴
	د زبیر بن العوام رضی اللہ عنہ او عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ د خلیفه جوړیدو امید:	۴۵۴
	د خلقو د خلیفه د تاکلو خواهش د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه د خفګان په وجه نه وو:	۴۵۵
	قوله: إِنَّهُ لَخَيْرُهُمْ مَا عَلِمْتُ:	۴۵۵
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۵۶
	رجال الحدیث	
	عُبَيْدُ بنُ إِسْمَاعِيلَ:	۴۵۶
	أَبُو أُسَامَةَ:	۴۵۶
	هِشَامٍ:	۴۵۷
	أَبِي:	۴۵۷
	مروان بن الحکم:	۴۵۷
	رجال الحدیث	۴۵۷
	مَالِكُ بنُ إِسْمَاعِيلَ:	۴۵۷
	عَبْدُ الْعَزِيزِ:	۴۵۷
	مُحَمَّدِ بنِ الْمُنْكَدِرِ:	۴۵۷
	رجال الحدیث	۴۵۸
	أَحْمَدُ بنُ مُحَمَّدٍ:	۴۵۸
	عَبْدُ اللهِ:	۴۵۸
	عَبْدِ اللهِ بنِ الزُّبَيْرِ:	۴۵۸
	قوله: كُنْتُ يَوْمَ الأَحْزَابِ:	۴۵۸

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله فَنَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا بِالزُّبَيْرِ:	۴۵۸
	قوله يَخْتَلِفُ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ:	۴۵۹
	قوله مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا:	۴۵۹
	په روایت کښې ادارج	۴۵۹
	د ماشوم د سماع په صحت باندې استدلال	۴۶۰
	آیا رسول الله ﷺ حضرت زبیر ته "فداك أبي وأمي" فرمائیلی وو؟	۴۶۱
	رجال الحدیث	۴۶۲
	عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ:	۴۶۲
	ابْنُ الْمُبَارَكِ	۴۶۲
	هِشَامٌ	۴۶۲
	غزوه یرموك	۴۶۲
	قوله: فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ:	۴۶۳
	قوله: ضَرْبَتَيْنِ عَلَى عَاتِقِهِ:	۴۶۳
	۱۴-باب: ذِكْرِ مَنَاقِبِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رضي الله عنه	
	طلحة بن عبید الله:	۴۶۳
	د حضرت طلحه رضي الله عنه خصوصیات او د وفات ذکر:	۴۶۴
	قوله: وقال عمر: توفي النبي ﷺ:	۴۶۵
	رجال الحدیث	۴۶۵
	مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ	۴۶۵
	مُعْتَمِرٌ	۴۶۵
	أَبِيهِ	۴۶۶
	أَبِي عُثْمَانَ	۴۶۶
	قوله: بَعْضِ تِلْكَ الْأَيَّامِ:	۴۶۶
	قوله: عَنْ حَدِيثِهِمَا:	۴۶۶
	په أحد کښې صرف د حضرت طلحه او سعد په پاتې کیدو باندې اعتراض او دهغې جواب	۴۶۷
	د تطبیق صورت	۴۶۸
	رجال الحدیث	۴۶۹
	مُسَدَّدٌ	۴۶۹
	خَالِدٌ	۴۶۹

شمیرہ	مضمون	صفحہ
	ابنُ أبی خَالِدٍ:	۴۶۹
	قَیْسِ بْنِ أبی حَازِمٍ	۴۶۹
	د حضرت طلحہ رضی اللہ عنہ د لاس شلیدو تفصیل:	۴۶۹
	قولہ: شَلَّتْ:	۴۷۰
	د حضرت طلحہ خصوصیات	۴۷۰
	۱۵-باب: مَنَاقِبُ سَعْدِ بْنِ أَبِی وَقَّاصٍ الزُّهْرِی وَبَنُوزُهْرَةَ أَخْوَالُ النَّبِی -صلی اللہ علیہ وسلم- وَهُوَسَعْدُبْنُ مَالِكٍ	
	حضرت سعد بن أبی وقاص:	۴۷۱
	رجال الحدیث	۴۷۲
	مُحَمَّدُبْنُ الْمُثَنَّی:	۴۷۲
	عَبْدُالْوَهَّابِ:	۴۷۲
	یَحْیَی:	۴۷۲
	سَعِیدَبنَ الْمُسَیَّبِ:	۴۷۲
	قولہ: جَمَعَلِی النَّبِیُّ أَبَوَیْهِ:	۴۷۲
	رجال الحدیث	۴۷۲
	مَکِّیُّ بْنُ إبراهیم:	۴۷۲
	هَاشِمُبنُ هَاشِمٍ:	۴۷۲
	عَامِربنِ سَعدٍ:	۴۷۲
	د سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ د ثالث الإسلام کیدو تفصیل:	۴۷۳
	رجال الحدیث	۴۷۴
	ابْنُ أبی زَائِدَةَ:	۴۷۴
	سَعِیْدَبنَ الْمُسَیَّبِ:	۴۷۵
	قولہ: مَاأَسْلَمَ أَحَدٌ:	۴۷۵
	قولہ: تَابَعَهُ أَبُوأُسَامَةَ:	۴۷۵
	رجال الحدیث	۴۷۵
	عَمْرُوبْنُ عَوْنٍ:	۴۷۵
	خَالِدُبنُ عَبْدِاللهِ:	۴۷۵
	قَیْسٍ:	۴۷۵
	حضرت سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ "رمی فی سبیل اللہ" کونکی اولنی عرب:	۴۷۶

شمیره	مضمون	صفحه
	د حضرت سعد رضی اللہ عنہ اسلام د پاره تکلیفونه زغمل	۴۷۶
	بنو اسد څوك دی؟	۴۷۶
	قوله: تُعَزِّرُنِي:	۴۷۷
	قوله: لَقَدْ خِبْتُ إِذًا:	۴۷۷
	۱۶-باب: ذِكْرُ أَصْهَارِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم مِنْهُمْ أَبُو الْعَاصِ بْنُ الرَّبِيعِ رضى الله عنه	
	د أصهار معنی او مراد:	۴۷۷
	قوله: مِنْهُمْ أَبُو الْعَاصِ بْنُ الرَّبِيعِ:	۴۷۸
	د رسول الله ﷺ تول زومان مسلمانان وو:	۴۷۹
	د زینب رضی اللہ عنہا او ابو العاص رضی اللہ عنہ نکاح او د هغوی بچی:	۴۷۹
	د "منهم ابو العاص" وئیلو حکمت:	۴۸۰
	رجال الحديث	۴۸۱
	أَبُو الْيَمَانِ:	۴۸۱
	شُعَيْبٌ:	۴۸۱
	اَلزُّهْرِيّ:	۴۸۱
	عَلِيُّ ابْنُ حُسَيْنٍ:	۴۸۱
	اَلْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ:	۴۸۱
	حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د پاسه د أبو جهل لور سره ولې نکاح کوله:	۴۸۱
	د حدیث د موضوعی ګرځولو تردید:	۴۸۲
	قوله: هَذَا عَلِيٌّ نَاكِحٌ:	۴۸۲
	د بنت أبی جهل نوم:	۴۸۲
	قوله: حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي:	۴۸۳
	رسول الله ﷺ د عادت خلاف حضرت علی رضی اللہ عنہ ته ولې دومره سختې خبرې اوکړې؟	۴۸۳
	قوله: وَزَادَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ:	۴۸۳
	۱۷-باب: مَنَاقِبُ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ مَوْلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم	
	د زید بن حارثه نسب او رسول الله ﷺ ته د راتلو قیصه:	۴۸۴
	قوله: أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا:	۴۸۵
	رجال الحديث	۴۸۵
	خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ:	۴۸۵
	سُلَيْمَانُ:	۴۸۵

شمیره	مضمون	صفحه
	عَبْدُاللهِ بْنِ دِينَارٍ:	۴۸۶
	عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ:	۴۸۶
	د اسامه د لنبکر څه تفصیل:	۴۸۶
	د حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه په امارت باندې اعتراض:	۴۸۶
	د مولی او مفضول د امارت جواز:	۴۸۶
	دزید رضی الله عنه اواسامه رضی الله عنه په امارت باندې د اعتراض وجه اودهغوی په امارت کښې حکمت:	۴۸۷
	د توریشتی فاضلانه بحث:	۴۸۷
	قوله: إِنْ تَطْعُنُوا فِي إِمَارَتِهِ:	۴۸۸
	قوله: إِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ:	۴۸۹
	رجال الحديث	۴۸۹
	يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ:	۴۸۹
	اَلزُّهْرِيّ:	۴۹۰
	عُرْوَةَ:	۴۹۰
	قوله: دَخَلَ عَلَيَّ قَائِفٌ:	۴۹۰
	د قیافې حیثیت او په ذکر شوې واقعې باندې د رسول الله ﷺ د خوشالئ وجه:	۴۹۰
	د حضرت عائشې رضی الله عنها په موجودګئ کښې د قائف د راتلو توجیه:	۴۹۲
	قوله: فَأَخْبَرَبِهِ عَائِشَةَ	۴۹۲
	ترجمة الباب سره مطابقت:	۴۹۲
	۱۸-باب: ذِكْرُ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضی الله عنه	
	رجال الحديث	۴۹۳
	قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ:	۴۹۳
	لَيْثٌ:	۴۹۳
	الزُّهْرِيّ:	۴۹۳
	عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عائشة:	۴۹۳
	قوله: أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ:	۴۹۳
	د مخزومی ښځې غلا او د حضرت اُسامه رضی الله عنه د هغې د پاره شفارس:	۴۹۳
	رجال الحديث	۴۹۴
	عَلِيٌّ:	۴۹۴
	سُفْيَانُ:	۴۹۴
	الزُّهْرِيّ:	۴۹۵

شمیره	مضمون	صفحه
	زهری نه د سفیان د سماع تفصیل:	۴۹۵
	قوله: فَكَلَّمَهُ:	۴۹۷
	رجال الحديث	۴۹۸
	الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ:	۴۹۸
	أَبُوعَبَّادٍ يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ:	۴۹۸
	الْمَاجِشُونُ:	۴۹۹
	عَبْدُاللهِ بْنُ دِينَارٍ:	۴۹۹
	قوله: يَسْحَبُ ثِيَابَهُ:	۴۹۹
	قوله: لَيْتَ هَذَا:	۵۰۰
	قوله: قَالَ لَهُ إِنْسَانٌ:	۵۰۰
	قوله: أَبَاعَبْدِ الرَّحْمٰنِ:	۵۰۰
	قوله: فَطَأْطَأَ رَأْسَهُ:	۵۰۰
	رجال الحديث	۵۰۱
	مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ:	۵۰۱
	مُعْتَمِرٌ:	۵۰۱
	أَبِي:	۵۰۱
	أَبُوعُثْمَانَ:	۵۰۱
	قوله: أَحِبَّهُمَا:	۵۰۱
	رجال الحديث	۵۰۲
	نُعَيْمٌ:	۵۰۲
	اِبْنِ الْمُبَارَكِ:	۵۰۲
	مَعْمَرٌ:	۵۰۲
	اَلزُّهْرِيِّ:	۵۰۲
	قوله: مَوْلَى لِأُسَامَةَ:	۵۰۲
	قوله: أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ أَيْمَنَ ابْنِ أُمِّ أَيْمَنَ:	۵۰۲
	قوله: وَهُوَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ:	۵۰۳
	قوله: فَرَاٰهُ ابْنُ عُمَرَ:	۵۰۳
	قوله: فَقَالَ أَعِدْ:	۵۰۳
	رجال الحديث	۵۰۳

شميره	مضمون	صفحه

سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ٥٠٣
وليدبن مسلم: ٥٠٤
عبدالرحمٰن بن نمر: ٥٠٤

١٩-باب: مَنَاقِبُ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا

رجال الحديث ٥٠٤
مُحَمَّد: ٥٠٤
عَبْدُالرَّزَّاق: ٥٠٥
مَعْمَر: ٥٠٥
اَلزُّهْرِيّ: ٥٠٥
سَالِم: ٥٠٥
د "رؤيا" تلفظ او ددې معنى: ٥٠٥
رجال الحديث ٥٠٥
يحيى بن سليمان: ٥٠٦
ابن وهب: ٥٠٦
يونس: ٥٠٦
زهرى: ٥٠٦
سالم: ٥٠٧
د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما مقام او مرتبه: ٥٠٧

٢٠-باب: مَنَاقِبُ عَمَّارٍ وَحُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا

حضرت عمّار رضي الله عنه: ٥٠٨
حضرت حذيفه رضي الله عنه: ٥٠٨
د حديث او باب په حوالې سره اشكال او جواب: ٥٠٨
رجال الحديث ٥٠٩
مالك بن إسماعيل: ٥٠٩
المغيرة: ٥٠٩
علقمة: ٥١٠
رجال الحديث ٥١٠
سليمان بن حرب: ٥١٠
شعبة: ٥١٠
قوله: قدِمت الشام: ٥١٠

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: مَن جلس إلى جنبي:	۵۱۱
	قوله: قالوا: أبوالدّرداء:	۵۱۱
	کوفه د علم او فقهي د مرکز کیدو شهادت:	۵۱۱
	قوله: صاحب النعلين:	۵۱۱
	قوله: والوِساد:	۵۱۱
	قوله: والمِطهرة:	۵۱۲
	د رسول الله ﷺ د قربت او خدمت په وجه د وفورِ علم اثبات:	۵۱۲
	قوله: أفيكم:	۵۱۳
	د حضرت عمار د شیطان نه د بچ کولو مطلب:	۵۱۳
	قوله: الذي لايعلم أحدٌ غيره:	۵۱۵
	د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قراءت:	۵۱۵
	د قراءت متواتره خلاف کیدو په وجه دا قراءت مرجوح دي:	۵۱۵
	قوله: حتى كادوايَستنزلونَني عن شي سمعتُه:	۵۱۶
	د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې د بعضې نورو حضراتو زیاتوالي:	۵۱۶
	۲۱-باب: مَنَاقِبُ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ	
	د ابو عبیدة بن الجراح رضی الله عنه تعارفی خاکه:	۵۱۸
	رجال الحديث	۵۱۸
	عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ:	۵۱۸
	عَبْدُ الأَعْلَى:	۵۱۹
	خَالِدٌ:	۵۱۹
	أَبِي قِلَابَةَ:	۵۱۹
	أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ:	۵۱۹
	قوله: إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينًا وَأَمِينُنَا أَيَّتُهَا الأُمَّةُ:	۵۱۹
	حضرت ابو عبیده رضی الله عنه سره د امین صفت د خصوصیت وجه:	۵۱۹
	په بعضې طریقو کښې د نورو الفاظو زیاتوالي:	۵۱۹
	رجال الحديث	۵۲۰
	مُسْلِمُ بْنُ ابراهيم:	۵۲۰
	شُعْبَةُ:	۵۲۰
	أَبِي إِسْحَاقَ:	۵۲۰
	صِلَةُ:	۵۲۰

شمیره	مضمون	صفحه

باب ذِكْرِ مُصْعَبِ بْنِ عُمَيْرٍ رضي الله عنه

د مُصعب بن عمير رضي الله عنه تذکره: ۵۲۱

۲۲-باب: مَنَاقِبُ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

حضرات حَسنَين: ۵۲۲

وقال نافع بن جُبير: ۵۲۲

رجال الحديث ۵۲۳

صَدَقَةُ: ۵۲۳

ابْنُ عُيَيْنَةَ: ۵۲۳

أَبُومُوسَى: ۵۲۳

اَلْحَسَنِ: ۵۲۳

أَبَابَكْرَةَ: ۵۲۳

قوله: اِبْنِي هَذَاسَيِّدٌ: ۵۲۳

د دوۀ ډلو مینځ کښې د صلحې پیشن ګوئی او د هغې وقوع: ۵۲۳

رجال الحديث ۵۲۴

مُسَدَّدٌ: ۵۲۴

مُعْتَمِرٌ: ۵۲۴

أَبِي: ۵۲۴

أَبُوعُثْمَانَ: ۵۲۴

رجال الحديث ۵۲۴

مُحَمَّدُبْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إبراهيم: ۵۲۴

حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ: ۵۲۵

جَرِيْرٌ: ۵۲۵

مُحَمَّدٍ: ۵۲۵

أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: ۵۲۶

د یزید او ابن زیاد حکومت: ۵۲۶

قوله: أُتِيَ عُبَيْدُاللهِ بْنُ زِيَادٍ.....: ۵۲۶

د کربلا واقعه او د حضرت حسین رضي الله عنه د شهادت پسِ منظر او د واقع کیدو اسباب: ۵۲۶

بنو هاشم او بنو اُمیه: ۵۲۷

د ابو سفیان اسلام قبلول: ۵۲۷

شمیره	مضمون	صفحه
	د ابو سفیان د ریښتوني مسلمان کیدو دلائل او قرائن:	۵۲۸
	د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د خاندان د حکومت ابتداء:	۵۲۸
	د حضرت علی او حضرت معاویه رضی اللہ عنہما اختلاف:	۵۲۸
	د حضرت سیدنا معاویه رضی اللہ عنہ وفات او د یزید خلافت:	۵۳۰
	زیاد څوك وو؟:	۵۳۱
	د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د بصیرت ډك وصیتونه:	۵۳۱
	د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د یزید د خلافت منلو نه انکار:	۵۳۳
	د حَرمینو او کوفي د والیانو د حضرت حسین د قتل نه انکار:	۵۳۴
	د مسلم بن عقیل او د نورو شهادت:	۵۳۵
	د حضرت حسین رضی اللہ عنہ کوفي ته روانیدل او بالآخر شهادت:	۵۳۶
	د "حُر" کردار:	۵۳۷
	د عمر بن سعد کردار:	۵۳۸
	د ابن زیاد او شمر کردار:	۵۳۸
	د حضرت حسین رضی اللہ عنہ شهادت او د هغوی د لاش بې حرمتی:	۵۳۹
	د ابن زیاد بد تمیزی:	۵۳۹
	د ابن زیاد قول د قبیلي د تمسخر نه وو یا د تعریف نه؟:	۵۴۰
	د حضرت حُسین رضی اللہ عنہ شهادت او د یزید په دې باندې خفګان:	۵۴۱
	د واقعهٔ کربلا منصفانه جائزه:	۵۴۲
	د دریمي ډلي کردار:	۵۴۳
	حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته هم د اهل کوفي د دهوکه بازئ اندازه شوې وه:	۵۴۵
	یزید هم د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د فضیلت قائل وو:	۵۴۶
قوله:	كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللهِ:	۵۴۷
قوله:	مَخْضُوبًا بِالْوَسْمَةِ:	۵۴۸
	د حضرت حسین رضی اللہ عنہ جَسد او سر مبارك چرته دفن کړې شوې دی؟:	۵۴۸
	د روافضو او نواصبو افراط او تفریط:	۵۴۹
رجال الحدیث		۵۵۱
	حَجَّاجُ بْنُ الْمِنْهَالِ:	۵۵۱
	شُعْبَةُ:	۵۵۱
	عدی:	۵۵۱
	الْبَرَاءُ:	۵۵۲
	وَالْحَسَنُ بن عَلی:	۵۵۲

شمیره	مضمون	صفحه

رجال الحدیث ۵۵۲
عَبْدَانُ: ۵۵۲
عَبْدُاللهِ: ۵۵۲
عُمَرُبنُ سَعِیدِبنِ أبِی حُسَیْنٍ: ۵۵۲
ابْنِ أبِی مُلَیْکَةَ: ۵۵۲
عُقْبَةَبْنِ الْحَارِثِ: ۵۵۲
حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا ارخ ته ددې قول نسبت: ۵۵۳
قوله: وَحَمَلَ الْحَسَنَ: ۵۵۳
قوله: بِأَبِی: ۵۵۳
قوله: لَیْسَ شَبِیهٌ بِعَلِیٍّ: ۵۵۴
په حضرت حسن رضی اللہ عنہ باندې پلار قربانول د هغوی د مشابهت بالنبی په وجه باندې دی: .. ۵۵۴
آیا حضرت حسن رضی اللہ عنہ د نبی ﷺ سره مشابه کیدل د رسول الله ﷺ د" بې مثاله "کیدو معارض نه دی؟: ۵۵۴

رجال الحدیث ۵۵۵
یَحْیَی بْنُ مَعِینٍ: ۵۵۵
صَدَقَةُ: ۵۵۵
مُحَمَّدُبنُ جَعْفَرٍ: ۵۵۵
شُعْبَةَ: ۵۵۵
واقدبن محمد: ۵۵۵
ابن عمر: ۵۵۵

رجال الحدیث ۵۵۶
إبراهیمبنُ مُوْسَی: ۵۵۶
هِشَامُبْنُ یُوسُفَ: ۵۵۶
مَعْمَرٍ: ۵۵۶
الزُّهْرِیِّ: ۵۵۶
أنَس: ۵۵۶
د تعلیق مقصد:- ۵۵۶
آیا حضرت حسن رضی اللہ عنہ أشبه بالنبی ﷺ وو، یا سیدنا حضرت حسین رضی اللہ عنہ؟: ۵۵۷
اولنې جواب:- ۵۵۷

شمیره	مضمون	صفحه

دویم جواب:- ۵۵۷
دریم جواب:- ۵۵۷
د رسول الله ﷺ سره مشابهت لرونکی نور حضرات: ۵۵۸
رجال الحدیث ۵۵۸
مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: ۵۵۸
غُنْدَرٌ: ۵۵۸
شُعْبَةُ: ۵۵۹
مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ: ۵۵۹
ابْنَ أَبِي نُعْمٍ: ۵۵۹
عَبْدُاللهِ بنَ عُمَرَ: ۵۵۹
په مختلفو روایاتو کښې د الفاظو اختلاف:- ۵۵۹
قوله: أحسبه يقتل الذباب: ۵۵۹
سوال څه وو؟:- ۵۵۹
قوله: أَهْلُ الْعِرَاقِ يَسْأَلُونَ: ۵۶۰
د ابن عمر رضی الله عنهما د تعریض مقصد: ۵۶۰
قوله: رَيْحَانَتَايَ: ۵۶۰
حسن او حسین رضی الله عنهما ته د "ریحان" وئیلو وجه: ۵۶۰

....

بسم الله الرحمٰن الرحیم

۶۶-کتاب فضائل الصحابة

باب فَضَائِلِ أَصْحَابِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم-.

وَمَنْ صَحِبَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- أَوْرَآهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَهُوَ مِنْ أَصْحَابِهِ.

د فضائل معنی: فضائل د فضیلة جمع ده، چې د نقیصة ضد دي، لکه څنګه چې فضل د نقص ضد دي.

د "فضل" لغوی معنی ده زیادت، د باب نصر، (مضموم العین فی المضارع) نه ددې استعمال فصیح دي، اګر چې د (مکسور العین) عَلِمَ نه ئې هم استعمال منقول دي، او د ابن السکیت نه هم فضل یفضَل منقول دي.

د لفظ "اصحاب" تحقیق: د فضائل نه مراد ښه خصلتونه او خوښ کړي شوي صفتونه او عادتونه دی، جوهری فرمائی، أصحاب د صَحْبٌ جمع ده، څنګه چې أفْرَاخ د فرخ جمع ده، الصحابة بالفتح د أصحاب جمع ده، أصحاب په اصل کښې مصدر دي، چې جمع ئې اصاحیب ده، او صاحبٌ جمع صَحْب ده، لکه د راکبٌ جمع رکب ده، او ددې جمع صُحبة هم راځی، لکه فارهٌ فُرهة، صحاب هم ددې جمع راځی، لکه د جائع جمع چې جیاع راځی، صُحبَان هم ددې جمع رَاځی، لکهَ د شابٌ جمع چې شُبَان راځی، صَحِب یصحب صُحبة وصحابةً ددې اصل دي.[1]

د صحابی تعریف: صحابی چا ته وائي، علماؤ ددې مختلف تعریفونه کړی دی.

علامه عینی رحمه الله په دې حواله تقریباً ټول اقوال راجمع کړی دی، او په شپږو اقوالو کښې ئې هغه ټول تفسیرونه او تعریفونه راجمع کړل، چې د ګنړ شمیر حضراتو نه منقول دی، او ددهٔ نه وړاندې صاحب د "ألفية الحديث" زین العابدین عراقی دا شپږ اقوال ذکر فرمائیلی وؤ، او عینی هم غالباً د هغه نه اخستې دی.[2]

اولنې قول: -اولنې قول یا د صحابی اولنې تعریف هغه دي، چې هغې ارخ ته امام بخاری اشاره کړې ده "مَن صَحِبَ النبی ﷺ أو رآه من المسلمين فهو من أصحابه" چاچې دنبی کریم ﷺ صحبت اختیار کړو یائې د اسلام په حالت کښې دهغوی ملاقات اوکړو هغه صحابی دي، علامه کرمانی فرمائی چې ددې معنی شوه "مسلم صَحِبَ النبیَ ﷺ أو رآه"[3] هغه مسلمان چې هغه د حضور ﷺ صحبت اختیار کړو یا ئې هغوی اولیدل، او وې فرمائیل

---

[1] عمدة القاری شرح صحیح البخاری: ۱۶،۲۳۴، دارالکتب العلمیة بیروت، نیز الصحاح للجوهری، مادة: صحب وفضل.....ص: ۵۸۰، مطبوعه دار المعرفة بیروت\

[2] اوګورئ فتح المغیث شرح ألفیة الحدیث، ص: ۳۳۵،۳۴۰، دارالکتب العلمیة بیروت\

[3] شرح الکرمانی: ۱۴،۲۹۸، وعمدة القاری، باب فی فضائل أصحاب النبی ﷺ: ۱۶،۲۳۴\

چې په، راه، کښې ضمیر د مفعول نبی کریم ﷺ ارخ ته راجع دې، او ضمیر د فاعل "مسلم" ارخ ته راجع دې، مشهور قول دا دې، دویم احتمال ددې اُلټا دې، چې ضمیر د مفعول "مسلم" ارخ ته راجع شی، او ضمیر د فاعل نبی علیه السلام ارخ ته، په اول صورت کښې به معنی دا شی چا چې پیغمبر لیدلې وی، او په دویم صورت کښې به معنی دا وی، څوک چې پیغمبر لیدلې وی، او په عرف کښې دا دواړه خبرې یو بل د پاره لازم و ملزوم دی، چې پیغمبر څوک اووینی نو هغۀ به پیغمبر هم لیدلې وې۔

هآؤ ادا اشکال کیدې شی، چې په تعریف کښې تحقیق او یقین وی، او دلته د "أو" حرف تردید په وجه شك او تردد راغلې دې، او دا دواړه څیزونه (تحقیق او تردید) خپل مینځ کښې متضاد او منافی دی۔

ددې جواب دادې، چې په "أو" حرف تردید سره د صحابی دوۀ قسمونو ارخ ته اشاره مقصود ده، یعنی یو هغه چې چا په حالت د اسلام کښې د پیغمبر علیه السلام ملاقات کړې وی، او دویم هغه چا چې د څۀ عارض یعنی ړوندوالی وغیره په وجه ملاقات خو نۀ وی کړې، خو د حضور ﷺ ملګرتیا او معیت ئې اختیار کړې وی، ځکه چې صحبت د پاره رؤیت لازم نۀ دې، عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه ته د نبی علیه السلام صحبت خو نصیب شوې وؤ، خو هغه نبی علیه السلام اونۀ لیدې شو۔ [1]

قوله: فهو من أصحابه: مِنْ اسم موصول په محل د رفع کښې واقع دې، او سره د خپلې صلې نه دا مبتداء ده، او "فهو من أصحابه" دې د پاره خبر دې، فاء په دې باندې په دې وجه داخله شوې ده، چې مبتداء متضمن ده معنی د شرط لره، ظاهره ده چې خبر به معنی جزاء لره متضمن وی، په دې وجه په دې باندې "فاء" داخله ده۔

په "من المسلمین" قید سره هغه خلق خارج کول مقصود دی، چا چې رسول الله ﷺ لیدلې خو دې، ولې هغی مسلمانان نۀ وؤ، نو ظاهره ده هغوی بیا صحابه هم نۀ شو، او کیدې شی په دې وجه په امام بخاری باندې هم دلته دا اعتراض شوې وی، چې هغوی د صحابی په تعریف کښې د "من المسلمین" قید خو اولګولو، او حال دادې، چې "من المسلمین" قید لګول کۀ د نبی علیه السلام لیدونکی غیر مسلم لره د صحابی د تعریف نه خارج کولو د پاره ضروری دې، نو "ثم مات علی الإسلام" قید هم ورسترو مرتد کیدونکی لره د صحابی د تعریف نه د خارجولو د پاره ضروری دې، لکه ابن خطل، ربیعه بن امیه، مقیس بن ضبابه وغیره، بعضې حضراتو دلته د رؤیت او صحبت سره د بلوغ قید هم لګولې دې، ولې دا صحیح نۀ دې، ځکه چې په داسې کیدو سره به د حضرت حسن او حسین رضی الله عنهما په شان حضرات هم د صحابی په مصداق کښې رانۀ شی، حال دادې چې هغوی په اتفاق سره صحابه دی۔ [2]

---

[1] صحیح البخاری بشرح الکرمانی، باب فضائل أصحاب النبی: ۱۹۸، ۱۴، بیروت۱

[2] عمدة القاری: ۲۳۴، ۱۱۶

دویم قول دویم قول دادې، چې صحابی هغه دې "من طالت صحبته له وکثرت مجالسته مع طریق التبع له والاخذ عنه" د چا چې رسول الله ﷺ سره اوږد صحبت شوې وی، او د هغوی سره ئې ناسته پاسته زیاته شوې وی، او دې سره سره ئې د نبی کریم ﷺ نه اخذ او استفاده هم کړې وی، امام بدر الدین عینی رحمه الله د ابوالمظفر السمعانی په حوالې سره دا نقل کړې دی، او وې فرمائیل چې دا د اصولیینو قول دې، او وې وئیل چې د صحابی اطلاق د لغت له مخې هم، په دۀ باندې کیږی۔ (۱)

او أصحاب الحدیث د صحابی یا د صحابه اطلاق په هغه خلقو باندې کوی چې د حضور ﷺ نه ئې یو حدیث یا یوه کلمه هم نقل کړې وی، بلکه د أصحاب الحدیثو له مخې په دې کښې دومره فراخی ده، کۀ یو سړی یو نظر هم رسول الله ﷺ اوینی نو هغه صحابی دې، او خدائې دې نۀ کړی کۀ د لیدلو نه ورسته څوک مرتد شی، او بیا په اسلام کښې داخل شی، نو هغه اول واړې لیدل ددۀ د صحابیت د پاره د صحیح قول مطابق کافی دی، د محدثینو د اشعث بن قیس په صحابیت باندې اتفاق دې، او ددۀ په شان نور هغه خلق هم په أصحابۀ کښې داخل دی، چې هغوی د داسې قسمه حالاتو سره مخامخ شو، د دوی احادیث هغوی په مسانیدو کښې شمار کړی دی، (په مراسیلو کښې نه) علامه اسدی هم اوفرمائیل چې صحابی هغه دې، چې هغه رسول الله ﷺ لیدلې وی، بس۔ او هغه هم دا د امام احمد او أصحاب الشافعی قول مختار ګرځولې دې۔

ابن الحاجب هم دا غوره کړې دې۔ او ددې وجه ئې دا بیان کړې ده، چې صحبت قلیل او کثیر دواړو ته شامل دې، ابوزرعه رازی او ابوداؤد فرمائی چې صحبت د رؤیت نه اخص دې۔ او هر رؤیت صحبت لره مستلزم نۀ دې، دا دواړه حضرات فرمائی چې د طارق بن شهاب د پاره صحبت ثابت نۀ دې، او رؤیت د هغه ثابت دې، ددې تائید په طبقات د ابن سعد کښې مذکور د دې واقعې نه هم کیږی، چې یو واړې انس بن مالك رضی الله عنه ته موسی السینانی اووئیل، "انت اخر من بقی من أصحاب رسول الله ﷺ" چې تاسو د رسول الله ﷺ په أصحابۀ کښې آخری پاتې کیدونکې سړې ئې، په دې باندې هغوی اووئیل چې په اعرابو کښې څۀ خلق پاتې دی ولې په أصحابۀ کښې خو زۀ آخری سړې پاتې یم۔

یعنی اعرابو ته اګر چې رؤیت خو نصیب شوې دې، ولې هغوی ددې (رؤیت) په وجه په أصحابۀ کښې داخل نۀ دی۔ (۲)

دریم قول دریم قول د سعید بن المسیب نه منقول دې، هغوی فرمائی صحابی به هغه کس شمیرلې شی، چې د الله تعالی د رسول ﷺ سره ئې یو دوه کاله قیام کړې وی، او په غزواتو کښې د هغوی ﷺ سره شرکت اوکړی۔

---

(۱) عمدة القاری: ۱۱۶،۲۳٤

(۲) طبقات ابن سعد: ۲،۳٤٥، وعمدة القاری ـ ۲۳٤-۱۱۶،۲۳۶

دا قول په ضیق او تنګي باندې مبنی دي، ددې له مخې جریر بن عبدالله البجلی او ددۀ په شان نورهغه حضرات به په "صحابو" کښې نۀ شی شمیرلې چې په هغوی کښې پورته ذکر کړې شوی صفات موجود نۀ وی، حال دا دي چې د دوی په صحابیت کښې د چا هم اختلاف نشته هم دغه وجه ده، چې دا قول رد کړې شوې دي، او ددې د مردود کیدو یوه وجه دا هم ده، چې په دې کښې محمد بن عمر الواقدی راوی دي، چې ضعیف فی الحدیث دي۔[1]

څلورم قول: څلورم قول دادي، چې د طول صحبت سره اخذ هم شرط دي، دا قول صرف د جاحظ نه نقل کړې شوې دي، چې په دې کښې غیر ثقه رواۀ دی۔[2]

پنځم قول: پنځم قول دادي، چې صحابی هغه دي، "من رآه مسلمًا عاقلاً بالغًا" چا چې پیغمبر علیه السلام په حالت د اسلام، عقل او بلوغ کښې لیدلې وی، په دې کښې د بالغ کیدو شرط شاذ دي، لکه څنګه چې اوس پورته ددې ذکر او شو۔

شپږم قول: شپږم قول دادي "من أدرك زمنه، وهو مسلم وإن لم يره" چا چې د اسلام په حالت کښې د رسول الله ﷺ زمانه اوموندله، اګر چې هغه د رسول الله ﷺ زیارت نۀ وی کړې، دا قول د یحیی بن عثمان المصری نه مقنول دي، هغه فرمائی، ابوتمیم الجیشانی چې د هغه نوم عبدالله بن مالك دي، هغوی د رسول الله ﷺ زمانه خو اوموندله، ولې د هغوی سره ئې ملاقات اونۀ کړې شو، هغه په اتفاق د اهل سیرو سره د سیدنا حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کښې مدینې منورې ته هجرت کولو سره راغې، او سره ددې نه هغه صحابی دي، دا قول په اصولیینو کښې قرافی هم په شرح التنقیح کښې ذکر کړې دي۔

دې سرد بیا دا هم اضافه کړې شوې ده، چې څوك ماشوم وی او د ماشومو الی په وجه د خپل مور پلار یا أحد الأبوین په اتباع کښې هغه مسلمان اوګرځی هغه هم صحابی دي۔[3]

د قسطلانی رائې: علامه قسطلانی شارح د بخاری چې په دې حوالې سره کوم تفصیل بیان کړې دي، هغه په بعضې ځایونو کښې د عینی صاحب د ذکر کړې شوې تفصیلاتو نه لږ بدل دي، هغه فرمائی، "مَن صحب النبی فی زمن نبوته ولو ساعة" یعنی د صحبت معنی ده، څوك چې د هغوی علیه السلام په زمانه کښې هغوی سره پاتې شی اګر چې هغه دې یو ساعت ولې نۀ وی، او د "أو رآه" نه ورسته ئې او فرمائیل "فی حال حیاتِه ولو لحظةً مع زوال المانع من الرؤية كالعمى حال كونه فی وقت الصحة أو الرؤية" د هغوی ﷺ په ژوند کښې هغوی لیدل اګر چې هغه یو نظر ولې نۀ وی، او دې لیدلو د پاره ضروری دی چې "مانع من الرؤية" څۀ شیز نۀ وی، لکه روندوالې وغیره، د "من المسلمين" نه ورسته فرمائی، "العقلاء، ولو أنثى أو عبدًا أو غير بالغ أو جنبًا أو ملكًا على القول ببعثته إلى

---

[1] الطبقات الکبریٰ: ۳۴۵،۲، وعمدة القاری: ۱۲۳۵،۱۶

[2] الطبقات الکبریٰ: ۳۴۵،۲، وعمدة القاری: ۱۲۳۵،۱۶

[3] عمدة القاری شرح صحیح البخاری: ۲۳۴،۱۶-۲۳۶، دارالکتب العلمیة بیروت۔

الملائکة" یعنی چې هغه عاقل مسلمان وی، اګر چې هغه ښځه وی، غلام وی، نابالغ وی، جن وی، فرشته وی، یعنی انسان کیدل، سړی کیدل، بالغ کیدل، آزاد کیدل، شرط نۀ دی۔

بیا ئې اوفرمائیل امام بخاری چې صرف په رؤیت باندې اکتفاء کړې ده، او د مجالسه، مکالمه، مما شَاه (ورسره د تللو) وغیره ذکر ئې نۀ دې کړې، دغه د جمهور محدثینو او اصولیینو مذهب دې، او ددې وجه داده، چې د رسول الله ﷺ مقام او مرتبه ډیره لوړه ده، نو بس چا چې یو واړې هغوی ﷺ اولیدو، یا هغوی ﷺ څوک اولیدو، د هغه زړۀ د استقامت غر جوړ شو، او په هغه کښې به هغه نظر اثر کوی، ځکه چې دې سړی اسلام قبلولو سره ګویا د حق قبلولو او د فیض کسب کولو تیاری اوکړه، اوس کله چې دې د نورمحمدی سره مخامخ شو نو هغه نور به په دۀ باندې خپل انوار او پلوشې غورځوی، او بیا به د دۀ په زړۀ او اندامونو او جوارحو باندې د هغې اثر ښکاره کیږی، او وې فرمائیل چې په لغت کښې د صحبت اطلاق په یو ساعت باندې هم کیږی، او اهل الحدیثو په شرع او عرف کښې هم د هغې معنې اعتبار کړې دې، د کومې چې اهل لغتو کړې دې، د آمدی او ابن الحاجب قول مختار هم دغه دې۔

او وې فرمائیل، په دې وجه کۀ یو سړی قسم اوکړو چې "واللهلاأصحب فلاناً" په خدائې قسم زۀ به د فلانکی په صحبت کښې نۀ پاتې کیږم، هغه به د یو ساعت په صحبت سره هم حانث کیږی، معلومه شوه چې یو ساعت صحبت هم د صحبت د تحقق د پاره کافی دې۔ (۱)

د رسول الله ﷺ یو نظر د صحابیت د پاره د کافی ګرځولو قول: په "الإصابة" کښې د حجة الوداع په موقع باندې د هغوی ﷺ سره حاضریدونکی د مکې، مدینې، طائف، او د نورو سیمو هغه ټول اعراب په صحابۀ کښې شمیر کړې شوی دی، چې د هغوی شمیر د څلویښتو زرو نه زیات دې، ځکه چې هغې ټولو ته د حضور ﷺ صحبت نصیب شوې وو، اګر چې حضور ﷺ هغوی نۀ دی لیدلې، بلکه "لیلة الاسراء" یعنی د معراج په شپه باندې چې کوم خلق مؤمنان وۀ، کۀ رسول الله ﷺ ته د هغې ټولو د کشف په ذریعه د خودلو قول ثابت وی نو هغه ټول به صحابه شمیرلې شی، ځکه چې رسول الله ﷺ خو هغوی اولیدل، اګر چې هغوی رسول الله ﷺ اونۀ لیدې شو۔ (۲)

خو دا قول د صاحب د مصابیح ددې قول سره مخالف دې چې په "راٰه" کښې ضمیر مستتر یعنی ضمیر د فاعل نبی علیه السلام ته نه راجع کیږی، ځکه چې په داسې صورت کښې به هر هغه سړی صحابی وی، چې په هغه باند د نبی علیه السلام نظر لګیدلې وی، اګر چې هغۀ نبی علیه السلام نۀ وی لیدلې..... او ددې څوک هم قائل نشته۔ (۳)

---

۱) إرشاد الساری: ۸/۱۲۷

۲) الاصابة فی تمیز الصحابة: ۱/۶-۸، وکذا إرشاد الساری: ۸/۱۳۷

۳) إرشاد الساری شرح صحیح البخاری: ۸/۱۳۷

د صحابی د تعریف په حوالې سره په امام بخاری اعتراض: د امام بخاری په دې مذکوره تعریف د صحابی باندې حافظ زین الدین العراقی اعتراض کړې دې،چې یو سړې مسلمانیدو سره د نبی ﷺ مجلس ته راغلو،او هغه ړوند وو،چې د هغې په وجه باندې هغه ته رؤیت حاصل نۀ شو،او په څۀ وجه باندې هم هغه ته د هغوی ﷺ معیت،مجلس او د خبرو اترو کولو موقع ملاؤ نۀ شوه،نو داسې سړې به د امام بخاری د تعریف له مخې صحابی نۀ وی،حال دادې چې هغه صحابی دې۔(۱)

د قسطلانی د اړخ نه د امام بخاری دفاع: علامه قسطلانی د زین الدین عراقی ددې اعتراض متعلق فرمائی،کیدې شی چې هغه سره د بخاری هغه نسخه وی،چې په هغې کښې "من صحب النبی و راٰه" په واؤ سره وو،"أو" سره نۀ وو،په دې وجه هغه ته اشکال اوشو،قسطلانی دا خبره د عمرو بن کلثوم د صحابیت لاندې کړې ده،او وې فرمائیل،چې د حضرت عمرو بن کلثوم صحابیت یا خو په دې وجه ثابت دې،چې په "راٰه" کښې د ضمیر فاعل مرجع څنګه چې "مسلم" کیدې شی دغه شان "لفظ نبی" هم کیدې شی،او دویم صورت په ابن ام کلثوم باندې صادق راځی،چې نبی ﷺ هغه اولیدو،اګر چې هغۀ نبی ﷺ اونۀ لیدو،او کۀ دا احتمال (یعنی نبی ﷺ ته د فاعل ضمیر د راجع کیدو) صحیح اونۀ منلې شی،نو هم هغه صحابې دې،ځکه چې د صحابی دوه قسمونه دی،او په اول قسم کښې هغه داخل دې،یعنی چا چې د نبی ﷺ صحبت اومونډلو۔(۲)

د قسطلانی د رائې ضعف او راجح تعریف: ولې د قسطلانی دا تفصیل بې ځایه دې،او د حافظ عراقی تعریف په ځائې،ځکه چې ددۀ خبره د داسې سړی په حقله ده،چې هغه ته صحبت هم نۀ دې نصیب شوې،او رؤیت هم نۀ دې نصیب شوې،او ښکاره خبره ده چې داسې سړې نۀ د صحابی په اول قسم کښې شمیر دې نۀ په دویم کښې،همدغه شان د "رای" فاعل د نبی ﷺ کرځولو صورت هم راجح نۀ دې،ځکه چې په دې باندې دا اشکال دې،چې په کوم سړی هم د پیغمبر نظر پریوتو هغه به صحابی وی،حال دا دې چې دا د مقصود خلاف دې،همدغه وجه ده چې حافظ عراقی پخپله د صحابی تعریف کړې دې:

رای النبیؐ مسلما ذو صحة وقیل: ان طالت ولم یثبت

وقیل: من أقام عاما وغزا معه وذا لابن المسیب عزا۔(۳)

د اسلام په حالت کښې نبی ﷺ لیدونکې،د چا چې صحبت شوې وی،او یو قول دادې، چې د هغه طویل صحبت شوې وی،او دا قول نۀ دې ثابت کړې شوې،یو قول دا هم دې چې هغوی ﷺ سره کم از کم یو کال پاتې شوې وی او په یوه غزوه کښې هم د هغوی ﷺ سره

---

(۱) فتح المغیث للزین العراقی،ص:۱۳۳۵

(۲) إرشاد الساری:۸،۱۱۳۸

(۳) فتح المغیث للزین العراقی ،ص:۳۳۵

شریك شوې وی، دا قول سعید بن المسیب اړخ ته منسوب دې۔

د زین عراقی په تعریف باندې اشکال او د هغې جواب: په دې تعریف کښې پخپله په حافظ عراقی باندې هغه اشکال واردیږی، کوم چې په امام بخاری باندې وارد کړې شوې دې، ځکه چې هغهٔ هم د رؤیت او صحبت دواړو ذکر کړې دې، او زین الدین عراقی د هغې په حقله اعتراف کړې دې، چې هغه ته د "رَاٰی" په ځائې "لاقی" وئیل پکار وؤ، او "رَاٰی" هغه صرف د حافظ ابن الصلاح په متابعت کښې اختیار کړې دې، بیا فرمائی، چې د اعتراض نه سالم د صحابی تعریف به داسې وی:

"الصحابي من لقي النبي ﷺ مسلماً ثم مات على الإسلام".

یعنی "چا چې د نبی علیه السلام سره د اسلام په حالت کښې ملاقات کړې وی، او بیا په دې اسلام باندې مړ شوې وی۔" (۱)

په دې تعریف کښې د صحبت او رؤیت په ځائې د ملاقات ذکر دې، او ښکاره خبره ده، د ملاقات شرف هغه کس ته هم حاصل دې چې هغهٔ د ړوندوالی په صورت کښې د حضور ﷺ مجلس ته حاضری کړې وی۔

همدغه شان هغه کس چې هغهٔ د نبی کریم علیه السلام سره د اسلام په حالت کښې ملاقات اوکړو، ولې ددې نه ورسته هغه مرتد شو، د صحابی دا تعریف به په هغه هم صادق نهٔ راځی، او هغه یقیناً صحابی هم نهٔ دې، لکه ابن خطل، ربیعه بن امیه او مقیس بن ضبابه وغیره۔ (۲)

علامه قسطلانی فرمائی، چې د صحابی په تعریف کښې امام بخاری رحمه الله لفظ د "أو" استعمال کړې دې، چې په دې سره د صحابی دوؤ قسمونو اړخ ته اشاره مقصود ده:

①:- چا ته چې رؤیت حاصل وی۔ ②:- چا ته چې صحبت حاصل وی، رؤیت نه۔

او ددې خبرې دلیل دادې، چې دلته "أو" دې نهٔ چې "واو" چې امام بخاری په دې تعریف کښې د خپل شیخ علی بن المدینی اتباع کړې ده، او ابن مدینی هم لفظ د "أو" استعمال کړې دې۔ (۳) ځکه هغوی د صحابی تعریف کړې دې: "من صحب النبي أو رآه ولو ساعةً من نهار". (۴)

نو ددې نه معلومه شوه چې ابن ام مکتوم په شان حضرات چا د عارضې ړوندوالی د وجهې نه هغوی ﷺ نه دې لیدلې هغه د صحابی په اول قسم کښې داخل دې، او د صحابی تعریف په هغوی صادق راځی۔

د تمیز د عمر نه وړندې د رؤیت حکم: هنه! دلته یوه بله طبقه ده، او دا هغه خلق دی، چې

---

۱) اوګورئ فتح المغیث للزین العراقی، ص:۳۳۵-۳۳۶\

۲) فتح المغیث للعراقی، ص:۳۳۶

۳) إرشاد الساری:۸،۱۲۸\

۴) فتح المغیث للسخاوی: ٤،۷۸، مکتبة السنة بالقاهرة\

هغوی د ماشومو الی په حالت کښې نبی علیه السلام اولیدو، ولې په دې عمر کښې په هغهٔ کښې د پیژندګلو صلاحیت نهٔ وو، او د دهٔ هغه عمر نهٔ وو، چې هغې ته د تمیز عمر یا د پوهې زمانه اووئیلې شی.

لکه عبدالله بن الحرث بن نوفل، عبدالله بن أبی طلحه الأنصاری چې رسول الله ﷺ د دوی تحنیك فرمائیلی دې، یا د چا د پاره چې هغوی ﷺ دعاء کړې ده، محمد بن أبی بکر چې د دهٔ ولادت د نبی علیه السلام د وفات نه درې میاشتې او څهٔ ورځې وړاندې اوشو، قسطلانی فرمائی داسې ټول حضرات په صحابؤ کښې داخل دی، اګر چې د دوی اړخ ته د "رؤیة النبی" نسبت صحیح نهٔ دې، ولې په دوی باندې د رسول الله ﷺ نظر پریوتې دې، په دې وجه دې صحابی دې، او اکثر هغه حضراتو چا چې د صحابهٔ کرامو په حوالې سره کتابونو لیکلی دی، داسې حضرات ئې په صحابؤ کښې شمیر کړې دی، هنه! د دوی احادیث به د کبارو تابعینو د مراسیلو د قبیلې نه وی.[1]

ځکه چې د احادیثو اخستلو په زمانه کښې ظاهره ده چې دوی نبی علیه السلام نهٔ دې موندلې، او د دوی پخپله د نبی علیه السلام نه د احادیثو د اخستلو امکان هم نشته، په دې وجه د دوی روایات د مسانیدو د قبیلې نه نهٔ شی کیدې، دا به خامخا دوی د صحابهٔ کرامو نه اخستلې وی.

د صحابی په تعریف کښې د "اسلام" قید: - بیا د صحابی په تعریف کښې د اسلام قید ځکه اولګولې شو، چې دا په هغه خلقو باندې صادق رانهٔ شی، چا چې رسول الله ﷺ د کفر په حالت کښې اولیدو، ځکه چې داسې کسانو کهٔ ورستو بیا اسلام هم قبول کړې وی، بیا هم هغه صحابی نهٔ دې، لکه قیصر، اګر چې امام احمد رحمه الله بیا هم د هغهٔ د روایاتو تخریج په خپل مسند کښې کړې دې.[2]

او حافظ ابن حجر خپل شیخ زین الدین عراقی اړخ ته د "مات علی الإسلام" قید د اضافې هم نسبت کړې دې، چې هغه ته مرګ هم د اسلام په حالت کښې راغلې وی، او ددې مقصد ورستو مرتد کیدونکی د صحابی د تعریف نه خارجول دی.[3]

ایا د ارتداد په وجه صحابیت ختمیږی؟ اوس دلته یوه بله خبره ده، چې چا د اسلام په حالت کښې رسول الله ﷺ سره ملاقات اوکړو، او ورستو د مرتد کیدو په حالت کښې مړ شو، د "ثم مات علی الإسلام" شرط خو دې د صحابی د تعریف نه خارج کړو، ولې کوم کس چې مرتد شو او هغه بیا اسلام قبول کړو، او هم د اسلام په حالت کښې دهٔ ته مرګ راغې، نو آیا په مینځ کښې ارتداد عارض کیدو سره به د دهٔ صحابیت نهٔ متاثره کیږی، ځکه چې د "مات علی الإسلام" د قید له مخې خو هغه هم صحابی دې؟ ځکه چې رؤیت یا صحبت هم د اسلام په

---

[1] إرشاد الساری: ۱۱۲۸،۸

[2] إرشاد الساری: ۱۱۳۸،۸

[3] فتح الباری: ۱٤،۹

حالت کښې شوې دې. او بیا مرګ هم د اسلام په حالت کښې راغې.....؟

قسطلانی فرمائی، داسې خلق د صحابی په تعریف کښې داخل دی، او هغوی هم صحابهٔ کرام دی، برابره خبره ده چې په دویم ځل د اسلام قبولو نه ورسته د هغوی د رسول الله ﷺ سره ملاقات شوې وی یا نهٔ وی شوې، بلکه قسطلانی خو دا هم وائی، چې حافظ ابن حجر او حافظ عراقی چې د "موت علی الإسلام" کوم شرط لګولې دې، هغه هم تسلیم نهٔ دې، او په دې باندې دا اعتراض کړې شوې دې، چې د مرتد کیدونکی صحابیت خو ارتداد سره ختم شو، ولې د ارتداد نه وړاندې خو هغه صحابی وو، په دغه وخت کښې په هغه باندې د صحابی تعریف بغیر د ذکر کړې شوې قید (موت علی الإسلام) صادق راتلو، او د تعریف د صحیح کیدو د پاره بس دومره کافی ده، ځکه چې په تعریفاتو کښې د یو امر منافی د عارض کیدو نه خو احتراز نهٔ وی، ځنګه چې د سړی د اسلام د تحقق د پاره دا لازمی نهٔ دی چې هغه ته دې مرګ هم د اسلام په حالت کښې راشی، هله به هغه مؤمن وی ګنې نو نهٔ به وی.[1]

بلکه د مرتد ارتداد ته خو ارتداد په دې وجه وئیلې شی، چې د دهٔ ایمان متحقق شوې وو، او اوس دهٔ "عود إلی الکفر" اختیار کړو.

بیا قسطلانی پخپله فرمائی، چې کومو خلقو د "موت علی الإسلام" شرط لګولې دې، د هغوی مقصد صرف دومره دې، چې د صحابهٔ کرامو د زمانې ختمیدو نه ورسته چا ته صحابی اووئیلې شی او چا ته غیر صحابی؟ نو وې فرمائیل چا چې د اسلام په حالت کښې ملاقات کړې وی او بیا د اسلام په حالت کښې مړ شوې وی صرف هغه به صحابی شمیرلې شی، دا مطلب هیڅ کله هم نهٔ دې، چې ملاقات او رؤیة النبی ﷺ د اسلام په حالت کښې د صحابیت د تحقق د پاره کافی نهٔ دی، ځکه چې ددې معنی خو به بیا دا شی، چې صحابهٔ کرام په خپل ژوند کښې صحابه نهٔ وؤ، او د وفات نه ورسته هغوی صحابه جوړ شو، حال دا دې چې ددې څوک هم قائل نهٔ دی.[2]

د اشعری قول: بعضې حضراتو (لکه ابو الحسن اشعری وغیره) ددې قول نه دا نتیجه اخذ کړې ده، چې کوم سړې مرتد شو هغه صحابی ځکه نهٔ وو، چې د هغه د مرګ نه معلومه شوه چې هغه مسلمان شوې هم نهٔ دې، او د اول نه هغه کافر راروان وو، په دې وجه هغه په "من رآه مسلماً" قید سره خارج شو، او هغه د اسلام په حالت کښې پیغمبر لیدلې نهٔ دې، لهذا کهٔ د "مات علی الإسلام" قید نهٔ هم وی نو بیا هم د صحابی تعریف په هغه صادق نهٔ راځی، علامه سخاوی فرمائی، "فیه نظر" په دې کښې اشکال دې، او هغه دا چې د شریعت د احکامو دار مدار په ظاهر باندې وی، او په ظاهره دا سړې مؤمن دې، په دې وجه د دهٔ ایمان به قابل قبول

---

[1] إرشاد الساری: ۱۱۳۸.۸

[2] إرشاد الساری: ۱۱۳۸.۸

وی،او د دۀ تحقق اسلام به د خاتمې علی الایمان سره نۀ شی متعلق کوې.[1]

رؤیت په دُنیوی ژوند کښې شرط دې بیا د رؤیت النبی د پاره دا هم شرط دې.چې هغه د رسول الله په ژوند مبارک کښې وی،کۀ د هغوی ﷺ د وفات نه ورسته او د دفن نه وړاندې په قبر کښې یا د قبر نه بهر د چا په نبی علیه السلام باندې نظر پریوتو،نو اګر چې بعضې حضراتو د هغه د پاره هم صحابیت ثابت کړې دې،ولې صحیح،مشهور او راجح دغه دې،چې هغه صحابی نۀ دې،او دا لیدل کافی نۀ دی،کوم حضرات چې دا کافی ګڼړی.د هغوی وینا ده.چې د نبی علیه السلام ژوند خو مستمر دې،چې د وفات په وخت کښې او د دفن نه ورسته هم هغوی ته ژوند حاصل دې،ولې ددې جواب دادې،چې اعتبار د دنیا د ژوند دې.ځکه چې د دنیوی احکامو دار و مدار صرف په دنیوی ژوند باندې دې.او د صحابیت ثبوت او عدم ثبوت هم د دنیوی امورو نه دې.... شهید هم ژوندې وی ولې په هغه باندې د مړو احکام جاری کیږی،ځکه چې د هغه ژوند اُخروی دې،دنیوی نۀ دې.

د دنیوی ژوند قید لګول په دې وجه ضروری دی،کۀ دا قید اُونۀ لګولې شی نو بیا د نبی علیه السلام د جسد مکرم په هره زمانه کښې په قبر کښې لیدونکې یا په خوب او کشف کښې لیدونکې به هم صحابی وی،حال دادې چې هغه په اتفاق سره صحابی نۀ دې،په دې وجه "یقظة" د ویخې قید هم لګولې شوې دې.[2]

د چا چې معاصرت ثابت وی،رؤیت نه اوس پاتې شو هغه کس چې هغۀ ته د رسول الله ﷺ معاصرت خو حاصل وی،ولې رؤیت ورته نۀ وی نصیب شوې،نو د هغۀ په حقله اختلاف دې.یو قول خو هغه دې کوم چې د قول سادس د سرنامې لاندې تیر شوې دې.یعنی ددې سړی د صحابیت قول.

او بنکاره خبره ده چې نور محققین ددې سړی د صحابیت قائل نۀ دی.

او کۀ د هغۀ ولادت هم د هغوی ﷺ د وفات نه ورسته شوې وی،نو هغه خو بالاتفاق غیر صحابی دې.یعنی د هغۀ د صحابیت په عدم ثبوت کښې د چا هم اختلاف نشته.[3]

آیا رؤیت د نبوت په حالت کښې کیدل شرط دی؟ د الله تعالی نبی لیدل چې د صحابیت د پاره شرط دی.آیا د هغوی ﷺ ذات "من حیث النبی" یعنی د نبوت ملاویدو نه ورسته لیدل ضروری دی.یا د نبوت نه وړاندې هم کۀ چا نبی علیه السلام لیدلې وی،هغه هم صحابی دې.لکه زید بن عمرو بن نفیل چې په دین حنیفیت باندې وو،یعنی د هغې دین په اعتبار سره مؤمن وو.او هغوی ﷺ ته د نبوت ملاویدو نه وړاندې هغه وفات شوې وو،او نبی علیه السلام د هغۀ په حقله اوفرمائیل "إنه یبعث أمة وحده" هغه بۀ د قیامت په ورځ یواځې د یو امت په توګه راپاسولې شی.ابو عبدالله بن منده هغه په صحابۀ کښې شمیر کړې دې.

---

[1] فتح المغیث للسخاوی: ۴،۱۸۴

[2] فتح المغیث للسخاوی: ۴،۱۸۴ مکتبة السنة بالقاهرة

[3] فتح المغیث للسخاوی: ۴،۱۸۱ وفتح المغیث للعراقی،ص:۳۳۶

همدغه شان هغه کس چې هغه د نبوت ملاویدو نه وړاندې د هغوی ﷺ ملاقات اوکړو ،بیا غائب شو ،او هغوی ﷺ ته د نبوت ملاویدو نه ورستو پورې ژوندې پاتې شو ،او ورستو ئې اسلام قبول کړو ،ولې ورستو ئې بیا په دویم واړې د نبی علیه السلام ملاقات اونۀ کړې شو ،حافظ زین الدین صاحب د "ألفیة الحدیث" فرمائی ،چې ما ته ددې دواړو انواعو په حقله د چا د کلام او بحث علم نشته ،بیا هم د صحابی په تعریف کښې به د رؤیت نه هم "رؤیت بعد النبوة" مراد وی ،ځکه چې د أصحابؤ متعلق کتابونه لیکونکو حضراتو د هغوی ﷺ په اولاد کښې د هغوی ذکر خو کړې دې د چا ولادت چې د هغوی ﷺ د نبوت نه ورستو شوې دې ،لکه ابراهیم ،او عبدالله ،خو د هغوی ذکر ئې نۀ دې کړې ،چې ولادت او وفات ئې د نبوت نه وړاندې شوې دې ،لکه قاسم ،ددې نه معلومه شوه ،چې د صحابیت د پاره د نبی علیه السلام رؤیت بعد النبوة شرط دې ،د نبوت نه وړاندې رؤیت کافی نۀ دې ۔(۱)

د صحبت په مصداق کښې د اهل لغت او اهل عرف اختلاف او د اصحاب الحدیث رجحان:

د "قول ثانی" په سرنامې سره د ابو المظفر السمعانی په حوالې سره د اصولیینو دا قول نقل کړې شوې دې ،چې د صحابی کیدو د پاره د هغوی ﷺ سره طویل صحبت او کثیر مجالست ضروری دې ،او صحبت او مجالست هم چې د تبع (اتباع) او اخذ په توګه وی ۔

او د محدثینو مذهب خو دا بیان کړې شوې دې ،چې هغوی نبی علیه السلام یو نظر لیدونکې او د هغوی ﷺ نه یو حدیث نقل کونکې هم صحابی ګرځوی ،دغه د اهل لغت هم قول دې ،قاضی ابوبکر بن الطیب الباقلانی فرمائی ،"لا خلاف بین أهل اللغة فی أن الصحابی مشتق من الصحبة" (۲) په اهل لغت کښې په دې حوالې سره هیڅ اختلاف نشته ،چې صحابی د صحبت نه مشتق دې ،او د صحبت څۀ مقدار دې د پاره شرط نۀ دې ،لهذا صحبت کۀ قلیل وی کۀ کثیر ،په دې سره به صحابیت ثابتیږی ،په لغت کښې وئیلې کیږی ،"صحبتُ فلاناً حولاً ،ودهراً ،وسنةً ،وشهراً ،یوماً ،وساعةً" (۳) او ددې تقاضا دغه ده ،چا چې "ساعةً من نهار" یعنی یوه ګهړۍ (لمحه) هم د رسول الله ﷺ صحبت اختیار کړو ،هغه به صحابی وی ۔

همدغه خبره د علی بن المدینی رحمه الله او بیا د هغۀ د شاګرد امام بخاری رحمه الله په حوالې سره نقل کړې شوې ده ،د امام احمد رحمه الله هم دغه رائې ده ،د هغۀ الفاظ دادی: "من صَحِبَه سنةً أو شهراً أو یوماً أو ساعةً أو راه" (۴) او د علی بن المدینی رحمه الله الفاظ دادی: "مَن صحب النبی أو راه ولو ساعة

---

۱) فتح المغیث شرح ألفیة الحدیث للمؤلف:۱۳۳۶

۲) تدریب الراوی:۲،۲۱۱

۳) تدریب الراوی:۲،۲۱۱

۴) المنهل المروی لابن جماعة ،جزء:۱ ،ص:۱۱۱ ،دار الفکر

من نهار" او د امام بخاری رحمه الله الفاظ دادی: "من صحب النبی أو راٰه من المسلمین". (۱)
د اهل لغتو او اهل الحدیثو ددې رائې د لفظ صحابی د مادۀ اشتقاق نه هم تائید کیږی، او ددې خبرې نه هم چې نور نبوت یو نظر لیدونکې ته هم پوره برخه ورکوی، خو په عرف د ائمو (۲) کښې د لفظ "صاحب" یا "صحابی" استعمال صرف په داسې سړی باندې کیږی د چا چې طویل صحبت د نبی علیه السلام سره شوې وی، او د چا چې مسلسل او متصل ملاقاتونه شوی وی، د یوې ګهړۍ (لمحې) په ملاقات، یو څو قدمه یو ځائې تللو، او په یو دوۀ خبرو اوریدو سره څوک صحابی نۀ جوړیږی، یعنی د "صحابی" اطلاق په دۀ باندې نۀ کیږی، بلکه ددې اطلاق د پاره ضروری ده چې هغه سړی څو واړې د هغوی ﷺ سره ملاقات کړې وی، او کافی زمانه د هغوی ﷺ په صحبت کښې پاتې شوې وی۔
او اهل الحدیثو د لغت، شرع، او عرف تولو نه دا نقل کړې دی، کۀ یوه ګهړۍ (لمحه) صحبت او رؤیت هم چا ته نصیب شی نو هغه صحابی دې۔ (۳)
نووی رحمه الله د قاضی ابوبکر د قول نقل کولو نه ورسته اوفرمائیل، ددې نه د محدثینو د مذهب ترجیح ثابتیږی، ابن الجوزی فرمائی، یو دې د لفظ "صحابی" مطلق اطلاق، هغه خو په لویه ګهړۍ (لمحه) صحبت موندونکی باندې هم کیږی، او یو ددې شهرت دې، نو د مشهور لفظ د "صحابی" نه هغه سړې مراد وی، د چا چې د رسول الله ﷺ سره طویل مجالست او مخالطت پاتې شوې وی، دغه وجه ده، چې کله د لفظ "صحابی" ذکر اوشی، نو د هغې نه متبادر هغه سړې مراد وی، د چا چې طویل صحبت پاتې شوې وی، او دویم اړخ ته کۀ څوک قسم اوکړی، چې تا سره به صحبت نۀ کوم، نو هغه به په یوه ګهړۍ (لمحه) صحبت باندې هم حانث کیږی، نو په اطلاق د صحابیت او شهرت د صحابیت کښې فرق دې۔ (۴)
د صحابیت د معلومیدو طریقې: اوس پاتې شوه دا خبره چې د صحابی د صحبت پیژندګلو څۀ ده، نو حافظ عراقی په "ألفیة الحدیث" کښې فرمائی:

وتُعرفُ الصُّحبةُ باشتهارٍ أو ... تواترٍ أو قولِ صاحبٍ ولَو
قد إدَّعاها وهو عدلٌ قُبِلا ... وهُم عُدول، قيل: لا مَن دخَلاَ

مؤلف پخپله ددې په شرح کښې فرمائی چې:
①:- د صحابی صحابیت خو به یا په شهرت سره معلومیږی، او په شهرت کښې بیا تواتر هم راځی، بلکه په طریقه آولی باندې راځی، او په نقلِ متواتر سره چې د کومو حضراتو

---

۱) المنهل المروی لابن جماعة، جزء: ۱، ص: ۱۱۱، دار الفکر۱
۲) بعضې حضراتو د "عرف الأئمة" په ځائې د "عرف الأمة" لفظ استعمال کړې دې، اوګورئ، فتح المغیث للسخاوی، ص: ۱۷۹
۳) فتح المغیث للعراقی، ص: ۳۳۷
۴) اوګورئ فتح المغیث للعراقی، ص: ۳۳۷، وفتح المغیث للسخاوی: ۴، ۷۸، ۱۷۹

صحابیت معلوم شوې دي، د هغوی مثال ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه باقی عشره مبشره رضی الله عنهم او نور حضرات دی۔

②:-او د بعضې حضراتو صحابیت په استفاضې او هغه خبر مشهور سره معلومیږی، چې د خبرمتواتر نه د کمې درجې وی، لکه عکاشه بن محصن،(۱) ضمام بن ثعلبة(۲) وغیره۔

③:-او د بعضې حضراتو صحابیت په دې طریقې سره معلومیږی، چې بل یو صاحب د هغه متعلق خبر ورکړی، لکه حَمَمة بن ابیٔ الدوسی چې د خیټې د بیمارئ د وجهې نه په اصبهان کښې د هغه وفات اوشو، او حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه گواهی ورکړه چې هغه صحابی وو، او د رسول الله ﷺ نه ئې د هغهٔ د شهید گنرلو حکم نقل کړې دې۔(۳)

اګر چې حافظ عراقی فرمائی چې په دې کښې دا احتمال هم شته، چې رسول الله ﷺ هغه خلق شهید ګرځولې وې، د چا چې د خیټې د مرض د وجهې نه وفات شوې وی، او د هغې په عموم کښې حضرت حممه هم راغلې وی، او د هغه نوم هغوی ﷺ نهٔ وی اخستلې۔(۴) او د سړی صحابیت د هغه د خپل خبر سره هم ثابتیږی، خو ددې د پاره دا شرط دې، چې د خپل صحابیت د خبر ورکولو نه وړاندې هغه د عدالت(صدق او دیانت)شهرت لری، دغه خبره ابن الصلاح فرمائیلې ده۔(۵) او خطیب بغدادی هم تقریباً دغه خبره فرمائیلې ده، هغه فرمائی:

"وقد یحکم بأنه صحابی إذا کان ثقةً أمیناً مقبول القول، إذا قال: صحبت النبی ﷺ وکثُر لقائی له فیُحکم بأنه صحابی فی الظاهر لموضع عدالته وقبول خبرِه وإن لم یقطع بذلك کما یعمل بروایته"۔(۶)

یعنی: کله کله د صحابی کیدو حکم داسې لګی، چې صاحب د عدل، ثقه او امانتدار وی، او هغه وائی ما د الله تعالی د رسول ﷺ صحبت موندلې دې، او زما د هغوی ﷺ سره ډیر ملاقاتونه شوی دی، د داسې کس صحابیت اګر چې په قطعی توګه ثابت نهٔ وی، خو د عدالت او مقبول الخبر کیدو په بناء باندې په ظاهره به هغه صحابی وی، او د هغهٔ د خبرې اعتبار به کولې شی، څنګه چې د هغهٔ په روایت باندې عمل کیږی۔

حافظ عراقی فرمائی چې دې سره به یو بل قید هم لګولې شی، چې ظاهر هم د هغهٔ د خبرې منافی نهٔ وی، بلکه مقتضی وی، لهذا د رسول الله ﷺ د وفات نه سل کاله ورسته کهٔ څوک دا دعویٰ کوی نو د هغهٔ دعویٰ به مسموع او مقبول نهٔ وی، ځکه چې د الله تعالی رسول ﷺ په واضح الفاظو کښې فرمائیلی دی:

---

۱) عکاشه بن محصن بن حرثان بن قیس الاسدی، په سابقین اولین او بدریینو کښې وو، اوګورئ الاصابة ۱۹۴،۲

۲) ضمام بن ثعلبة السعدی.....الاصابة:۲۱۰،۲، الاستیعاب:۲۱۴،۲

۳) اوګورئ الاصابة:۳۵۵،۱، ومعرفة الصحابة لابی نعیم الاصبهانی:۱۶۵،۲، واسدالغابة:۱۵۳،۱

۴) اوګورئ فتح المغیث:ص،۳۴۱

۵) علوم الحدیث،ص:۲۹۹

۶) نکتُ العراقی،ص:۲۹، وفتح المغیث،ص:۳۴۱

"ارأیتم لیلتکم هذه، فإنه علی رأس مائة سنة منها لا یبقی أحدٌ ممن هو علی ظهر الأرض".(۱)

نن شپه کښې تاسو وینې..... ددې نه ورسټو پوره د یوې صدې په سر باندې نن چې کوم خلق په مخ د زمکه باندې موجود دی، په دې کښې به څوک هم نۀ وی، یعنی راروان سل کاله کښې دننه دننه هغه ټول خلق چې نن موجود دی د دنیا نه به تلې وی۔

اوس ښکاره خبره ده چې سل کاله ورسټو به د چا صحابیت څنګه منلې شی، کله چې د پیغمبر ﷺ د زمانې خلق هم ختم شوې وی، دا خبره هغوی ﷺ په هغه کال باندې اوفرمائیله، په کوم کال چې د هغوی ﷺ وفات اوشو، او په دې سره مقصود هم په ظاهره د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم د زمانې ختمیدل او کټ کیدل بیانول وو۔

علماء اصولو د مقتضاء ظاهر د خلاف نۀ کیدو شرط سره ددې خبرې زیاتوالې هم کړې دې، چې ددې سړی معاصرت د نبی کریم ﷺ سره معلوم او معروف هم وی، بیا چې کله هغه دعوی اوکړی، چې دې (یعنی زه) صحابی دې، نو هغه به منلې شی، چې د اسلام او عدالت د ثبوت نه ورسټو په ظاهره به هغه رښتیا وائی، اګر چې دا احتمال هم ذکر کړې شوې دې، چې هغه دروغژن وی، ځکه چې د هغۀ د صحابیت د دعوی مقصد ځان د پاره یوه لوړه رتبه ثابتول کیدې شی، او د موضع تهمت کیدو په بناء باندې په دۀ باندې دا ګمان کیدې شی، چې هغه د خپلې فائدې د پاره د واقع خلاف (یعنی دروغ) خبره کوی۔(۲)

دلته د دریۀ احادیثو ذکر دې۔

اول حدیث [۳۴۴۹](۳) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رضی الله عنهما - يَقُولُ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ ، فَيَقُولُونَ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَيَقُولُونَ نَعَمْ. فَيُفْتَحُ لَهُمْ. ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ ، فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَيَقُولُونَ نَعَمْ. فَيُفْتَحُ لَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ ، فَيُقَالُ هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَيَقُولُونَ نَعَمْ. فَيُفْتَحُ لَهُمْ [ر: ۲۷۴۰]

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت بالکل واضح دې۔

---

(۱) رواه البخاری فی کتاب العلم، حدیث: ۱۱۶، وفی کتاب مواقیت الصلوٰة، حدیث: ۱۶۴، وفی کتاب الأذان، حدیث: ۶۰۱، ومسلم فی الفتن، باب قوله ﷺ لا تأتی مائة سنة وعلی الأرض نفس منفوسة الیوم، حدیث: ۲۵۳۷، وأبو داؤد، فی الملاحم، باب قیام الساعة، حدیث: ۴۳۴۸، والترمذی، باب الفتن: ۲۲۵۲

(۲) اوګورئ فتح المغیث، ص: ۳۴۱، وعمدة القاری: ۱۶، ۲۳۶

(۳) الحدیث مر تخریجه فی کتاب الجهاد، باب من استعان بالضعفاء واللصلحین فی الحرب، رقم: ۷۹۷..... کشف الباری، کتاب الجهاد: ۱۱، ۵۷۷

رجال الحدیث

علیُ بنُ عبد الله دا علی بن عبدالله بن جعفر المعروف علی بن المدینی دي،د دهٔ احوال "کتاب العلم،باب الفهم فی العلم" کښې تیر شوی دی۔[۱]

سفیان دا مشهور محدث سفیان بن عیینه دي،د دهٔ تفصیلی حالات په "کتاب العلم،باب قول المحدّث حدّثنا أو أخبرنا وأنبانا" لاندې تیر شوی دی۔[۲]

جابر بن عبد الله دا معروف صحابئ رسول ﷺ دي.د دهٔ پلار عبدالله هم صحابی دي،د انصارو د قبیلهٔ خزرج سره د دهٔ تعلق دي.د دهٔ سلسله نسب داسې ده:جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام بن ثعلبة بن کعب بن غنم بن کعب بن سلمة بن سعد بن علی بن اسد بن ساردة بن تزید بن جشم بن الخزرج الأنصاری الخزرجی السّلمی،ابو عبدالله،ابو عبدالرحمن او ابو محمد المدنی ئې کنیتونه منقول دی۔د دهٔ احوال تیر شوي دی۔[۳]

أبو سعید الخدری ابو سعید خدری،مشهور صحابئ رسول ﷺ دي،سعد بن مالك بن سنان د دهٔ نوم دي،او په کنیت سره مشهور شوي دي،د دهٔ حالات په "کتاب الإیمان،باب مِن الدِّین الفرار من الفتن" کښې تیر شوی دی۔[۴]

قوله: فَیَغْزُو فِئَامٌ: دا روایت "کتاب الجهاد،باب من استعان بالضعفاء،والصالحین فی الحرب" کښې تیر شوي دي،او د جهاد سره متعلق تشریح هم ددې هلته تیره شوي ده۔[۵]

"فِئَام:أی الجماعة من الناس لا واحدّ له من لفظه،"

د "رهط" په شان اسم جمع ده.او د رهط په معنی باندې دي،ددې لفظ نه ددې مفرد نهٔ راځی.

بکسر الفاء وفتح الیاء التحتانیة،بالهمز وبدونه یعنی فئام هم لوستلې شی او فیَام هم۔[۶]

امام نووی رحمه الله فئام بالهمز او فیَام بالیاء وبکسر الفاء سره یو دریم قول بفتح الفاء هم نقل کړې دي.بیا هم ترجیح په دریو واړو اقوالو کښې اول قول ته ورکړې شوي ده،او مشهور هم دغه دي۔[۷]

د قرون ثلاثه په ختمیدو سره د صحابهٔ کرامو،تابعینو او تبع تابعینو وجود ختم شو: د حدیث د

---

[۱]) اوګورئ:کشف الباری:۱۲۲۷،۳

[۲]) اوګورئ:کشف الباری:۱۱۰۲،۳

[۳]) اوګورئ:کشف الباری:۱۳۹۸،۳

[۴]) اوګورئ:کشف الباری:۱۸۲،۲

[۵]) کشف الباری،کتاب الجهاد:۵۸۱،۱-۱۵۸۰

[۶]) اوګورئ:عمدة القاری:۲۳۶،۱۶،وفتح الباری:۱۷،۷

[۷]) اوګورئ:صحیح مسلم بشرح النووی،باب فضل الصحابة ثم الذین یلونهم.....۱۳۰۰،۱۶

باب سره تعلق واضح دي،د صحابهٔ کرامو فضیلت او امتیازی شان په حدیث کښې په صراحت سره مذکور دي،دې سره سره د تابعینو یعنی د اتباع صحابه او اتباع تابعینو فضیلت هم بیان شوې دي،دا په اصل کښې د دریؤ زمانو او دریؤ طبقو خبره ده،چې د هغې تعبیر په عامه توګه په قرون ثلاثه سره هم کیږی،او په خیر القرون سره هم،کله چې ددې دریؤ زمانو یوخاص فضیلت اواهمیت دي،چې بل چا ته حاصل نهٔ دي،نو بیا په بدیهی توګه ددې دریؤ واړو طبقو پیژندګلو او ددې اول او آخر هم معلومیدل پکار دی،او معلوم دی۔

اوس د صحابی په تعریف کښې د رسول الله ﷺ هغه ارشاد نقل کړې شوې دي،چې نن یعنی د رسول الله ﷺ د وفات نه یو میاشت وړاندې نه د پوره سل کال ورسته پورې به د صحابهٔ کرامو زمانه ختمه شی،او ددې نه ورسته به د هیڅ یو صحابی وجود پاتې نهٔ شی،همدغسې اوشول،د هغوی ﷺ د آخری صحابی حضرت ابو الطفیل عامر بن واثله اللیثی وفات په ۱۰۰ هجرې کښې اوشو،د دویم قول مطابق په ۱۰۷هجرې کښې اوشو،او دریم قول دادي،چې په ۱۱۰هجرې کښې اوشو۔

دا آخری قول زیات راجح ګرځولې شوې دي،او د هغوی ﷺ د ارشاد تقاضا هم دغه ده،چې د هغوی ﷺ وفات چې په ۱۰ هجرې کښې اوشو،ددې نه پوره سل کاله ورسته یعنی هم په ۱۱۰هجرې کښې د آخری صحابی وفات اوشو.....د أصحاب حدیثو تقریباً په دې باندې اتفاق دي،چې حضرت ابو الطفیل رضی الله عنه د رسول الله ﷺ آخری صحابی دي۔[1]

د ۱۱۰ هجرې نه ورسته د چا د صحابیت دعوی مسموع نهٔ ده: علماء فرمائی چې د رسول الله ﷺ د ارشاد:

"فإنّ رأسَ مائةِ سنةٍ منها لا یبقی مِمّن هو علی ظهرِ الأرض أحدٌ"

په بناء باندې د ۱۱۰ هجرې نه ورسته کهٔ چا د صحابیت دعوی اوکړه نو هغه به کذّاب وی۔[2] هنه! د حضرت خضر علیه السلام په حقله د محدیثنو او صوفیاؤ څهٔ لږ اختلاف دي،او ددې موضوع د صحابیت سره څهٔ تعلق نشته۔[3]

د صحابیت موضوع په څو وجوهو سره یوه ډیر باریکهٔ موضوع ده،او د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ډلې نیغ په نیغه باندې د الله تعالی د رسول ﷺ نه دین اخذ کړې دي،چې په دې وجه باندې د هغوی ډیر زیات اهمیت دي،تر دې پورې کهٔ په روایاتو کښې په "رجل من الصحابة یا أحد من الصحابة" مبهم الفاظو سره یو صحابی ذکر شی،نو د هغې هم ډیر لوئې اعتبار وی،په دې وجه نبی علیه السلام په مختلفو موقعو کښې په مختلف طریقو سره دا خبره بیان کړې ده،چې د صحابهٔ کرامو د جماعت یوه مقرره او ټاکلې شوې زمانه ده۔

---

[1] الکنز المتواری:۱۳۶۲،۲

[2] الکنز المتواری:۱۳۶۲،۲

[3] الکنز المتواری:۱۳۶۲،۲

په یو روایت کښې د نبی ﷺ د وفات نه سل کاله ورسته ددې جماعت د ختمیدو خبر ئې ورکړې دې، چرته ئې دا فرمائیلی دی، چې اهل ایمان به جهاد کوی، او د دوی نه به پوښتنه اوکړې شی چې آیا په تاسو کښې داسې یو سړې شته، چې هغه د الله تعالی د رسول ﷺ صحبت موندلې وی، هغوی ته به جواب ملاؤ شی، چې هآؤ شته او بیا به دې جماعت ته فتح ملاؤ شی، بیا به یو وخت راشی، جهاد به وی، او د مجاهدینو نه به دا پوښتنه اوکړې شی، چې په تاسو کښې داسې څوک شته، چې هغۀ د هغه خلقو صحبت موندلې وی، چا چې د رسول الله ﷺ صحبت موندلې وی (یعنی په تابعینو کښې څوک شته؟)، جواب به ملاؤ شی چې هآؤ، هغوی ته به هم فتح ملاؤ شی، بیا به هم دغه شان د اتباع تابعینو په حقله سوال جواب وی ـ په دې سره څنګه دا معلومه شوه چې د صحابیت، تابعیت او تبع تابعیت په برکت به فتوحات ملاویږی، دغه شان دا اشاره هم پوهې ته راځی، چې یو وخت به داسې راشی چې څوک صحابی به پاتې نۀ شی، بیا به یو وخت راشی چې تابعی یعنی صحابۀ کرام موندونکې به هم پاتې نۀ شی، بیا به یو وخت راشی، چې اتباع تابعین به هم پاتې نۀ شی، لهذا په دې ورستو زمانو کښې به د صحابیت دعوی د چا هم د توجه وړ نۀ شی ګڼلې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی دلته په یوئې بلې قرینې سره هم په ورستو زمانو کښې د صحابۀ کرامو د نشتوالی پته لګی، او هغه دا چې دلته ئې اوفرمائیل، چې مسلمانان به کفری هیوادونو ارخ ته جهاد د پاره روان وی، اوس خو د ډیرې زمانې داسې خبره ددې الټا ده، چې کافران په اسلامی هیوادونو باندې حملې کونکی دی، نو په داسې حال کښې ددې سوال خو موقع هم نۀ ملاویږی، چې په تاسو کښې صحابه شته یا تابعین شته یا اتباع تابعین شته؟[1]

د قرون اربعو ذکر: دلته هم او په اکثرو روایاتو کښې صرف د دریۀ قرونو ذکر راغلې دې، د "قرون ثلثه مشهود لها بالخیر" اصطلاح هم مشهوره ده، ولې په بعضې روایاتو کښې د څلورو قرونو ذکر دې، څنګه چې طبرانی او ابن أبی شیبه وغیره ذکر کړی دی، د طبرانی الفاظ دادی:

"خیر الناس قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم ثم الآخرون أرذل" ـ [2]

او هم دغه د ابن أبی شیبه الفاظ هم دی:

خو په مصنف ابن أبی شیبه کښې د "ثم الآخرون أرذل" الفاظ نشته ـ [3]

شیخ عوامه د روایت ابن أبی شیبه لاندې فرمائی:

رواه ابن أبی عاصم فی "السنة" (۱۴۷۲)، عن المصنف، به. ورواه ابن حبان رقم (۷۲۲۹)، والطبرانی رقم (۵۸۵) من طریق المصنف به، ورواه أحمد ۴۲۶،۴، والترمذی والطبرانی فی الکبیر کلهم، بمثل إسناد المصنف ورواه

---

[1] فتح الباری: ۸،۷

[2] اوګورئ: المعجم الکبیر للطبرانی: ۲۸۵،۲

[3] اوګورئ: مصنف ابن أبی شیبه: ۳۰۳،۷

الترمذی رقم(۲۲۰۲، ۲۲۲۱)،وابن أبی عاصم فی"السنة(۱۴۷۱)من طریق محمد بن فضیل،عن الأعمش،عن علی بن مدرك عن هلال،ثم نبّه الترمذی إلی أن ذکر علی بن مدرك إنما هم فی روایة محمد بن فضیل فقط وأن غیر واحد من الحفاظ لم یذکروا هذه الواسطة،ثم ساق روایة وکیع عن الأعمش،عن هلال،کما هنا،ثم قال وهذا أصح عندی من حدیث محمد بن فضیل،وقد صرح الأعمش فی روایة وکیع بالسماع من هلال،فانتفت شبهة التّدلیس عنه،مع أنی قدمت برقم(۲۵۸۲۶)أن عنعنة لا تضر،انظر المصنف لابن أبی شیبة:۱۲،۳۰۳،بتحقیق محمد عوّامه،إدارة القرآن بکراتشی\

حافظ ابن حجر عسقلانی فرمائی:"رجاله ثقات،إلا أن جعدة مختلف فی صُحبته"دې حدیث نور رجال خو ثقه دی ولې د جعدة بن هبیرة په صحابیت کښې اختلاف دې،چې هغه صحابی دې یا نه.(۱)

یو بل روایت چې په هغې کښې د بعوث ذکر دې،او مسلم هغه په خپل صحیح کښې ذکر کړې دې.،د هغې الفاظ دادی:

"یأتی علی الناس زمان یُبعث منهم البعث فیقولون:انظروا هل تجدون فیکم أحداً من أصحاب النبی ﷺ؟فیوجد الرّجل فیُفتح لهم به،ثم یبعث البعث الثانی فیقولون:هل فیهم من رأی أصحاب النبی ﷺ؟فیُفتح لهم به،ثم یبعث البعث الثالث فیقال انظروا هل ترون فیهم من رأی من رأی أصحاب النبی ﷺ؟ثم یکون البعث الرابع فیقال انظروا هل ترون فیهم أحداً رأی من رأی أحداً رأی أصحاب النبی ﷺ فیوجد الرجل فیُفتح لهم به".(۲)

دلته په بعث رابع کښې د قرنِ رابع ذکر دې:ځکه چې"ترون فیهم أحداً رأی من رأی أحداً رأی أصحاب النبی...."کښې د اول"رأی"نه اتباع تابعین لیدونکی مراد دی.د دویم"رأی"نه تابعین موندونکی او د دریم"رأی"نه صحابهٔ کرام لیدونکی.....

حافظ ابن حجر ددې په حقله فرمائی:

"وهذه الروایة شاذة وأکثر الروایات مقتصر علی الثلاثة".

دا روایت شاذ دې او په اکثرو روایاتو کښې په دریؤ قرونو باندې اکتفاء کړې شوې ده.(۳)

قرون ثلاثه کله ختم شو؟:د آخری صحابی په حقله چې اووئیلې شو،چې هغه تقریباً بالاتفاق حضرت ابو الطفیل دې.د صحابهٔ کرامو ﷺ د زمانې ختمیدو په شان اختتام او انقراض د قرونِ ثلاثه هم ډیر اهمیت لری،په دې وجه أصحاب الحدیث د آخری صحابی په شان د آخری

---

(۱) اوګورئ فتح الباری:۷،۱۱۰

(۲) صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب فضل الصحابة ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم:رقم الحدیث:۶۴۱۵\

(۳) اوګورئ فتح الباری:۷،۱۸\

تبع تابعی ذکر هم فرمائیلي دي،د تبع تابعی شخصی نوم خو نۀ دي خودلي شوي،ولي د هغۀ د زماني تعین کړي شوي دي،چې په هغې باندې قرونِ ثلاثه او د اتباع تابعینو زمانه ختمه شوي ده۔

حافظ ابن حجر عسقلانی رحمۀ اللہ فرمائی،چې آخری اتباع تابعین به هغه شمیرلي شی،چې د ۲۲۰ هجري د حدودو پوري ژوندي پاتي شوي وی،او ددې نه ورسته د چا د تبع تابعیت دعوی به داسې ناقابل قبول وی،لکه څنګه چې سل کاله ورسته یعنی د ۱۱۰ هجري نه ورسته د صحابیت دعوی غلطه او د اوریدو وړ نۀ ده۔(۱)

د قرون ثلاثه نه ورسته به د فتنو باران وی: د الله تعالی رسول قرونِ ثلاثه د خیر زماني ګرځولي دی،او ددې نه ورسته ئې د شر د ښکاره کیدو پیشن ګوئی فرمائیلي ده،نو تاریخ او واقعات بیانوی،چې د ۲۲۰هجري نه ورسته د فتنو او بدعتونو یو لوئې طوفان راغلي دي،یو اړخ ته فتنه د اعتزال د خپل پوره سامانونو سره ښکاره شوه،معتزلو د اسلام په واضحه عقائدو او په مسلمانانو کښې د اتفاقی حیثیت د کامل احکامو په حقله خبرې شروع کړې،نو بل اړخ ته د خپل ځان نه د جوړې کړې شوې فلسفي مشرانو سر اوچت کړو،د یونان کورِوالی او ګمراهي اسلام د شکوکو او شبهاتو ژورو ټیرۀ کندو اړخ ته رابنکل شروع کړل،او قسم قسم آفتونو او امتحانونو سره علماء اسلام مخامخ شو،او اُمت په داسې چکر کښې پریوتو چې تر ننه پورې پکښې انختې راروان دي،په داسې حال کښې د "ثم یفشوا الکذب" داسې منظر اولیدلي شو،چې وړاندې کله هم نۀ وو لیدلي شوې،یعنی په اقوالو،کښې افعالو کښې،په اعتقاداتو کښې،معاملاتو کښې دروغ،افتراء غلط بیانی ښکاره باره شروع شوه۔(۲)

قرن څۀ ته وائی؟ د قرن تعریف کړې شوې دي:

"أهل زمانٍ واحدٍ متقاربٍ اشترکوا فی أمر من الأمور المقصودة".(۳)

د یوئې زماني خلق چې په یو خاص مقصودی امر کښې شرکت لری۔

بعضې حضرات وائی،چې دا هله وی چې هغه خلق د یو خاص نبی یا رئیس په زمانه کښې اومونډلي شی،چې ددې نبی یا رئیس د خاص دین،مذهب یا د خاص عمل په وجه هغوی اوپیژندلي شی،او هغه مذهب یا عمل په هغوی کښې قدر مشترك او د هغوی د پاره جامع وی،حافظ ابن حجر رحمۀ اللہ فرمائی:

"ویقال: إن ذلك مخصوص بما إذا اجتمعوا فی زمان نبی أو رئیس یجمعهم علی صلة أو مذهب أو عمل".(۴)

---

۱) اوګورئ:فتح الباری:۱۹.۷

۲) فتح الباری:۱٤.۹

۳) فتح الباری:۱٤.۹

٤) فتح الباری:۱٦.۹

همدغه شان د قرن اطلاق په "مدة من الزمان" باندې هم کیږی.[۱]
بعضې حضراتو ددې تحدید هم کړې دې،او په تاکلې شوې مودې باندې ئې ددې اطلاق کړې دې،په دې کښې د لسو کالو نه تر یو سل شل کالو پورې اقوال منقول دی.[۲]
د عبدالله بن بسر د روایت نه معلومیږی،چې قرن د سلو کالو زمانې ته وائی،همدغه مشهور هم دې،د څلویښتو کالو قول هم منقول دې.[۳]
بعضې حضراتو د اویاؤ کالو زمانه قرن ګرځولې دې،"قرن" د أقران نه دې،یا أقران د "قرن" نه دې،او تقریباً په هره زمانه کښې اوسط عمر اویا کاله وی،یعنی په دې عمر کښې أقران او د یو عمر خلق اکثر ختمیږی،په دې وجه هم د اویاؤ کالو زمانه قرن دې،ابن الأعرابی هم ددې تصریح کړې ده.[۴]
تر کومې پورې چې د قرن النبی تعلق دې،نو کۀ د بعثت نبوی نه ورسټو د هغې شمیر او اعتبار وی،نو بیا هغه تقریباً د یو سل شل کالو دې،او کۀ د هغې اعتبار د وفات النبی ﷺ نه ورسټو وی،نو بیا به سل کالو یا لس کم سل کالو یا درې کم سلو کالو ته قرن وئیلې شی،ځکه چې آخری صحابی یا د حضور ﷺ د زمانې آخری سړې حضرت ابوالطفیل دې،او د هغه په تاریخ د وفات کښې اختلاف دې،ولې د بعثت نه ورسټو د هغۀ تر وفاته پورې تقریباً یو سل شل کاله جوړیږی،او وفات النبی ﷺ نه تقریباً سل یا لس کم سل یا درې کم سل کاله جوړیږی،او پاتې شو قرن تابعین،نو کۀ د هغې اعتبار د سلو کالو یا د ۱۰۰ هجرې نه وی،نو بیا هغه اویا یا اتیا کاله جوړیږی،او د اتباع تابعینو د قرن کۀ د ۱۷۰ هجرې نه شمیر کیږی،نو بیا هغه پنځوس کاله جوړیږی،ځکه چې محدثینو د اتباع تابعینو د زمانې د ختمیدو وخت ۲۲۰ هجری ښودلې دې.
ددې نه دا هم معلومیږی،چې قرن د مختلف اهل زمانې په اعتبار سره بدلیږی،یعنی د بعضې قرن طویل وی او د بعضې مختصر.[۵]

په قرونِ ثلاثه کښې د افضلیت مسئله: په حدیث کښې د "ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم" د الفاظو نه معلومیږی،چې صحابه د تابعینو نه او تابعین د تبع تابعینو نه افضل دی،خو په دې خبره کښې د بحث کولو ځائې شته،چې آیا دا افضیلت من حیث المجموع دې،یا من حیث الافراد،یعنی آیا هر هر صحابی د هر هر تابعی نه او هر تابعی د هر تبع تابعی نه غوره او افضل دې،یا دا چې د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم مجموعی طبقې ته د تابعینو په طبقه باندې او د

---

[۱] فتح الباری:۶،۹
[۲] فتح الباری:۶،۹
[۳] فتح الباری:۶،۹
[۴] فتح الباری:۶،۹
[۵] فتح الباری:لابن حجر العسقلانی:۸،۹ج،۷،دارالسلام

تابعینو مجموعی طبقې ته په تبع تابعینو باندې من حیث الجماعت فضیلت حاصل دې،او په افرادو کښې دا ضروری نۀ دی،بلکه بعضې تابعین هم د بعضې صحابۀ کرامو رضی الله عنهم نه افضل کیدې شی۔

د جمهورو او د ابن عبد البر اختلاف: د جمهورو رائې داده،چې صحابه د تابعینو نه او تابعین د اتباع تابعینو نه من حیث الافراد هم افضل دی،لکه څنګه چې من حیث المجموع افضل دی،او ابن عبدالبر فرمائی،چې افضلیت من حیث المجموع دې،من حیث الافراد ضروری نۀ دې۔[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی زما پوهې ته چې کومه خبره راځی،هغه داده،چې کومو حضراتو د نبی کریم ﷺ سره یوځائې په جهاد او قتال کښې برخه اخستې ده،یا ئې د هغوی په زمانه کښې د هغوی ﷺ په حکم باندې جهاد اوکړو،یا ئې د هغوی ﷺ د پاره خپل مال خرچ کړو،په فضیلت او لوړې مرتبې کښې څوک هم د هغوی سره برابر نۀ شی کیدې،هغه چې څوک هم وی او په هر وخت کښې کۀ راشی،او چا ته چې دا فضیلت حاصل نۀ دې،د هغوی په افضلیت کښې د بحث ځائې کیدې شی۔

د اول الذکر جماعت(یعنی د نبی علیه السلام په ملګرتیا کښې جهاد کونکو)د افضلیت او د چا هم د هغوی د برابروالی ممکن نه کیدو دلیل دا ارشاد باری تعالی دې:

"لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ"۔[2]

چې دلته تصریح کړې شوې ده،چې چا د فتح مکې نه وړاندې انفاق کړې دې،او جهاد ئې کړې دې،هغه ورسره د انفاق او قتال کونکو نه په درجه کښې لوئې دې۔

او د ابن عبد البر رحمه الله استدلال ددې حدیث نه دې:

"مثل أُمتي مثل المطر لايدرى أوله خير أم آخره"[3]

"زما د امت مثال په شان د باران دې،چې د هغې په حقله دا معلومه نۀ ده چې ددې اول ډیر غوره او مفید دې یا ددې آخر"۔

طریقه د استدلال داده،چې په حدیث کښې د امت د اول د غوره او افضل کیدو یا د امت د آخر د غوره او افضل کیدو په حقله وئیلې شوې دی،چې دا خبره معلومه نۀ ده،په دې وجه کۀ د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم(چې د امت اول دې)د ورسره د راتلونکو نه د افضل کیدو دعوی اوکړې شی،نو ددې حدیث مخالفت به راشی،ځکه چې په حدیث کښې د افضل والی د نۀ معلومیدو ذکر دې،او مونږ د هغې د تعین او معلومولو دعوی کوؤ۔[4]

---

[1] التمهید:۲۰،۲۵۰،۲۵۳\

[2] سورة الحدید:۱۰

[3] التمهید:۲۰،۲۵٤،مؤسسة القرطبة\

[4] فتح الباری شرح صحیح البخاری:۷،۱۹

د علامه ابن عبدالبر د مستدل "مَثَل أمتی مثلَ المطر" په حقله حافظ ابن حجر فرمائی: "حدیث حسن له طرق قدیرتقی بها إلی الصحة".(۱)

دا د حسن درجې حدیث دې، او په بعضې سندونو باندې د صحیح درجې ته رسی، او علامه نووی رحمه الله په خپله فتاوی کښې په روایت د انس رضی الله عنه سره مسند أبی یعلی ته نسبت کړې دې.(۲) او فرمائیلې ئې دی چې ددې اسناد ضعیف دې.(۳)

او ترمذی هم د انس رضی الله عنه په روایت سره دا په ډیر قوی سند سره روایت کړې دې.(۴)

حافظ صاحب په دې وجه باندې د نووی په خبره باندې د تعجب اظهار کړې دې، او دا ئې غریب ګرځولې دې.(۵)

ابن حبان هم په خپل صحیح کښې په روایت د عمار ذکر کولو سره دا صحیح ګرځولې دې.(۶)

د علامه نووی توجیه: علامه نووی رحمه الله د صحیح کیدو په صورت کښې ددې دا توجیه کړې ده، چې دا روایت د هغه خلقو متعلق دې، چې د حضرت عیسی علیه السلام زمانه به مومی، او د هغې زمانې لوئې خیر و برکت به اوینی، هغوی چې کله د اسلام د اوچتوالی او د کفر د ښکته والی په خپلو سترګو مشاهده اوکړی، نو هغوی ته به دا اشتباه اوشی، چې آیا د عهد اول خلق افضل وؤ، چې د هغوی په لاسونو اسلام ته عزت او مرتبه ملاؤ شوه، او د اسلام دَ لوړ شان هغوی په غړیدلو ستوګو مشاهده کوله، یا اوس ددې عهد اخیر خلق ډیر افضل او خوش قسمته دی، چې د اسلام د دویم ځلی راژوندې کیدلو مظاهرَه په خپلو سترګو وینی.

علامه نووی فرمائی، چې د هغوی دا اشتباه خو د رسول الله ﷺ په دې ارشاد "خیر القرون قرنی" سره ختمیږی.(۷)

د ابن عبد البر دلائل: د ابن عبد البر د رائې په نورو ګڼ شمیر روایاتو سره هم تائید کیږی، مثلاً ابن أبی شیبه د عبدالرحمن بن جبیر بن نفیر تابعی نه په سند حسن سره روایت کوی، چې رسول الله ﷺ او فرمائیل:

"لیدرکنَّ المسیح أقواماً أنهم لمثلکم أو خیر-ثلثا-ولن یخزی الله أمة أنا أولها والمسیح آخرها".(۸)

"د حضرت میسح علیه السلام په زمانه کښې به څۀ خلق وی چې ستاسو په شان یا ستاسونه به غوره

---

۱) فتح الباری:۱۹،۷

۲) مسند أبی یعلی، حدیث:۳۷۱۷، دارالمامون، دمشق\

۳) فتح الباری:۱۹،۶

۴) اوګورئ جامع الترمذی، أبواب الامثال، باب مثل أمتی مثل المطر، حدیث:۱۲۸۶۹\

۵) فتح الباری:۱۹،۷

۶) صحیح ابن حبان، باب فضل الامة:۲۰۹،۱۶، مؤسسة الرسالة بیروت\

۷) فتح الباری:۱۹،۷

۸) المصنف لابن أبی شیبة:۱۰، حدیث:۱۲۹۶۹۰\

وی، هغوی ﷺ درې واړې دا جمله ارشاد اوفرمائیله، او بیا ئې اوفرمائیل چې الله تعالی به هغه امت هیڅ کله هم نۀ رسوا کوی، چې دهغې اول زۀ یم اودهغې آخر حضرت مسیح علیه السلام دې" ابوداؤد او ترمذی هم د ابو ثعلبه یو مرفوع روایت نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:

"تاتی أیام للعامل فیهن أجر خمسین".(۱)

یعنی: "یو وخت به راشی چې په هغې کښې عمل کونکی ته به د پنحوسو اجر ملاویږی".

د هغوی ﷺ نه پوښتنه اوکړې شوه، منهم أو منا یا رسول الله!؟ د هغه آخرې زمانې عمل کونکی ته به زمونږ (د صحابو) د پنځوسو برابر ثواب ملاویږی، یا پخپله په هغوی کښې د پنځوسو (کسانو) برابر؟

هغوی ﷺ اوفرمائیل "بل منکم" نه! بلکه ستاسو د پنځوسو برابر ثواب به هغوی ته ملاویږی

دا حدیث د هغه روایت "مثل أمتی مثل المطر" د پاره شاهد دې.

ابن عبد البر رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه د یو مرفوع روایت نه هم استدلال کړې دې، چې د هغې الفاظ دا دی:

"أفضل الخلائق إیماناً قوم فی أصلاب الرجال یؤمنون بی ولم یرونی".(۲)

په اعتبار دایمان سره په مخلوقاتو کښې د ټولو نه غوره خلق هغه دی، چې د سړو په ملاګانو کښې دی، هغوی زما د لیدو نه بغیر په ما ایمان راوړلې دې، یعنی اوس هغوی موجود نۀ دی، بلکه په راروانه زمانه کښې به د سړو د ملاګانو نه د ښځو خیټو ته د نطفې په شکل کښې منتقل کیږی، اوبیا هلته دپالنې نه ورستو به دهغوی ولادت کیږی، کله چې هغوی دنیا ته راشی، نو زۀ (د الله تعالی رسول) به موجود نۀ یم، نو بیا هم هغوی به په ما باندې بغیر د لیدو نه ایمان راوړی، او په مقام او مرتبه کښې به هغوی د ټولو مخلوقاتو نه غوره اوګرځی.

هنه! ددې روایت اسناد ضعیف ګرځولې شوې دې، چې ددې په وجه باندې دا د استدلال قابل نۀ دې.(۳)

یو بل روایت دې، چې هغه احمد، دارمی او طبرانی از حدیث أبی جمعه روایت کړې دې، هغه وائی چې ابوعبیده اووئیل:

"یا رسول الله! أحد خیر منا؟ أسلمنا معك، وجاهدنا معك".(۴)

---

۱) سنن الترمذی، المائدة، حدیث: ۳۰۵۸، دار إحیاء التراث العربی بیروت، وسنن ابن ماجه، حدیث: ۴۰۱۴، دار الفکر بیروت۱

۲) التمهید لابن عبدالبر: ۲۰، ۲۴۸، مؤسسة القرطبة۱

۳) فتح الباری: ۹، ۶۱

۴) سنن الدارمی، باب فی فضل آخر هذه الامة: ۸، ۴۶۵، حدیث: ۲۸۰۰، ومسند أحمد حدیث أبی جمعه، حدیث: ۱۷۳۳۹۱

"ائي د الله تعالى رسوله ! آيا زمونږ نه څوك غوره كيدې شى،مونږ تاسو سره اسلام قبول كړو،او ستاسو په ملګرتيا كښې مونږ جهاد اوكړو".

نو هغوى ﷺ اوفرمائيل: "قومريكونون من بعدكم يؤمنون بي ولم يروني". (۱)

"هاؤ!څۀ خلق به وى،چې ستاسو نه ورستو به راځى،هغوى به په ما ايمان راوړى،او هغوى به زۀ ليدلې نۀ يم".

ددې سند حسن دې او حاكم ددې تصحيح كړې ده.

ابن عبد البر د خپلې رائې په تائيد كښې دا دليل هم وړاندې كوى،چې د قرن اول د خيرالقرون كيدو سبب دادې،چې هغه د كفارو د كثرت په بناء باندې غرباء او ناآشنا وؤ،او د كفارو او مشركينو نه هغوى ته ډير سخت تكليفونه او مصيبتونه رسيدل،او ډير مشكل حالاتو كښې هغوى د خپل دين سره تعلق جوړ ساتلې وو،او همدغسې به د آخرې زمانې مسلمانان هم وى،چې هر اړخ ته به د فتنو او امتحانونو بازار ګرم وى،او په دين اسلام باندې به قائم پاتې كيدل مشكل هم وى،او د غربت او ناآشنا والى سبب به هم وى،بيا هم په دې باندې قائم پاتې كيدونكى ښكاره خبره ده،د عهد اول د مسلمانانو په شان افضل او غوره كيدل پكار دى،او غوره به وى هم. (۲)

ددې يو بل شاهد د حضرت ابوهريره رضی الله عنه هغه مرفوع روايت هم دې،چې هغه مسلم روايت كړې دې،د هغې الفاظ دادى:

"بدء الإسلام غريباً وسيعود غريباً كما بدء، فطوبى للغرباء". (۳)

اسلام د ناآشنا والى په حالت كښې شروع شوې دې،او په دويم ځلى به د ناآشنا والى اړخ ته واپس شى،نو د ناآشنا خلقو د پاره زيرې دې.

د ابن عبد البر د رائې جائزه: د ابن عبد البر ددې كلام مخ نيوې كړې شوې دې. (۴) او دا وئيلو سره هغه غلط ګرځولې شوې دې،چې ددې قول نه دا لازم راځى چې د صحابۀ كرامو رضی الله عنهم نه ورستو يو داسې كس راتلې شى،چې د بعضې صحابۀ كرامو نه افضل وى،او امام قرطبى هم ددې تصريح كړې ده. (۵)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله وائى،چې د ابن عبدالبر خبره على الاطلاق د ټولو صحابۀ كرامو په حقله نۀ ده،چې په ورستنې زمانه كښې د هر صحابى نه افضل سړې راتلې شى،ځكه چې د

---

۱) سنن الدارمى،باب فى فضل آخر هذه الأمة:۴۶۵،حديث:۲۸۰۰،ومسند أحمد حديث أبى جمعة،حديث:۱۷۴۳۹

۲) التمهيد:۲۰،۲۴۸،۲۵۴

۳) اوګورئ:صحيح مسلم،كتاب الإيمان،باب بيان أن الإسلام بدء غريباً وسيعود غريباً،حديث۲۳۲،۳۷۲

۴) التمهيد:۲۰،۲۴۸،۲۵۴

۵) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم،فضائل الأنصار،ومن باب قوله ﷺ "أنا أمنة لأصحابى":۲۱،۴۲

اهل بدرو پخپله هغه استثناء کړې ده،او د اهل حدیبیې ئې هم استثناء کړې ده.[۱]
هآؤ!دومره خبره خامخا ده،چې د جمهورو له مخې د صحابیت د فضیلت هیڅ بدله نشی کیدې،په دې وجه په ورستنو زمانو کښې چې څومره هم افضل کس راشی،هغه د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم نه افضل څهٔ چې د هغوی برابر هم نهٔ شی کیدې،او صرف یو د صحبت شرف د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم یو داسې ځانګړې خصوصیت دې،چې ددې په وجه هغوی د ټولو غیر صحابؤ نه افضل دی،او پاتې شو د ابن عبدالبر اهل بدر او اهل حدیبیه د تفاضل د قضیې نه مستثنی کول،یا بیا چا ته چې د اسلام او مسلمانانو د کمزورې په وخت کښې د رسول الله ﷺ د دفاع موقع ملاؤ شوه،یا په هجرت او نصرت کښې چا ته اولیت حاصل شو،د شریعت ضبط وتحمل او د تبلیغ چې چا سعادت حاصل کړو،یقیناً د هغوی هم بیا څوک مقابل او برابر نشته،ځکه چې د هغوی په صفتونو او خصلتونو کښې به وړاندینې ته د ورستنی اجر هم ملاویږی،او خپل خو به ورته هم ملاویږی،ولې دا افضل والې خو په صحابؤ کښې په خپل مینځ کښې هم کیدې شی،او په دې باندې خو د ټولو اتفاق هم دې،لکه څنګه چې د"لایستوی منکم من أنفق من قبل الفتح وقاتل" تقاضا ده،او د شرف صحبت د برابر والی ممکن نهٔ کیدل دویمه خبره او ددې نه علاوه ده،چې په هغې کښې ابن عبدالبر د جمهورو په مقابله کښې خپل تفرد لری.
د اختلاف ثمره: ددې اختلاف ثمره به د هغه سړی په حقله ظاهریږی،چا ته چې صرف د الله تعالی درسول ﷺ ملاقات حاصل شوې وی،او دا نورمناقب او فضائل هغهٔ ته حاصل نهٔ شو. نبکاره خبره داده،دا سړې به د جمهورو له مخې د ورستو راتلونکو ټولو بزرګانو علماؤ صلحاؤ نه د صحبت د شرف د وجهې افضل وی،او د ابن عبدالبر له مخې په ورستنو علماؤ صلحاؤ کښې ددې سړی نه افضل خلق کیدې شی.
بعضې حضراتو د تطبیق لار خپله کړې ده،او وې فرمائیل،چې د صحبت په شرف کښې خو ددهٔ څوک هم برابر نشی کیدې،او دا امتیاز او پورته والې به دهٔ ته حاصل وی،ولې په نورو مناقبو کښې ددهٔ نه افضل هم کیدې شی،بیا هم دا صحیح ده چې د صحبت په شرف کښې خو برابری ممکن نهٔ ده.
هآؤ!دا وئیلې کیدې شی،چې د څو فضیلتونو شرف په نورو اعمالو سره هم حاصلیدې شی،لکه د شهادت د فضیلت اجر، د حج دفضیلت اجر،د جهاد د فضیلت اجر وغیره،او د صحابیت شرف په هیڅ یو عمل سره نشی حاصلیدې، ورستنو زمانو کښې هیڅ څیز ددې متبادل پاتې نهٔ شو،حافظ صاحب فرمائی:

"ومحصل النزاع یتمحض فی من لم یحصل له إلا مجرد المشاهدة کما تقدم".[۲]

د جمهورو له اړخ نه د ابن عبد البر د دلائلو جوابونه: پاتې شو د ابن عبدالبر د مختلفو احادیثو

---

[۱]) فتح الباری:۱۷،۹۹
[۲]) فتح الباری:۱۸،۹

نه استدلال لکه "للعامل منهم أجر خمسین منکم" وغیره.....نو د هغې جواب دادې، چې د اجر په کثرت سره کثرت د فضیلت خو نۀ ثابتیږی، او کۀ ثابت هم شی نو زیات نه زیات په دې عمل کښې به افضلیت ثابت شی، او په یو خاص عمل کښې افضلیت، د افضلیت مطلقه مستلزم نۀ دې، خصوصاً د صحبت شرف خو یو داسې څیز دې، چې د هغې مثل او بدَل نشته، په دې وجه ددې فضیلت په موجودګي کښې کۀ چا ته څومره هم اجرونه او فضیلتونه حاصل وی، هغه ددې شرف (صحبت موندلو) نه افضل نۀ شی کیدې.

پاتې شو روایت د أبی جمعه نو د هغې په الفاظو باندې د راویانو اتفاق نشته، په بعضې روایاتو کښې په دې کښې د خیریت ذکر دې، څنګه چې پورته تیر شوې دی، او په بعضې کښې دا الفاظ دی:

"قلنا یا رسول الله! هل من قوم أعظم منا أجرا"

مونږ اووئیل: ائې د الله تعالی رسوله! آیا زمونږ نه په اجر کښې لوئې خلق هم شته؟ او دا ثانی الذکر روایت د اول روایت نه ډیر قوی السند دې، نو په دې سره هم د غیر صحابی په صحابی باندې افضلیت مطلقه نۀ ثابتیږی، زیات نه زیات په اجر کښې زیاتیدل ثابتیږی.[1]

په خیر او شر دواړو کښې د غالب او اکثر اعتبار دې: په یو روایت کښې د "ثم یفشو الکذب" د الفاظو نه معلومیږی، قرون ثلاثه چې خیرالقرون اوګرځولې شو، او ددې نه ورسته د داسې خلقو د راتلو پیښې ګوئی اوکړې شوه، چې بغیر د مطالبې نه به ګواهی کوی، خیانت به ګوی وغیره وغیره، ددې دا مطلب نۀ دې، چې په قرون ثلاثه خصوصاً د تابعینو او د تبع تابعینو په زمانه کښې به دا خرابې بالکل نۀ وی، بلکه مراد دادې، چې په دې درې واړو زمانو کښې به خیر غالب وی، اکثریت به د ښو خلقو وی، او د صحابۀ کرامو ﷺ د زمانې نه ورسته په دوۀ زمانو کښې به کم خلق داسې وی چې په دې خامو به ګنده شوې وی، او د صحابۀ کرامو ﷺ په زمانه کښې ددې خرابو صفتونو خاوندان خلق به بالکل نۀ وی، او د قرونِ ثلاثه نه په ورسته زمانو کښې به داسې خلق ډیر وی.

د "یفشو" معنی ده، چې د دروغو او خیانت وغیره رواج به عام (او خور) وی.[2]

دویم روایت: [۳۴۵۰] [3] حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا النَّضْرُ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ سَمِعْتُ زَهْدَمَ بْنَ مُضَرِّبٍ سَمِعْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عنهما - يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ». قَالَ عِمْرَانُ فَلاَ أَدْرِي أَذَكَرَ بَعْدَ قَرْنِهِ قَرْنَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا «ثُمَّ إِنَّ بَعْدَكُمْ قَوْمًا يَشْهَدُونَ وَلاَ يُسْتَشْهَدُونَ، وَيَخُونُونَ

---

[1] فتح الباری شرح صحیح البخاری لابن حجر العسقلانی: ۷، ۱۰، دار السلام

[2] فتح الباری: ۷، ۱۱۰

[3] الحدیث مرّ تخریجه فی کتاب الشهادات، باب "لا یشهد علی شهادة جور إذا أشهد"، رقم: ۲۶۵۱.....

وَلَا يُؤْتَمَنُونَ، وَيَنْذُرُونَ وَلَا يَفُونَ، وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ [ر: ٢٥٠٨]

رجال الحديث

اسحاق: دا د فقهي او حديثو معروف امام اسحاق بن راهويه دي، ددۀ احوال په "كتاب العلم، باب فضل من علِم وعلَّم" لاندې تير شوى دى۔[1]

ابن السكن او ابو نعيم وائى چې د اسحاق نه اسحاق بن راهويه مراد دي،[2] او كرمانى فرمائى چې دا خو يا اسحاق بن إبراهيم دي، او يا اسحاق بن منصور۔[3]

النَّضْرُ: دا نضر بن شميل دي، ددۀ احوال په كتاب الوضوء، "باب من لم يرى الوضوء، الا من المخرجين....." كښې تير شوى دى۔

شُعْبَةُ: دا امير المؤمنين فى الحديث شعبة بن الحجاج دي، ددۀ احوال په "كتاب الإيمان" كښې تير شوى دى۔[4]

أَبِي جَمْرَةَ: دا ابو جمرة نضر بن عمران الضُبعى البصرى دي، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، "باب فضل من استبرأ لدينه" كښې تير شوي دى۔[5]

زَهْدَمَ بْنَ مَضْرَبٍ: دا زهدم بن مضرب الجَرمى دي، ددۀ احوال د كتاب الشهادات، "باب: لا يشهد على شهادة جور....." لاندې تير شوي دى۔

عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ: دا د رسول الله ﷺ صحابى حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه دي، ددۀ احوال د كتاب التيمم، "باب: الصعيد الطيب وضوء المسلم....." لاندې تير شوي دي.

دريم روايت [٣٤٥١][6] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنه - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ». قَالَ إِبْرَاهِيمُ وَكَانُوا يَضْرِبُونَا عَلَى الشَّهَادَةِ وَالْعَهْدِ وَنَحْنُ صِغَارٌ [ر: ٢٥٠٩]

---

[1] كشف البارى: ٣، ١٤٢٨

[2] عمدة القارى: ١٦، ٢٣٦، وفتح البارى: ٩، ١٦

[3] شرح الكرمانى: ١٤، ١١٩٩

[4] كشف البارى: ١، ١٢٧٨

[5] كشف البارى: ٢، ١٧٠١

[6] الحديث سبق تخريجه فى كتاب الشهادات، باب لا يشهد على شهادة جور إذا أشهد، رقم: ٢٦٥٢.....

رجال الحديث

مَحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ:دا محمد بن كثير عبدى بصرى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،"باب الغضب فى الموعظة والتعليم" لاندې تير شوې دى۔[1]

سُفْيَانُ:دا سفيان بن عيينه دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،"باب قول المحدّث حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا"لاندې تير شوې دى۔[2]

مَنْصُوْرٌ:دا منصور بن المعتمر دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،"باب من جعل لاهل العلم أياما معلومة"لاندې تير شوې دى۔[3]

ابراهيم:دا د كوفى مشهور تابعى إبراهيم النخعى دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،"باب ظلم دون ظلم"لاندې تير شوې دى۔[4]

عُبَيْدَةَ:دا عبيدة بن عمرو السلمانى الأعور دي،ددۀ احوال د"كتاب الوضوء،باب الماء الذى يغسل به شعرالإنسان"لاندې تير شوې دى۔

عَبْدُ اللهِ:دا عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ دي،د رسول الله ﷺ مشهور صحابى دي۔

دا دوارَه روايتونه په كتاب الشهادات كښې تير شوې دى۔

او هم هغه ددې د تشريح مقام دي۔

د حديثونو د ترجمة الباب سره مطابقت واضح دي۔[5]

۲:-باب:مَنَاقِبِ الْمُهَاجِرِيْنَ وَفَضْلِهِمْ

مِنْهُمْ أَبُوبَكْرٍ عَبْدُاللّٰهِ بْنُ أَبِى قُحَافَةَ التَّيْمِى -رضى الله عنه-

مهاجرين او انصار څوک دى؟:د ابوذر رضی اللہ عنہ په روايت كښې لفظ د"باب"نشته،ځكه د هغې د مخې به"مناقب"مرفوع وى،او په نورو نسخو كښې د"باب"لفظ راغلې دي،چې د هغې په وجه به مناقب مجرور وى،او لفظ د"فضلهم"د باب نه موجود كيدو په صورت كښې مرفوع (يعنى په مناقب)باندې به عطف وى،او د"باب"موجود كيدو په صورت كښې به په مجرور باندې عطف وى۔[6]

---

[1] كشف البارى:۳،۵۳۶\

[2] كشف البارى:۳،۱۱۰۲\

[3] كشف البارى:۳،۱۲۷۰\

[4] كشف البارى:۲،۱۲۵۳\

[5] عمدة القارى:۱۶،۱۲۳۸\

[6] إرشاد السارى:۸،۱۱۴۲\

"مناقب دمنقبة" جمع ده، چې د مثلثة د جمعې د مثالب ضد دې۔[1]
د مهاجرینو نه مراد هغه حضرات دی، چې هغوی د مکې معظمې نه د الله تعالی په حکم باندې د الله تعالی د رضا د پاره هجرت فرمائیلې دي، دویم قول دادې چې کوم انصار نۀ دی هغوی مهاجرین دی، همدغه شان کوموخلقو چې د فتح مکې په موقع باندې اسلام قبول کړو، هغوی هم په مهاجرینو کښې شامل دی۔ او د انصارو نه مراد أوس او خزرج او د هغوی حلفاء (یعنی حلیفان) دی، او همدغه شان د هغوی موالی (غلامان)۔[2]

د سیدنا ابو بکر رضی الله عنه نوم نسب او مقام او مرتبه:

قوله: منهم أبو بكر عبدالله بن أبي قحافة: د ابوبکر رضی الله عنه تعلق د مهاجرینو سره دې، بلکه هغه د هغوی سردار او په هغوی کښې د ټولو نه افضل دې، ابوبکر د هغوی کنیت دې، او امام بخاری د هغه نوم په یقین سره عبدالله اوخودلو، دغه مشهور قول دې، او دویم قول دادې، چې د اسلام نه وړاندې د دۀ نوم عبدالکعبه وو، او دۀ ته به عتیق هم وئیلې کیدو، د دۀ د والدې دا قول منقول دې، "یا رب عبدالکعبه: استمع یا ربّه: فهو بصخر أشبه"[3]
اې د عبدالکعبه ربه! هغه په وسیلې سره واؤرې اې ربه! چې هغه د صخر سره د ټولو نه زیات مشابهت لري۔
صخر د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د مور د پلار یعنی د دۀ د نیکۀ نوم دې، د هغۀ (د مور) نوم او سلسلۀ نسب داسې دې: سلمی بنت صخر بن مالك بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب بن لؤی بن غالب او د هغې کنیت "أم الخير" دې۔[4]

د هغۀ د پلار نوم عثمان بن عامر بن عمرو بن كعب إلى آخره..... دې، دواړه په مره بن کعب کښې د رسول الله ﷺ سره ملاویږی، د هغۀ مور او پلار اسلام قبول کړې وو، او دا د دۀ (یعنی د ابوبکر) د خصوصیاتو او ځانګړې شان نه دی، چې هغوی د مور پلار او ټولو بچو سره اسلام قبول کړې وو، او په هغوی کښې څوک هم غیر مسلم نۀ دې پاتې شوې، د عبدالکعبه نوم په شان د هغې د مور نه د دۀ په عتیق نوم سره مسمّی کول هم منقول دی، د روایاتو مطابق هغې به دې اوچتولو او دا به ئې وئیل:

"عتيق، عتيق: ذو المنظر الأنيق: رشفت منه ريق: كالزرنب العتيق."[5]

---

[1] إرشاد الساری: ۱۱۴۲،۸
[2] فتح الباری: ۱۲،۷، عمدة القاری: ۲۳۸،۱۶، إرشاد الساری: ۱۱۴۲،۸
[3] عمدة القاری: ۱۲۳۸،۱۶
[4] كتاب السنة لابن أبی عاصم، ص: ۱۳
[5] د رَشَفَ الماءَ ونحوَه معنی ده، اوبۀ وغیره د شوندو نه رابسکل، چسکې اخستل، ضرب المثل دې، الجرع أروى والرشف أنفع په ګوټ کولو سره سړې مړیږی او چسکې ... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

عتیق څهٔ عتیق دي،ډیر ښکلي ،هغه چې د هغې لارې چسکهٔ کړې شوې،لکه څنګه چې زعفران زارهٔ شی۔[۱]

په"عتیق"نوم سره د نومیدلو وجه: د ابوطلحه نه پوښتنه اوکړې شوه چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په عتیق نوم سره د نومیدلو وجه څهٔ ده،نو هغهٔ اوفرمائیل چې په اصل کښې د دهٔ د مور بچی به نهٔ پائیدل،کله چې د هغې دا بچی(ابوبکر)پیدا شو،نو هغوی دې د بیت الله مخې ته راوستلو او وې وئیل:

"اللهم إن هذا عتيقك من الموت فهبه لي."

ائې الله!دا د مرګ نه آزاد کړې شوې ستا بنده دې،نو دې ما ته راکړې،(او زما نه ئې مهٔ اخلې)نو داسې د دهٔ نوم عتیق اوګرځیدو ،[۲] یو بل قول دادې،چې:

"سمي بالعتيق لأنه عتيق من النار."

د دهٔ عتیق نوم ځکه اوګرځیدو چې هغه"عتیق من النار"دې،یعنی د جهنم نه آزادی او خلاصې موندونکې دې،او ددې زیرې رسول الله ﷺ ورکړو ،څنګه چې په حدیث د عائشې رضی الله عنها کښې دی۔[۳]

په"عتیق"نوم سرد د نومیدلو وجه دا هم بیان کړې شوې ده،چې عتیق هغه کس ته وئیلې شی،چې د هغهٔ په نسب کښې څهٔ داسې خبره نهٔ وی چې د هغې په وجه هغه عیبژن (معیب) اوګنړلې شی،نو د عتیق په نوم سره دې نومولې شوې دې،ځکه چې دې په دې معیار باندې پوره دې،یعنی ډیر عالی نسب ئې دې،همدغه شان عتیق د قدیم او سابق په معنی باندې هم استعمالیږی،او هغه خو قدیم الإسلام دې،او د ټولو نه وړاندې اسلام قبلونکې دې،او سابق الخیر دې،په دې وجه هم دهٔ ته عتیق وئیلې شوې دې،همدغه شان د عتیق معنی ده حسین،نو هغه د خپل حسن به وجه هم ددې لقب مستحق ګرځیدلې دې۔[۴]

"صدیق"لقب او ددې وجه: د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه لقب"صدیق"وو ،هغه په دې لقب سره په دې وجه ملقب شوې وو ،چې هغهٔ د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت تصدیق د ټولو نه وړاندې کړې وو ،او په هره هغه موقع باندې ئې کړې وو ،کله چې هغوی ﷺ ته ددې ضرورت راغې،د معراج په شپه هغوی ﷺ باندې د پورتنی عالم سیر اوکړې شو ،او هغوی چې کوم عجائب او غرائب اولیدل هغه په ظاهره د یقین ور نه وؤ،او همدغه وجه وه،چې د مکې

بقیه حاشیه د تیرمخ] اخستلو سره صرف لوند والې حاصلیږی،د"ریق رَشُوف معنی ده خوشبوداري لرې۔ (القاموس الوحید، مادة: رشف،ص:۶۲۸)\

[۱] عمدة القاری:۱۱۶،۲۳۸،۲۳۹\

[۲] عمدة القاری:۱۶،۲۳۹،وإرشاد الساری:۸،۱۱۴۲\

[۳] جامع الترمذی،کتاب المناقب،باب تسمیته عتیقاً،رقم الحدیث:۳۶۷۹\

[۴] إرشاد الساری:۸،۱۱۴۲\

ظاهر لیدونکو په دې وجه رسول الله ﷺ ته پیغورونه ورکول او خندا ئې ورپورې کوله،او په منډه منډه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته راغلل،او وې وئیل،اووایه ! آیا اوس به هم ته د خپل ملګری تصدیق کوې؟ لکه چې هغوی ته یقین وؤ چې کۀ وی او کۀ نۀ وی،اوس خو به ابوبکر د محمد (ﷺ)نه د بیزارۍ اعلان خامخا اوکړی،ولې صدیق واقعی صدیق وو،هغه اوفرمائیل،کۀ محمد دا هر څۀ فرمائیلی وی،نو بیا یقیناً دا صحیح دی،زۀ د رسول الله ﷺ تائید او تصدیق کوم۔

د ابن سعد په روایت کښې دا الفاظ راغلی دی،چې هغوی ﷺ جبرائیل ته اووئیل،

"إن قومی لایصدقونی".

زما قوم به زما تصدیق اونۀ کړی،او ما به دروغژن ګڼړی،جبرائیل اووئیل،

"یصدقك أبوبکر وهو الصدیق".

ستا تصدیق به ابوبکر کوی او هغه ریښتونې دې۔[1]طبرانی د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت کړې دې، "إنه کان یحلف أن الله أنزل اسم أبی بکر من السماء، الصدیق".[2]

یعنی هغه په الله تعالی قسم کولو سره فرمائی چې د ابوبکر نوم الله تعالی د آسمانونو نه "صدیق" نازل کړې دې۔

ددې نه علاوه هم د هغۀ ډیر القاب مذکور دی،لکه "أوّاه"،"ذوالخلال"،"أمیر الشاکرین"،"خلیفة رسول الله" وغیره۔[3]

د رسول الله ﷺ بلا فصل خلیفه: حضرت ابوبکر رضی الله عنه،د الله تعالی د رسول خلیفه وو،بلا فصل،دوه نیم کاله پورې یا دوه کاله او لس ورځې کم څلور میاشتې،یا پنځه ورځې کم درې میاشتې،یا درې میاشتې اوؤه ورځې،یا درې میاشتې دولس ورځې،یا درې میاشتې شل ورځې،د دوؤ کالو نه ورسترو د میاشتو او ورځو متعلق اقوال مختلف دی،په هر حال کښې د هغۀ عمر چې د رسول الله ﷺ عمر ته اورسیدو،نو وفات شو،او دغه شان د هغۀ خلافت ختم شو۔[4]

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى (لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ) وَقَالَ (إِلاَّ تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ) إِلَى قَوْلِهِ (إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا). قَالَتْ عَائِشَةُ وَأَبُو سَعِيدٍ وَابْنُ عَبَّاسٍ - رضی الله عنهم - وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ مَعَ النَّبِيِّ - صلی الله علیه وسلم - فِي الْغَارِ.

---

[1]) عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۹

[2]) المعجم الکبیر للطبرانی:۱،۱۵۵

[3]) عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۹

[4]) عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۹

قولِ الله ..... په ما قبل باندې د عطف په بناء مجرور دې، یعنی "مناقب المهاجرین" چې د لفظ باب د پاره د مضاف الیه کیدو په وجه مجرور دې، دا (قول الله) په هغې باندې عطف کیږی، او په دې وجه دا هم مجرور دې، او د ابوذر د قول مطابق "مناقب المهاجرین" د مبتداء مقدرې "هذه" د پاره د خبر کیدو په وجه مرفوع دې، او د قول الله په دې مرفوع باندې عطف کیږی، نو دا هم مرفوع دې.[۱]

د الله تعالی رسول فقیر نهٔ وو: لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ..... زمخشری فرمائی، دا په وړاندینی آیت کښې د "لذی القربیٰ" او د هغې د معطوفاتو نه بدل دې، او د "فللّٰه وللرسوله" سره ددې څۀ علاقه د بدلیت نشته، ځکه چې د الله تعالی رسول فقیر نهٔ وو، او هغوی ﷺ ته د فقر نسبت کول د هغوی توهین دې.[۲]

نو هغوی ﷺ په فقراء مهاجرینو کښې داخل نهٔ دې، اګر چې مهاجر هغوی ﷺ هم وو، بلکه هم هغوی اصلی او حقیقی مهاجر وؤ، او نورو د هغوی په اتباع کښې او د هغوی په حکم سره هجرت اوکړو.

ولې هغوی ﷺ فقیر نهٔ وؤ، ځکه چې فقر فی الجمله مذموم دې، ځکه خو د الله تعالی ارشاد دې: "اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ".[۳]

شیطان تاسو سره د فقر وعده کوی، دا د فقر د مذموم کیدو دلیل دې.

د فقر او غنی قسمونه: علامه قسطلانی فرمائی، فقر څلور څیزونه دی:

①:- په آخرت کښې د "حسنات" یعنی د نیکو فقر او د هغې نه خالی کیدل.

②:- فقر قناعت په دنیا کښې.

③:- د مالداري او د کتې فقر یعنی د مال نشتوالې او د هغې نه محرومی.

④:- د قناعت او مال دواړو نه محرومی.

همدغه شان بیا د غنی هم دغه قسمونه دی. اوس کوم سړی سره چې نهٔ خو مال شته، او نهٔ هغهٔ ته د قناعت دولت ورکړې شوې دې، نو هغه خو فقیر مطلق دې، چې مذموم دې، او چا ته چې مال خو حاصل دې خو قناعت نشته، هغه مجازاً غنی او مالدار دې، ولې په حقیقت کښې هغه فقیر دې، او چا ته چې مال خو حاصل نهٔ دې، ولې د قناعت بادشاه دې، هغه ته فقیر هم وئیلې کیدې شی او غنی هم، فقیر خو د مال نه د محرومې په سبب او غنی په دې وجه چې "الغنیٰ غنی النفس".[۴]

---

[۱] عمدة القاری:۱۶،۲۳۹\

[۲] عمدة القاری:۱۶،۲۳۹، وإرشاد الساری:۸،۱۴۲، وتفسیر کشاف:۴،۵۰۳، دارالکتاب العربی بیروت\

[۳] سورة البقرة:۲۷۸\

[۴] إرشاد الساری:۸،۱۴۲\

دې ایت مبارکۀ سره د انصارو او مهاجرینو فضیلت ثابتیږی: اول آیت "اَلَّذِینَ اُخْرِجُوا مِنْ دِیَارِهِمْ..." [۱] دې د پاره راوړلې شوې دې، چې په دې سره د مهاجرینو فضیلت ثابتیږی، ځکه چې هغوی د کورونو نه اوباسلې شو او د مالونه نه محروم کړې شو، هغوی هجرت کولو سره د مال او وطن پرینبودو قربانی ورکړه، او د الله تعالی د دین او د رسول الله ﷺ د شریعت مدد او نصرت ئې اوکړو، او د دغې ښائسته صفتونو په وجه الله تعالی د هغوی په حق کښې ګواهی ورکړه: چې دوی ریښتونی دی، یعنی په خپل ایمان کښې ریښتونی دی.

په دویم آیت یعنی "اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ....." [۲] کښې د انصارو د فضیلت بیان دې، په دې وجه کله چې د مکې کفارو د نبی کریم ﷺ مدد اونۀ کړو، او هغوی ئې د مکې نه اوباسل، نو الله تعالی د انصار مدینه په صورت کښې د هغوی نصرت او مدد فرمائیلې وو، د انصارو نوم هم د هغوی په دې خاص صفت باندې شاهد عدل دې، چې هغوی د الله تعالی د رسول او د الله تعالی د دین مدد او نصرت اوکړو، بیا په دې آیت کښې چې په خاصه توګه د کوم سړی د فضیلت بیان دې، بلکه د چا په مدح تعریف او توصیف کښې چې دا آیت نازل شوې دې، هغه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دې.

د ثانی اثنین، (یو په دوؤ کښې) مصداق هم هغه دې، د دۀ د صحابیت هم دلته تصریح ده، او د منصوص کیدو په وجه باندې د هغۀ د صحبت نه انکار کفر هم دې، او د نورو صحابۀ د صحابیت دا حکم نۀ دې.

په یو روایت کښې راغلې دی، کله چې جبرائیل امین رسول الله ﷺ ته د وتلو حکم اوکړو، نو هغوی ﷺ د هغۀ نه پوښتنه اوکړه "من یخرج معی؟" ما سره به څوک اوځی؟ جبرائیل اووئیل: ابوبکر! [۳]

په ابوبکر باندې د سکینې نازلیدو قول: په آیت مبارکۀ کښې "فانزل الله سکینته علیه" [۴] هم د یو قول مطابق په ابوبکر باندې سکینه نازلیدل مراد دی، اګر چې د مشهور قول مطابق ددې مصداق رسول الله ﷺ دې، او په ابوبکر باندې د سکینې نازلیدو په قول سره د رسول الله ﷺ تنقیص هم معاذ الله لازم نۀ راځی، ځکه چې په هغوی ﷺ خو به همیشه سکینه وه، ولې د هغوی ﷺ په وسیلې سره په دې موقعه باندې د هغوی په ملګری باندې هم نازله شوه. [۵]

قوله: قَالَتْ عَائِشَةُ، وَأَبُوسَعِيدٍ: د حضرت عائشې رضی الله عنها دا قول موصولاً په "باب هجرة

---

[۱] سورة الحشر: ۸

[۲] سورة التوبة: ۴۰

[۳] عمدة القاری: ۱۶، ۲۴۰

[۴] سورة التوبة: ۴۰

[۵] عمدة القاری: ۱۶، ۲۴۰

النبی ﷺ وأصحابه إلى المدينة" کښې د طویل حدیث په صورت کښې منقول دي، چې په هغې کښې دا الفاظ راغلي دی "ثم لحق رسول الله ﷺ وأبوبكر بغار في جبل ثور".(۱) بیا رسول الله ﷺ او ابوبکر په جبل ثور کښې یو غار ته لاړل۔

او د ابوسعید قول ابن حبان د ابو عوانه په طریقې سره روایت کړې دي، چې د هغې الفاظ دادي: "فقال له رسول الله أنت أخي وصاحبي في الغار".(۲)

رسول الله ﷺ او فرمائیل ته زما ورور او د غار ملګرې ئې۔

او د ابن عباس قول احمد او حاکم د عمرو بن میمون په طریقې سره نقل کړې دي، چې د هغې الفاظ دادی: "كان المشركين يرمون علياً وهم يظنون أنه النبي ﷺ".(۳)

مشرکینو حضرت علی رضی الله عنه ننبسه جوړه کړې وه او خیال ئې دا وو، چې دا نبی علیه السلام دي۔

او وړاندې په هغې کښې دا الفاظ دی: "فانطلق أبوبكر فدخل معه الغار".(۴)

[۳۴۵۲](۵) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ اشْتَرَى أَبُو بَكْرٍ - رضى الله عنه - مِنْ عَازِبٍ رَحْلاً بِثَلاَثَةَ عَشَرَ دِرْهَمًا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعَازِبٍ مُرِ الْبَرَاءَ فَلْيَحْمِلْ إِلَى رَحْلِي . فَقَالَ عَازِبٌ لاَ حَتَّى تُحَدِّثَنَا كَيْفَ صَنَعْتَ أَنْتَ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حِينَ خَرَجْتُمَا مِنْ مَكَّةَ وَالْمُشْرِكُونَ يَطْلُبُونَكُمْ قَالَ ارْتَحَلْنَا مِنْ مَكَّةَ، فَأَحْيَيْنَا أَوْ سَرَيْنَا لَيْلَتَنَا وَيَوْمَنَا حَتَّى أَظْهَرْنَا وَقَامَ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ، فَرَمَيْتُ بِبَصَرِي هَلْ أَرَى مِنْ ظِلٍّ فَآوِي إِلَيْهِ، فَإِذَا صَخْرَةٌ أَتَيْتُهَا فَنَظَرْتُ بَقِيَّةَ ظِلٍّ لَهَا فَسَوَّيْتُهُ، ثُمَّ فَرَشْتُ لِلنَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فِيهِ، ثُمَّ قُلْتُ لَهُ اضْطَجِعْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ . فَاضْطَجَعَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ انْطَلَقْتُ أَنْظُرُ مَا حَوْلِي، هَلْ أَرَى مِنَ الطَّلَبِ أَحَدًا فَإِذَا أَنَا بِرَاعِي غَنَمٍ يَسُوقُ غَنَمَهُ إِلَى الصَّخْرَةِ يُرِيدُ مِنْهَا الَّذِي أَرَدْنَا، فَسَأَلْتُهُ فَقُلْتُ لَهُ لِمَنْ أَنْتَ يَا غُلاَمُ قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ سَمَّاهُ فَعَرَفْتُهُ. فَقُلْتُ هَلْ فِي غَنَمِكَ مِنْ لَبَنٍ قَالَ نَعَمْ. قُلْتُ فَهَلْ أَنْتَ حَالِبٌ لَبَنًا قَالَ نَعَمْ. فَأَمَرْتُهُ فَاعْتَقَلَ شَاةً مِنْ غَنَمِهِ، ثُمَّ أَمَرْتُهُ أَنْ يَنْفُضَ ضَرْعَهَا مِنَ الْغُبَارِ، ثُمَّ أَمَرْتُهُ أَنْ يَنْفُضَ كَفَّيْهِ ،فَقَالَ هَكَذَا ضَرَبَ إِحْدَى كَفَّيْهِ بِالأُخْرَى فَحَلَبَ لِي كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ، وَقَدْ جَعَلْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِدَاوَةً عَلَى فَمِهَا خِرْقَةٌ، فَصَبَبْتُ عَلَى اللَّبَنِ حَتَّى بَرَدَ أَسْفَلُهُ، فَانْطَلَقْتُ

---

(۱) اوګورئ صحیح البخاری، کتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبی وأصحابه إلى المدينة، رقم الحديث: ۳۹۰۵

(۲) صحیح ابن حبان، باب أخباره ﷺ: ۱۵،۱۶، مؤسسة الرسالة، بیروت ۱

(۳) مستدرک الحاکم: ۱۴۳،۳، کتاب الهجرة وشرح مشکل الاثار: ۱۲۷۳،۱۰ ۱

(۴) مستدرک الحاکم: ۱۴۳،۳، کتاب الهجرة وشرح مشکل الاثار: ۱۲۷۳،۱۰ ۱

(۵) الحديث سبق تخريجه في كتاب اللقطة، باب: ۱۲، رقم: ۲۴۳۹..... ۱

بِهِ إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَوَافَقْتُهُ قَدِ اسْتَيْقَظَ، فَقُلْتُ اشْرَبْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ ثُمَّ قُلْتُ قَدْ آنَ الرَّحِيلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «بَلَى». فَارْتَحَلْنَا وَالْقَوْمُ يَطْلُبُونَنَا، فَلَمْ يُدْرِكْنَا أَحَدٌ مِنْهُمْ غَيْرُ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ عَلَى فَرَسٍ لَهُ. فَقُلْتُ هَذَا الطَّلَبُ قَدْ لَحِقَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ «لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا» [ر: ۲۳۰۷]

رجال الحديث

عَبدُ الله بنُ رَجاء الغدانی البصری: د دۀ حالات په "کتاب الصلاۀ، باب وجوب الصلاۀ فی الثیاب" کښې تیر شوي دی.

اسرائیل: دې نه مراد اسرائیل بن یونس بن أبی اسحاق السبیعی مراد دي، چې د هغه تفصیلي حالات په "کتاب العلم" کښې تیر شوي دی.[۱]

أبی اسحاق: دې نه ابو اسحاق عمرو بن عبدالله السبیعی مراد دي، د دۀ تفصیلی حالات په "کتاب الإیمان" کښې تیر شوي دی.[۲]

اَلبَرَاء: دې نه براء بن عازب الأنصاری صحابی ابن صحابی مراد دي، د دۀ حالات هم په "کتاب الإیمان" کښې د پورتنۍ محوله حدیث په ضمن کښې تیر شوي دی.[۳]

د روایاتو اختلاف: دلته ددې حدیث الفاظ دی: "فقال عازب: لاحتی تحدثنا".

یعنی زۀ خپل ځوئی براء تا سره د سامان پورته کولو د پاره نۀ لیږم، تر هغې چې تاسو ما ته حدیث بیان نۀ کړې، او په "علامات النبوة" کښې د زهیر عن أبی اسحاق په روایت کښې دا الفاظ راغلي دی:

"فقال لعازب: ابعث ابنك یحمله معی قال فحملته معه وخرج أبی ینتقد ثمنه فقال له أبی یا أبا بکر حدثنی....."[۴]

په دواړو روایتونو کښې په ظاهره اختلاف او تضاد دي.

ځکه چې دلته په دې حدیث کښې عازب د خپل ځوئی براء لیږل په تحدیث یعنی حدیث بیانولو سره مشروط او معلق کړې دي، او په "علامات النبوة" کښې براء فرمائی، زۀ د ابوبکر سره لاړم او د هغۀ سامان مې اوچت کړو، زما پلار پیسې اوشمیرلې او بیا ئې ابوبکر ته اووئیل، چې د خپل هجرت قصه خو لږه بیان کړه. ظاهره ده دلته عازب څۀ شرط اُونۀ لګولو.

---

[۱] اوګورئ کشف الباری، کتاب العلم، باب من ترک بعض الاختیار مخافة أن یقصر.....: ۱۲۶،۵۴۶،۴

[۲] کشف الباری: ۱۳۷۰،۲

[۳] کشف الباری: ۱۳۷۵،۲

[۴] صحیح البخاری، کتاب المناقب، باب علامات النبوة، رقم الحدیث: ۳۶۱۵

ددې اشکال جواب او د اختلاف د رفع کولو صورت دادې، چې عازب به ابوبکر ته دا شرط خو لګولې وی، چې ځوئې به هله لیږم، کله چې تاسو حدیث بیان کړې، ولې کله چې بیا براء تلې وی او هغۀ سره ئې سامان اوچت کړې وی، او عازب پیسې شمیرلې وی، نو بیا به هغۀ ابوبکر ته هغه شرط یاد کړې وی، او ابوبکر به حدیث بیانولو سره شرط پوره کړې وی، دا تطبیق ممکن دې، او په دې سره اختلاف رفع کیږی۔[1]

حدیث باندې د اجرت د جواز استدلال: خطابی فرمائی په دې روایت سره هغه خلق استدلال کوی، چې په حدیث بیانولو باندې اجرت اخستل جائز ګڼړی، حال دادې چې دا یو باطل استدلال دې، ځکه کوم خلق چې په حدیث باندې اجرت اخلی، دا خو د هغوی باقاعده یو کاروبار دې، او د هغوی حیثیت د یو پراپرتې په شان وی، چې د هغوی ترلې شوې اجرت وی، او د ابوبکر او عازب رضی اللہ عنہما چې کومه معامله ده، هغه خو د سوداګرو په مینځ کښې یو معروف او مروج څیز دې، او هغه د قیمت او اجرت په ضمن کښې بالکل نۀ راځی، د اخستلو خرڅولو نه ورستو په سامان اوچتولو او لرې اورلو کښې مدد کول په سوداګرو او کاروباری خلقو کښې معروف او معتاد دی، او د هغې په بعضې وختونو کښې اخستونکې اجرت ورکوی، او کله نۀ هم ورکوی۔

په استدلال کښې د ضعف او بُعد وجه دا هم ده، چې دا استدلال به صحیح وې، کۀ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د هغه وخته پورې حدیث نۀ بیانولو، تر څو چې عازب خپل ځوئې نۀ وو لیږلې، حال دادې چې داسې څۀ خبره نشته، حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په هر حال کښې حدیث بیانولو، اګر چې د هغۀ سامان هم نۀ وې اوچت کړې شوې، یعنی د یو څیز د اجرت کیدو د پاره دا خبره ضروری وی، چې هغه کار ددې اجرت نه بغیر نۀ شی کولې، او دلته داسې خبره نشته۔[2]

څۀ د چیلو د څرونکی او مالک په حقله: فاذا أنا براع: ناګهانه زۀ د یو شپونکی سره مخامخ شوم، دا شپونکې څوک وو، د چا د چیلو شپونکې وو، حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی، "لم أقف علی تسمیته ولا علی تسمیة صاحبِ الغنم" ما ته ددې شپونکی او د چیلو د مالک نوم معلوم نۀ شو۔ د بعضې حضراتو خیال دې، چې شپونکې حضرت عبداللہ بن مسعود او د چیلو مالک عقبه بن أبی معیط دې، او دا په اصل کښې د عبداللہ بن مسعود د یو روایت د وجهې نه وئیلې شوی دی، او دا روایت احمد او ابن حبان نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:

"کنت أرعَی غنماً لعقبة بن أبی معیط فمرَّ بی رسول اللہ ﷺ وأبوبکر فقال یا غلامُ هل من لَبن؟ قلت: نعم! ولکنِّی مؤتمن"۔[3]

---

[1] اوګورئ: فتح الباری: ۱۱۳،۷\

[2] فتح الباری: ۱۳،۱٤، ج۷\

[3] مسند احمد رحمہ اللہ، رقم الحدیث: ۳۵۹۸، وفتح الباری: ۱۱۳،۱٤،۷\

یعنی: "ما به د عقبه چیلئ څرولي چې د رسول الله ﷺ او د ابوبکر رضی اللہ عنہ په ما باندې تیریدل اوشو، هغوی ﷺ اوفرمائیل، هلکه! آیا څۀ شودۀ شته؟ ما اووئیل، هاؤ! خو زۀ امانت دار جوړ کړې شوې یم، یعنی شودۀ ما سره د امانت په توګه دی، زۀ تاسو ته نۀ شم درکولې".

خو دا حدیث د براء بن عازب د روایت د پاره تفسیر ګرځول صحیح نۀ دی، یو خو په دې وجه چې هلته شپونکی ته وئیلې شوی وو، "هل أنت حالب؟" آیا تۀ به شودۀ اولوشې؟ او هغۀ په جواب کښې "نعم" وئیلو سره ګویا شودۀ لوشلو سره ورکړې هم وو، او دلته دې خبرې ارخ ته اشاره ملاویږی، چې هغۀ شودۀ نۀ دی ورکړې، بلکه د ورکولو نه ئې انکار کړې وو، بیا د براء په حدیث چې دلته مذکور دې، چیلئ شودو والا معلومیږی، او هلته د عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ په روایت کښې د چیلئ متعلق دا راغلې دی: "فهل من شاة لم ینزُ علیها الفحل؟" یعنی آیا داسې یوه چیلئ شته، چې هغې سره مذکر (چیلی) نۀ وی ملاؤ شوې. همدغه شان د هغې د ورستو عبارت نه معلومیږی چې چیلئ بچو او شودو والا نۀ وې.

بیا په حدیث د ابن مسعود رضی اللہ عنہ کښې د "ثم أتیته بعد هذا فقلت یا رسول الله علمنی من هذا القول؟" نه معلومیږی، چې د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی اللہ عنہ دا قصه د هغۀ د اسلام د قبلولو نه وړاندې ده، او ابن مسعود اسلام د هجرت نه هم ډیر وړاندې قبول کړې دې، په دې وجه د براء په حدیث کښې د شپونکی مصداق هغه (ابن مسعود) نۀ شی کیدې، ځکه کۀ دواړه ځایه یوه قیصه شی نو بیا به خامخا دا لازمیږی، چې ابن مسعود د هجرت نه ورستو اسلام قبول کړو، حال دادې چې واقعه ددې اُلټا ده. والله اعلم.[1]

رسول الله ﷺ د عادت خلاف شودۀ څکلو سره مریدل: حضرت صدیق اکبر رضی اللہ عنہ عجیبه معنی ورکونکی جمله ارشاد اوفرمائیله، "فشرب حتی رضیت" چې هغوی ﷺ دومره شودۀ اوڅکل چې زۀ خوشاله شوم، او ما ته ئې خوند راکړو، په یو روایت کښې د ابواسحاق راوی دا قول منقول دې، "قال أبواسحاق فتکلم بکلمة والله ما سمعتُها من غیره"[2] ابواسحاق فرمائی، چې ابوبکر داسې جمله ارشاد اوفرمائیله چې په خدائې قسم! داسې جمله ما دبل چا نه هم نۀ ده اوریدلې.

حافظ ابن حجر ددې نقل کولو سره فرمائی، کیدې شی د هغۀ اشاره "حتی رضیت" ارخ ته وی، او واقعی دا هم داسې جمله ده، چې په دې سره تعجب کیږی، خلق خو دا وائی چې ما دومره اوڅکل اوخوړل چې ما ته ئې خوند راکړو، او د بل د پاره وائی چې هغه دومره اوڅکل اوخوړل چې هغه خوشاله شو، او هغۀ ته ئې خوند ورکړو، ولې حضرت صدیق د خپل حبیب د پاره داسې ناآشنا جمله ارشاد اوفرمائیله، چې د مینې او محبت یو نوې ډول، او د عشق او فدائیت نوې نښې ئې وضع کړې، وې فرمائیل چې محبوب دومره اوڅکل چې ما ته ئې خوند

---

[1] اوګورئ فتح الباری: ۷، ۱۱٤

[2] فتح الباری: ۷، ۱۱٤

راکړو ،او بې شکه په حقیقت کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هغوی ﷺ سره هم دومره محبت وو ،هغهٔ ته به په خپل آرام او راحت باندې دومره خوند نهٔ ملاویدو ،خو چې کله به د الله تعالی رسول ﷺ ته راحت او آرام ملاویدو ،نو بیا به هغه د خوشالې نه تاویدو .او د خوند نه به ننشه کیدو .

ددې نه یوه بله خبره هم معلومیږی،او هغه دا چې د هغوی ﷺ عادت د داسې مړیدو د خوراک څکاک نهٔ وو ،دا د عادت خلاف هغوی ﷺ دومره اوځکل .چې په هغوی سره د هغه مُحب د حد نه زیات خوشاله شو .[1]

قد آنَ الرَّحِیلُ:یعنی د رحلت او سفر کولو مناسب وخت او ښکلې ساعت راغلې دې .اوس نور ایسازیدل مناسب نهٔ دی، اوس وتل پکار دی .دلته په دې روایت کښې او د"علامات النبوة"په یو روایت کښې لږ شان اختلاف معلومیږی، او هغه دا چې هلته د رسول الله ﷺ ارخ ته دا سوال منسوب دې،"ألم یان للرحیل؟"ابوبکرآیا تر اوسه پورې د تلو وخت نهٔ دې راغلې،هغوی اووئیل"بلیٰ"ولې نه ائې د الله تعالی رسوله! [2]

اودلته ابوبکر ارخ ته ددې کلام نسبت دې،چې هغوی ﷺ ته ئې اووئیل .د تلو وخت راغلې دې. ددې جواب او په دواړو روایتونو کښې تطبیق داسې کیدې شی .چې اول به رسول الله ﷺ پوښتنه کړې وی،او ابوبکر به هغوی ﷺ ته جواب ورکړې وی،ولې بیا په دوئم واړې به هغه د خپل ارخ نه نبی علیه السلام ته وئیلې وی،نو داسې به دواړه خبرې صحیح شی،چې هغوی ﷺ هم پوښتنه اوکړه،اوابوبکرجواب ورکړو ،اوپه دوئم واړې ابوبکر به د خپل ارخ نه وئیلې وی .[3]

ایا د غیر مملوکهٔ چیلئ شودهٔ څکل جائز وو؟:دلته دا شبه پیدا کیدې شی .چې رسول الله ﷺ او د هغوی ملګری چې د کومې چیلئ شودهٔ استعمال کړل،د هغې مالك خو هلته نهٔ وو .او ښکاره خبره ده،چې د هغهٔ نه اجازت هم وانخستې شو ،او د هغوی ﷺ صحیح او صریح ارشاد دې،"لا یحلبنَّ أحد ماشیة أحد إلا باذنه"[4] هیڅ یو سړې دې د بل د څناورو نه د هغهٔ د اجازت نه بغیر شودهٔ نهٔ لوشی .

اوس په ظاهره خو د رسول الله ﷺ په ارشاد او عمل کښې تضاد دې .

ددې ګنړ جوابونه ورکړې شوې دی:

یو جواب خو دادې،چې په کوم حدیث کښې د نورو د څناورو نه د شودو نهٔ لوشلو حکم دې، هغه په هغه صورت کښې دې،چې د هغې په وجه په خلقو کښې د زړهٔ تنګیدل،بخل او ناخوښی موندې شی،او هغوی ﷺ چې کوم شودهٔ استعمال کړی دی،هغه د زړهٔ د

---

[1] فتح الباری:۷، ۱۱٤

[2] اوګورئ کتاب المناقب،باب علامات النبوة،حدیث:۳٦۱۵

[3] اوګورئ فتح الباری:۷، ۱٤،دارالسلام

[4] فتح الباری:۷، ۱۱٤

فراخي، کرم کولو، او د سخاوت زمانه وه، او کله چې خلق په دې معاملاتو کښې سخاوت کوی، نو بیا په دې کښې هیڅ حرج نشته، او په عربو کښې خو هسې هم په دې حقله د ډیر کرم او سخاوت معامله وه۔

دویم جواب دادې، چې منع په هغه وخت کښې ده، چې د شودو اخستل د حملې کولو او د زور په توګه وی، او دلته چې رسول الله ﷺ د کومې چیلۍ شودۀ استعمال کړل، په هغې کښې باقاعده پوښتنه اوکړې شوه، او اجازت واخستې شو، کله چې بچی ته دا اووئیلې شو، "هَل أنتَ حالبٌ؟" ددې مطلب دا وو، چې آیا تا ته ددې چیلۍ نه د شودو لوشلو اختیار او ددې اجازت شته؟

او کله چې هغه په "نعم" سره جواب ورکړو، نو ښکاره خبره ده، دا بیا بغیر اجازته نۀ شو۔

دریم جواب هغه دی، چې د هغې إشارة پورته ذکر اوشو چې دا بغیر اجازته ځکه نۀ وو، چې دا د عربو عادت مألوفه (یعنی پیژندلې شوې عادت) وو، چې دا قسم د چیلو څاروؤ وغیره نه شودۀ اخستل به د هغې له مخې مباح وو، ددې به عام اجازت وو، بلکه دا بدګنړل او په دې باندې خفه کیدونکې به بې مروته ګنړلې شو۔ او بیا په خاص توګه مسافر او په لار تیریدونکی ته به د هغوی له مخې کلاؤ اجازت وو۔[1]

داؤدی فرمائی چې د نبی علیه السلام دا شودۀ استعمالول د "ابن السبیل" په حیثیت باندې وو، او ابن السبیل ته ددې اجازت دی، نو ګویا د ابن السبیل نه علاوه د نورو ټولو خلقو د پاره به دا ممنوع وی، لکه څنګه چې اوس د یو روایت په حوالې سره بیان کړې شو۔[2]

د حربی مال کښونکو توجیه غلطه ده: بعضې خلقو ددې یوه عجیبه او باریکۀ توجیه کړې ده، د هغوی وینا ده، چې د رسول الله ﷺ ددې چیلۍ دا شودۀ استعمالول، ددې د مالك د حربی کافر کیدو په وجه جائز وو، ځکه چې د حربی مال استعمالول د مسلمانانو د پاره جائز دی، او په دې کښې د هغۀ د اجازت ضرورت نۀ وی، دا توجیه اهل علمو غلطه ګنړلې ده، ځکه چې تر دې وخته پورې د حرب او قتال مشروعیت هم نۀ وو، او نۀ غنیمتونه حلال کړې شوې وو، نو بیا د کافر حربی او غیر حربی تقسیم او د حربی د مال جواز څۀ معنی لری؟[3]

د حدیث نور فوائد: د حدیث مبارك نه دا هم معلومیږی، چې حر (آزاد) سړې د یو صاحب تابع جوړیدو سره په ویخه باندې د هغۀ خدمت او د خوب په وخت کښې حفاظت او خیال ساتلې شی، او ددې خدمت او څوکیدارئ کولوکۀ اجازت شته، نو داخستلوهم اجازت کیدل پکار دی۔

همدغه شان دا هم معلومیږی، چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ سره بې حده محبت وو، او په هغوی کښې د رسول الله د ادب او احترام او د راحت رسولو ډیره لویه جذبه وه، او

---

[1] اوګورئ فتح الباری: ۷، ۱۱٤

[2] فتح الباری: ۷، ۱۱٤

[3] فتح الباری: ۷، ۱۱٤

په خپل ځان باندې هغوی ﷺ ته د هر قسمه قربانئ او ترجیح ورکولو هم واضحه پته لګی، او د نورو په مقابله کښې دا د دهٔ د افضلیت یوه اهمه وجه ده،د خوراك څکاك ګنړ شمیر آداب او د پاکوالی او صفایئ د بې حده اهتمام مطلوب کیدو هم پته لګی،ښکاره خبره ده،دا په اسلام کښې مستحسن ګنړلې شی،په دې وجه ددې اهتمام اوکړې شو،د حدیث نه دا هم معلومیږی،چې سړی ته په سفر کښې ځان سره ضروری څیزونه ساتل پکار دی،لکه یو دوه لوخی،لوټا،څادر وغیره،او دا د توکل منافی نهٔ دی،بلکه د سفر د آدابو نه دی۔(۱)

د حدیث څهٔ تشریح په "باب علامات النبوة" کښې تیره شوې ده،او څهٔ تفصیل به په "باب الهجرة" کښې انشاء الله تعالی راشی،د سراقه بن مالك قیصه به هم په "باب الهجرت" کښې تفصیل سره راشی۔

د ایت ذکر دلته مناسب نهٔ دې: د روایت په آخر کښې "تریحون بالعشی او "تسرحون بالغداة" ذکر کړې شوې دی،چې په ظاهره د روایت سره څهٔ مناسبت نهٔ لری،او حقیقت دادې،چې مناسبت ئې شته هم نه،په دې حوالې سره دې په ذهن کښې دا وی،چې په اصل کښې "باب هجرة النبی ﷺ وأصحابه إلی المدینة" کښې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا روایت دې،چې په هغې کښې هم دغه د هجرت نبوی ﷺ قیصه مذکور ده،او په هغې کښې یو ځائې کښې دا الفاظ راځی، "ویرعی علیهما عامر بن فهیرة مولی أبی بکر منحة من غنم فیریحها علیهما....."(۲)

په هغه مقام(هجرة النبی) کښې په حدیث د عائشې رضی اللہ عنہا کښې د لفظ "یریح" د تفسیر د پاره امام بخاری ته ددې آیت حواله ورکولو سره د "تریحون او تسرحون" دا تشریح کول پکار وو،ولې هغوی د هغې په ځائې دلته(د حدیث باب لاندې) د هغې تذکره اوکړه،په هر حال کښې د آیت راوړلو مقصد د دې حدیث باب په مضمون باندې مشتمل د هغهٔ دویم حدیث(چې د عائشې رضی اللہ عنہا نه مروی دې)کښې د مذکور لفظ "یریح" معنی بیانول دی،او ددې دومره اهتمام کړې شوې دې،چې د قرآن کریم په کوم آیت کښې دا لفظ مذکور دې،هغه آیت ذکر کړې شو،او د هغې تفسیر ئې د حضرت عبیده نه نقل اوفرمائیلو،امام ابوعبیده رحمہ اللہ "تریحون" سره د "بالعشی" قید لګولو سره دا اوښودل چې ددې معنی ده،مابنام ته واپس راتلل،او "تسرحون" سره د "بالغداة" قید لګولو سره ئې اوښودل چې په دې سره سحر څاروی سریدو له اوباسل مراد دی،اوس په دې سره د "یریح" معنی پخپله معلومه شوه۔(۳)

---

(۱) فتح الباری:۱۱٤.۷

(۲) اوګورئ:باب هجرة النبی ﷺ وأصحابه إلی المدینة،رقم الحدیث:۱۳۹۰۵

(۳) فتح الباری:۱۱۵.۷

ترجمة الباب سره مطابقت واضح دي،څکه چې باب دي،د ابوبکر رضي الله عنه د منقبت او فضيلت په حوالې سره او په حديث کښې هم د ابوبکر رضي الله عنه د منقبت ذکر دي۔(۱)

[۳۴۵۳](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي بَكْرٍ- رضي الله عنه- قَالَ قُلْتُ لِلنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- وَأَنَا فِي الْغَارِ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ تَحْتَ قَدَمَيْهِ لأَبْصَرَنَا. فَقَالَ «مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا» [۳۷۰۷، ۴۳۸۶]

رجال الحديث

مُحَمَّد بْنُ سِنَانٍ:دا محمد بن سنان العوقى دي،ددۀ احوال په "كتاب العلم،باب من سئل علماً وهو مشتغل فى حديثه" كښې تير شوى دى۔(۳)

هَمَّام:دا همام بن يحيى بن دينار العوذى دي۔ددۀ احوال تير شوى دى۔(۴)

ثَابِت:دا ثابت البنانى دي،د ددۀ احوال په "كتاب العلم،باب طرح الإمام المسئلة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم" كښې تير شوى دى۔(۵)

أَنَس:انس بن مالك د رسول الله ﷺ صحابى دي،د ددۀ احوال په "كتاب الإيمان،باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" كښې تير شوى دى۔(۶)

د "عَنْعَنَه" په ځائې "تحديث":دلته په دې حديث كښې محمد بن سنان راوى دي،د همام نه په حدثنا سره روايت كوى،او د ورستنو راويانو ثابت بنانى،انس بن مالك او ابوبكر نه په عن سره روايت كوى،او په كتاب التفسير كښې د حبان نه دا روايت منقول دي،او په هغې كښې د حدّثنا ثابت،حدّثنا أنس،قال حدّثنى أبوبكر الفاظ راغلى دى۔(۷)

---

۱) عمدة القارى:۱۲۴۲،۱۶

۲) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ،باب مناقب المهاجرين وفضلهم: ۵۱۶،۱، رقم۳۶۵۳،وفى:۵۵۸،۱،كتاب مناقب الأنصار،باب هجرة النبى وأصحابه إلى المدينة، رقم:۳۹۲۲، وفى:۶۷۲،۲، كتاب التفسير،باب قوله"ثانى اثنين إذهما فى الغار زقم:۴۶۶۳،ومسلم فى صحيحه:۲۷۲،۲، كتاب فضائل الصحابة رضى الله عنهم،باب من فضائل أبى بكر الصديق،رقم:۲۳۸۱،والترمذى فى جامعه: ۱۴۰،۲، أبواب التفسير،باب ومن سورة التوبة،رقم:۳۰۹۵۔۱

۳) كشف البارى:۱۵۳،۳۱

۴) صحيح البخارى،كتاب مواقيت الصلاة،باب من نَسِىَ صلاة فليصل إذا ذكر،رقم الحديث:۵۹۷۱

۵) كشف البارى:۱۱۸۳،۳۱

۶) كشف البارى:۱۴،۲۱

۷) كتاب التفسير،باب قوله ثانىَ اثنين،رقم الحديث:۴۶۶۳۔۱

همدغه شان د کتاب التفسیر په روایت کښې د "فرأیت آثار المشرکین" زیاتوالې هم دې۔[۱]
او په باب هجرة النبی ﷺ کښې د موسیٰ بن اسماعیل عن همام په روایت کښې دی، د "فرفعت رأسی فاذا أنا باقدام القوم" الفاظ راغلی دی۔[۲]

د "لو" شرطیه په معنیٰ کښې اختلاف: لَوْأَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ تَحْتَ قَدَمَيْهِ.....

دلته د "لو" شرطیه په حقله بعضې حضرات وائی، چې دا د استقبال د معنیٰ د پاره راغلې دې، او د استقبال په معنیٰ کښې د استعمالیدو د پاره د هغوی دلیل دادې، چې قرآن کریم کښې "لو" په فعل مضارع داخل دې۔[۳] په دې وجه د مضارع د معنیٰ د پاره هم ددې استعمال صحیح دې، او د اکثرو حضراتو له مخې "لو" د معنیٰ ماضی د پاره استعمال شوې دې، د مستقبل د پاره نۀ دې، څنګه چې ددې وضع د ماضی د پاره ده، اګر چې په مضارع باندې داخل شی۔[۴]

دلته دا جمله ولو "أن أحدهم نظر" د هغې بعضې حضراتو له مخې، چې لو د معنیٰ استقبال د پاره منی، د هغې وخت وئیلې شوې جمله به وی، کوم وخت چې مشرکین د غار په غاړه باندې ولاړ وو، او ددې معنیٰ به وی، ما ویره محسوس کولو سره د الله تعالیٰ رسول ﷺ ته اووئیل، کۀ دا خلق مو اووینی..... او د چا له مخې چې دا د معنیٰ ماضی د پاره دې، د هغوی له مخې دا د هغه مشرکینو د تلو نه ورسټو جمله به وی، او ددې معنیٰ به وی، ما د هغه خلقو د تلو نه ورسټو په غار کښې د الله تعالیٰ رسول ﷺ ته د شکریه په توګه اووئیل، د الله تعالیٰ رسوله! کۀ هغوی لاندې کتلې وې.....

د مشرکینو نه غار څنګه پټ پاتې شو: وَلَوْأَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ..... په یو روایت کښې د "لوأن بعضهم طأطأ بصره"[۵] الفاظ راغلې دی، او په یو روایت کښې "لوأن أحدهم رفع قدميه"[۶] الفاظ دی۔ بیا هم د "رفع قدميه" په روایت په ظاهره دا اشکال دې چې په دې کښې دا لازم راځی چې غار مشرکینو په قدمونو باندې پټ کړې وو، او کۀ هغوی قدمونه اوچت کړې وې نو حضور ﷺ

---

[۱] اوګورئ: "کتاب التفسیر، باب قوله ثانی اثنین إذ هما فی الغار، إذ یقول لصاحبه لا تحزن إن الله معنا، رقم الحدیث: ۳۶۶۳"
[۲] اوګورئ: "کتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبی وأصحابه إلی المدینة، رقم الحدیث: ۳۹۲۲"
[۳] لکه "ولو یری الذین یرون العذاب..... البقرة: ۱۶۵"
[۴] د نحو د فن د متونو معروف عبارت دې: "ولو للماضی وإن دخلت علی المضارع، هدایة النحو، بحث حروف الشرط۔"
[۵] اوګورئ: کتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبی وأصحابه إلی المدینة، رقم الحدیث: ۳۹۲۲
[۶] کتاب التفسیر، باب قوله "ثانی اثنین إذ هما فی الغار إذ یقول لصاحبه لا تحزن..... ، رقم الحدیث: ۳۶۶۳

او د هغوی ملګري به ئې لیدلې وو، حال دادې چې داسې نۀ وه(څکه چې د غار خلۀ چې په هغې سره انسان هغې ته دننه لاړ شی دومره تنګه ځو نۀ شی کیدې، چې په قدمونو سره ښکته شی، او په هغې باندې قدمونه کیښودل هسې هم مستبعد دی)، هنه ! کۀ دا تاویل اوکړې شی، چې د هغوی په کپړو سره غار پټ شو، او د نظر نه پټ شوې وو، چې په قدم اوچتولو سره به ظاهر شوې وو۔

هاؤ: د مسلم په روایت کښې دا الفاظ راغلی دی:

"لو أن أحدهم نظر إلى قدميه أبصرنا تحت قدميه"۔(۱)

یعنی: "کۀ په دوی کښې چا خپلو قدمونو ته کتلې وې نو د هغوی د قدمونو لاندې به مونږ په نظر راغلې وو"۔

ددې نه معلومیږی چې چرته مشرکین ولاړ وو، د هغې نه لاندې ارخ ته او بالکل د هغې نه ښکته دا غار واقع وو، د قدمونو لاندې په داسې شان سره کیدل، چې قدمونه اوچتولو سره په نظر راشی، او داسې کیدل چې قدمونو ارخ ته اوګوری او په نظر راشی، په دې دواړو کښې فرق دې، او مراد دویم دې نۀ چې اول۔

حافظ ابن حجر رحمۀ الله علیه فرمائی، د عروه بن زبیر رضی الله عنه په یو روایت کښې دا الفاظ راغلی دی:

"وأتى المشركون على الجبل الذي فيه الغار الذي فيه النبي ﷺ حتى طلعوا فوقه وسمع أبوبكر أصواتهم فاقبل عليه الهمُّ والخوف فعند ذلك يقول له النبي ﷺ: لا تحزن إن الله معنا"۔(۲)

یعنی: "مشرکین په هغه غر باندې راغلل چې په هغې کښې هغه غار وو، چې کوم کښې چې رسول الله ﷺ وو: تر دې پورې چې هغې ته اوختل، او ابوبکر رضی الله عنه د هغوی آوازونه واؤریدل، نو په هغۀ باندې د ویرې او فکر حالت راغلو، په دغه وخت کښې د الله تعالی رسول ﷺ هغه ته دا ارشاد فرمائیلې وو: "لا تحزن إن الله معنا"۔

ددې روایت نه پته لګی چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ددې خلقو د تللو نه ورسترو نه، بلکه د دوی د راتلو او موجودګي په وخت کښې وئیلې ائې د الله تعالی رسوله! کۀ دوی مونږ اولیدو....؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل، ویریږه مه! الله تعالی مونږ سره دې!

د هغوی د تلو نه ورسترو د ابوبکر د دې وئیلو "کۀ دوی مونږ لیدلې وې..... "په جواب کښې د "لا تحزن" وئیلو څۀ معنی او مطلب نشته۔(۳)

ابو بکر د "دریؤ" دریم وو: ما ظنك يا أبا بكر باثنين الله ثالثهما؟.....

---

(۱) صحیح مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل أبي بكر الصديق، رقم الحديث: ۲۳۸۱، (دار إحياء التراث العربي بيروت)

(۲) فتح الباری: ۱۱۵.۹

(۳) فتح الباری: ۱۱۵.۹

په یو روایت کښې دا الفاظ راغلي دی: "اسکت یا أبابکر اثنان الله ثالثهما."[۱]

"اثنان" خبر دي، "نحن" مبتداء د پاره.

او د "ثالثهما" معنی ده "ناصرهما ومعینهما" چې الله تعالی د چا معاون او مدد ګار وی.

د ثالثهما دا معنی هم کیدې شی، چې الله تعالی په اعتبار د علم سره د هغوی دریم دي، لکه څنګه چې د سورۀ مجادله آیت (مایکون من نجوی ثلثة الا هو رابعهم ولا خمسة الا هو سادسهم ولا أدنی من ذلك ولا أکثر الا هو معهم.....) په دې معنی کښې دي، ولې دلته هغه معنی مراد نۀ ده، ځکه چې هغه خو د هر دوۀ افرادو د پاره دي، او دلته خو "الله ثالثهما" د حضرت نبی کریم ﷺ او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه خصوصیت دي، او حقیقت دادي، چې دا د حضرت ابوبکر رضی الله عنه ډیر لوئې فضیلت او منقبت دي، ځکه چې دري افراد دی، چې په هغوی کښې یو الله تعالی دي، دویم محمد ﷺ دي، او دریم ابوبکر رضی الله عنه دي، نو د ابوبکر رضی الله عنه د پاره ددې معیت نه لوئې دولت څۀ کیدې شی؟[۲]

ددې نور تفصیل به انشاء الله په باب الهجرة..... کښې راځی.

د حدیث باب نور متابعات: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، مشهوره داده چې "همام" ددې حدیث باب په روایت کولو کښې د ثابت نه منفرد دي، دا خبره ترمذی[۳] او بزاز کړې ده[۴]، ابن شاهین په "الافراد" کښې دا د جعفر بن سلیمان په طریقې سره هم د ثابت نه نقل کړې ده، دا د هغې متابع دي[۵]، او ما (حافظ صاحب) د حبشی بن جنادہ په روایت سره ددې یو شاهد ذکر کړې دي.[۶]

او ددې یو شاهد د ابن عباس رضی الله عنه نه حاکم په "الاکلیل" کښې هم نقل کړې دي.[۷]

۳- باب: قَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ: سُدُّوا الْأَبْوَابَ، إِلَّا بَابَ أَبِي بَكْرٍ

قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-. [ر: ۴۵۵]

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه متعلق په څلورو بابونو کښې دا دویم باب دي، په دې او راتلونکی باب کښې یو یو روایت دي، او په څلورم باب کښې تقریباً ۲۳ احادیث دی.

---

[۱] کتاب المناقب الأنصار، رقم الحدیث: ۳۹۲۲\

[۲] فتح الباری: ۹، ۱۵، دار السلام\

[۳] جامع الترمذی، کتاب تفسیر القرآن، التوبة، رقم الحدیث: ۳۰۹۶\

[۴] مسند بزاز، (مسند أبی بکر الصدیق): ۱، ۸، وفتح الباری: ۹، ۱۱۴\

[۵] فتح الباری: ۹، ۱۱۴\

[۶] فتح الباری: ۹، ۱۱۴\

[۷] فتح الباری: ۹، ۱۱۴\

قوله: قَالَه اِبنُ عَبَّاسٍ: امام بخارى په كتاب الصلوة كښې د "باب الخوخة والممر فى المسجد" لاندې دا موصولاً ذكر كړې دي، ولې ددې معنى خو دغه دۀ، الفاظ لږ شان مختلف دى، اولنې روايت چې د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه دي، د هغې الفاظ دادى: "لا يبقين فى المسجد باب إلا سُدَّ إلا باب أبى بكر" (۱)

او دويم روايت چې د ابن عباس رضي الله عنه دي، د هغې الفاظ دادى: "سُدُّوا عنى كل خوخة فى هذا المسجد غير خوخة أبى بكر" (۲)

[۳۴۵۴] (۳) حَدَّثَنِى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ قَالَ حَدَّثَنِى سَالِمٌ أَبُو النَّضْرِ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ - رضى الله عنه - قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - النَّاسَ وَقَالَ «إِنَّ اللَّهَ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ ذَلِكَ الْعَبْدُ مَا عِنْدَ اللَّهِ». قَالَ فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ، فَعَجِبْنَا لِبُكَائِهِ أَنْ يُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنْ عَبْدٍ خُيِّرَ. فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - هُوَ الْمُخَيَّرَ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَىَّ فِى صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبَا بَكْرٍ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً غَيْرَ رَبِّى لاَتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ، وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الإِسْلاَمِ وَمَوَدَّتُهُ، لاَ يَبْقَيَنَّ فِى الْمَسْجِدِ بَابٌ إِلاَّ سُدَّ، إِلاَّ بَابَ أَبِى بَكْرٍ». [ر: ۴۵۴]

رجال الحديث

عَبْدِ اللهِ بنُ مُحَمَّدٍ: دا ابو جعفر عبدالله بن محمد بن عبد الله بن جعفر بن اليمان بن الأخنس جعفى بخارى سندى دي۔ ددۀ احوال د "كتاب الإيمان، باب أمور الإيمان" لاندې تير شوي دى۔ (۴)

أَبُو عَامِرٍ: دا ابو عامر عبد الملك بن عمرو البصرى دي۔ ددۀ مختصر حالات هم د "كتاب الإيمان، باب أمور الإيمان" لاندې تير شوي دى۔ (۵)

فُلَيْحٌ: دا فليح بن سليمان الخزاعى دي۔ ددۀ احوال د "كتاب العلم، باب من سئل علماً وهو مشتغل فى حديثه فأتم الحديث ثم أجاب السائل" لاندې تير شوي دى۔ (۶)

---

(۱) اوګورئ: صحيح البخارى، كتاب الصلاة، باب الخوخة والممر فى المسجد، رقم الحديث: ۱۳۶۶

(۲) صحيح البخارى، كتاب الصلاة، باب الخوخة والممر فى المسجد، رقم الحديث: ۱۴۶۷

(۳) الحديث سبق تخريجه فى كتاب الصلوٰة، باب الخوخة والممر فى المسجد، رقم ۴۶۶..... ۱

(۴) اوګورئ: كشف البارى: ۱۶۵۷،۱

(۵) اوګورئ: كشف البارى: ۱۶۵۷،۱

(۶) اوګورئ: كشف البارى: ۱۵۵،۳

سَالِمُ أَبُو النَّضرِ: دا سالم بن أبی امیه ابو النضر المدنی القرشی التیمی دي. ددۀ احوال تیر شوي دی۔[۱]

بُسرُ بنِ سَعِيد: دا بسر بن سعید المدنی مولی ابن الحضرمی دي۔ ددۀ احوال تیر شوی دی۔[۲]

أَبِي سَعِيد الخُدرِي: ابو سعید خدری، د رسول الله ﷺ مشهور صحابی مراد دي۔ ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب من الدین الفرار من الفتن" لاندي تیر شوی دی۔[۳]

حضور ﷺ دا ارشاد کله اوفرمائیلو: دلته په دي خبره کښي په روایاتو کښي اختلاف دي. چې رسول الله ﷺ دا قول په کومه موقع او کوم حالت کښي ارشاد اوفرمائیلو۔

باب هجرة النبی وأصحابه إلی المدینة کښي د مالك عن أبي النضر..... په روایت کښي دا الفاظ راغلی دی: "جلس علی المنبر فقال....." نبی کریم ﷺ په منبر باندي کیناستو او وي فرمائیل۔[۴]

او په "کتاب الصلوٰة، باب الخوخة والممرّ فی المسجد" کښي د ابو سعید خدری رضی الله عنه په روایت کښي د "خطب النبی ﷺ فقال"[۵] الفاظ دی، او ددي نه ورسته د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کښي دا الفاظ دی: "خرج رسول الله ﷺ فی مرضه الذی مات فیه عاصباً رأسه بخرقة"۔[۶]

او په صحیح مسلم کښي دا الفاظ دی، حضرت جندب رضی الله عنه فرمائی: "سمعت النبی ﷺ یقول قبل أن یموت بخمس لیالٍ"۔[۷]

هغوی ﷺ د خپل وفات نه پنځۀ ورځي وړاندي اوفرمائیل، او ما واؤریدل.....

او د أبی بن کعب په حدیث کښي دا الفاظ دی: "إن أحدث عهدی بینکم قبل وفاته بثلاث"[۸]

رسول الله ﷺ سره زما آخرني ملاقات هغه دي، چې د هغوی ﷺ د وفات نه درې ورځي وړاندي اوشو۔

په هر حال کښي ددي واقعي نه حضرت ابوبکر رضی الله عنه په خپل، ورکړي شوي، بصیرت او د امتیازی مقام په وجه باندي پوهه شو، چې د رسول الله ﷺ د وفات وخت اوس ډیر نزدي دي، نو هغۀ د هغي خیال کولو سره اوژړل۔[۹]

---

[۱] کتاب الوضوء، باب المسح علی الخفین .....

[۲] کتاب الصلوٰة باب الخوخة والممرّ فی المسجد.....

[۳] اوګورئ: کشف الباری: ۱\۸۲.۲

[۴] اوګورئ: باب هجرة النبی وأصحابه إلی المدینة، کتاب مناقب الأنصار، رقم الحدیث: ۱\۳۹۰۴

[۵] اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب الصلوٰة، باب الخوخة والممرّ فی المسجد، رقم الحدیث: ۱\۴۶۶

[۶] اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب الصلوٰة، باب الخوخة والممرّ فی المسجد، رقم الحدیث: ۱\۴۶۷

[۷] صحیح مسلم، کتاب المساجد، باب النهی عن بناء المسجد علی القبور، رقم الحدیث: ۱\۱۱۸۸

[۸] فتح الباری: ۱\۱۴.۹

[۹] فتح الباری: ۱\۱۶.۷، دار السلام

قوله: بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ: د مالك په روايت كښې دا الفاظ دی: "بين أن يُؤتيه من زَهرةِ الدنيا ما شاء وبين ما عنده"[1]

د الفاظو اختلاف او د هغې وجه: قوله: فَعَجِبْنَا لِبُكَائِهِ.....:

د محمد بن سنان په روايت كښې دا الفاظ دی: "فقلت في نفسي ما يبكي هذا الشيخ"؟[2] ما په زړه كښې اووئيل چې دا مشر ولې ژاړی؟

او د مالك په روايت كښې دی: "فعجبنا له وقال الناس: انظروا إلى هذا الشيخ"[3] يعنی مونږ تعجب اوكړو، او خلقو اووئيل چې دې مشر ته اوګورئ.

ددې لفظی اختلاف وجه دا ګڼلې شی، حضرت ابوسعيد خو اولاً په خپلې حوالې سره روايت اوكړو (چې د هغۀ څۀ تاثر وو)، بيا چې هغۀ ته د نورو خلقو متعلق معلومه شوه، چې هغوی هم دغه وائي نو هغۀ "وقال الناس" وئيلو سره هغه هم نقل كړو[4]

د حضرت ابوبكر رضي الله عنه امتيازی مقام: وې فرمائيل چې ابو بكر په مونږ تولو كښې زيات پوهه دې، او دا هم د هغه د "أعلم" كيدو دليل دې، چې په ظاهره په بل مضمون كښې بالكل پټ راز باندې پوهه شو، او په دومره يقين او جزم سره پوهه شو، چې بې اختياره په ژړا شو.

د جملې تركيبی حيثيت: إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ.....

دلته اوله خبره ددې جملې تركيبی حيثيت سره متعلق ده، چې دلته په روايت د باب كښې "أَمَنُّ" بغير د "مِن" نه دې، او د اسماعيل بن عبدالله په روايت كښې چې په كتاب مناقب الأنصار كښې دې، په هغې كښې د "من أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ" الفاظ دی، او ابوبكر د مرفوع په ځائې ابابكر منصوب راغلې دې[5]

"أبوبكر" بالرفع بعضې حضراتو غلط ګرځولې دې، او "أبابكر" د نصب په صورت كښې ئې صحيح او راجح ګرځولې دې، ځكه چې دا اسم د "إن" دې، او ظاهره ده چې اسم د "ان" منصوب وی[6]

---

[1] اوګورئ صحيح البخاری، كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبي وأصحابه إلى المدينة، رقم الحديث: ۳۹۰۴

[2] اوګورئ صحيح البخاری، كتاب الصلوٰة، باب الخوخة والمَمَرّ في المسجد، رقم الحديث: ۴۶۶\

[3] اوګورئ صحيح البخاری، كتاب المناقب الأنصار، باب هجرة النبي وأصحابه إلى المدينة، رقم الحديث: ۳۹۰۴\

[4] فتح الباری: ۱۷،۷ دار السلام\

[5] اوګورئ صحيح البخاری، كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبي وأصحابه إلى المدينة: رقم الحديث: ۳۹۰۴\

[6] فتح الباری: ۱۱۵،۹\

او چې په کومو روایاتو کښې "أبوبکر" مرفوع راغلې دې هغه په دې وجه چې دا په اصل کښې "منه" دې. چې په دې کښې دا ضمیر ضمیرِ شان دې، او ددې نه ورسته جار مجرور خبر مقدم او "ابوبکر" مبتداء مؤخره ده.

یا بیا "أبوبکر" اسم واحد یعنی د یو مفرد لفظ په شان دې، په دې وجه عامل به خپل اثر (اعراب) ددې په جزء اول کښې نه جاری کوی، او سره ددې نه چې دا اسم د "إنَّ" دې، ابوبکر به وی.

دریم احتمال دادې چې "إن" د نَعَمْ په معنی کښې دې، په دې وجه د "ابوبکر" د نصب تقاضا نه کوی.

څلورم احتمال دادې، چې "مِن" زائده دې، او دا جار مجرور نه دې، په دې وجه "أمَنُّ الناس" اسم د "إن" دې او "أبوبکر" ئې خبر دې، دا د کسائی رائې ده.[1]

پنځم احتمال دادې، چې "مِن أمنِّ الناس" دا د محذوف صفت او منصوب دې او تقدیر دې: مثلاً "إن رجلاً، إن إنساناً من أمنِّ الناس" په دې صورت کښې هم "أبوبکر" د "إن" خبر دې.[2]

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په رسول الله ﷺ باندې څهٔ احسان وو؟ دویمه خبره داده چې "مَنَّ" څهٔ معنی ده. او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه کوم احسان وو، چې هغې ارخ ته رسول الله ﷺ اشاره فرمائی. یا واقعةً د چا چې دومره لوړ مقام او مرتبه وه، نو په دې حوالې سره یو خو د لفظ د "أمَنَّ" خبره ده، چې دا د "اَلمَنُّ" نه دې، د اَلمِنَّة نه نهٔ دې، المَنُّ بغیر تاء نه معنی ده، عطاء او بذل (خرچ) او احسان. او د اَلمِنَّة معنی ده احسان زبادل چې افساد الصنیعة یعنی احسان خرابول او ضائع کول، احسان کول کمال دې، او احسان زبادل عیب دې، سیدنا ابوبکر رضی الله عنه په رسول الله ﷺ باندې احسان زبادونکې نهٔ وو، بلکه په رسول الله ﷺ باندې احسانونه کونکې وو. او هغوی ﷺ سره ئې داسې احسانات کړی دی، چې د هغې مثال نهٔ موندې کیږی. او هم د دغه احساناتو په وجه د هغهٔ دومره لوړ مقام وو چې چا د هغهٔ برابروالې اونهٔ کړې شو.

حافظ ابن حجر رحمه الله د داؤدی په حوالې سره نقل کړی دی، چې هغه وائی، دا د "منّة" نه دې، او ددې معنی داده، چې کهٔ د چا په رسول الله ﷺ باندې د احسان زبادلو حق جوړیدې او څوک په رسول الله ﷺ باندې احسان زبادل غواړی نو هغه به ابوبکر وو، حافظ دا توجیه غریبه ګرځولې ده. او اولنۍ توجیه یعنی دا د "مَنَّ ۶" بمعنی عطاء نه ګرځولو ته ئې راجح وئیلې دی.[3]

د امام نووی رائې: امام نووی فرمائی علماؤ وئیلې دی، چې د "أمَنَّ النَّاسُ عَلَیَّ" معنی ده:

---

[1] فتح الباری: ۱۱۵.۹

[2] فتح الباری: ۱۵.۹، عمدة القاری: ۱۲۴۳.۱۶

[3] انظر لزیادة التفصیل فتح الباری: ۱۱۵.۱۴.۹

"أكثرهم جودًا وسماحةً لنا بنفسه وماله.....، وليس هو من المَنِّ الذي هو الاعتداد بالصنيعة، لأنه أذى مبطِل للثواب ولأن المِنَّة لله ولرسوله في قبول ذلك وغيره".(۱)

یعنی د خپل ځان او مال په حوالې سره مونږ سره د ټولو نه زیات د جود او سخا مظاهره کونکې.....او دا د هغه "مَنّ" نه نۀ دې، چې د هغې معنی احسان زبادل او شمارل دی، ځکه چې داسې احسان خو په الله تعالی باندې د چا هم نشته، بلکه د الله تعالی احسان دې، چې داسې قسمه احسان او نیکی ئې قبوله کړه.

د قرطبی قول: او قرطبی فرمائی دا د امتنان نه دې، او ددې معنی داده، چې د ابوبکر رضی الله عنه دومره احسانات دی چې کۀ دومره احسانات د بل چا وې نو خامخا به ئې زبادلې وې(۲) یعنی د ابن عباس رضی الله عنه ددې حدیث معنی داده، چې د هغې الفاظ دی، "ليس من الناس أحدٌ أمنّ علَيَّ في نفسِه ومالِه من أبي بكر"(۳) خپل مال او ځان په ما باندې خرچ کونکې د ابوبکر نه زیات څوک هم نشته.

رسول الله ﷺ سره حسن سلوک کونکی نور هم وو: دا د هغه روایت معنی ده په کوم کښې چې "من" نشته، او تر کومې پورې چې د "من" والا روایت تعلق دې، نو کۀ هغه زائده وی نو بیا خو په دواړو روایاتو کښې منافات نشته، او کۀ زائده نۀ وی نو بیا د هغې مطلب او مفهوم دادې، چې داسې نور خلق هم شته، چې رسول الله ﷺ ته عطاء کونکی وو، ولې ابوبکر په دې ټولو کښې ورانده وو، او د هغۀ په شان څوک هم نۀ وو، او ددې تائید د ترمذی په هغه روایت سره هم کیږی چې د هغې الفاظ دادی:

ما لأحدٍ عندنا يدٌ إلا كافيناه عليها ما خلا أبا بكر فإنّ له عندنا يدًا يكافِئُه الله بها يوم القيامة.(۴)

د ابوبکر نه علاوه څوک هم داسې نشته چې د هغۀ په مونږ باندې احسان وی او مونږ د هغې بدله هغه ته نۀ وی ورکړې، او پاتې شو ابوبکر نو د هغۀ چې کوم احسان دې بس الله تعالی به هغۀ ته د هغې بدله د قیامت په ورځ ورکړی، ددې روایت نه معلومیږی چې د ابوبکر نه علاوه هم څۀ خلق وو. چې د هغوی رسول الله ﷺ ته د عطاء کولو په حوالې سره په هغوی ﷺ باندې احسانات دی.....هاؤ! ترجیح او فضیلت په دې ټولو باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته حاصل وو، اوس چرته چې علی الاطلاق هغوی "أمن" کړځولې شوې دی، هلته مقصود دا دې، چې ابوبکر ته په ټولو باندې ترجیح حاصله ده، او چرته چې علی الاطلاق نۀ دې، هلته

---

۱) شرح النووی علی مسلم:۸/۱۲۰

۲) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم باب من فضائل أبي بكر:۱۹/۱۵۰،شرح البخاری فتح الباری:۱۷و۷،دار السلام

۳) فتح الباری لابن حجر العسقلانی:۲/۷۳۵،دار الكتب العلمية بيروت

۴) صحيح البخاری، كتاب الصلاة، باب الخوخة والممرّ في المسجد، رقم الحديث:۱۴۶۶

دې نورو ارخ ته هم اشاره مقصود ده، چا چې په دې کښې برخه واخسته۔[۱]

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د احساناتو تفصیل: په بعضې روایاتو کښې ددې نه هم د زیات تفصیل ذکر دې مثلاً د یو روایت الفاظ دی:

"**مئة أعتق بلالاً، ومئة هاجر بنبیه**"۔[۲] یو احسان د بلال د آزادولو، او یو د الله تعالی د رسول سره د هجرت کولو۔

او په یو روایت کښې دی: "**ما أحدٌ أعظم عندی یداً من أبی بکر، واسانی بنفسه ومماله وأنکحنی ابنته**"۔[۳]

یعنی: "ما باندې د ابوبکر نه زیات د چا احسانات نشته، چې په ځان او مال سره ئې ما سره د همدردئ مظاهره اوکړه، او خپله لور ئې ما ته په نکاح راکړه"۔

د یو بل روایت الفاظ دادی، د حضرت انس رضی اللہ عنہ نه روایت دې، هغوی ﷺ او فرمائیل:

"**إن أعظم الناس علینا منًّا أبوبکر، زوّجنی ابنته، وواسانی بنفسه، وإن خیر المسلمین مالاً أبوبکر أعتق منه بلالاً وحملنی إلی دار الهجرة**"۔[۴]

یعنی: "په خلقو کښې ابوبکر په مونږ باندې د ټولو نه زیات احسان کونکې دې، چې هغه خپله لور ما ته په نکاح باندې راکړه، او په ځان او مال سره ئې ما سره همدردی اوکړه، او په مسلمانانو کښې د ټولو نه غوره مال د ابوبکر دې، چې هغۀ په دې مال سره بلال آزاد کړو، او زۀ ئې دارالهجرة (مدینې منورې) ته راوستم"۔

په بعضې روایاتو کښې د هغه مال مقدار هم ښودلې شوې دې، کوم چې هغۀ په رسول الله ﷺ باندې خرچ کړې دې، د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا روایت دې:

"**أنفق أبوبکر علی النبی ﷺ أربعین ألف درهم**"۔[۵]

یعنی: "حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ په رسول الله ﷺ باندې څلویښت زره درهمه خرچ کړل"۔

د "دوستئ (خلّة)" "مقام غوره دې یا د "وروروليئ (اخوت)": رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ خلیل ولې جوړ نۀ کړو، دا بحث خو د وړاندې په وړاندې باب کښې مستقل راځی، هنه! دلته هغوی ﷺ چې دا اوفرمائیل چې د دوستئ (خلّة) نه بلکه د وروروليئ (اخوت) رشته زما د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره ده، "**ولکن أخوة الإسلام ومودّته**" ددې خبر "حاصلة" دې یا بیا "أفضل" دې لکه څنګه چې د وړاندینې باب په روایاتو کښې زاغلې دی۔[۶]

---

[۱] جامع الترمذی، کتاب المناقب، باب مالاحد عندنا ید .....، رقم الحدیث: ۳۶۶۱

[۲] فتح الباری: ۹، ۱۵\

[۳] المعجم الکبیر للطبرانی: ۱۱، ۱۹۱، مکتبة العلوم موصل\

[۴] المعجم الکبیر للطبرانی: ۱۱، ۱۹۱\

[۵] صحیح ابن حبان: ۱۵، ۲۷۴\

[۶] اوګورئ صحیح البخاری، باب قول النبی لو کنتُ متخذاً خلیلاً.....، رقم الحدیث: ۳۶۵۷\

او همدغسې د طبرانی روایت دې، چې د خالد الحذاء نه منقول دې، او د هغې الفاظ دادی، "ولكن أخوة الإيمان والإسلام أفضل".(۱)

او د ابو یعلی روایت دې، "ولكن خلّة الإسلام أفضل".(۲)

خو په دې باندې اشکال واردیږی چې اخوت څنګه غوره دې، غوره خو "خلّة" دې، ځکه چې دا اخوت اسلام ته هم شامل دې، او دې سره یو زیاتی څیز (خلّت) ته هم، نو بیا ظاهره ده، چې "خلّة" افضل شو.....؟

ددې یو جواب خو دادې، چې د افضل نه مراد دا نۀ دې چې اخوت د خلت نه غوره دې، بلکه معنی داده، چې درسول الله ﷺ اخوت او مودّت د بل هر سړی د اخوت او مودّت نه غوره دې.

دویم جواب دادې، چې افضل په معنی د فاضل دې، یعنی د هغوی ﷺ اخوت او مودّت ډیر غوره څیزدې، یعنی دتفضیل معنی به په دې کښې نۀ وی، صرف دفضیلت ذکرمقصود دې(۳)

پاتې شو دا سوال چې د اخوت او مودتَ اسلام فضیلت خو ټولو صحابۀ ته حاصل دې، او هغوی ټول په دې کښې حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره شریك دی، نو بیا خو دا د ابوبکر رضی الله عنه څۀ امتیازی وصف پاتې نۀ شو، بلکه د ټولو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ سره د اخوت رشته شته.....؟ ددې جواب دادې، چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره نور صحابۀ کرام په اخوت اسلام کښې شریك خو دی، ولې ددې ټولو په مقابله کښې چې کوم فضیلت او ترجیح حضرت صدیق ته حاصله ده، هغه هم څۀ پټ پناه نۀ ده، او په څو دلائلو او شواهدو سره د رنړا ورځ په شان ثابته ده، هم دغه د هغۀ ځانګړتیا ده، یعنی په اخوت او مودت اسلام کښې د صحابۀ کرامو په مینځ کښې تفاوت (یعنی د مرتبو فرق) دې، چا د دین اسلام په مدد او نصرت، اعلاء کلمة الحق او ثواب حاصلولو کښې په نښۀ شان سره برخه واخسته، او چا ته د هغې نه کمه برخه ملاؤ شوه، او د ابوبکر صدیق برخه په دې حوالې سره ډیره لویه ده، نو د هغۀ مرتبه د اخوت هم ډیره لویه ده.(۴)

په بعضې روایاتو کښې دلته د اخوة په ځائې "خوّة الإسلام" بغیر د همزې نه راغلې دي.

ابن بطال ددې په خقله فرمائی چې زۀ د "خوّة" څۀ معنی نۀ پیژنم او په کلام د عربو کښې ددې د خلّة په معنی باندې چرته استعمال نۀ دې شوې، او په بعضې روایاتو کښې چې "ولكن خلة

---

۱) المعجم الكبير للطبرانی: ۱۱/۱۹۱

۲) مسند أبی یعلیٰ: ۴/۴۵۷، دار المامون دمشق

۳) فتح الباری ۹/۱۱۶

۴) اوګورئ فتح الباری شرح صحیح البخاری: ۷/۱۸، دارالسلام، لكن الشيخ الكشميری يقول: إن الخلة أيضًا تحتمل الشركة كالأخوة كما قال تعالیٰ: الأخلاء يومئذ بعضهم لبعض عدو إلا المتقون .....انظر فيض الباری: ۲/۶۲

الإسلام" راغلي دي،هم هغه صحيح دي۔[1]

علامه ابن التين وئيلى دى،چې کيدې شي دې نه همزه غورځيدلې وى،او هم دغسې دا "اخوة الإسلام" جوړ شوې وى،او په اصل کښې دې،"أخوة الاسلام"۔[2]

ابن مالك ددې دا توجيه بيانوى،چې په دې کښې د"أخوة"د همزې حرکت د"لكن"نون ته منتقل شوې دې،او همزه غورځيدلې ده،اوس چې همزه راشى،نو د"لكن"نون به صرف ساکن لوستلې شي،او د همزې نۀ کيدو په صورت کښې دا مشدّد او مضموم هم لوستلې شى،او ساکن هم۔[3]

قوله: لَا يَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ بَابٌ إِلَّا سُدَّ: لايَبْقَيَنَّ،د ياء په فتحې او په نونِ تاکيد مشدّد سره د معروف صيغه ده،او لفظ د"باب"د هغې فاعل دې،د فعلِ نهى اسناد په دې صورت کښې "باب"ارخ ته دې،چې بنکاره دې،او اسناد مجازى دې،او ددې د جواز وجه داده،چې عدم بقاء د عدمِ ابقاء د پاره لازم دې،نو په اصل کښې نهى خو مخاطبينو(صحابۀ کرامو)ارخ ته راجع ده،او هغوى ته دا وئيل مقصود دى،چې هيڅ يوه دروازه مۀ پريږدئ،خو بنکاره خبره ده چې هغوى دروازه باقى نۀ پريږدى،نو هله به باقى نۀ پاتې کيږى،په دې وجه هغوى ﷺ اوفرمائيل چې هيڅ يو دروازه دې پاتې نۀ شى،او مطلب دادې چې باقې دې پاتې نۀ کړې شى،په بعضې روايا تو کښې يُبْقَيَنَّ د ياء په ضمې سره(مبنى للمفعول)راغلې دې،په دې صورت کښې به نهې په معنى حقيقى باندې حمل وى،هم دغه شان"سُدَّ"هم په صيغۀ مجهول سره ضبط کړې شوې دې،چې د هغې د"يُبْقَيَنَّ"مجهول سره مناسبت دې،د"باب"په ځائې په بعضې روايا تو کښې"خوخة"راغلې دې۔[4]

"خوخة" وئيلې شى کهړکې،روشندان او هغه سورى ته چې په هغې سره سړې د ديوال نه پورې راپورې تلې راتلې شى،خو چې هغه دروازه نۀ وى،بلکه د هغې نه وړه او ډيره مختلفه وى،په عامه توګه دا د روشندان د پاره استعماليږى،او په دې سره د رنړا راتلل مقصود وى،هم په دغه وجه عموماً دا اوچت وى،ولې د"خوخة"د پاره دا شرط نۀ دې چې دا دې هم اوچت وى،بلکه"خوخه"لاندې هم کيدې شى،چې عموماً د لارې د پاره استعماليږى،او دلته هم دغه دويمه معنى مراد ده،په دې وجه په دې باندې د"باب"اطلاق هم کيږى،او بعضې

---

[1] فتح الباری:۱۶،۹،بيروت\

[2] فتح الباری:۱۶،۹،بيروت\

[3] فتح الباری:۱۸،۷،دارالسلام\

[4] فتح الباری:۱۱۶،۹\

حضرات وائی، چې د "باب" اطلاق به په دې هغه وخت صحیح وی، چې د هغې مغلق کول (یعنی بندول) ممکن وی۔[۱]

قوله: إلا باب أبي بكر: دا استثناء مفرّغه ده، او ددې تقدیر داسې دې، "لَاتُغلقوا باباً غيرَ مسدودٍ إلا باب أبي بكر فاتركوه بغير سَدٍّ"۔[۲]

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خاصوالی او ددې غرض: خطابی او ابن بطال وغیره فرمائی، په دې حدیث کښې د سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ بالکل واضحه خصوصیت ذکر دې، او په دې کښې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ استحقاق د خلافت ته هم واضحه اشاره ده، خصوصاً په دې وجه هم چې دا واقعه د هغوی ﷺ په آخری عمر کښې راپیښه شوه، په دغه وخت کښې کله چې حضور ﷺ خلقو ته دا ارشاد فرمائیلو چې د ابوبکر نه علاوه بل څوك امام مهٔ جوړوئ، هم د هغهٔ په اقتداء کښې مونځ کوئ، بعضې حضراتو د حدیث الفاظ په مجازی معنی باندې حمل کړې دی، هغوی فرمائی، چې "باب" د خلافت نه کنایه ده، او "امربالسّد" یعنی د بندولو حکم چې دې، په هغې سره مطلوب او مقصود د خلافت د طلب کولو نه منع کول دی، او گویا هغوی ﷺ او فرمائیل، "لا يطلبنّ أحد الخلافة إلا أبابكر فإنه لا حرج عليه في طلبها" هیڅ یو سړې دې خلافت نهٔ طلب کوی ما سوا د ابوبکر نه کهٔ هغه طلب کوی نو په دې کښې څهٔ حرج نشته۔

د ابن حبان هم دې توجیه ارخ ته میلان دې، هغه ددې حدیث د تخریج نه ورسټو فرمائی:

"في هذا دليل على أنه الخليفة بعد النبي ﷺ، لأنه حسم بقوله "سَدُّوا عَنِّي كلَّ خوخةٍ في المسجد اطماعَ الناس كلَّهم عن أن يكونوا خُلفاء بعده"۔[۳]

ایا د ابوبکر رضی اللہ عنہ کور د مسجد نبوی سره نهٔ وو؟: بعضې خلقو دا "باب" او "سد باب" د قبیلې د کنایې نه د ګرځولو په تائید کښې دا هم وئیلې دی، چې د ابوبکر کور خو په "عوالی" کښې وو، بیا دا څنګه وئیلې شی، چې د هغهٔ کهړکې دې کلاؤ پریښودې شی، او ددې نه د خلافت اثبات بیا څنګه صحیح کیدې شی.....؟ بیا هم دا قول ضعیف دې، او ددې جواب دادې، چې کهٔ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ کور د مدینې په عوالی کښې وو، نو ددې نه دا څنګه معلومه شوه چې د هغهٔ د مسجد سره متصل کور نهٔ وو، بې شکه د هغهٔ هلته هم کور وو، او دلته مسجد سره متصل هم۔

په عوالی کښې د هغوی کور په اصل کښې د هغهٔ د سخرګنې وو، چې د انصارو نه وؤ، او د هغوی د حضرت ام رومان نه علاوه هم یوه بی بی وه، اسماء بنت عمیس رضی اللہ عنہا۔

د "سد باب" نه د مجازی معنی مراد اخستلو تردید: محب طبری د ابن حبان وغیره د رائې تردید

---

[۱]) فتح الباری: ۱۸،۷،۱۹، دار السلام۱

[۲]) فتح الباری: ۱۱۷،۹

[۳]) فتح الباری: ۱۹،۷، دار السلام۱

کوی او فرمائی، عمرو بن شبه په "أخبار المدينة" کښې فرمائی چې هغه کور چې د هغې د کهرکې د کلاؤ پرېښودو په حدیث کښې ذکر دې، هغه د جمات سره نزدې او متصل وو. او ټول عمر حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره وو، تر دې چې بعضې وفودو ته د څۀ ورکولو ضرورت حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته وړاندې راغې نو هغۀ دا کور خرڅ کړو. او حضرت حفصې رضی اللہ عنہا دا په څلور زره درهمه واخستو، بیا ورسترو کله چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کښې د هغې نه مطالبه اوکړې شوه، چې هغه دا خپل کور په جمات کښې د شاملولو د پاره ورکړي، نو جمات ته د تلو لار بندیدلو په وجه او د باقی کور د ناکافی کیدو د ویرې هغې رضی اللہ عنہا معذرت اوکړو، بیا چې کله هغې ته ددې نه د زیات کلاؤ کور او د هغې نه جمات د تلو راتلو لار د سهولت وړاندې کړې شو، نو هغه ددې کور په ورکولو باندې راضی شوه، او هغه په جمات کښې شامل شو۔[1] ددې نه معلومه شوه، چې کور او د هغې دروازه حقیقی وه مجازی نۀ وه۔

د طبرانی په روایت کښې د "الإباب أبي بكر" نه ورسترو د "فإن رأيت عليه نوراً" زیاتوالې هم منقول دې۔[2]

په بعضې روایاتو کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره ددې خصوصیت ثبوت: په بعضې روایاتو کښې د کڼړکې کلاؤ پرېښودو ثبوت د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره ثابت دې، چې ښکاره ددې حدیث سره معارض دې، احمد او نسائي په قوی سند سره د حضرت سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ نه نقل کړی دی. هغه فرمائی:

"أمرنا رسول الله ﷺ بسَدِّ الأبواب الشارعة في المسجد وتركِ باب علي"۔[3]

مونږ ته رسول الله ﷺ د هغه ټولو دروازو د بندولو اوفرمائیل، چې هغه به جمات ته کلاویدې. او جمات ته په هغې سره تګ راتګ کیدو. او د حضرت علی رضی اللہ عنہ دروازه ئې پرېښوده۔

او بیا دا نه چې رسول الله ﷺ د هغه دروازه بنده نۀ کړه، او د نورو ئې بندې کړې، بلکه طبرانی په معجم الأوسط کښې د ثقه راویانو نه دا زیاتوالې هم نقل کړې دې:

"فقالوا يا رسول الله! سددتَ أبوابَنا، فقال ما أنا سددتُها ولكن الله سدَّها"۔[4]

خلقو رسول الله ﷺ ته اووئیل ائې د الله تعالی رسوله اتاسو زمونږ دروازې بندې کړې، هغوی ﷺ اوفرمائیل، ما نه، بلکه الله تعالی بندې کړې دی۔

او د زید بن ارقم روایت دې، هغه فرمائی:

---

[1] فتح الباری لابن حجر العسقلانی: ۱۱۹،۷

[2] المعجم الأوسط للطبرانی: ۱۱۵،۷، دار الحرمین قاهره

[3] مسند احمد (مسند سعد بن أبی وقاص)، رقم الحدیث: ۱۴۲۹

[4] المعجم الأوسط للطبرانی، (من اسمه علی): ۱۸۴،۴، دار الحرمین قاهره

"كان لنفرٍ من الصحابة أبواب شارعة فی المسجد فقال رسول الله ﷺ سدُّوا هذه الأبواب إلا باب علی، فتكلم ناس فی ذالك فقال رسول الله ﷺ انی والله ما سددتُ شيئاً ولا فتحتُه ولكن أمِرتُ بشئ، فاتبعته".

دا روایت هم احمد، نسائی او حاکم وغیره نقل کړي دي، او ددي رجال ئي ثقه ګرځولی دی[1] دلته هم هغه مضمون دي، بعضي صحابهٔ کرام وؤ، چې د هغوی دروازې به جمات ارخ ته کلاویدې، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل، د حضرت علی رضی الله عنه د دروازې نه علاوه دا ټولې دروازې بندې کړئ، بعضي خلقو ددې په حقله خبرې اوکړې، او هغوی ﷺ ته ئې شکایت اوکړو. رسول الله اوفرمائیل، په خدائې قسم ما خو نهٔ څهٔ څیز بند کړې دې، او نهٔ مې کلاؤ کړې دې، خو د الله تعالی د ارخ نه ما ته د یو څیز حکم راکولې شی، نو زهٔ د هغې اتباع کوم.

احمد او نسائي په ثقه راویانو سره د ابن عباس رضی الله عنه دا روایت هم نقل کړې دې:

"أمر رسول الله ﷺ بأبواب المسجد فسُدَّت إلا باب علی".[2]

رسول الله ﷺ حکم اوکړو چې د جمات دروازې دې بندې کړې شی، نو هغه بندې کړې شوې، ما سوا د حضرت علی رضی الله عنه د دروازې نه. او په یو روایت کښې دا الفاظ دی:

"وأمر بسدِّ الأبواب غير باب علیٍ فكان يدخل المسجد وهو جنب ليس له طريق غيره".[3]

هغوی ﷺ دحضرت علی رضی الله عنه د دروازې نه علاوه د ټولو دوازو د بندولو حکم اوکړو، او حضرت علی رضی الله عنه به جمات ته د جنابت په حالت کښې هم تلو، د هغهٔ ددې نه علاوه بله لار نهٔ وه. دې سره نزدې نزدې الفاظ د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه نه هم منقول دی، چې د هغې تخریج طبرانی کړې دې. هغه فرمائی:

"أمرنا رسول الله ﷺ بسد الأبواب كلها غير باب علیٍ، فربَّما مرَّ فيه وهو جنب".[4]

امام احمد په سند حسن سره د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کړې دې، هغه فرمائی:

"كنا نقول فی زمنِ رسول الله ﷺ، رسول الله ﷺ خير الناس ثم أبوبكر ثم عمرُ، ولقد أعطی علی بن أبی طالب ثلاث خصال، لأن يكون لی واحدة منهن أحب إلی من حمر النعم، زوَّجه رسول الله ﷺ ابنته، وولدت له وسدَّ الأبواب إلا بابَه فی المسجد وأعطاه الرأية يومَ خيبر".[5]

مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وئیل چې رسول الله ﷺ د ټولو خلقو نه غوره دې، بیا ابوبکر، بیا عمر غوره دې، او حضرت علی رضی الله عنه ته دري خصلتونه داسې ورکړې شوی دی، کهٔ په هغې کښې یو هم مونږ ته ملاؤ شوې وې، نو دا به مونږ ته د سرو اوښانو نه زیات خوښ

---

[1] مسند احمد: ۱۴۰۳۲، السنن الكبرٰی للنسائی: ۱۱۸۰۵، مستدرک حاکم، رقم الحدیث: ۸۴۳۲

[2] مسند احمد: ۴۱۰۳۲، السنن الكبری للنسائی: ۱۱۸۰۵

[3] المعجم الاوسط: ۱۸۶۰۴

[4] السنن الكبری للنسائی: ۱۱۸۰۵

[5] مسند احمد (مسند عبدالله بن عمر)، رقم الحدیث: ۱۴۵۶۶

وو، یو د هغوی رضی الله عنهم بی بی د رسول الله ﷺ لور ده، او د هغې نه د هغهٔ بچی هم دی. او (دویم) جمات اړخ ته کلاویدو والا دروازه د هغهٔ د پاره کلاؤ پریښودې شوه، د نورو دروازې بندې کړې شوې، او (دریم) د خیبر په ورځ رسول الله ﷺ بیرغ د هغهٔ په لاس کښې ورکړو۔

همدغه شان نسائی د علاء بن عرار نه روایت نقل کړې دې، چې په هغې کښې دا الفاظ راغلی دی: "قلتُ لابن عمرَ أحبَبتَ عن علیٍّ وعثمان"

ما ابن عمر رضی الله عنه ته اووئیل، ما ته د علی او عثمان په حقله اووایه، هغوی هم دغه حدیث ذکر اوفرمائیلو او بیا ئې اووئیل:

"وأما علی فلا تسأل عنه أحداً وانظر إلی منزلتِه من رسول الله ﷺ قد سدَّ أبوابَنا فی المسجد وأقرَّ بابه"۔(۱)

او پاتې شو حضرت علی رضی الله عنه نو د هغهٔ په حقله د چا نه هم پوښتنه مهٔ کوه. بلکه د رسول الله ﷺ سره د هغهٔ مقام او مرتبه اوګوره، چې رسول الله ﷺ جمات اړخ ته زمونږ د ټولو دروازې بندې کړې، او د هغهٔ دروازه ئې په خپل حال اوساتله۔

ددې روایت ټول رجال د صحاحو راویان دی، ما سوا د علاء نه او د هغهٔ هم یحیی بن معین وغیره توثیق کړې دې۔(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، په دې ټولو روایاتو کښې هر یو ددې وړ دې چې په دې سره استدلال اوکړې شی، او مجموعه خو ده داسې چې په دې سره د حضرت علی رضی الله عنه د پاره پورته ذکر کړې شوې فضیلت ثابتیږی۔(۳)

د ابن الجوزی تعصب: او علامه ابن جوزی دا روایات په موضوعاتو کښې شمیر کړی دی، د سعد بن أبی وقاص، زید بن ارقم او په بعضې طرقو سره د ابن عمر رضی الله عنهم د احادیثو هغهٔ تخریج کړې دې. او بیا ئې د هغې په بعضې راویانو کښې کلام کړې دې، او په دې طریقې سره ئې دا احادیث معلول اوګرځول۔(۴)

خو حافظ ابن حجر فرمائی: چې د ابن الجوزی دا اعتراض صحیح نهٔ دې، او ددې احادیثو په صحت باندې په دې سره هیڅ اثر نهٔ پریوځی، ځکه چې هغه په متعدد طرقو سره مروی دی. او ښکاره خبره ده چې کلام په ټولو طرقو کښې نشته، همدغه شان په دې بناء باندې هم هغه دا احادیث د استدلال وړ نهٔ دی ګرځولې، چې دا د هغه صحیح احادیثو په مقابله کښې راغلی دی، چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په حوالې سره منقول دی، او د دهٔ (ابن الجوزی) خیال

---

۱) السنن الکبری للنسائی: ۱۱۸.۵\

۲) تهذیب الکمال: ۵۲۸.۲۲\

۳) فتح الباری: ۲۰.۷، دارالسلام. د "سد باب" په حوالې سره مولانا ادریس کاندهلوی فرمائی چې ددې حکم دوه واړې ورکړې شوې دې، اول واړې ددې نه د حضرت علی رضی الله عنه استثنا اوشوه، او دویم واړې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه، او د حضرت علی رضی الله عنه په حوالې سره د باب نه مراد حقیقی او د ابوبکر رضی الله عنه په حقله د باب نه مجازی (یعنی خوخه) معنی مراد ده، التعلیق الصبیح: ۳۶۵.۷\

۴) کتاب الموضوعات لابن الجوزی، باب فضائل علی: ۲۷۳.۲۷۵.۱، دار الکتب العلمیة بیروت\

دادې، چې دا احادیث روافضو د ابوبکر رضی اللہ عنہ په حقله د وارد شوې احادیثو په مقابله کښې وضع کړې دی، (د ځان نه جوړ کړې دی) حافظ صاحب فرمائی چې ابن الجوزی په دې کښې ډیر بد خویدلې دې، او سراسر غلطه رائې ئې قائم کړې ده، صرف د خپل وهم په بنیاد باندې هغه صحیح احادیث رد کړی دی، او وئیلې ئې دی چې دا د صحیح احادیثو سره معارض او مقابل دی، په دې وجه مردود دی۔

حال دادې چې د تعارض په صورت کښې تطبیق ممکن وی نو تطبیق به کولې شی، او دلته تطبیق ممکن دې۔[۱]

د احمد امین مصری جاهلانه رائې: احمد امین مصری مشهور عربی ادیب دې، ولې د ادیب کیدو سره سره هغه د مستشرقینو نه هم ډیر متاثره معلومیږی، او د استشراق زهرو په هغۀ داسې اثر کړې دې چې د هغې په نتیجه کښې هغه کله کله داسې خبرې هم کوی چې په هیڅ شان د قبلیدو وړ نۀ وی، دلته هغۀ دا وئیلی دی چې د "سدابواب" نه د استثناء خصوصیت په ابوبکر او علی کښې چا ته هم نۀ دې حاصل، بیا علوییانو یعنی څوک چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ ملګری وو، هغوی د هغه په فضیلت کښې دا احادیث د ځان نه جوړ کړل، "سدُّوا هذه الأبواب کلها إلا باب علی" او کوم خلق چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ملګری او موافقین وو، هغوی د حضرت صدیق په حقله د "سدُّوا هذه الأبواب إلا باب أبی بکر" روایت د ځان نه جوړ کړل، او په حقیقت کښې ددې روایاتو هیڅ اصل نشته۔[۲]

د احمد امین دا خبره بالکل غلطه او د عقل او پوهې نه ډیره لرې ده، ځکه په دې حوالې سره چې کوم روایات منقول دی، هغه ډیر قوی او مضبوط دی، او د هغې په موجودګئ کښې داسې خبره کول بالکل مناسب نۀ دی، او پاتې شوه خبره د تعارض نو د هغې حل تطبیق دې، او دلته تطبیق ممکن دې۔

په روایاتو کښې تطبیق: بزار په خپل مسند کښې ددې متعارض روایتونو په مینځ کښې تطبیق ارخ ته اشاره فرمائیلې ده، هغه وائی اهل کوفې ته د حسن درجې په روایاتو سره د حضرت علی رضی اللہ عنہ فضیلت ثابت دې، او د اهل مدینې په روایاتو سره د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ فضیلت ثابت دې، اوس کۀ د اهل کوفې روایات ثابت شی، نو بیا به د جمع بین الروایات صورت هغه وی، چې هغې ارخ ته د حضرت ابو سعید خدری په روایت کښې اشاره ده۔

ابو سعید خدری فرمائی، چې نبی کریم ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ ته اوفرمائیل:

"لایَحلُّ لأحدٍ أن یُجنِبَ فی هٰذا المسجدِ غیری وغیرك"۔[۳]

زما او ستا (حضرت علی رضی اللہ عنہ) نه علاوه چا ته هم په دې جمات کښې د جنابت په حالت کښې

---

[۱] فتح الباری: ۷، ۲۰، دارالسلام۔

[۲] فجر الإسلام لاحمد امین، ص: ۲۰۶، دارالکتب العلمیة بیروت۔

[۳] رواه الترمذی، سنن الترمذی، باب قول النبی لِعلیٍّ أنت مِنّی وأنا منک، رقم: ۱۴۰۹۳

تلل جائز نۀ دی۔

ددې مطلب دغه دې چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ د کور هم دغه یوه دروازه وه،چې جمات ارخ ته به کلاویده،او هغه بله دروازه نۀ وه،په دې وجه هغۀ ته ئې د دروازې بندولو اونۀ فرمائیل،ځکه چې په دې سره به هغه په مشکل کښې اخته شوې وو ،بلکه دا ممکن هم نۀ وو.

ددې په یو بل روایت سره هم تائید کیږی،چې قاضی اسماعیل په "احکام القرآن" کښې د مطلب بن عبد الله بن حنطب په طریقې سره نقل کړې دې،هغه فرمائی:

"أن النبی ﷺ لم یأذن لأحد أن یمرّ فی المسجد وهو جُنب إلا لعلی بن أبی طالب،لأن بیته کان فی المسجد".(۱)

نبی کریم ﷺ ما سوا د حضرت علی رضی اللہ عنہ نه چا ته هم د جنابت به حالت کښې په جمات کښې د تیریدو اجازت نۀ دې ورکړې،ځکه چې د هغۀ کور په جمات کښې وو.

نو خلاصه د جمع بین الروایات دا شوه،چې د سدّ ابواب حکم دوه واړې اوکړې شو،اول واړې په هغې سره د حضرت علی رضی اللہ عنہ استثناء اشوه،او دا په دې وجه چې د هغه د بهر تلو راتلو بله لار نۀ وه،او دویم واړې د بندولو حکم چې راغې،نو د هغې نه سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ مستثنی کړې شو،او په دې سره مقصود د هغۀ خصوصیت او استحقاق خلافت اظهار وو.بیا هم حافظ ابن حجر فرمائی، د جمع بن الروایات په دې صورت کښې به یوه اضافه کول وی.او هغه دا چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په قیصه کښې به "باب" په خپله حقیقی معنی باندې محمول نۀ وی،بلکه مجازاً به ددې نه مراد "خوځه" یعنی کهړکې وی،په اصل کښې داسې اوشوه چې رسول الله ﷺ د تولو دروازو د بندولو حکم اوفرمائیلو نو د حضرت علی رضی اللہ عنہ باب ئې مستثنی کړو ،بیا خلقو جمات ته د نزدې راتلو د پاره کړکې جوړې کړې،او د هغې استعمال ئې شروع کړو ،بیا رسول الله ﷺ د تولو کهړکو بندولو حکم اوکړو،او ابوبکر ئې ددې حکم نه مستثنی کړو ،اوس کهړکې او باب علی تول بند شو او بنکاره خبره دده چې استثنا به د څۀ اختصاص،څانګړتیا او ترجیح په وجه باندې وی،او هغه اختصاص دغه دې،چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت مستحق او په هغې باندې متمکن کیدونکې وو .نو نبی کریم ﷺ د سیدنا ابوبکر استحقاق د خلافت بلا فصل بنکاره کولو د پاره د سدّ ابواب د عام حکم نه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ استثناء اوفرمائیله.(۲)

یو اشکال او د هغې جواب: په دې باندې یو اشکال واردیږی،چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ کور خو په "سنح" مقام کښې وو ، چې د مدینې په عوالی کښې وو ،بیا د هغۀ د کور دروازه یا خوخه په مسجد نبوی کښې څنګه کلاویده،دا خبره پوهې ته نۀ راځی.....؟

ددې جواب دادې،چې په "سنح" مقام کښې د هغۀ د کور کیدو نه دا څنګه لازم راځی،چې د هغه د مسجد نبوی سره متصل کور نۀ وی،په دې وجه دا اعتراض ضعیف دې،او حقیقت

---

۱) فتح الباری:۹،۱۱۸

۲) فتح الباری:۷،۲۰،دارالسلام

دادې، چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ کور د مسجد نبوی سره نزدې او متصل وو، او په سنح کښې د هغۀ د سخرګنئ کور وو، او سخرګنئ ئې انصار وو۔[1]

د حدیث بعضې فائدې: په ذکر کړې شوې حدیث کښې څۀ نورې فائدې هم دی، مثلاً د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د حد نه زیات فضیلت او د هغۀ ددې خبرې اهل کیدل چې رسول الله ﷺ هغه خپل خلیل جوړ کړی، دغه شان دا هم معلومیږی، چې "خلّت" یو خاص صفت دې، چې د عدم مشارکت تقاضا کوی، یعنی د یو سړی دوه خلیلان نۀ شی کیدې، او یو سړې د دوۀ سړو خلیل نۀ شی جوړیدې۔

دا هم د حدیث نه معلومیږی، چې جماتونه بغیر د څۀ اهم ضرورت نه د لار په توګه استعمالول شرعاً صحیح نۀ دی۔

همدغه شان د حدیث نه دا هم معلومیږی چې د سامعینو د ذهنونو د ویخولو د پاره رسول الله د تصریح په څائې په یوئې خاصې طریقې سره د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ فضیلت ارخ ته اشاره اوکړه، او په دې خبره تنبیه اوکړې شوه، چې په علماؤ کښې د پوهې په اعتبار سره تفاوت وی، او د "أعلم" وئیلو مستحق هغه کس وی، چې په پوهه کښې د نورو نه څانګړې وی، په حدیث کښې دا هم اووئیلې شو، چې آخرت ته په دنیا باندې ترجیح ورکول پکار دی، د محسن شکریه ادا کول پکار دی، او د هغۀ توصیف او تعریف کول پکار دی۔

ابن بطال فرمائی ددې نه دا هم معلومه شوه، چې د امارت او خلافت د غړی (یعنی امیدوار) د پاره ضروری ده چې څۀ خصوصیت او څانګړتیا په کښې موجود وی۔[2]

۴- باب فَضْلِ أَبِي بَكْرٍ بَعْدَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم

۳۴۵۵:[3] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ: كُنَّا نُخَيِّرُ بَيْنَ النَّاسِ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَنُخَيِّرُ أَبَا بَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، ثُمَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رضي الله عنهم [۳۴۹۴]

رجال الحديث

عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللهِ: دا عبد العزیز بن عبد الله الاویسی دې، ددۀ احوال تیر شوی دی۔[4]

---

[1] فتح الباری: ۷، ۱۹، دار السلام۔

[2] فتح الباری: ۷، ۲۰، ۲۱۔

[3] الحديث أخرجه البخاری فی صحيحه: ۱، ۵۱۶، كتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ، باب فضل أبی بكر بعد النبی ﷺ، رقم: ۳۶۵۵، وفی: ۱، ۵۲۲، كتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ، باب مناقب عثمان بن عفان، رقم: ۲۶۹۸، وأبو داؤد فی سننه: ۲، ۲۸۰، كتاب السنة، باب فی التفضيل، رقم: ۴۶۲۷، و: ۴۶۲۸، والترمذی فی جامعه: ۲، ۲۱۱، أبواب المناقب، باب مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه، رقم: ۳۷۰۷۔

[4] اوګورئ: صحيح البخاری، كتاب العلم، باب الحرص على الحديث، حديث: (۹۹).

سُلَيمَانُ: دا سليمان بن بلال القرشي التيمي دي ـ ددهٔ احوال په كتاب العلم، باب طرح الإمام المسئلة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم كښې تير شوی دی ـ[1]

يَحيَى بنِ سَعِيدٍ: دا يحيى بن سعيد الأنصاري دي ـ ددهٔ احوال په "كتاب الإيمان، باب صوم رمضان احتساباً من الإيمان" كښې تير شوی دی ـ[2]

نَافِعٍ: د نافع نه مولى عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ مراد دي، ددهٔ حالات تير شوی دی ـ[3]

ابنِ عُمَرَ: دا عبد الله بن عمر د رسول الله ﷺ صحابي دي، ددهٔ حالات په "كتاب الإيمان، باب الإيمان وقول النبي ﷺ بُنِيَ الإسلام على خمس" كښې تير شوی دی ـ[4]

په خلفاء اربعؤ كښې چې كوم ترتيب د خلافت دي هم دغه ترتيب د فضيلت دي: د نبي كريم ﷺ نه ورسټو مقام او مرتبه د حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ ده، امام شافعي رحمہ اللہ فرمائي چې په دي خبره باندي اجماع ده، چې د نبي كريم ﷺ نه ورسټو د ټولو نه افضل حضرت ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ دي. او په اهل سنت والجماعت كښې تقريباً په دي مسئله كښې هيڅ اختلاف نشته، په خلفاء اربعؤ ابوبكر صديق، عمر فاروق، عثمان غني او علي المرتضى رضي الله عنهم وأرضاهم أجمعين كښې چې كوم ترتيب د خلافت دي، همدغه ترتيب د فضيلت هم دي ـ[5]

د امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ قول: امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ د حضرت سفينه رضی اللہ عنہ د روايت "الخلافة بعدي ثلاثون سنة"[6] په ترتيب د خلافت باندي استدلال كړي دي، د ابوداؤد په روايت كښې د خلافة النبوة بعدي ثلاثون سنة الفاظ هم وارد شوی دی ـ[7] د حضرت علي رضی اللہ عنہ په خلافت او د هغه په څلورم خليفه كيدو باندي امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ دا حديث په استدلال كښې وړاندي كړي دي.

امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ فرمائي: "من لم يُرَبِّعْ بِعَلِيٍّ فهو أضل من حمارِ أهلِه"[8]

څوك چې حضرت علي رضی اللہ عنہ ته څلورمه مرتبه ورنهٔ كړي، او هغه څلورم خليفه اونهٔ منی، هغه د خپل كور د ساتونكي خر نه هم زيات كم عقل دي. خوارجو او روافضو ارڅ ته اشاره ده.

---

[1]) كشف الباری: ۱۳۷.۳\

[2]) كشف الباری: ۳۳۱.۲\

[3]) كتاب العلم، باب من أجاب المسائل بأكثر مما سأله.....

[4]) كشف الباری: ۶۳۷.۱\

[5]) فتح الباری: ۲۰.۹\

[6]) مسند احمد حديث (۲۱۹۷۸)\

[7]) فتح الباری: ۱۱۸.۹\

[8]) مسند احمد: ۲۲۱.۵، مؤسسة قرطبة القاهرة، وفتح الباری: ۱۱۸.۹\

د مجدد الف ثانی رائي، او د ائمهٔ اربعؤ مذهب: حضرت مجدد الف ثانی شیخ احمد سرهندی رحمه الله په خپلو مکتوباتو کښې د حضرات ائمهٔ اربعؤ نه نقل کړی دی، کوم چې ترتیب د خلافت دې همدغه ترتیب د فضیلت دې، خو واقعه داده، چې په دې مسئله کښې د امام مالك او امام ابو حنیفه رحمهما الله نه مختلف روایات هم منقول دی، حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه نه افضل دې، حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه افضل دې، او په حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه کښې اختلاف دې، چې آیا حضرت عثمان رضی الله عنه افضل دې یا حضرت علی رضی الله عنه، د اکثرو علماؤ رائې داده، چې حضرت عثمان رضی الله عنه افضل دې، دغه د امام مالك آخری روایت دې، او دې ارخ ته هغوی رجوع فرمائیلې ده، لکه څنګه چې قاضي عیاض او قرطبی نقل کړی دی، او همدغه د امام ابو حنیفه مشهور روایت دې، او زمونږ اصحاب هم دغه نقل کوی۔[1]

دویم روایت د امام مالك رحمه الله نه د توقف منقول دې، او همدغه یو روایت امام ابو حنیفه رحمه الله ارخ ته هم منسوب دې، امام صاحب چې د اهل سنت والجماعت کوم علامات بیان کړی دی، په هغې کښې د "أن تفضل الشیخین و تحب الختنین وتری المسح علی الخفین" الفاظ راغلی دی، دلته ئې د شیخینو فضیلت د اهل سنت والجماعت په علاماتو کښې شمیر کړې دې، ولې په ختنینو (دوؤ زومانو) یعنی عثمان او علی رضی الله عنهما کښې د چا فضیلت ضروری نۀ دې ګرځولې شوې۔

بیا هم مجدد الف ثانی رحمه الله ددې توقف یوه خاص وجه بیان کړې ده، هغه فرمائی چې د امام صاحب مقصود ددې نه توقف نۀ دې، بلکه په اصل کښې د حضرات شیخینو نه ورسترو د ختنینو متعلق د خلقو قسم قسم بد ګمانئ پیدا شوې وی، چا به په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې قسم قسم تبصرې کولې، چا به د حضرت علی رضی الله عنه متعلق اُلټا پلټا تبصرې کولې، په دې حالاتو کښې حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په اهل سنت والجماعت کښې د کیدو د پاره دا علامت ضروری اوګرځولو، چې د ختنینو سره به محبت اوکړې شی۔[2]

د قاضی ابوبکر ابن الباقلانی، امام الحرمین او ابو العباس القلانسی نه هم د توقف قول نقل کړې شوې دې۔[3]

د علی رضی الله عنه د تفضیل قول: دوه قوله شو، یو دا چې حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه نه افضل دې، او دویم قول د توقف۔ دریم قول دادې، حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه افضل دې، او ددې قول قائلین ډیر علماء دی، د سفیان ثوری رحمه الله نه هم دا قول نقل کړې شوې دې، خو وئیلې شوی دی، چې حضرت سفیان د خپل دې قول نه رجوع کړې وه۔[4] ابن خزیمه

---

[1] شرح العقیدة الطحاویه، ص۱۴۸۵\

[2] المکتوبات الربانیة: ۲، ۳۶۶، مکتوب نمبر ۳۴۹، دارالکتب العلمیة بیروت\

[3] شرح العقیدة الطحاویة (۴۸۶)\

[4] فتح الباری: ۷، ۱۹، د زیات تفصیل د پاره اوګورئ شرح الفقه الأکبر لعلی القاری، ص۱۱۳، دارالکتب العلمیة بیروت، همدغه شان مجموع الفتاوی لابن تیمیه: ۴، ۱۲۲۰\

او د هغهٔ نه وړاندې او د هغهٔ نه ورستو یو جماعت هم ددې قائل پاتې شوې دې۔[۱] حافظ شمس الدین ذهبی په میزان الاعتدال کښې لیکلی دی، چې محدث ابو الفضل سلیمان فرمائی چې د أعمش او نعمان بن ثابت (یعنی امام ابوحنیفه) شعبه، عبدالرزاق، ابن همام، عبید الله بن موسی عبدی، عبدالرحمن ابن أبی حاتم الرازی او نور هم بعضې خلق حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه افضل ګرځوی۔[۲] ددې نه معلومه شوه، چې په اهل سنت والجماعت کښې یو جماعت د حضرت علی رضی الله عنه د تفضیل قائل دې۔

حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت نه وړاندې مفضول او ورستو د افضل کیدو قول: دلته یو څلورم قول شمس الائمه سرخسی په شرح سیر کبیر کښې نقل کړې دې، چې د خلافت نه وړاندې حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه افضل وو، خو د خلافت ملاویدو نه ورستو حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه نه افضل شو، شمس الدین سرخسی فرمائی چې زمونږ له مخې مذهب دادې، چې حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه نه قبل الخلافة او بعد الخلافت افضل وو۔[۳] د امام احمد نه دا نقل کړې شوی دی، چې په خلفاء اربعؤ کښې کوم ترتیب د خلافت دې، همدغه ترتیب د خلافت هم دې، دا قول حافظ ابن عبد البر د امام احمد او حافظ ابو زرعه الرازی نه نقل کړې دې۔[۴]

په خلافت او فضیلت کښې د فرق قول: د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه ابن عبد البر یو قول دا هم نقل کړې دې، چې هغوی په خلافت او فضیلت کښې فرق کړې دې، په خلافت کښې خو هغه د حضرت علی رضی الله عنه د څلورم خلیفه کیدو قائل دې، خو په تفضیل کښې به هغهٔ د حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورستو سکوت کولو، په دې وجه د حضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت دې:

"کنا نخیّر بین الناس فی زمانِ رسول الله ﷺ فنُخیّر أبابکر، ثم عمر ثم عثمان"۔[۵]

او په بعضې روایاتو کښې ددې نه ورستو دا هم وارد شوی دی، "ثم نترك أصحاب النبی ﷺ لا نفاضل بینهم"[۶] خو حافظ ابن عبد البر په دې روایت باندې په ډیر شور او زور سره نکیر کړې دې، او فرمائیلې ئې دی، په دې کښې خو څهٔ اختلاف نشته، چې حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورستو د باقی ټولو صحابهٔ کرامو نه افضل دې، بیا د حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورستو د سکوت څهٔ معنی؟

---

[۱] فتح الباری:۷/۱۱۹

[۲] میزان الاعتدال للذهبی:۲/۵۸۸، رقم الترجمة (۴۹۶۵)، ترجمة عبدالرحمن بن أبی حاتم، دار إحیاء الکتب العربیة، مطبوعة:۱۹۶۳/۱

[۳] شرح کتاب السیر الکبیر:۱/۱۱۱، دار الکتب العلمیة بیروت/۱

[۴] فتح الباری:۷/۱۱۹

[۵] جامع الأصول فی أحادیث الرسول:۸/۵۷۹/۱

[۶] جامع الأصول فی أحادیث الرسول:۸/۵۷۹، رقم الحدیث:۶۳۹۴/۱

د امام غزالی رحمه الله قول: امام غزالی په "إحیاء علوم الدین" کښې فرمائی:

"الاصل الثامن: انّ فضل الصحابة رضي الله عنهم علی حَسبِ ترتیبِهم فی الخلافة".(۱)

د تفضیلِ عثمان او تفضیلِ علی دواړو اجازت: امام یحیی بن معین نقل کړی دی، هغه فرمائی:

"مَن قال: أبوبکر، وعمر، وعثمان، وعلی وعرَف لعلیٍّ سابقیّته، وفضله فهو صاحب سنّة، ومن قال أبوبکر وعمر وعلی وعثمان وعرَف لعثمان سابقیّته فهو صاحب سنّة".(۲)

دلته یحیی بن معین د تفضیل عثمان او تفضیل علی دواړه قائلین د اهل سنتو نه ګرځولي دی. حافظ ابن اسحاق فرمائی کله چې ما د یحیی بن معین وړاندې د ابن عمر رضي الله عنه هغه روایت بیان کړو، نو یحیی بن معین ته ډیره غصه راغله او هغهٔ سختې خبرې اوکړې، حافظ ابن عبد البر فرمائی چې ابن معین فرمائی چا چې داسې خبره کړې ده، هغه د اهل سنتو د اجماع خلاف خبره کړې ده، ځکه چې په اهل سنتو کښې خلف او سلف ټول په دې خبره باندې متفق دی. برابره خبره ده کهٔ اهل فقه دی او کهٔ اهل اثر او محدثین چې حضرت علی رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه نه ورستو افضل الناس دي. خو حافظ ابن حجر العسقلانی د ابن عمر رضي الله عنه د حدیث دا جواب ورکړو، چې کیدې شی د صحابؤ په زمانه کښې هم دغه (د عثمان نه ورستو د توقف والا) خبره پاتې وی او هر چې اجماع ده هغه ورستو منعقد شوې وی. د ورستو منعقد شوې اجماع په وجه هغه سکوت کوم چې د صحابؤ په زمانه کښې د حضرت عثمان رضي الله عنه نه ورستو به کولې شو، د هغې نفی به څنګه لازمه شی.

حضرت علی رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه نه افضل ګرځول د صحابهٔ کرامو توهین دي: شیخ الإسلام حافظ ابن تیمیه فرمائی، ایوب السختیانی، احمد بن حنبل او دار قطنی فرمائی چا چې حضرت علی رضي الله عنه ته د حضرت عثمان رضي الله عنه نه افضل اووئیل هغه د صحابهٔ کرامو توهین اوکړو. ځکه چې د حضرت عمر رضي الله عنه د شهادت نه ورستو ټولو صحابهٔ کرامو په اجماع سره حضرت عثمان رضي الله عنه ته په حضرت علی رضي الله عنه باندې ترجیح او تفضیل ورکولو سره خلیفه جوړ کړو، اوس کهٔ حضرت علی رضي الله عنه ته افضل اووئیلې شی، نو د هغې مطلب خو به یا دا وی، چې مهاجر او انصار صحابهٔ کرام د هغهٔ د افضلیت نه جاهل وو، او یا به مطلب دا وی چې هغوی ټول د حق د نښکاره کولو نه عاجز او قاصر وو، او دا دواړه خبرې د صحابهٔ کرامو د توهین په زمره کښې راځی.(۳)

د کلام خلاصه: خلاصه د کلام دا شوه، چې په حدیث کښې باب کښې د ابوبکر او د عمر د تخییر او تفضیل صراحت دي، او په دې کښې په اهل سنت والجماعت کښې د چا هم اختلاف نشته، بیا د حضرت عثمان رضي الله عنه په باقی صحابؤ کښې د افضلیت ذکر دي، او د

---

۱) اتحاف السادة المتقین: ۲/۲۵۶

۲) فتح الباری: ۷/۱۱۶

۳) مجموع الفتاوی لشیخ الإسلام: ۴/۲۲۰

تفضیل عثمان په صحت او ثبوت کښې هم هیڅ کلام نشته،ابن عبد البر چې په دې کوم طعن کړې دې،حافظ ابن حجر فرمائی،زما په خیال ابن عبد البر په دې زیاتوالی باندې اعتراض کړې دې،چې د عبید الله بن عمر په روایت کښې مذکور دې،او هغه د ابن عمر دا الفاظ دی، "ثم نترك أصحاب رسول الله ﷺ.....".

خو د ابن عبد البر په دې زیاتوالی باندې تنقید هم د قبلولو وړ نۀ دې،ځکه چې په دې کښې نافع متفرد نۀ دې،بلکه د هغه متابع موجود دې،چې خیثمه د یوسف بن الماجشون عن أبیه عن ابن عمر..... په طریقې سره نقل کړې دې:

"کنا نقول په عهدِ رسول الله ﷺ: أبوبکر وعمر وعثمان ثم ندَع أصحاب رسول الله ﷺ فلا نفاضل بینهم".(۱)

مونږ به د نبی علیه السلام په زمانه کښې وئیل،ابوبکر،عمر او عثمان،بیا به مونږ د رسول الله ﷺ أصحاب پریښودل او په هغوی کښې به مو تفاضل نۀ کولو(یعنی څوک افضل او څوک به مو مفضول نۀ ګرځول).

خو ددې ترک تفاضل نه هم دا نۀ ثابتیږی چې صحابۀ کرام ددې دریۀ حضراتو نه ورستو بالکل د چا د افضلیت قائل نۀ وو،یعنی د ترک تفاضل نه عدم اعتقاد د افضلیت علی رضی الله عنه لازم نۀ راځی،کله چې پخپله د حدیث راوی ابن عمر رضی الله عنه هم دا منی چې د خلفاء ثلثۀ نه ورستو حضرت علی رضی الله عنه د نورو صحابۀ کرامو نه افضل وو،څنګه چې په وړاندینې باب کښې مونږ د هغۀ حدیث ذکر کړې دې،په بعضې طریقو کښې د ابن عمر رضی الله عنه په دې روایت د تخییر او تفضیل کښې د خلافت قید هم لګولې شوې دې،څنګه چې ابن عساکر او طبرانی وغیره د عبد الله بن یسار عن سالم عن ابن عمر په طریقې سره روایت کړې دې:

"إنکم لتعلمون إنا کنا نقول علی عهد رسول الله ﷺ أبوبکر وعمر وعثمان،یعنی فی الخلافة".(۲)

تاسو ته خو پته ده چې مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وئیل چې ابوبکر،عمر او عثمان،یعنی په خلافت کښې د دوی دغه ترتیب دې،چې اوله درجه د ابوبکر ده،بیا د عمر او بیا د عثمان رضی الله عنهم.

"کنا نقول فی عهد رسول الله ﷺ مَن یکون أولی الناس بهذا الأمر؟ فنقول: أبوبکر ثم عمر".(۳)

مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وئیل چې ددې خلافت د امر د تولو نه زیات مستحق څوک دې؟بیا به مونږ(په اتفاق)سره دا وئیل چې د تولو نه اول نمبر ابوبکر،بیا عمر ددې خلافت د کار اهلیت او استحقاق لری.

د بعضې نورو صحابۀ کرامو د افضلیت اقوال: د بعضې حضراتو نه ددې خلاف اقوال هم منقول دی،مثلاً یو قول دادې،چې په تولو کښې افضل په صحابۀ کرامو کښې هغه دې،څوک چې د

---

(۱) المعجم الکبیر للطبرانی،رقم:۱۱۳۰۰۳

(۲) أبوداؤد،کتاب الطب،رقم:۴۶۲۷،والمعجم الکبیر،رقم الحدیث(۱۳۱۸۱)ومجمع الزوائد:۵،۲۱۰،رقم ۸۹۱۳

(۳) المعجم الکبیر للطبرانی،رقم:۱۱۳۲۱۰

رسول الله ﷺ په زمانه کښې شهیدان شوي دی،او بعضې حضراتو په هغوی کښې د جعفر بن أبی طالب نامه هم اخستې ده۔
بعضې حضراتو د حضرت عباس نامه اخستې ده،ولې څنګه چې دا ظاهره ده بالکل ناقابل قبول اوناقابل توجه قول دي،ددې قائل د اهل سنتونه خوځۀ داهل ایمان نه هم نۀ شی کیدې.
او د بعضې خیال دادي،چې افضل الصحابه حضرت عمر رضی الله عنه دي،او د هغوی دلیل د مناقب عمر د سرنامې لاندې ذکر کیدونکې حدیث دي،چې په هغې کښې حضور ﷺ د یو خوب ذکر کړي دي،چې په هغې کښې هغوی ﷺ د حضرت ابوبکر رضی الله عنه متعلق اوفرمائیل، چې د هغۀ په نزع(یعنی د کوهی نه په اوبو راؤباسلو)کښې کمزوری وه،او د حضرت عمر رضی الله عنه په نزع کښې قوت او زیاتوالې وو،ولې دا هم یو ډیر کمزورې استدلال دي۔
د خلافت په ترتیب افضلیت باندې اجماع ده:او صحیح خبره هغه ده،چې بیهقی د امام شافعی رحمه الله نه نقل کړې ده:

"أجمع الصحابة وأتباعهم على أفضلية أبي بكر ثم عمر ثم عثمان ثم علي".(۱)

صحابۀ کرامو او تابعینو په دې خبره باندې اجماع او اتفاق کړې دي،چې د ټولو نه افضل ابوبکر رضی الله عنه دي،بیا حضرت عمر رضی الله عنه،بیا حضرت عثمان رضی الله عنه او بیا حضرت علی رضی الله عنه۔
همدغه خبره شیخ الإسلام ابن تیمیه هم فرمائیلې ده۔(۲)

۵-باب: قَوْلِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً» قَالَهُ أَبُوسَعِيدٍ. [ر: ۴۵۴]

۳۴۵۶، ۳۴۵۷: (۳) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رضي الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُ، أَبَابَكْرٍ وَلَكِنْ أَخِي وَصَاحِبِي

دا د کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ پنځم او د فضائل أبی بکر څلورم باب دي،په دې کښې تقریباً ۲۳ روایات دی،د ټولو تعلق د فضائل أبی بکر سره دي،بیا هم د هر روایت مناسبت د ترجمة الباب سره واضح نۀ دي،او په هر روایت کښې ځان ځان له فوائد هم دی،چې ددې لاندې به بیان کړې شی۔انشاء الله۔
ترجمة الباب سره مناسبت:ددې اولنی روایت مناسبت خو د ترجمة الباب سره بالکل واضح دي،او د باب مقصد هم بالکل ښکاره دي،یعنی د ابوبکر ځانګړې مقام او د هغۀ د رسول الله ﷺ د خلیل کیدو د استحقاق بیان۔(۴)

---

(۱) أصول الدين عند الإمام أبي حنيفة لمحمد بن عبد الرحمٰن الخميس:۱/۱۴۷
(۲) مجموع الفتاوى:۴/۲۲۰
(۳) الحديث سبق تخريجه في كتاب الصلاة،باب الخوخة والممر في المسجد.....
(۴) عمدة القاري:۱۶/۲۴۶

قالَه أبُوْ سَعِيْد: دا تعليق په باب نمبر ۳، باب قول النبى "سدوا الأبواب إلا باب أبى بكر" كښې موصولا مذكور دې۔[۱]

رجال الحديث

مُسلِمُ بنُ ابراهيم: دا مسلم بن إبراهيم القصاب الأزدى الفراهيدى البصرى دې۔ ددۀ حالات د "كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه" لاندې تير شوى دى۔[۲]

وُهَيْبٌ: د وهب تصغير دې، وهيب بن خالد بن عجلان الباهلى البصرى مراد دې، ددۀ حالات هم په "كتاب الإيمان، باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال" كښې تير شوى دى۔[۳]

أيُّوْبُ: دا ايوب بن أبى تميمه كيسان السختياني البصرى دې۔ دده حالات په "كتاب الإيمان، باب حلاوة الإيمان" كښې تير شوي دى۔[۴]

عِكْرِمَةَ: د حديث او تفسير مشهور امام ابو عبد الله عكرمة مولى عبد الله بن عباس رضي الله عنهما مراد دې، ددۀ احوال د "كتاب العلم، باب قول النبى ﷺ اللهم علّمه الكتاب" لاندې تير شوى دى۔[۵]

ابْنِ عَبَّاسٍ: ترجمان القرآن، ابن عمّ رسول الله ﷺ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما مراد دې، ددۀ احوال د "بدء الوحى" د څلورم حديث لاندې تير شوى دى۔[۶]

ايا د رسول الله ﷺ د الله تعالى نه علاوه بل خليل نۀ وو: لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذاً خَلِيْلاً ..... دلته اول حديث خو د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه والا دې، چې تعليقاً مذكور دې، او دويم حديث د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې۔

چې دلته په دريۀ طريقو سره مروى دې، په اوله طريقه كښې دا الفاظ دى، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذاً مِنْ أُمَّتِىْ خَلِيْلاً لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ وَلٰكِنْ أَخِىْ وَصَاحِبِىْ په دويمه طريقه كښې د "وَلٰكِنْ أُخُوَّةُ الإسلام أَفْضَلُ" الفاظ دې او په دريمه كښې هم دغه الفاظ دى، ولې هغه روايت د قتيبه عن عبد الوهاب عن ايوب په طريقې سره دې، دلته ددې حديث دوه جملې دى، په اوله جمله كښې، چې شرط په حرف لَوْ سره راوړلې شوې دې، د هغې مضمون دادې، چې رسول الله ﷺ څوك هم خپل خليل نۀ دى جوړ كړې، د خليل جوړولو نفى ده، په دې كښې خو يوه دا خبره د خيال

---

[۱] اوګورئ: صحيح البخارى، باب قول النبى ﷺ "سُدُّوا الأبواب إلا باب أبى بكر" حديث (۳۶۵٤).
[۲] اوګورئ: كشف البارى: ۱٤۵۵،۲
[۳] كشف البارى: ۱۱۱۸،۲
[٤] اوګورئ: كشف البارى: ۱۲۶،۲
[۵] اوګورئ: كشف البارى: ۱۳۶۳،۳
[۶] كشف البارى: ۱۳٤۵،۱

کولو وړ ده،چې په دې سره مراد هم "نفی الخلیل من الناس" ده،لکه څنګه چې په متعدد روایاتو کښې ددې تصریح هم ده،مثلاً یو روایت دی،د ابو سعید خدری رضی الله عنه په هغې کښې د "غیر ربي" الفاظو زیاتوالې دي.[1]

او د ابن مسعود روایت چې په صحیح مسلم کښې دي،په هغې کښې دا الفاظ دی: "ولکن صاحبکم خلیل الله".[2] دلته د "غیر ربي" الفاظو نه معلومیږی چې په انسانانو کښې د هغوی څوک خلیل نۀ کیدل مراد دی،او د "وقد اتخذ الله....." نه هم معلومیږی،چې په انسانانو کښې د هغوی څوک خلیل نۀ وو،ځکه چې خلیل خو صرف یو وی،او چې الله تعالی هغوی ﷺ خپل خلیل جوړ کړو،نو د هغوی ﷺ خلیل هم صرف الله جل مجده شو،نۀ چې څوک مخلوق.

علامه عینی د ابو الحسن الحربی د تخریج کړی یو روایت ذکر کړې دې،او حافظ ابن حجر د ابو الحسن الحربی په حوالې سره د هغې ذکر کړې دې،دا د أبی ابن کعب رضی الله عنه روایت دې، چې د هغې الفاظ داسې دی:

"إن أحدث عَهدی بنبیّکم قبل موته بخمس، دخلتُ علیه وهو یقول إنه لم یکن نبی وقد اتخذ من أمته خلیلاً وإن خلیلی أبوبکر، "ألا وإن الله اتخذنی خلیلاً کما اتخذ إبراهیم خلیلاً".[3]

ځما چې د رسول الله ﷺ سره د ټولو نه نزدې (یعنی د آخرنی) ملاقات زمانه ده،هغه د رسول الله ﷺ د وفات نه پنځه ورځې وړاندې زمانه ده،زه د هغوی ﷺ خوا ته لاړم،هغوی ﷺ فرمائیل، هر نبی د خپل امت نه یو خلیل جوړ کړې دې،او زما خلیل ابوبکر رضی الله عنه دې،او واؤرئ! الله تعالی زۀ خلیل جوړ کړې یم،لکه څنګه ئې چې ابراهیم علیه السلام خلیل جوړ کړو.

د: روایت د حدیث باب سره معارض دې،ځکه چې په دې کښې د غیر الله د خُلّت اثبات دې،او په حدیث باب کښې ددې نفی ده،علامه عینی فرمائی:

"هذا لا یُقاوِمُ الذی فی الصحیح ولا یُعارِضُه".[4]

دا مذکوره روایت د حدیث باب معارض نۀ شی کیدې،ځکه چې هغه د صحیح روایت دې،چې د غیر صحاح د روایت په مقابله کښې ډیر قوی دې،او بیا د مسلم یو روایت هم د أبی ابن کعب ددې روایت معارض دې،د هغې الفاظ دادی: "إنی أبرأ إلی الله تعالی أن یکون لی منکم خلیل".[5] زه د الله تعالی د پاره ددې خبرې نه د براءت اظهار کوم،چې ستاسو نه زما یو

---

[1] فتح الباری:۹.۲۶.۱۲۷

[2] صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب من فضائل أبی بکر الصدیق،رقم:۶۱۷۵

[3] عمدة القاری:۱۶.۲۲۷،وفتح الباری:۹.۱۲۷

[4] عمدة القاری:۱۶.۳۴۷

[5] صحیح مسلم،باب النهی عن بناء المساجد علی القبور،رقم:۱۱۲۱۶

خلیل وی،دا د جندب روایت دی،او د هغوی هم دا الفاظ دی،چې ما د رسول الله ﷺ د وفات نه پنځه ورځې وړاندې دا اوریدلی دی،هنه ا دا یوه خبره ده،کۀ دا اووئیلې شی چې کۀ د أبی ابن کعب روایت صحیح وی،نو بیا به په دې حدیث او په حدیثِ باب یا ددې مضمون په نورو احادیثو کښې د تطبیق څۀ صورت وی؟

ابوبکر د رسول الله ﷺ د خلیل کیدو ثبوت: علامه عینی فرمائی،په دواړو روایتونو کښې د تطبیق او عدم منافات صورت دادې،چې حضور ﷺ د عاجزئ او تواضعاً لله د وجهې نه د هیڅ یو انسان د خلیل جوړولو نه د براءت اظهار اوکړو،ولې بیا الله سبحانه وتعالی د هغوی ﷺ د خلیل د جوړولو شوق اولیدو،نو هغوی ﷺ ته ئې ددې اجازت ورکړو،او په دې سره د حضرت ابوبکر ؓ اعزاز او اکرام هم مطلوب وو۔[1]

همدغه خبره حافظ ابن حجر هم فرمائیلې ده،او وئیلې ئې دی،چې محبّ الطبری دې ارخ ته اشاره کړې ده۔[2]

حافظ صاحب وړاندې فرمائی چې د ابو امامه نه هم د أبی ابن کعب د روایت په شان روایت منقول دې،او په هغې کښې هیڅ فرق نشته،ماسوا ددې نه چې په دې کښې د پنځو ورځو قید دې،بیا هم دا دواړه روایتونه کمزورې او واهی دی۔[3]

قوله: وَلٰكِنْ أَخِي وَصَاحِبِي: په بعضې روایاتو کښې د الفاظو څۀ اختلاف هم دې،مثلاً په یو روایت کښې د"ولكنه أخي وصاحبي في الله تعالىٰ"[4] الفاظ دی،په بعضې کښې"ولكن أخوة الإسلام أفضل"راغلی دی،[5] همدغه شان په"باب قول النبي"سدُّوا الأبواب إلا باب أبي بكر"کښې د ابو سعید خدری ؓ د روایت لاندې د"ولكن أخوة الإسلام ومودّته""ولكن أخوة الإيمان والإسلام أفضل"او د"ولكن هو أخي في الدين وصاحبي في السراء والضراء والحضر والسفر"الفاظ هم دی۔[6]

یعنی حضرت ابوبکر ؓ زما خلیل خو نۀ دې خو زما دینی ورور او زما د راحت او تکلیف، د حضر او سفر ملګری دې۔

خلّت څۀ ځیز دی؟ د خُلّت او اخوّت په مینځ کښې فرق او د افضل او مفضول په حقله څۀ تفصیل خو د ابوسعید خدری د پورته محوله روایت لاندې تیر شوې دې،دلته هم حافظ ابن حجر ؒ په خلّت،مودّت،محبت،صداقت وغیره کښې د یووالی یا د جداوالی ذکر کړې

---

[1] عمدة القاری:۱۲۴۷،۱۶
[2] فتح الباری:۲۷،۹،بیروت
[3] فتح الباری:۲۷،۹،بیروت
[4] فتح الباری:۲۷،۹،بیروت
[5] فتح الباری:۲۷،۹،بیروت
[6] عمدة القاری:۱۲۴۷،۱۶

دي،هغه فرمائی د اهل لغت وینا ده،چې د خُلّت مرتبه د ټولو نه لوړه او اعلی درجه ده،دې ارخ ته په حدیث باب کښې هم اشاره ده،او هغه داسې کۀ په مقام د خُلّت باندې څوک وې نو هغه به یقیناً ابوبکر وې،ولې د هغوی ﷺ خلیل څوک هم نشته،هنه ! د هغوی ﷺ اخوت حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته حاصل دې،پته اولګیده چې د خُلّت درجه د اخوت نه لوړه ده،همدغه شان دا چې د حدیث کوم الفاظ دی،"لوکنت متخذا خلیلا غیر ربی"ګۀ ما د خپل رب نه علاوه چا لره خلیل جوړولو.....ددې نه هم معلومیږی،چې د خُلّت درجه د ټولو نه لویه ده،ځکه چې خُلّت صرف د الله تعالی سره کیږی،او د محبت،صداقت،مودّت وغیره تعلق بندګانو سره هم کیږي،ځنګه چې د رسول الله ﷺ هم دا تعلق د صحابۀ کرامو سره وو۔
مثلاً د حضرت ابوبکر،حضرت عائشه،حضرت فاطمه،حضرات حسنین رضی اللہ عنہم وغیرهم سره په مختلفو موقعو باندې حضور ﷺ ددې تعلق اظهار کړې دې۔(۱)

رسول الله ﷺ د پاره د الله تعالی خُلّت او محبت دواړه ثابت دی: دلته دا اشکال کیدل هم نۀ دی پکار چې د خُلّت تعلق خو د الله تعالی د ابراهیم علیہ السلام سره هم وو،او د محمد ﷺ سره د الله تعالی تعلق د محبت وو،حال دادې چې محمد ﷺ په درجه کښې د ټولو انبیاؤ او رسولانو نه افضل وو،نو پته اولګیده چې محبت د خُلّت نه لوئې څیز دي.....دا اشکال په دې وجه نۀ دی وارد کیدل پکار چې تهیک ده د محمد ﷺ د پاره د الله تعالی محبت ثابت دې،ولې هغې سره د هغوی ﷺ د پاره خُلّت هم ثابت دې،او چې کله هغوی ﷺ د محبت او خُلّت دواړو جمع کونکی دی،نو بیا د هغوی ﷺ د افضلیت په وجه باندې د محبت د درجې مرتبۀ افضلیت به د خُلّت نه څنګه ثابت شی؟ والله اعلم۔(۲)

د خلیل معنی او د اشتقاق ماده: زمخشری فرمائی: "الخلیل هو الذی یوافقك فی خلالك ویسایرك فی طریقك أو الذی یسُدُّ خلَلَك وتَسُدُّ خلَله،أو یداخلُك خلالَ منزلك"۔(۳)
یعنی خلیل هغه سړی ته وئیلې شی،چې تا سره ستا په خصلتونو کښې موافقت اوکړی،او ستا په لار باندې تا سره لاړ شی،یا بیا خلیل هغه دې،چې ستا کمې او خلاء پوره کړی،او تۀ د هغۀ کمې پوره کړې،او یا خلیل هغه دې،چې تا سره ستا کور ته د دننه پورې لاړ شی۔
او بنکاره ده دا ټول څیزونه د نزدې تعلق او په خپل مینځ کښې د حد نه زیات مناسبت او د موافقت علامات دی،او زمخشری دا ټول وجوه د اشتقاق وجوه جوړول جائز ګرځولی دی،(۴) په دې سلسله کښې نور هم متعدد اقوال دی۔

او بل قول په دې حوالې سره دادې،چې د خُلّت اصل معنی ده،"انقطاع الخَلیل إلی خَلِیلِه" د یو

---

۱) فتح الباری:۹،۲۷ بیروت۱
۲) فتح الباری:۹،۲۷،بیروت۱
۳) تفسیر کشاف:۱،۵۶۹۱
۴) فتح الباری:۹،۲۷ بیروت۱

دوست د خپل دوست د پاره د نورو نه کټ کیدل او جدا کیدل۔

دویم قول دادې، "الخَلیل من یتخلّله سرُّك" خلیل هغه دې چې هغه سره ستا راز وی۔

یو بل قول دې، "من لایسع قلبُه غیرَك" چې د چا په زړه کښې ستا نه علاوه د بل چا ځائې نۀ وی یو قول دادې، چې د خُلّت اصل معنٰی استصفاء ده، یعنی څوك صفی جوړول۔

یا د خلیل معنٰی ده، "المختص بالمَوَدّة" چې څوك د محبت او مودّت د پاره خاص کړې شی۔

یو بل قول دادې، چې د خلیل اشتقاق په اصل کښې د خَلّة بفتح الخاء نه دې، چې د هغې معنٰی ده، حاجت او ضرورت، نو په دې شان سره هم د سړی خلیل به هغه وی، چې چا ته ئې حاجت او ضرورت وی، او په احتیاج کښې هغه اړخ ته دې رجوع اوکړی، خو دا به په هغه صورت کښې وی، چې انسان د انسان خلیل وی، او کله چې انسان د الله تعالی خلیل وی، نو بیا د "خُلّة الله" معنٰی به وی، نصرة الله او عون الله یعنی د الله تعالی نصرت او مدد۔[۱]

۳۴۵۷:[۲] حَدَّثَنَا مُعَلَّى وَمُوسَى قَالاَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ أَيُّوبَ وَقَالَ «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُهُ خَلِيلاً، وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الإِسْلاَمِ أَفْضَلُ» حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ عَنْ أَيُّوبَ مِثْلَهُ. [ر: ۴۵۵]

رجال الحدیث

مُعَلّی بْنُ أَسَد: دا معلی بن اسد دې۔ ددۀ احوال په "کتاب التیمم، باب المرأة تحیض بعد الإفاضة" کښې تیر شوی دی۔[۳]

مُوسٰی بْنُ اسماعیل: ابو سلمة موسٰی بن اسماعیل التبوذکی البصری مراد دې۔ ددۀ څۀ احوال "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی،[۴] او څۀ په "کتاب العلم، باب من أجاب الفتیا بإشارة الید والرأس کښې۔[۵]

تبوذکی: په اکثرو نسخو کښې هم "تبوذکی" وارد دې او هم دغه صحیح دې، او په روایت د أبی ذر کښې تنوخی راغلې دې، چې هغه تصحیف کړځولې شوې دې۔[۶]

وُهَیْبٌ: دا وهیب بن خالد الباهلی دې۔ ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب تفاضل أهل الإیمان فی

---

[۱] فتح الباری: ۲۷،۹، بیروت۱

[۲] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصلاة، باب الخوخة والممرّ فی المسجد.....

[۳] کتاب الحیض، باب المرءة تحیض بعد الإفاضة.....

[۴] اوګورئ کشف الباری: ۴۳۳،۱، ۴۳۴۱

[۵] اوګورئ کشف الباری: ۴۷۵،۳۱

[۶] فتح الباری: ۲۷،۷۱

الأعمال" کښې تیر شوی دی۔[۱]

أَيُّوبَ: دا ایوب السختیانی دې۔ ددۀ حالات په "کتاب الإیمان، باب حلاوة الإیمان" کښې تیر شوی دی.

۳۴۵۸: [۲] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ كَتَبَ أَهْلُ الْكُوفَةِ إِلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ فِي الْجَدِّ. فَقَالَ أَمَّا الَّذِي قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُهُ». أَنْزَلَهُ أَبًا يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ

رجال الحديث

سُلَيْمَانُ بنُ حَرْبٍ: دا سلیمان بن حرب بن بُجیل ازدی دې۔ ددۀ حالات د "کتاب الإیمان، باب من کَرِهَ أن یعود فی الکفر" لاندې تیر شوی دی۔[۳]

حَمَّادُ بنُ زَيْدٍ: دا حماد بن زید بن درهم ازدی بصری دې۔ ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، وإن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا....." لاندې تیر شوي دی۔[۴]

أَيُّوبَ: د ایوب متعلق اوس پورته د ابن عباس د حدیث لاندې اووئیلې شو۔

عَبدِ اللهِ بنِ ابی مُلَيْكَةَ: دا ابوبکر عبد الله بن أبی مُلیکة زهیر بن عبد الله بن جدعان التیمی دې ۔ ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب خوف المؤمن من أن یحبط عمله" لاندې تیر شوی دی۔[۵]

قوله: كَتَبَ أَهْلُ الْكُوفَةِ إِلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ: د اهل کوفې نه مراد بعضې اهل کوفه یعنی عبد الله بن عتبه بن مسعود دې، چې هغه عبد الله بن زبیر د خپل امارت په زمانه کښې د کوفې قاضی جوړ کړې وو، امام احمد رحمه الله د سعید بن جبیر رضی الله عنه په طریقې سره روایت نقل کړې دې، هغه فرمائی:

"کنتُ عند عبدِ الله بن عتبه، وکان ابن الزبیر جَعَلَه علی القضاء فجاءَه کتابُه، کتبتَ تسئَلُنی عن الجدِّ".[۶]

زۀ عبد الله بن عتبه سره ووم، چې هغه عبد الله بن زبیر رضی الله عنه د کوفې قاضی جوړ کړې وو، نو هغۀ ته د ابن زبیر رضی الله عنه خط راغې، چې په هغې کښې هغۀ لیکلی وو، چې تا ما ته د نیکۀ د میراث په حقله خط لیکلې وو..... بیا هغه تفصیل دې، چې په حدیث باب کښې دې۔

او د "لاتخذت أبابکر" نه ورسته د "ولکن أخی فی الدین وصاحبی فی الغار" الفاظ دی۔

---

[۱] کشف الباری: ۱۱۱۸،۲

[۲] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصلاة، باب الخوخة والممرّ فی المسجد.....۱

[۳] اوګورئ کشف الباری: ۱۲،۱۰۵

[۴] اوګورئ کشف الباری: ۱۲۱۹،۲

[۵] اوګورئ کشف الباری: ۱۵۴۸،۲

[۶] مسند احمد جزء ۶، مسند أبی بکر، رقم: ۱۱۶۱۵۲

او د احمد په نزد ابن جريج عن ابن أبى مليكة په طريقې سره چې دا حديث مروى دې، په هغې کښې دا الفاظ دى، "لو كنتُ متخذاً خليلاً سوى الله حق ألقاه".(۱)
پاتې شوه خبره د نيکۀ د ميراث په حقله، چې د هغې دلته ذکر دې، نو د هغې تفصيل به په کتاب الفرائض کښې راشى.
په حديث او ترجمة الباب کښې مطابقت واضح دې، چې په حديث کښې د ابوبکر د فضيلت ذکر دې، او په ترجمة الباب کښې هم.....(۲)

۳۴۵۹:(۳) حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالاَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَتِ امْرَأَةٌ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ. قَالَتْ أَرَأَيْتَ إِنْ جِئْتُ وَلَمْ أَجِدْكَ كَأَنَّهَا تَقُولُ الْمَوْتَ. قَالَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ « إِنْ لَمْ تَجِدِينِى فَأْتِى أَبَا بَكْرٍ». [۶۷۹۴ ، ۶۹۲۷]

رجال الحديث

اَلْحُمَيْدِيُّ: دا ابوبکر عبدالله بن الزبير الاسدى الحميدى المکى د امام بخارى مشهور استاذ دې، ددۀ احوال په "بدء الوحى" کښې(۴) او بيا په "كتاب العلم، باب قول المحدث، حدثنا أو أخبرنا أو أنبانا" لاندې تير شوى دى.(۵)

مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدُ الله: دا محمد بن عبيد الله بن محمد بن زيد ابن أبى زيد القرشى الاموى ابو ثابت المدنى دې، چې د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه غلام وو.

د راوى په نوم کښې غلطى: ددۀ صحيح نوم د بخارى په اکثرو نسخو کښې همدغه شان د بخارى په شروحاتو کښې دلته په کتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ کښې محمد بن عبدالله منقول دې، چې صحيح نۀ دې، ددۀ صحيح نوم محمد بن عبيد الله دې.(۶)

---

۱) مسند احمد مسند أبى بكر الصديق، رقم: ۱۱۶۱۵۷
۲) عمدة القارى: ۱۶،۲۴۷
۳) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه: ۱،۵۱۶، كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ، باب قول النبى ﷺ، لو كنت متخذا خليلا، رقم: ۳۶۵۹، وفى: ۲،۱۰۷۲، كتاب الأحكام، باب الاستخلاف، رقم: ۷۲۲۰، وفى: ۲،۱۰۹۳، كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، باب الأحكام التى تعرف بالدلائل، رقم: ۷۳۶۰، ومسلم فى صحيحه: ۲،۲۳۷، كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل أبى بكر، رقم: ۲۳۸۶، والترمذى فى جامعه: ۲،۲۰۸، فى المناقب، باب مناقب أبى بكر، رقم: ۳۶۷۷.
۴) اوګورئ: كشف البارى: ۱،۲۳۷
۵) اوګورئ: كشف البارى: ۳،۱۹۹
۶) اوګورئ: تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف للحافظ المزى: ۲،۴۱۳، رقم (۳۱۹۲)، المكتب الإسلامى بيروت

همدغه نوم په "كتاب الإيمان، باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال" كښې مذكور دې[۱] او هم د دغې باب لاندې ددۀ مختصر احوال هم مذكور دى۔[۲]

دۀ د إبراهيم بن سعد، إبراهيم بن على الرافعى، اسامة بن حفص، حاتم بن اسماعيل، زكريا بن منظور القرظى، صالح بن قدامة بن إبراهيم الجُمحى، عباس بن عبد المهيمن بن عباس بن سهل بن سعد الساعدى، عبد الله بن الحارث بن محمد بن الحاطب الحاطبى، عبد الله بن وهب، عبد الرحمٰن بن سعد المؤذن، عبد الرحمٰن بن عمر العُمرى، عبد العزيز بن أبى حازم، عبد العزيز بن محمد الدراوردى، عبد المهيمن بن عباس بن سهل بن سعد الساعدى، عمر بن طلحة بن علقمة بن وقاص، مالك بن انس، محمد بن صالح بن قيس الاذرق نه روايت كړې دي.

او د دۀ نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، إبراهيم بن عبد الله بن الجنيد الخُتلى، احمد بن نصر النيسابورى، اسماعيل بن اسحاق القاضى، حماد بن اسحاق، عباس بن الفضل الاسفاطى، ابوزرعه عبيد الله بن عبد الكريم الرازى، محمد بن إبراهيم البكرى، ابو حاتم محمد بن ادريس الرازى، محمد بن عبد الوهاب الازهرى او موسىٰ بن سهل الرملى شامل دى[۳]

ابو حاتم دې صدوق كړځولې دې۔[۴]

ابن حبان ددۀ ذكر په كتاب الثقات كښې كړې دې۔[۵]

ابن سعد فرمائى، "كان فاضلاً خيراً"۔[۶]

د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې۔

دا نښه څوك وه: أتَتِ امْرَأَةٌ..... دا نښه څوك ده، حافظ ابن حجر فرمائى، "لم أقف على اسمها" مونږ ته ددې نوم معلوم نۀ شو، نور شارحين هم دغه فرمائى۔[۷]

بيادلته په بعضې نسخو كښې "اتت النبى" دې، او په بعضې نسخو كښې د "الى النبى" الفاظ دى[۸]

ابوبكر د نبى ﷺ د جانشين كيدو اعلان: إن جئتُ ولم أجدكَ..... كۀ څه راشم او تاسو اونۀ مومم يعنى تاسو وفات شوى ئې، دا د موت نه كنايه ده، علامه عينى فرمائى، ددۀ مطلب دادې، إن جئت فوجدتكَ قد متَّ ماذا أعمل.....؟[۹] كۀ زۀ راغلم او اووينم چې تاسو وفات

---

[۱] صحيح البخارى، كتاب الإيمان، رقم (۲۳)
[۲] كشف البارى: ۱۱۲۰،۲
[۳] اوګورئ تهذيب الكمال فى اسماء الرجال: ۲۶، ۴۶، ۴۷، رقم الترجمة (۵۴۳۶)
[۴] اوګورئ الجرح والتعديل: ۸، الترجمة: ۱۱۹
[۵] الثقات لابن حبان: ۹، ۸۰
[۶] طبقات ابن سعد: ۵، ۱۴۴۱
[۷] اوګورئ فتح البارى: ۹، ۲۷، وإرشاد السارى: ۸، ۱۱۵۱
[۸] إرشاد السارى: ۸، ۱۵۱، وتحفة البارى: ۴، ۱۱۹۵
[۹] عمدة القارى: ۱۶، ۱۲۴۸

شوی ئې نو بیا زهٔ څهٔ اوکړم۔
او حافظ صاحب د یزید بن هارون عن ابراهیم بن سعد په طریقې سره د بلاذری روایت نقل کړې دې، چې په هغې کښې دا الفاظ دی: "قالت فان رجعتُ فلم أجدك، تعرِّض"۔(۱)
هغې اووئیل کهٔ زهٔ واپس راشم او تاسو اونهٔ مومم.....؟دا هغې مرګ اړخ ته تعریض او اشاره کوله۔ په صحیح بخاری، کتاب الأحکام کښې د عبد العزیز بن عبد الله په طریقې سره دا الفاظ منقول دی، "کانها تزید الموت"۔(۲)
او "کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة" کښې د حُمیدی روایت دې، چې د هغې الفاظ دی: "کأنها تعنی الموت"۔(۳) هغې ګویا مرګ اړخ ته اشاره کوله او د هغې مطلب دا وو، کهٔ زهٔ راشم او ستاسو رحلت شوې وی، نو بیا زهٔ څهٔ اوکړم؟
اوس د "کأنها" قائل څوک دې، په دې کښې اختلاف دې، او قاضی عیاض چې په کومه خبره باندې جزم او یقین اظهار کړې دې، هغه دا ده، چې ددې قائل راوی د حدیث حضرت جُبیر بن مطعم دې، او هم دا حافظ ابن حجر هم مختار ګرځولې دې، اګر چې دا احتمال هم دې، چې ددې قائل په ورستنو راویانو کښې بل څوک وی۔(۴)
طبرانی دا مضمون په یو بل لفظ سره بیان کړې دې، هغوی د عصمة بن مالك د روایت نه دا الفاظ نقل کوی، "قلنا یا رسولَ الله إلی مَن ندفع صدقاتِ أموالِنا بعدَك"۔(۵)
مونږ به ستاسو نه ورستو د خپلو مالونو زکوٰة چا ته ورکوو؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل، "الیٰ أبی بکر الصدیق" یعنی ابوبکر صدیق ته!
په حدیث باب کښې د نبی کریم ﷺ نه ورستو د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغوی ﷺ د خلیفه کیدو اړخ ته اشاره ده، د طبرانی روایت کهٔ ثابت شی، نو دا به د ابوبکر صدیق د پیغمبر ﷺ د جانشین کیدو ددې نه زیات صریح دلیل وی، خو د هغې سند ضعیف دې۔(۶)
ددې مضمون یو روایت اسماعیلی په خپل معجم کښې د سهل بن أبی خیثمه نه نقل کړې دې، هغه فرمائی: "بایع النبی ﷺ أعرابیاً، فسأله إن أتی علیه أجلُه مَن یقضیه؟ فقال أبوبکر! ثم سأله من یقضیه بعده؟ قال عمرُ!"۔(۷)

---

۱) فتح الباری: ۱۲۷،۹
۲) صحیح بخاری، کتاب الاحکام، رقم: (۷۳۲۰)
۳) صحیح البخاری، کتاب الأحکام، رقم (۷۳۲۰)
۴) فتح الباری: ۱۲۸،۹
۵) المعجم الکبیر للطبرانی، رقم: ۱۱۳۹۱۳
۶) فتح الباری: ۱۲۸،۹
۷) معجم الاسماعیلی، حرف العین: ۷۰۲، مکتبة العلوم والحکم۔

یو اعرابی د رسول الله ﷺ سره د اخستلو خرڅولو معامله اوکړه،نو رسول الله ﷺ ته ئې اووئیل،کۀ ستاسو مقرر وخت په تاسو باندې راشی،نو ددې(سړی)حق به څوك ورکوی؟ پیغمبر اوفرمائیل،ابوبکرا هغوی اووئیل کۀ هغه نۀ وی نو بیا؟ نو هغوی ﷺ اوفرمائیل، عمرا دا طبرانی په خپل اوسط کښې هم جمع کړې دې۔(۱)

۳۴۶۰:(۲) حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ أَبِي الطَّيِّبِ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُجَالِدٍ حَدَّثَنَا بَيَانُ بْنُ بِشْرٍ عَنْ وَبَرَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ هَمَّامٍ قَالَ سَمِعْتُ عَمَّارًا يَقُولُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَمَا مَعَهُ إِلاَّ خَمْسَةُ أَعْبُدٍ وَامْرَأَتَانِ وَأَبُو بَكْرٍ. [۳۶۴۴]

رجال الحديث

أحمدُ بْنُ ابی الطَّيِّب:دا د امام بخاری شیخ دې،او امام بخاری غالباً ددۀ نه هم په دې یو ځائې کښې روایت کړې دې،دا حدیث ددې باب نه علاوه په کتاب المناقب "باب إسلام أبي بكر" کښې هم د عبد الله بن یحیی بن معین په طریقې سره مروی دې۔(۳)

د احمد بن أبی الطیب د پلار کنیت ابو الطیب او نوم سلیمان البغدادی دې،او پخپله د راوی کنیت ابو سلیمان او نسبت المروزی دې۔(۴)

امام بخاری په خپل تاریخ کښې فرمائی:"أحمد بن سليمان هو ابن أبي الطيب، أبو سليمان مولى"۔(۵)

ددې نه هم دغه معلومیږی چې د احمد د پلار نوم سلیمان او د هغه کنیت ابو الطیب دې،بعضې حضراتو ددۀ ته احمد بن سلیمان أبی الطیب وئیلی دی۔(۶)

"أبو الطيب" د أحمد نیکۀ دې،یعنی د سلیمان پلار یا پخپله ددې(احمد)د پلار د سلیمان کنیت دې،په دې کښې اختلاف دې،حافظ مزی رحمہ اللہ دا د سلیمان لقب ګرځولې دې۔(۷)او همدغه رائې د امام بخاری(۸)ابونصر کلابازی(۹)او د ابن عساکر هم ده۔(۱۰)

---

۱) معجم الإسماعیلی،ص:۷۰۲\

۲) الحدیث أخرجه البخاری فی صحیحه:۱،۵۱۶،کتاب فضائل أصحاب النبی،باب قول النبی ﷺ "لو كنتُ متخذا خليلاً"،رقم:۳۶۶۰،وفی:۱،۵۴۴کتاب مناقب الأنصار،باب إسلام أبی بكر الصديق رضی اللہ عنہ،رقم:۳۸۵۷\

۳) صحیح البخاری،رقم(۳۸۵۷)\

۴) اوګورئ:تهذیب الکمال:۱،۳۵۷\

۵) التاریخ الکبیر:۲،۳۰۴\

۶) تاریخ الإسلام للذهبی:۶،۱۱۵\

۷) تهذیب الکمال:۱،۳۵۷\

۸) التاریخ الکبیر للبخاری:۲(۱۳۹۳)\

۹) رجال البخاری:۱،۱۱۰\

۱۰) تهذیب الکمال:۱،۳۵۷\

او ابن أبی حاتم ابو الطیب د احمد نیکهٔ او د سلیمان پلار ګرځولې دې۔[۱]

په "مرو" کښې د یوئې زمانې پورې د هغهٔ قیام پاتې شوې دې، په دې وجه هغې ارخ ته ددهٔ نسبت اوکړې شو، او د مروزی په نوم سره مشهور شو۔

ددې نه ورسټو ئې په "ری" کښې استوګنه اختیار کړه، بیا بغداد ته راغلو، ددهٔ شمیر هم په موالیو کښې کیږی۔[۲]

شیوخ او تلامذه: ددهٔ نه په روایت کونکو کښې امام بخاری، احمد بن زکریا بن کثیر الجوهری، احمد بن سعید بن صخر الدارمی، احمد بن سیار المَروزی، ابوبکر احمد بن هانی الطائی الاثرم، جراح بن مَخلد العجلی، جعفر بن محمد بن شاکر الصائغ، سهل بن بحر، عبد الله بن منیر المروزی، ابو زرعه عبید الله بن عبد الکریم الرازی، محمد بن اسحاق الصاغانی، محمد بن سعد الشاشی ومحمد بن یحیٰ الذهلی، او یعقوب بن شیبه السدوسی شامل دی۔

او د کومو حضراتو نه چې دې روایت کوی، په هغې کښې إبراهیم بن سعد الزهری، أبو اسحاق إبراهیم بن محمد بن الحارث الزراری، بشر بن الحسین الهلالی، جریر بن عبد الحمید، حجاج بن محمد المصیصی، حسن بن عبد الرحمٰن الحارثی، أبو الملیح حسن بن عمر الرَّقِّی، حفص بن غیاث النخعی، أبو أسامه حمّاد بن أسامة، خالد بن عبد الله الواسطی، رشدین بن سعید المصری، سفیان بن عیینه، أبو داؤد سلیمان بن داؤد الطیالسی، سهل بن أسلم العدوی، صالح بن عمر الواسطی، عبد الله بن سنان الکوفی، عبد الله بن المبارك، عبد الواحد بن واصل، أبو عبیدة الحداد، عبید الله بن عمرو الرَّقِّی، علی بن الحسن بن شقیق، محمد بن میمون الزعفرانی، مروان بن شجاع الجزری، مصعب بن سلام الکوفی، معاذ بن معاذ العنبری، معافی بن عمران الموصلی، نضر بن شمیل، نضر بن مُحرِز بن بعیث هشیم بن بشیر، وکیع بن الجراح، ولید بن القاسم بن الولید الهمدانی، یحیٰی بن آدم، یحیٰی بن بشر النصیبی او یوسف بن عطیه الصفار وغیره شامل دی۔[۳]

د جرح او تعدیل په باب کښې اقوال: عبد الرحمٰن ابن أبی حاتم فرمائی:

"سألتُ أبا زرعةَ عنه، فقال: هو بغدادی الأصل خرج إلی مَرو ورجع إلینا وکَتبنا عنه، وکان حافظاً، قلت: هو صدوق؟ قال علی هذا یُوضع"۔[۴]

ذهبی چې د ابوزرعه نه کوم الفاظ نقل کړی دی، هغه دادی، "محله الصدق"[۵]

---

[۱] الجرح والتعدیل: ۲ (۵۷)\

[۲] تهذیب الکمال: ۱\۳۵۷

[۳] تهذیب الکمال: ۱\۳۵۹

[۴] د ابن أبی حاتم په کتاب "الجرح والتعدیل" کښې او د حافظ ابن حجر په "تهذیب" کښې هم دغسې دی، او په "تهذیب الذهبی" کښې "أهو صدوق" راغلی دی۔ اوګورئ حاشیة تهذیب الکمال: ۱\۳۵۹۔

[۵] تهذیب الکمال: ۱\۳۵۹

نو حافظ ابو زرعه دي صدوق ګرځولي دي.

او ابو حاتم وائی، ضعیف الحدیث.(۱)

ابن حبان هم په کتاب الثقات کښې ددۀ ذکر کړي دي.(۲)

علامه ذهبی ددۀ متعلق فرمائی:

"أحمد بن سليمان بن أبي الطيب عن هشيم، وثّق و ضعّفه أبو حاتم وحده. وقال أبوزرعة: حافظ، محلّه الصدق..... قلتُ: حدّث عنه البخاری وطائفةٌ".(۳)

د احمد بن سلیمان بن أبی الطیب عن هُشَیم توثیق کړې شوې دي، او صرف ابو حاتم ددۀ تضعیف کړې دي، ابوزرعه وائی، حافظ الحدیث دي، او ددۀ مقام صدق دي، زۀ وایم بخاری او یو جماعت ددۀ نه احادیث روایت کړی دی، (چې ددۀ توثیق او تائید دي).

ابو عوانۀ وائی: "حدّثنا أحمد ابن إبراهيم البغدادی، حدّثنا أحمد بن أبي الطيب ثقة".(۴)

علامه مغلطائی ددۀ د وفات تاریخ سن ۲۳۰ هـ لیکلې دي.(۵)

حافظ ذهبی په طبقه نمبر ۲۲ او طبقه نمبر ۲۳ کښې ددۀ ذکر کړې دي.(۶)

په صحیح بخاری کښې دا ددۀ اولنې بلکه هم دغه یو روایت دي.(۷)

اکثرو ائمۀ خو ددۀ توثیق کړې دي، نو دا ددۀ د معتمد علیه او ثقه کیدو دلیل دي.

او تر کومې پورې چې د ابو حاتم د تضعیف تعلق دي، نو ددې متعلق حافظ ابن حجر په "تقریب" کښې فرمائی:

"صدوق، حافظ، له أغلاط ضعّفه بسببها أبوحاتم وماله في البخاری سوی حديثٍ واحدٍ متابعة".

یعنی دي ریښتوني راوی دي، او حافظ دي، ولې ددۀ څۀ غلطئ شته، او هم د هغې په سبب ابو حاتم دي ضعیف ګرځولي دي، او ددۀ په بخاری کښې هم دغه یو روایت دي، او ددې متابع موجود دي.

په "کتاب مناقب الأنصار، باب إسلام أبي بكر الصديق"(۸) کښې د یحیٰی بن معین نه ددې متابع روایت موجود دي، او هم ددې په وجه باندې سره د ضعف نه دا روایت په دې باب کښې ذکر

---

۱) تهذیب الکمال: ۱، ۳۵۹، والجرح والتعدیل لابن أبی حاتم الرازی: ۲، ۱۱۳\

۲) کتاب الثقات؟\

۳) تهذیب الکمال: ۱، ۳۵۹\

۴) تهذیب الکمال: ۱، ۳۵۹\

۵) اکمال تهذیب الکمال: ۱، ۱۱۶\

۶) انظر تاریخ الإسلام ووفیات المشاهیر والاعلام للذهبی: ۵، ۵۲۰، و: ۶، ۱۵، دار الکتب العلمیة بیروت\

۷) تهذیب الکمال: ۱، ۴۵، وتهذیب الکمال: ۱، ۳۵۹\

۸) اوګورئ رقم (۳۸۵۷)\

کړي شوي دي۔[۱]

اسماعیل بن مُجالد: ددۀ هم په صحیح بخاری کښې دا اولنې روایت دې،ددۀ نوم او نسب داسې دی:أبوعُمر الکوفی،إسماعیل بن مُجالد بن سعید الهمدانی نزیل بغداد.

ددۀ په شیوخو کښې إسماعیل بن أبی خالد،أبو بشر بَیان بن بشر،سماك بن حرب عبد الملك بن عُمیر،أبو إسحاق عَمرو بن عبدالله السَّبیعی(ددۀ پلار) مُجالد بن سعید او هلال بن حمید الوزان شامل دی.

او ددۀ نه په حدیث اخستونکو کښې د إبراهیم بن زیاد سَمَلان،أحمد بن أبی الطیب،أحمد بن معاویة بن بکر بن معویة الباهلی،جمهور بن منصور الکوفی،سُریج بن یونس،سعد بن زنبور الهمدانی،صباح بن مروان،عثمان بن محمد بن أبی شیبه،أبو الحسن علی بن محمد القُرَشی المدائنی،عمر بن إسماعیل بن مُجالد(ددۀ خوئې)أبو عبید القاسم بن سلاّم،محمد بن حسان السَّمنی،أبوبکر محمد بن خلاد الباهلی او یحیٰی بن معین نومونه اخستلې شی۔[۲]

د جرح او تعدیل د امامانو په عدالت کښې: مُهنّا بن یحیٰی وائی امام احمد بن حنبل فرمائی:"کان هاهنا بهغداد"دې به دلته په بغداد کښې وو،مُهنّا وائی:ما اووئیل"أدرکته"آیا تاسو دې موندلې دې؟وې فرمائیل،"نعم!"هاؤ،ما اووئیل، "سمعت منه؟" آیا تا د هغۀ نه حدیث اؤریدلې هم دی،وې وئیل"لا" نه!،ما اووئیل،ددۀ تعلق د کوم ځائې سره وو؟وې فرمائیل،"کوفې"په اصل کښې د کوفې وو۔[۳]

او عبد الله بن احمد بن حنبل د خپل پلار نه روایت کوی،"ما أراه إلا صدوقاً"[۴]،زما له مخې خو هغه ریښتونې وو۔

یحیٰی بن معین وائی،"لیس به بأس"هغه ښۀ سړې وو۔[۵]

عباس الدوری وائی چې یحیٰی بن معین فرمائی،"ثقة"هغه ثقه راوی دې۔[۶]

امام بخاری وائی،"صدوق"ریښتونې وو۔[۷]

---

[۱] الکاشف للذهبی:۱،۱۹۶

[۲] تهذیب االکمال:۳،۱۷۵

[۳] تهذیب الکمال:۳،۱۸۵

[۴] تهذیب الکمال:۳،۱۸۵،والتاریخ للخطیب البغدادی:۶،۲۴۶

[۵] تهذیب الکمال:۳،۱۸۵،الجرح والتعدیل لابن أبی حاتم:۲،۱۳۸

[۶] تهذیب الکمال:۳،۱۸۶،وتاریخ الإسلام للذهبی:۵،۱۲۸

[۷] میزان الاعتدال:۱،۲۳۶،وتهذیب الکمال:۳،۱۸۶

ابو داؤد وائی، "أثبت من أبیه" د خپل پلار نه زیات معتبر دي۔[۱]

نسائی وائی، "لیس بالقوی" قوی نۀ دي۔[۲]

إبراهیم بن یعقوب الجوزجانی وائی "غیر محمود" خوښ کړي شوي نۀ دي۔[۳]

ابو زرعه وائی، "لیس ممن یکذب بمرة، وسط" یو واري هم ددۀ تکذیب نۀ شی کیدي، غوره سړي دي۔[۴]

ابو حاتم وائی، "کان یکون ببغداد وهو کما شاء الله"۔[۵] په بغداد کښې به وو، او هم داسې وو څنګه چې الله تعالی غوښتلو۔

امام بخاری، ترمذی او نسائی د هغۀ نه روایت کړی دی۔[۶]

حاکم د دار قطنی نه نقل کوی، "لیس فیه شك أنه ضعیف"[۷] په دې کښې هیڅ شك نشته، چې هغه ضعیف دي۔

په تعدیل او تضعیف کښې محاکمه داسې کیدي شی، چې هغه دي ریښتونې راوی وی، ولې د هغۀ نه غلطیاني شوی دی، نو کومو حضراتو چې د هغۀ تضعیف کړي دي، هغوی د دغې خطاګانو په وجه کړي دي، ولې په دې سره هغه د اعتبار قابل کیدو نه نۀ ساقطیږی، اګر چې قوت او حیثیت د هغۀ څۀ قدري مجروح کیږی، هم دغه وجه ده، چې ذهبی هغۀ ته "صدوق" وئیلی دی۔[۸]

او ابن حبان فرمائیلی دی، "یخطئ"۔[۹]

یعنی ذهبی صرف د هغۀ د معتبر کیدو وجه اوښودله، او ابن حبان د ضعیف کیدو، او حافظ ابن حجر د دواړو ذکر اوکړو، نو وې فرمائیل، "صدوق یخطئ"۔[۱۰]

همدغه وجه ده چې په بخاری کښې ددۀ هم دغه یو روایت دي، او هغه هم مرفوع نۀ دي[۱۱]

---

[۱] تهذیب الکمال: ۱۸۶، وتاریخ الخطیب: ۲۴۶،۶، ۲۴۷

[۲] تهذیب الکمال: ۱۸۶،۳، وتاریخ الإسلام للذهبی: ۱۲۸،۵

[۳] بعضې حضراتو د مذموم لفظ استعمال کړي دي، تهذیب الکمال: ۱۸۶،۳

[۴] تهذیب الکمال: ۱۸۶، والجرح والتعدیل: ۱۳۸،۲

[۵] تهذیب الکمال: ۱۸۶،۳، والجرح والتعدیل: ۱۳۸،۲

[۶] تهذیب الکمال: ۱۸۷،۳

[۷] تاریخ الإسلام: ۱۲۸،۵

[۸] الکاشف: ۲۴۹،۱، رقم الترجمة (۴۰۳)

[۹] الثقات لابن حبان: ۲۰۰،۳

[۱۰] تقریب التهذیب، ص: ۱۰۹، ترجمه (۴۷۶)

[۱۱] اوګورئ الکاشف: ۲۴۹،۱

یعنی بخاری په دد باندې اعتماد نۀ کوی، صرف د "شاهد" او "تابع" په توګه ئې راوړلې دي۔
د وفات تاریخ دې اکثرو حضراتو نۀ دې لیکلې، هنه ! ذهبی په یو کم شلمه طبقه کښې ددۀ شمیر کړې دې، چې د هغې خلق د ۱۸۱ هـ او د ۱۹۰ هـ په مینځ کښې وفات شوی دی۔[1]

بَیَانُ بْنُ بِشْرٍ: دا بیان بن بشر، أبو بشر الأحمسی البجلی، الکوفی المعلِّم دې۔
د لاندې ذکر کړې شوې حضراتو نه دوی احادیث نقل کړی دی:

إبراهیم التیمی، أنس بن مالك، حُصَین بن صفوان، حکیم بن جابر الأحمسی، حُمران بن أبان أبو عاصم رفاعه بن شداد الفتیانی، طارق بن شهاب الأحمسی، طلحة بن مصرِّف، عامر بن شراحیل الشعبی، عامر بن عبدالله بن زبیر الأسدی، عبد الرحمٰن بن الأسود بن یزید النخعی، عبد الرحمٰن بن أبی الشعثاء المحاربی، عبد الرحمٰن بن أبی لیلیٰ، عبد الرحمٰن بن هلال العبسی، عکرمة مولیٰ ابن عباس، قیس بن أبی حازم الأحمسی، أبو جعفر محمد بن علی بن الحسین بن علی بن أبی طالب، موسیٰ بن طلحة بن عبید الله، وبرة بن عبد الرحمٰن المُسلِيّ، أبو صالح الحنفی، أبو عمرو الشیبانی.

او ددۀ نه په روایت کونکو کښې: إسرائیل بن یونس بن أبی اسحاق إسماعیل بن أبی خالد الأحمسی، إسماعیل بن مُجالد بن سعید، أیوب بن جابر الحنفی، جریر بن عبد الحمید الضبّی، جعفر بن زیاد الأحمر، حسن بن صالح بن حی، حکم بن عبد الملك، خالد بن عبد الله الواسطی، داهر بن یحیٰی الأحمری، والد عبد الله بن داهر الرازی، زائد بن قدامة، زهیر بن معاویة، سفیان الثوری، سفیان بن عیینه، سنان بن هارون البُرجمی، أبو الأحوص سلاّم بن سُلَیمه، شریك بن عبد الله النخعی، شعبة بن الحجاج، أبو الأسود عبد الرحمٰن بن عامر، مولیٰ بنی هاشم، عَبِیدة بن حُمید، علی بن عاصم الواسطی، عنبسة بن عبد الواحد القرشی، فُضیل بن عِیاض، محمد بن فضیل بن غزوان، مِسعر بن کِدام، معتمِر بن سلیمان، مفضَّل بن مُهلهل، هاشم بن البرید، هُدبة بن النِهال، هُریم بن سفیان، أبو عوانه الوضاح بن عبد الله الیَشکری، ولید بن أبی ثور، یحیٰی بن سلمة بن کهیل، یزید بن عطاء الیَشکری، أبو یوسف یعقوب بن إبراهیم القاضی، أبو معاذ یعیش بن عبد الرحمٰن الهسطامی أبو یعقوب یوسف بن یعقوب الهجلی الأسود، یونس بن أبی إسحاق وغیره شامل دی۔[2]

---

[1]) تاریخ الإسلام: ۵،۲۸، رقم الترجمة (٤٤٢٨)۔

[2]) أنظر. تهذیب الکمال: ۳۰۳،٤، ترجمة (۷۱۹۲)، والجرح والتعدیل لابن أبی حاتم: ۲٤۷،۲، رقم الترجمة (۱۶۸۷)، دارالکتب العلمیة بیروت، وسیر أعلام النبلاء للذهبی: ۱۲٤،۶، مؤسسة الرسالة. الطبعة الرابعة، ۱۹۸۶، وکتاب الثقات لابن حبان التمیمی: ۷۹،٤، مجلس دائرة المعارف العثمانیة بحیدر آباد دکن الهند، الطبعة الأولی ۱۹۷۸، وکتاب التاریخ الکبیر: ۱۳۳،۲، رقم الترجمة (۱۹٤۷) دارالباز للنشر والتوزیع عباس أحمد الباز مکة المکرمة، وإکمال تهذیب الکمال: ٤۳،۳، والکاشف للذهبی: ۲۷۷،۱، ترجمة: (۶۶٤)، دارالقبلة للثقافة الإسلامیة، جدة، الطبعة الأولی ۱۹۹۲م، وتهذیب التهذیب لابن حجر العسقلانی... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

د جرح او تعدیل د امامانو په نظر کښې: امام بخاری فرمائی، علی بن المدینی وائی، "له دحو سهرین حدیثاً".

عبد الله بن احمد بن حنبل د خپل پلار امام احمد بن حنبل نه نقل کوی، "ثقة من الثقات".

اسحاق بن منصور د یحیٰی بن معین نه نقل کوی، همدغه شان أبو حاتم او نسائی فرمائی، "ثقة"،(۱) دار قطنی وائی، "هو أحد الأثبات الثقات".(۲)

د ابو حاتم نه دا الفاظ هم منقول دی: "هو أحلى من فراس".(۳)

احمد بن عبد الله العجلی وائی، "کوفی ثقة، ولیس بکثیر الحدیث روی أقل من مأتي حدیث" کوفی دې، او ثقه دې، ددۀ نه ډیر احادیث منقول نۀ دی، د سلو نه کم حدیثونه ئې روایت کړی دی(۴)

یعقوب بن شیبه وائی، "کان ثقة ثبتاً".(۵)

علامه ذهبی په الإمام، الثقة، المؤدب سره ددۀ تذکره کولو سره فرمائی، "وهو حجة بلا تردد".(۶)

د "بیان" په نامې سره د دوۀ راویانو ذکر: ابو الفضل الهروی په خپل کتاب "المتفق والمفترق" کښې او خطیب هم په دې (مذکوره بیان) او د بیان بن بِشر المعلم په مینځ کښې فرق بیان کړې دې، خطیب وائی، د هاشم هیڅ یو روایت د بَجلی نه مروی نۀ دې، (یعنی هاشم چې د کوم بیان بن بِشر المعلم نه روایت کړې دې، هغه طائی دې نۀ چې بَجلی) او د بیان په نامې سره د دوۀ حضرات نومیَدلو دا هم دلیل دې، چې یو طائی دې او یو بَجلی!

دلته په دې روایت کښې چې کوم راوی دې هغه "بَجَلی" دې، او "طائی" چې هغۀ ته "المعلم" هم وئیلې شی، هغه بل دې، او هم د هغوی نه هاشم بن البرید روایت کوی.(۷)

بقیه حاشیه د تیرمخ] ۱،۵۰۶، دار صادر بیروت، الطبعة الأولی ۱۳۲۵هـ بمجلس دائرة المعارف النظامیة بحیدر آباد دکن (الهند)

۱) تهذیب الکمال: ۴،۳۰۵، وتهذیب التهذیب للعسقلانی: ۱،۵۰۶\

۲) إکمال تهذیب الکمال للمغلطائی: ۳،۱۴۳\

۳) الجرح والتعدیل لابن أبی حاتم: ۲،۲۴۷، تهذیب الکمال: ۴،۳۰۵، د حافظ ابن حجر په تهذیب کښې أعلی (بالعین المهملة) یا أغلی (بالغین المعجمة) منقول دې، او کورئ تهذیب التهذیب: ۱،۵۰۶، وتهذیب الکمال: ۴،۳۰۵\

۴) تهذیب الکمال: ۴،۳۰۸، وتهذیب التهذیب: ۱،۵۰۶\

۵) تهذیب الکمال: ۳۰۵، وتهذیب التهذیب: ۱،۵۰۶\

۶) سیر أعلام النبلاء: ۶،۱۲۴، مؤسسة الرسالة\

۷) تهذیب التهذیب للعسقلانی: ۱،۵۰۶، واکمال تهذیب الکمال للمغلطائی: ۳،۴۳، صاحب د اکمال په ترجمې نمبر ۸۲۴ کښې د بیان بن بشر الاحمسی البَجَلی ذکر کړې دې،... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

وَبَرَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: وَبَرَه (کشجرة) دا ابو خزیمه یا ابو العباس وَبَرد بن عبد الرحمٰن المسلی دي، ددۀ نه په "کتاب الحج، باب رمی الجمار" کښې یو روایت مروی دي۔[1] او بیا حدیث باب امام بخاری ددۀ په طریقې سره نقل کړې دي، کوفی دي، او د مُسلی نسبت وجه داده، چې بنی مسلِیَة بن عامر بن عَمرو بن عُلَّة بن جَلْد بن مالك بن أود سره ددۀ تعلق دي، بعضې حضراتو ددۀ ته حارثی وئیلی دی۔

ددۀ شیوخ، د کومو نه چې دې روایت کوی، دا لاندې ذکر دی۔

أسود بن یزید، تمیم الداری، خرشنه بن الحر، سعید بن جُبیر، عامر بن شراحیل الشعبی، عامر بن عبد الله بن زبیر، أبو الطفیل عامر بن واثلة، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر بن الخطاب، عبد الرحمٰن بن الأسود بن یزید، غطیف، أبو جعفر محمد بن الحسین او همام بن الحارث۔

او ددۀ نه په روایت کونکو کښې أسماعیل بن أبی خالد، أبو بِشر بیان بن بِشر، حجاج بن أرطاة سلیمان الأعمش، عمرو بن عیسٰی، علاء بن زهیر الأزدی، مُجالد بن سعید، محمد بن جُحادة، محمد بن سوقة، مِسعر بن کدام أبو إسحاق السبیعی شامل دی۔[2]

جرح او تعدیل: د بخاری، مسلم، ترمذی، ابو داؤد او نسائی وغیره د رواتو نه دي۔

اسحاق بن منصور د یحیٰی بن معین نه نقل کوی چې "ثقة" همدغه د ابوزرعه قول هم دي۔[3]

ابن حبان هم په "الثقات" کښې ددۀ ذکر کړې دي۔[4]

محمد بن سعد وائی، د خالد بن عبد الله القسیری د ولایت کوفې په زمانه کښې ددۀ وفات اوشو۔ بخاری، مسلم، ابوداؤد، ترمذی، نسائی ددۀ نه روایت کوی۔[5]

بقیه حاشیه د تیرمخ] او په ۸۲۵ نمبر مستقل ترجمه کښې د د بیان بن بشر الطائی المعلم ذکر دي، او وئیلی ئې دی چې دا مونږ په دواړو کښې د فرق ښکاره کولو د پاره کړی دی، اوګورئ، المتفق والمفترق: ۱/۵۴۵

[1] اوګورئ صحیح البخاری، کتاب: ۲۵، باب: ۱۳۴، رقم ۱۷۳۶/۱

[2] تهذیب الکمال: ۳۰/۴۲۷، رقم الترجمة (۱۶۷۸)، والجرح والتعدیل لابن أبی حاتم: ۹/۵۴، ترجمة: ۱۵۸۳۱، وثقات ابن حبان التمیمی: ۵/۴۹۷، وتاریخ الإسلامی للذهبی: ۳/۴۶۴، رقم الترجمة (۱۸۱)، إکمال تهذیب الکمال للمغلطائی: ۱۲/۲۱۰، رقم الترجمة (۵۰۱۳)، وتهذیب التهذیب لابن حجر العسقلانی: ۱۱/۱۱۱، والتاریخ الکبیر للبخاری: ۸/۲۶۳۵، والکاشف، رقم الترجمة (۶۱۴۴)، والجرح والتعدیل للباجی: ۳/۱۱۹۹، وتهذیب التهذیب: ۴/۱۲۹، وطبقات ابن سعد: ۶/۳۱۲، وثقات العجلی، ص: ۱۵۶/۱

[3] الجرح والتعدیل: ۹/۵۴، رقم الترجمة (۱۷۰۶)

[4] کتاب الثقات لابن حبان: ۵/۴۹۷، وتاریخ الإسلام للذهبی: ۳/۱۴۶۴/۱

[5] طبقات ابن سعد: ۶/۳۱۲/۱

عَجَلی وائی، "وَبَرَة بن عبد الرحمٰن کوفی، ثقة".(۱)
خلیفة بن الخیاط په طبقهٔ رابعه کښې ددهٔ ذکر کړې دې، او هیثم بن عدی په طبقهٔ ثالثه کښې، ددهٔ وفات په ۱۱۶ھ کښې اوشو.(۲)
ذهبی په دولسمه طبقه کښې ددهٔ ذکر کړې دې، چې د هغې رجال د ۱۱۱ھ او ۱۲۰ھ په مینځ کښې وفات شوی دی.(۳)
هَمّام: دا همام بن الحارث النخعی الکوفی دې، ددهٔ تذکره په "کتاب الصلاة، باب الصلاة فی الخفاف" کښې تیره شوې ده.(۴)
د دریؤ تابعینو ذکر: په دې روایت کښې د بیان بن بِشر، وَبَرة بن عبد الرحمٰن او همام بن الحارث د دریؤ تابعینو پرله پسې ذکر په یو روایت کښې راغلې دې.(۵) وَبَرة ته ابن حجر تابعی صغیر وئیلی دی، او همام بن الحارث ته ئې "من کبار التابعین" وئیلی دی، او وې فرمائیل د اسماعیل نه روایت کونکی ټول روایان کوفیان دی.(۶)
اسماعیلی د جمهور بن منصور په طریقې سره دا اسماعیل دهمام نه د سماع هم ذکر کړې دې.(۷)
حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړنکي اولنې سړي وو: خَمْسَةٌ أَعْبُدٍ.....
عمار بن یاسر (۸) د رسول الله ﷺ مشهور صحابی فرمائی چې ما رسول الله ﷺ په هغه وخت کښې او هغه حال کښې هم اولیدو، چې د هغوی ﷺ سره پنځه غلامان وو، دوه ښځې او یو ابوبکر، مقصود د ابوبکر د فضیلت او منقبت بیان دې، چې په هغه څو کسانو کښې یو دي دې، چا چې په ابتداء کښې اسلام قبول کړو، او په رسول الله ﷺ ئې ایمان راوړو، په ظاهره په دې فضیلت کښې ذکر کړې شوی پنځه غلامان او دوه ښځې هم د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره برابر دی، ولې حقیقت دادې، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته په هغوی باندې هم فضیلت حاصل دې، او هغه داسې چې هغوی په بالغ کسانو (چې د سړی د لفظ اصل مصداق دې) کښې هغه

---

۱) ثقات العجلی (۱۹۳۵)، حافظ ابن حجر کوفیٌ تابعیٌ ثقةٌ نقل کړی دی، تهذیب التهذیب: ۱۱۱،۱۱\
۲) اکمال تهذیب الکمال: ۱۲۱۰،۱۲\
۳) اوګورئ تاریخ الإسلام: ۳۷۰،۳\
۴) صحیح البخاری، رقم: ۳۸۷\
۵) اوګورئ عمدة القاری: ۲۳۹،۱۶\
۶) فتح الباری: ۲۸،۹\
۷) فتح الباری: ۲۸،۹\
۸) د بنو مخزوم غلام وو، ددهٔ د مور نوم سُمیّه بنت خیاط دې، دوی دري واړو مور پلار او ځوئی ته الله تعالی د دین په لار کښې ډیر زیات تکلیفونه ورکړې شو، یوه ورځ د رسول الله ﷺ په دهٔ باندې تیریدل اوشو، چې هغهٔ ته تکلیف ورکولې شو، په دې باندې هغوی ﷺ اوفرمائیل، صبراً آل یاسر فان موعدکم الجنة عمدة القاری: ۲۴۹،۱۶\

اولني سړي دي، چې هغۀ د ټولو نه وړاندې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړلو سره اسلام قبول کړي، او دا د هغۀ داسې خصوصیت دي، چې په دې کښې د هغۀ سره څوک هم شریك او سهیم نشته۔[۱]

پنځه غلامان چا چې د ټولو نه اول اسلام قبول کړو: دلته "خمسة أعبد" د پنځو غلامانو نه څوک مراد دی، یو قول دادي، چې ددې مصداق ① حضرت بلال، ② حضرت زید بن حارثه، ③ عامر بن فهیره مولی أبی بکر، ④ ابو فکیهه مولی صفوان بن امیه، ⑤ او شقران دی۔[۲]

اول دواړه خو معروف دی، او عامر بن فهیره دا د حضرت ابوبکر رضی الله عنه غلام وو، او طبرانی د حضرت عروه په طریقې سره نقل کوی، چې دې د هغه خلقو نه دي، چې هغوی ته به د الله تعالی په لار کښې یعنی د حق او اسلام د قبولو په سبب عذاب ورکولې شو، نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه دې واخستو او بیا ئې آزاد کړو۔[۳]

او د فکیهه چې تر کومې پورې تعلق دې، نو ابن اسحاق ذکر کړې دی، چې حضرت بلال ایمان راوړو نو دې هم مسلمان شو، نو په دې باندې امیه بن خلف دۀ ته عذاب او تکلیف ورکول شروع کړل، نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه دې اخستلو سره آزاد کړو۔[۴]

او پاتې شو شُقران[۵] نو ابن السکین په "کتاب الصحابة" کښې د عبد الله بن داؤد نه نقل کړی دی، چې نبی کریم ﷺ دې او اُمِّ ایمن د دوی د پلار وارثان جوړ کړل۔[۶]

د بعضې مشائخو نه د ابو فکیهه په ځائې د عمار بن یاسر نوم منقول دي، حافظ ابن حجر فرمائی، ددې احتمال شته، ولې د عمار د پلار د یاسر هم بیا ذکر کیدل پکار وو، ځکه چې عمار او ددۀ مور او پلار دواړو ته به د الله تعالی په لار کښې سخت تکلیفونه ورکولې شو۔[۷] نو ددۀ (یعنی د عمار) او ددۀ د مور ذکر خو راغې، ولې د یاسر ذکر رانغلو، په دې وجه کیدې شي عمار بن یاسر مراد نۀ وی۔ بعضې حضراتو د شقران په ځائې د عبید بن زید الحبشی نام ذکر کړې دي۔[۸]

د "امرءتان" مصداق: د "امرءتان" نه مراد حضرت خدیجه او حضرت اُمِّ ایمن دی، یا بیا خدیجه او

---

[۱] فتح الباری لابن حجر: ۱۲۹.۹

[۲] فتح الباری: ۲۹.۹، وعمدة القاری: ۱۳٤۹.۱٦

[۳] المعجم الکبیر: ۳۳٦.۱، رقم الترجمة: ۱۱۰۰۸

[٤] فتح الباری: ۲۹.۹، وعمدة القاری: ۱۲٤۹.۱٦

[۵] شُقران بضم الشین وسکون القاف لقب دي، او ددۀ نوم صالح بن عدی الحبشی وو، بعضې وائی چې ددۀ نوم أوس وو، او بعضې وائی چې نوم ئې هرمز وو، اوګورئ عمدة القاری: ۱۲٤۹.۱٦

[۶] فتح الباری: ۱۲۹.۹

[۷] فتح الباری: ۱۲۹.۹

[۸] اوګورئ إرشاد الساری: ۱۵۲.۸، وتحفة الباری: ۱۱۹۵.٤

سمیه،او بعضې حضراتو دا هم وئیلې دی،چې د حضرت خدیجې سره دویمه ښځه اُمّ الفضل د حضرت عباس رضی اللہ عنہ بی بی وه،بیا هم دا واضحه نۀ ده،ځکه چې هغه قدیمة الإسلام خو ده،ولې په سابقینو کښې د هغې ذکر نۀ دې شوې،او کۀ هغه مراد اُخستل صحیح وې،نو بیا د ابو رافع مولی العباس ذکر کول هم پکار وو،ځکه چې هغه هم د اُمّ الفضل سره اسلام راوړلې وو۔[1]

د عمار ددې "حصر" مقصد: د عمار بن یاسر مقصد د حدیثو شارحینو دا بیان کړې دې،چې کومو حضراتو خپل اسلام قبلول ښکاره کړې وو،هغه دا ذکر کړې شوې کسان وو،دا مقصد نۀ دې چې صرف دې کسانو اسلام قبول کړې وو،ځکه چې عمار په کوم وخت کښې دا خبره کوله،په دغه وخت کښې یو لوئې جماعت مسلمانان شوې وو،چې په هغې کښې د ذکر کړې شوې کسانو نه علاوه نور کسان هم وو،هآؤ! ابوبکر صدیق خو د ټولو نه اول اسلام ښکاره کونکې هم وو،او په قبلولو کښې هم،د هغۀ فضیلت په خپل ځائې مسلّم دې۔[2]

ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت دادې،چې باب هم د "فضل أبی بکر" په حوالې سره دې،او په حدیث کښې هم د هغۀ د فضیلت بیان دې،یو خو داسې چې د شمیر په هغه څو کسانو کښې یو دې چا چې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړلو سره هغه ښکاره کړې وو،دا ټول اتۀ کسان وو،چې د هغوی دلته ذکر دې،او د نفسِ اسلام د قبلولو په حوالې سره،نو هغوی رضی اللہ عنہم په بالغ او آزاد کسانو کښې د ټولو نه اولنې سرې خو وو۔[3]

۳۴۶۱:[4] حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ عَابِذِ اللَّهِ أَبِي إِدْرِيسَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رضی الله عنه- قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- إِذْ أَقْبَلَ أَبُو بَكْرٍ آخِذًا بِطَرَفِ ثَوْبِهِ حَتَّى أَبْدَى عَنْ رُكْبَتِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «أَمَّا صَاحِبُكُمْ فَقَدْ غَامَرَ». فَسَلَّمَ، وَقَالَ إِنِّي كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ ابْنِ الْخَطَّابِ شَيْءٌ فَأَسْرَعْتُ إِلَيْهِ ثُمَّ نَدِمْتُ، فَسَأَلْتُهُ أَنْ يَغْفِرَ لِي فَأَبَى عَلَيَّ، فَأَقْبَلْتُ إِلَيْكَ فَقَالَ «يَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ». ثَلاَثًا، ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ نَدِمَ فَأَتَى مَنْزِلَ أَبِي بَكْرٍ فَسَأَلَ أَثَمَّ أَبُو بَكْرٍ فَقَالُوا لاَ. فَأَتَى إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-، فَسَلَّمَ فَجَعَلَ وَجْهُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- يَتَمَعَّرُ حَتَّى أَشْفَقَ أَبُو بَكْرٍ، فَجَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ

---

[1] فتح الباری:۲۹،۹،وعمدة القاری:۱۲۴۹،۱۶

[2] فتح الباری:۲۹،۹،وعمدة القاری:۱۲۴۹،۱۶

[3] عمدة القاری للعینی:۱۲۴۹،۱۶

[4] الحدیث أخرجه البخاری فی صحیحه:۵۱۶،۱،کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ،باب قول النبی "لو کنتُ متخذا خلیلاً" رقم:۳۶۶۱،وفی:۶۶۷،۲،کتاب التفسیر،باب "قل یا ایها الناس انی رسول الله الیکم جمیعاً" رقم:۱۴۶۴۰

اللَّهِ، وَاللَّهِ أَنَا كُنْتُ أَظْلَمَ مَرَّتَيْنِ. فَقَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ اللَّهَ بَعَثَنِي إِلَيْكُمْ فَقُلْتُمْ كَذَبْتَ. وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ صَدَقَ. وَوَاسَانِي بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، فَهَلْ أَنْتُمْ تَارِكُو لِي صَاحِبِي». مَرَّتَيْنِ فَمَا أُوذِيَ بَعْدَهَا. [٣٦٦٤]

رجال الحديث

هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ: دا هشام بن عمار بن نصير ابو الوليد السلمى الدمشقى دي ـ ددهٔ تذكره وراندي تيره شوي ده ـ[١]

صَدَقَةُ بْنُ خَالِدٍ: ددهٔ نوم صدقة بن خالد او كنيت ابو العباس دي، نسبت ئې القُرشى، الاموى او الدمشقى دي، د اُمّ البنين بنت أبى سفيان غلام وو، د اُمّ البنين په حقله معروف قول خو دغه دي، چې هغه د ابو سفيان لور او د سيدنا امير معاويه خور وه، د امام بخارى، ابو حاتم او د نورو دغه رائي ده ـ[٢]

او د ابن حبان وغيره، د بعضې حضراتو خيال دادي، چې دا د معاوية بن يزيد بن معاوية بن أبى سفيان خور ده، يعنى د يزيد لور او د معاوية ثانى خور ده ـ[٣]

او يو دريم قول دادي، چې دا د عمر بن عبد العزيز خور ده ـ[٤]

د خپل پلار خالد مولى بنى اميّه، زيد بن واقد، عبدالرحمٰن بن عَمرو الأوزاعى، عبد الرحمٰن بن يزيد بن جابر، عتبة بن أبى حكيم، عثمان بن أبى العاتكة، هشام بن الغاز، سعيد بن عبد العزيز، طلحة بن عمرو المكى او د نورو حضراتو نه روايت كوى.

او أبوالنضر إسحاق بن إبراهيم الفراديسى، حكم بن موسٰى، سيعد بن منصور، عبد الله بن يوسف التِّنِّيسى، أبو مُسهِر عبد الأعلى بن مُسهِر، محمد بن المبارك الصُّورى، مروان محمد الطّاهرى، هشام بن عمار، هيثم بن الخارجة، وليد بن مسلم، يحيٰى بن حمزة الحضرمى وغيره دده نه روايت كوى.[٥]

محمد بن سعد په طبقه خامسه كښې ددهٔ ذكر كړي دي ـ[٦]

او هغوى دي ثقه هم ګرځولي دي، ولې هغوى صدقة بن خالد السمين وئيلي دي، كيدې شى هغوى ته په صدقة بن خالد او صدقة بن عبد الله السمين كښې اشتباه شوې وى، او السمين د ثانى (يعنى صدقة بن عبد الله) لقب دي، د اول نهٔ دي ـ[٧]

---

[١] اوګورئ: كتاب التهجد، باب ما يكره من ترك قيام الليل لمن كان يقومه، رقم(١١٥٢)

[٢] بحر الدم، جزء: ١، ص: ٨٨\

[٣] الثقات لابن حبان: ٦، ٢٦٧، ٢٦٦، وتهذيب التهذيب: ٤، ٤١٤\

[٤] تهذيب الكمال: ١٣، ١٢٩، رقم الترجمة (٢٨٦١)، وتهذيب التهذيب: ٤، ٤١٤\

[٥] تهذيب الكمال: ١٣، ١٢٩، وتهذيب التهذيب: ٤، ٤١٤\

[٦] اوګورئ: الطبقات الكبرٰى لابن سعد: ٧، ٤٦٩\

[٧] اوګورئ: حاشية اكمال تهذيب الكمال للمغلطائى: ٦، ٣٦١، رقم الترجمة (٢٤٨٨)\

او علامه ذهبی په اتلسمه طبقه کښې ددۀ ذکر کړې دې،او ددې طبقې رجال د ۱۷۱هـ او د ۱۸۰هـ په مینځ کښې وفات شوی دی۔[۱]

ددۀ متعلق معاویة بن صالح د یحیٰی بن معین نه ۱۷۰هـ یا د ۱۷۱هـ قول نقل کړې دې،هشام بن عمار ۱۸۰هـ او دحیم ۱۸۳هـ نقل کوی،او بعضې حضرات د ۱۸۰هـ نه هم ورسترو د دوی وفات بیانوی۔[۲]

او ددۀ تاریخ وفات هم ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۸۰، یا ۱۸۴ ښودلې شوې دې۔[۳]

عبد الله بن احمد بن حنبل د خپل پلار(امام احمد)نه ددۀ متعلق دا الفاظ نقل کوی،"ثقة ثقة ليس به باس، أثبت من الوليد بن مُسلم، صالح الحديث"۔[۴]

عثمان بن سعید الدارمی د یحیٰی بن معین نه نقل کوی،"ثقة"۔[۵]

همدغه شان محمد بن عبدالله بن نمیر، احمد بن عبد الله العجلي، محمد بن سعد، ابوزرعه، ابو حاتم او ابوبکر بن أبی شیبه وغیره هم دې ثقه کړځولې دې۔[۶]

ابن حبان، ذهبی او ابن حجر هم ددۀ ته ثقه وئیلی دی۔[۷]

د بخاری، ابو داؤد، نسائی، او ابن ماجه راوی دې۔[۸]

زَيْدُ بْنُ وَاقد:دا زید بن واقد القرشی دې،ددۀ کنیت ابو عُمر یا ابو عَمرو او نسبت ئې الشامی او الدمشقی دې،دې چې د چا نه روایت کوی په هغوی کښې:

بُسر بن عبد الله، جُبیر بن نُفیر، جناح والِد مروان، حرام بن حکیم، حسن بصری، حصن بن عبیدة بن علاق، خالد بن عبدالله بن حُسین، خالد بن اللجلاج، سعید بن عبد العزیز التنوخی، عبد الملك بن مروان بن الحکیم، عطاء الخراسانی، عثمان بن أبی سوده، کثیره بن مره، حمد بن عبد الملك بن مروان، محمد بن یزید، مکحول الشامی، نافع مولیٰ ابن عمر أبوسلام الأسود، أبوعبدالله الأشعری وغیره شامل دی۔

---

[۱]) تاریخ الإسلامی للذهبی: ۵۷۲،۴،ترجمة(۴۱۹۷)

[۲]) اوګورئ، تهذیب الکمال:۱۳۱،۳،التقریب:۲۷۵،الکاشف،ص:۱۵۰۱

[۳]) تهذیب التهذیب لابن حجر العسقلانی: ۴۱۴،۴۱

[۴]) تهذیب الکمال:۱۳۰،۱۳. ابن أبی حاتم د صالح الحدیث اضافه نۀ ده نقل کړې،اوګورئ الجرح والتعدیل: ۳۹۹،۴،ترجمة(۱۸۹۱)

[۵]) تاریخ الدارمی،الترجمة:۴۲۹

[۶]) اوګورئ:تهذیب الکمال:۱۳۰،۱۳۱،۱۳،الجرح والتعدیل: ۳۹۹،۴،تهذیب التهذیب: ۴۱۴،۴۱۵،۴، تاریخ الإسلام للذهبی: ۵۷۳،۴

[۷]) اوګورئ،کتاب الثقات لابن حبان: ۴۶۶،۴. والکاشف (۵۰۱)، ترجمة(۲۳۸۲)، التقریب، ص:۲۷۵، ترجمة(۲۹۱۱)

[۸]) تهذیب الکمال:۱۳۲،۱۳،همدغه شان اوګورئ اکمال تهذیب الکمال للمغلطائی:۱۱۸۸،۲

او ددۀ نه په روایت کونکو کښې: بقیة بن الولید، بکار بن هلال العاملی، حسن بن یحیٰی الخُشنی، سُوید بن عبد العزیز، صدقة بن خالد، صدقة بن عبد الله السمین، عبد الخالق بن زید بن واقد (د ددۀ خوئې) عمرو بن واقد القرشی، قاسم بن موسٰی، محمد بن عیسٰی بن القاسم بن سُمیع، مَسلمة بن علی الخُشنی، هیثم بن حُمید الغسانی، ولید بن مسلم او یحیٰی بن حمزة الحضرمی شامل دی۔[۱]

د جرح او تعدیل په حوالې سره: ابو الحسن المیمونی د احمد بن حنبل نه نقل کوی، "ثقة" هغه ثقه راوی دی۔

عثمان بن سعید الدارمی، احمد بن عبد الله العجلی او دار قطنی هم دې ثقه ګرځولې دی۔[۲]

یعقوب بن سفیان وائی، ما د عبد الرحمٰن بن إبراهیم نه پوښتنه اوکړه، چې د مکحول په ملګرو کښې د یولو نه اعلی څوک دی؟ هغۀ د یو جماعت ذکر اوکړو، بیا ئې اووئیل، "ولکن زید بن واقد و بُرد بن سنان من کبارهم"۔[۳] ابو حاتم وائی، لا بأس به، محله الصدق۔[۴]

ابن حبان هم په "الثقات" کښې ددۀ ذکر کړې دی۔[۵]

حافظ ابو عمر بن عبد البر فرمائی، "کان ثقة"۔[۶]

حاکم او بزار ئې هم توثیق کوی۔[۷]

بعضې حضراتو په دۀ باندې د قَدَریت تور هم لګولې دی۔[۸]

ولې دا تور غلط دی، او علامه ذهبی دا تور غلط ګرځولې دی، ذهبی په تاریخ اسلام کښې وائی، "وقد رُمِیَ بالقدر ولم یثبت عنه"[۹] په دۀ باندې د قدری کیدو تور لګیدلې دی، ولې قدریت ددۀ نه ثابت نۀ دی، او په "سیر أعلام النبلاء" کښې وائی "وقیل إنه، قَدَرِیٌّ، ولم یصح"۔[۱۰]

---

[۱] اوګورئ: تهذیب الکمال: ۱۰، ۱۰۸، ترجمة (۲۱۳۰)، تهذیب التهذیب لابن حجر: ۳، ۴۲۶، والجرح والتعدیل: ۳، ۵۱۶، ترجمة (۲۶۱۰)۔

[۲] تهذیب الکمال: ۱۰، ۱۰۹، تاریخ الدارمی، رقم الترجمة (۳۴۱)، ثقات العجلی، ص: ۱۷، وسنن دار قطنی: ۱، ۳۱۹، والجرح والتعدیل: ۳، ۵۱۶، وتهذیب التهذیب: ۳، ۴۶۶۔

[۳] تهذیب الکمال: ۱۰، ۱۱۰، په إرشاد الساری: ۸، ۱۵۲ کښې هم ددۀ ثقه والې ذکر کړې شوې دی۔

[۴] الجرح والتعدیل: ۳، ۵۱۶، ترجمه (۲۶۰۱)۔

[۵] کتاب الثقات: ۱، ۱۴۷۔

[۶] اکمال تهذیب الکمال للمغلطائی: ۵، ۱۷۲، ترجمه (۱۷۹۷)۔

[۷] اکمال للمغلطائی: ۵، ۱۷۲۔

[۸] تهذیب الکمال: ۱۰، ۱۱۰، وتهذیب التهذیب: ۳، ۴۲۶۔

[۹] تاریخ الإسلام: ۳، ۶۸۰، رقم الترجمة (۲۳۷۷)۔

[۱۰] سیر أعلام النبلاء: ۶، ۲۹۷، (۱۲۵)۔

ددۀ په حقله وئیلې شوی دی، چې قَدَری دې، ولې دا صحیح نۀ دی، هآؤادومره قدرې ددۀ په حقله ضرور وئیلې شوی دی، چې ددۀ د خوئی عبد الخالق، چې ددۀ نه کوم روایتونه دی، هغه د اعتبار وړ نۀ دی۔[۱] تر دې پورې چې امام بخاری هغه "منکر الحدیث" گرځولې دې۔[۲]

بُسر بن عَبید الله: دا بُسر بن عبید الله الحضرمی الشامی دې۔ ددۀ احوال تیر شوی دی۔[۳]

عَائذ الله: دا عَائذ الله بن عبد الله ابو ادریس الخولانی دې۔ ددۀ احوال هم ذکر شوی دی۔[۴]

أبی الدَّرداء: ابو الدرداء د رسول الله ﷺ معروف صحابی دې، چې د هغۀ نوم عویمر الأنصاری دې۔[۵]

په صحیح بخاری، کتاب التفسیر کښې د عبد الله بن العلاء بن زید په روایت کښې د "حدثنی بُسر بن عبید الله قال حدثنی أبو ادریس الخولانی قال سمعت أبا الدرداء"[۶]

د فتح الباری، کتاب فضائل أصحاب النبی، رقم(۳۶۶۱) لاندې ددې روایت ذکر دې، ولې په هغې کښې د "سمعتُ" په ځائې د "سألتُ" الفاظ دی۔[۷]

أبدی عن رُکبته: زنګون ئې ښکاره کړو، قسطلانی وائی، ددې نه معلومیږی چې زنګون عورت نۀ دې۔[۸]

د احنافو په نزد زنګون عورت دې: د احنافو له مخې زنګون عورت دې، چې د هغې پټول ضروری دی؛ په دې وجه د احنافو له مخې "أبدی عن رکبته" په مجازی معنی باندې محمول دې، او معنی ئې ده "کادت رکبته أن تنکشف لمبالغته فی رفع الإزار" یعنی په لنګ اوچتولو کښې ئې دومره مبالغه اوکړه چې نزدې وه چې زنګون ئې ښکاره شوې وې، د بعضې شوافعو هم دغه مذهب دې۔[۹]

قوله: أَمَّا صَاحِبُكُم فَقَدْ غَامَرَ: د کشمیهنی په نسخه کښې دی "صَاحِبُكَ" بالإفراد راغلې دې۔[۱۰]

---

[۱] تهذیب التهذیب:۳،۱۴۲۷

[۲] التاریخ الکبیر:۳،۴۰۷، رقم الترجمة(۱۳۵۳)، د نور توثیق د پاره اوګورئ الثقات لابن حبان:۳،۳۵۸، (۱۴۱۳)، ولسان المیزان:۲،۵۱۲، (۲۰۵۵)، تقریب التهذیب، ص:۲۲۵، ترجمه(۲۱۵۷)، تحریر تقریب التهذیب: ۱،۴۳۷، (۲۱۵۸)، الکاشف:۱،۴۱۹، الترجمه(۱۷۵۷)۱

[۳] اوګورئ صحیح البخاری، کتاب الجزیة والموادعة، باب ما یحذر من الغدر، رقم(۳۱۸۶)۱

[۴] اوګورئ صحیح البخاری، کتاب الوضوء، باب الاستنثار فی الوضوء، رقم(۱۶۱)۱

[۵] شرح الکرمانی:۱۴،۲۰۶۱

[۶] اوګورئ صحیح البخاری، کتاب التفسیر، باب قل یا أیها الناس إنی رسول الله إلیکم حدیث (۴۶۴۰۹).

[۷] إرشاد الساری:۸،۱۱۵۲

[۸] لامع الدراری:۸،۱۱۴۳

[۹] فتح الباری:۸،۱۲۹

د "صاحب" نه مراد ابوبکر دي او د افراد په صورت کښې به خطاب ابو ذر ته وی۔[۱]

د "مُغامر" تفسیر: "لَقَدْ غَامَرَ..... د غامر معنی ده. خاصم، دخل فی خمرة الخصومة، جنګ کول او د جنګ په مصیبت کښې پریوتل، په ویره کښې پریوتل. او د سر نه تیریدل. ددې نه مُغامِر راځی۔ یا الغامر چې ددې معنی ده، "الذی یرمی بنفسه فی الأمر العظیم"[۲] چې ځان په ډیرې لوئې معاملې کښې اوغورځوی "یا الذی یرمی بنفسه فی الأمور المهلکة"[۳] چې ځان په هلاکونکې کارونو کښې اوغورځوی۔

د هغوی رحمهم الله مطلب دا وو، چې دې سړی جنګړه کړې ده. او سخته جنګړه ئې کړې ده. یا دا بیا د غِمْر بکسر الغین نه دي. چې د هغې معنی ده، الحقد، کینه او په زړه کښې غصه۔ یعنی ددۀ په زړۀ کښې د چا د پاره کینه ده۔[۴]

او د سورۀ اعراف په تفسیر کښې پخپله امام بخاری ددې لفظ معنی بیانوی. هغه فرمائی، "غامر أی سبق بالخیر" په خیر کښې وړاندې والې کول۔[۵]

په احادیثو کښې د "مُغامِر" لفظ مستعمل دي، لکه "شای السلاح بطل مغامَر"۔[۶]

او ددې هم دا دواړه معنې بیان کړې شوی دی. یعنی "مُخَاصِمٌ" یا "مُحَاقِدٌ"[۷]

امام بخاری چې د غَامِر په سابق بالخیر سره معنی کړې ده. ددې په حقله قاضی عیاض فرمائی. دا صرف د مستملی عن أبی ذر په روایت کښې دی. او دا یو غریب او نا آشنا تفسیر دي. بیا هم حافظ ابن حجر د قاضی صاحب اعتراض بلاجواز ګرځولې دي. او د امام بخاری تفسیر ته ئې صحیح وئیلی دی. حافظ صاحب فرمائی، محب طبری دا تفسیر ابوعبیدة بن المثنی اړخ ته هم منسوب کړې دي، دې نه معلومه شوه. چې په دې کښې د امام بخاری مُقتداء او پیش رو هم شته. بیا دې ته غریب څنګه وئیلې کیدې شی۔[۸]

"أما صاحبکم" د "وأما غیره فلا" قسیم دي. چې دلته محذوف دي۔[۹] او یا "وأمّا غیرُه فلا أعلمه"[۱۰]

---

[۱]) إرشاد الساری:۱۵۳.۸\

[۲]) فتح الباری:۱۲۹.۷\

[۳]) النهایة لابن الأثیر:۳۲۰.۲\

[۴]) فتح الباری:۱۲۹.۹\

[۵]) صحیح البخاری. کتاب التفسیر. رقم(۴۶۴۰)\

[۶]) النهایة لابن الأثیر:۳۲۰.۲\

[۷]) النهایة:۳۲۰.۲\

[۸]) فتح الباری:۱۲۹.۹\

[۹]) فتح الباری:۱۲۹.۹\

[۱۰]) إرشاد الساری:۱۵۳.۸، وتحفة الباری: ۱۹۶.۴\

قوله: فَسَلَّمَ: ابوبکر راغې او سلام ئې اوکړو، ابو نعیم اصبهانی په "حلیة الأولیاء" کښې وائی، "حق سلم علی رسول الله" ﷺ.(۱)

دلته د سلام جواب نۀ دې ذکر کړې شوې، په دې وجه چې د سلام جواب به رسول الله ﷺ ورکړې وی، او دا قسمه څیزونه د معلوم کیدو په وجه عموما ترک کولې شی.(۲)

د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په مینځ کښې خفګان: کَانَ بَیْنِی وَبَیْنَ ابْنِ الْخَطَّابِ شَیْءٌ.....

د ابن الخطاب نه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه مراد دې، او د شَیْءٌ نه مراد دې، "شَیْءٌ مِنَ المراجعة" یعنی اخستل راخستل او وهل راوهل. د بخاری د کتاب التفسیر په روایت کښې د شیء په ځائې "محاورَة" دې، چې د هغې معنی ده په خبرو خبرو کښې خفه کیدل، خبرې ترخې کیدل، تو تو مین مین کیدل.(۳)

او په مسند أبی یعلی کښې د ابو امامه روایت دې، چې په هغې کښې د "معاتبة" لفظ دې، یعنی د طرفینو او فریقینو یو بل ته ستغې خبرې کول او غصه کیدل.(۴)

د "مقاولة" لفظ هم راغلې دې، یعنی خپل مینځ کښې خفګان.

"فاسرعتُ إلیه" هغۀ اړخ ته مې منډه کړه او وړاندې شوم، بیا زۀ ملامته شوم.

په "کتاب التفسیر" کښې دا الفاظ دی، "فاغضبَ أبوبکر عمرَ فانصرف عنه مغضَبًا فأتبعه أبوبکر".(۵)

حضرت ابوبکر رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته غصه وروسته، نو هغه په غصه کښې لاړو، ابوبکر هغۀ پسې ورستو لاړو، دا ګویا د "فاسرعتُ إلیه ثم ندمتُ" وضاحت دې.

محمد بن المبارك د "ندمتُ" سره د "علی ما کان" زیاتوالې هم کړې دې.(۶)

د ابوبکر د عمر رضی الله عنهما نه معافی غوښتل: فَسَأَلْتُهُ أَنْ یَغْفِرَ لِی.....أی ما وقعَ مِنِّی.(۷) یعنی ما هغۀ ته د معافئ خواست اوکړو، چې هغه ما معاف کړی، او د کتاب التفسیر په روایت کښې د أن یستغفرله فلم یفعل حتی أغلَق بابه فی وجهه الفاظ دی. ددې الفاظو مطلب دادې، چې ما د هغۀ نه د خپل ځان د پاره د مغفرت خواست اوکړو، یعنی چې زما نه غلطی او خطا شوې ده، د الله

---

۱) حلیة الأولیاء، جز ۹، ص: ۳۰٤، دارالکتاب العربی بیروت\
۲) فتح الباری: ۲۹.۹، وعمدة القاری: ۱۲۵۰.۱۶\
۳) صحیح بخاری، کتاب التفسیر، رقم (٤٦٤٠)\
٤) فتح الباری: ۱۲۹.۹\
۵) کتاب التفسیر، رقم (٤٦٤٠)\
۶) عمدة القاری: ۲۵۰.۱۶، وفتح الباری: ۱۲۹.۹\
۷) إرشاد الساری: ۱۵۳.۱

تعالی نه زما د پاره د مغفرت دعا اوکړه، چې هغه په دې باندې زما مواخذه اونۀ کړی، خو دوی هغه قبوله نۀ کړه۔

د محمد بن المبارك نه د "فتبعته إلى المقبرة حتى خرج من دارِه" الفاظ منقول دي۔ اسماعیلی، د هسنجانی عن هشام بن عمار په روایت سره د وتحرز منّی بدارِه الفاظ نقل کوی، او د ابو امامه په حدیث کښې د "فاعتذر أبوبكر إلى عمر فلم يقبل منه" الفاظ دی۔[۱]

قوله: ثَلَاثًا: ای ثلاث مرّاتٍ، یعنی هغوی ﷺ دا الفاظ دری واړې اولوستل۔[۲]

ابوبکر د پاره د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه د مغفرت د دعاء اعزاز: د ابوبکر رضی اللہ عنہ په طلب باندې چې کله حضرت عمر رضی اللہ عنہ د هغه د پاره استغفار اونۀ کړو، نو رسول الله ﷺ د هغې په مقابله کښې د هغه د پاره دری واړې "يغفر الله لك" لوستلو سره د هغې کمې پوره کړو، چې د ابوبکر د پاره ډیر لوئې اعزاز دې۔[۳]

قوله: أَثَمَّ أَبُوبَكْرٍ: آیا ابوبکر دلته دې، ثَمَّ بفتح الثاء ظرف دې، او همزه د استفهام ده۔[۴]

د نبی کریم ﷺ مخ مبارک سور شو:

قوله: فَجَعَلَ وَجهُ النَّبِيِّ ﷺ يَتَمَعَّرُ..... يتمعّر بالعين المهملة المشدّدة: ددې معنی دده، د غصې او خفګان په وجه د هغه (د مخ) سورالې او رنړا ختمه شوه، او په غصه کښې د سړی مخ سور زیړ کیدل، او د هغه رنګ بدلیدل کیږی، دا په هغه صورت کښې دی، چې کله دا بالعین وی، په دې صورت کښې ددې اصل "عَرَّ" دې، او "عَرَّ" جرب یعنی د خارخ ته وئیلې کیږی، په خارخ سره د خارخ والا ځائې متاثره کیږی، او بدلیږی، په دې وجه د مخ د تغیر او بدلون د پاره هم لفظ د "تَمَعَّرَ" استعمال کړې شوی۔ "أمعر المكان" د ځائې د سختیدو په معنی باندې استعمالیږی، او "أمعرَ الحيوان" په هغه وخت کښې وئیلې کیږی، کله چې ځناور ته خارخ اولګی۔[۵]

او "مَعِرَ الرأس" په هغه وخت کښې وئیلې کیږی، کله چې د سر ویښتۀ کم شی، او سر بد صورته شی۔[۶]

په هرحال کښې د "مَعِرَ" معنی ده، ورانیدل، بدلیدل وغیره او په غصه کښې د انسان دا حالت وی۔

---

[۱]) فتح الباری: ۱۲۹،۹

[۲]) لامع الدراری: ۱۱٤٤،۸

[۳]) فتح الباری: ۳۰،۹، وعمدة القاری: ۲۵۰،۱۶، وإرشاد الساری: ۱۱۵۳،۸

[٤]) إرشاد الساری: ۱۱۵۳،۸

[۵]) فتح الباری: ۱۳۰،۹

[۶]) النهایة لابن الاثیر: ۶۶۶،۲

د ابو ذر په نسخه کښې یتمغربالغین المعجمة مستعمل شوې دې، چې د "مغر" نه دې، او "مغر" د "مِغرَة" نه ماخوذ دې، چې د هغې معنی ده، هغه لاړجنه خاوره چې په هغې سره رنګ کولې شی۔[1] هم ددې نه "أمغر" راځی چې په یو حدیث کښې وارد شوې دې، د هغې الفاظ داسې دی: "أیکم ابن عبد المطلب؟ قالوا: هو الأمغر المرتفق" أی الأبیض الأحمر، دا سُور سپین سرې چې هغه په خپل مِرفَق (یعنی لاس) باندې تکیه لګولې ده۔

د سړی مخ د غصې په وخت کښې سُور شی، او د هغهٔ رنګ بدل شی، نو په دې وجه د هغهٔ د پاره د "تمغر" لفظ استعمالیږی، او مطلب دا وی، چې د هغهٔ مخ داسې سُور شو، لکه چې دا په "مِغَرَة" یعنی خاوري سره رنګ کړې شوې وی۔[2]

په کتاب التفسیر کښې امام بخاری دې د پاره صریحی لفظ استعمال کړې دې، هلته کښې داسې الفاظ دی، "وغضب رسول الله"۔[3]

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ پښیمانتیا او په بلیغ الفاظو کښې معافی: ابو یعلی چې د ابو امامه نه ددې مضمون روایت نقل کړې دې، د هغې الفاظ داسې دی:

فجلس عمر فأعرض عنه۔ أی النبی ﷺ۔ ثم تحوّل فجلَسَ إلی الجانِبِ الأخر، فأعرض عنه، ثم قام فجلَس بین یدیه فأعرض عنه، فقال: یا رسول الله! ما أری إعراضك إلا لشیئ بلَغَكَ عنّی، فما خیر حیاتی وأنت معرض عنی؟ فقال أنت الذی اعتذر الیك أبوبکر فلم تقبل منه۔[4]

حضرت عمر رضی اللہ عنہ راغې او رسول الله ﷺ سره کیناستو، نو هغوی ﷺ د هغهٔ نه مخ واړولو، هغه راتاؤ شو او بل اړخ ته راغې، کیناستو، نو هغوی ﷺ بیا د هغهٔ نه مخ واړولو، عمر رضی اللہ عنہ پاسیدو او راغې د هغوی ﷺ مخې ته کیناستو، هغوی ﷺ بیا د هغهٔ نه مخ واړولو، نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ اووئیل، اې د الله تعالی رسوله! دا ستاسو مخ اړول چې دی، زما په خیال زما په حقله تاسو ته ضرور چا څهٔ وئیلی دی، چې د هغې په وجه تاسو ما سره داسې کوئ، خو زما په ژوند کښې به څهٔ خیر وی، چې تاسو زما نه مخ اړوئ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل، هغه تهٔ ئې چې ابوبکر تا ته معذرت اوکړو تا د هغهٔ عذر قبول نهٔ کړو۔

او طبرانی د ابن عمر رضی اللہ عنہ نه ددې مضمون روایت کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:

"یسئالك أخوك أن تستغفرَله، فلا تفعل"۔[5]

---

[1] النهایة لابن الاثیر: ۲، ۶۶۶

[2] أخرجه النسائی فی کتابه الصیام، باب وجوب الصیام، رقم (۲۰۹۳)

[3] فتح الباری: ۹، ۱۳۰

[4] کتاب التفسیر، رقم (۴۶۴۰)

[5] المعجم الکبیر: ۱۲، ۳۷۲، رقم ۱۱۳۳۸۳

ستا ورور تا ته د استغفار د پاره وائی او ته هغه نه قبلوې؟
په دې باندې سیدنا عمر رضی الله عنه اووئیل:
"والذی بعثك بالحق ما من مرة یسألنی إلا وأنا أستغفر له وما خلق الله من أحد أحب إلی منه بعدك".
په هغه ذات قسم چا چې ته په حقه پیغمبر جوړ کړې رالیږلې ئې، چې هغه څومره واړې هم ما ته د استغفار د پاره وائی، زه به د هغۀ د پاره استغفار کوم، او الله تعالی ستاسو نه ورسترو زما د پاره د هغۀ نه زیات محبوب تر ننه پورې څوك نه دی پیدا کړې.

ابوبکر اووئیل، وأنا والذی بعثك بالحق کذلك.
او زه هم په هغه خدائې مې دې قسم وی! چې هغۀ ته په حقه پیغمبر جوړ کړې رالیږلې ئې، دۀ د پاره هم هغسې یم، څنګه چې هغه زما د پاره دې۔[1]

حضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ دعتاب نه دبچ کولودپاره ابوبکردخپل ځان ذمه وار وګرځول:

قوله: حتّی أشفق أبوبکر.....:ابوبکر اویریدو،،محمد بن المبارك دې سره ددې الفاظو زیاتوالې کړې دې۔"أن یکون مِن رسول الله ﷺ الی عمر مایکره"۔[2]
یعنی ابوبکر سره دا غم او ویره شوه، چې چرته هغوی ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته څۀ داسې اونۀ وائی، چې هغه پرې خفه شی۔
"فجثا، أی برك علی رکبتیه" یعنی:هغه د التّحیاتو په شکل کیناستو۔

قوله: أنا کنت أظلم: یعنی په دې مذکوره واقعه کښې زه زیاتې کونکې یم، د ظلم او زیاتې خبره ابوبکر په خپل سر په دې وجه واخسته، چې هغه د حضور ﷺ د اړخ نه حضرت عمر رضی الله عنه سره د څۀ ناخوښې معاملې کیدو ویره محسوس کوله، نو هغوی اووئیل، چې د هغۀ نه زیات زیاتې کونکې زه یم، او یو اړخ ته د ابوبکر خبره د واقعې مطابق هم وه، ځکه چې ددې خبرې شروع ابوبکر کړې وه، او اقدام کونکې بنکاره خبره ده، چې د نتیجې ذمه دار وی۔[3]

قوله: مرّتین: دا د "قال" ظرف دې، یعنی ابوبکر دوه واړې دا خبره اوکړه، یا دا بیا د ابوبکر د قول برخه ده، په دې صورت کښې به ددې معنی دا شی، چې هم زه دوه واړې زیاتې کونکې یم، یعنی ددې تعلق به د "کُنْتُ" سره وی۔[4]

قوله: ووآسانی: د "مواساة" نه دې، چې د هغې معنی ده، همدردی، کشمیهنی رحمه الله "واسانی" یا "آسانی" بالمد نقل کړې دې، "آسانی" په یو حدیث کښې راغلې دې، چې د هغې الفاظ دادی،

---

[1] فتح الباری:۹،۳۰۱
[2] فتح الباری:۹،۳۰،وعمدة القاری:۱۶،۲۵۰
[3] اوګورئ:فتح الباری:۹،۳۱۱
[4] فتح الباری:۹،۳۱،وعمدة القاری:۱۶،۲۵،وشرح الکرمانی:۱۴،۲۰۷

"ما أحد عندی أعظم یدًا من أبی بکر، آسانی بنفسه ومالہ۔"[1]
همدغه شان حضرت عمر رضی اللہ عنہ حضرت ابو موسی اشعری رضی اللہ عنہ ته اولیکل:
"آسِ بَینَ الناسِ فی وجهِك وعدلِك" أی اجعل کل واحد منهم أسوة خصمة۔"[2]
یعنی خلقو سره په خپله توجه او انصاف کښې "مواسات" کوه، یعنی هر سړې د هغۀ د مقابل برابر او نمونه ګنړه۔
دلته په حدیث باب کښې د "وواسانی" الفاظ راجح دی، ځکه چې دا د "مواساة" نه دې، چې د باب مفاعلې نه دې، او د هغې معنی دا کیږی، چې یو سړې بل سړې په خپل مال او جان کښې دومره شریك کړی، چې بیا دواړه برابر شی، "أی یجعل یدَہ ویدَ صاحبه فی ماله سواء"۔"[3]
د تَارِکُولِی صَاحِبِی ترکیبی حیثیت: "تَارِکُو" دلته بغیر د "نون" نه او په کتاب التفسیر کښې "تارکون لی" بالنون راغلې دی۔"[4]
حافظ ابن حجر فرمائی، صحیح هم دغه دی، چې دا "تارکون لی" بالنون دی، او بیا هغه د ابوالبقاء دا قول هم نقل کړې دی، چې د نون حذف کول دلته کښې د کتابت غلطی ده، او راویانو دا غلط نقل کړې دی، ځکه چې لفظ د (تارکون) نۀ مضاف دی او نۀ مصدر بالالف وبالام۔ او د نون حذف کول هم په دغه دوۀ مقاماتو کښې جائز دی، او "تَارِکُو" کښې چې دی دوۀ وجهو کښې یوه هم نۀ شی مونډې کیدې، نو دلته به د نون حذف کول جائز نۀ وی۔"[5]
او کوم حضرات چې دلته د نون د حذف کیدو قائل دی، هغوی ددې دوۀ وجهې بیانوی، یو دا چې په "صاحبی" کښې "صاحب" یاء د متکلم ارخ ته مضاف او د "تارکو" د پاره مضاف الیه یعنی "مضاف الیه مضاف" دی، او ددې او دې ارخ ته د مضاف کیدونکی اسم یعنی د "تارکوا" په مینځ کښې "لی" جار مجرور په دې وجه راوړلې شو، چې په دې سره د فعل ترك د پیغمبر ﷺ سره تخصیص معنی حاصله شی، او دا ښکاره شی، چې رسول الله ﷺ خلقو ته د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خپل ځان د پاره د پریښودو فرمائی، د "لی" دغه معنی ده، او په دې کښې ګویا دوه اضافتونه دی، او په دواړو کښې حضور ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ خپل ارخ ته اضافت او نسبت کړې دی، دې د پاره چې په دې سره ددۀ عظمت او پیغمبر سره

---

[1]) فتح الباری: ۱۳۱.۹
[2]) النهایة لابن الأثیر: ۱۶۲.۱
[3]) فتح الباری: ۳۱.۷، وإرشاد الساری: ۱۱۵۳.۸
[4]) اوګورئ کتاب التفسیر، حدیث (۴۶۴۰)
[5]) فتح الباری: ۱۳۱.۷

د قرب او اختصاص تعلق ښکاره شی،او ددې فصل بین المضافین مثال دې، "وکذلك زین لکثیر من المشرکین قتل اولادهم شرکاءهم".(۱) په دې کښې د ابن عامر قراءت چې د "اولادَهم" په نصب او د "قتلُ" په رفع او د "شرکاءهم" په جر سره دې،دلته د مضاف(قتل)او د مضاف ثانی (شرکاء)په مینځ کښې مفعول(اولادهم)د فصل په توګه راوړلې شوې دې،معلومه شوه،چې په کلام د عربو کښې دا جائز دی.

دویمه وجه دا ښودلې شوې ده،چې کله اسم موصول اوږد شی،نو د هغې نه نون غورځولې شی،لکه "وخضتم کالذی خاضوا".(۲) دلته په لفظ د "الذین" کښې هم دغسې شوی دی،چې ددې نه نونِ جمع غورځولې شوې دې، او "الذی" پاتې شوې دې،یعنی د لفظ د اوږدیدو په وجه داسې کیدې شی،چې د هغې نهٔ څهٔ حرف اوغورځولې شی،او دلته "تارکوا" کښې هم دغسې شوی دی.(۳)

علامه عینی ددې مضافینو په مینځ کښې د فصل یو بل مثال بیان کړې دې،هغه فرمائی د شاعر قول دې:

فرُشنی بخیرلا اکون ومدحَتی کناحتِ یوماً صخرةً بعسیل

دلته "رشنی" د راش یریش نه امر دې،چې ددې معنی ده،د حالاتو اصلاح،او په "ومدحتی" کښې واؤ د مصاحبت دپاره دې، او استشهاد په دې کښې د "یومًا" ظرف نه دې،چې د "ناحِت" او "صخرةً" په مینځ کښې فصل دې،او اصل تقدیر د عبارت داسې دې، کناحِت صخرةً یوماً بعسیل، عسیل بفتح العین وکسر السین قضیب الفیل ته وئیلې شی.

عینی صاحب د حافظ ابن حجر د ابو البقاء په استدلال باندې رد فرمائیلې دې،او وئیلې ئې دی،چې د نون په حذف سره روایت د رواتو غلطی ګرځول،لکه څنګه چې د ابو البقاء نه حافظ نقل کړی دی.صحیح نهٔ دی،ځکه چې دلته په دې روایت کښې د نون په حذف سره لفظ د "تارکوا" مستعمل دې،په شعر مذکور کښې هم بین المضافین فاصله مستعمل ده،چې د "تارکوا" بدون النون مؤید دې،د قرآن کریم آیت "وکذلك زُین لکثیر من المشرکین قتل اولادهم شرکاءهم.....".(۴) کښې هم د عامر د قراءت مطابق(چې د شرکاء په جر سره وارد دې)فصل بین المضافین وارد دې.او ددې نه علاوه په ډیرو اشعارو کښې استعمال شوې دې،په دې وجه

---

۱) سورة الانعام آیت۱۳۷\

۲) سورة التوبة آیت(۶۹)\

۳) فتح الباری:۹،۳۱،وحاشیة الشهاب علی البیضاوی:۴،۵۹۸\

۴) سورة الانعام آیت:۱۳۷\

د نون ساقطول د ناسخ غلطی ګرځول غلط دی۔[۱]

قوله: مرَّتَيْن: د محمد بن المبارك په روایت کښې "ثلاث مرّات" راغلې دي۔[۲]

قوله: فَمَا أُوذِيَ بَعدَهَا: ددې واقعې نه ورسټو د ابوبکر هیڅ بې تعظیمی اونۀ کړې شوه. او هغۀ ته هیڅ تکلیف ورنۀ کړې شو۔حافظ ابن حجر فرمائی ددې الفاظو یعنی د (فما أوذی.....)زیاتوالی ما د هشام بن عمار د روایت نه علاوه چرته هم اونۀ لیدو۔[۳]

د حضرت ابوبکر ؓ همدغه شان یوه بله واقعه:او همدغه شان یوه واقعه د ابوبکر او د ربیعه بن جعفر په مینځ کښې هم راغله، امام احمد ؒد ربیعه نه نقل کوی،هغه فرمائی:

"أن النبی ﷺ أعطاه أرضًا وأعطی أبابکر أرضاً،قال:فاختلفا فی عذق نخلة،فقلتُ أنا:هی فی حدّی،وقال أبوبکر:هی فی حدّی،فکان بیننا کلام فقال له أبوبکر کلمة ثم ندِم،فقال:ردّ علیّ مثلها حتی یکون قصاصاً،فأبیتُ فأتی النبیَّ ﷺ فقال:ما لَك وللصدیق؟. فذکر القصة . فقال أجل فلا تردّ علیه ولکن قل:غفر الله لك یا أبابکر،فقلتُ،فولّی أبوبکر وهویبکی".[۴]

هغه فرمائی چې نبی کریم ﷺ ما ته یوه زمکه راکړه،او ابوبکر ته ئې هم یوه زمکه ورکړه،بیا زمونږ د کهجورې په یوې میوه دارې ونې باندې اختلاف شو،ما وئیل دا زما په حد کښې ده.او هغه اووئیل زما په حد کښې ده،زمونږ مینځ کښې خبرې اوږدې شوې،هغۀ ما ته یو لفظ اووئیلو بیا هغه په هغې پښیمانه شو،نو هغۀ ما ته اووئیل چې اوس تۀ هم ما ته ددې په شان خبره اوکړه.دې د پاره چې دا د هغې بدله شی.او په آخرت کښې زما مواخذه اونۀ شی،ما انکار اوکړو.ابوبکر رسول الله ﷺ ته راغلو،نو حضور ﷺ اوفرمائیل،ستا او د صدیق څۀ قیصه ده؟ ما هغه ټوله واقعه بیان کړه،نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل هاؤ ! د هغۀ متعلق داسې لفظ مۀ وائې،هنه ! دا اووایه،چې اې ابوبکر ! الله تعالی دې ستا مغفرت اوکړی.ما څې دا اووئیل نو ابوبکر په جړا جړا واپس شو او لاړو۔

د حدیث فوائد:ددې حدیث نه ګنړ شمیر فوائد مستنبط کیږی:

①:-یو خو دا چې حضرت ابوبکر ؓ د نورو ټولو صحابۀ کرامو نه افضل او غوره وو،لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د هغۀ په ناراضه کولو باندې د حضرت عمر ؓ وغیره نه د خفګان اظهار اوکړو.او د هغۀ د تفضیل او ترجیح وجه ئې بیان کړه،او هغه ئې خپل خاص دوست اونبودلو۔

②:-دویمه خبره دا معلومه شوه،چې فاضل ته د خپل ځان نه افضل سره په غصه باندې

---

[۱]) عمدة القاری:۱۲۵۱.۱۶

[۲]) فتح الباری:۱۳۱.۹

[۳]) عمدة القاری:۱۲۵۱.۱۶

[۴]) مسند أحمد،حدیث ربیعة بن کعب الاسلمی رقم:۱۱۶۵۷۷

راتلل نۀ دی پکار۔

③:-دریم دا چې د یو سړی مخامخ هم د هغه تعریف جائز دي،هآؤ ! دومره خبره ضرور ده،چې دا جواز په هغه وخت کښې دي،چې د هغه سړی په فتنه یا دهوکه کښې د پریوتو ویره نۀ وی۔

④:-دا خبره هم معلومه شوه،چې د انسان طبیعت او جبلّت داسې جوړ کړې شوې دي،چې کله کله په دۀ باندې د غصې حالت غالب راځی،او د هغې په وجه هغه بیا خلاف اولی کارونه کوی،هر انسان د داسې قسمه بشری تقاضو او کمزورو سره خلقتًا مخامخ کیږی،بیا د هغۀ د فضل او کمال ننبه ده،چې هغه زر د هغې نه رجوع اوکړی،او د الله تعالی هم ارشاد دي،"ان الذین اتقوا اذا مسّهم طائفٌ من الشیطان تذکروا فاذا هم مبصرون"۔(۱) نیکو خلقو ته چې کله د شیطان د اړخ نه څۀ وسوسه راشی،نو دوی زر الله تعالی رایادوی او د زړۀ په سترګو سره اوګوری۔

⑤:-د حدیث نه دا هم معلومه شوه چې د نبی نه غیر کۀ یو سړې هر څومره هم لوئی فضیلت او مقام والا ولې نۀ وی،په هر حال کښې هغه معصوم نۀ وی،او د هغۀ نه غلطی کیږی۔

⑥:-دا هم معلومه شوه،چې زیاتی کونکی له مظلوم ته د خپل ځان د استغفار د پاره وئیل پکار دی،او د هغۀ د ناراضه کولو د وبال نه خپله ذمه فارغول پکار دی۔

⑦:-دا یوه فطری خبره ده،چې کله یو سړې چا ته غصه شی نو عموماً د هغۀ نامه نۀ اخلی، بلکه د هغه نسبت پلار یا نیکۀ اړخ ته کوی،حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم "ابن الخطاب" وئیلو سره دغسې اوکړل،همدغسې نبی کریم ﷺ هم په یوه موقعه باندې د حضرت علی رضی الله عنه په حقله اوفرمائیل:(۲)

هغوی ﷺ اوفرمائیل: "إلا إن کان ابن أبي طالب یرید أن ینکح ابنتهم....."(۳)

په یو روایت کښې دا الفاظ دی: "إلا أن یرید ابن أبي طالب أن یطلّق ابنتي وینکح ابنتهم"۔(۴)

۳۴۶۲:(۵) حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ قَالَ خَالِدٌ الْحَذَّاءُ حَدَّثَنَا عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم

---

(۱) سورة الاعراف آیت ۲۰۰۔

(۲) اوګوری: فتح الباری:۷،۳۱،وعمدة القاری:۱۶،۲۵۱

(۳) مسند احمد،حدیث ربیعة بن کعب،رقم:۱۶۵۷۷

(۴) اوګوری: کتاب النکاح،باب ذب الرجل عن ابنته فی الغیرة والإنصاف،رقم(۵۲۳۰)

(۵) الحدیث أخرجه البخاری فی صحیحه:۱،۵۱۷،کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ،باب قول النبی ﷺ "لو کنت متخذا خلیلاً"،رقم:۳۶۶۲،وفی:۲،۶۲۴،کتاب المغازی،باب غزوة ذات السلاسل،رقم:۴۳۵۸،ومسلم فی:۲،۲۷۳،کتاب فضائل الصحابة،باب من فضائل أبی بکر،رقم:۲۳۸۳

بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السَّلاَسِلِ، فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَىُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ «عَائِشَةُ». فَقُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ فَقَالَ « أَبُوهَا » . قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ « ثُمَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ » . فَعَدَّ رِجَالاً.[٤١٠٠]

رجال الحديث

مُعَلَّى بْنُ أَسَد:دا معلى بن اسد ابو الهيثم البصرى دي۔ددۀ احوال تير شوى دى۔(١)

عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ:دا عبدالعزيز بن المختار الأنصارى البصرى ابو اسحاق(يا ابو اسماعيل)الدباغ دي۔ددۀ احوال هم تير شوى دى۔(٢)

خَالِدٌ الْحَذَّاءُ:دا خالد بن مهران ابو المنازل الحذاء البصرى دي،ددۀ احوال د"كتاب العلم،باب قول النبى ﷺ اللهم علّمه الكتاب"لاندې تير شوى دى۔(٣)

ابو عُثْمَان:ددۀ نوم او نسب داسې دي:عبدالرحمٰن بن مَلّ بن عمرو بن عدى بن وهب بن ربيعه بن سعد بن جُنيمة(يا خُزيمة)بن كعب بن رفاعة بن مالك بن نهد بن زيد بن ليث بن أسود بن أسلم بن الحاف بن قضاعه،أبوعثمان النهدى الكوفى.

بعضې حضراتو ملّى ذكر كړې دي،او بعضې مَلّ۔(٤)

همدغه شان د خزيمه بالخاء المعجمة په ځائې بالحاء المهملة هم ذكر كړې شوى دي۔(٥)

دا(ابو عثمان)په كوفه كښې پاتې شوې دي،او د هغې نه ورستو بصرې ته راغې۔

دۀ د جاهليت زمانه هم موندلې وه،او د رسول الله ﷺ په زمانه كښې ئې اسلام قبول كړې

---

(١) اوګورئ كتاب الحيض،باب المرءة تحيض بعد الإفاضة حديث(٣٦٩)\

(٢) اوګورئ كتاب الصلاة،باب التعاون فى بناء المسجد،حديث(٤٤٧)\

(٣) كشف البارى:٣٦١،٣\

(٤) اكمال تهذيب الكمال:٢٣٣،٨\

(٥) اكمال تهذيب الكمال:٢٣٣،٨،مغلطائى د ابن ماكولا او د حافظ ابن عبد البر په حوالې سره نقل كړى دى،چې دا لفظ"بفتح الحاء المهملة والزاء المكسورة"دي،او حافظ مزى چې دا"جذيمة بالجيم يا خزيمة بالخاء المعجمة نقل كړې دي،هغې ته ئې"غير جيّد وئيلى دى،بيا هم محققينو دا د مغلطائى د غير ضرورى تنبيهاتو او مجازفاتو نه ګرځولې دى،او د حافظ مزى خبره ئې صحيح ثابت كړې ده،ددې د صحيح كيدو يوه وجه خو داده،چې د ابن عبد البر په"الاستيعاب"كښې هم"خزيمه بالخاء المعجمة المضمومة واقع دي،بيا دار قطنى هم"المؤتلف(٢١٨،١)كښې د"نهد"قبيلې تشريح كولو سره وئيلى دى،"منهم أبو عثمان النهدى..... او وراندې ئې وئيلى دى،"ومنهم قبائل باليمن وقبائل بالشام كلهم ولد خزيمة ـ كذا أوله معجمة مضمومة ـ بن نهد،وهم فى تنوخ فى نهد اليمن.

همدغه شان د ابن الاثير په"أسدالغابة"كښې هم خزيمه (بضم الخاء المعجمة) دي اوګورئ"أسد الغابة ٣،١٥٤.

دي، د هغوی ﷺ په نوم باندې ئې صدقه هم لیږلې وه، ولې د هغوی ﷺ سره ئې ملاقات اونه کړې شو۔[۱]

وئیلې شوی دی، چې د شپیتو (۶۰) کالو نه زیاته زمانه ډۀ په جاهلیت کښې تیره کړې وه، او د شپیتو (۶۰) کالو نه زیاته زمانه په اسلام کښې ژوندې پاتې شوې دې، او په سن ۱۰۰ هجري کښې ددۀ وفات شوې دې، د قادسیه، جلولا، تستر، نهاوند، یرموک، آذربیجان، مهران ورستم په جنګونو کښې ئې شرکت کړې دې۔[۲]

ابن سعد د "الطبقات الکبرٰی" په "طبقه اولیٰ من المصریین" کښې ددۀ ذکر کړې دې، هغه فرمائی:

"أخبرنا الفضل بن دکین قال حدثنا أبو طالوت عبد السلام بن شدّاد قال، رأیتُ أبا عثمان النهدی شرطیًا یجیئ فیأخذ من أصحاب الکماۃ.....وتوفی فی أول ولایۃ الحجاج العراق بالبصرۃ، وکان ثقۃ"۔[۳]

راوی وائی ابو عثمان النهدی سپاهی وو، چې د خریږو (کمات) اخستلو د پاره به راتلو، په عراق باندې د حجاج د ولایت په اولنو ورځو کښې وفات شوې وو، او ثقه راوی دې۔

ابو الحسن بن البراء فرمائی، علی بن المدینی وائی، "کان جاهلیًا ثقۃ، لقی عُمر وابنَ مسعود وقد أدرک النبی ﷺ"۔[۴]

او هم دا ابو الحسن بن البراء دا هم وائی:

"نسختُ من کتاب علی بن المدینی ولم أسمعه منه: أبو عثمان الهندی، واسمه عبد الرحمٰن بن مَل، ویقال، وأصله کوفی، وصار إلی البصرۃ بعدُ: وهو مِن العرب، وقد أدرک الجاهلیۃ، وهاجر إلی المدینۃ بعد موت أبی بکر، ووافق استخلافَ عُمرَ وسمع من عُمرَ ولم یسمع من أبی ذر"۔[۵]

(راوی) وائی، چې ما د علی بن المدینی د کتاب نه لیکلی دی او د هغۀ نه مې اوریدلې نۀ دی، چې.... ابو عثمان النهدی، چې د هغه نوم عبد الرحمٰن بن مَل (د میم په حرکات ثلاثه سره) دې، اصلاً کوفی دې، بیا ورسته بصري ته راغې، عرب دې، په جاهلیت کښې هم پاتې شوې دې، د ابوبکر د وفات نه ورسته ئې مدینې منورې ته هجرت کړې دې، او د عمر (رضی اللہ عنہ) په زمانه د خلافت کښې مدینې ته راغې، د حضرت عمر (رضی اللہ عنہ) نه ئې حدیث اوریدلی دی، او د ابوذر (رضی اللہ عنہ) نه ئې نۀ دی اوریدلی۔

حسن بن قتیبه د ضحاک بن یسار نه نقل کوی، هغه وائی چې ما د ابو عثمان النهدی نه دا اوریدلی دی:

---

[۱] تهذیب الکمال: ۱۷، ۱۴۲۵

[۲] اکمال تهذیب الکمال للمغلطائی: ۸، ۳۳۳

[۳] الطبقات الکبری: ۷، ۹۷، ۱۹۸

[۴] تهذیب الکمال: ۱۷، ۴۲۷، والجرح والتعدیل: ۵، الترجمۃ (۱۳۵۰)

[۵] تهذیب الکمال: ۱۷، ۴۲۷

"كنتُ ابن سبع عشرة سنةً أرعى إبل أهلي، فكان يمرُّ بنا الماءُ جائيًا من تهامة فنقول: ما هذا الصابئ الذي خرج فيكم؟ فيقول: خرج والله رجل يدعوا إلى الله وحدَه قد أفسد ذات بينهم".(١)

يعنى زهٔ د وولسو(١٧)كالو ووم،ما اوښان څرول.او اكثر به په مونږ باندې د تهامې نه د راتلونكى يو سړى تيريدل كيدل،مونږ به هغهٔ ته وئيل،دا"صابئ"يعنى د پلار نيكهٔ د دين نه وتونكى په تاسو كښې څوك راوتلې دې؟هغه به وئيل په خدائې قسم! يو سړې راوتلې دې، چې يو الله ارخ ته دعوت وركوى،او هغهٔ د خلقو خپل مينځ كښې تعلقات خراب كړى دى.

عبد القاهر بن السّرى د خپل پلار نه او هغه ددهٔ د نيكهٔ نه نقل كوى:

"كان أبو عثمان النهدى من قُضاعة وأدرك النبيَّ ﷺ ولم يَرَه وكان من ساكِني الكوفة، فلما قُتل حسين تحوَّل إلى البصرة وقال لا أسكن بلداً قُتل فيه ابن بنتِ رسول الله ﷺ وحجَّ ستينَ ما بين حَجَّةٍ و عُمرةٍ وقال: أتت علىَّ ثلاثون ومئة سنةٍ، وما مِنِّي شيءٌ إلا وقد أنكرته خلا أملى، فانى أجدُه كما هو".(٢)

د ابو عثمان النهدى تعلق د قبيلهٔ قضاعه سره وو،هغه د رسول الله ﷺ زمانه موندلې وه،خو هغوى ﷺ سره ئې ملاقات نهٔ دې شوې،او د كوفې اوسيدونكې وو،او كله چې حضرت حسين شهيد كړې شو،نو بصرې ته لاړو،او وې وئيل چې زهٔ په داسې ښار كښې نهٔ اوسيږم، چې په هغې كښې د رسول الله د لور د زړهٔ تكړه(يعنى خوئې)شهيد كړې شوې وى، شپيتو(٦٠)ته نيزدې حجونه او عمرې ئې كړې وې،او فرمائيل به ئې زما يو سل ديريش كاله عمر تير شو،او زما هر څهٔ بدل شو،ما سوا د اميد نه چې هغه هم هغسې ژوندې دې.

معتمر بن سليمان د خپل پلار نه نقل كوى:

"إنى لاحسبُ أبا عثمان كان لا يصيبُ ذنباً، كان ليلهُ قائماً، ونهارهُ صائماً، وإن كان ليصلِّى حتى يغشى عليه".(٣)

هغه اووئيل ما ته پته ده،ابو عثمان به گناه بالكل نهٔ كوله،د هغه به تول عمر د شپې قيام او د ورځې روژه وه،او دومره مونځونه به ئې كول،چې هغه به بې هوشه شو.

سعيد بن عامر د معتمر بن سليمان نه نقل كوى: "كان أبو عثمان النهدى يصلى فربما صلّى حتى يغشى عليه، وكان له يتامى يحضرون طعامه، فوقع الطاعون فماتوا فكان يقول: مات أصحابى".(٤)

ابو عثمان النهدى به مونځ كولو،نو كله كله به هغه بې هوشه شو،او د هغهٔ څهٔ يتيمانان وو،چې په خوراك كښې به هغوى سره وو،بيا طاعون راغې،هغه تول مړهٔ شو،نو د هغې نه ورستو به ابو عثمان وئيل،زما ملګرى مړهٔ شو.

يعقوب بن اسحاق حضرمى وائى،عبد السلام بن عجلان وئيلى دى:

---

١) تهذيب الكمال:١٤٢٧.١٧

٢) تهذيب الكمال:١٤٢٧.١٧

٣) تهذيب الكمال:١٤٢٧.١٧

٤) الإستيعاب لابن عبدالبر:٨٥٥.٢

"كان أبوعثمان النهدى إذا حدّث قال: ارجعوا مغفوراً لكم، فلو حلفتُ لبررتُ أنه مغفوراً لكم". (١)
ابو عثمان چې به کله هم حدیث بیانول نو فرمائیل به ئې، څئ ستاسو مغفرت شوې دې، تاسو ښښلې شوی ئې، او کۀ زه په دې قسم اوکړم (چې ستاسو مغفرت کړې شوې دې) نو حانث به نۀ شم۔
عبد الرحمٰن بن أبی حاتم وائی، ما د خپل پلار نۀ اوریدلی دی، هغه وئیل:
"ابوعثمان النهدى ثقة، كان عريف قومه، سئل أبوزرعة عن أبي عثمان النهدى، فقال: بصرى ثقة". (٢)
ابو عثمان ثقه دې، د خپل قوم سردار وو، د ابو زرعه ددۀ په حقله پوښتنه اوکړې شوه، نو وې وئیل، بصری دې، ثقه دې۔
نسائی او عبد الرحمٰن بن یوسف بن خراش وائی، "ثقة". (٣)
عمرو بن علی وغیره وائی، چې په سن ۹۵ هجری کښې د ۱۳۰ کالو په عمر کښې دې وفات شوې دې۔ (٤)
یحیی بن معین او نور ګڼ شمیر کسان وائی، چې ۱۰۰ هجرې کښې وفات شوې دې۔ (٥)
خلیفة بن الخیاط وائی، چې د ۱۰۰ هجرې نه ورسته وفات شوې دې، او دا هم وئیلې شوی دی، چې ۹۵ هجری نه ورسته وفات شوې دې۔ (٦)
ابو هشیم وائی د ۱۴۰ کالو په عمر کښې وفات شوې دې۔ (٧)
حافظ ابو نعیم وائی:
"أسلم فی عهد النبی ﷺ ولم یره، حجّ قبل بعثة النبی ﷺ فی الجاهلیة حجتین، توفّی سنة إحدی وثمانین بالبصرة وهو ابن أربعین ومئة سنة، سلّم صدقته إلی سُعاة النبی ﷺ ثلاث سنین وهو مسلِم ثم قدم المدینة فی أیام عمر بن الخطاب وکان کثیر العبادة، حسَن القراءة لزم سلمانَ الفارسیِ فصحبه اثنتی عشرة سنة". (٨)
د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې ئې اسلام قبول کړو، او د رسول الله ﷺ رؤیت دۀ ته نصیب نۀ شو، د رسول الله ﷺ د بعثت نه وړاندې په زمانۀ جاهلیت کښې ئې دوه حجونه کړی وو، په سن ۸۱ هجرې کښې په بصره کښې د ۱۴۰ کالو په عمر کښې وفات شو، د اسلام په حالت کښې ئې دری کاله د رسول الله ﷺ عاملینو ته صدقه هم ورکړه، بیا د عمر بن الخطاب په

---

١) تهذيب الكمال: ١٧، ٣٢٧
٢) الجرح والتعديل: ٥، ٤٢٩
٣) تاريخ بغداد: ١٠، ٢٠٥، وتهذيب الكمال: ١٧، ٤٢٩
٤) تاريخ بغداد: ١٠، ٢٠٥
٥) تاريخ بغداد: ١٠، ٢٠٥
٦) طبقات خليفة، ص: ٢٠٥
٧) تهذيب الكمال: ١٧، ٤٣٠
٨) تهذيب الكمال: ١٧، ٣٢٩

زمانه کښې مدينې منورې ته راغلو ،دير زيات عبادت کونکې وو ،دير ښکلې قراءت به ئې کولو ،د سلمان الفارسی صحبت ئې اختيار کړو ،دولس کاله هغۀ سره پاتې شو .

عجلی هم وائی، "ثقة".(۱)

شيوخ: أبيّ بن كعب، أُسامه بن زيد، أنس بن جندل، بلال بن رباح، جابر بن عبد الله، جُندب بن كعب الأزدی، حذيفة بن اليمان، حنظلة الكاتب، زهير بن عمرو الهلالی، زياد بن أبی سفيان، زيد بن أرقم، سعد بن أبی وقاص، سعيد بن زيد بن عمرو بن نُفيل، سلمان الفارسی، طلحة بن عبيد الله، عامر بن مالك، عبد الله بن عامر، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر بن الخطاب، عبد الله بن عمرو بن العاص، عبد الله بن مسعود، عبد الرحمٰن بن أبی بكر الصديق، علی بن أبی طالب، عمر بن الخطاب، عمرو بن العاص، عمران بن حُصين، قبيصة بن مخارق، مجاشع بن مسعود، مجالد بن مسعود، مطرف بن عوف، أبو برزة الأسلمی، أبوبكرة الثقفی، أبو ذر الغفاری، أبوسعيد الخدری، أبوموسیٰ الأشعری، أبوهريرة، عائشة اوأم سلمه وغيرهم رضی الله عنهم وأرضاهم أجمعين

تلامذه: أيوب السّختيانی، ثابت البُنانی، جعفر بن ميمون الأنماطی، حجاج بن أبی زينب الواسطی، حُميد الطّويل، حنان الأسدی، خالد الحذاء، داؤد بن أبی هند، سعيد الجُريری، سليمان التيمی، ضحاك بن يسار، عالم الأحول، عبد الكريم بن رُشيد المصری، عطاء بن عجلان، علی بن زيد بن جُدعان، عُمارة بن أبی حفصة، عمران بن حُدير، عون بن أبی شداد، ميمون الكُردی، نزّال بن عمار وغيرهم.(۲)

حافظ ابن حجر ددۀ متعلق فرمائی،

"مخضرم من كبار الثانية، ثقة، ثبت عادل" تقريب التهذيب، ص: ۳۵۱، ترجمة ۴۰۱۷، ذهبی فرمائی، زكّی فی حيات النبی ﷺ، سمع عمرَ، وأبيًا، وعنه أيوب والحذاء قال سليمان التيمی إنی لأحسبه كان لا يصيب ذنبًا، ليلُه قائم ونهارُه صائم....." الكاشف: ۱، ۶۴۵، ترجمة (۳۳۲۲)، ذهبی دا هم فرمائی: "كان كبير الشان، صوّامًا، قوّامًا، قانتًا لله حنيفًا، ورد أن كان يصلی حق يغشی عليه، وكان ثقة إماماً، ثبتاً". تاريخ السلام: ۲۲۹، ۲۲۸، ۳، ترجمة ۱۲۱۳، نور اوكورئ، سير أعلام النبلاء: ۴، ۱۷۵-۱۷۸، التاريخ الكبير: ۹، ۸۳، البداية والنهاية: ۵، ۱۵، الاستيعاب: ۲، ۴۳۷، تاريخ بغداد: ۱۰، ۲۰۲، الاصابة: ۳، ۹۸، ۹۹\

ددې حديث راويان ټول بصريان دی ماسوا د ابو عثمان النهدی نه.(۳)

ذات السّلاسِل: "سَلاسِل" بفتح السين الأول د سِلسِلةٌ جمع ده، ابو عبيد البكری هم داسې نقل

---

۱) ثقات العجلی، ص: ۱۶۳\

۲) تهذيب الكمال: ۱۷، ۴۲۶، ۴۲۷، تهذيب التهذيب: ۶، ۲۷۷، ۲۷۸، والجرح والتعديل: ۵، ۳۴۵، اكمال تهذيب الكمال: ۸، ۲۳۲، ۲۳۴.

۳) فتح الباری: ۹، ۳۱، دار الكتب العلمية بيروت\

کړی دی،دلته ددې نه یو مقام مراد دې،او دا ځائې هم په دې وجه په دې نوم نومولې شوې دې،چې هلته شکې د زنځیر په شان کړئ کړئ لاندې باندې په نظر راځی،یا بیا وجه د تسمیې داده،چې په دې غزوه کښې مشرکین د یو بل د تختیدو د ویرې نه خپل مینځ کښې د کړو په شان ملاؤ شو،او ترلې شوی وو،او ابن الاثیر سُلاسل بضم السین لیکلې دې،او دا ئې د سِلسال یعنی د سهل په معنې باندې اخستې دې۔[۱]

قوله: أيُّ الناس أحب إليك: د قیس بن أبی حازم په روایت کښې دا زیاتوالې هم دې، "إليكَ فأحمه"۔[۲]

ستا په خیال د ټولو نه زیات محبوب څوك دې،چې زه د هغۀ سره محبت اوکړم!

د عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ د پوښتنې وجه: وائی چې عمرو بن العاص دا پوښتنه دې د پاره کړې وه، چې هغه رسول الله ﷺ په دې غزوه کښې امیر جوړ کړې وو،نو د هغۀ په خیال کښې دا راغلل چې کیدې شی زۀ رسول الله ﷺ ته د نورو نه زیات محبوب او خوښ یم،ځکه ئې د هغوی په موجودګئ کښې زۀ امیر جوړ کړم،یعنی ما امیر جوړول د،"أحب إلى الرَّسول" کیدو علامت دې،او بیا د رسول الله ﷺ دیر محبوب کیدل دیر لوئې شرافت او سعادت دې،نو حضرت عمرو بن العاص دا معامله صفا کول اوغوښتل،چې آیا زۀ یم هم د الله د رسول ته "أحب" یا دا صرف زما خیال دې۔[۳]

قوله: فقلتُ من الرجال؟: ابن خزیمه او ابن حبان د قیس بن أبی حازم عن عمرو.....

په طریقې سره دا الفاظ نقل کړی دی، "إنی لستُ أعنی النساءَ انی أعنی الرجال"۔[۴] زۀ د نښځو خبره نۀ کوم،زۀ د سړو خبره کوم۔

ابن حبان د انس نه دا الفاظ هم نقل کړی دی:

"سُئل رسول الله ﷺ مَن أحب الناس إليك؟ قال عائشة، قيل له ليس عن أهلك نسألك"۔[۵]

د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړې شوه،چې د ټولو نه زیات محبت ستاسو د چا سره دې؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل عائشې سره،اُووئیلې شو،چې ستاسو نه ستاسو د کور والوڼ په حقله پوښتنه نۀ کوو۔

قوله: فعد رجالاً: په مغازی کښې ددې نه ورسته د عمرو نه دا الفاظ مروی دی:

---

[۱] فتح الباری:۳۱،۹،بیروت،وعمدة القاری:۱۲۵۲،۱۶

[۲] فتح الباری:۱۳۲،۹

[۳] فتح الباری:۱۳۱،۹

[۴] صحیح ابن حبان،رقم:۷۱۰۶،مؤسسة الرسالة

[۵] صحیح ابن حبان،باب ذکر الخبر الدال علی أن مخرج هذا السؤال والجواب معاً کان عن أهله دون سائر النساء من فاطمة وغیرها،رقم:۷۱۰۷،مؤسسة الرسالة

"فسكتُ مخافَةَ أن يجعلَني في اخرهم".(۱)
زه ددې ویرې چُپ شوم، چې چرته زما نوم د ټولو په آخره کښې وانخلی۔
د "رجال" نه څوک مراد دی؟ د عبد الله بن شقیق په روایت کښې دا الفاظ دی:
"قلت لعائشةَ: أيُّ أصحاب النبي ﷺ كان أحب اليه؟ قالت: أبوبكر، قلتُ: ثم مَن؟ قالت عمرُ، قلت: ثم مَن؟ قالت: أبوعبيدةَ بن الجراح، قلتُ: ثم مَن؟ فسكتَت".(۲)
وې فرمائیل ما د حضرت عائشې رضی الله عنها نه پوښتنه اوکړه، چې کوم یو صحابی رسول الله ﷺ ته زیات خوښ دي، حضرتَ عائشې رضی الله عنها اوفرمائیل، ابوبکر، ما اووئیل بیا څوك؟ وې فرمائیل عمر، ما اووئیل بیا څوك؟ وې فرمائیل ابو عبیدة بن الجراح، ما اووئیل بیا څوك؟ نو هغه چُپ شوه۔
دې نه معلومه شوه، چې په حدیثِ باب کښې د حضرت عمر رضی الله عنه د ذکر نه ورسټو چې کوم "رجالاً" راغلي دي په هغې د بعضې رجال مصداق حضرت ابو عبیدة بن الجراح کیدې شی۔
حافظ ابن حجر په سندِ صحیح سره د ابو داؤد، احمد او نسائی روایت ذکر کړې دې، چې په هغې کښې حضرت نعمان بن بشیر فرمائی: "استاذَنَ أبوبكر على النبي ﷺ فسمع صوتَ عائشة عالياً، وهي تقول: والله لقد علمتُ أن عليًا أحبُّ إليك مِن أبي".(۳)
ابوبکر د رسول الله ﷺ خوا ته د راتلو اجازت اوغوښتلو، (او کله چې داخل شو) نو د عائشې په اوچت آواز دا وئیل ئې واؤریدل چې، په خدائي قسم ! زهٔ پوهه شوې یم چې تاسو (رسول الله ﷺ) ته حضرت علی رضی الله عنه زما د پلار (ابوبکر) نه ډیر خوښ دي۔
حافظ ابن حجر رحمه الله وائی، ددې نه معلومه شوه، هغه کسان چې حضرت عمرو بن العاص په "رجالاً" وئیلو سره مبهم اوساتل، هغه حضرت علی رضی الله عنه دي، ځکه چې حضرت عائشه فرمائی، چې حضرت علی رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زیات خوښ دي، د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه زیات یا کم، خیر دا خو بله خبره ده، خو في الجملة أحب إلى الرسول کیدل هغهٔ د پاره هم ثابت شو، نو د "رجال" د مبهم لفظ نه کیدې شی هغه مراد وی، د حافظ صاحب مطلب به دا وی، کله چې حضرت عائشې رضی الله عنها دا اوفرمائیل: چې حضرت علی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په نظر کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه أحب (زیات خوښ) دي، نو ددې نه دا خبره خو په هر حال کښې معلومه شوه، چې حضرت علی رضی الله عنه د رسول الله په ډیر خوښو کسانو کښې وو، اوس یو احتمال (چې احتمالِ محض، غیر ناشی عن دلیل دي) خو دا دي، چې د "رجالاً" نه مراد د

---

۱) اوګورئ کتاب المغازی، باب غزوة ذات السلاسل، حدیث (۴۳۵۸)
۲) أخرجه الترمذی، باب مناقب أبی بکر، رقم: ۳۶۵۷، دار إحیاء التراث العربی\
۳) مسند أحمد، رقم: ۱۸۶۱۱، ۴۸۴۲۱، مؤسسة الرسالة، ولم أجده عند الترمذی والنسائی.....\

حضرت عمرو بن العاص حضرت علی رضی الله عنه وی، او د هغهٔ ذکر نبی علیه السلام په اول نمبر باندې کړې وو، ولې حضرت عمرو رضی الله عنه د ټولو نه وړاندې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه ذکر اوکړو، او ورسټو ئې حضرت علی رضی الله عنه د رجالاً په مبهم لفظ سره ذکر کړو، ځکه چې عمرو د حضرت معاویه رضی الله عنه ملګري وو، او د حضرت علی رضی الله عنه ددې منقبت او شان ښکاره کول هغه ته خوښ نهٔ وو، دا د روافضو خیال دی، چې باطل او غلط دی، په دې وجه چې کهٔ حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه د حضرت معاویه رضی الله عنه د ملګرتیا په وجه او د حضرت علی رضی الله عنه د مخالفت په وجه داسې کول، نو بیا حضرت نعمان بن بشیر به هم د حضرت معاویه د ملګرتیا په وجه د حضرت علی رضی الله عنه د منقبت ذکر نهٔ کولو، او کله چې هغهٔ د حضرت معاویه رضی الله عنه د ملګرتیا سره سره د حضرت علی رضی الله عنه د فضیلت ذکر اوکړو، نو حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه چې د هغه نه د لوئې درجې صحابی دی، هغهٔ به ولی د حضرت علی رضی الله عنه د فضیلت د ذکر کولو نه ډډه کوی؟

رفع د تعارض: اوس دا چې د حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه او د حضرت عائشې رضی الله عنها په دې روایاتو کښې چې کوم ظاهری تعارض دی، چې د عمرو د روایت نه د ابوبکر أحب إلی الرسول کیدل ثابتیږی، او د حضرت عائشې د روایت نه د حضرت علی رضی الله عنه "أحب" کیدل، نو ددې جواب دادې، چې ترجیح د حضرت عمرو رضی الله عنه روایت ته حاصله ده، ځکه چې په دې کښې د رسول الله د قول ذکر دی، او د عائشې په روایت کښې د هغوی رحمهم الله تقریر دی، او قول ته په تقریر باندې ترجیح وی، په دې وجه "أحب إلی الرسول" به هم ابوبکر وی، نهٔ چې حضرت علي (رضی الله عنهما) دویم احتمال په دې کښې دادې، چې حضرت عمرو رضی الله عنه چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه، عمر رضی الله عنه او رجال د أحبیت ذکر کړې دی، خبره هم دغسې وه، ولې حضرت عائشې ته دا شك وو، چې حضرت علی (رضی الله عنه) أحب إلی الرسول دی، نو هغې ددې اظهار اوکړو.

او هسې د حضرت عائشې رضی الله عنها خیال صحیح کیدې هم شی، لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ په دې باندې د سکوت او تقریر نه معلومیږی، او دا به په هغه وخت کښې کیږی، چې حضرت علی رضی الله عنه هم په څهٔ خاص او جزوی وجه باندې د هغوی رحمهم الله ډیر محبوب وی، نو دا د رفع تعارض دویمه وجه یعنی د تطبیق صورت دی، او هغه داسې چې په عمومی او مجموعی اعتبار سره ډیر محبوب کیدل خو د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د پاره ثابت دی، خو په یو بل حیثیت سره حضرت علی رضی الله عنه هم أحب إلی الرسول کیدې شی، او ددې نه هیڅ یو امر مانع نشته.[1]

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دی، ځکه چې باب، د فضائل أبی بکر په حوالې سره دی، او په حدیث کښې هم د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د افضل کیدو ذکر دی، ځکه چې أحب الناس کیدل د افضل الناس کیدو دلیل دی.[2]

---

[1] فتح الباری شرح صحیح البخاری: ۳۲،۹\

[2] عمدة القاری للعینی: ۲۵۱،۱۶\

٣٤٦٣:(١) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِى قَالَ أَخْبَرَنِى أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ -رضى الله عنه- قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ «بَيْنَمَا رَاعٍ فِى غَنَمِهِ عَدَا عَلَيْهِ الذِّئْبُ، فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً، فَطَلَبَهُ الرَّاعِى، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الذِّئْبُ فَقَالَ مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، يَوْمَ لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِى، وَبَيْنَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً قَدْ حَمَلَ عَلَيْهَا، فَالْتَفَتَتْ إِلَيْهِ فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَتْ إِنِّى لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا، وَلَكِنِّى خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ». قَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللَّهِ. قَالَ النَّبِى -صلى الله عليه وسلم- «فَإِنِّى أُومِنُ بِذَلِكَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضى الله عنهما». [ر: ٢١٩٩]

أَبُو الْيَمَانِ: دا ابو اليمان حَكم بن نافع بهرانى حمصى دي، ددهٔ احوال په "كتاب بدء الوحى" باب ۶، كښې تير شوى دى.(٢)

شُعَيْبٌ: دا ابو بشر، شعيب بن أبى حمزة القرشى الاموى دي، ددهٔ احوال هم دغه "بدء الوحى"، باب نمبر ۶ "كښې تير شوى دى.(٣)

الزُّهْرِى: محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهرى مراد دي، ددهٔ احوال په كتاب بَدء الوحي باب نمبر ٣ كې تير شوى دى.(٤)

أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ: حضرت عبدالرحمن بن عوف د (جليل القدر صحابى) څوئې او مشهور تابعى ابو سلمه مراد دي، ددهٔ احوال د "كتاب الإيمان"، باب تطوّع قيامِ رمضان "لاندې تير شوى دى.(٥)

أَبَا هُرَيْرَةَ: د رسول الله ﷺ مشهور صحابى مراد دي، ددهٔ احوال د "كتاب الإيمان"، باب أمور الإيمان "لاندې تير شوى دى.(٦)

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه: ١، ٥١٧، كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ، باب قول النبى ﷺ "لو كنتُ متخذاً خليلاً، رقم: ٣٦٦٣، وفى: ١، ٣١٢، كتاب الحرث والمزارعة، باب استعمال البقر للحراثة، رقم: ٢٣٢٤، وفى: ١، ٤٩٤، كتاب أحاديث الأنبياء، باب: ٥٤، بعد باب حديث الغار، رقم: ٣٤٧١، وفى ١، ٥٢٢١، كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ، باب مناقب عمر رضى الله عنه، رقم: ٣٦٩٠، ومسلم فى صحيحه: ٢، ٢٧٤، كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل أبى بكر الصديق، رقم: ٢٣٨٨، والترمذى فى جامعه: ٢، ٢٠٩، فى المناقب، باب مناقب أبى بكر، رقم: ٣٦٨١، وفى مناقب عمر بن الخطاب، رقم ٣٦٩٦، انظر الجامع: ٢، ٢١٠.

(٢) اوګورئ: كشف البارى: ١، ١٤٧٩

(٣) اوګورئ: كشف البارى: ١، ١٤٨٠

(٤) اوګورئ: كشف البارى: ١، ٣٢٦

(٥) اوګورئ: كشف البارى: ٢، ٣٢٣

(٦) اوګورئ: كشف البارى: ١، ٦٥٩

شپونکي څوک وو؟ بَيْنَمَا رَاعٍ فِي غَنَمِهِ .....حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، د شپونکي نوم ما ته نۀ دي معلوم شوي، هنه ! مصنف په "باب ذکر بني إسرائيل" کښي دا روايت ذکر کړي دي،(۱) چې د هغې نه معلوميږی، چې دا د هغۀ له مخې د اسلام د زماني نه د وړاندي زماني يو سړي وو(۲) د اٰمَنُ بِذٰلِكَ، وَأَبُوبَكْرٍ وَ عُمَرُ وئيلو وجه: د شرمخ په خبره باندي د حضور ﷺ "فَإِنِّي أُومِنُ بِذَالِكَ" وئيلو سره د يقين اظهار خو واضح او ښکاره دي، هنه ! د هغوی ﷺ د خپل ځان سره د ابوبکر او عمر ملګری کول، په دي حال کښي چې هغه دواړه حضرات په دغه وخت کښي موجود هم نۀ وو، لکه څنګه چې د "کتاب أحاديث الأنبياء" په روايت کښي "وَمَا هُمَا ثَمَّ" د الفاظو نه معلوميږی(۳) په دي کښي لږ تفصيل دي، او هغه داسې چې ابو نعيم په دلائل کښي د ربيعة بن أوس عن أنيس بن عمرو په طريقي سره د أهبان بن أوس نه نقل کړی دی، هغه فرمائی:

"كُنْتُ فِي غَنَمٍ لِي، فَشَدَّ الذِّئْبُ عَلَى شَاةٍ مِنْهَا، فَصِحْتُ عَلَيْهِ فَأَقْعَى الذِّئْبُ عَلَى ذَنَبِهِ يُخَاطِبُنِي وَقَالَ: مَنْ لَهَا يَوْمَ تَشْتَغِلُ عَنْهَا؟ تَمَنَّعْتُ رَبَّةً رَبَّةً رَبَّةً الله تعالى، فَصَفَقْتُ بِيَدِي وَقُلْتُ: وَاللهِ مَا رَأَيْتُ شَيْئاً أَعْجَبَ مِنْ هٰذَا، فَقَالَ: أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا، هٰذَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بَيْنَ هٰذِهِ النَّخَلَاتِ يَدْعُو إِلَى اللهِ، قَالَ: فَأَتَى أَهْبَانُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَخْبَرَهُ وَأَسْلَمَ".(۴)

أهبان بن اوس وائی، زه د خپلو څۀ چيلو سره ووم، چې شرمخ په دي کښي په يوئي چيلئ باندي حمله اوکړه، نو ما په هغۀ چغه اوباسله، هغه شرمخ په لکئ باندي کيناستو او ما ته ئي اووئيل، په هغه ورځ به ددي څوک ساتونکي وی په کومه ورځ چې تۀ ددي نه غافل او بې نيازه ئي؟ آيا تۀ زما نه د الله تعالی راکړي رزق بندوي؟ ما خپل يو لاس په بل لاس اووهلو او تاتړی مې اووهل، او اومې وئيل، په خدائي قسم! ما خو ددي نه زيات عجيبه هيڅ ځيز هم نۀ دي ليدلي، هغۀ اووئيل، ددي نه زيات عجيبه دا د الله تعالی رسول دي، ددي کۀ جورو په مينځ کښي چې الله تعالی ارځ ته بلنه کوی، راوی وائی، أهبان د رسول الله ﷺ خوا ته راغلو او هغوی ته ئي دا خبر ورکړو او مسلمان شو.

حافظ ابن حجر فرمائی، دا احتمال دي، کله چې أهبان رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکولو، نو په هغه وخت کښي به ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د هغوی ﷺ سره موجود وو، بيا کله چې حضور ﷺ د ابوبکر او عمر په عدم موجودګئ کښي دا خبر ورکړو، نو وې فرمائيل چې زۀ، ابوبکر او عمر په دي باندي ايمان راوړو، په دي موقع ئي د ابوبکر او عمر ذکر په دي وجه اوکړو، چې په

---

۱) اوګورئ: صحيح البخاری، حديث (۳۴۷۱)\
۲) اوګورئ: فتح الباری: ۳۲،۹\
۳) صحيح البخاری، کتاب احاديث الأنبياء، حديث (۳۴۷۱)\
۴) دلائل النبوة لابی نعيم، باب بدء ذئب إلى غنم، رقم: ۲۶۲\

کوم وخت کښې اهبان دا قیصه اوروله،دا حضرات هم موجود وو،او په دې ئې ایمان راوړو،اګر چې اوس(د قیصې بیانولو په وخت کښې) موجود نۀ دی۔
دویم احتمال په دې کښې دادې،چې رسول الله ﷺ ته ددې دواړو حضراتو د صدقِ ایمان او قوت یقین علم وو،په دې وجه رسول الله ﷺ د هغوی په غیر موجودګئ کښې هم په هغوی اعتمَاد کولو سره فرمائیل چې هغه دواړه حضرات هم ما سره په دې عجیبه واقعه باندې په ایمان راوړو کښې شریك دی،دا دویم احتمال د هغوی د مناقبو سره زیات سمون خوری،په دې وجه راجح هم دغه دې،او ګویا دا د هغوی ﷺ د ارخ نه دوی ته د حسنِ اسلام او د ایمان د پوخوالی سند ورکړې شوې دې،چې رسول الله ﷺ د هغوی د لیدلو نه بغیر په دې باندې د ایمان راوړو ګواهی ورکوی۔(۱)

د لفظ"سبع"ضبط او معنی:یَوْمَ السَّبْعِ.....قاضی عیاض وائی،سَبُع د باء په ضمې سره هم راځی،او په سکون سره هم،ولې په روایت کښې په ضمې سره دې،حافظ ابن حجر د حربی په حوالې سره نقل کوی،چې دا په ضمې او سکون دواړو سره ضبط کړې شوې دې،او دا د هغه معروف ځناور(شرمخ) نوم دې۔
ابن عربی وائی چې دا په سکون سره دې،او په ضمې سره چې چا نقل کړې دې،دا تصحیف دې۔ابن جوزی وائی،دا په سکون سره دې،او محدثین دا په ضمې سره وراَیت کوی۔(۲)
د"سَبُع"بالضم معنی:او د ضمې په صورت کښې به معنی دا وی،چې په کومه ورځ درنده دا چیلئ اونیسی،او څوك به هم دا ددۀ د پنجې نه نۀ شی خلاصولې،(شرمخ اووئیل)په هغه وخت کښې به زما نه سوا ددې شپونکې څوك هم نۀ وی،انسان ته ګویا هغۀ اووئیل چې په هغه ورځ به تۀ اوتختې،او بس هم زۀ به دې سره نزدې پاتې شم،نو بیا چې زۀ دې سره څۀ ګول غواړم کوم به۔
ښکارده خبره ده چې شرمخ به د چیلئ څۀ ساتنه او حفاظت اوکړی،هغه به اوخوری،نو کله چې چیلئ د هغه په رحم او کرم باندې وی،نو ګویا هغه به د چیلو شپونکې وی۔

داؤدی وائی،ددې مطلب دادې،چې په کومه ورځ"سَبُع"یعنی شرمخ په دې باندې حمله اوکړی،نو تۀ به ددې نه اوتختې،او زۀ به ددې نه خپل د خوراك ضرورت پوره کړم،زۀ به ورستو لاړ شم،او په هغه ورځ به زما نه سوا ددې څوك شپونکې نۀ وی،یعنی دا چیلئ به بغیر د شپونکی نه پاتې شی،ځکه چې هلته به د زمری نه علاوه بس یو شرمخ وی،او شرمخ خو د چیلو ساتونکې نۀ شی کیدې،هغه خو د دوی د ځان دښمن وی۔
یو قول دادې،چې دا به د فتنې په زمانه کښې وی،کله چې ګډې چیلئ به خلق هیرې کړی،او دوی به داسې بغیر د مددګار او ساتونکی نه پاتې وی،نو په داسې وخت کښې به ځناور په

---

۱) فتح الباری:۱۳۳،۳۲،۹
۲) فتح الباری:۱۳۳،۹

دوی حمله کولو سره خوری، خو بس چیلئ به وی او شرمخ به وی، په دې وجه دغه شرمخ به د دوی ساتونکې جوړ شی، دا تفصیل خو په هغه وخت کښې دې، کله چې دا سَبُع بضم الباء وی۔[1]

د "سَبَع" بالسکون معنی: د سکون الباء په صورت کښې یو قول دادې، چې "هو اسمُ الموضعِ الذی یقَع فیه الحَشر یومَ القیَامةِ" دا د هغه ځائې نوم دې، چې په هغې کښې به په ورځ د قیامت حشر کیږی، دا ازهری په تهذیب اللغة کښې د ابن العربی نه نقل کړی دی، او ددې تائید په دې سره هم کیږی، چې محمد بن عمرو بن علقمه عن أبی سلمة عن أبی هریرة..... په طریقې سره یوم القیامة هم منقول دې، او دا ښکاره خبره ده، چې هم یوم الحشر یوم القیامة ده، خو په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې، چې د حشر او قیامت په ورځ به شرخ د چیلو ساتونکې نه وی، او نه به په دغه ورځ ددۀ د چیلو سره څۀ تعلق وی؟

دویم قول دادې چې د یوم السَّبع نه مراد "یوم العید" دې، یعنی چې په جاهلیت کښې د دوی یو اختر وو، او په هغې کښې به دا خلق په لهو ولعب او لوبو تماشو کښې داسې مشغول وو، چې د ځناورو او څارو نه به غافل وو، شرمخ هغې ورځ ارخ ته اشاره اوکړه، او دا چې ئې اووئیل چې "لیس لها راعٍ غیری" دا ئې په دې باندې په قدرت او په وس بری کیدو کښې د مبالغې په توګه اووئیل، یعنی چې دۀ ته به په دې چیلو باندې داسې قدرت حاصل وی، ګویا چې هم دې به ددې چیلو شپونکې وی۔ دا قول اسماعیلی د ابو عبیدۀ نه نقل کړې دې۔[2]

دریم قول دادې، چې دا "سبع" د سَبَعت الرجل نه دې، چې ددې معنی ده، ما هغه اویرولو، نو د یوم السبع معنی ده، "یوم الفزع"۔

څلورم قول دادې، چې داد أسبعتُه په معنی د اهملتُه نه دې، او د یوم السبع نه "یوم الإهمال" مراد دې اصمعی وائی، "السبُع الهمل، وأسبعَ الرجلُ أغنامه إذا ترکها تصنع ما تشاء" سبع مهمل کیدو ته وئیلې شی، "أسبع الرجلُ أغنامه" سړی خپلې چیلئ پریښودې، چې هغه څۀ غواړی، کوی، دې قول ته نووی هم ترجیح ورکړې ده۔

پنځم قول دادې، چې د یوم السَّبُع معنی ده، یوم الاکل ځکه چې سَبَعَ الذئبُ الشاۀَ په هغه وخت کښې وئیلې کیږی، کله چې شرمخ چیلئ اوخوری۔

شپږم قول دادې، چې یوم السبُع په معنی د یوم الضیاع دې، ځکه چې د أسبعتُ او د أضیَعتُ یوه معنی ده، دا قول ابن دحیه د اسماعیل القاضی عن علی بن المدینی عن معمر بن المثنی نه نقل کړې دې۔

---

[1] فتح الباری: ۱۳۳،۹

[2] فتح الباری: ۱۳۳،۹

ووم قول دادي، چې د يوم السهم نه مراد يوم الشدة ده، لکه څنګه چې د ابن عباس په حقله مروی دی، چې د هغهٔ نه د يوې مسئلې په حقله پوښتنه اوکړې شوه، نو هغوی اوفرمائيل، "أجرا من سهم" يعنی دا په هغه مسائلو کښې ده، چې د مفتی د پاره ډيره سخته او ګرانه وی۔[1]

قوله: وَرَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً: په کتاب المزارعة کښې په دې باندې کلام تير شوې دې۔[2]

ابن حبان د محمد بن عمرو عن أبی سلمة عن أبی هريرة په طريقې سره ددې دواړو قيصو په آخره کښې دا نقل کړی دی، فقال الناس آمنّا بما آمن به رسول الله ﷺ۔[3]

په کوم څيز چې رسول الله ﷺ ايمان راوړلې دې، په هغې مونږ هم ايمان راوړلې دې۔

قوله: بَيْنَمَا رَاعٍ: راعٍ مرفوع موصوف او فی غنمه د هغې صفت دې، دواړه ملاويدو سره مبتداء او "عداعليه" د هغې خبر دې۔[4]

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حديث مطابقت بالکل واضح دې، ځکه چې باب د "فضائل أبی بکر" په حوالې سره دې، او په حديث کښې هم ددې ذکر دې۔[5]

۳۴۶۴: (۶) حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ الْمُسَيَّبِ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلی الله عليه وسلم- يَقُولُ «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ، فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ، فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ، وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ، وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ ضَعْفَهُ، ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا، فَأَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ، فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ، حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ»

[۶۶۱۸، ۶۶۱۹، ۷۰۳۷، وانظر: ۳۴۳۴]

---

[1]) فتح الباری: ۱۳۳،۹

[2]) اوګورئ: کتاب الحرث و المزارعة، باب استعمال البقر للحراثة، رقم (۳۲۴)

[3]) صحيح ابن حبان، کتاب أخباره ﷺ، رقم: ۶۹۰۳، ذکر شهادة المصطفی ﷺ للصديق والفاروق بکل شیئ کان يقوله ﷺ.....

[4]) عمدة القاری: ۱۲۵۳،۱۶

[5]) عمدة القاری: ۱۲۵۳،۱۶

[6]) الحديث أخرجه البخاری فی صحيحه: ۵۱۷،۱ کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ، باب قول النبی "لو کنتُ متخذا خليلاً" رقم: ۳۶۶۴، وفی: ۱۰۳۹،۲ کتاب التعبير، باب نزع الذنوب والذنوبين من البئر بضعف، رقم: ۷۰۲۱، ۷۰۲۲، وفی: ۱۱۱۳،۲ کتاب التوحيد، باب فی المشيئة والإرادة، رقم: ۷۴۷۵، ومسلم فی صحيحه: ۲۷۵،۲ کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل عمر، رقم: ۲۳۹۲، ۲۳۹۳، والترمذی فی جامعه: ۵۴،۲ کتاب الرؤيا، باب ما جاء فی رؤيا النبی ﷺ فی الميزان، رقم: ۲۲۹۰

رجال الحدیث

عَبدَانُ: دا عبد الله بن عثمان بن جبله دي. ددهٔ احوال په "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی.[۱]

عَبدُ الله: دا عبد الله بن المبارك شیخُ شیخِ البخاری دي، ددهٔ احوال هم په "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی.[۲]

یُونُسَ: دا یونس بن یزید أیلی قرشی ابو یزید دي. ددهٔ تفصیلی احوال د "کتاب العلم، باب مَن یُرد الله به خیراً یفقهه فی الدِّین" لاندې تیر شوی دی.[۳]

الزُّهرِيِّ: دا ابن شهاب زهری دي، ددهٔ مختصر حالات په "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی.[۴]

ابنُ المُسَیَّب: دا سعید بن المسیب امام التابعین أحد الفقهاء السبعه دي، ددهٔ احوال د "کتاب الإیمان، باب من قال إن الإیمان هو العمل" لاندې تیر شوی دی.[۵]

دا حدیث امام مسلم هم په کتاب الفضائل کښې د حرملة بن یحیٰی نه نقل کړې دي. په "علامات النبوة" کښې د عبد الله بن عمر نه روایت دي، اوهلته په دې باندې کلام کړې شوې دي.

قوله: علٰی قَلِیب: قلیب کوهی ته وئیلې کیږی، چې په کنستلو سره د هغې نه خاؤره راؤباسلې شی. او د هغې غاړه نهٔ وی جوړه کړې شوې.[۶]

ددې حدیث شرح به انشاء الله په "کتاب التعبیر" کښې راشی.

په رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر رضی الله عنه کښې اتحادی نسبت: هنه! دلته دومره قدرې خبره د کولو ده. چې د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه په حقله چې څهٔ راغلی دی، "والله یغفر له ضعفه" ددې معنیٰ دا نهٔ ده. چې په "ضعف" کښې ضعف د هغهٔ څهٔ ګناه او تقصیر دي، بلکه دا صرف د خلافت د زمانې کموالی ارخ ته اشاره ده. او حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله دلته یوه عجیبه لطیفه نکته بیان کړې ده، چې څنګه په "فسبِّح بِحمد ربِّك واستَغفِره" کښې د رسول الله وصال او نزدې والی د نیتې ارخ ته اشاره ده، همدغه شان دلته په "والله یغفر له" سره د ابوبکر وفات ارخ ته اشاره ده. او دا په رسول الله ﷺ او حضرت صدیق کښې د اتحادی نسبت دلیل دي، او ددې معنیٰ تائید په دې سره کیږی، چې امام بخاری دا روایت په مناقب أبی بکر کښې

---

[۱] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۴۶۱، ۴۶۲/۱

[۲] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۴۶۲

[۳] اوګورئ: کشف الباری: ۳/۲۸۲

[۴] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۳۲۶

[۵] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۱۵۹

[۶] عمدة القاری: ۱۶/۲۳۵

راوړلي دي،او په دې کښې د هغهٔ منقبت هم دغه کيدې شی،چې په رسول الله ﷺ او هغوی رضی الله عنهما کښې اتحادی نسبت ثابتول مقصود وی۔[۱]

ترجمة الباب سره مناسبت: باب د،"**مناقب أبي بكر رضی الله عنه**"په حوالې سره دي،او په حديث کښې دا ذکرکړې شوی دی،چې رسول الله ﷺ دې په خوب کښې دکوهی نه په اُوبو راوُباسلو اولیدو، دا دهغوی فضیلت دې،بیا د ابوبکر ذکر ئې د حضرت عمر رضی الله عنه نه وړاندې اوکړو، چې د هغهٔ په فضیلت باندې هم دلیل دې،او پاتې شو په اُوبو راوُباسلو کښې ضعف،نو دا د هغهٔ د نقصان او کمزورې دلیل نهٔ دې،ځکه چې د هغهٔ د خلافت زمانه کمه وه۔ په دې وجه په خوب کښې په هغهٔ کښې ضعف اولیدې شو ،ښکاره خبره ده چې په لږوخت کښې کارهم لږکیږی۔[۲]

۳۶۶۵:[۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ -رضی الله عنهما- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- «مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاَءَ لَمْ يَنْظُرِ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ أَحَدَ شِقَّىْ ثَوْبِى يَسْتَرْخِى إِلاَّ أَنْ أَتَعَاهَدَ ذَلِكَ مِنْهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- «إِنَّكَ لَسْتَ تَصْنَعُ ذَلِكَ خُيَلاَءَ» قَالَ مُوسَى فَقُلْتُ لِسَالِمٍ أَذَكَرَ عَبْدُ اللَّهِ مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ قَالَ لَمْ أَسْمَعْهُ ذَكَرَ إِلاَّ ثَوْبَهُ. [۵۴۴۶، ۵۴۴۷، ۵۴۵۵، ۵۷۱۵]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ: دا ابوالحسن محمد بن مقاتل مروزی بغدادی مکی دې،ددهٔ احوال د"کتاب العلم،حدیث:۶۵"لاندې تیر شوی دی۔[۴]

عَبدُ الله: دا عبد الله بن المبارك د امام بخاری شیخُ الشیخ دې،ددهٔ احوال هم په"کتاب بدء الوحی"کښې تیر شوی دی۔[۵]

---

[۱] لامع الدراری:۱۴۶،۸

[۲] عمدة القاری:۱۲۵۳،۱۶

[۳] أخرجه البخاری فی صحیحه:۵۱۷،۱،کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ،باب قول النبی"لو کنتُ متخذاً خلیلاً"، رقم:۳۶۶۵،وفی:۸۶۰،۲،کتاب اللباس،باب من جرّ إزاره من غیر خیلاء،رقم:۵۷۸۴، وفی:۸۶۱،۲، کتاب اللباس،باب من جرّ ثوبه من الخیلاء،رقم:۵۷۹۱،وفی:۸۹۵،۲،کتاب الأدب،باب من أثنیٰ علی أخیه بما یعلم،رقم:۶۰۶۲،ومسلم فی صحیحه:۱۹۴،۲،کتاب اللباس والزینة،باب تحریم جرّ الثوب خیلاء،وبیان حد ما یجوز إرخاءه،رقم:۲۰۸۵،وأبوداؤد فی سننه:۲۰۸،۲،کتاب اللباس،باب ما جاء فی إرسال الإزار، رقم: ۴۰۸۵، والنسائی فی سننه:۲۹۷،۲،کتاب الزینة،باب التغلیظ فی جرّ الإزار،رقم:۲۰۶،وباب اسبال الإزار،رقم ۱۲۱۳

[۴] اوګورئ: کشف الباری:۱۲۰۶،۳

[۵] اوګورئ: کشف الباری:۱۴۶۲،۱

موسی بن عُقبَة دا موسی بن عقبه المدنی مولی آل الزبیر دي. ددهٔ احوال تیر شوی دی۔[۱]

سالم بن عبد الله دا د رسول الله ﷺ د صحابی عبد الله بن عمر خوئي سالم بن عبد الله دي، ددهٔ احوال په "کتاب الإیمان، باب الحیاء من الإیمان" کښي تیر شوی دی۔[۲]

حضرت ابوبکر رضی الله عنه کمزوري او نحیف وو د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لنګ به ولي سست ښکاریدو. شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله فرمائی، په دي وجه چي د حضرت صدیق جسم ډیر نحیف او کمزوري وو. او د ټوټو د کمزوري کیدو د وجهي نه لنګ به په صحیح طریقه نهٔ شو ترلي کیدي. په دي وجه به بیا بیا سستیدو. د حضرت سیرت بیانونکو د هغوی ددي صفت ذکر په الاصابة کښي کړي دي۔ "کان أبیض لطیفًا جعدًا مسترق الورکین"۔[۳]

د أحد شئ ثوبی نه څهٔ مراد دي حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی۔ "جانبِ خلف" مراد دي. په دي وجه چي د ټوټو د کمزوري کیدو په صورت کښي لنګ شاه اړخ ته اوړی. یا "جانبِ قُدام" مراد دي. ځکه چي خیټه غټه نهٔ وی. نو سړي وړاندي اړخ ته راټیټ شوي وی۔[۴]

ددي حدیث نور تفصیل به هم په کتاب اللباس کښي راشی. انشاء الله

بیا هم څهٔ لږ تفصیل دلته هم اوګورئ۔

"خیلاء" تکبر او تبختر ته وئیلي شی. خود پسندی، غُرورو وغیره، دا لفظ منصوب دي. او د نصب وجه ئي داده. چي دا مفعول له او علت دي۔

قوله: لم ینظر الله الیه: نظر دلته د رحمت نه مجاز دي، نو معنی دا شوه چي الله تعالی په هغهٔ باندي رحم نهٔ کوی. او کله چي ددي استعمال په مخلوق کښي کیږی، نو بیا دا کنایه وی. لکه "لا ینظر إلیه زید" یعنی زید هغه اړخ ته توجه نهٔ کوی. لکه څنګه چي په ارشاد باری تعالی. ﴿لا تقولوا راعنا وقولوا انظرنا﴾ کښي نظر د متوجه کولو په معنی کښي دي. د الله تعالی د نظر نهٔ کولو دا مطلب هیڅ کله هم نهٔ شی اخستلي، چي هغه الله تعالی ته په نظر نهٔ راځی۔

قوله: یَسْتَرْخِي: کیدي شی حضرت ابوبکر رضی الله عنه عادتا په لاره تلو کښي یو اړخ ته لږ ټیټ شوي تللو. او کله چي به ئي ځان صحیح کړو او د نیغ تلو کوشش به ئي کولو، نو بیا به نیغ تلو. په دي وجه هغه معذور اوګڼلي شو۔

قوله: فقلتُ لسالم: د "قلت" قائل راوی د حدیث موسی بن عقبه دي۔

قوله: أذکر.....؟: فعل ماضی ده، چي په دي باندي همزه د استفهام داخله شوي ده۔

---

[۱] اوګورئ: کتاب الزکاة، باب الصدقة قبل العید.....

[۲] اوګورئ: کشف الباری: ۱۱۲۸.۲

[۳] لامع الدراری: ۱۱۴۷.۸

[۴] لامع الدراری: ۱۱۴۷.۸

ددې "عبدالله" قائل دې۔

قوله: فقال: ددې قائل سالم دې، یعنی هغه وائی، چې ما خو د عبد الله نه په حدیث کښې صرف د "ثوبه" ذکر اوریدلې دې۔[۱]

د (جرّ ازار) یعنی لنګ راښکلو حکم: ابن عبد البر او امام نووی وغیره خو دا لیکلی دی، چې کۀ د خیلاء او تکبر په نیت باندې لنګ راښکل یعنی پینسې د ګیټو نه لاندې ساتل وی نو حرام دی، ګنې نو حرمت نشته، او د فتاوٰی عالمګیری د عبارت نه هم په ظاهره دا معلومیږی، چې لنګ راښکل د خیلاء او تکبر په نیت حرام دی، ګنې نو کراهت تحریمی دی، شمس الدین ابن أبی عمر المقدسی الحنبلی، صاحبُ الشافعی په "الشافعی" کښې لیکلی دی، چې کۀ د خیلاء او تکبر په نیت لنګ راښکلې شی، نو حرام به وی ګنې نو مکروه تنزیهی، دا ټول حضرات په دې خبره متفق دی، ولې صحیح خبره هغه ده، چې قاضی ابوبکر ابن عربی کړې ده، چې په قصد او ارادې سره کوم سړې لنګ د ګیټو نه لاندې ساتی، کۀ هغه زر ځله اووائی چې زما نیت د خیلاء او تکبر نۀ دې، ولې هغه حرام او مکروه تحریمی دی، کله چې هغه په قصد سره کوی. نو په دې کښې د تاویل لار نشته، هاؤ! او کۀ دۀ په قصد سره نۀ وی کړې، او لنګ خوییدو سره لاندې شو، یا د سستیدو په وجه لاندې راغلو، نو بې شکه هغه په دې (حرام) کښې داخل نۀ دې۔[۲]

ددې څۀ تفصیل په کتاب اللباس کښې هم راروان دې۔[۳]

ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت داسې دې، چې باب د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د مناقبو په حوالې سره دې، او په حدیث کښې د رسول الله ﷺ وړاندې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د یو ممنوع امر په حوالې سره فکر مند کیدل او د تقوٰی او خشیت ذکر دې. چې د هغوی د لوئې شان والی دلیل دې، او بیا د حضور ﷺ هغوی ته "إنك لست تصنع خیلاء" وئیلو سره د لنګ د راښکلو د ممنوع صورت نه د بری کیدو بیان دې، چې په حضرت ابوبکر رضی الله عنه باندې د رسول الله ﷺ د اعتماد او د هغۀ د ثقاهت او اعتبار دلیل دې۔[۴]

۳۴۶۶: (د) حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ - يَعْنِي الْجَنَّةَ - يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا

---

[۱] عمدة القاری: ۱۲۵٤

[۲] اوګورئ: فتح الباری شرح صحیح البخاری: ۱۳۲٤،۳۲۳،۱۳

[۳] اوګورئ: کشف الباری، کتاب اللباس، ص: ۱٤٦،۱٤۷

[٤] فتح الباری: ۷،۱۰ ط بیروت

[٥] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصوم، باب الریان للصائمین، رقم ۱۸۹۷

خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصِّيَامِ، وَبَابِ الرَّيَّانِ». فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ مَا عَلَى هَذَا الَّذِي يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، وَقَالَ هَلْ يُدْعَى مِنْهَا كُلِّهَا أَحَدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «نَعَمْ، وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ يَا أَبَا بَكْرٍ» [ر: ١٧٩٨]

رجال الحديث

أَبُو الْيَمَانِ: دا ابو اليمان حكم بن نافع بهرانى حمصى دي، ددۀ احوال د "بدء الوحى" باب: ۶ "لاندې تير شوى دى۔[1]

شُعَيْبٌ: دا ابو بشر شعيب بن أبى حمزة القرشى الاموى دي ۔ ددۀ احوال هم په "بدء الوحى" باب: ۶ "كښې تير شوى دى۔[2]

الزُّهْرِيِّ: دا محمد بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهرى دي، ددۀ احوال په "بدء الوحى" باب: ۳ "كښې تير شوى دى۔[3]

حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ: دا حُميد بن عبد الرحمٰن بن عوف رضی الله عنه دي۔ ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب تطوُّع قيام رمضان من الإيمان كښې تير شوى دى۔[4]

د "زوجين" نه څۀ مراد دى؟: مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ..... أى شيئين، يعنى چې كوم سړي د الله تعالى په لار كښې دوه څيزونه خرچ كړل. د الله تعالى د لار نه مراد د ثواب لار ده، برابره خبره ده كۀ جهاد وى، يا بل يو عبادت. او د "شَيْئٌ من الاشياء" معنى برابره خبره ده كۀ د مال د هر قسم سره د هغې تعلق وى، نو د دوۀ څيزونو نه مراد دوه قسمونه نۀ دى، بلكه د يو قسم نه دوه څيزونه مراد دى، د لفظ زوج اطلاق په "أحد الزوجين" باندې هم كيږى، او د فرد په مقابله كښې په جُفت باندې هم، او دلته د زوج تثنيه مستعمل ده، په دې وجه د لفظ زوج مفرد نه لازماً هم يو "أحد الزوجين" مراد دى۔[5]

د مختلفو دروازو نه د بلنې مطلب: لفظ د "جنة" په بعضې روايتو كښې ساقط دي، په دې وجه د

---

[1] اوګورئ: كشف البارى: ١٤٧٩،١

[2] اوګورئ: كشف البارى: ١٤٨٠،١

[3] اوګورئ: كشف البارى: ٣٢٦،١

[4] اوګورئ: كشف البارى: ٣١٦،١

[5] اوګورئ: فتح البارى: ٦١،٧، بيروت

الفاظو د حفاظت او د اصل د رعایت خیال ساتلو ښکاره کولو د پاره ئې اوفرمائیل، "یعنی الجنة" دا روایت په کتاب الصوم کښې هم راغلې دی، او دلته د "نُودی من أبواب الجَنَّة" الفاظ په صراحت او قطعیت سره منقول دی۔[۱] او په کتاب الجهاد کښې هم مروی دې، په هغې کښې الفاظ دی، "دعاه خزنة الجنة، کل خزنة باب: أی فُلُ هَلُمَّ!"۔[۲]

په دې کښې د "کل خَزَنَةِ بابٍ" معنی ده۔ "خَزَنَةُ کُلِّ بابٍ" او "أی فُلُ" دا د "أی فلان" د ترخیم او تخفیف صورت دې۔[۳] یا بیا دا په لفظ د "فلان" کښې یو لغت دې، خطابی په قول اول باندې جزم کړې دې۔[۴] ولې د ترخیم په صورت کښې "فل" بالفتح (فُلَ) لوستل پکار دی۔[۵] هم دغسې په بدء الخلق کښې هم راغلې دې۔[٦]

د روایت مطلب دادې، چې د هر عمل د پاره به یو مستقل دروازه وی، چې د هغې نه به دې عمل کونکی ته بلنه کیږی، امام احمد او ابن أبی شیبه په صحیح سند سره روایت نقل کړې دې۔ چې په هغې کښې تصریح ده، "لکلِّ عامِلِ بابٌ من أبواب الجنةِ یُدعَی منه بذٰلك العمل"۔[۷]

د فی سبیل الله مقصد: ددې نه د بعضې حضراتو له مخې جهاد مراد دې، مُهَلَّب وئیلی دی، چې ددې نه معلومیږی، چې جهاد افضل الأعمال دې، ځکه چې مجاهد ته به د مونځ کونکی، روژه ساتونکی او د صدقه کونکی ټولو اجر ملاویږی، اګر چې مجاهد دا ټول اعمال نه وی کړې۔ او بیا کله چې مجاهد ته د جنت د ټولو دروازو نه د لږ شان مال خرچ کولو په وجه بلنه ورکولې شی۔ نو د زیات مال خرچ کولو به څه حال وی، دا اندازه لګول مشکل نه دی۔[۸]

دویم قول دادې، چې د "فی سبیل الله" نه مراد جهاد..... نه دې، بلکه هر عمل صالح او د ثواب کار مراد دې۔[۹]

ایا انفاق په هر عمل صالح کښې کیږی: جهاد، علم او په حج کښې انفاق (خرچ کول) خو ښکاره دی۔ هنه! په نورو عباداتو کښې انفاق څه مشکل او پوهې ته نه راځی، ولې ددې ممکن

---

[۱]) اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب الصوم، باب الرَّیَّان للصائمین، رقم(۱۸۹۷)\

[۲]) اوګورئ: کتاب الجهاد والسیر، باب فضل النفقة فی سبیل الله، رقم(۲۸٤۱)\

[۳]) فتح الباری: ۹، ۳٤\

[٤]) فتح الباری: ٦، ٦۱\

[۵]) فتح الباری: ۹، ۳٤\

[٦]) اوګورئ: باب ذکر الملائکة صلواتُ الله علیهم، رقم(۳۲۱٦)\

[۷]) مسند أحمد بلفظ "لکل عمل بابٌ من أبواب الجنّة یدعون منه بذلک العمل"، رقم: ۹۷۹۹، ومصنَّف ابن أبی شیبة، باب من کان یصَیل الصیامَ أیضًا بهذا اللفظ، رقم: ۸۹۹٦، وفی باب ما ذکر فی أبی بکر، رقم: ۳۲٦۲۸\

[۸]) اوګورئ: فتح الباری: ۵، ۱٤۱، وفتح الباری: ۷، ٦۱\

[۹]) اوګورئ: فتح الباری: ۵، ۱٤۱، وفتح الباری: ۹، ۳٤\

صورتونه په هر عبادت او هر عمل صالح کښې ممکن دی.لکه په مونځ کښې د انفاق مراد دا کیدې شی،چې د هغې په وسائلو او ضروریاتو کښې خرچ کول.لکه د بدن،کپړو(کالو)او د کور د صفائې په انتظام کښې مال خرچ کول.په روژه کښې به انفاق داسې وی.چې د روژې ساتلو د پاره د قوت او طاقت ورکونکی څیزونو او په دې کښې د اخلاص او للهیت په حوالې سره د ممد او مدد کونکی څیزونو په حاصلولو کښې مال خرچ کړې شی۔
خلق معاف کول د ثواب کار دې،او دې د پاره د انفاق صورت دادې،چې خپل واجب حقوق پریښودې شی۔

توکُّل عملِ صالح دې،او په دې کښې انفاق داسې ممکن دې،چې سړې په مرض او مصیبت کښې مثلاً په خپل ځان باندې خرچ کړی.حالانکې هغه داسې هم کولې شی،چې مال ئې نه خرچ کولې او په بیماري او مصیبت باندې ئې صبر کولې،ولې هغهٔ توکل کولو سره د غریبې او فقیرې هیڅ پرواه نه ساتلو سره په خپل ځان باندې خرچ اوکړو۔
یا بیا ددې صورت دادې،چې هغه په بیمارئ کښې په خپل ځان باندې د خرچ کولو یا د بچت کولو په ځائې په یو بل مصیبت زده باندې خرچ کولواو مقصود ئې ثواب وی۔

همدغه شان "ذکر"چې عملِ صالح دې،په هغې کښې خرچ کول هم ښکاره دی۔
دویمه معنٰی د انفاق دا کړې شوې ده،چې سړې خپل ځان خرچ(صرف)کړی.مثلاً وئیلې شی..... "أنفقتُ فی طلب العلم عُمری وبذلتُ فیه نفسی"ما د علم په طلب کښې عمر خرچ کړو.او په دې کښې مې خپل نفس ختم کړو..... او دا معنٰی ډیره مناسبه او ښهٔ ځنډلې شوې ده.دلته د انفاق یوه دریمه معنٰی هم کړې شوې ده،چې د عقل او فهم نه ډیره بعیده ده.او هغه دا چې د انفاقِ زوجین نه د مال او جان دواړو خرچ مراد وی،دا په دې وجه مستبعد او مرجوح ده،چې د صوم او صلاة په شان عباداتو کښې مال خرچ کول ښکاره نه دی.هنه ! که هغه تاویل اوکړې شی د کوم چې اُوس ذکر اوکړې شو،او ځان خرچ کول په دې کښې ښکاره دی،نو په دې وجه یوه معنٰی ظاهره او یوه معنٰی غیر ظاهره نه شی جمع کولې۔
همدغه شان کومو خلقو چې په روژه کښې د انفاق دا معنٰی کړې ده،چې چا روژه دار ته روژه ماتې ورکړې شی.دا هم بعیده ده.ځکه چې په داسې کولو سره به دا د انفاق په ځائې صدقه شی،چې یو دویم او مستقل باب دې۔[1]

قوله: هَذَا خَيْرٌ: ددې معنٰی ده.هذا فاضلٌ دا غوره او ښهٔ دې ۔ د هذا أفضل معنٰی مراد نه ده،یعنی چې دا د یو بل عمل نه غوره دې.اګر چې په لفظ کښې ددې(تفضیلی معنې)ځائې هم موندې شی.نو ددې وجه او فائده داده.چې خلقو ته ددې عمل ترغیب ورکول مقصود دی، په دې وجه اسم تفضیل استعمال کړې شو ۔[2]او د "خیر"د اسم تفضیل د نه کیدو په

---

[1]) اوګورئ:فتح الباری:۹،۱۳۵
[2]) اوګورئ:فتح الباری:۹،۱۳٤

صورت کښې به معنی وی، "هذا خیر من الخیرات" او تنوین د تعظیم د پاره دې،نو فائده نښکاره ده،چې ډیر لوئې خیر دی۔[۱]

د جنت د دروازو شمیر: دلته په دې روایت کښې د جنت د څلورو دروازو ذکر دې،چې په هغې سره به څلور قسمه عمل کونکی جنت ته داخلیږی،

①:- مونځ کونکی،②:- جهاد کونکی،③:- روژه ساتونکی،④:- صدقه کونکی . او مشهور دادی،چې د جنت اتهٔ دروازې دی،او د کتاب الجهاد په ابتداء کښې هم راغلی دی،"وإن ابوابَ الجنَّةِ ثمانيةٌ" [۲]اُوس سوال دادې،چې په باقی دروازو باندې به څوک داخلیږی؟نو جواب دادې،چې یوه دروازه خو د اسلام په ارکانِ اربعوؤ کښې پاتې شوې رکن یعنی د"حج"د پاره به وی،او پاتې شوې باقی درې نو په هغې کښې به یوه دروازه خو وی،د"کاظمین الغیظ اوعافین عن الناس"د پاره،لکه امام احمد بن حنبل د رَوح بن عبادة عن أشعث عن الحسن.....په طریقې سره مرسل روایت نقل کړې دې،فرمائی:"إنَّ لله باباً فی الجنةِ لایدخله إلّا من عفا عن مظلمة"۔[۳]

همدغه شان یو"الباب الأیمن"دې،چې په هغې سره به هغه متوکلین داخلیږی،چې په هغوی باندې هیڅ حساب او عذاب نهٔ وی،او دریمه دروازه کیدې شی ذاکرینو د پاره به وی،او ممکنه ده.هغه د علم والوؤ د پاره هم وی،او ممکنه ده چې ددې څو دروازو نه علاوه په جنت کښې دننه نورې هم ډیرې دروازې وی،او هم هغه اصلی دروازې وی،ځکه چې د خیر اعمال خو د اتو نهٔ ډیر زیات دی۔[۴]

کوم خلق به د ټولو دروازو نه بللې شی او ولې؟ فقال أبوبکر.....ابوبکر اووئیل،څوک چې به د دغه ټولو دروازو نه بللې شی، هغوی ته به څهٔ نقصان او تکلیف نهٔ وی،په کتاب الصیام کښې د دې الفاظ دادی،"فهل یُدعیٰ أحد من تلك الابواب کلِها" آیا څوک به داسې هم وی چې هغه به د یوئې نه نهٔ،د دغې ټولو دروازو نه بللې شی۔

په هر حال کښې د حدیث نه دومره خبره خو په یقینی توګه معلومیږی،چې د ټولو دروازو نه د بلونکو شمیر به ډیر کم وی.....او بیا دا هم معلومیږی،چې ددې نه مراد ذکر کړې شوی اعمال په نفلی توګه باندې په کثرت سره ادا کونکی دی.ځکه چې د فرض مونځ، روژې، زکواة،او د جهاد کونکو خو به څهٔ کمې نهٔ وی،داسې خلق به ډیر زیات وی۔

---

[۱] اوګورئ،فتح الباری:۷،۱۱۳۱

[۲] کتاب الجهاد لابن ابی عاصم، رقم: ۹۶، مکتبة العلم والحکمة۔

[۳] مسند أحمد،مسند أبی هریره،رقم:۹۶۲۱.فتح الباری:۷،۱۱۴۱

[۴] اوګورئ،فتح الباری:۹،۱۳۴

هاؤ ا داسې خلق به یقیناً کم وی،چې ددې ټولو اعمالو په نفلی توګه هم ادا کونکی وی.
دویمه خبره داده،دا ټول اعمال کونکی چې د ټولو دروازو نه اوبللې شی،نو دا به صرف د تکریم په توګه باندې وی،ګنې نو هغه خو به صرف په یوه دروازه داخلیږی.
او هغه یوه دروازه به کیدې شی هغه دروازه وی،چې په هغې د داخلیدو مستحق جوړونکې عمل به په نسبت سره نورو اعمالو ته زیات وی.

په دې باندې کۀ دا اوئیلې شی چې د مسلم روایت دې،"مَن تَوضأ ثم قال أشهد أن لا إله إلا الله"او وړاندې ئې اوفرمائیل،"فتحت له أبواب الجنة يدخل مِن أيها شاء"[1] دې نه معلومیږی،چې بعضې جنتیان به په اتو دروازو داخلیدې شی.....؟نو جواب دادې،چې ددې هم د پورته ذکر کړې شوې تفصیل سره ځۀ منافات نشته.اګر چې په ظاهره دا د هغې سره منافی معلومیږی،د عدم منافات وجه داده،چې دا اتۀ دروازې به د هغۀ د تکریم په توګه کلاؤ کړې شی،او هغۀ ته به په هره یوه دروازه د داخلیدو اجازت وی.ولې بیا هم هغه به په یوه دروازه داخلیږی،یعنی هغه دروازه چې د هغې متعلق اعمال ددۀ په اعمال نامه کښې زیات وی.[2]

قوله: وَأَرْجُوا أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ: علماء فرمائی کله چې الله تعالی یا رسول الله ﷺ د رجاء او امید ذکر کوی،نو د هغې نه وقوع بالجزم مراد وی،او هم ددغې توجیه په بنیاد باندې د حدیث مذکوره د **مناقب أبي بكر** سره تعلق جوړیږی،ځکه چې کۀ د هغوی داخلیدل صرف متوقع وی،نو دا خو د هغوی ځۀ خصوصیت نۀ شو.ابن حبان د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت نقل کړې دې،چې په هغې کښې هغوی د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د پاره ددې وقوع ذکر کړې ده،د روایت الفاظ دادی،"قال أجل وأنتَ هو يا أبا بكر".[3]

د حدیث فوائد: د حدیث مذکور نه لاندې ذکر کړې شوې فوائد هم حاصلیدې شی:

①:-یوداچې کوم سړې کوم عمل زیات کوی،هغه هم په هغې سره پیژندلې شی اومعروف وی

②:-دویم دا چې ټول د خیر اعمال برابر برابر ډیر کم خلقو ته نصیب کیږی.

③:-دریم دا چې فرشتې نیکان مؤمنان خوښوی،او د هغوی نه خوشالیږی.

④:-څلورم دا چې انفاق څومره زیات وی دومره غوره وی.

⑤:-خیر کۀ دنیوی وی او کۀ اُخروی،هغه مطلوب وی.[4]

ترجمة الباب سره مطابقت: د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت دادې،چې په دې کښې د

---

[1]) فتح الباری:۱۳۵،۹

[2]) فتح الباری:۱۳۵،۹

[3]) صحیح ابن حبان،باب ذکر ترحیب أهل الجنة بأبی بکر الصدیق رضی الله عنه،ودعوة کل واحد منهم عند دخوله الجنة،رقم:۶۸۶۷

[4]) فتح الباری:۱۳۵،۹

حضرت ابوبکر رضی الله عنه د پاره د ډیر لوئې زیری ذکر دې.لکه څنګه چې بیان کړې شو.چې په "وأرجوا أن تكون منهم" کښې د حضور ﷺ "رجاء او امید" دې،چې د وقوع تقاضا کوی،او ددې د وقوع مطلب دغه دې،چې ابوبکر به د جنت د اتو واړو درواز نه(په جزم او یقین سره)بللې شی.[1]

٣٤٦٧:[2] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلاَلٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَاتَ وَأَبُو بَكْرٍ بِالسُّنْحِ - قَالَ إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي بِالْعَالِيَةِ - فَقَامَ عُمَرُ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا مَاتَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - . قَالَتْ وَقَالَ عُمَرُ وَاللَّهِ مَا كَانَ يَقَعُ فِي نَفْسِي إِلاَّ ذَاكَ وَلَيَبْعَثَنَّهُ اللَّهُ فَلَيَقْطَعَنَّ أَيْدِيَ رِجَالٍ وَأَرْجُلَهُمْ. فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ فَكَشَفَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَبَّلَهُ قَالَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي طِبْتَ حَيًّا وَمَيِّتًا، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ يُذِيقُكَ اللَّهُ الْمَوْتَتَيْنِ أَبَدًا. ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ أَيُّهَا الْحَالِفُ عَلَى رِسْلِكَ. فَلَمَّا تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ جَلَسَ عُمَرُ. فَحَمِدَ اللَّهَ أَبُو بَكْرٍ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَقَالَ أَلاَ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا - صلى الله عليه وسلم - فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لاَ يَمُوتُ. وَقَالَ (إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ) وَقَالَ (وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ) قَالَ فَنَشَجَ النَّاسُ يَبْكُونَ - قَالَ - وَاجْتَمَعَتِ الأَنْصَارُ إِلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فِي سَقِيفَةِ بَنِي سَاعِدَةَ فَقَالُوا مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ، فَذَهَبَ إِلَيْهِمْ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ، فَذَهَبَ عُمَرُ يَتَكَلَّمُ فَأَسْكَتَهُ أَبُو بَكْرٍ، وَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ بِذَلِكَ إِلاَّ أَنِّي قَدْ هَيَّأْتُ كَلاَمًا قَدْ أَعْجَبَنِي خَشِيتُ أَنْ لاَ يَبْلُغَهُ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَتَكَلَّمَ أَبْلَغَ النَّاسِ فَقَالَ فِي كَلاَمِهِ نَحْنُ الأُمَرَاءُ وَأَنْتُمُ الْوُزَرَاءُ. فَقَالَ حُبَابُ بْنُ الْمُنْذِرِ لاَ وَاللَّهِ لاَ نَفْعَلُ، مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لاَ، وَلَكِنَّا الأُمَرَاءُ وَأَنْتُمُ الْوُزَرَاءُ هُمْ أَوْسَطُ الْعَرَبِ دَارًا، وَأَعْرَبُهُمْ أَحْسَابًا فَبَايِعُوا عُمَرَ أَوْ أَبَا عُبَيْدَةَ. فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَايِعُكَ أَنْتَ، فَأَنْتَ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - . فَأَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ فَبَايَعَهُ، وَبَايَعَهُ النَّاسُ، فَقَالَ قَائِلٌ قَتَلْتُمْ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ. فَقَالَ عُمَرُ قَتَلَهُ اللَّهُ.

---

[1]) اوګورئ:عمدة القاری:١٦،١٢٥٤

[2]) الحديث سبق تخريجه فی كتاب الجنائز.باب الدخول على الميت بعد الموت إذا أدرج فی أكفانه، رقم:١١٢٤٢

رجال الحدیث

إسمَاعِيلُ بْنُ عَبْدُ الله: دا اسماعیل بن أبی اویس عبد الله بن عبد الله بن اویس بن مالك بن أبی عامر اصبحي مدنی دي. ددهٔ احوال د "کتاب الإیمان، باب تفاضل أهل الإیمان" لاندې تیر شوی دی.[1]

سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ: دا سلیمان بن بلال قرشی تیمی مولی عبد الله بن عتیق محمد بن عبد الرحمٰن بن أبی بکر دي. ددهٔ احوال د "کتاب العلم، باب طرح الإمام المسألة علی أصحابه" لاندې تیر شوی دی.[2]

هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ: دا هشام بن عروة بن الزبیر بن العوام قرشی اسدی مدنی دي. ددهٔ احوال د "کتاب الإیمان، باب أحب الأعمال إلی الله أدومه" لاندې تیر شوی دی.[3]

عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ: د مشهور صحابی زبیر بن العوام خوئي او پخپله مشهور تابعی او د مدینې منورې په فقهاء سبعوؤ کښې یو دي هم دي، ددهٔ احوال هم د "کتاب الإیمان، باب أحب الأعمال إلی الله أدومه" لاندې تیر شوی دی.[4]

عَائِشَةَ رضی الله عنها: ددې احوال هم تیر شوی دی.[5]

د حضرت عائشې رضی الله عنها دا روایت چې د حضور ﷺ د وفات په ذکر او د سقیفې وغیره په قیصې باندې مشتمل دي، د فضائل الصحابه نه علاوه دا په کتاب الجنائز او کتاب المغازی کښې هم منقول دي.[6]

قوله: وَأَبُو بَكْرٍ بِالسُّنْحِ: "سُنح" بضم السین وسکون النون یا بضم النون دي. ابو عبید البکری وائی، "إنه منازل بنی الحارث من الخزرج بالعوالی" دا (سنح) د خزرج شاخ د بنی الحارث کورونو ته وئیلې شی، چې په عوالی کښې دی. او د دوی او د مسجد نبوی په مینځ کښې د یو میل فاصله ده.

قوله: قَالَ إِسْمَاعِيلُ: اسماعیل بن عبد الله راوی مراد دي، چې د امام بخاری شیخ دي، د ابن أبی اویس په نامې سره مشهور دي، "یعنی بالعالیة" دا د حضرت عائشې رضی الله عنها دقول

---

[1]) اوګورئ: کشف الباری: ۱۱۳.۲\
[2]) اوګورئ: کشف الباری: ۱۳۷.۳\
[3]) اوګورئ: کشف الباری: ۴۳۲.۲\
[4]) اوګورئ: کشف الباری: ۴۳۲.۲\
[5]) اوګورئ: کشف الباری: ۱۹۱.۱\
[6]) اوګورئ: حدیث ۱۲۴۱، ۱۲۴۲، ۴۴۵۲، ۴۴۵۵، ۵۷۱۰، ۴۴۵۳، ۴۴۵۷، ۵۷۱۱\ هلته هم ددې څه تشریح راغلې ده.

تفسیر دي، په دي وجه د ابو ذر په نسخي کښې "تعفی" د مؤنث په صیغې سره راغلې دي،[۱] د العالیة په حقله قسطلانی وائی، "هی مَنَازل بنی الْحَارث".[۲]

قوله: مَاكَانَ يَقَعُ فِي نَفْسِي إِلَّا ذَاكَ: یعنی زما په زړۀ کښې صرف دا خبره راتله، یعنی په دي وخت کښې د هغوی ﷺ د عدم وصال خیال زما په زړۀ کښې وو، وصال هیڅ کله هم نۀ، احمد د عائشې رضی اللہ عنہا یو روایت نقل کړې دي، چې په هغې کښې دا الفاظ دی، "إن رسول الله لايموت حتى يفنى الله المنافقين".[۳]

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ رائې د هغوی د غلبۀ ظن په وجه باندې وه، چې د هغوی د اجتهاد نتیجه وه، او د هغې وجه د قرآن کریم دا آیت وو، "وكذلك جعلناكم أمةً وسطاً لتكونوا شهداء على النَّاسِ ويكونَ الرسولُ عليكم شهيداً".[۴] هغه پوهه شو چې ددې شهادت (گواهئ ورکولو) پورې به هغوی ﷺ ژوندي وی.[۵]

قوله: لَا يُذِيقُكَ اللهُ الْمَوْتَتَيْنِ: د کتاب الجنائز او کتاب المغازی په روایت کښې د "لا يجمع الله عليك موتتين" الفاظ دی، او هغې سره دا هم تصریح ده:

"أمَّا الموتة التي كُتِبَتْ عليك فَقَدْ مُتَّها"[۶] هغه مرګ خو ستاسو واقع شوې دي، کوم چې ستاسو د پاره لیکلې شوې وو.

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ددې قول څۀ مطلب دي؟ ددې یو مطلب خو دا بیان کړې شوې دي، چې دا په خپل حقیقت او خپل ظاهر باندې دي، یعنی مطلب دادي، لکه څنګه چې د بعضې خلقو خیال دي. چې هغوی ﷺ به دویم واړې ژوندي کیږی، او ډیر خلق به ختم کړی، حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او فرمائیل، داسې به نۀ وی، ځکه کۀ داسې کیدل ممکن اومنلې شی، نو بیا به دا هم منل پکار وی. چې هغوی ﷺ ته به دوه واړې مرګ راځی، ځکه چې د حشر او بعث نه وړاندې به هغوی ﷺ ته مرګ خامخا راځی، او اوس په دي وخت کښې چې په هغوی ﷺ باندې مرګ راغلې دي. کۀ ددې نه ورستو دریم واړې په دنیا کښې د هغوی ﷺ د ژوندی کیدو څوک قائل وی نو ضروری ده، چې هغه به په هغوی ﷺ باندې دوه واړې د مرګ راتلو قائل وی. او حال دادي، چې هغوی ﷺ د الله تعالی په دربار کښې ددې نه ډیر زیات محترم

---

[۱] إرشاد الساری: ۸/۱۵۷

[۲] إرشاد الساری: ۸/۱۵۸

[۳] مسند احمد، رقم: ۲۶۳۶۵

[۴] سورة البقرة، آیت: ۱۴۳

[۵] إرشاد الساری: ۸/۱۵۸

[۶] اوګورئ کتاب المناقب، باب الدخول على الميت بعد الموت، رقم: (۱۲۴۱)

او مکرم دي، چې هغوی ﷺ ته دوه واري مرګ ورکړی، لکه څنګه چې ئې د بنی اسرائیلو بعضې خلقو ته ورکړو، چې د هغوی ذکر په "اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ثُمَّ اَحْيَاهُمْ" (۱) کښې دي، او څنګه چې په "اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا" (۲) کښې د "الذی" د مصداق سره شوی وو، یعنی حضرت عزیر علیه السلام سره - هغوی (محمد) ﷺ سره به په هر حال کښې داسې نۀ کیږی.

حافظ ابن حجر رحمه الله دا أوضح الأجوبه او أسلم الأجوبة ګرځولې دي.

کله چې یو مطلب ددې دا بیان کړې شوې دي، چې په قبر کښې به هغوی ﷺ ته دوباره مرګ نۀ راځی، لکه څنګه چې به عامو خلقو ته د سوال جواب د پاره د ژوندې کیدو نه ورسټو مرګ راځی.

یو دریم مطلب دا بیان کړې شوې دي چې د هغوی ﷺ او د هغوی ﷺ د شریعت دواړو مرګ به نۀ جمع کیږی، یعنی اوس هغوی ﷺ ته مرګ راغلې دي، نو د هغوی ﷺ شریعت به هم هغوی سره رخصت شی، داسې به نۀ کیږی.

څلورم مطلب دا بیان کړې شوې دي، چې دویم مرګ کنایه ده د کرب او غم نه، یعنی ددې مرګ نه ورسټو به په هغوی ﷺ باندې څۀ بل کرب او غم نۀ راځی، بلکه ددې نه ورسټو به د هغوی ﷺ د پاره بس رحمت، خوشالی او آسانتیا وی. (۳)

د منکرین حیات فی القبر استدلال او د هغې جواب: بعضې خلقو ددې الفاظو نه دا اخستې او ثابت کړې ده، چې په قبر کښې هغوی ﷺ حیات نۀ دي، او کیدې شی ددې مطلب داوی، کله چې یو واري هغوی ﷺ ته مرګ راغې، اوس کۀ په قبر کښې هغوی ﷺ ته دویم واري ژوند ملاویږی، نو بنکاره خبره ده، دویم واري به مرګ هم راځی، ځکه چې بعث بعد الموت د نورو خلقو په شان به د انبیاؤ هم کیږی، چې د هغې مطلب دغه دي، چې د مرګ نه به هغوی ﷺ ته افاقه اوشی، او په ظاهره بیا دا هم مستبعده ده، چې تر قیامته پورې هغوی ﷺ په قبر کښې ژوندی پاتې شی، خامخا به وفات کیږی، او ددې ټول هر څۀ مطلب دغه دي، چې هغوی ﷺ ته به دوباره مرګ راځی، یو واري په دنیا کښې یو واري په قبر کښې، حال دادي چې په دې حوالې سره رسول الله ﷺ مخاطب کولو سره ابوبکر رضی الله عنه فرمائی، "لَا يُذِيْقُكَ اللّٰهُ الْمَوْتَتَيْنِ".

ددې جواب د اهل سنتو د ارخ نه دا ورکړې شوې دي، چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه ددې قول هغه مطلب نۀ دي، کوم چې دلته اخستلې شوې دي، بلکه ددې مقصود د هغه مرګ نفی ده، چې د حضرت عمر رضی الله عنه د قول "ولیبعثنّه الله فی الدّنیا لیقطعنّ أیدیَ القائلین بموته" نه معلومیږی، او هغه داسې کله چې حضرت عمر رضی الله عنه دا اووئیل، چې خامخا به د رسول الله ﷺ بعثت

---

(۱) سورة البقرة: ۱۲۴۳

(۲) سورة البقرة: ۱۲۴۹

(۳) فتح الباری: ۱۴۸.۴، بیروت\

کیږی.نو ددې مطلب دا شو،چې اوس هغوی ﷺ ته مرګ راغلې دې،او دویم واړې به هغوی ﷺ ژوندی کیږی.او بیا به هغوی ته په دویم واړې مرګ راځی.هغه مرګ چې د هغې نه ورسټو به بعثت قیامت وی،حال دادې چې الله تعالی هغوی ﷺ ته دوه واړې مرګ نه ورکوی.او منکرینِ حیات چې د مرګ نه څه مراد اخلی هغې ارخ ته دلته هیڅ اشاره نشته. ځکه هغوی(منکرینِ حیات)د برزخ خبره کوی،او د برزخ احوالو ارخ ته دلته په روایت کښې هیڅ تعرض نه دې کړې شوې.

او ددې نه غوره جواب دادې،منکرینِ حیات چې دا وائی،چې په قبر کښې هغوی ﷺ ته حیات په دې وجه ثابت نه دې.که داسې قسمه څه حیات وې،خامخا به هغه د دوې مرګ نه ورسټو وی.او بیا د قبر د حیات نه ورسټو به هم د هغوی ﷺ د پاره مرګ منل پکار وی،نو په دې طریقې سره به دوه واړې د هغوی ﷺ د پاره مرګ ثابت شی،حال دادې چې ابوبکر د هغې نفی کوی..... نو جواب دادې،چې د قبر د حیات نه ورسټو به هغوی ﷺ ته مرګ نه واقع کیږی،بلکه د هغوی ﷺ حیات به مستمر وی،او د منکرینِ حیات ددې ټول تقریر مدار د حیاتِ قبر نه ورسټو د مرګ په واقع کیدو باندې دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب ذکر کولو سره فرمائی،"والأنبیاء أحیاء فی قبورهم".(۱) حال دادې چې انبیاء په خپلو قبرونو کښې ژوندی دی.

د قبر حیات مستمرَه د غیر انبیاؤ د پاره ثابت نه دې: حافظ ابن حجر عسقلانی فرمائی،"ولعلّ هذا هو الحکمة فی تعریف الموتَتَین حیث قال لا یذیقك الله الموتتین،أی المعروفتَین المشهورتَین الواقعتَین لکل أحد غیر الأنبیاء"دلته چې کوم"الموتتین"معرفه راوړلې شوې ده،کیدې شی ددې حکمت او وجه دا وی.چې په دې سره هغه دوؤ معروفو او مشهورو مرګونو ارخ ته اشاره مقصود وی،چې د انبیاؤ نه ګلاوه د هر سړی د پاره ثابت او واقع دې،یعنی د حیات دنیویه نه ورسټو مرګ او بیا د سوال او جواب د پاره د ورکړې شوی حیات نه ورسټو واقع کیدونکې مرګ.د حافظ منشاء داده،چې د قبر حیاتِ مستمره به د انبیاؤ نه علاوه بل هیچ چا ته هم حاصل نه وی.

ددې واقعې څخه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه امتیازی مقام ثابتیږی: او پاتې شوه دا خبره چې حضرت عمر رضی الله عنه په تاکید او قسمیه اووئیل،چې اوس به د حضور ﷺ بعثت کیږی،یا دا چې هغوی ﷺ ته مرګ نه دې راغلې.....نو دا د هغوی رضی الله عنه ګمان وو،چې د اجتهاد په نتیجه کښې هغوی ددې اظهار کړې وو.نو وو خو دا د واقعې خلاف،خو په طریقې د اجتهاد او ګمان سره چې هغوی اووئیل نو دا د مواخذې قابل او سبب د ملامتیا هم پاتې نه شو،او د هغه د تغلیط ضرورت هم نشته.او ددې نه دا هم معلومه شوه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه او د نورو خلقو نه په علم کښې زیات وو،همدغه شان دا هم معلومیږی،چې

---

(۱) اوګورئ:فتح الباری:۹،۳۵،۳۶،بیروت۱

حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په اهمو معلاملاتو،لویو لویو مسائلو،مصائبو او په ګرانو موقعو کښې په ثابت قدم پاتې کیدو او په حوصله سائلو کښې هم د نورو ټولو خلقو نه زیات وو.(۱)

قوله: أَيُّهَا الْحَالِفُ عَلَى رِسْلِكَ: أی اتئد فی الحلف أو کُن علی رِسلِك، أی علی التُّؤدة، لا تتعجل.(۲)

د"علی رسلك" معنی کیږی،لږ صبر اوکړه،اودریږه،تلوار مه کوه!

په"کتاب الجنائز".کښې دا مذکور دی،کله چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د مقام"سنح"نه تشریف راوړو،نو مسجد ته داخل شو،او چا سره د خبرو کولو نه بغیر د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا خوا ته لاړو، بیا کله چې هغوی راوګوتل نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره ئې خبرې کولې،ابوبکر لیدو سره هغوی دوی ته هم اووئیل،کینه،ابوبکر انکار اوکړو،او خطبه وئیل ئې شروع کړل،نو خلقو حضرت عمر رضی اللہ عنہ پریښودو سره هغوی اړخ ته متوجه شو."فَمَالَ إِلَيْهِ النَّاسُ وَتَرَكُوا عُمَرَ".(۳) خلقو حضرت عمر رضی اللہ عنہ پریښودو سره ابوبکر رضی اللہ عنہ اړخ ته متوجه شو.

خو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خبرو کولو مطلب دا نه وو،چې هغه خلیفه جوړیدل غوښتل،او هغې د پاره ئې د خلقو ذهنونه جوړول،په کتاب الأحکام کښې حدیث مذکور دې،په هغې کښې ددې تصریح ده.چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلیفه جوړیدو نه معذرت ښکاره کړې وو،

عبد الله بن عمر فرمائی: قیل لعمرَ ألا تستخلف؟قال: ان أستخلِف فقد استخلف من هو خیر منی، أبوبکر، وإن أترك فقد ترك من هو خیر منی: رسول الله ﷺ، فاثنَوا علیه فقال: راغبٌ وراهبٌ وددتُ أنی نجوتُ منها کفافًا لا لی ولا علیَّ، لا أتحملها حیًّا ومیِّتًا.(۴)

حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته اووئیلې شو،چې تاسو(د دنیا نه تلو سره)به خلیفه نه مقرروئ؟وې فرمائیل کۀ زۀ خلیفه جوړوم نو زما نه غوره یعنی ابوبکر هم مقرر کړې دې،او کۀ نۀ مقرروم نو رسول الله ﷺ هم نۀ دې مقرر کړې،چې زما نه غوره دې،خلقو په دې باندې د هغوی تعریف اوکړو.هغوی اوفرمائیل چې شوق او د زړۀ خوښه مې هم ده،او ویریږمه هم،زۀ غواړم چې زۀ ددې نه سر په سر خلاص شم،چې نۀ په ما باندې څۀ وی او نۀ زما د پاره څۀ وی،زۀ دا(ذمه داری)په ژوند او مرګ دواړو حالتونو کښې په سر نۀ اخلم.

معلومه شوه چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ کله حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خپل ځان نه ورسته خلیفه جوړ کړو نو هغوی ذمه داري ترسره کړې،ګنې نو هغوی شوق نۀ لرلو.

قوله: فَنَشَجَ النَّاسُ: خلق په ژړا شو،"نشج"هغې ژړا ته وئیلې کیږی،چې په هغې کښې انتحاب(په چغو چغو ژړل،سلګې وهل.او لوئې لوئې ساهګانې اخستل)نۀ وی،

---

۱) عمدة القاری:۱۶،۱۲۵۶\

۲) عمدة القاری:۱۶،۱۲۵۶\

۳) اګورئ،صحیح البخاری،کتاب الجنائز،رقم(۱۲۴۲)\

۴) صحیح البخاری،کتاب الاحکام،باب الاستخلاف،رقم(۷۲۱۸)\

حافظ عسقلانی ددې دوه معنې بیان کړې دی:

①:-مایعرض فی حلق البای من الغصة. کومې غُتې چې د ژړیدونکی په مړې کښې پیدا کیږی.

②:-هوصوتٌ معه ترجیع کمایردّد الصبی بکاءَهٗ فی صدرہ. هغه آواز چې هغې سره دویم آواز یو ځائې شی، لکه ماشوم چې خپل آواز سره د سینې آواز یو ځائې کړی.

ددې حالت نه په ساه نیولو، سلګې وهلو، غاړې ورکولو، او سترګو کښې په اوښکو راتللو سره تعبیر[1] کولې شی.[2] وقیل بکاء مع صوت.[3] یو قول دادې چې کومې ژړا سره آواز وی، هغې "نشج" وئیلې شی.

د رسول الله ﷺ د خلافت مسئله:

قوله: واجتمعت الأنصار إلی سَعد بن عبادة فی سقیفة بنی ساعدة.....: ساعدة دا د کعب بن الخزرج د ځوئی یا د درید د ځوئی نوم دې، هسې خو ساعدة د زمری په نومونو کښې یو نوم دې، او "سقیفة بنی ساعدة" د انصارو د مشورې ځائې او دارالندوه وو.[4]

د انصارو په سقیفة بنی ساعده کښې اجتماع: سَعد بن عبادة بن دلیم بن حارثه الخزرجی ثم الساعدی، د خزرج د قبیلې په دغه وخت کښې سردارو، د انصارو دوه مشهورې قبیلې وې اَوس او خزرج، ایا ټول انصار په سقیفۀ بنی ساعدة کښې سَعد بن عباده سره جمع شوی وو، ابن اسحاق د خپل سیرت په آخر کښې ذکر کړی دی، چې "أن أسید بن حُضیر فی بنی عبد الأشهل انحازوا إلی أبی بکر ومَن مَعه وهولاء من الأوس".[5] اُسید بن حضیر بنو عبد الاشهل سره شو او سیدنا ابوبکر او د هغې ملګرو ته راغلل او ملاؤ شو، او هغوی ارخ ته مائل شوی وو، او دا حضرات د اَوس قبیلې نه وو.

او ابن عباس رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه نه د هغوی دا قول نقل کوی، "تخلفت عنّا الأنصار بأجمعها فی سقیفة بنی ساعدة".[6] ټول انصار زمونږ نه جدا کیدو سره په سقیفه بنی ساعده کښې کیناستل. ددې دواړو اقوالو د جمعې او تطبیق صورت دا کیدې شی، چې اول خو انصار ټول جدا شوې وو، او بیا هغوی هم یوځائې پاتې نۀ شو، بلکه جدا جدا شو.

ځکه چې اَوس او خزرج دواړه داسې فریقین وو، چې د جاهلیت په دور کښې د دوی په مینځ

---

[1] فتح الباری:۹،۱۳۶

[2] د "نشج" او "نحب" د مادې تفصیل د لغت په کتابونو کښې اوګورئ، د مثال په توګه القاموس الوحید، ص:۱۶٤۷، او مختار الصحاح، ص:۳۳۲، او اساس البلاغة للزمخشری، ص:۱٤۵۶

[3] عمدة القاری:۱۶،۱۲۵۶

[4] عمدة القاری:۱۶،۱۲۵۶

[5] السیرة النبویة لابن هشام:٤،۱۶۵۶

[6] فتح الباری:۹،۱۳۶

کښې ډیر جنګونه شوی وو، او د اسلام نه ورسټو اګر چې د دوی هغه سخت د تورو جنګونه او دښمنی خو نۀ وو پاتې شوې، او په ظاهره خو تقریباً د هغې نوم او نشان هم نۀ وو پاتې شوې، د انصارو او مهاجرینو صحابۀ کرامو او بیا د انصارو په خپل مینځ کښې د ورورولئ تعلق او خپل مینځ کښې د حد نه زیات خوږیدل، یو ناقابل انکار تاریخی حقیقت او د اسلام د حقانیت د خپلې خُلې ثبوت دې، ولې دا هم یو حقیقت دَې، چې ددې دواړو قبیلو په مینځ کښې د سوؤنو کالو نه د جاری وینو تویولو او اختلافاتو څۀ نه څۀ اثر تر اوسه پورې په دوی کښې باقی وو، او په بعضې موقعو کښې به په رګونو کښې د ګرځیدونکی عداوت او دښمنئ بسرکی اُور واخستلو، نو بیا به د جنګ د ګرمیدو ویره وه، او مسابقت او مقابله خو په دوی کښې د وړاندې نه پاتې شوې وه۔

نو دلته چې کله انصار ددې مقصد د پاره جمع شو چې د "امیر المؤمنین" انتخاب اوکړې شی، او بل اړخ ته دا دواړه فریقین خو بس د یو بل د مقابلې په نیت راغلی وو، ولې بیا کله چې اُسید بن حضیر او د اَوس نورو حضراتو اوکتل چې ابوبکر د بهر نه د امارت او خلافت د مستحق کیدو په توګه وړاندې راروان دې، نو اَوس قبیلې په ځائې ددې چې خزرج والا په دوی امیر جوړ شی، نو هغوی مهاجرینو او په هغوی کښې غوره د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ امارت ته ترجیح ورکړه۔

بیا هلته دا هم شوې وو، چې حضرت زبیر او حضرت علی رضی اللہ عنہما د رسول الله ﷺ کور ته تلی وو، او مهاجرین ابوبکر سره جمع شوی وو۔[1]

د انصارو خوا ته د اکابرو مهاجرینو راتلل: فَذَهَبَ إِلَيْهِم أَبُوبَكْرٍ وَ عُمَرُ بنُ الْخَطَّابِ، وَأَبُو عُبَيدَةَ.....

پورته چې د ابن عباس رضی اللہ عنہما د کوم روایت ذکر دې، په هغې کښې دا الفاظ دی:

فقلت له: يا أبابكر انطلِق بنا إلى إخواننا من الأنصار ما حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته خواست اوکړو، چې مونږ خپلو انصارو وروڼرو خوا له بوځئ۔

او ابن حبان او ابویعلی وغیره د مالك عن الزهری په روایت سره دا اضافه نقل کړې ده:

"فبينما نحن في منزل رسول الله ﷺ إذا رجلٌ ينادي من وراءِ الجدار أن اخرجْ إلَيَّ يا ابن الخطاب، فقلتُ: إليك عني فإنا عنك مَشاغِيل يعني بأمرِ رسول الله ﷺ، فقال له: إنه قد حدث أمر، فان الأنصار اجتمعوا في سقيفة بني ساعدةَ فأدركوهم قبلَ أن يحدثوا أمراً يكون فيه حربٌ فقلتُ لأبي بكر انطلق.....فذكره.....فانطلَقنا نؤمهم حتى لقَينا رجلان صالحان فقالا: لا عليكم ألا تقربوهم، واقضوا أمرَكم، قال فقلتُ: والله لنأتينَّهم، فانطلقنا، فإذا بين ظهرانيهم رجل مزمل. فقلتُ: من هذا؟ قالوا: سَعد بن عُبادةَ".[2]

په دې کښې ددې واقعې څۀ نور هم تفصیل دې، نو هغه فرمائی:

---

[1] فتح الباری: ۱۳۶.۹

[2] صحیح ابن حبان، رقم: ٤١٤. هم دغه شان اوګورئ صحیح البخاری، کتاب الحدود، باب رجم الحبلیٰ فی الزنا إذا أحصنت، رقم (٦٨٣٠)

مونږ د رسول الله ﷺ په کور کښې وو، چې د یو سړی د دیوال د شا اړخ نه دا آواز کول واؤریدې شو. "ابن خطاب! بهر راؤځه!"
ما اووئیل، ځه! خپل کار کوه، مونږ د رسول الله ﷺ په معامله کښې د مشغولیدو په وجه تا ته فارغ نۀ یو، هغوی حضرت عمر رضی الله عنه ته اووئیل، یو کار شوې دې، انصار په سقیفۀ بنی ساعده کښې جمع دی، لاړ شه هغوی سره ملاؤ شه. مخکې د هغې نه چې هغوی ځۀ داسې کار اوکړی، چې په هغې سره جهګړه شروع شی، نو ما ابوبکر ته اووئیل: ځه چې زو د انصارو خوا ته، بیا مونږ هغوی ته د تلو په نیت روان شو، په لار کښې دوه کسان مونږ سره ملاؤ شو، هغوی اووئیل کۀ تاسو هغوی ته لاړ نۀ شئ نو هم ځۀ مسئله نشته، ځۀ چې تاسو کول غواړې، بې غمه ئې اوکړئ. راوی وائی ما اووئیل، په خدائې قسم مونږ به خامخا د هغوی خوا ته زو، بیا کله چې مونږ راغلو نو ځۀ ګورو چې هلته یو سړی سادر په سر کړې د هغوی په مینځ کښې دې، ما اووئیل دا څوک دې؟ وې وئیل، دا سعد بن عباده دې!
د حدیث په آخر کښې د حضرت عروه رضی الله عنه نه دا هم منقول دی، چې هغه دوه سړی چې هغوی دوی سره ملاقات کړې وو، یو عویم بن ساعدۀ بن عباس بن قیس بن النعمان وو، چې د هغۀ تعلق د بنی مالك سره وو، او دویم معن بن عدی بن الجعد بن العجلان، چې د هغه حلیف وو، او ددې دواړو تعلق د آوس سره وو۔[1]

قوله: فَذَهَبَ عُمَرُ يَتَكَلَّمُ فَأَسْكَتَهُ أَبُو بَكْرٍ: حضرت عمر رضی الله عنه خبرې کول غوښتل ولې حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه چپ کړو۔
د ابن عباس په روایت کښې دا الفاظ دی:

"قال عمر: أردتُ أن أتكلم، وقد كنتُ زوَّرتُ، أي هيأتُ وحسَّنتُ مقالة أعجبَتْنِي، أريد أن أقدمها بين أبي بكر، وكنتُ أداري منه بعض الحد_ أي الحدة_ فقال على رسلِكَ، فكرهتُ أن أغضبَه".[2]

وې فرمائیل ما د خبرو کولو اراده اوکړه، او ما یوه داسې خبره په زړۀ کښې جوړه کړې وه، چې ما ته ډیره ښۀ معلومیده، او زه په هغې ډیر غاوره ووم، ما هغه خبره د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وړاندې راوستل غوښتل، او ما د هغې په حوالې سره د ډیر جوش او سختئ اظهار اوکړو، ولې هغۀ ما ته اووئیل، په آرام سره کینه! بیا ما په هغۀ باندې د غصې اظهار کول هم مناسب اونۀ ګنړلو۔

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه بلیغ بیان او د هغې خبرې: ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَتَكَلَّمَ أَبْلَغَ النَّاسِ..... أبلغ اسم تفضیل دې د بلاغت نه، او بلاغت د مقتضی الحال مطابق (د موقع مناسب) کلام ته وئیلې شی۔[3]

---

[1] فتح الباری: ۹، ۳۲۶\
[2] فتح الباری: ۹، ۳۲۶\
[3] عمدة القاری: ۱۶، ۲۵۶\

دا جمله د أبلغ په نصب سره ده، او نصب د حال واقع کیدو په وجه باندې دې، او د فاعلیت په بناء باندې رفع هم جائز ده، یا د مبتداء محذوف خبر دې، "أی فتکلم أبوبکر وهو أبلغ الناس".(۱)

یعنی هغه سړی خبرې اوکړې چې د هغهٔ صفت دادې، چې هغه أبلغ الناس دې. سهیلی وائی چې نصب ډیر مناسب او راجح معلومیږی، ځکه چې په دې سره به د هغه د مدحې تاکید اوشی(د منصوب علی سبیل المدح په توګه باندې) او بل چا په دې صفت سره د موسوم کیدو د وهم ازاله کول به هم مقصود وی. د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې دا الفاظ دی:

"قال عمر: والله ما ترکت کلمة أعجبتنی فی تزویری إلا قالها فی بدیهته وأفضل حتی سکت".(۲)

هغوی اوفرمائیل ما چې کوم تقریر تیار کړې وو، په هغې کښې چې کومې خبرې ما ته ډیرې ښې لګیدې، هغه خبرې هغوی په خپل فی البدیه بیان کښې اوفرمائیلې، بلکه د هغې نه ئې هم غوره خبرې اوکړې تر دې پورې چې هغوی چپ شو.

قوله: فَقَالَ فِي كَلَامِهِ: "أی فقال أبوبکر فی جملة کلامه".(۳)

دلته خو دومره خبره ذکر ده، چې هغوی اووئیل، "نحنُ الأمراء وأنتمُ الوزراء" او د حمید بن عبد الرحمٰن په روایت کښې دا الفاظ دی:

"فتکلم أبوبکر فلم یترک شیئًا أنزل فی الأنصار ولا ذکره رسول الله ﷺ من شأنهم إلا ذکره".(۴)

د انصارو په حقله چې څهٔ هم نازل شوی وو، یا نبی علیه السلام د هغوی په شان کښې څهٔ وئیلی وو، ابوبکر هغه ټول د ذکر کولو نه بغیر پرې نښودل.

خلافت صرف د مهاجرینو حق دې: او د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې څهٔ داسې خبره ده:

"أما بعد فما ذکرتُم من خیرٍ فانتم أهله، ولن تعرفَ العرب هذا الأمر إلا لهذا الحی من قریش، وهو أوسط العرب نسبًا ودارًا".(۵)

حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حمد او صلاة نه ورسټو اوفرمائیل، دا چې تاسو(انصارو) د خپل خیر کوم ذکر اوکړو، نو هیڅ شك نشته چې دا ټول په تاسو کښې دی، خو عرب دا د خلافت امر د دې قبیلې نه علاوه د چا هم حق نهٔ ګڼری، او همدغه خلق دی چې په عربو کښې د نسب او دار په اعتبار سره د ټولو نه غوره او افضل دی.

د "دار" نه مراد مکه ده، ځکه چې مکه د هغه(مهاجرینو) کور او وطن وؤ، او د مکې په غوره

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۵۸،۱۶

۲) صحیح البخاری، کتاب الحدود، باب رجم الحبلی من الزنا إذا أحصنت، رقم(۶۸۳۰)

۳) عمدة القاری: ۱۲۵۸،۱۶

۴) مسند احمد، مسند أبی بکر الصدیق، رقم ۱۱۸۱

۵) السنن الکبریٰ للبیهقی وباب الأئمة من قریش، رقم: ۱۶۹۷۶، وصحیح البخاری، باب رجم الحبلیٰ من الزنا إذا أحصنت، رقم: ۶۸۳۰، ومسند احمد، مسند عمر بن الخطاب، رقم: ۱۳۹

والی کښې چا ته شك دې،او خطابی فرمائی،د"دار"نه مراد"أهل الدار"دی،لکه چې وئیلې شوی دی،"خیردار الأنصار بنوالنجار"،بنو نجار د کورنئ په اعتبار سره په انصارو کښې د ټولو نه غوره دی،نو د مهاجرینو د خاندان او کورنئ په اعتبار سره غوره کیدل هم واضح دی،ځکه چې قریش خو د رسول الله ﷺ خاندان دې۔

د حَسَب او نسب په خلافت کښې اعتبار: په یو روایت کښې"هم أوسط العرب داراً وأعربهم أحساباً" ذکر شوی دی،أحساب دحَسَب جمع ده،حَسَب ښځ کارونو ته وئیلې کیږی،دا د حساب نه ماخوذ دې،او وجه د اخذ داده،چې دې خلقو به کله خپل مناقب او محاسن بیانول،نو په حساب کښې چې به د چا مناقب زیات شو،هغه به ډیر عزت او شرف والا ګڼلې شو۔"ویقال النَّسبُ للآباء والحَسَبُ للأفعال"۔(۱) دا هم وئیلې شی،چې نسب په پلارانو او نیکونو کښې وی او حسب په افعالو او کردار کښې وی۔

حُباب بن منذر په خلافت کښې د انصارو په برخې باندې کلک وو: قَالَ حُبَابُ بنُ الْمُنْذِرِ..... حُباب د حاء په ضمې،او د باء په تخفیف سره،دا حباب بن المنذر بن عمرو بن الجموع الخزرجی السلمی دې،دۀ ته"ذوالرأی"هم وئیلې شی۔(۲)

د بخاری شارح علامه کرمانی فرمائی: "وکان لبیباً اذا رأی هو الذی أشار إلی رسول الله ﷺ یوم بدر بالنزول علی الماء فجاء جبریلُ إلی رسول الله بذلك"۔(۳)

دې ډیر زیرك او صاحب رائې وو،هم دۀ په غزوۀ بدر کښې رسول الله ته د نزول علی الماء په حوالې سره خبره کړې وه،(او رائې ئې ورکړې وه)او بیا جبریل هم دغه خبرې سره راغې۔

قوله: لاَ وَ اللهِ لاَ نَفْعَلُ: حباب بن المنذر انکار اوکړ،ا ووې ویلې یو امیر به زمونږ د انصارو نه وی او یو به ستاسو د مهاجرینو نه وی،او د ابنِ عباس په روایت کښې دا الفاظ دی،"أنا جُذَیلها المحکَّك،وعُذَیقها المرجَّب"۔(۴) جُذَیل بالدال المهملة یا بالذال المعجمة،د جدل معنی ده،عود ینصب للابل الجرباء لتحتك فیه،محکَّك د حکّۀ نه اسم مفعول دې،په معنی د خارښ سره،"جُذَیل مُحکَّك"هغه لرګی ته وئیلې شی،چې د خارښتی اُوښ د پاره خاص کړې شوې وی،د هغې نه هغه د ګرولو کار اخلی،او ښکاره خبره ده،په دې عمل سره د هغۀ ګزاره کیږی،د حباب مطلب هم دا وو،چې هغه د خپل قوم د پاره داسې دې،چې ددۀ په رائې سره

---

۱) فتح الباری:۹،۱۳۶

۲) فتح الباری:۹،۳۶،۱۳۷

۳) الکوثر الجاری إلی ریاض أحادیث البخاری:۶،۴۳۹،بیروت۱

۴) صحیح البخاری،کتاب الحدود،باب(۳۱)،حدیث(۶۷۳۰)۱

هغوی ته تسلی کیږی،او هغوی ته اطمینان او آرام راځی،یا دا معنی ده،چې زهٔ د هغوی مشکلات آسانوونکې او مسائل حل کونکې یم۔

عُنَیق هم د عنق تصغیر دې،د کهجورې وُنه مراد ده،د مُرجَّب معنی ده،مُعظَّم،د عُنَیق مُرجَّب نه د کهجورې وُنه مراد ده،چې هغې ته د لرګی یا د دیوال تکیه ورکړې شی،او هغه(لرګې وغیره)ډیره لویه ونه د غورځیدو نه بچ کوی،تصغیر د تعظیم د پاره ګرځولې شوې دې۔[1]

د ابوبکر د بصیرت ډک بیان نه ورسټو د انصارو خبره پریښودل: ابن سعد د یحیی بن سعد عن القاسم بن محمد په طریقې سره په دې الفاظو سره روایت نقل کوی:

"فقام حُباب بن المنذر وكان بدرياً فقال: منّا أمير ومنكم أمير، فإنا والله ما نتفس عليكم هٰذا الأمر ولكنا نخاف أن يَليَه أقوام قتَلنا آباءَهم وإخوانهم، قال فقال له عُمر: إذا كان ذلك فمُت إن استطعتَ، قال فتكلم أبوبكر فقال: نحن الأمراء وأنتم الوزراء وهذا الأمر بيننا وبينكم، قال فبايعَ الناسُ وأولهم بشير بن سعد والِدُ النُعمان"۔[2]

حُباب چې بدری صحابی دې،هغوی اووئیل یو امیر به زمونږ د انصارو نه وی،او یو امیر به ستاسو د مهاجرینو نه وی،او په خدائې قسم مونږ د خلافت ددې امر په حوالې سره تاسو سره هیڅ حسد نهٔ کوؤ،خو مونږ سره ویره ده،چې دا چرته هغه خلق وانخلی د چا چې مونږ پلاران او وروڼه قتل کړی دی،راوی وائی حضرت عمر رضی الله عنه اوئیل،کهٔ داسې خبره وی نو تهٔ مړ شه،کهٔ طاقت دې وی،وې فرمائیل ابوبکر تقریر اوکړو،نو وې وئیل چې مونږ (مهاجرین) امیران یو،او تاسو(انصار)وزیران،او په دې طریقې سره دا خلافت زمونږ په مینځ کښې مشترک دې.وې فرمائیل،نو خلقو بیعت اوکړو،او د ټولو نه اول چې چا بیعت اوکړو،هغه د نعمان بن بشیر پلار بشیر بن سعد وو۔

امام احمد د ابو نضره عن أبی سعید په طریقې سره نقل کړی دی،فرمائی:

"قام خطباء الأنصار فجعل منهم من يقول: يا معشر المهاجرين إنّ رسول الله ﷺ كان استعمَل رجلاً منكم قرن معه رجلاً منّا فنَرى أن يلي هذا الأمرَ رجلان: أحدهما منكم والآخر منّا. قال فتتابعت خطباء الأنصار على ذلك. فقام زيدُ بن ثابت، فقال: إن رسول الله ﷺ كان من المهاجرين وإن الإمام إنما يكون من المهاجرين. فنحن أنصارُ الله كما كُنّا أنصارَ رسول الله ﷺ. فقال أبوبكر: جزاكم الله خيراً فبايَعوه"۔[3]

د انصارو خطباء اودریدل او وې وئیل،چې رسول الله ﷺ به په تاسو کښې څوک عامل جوړولو،نو زمونږ یو سړې به ئې ورسره ملګرې کولو،نو مونږ پوهیږو،چې معامله دوؤ کسانو ته اوسپارلې شی،نو په دې باندې بیعت اوکړئ،چې یو سړې به ستاسو نه امیر وی

---

[1] النهاية لابن الاثير: ۱.۴۰۹،و ۱.۶۳۵

[2] الطبقات الكبرىٰ لابن سعد: ۳.۱۷۲،رقم ۱۳۴۱۶

[3] مسند احمد: ۵.۱۸۵،رقم: ۲۱۹۵۳

او یو به په مونږ کښې امیر وی.....بیا ثابت بن زید رضی الله عنه او درید و او وې وئیل: رسول الله ﷺ پخپله د مهاجرینو نه وو، نو مونږ د الله تعالی انصار یو، لکه څنګه چې مونږ د رسول الله انصار (مدد کونکی) وو، ابوبکر اووئیل، الله تعالی دې تا ته جزاء خیر درکړی.....او هم دغسې خلقو د ابوبکر په لاس باندې بیعت اوکړو.

او د مغازی په آخر کښې د موسی بن عقبه عن ابن شهاب په طریقې سره روایت دې، چې ابوبکر په خپلې خطبې کښې اووئیل:

"وکنا معاشر المهاجرین أول الناس إسلاما، ونحن عشیرته وأقاربه وذوو رحمه، ولن تصلح العرب إلا برجل من قریش، فالناس لقریش تبع، وأنتم إخواننا فی کتاب الله وشرکاؤنا فی دین الله وأحب الناس إلینا وأنتم أحق الناس بالرضاء بقضاء الله والتسلیم لفضیلة إخوانکم وأن لا تحسدوهم علی خیر".(۱)

مونږ مهاجرین په ټولو خلقو کښې اول اسلام قبلونکی یو، او مونږ د رسول الله ﷺ ورور ولئ والا یو، د هغوی ﷺ رشته دار او قرابت دار یو، او عرب د قریشو نه علاوه بل هیڅ یو سړې کله هم نۀ منی، او ټول خلق د قریشو تابع دې، او تاسو د الله په کتاب کښې زمونږ ورونړه ئې، او د الله په دین کښې مونږ سره شریک ئې، او مونږ ته د ټولو خلقو نه زیات ګران او خوښ ئې. او تاسو خلق په رضا بالقضاء او په خپل ځان باندې د خپلو ورونړو فضیلت منلو او هغوی سره د حسد نۀ کولو د ټولو نه زیات حقدار ئې.

وړاندې دا هم ذکر کړې شوی دی، چې انصارو دا تجویز ورکړو، چې اول به مهاجر خلیفه جوړ کړې شی، بیا چې کله هغه مړ شی نو انصاری به خلیفه جوړ کړې شی، بیا چې کله هغه مړ شی نو مهاجر به خلیفه جوړ شی، او همدغسې به سلسله جاری وی، حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل. "لا والله لا یخالفنا أحد إلا قتلناه".(۲) نه! په خدائې قسم! چې څوک زمونږ مخالفت کوی، مونږ به هغه قتلوؤ.

په دې باندې حُباب بن المنذر پاسیدو، او بیا هغۀ هغه خبره اوکړه، چې د هغې اوس پورته ذکر اوشو. هنه! دا الفاظ په هغې کښې زیات دی، "وإن شئتم أعدنا الحرب جذعة".(۳) کۀ تاسو غواړې نو مونږ به دویم واړې سخت جنګ شروع کړو.

ددې نه ورستو خبره ډیره شوه، او جنګ شروع کیدو ته خبره نزدې شوه، نو بیا حضرت عمر رضی الله عنه راوړاندې شو او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لاس ئې اونیولو.

امام احمد د حمید بن عبد الرحمن بن عوف په طریقې سره دا هم نقل کړی دی:

---

۱) فتح الباری: ۳۶،۹، والسنن الکبریٰ للبیهقی، رقم: ۱۱۲۲۷۳

۲) فتح الباری: ۳۶،۹، والسنن الکبریٰ للبیهقی، رقم: ۱۱۲۲۷۳

۳) مسند البزاز، مسند عمر: ۴۸،۱، رقم: ۱۹۴، وفی روایة بلفظ "رددناها جذعة" المسند الجامع: ۳۲،۱۸۶، رقم: ۱۱۰۵۵۴

تولی رسولُ الله ﷺ و أبوبکر فی طائفة من المدینة".(۱)

بیا نې حدیث نقل کړو او وړاندې تلو سره ئې اووئیل: "والله لقد علمتَ یا سعد أن رسول الله ﷺ قال: وأنت قاعدٌ: قریش ولاةُ هذا الامر، فقال له سعد: صدقتَ".(۲)

ابوبکر رضی اللہ عنہ اوفرمائیل. سعد اپه خدائې قسم تا ته پته ده، چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل، "چې دا معامله د قریشو په ذمه ده، او هم قریش ولی الامر دی" او تۀ ناست وې. سعد اووئیل تا رښتیا اووئیل.

قوله: هُم أَوْسَطُ الْعَرَبِ: دا د قریشو صفت دې، أوسط، غورد، خیار العرب، أعربهم أحساباً په حسب نسب کښې د ټولو نه زیات صفا او واضح، په بعضې نسخو کښې "أعرفهم" دې یعنی ښۀ اصلی، العرفة بمعنی الإصالة دې.(۳)

قوله: فَبَایَعُوا عُمَرَ، أو أَبَا عُبَیْدَةَ: د ابن عباس په روایت کښې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه مروی دی، چې ابوبکر اووئیل، "وقد رَضیتُ لکم أحدَ هذَینِ الرجلَین وأخذ بیَدِی ویدِ أبی عُبیدة، فلَم أکرَه مما قال غیرَها"، هغوی زما او د ابوعبیده لاس اونیسلو او وې وئیل، زه په دې دواړو سړو کښې ستاسو د پاره یو خوښوم، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وائی، ددې خبرې نه علاوه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ټولې خبرې زما خوښې شوې.

حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت د مستحق کیدو باوجود د عمر او ابو عبیده نومونه ولې وړاندې کړل: دلته دا اشکال کیدې شی، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته د خپل ځان په حقله د أحق بالخلافة کیدو علم وو، لکه څنګه چې نورو ته علم وو، د مونځ د امامت په باب کښې د هغوی اهلیت او اوّلیت، د رسول الله ﷺ په حیات کښې د هغوی ﷺ په تقدیم او د بعضې نورو قرائنو نه په واضحه توګه معلوم وو، بیا حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خپل استحقاق بلکه احقّیت ولې نۀ ښکاره کولو، او ولې ئې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ او د ابوعبیده نومونه اخستل. حال دادې، چې هغوی د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه افضل وو، او د ابوعبیده نه خو په طریقۀ اولی افضل وو، ځکه چې ابوعبیده په اتفاق سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه په فضیلت کښې کم وو.

ددې جواب دادې، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د حیا د وجهې نه دا نۀ شو وئیلې، چې مثلاً "رضیتُ لکم نفسی" او بیا په دې کښې د تزکیۀ نفس رعایت هم دې، په دې وجه هغوی حضرت عمر رضی اللہ عنہ او حضرت ابوعبیده رضی اللہ عنہ وړاندې کړل، او د دوی د وړاندې کولو یوه وجه خامخا دا وه، چې د ابوبکر نه ورسته هم دغه حضرات د خلافت مستحق وو، نو په دې سره دا هم

---

۱) فتح الباری: ۱۳۸،۹

۲) مسند احمد مسند أبی بکر، رقم: ۱۸۸

۳) عمدة القاری: ۱۲۵۸،۱۶

مقصود وو ،چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ او حضرت ابوعبیده رضی اللہ عنہ به دا منصب قبول نۀ کړی.او دې د پاره به هم د ابوبکر نامه اخلی،په دې وجه د هغوی نامې واخستې شوې،او په دې سره بل ارخ ته هغوی ته اعزاز هم ورکړې شو ،او فی الجمله د هغوی استحقاق ئې هم ثابت کړو ،او دې سره ئې د امکان ازاله هم اوکړه،چې ابوبکر ددې منصب د خپل ځان د پاره خواهش لری،په دې وجه دومره متحرك دې۔[1]

او حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره ئې د حضرت ابوعبیده نامه په دې وجه واخسته چې چرته څوك دا ګمان اونۀ کړی،چې ابوبکر د حضرت عمر رضی اللہ عنہ طرفدار دې،او د هغۀ د مدد کولو کوشش کوی۔[2]

حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خپل استحقاق اشارة اظهار کړې وو: بیا دا چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت مستحق وو ،نو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ او حضرت ابوعبیده رضی اللہ عنہ نامې وړاندې کولو سره هغوی د خپل اهلیت اظهار هم اوکړو ،ځکه کۀ د هغوی د خلافت استحقاق نۀ وو ،نو هغوی ته بیا ددې څۀ حق وو ،چې په خلقو کښې مَنصبونه تقسیموی او خلقو ته ذمه دارې سپاری، ښکاره خبره ده،دا په دې وجه وو ،چې هغوی ته غیر اعلانیه "اولو الامری" حاصل وه،او د خلقو هم دې ته ښۀ خیال وو ،هم دغه وجه ده چې د دوی په دې معامله کښې په وړاندې کیدلو ،ټولو کارونو راغوندولو ،او مذکوره حضراتو ته په ذمه دارئ سپارلو او دې د پاره د هغوی د نومونو د وړاندې کولو په تجویز باندې چا هم اعتراض اونۀ کړو ،حال دادې یو عام سړې کۀ دا ټول کارونه اوکړی،نو یا خو به هغۀ ته د سره څۀ اهمیت ورنۀ کړې شی،او یا بیا به خلق په هغۀ باندې ګوتې اوچتې کړی،او هغه به مطعون کړی۔

لهذا دا وئیل چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره د استحقاق نه خپل ځان ورستو پاتې کړو ،او غیر مستحق ئې وړاندې کړل،په هیڅ شان نۀ صحیح کیږی،هآؤ کۀ هغوی ددې تصریح کوله،چې زۀ به خلیفه جوړیږم،نو بیا اشکال کیدې شو ،لهذا په دې تصرفاتو سره د هغه خلافت ثابتیږی۔[3]

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې په بیعت کولو کښې وړاندیوالې کول: **فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَايِعُكَ أنتَ فَأَنتَ سَيِّدُنا.....** په بعضې روایاتو کښې د "بَلْ نُبَايِعُكَ" په ځائې په "أَنْتَ سَيِّدنا....." باندې اکتفاء کړې شوې ده،امام ترمذی د إبراهیم بن سعید الجوهری عن اسماعیل بن أبی أویس نه هم په دې سند سره روایت نقل کوی،چې د هغې الفاظ دادی،"إن عمر قال لأبی بکر أنت سیدنا....." ابن حبان هم ددې تخریج کړې دې۔[4]

---

[1]) فتح الباری:۲۸.۹،وعمدة القاری:۱۲۵۸.۱۶

[2]) عمدة القاری:۱۲۵۸.۱۶

[3]) فتح الباری:۱۳۸.۹

[4]) جامع الترمذی،بابن مناقب أبی بکر،رقم:۱۳۶۵۶

قوله: فَأَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ فَبَايَعَهُ: د ابن عباس په روایت د حضرت عمر رضی الله عنه نه مروی دی:

"قال فكثر اللغط وارتفعت الأصواتُ حتى خشِينَا الاختلافَ، فقلتُ ابسط يَدَك يا أبابكر، فبسَط يدَه فبايعتُه وبايَعه المهاجرون ثمّ الأنصار".(۱)

وې فرمائیل چې شور زیات شو، او آوازونه پورته شو، تر دې پورې چې مونږ ته ویره شوه، چې چرته اختلاف شروع نه شی، نو ما اوئیل، ابوبکر! لاس راوړاندې کړه، هغوی لاس راوړاندې کړو، نو ما بیعت اوکړو او بیا مهاجرینو او بیا انصارو بیعت اوکړو.

او د موسیٰ بن عقبه د ابن شهاب نه روایت دي: "قال فقام أسيد بن حُضَير وبشير بن سعد وغيرُهما مِن الأنصار فبايَعوا أبابكر، ثمّ وثَب أهل السقيفة يبتدرون البيعة".(۲)

راوی وائی، اُسید بن حضیر او بشیر بن سعد او ددې نه علاوه نور انصار اودریدل، او هغوی ابوبکر سره بیعت اوکړو، بیا سقیفې والا پاسیدل وړاندې شو او بیعت ئې اوکړو.

د حضرت صدیق درې امتیازات: او بزار د سالم بن عبید روایت نقل کړې دي:

"فقالت الأنصار: منّا أميرٌ ومنكم أميرٌ فقال عمر- وأخذ بيَدِ أبي بكر- أسَيفَان في غِمد واحد؟ لا يصطلحان، وأخذَ بيَدِ أبي بكر فقال مَن له هذه الثلاثة؟ "إذ هما في الغار" مَن هما؟ "إذ يقول لصاحبه" مَن صاحبُه؟ "إن الله معَنا" مع مَن؟ ثم بسط يَدَه فبايَعه ثم قال: بايعوه، فبايعه الناس".(۳)

انصارو اووئیل، یو امیر به زمونږ نه وی، او یو به ستاسو نه وی، نو حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لاس نیولو سره اووئیل، آیا په یو تیکی کښې دوه توري کیدې شی؟ هیڅ کله هم نه، بیا ئې د ابوبکر لاس اونیولو، او وې فرمائیل: چې دا درې خوبئ د چا دی، "إذ هما في الغار، من هُما" هغه دواړه څوک وو، "إذ يقول لصاحبه" کښې صاحب څوک دي، "إن الله معنا" الله تعالی چا سره دي؟ بیا هغوی د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لاس نیولو سره هغوی سره بیعت اوکړو، بیا ئې اووئیل بیعت اوکړئ! نو ټولو خلقو بیعت اوکړو.

د عُمر په سعد بن عباده باندې غصه او د بعضې انصارو په هغې باندې رد عمل: "فَقَالَ قَائِلٌ قَتَلْتُم سَعْدَ بنَ عُبَادَةَ..... ددې جملې یوه معنٰی خو دا کړې شوې ده، "كِدْتُم تقتلُونه" نزدې وه چې تاسو هغه قتل کړې وې، یا دا کنایه ده د اعراض او رسوایئ نه، چې تاسو خلقو هغه د هیڅ قابل نه ګنړلو سره ګویا هغه ختم کړو، ولې ددې توجیه تردید د موسیٰ بن عقبه په هغه روایت سره کیږی، چې د هغې الفاظ دادی:

---

(۱) صحيح البخاري، باب رجم الحبلٰى، رقم: ۶۴۴۲

(۲) مسند البزار: ۱، ۴۷، مسند عمر بن الخطاب، رقم: ۱۹۳، وسنن البيهقي، باب لا يصلح إمامان، رقم: ۱۱۶۳۲۴

(۳) مسند البزار: ۱، ۴۸، مسند عمر بن الخطاب، رقم: ۱۹۳، وسنن البيهقي، باب لا يصلح إمامان، رقم: ۱۱۶۳۲۴

"فقال قائلٌ مِن الأنصار: أبقوا سعدَ بن عبادة لا تقتلوه، فقال عمر: اُقتلوه قتله الله".[1]
په انصارو کښې چا اووئیل، سعد بن عباده پریږدئ، او په هغۀ خپې مۀ ږدئ، په دې باندې حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل. قتل ئې کړې، الله تعالی دې مړ کړی.
اګرچې حضرت عمر رضی الله عنه په دې سره دا نۀ غوښتل چې هغه حقیقتاً قتل کړې شی، خو بیا هم د قتل لفظ خو هغوی استعمال کړو، انصاری دغه خبره اخستلو سره اووئیل چې تاسو د سعد د قتلولو خبره هم اوکړه، کۀ د حضرت عمر رضی الله عنه مطلب دا وو، چې هغه ورستو کړئ، لکه څنګه چې مونږ په غصه کښې وایو، "فلانکې په توپاک اُوله".
او پاتې شود د هغوی "قتله الله" وئیل نو دا جمله د خیرو بد دعائیه ده، او مطلب به دا وی، چې الله تعالی دې هغه مړ کړی، او په اولنی صورت کښې یعنی کله چې د "قتلتم" معنی دا وی، چې تاسو هغه ته توجه اونۀ کړه، نو بیا دا "جمله قتله الله" جمله خبریه ده، چې مونږ نه الله تعالی هغه مهمل او بې کاره کړې دې، او په یو روایت کښې د حضرت عمر رضی الله عنه دا الفاظ دی، "فقلتُ وأنا مُغضِبٌ قتل الله سعداً فإنه صاحب شَرٍّ وفتنةٍ".[2] یعنی زۀ په غصه کښې وؤم، نو ما دا خبره اوکړه، څکه چې سعد دا شر او فتنه راپورته کړې وه.
د "الائمة من قُریش" روایتی او درایتی حیثیت: دلته چې دا راغلی دی، چې انصارو "منا أمیر ومنکم أمیر" وئیلو سره د خپل ځان د پاره د خلافت مطالبه کړې ده، نو د هغې وجه دا وه، چې په عربو کښې عادت وو، چې د قبیلې امیر به په هغوی کښې یو سړې وی، نو چې هغوی "الأئمة من قریش" واؤریدل نو د خپل دې خیال نه ئې رجوع اوکړه، او ددې قائل شول چې خلافت او امارت به په قریشو کښې وی.
ددې روایت په حقله د بعضې حضراتو دا خیال دی، چې دا صرف د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه مروی دی، او ددې مطلب دادې چې ددې څۀ داسې حیثیت نشته، چې د خلافت په امر کښې دا قانون اوګرځولې شی، حافظ ابن حجر العسقلانی رحمه الله دا خیال رد کړې دی، او وې فرمائیل چې دا روایت تقریباً د څلویښتو صحابۀ کرامو نه منقول دی، حافظ صاحب په کتاب الأحکام کښې په دې باندې بنه په تفصیل سره خبره کړې ده، چې هلته به راشی.[3]
د خلیفه تاکل واجب یا سنت د داؤدی په شان بعضې حضراتو د دې واقعې (د رسول الله ﷺ وصال) نه په دې خبره استدلال کړې دی، چې د خلیفه تاکل سنت مؤکده دی، فرض نۀ دی. ځکه چې د رسول الله ﷺ د وصال نه ورستو یو زمانه داسې تیره شوې ده، چې د مسلمانانو څوک خلیفه نۀ وو، تر هغې چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلیفه جوړ کړې شو، بیا هم علماؤ په دې

---

[1] مصنّف ابن أبی شیبه، باب ما جاء فی خلافة أبی بکر، رقم: ۳۸۱۹۷\
[2] صحیح ابن حبان، ذکر الزجر عن الرغبة، رقم: ٤١٤\
[3] اوګورئ کتاب الاحکام، صحیح البخاری، رقم (۷۱۳۹)\

قائل(داؤدی)باندې سخت تنقید کړې دې،او فرمائیلي ئې دی،چې د خلافت قیام او د خلیفه تاکل فرض دی،او تر کومې پورې چې د رسول الله ﷺ د وصال نه ورسټو د څۀ زمانې پورې بغیر خلیفه د خلقو اوسیدل دی،نو دا به د یو خلیفه د تلو او د بل د راتلو په مینځ کښې خامخا وی،او ددې په حقله به څۀ پوښتنه نۀ کیږی،او تر کومې پورې چې د وجوب د دلیل تعلق دې،نو هغه دادې،چې د رسول الله ﷺ د وفات نه ورسټو د ټولو نه اهمه مسئله دا وه،چې د رسول الله ﷺ تدفین اوکړې شی،ولې صحابۀ کرامو دا "أهم الواجبات" پریښودو سره ذ ټولو نه وړاندې د خلیفه د ټاکلو مسئله حل کول شروع کړل،او تر کومې پورې چې هغوی خلیفه نۀ وو ټاکلې،د هغوی علیهم السلام کفن دفن اړخ ته هغوی متوجه نۀ وو،حال دا وو،چې په طبعي توګه باندې د رسول الله ﷺ د وفات د دې غمناکې پیښې په موقع باندې د هغوی ﷺ غمژن صحابۀ کرام د خلافت په معامله کښې داسې انختل په هیڅ شان هم ممکن نۀ وو،ولې دا کۀ هغه یو دینی کار وی،او د رسول الله ﷺ د تجهیز او تکفین نه هم زیات اهم وی۔(۱)

رسول الله ﷺ یقیناً خلیفه نۀ وو ټاکلې:بیا د انصارو ددې قول "منا أمیر ومنکم أمیر" نه په دې خبره باندې استدلال کړې شوې دې،چې رسول الله ﷺ څوک خلیفه نۀ دې ټاکلې،کنې نو بیا ددې څۀ امکان هم نۀ وو،چې بل چا به هم د امارت خواهش کولو،حافظ وائی:"ووجهُ الدَّلالة أنَّهم قالوا ذلك فی مقام مَن لا یخافُ شیئًا ولا یتَّقیه" یعنی د انصارو ددې قول په عدم تعیین د خلیفه باندې د دلالت وجه داده،چې انصارو ددې بغیر د ویرې د تردید نه اظهار اوکړو۔(۲)

علامه قرطبی هم فرمائی: "لو کان عند أحدٍ من المهاجرینَ والأنصار نصٌّ من النبی ﷺ علی تعیینِ أحدٍ بعینه للخلافةِ لَما اختلفوا فی ذلك ولا تفاوَضُوا"۔(۳)

کۀ په انصارو او مهاجرینو کښې یو کَس سره هم داسې نص وې،چې د یو متعین سړی د "تعین للخلافة" د پاره د دلیل په توګه وړاندې کولې شو،نو صحابۀ کرامو به هیڅ کله هم اختلاف نۀ وو کړې،او نۀ به ئې د هغې په حقله څۀ ګفت او شنید کړې وې۔

د مسلم د یو روایت نه هم دغه خبره ثابتیږی.دا د ابن أبی ملیکۀ عبارت دې،هغه د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت کولو سره فرمائی:

"سمعتُ عائشةَ وسُئلت: مَن کان رسول الله مستخلفاً لو استخلفَه؟ قالت: أبوبکر، فقیل لَها: ثمَّ من بعد أبی بکر؟ قالت: عمرُ، ثمَّ قیل لَها: مَن بعد عمر؟ قالت. أبوعبیدةَ بن الجرّاح ثمَّ انتهت إلی هذا"۔(۴)

---

۱) فتح الباری:۹.۱۳۹

۲) فتح الباری:۹.۳۹.۱۸۳

۳) صحیح ابن حبان،ذکر الزجر عن الرغبة،رقم:٤١٤.المفهم لما أشکل من تلخیص،کتاب مسلم،من باب فضائل أبی بکر:۲۰.۱۵

۴) صحیح مسلم،کتاب الفضائل،باب فضائل أبی بکر،رقم(۲۳۸۵)۱

وې فرمائيل ما د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا نه اوريدلې دی،او د هغې نه پوښتنه اوکړې شوه،کۀ رسول الله ﷺ څوک خليفه جوړولې نو څوک به ئې جوړولو ؟ نو هغې رضی اللہ عنہا اوفرمائيل،ابوبکر به ئې جوړولو ،بيا اووئيلې شو د هغوی نه ورستو؟ حضرت عائشې رضی اللہ عنہا اوفرمائيل،حضرت عمر رضی اللہ عنہ به ئې جوړولو ،بيا پوښتنه اوکړې شوه،د هغوی نه ورستو؟ عائشې رضی اللہ عنہا اوفرمائيل، ابوعبيدة بن الجراح رضی اللہ عنہ به ئې جوړولو ،ددې نه ورستو هغه چپ شوه۔

ددې نه هم معلومیږی،چې رسول الله ﷺ څوک خليفه نۀ وو ټاکلې۔

همدغه شان پخپله حضرت عمر رضی اللہ عنہ هم ددې تصريح کړې ده،هم د مسلم روايت دې،چې په هغې کښې ذکر کړې شوې دی،کله چې په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې ګذار اوکړې شو،نو هغوی ته حضرات صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم اوفرمائيل،تاسو د خپل ځان نه ورستو خليفه اوټاکئ!

حضرت عمر رضی اللہ عنہ اوفرمائيل،"أتحمّلُ أمرَكم حيًّا و ميّتًا؟"آيا زۀ به ستاسو معامله په ژوند کښې هم اوچتوم،او د مرګ نه ورستو به ئې هم اوچتوم؟

ځکه حضرت عمر رضی اللہ عنہ چې څوک خليفه جوړ کړې وې،نو د هغۀ د ښو او بدو ذمه دار به هم په يوې طريقې سره حضرت عمر رضی اللہ عنہ وو!

بيا ئې اوفرمائيل: "لَوَدِدتُ أنّ حظّي منها الكفافُ،لا علَيّ ولا لِيَ،فإن أستخلِف فقد استخلَف من هو خير مِنّي،(يعني أبابكر)وإن أترُكْكم فقد تركَكم من هو خيرٌ مِنّي، رسول الله ﷺ.فعرفتُ أنه حِين ذكر رسول الله ﷺ،غيرُ مستخلِفٍ".(۱)

زما خوښه دادده،چې زما معامله د کفاف والا پاتې شی،چې نۀ ما ته فائده وی او نۀ نقصان (سر په سر خلاص شم)نو کۀ زه خليفه ټاکم(چې د هغۀ ما نه مطالبه کولې شی)نو زما نه غوره(حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ)داسې کړې دی،نو زما د پاره هم دا جائز دی،او کۀ زه تاسو دغسې پريږدم،نو زما نه غوره يعنی رسول الله ﷺ هم تاسو بغير خليفه پريښودی ئې،راوی حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ وائی،زۀ پوهه شوم،چې کله هغوی رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ ذکر اوکړو،نو هغوی خليفه ټاکل نۀ غوښتل۔

ځکه چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او د رسول الله ﷺ په عملونو کښې هم د رسول الله ﷺ عمل زيات د اتباع قابل او زيات خوښ دې،په هر حال کښې دا خو معلوم شو،چې رسول الله ﷺ په صراحت سره خليفه نۀ وو ټاکلې۔

قرطبی دا د جمهور اهل سنت والجماعت قول ګرځولې دې،چې رسول الله ﷺ خليفه نۀ وو ټاکلې،(۲)

او کومو حضراتو چې دا وئيلې دی،چې د ابوبکر په خلافت باندې نص وارد شوې دې،نو د هغوی مُستنَد او مُستدَل په دې باب کښې هغه اصول او قرائن دی،چې د هغوی رضی اللہ عنہ د "أحق

---

۱) صحيح مسلم،كتاب الإمارة،باب الإستخلاف وتركه،رقم(۱۸۲۲)\

۲) المفهم لما أشكل من تلخيص،كتاب مسلم:۵،۲،فضائل أبي بكر.....

بالإمامت" او د "أولیٰ بالخلافت" کیدو تقاضا کوی۔[1]

د حضرت سعد بن عباده د پاره د بد دعا وجه: حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت سعد بن عباده د پاره د "قتله الله" د بد دعائیه جملې استعمالولو وجه څه وه، حال دادې، چې د انصارو صحابهٔ کرامو لوئې فضائل او مناقب دی، او د رسول الله ﷺ او د اسلام چې هغوی رضی الله عنهم څومره خدمت او نصرت کړې دې، هغه یو روښانه حقیقت دې، او حضرت سعد هم په دغه انصارو کښې د یوې معتبرې قبیلې خزرج سردار دې، بیا هغهٔ سره په دومره سختئ سره د راتلو وجه څه وه، ددې جواب دادې، اصل کښې حضرت سعد د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت د منلو نه انکار کړې وو، او شام ته تلو سره ئې په حوران نومې ځائې کښې اقامت اختیار کړې وو، او هم هلته ۱۵ هجرې کښې د هغهٔ انتقال شوې وو، د هغهٔ د حضرات شیخینو د خلافت نه دا انکار د مسلمانانو د جماعت مخالفت او "تخلف عن البیعة" اوګرځولې شو، او د اسلام په نظر کښې دا ډیر د مواخذې وړ افعال دی، او د داسې خلقو مخالفت کول دیانةً د خلیفة المسلمین فرض جوړیږی، نو حضرت عمر رضی الله عنه د یو دینی امر په بنیاد باندې د هغهٔ د پاره په سختو الفاظو او سخت ډول مظاهره اوکړه، ددې مطلب دا نهٔ دې، چې د هغهٔ د اهمیت او فضیلت نه انکار اوکړې شو، یا هغهٔ سره د حضرت عمر رضی الله عنه ذاتی خفګان وو، بلکه خلافت مسلمین چې په دغه وخت کښې یوه اهمه حساسه مسئله وه، هغهٔ په دې کښې سره د خپل لوئې شان نه د اختلاف سبب جوړیدو۔

اوس دا خبره چې حضرت سعد د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت نه ولې انکار کړې وو، نو د هغې وجه دا وه، چې حضرت سعد دا غوښتل چې په خلافت کښې د انصارو هم برخه کیدل پکار دی، خو هغهٔ په غلطه وو، په دې وجه په هغهٔ نکیر اوکړې شو، او دا د هغهٔ اجتهادی خیال وو، په دې وجه هغه معذور ګنړل پکار دی، او په هغهٔ باندې څهٔ نورې خبرې نهٔ دی ورغورځول پکار، ځکه چې هغهٔ مخطئ دې خو متاوّل۔[2]

د حضرت سعد وفات: د حضرت سعد د وفات واقعه هم عجیبه ده، وائی چې هغه په غُسل خانه کښې مړ اوموندلې شو، او د هغهٔ بدن شین شوې وو، د هغه د وفات هیڅ وجه نهٔ معلومیده، په دې دوران کښې په غیبی آواز سره دا شعر واوریدې شو:

قد قتلنا سیدَ الخزرج سعدَ بنَ عُبادة

ورمیناه بسهمَیْن فلم نُخطِ فؤادَه

مونږ د خزرج قبیلې سردار سعد بن عباده قتل کړو، مونږ په دوؤ غشو اویشتلو نو د هغهٔ زړهٔ زمونږ نه خطاء نهٔ شو۔

---

[1] فتح الباری: ۱۳۹.۹

[2] عمدة القاری: ۲۸۵.۱۶، وفتح الباری: ۳۹.۹، وتحفة الألمعی: ۱۱۹۷.٤

وائي چې دا د جناتو آواز وو۔[۱]
نو د هغهٔ متعلق یو قول خو دادي، چې هغه قتل کړي شو، دویم دا چې په سُوری کښې د وړو بولو کولو په وجه جناتو هغه مړ کړو، او دریم قضائي حاجت ته د تلو په وخت کښې هغه د استعاذې دعا نهٔ وه لوستلې، نو جناتو په هغهٔ حمله اوکړه، او هغه ئې قتل کړو، ځکه چې قضائي حاجت ته د تلو په وخت کښې کهٔ "اللهم إني أعوذبك من الخبث والخبائث" دعا اولوستې شی، نو الله تعالیٰ د شیاطینو نه ددې سړی حفاظت کوی، او کهٔ اونهٔ لوستې شی، نو هغهٔ ته شیطان او جنّات نقصان رسولې شی۔
د حضرت سعد نه بغیر د اجماع منعقد کیدل: پاتې شو دا سوال چې د حضرت سعد په شان د جلیل القدر صحابی د مخالفت نه ورستو به دا وئیل څنګه صحیح شی، چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خلافت اجماعی او متفق علیه وو؟
نو ددې جواب دادي، چې د اجماع د پاره دا ضروری ده، چې اهل حل و عقد په هغې باندې متفق وی، او حضرت سعد بې شکه د جلیل القدر او اکابرو صحابهٔ کرامو نه وو، ولې دا خو ضروری نهٔ ده، چې هغه د اهل حل و عقد نه هم وی۔
دویمه خبره داده، حضرت سعد ته د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت د مستحق کیدو نه انکار نهٔ وو، هغهٔ په اول کښې د انکار کولو په وجه، صرف د شرم د وجهې نه یا د څهٔ بلې وجهې نه په خاموشئ سره د هغه ځائي نه تلې وو۔

وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَالِمٍ عَنِ الزُّبَيْدِيِّ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ أَخْبَرَنِي الْقَاسِمُ أَنَّ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ شَخَصَ بَصَرُ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - ثُمَّ قَالَ «فِي الرَّفِيقِ الأَعْلَى». ثَلاَثًا، وَقَصَّ الْحَدِيثَ، قَالَتْ فَمَا كَانَتْ مِنْ خُطْبَتِهِمَا مِنْ خُطْبَةٍ إِلاَّ نَفَعَ اللَّهُ بِهَا، لَقَدْ خَوَّفَ عُمَرُ النَّاسَ وَإِنَّ فِيهِمْ لَنِفَاقًا، فَرَدَّهُمُ اللَّهُ بِذَلِكَ. ثُمَّ لَقَدْ بَصَّرَ أَبُو بَكْرٍ النَّاسَ الْهُدَى وَعَرَّفَهُمُ الْحَقَّ الَّذِي عَلَيْهِمْ وَخَرَجُوا بِهِ يَتْلُونَ (وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ (إِلَى) الشَّاكِرِينَ). ار: ۱۱۸۴]

رجال الحدیث

عَبدُالله بنُ سَالم: دا عبدالله بن سالم الحمصی الأشعری دي، ددهٔ احوال تیر شوی دی۔[۲]
الزُّبَيْدِيّ: دا قاضی ابوالهذیل محمد بن الولید بن عامر الزبیدی الحمصی دي۔ ددهٔ احوال په "کتاب العلم، باب متی یصح سماعُ الصغیر" کښې تیر شوی دی۔[۳]

---

[۱] إرشاد الساری: ۷، ۱۱۶۱
[۲] اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب الحرث والمزارعة، باب ما یحذر من عواقب الاشتغال بآلة الزرع .....، رقم (۲۳۲۱)
[۳] اوګورئ: کشف الباری: ۳، ۱۳۹۱

عَبدُ الرَّحمٰنِ بنُ القَاسِمِ: دا عبد الرحمن بن القاسم بن محمد بن أبی بکر دی، ددهٔ احوال تیر شوی دی۔[۱]

تعلیق: امام بخاری دلته دا روایت تعلیقًا ذکر کړی دی، او طبرانی په "مسند الشامیین" کښې دا موصولاً ذکر کړی دی، چې د "حدثنا عمرو بن الحارث عن عبدان بن سالم" په طریقې سره مروی دی۔[۲]

قوله: شَخَصَ بَصَرُ النَّبیِّ: "شُخوص" په لغت کښې وئیلې کیږی، بانړهٔ اوچتولو سره په یو څیز باندې نظر اودرولو، او په ویرې او بې آرامې سره سترګې کلاؤ ساتلو ته۔

د الرَّفِیقِ الاعلٰی نه څهٔ مراد دی؟ علامه عینی رحمه الله فرمائی، صاحب "التوضیح" د رفیق أعلی معنٰی کړی ده، "په جنت سره" ۔ هغه فرمائی، زما له مخې د رفیق أعلی نه مراد دی د انبیاؤ علیهم السلام جماعت، چې په اعلی علیین کښې اوسیږی، رَفِیق د فعیل په وزن باندې دی، جماعت ته وئیلې کیږی، لکه د خَلِیط او صَدِیق په مفرد باندې هم اَطلاق کیږی، او په جمع باندې هم، هم ددې نه د الله تعالٰی ارشاد (وحَسُنَ أولئك رفیقًا) هم دی۔[۳]

بیا کهٔ دا اووئیلې شی، چې د "فی الرفیق الأعلٰی" متعلق څهٔ دی؟ نو جواب دادی، چې د أدخلنی په شان مقدرات دی د پاره راؤباسلې شی۔ او دا ارشاد هغوی ﷺ په هغه وخت کښې فرمائیلې وو، کله چې هغوی ﷺ ته د مرګ او ژوند په مینځ کښې اختیار ورکړې شوې وو، او هغوی ﷺ مرګ غوره کړو۔[۴]

قوله: وَقَصَّ الحَدِیثَ: یعنی قاسم بن محمد بن أبی بکر رضی الله عنه ددې نه ورسټو هغه ټول حدیث بیان کړو، د حدیث نه مراد د حضرت عمر رضی الله عنه هغه خبره وه، چې هغوی رضی الله عنه په دغه موقعه باندې د حضور ﷺ متعلق کړې وه، "إنه لم یمُت ولن یمُوت حتی یقطَعَ أیدِیَ رجالٍ المنافقین وأرجلَهم" او بیا حضرت ابوبکر رضی الله عنه، د هغهٔ خبره رد کولو سره فرمائیلې وو، چې رسول الله ﷺ وفات شوې دی، او په دې باندې ئې د قرآن کریم د آیتونو نه استدلال اوکړو۔[۵]

د سیدنا عمر د انکار او د سیدنا ابوبکر د اقرار حکمت: فَمَا کَانَت مِنْ خُطبَتِهِمَا مِنْ خُطبَةٍ إلاَّ نَفَعَ اللهُ بِهَا..... مِن خُطبَتِهِمَا کښې مِن بیانیه یا تبعیضیه دی، او مِن خُطبَةٍ کښې زائده دی، یعنی د

---

[۱] اوګورئ: کتاب الغسل، باب هل یُدخل الجنبُ یده فی الإناء قبل أن یغسلها إذا لم یکن علی یده قذر غیر الجنابة، رقم (۲۶۳)۱

[۲] اوګورئ: تعلیق التعلیق: ۵۸،۴، وعمدة القاری: ۲۵۸،۱۷، وفتح الباری: ۱۴۰،۹

[۳] سورة النساء، آیت: ۶۹۱

[۴] عمدة القاری: ۱۲۵۹،۲۵۸،۱۹

[۵] عمدة القاری: ۲۵۹،۱۶، وفتح الباری: ۱۴۰،۹

دي دواړو حضراتو (شیخینو) خطبې یا په دې کښې څهٔ خطبې داسې وې، چې الله تعالی د هغې په ذریعه ډیره فائده ورکړه، هغه څنګه ؟ حضرت عائشې رضی اللہ عنہا پخپله د هغې تشریح فرمائیلې ده۔

وې فرمائیل، "لقد خوّف عمر....." حضرت عمر رضی اللہ عنہ خلق اوویرول؟ ځکه چې په بعضې خلقو کښې نفاق وو۔ حضرت عمر رضی اللہ عنہ په هغوی باندې تعریض کولو سره اوفرمائیل، حضور علیہ السلام به اوس پاسیدو سره د هغه منافقینو لاس خپې کټ کړی، او همدغه شان منافقینو ته ئې صفا صفا اووئیل چې دوی به نهٔ بچ کیږی، بیا حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د واقعې د حقیقت اعتراف اوکړو۔ او د رسول الله ﷺ د وفات اعتراف ئې اوکړو، مسلمانانو ته ئې اطمینان ورکړو، او د اسلام د دښمنانو ئې په سختئ سره د ختمولو اعلان اوکړو۔

د اصیلی په روایت کښې د "لقد خوّف أبوبکر الناس" الفاظ راغلی دی، ولې دا صحیح نهٔ دی۔

"وَاِنَّ فیهم لنفاقًا....." **کښې د تصحیف قول:** همدغه شان یو بل روایت دې، په هغې کښې د "وإن فیهم لنفاقاً" په ځائې د "وإنَّ فیهم لتتقی" الفاظ راغلی دی،[1] ددې په حقله یوه رائې خو داده، چې حمیدی "وإن فیهم لنفاقاً" کښې تصحیف ګنړلې دې، او په "وإن فیهم لتتقی" سره ئې ددې اصلاح کړې ده، او د هغهٔ ددې رائې وجه داده، چې هغه په دې پوهیدو چې په دې موجوده خلقو کښې د نفاق کیدل ناممکن دی، لهذا دوی د پاره نفاق ثابتول ډیره لویه غلطی ده۔

قاضی عیاض فرمائی: "لا أدری هو اصلاح منه أو روایة؟ وعلی الأول فلا استعظام، فقد ظهر فی أهل الرِّدة ولا سیما عند الحادث العظیم الذی أذهل عقول الأکابر، فکیف بضعفاء الإیمان، فالصواب ما فی النسخ"۔[2]

معلومه نهٔ ده، چې دا د حمیدی صاحب د اړخ نه اصلاح ده او کهٔ مستقل روایت دې؟ خو کهٔ دا اصلاح وی او د هغهٔ مقصد دا وی چې په دې ډله کښې څوک منافق ګرځول ګستاخی ده، نو دا صحیح نهٔ دی، ځکه چې کوم خلق مرتد شوی وو، هغوی منافقان خو وو، او دې لوئې پیښې خو لوی لوی أصحاب خوزولې وو، نو کمزورې ایمان والا په څهٔ شمیر کښې دی، په دوی کښې څوک منافق ګرځول لرې نهٔ دی ګنړل پکار، لهذا صحیح عبارت هغه دې کوم چې په عامو نسخو کښې دې، یعنی "وإن فیهم لنفاقًا" او په دې کښې هیڅ تصحیف نشته، لکه څنګه چې د حمیدی صاحب خیال دې۔

اسماعیلی هم د امام بخاری په طریقې سره ددې تخریج کړې دې، او "إن فیهم لنفاقًا" ئې نقل کړې دې۔[3]

---

[1] جامع الأصول فی أحادیث الرسول: ۸۵،۴، هکذا فی فتح الباری.....وأما الجمع بین الصحیحین للحمیدی فما وجدنا فیه إلا بلفظ "وإن فیهم لنفاقاً": ۱۴۸،۴، رقم: ۱۳۳۳۸

[2] فتح الباری: ۳۳،۷، وعمدة القاری: رقم: ۱۷۶۶۳

[3] فتح الباری: ۴۰،۹، وعمدة القاری: ۱۲۵۹،۱۶

۳۴۶۸:(۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا جَامِعُ بْنُ أَبِي رَاشِدٍ حَدَّثَنَا أَبُو يَعْلَى عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ قَالَ قُلْتُ لأَبِي أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ أَبُو بَكْرٍ. قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ عُمَرُ. وَخَشِيتُ أَنْ يَقُولَ عُثْمَانُ قُلْتُ ثُمَّ أَنْتَ قَالَ مَا أَنَا إِلاَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ كَثِيرٍ:دا محمد بن كثير عبدى بصرى دي،ددۀ احوال د"كتاب العلم،باب الغضب فى الموعظة والتعليم إذا رأى مايكره"لاندې تير شوى دى۔(۲)

سُفيَانُ:دا سفيان بن سعيد بن مسروق ثورى كوفى دي،ددۀ احوال د"كتاب الإيمان،باب علامة المنافق"لاندې تير شوى دى۔(۳)

جَامِعُ بنُ ابِي رَاشِدٍ:دا جامع بن أبى راشد الكاملى الكوفى الصيرفى دي،ددۀ احوال تير شوى دى۔(۴)

ابُو يَعلى:دا ابو يعلى منذر بن يعلى الكوفى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب مَن استحيا فأمرَ غيرَه بالسؤال لاندې تير شوى دى۔(۵)

مُحَمَّدُ بنُ الحَنَفِيَّةِ:دا محمد بن على بن أبى طالب المعروف به"ابن الحنفية"دي،ددۀ احوال د"كتاب العلم،باب من استحيا فأمر غيره بالسؤال لاندې تير شوى دى۔(۶)

"حنفية"ددۀ د مور لقب دي،چې د بنو حنيفه سره ئې تعلق لرلو،ددې نامه خَوله بنت جعفر ده،د حضرت على رضي الله عنه وينځه(او اُم ولده)وه۔(۷)

ترجمة الباب سره مطابقت:په حديث او ترجمة الباب كښې مطابقت واضح دي،ځكه چې په دې كښې د ابوبكر د رسول الله ﷺ نه ورستو د ټولو خلقو نه د افضليت ذكر دي۔

په صحابهٔ كرامو كښې د افضليت مسئله:دا حديث اګر چې د حضرت ابوبكر رضي الله عنه د افضليت د

---

(۱) الحديث سبق تخريجه فى كتاب الجنائز،باب الدخول على الميت بعد الموت إذا أدرج فى أكفانه، رقم:۱۲٤۲\

(۲) اوګورئ:كشف البارى:۳،۵۳۶\

(۳) اوګورئ:كشف البارى:۲،۲۷۸\

(۴) صحيح البخارى،كتاب الصوم،باب الصوم كفارة،رقم(۱۸۹۵)\

(۵) اوګورئ:كشف البارى:٤،٦٤٧\

(۶) اوګورئ:كشف البارى:٤،٦٣٨\

(۷) كشف البارى:٤،۱۳۸،وفتح البارى:۹،۱٤۰\

اثبات د پاره راوړلی شوي دي، او دا په دې کښې په صریح الفاظو سره موجود دي،بیا هم روافض ددې نه انکار کوی،د هغوی په خیال باندې د رسول الله ﷺ نه ورسټو د ټولو نه افضل حضرت علی رضی الله عنه دي،د اهل سنت والجماعت او د اهل تشیع په مینځ کښې دا مشهوره اختلافی مسئله ده،دویمه مسئله ددې په ضمن کښې دا مذکور ده،چې په حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه کښې افضل څوك وو؟په دې کښې د روافضو مذهب خو ظاهر دي،چې هم حضرت علی رضی الله عنه افضل دي،ځکه هغه چې د دوی په خیال باندې د ابوبکر نه افضل دي،نو د حضرت عثمان رضی الله عنه نه به په طریقهٔ اولی افضل وی،هنه ! په دې کښې بعضې اهل سنت هم توقف کوی،او یا د حضرت علی رضی الله عنه د تفضیل قائل دی،اګر چې جمهور اهل سنت د حضرت عثمان رضی الله عنه د تفضیل قائل دی۔

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضلیت او بلا فصل خلافت: زمونږ (د اهل سنت والجماعت)دا عقیده ده،چې حضور ﷺ خاتم النبیین جوړولو سره الله تعالی د قیامته پورې دنیا د پاره مبعوث اوفرمائیلو،او د خپل هدایت د آخری کتاب د پاره د هغوی ﷺ د ملګرتیا او ځائې نیولو د پاره ئې د انصارو او مهاجرینو صحابهٔ کرامو په صورت کښې نفوس قدسیه مختار کړل،د انبیاء کرام علیهم السلام په ملګرو کښې د دوی نه غوره تر ننه پورې نهٔ د آسمان سترګې لیدلی دی،او نهٔ په آئنده کښې امکان شته،دې پاکو هستو د دین الهی او د هغې د خوړولو د ذمه دارئ په احسن طریقې سره تحمل اوکړو،او په درجې د کمال سره ددې نه فارغ الذمه شو۔

د صحابهٔ کرامو نه ورسټو کهٔ یو سړې د هغوی نه زیات دین سره مخلص او په دین باندې عمل کونکې وی،د اهل سنت والجماعت له مخې داسې ممکن هم نهٔ دی،دا د حکمت الهیه او د بعثت انبیاء د خدائی نظام سراسر مخالف دی،د قرآن او حدیث د بې شمیره تصریحاتو، اشاراتو،اخبارو او آثارو یو بې بها ذخیره،د عقل او پوهې په زرګونو قرینې او ناقابل تردید تاریخی شواهد ددې تائید کوی،او د غیر مسلم ارباب تحقیق پورې ددې نبکاره اعتراف کوی،د هغې ټولو لبَ لُباب(یعنی خلاصه)یکې از فیض یافتګان نبوت د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په دې الفاظو کښې مذکور دي، **"کانوا أفضل هذه الأمة،أبرّها قُلوبًا،وأعمقها علماً،وأقلها تکلفًا،اختارَهم الله لصحبة نبیّه وإقامة دینه"**.(۱)

او کهٔ اوکتلې شی،نو هم د دغه ځائې نه د خوارجو،روافضو او اهل سنتو نهٔ ختمیدونکی اختلافات شروع کیږی،چې خوارج او روافض،د صحابهٔ کرامو ځانګړې فضیلت،د هغوی صدق او دیانت،د کفر او نفاق نه د هغوی براءت او د اسلام او نبیَ اسلام د پاره د الله تعالی د اړخ نه د مختار کولو مسلمه کلیات نهٔ منی،او د اهل سنتو له مخې دا مسلمات او ضروریات د دین او د اسلامی عقائدو برخه ده۔

د شیعه ګانو د ټولو باطلو عقائدو او فکرونو بنیاد د "صحابهٔ کرامو دښمنی" ده: بیا کهٔ د روافضو او خوارجو د اړخ نه د صحابهٔ کرامو د تکفیر او د هغوی واجب القتل ګرځولو نظریه وی یا

---

(۱) وفی روایة بـ"خیر هذه الأمة" کما فی شرح السنة:۱،۲۱٤،رقم:۱۱۰۳

په هغوی باندې قتلونکې حملې یا د هغوی په عزتونو باندې د حملو خبره وی،په خلفاء ثلاثه باندې لعن طعن وی،یا د حضرت علی رضی اللہ عنہ او حضرت معاویه رضی اللہ عنہ په مینځ کښې.او د حضرت علی رضی اللہ عنہ او حضرت عائشې رضی اللہ عنہا په مینځ کښې،او یا د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا سره د اختلافاتو خبرې وی،د قرآن د تحریف عقیده وی،یا د ولاء او براء نظریه وی،د غدیر خم قیصه وی یا د فدك واقعه،نظریه د امامت وی یا د منتظر مهدی خیالی قیصه،د حدیث قرطاس معمّی وی یا یوه بله شیعی نظریه،ددې ټولو بنیاد د صحابۀ کرامو په دښمنئ باندې دې،د شیعه ګانو خیال دې،چې د رسول الله ﷺ د بلا فصل خلافت او د مسلمانانو د "ولی الأمری....."اولنې مستحق حضرت علی رضی اللہ عنہ وو،اوس پاتې شوه دا واقعه نو دا د هغې خلاف ده،ځکه چې مسلمانانو خپل امیر حضرت سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ جوړ کړو،او هم هغه خلیفه بلا فصل جوړ شو،او نۀ صرف دا چې خلیفه جوړ شو،بلکه د نورو ټولو صحابۀ کرامو په شان ستاسو مزعومه امام عالی مقام حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د هغه په لاس باندې بیعت اوکړو،ددې مطلب خو دغه شو چې حضرت علی رضی اللہ عنہ پخپله هم حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلیفه جوړیدو اهل ګنړلو.او صرف ګنړلو ئې نه،بلکه هغه ئې عملاً خلیفه هم جوړ کړو.

د حضرت علی رضی اللہ عنہ د ابوبکر په لاس باندې د بیعت کولو شیعی تاویلات: شیعه حضرات په دې حوالې سره مختلفې خبرې کوی،مثلاً:

①:- حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې بیعت نۀ دې کړې.

②:- بیعت خو ئې کړې دې خو شپږ میاشتې ورسته،په هغه وخت کښې کله چې د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا وفات اوشو.

③:- هغۀ بیعت خو اوکړو،ولې دا بیعت د هغۀ په رضا باندې نۀ وو،بلکه په جبر او غصه باندې په هغۀ دا بیعت اوکړې شو،او هغۀ د ځان خلاصولو د پاره سرسری بیعت اوکړو.

④:-د تقیې په توګه ئې بیعت کړې وو.

ولې دا ټولې خبرې نۀ خو د تاریخ سره څۀ سمون خوری،نۀ د عقل او پوهې سره ددې څۀ تعلق شته.او نۀ د حضرت علی رضی اللہ عنہ د طبعیت او شخصیت په حوالې سره ددې څۀ ګنجائش شته.

د حدیث او تاریخ په کتابونو کښې "د حضرت علی رضی اللہ عنہ د بیعت" تصریحات: د احادیثو او تاریخ د بې شمیر تصریحاتو نه دا ثابتیږی،چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت بلا فصل مستحق وو،او هم هغه جوړ کړې شو.او د نورو حضراتو په شان حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د هغوی په لاس باندې بیعت اوکړو.

حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ په خپل شهرۀ آفاق کتاب "البدایة والنهایة" کښې لیکی:

"وقد اتفق الصحابة رضی اللہ عنہم علی بیعة الصّدیق فی ذلك الوقت حتی علی بن أبی طالب والزبیر، والدلیل علی ذلك ما رواه البیهقی حیث قال: أنبانا أبو الحسین علی بن محمد بن علی الحافظ الأسفرایینی، ثنا أبو علی الحسین بن علی الحافظ، ثنا أبوبکر بن خزیمة وإبراهیم بن أبی طالب قالا: حدثنا بندار بن یسار، ثنا أبو هشام المخزومی، ثنا

وهيب، ثنا داؤد بن أبي هند، ثنا أبونضرة عن أبي سعيد الخدري قال: قبض رسول الله ﷺ واجتمع الناس في دار سعد بن عبادة، وفيهم أبوبكر وعمر قال: فقام خطيب الأنصار فقال: أتعلمون أنا أنصارُ رسول الله ﷺ فنحن أنصار خليفتِه كما كنا أنصارَه، قال: فقام عمر بن الخطاب فقال: صدق قائلُكم أما لو قلتم غيرَ هذا لم نبايعكم فأخذَ بيد أبي بكر وقال: هذا صاحبُكم فبايعوه، فبايَعه عمر، وبايَعه المهاجرون والأنصار، وقال: فصَعد أبوبكر المنبَر فنظرَ في وجوه القوم فلم يَرَ الزبير، قال: فدعا الزبير فجاء قال: قلت: ابن عمة رسول الله ﷺ أردتَ أن تشق عصا المسلمين قال: لا تثريب يا خليفة رسول الله رضي الله عنه فقام فبايعه، ثم نظر في وجوه القوم فلم ير عليًا، فدعا بعليِّ بن أبي طالب قال: قلت: ابن عمّ رسول الله ﷺ وختنُه على ابنته أردتَ أن تشق عصا المسلمين، قال: لا تثريب يا خليفةَ رسول الله ﷺ فبايعَه.....، هذا أو معناه".(۱)

يعنی ابو سعيد خدری رضي الله عنه وائی، د رسول الله ﷺ وفات اوشو او خلق د سعد بن عباده په کور کښې جمع شو، او په هغوی کښې حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هم وو، نو د انصارو خطيب اودريدو او وې وئيل آيا تاسو ته پته ده، چې مونږه څنګه د رسول الله ﷺ انصار وو، نو اوس به د خليفة الرسول هم هغه شان انصار يو، حضرت عمر رضي الله عنه اودريدو او وې وئيل، ستاسو ويونکې صحيح خبره اوکړه، او کۀ تاسو څۀ بله خبره کوله نو مونږ تاسو سره بيعت نۀ کولو، او بيا ئې د ابوبکر لاس نيولو سره هغوی بوتلل، او وې وئيل دا ستاسو خليفه دې، دۀ سره بيعت اوکړئ، بيا حضرت عمر رضي الله عنه او مهاجرينو او انصارو بيعت اوکړو، ابوبکر په منبر کيناستو د قوم لويو خلقو ته ئې اوکتل نو زبير ئې په نظر رانغلو، هغه ئې راؤغوښتلو او وې وئيل د رسول الله ﷺ د ترور خوئې ئې او د مسلمانانو وحدت ته نقصان رسول غواړي۔

همدغه شان معامله بيا د حضرت علی رضي الله عنه هم اوشوه..... حافظ فرمائی، تولو صحابۀ کرامو په دغه وخت کښې د حضرت صديق په خلافت اتفاق اوکړو، تر دې پورې چې حضرت علی رضي الله عنه او حضرت زبير هم، د بيهقی په روايت کښې د رسول الله ﷺ د وصال چې کومه قيصه تيره شوې ده: د هغې دلته ذکر دې، او ددې په کښې زياتوالې دې چې:

"د بيعت نه ورستو ابوبکر چې منبر ته اوختلو، نو وې کتل چې حضرت زبير نشته، هغوی رضي الله عنه هغه راؤغوښتلو، او وې وئيل چې تۀ د رسول الله د ترور خوئې ئې، آيا تۀ د مسلمانانو د اجتماعيت همسايو والې، ماتول غواړې؟ هغه اووئيل، پيغور مۀ راکوه اې خليفۀ رسول! او بيا پاسيدو او بيعت ئې اوکړو، بيا حضرت صديق اوکتل نو حضرت علی رضي الله عنه نۀ وو، هغه ئې راؤغوښتلو او وې وئيل، د رسول الله ﷺ زوم او د ترۀ خوئې ئې او تۀ د مسلمانانو همسايه مسلمانانو يو والې، ماتول غواړې؟ هغه هم اووئيل، اې خليفۀ رسول! شرموه مې مۀ او پاسيدو او بيعت ئې اوکړو"۔

---

(۱) البداية والنهاية: ۶/۲۹۹

ددې روایت د اهمیت د پیژندلو د پاره د بیهقی او د ابن کثیر رحمہما اللہ دا عبارت اوګورئ:

"قال أبو علی الحافظ النیسابوری سمعتُ محمدَ بن إسحاق بن خزیمة یقول: جاءنی مسلِم بن الحجاج القشیری فسألنی عن هذا الحدیثِ..... فکتبتُه فی ورقة وقرأتُ علیه، فقال هذا حدیث یساوی بدنة، فقلتُ بل هذا یساوی بدرَة".(۱)

حافظ ابو علی النیساپوری وائی، ما د محمد بن اسحاق بن خزیمه نه واوریدل، هغهٔ فرمائیل: ما ته مسلم بن الحجاج القشیری (صاحب د صحیح مسلم) راغې او ما نه ئې ددې حدیث په حقله پوښتنه اوکړه، ما هغهٔ د پاره په کاغذ اولیکلو او بیا مې هغهٔ ته واوړولو، هغهٔ اووئیل دا حدیث خو (ډیر قیمتی څیز دې دا) د یوئې "بدنې" یعنی اوښې برابر به وی، ما ورته اووئیل، بلکه "بَدری" یعنی د زرو د تهیلئ برابر (یعنی د هغې نه د ډیر قیمت د کومې چې تهٔ اندازه لګوی) یعنی په دې سره د امت یوه ډیره لویه (معرکة الآراء) مسئله حل کیږی۔

د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د وفات نه ورسټو حضرت علی رضی اللہ عنہ په دویم ځل بیعت اوکړو: ابن کثیر رحمہ اللہ نور لیکی:

"وقال موسی بن عقبة فی مغازیه عن سَعد بن إبراهیم: حدثنی أبی أن أباه عبد الرحمٰن بن عوف کان مع عمرَ وأن مسلَمة کسر سیفَ الزبیر ثم خطَب أبوبکر واعتذر إلی الناس وقال: والله ما کنتُ حریصا علی الامارة یومًا ولا لیلةً، ولا سألتُها الله فی سرٍّ ولا علانیةٍ، فقبل المهاجرون مقالتَه، وقال علیٌّ والزبیر ما غضِبنا إلا لأنّا أخرنا عن المشورة، وإنا نری أبابکر أحقَّ الناس بها، إنه لصاحب الغار، وإنا لنعرف شرفَه وخیرَه، ولقد أمَّره رسول الله ﷺ بالصَّلاة بالناس وهو حیٌّ، وهذا اللائق بعلی رضی اللہ عنہ، والذی یدل علیه الآثار من شُهودِه معه الصلوات، وخروجه معه إلی أی القصة بعد موت رسول الله ﷺ، کما سنوردُه، وبذله له النصیحة والمشورة، بین یدَیه، وأما ما یأتی من مبایعته إیاه بعد موتِ فاطمة، وقد ماتت بعد أبیها علیہا السلام بستة أشهر فذلك محول علی أنها بیعة ثانیة أزالت ما کان قد وقع فی وحشةٍ بسبب الکلام فی المیراث ومنعِه إیاهم ذلك بالنَّص عن رسول الله ﷺ فی قوله: "لا نُورث ما ترکنا فهو صدقة"، کما تقدم بإیراد أسانیدِه وألفاظه، ولله الحمد".(۲)

یعنی موسیٰ بن عقبه په خپل مغازی کښې فرمائی چې عبد الرحمٰن بن عوف او محمد بن مسلمه حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره ناست وو، محمد بن مسلمه د څهٔ فتنې پیدا کیدو د ویرې نه د حضرت زبیر نه توره واخسته او ماته ئې کړه، د هغې نه ورسټو حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خطبه اولوستله، او خلقو ته ئې عذر کولو سره اووئیل، په الله تعالی قسم اځه یو ورځ یا شپه هم ددې امارت حریص نهٔ یم، او نهٔ مې د الله تعالی نه په پټه یا په ښکاره غوښتلې دې،

---

(۱) السنن الکبری للبیهقی: ۱۴۳،۸، والبدایة والنهایة: ۲۹۸،۶، بیروت۱

(۲) مستدرک حاکم، کتاب معرفة الصحابة: ۶۶،۳، السنن الکبری، باب قتال أهل البغی: ۱۱۵۲،۸

مهاجرینو د هغه خبره قبوله کړه،او حضرت علی رضی الله عنه او زبیر رضی الله عنهما اووئیل مونږ صرف په دې وجه خفه شوې وو ،چې مونږ په مشوره کښې نۀ وو شامل کړې شوې، کنې مونږ هم حضرت ابوبکر د خلافت د ټولو نه زیات مستحق منو ،هغه صاحب د غار دې،او مونږ د هغۀ شرافت او فضیلت پیژنو ،رسول الله ﷺ هغه ته په خپل ژوند کښې د مونځ کولو حکم اوکړو،او د حضرت علی رضی الله عنه د شان سره مناسب هم دغسې وو ،(چې هغۀ د صدیق اکبر خلافت اومنلو)۔ آثار هم په دې باندې ګواه دی،لکه څنګه چې د هغۀ د ابوبکر سره په مونځونو کښې شریک کیدل،"ذی القصه"د پاره د هغوی سره وتل،هغوی رضی الله عنه ته نصیحتونه کول او مشورې ورکول وغیره..... او تر کومې چې د حضرت فاطمې رضی الله عنها د وفات نه ورسټو د بیعت تعلق دې،نو هغه دویم بیعت وو،چې د نبی علیه السلام د میراث اخستلو ورکولو په حقله او سختو خبرو په ماحول کښې د کیدونکی بیعت د ازالې د پاره وو،او پاتې شو د نبی علیه السلام په میراث کښې د ابوبکر سخت موقف نو هغه د نص یعنی "لانُورث،ماترکناصدقة" په بناء باندې وو ۔

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خپل "أحق" کیدو اظهار:ددۀ د روایاتو تائید د بلاذری د "أنساب الأشراف" د یو روایت نه هم کیږی،چې د هغې الفاظ داسې دی:

"حدَّثنا حمّاد بن سلمة أنبأنا الحريريُّ عن أبي نضرة قال:لما بايَع الناس أبابكر اعتزل عليٌّ والزبيرُ فبعث إليهما عمر بن الخطاب وزيدَ بن ثابت فأتيا منزل عليٍّ فقرعا الباب فنظر الزبير من كوة ثم رجع إلى عليٍّ فقال:هذان رجلان من أهل الجنة وليس لنا أن نقاتلَهما،قال:افتح لهما،ثم خرجا معهما حتى أتيا أبابكر،فقال أبوبكر:يا عليُّ أنت ابنُ عمِّ رسول الله وصهره ﷺ فتقول أنى أحق بهذا الأمر،لاها الله لأنا أحق به مِنك،قال:لا تثريب يا خليفة رسول الله ابسط يدَك أبايعك فبسط يدَه فبايعه،ثم قال للزبير بن العوام تقول أنا ابن عمة رسول الله ﷺ وحواريّه وفارسه وأنا أحقُّ بالامر،لاها الله أنا أحق به منك،فقال:لا تثريب يا خليفة رسول الله ﷺ ابسط يدَك فبسط يدَه فبايعه".(۱)

د روایت خلاصه داده.کله چې خلقو د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره بیعت اوکړو ،نو(په دغه وخت کښې)علی المرتضی او زبیر بن العوام د بیعت نه پاتې شو،نو ابوبکر الصدیق رضی الله عنه دې دواړو پسې عمر بن الخطاب او زید بن ثابت انصاری (رضی الله عنهم) اولیږل، هغوی د حضرت علی رضی الله عنه کور ته رسیدو سره دروازه اوټکوله،زبیر (رضی الله عنه)(په دې وخت کښې)دروازې ارخ ته اوکتل او واپس کیدو سره ئې حضرت علی رضی الله عنه ته اووئیل،چې دا دواړه بزرګان د جنتیانو نه دی،دوی سره زمونږ جهګړه کول صحیح نۀ دی،بیا ئې د حضرت علی رضی الله عنه په وینا باندې دروازه کلاؤ کړه،او بهر راوتلو سره هغوی سره شو، تر دې چې دواړه حضرات ابوبکر صدیق ته اورسیدل،ابوبکر رضی الله عنه اووئیل اې علی!تۀ د رسول الله ﷺ د ترۀ خوئې او زوم

---

۱) أنساب الأشراف للبلاذری:۱،۱۵۵۷

ئې،تۀ د خلافت په معامله کښې خپل ځان زیات حق دار ګڼې،(په حقیقت کښې)زۀ زیات مستحق یم،حضرت علی رضی اللہ عنہ اووئیل،اې خلیفۀ رسول ! څۀ غصه نۀ دی کول پکار.لاس راوړاندې کړه زۀ بیعت کوم،حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ لاس وړاندې کړو.او حضرت علی رضی اللہ عنہ بیعت اوکړو.

بیا ابوبکر رضی اللہ عنہ زبیر بن العوام ته هم دغسې اووئیل،چې اې زبیر!چې تۀ د رسول الله ﷺ د ترور خوئې ئې،او د رسول الله ﷺ حواری(خاص ملګری)ئې.او د رسول الله شهسوار (فارس) ئې،تۀ د خپل ځان متعلق خیال کوئ،چې تۀ ددې کار زیات مستحق ئې.(حال دادې)زۀ زیات حق دار یم،نو زبیر بن العوام اووئیل،اې خلیفۀ رسول خدا!غصه او ملامتیا نۀ دی کول پکار،لږ خپل لاس رامخکې کړه،هغوی خپل لاس مخکې کړو.او زبیر رضی اللہ عنہ بیعت اوکړو.

ددې ټولو روایاتو نه صفا معلومیږی،چې حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت صدیق په لاس باندې بیعت کړې وو،او په دې کښې ئې تاخیر هم نۀ وو کړې،بلکه په تُندئ سره ئې بیعت کړې وو، د تاخیر چې کوم خیال دې،دا د راویانو خپل خیال دې،او حقیقت سره ددې هیڅ تعلق نشته.

د شیعه ګانو اعتراف: او د خوند خبره داده،چې دا خبره صرف اهل سنت علماء او محققین نۀ وائی،بلکه شیعه علماؤ هم دا وئیلی دی،د نهج البلاغة مشهور شارح ابن أبی الحدید پورته ذکر شوې روایت نقل کړې دې،وئیلې ئې دی:

"قال علی والزبیر ما غضبنا إلا..... لانا أُخِّرنا فی المشورة وإنا لنری أبابکر أحق الناس بها،إنه صاحبُ الغار وإنا لنعرِف له سنّه،وأمرَه رسول الله ﷺ وهو حیّ". (۱)

خلاصه داده چې: "حضرت علی رضی اللہ عنہ او زبیر بن العوام رضی اللہ عنہما دواړو اووئیل چې زمونږ دا (عارضی) خفګان صرف په مشوره کښې د نۀ شاملولو په وجه باندې وو،(حال دادې)مونږ ابوبکر رضی اللہ عنہ د نورو خلقو نه د خلافت زیات مستحق ګڼړو.او د غار د صحبت فضیلت دۀ ته حاصل دې،(یعنی د ثانی اثنین لقب لری)،مونږ د هغوی د بزرګئ اعتراف کوو.او رسول اکرم ﷺ په خپل ژوند کښې دۀ ته(د مسلمانانو)د مونځونو د امامت کولو حکم کړې وو".

د ابن جریر طبری روایت دې،هغه وائی: "..... عن حبیب بن أبی ثابت قال:کان علیٌّ فی بیته إذا أتی،فقیل له،قد جلَس أبوبکر للبیعةِ فخرج فی قمیص،ما علیه إزارٌ ولا ردآءٌ عَجَلاً کراهیة أن یُبطی عنها حتی بایعه،ثم جلس إلیه وبعث إلی ثوبه فأتاه فتجلّله ولزم مجلسه". (۲)

یعنی "حبیب بن أبی ثابت روایت کوی چې حضرت علی رضی اللہ عنہ کور کښې ناست وو،خبر ملاؤ شو،چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ (د خلافت)د بیعت د پاره په مسجد کښې ناست دې،نو حضرت علی رضی اللہ عنہ بغیر د څۀ تاخیر کولو نه په تُندئ سره په ضروری لباس کښې لنګ او څادر

---

۱) شرح نهج البلاغة:۱،۱۱۵٤

۲) تاریخ ابن جریر طبری:۳،۱۲۰۱

پریښودو سره صرف په قمیص کښې د کور نه بهر راغلو،چې چرته ناوخته نۀ شی.او د بیعت مجلس ته رسیدو سره ئې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره بیعت اوکړو.او په هغه خانې کښې د هغوی په خدمت کښې کیناستو،او د دغه ځائې نه ئې کس اولیږلو د کور نه ئې څادر وغیره راؤغوښتل او په دې مجلس کښې شامل شو".

ددې روایت نه صفا معلومیږی چې حضرت علی رضی اللہ عنہ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ سره په بیعت کولو کښې څۀ تاخیر نۀ وو کړې،او په دې موقعه باندې ئې د هغوی رضی اللہ عنہ په لاس باندې بیعت اوکړو،په روایت کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ په دومره ټنډئ سره د راتلو ذکر دې،چې د پوره لباس اچولو د پاره هم هغوی صبر اونۀ کړو.....

په بیعت کښې د قران کریم د جمع کولو په سبب تاخیر: د بیعت په سلسله کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ ددې تاخیر(کۀ شوی وی)په بعضې روایاتو کښې یوه بله وجه مذکور ده،

ابن عبد البر په"الاستیعاب"کښې فرمائی: "لما بویع أبوبکر الصدیق رضی اللہ عنہ أبطاء علیؓ رضی اللہ عنہ عن بیعته وجلس فی بیتِه فبعث إلیه أبوبکر ما أبطاء بکَ عنی أکرهتَ إمارتی؟فقال علیؓ: ما کرهتُ إمارتک ولکنی آلیت أن لا أرتدی ردائی إلا إلی صلوة حتی أجمع القرآن".(۱)

"حاصل دادې.....کله چې حضرت ابوبکر الصدیق رضی اللہ عنہ سره خلقو بیعت اوکړو،نو حضرت علی المرتضی رضی اللہ عنہ ددې بیعت نه تاخیر اوکړو،او په کور کښې ناست پاتې شو،نو ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ هغوی پسې سړي اولیږلو او پوښتنه ئې تري اوکړه،چې تاسو(د بیعت په معامله) کښې ولې مؤخر شوی ئې؟آیا تۀ زما امارت نۀ خوښوې،نو علی المرتضی جواب ورکړو،چې زۀ ستاسو په امارت خفه نۀ یم،ولې ما قسم کړې دې،چې زۀ به تر هغې څادر نۀ په سر کوم،ولې صرف د مونځ د پاره،تر دې چې زۀ قرآن کریم د مختلف ځایونو نۀ جمع نۀ کړم".

ددې روایت نه معلومیږی،چې د حضرت صدیق اکبر د خلافت په سلسله کښې کله چې صحابۀ کرامو هغوی سره بیعت اوکړو،نو حضرت علی رضی اللہ عنہ د قرآن کریم د جمع کولو په سلسله کښې مشغولیت اختیار کړو،او بیعت ئې اونۀ کړو،تر دې چې ابوبکر صدیق هغۀ پسې سړي اولیږلو،او ورته ئې اووئیل،چې آیا تۀ زما امارت نۀ خوښوې؟حضرت علی رضی اللہ عنہ اووئیل نه،داسې څۀ خبره نشته،ولې مونږ قرآن کریم جمع کول غوښتل،بعضې حضرات وائی په دې کښې او په وړاندینو روایاتو کښې منافات دې،ځکه چې په هغې کښې بغیر د تاخیر نه او یا بغیر د څۀ وجهې نه په لږ تاخیر سره د بیعت ذکر دې،او په دې دویم ورایت کښې د یو مقصد په وجه د هغه د تاخیر ذکر دې؟

ددې جواب دادې،چې په اول کښې د هغوی رائې هم دغه جوړه شوې وه،چې د ټولو نه اهم کار د قرآن کریم جمع کول دی،د هغې نه ورستو په دې پوهه شو چې د ټولو نه اهمه مسئله بیعت دې،او بیا هغوی خپله اولنې رائې پریښودو سره په دویمې رائې باندې عمل کولو ته

---

(۱) الاستیعاب معه إصابه:۲،۲٤٤،تذکرة الصدیق.....

تیار شوې دی۔
دا جواب هم ورکړې شوې دې،چې د جمع قرآن نه حفظ قرآن مراد دې،او د هغې په وجه هغوی نۀ وو زاغلې،او بیا د څۀ لږ تاخیر نه ورسټو تلو سره هغوی بیعت هم کړې وو،دا خو په اعتبار د سند سره روایت د صحیح منلو په صورت کښې جواب دې،ګنې نو د روایت په حقله د حافظ ابن حجر نه دا هم منقول دی،"هذا الأثر ضعیف لانقطاعه".(۱)
په هر حال کښې د پورته روایت نه دا خبره معلومه شوه،چې حضرت علی رضی اللہ عنہ په دغه وخت کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ په لاس بیعت کړې وو۔
په احادیثو کښې د شپږو میاشتو ورسټو بیعت صراحت او د هغې توجیهات: هاؤ! یوه خبره دلته د غور وړ ده،او هغه دا چې په بخاری،مسلم،مسند ابی عوانه،سنن کبریٰ للبیهقی، تاریخ ابن جریر طبری،أنساب الأشراف للبلاذری وغیره کښې د هغې روایت هم ذکر دې،چې د هغې نه د شپږو میاشتو په تاخیر سره حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د بیعت د پاره د راضی کیدو اندازه کیږی،د صحیحینو روایت دې،چې په هغې کښې په تفصیل سره دا ذکر دی.کله چې د رسول الله ﷺ وصال اوشو،نو د هغوی ﷺ لور حضرت سیده فاطمه رضی اللہ عنہا د ابوبکر رضی اللہ عنہ نه د مال فئ،خصوصاً د مال فدک او خیبر د خمس وغیره مطالبه اوکړه. حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ اوفرمائیل،د رسول الله ﷺ ارشاد دې،"لانُورث،ماترکنا صدقة" په دې وجه زۀ د هغوی ﷺ مخالفت کولو سره تاسو(حضرت فاطمې)ته څۀ درکړم،دا نۀ شی کیدې، په دې وجه حضرت فاطمې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ نه خفګان اختیار کړو،او د مرګه پورې ئې هغوی سره څۀ خبرې اونۀ کړې،شپږو میاشتو پورې حضرت فاطمه ژوندئ وه،او په دې زمانه کښې هغه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ نه خفه وه،او حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس بیعت اونۀ کړو،او د حضرت فاطمې د عوې او خیال سره ئې موافقت اوکړو،شپږو میاشتې ورسټو کله چې د حضرت فاطمې وفات اوشو،نو حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا او خپلو شکایتونو په سلسله کښې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره خبرې اترې اوکړې، چې په هغې ډیر بحث او مباحثه اوشوه،بیا په آخر کښې هغوی د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې بیعت اوکړو،او حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ هم د شپږو میاشتو په تاخیر سره په بیعت کولو کښې د هغوی معذرت قبول کړو،او د هغوی د فضائلو او مناقبو اقرار ئې اوکړو۔

د حدیث الفاظ دی: "وکان لِعلیٍ من الناس وجهٌ حیاةَ فاطمة،فلما توفِّیَت استنکر علیٌ وجوه الناس فالتمس مصالحةَ أبی بکر ومبایعَته ولم یکن یبایع تلك الأشهر".(۲)
یعنی د حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې په ژوند کښې یو حیثیت وو،او کله چې حضرت فاطمه وفات شوه،نو حضرت علی رضی اللہ عنہ د خلقو مخونه بدل شوې محسوس کړل،نو بیا هغوی

---

(۱) الإتقان للسیوطی:۱/۱۵۷
(۲) صحیح البخاری،کتاب المغازی،باب غزوة خیبر،رقم(۴۲۴۰،۴۲۴۱)،مسلم،باب حکم الفئ

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره صلح اوکړه،او د هغوی په لاس ئې بیعت خواست اوکړو،حال دا وو چې هغوی دې شپږو میاشتو پورې بیعت نه کولو.
ددې نه معلومیږی،چې حضرت علی رضی اللہ عنہ تر شپږو میاشتو پورې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې بیعت نه وو کړې،بیا دا څنګه وئیلې شی،چې هغوی په هغه وخت بیعت کړې وو؟

"أنساب الأشراف" کښې بلاذری هم دغه فرمائی:

"لم یبایع علیٌ ابابکر حتی ماتت فاطمةُ بعد ستة أشهر فلما ماتت ضرع إلی صلح أبی بکر".(۱) حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ سره بیعت اونه کړو،حتی چې شپږ میاشتې ورستو حضرت فاطمه وفات شوه،نو هغوی(حضرت علی رضی اللہ عنہ)په صلح کولو باندې مجبور شو.

د طبری او مسند أبی عوانه الفاظ دادی:

"فقال رجل للزهری أفلم یبایعه علی ستة أشهر؟قال لا!ولا أحد من بنی هاشم،حتی بایعه علیٌ".(۲)

یو سړی زهری ته اووئیل آیا علی رضی اللہ عنہ د شپږو میاشتو پورې بیعت نه وو کړې؟هغوی اووئیل،هاؤ(نه ئې وو کړې)!او په بنو هاشمو کښې چا هم بیعت نه وو کړې،تردې پورې چې حضرت علی رضی اللہ عنہ بیعت اوکړو نو بیا نورو هم بیعت اوکړو.

معمر وائی: "قلتُ للزهری کم مکث فاطمة بعد النبی ﷺ؟قال ستة أشهر،فقال رجل للزهری:فلم یبایعه علیٌ حتی ماتت فاطمة،قال ولا أحد من بنی هاشم".(۳)

ما زهری ته اووئیل،د رسول الله ﷺ نه ورستو حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا د څومره مودې پورې ژوندې وه؟وې وئیل شپږ میاشتې،نو یو سړی زهری ته اووئیل،آیا حضرت علی رضی اللہ عنہ د فاطمې رضی اللہ عنہا د وفات پورې بیعت نه وو کړې؟ وې وئیل په بنو هاشمو کښې چا هم نه وو کړې.
ددې جواب دادې،چې دا روایت په صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې په اختصار سره موجود دې،په دې وجه پوره خبره واضحه نه شوه،او په مسند أبی عوانه،السنن الکبری للبیهقی او تاریخ طبری وغیره دا په پوره طریقې سره ذکر کړې دې،او په هغې کښې دا تصریح ده،"قال رجل للزهری" یا بیا "قلت للزهری" او چې یو سړې پوښتنې والا وی نو ښکاره خبره ده،چې هغه به د حضرت عائشې نه پوښتنه نه کوی،چې د هغې دا روایت دې،او بیا په دې کښې تصریح ده چې د زهری نه پوښتنه اوکړې شوه؟ په دې وجه دا خبره متعینه شوه،چې دا د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا قول نه دې بلکه د زهری (راوی)قول دې،او صرف دا نه،د حضرت صدیق اکبر او حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا په مینځ کښې د اختلاف او خفګان خبره هم صرف زهری نقل کړې ده.

---

۱) أنساب الأشراف:۱،۱۵۸۶
۲) مسند أبی عوانة:۴،۱۱۴۶
۳) السنن الکبریٰ:۶،۱۳۰

په "زهری راوی" باندې کلام: اوس د زهري په حقله اهل حدیث څه وائی. دا به کتل وی، په دې سلسله کښې حضرت مولانا محمد نافع مدظله ډیر مفید او مفصل بحث فرمائیلې دې، دلته مونږ د هغې مختصراً ذکر کوؤ۔[1]

یوه خبره خو د هغۀ په حقله دا کړې شوې ده، چې هغه په احادیثو کښې "ادراج" کوی. او په ذکر کړې شوی روایت کښې هم دا کلمات د هغۀ د اړخ نه مُدرَج دی، د هغۀ د "ادراج" یوه نمونه د مسلم په یو روایت کښې اوګورئ:

"حدثنا یحیی بن یحیی التیمی قال: أخبرنا إبراهیم بن سعد عن ابن شهاب (الزهری) عن عامر بن سَعد عن أبیه قال عادنی رسول الله ﷺ فی حجّة الوداع....."۔

ددې په آخر کښې دا الفاظ راځی: "قال: رثی له رسول الله ﷺ مِن أن توفِّی بمکّة"۔[2]

امام نووی ددې الفاظو متعلق وائی:

قال العلماء: هذا من کلام الراوی، ولیس هو من کلام النبی ﷺ۔

بیا وړاندې هغه دا خبره چیرلې ده، چې ددې قائل کوم راوی دې، نو وې وئیل:

"واختلفوا فی قائل هذا الکلام مَن هو؟ فقیل هو سعد بن أبی وقاص وقد جاء مفسّراً فی بعض الروایات قال القاضی، وأکثر ما جاء أنه من کلام الزهری"۔[3]

په دې خبره کښې اختلاف شو چې ددې قائل څوک دې، بعضو اووئیل چې سعد بن أبی وقاص ددې "قائل" دې، ولې اکثرو دغه اووئیل چې ددې قائل (ابن شهاب) زهري دې، او دا د قاضی عیاض قول دې۔

د ابن شهاب زهری په روایت کښې د هغه مدرَج کلمات هم وی، ددې دویمه قرینه داده، چې امام مسلم فرمائی: "قال أبو الحسن مسلم (بن الحجاج القشیری): هذا الحرف: یعنی: قوله: تعالَ أقاسمك فلیتصدق۔ لا یرویه أحد غیر الزهری: قال: وللزهری نحواً من تسعین حرفاً یرویه عن النبی ﷺ لا یشارکه فیه أحد بأسانید جیاد"۔[4]

وې فرمائیل د حدیث الفاظ "تعال أقاسمك، فلیتصدق" د زهری نه علاوه چا هم نۀ دی روایت کړې، او تقریباً د زهری تر لس کم سلو (۹۰) پورې حدیثونه دی، چې هغه د رسول الله ﷺ نه په عمده سندونو سره نقل کوی، او په هغې کښې د هغۀ سره څوک هم شریك نۀ دی۔

---

[1] د نور تفصیل د پاره اوګورئ "رحماء بینهم": ۱/۲۳۸۔

[2] صحیح مسلم، کتاب الوصیة، باب الوصیة بالثلث، رقم (۴۱۵۸)۔

[3] اوګورې، المنهاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج: ۱۱/۸۲، دار المعرفة بیروت۔

[4] المنهاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج: ۱۱/۱۱۰، کتاب الإیمان، باب من حلف باللات والعزّی فلیقل: لا إله إلا الله۔

دریم شاهد ددې دادې، چې امام مسلم د خپل صحیح په کتاب الفضائل کښې یو روایت نقل کوی: "سفیان بن عُیینه عن الزهری سمعَ جبیرَ بن مطعم عن أبیه أن النبی ﷺ قال: أنا محمد وأنا أحمد وأنا الماحی، الذی یمحی بی الکفر، وأنا الحاشر الذی یحشر الناس علی عَقِبی وأنا العاقب والعاقب الذی لیس بعده نبی".(۱)

ددې نه ورسته ددې باب په دریم سند کښې دا الفاظ راغلی دی:

"وفی حدیث معمر قال: قلتُ للزهری: وما العاقب؟ قال: الذی لیس بعده نبی".(۲)

علامه جلال الدین سیوطی په تنویر الحوالک شرح مؤطا امام مالک کښې فرمائی:

"زاد مسلم وغیره من طریق ابن عیینة والعاقب الذی لیس بعده نبی وهو مُدرج من تفسیر الزهری".(۳)

یعنی په صحیح مسلم کښې د عاقب چې کوم تفسیر مذکور دې، دا د زهری مدرج الفاظ دی.

د بیعت په حقله د زهری په روایت باندې د علماؤ عدم اعتماد: ددې حوالو نه دا خبره خو معلومه شوه، چې د ابن شهاب زهری د "ادراج فی الروایة" عادت دې، او ددې په بناء باندې وئیلې شی، چې په مبحوث عنه روایت کښې د حضرت علی رضی الله عنه شپږ میاشتې ورسته د بیعت ذکر هم د زهری خپل دې، اوس دا خبره چې د علماء حدیث د زهرې ددې قول متعلق څۀ رائې دد، نو په دې حوالې سره علامه بیهقی فرمائی:

"وقول الزهری فی قعودِ علیٍّ عن بیعةِ أبی بکر رضی الله عنه حتی توفیت فاطمة منقطع، وحدیث أبی سعید الخدری فی مُبَایَعته إیاه حتی بُویِع بیعةَ العامة بعد السقیفة أصح".(۴)

او د حضرت ابو بکر رضی الله عنه د بیعت نه د حضرت علی رضی الله عنه د حضرت فاطمی رضی الله عنها د وفات پورې د پاتې کیدلو چې د زهری کوم قول دې، هغه سنداً منقطع دې، او ددې په مقابله کښې د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه هغه حدیث زیات صحیح دې، چې په هغې کښې دا مذکور دی، چې حضرت علی رضی الله عنه د عام بیعت په وخت کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لاس باندې بیعت اوکړو.

د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه هغه حدیث مراد دې، چې وړاندې ذکر شوې دې، او امام احمد، حاکم او بیهقی وغیره نقل کړې دې.

امام بیهقی په نور صراحت سره فرمائی:

"والذی روی أن علیاً لم یبایع أبابکر ستةَ أشهر لیس من قول عائشة إنما هو من قول الزهری فأدرَجه بعض الرواة فی الحدیث عن عائشة فی قصة فاطمة، وحفظه معمر بن راشد فرواه مفصلاً وجعله من قول الزهری منقطعاً

---

۱) صحیح مسلم، باب فی أسمائه ﷺ، رقم: ۶۲۵۱

۲) صحیح مسلم، باب فی أسمائه شرح، رقم: ۶۲۵۲

۳) تنویر الحوالک شرح مؤطاء امام مالک، کتاب الحج: ۱، ۲۶۳، رقم: ۱۱۸۲۳

۴) السنن الکبریٰ للبیهقی: ۶، ۳۰۰، کتاب قسم الفیئ والغنیمة

من الحديث، وقد روينا في الحديث الموصول عن أبي سعيد الخدري ومن تابعه من أهل المغازي أن علياً بايعه في بيعةِ العامة بعد البيعة التي جرت في السقيفة".(۱)

یعنی کوم چې هغه روایت دې، چې حضرت علی رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لاس تر شپږو میاشتو پورې بیعت نه وو کړې، دا د حضرت عائشې رضی الله عنها قول نه دې، بلکه د زهری قول دې، لکه څنګه چې د حدیث بعضې راویانو د حضرت فاطمې رضی الله عنها په قیصه کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها نه نقل کړی دی، او معمر بن راشد دا حفظ کړل او مفصل ئې روایت کړل، او دا ئې د زهری قول اوګرځولو، چې د حدیث نه جدا دې. او مونږ د ابو سعید خدری او په اهل مغازی کښې د هغه د نورو متابعینو نه موصول حدیث روایت کړې دې، چې حضرت علی رضی الله عنه په سقیفه بنی ساعده کښې د جاری شوې بیعت نه ورسته په عام بیعت کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لاس بیعت کړې وو.

د تطبیق او د جمع بین الروایات صورت: حافظ ابن حجر رحمه الله په دې سلسله کښې په ډیر ښکلي الفاظو سره تطبیق بیان کړې دې، هغه فرمائی:

"وقد صحَّحَ ابن حبان وغيره من حديثِ أبي سعيد الخدري وغيره أن علياً بايع أبابكر: في أول الأمر، وأما ما وقع في مسلم "عن الزهري أن رجلاً قال له لم يبايع علي أبابكر حتى ماتت فاطمةُ، قال لا، ولا أحد من بني هاشم" فقد ضعفه البيهقي بأن الزهري لم يسنده، وأن الرواية الموصولة عن أبي سعيد أصح، وجمع غيرُه بأنه بايَعه ثانيةً مؤكدةً للأولى لإزالة ما كان وقع بسبب الميراث كما تقدم، وعلى هذا فيحمل قول الزهري لم يبايع علي في تلك الأيام على ارادة الملازمة له والحضور عنده وما أشبه ذلك، فان في انقطاع مثلِه عن مثله ما يوهم مَن لا يعرف باطن الأمر أنه بسبب عدم الرضا بخلافته فأطلق من أطلق ذلك وبسبب ذلك أظهر على المبايعةَ التي بعد موت فاطمة عليها السلام لإزالة هذه الشبهة".(۲)

ابن حبان وغیره د ابوسعید خدری وغیره هغه حدیث صحیح ګرځولې دې، چې په هغې کښې دا خبره وئیلې شوې ده، چې حضرت علی رضی الله عنه په شروع کښې د ابوبکر په لاس بیعت کړې وو، او هغه چې مسلم کښې د زهری نه منقول دی، چې هغوی ته یو سړی اووئیل چې حضرت علی رضی الله عنه د ابوبکر په لاس بیعت نه وو کړې، تر دې چې حضرت فاطمه وفات شوه؟ او زهری اووئیل، نه، او په بنو هاشم کښې چا هم بیعت نه وو کړې، نو دا روایت بیهقی ضعیف ګرځولې دې، ځکه چې زهری دا مسند نه دې ذکر کړې، او د ابوسعید چې کوم موصول روایت دې، هغه زیات صحیح دې، او بعضې حضراتو دا دواړه اقوال جمع کړی دی، او په دې کښې ئې تطبیق کړې دې، او وئیلې ئې دی، چې بیعت اول هم شوې وو، او بیعت ورسته هم اوشو، او دویم بیعت د اول د پاره مؤکد وو، او ددې مقصد هغه وهم ختمول وو، چې د

---

(۱) الاعتقاد على مذهب السلف للبيهقي، ص: ۱۱۸۰

(۲) فتح الباري: ۹، ۱۶۳۱

میراث په حوالې سره د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا په مینځ کښې راغلې وو، نو په دې صورت کښې به د زهری د قول معنی دا وی چې حضرت علی رضی اللہ عنہ په ابتداء کښې داسې بیعت نۀ وو کړې، چې د ابوبکر سره شوې وو، او هغوی سره حاضر وو، او څۀ داسې صورت به وو..... او د حضرت علی رضی اللہ عنہ په شان سړې چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په شان سړی سره داسې بیعت چې د هغوی په مینځ کښې مضبوط تعلق، ناسته پاسته نۀ وی، په دې سره په خلقو کښې د اختلاف، خفګان ناراضتیا تاثر پیدا شو، چې یو قدری امر وو، ځکه چې حضرت علی رضی اللہ عنہ داسې سړې نۀ وو، چې د پردو په شان رسمی بیعت کولو سره بری الذمه شوې وو، بلکه د بیعت کولو په صورت کښې هغوی ته (د ابوبکر سره) پوره ملګرتیا کول پکار وو، چې په نظر رانغله، د دننه صورت حال نه د نۀ خبریدو دا خیال چې حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ نه د خفګان او د هغوی په خلافت باندې د معترض کیدو په وجه جدا پاتې شو، دا په هغه وخت کښې ختم شو، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د وفات نه ورسټو د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس کلاؤ بیعت اوکړو، دې د پاره چې دا شبهه ختمه شی۔ هم دغه خبره قسطلانی هم وئیلې ده۔[1]

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د روایت په حوالې سره توجیهات: په هرحال کښې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا دا روایت چې په هغې کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ شپږ میاشتې ورسټو د بیعت کولو ذکر دې، زمونږ علماء ددې ځلور توجیهات کوی، یا داسې اووائې چې ځلور جوابات کوی:

①:- قاعده ده، "لیس الخبر کالمعاینة" یا شنیده کې بود مانند دیده، په دې وجه مونږ وایو چې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د روایت په مقابله کښې به د هغه صحابۀ کرامو روایت زیات راجح او قابل قبول وی، چې هغوی د بیعت د ثبوت ذکر کړې دی، ځکه چې هغوی به ددې په خپلو سترګو د لیدلو ګواهان وی، او ظاهره ده چې حضرت عائشه رضی اللہ عنہا خو هلته حاضره نۀ وه، نو د هغې وئیلې شوې خبره (صرف د مسموع کیدو په وجه) به مرجوح ګرځولې شی۔

②:- د شپږو میاشتو والا روایت کښې د بیعت د نفی ذکر دی، او په نورو روایتونو کښې د اثبات. او اثبات په نفی باندې مقدم وو، او د نفی په مقابله کښې زیات راجح او قوی وو۔

③:- په ګنړ شمیر احادیثو کښې د زمانې د امام پیژندل او د هغۀ تصدیق کول ضروری ګرځولې شوی دی، د هغه روایاتو تقاضا داده، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ به بیعت کړې وی، ځکه چې دومره لوئې سړې داسې قسمه لوئې جرم څنګه کولې شی، اګر چې هغه عارضی او وختی ولې نۀ وی۔

④:- په کوم روایت کښې چې د بیعت د تاخیر ذکر دی، هغه د ابن شهاب زهری منقطع او غیر متصل روایت دی، او بل ارخ ته د ابو سعید خدری رضی اللہ عنہ په صحیح او موصول روایت کښې د فی الفور بیعت ذکر دی، نو ښکاره خبره ده، چې دویم حدیث د عمل کولو وړ دی نۀ چې اول۔[2]

---

[1] إرشاد الساری: ۸/۱۱۵۸

[2] "رحماء بینهم": ۱/۲۴۲، ۲۴۳

حضرت علی رضی اللہ عنہ د تاخیر نه بغیر د بیعت کولو نور شواهد او دلائل: د حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ صریح عبارتونه په دې حوالې سره وړاندې هم تیر شوی دی، دلته دې د هغۀ دا الفاظ اوکتلې شی:

"مبایعة علی بن أبی طالب أما فی أول الیوم أو فی الیوم الثانی من الوفاة وهذا حقٌّ؟ فإن علی بن أبی طالب لم یفارق الصدیق فی وقت من الأوقات ولم ینقطع فی صلاة من الصلوٰة خلفه کما سنذکره وخرج معه إلی ذی القصة لما خرج الصدیق شاهراً سیفه یُرید قتال أهل الرِّدة".

ددې نه معلومیږی چې حضرت علی رضی اللہ عنہ د وفات النبی ﷺ په اوله یا دویمه ورځ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس بیعت کړې وو، هم دغه خبره ثابته ده، او هم دغه حق ده.

او دا په دې وجه چې یو خو حضرت علی رضی اللہ عنہ په هیڅ یو وخت کښې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ نه نۀ دې جدا شوې، په مشورو او ضروری کارونو کښې به برابر هغوی سره پاتې شوې دې، دویم په دې وجه چې حضرت علی رضی اللہ عنہ هر مونځ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ پسې ادا کړې دې، او د هغوی په اقتداء کښې ئې د مونځ سلسله بالکل نۀ ده منقطع کړې، دریم په دې وجه کلهٖ چې حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ مرتدینو سره د قتال د پاره اودریدو نو حضرت علی رضی اللہ عنہ هغوی سره شوې وو، او د هغوی په مشرئ کښې ئې د مرتدینو په قتال کښې برخه واخسته.

حضرت علی رضی اللہ عنہ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته "بلا فصل خلیفه" اووئیل: هم دغه شان د دار قطنی روایت دې چې په هغې کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د "ذی القصه" د پاره د وتلو ذکر دی، او وئیلې شوی دی، کله چې ابوبکر د وتلو د پاره په سورلئ کیناستو، نو حضرت علی رضی اللہ عنہ د هغوی د سورلئ واګی اونیسل او وې فرمائیل:

"إلی أین یا خلیفةَ رسول الله؟ أقول لك ما قال رسول الله یومَ أحد شم سیفك ولا تفجعنا بنفسك، وارجع إلی المدینة فوالله لئن فجعنا بك لایکون للإسلام نظام أبداً فرجع وأمضی الجیش".(۱)

اې خلیفۀ رسول الله چرته؟ زه خو به تا ته هغه اووائم کوم چې رسول الله ﷺ د احد په ورځ وئیلی وو، خپله توره بوئ کړه، او مونږ د خپل ځان په حوالې سره خفه نۀ کړې، مدینې ته واپس لاړ شئ، ځکه کۀ تاسو له څۀ اوشو نو د اسلام نظام به کله هم پاتې نۀ شی، نو ابوبکر واپس شو او لښکر ئې اولیږلو.

دلته حضرت علی رضی اللہ عنہ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته "خلیفۀ رسول الله" اووئیل، او دا ئې اووئیل: چې ستاسو په څۀ کیدو سره به د اسلام نظام ته نقصان اورسیږی، نو هغوی د حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د فضیلت او د بلا فصل خلیفه کیدو اعتراف کړې دې.

د صحابئ رسول حضرت سعید بن زید رضی اللہ عنہ یو روایت هم ابن جریر طبری نقل کړې دې، چې په هغې کښې دا صراحت دې، چې د حضرت صدیق اکبر په بیعت کښې هیڅ یو صحابی تاخیر نۀ وو کړې، د روایت الفاظ داسې دی:

---

(۱) البدایة والنهایة: ۶/۳۱۱

"قال عمرو بن حريث لسعيد بن زيد أشهدت وفاة رسول الله ﷺ ؟ قال:نعم،قال:فمتى بُويع أبابكر؟ قال:يوم مات رسول الله ﷺ، كرهوا أن يبقوا بعض يوم وليسوا في جماعة،قال فخالف عليه أحدٌ؟قال لا!إلا مرتد أو مَن قد كاد أن يرتد لولا أن الله عزوجل ينقذهم من الأنصار.قال فهل قعد أحد من المهاجرين؟ قال:لا،تتابع المهاجرين على بيعة من غير أن يدعوهم".(۱)

عمرو بن حريث،د سعيد بن زيد نه پوښتنه کوی،چې تاسو د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښې موجود وی؟هغوی اووئيل،هاؤانو وی وئيل چې د ابوبکر رضی الله عنه بيعت څه وخت اوشو؟وی فرمائيل څه وخت چې د رسول الله وفات اوشو،نو صحابهٔ کرامو د ورځې څه برخه هم په داسې حالت کښې تيرول خوښه نه کړه،چې په هغې کښې هغوی په جماعت کښې نه وی،او د هغوی باقاعده امير نه وی،(نو هم په دغه ورځ هغوی ابوبکر خليفه جوړ کړو)سائل اووئيل آيا چا په دې بيعت کښې د ابوبکر رضی الله عنه مخالفت کړې وو؟ وی فرمائيل:نه،ماسوا د هغه چا نه چې مرتد وو،يا قريب الارتداد وو،کهٔ الله تعالی هغوی نهٔ بچ کول،وی وئيل آيا په مهاجرينو کښې چا انکار کړې وو؟وی فرمائيل،مهاجرين خو پرله پسې بغير د دعوت ورکولو نه راتلل او بيعت ئې کولو.

دحضرت علی رضی الله عنه دا اقرار چې ابوبکر رضی الله عنه رسول الله ﷺ وراندې کړې وو: يو بل روايت اوګورئ:

".....حفص بن سليمان عن إسماعيل بن أميّه عن سعيد بن المسيّب قال خرج علی بن أبي طالب رضی الله عنه لبيعة أبي بكر فسمع مقالة الأنصار قال علی بن أبي طالب رضی الله عنه:يا أيها الناس أيكم يؤخر من قدّم رسول الله ﷺ ؟قال سعيد بن المسيّب فجاء علیؓ بكلمة لم يأتِ بها أحد منهم".(۲)

حضرت علی رضی الله عنه د صديق اکبر رضی الله عنه د بيعت د پاره د کور نه بهر تشريف راوړو،په لار کښې ئې د بعضې انصارو نه د بيعت متعلق څه خبرې واوريدې نو وی فرمائيل،خلقو!کوم سړې رسول الله ﷺ مقدم فرمائيلې کړو هغه څوک مؤخر کولې شی،سعيد بن المسيب فرمائی حضرت علی رضی الله عنه دا سې مضبوطه خبره فرمائيلې ده چې ددې په شان خبره چا هم اونهٔ کړه.

د حضرت علی رضی الله عنه دا اقرار چې ابوبکر رضی الله عنه په دينی اعتبار سره د ټولو نه زيات افضل وو: علامه ابن عبد البر فرمائی:

"روى الحسن البصری عن قيس بن عبادة قال قال لی علی بن أبي طالب رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ صلى الله عليه وسلم مرض ليالیَ وأياماً ينادی بالصلاة فيقول مُروا أبابكر يصلی بالناس،فلما قُبض رسول الله ﷺ نظرتُ فاذا الصلاة علَمُ الإسلام وقِوام الدين فرضينا لدنيانا مَن رضی رسول الله ﷺ لدِيننا فبايعنا أبابكر".(۳)

---

۱) تاريخ ابن جرير طبری:۱۰۲.۳،رحماء بينهم:۱۲۴۵.۱

۲) كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال لعلی المتقی،كتاب الخلافة،باب خلافة أبی بكر، رقم:۱۴۱۵۳، مؤسسة الرسالة۱

۳) الإستيعاب لابن عبد البر،فضائل أبی بكر الصديق:۱۲۹۷.۱

قیس بن عباده وائی چې حضرت علی رضی الله عنه ما ته ذکر اوکړو، چې نبی کریم ﷺ څو ورځې او څو شپې ناروغه وو، په دغه ورځو کښې به رسول الله ﷺ اعلان فرمائیلو چې خلقو ته ابوبکر د جمعې مونځ کوی، نو د هغوی ﷺ د ناروغتیا په ورځو کښې به صدیق اکبر د جمعې مونځ کولو، بیا کله چې د آقائې نامدار وصال اوشو نو ما غور اوکړو، او ما ته پته اولګیده چې مونځ د اسلام اهمه ننبه ده، او د دین قیام ددې نه بغیر ممکن نۀ دې، نو ددې اهم امر د پاره چې پیغمبر ﷺ څوک زمونږ د دین ذمه دار جوړ کړې دې، نو هم هغه مونږ د خپلې دنیا د پاره خوښوؤ، او داسې مونږ ابوبکر د خلافت د پاره خوښ کړو۔

هم حضرت علی رضی الله عنه د ابوبکر رضی الله عنه استعفی مسترد کړې وه: د بلاذری یو بل روایت دې:

"عن أبي الجحاف قال لما بُويع أبوبكر وبايعه الناس قام ينادي ثلاثا أيها الناس قد أقلتكم بيعتكم فقال علي والله لا نقيلك ولا نستقيلك قدّمك رسول الله ﷺ فمن ذا يؤخّرك".(۱)

یعنی "کله چې د ابوبکر سره بیعت اوشو او خلقو هغوی سره بیعت اوکړو، نو هغوی اودریدل او په اوچت آواز ئې درې وارئې اعلان اوکړو، چې ما ستاسو بیعت واپس کړو، یعنی تاسو زما په ځائې څوک بل څوک خلیفه جوړ کړئ، په دې باندې حضرت علی رضی الله عنه اودریدو او وې فرمائیل: نۀ مونږ ستاسو نه بیعت واپس اخلو، او نۀ تاسو ته ددې د واپس کولو وایو، د الله تعالی رسول تۀ وړاندې کړې ئې، نو هغه کوم څیز دې چې هغه تاسو ورسټو کوی؟"

د زید بن علی یو روایت دې، هغوی فرمائی، دوی آباء کرامو نقل کړی دی:

"قام أبوبكر على منبر رسول الله ﷺ فقال هل من كارهٍ فأقيله ثلاثاً يقول ذلك، فعند ذلك يقوم علي بن أبي طالب فيقول: لا! والله لا نقيلك ولا نستقيلك من ذا الذي يؤخّرك وقد قدّمك رسول الله".(۲)

ددې هم تقریباً هغه مضمون دې، کوم چې اوس پورته بیان شو۔

د حضرت علی رضی الله عنه دا اظهار کول چې دې کمزورې نۀ دې، ولې خلافت ددۀ حق نۀ دې: یو بل روایت دې:

"عن قيس بن عباد قال قال علي بن أبي طالب رضی الله عنه والذي خلق الحبة وبرء النسمة لو عهد إلي رسول الله ﷺ عهداً لجاهدتُ عليه ولم أترك ابنَ أبي قحافة يرقى درجةً واحدةً من منبره".

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی، کوم ذات چې دانه رازغونه کړه، او روح ئې پیدا کړو، کۀ رسول الله ما سره د خلافت په حوالې سره څۀ عهد او وعده کړې وه، نو ما به د هغې د پاره جهاد کولو، او ابوبکر به مې د رسول الله ﷺ په منبر باندې یوئې پوړئ ختلو ته نۀ وو پریښودی۔

د کنز العمال یو بل ډیر مفصل روایت دې، چې د هغې نه په مکمله توګه د حضرات خلفاء ثلاثو او د حضرت علی رضی الله عنهم حیثیت واضح کیږی، روایت دادې:

---

(۱) أنساب الأشراف.....أمر السقيفة: ۱۲۵۳.۱

(۲) الرياض النضرة في مناقب العشرة ذكر استقالة أبي بكر من البيعة: ۱۱۲۲.۱

"عن الحَسن قال لما قدم علىٌ البصرة فى أمر طلحة وأصحابه قالم عبد الله بن الكواء وابن عباد فقالا يا أمير المؤمنين أخبرنا عن سيرك هذا أوصية أوصالك بها رسول الله ﷺ أم عهداً عهِدَه عندك، أم رأياً رأيتَه حين تفرقت الأمة واختلفت كلمتها. فقال ما أكون أول كاذب عليه، والله ما مات رسول الله ﷺ موتاً فجاءة، ولا قُتل قتلاً ولقد مكث فى مرضه كل ذلك يأتيه المؤذن فيؤذنه بالصلاة فيقول: مروا أبابكر فليصل بالناس ولقد تركنى وهويرى مكانى ولو عهد إلىّ شيئاً لقمتُ به، فلما قبض رسول الله ﷺ نظر المسلمون فى أمرهم فإذا رسول الله ﷺ قد ولّى أبابكر أمر دينهم فولّوه أمرَ دنياهم فبايعه المسلمون وبايعتُه معهم، وكنتُ أغزو إذا أغزانى وأخذ اذا أعطانى وكنتُ سوطاً بين يديه فى إقامة الحدود. فلو كانت محاباة عند حضور موته لجعلها فى ولده، فاشار لعمر ولم يألُ فبايعه المسلمون وبايعته معهم فكنتُ أغزو إذا أغزانى وأخذ إذا أعطانى وكنتُ سوطاً بين يديه فى إقامة الحدود فلو كانت محاباة عند حضور موتِه لجعلها فى ولده، وكره أن يتخير من معشر قريش رجلاً فيوليه أمر الأمة فلا تكون منه إساءة من بعده إلا لحِقت عمر فى قبره فاختار منّا ستةً أنا فيهم لنختار للأمة رجلاً فلما اجتمعنا وثب عبد الرحمٰن بن عوف فوهب لنا نصيبه منها على أن نعطيه مواثيقَنا على أن يختار من الخمسة رجلاً فيوليه أمرَ الأمة فأعطيناه مواثيقنا فأخذ بيد عثمان فبايعه ولقد عرض فى نفسى عند ذلك، فلما نظرتُ فى أمرى فإذا عهدى قد سبق ببيعتى فبايعت وسلمتُ وكنتُ أغزو إذا أغزانى وأخذ إذا أعطانى، وكنتُ سوطاً بين يديه فى إقامة الحدود، فلما قتل عثمان نظرتُ فى أمرى فإذا الموثقة التى كانت فى عنقى لأبى بكر وعمر قد انحلت وإذا العهد الذى لعثمان قد وفّيت به".(١)

حضرت حسن وائى، كله چې د طلحه او د هغوى د جماعت په معامله كښې حضرت على رضي الله عنه بصرې ته تشريف راوړو، نو عبدالله بن الكواء او ابن عباد د حضرت على رضي الله عنه په خدمت كښې حاضر شو، او وې وئيل تاسو ددې سفر متعلق اووائې، آيا رسول الله ﷺ تاسو ته ددې متعلق وصيت كړې وو؟ يا ددې څۀ عهد او وعده ئې ستاسو نه واخسته، يا دا ستاسو رائې ده، چې امت متفرق كيږي، او د امت خبره ګډه وډه كيږي.

حضرت على رضي الله عنه اووئيل، زۀ په رسول الله ﷺ باندې اول دروغ ويونكې نۀ يم، په خدائې قسم! هغوى ﷺ ته څۀ ناڅاپه مرګ نۀ دې راغلې، او نۀ هغوى چا شهيد كړل، بلكه هغوى ﷺ ناروغه وو، او موذن به راتلو او هغوى ته به ئې د مونځ وئيل، نو هغوى ﷺ به فرمائيل، ابوبكر ته اووائې چې د جمعې مونځ اوكړى، او زما مقام پيژندلو سره رسول الله ﷺ زۀ پريښودم، حال دادې كۀ هغوى ﷺ زما په ذمه څۀ كار لكولې وې، نو زۀ به د هغې د پاره خامخا اودريدم، كله چې د رسول الله ﷺ وصال اوشو، نو مسلمانانو په خپلې معاملې كښې سوچ او فكر اوكړو، نو هغوى اوليدل، چې رسول الله ﷺ دوى ته په يوه دينى مسئله كښې

---

(١) كنز العمال خلافة أبى بكر، رقم: ٧٤٠٦٣، واتحاف الخيرة المرة، كتاب قتال أهل البغى، رقم: ١٣٤٣٦

ابوبکر ذمه وار جوړ کړې ورکړې دې،نو دوی ولې هغوی په خپل دنیوی کار کښې ذمه وار جوړ نۀ کړی،نو دوی ابوبکر خپل خلیفه جوړ کړو،مسلمانانو د ابوبکر په لاس بیعت اوکړو،او ما هم د هغوی سره د ابوبکر په لاس بیعت اوکړو،نو کله چې به هغوی زۀ د جهاد د پاره تیارولم نو زۀ به تیار ووم،او کله چې به هغوی ما ته عطیات وغیره راکول نو ما به قبلول،او زۀ به د ابوبکر په وړاندې په شرعی حدودو مقرر کولو کښې شریك او خلیط ووم،بیا د ابوبکر د وفات په وخت کښې کۀ هغوی د طرفدارئ او اختصاص نه کار اخستلې نو دا خلافت به ئې په خپل اولاد کښې پریښودې وې،ولې هغوی حضرت عمر(رضی اللہ عنہ)ارخ ته اشاره اوکړه،او په دې کښې هغوی څۀ کوتاهی اونۀ کړه۔

بیا مسلمانانو د حضرت عمر(رضی اللہ عنہ)په لاس بیعت اوکړو.او ما هم هغوی سره د حضرت عمر(رضی اللہ عنہ)په لاس بیعت اوکړو، او هغوی چې به کله هم(د امیر المؤمنین په حیثیت)ما ته د جهاد د پاره وئیل نو ما به جهاد کولو،او کله چې به هغوی هدیه او عطیه راکوله نو ما به قبلوله،هغوی سره هم د حدودو په قائمولو کښې شریك پاتې شوم،حضرت عمر رضی اللہ عنہ کۀ د مرګ په وخت کښې اختصاص او طرفداری غوښتلې نو دا(خلافت)به ئې په خپل اولاد کښې ساتلې وو،ولې هغوی دا په قریشو کښې د یو سړی د پاره خوښ نۀ کړو،او دا ئې زمونږ د شپږو کسانو کمیټئ ته ورکړو،دې د پاره چې مونږ د امت د پاره یو سړې خوښ کړو،مونږ عبد الرحمٰن بن عوف ته د یو سړی د منتخب کولو اختیار ورکړو،هغوی حضرت عثمان رضی اللہ عنہ منتخب کړو،او هغوی سره ئې بیعت اوکړو،په دغه وخت کښې ما په خپل زړۀ کښې غور اوکړو،نو ما محسوس کړل چې زما وعدې زما د بیعت نه وړاندې والې کړې دې،نو ما د عثمان سره بیعت اوکړو،بیا چې به کله هغوی ما ته د جهاد د پاره وئیل نو ما به د هغه په ملګرتیا کښې جهاد کولو،او کله چې به هغوی ما ته څۀ راکول نو ما به اخستل،د حدود الله په قائمولو کښې زۀ د دوی هم معاون او وسیله پاتې شوم،او بیا چې کله حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قتل کړې شو،نو ما په خپل زړۀ کښې سوچ اوکړو،او هله زما په زړۀ کښې دا خبره راغله چې د ابوبکر او عمر عهد او وعده خو ما پوره کړه،د عثمان عهد او وعده هم ما ادا کړه،(نو اوس هم زۀ ددې امر حقدار یم)۔

د شیعه ګانو د کتابونو نه ددې تائید: شیعه ګان چې عموماً دا مسئله چیرې نو د حضرت علی رضی اللہ عنہ د ارخ نه د سیدنا ابوبکر په لاس باندې د بیعت کولو په حوالې سره مختلفې خبرې کوی،مثلاً دا چې هغوی مجبوراً او اضطراراً بیعت کړې وو،یا دا چې د فتنې او فساد نه د بچ کیدو او د شر نه د بچ کیدو د پاره هغوی بیعت کړې وو،یا دا چې مسلمانان د انتشار او افتراق نه د بچ کولو د پاره هغوی بیعت کړې وو،یا بیا دا چې هغوی بیعت دې د پاره نۀ وو کړې چې هغوی د ابوبکر نه راضی شوې وو،او هغه ئې د خلافت اهل او د هغوی خلافت ئې برحق ګنړلې وو،بلکه صرف د مصلحت د وجهې نه هغوی سرسری بیعت کړې وو۔

په هرحال کښې هغوی چې کومه توجیه هم کوی،ولې د بیعت د واقع کیدو هغوی اعتراف کوی،او داسې هم څۀ خبره نشته، چې د هغوی د کورنو جوړ کړې شوې تاویلاتو مونږ سره جواب نشته،نا،د هغوی د بې بنیاده شبهاتو او اعتراضاتو مونږ په دلائلو،شواهدو او

تاریخی واقعاتو سره تردید کوو ،ولې په دې وخت کښې د هغې تفصیلاتو ذکر مقصود نۀ دې،صرف د "والفضل ما شهدت به الأعداء" په توګه د هغوی څۀ عبارتونه او اعترافونه مونږ ذکر کول غواړو ،او مولانا محمد نافع صاحب په دې حوالې سره ډیر څۀ جمع کړی دی چې د هغې مطالعه مفید ده۔

د امام محمد باقر په حوالې سره مذکور دی،هغوی فرمائی:

"وأبَوا أن يبايعوا حتى جاءوا بأمير المؤمنين عليه السلام مكرهًا فبايع"۔(۱)

او هغوی(د حضرت علی رضی اللہ عنہ) د بیعت نه انکار اوکړو ،تر دې چې دې خلقو امیر المؤمنین(علی)په زور راوستلو او هغوی بیعت اوکړو(نو هله دې خلقو هم بیعت اوکړو)۔

دویم قول دې: "فلذلك كتم علي عليه السلام أمره وبايع مكرهًا حيث لم يجد أعوانًا"۔(۲)

په دې وجه علی خپله معامله پټه کړه،او د مدد کار نۀ ملاویدو په وجه مجبوراً هغوی بیعت اوکړو۔

د شیعی مجتهد سید مرتضٰی علم الهدی د کتاب الشافی په تلخیص کښې شیخ الطائفه ابو جعفر الطوسی وائی: "ثم مدَّ يدَه فبايعه"۔(۳)

او د امام باقر یو بل قول دې:

"فلما ورد الكتابُ على أسامة انصرف بمَن معه حتى دخل المدينةَ فلما رأى اجتماع الخلقِ على أبي بكر انطلق إلى علي بن أبي طالب فقال ما هذا؟ قال له علي هذا ما ترى، قال أسامةُ فهل بايعتَه؟ فقال: نعم"۔(۴)

یعنی "کله چې اسامه بن زید ته خط اورسیدو نو هغوی د خپلو ملګرو سره مدینې منورې ته راغلل،دلته راتلو سره چې هغوی د ابوبکر په خوا کښې د خلقو جمع اولیده،نو علی رضی اللہ عنہ ته راتلو سره ئې اووئیل،دا ټول څۀ دی؟ علی ورته اووئیل،څۀ چې تۀ وینې،اسامه اووئیل آیا تا بیعت کړې دې؟ علی اووئیل،هاؤ"

مرتضٰی علم الهدٰی دا هم وائی:

"فالظاهر الذي لا إشكال فيه أنه عليه السلام بايع مستدفعًا للشر وفرارًا من الفتنة"۔(۵)

صفا خبره داده،په دې هیڅ اشکال نۀ شی کیدې،چې حضرت علی رضی اللہ عنہ د شر دفع کولو او د فتنې نه د بچ کیدلو د پاره بیعت کړې وو۔

یو بل شیعه مؤرخ لسان الملك مرزا تقی د حضرت علی رضی اللہ عنہ یوه خپله مقوله بیانوی:

---

۱) فروع کافی:۳.۱۱۵،لکهنؤ۱

۲) فروع کافی:۳.۱۱۳۹

۳) کتاب التلخیص للشافی،ص:۱۳۹۸

۴) احتجاج الطبرسی،ص:۱۵۰

۵) کتاب الشافی للسید مرتضٰی،ص:۱۲۰۹

"فمشيتُ عند ذلك إلى أبي بكر فبايعتُه ونهضتُ في تلك الاحداث حتى زاغ الباطل وزهق وكان كلمة الله هي العليا ولو كره الكافرون، فتولى أبوبكر تلك الأمور وسدَّد ويسَّر وقارب واقتصد فصحبته مناصحاً وأطعتُه فيما أطاع الله فيه".(۱)

"په دغه وخت کښې بيا زهٔ د ابوبکر خواه ته لاړم، او د هغوی سره مې بيعت اوکړو، او په دې واقعاتو کښې زهٔ پاسيدم اودريدم، تر دې پورې چې باطل لاړو، او د الله تعالی کلمه اوچته شوه، اګر چې کافران دا نهٔ خوښوی، او ابوبکر ددې امورو ذمه واری واخسته، او هغوی صحيح لار اختيار کړه، آسانئ او حق سره ئې قربت پيدا کړو، او ميانه روی ئې اختيار کړه، نو زهٔ د خيرخواهې د وجهې هغوی سره شوم، او په څهٔ کښې چې هغوی د الله تعالی اطاعت اوکړو، په هغې کښې ما د هغوی فرمانبرداری اوکړه".

په مشهور کتاب نهج البلاغه کښې د حضرت علی رضی الله عنه دا الفاظ دی:

"رضينا عن الله قضاءَه، وسلَّمنا لله أمرَه، أترانى أكذبُ على رسول الله ﷺ، والله لأنا أول من صدَّقه فلا أكون أول مَن كذب عليه فنظرتُ في أمري فإذا طاعتي سبقت بيعتي وإذ الميثاق في عنقي لغيري".(۲)

"د الله تعالی په قضا او قدر باندې مونږ راضی شو، او د الله تعالی امر مونږ اومنلو، آيا تهٔ زما په حقله دا خيال کوې، چې زهٔ به د الله تعالی د رسول خلاف دروغ اووايم؟ حال دادې په خدائې قسم! زهٔ د هغوی ﷺ تصديق کونکې اولنې سړې يم، په دې وجه اوس زهٔ په هغوی ﷺ باندې اول دروغ ويونکې جوړيدل نهٔ غواړم، ما خپلې معاملې ته اوکتل، نو دا مې محسوس کړل، چې ځما طاعت ځما په بيعت باندې مقدم دې، او زما د غير (يعنی د ابوبکر) عهد او وعده زما په غاړه کښې ده".

ددې عبارت نه په صفا توګه معلوميږی، چې حضرت علی رضی الله عنه په رضا او خوشالئ سره د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په لاس بيعت کړې وو، او هغوی په دې باندې د رسول الله ﷺ فرمانونو او د ابوبکر سره د هغوی ﷺ سلوک مجبور کړل، په دې وجه د ابوبکر په لاس بيعت نهٔ کولو سره د هغوی د وينا مطابق د رسول الله ﷺ تکذيب لازم راتلو، ګنې نو ددې څهٔ وجه وه.

يو بل شيعه عالم د حضرت علی رضی الله عنه يوه واقعه ذکر کړې ده، د هغې نه هم دا معامله بالکل واضحيږی، په دې شرط چې د انصاف او ديانت نه کار واخستې شی.

د جنګ جمل نه ورسټو د حضرت علی رضی الله عنه بعضې مخالفين د هغه په مخالفت او مخاصمت باندې پښيمانه کيدو سره هغوی رضی الله عنه ته د معذرت د پاره راغلل، هغوی يو سړې خپل متکلم جوړ کړې وو، کله چې هغه خبره شروع کړه، نو حضرت علی رضی الله عنه هغه چپ کړو او وې وئيل:

".....فبايعتم أبابكر وعدلتم عني فبايعتُ أبابكر كما بايعتموه وكرهتُ أن أشق عصا المسلمين وأن

---

(۱) ناسخ التواريخ: ۳، ۵۳۲\

(۲) نهج البلاغة: ۱، ۸۹\

أفرّق جماعتهم، ثم إن أبابكر جعلها لِعمَر من بعده وأنتم تعلمون أن أولى الناس برسول الله ﷺ وبالناس من بعده فبايعتُ عمرَ كما بايعتُموه فوفيت له ببيعته حتى لما قُتل جعلَني سادسَ ستة فدخلتُ حيث أدخلَني وكرهتُ أن أفرّق جماعة المسلمين وأشقَّ عصاهم فبايعتم عثمان فبايعتُه وأنا جالس في بيتي ثم أتيتموني غيرَ دام لكم ولا مستكرِه لأحد منكم فبايعتموني كما بيعتُم أبابكر وعمرَ وعثمانَ فما جعلكم أحقَّ أن تفوا لأبي بكر وعمر وعثمان ببيعتهم منكم ببيعتي؟ قالوا يا أمير المؤمنين كن كما قال العبد الصالح: لا تثريب عليكم اليوم يغفر الله لكم وهو أرحم الراحمين" فقال كذلك أقول: "يغفر الله لكم وهو أرحم الراحمين".(۱)

تاسو زما نه واوړيدئ، او د ابوبکر په لاس مو بيعت اوکړو، نو ما هم ستاسو په شان د ابوبکر په لاس بيعت اوکړو، او د مسلمانانو همسا(اتفاق)ماتول مې ښه اونه ګڼړل، او د هغوی په جماعت کښې مې افتراق پيدا کول هم مناسب اونه ګڼړل، بيا ابو بکر د خپل ځان نه ورستو هغه حضرت عمر رضی الله عنه ته اوسپارلو، او تاسو په دې پوهيږئ چې زهٔ د رسول الله ﷺ سره د نورو خلقو نه زيات نزدې او اولی ووم، نو ما هم ستاسو په شان د حضرت عمر رضی الله عنه په لاس بيعت اوکړو، او د هغوی بيعت مې پوره کړو، تر دې پورې چې هغوی قتل کړې شو نو هغوی خلافت شپږو کسانو کښې پرېښودو، او زهٔ ئې په هغوی کښې شپږم اوګرځولم، نو څنګه چې هغوی زهٔ داخل کړم هم هغه شان زهٔ داخل شوم، او ما د مسلمانانو جماعت متفرق کول او د هغوی همسا(اتفاق)ماتول مې هم ښه اونه ګڼړل، بيا تاسو د حضرت عثمان رضی الله عنه په لاس بيعت اوکړو، نو ما هم اوکړو، او زهٔ کور ناست ووم بيا تاسو زما خوا ته راغلئ، هيڅ يو کس هم نهٔ ما راغوښتی وئ او نهٔ ما مجبور کړې وئ، بيا تاسو زما په لاس بيعت اوکړو، څنګه چې تاسو د ابوبکر عمر او عثمان په لاس بيعت کړې وو،

اوس تاسو زما د بيعت په مقابله کښې د هغوی د بيعت د پوره کولو زيات حقدار کوم څيز جوړ کړئ، (چې تاسو د هغوی خلاف نهٔ اودريدئ او زما خلاف ولاړ ئې)، هغوی اووئيل امير المؤمنين! څنګه چې يو صالح بنده (سيدنا يوسف عليه السلام) وئيلی وو، "لا تثريب عليكم اليوم يغفر الله لكم وهو أرحم الراحمين" تاسو هم داسې شې، هغوی رضی الله عنهم اووئيل، زهٔ به هم دغه اووايم، "يغفر الله لكم وهو أرحم الراحمين".

د حضرت علی رضی الله عنه او د خلفاء ثلاثهٔ خپل مينځ کښې د اعتماد تعلق وو: په دې روايت کښې په صراحت سره د حضرت علی رضی الله عنه قول ذکر کړې شوې دې، چې هغوی د حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم دري واړو په لاس بيعت اوکړو، او دا بيعت جبری او اضطراری هم نهٔ وو، بلکه د نورو خلقو په شان بيعت وو، لکه څنګه چې د "بايعتُه كما بايعتُموه" د الفاظو نه معلوميږی، بيا دا خبره هم واضحه ده، چې د حضرت علی رضی الله عنه او د نورو

---

(۱) أمالی شيخ طوسی: ۲، ۱۱۲۱

خلفاء ثلاثو په مینځ کښې د اعتماد تعلق وو، لکه څنګه چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ ددې خبرې نه ظاهره ده، چې هغوی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس باندې بیعت اوکړو، او بیا د هغوی د وصیت مطابق د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په لاس ئې بیعت اوکړو، او حضرت عمر رضی اللہ عنہ په شپږ رکنی جماعت کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ نامه هم شامله کړه، او حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ارخ نه سپارلې شوی ذمه واری قبوله کړه، ښکاره خبره ده چې دا ټول د اعتماد او تعاون مظاهره ده، او ددې ټولو اقرار پخپله شیعه ګان کوی، دې سره سره د شیعه ګانو دا وئیل چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ او د خلفاء ثلاثو په مینځ کښې اختلافات او منافرت وو، عصبیت او ښکاره زیاتې دې۔

یو بل شیعه عالم ابو محمد حسن بن موسیٰ توبختی لیکلی دی:

"إن علیًا کان أولی الناس بعد رسول اللہ ﷺ بالناس لِفضلِه وسابقتِه وعلمِه وهو أفضل الناس کلِهم بعده وأشجعهم وأسخاهم وأورعهم وأزهدهم وأجازوا مع ذلك إمامة أبي بکر وعمر وعدُّوهما أهلاً لذلك المکان والمقام وذکروا أن علیًا علیه السلام سلَّم لهما الأمر ورضی بذلك وبایعهما طائعًا غیرَ مکرَه وترك حقه لهما فنحن راضون کما رضی اللہ المسلمین له ولمن بایع لا یحل لنا غیر ذلك ولا یسع منا أحداً إلا ذلك وأن ولایة أبي بکر صارت رشداً وهدًی لِتسلیم علیٍّ ورضاه ولولا رضاه وتسلیمه لکان أبوبکر مخطئًا ضالاً هالکًا"۔(۱)

یعنی: "علی د رسول اللہ ﷺ نه ورسټو د خپل فضیلت او په اسلام کښې د سبقت او اولیت په بناء باندې او د خپل علم په وجه د خلقو د پاره زیات حق لرونکې وو، او د رسول اللہ ﷺ نه ورسټو د ټولو خلقو نه زیات افضل، ډیر بهادر، زیات سخی، ډیر نیك او ډیر زاهد وو، او سره ددې نه خلقو د ابوبکر او د عمر رضی اللہ عنہما امامت جائز اوګرځولو، او دا دواړه ئې د دې مرتبې او مقام اهل اوشمیرل، او دا ئې هم ذکر کړی دی، چې علی دا امر (یعنی خلافت) دې دواړو ته سپارلې وو، او په دې باندې راضی شوې وو، او ددې دواړو په لاس ئې په خوشالئ سره بغیر د څه مجبورئ نه بیعت کړې وو، او خپل حق ئې هغوی ته پریښودې وو، نو مونږ راضی یو لکه څنګه چې الله تعالی د مسلمانانو نه راضی دې، د دوی د پاره او د هغوی د پاره چا چې دوی سره بیعت اوکړو، ددې نه علاوه هیڅ یوه خبره زمونږ د پاره جائز نه ده، او نه زمونږ د پاره ددې نه سوا څه ګنجائش شته، او د ابوبکر ولایت (وحکومت) رشد او هدایت جوړ شوې وو، کله چې علی د هغوی د پاره دا خوښ کړو، او هغوی ته ئې اوسپارلو..... کۀ د علی رضا مندی او هغوی ته د خلافت سپارل نه وو، نو ابوبکر به خطاکار خوئیدونکې او هلاکیدونکې وو"۔

د حضرت علی رضی اللہ عنہ په ژبه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د فضیلت بیان: بیا حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی اللہ عنہم، چا ته چې خلفاء ثلاثه وئیلې شی، او شیعه حضرات د بدقسمتي نه ددې درې واړو د افضیلت، بلکه د مطلق فضیلت نه هم انکار کوی، او د هغوی ګمان دادې

---

(۱) کتاب "فرق الشیعه لابی محمد الحسن بن موسیٰ توبختی من أعلام القرن الثالث للهجرة"۔

چې هم حضرت علی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ بلا فصل خلیفه وو، او دا خیال د حقیقت او تاریخ په حوالې سره خو د واقعې خلاف دې، په دلائلو، شواهدو، اقوال او روایاتو سره هم ددې تردید کیږی، او په نورو الفاظو سره د حضرت علی رضی الله عنه نمبر چې څۀ رنګه واقعتًا څلورم دې، د استحقاق او مرتبې په اعتبار سره هم هغوی څلورم نمبر وو، او ددې بې شمیره شواهد او دلائل دی، چې تقریباً د تواتر معنوی په درجې کښې مشهور دی، لکه څنګه چې د حضرت علی رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په اقتداء کښې د مونځونو د کولو معامله ده،

ابن کثیر په دې سلسله کښې فرمائی: "وهذا حقٌّ فإن علی بن أبي طالب لم یفارِق الصدیق فی وقت من الأوقات ولم ینقطع فی صلاۃ من الصلوات خلفه".(۱)

دویم ځائې کښې وائی:

"وهذا اللائق بعلی رضی الله عنه الذی یدل علیه الآثار من شهودہ معه الصلواتِ وخروجه معه إلی ذی القصة".(۲)

یعنی حق دغه دې چې حضرت علی رضی الله عنه په هیڅ وخت کښې حضرت صدیق پرې نۀ نبودو، او هغوی سره به ئې ټول مونځونه کول، او په ذی القصه کښې د هغوی سره وو، په دې باندې آثار او روایات دلالت کوی، او هم دغه د حضرت علی رضی الله عنه د شان سره مناسب دی، (نۀ دا چې هغه پټ ګرځیدو او یا ئې په ناخوښئ سره بیعت اوکړو)

دا خبره شیعه حضرات هم منی، ملا باقر مجلسی لیکی:

"حضر المسجد وصلی خلف أبي بکر".(۳)

حضرت علی رضی الله عنه مسجد ته لاړو او د ابوبکر په اقتداء کښې ئې مونځ اوکړو.

علی بن إبراهیم القمی وائی: "ثم قام وتهیأ للصلوٰۃ وحضر المسجد ووقف خلف أبي بکر وصلی لنفسه".

یعنی بیا هغه (علی) اودریدو او د مونځ تیاری ئې اوکړه، مسجد ته لاړو، او د ابوبکر په اقتداء کښې اودریدو سره ئې مونځ اوکړو.(۴)

د احتجاج طبرسی عبارت دې: "قام وتهیاء للصلاۃ وحضر المسجد وصلی خلف أبي بکر".

پاسیدو د مونځ تیاری ئې اوکړه، مسجد ته حاضر شو، او د ابوبکر په اقتداء کښې ئې مونځ اوکړو.(۵)

شیخ الطائفه طوسی وائی: "وإن ادّعی صلاۃ مظهر للإقتداء فذاك مسلم لأنه الظاهر".(۶)

---

۱) البدایة والنهایة: ۵، ۱۲۴۹

۲) البدایة والنهایة: ۶، ۱۳۰۲

۳) مرآة العقول شرح الأصول، ص: ۳۸۸، مطبوعه ایران

۴) تفسیر قمی لعلی بن إبراهیم القمی تحت آیت فآت ذا القربٰی حقَّه، ص: ۱۲۹۵

۵) احتجاج طبرسی بحث احتجاج أمیر المؤمنین علی بَن أبی بکر وعمر، ص: ۱۵۳

۶) تلخیص الشافی، ص: ۱۳۵۴

کۀ د اقتداء د ظاهرونکی(نۀ د اقتداء کونکی)د مونځ دعوی اوکړې شی نو دا خو مسلمه ده،ځکه چې هم دغه ظاهره ده۔

یو بل عبارت دې: "وکانت علی علیه السلام یصلی فی المسجد الصلوات الخمس"۔
حضرت علی رضی اللہ عنہ به پنځه واړه مونځونه په مسجد کښې ادا کول(ښکاره خبره ده چې د ابوبکر په اقتداء کښې)[1]

صرف د ظاهری اقتداء دعوی د علی المرتضی د شان سره منافی ده: یقیناً څنګه چې بعضې اهل تشیع د حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په لاس د بیعت او د هغوی په اقتداء کښې د مونځ کولو نه انکار کوی،همدغه شان د بیعت او مونځ اعتراف کونکی بعضې شیعه ګان هم د هغې دا توجیه کوی چې دا بیعت او صلوٰة خلف أبی بکر هم د حضرت علی رضی اللہ عنہ د رضا مندئ او د خلافت صدیقی د منلو دلیل نۀ دې،ځکه چې حضرت علی رضی اللہ عنہ سرسری بیعت کړې وو،او ګویا یَه ظاهره ئې په مونځ کښې د ابوبکر اقتداء اوکړه،ولې په حقیقت کښې داسې هیڅ هم نۀ وو۔

دغه شان دروغ او بې بنیاده او د خندا وړ تاویل کونکی،پته نۀ لګی ولې دا خبره هیروی، چې په دې تاویل سره بې شمیره خدشات او شبهات پیدا کیږی،چې د هغې نه د ځان خلاصولو د پاره بیا په زرګونو حیلې او تکلفات اختیارول پکار وی،او بیا د خپل مذهب د ګنړ شمیر مسلَماتو نه دوی ته لاس وینځل پریوځی،او د زړۀ نه هغۀ ددۀ بیعت ضروری او اقتداء ئې لازم بلکه جائز هم نۀ ګنړله.....نو خلفاء ثلاثو ټوله موده چې تقریبًا ۲۴ کاله جوړیږی،په دې طویله زمانه کښې چې د هغوی(حضرت علی رضی اللہ عنہ)کوم عمل پاتې شو،هغې ته به څۀ نامه ورکولې شی،په دې سره هغوی امت ته څۀ پیغام ورکول غوښتل،او څۀ نمونه ئې پرینښودل غوښتل،او کۀ داسې نۀ وی،بلکه هغه د خپل معاصر صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم سره د اسلام او د مسلمانانو د خاطره ښۀ سلوك اوکړو،او د هغوی ئې قدر او عزت اوکړو،(او حال دادې چې المعاصرة قنطرة المنافرة مشهور دی) نو بیا تاسو شیعه ګانو آخر ولې د خلفاء ثلاثو سره تر قیامته پورې د بُغض او نفرت قسم کړې دې۔

بیا د حضرت علی رضی اللہ عنہ ددې ۲۴ کالو د مونځونو څۀ جوړ شول،آیا هغوی به هر هر مونځ کور ته د تلو نه پس دویم واړې کولو،یا د ابوبکر په اقتداء کښې اودریدو سره به ئې مونځ ځان له کولو؟ او بیا چې هغوی کوم صورت هم اختیار کړې وی،آیا د هغې د جواز او ضرورت څۀ دلیل او حجت هم شته،او آیا د حضرت علی رضی اللہ عنہ په شان زړۀ ور بهادر او اسدالله ویونکی سړی دا قسمه د مصلحت او معذرت بلکه د تملّق ژوند تیرولو،چې کله ئې هم په خپلې ژبې او عمل سره د یو خراب او ظالمانه عمل خلاف هیڅ اظهار هم اونۀ کړو؟ او بیا چې حضرت علی رضی اللہ عنہ داسې قسمه اعمال کول،چې هغه به هغوی د زړۀ نه نۀ کول،او د هغوی عقیده د هغې خلاف وه،نو دهغوی کوم عمل به بیاد اعتماد وړ اود اتباع لائق اوګنړلې شی،اوکوم نه؟

---

[1]) کتاب سلیم بن قیس العامری الهلالی الکوفی،مطبوعه حیدریه نجف أشرف عراق\

د حضرت علی رضی اللہ عنہ او خلفاء ثلاثو خپل مینځ کښې سمکلې تعلق وو: په هر حال کښې د اهل سنت او اهل تشیع د دواړو د کتابونو نه دا خبره ثابته ده، چې حضرت علی کرم الله وجهه به د سیدنا ابوبکر په اقتداء کښې پنځه وخته مونځونه ادا کول، چې د هغې نه دا خبره صفا معلومیږی چې هغوی هم د نورو مسلمانانو په شان د حضرت صدیق حق خلافت قبول کړې وو، او د هغې ئې کامله اتباع کوله۔

دویم دلیل ددې دادې، چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ او د خلفاء ثلاثو په مینځ کښې ډیر سمکلې تعلقات قائم پاتې شوی دی، حضرت علی رضی اللہ عنہ د هغوی معاونت او نصرت، د هغوی په مشاورت او خیر خواهئ، اطاعت او فرمان برداري کښې هیڅ یوه دقیقه هم نه ده ضائع کړې، د طبقات ابن سعد یو روایت دې:

"عن عبدالرحمٰن بن القاسم عن أبیه أن أبابکر الصدّیق کان إذا نزل به أمرٌ یرید فیه مشاورةَ أهل الرأی وأهل الفقه دعا رجالاً من المهاجرین والأنصار ودعا عمرَ وعثمان وعلی وعبدالرحمٰن بن عوف ومعاذ بن جبل وأبیّ بن کعب وزید بن ثابت وکل هٰؤلاء یفتی فی خلاف أبی بکر وإنّما تصیر فتوٰی النّاس إلی هٰؤلاء فمضٰی أبوبکر علی ذلک ثم ولی عمر فکان یدعوهٰؤلاء النفر"۔(۱)

"عبد الرحمٰن بن القاسم د خپل پلار قاسم نه نقل کوی، هغه فرمائی: ابوبکر رضی اللہ عنہ ته چې به کله هم څۀ مشکل راتلو، او هغوی به په هغې کښې د اهل فقهې او اهل الرأی سره مشاوره کول غوښتل، نو د مهاجرینو او انصارو څۀ خلق راغوښتلو سره به ئې عمر، عثمان، علی، عبد الرحمٰن بن عوف، ابی بن کعب، زید بن ثابت رضی اللہ عنہم راوغوښتل، او دې ټولو به د ابوبکر د خلافت په زمانه کښې فتوې ورکولې، او د خلقو د فتوو کار هم په دې خلقو کښې پاتې شوې وو. د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ هم دغه طریقه وه، بیا هغوی خلافت حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته اوسپارلو. هغوی به هم دغه حضرات راغوښتل"۔

یو شیعه مؤرخ هم ددې تاریخی حقیقت په دې الفاظو سره اعتراف کوی:

"وکان مَن یؤخذ عنه الفقه فی أیام أبی بکر، علی بن أبی طالب، وعمر بن الخطاب، ومعاذ بن جبل، وأبی بن کعب، وزید بن ثابت، وعبدالله بن مسعود"۔(۲)

یعنی د ابوبکر د خلافت په زمانه کښې چې به د چا نه فتوٰی اخستلې شوه، په هغوی کښې علی بن أبی طالب، عمر بن الخطاب، معاذ بن جبل، ابی بن کعب، زید بن ثابت، عبد الله بن مسعود (رضی اللہ عنہم) شامل وو۔

یو بل روایت دې، چې هغه محبّ الطبری، ابن کثیر او علی متقی صاحب د کنز العمال وغیره ذکر کړې دې:

---

۱) طبقات ابن سعد: ۱۰۹،۲، باب أهل العلم والفتوٰی من أصحاب رسول الله ﷺ.....

۲) تاریخ یعقوبی از أحمد بن أبی یعقوب بن جعفر العباسی الشیعی: ۱۱۳۸،۲

"عن هِشام بن عُروة عن أبيه عن عائشة قالت: خرج أبي شاهراً سيفه راكباً على راحلتِه إلى ذي القصة فجاء عليّ بن أبي طالب فأخذ بزمام راحلتِه وقال إلى أين يا خليفة رسول الله؟ أقول لك ما قال لك رسول الله ﷺ يوم أحد شم سيفَك ولا تفجعنا بنفسك فو الله لإن أصِبنا بك لا يكون للإسلام بعدك نظام أبداً فرجع وأمطى الجيش".(۱)

حضرت عائشه فرمائی،زما پلار توره د تیکی نه راؤباسله او په سوَرلي کیناستو.او "ذی القصه" ارخ ته روان شو،نو حضرت علی رضی الله عنه راغلو،او د هغوی د سوَرلي واګی ئي اونیسلی او وي وئیل،اي خلیفهٔ رسول الله!تاسو پخپله چرته روان ئي.زهٔ تاسو ته هغه خبره کوم کومه چي د احد په موقع باندي رسول الله ﷺ تاسو ته فرمائیلي وه.تاسو خپله توره په تیکی کښي کیږدئ،او د خپل ځان په حوالي سره مونږ په خفګان کښي مهٔ اچوئ.په الله تعالی قسم!کهٔ مونږ ستاسو د ذات په حقله په څهٔ مصیبت کښي واچولي شو،نو ستاسو نه ورسته به کله هم د اسلام نظام نهٔ وی،(دا اؤریدو سره)ابوبکر واپس شو او لښکر ئي اولیږلو.

په هر حال کښي داسي بي شمیره روایات او تصریحات دی،چي په هغي کښي د حضرت علی رضی الله عنه د ارخ نه د معاونت او مشاورت په ذریعه د خلافت صدیقی د تائید ذکر دي.دي سره سره په جنګونو کښي شرکت،د هغوی په حکم باندي د فتنو ماتول،د فتوی اهتمام او د داسي نورو سرګرمو ذکر دي،چي د هغي نه ددي حضراتو خپل مینځ کښي د معاونت او محبت اندازه کیدي شي.

د حضرت علی رضی الله عنه په ژبه د اصحاب ثلاثو د فضائلو بیان: بیا هم دغه حضرت علی رضی الله عنه دي.چي د هغوی نه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضلیت،د حضرات شیخینو(ابوبکر او عمر)بي شمیره مناقب او فضائل او د أصحاب ثلاثو(ابوبکر،عمر،عثمان رضی الله عنهم) د وړاندي والی او د لوئي شان د اقرار واضح او صریح روایتونه مروی دی.

د طبقات ابن سعد روایت دي:

"عن أبي سريحة سمعتُ عليًا على المنبر ألا إن أبابكر أوّاهٌ منيبٌ ألا إن عمر ناصح لله فنصحه".(۲)

ابو سریحه وائی ما د حضرت علی رضی الله عنه نه په منبر باندي دا وئیل اوریدلی دی، خلقو! واؤرئ! ابوبکر ډیر نرم زړهٔ والا،الله تعالی ارخ ته رجوع کونکي وو،واؤرئ!عمر د الله تعالی د دین خیرخواه وو،نو الله تعالی د هغوی خیر خواهی اوفرمائیله.

هم د طبقات ابن سعد روایت دي: "عبيدالله بن موسى قال أبوعقيل عن رجل قال سُئل علي عن أبي بكر رضی الله عنه وعمر، فقال كانا إمامَي هدى، راشدَين مصلحَين، منجحَين خرجا من الدنيا حميدَين".(۳)

---

۱) رياض النضرة في مناقب العشرة:۱۵،۱۳۰.البدايه والنهاية:۶،۳۱۵.كنز العمال:۳،۱۱۴۲

۲) طبقات ابن سعد:۳،۱۲۱.تذكرة صديق أكبر.....۱

۳) طبقات ابن سعد:۳،۱۱۴۹

یعنی د حضرت علی رضی الله عنه نه د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په حقله پوښتنه اوکړې شوه،نو هغوی جواب ورکړو،چې هغوی دواړه د هدایت امامان وو،دواړه مصلحان وو،دواړه کامیاب او کامران وو،دواړه د دنیا نه اوږی تږی تلې دی۔

د مسند احمد روایت دې،عبد الله بن مُلَیل وائی: "سمعتُ علیًا رضی الله عنه یقول أعطی کلُّ نبی سبعةَ نجباء من أمتِه وأعطی النبی ﷺ أربعةَ عشر نجیباً من أمتِه منهم أبوبکر وعمر رضی الله عنهما"۔(۱)

فرمائی ما د حضرت علی رضی الله عنه نه واؤریدل،هغوی فرمائیل هر نبی ته د هغوی د امت نه وو۷ نجیبان ملاؤ شو،ولې محمد ﷺ ته د هغوی د امت نه څوارلس نجیبان ورکړې شو،چې په هغوی کښې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم دی۔

همدغه شان نور بې شمیره روایات دی،چې د حضرت علی رضی الله عنه نه مروی دی،چې په هغې کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه فضیلت،وړاندې والی،او د خلافت د استحقاق او د نورو محاسنو او مناقبو ذکر دې،په هغې کښې د داسې روایاتو هم کمې نشته،چې د اهل سنت او اهل تشیع هر دواړو په معتبرو کتابونو کښې مونډلې شی،او داسې روایات هم دی،چې هغه شیعه حضراتو نۀ دی نقل کړې،ددې اقوالو نه علاوه حضرت علی رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې په منبرونو باندې په خطباتو کښې د حضرات شیخینو د افضلیت په حوالې سره چې کوم تصریحات کړی دی،هغه خو د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله د قول موافق د متواتر درجې ته رسیدلی دی۔

د شاه صاحب په یو ځائې کښې الفاظ دی:

"از وی (علی المرتضٰی) بطریق تواتر ثابت شده که بر منبر کوفه در وقتِ خلافت می فرموده"۔

په دویم ځائې کښې وائی:

"وأما موقوفه فمنه خیر هذه الأمة أبوبکر ثم عمر۔ متواتر۔ رواه ثمانون نفساً عن علی"۔

په دې وُراتو کښې د محمد بن حنفیه،عبد خیر،وهب خیر(أبو جحیفه)،وهب السوائی،عمرو بن حریث أبو وائل،شقیق بن سلمه،محمد بن عقیل،رافع أبوجعد،شریك بن عبد الله،عبدالله بن مسلمه،نزال بن سبرة،صعصعه بن صوحان وغیره د خپلو خپلو مروياتو سلسلې دی۔

د محمد بن حنفیه حدیث باب: حدیث باب هم د محمد بن حنفیه په روایاتو کښې یو دې،محمد بن حنفیه،د حضرت علی رضی الله عنه په اولاد کښې د حضرت حسن او حضرت حسین نه ورسترو د ټولو نه افضل او غوره دې،د دوی مور(حنفیه)خوله بنت جعفر بن قیس ده،د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه د خلافت کښې قید کړې راوستې شوه،او بیا حضرت علی رضی الله عنه ته ورکړې شوه،هم ددې د خیټې نه محمد پیدا شو،د دوی ولادت د حضرت فاروق اعظم د خلافت ختمیدو نه وړاندې اوشو،او وفات ئې په ۸۱،یا ۸۳ هجرې کښې اوشو،ټول

---

۱) مسند احمد:۱۴۳،۱،سندات علی۱

ژوند د حضرت علی رضی الله عنه سره پاتې شو،ډیر د فضائلو او مناقبو خاوند دې،د خلیفهٔ عبد الملك بن مروان په زمانه کښې د مدینې منورې والی مقرر کړې شوې وو،هم د هغه دا روایت دې،چې په هغې کښې وائی ما د خپل پلار(علی المرتضیٰ)نه پوښتنه اوکړه،د رسول الله ﷺ نه ورسټو د ټولو نه افضل څوك دې ﷺ هغوی اووئیل،ابوبکر اما اووئیل،بیا؟ وې وئیل،عمر اما پوښتنه اوکړه بیا څوك؟ ولې ویره وه چې هغوی به د حضرت عثمان رضی الله عنه نامه واخلی نو ما انداز بدلولو سره اووئیل او بیا تاسو؟ وې وئیل زه خو په مسلمانانو کښې یو سړې یم،او بس!

ددې مضمون ګنړ شمیر روایات د عبد خیر او وهب خیر نه هم مروی دی۔(۱)

د بحث خلاصه: خلاصه داده چې د حضرت صدیق اکبر بلا فصل خلافت او د هغوی افضلیت یو مسلّم او متفقٌ علیه امر دې،حضرت علی رضی الله عنه په زړهٔ او ځان سره د ابوبکر عمر او عثمان رضی الله عنهم خلافت منلې وو،او په هر طریقې سره ئې د هغوی نصرت او معاونت کړې وو،هغوی سره به ئې پنځهٔ وخته مونځونه کول،د هغوی په ملګرتیا کښې به ئې په جهاد کښې برخه اخستله،د هغوی عظمت او فضیلت به ئې بیانولو،د هغوی د توهین کونکو نه ئې د براءت اظهار اوکړو۔

او تر کومې پورې چې ددې خبرې تعلق دې،چې د بلافصل خلافت استحقاق د حضرت علی رضی الله عنه وو،او ابوبکر بیا عمر بیا عثمان د دوی نه خلافت غصب کړې وو،نو دا نهٔ صرف دا چې خلاف واقعه او ناآشنا دروغ او افتراء ده،بلکه دا د حضرت علی رضی الله عنه په شان په بهادر زړهٔ ور سړی باندې الزام او د هغوی د بې ادبئ برابر دی،او د کومو شیعه حضراتو چې دا وینا ده،چې خلافت حق خو د حضرت علی رضی الله عنه وو،ولې هغوی د مصلحت او د مسلمانانو د متحد او مجتمع ساتلو د وجهې نه ددې په حقله څهٔ اونهٔ وئیل،نو هغوی ته سوچ کول پکار دی،چې کهٔ حضرت علی رضی الله عنه خپل حق معاصرو ته معاف کړو،یا د مصلحت د وجهې نه ئې دا راپورته نهٔ کړو،نو تاسو ولې بغیر د څهٔ وجهې نه د هغې ډهنډوره کوئ،او د اُمت په سلفو او اکابرو باندې لعن او طعن کوئ،او د الله تعالیٰ په پاکو بندګانو باندې څټې ورتپئ،آیا تاسو د حضرت علی رضی الله عنه نه زیات د حق خیال ساتونکی یا د هغوی د ذات وفادار ئې.....؟د خپل مقتداء په شان دا مسئله دفن کړئ!!!

د حدیث باب مزید تشریح: محمد بن سوقه عن منذر عن محمد بن علی(محمد بن الحنفیة)په روایت کښې دا الفاظ دی:

"قلتُ لأبي: یا أبتي مَن خَیر الناس بعد رسول الله ﷺ؟ قال أو ما تعلم یا بُنیَّ؟ قلت: لا، قال: أبوبکر!"۔(۲)

---

(۱) اوګورئ:تاریخ ابن خلکان:۱،۴۵۰،أمالی شیخ أبی جعفر الطوسی الشیعی:۱،۷،طبع جدید نجف أشرف عمدة الطالب سید جمال الدین لابن عنبه الشیعی،مجالس المؤمنین،مجلس چهارم قاضی نور الله شوستری شیعی،تحفة الأحباب،ص:۳۲۷،وغیره۔۱

(۲) ذخیرة الحفاظ،رقم:۳۸۹۱۱

او د حسن بن محمد بن الحنفية عن أبيه.....په روايت کښې دا الفاظ دی:

"قال سبحان الله يا بُنَيَّ، أبوبكر". (۱)

او امام احمد د ابوجحيفه روايت نقل کړې دی: "قال لي علي: يا أبا جُحيفة ألا أخبرك بأفضل هذه الأمة بعد نبيِّها؟ قلت بلى. قال: ولم أكن أرى أن أحداً أفضل منه".

حضرت علی رضی الله عنه اووئيل، ابو جحيفه! آيا تا ته ددې امت د نبی نه ورسته د ټولو نه افضل شخصيت اونۀ ښايم؟ ما اووئيل ولې نه! او ځما خيال دا نۀ وو، چې د هغوی (علی رضی الله عنه) نه به څوك غوره وی.

ددې نه ورسته حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائيل:

"أفضل هذه الأمة بعد نبيِّها أبوبكر وبعد أبوبكر عمر رضی الله عنهما".

په دې امت کښې ددې د نبی نه ورسته د ټولو نه غوره ابوبکر او بيا عمر دې.

او په آخر کښې ئې اووئيل: "وبعدهما آخر ثالث لم يسمِّه". (۲)

ددې دواړو نه ورسته دريم يو بل دې، او د هغۀ نامه (حضرت علی رضی الله عنه) وانخسته.

او يو بل روايت دې، د "أبوجحيفة" په طريقې سره ئې اوفرمائيل:

"وإن شئتم أخبرتكم بخير الناس بعد عمر فلا أدري أستحيي أن يذكر نفسه أو شغله الحديث". (۳)

يعنی وې فرمائيل کۀ تاسو اوغواړئ نو د حضرت عمر رضی الله عنه نه ورسته په خلقو کښې د غوره په حقله به تاسو ته اووايم، بيا زۀ پوهه نۀ شوم، چې هغوی د خپل ځان په ذکر کولو شرميدل يا بلې يوئې خبرې دې مشغول کړو.

د حضرت علی رضی الله عنه افضليت صرف د راويانو خپل خيال دې: ددې روایاتو نه معلوميږی، چې "أفضل الأمت او خير الأمت" خو حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وو، او دا يو واضحه او صفا حقيقت وو. څنګه چې د حضرت علی رضی الله عنه د طريقې "أو ما تعلم....." نه معلوميږی، بيا هم محمد بن الحنفية ته په دې حوالې سره شك وو، يا د هغوی خواهش وو، يا د هغوی خيال وو، چې حضرت علی رضی الله عنه افضل دې، په دې وجه هغوی بار بار پوښتنه اوکړه، او يا ئې دا اووئيل، "ولم أكن أرى أحداً أفضل منه" ما د هغوی نه غوره څوك هم نۀ ګڼلو..... او کله ئې د حضرت علی رضی الله عنه د خاموشئ دا توجيه اوکړه، چې هغوی د خپل افضليت په حقله د وئيلو نه شرميدل، دا د محمد بن الحنفيه او ابو جحيفه وغيره خپله رائې او خپل خيال وو، او تر دې حده پورې دا خيال صحيح هم وو. چې د حضرات شيخينو او حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورسته

---

(۱) السنة لأبی عاصم، باب فی ذكر خلافة علی: ۵۷۲.۲

(۲) مسند أحمد مسند علی، رقم: ۸۳۵، وفضائل الصحابة لأحمد، رقم: ۱۴۰۶

(۳) مسند احمد، مسند علی، رقم: ۸۷۹

خو حضرت علی رضی اللہ عنہ افضل الامت وو هم، او د ابو نعیم په یو روایت کښې هم د ابو جحیفه نه دا هم مروی دی:

"ولو شئتُ أن أخبرَكم بالثالث لاخبرتكم ثم نزل مِن على المنبر وهو يقول: عثمان عثمان". (۱)

قوله: وخَشِيتُ أنْ يَقُولَ.....: محمد بن الحنفیه وائی چې بیا ما سره ویره شوه، چې دریمه نامه به هم حضرت علی رضی اللہ عنہ، د خپل ځان په ځائې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ واخلی، او زهٔ د شیخینو نه ورستو د هغوی د نامې اخستلو ته تیار نهٔ ووم، نو ما اووئیل او بیا تاسو؟ د محمد بن سوقه په روایت کښې دا الفاظ دی:

"ثم عَجلتُ للحداثة فقلتُ ثم أنت يا أبتِ؟ فقال: أبوك رجلٌ من المسلمين". (۲)

یعنی په دې موقعه باندې د ماشومو الی په وجه ما د تُندئ نه کار اخستلو سره اووئیل او بیا اې اباجانه تاسو؟ په دې باندې هغوی اووئیل، ستا پلار خو بس په مسلمانانو کښې یو عام سړې دې.

او د حسن محمد په روایت کښې ددې الفاظو زیاتوالې دی: "لی مالهم وعلیٔ ماعلیهم". (۳)

څهٔ چې د عامو مسلمانانو د پاره دی هغه زما د پاره هم دی، او څهٔ چې په هغوی باندې دی هغه په ما باندې دی، یعنی زما څهٔ خصوصیت نشته.

حضرت علی رضی اللہ عنہ خپل ځان ته "رجل من المسلمین" ولې وئیل؟ علماء فرمائی حضرت علی رضی اللہ عنہ چې دا فرمائیلې وو، چې زهٔ یو عام مسلمان یم، دا صرف د تواضع په وجه هغوی وئیلې وو، ځکه چې دا پوښتنه په هغه وخت کښې شوې وه، چې حضرات شیخین خو څهٔ کوئ حضرت عثمان رضی اللہ عنہ هم شهید شوې وو، او په دغه وخت کښې "أفضل الناس" بې شکه حضرت علی رضی اللہ عنہ وو، او حضرت علی رضی اللہ عنہ پخپله په دې خبره پوهیدو. او تر کومې پورې چې د محمد بن الحنفیه دا ویره ده، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ چرته د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نامه وانخلی، نو دا هم ددې وجهې وه، چې هغه (محمد) د ابوبکر او عمر نه ورستو د حضرت علی رضی اللہ عنہ د افضلیت قائل وو، او د حضرت علی رضی اللہ عنہ نه د رسول الله ﷺ او شیخینو نه ورستو په دریم نمبر د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نامه د خپل اعتقاد موافق اوزیدلو ته تیار نهٔ وو.

اوس دا چې د شیخینو نه ورستو د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مرتبه وه، یا د حضرت علی رضی اللہ عنہ. په دې حوالې سرد په روایاتو او اقوالو کښې کافې اضطراب دې.

خیثمه په "فضائل الصحابه" کښې د عبید الله بن أبی الجعد عن أبیه په طریقې سره وائی:

"أن عليًا قال: ألا أخبركم بخير أمتِكم بعد عمر؟ ثم سكتَ، فظننا أنه يعني نفسَه". (۴)

---

۱) حلية الأولياء بشر بن حارث: ۸، ۱۳۵۹

۲) مصنف ابن شيبة ما ذكر فی أبی بكر، رقم: ۸، ۱۳۲۶۰

۳) السنة لابن أبی عاصم، ذكر خلافة علی، رقم: ۷، ۱۱۲۰

۴) مسند أبی يعلى، رقم: ۵۴۰، ومعجم الإسماعيلی، حرف الجيم: ۲، ۵۹۵، فتح الباری: ۷، ۳۳

علی رضی اللہ عنہ اوفرمائیل، چې زهٔ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه ورستو ستاسو د امت د ټولو نه غوره سړی تاسو ته اونهٔ ښایم؟ بیا حضرت علی رضی اللہ عنہ چُپ شو، چې د هغې نه مونږ دا اوګنړله، چې هغه غوره سړی پخپله حضرت علی رضی اللہ عنہ دي۔

په دې وجه هغوی ددې تصریح اونهٔ کړه، او د عبد خیر روایت دادې، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ دا ارشاد د واقعهٔ نهروان نه ورستو یعنی په ۳۸هجرۍ کښې اوفرمائیلو، او ددې حدیث په آخر کښې هغوی دا هم زیاتوالې اوفرمائیلو:

"أحدَثنا أمورا یفعل الله فیها مَا یشاء".(۱)

مونږ څو نوې څیزونه جوړ کړل، د هغې متعلق چې الله تعالی څهٔ غواړی فیصله به کوی۔

ابن عساکر په یوئې ضعیفې طریقې سره دانقل کوی، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ دا هم اوفرمائیل، "إن الثَّالث عثمان" (۲) هغه دریم سړی عثمان دي، او په یوې بلې طریقې سره ابوجحیفه وائی، "فرجَعت الموالی یقولون: کنَی عن عثمان، والعرب تقول: کنی عن نفسه".(۳)

یعنی د دریم سړی یا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه ورستو د افضل الامتَ تصریح خو اونهٔ شوه، هنه د ښودلو وئیلو سره حضرت علی رضی اللہ عنہ چُپ شو، اوس موالیو حضراتو (هغه غیر عرب، آزاد کړې شوې غلام چې علم دین حاصلولو سره د امت مقتداء جوړ شی) عموماً دا وئیلې دی، چې د هغوی اشاره حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ارخ ته وه، عرب (اهل علم) وائی د هغوی اشاره خپل ځان ارخ ته وه، او دا اختلاف هم ددې خبرې دلیل دي، چې هغوی تصریح نهٔ ده فرمائیلې، نهٔ د خپل افضلیت او نهٔ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د افضلیت؟

هسې دا مسئله وړاندې هم تیره شوې ده، چې د ابوبکر او عمر نه ورستو غوره څوک وو، حضرت عثمان رضی اللہ عنہ یا علی رضی اللہ عنہ، او دا هم تیر شوی دی، چې د اهل سنت والجماعت اجماع په دې منعقد شوې ده، چې په خلفاء راشدینو کښې کوم ترتیب د خلافت دي، هم دغه ترتیب د فضلیت هم دي، او په خلافت کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ څلورم نمبر دي، نو په افضلیت کښې به هم د هغوی څلورم نمبر وی۔

قرطبی په دې سلسله کښې په "المفهم" کښې څهٔ فرمائیلې دی د هغې خلاصه داده:

"الفضائل جمع فضیلة، وهی الخصلةُ الجمیلة التی یحصل لصاحِبها بسببها شرفٌ وعلوُّ منزلةٍ إما عند الحق وإما عند الخَلق، والثانی لا عِبرة به إلا أن أوصل إلی الأول، فإذا قلنا فلان فاضل فمعناه أن له منزلةً عند الله وهذا لا توصل إلیه إلا بالنقل عن الرسول، فإذا جاء ذالك عنه إن کان قطعیاً قطعنا به أو ظنّیًا عملنا به، وإذا لم نجد الخبرَ فلا خفاء أنا إذا رأینا مَن أعانه الله علی الخیر ولیس له أسبابُه أنا نرجوا حصول تلكَ المنزلةِ له لما جاء فی الشریعة

---

۱) فضائل الصحابة لأحمد، رقم: ٤٢٢، ومسند أحمد مسند علی، رقم: ١١٠٣٢

۲) فتح الباری: ٧، ١٣٤

۳) معجم ابن المقری: ٢، ٧٣، بحواله "رحماء بینهم"، فتح الباری: ٧، ١٣٤

من ذالك".(۱)

وي فرمائيل "فضائل د فضيلة جمع ده، او دا ښه خصلت ته وئيلي کيږي، چې د هغې په سبب دې خصلت والا ته شرف او لوئي مقام حاصليږي، يا خو د الله تعالى په نيز او يا د مخلوق په نيز.....خو د مخلوق په نيز د شرف تر هغه وخته اعتبار نشته، ترسو پورې چې هغه د الله تعالى په نيز د شرف سره ملاؤ نه شي، مونږ چې کله وايو: "فلان فاضل" (فلانکې فضليت والا) دې، نو ددې معنى دا وي، چې د هغه د الله تعالى په نيز مرتبه ده، او دا مرتبه چې کله چا د پاره ثابتيږي، نو د رسول الله ﷺ نه په نقل سره ثابتيږي، او کله چې د رسول الله ﷺ د اړخ نه نقل کيږي، نو کۀ ددې ثبوت او نقل قطعي وي، نو بيا خو مونږ په قطعيت سره پوهيږو چې دا کار هم داسې دې..... او کۀ ثبوت ظني وي، نو بيا هم په دې باندې عمل کوو، او کله چې مونږ ته څۀ خبر ملاؤ نه شي، او هيڅ خفاء (او شبه) نشته، چې کله مونږ داسې يو سړی ته اوګورو، چې د هغۀ د الله تعالى د اړخ نه د خير په حقله اعانت او مدد کيږي، او الله تعالى هغۀ د پاره د خير اسباب برابروي، نو مونږ هم اميد ساتو، چې دۀ ته به هم هغه فضيلت او لويه مرتبه حاصله وي، ځکه چې په شريعت کښې ددې خبرې ذکر او ثبوت ملاويږي، چې د خير اسباب برابريدل فضليت دې".

بيا ئې اوفرمائيل: او کله چې دا خبره ثابته شوه، نو اوس د اهل سنتو له مخې د ابوبکر افضليت قطعي دې، بيا د هغې نه ورسته د عمر افضليت قطعي دې، بيا ددې نه ورسته اختلاف دې، جمهور خو د عثمان د تقديم او افضليت قائل دي، او د امام مالك نه په دې حوالې سره توقُف منقول دې، او مسئله په هر حال کښې اجتهادي ده، او په دې کښې مستنده خبره داده، چې دا څلور حضرات (ابوبکر، عمر، عثمان، علي) الله تعالى د خپل نبي د خلافت او د هغوی د دين د اقامت د پاره خوښ او منتخب اوفرمائيل، نو په دوی کښې به د مراتبو او فضليت په اعتبار سره هم هغه ترتيب وي، کوم چې په دوی کښې د خلافت په اعتبار سره پاتې شوې دي. والله اعلم.(۲)

۳۶۶۹: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَأَتَى النَّاسُ أَبَا بَكْرٍ، فَقَالُوا أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَبِالنَّاسِ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه

---

(۱) المفهم، باب فضائل أبي بكر.....۱

(۲) فتح الباری: ۹: ۱٤۱

وسلم - وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ، فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ قَالَتْ فَعَاتَبَنِي، وَقَالَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، فَلاَ يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلاَّ مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى فَخِذِي، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - حَتَّى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ، فَتَيَمَّمُوا، فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ فَوَجَدْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ. [ر: ٣٢٧]

٣٤٧٠: (١) حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ ذَكْوَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِي - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلاَ نَصِيفَهُ». تَابَعَهُ جَرِيرٌ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ وَأَبُو مُعَاوِيَةَ وَمُحَاضِرٌ عَنِ الأَعْمَشِ.

رجال الحديث

قُتَيْبَةُ بنُ سَعِيدٍ: دا شيخ الإسلام ابو رجاء قتيبة بن سعيد بن جميل بن طريف الثقفى دي، ددهٔ احوال پهٔ "كتاب الإيمان باب إفشاء السلام مِن الإسلام" كنبي تير شوى دى. (٢)

مَالِكٌ: دا مالك بن انس امام دار الهجرة دي، ددهٔ احوال د "كتاب الإيمان، باب من الدين الفرار من الفتن" لاندي تير شوى دى. (٣)

عَبد الرَّحمَنِ بن القَاسِمِ: دا عبدالرحمٰن بن القاسم بن محمد بن أبى بكر الصديق دي، ددهٔ احوال تير شوى دى. (٤)

عَن أبيه: قاسم بن محمد بن أبى بكر مراد دي، ددهٔ احوال هم تير شوى دى. (٥)

عَائِشَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنهَا: ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضى الله عنها مراد ده.

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه: ١، ٥١٧، فى كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ، باب قول النبى ﷺ "لو كنتُ متخذاً خليلاً"، رقم: ٣٦٦٩، وفى ٢، ٦٤٠، كتاب المغازى، باب مرض النبى ووفاته، رقم: ٤٤٥٤، وباب آخر ما تكلم به النبى ﷺ، رقم: ٤٤٦٣، وفى: كتاب المرضى، باب تمنى المريض الموت، رقم: ٥٦٧٤، وفى: كتاب الدعوات، باب دعاء النبى ﷺ "اللهم الرفيق الأعلىٰ"، رقم: ٦٣٤٨، وفى كتاب الرقاق، باب من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه، رقم: ٦٥٠٩، ومسلم فى صحيحه: ٢، ٢٨٦، كتاب الفضائل، باب فى فضل عائشة رضى الله عنها رقم: ٢٤٤٤، والإمام مالك فى المؤطا: فى الجنائز، باب جامع الجنائز: ١، ٢٣٨، ٢٣٩\

(٢) اوگورئ: كشف البارى: ٢، ١٨٩\

(٣) اوگورئ: كشف البارى: ٢، ١٨٠\

(٤) اوگورئ: صحيح البخارى، كتاب الغسل، باب هل يدخل الجنب يدَه فى الإناء قبل أن يغسلها، رقم (٢٦٣)\

(٥) اوگورئ: فتح البارى: ٩، ١٤١\

د ابوبکر د خاندان برکت ددې حدیث تشریح د بخاری شارحینو په "کتاب التیمم" کښې بیان کړې ده. او هم هغه ددې موقع او محل دې. دلته ددې مقصود د اُسید بن حضیر رضی اللہ عنہ دا خبره او دا جمله ده. "مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ" په دې الفاظو سره د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ چې کوم فضلیت معلومیږی. هغه ښکاره دې. او هم دغه حدیث سره د ترجمة الباب مناسبت دې.

په یو ځائې کښې دا الفاظ دی:

"جَزَاكِ اللهُ خَيْراً، فوالله ما نزل بكِ أمر تكرهينه إلا جعل الله ذٰلكِ لَكِ وللمسلمين فيه خيراً". (۱)

یو بل ځائې کښې داسې راغلې دې:

"جزاكِ اللهُ خيراً فوالله ما نزل بكِ أمر قط إلا جعل الله لكِ منه مخرجاً وجعلَ للمسلمين فيه بركةً". (۲)

الله تعالی دې تاسو ته بهترینه بدله درکړی. په خدائې قسم! په تاسو کله هم څۀ داسې یو مشکل نۀ دې راغلې چې د هغې نه الله تعالی تاسو ته خلاصې او مسلمانانو ته د هغې نه ډیر لوئې خیر نۀ وی ورکړې. د (حجاب) پردې حکم او د تیمم حکم وغیره ارخ ته اشاره ده، د حجاب حکم په حضرت عائشې رضی اللہ عنہا باندې د تور (تهمت) لګیدلو په موقع باندې نازل شوې وو. او د تیمم حکم د هغې د هار ورکیدو په موقع باندې، د دواړو په آخر کښې چې د الله تعالی کومه معامله او فرمائیله، د هغې نه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ فضیلت ثابتیږی.

رجال الحدیث

اٰدَمُ بنُ أبِي اِيَاسٍ: دا آدم بن أبی ایاس ابو الحسن العسقلانی دې، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب المسلم مَن سلِم المسلمون من لسانِه ویدِه" کښې تیر شوی دی. (۳)

شُعبَةُ: دا شعبة بن الحجاج بن الورد العتکی الواسطی البصری دې. ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب المسلم من سلِم المسلمون من لِسانِه ویدِه" کښې تیر شوی دی. (۴)

اَلاعمش: دا ابو محمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی ملقب په اعمش دې، ددۀ تذکره د "کتاب الإیمان، باب ظلم دون ظلم" لاندې تیره شوې ده. (۵)

ذَكْوَانَ دا ابو صالح ذکوان السّمان یا الزیات دې، ددۀ تذکره د "کتاب الإیمان، باب أمور الإیمان" د لاندې شوې ده. (۶)

---

۱) صحیح البخاری، کتاب التیمم، باب اذا لم یجد ماءً ولا تراباً، رقم (۳۳۶)

۲) صحیح البخاری، کتاب فضائل أصحاب النبی، باب فضل عائشة رضی الله عنها، رقم (۳۷۷۳)

۳) اوګورئ کشف الباری: ۱/۶۷۸

۴) اوګورئ کشف الباری: ۱/۶۷۸

۵) اوګورئ کشف الباری: ۲/۱۲۵۱

۶) اوګورئ کشف الباری: ۱/۶۵۸

اَبِی سَعِیدِ الخُدرِیِّ: ابو سعید خدری د رسول الله ﷺ صحابی مراد دی، ددهٔ احوال په "کتاب الإیمان، باب من الدین الفرار من الفتن" کښې تیر شوی دی۔[۱]

د سابقینو اولینو مقام او مرتبه: لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِی.....په بعضې روایاتو کښې ددې ارشاد نبوی د شان ورود ذکر دی، او په هغې کښې دا تصریح ده، چې د حضرت عبد الرحمٰن بن عوف او خالد بن الولید رضی الله عنهما په مینځ کښې څهٔ اختلاف او جهګړه پیدا شوې وه، نو حضرت خالد بن الولید حضرت عبد الرحمٰن بن عوف ته بد رد وئیلی وو، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې زما صحابی ته کنځل مهٔ کوه.....ښکاره خبره ده ددې مطلب دغه وو، چې د فتح مکې نه ورسټو صحابه، دې متقدمین صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته کنځل مهٔ کوی، ځکه صحابه خو دواړه فریقه وو. کهٔ مطلق صحابی مراد وې، نو بیا هغوی ته داسې وئیل پکار وو، چې زما صحابه یو بل ته کنځل مهٔ کوئ، او په دغه صورت کښې به ددې ارشاد مقصود صرف د کنځلو بدوالې بیانول وو، او دلته مقصود د هغه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د لوړ شان او مقام اظهار وو چا ته چې کنځل کړې شوې وو، لهذا خامخا به داسې معنی بیانول پکار وو، چې زما ورسټنی صحابه دې د متقدمینو او سابقینو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم تنقیص نهٔ کوی، ځکه چې د هغوی (سابقینو) لوې مقام دې۔[۲]

د تقی الدین سبکی توجیه او د هغې رَد: شیخ ابن عطا اسکندری چې د شیخ تقی الدین شیخ دې، هغه دا فرمائی چې رسول الله ﷺ ته په څهٔ تجلي کښې وړاندې راتلونکی حالات ښودلې شوې وو. او په هغې کښې هغوی ته هغه افراد ښودلې شوې وو، چې د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم تنقیص او په هغوی باندې تنقید کوی، نو هغوی ﷺ هغه کسانو ته خطاب کولو سره فرمائیلې وو، "لا تسبُّوا أصحابی....." زما صحابؤو ته کنځل مهٔ کوئ، حضرت تهانوی رحمه الله هم په خپلو بعضې ملفوظاتو کښې داسې قسمه خبره ارشاد فرمائیلې ده، د علامه سبکی د شیخ دا خبره صوفیانه ده، او کهٔ دا ثابته اومنلې شی، نو بیا به مطلب دا وی، چې په "أصحابی" کښې ټول صحابه شامل دی، متقدمین هم او متاخرین هم، یعنی د فتح مکې نه ورسټو په اسلام کښې داخلیدونکی هم او وړاندینی هم، او دا خطاب ګویا امت ته کیږی، چې ورسټو راروان دی، د قبیلې "تنزیل المفروض منزلة الموجود" نه، او واقعه داده چې د حدیث تعلق صرف د متقدمینو صحابؤو سره دې، لکه څنګه چې اوس ذکر اوکړې شو، چې خالد بن ولید چې په ورسټو ایمان راوړونکو کښې دې، او هغه متقدم صحابی عبد الرحمٰن بن عوف ته بد رد اووئیل، په دې باندې هغوی ﷺ دا ارشاد اوفرمائیلو او هم دغه شان په صحابؤو کښې ورسټو ایمان راوړونکی ئې خبردار کړل، چې هغوی دا قسمه زیاتې نهٔ کوی،

---

[۱] اوګورئ کشف الباری: ۸۲،۲

[۲] فتح الباری: ۱٤۱،۹

او د متقدمینو صحابؤو په شان کښې څۀ بې ادبی یا ګستاخی نۀ کوی۔[1]

ټول صحابه "په طریقۀ اولی" مراد کیدی شی: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، چې ما بعد الصحابة چې کوم امت دی، هغوی مخاطب ګرځول غلط دی، ځکه چې د حدیث د ورود قیصه ددې تردید کوی، په هر حال کښې کۀ په دې حدیث کښې د "أصحابي" مصداق متقدمین او متاخرین ټول اوګرځولی شی، نو خلاف مقصود او د شان ورود خلاف به شی، او کۀ ددې مخاطب متاخرین صحابه اوګرځولې شی، نو بیا په دې سره به دا خبره خو په صراحت او عبارت سره ثابته شی، چې متاخرین صحابه متقدمینو ته رد بد مۀ وائي، او دا خبره به په "دلالة النص" او په طریقۀ اولی ثابته شی، چې کله یو صحابی ته دا حق نشته، چې هغه د ځان نه غوره صحابی ته بد رد اووائی، نو ورستو یو عام سړی ته دا حق څنګه رسیدې شی، چې هغه د صحابی په شان د ځان نه بې شمیره درجې غوره ته بد رد اووائی۔[2]

خطاب متاخرینو صحابؤ ته دی: **﴿لَوْ أَنَّ أَحَدَكُم.....﴾** په ظاهره خو ددې خطاب تعلق ټولو صحابؤ سره دی، ولې ددې مطلب او مراد په داسې صورت کښې مشکل دی، په دې وجه شارحین فرمائی چې د "أصحابي" نه مخصوص صحابه مراد دی، د "لو أن أحدكم" خطاب هم صرف متاخرینو صحابؤ ته دی، او هغوی ته الله تعالی ارشاد فرمائی چې ستاسو یو ډیر لوئې عمل د دوی (سابقینو) د وړوکی عمل هم مقابل نۀ شی کیدې، او دا بالکل هم هغسې دی، څنګه چې د الله تعالی ارشاد دی: **﴿لا يستوي منكم من أنفق من بعد الفتح وقاتل، أولئك أعظم درجةً من الذين أنفقوا من بعدُ وقاتلُوا.....﴾**[3] یعنی د فتح مکې نه د وړاندې، انفاق او قتال په شان فضیلت د فتح مکې نه ورستو په انفاق او قتال کښې چرته دی؟ اګر چې په صحابیت کښې دواړه برابر وی.....؟

صحابۀ کرام رضي الله عنهم ته د کنځلو او بد رد وئیلو حکم: دویمه مسئله دلته دا د تفصیل او تحقیق وړ ده، چې صحابۀ کرامو ته بد رد وئیلو او د هغوی د ګستاخۍ حکم څۀ دی، نو په دې حوالې سره دا خبره خو متفق علیه ده، چې صحابۀ کرامو ته کنځل کول ډیر لوئې جرم او ګناه کبیره ده، خو ددې سزا به څۀ وی، نو په دې کښې د علماؤ مختلف اقوال دی، بعضې مالکیه خو وائی چې دې به قتلولې شی، او اکثر اهل علم وائی چې هغۀ ته به تعزیراً سزا ورکولې کیږی، او د بعضې شوافعو رائې داده: کۀ شیخینو (ابوبکر او عمر رضي الله عنهما) ته کنځل کوی نو هغه به قتلولې شی، همدغه شان حسنینو (حسن او حسین رضي الله عنهما) ته کنځل کونکې به هم قتلولې شی، علامه تقی الدین سبکی رحمه الله فرمائی، سرور کائنات ﷺ چې چا ته د جنت زیرې ورکړې دی، کۀ څوک د هغوی تکفیر کوی نو هغه کافر دی، همدغه شان کۀ څوک د شیخینو تکفیر

---

[1] فتح الباری، ۱۹،۴۱

[2] فتح الباری: ۱۹،۴۱

[3] سورة الحدید، آیت: ۱۰

کوی نو هغه هم کافر دي؟ځکه چې رسول الله ﷺ هغوی ته د جنت زیرې ورکړې دي،اوس د هغوی د کافر کړځولو مطلب دادي،چې هغه جهنمی دي،او دا د رسول الله ﷺ ښکاره تکذیب دي،او د الله تعالی د رسول تکذیب صریح کفر دي۔(۱)

ایا د صحابهٔ کرامو د ګستاخئ کونکی توبه به قبوله وی؟ :یوه مسئله بیا داده،چې آیا د صحابؤ په شان کښې د ګستاخئ کونکی توبه به قبوله وی یا نه؟بعضې حضرات وائی،چې دداسې حضراتو توبه نهٔ قبلیږی،ددې حضراتو استدلال په دې حدیث سره دي،"**سبُّ الصحابة ذنبٌ لا یغفر**"(۲) صحابؤ ته کنځل داسې ګناه ده،چې نهٔ معاف کیږی۔

علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چې صحابهٔ کرامو ته کنځل کول ډیره لویه ګناه ده،خو دا وئیل چې ددې ګناه معافی نشته،دا صحیح نهٔ دی،ځنګه چې د نورو ګناهونو معافی کیدې شی،همدغه شان ددې ګناه هم معافی کیدې شی،پاتې شو حدیث د"**سبُّ الصحابة ذنبٌ لا یُغفر**"نو دا بې اصله دي ددې څهٔ ثبوت نشته۔

دا خبره د علامه ابن تیمیه رحمه الله مضبوطه ده،چې د شرك په شان ګناه د پیغمبر اسلام د دښمنئ په شان څیزونه الله تعالی په ریښتونې توبې سره معاف کړی دی،او اوس ئې هم معاف کوی.نوصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته کنځل کول خوپه هرحال کښې ددې نه لوئې جرم نهٔ دي(۳)

قوله: أنفقَ مثل أحد: په بعضې احادیثو کښې دې سره د"**کُلَّ یَومٍ**"د الفاظو زیاتوالې دي.حافظ ابن حجر فرمائی،"**وهی زیادةٌ حسنةٌ**"دا یو ښکلې زیاتوالې دي،او د غرض په حاصلولو کښې ډیر معاون او مددګونکې دي۔(۴)

قوله: مُدَّ أحدِهم: یعنی یو غیر صحابی یا متاخرین صحابؤ کهٔ د"اُحد"برابر سرهٔ زر خرچ کړل،نو هغه به د سابقینو صحابهٔ کرامو د مُد برابر هم نهٔ وی،برابره خبره ده کهٔ هغه د هر څیز او د هر جنس نه وی۔

قوله: نَصیف: د رَغِیف په وزن باندې دي،په معنی د"نصف"په شان د عَشیر او"عشر"یا "ثمین و ثُمن"د دواړو یوه معنی ده،(په دې وجه وئیلې شی"عُشر عشیر")او د بعضې حضراتو وینا دده.لکه څنګه چې مُد یوه پیمانه ده،"نصیف"هم یوه مستقل پیمانه ده،چې د مُد نه کمه وی،او مُد په ضمې د میم سره یوه معروفه پیمانه ده،چې د هغې مقدار معلوم او متعین

---

۱) فتح الباری:۹،۴۲،۴۴۱

۲) "امتاع الاسماع تقی الدین المقریزی:۹،۲۰۹،دار الکتب العلمیة."وفی تذکرة الموضوعات لطاهر بن علی هندی قال ابن تیمیه"موضوع":۱،۹۲،وأسنی المطالب فی أحادیث مختلفة المراتب:۱،۱۵۹،ومجموع فتاوی ابن باز،کتاب الاحادیث الضعیفة،رقم:۱۰۷،مجموع الفتاوی لابن تیمیه.....مَن سب الصحابة: ۳،۱۲۹۰

۳) مجموع الفتاوی باب من سبَّ الصحابة هل تقبل توبته:۳،۱۲۹۰

۴) فتح الباری:۹،۱۴۲

دي،او په کتاب الوضوء کښې ذکر شوې دي۔[1]
خطابی فرمائی چې دا په فتحې د میم سره مروی دي،او ددې نه مراد فضل او طول دې، یعنی د صحابۂ کرامو فضیلت او قوت ته نۂ شی رسیدې۔[2]
بیضاوی وائی: "معنی الحدیث لا ینال أحدکم بإنفاق مثلِ أحدٍ ذهباً من الفضل والأجر ما ینالُ أحدُهم بإنفاق مدِّ طعامٍ أو نصیفه، وسبب التفاوت ما یقارن الأفضل من مزید الإخلاص وصدق النیة"۔[3]
یعنی د حدیث معنی داده،چې په تاسو کښې یو سړې د احد د غر برابر په سرو زرو خرچ کولو باندې دومره اجر او ثواب نۂ شی حاصلولې،خومره چې هغه صحابۂ کرامو کښې یو سړې د یو مد یا د هغې د نصف مقدار برابر په طعام خرچ کولو سره حاصلوی،او ددې تفاوت وجه هغه اخلاص او صدق نیت دې،چې هغې سابقینو حضراتو ته حاصل وو۔
حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ فرمائی:
"قلت وأعظم من ذلك فی سبب الأفضلیة عظم موقع ذلك لشدّة الاحتیاج إلیه، وأشار بالأفضلیة بسبب الإنفاق إلی الأفضلیة بسبب القتال کما وقع فی الآیة (مَن أنفَق من قبل الفتح وقاتَل) فإن فیها إشارة إلی موقع السبب الذی ذکرته، وذلك أن الإنفاق والقتال کان قبل فتح مکة عظیماً لشدة الحاجة إلیه وقلّة المعنی به بخلاف ما وقع بعد ذلك، لأن المسلمین کثروا بعد الفتح ودخلَ الناس فی دین الله أفواجاً، فإنه لا یقع ذلك الموقع المتقدم والله أعلم"۔
وې فرمائیل،د خلوص او صدق نیت په وجه سره د سابقینو اوّلینو د عمل د افضل کیدو او د هغوی د اجر او ثواب د زیاتیدو نه علاوه یوه بله خبره هم ده،چې ددې نه لویه خبره ده،او هغه دادې،چې د سابقینو اوّلینو د عمل افضلیت په دې وجه دې،چې هغوی په کومه موقع باندې انفاق او قتال اوکړو،هغه موقع ډیره حساسه،اهمه او لویه وه،او په هغه وخت کښې چې د انفاق کوم ضرورت او حاجت وو هغه ډیر سخت وو،په دې وجه په هغه وخت کښې ډیر لږ څیز خرچ کولو هم ډیر زیات اجر وو۔
بیا ئې اوفرمائیل،په دې روایت کښې خو صرف دومره ذکر دې،چې د ورستنو ډیر زیات انفاق هم د سابقینو د ډیر لږ انفاق برابر نۂ شی کیدې،خو په دې کښې اشاره دې خبرې اړخ ته هم ده،چې ورستنی په دې وجه هم د سابقینو سره برابر نۂ شی کیدې،چې هغوی په تش لاس خپل سر په تلی کښې کیښودو سره قتال اوکړو،او د دین د پاره ئې جانی قربانی ورکړه،ددې د قرآن کریم په آیت (لا یستوی منکم مَن أنفق من قبل الفتح وقاتَل.....) کښې ذکر دې۔

---

[1] باب الوضوء،بالمد،رقم:۱۲۰۱
[2] قال الخطابی بفتح المیم یرید الغایة لا یبلغ هذا فلاناً أی:لا یلحق شاوه ولا یدرک غایتَه،غریب الحدیث:۱،۲۴۸
[3] فتح الباری:۷،۳۴،وعون المعبود:۱۰،۱۸۷۷

ددې مرتبې د تفاوت وجه ښکاره ده،او هغه دا چې د اسلام په ابتداء کښې قتال او انفاق فی سبیل الله څومره مشکل او څومره ضروری وو،دومره ورستو نۀ وو،یعنې کله چې دین اسلام طاقت ور شو،او خلق په دې کښې ډلې ډلې داخل شو،او خرچ کول آسان هم شو،او خرچ کونکی زیات هم شو۔

د"متابعاتو"ذکر: **قوله**: تَابَعَهُ جَرِيرٌ: یعنی د شعبه روایت،د سلیمان الأعمش نه دې لاندې حضراتو متابعت کړې دې۔

①:-جریر ابن عبد الحمیددې،②:-عبد الله بن داؤد بن عامر بن الرّبیع،③:-ابو معاویة بن محمد بن خازم الضریر،او ④:-محاضر په وزن د مجاهد بن المورّع مراد دې۔(۱)

تر کومې پورې چې د جریر تعلق دې،نو د هغۀ نه موصولاً امام مسلم(۲)ابن ماجه(۳)او ابو یعلی(۴)روایت کړی دی۔

او د محاضر د روایت چې تر کومې پورې تعلق دې،نو هغه احمد بن یوسف الضبی عن محاضر.....په طریقې سره"فوائد أبی الفتح الحداد"کښې نقل کړې شوې دې(۵)خو په دې روایت کښې د خالد بن الولید او عبد الرحمٰن بن عوف په ځائې د حضرت خالد او د ابوبکر رضی الله عنهما ذکر دې،او دا صحیح نۀ دی،او صحیح هغه دې کوم چې جریر روایت کړې دې،او د عاصم به أبی صالح په راتلونکی روایت کښې هم ددې ذکر دې۔(۶)

او د عبد الله بن داؤد چې کوم روایت دې،هغه مسدد په خپل مسند کښې ذکر کړې دې،او په هغې کښې دا قیصه نۀ ده ذکر کړې شوې؟همدغه شان ابوداؤد هم ددې د مسدد په طریقې سره تخریج کړې دې۔(۷)

او د معاویه چې کوم روایت دې،هغه امام احمد موصولاً ذکر کړې دې،(۸)امام مسلم ته وهم اوشو.....او امام مسلم د ابوبکر بن شیبه،ابوکریب او یحیٰی بن یحیٰی درې واړو حضراتو نه نقل کړې دې،او دا درې واړه د ابو معاویه نه نقل کوی،خو په هغې کښې د ابوسعید په ځائې د"عن أبی هریرة"ذکر دې(۹)او دا د هغۀ وهم دې،څنګه چې د خلف،ابومسعود او ابو علی

---

۱) عمدة القاری:۱۸۸،۱۶،وفتح الباری:۱٤٤،۹

۲) صحیح مسلم،باب تحریم سبّ الصحابة،رقم:۱۲۲۲

۳) سنن ابن ماجه فصل أهل بدر،رقم:۱۱۶۱

٤) مسند أبی یعلٰی،رقم:۱۱۱۷۱

۵) فتح الباری:۱۳۵،۷

۶) عمدة القاری:۱۸۸،۱۶

۷) سنن أبی داؤد،باب فی النهی عن سبّ الصحابة،رقم ۱٤۶۶۰

۸) مسند احمد،مسند أبی سعید الخدری،رقم:۱۱۱۰۹٤

۹) صحیح مسلم،باب تحریم سبّ الصحابة،رقم:۱۶۶۵۲،۶۶۵۱

جیانی نه په جزم سره منقول دی۔
نووی وائی داسې معلومیږی، چې امام مسلم ته د لیکلو په وخت کښې دا وهم شوې دې، او هغه داسې چې امام مسلم په ابتداء کښې د ابو معاویه د طریقې ذکر کړې دې، بیا دویم نمبر ئې د جریر د حدیث ذکر کړې دې، او هغه ئې د هغې د اسناد او متن سره ذکر کړو، بیا په دریم نمبر ئې د وکیع د حدیث ذکر اوکړو، او په څلورم نمبر ئې د شعبه روایت ذکر کړې دې، ددې دریم او څلورم روایت سند هغوی ذکر نۀ کړو، بلکه وې فرمائیل، "بإسناد جریر و معاویة" اوس خبره داده، کۀ د جریر او ابو معاویه روایت د هغۀ له مخې یو نۀ وې، نو ددې دواړو به ئې په یو ځائې حواله نۀ ورکوله، ځکه چې د وکیع او شعبه روایت خو په اتفاق سره په ابوسعید باندې ختمیږی، نۀ په ابوهریره باندې۔ او مسلم چې د ابومعاویه کوم روایات تخریج کړی دی، دا هغه په ابوهریره باندې ختموی، نو دا بیا عجیبه خبره نۀ ده، چې د وکیع او شعبه د ابوسعید د روایت متعلق هغۀ دا اووائی، چې دا د ابومعاویه په سند سره مروی دې؟
او بیا د امام مسلم شیخ ابوبکر بن أبی شیبه په خپل مسند او مصنّف کښې ددې تخریج د ابو معاویه نه فرمائیلې دې، نو وائی، "عن أبي سعید....."[1] څنګه چې امام احمد هم دغسې وئیلی دی[2]، ددې نه هم معلومیږی، چې د امام مسلم "عن أبي هریرة" وئیل هم وهم دې۔
همدغه شان "المستخرج" کښې د ابونعیم نه منقول دی، چې په هغې کښې عُبید بن غنام د ابوبکر بن أبی شیبه نه روایت کوی، او هم ابو نعیم د احمد، یحیی بن عبد الحمید، او ابو خیثمه او احمد بن جواس نه نقل کوی، او دا ټول د ابو معاویه نه نقل کوی، چې په هغې کښې د "عن أبي سعید" الفاظ دی، او ددې نه ورسټو هغه فرمائی، "أخرجه مسلم عن أبي بکر وأبي کریب ویحیی بن یحیی" دا ددې خبرې دلیل دې، چې وهم پخپله امام مسلم ته نۀ دې شوې بلکه د هغۀ نه لاندې ناقل ته وهم شوې دې، کښې ابونعیم به دا ذکر کړې وو، ددې تائید په یو بل روایت سره هم کیږی۔ او هغه دا چې دار قطنی سره ددې نه چې په "العلل" کښې ئې دا خبره په جزم سره ذکر کړې ده، چې صحیح دادې، چې دا د ابوسعید روایت دې، او سره ددې نه هغوی د شیخینو (بخاری او مسلم) د اوهامو په تلاش کښې ددې روایت ابو معاویه ارخ ته هیڅ اشاره نۀ ده کړې۔ معلومه شوه چې دا د مسلم په اوهامو کښې نه بلکه د هغۀ نه لاندې د بل یو راوی وهم دې۔[3]
ددې روایت تخریج ابو عبید په "غریب الحدیث" کښې هم کړې دې،[4]، همدغه شان جوزقی د

---

[1] مصنف ابن أبی شیبة، باب ما ذکر فی الکف عن أصحاب النبی ﷺ، رقم: ۱۳۳۰۷۱
[2] مسند أحمد، مسند أبی سعید الخدری، رقم: ۱۱۱۰۹٤
[3] فتح الباری: ۱٤۳،۹
[4] غریب الحدیث لابی عبید: ۱۶٤،۲

عبد الله بن هاشم په طريقي سره او خيثمه د سعيد بن يحيىٰ په طريقي سره او اسماعيلي او ابن حبان د علي بن الجعد په طريقي سره دي ټولو د ابومعاويه په طريقي سره روايت کړي دي،او دوی وئيلی دی،"عن أبي سعيد".(۱)

او ابن ماجه هم د امام مسلم د يو شيخ ابوکريب نه نقل کړی دی،او هغه د ابو معاويه نه نقل کولو سره وائی،"عن أبي سعيد"هاؤ د ابن ماجه په بعضي نسخو کښي اختلاف هم دي،نو په بعضي نسخو کښي"عن أبي هريرة"دي،(۲)او په بعضي کښي"عن أبي سعيد"او صحيح هم"عن أبي سعيد"دي،ځکه چې ابن ماجه،جرير وکيع او ابو معاويه جمع کړی دی،او د جرير او وکيع متعلق چا هم نۀ دی وئيلي،چې د دوی روايات د ابو هريره نه دی،بلکه څومره جامعينو او مخرجينو هم چې د دوی د روايا تو تخريج کړي دي،هغه ئي هم د ابو سعيد نه کړي دي،نۀ د ابو هريره نه۔

او دا احتمال هم بعيد دي،چې د ابو معاويه حديث د"أعمش عن أبي صالح عن أبي هريرة.....نه هم وی،او د"عن أبي سعيد"نه هم،ځکه کۀ داسې کيدې شوې،نو کم از کم يوه واړي خو به ئي دا دواړه ابوسعيد او ابوهريره جمع کړی هم وو،په هر حال کښي چې د اکثرو له مخې دا روايت د ابو سعيد نه دي،نو چا چې د ابوهريره ذکر کړي دي،هغه به يقيناً شاذ وی،والله أعلم۔(۳)

۳۴۷۱:(۴) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِسْكِينٍ أَبُو الْحَسَنِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ شَرِيكِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو مُوسَى الأَشْعَرِي أَنَّهُ تَوَضَّأَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ خَرَجَ، فَقُلْتُ لأَلْزَمَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-، وَلأَكُونَنَّ مَعَهُ يَوْمِي هَذَا. قَالَ فَجَاءَ الْمَسْجِدَ، فَسَأَلَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالُوا خَرَجَ وَوَجَّهَ هَا هُنَا، فَخَرَجْتُ عَلَى إِثْرِهِ أَسْأَلُ عَنْهُ، حَتَّى دَخَلَ بِئْرَ أَرِيسٍ، فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ، وَبَابُهَا مِنْ جَرِيدٍ حَتَّى قَضَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَاجَتَهُ، فَتَوَضَّأَ فَقُمْتُ إِلَيْهِ، فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ عَلَى بِئْرِ أَرِيسٍ، وَتَوَسَّطَ قُفَّهَا، وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ وَدَلاَّهُمَا فِي الْبِئْرِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ انْصَرَفْتُ، فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ، فَقُلْتُ لأَكُونَنَّ بَوَّابَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الْيَوْمَ، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ فَدَفَعَ الْبَابَ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ. فَقُلْتُ عَلَى رِسْلِكَ. ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ. فَقَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَأَقْبَلْتُ حَتَّى قُلْتُ لأَبِي بَكْرٍ ادْخُلْ، وَرَسُولُ اللَّهِ

---

(۱) صحيح ابن حبان،ذكر الزجر عن سبّ أصحاب رسول الله،رقم:۷۲۵۵

(۲) سنن ابن ماجه،فضائل الصحابة،رقم:۱۶۱

(۳) فتح الباري:۹،۴۲،۴۳

(۴) الحديث أخرجه البخاري في صحيحه:۱،۵۱۷،كتاب فضائل أصحاب النبي ﷺ،باب قول النبي ﷺ "لو كنتُ متخذاً خليلاً"،رقم:۳۶۷۱،وأبو داؤد في سننه:۲،۲۸۰،كتاب السنة،باب التفضيل،رقم:۴۶۲۹

-صلى الله عليه وسلم- يُبَشِّرُكَ بِالْجَنَّةِ. فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَجَلَسَ عَنْ يَمِينِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَعَهُ فِي الْقُفِّ، وَدَلَّى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ، كَمَا صَنَعَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-، وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ، ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ وَقَدْ تَرَكْتُ أَخِي يَتَوَضَّأُ وَيَلْحَقُنِي، فَقُلْتُ إِنْ يُرِدِ اللَّهُ بِفُلاَنٍ خَيْرًا - يُرِيدُ أَخَاهُ - يَأْتِ بِهِ. فَإِذَا إِنْسَانٌ يُحَرِّكُ الْبَابَ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. فَقُلْتُ عَلَى رِسْلِكَ. ثُمَّ جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقُلْتُ هَذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسْتَأْذِنُ. فَقَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَجِئْتُ فَقُلْتُ ادْخُلْ وَيُبَشِّرُكَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِالْجَنَّةِ. فَدَخَلَ، فَجَلَسَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْقُفِّ عَنْ يَسَارِهِ، وَدَلَّى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ، ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ، فَقُلْتُ إِنْ يُرِدِ اللَّهُ بِفُلاَنٍ خَيْرًا يَأْتِ بِهِ. فَجَاءَ إِنْسَانٌ يُحَرِّكُ الْبَابَ، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ. فَقُلْتُ عَلَى رِسْلِكَ. فَجِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَخْبَرْتُهُ. فَقَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ» فَجِئْتُهُ فَقُلْتُ لَهُ ادْخُلْ وَيُبَشِّرُكَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُكَ. فَدَخَلَ فَوَجَدَ الْقُفَّ قَدْ مُلِئَ، فَجَلَسَ وُجَاهَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ. قَالَ شَرِيكٌ قَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ فَأَوَّلْتُهَا قُبُورَهُمْ. [٣٤٩٠، ٣٤٩٢، ٥٨٦٢، ٦٦٨٤، ٦٨٣٤]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ مسكِينٍ: دا محمد بن مسكين ابن نُميله ابو الحسن اليمامى دي، ددهٔ احوال ذكر شوى دى.[١]

يَحيى بنُ حَسّانَ: دا يحيى بن حسان بن حبان البكرى ابو زكريا التينسى المصرى دي، ددهٔ احوال ذكر شوى دى.[٢]

سُلَيْمَانُ: دا سليمان بن بلال ابو محمد القرشى التيمى المدنى دي، ددهٔ احوال د "كتاب الإيمان، باب أمور الإيمان" لاندې تير شوى دى.[٣]

شَرِيك بْنِ أَبى نَمِرٍ: دا شريك بن عبد الله بن أبى نمر القرشى المدنى دي، ابو نمر ددهٔ نيكهٔ دي، ددهٔ احوال د "كتاب العلم، باب ما جاء فى العلم وقوله تعالىٰ ﴿وقل رَبِّ زِدْنِى عِلْمًا﴾" لاندې تير شوى دى.[٤]

سَعِيد بنِ المُسَيَّبِ: دا امام التابعين سعيد بن المسيب بن حزن بن أبى وهب القرشى المخزومى

---

[١] كتاب الأذان، باب انتظار الناس قيام الإمام العالم.....١

[٢] اوګورئ صحيح البخارى، كتاب الجنائز، باب قول النبى ﷺ "إنا بک محزونون" رقم(١٣٠٣)١

[٣] اوګورئ كشف البارى: ١، ١٦٥٨

[٤] اوګورئ كشف البارى: ٣، ١١٥٦

دي، ددۀ احوال د "كتاب الإيمان، باب مَن قال الإيمان هو العمل لاندې تير شوی دی۔[1]
أبو موسى الاشعری: دا د رسول الله ﷺ مشهور صحابی عبدالله بن قيس الأشعری دي، ددۀ احوال د "كتاب الإيمان، باب أيُّ الإسلام أفضل" لاندې تير شوی دی۔[2]
ددې حديث تخريج امام بخاری په كتاب الفتن كښې د سيعد بن أبی مريم نه هم كړې دي،[3] او امام مسلم په "فضائلو" كښې د محمد بن مسكين، حسن بن علی الحلوانی او ابوبكر ابن اسحاق نه روايت كړې دي۔[4]
د "فقُلتُ" فاعل **ابو موسى الاشعری دي**: دا د حديث د راوی ابو موسى الأشعری قول دي، وړاندې ددۀ نه روايت كونكی راوی په خپلو الفاظو كښې ددۀ د غائب په صيغو سره ذكر اوكړو، نو وې فرمائيل، تَوَضّاء، خَرَجَ او بيا ئې كويا داسې اووئيل، **قال أبو موسى: فَقُلتُ لأُلزِمَنَّ**
قوله: قَالَ فَجَاءَ المَسْجِدَ: دلته بيا د قَالَ فاعل دويم راوی دي، او د جاء فاعل حضرت ابو موسى الأشعری دي، راوی وائی بيا حضرت ابو موسى الأشعری مسجد ته داخل شو۔
قوله: وَوَجَّه هَاهُنَا: دلته د اكثرو علماؤ له مخې وَجَّه په فتح د جيم او تشديده سره دي، او وجّه فعل په معنى د تَوَجَّه دي، يعنى حضور ﷺ دي اړخ ته متوجه شو، او دي اړخ ته لاړو۔
بعضې حضرات وائی، د وَجَّه فعل مفعول مقدر دي، يعنى وجّه نفسَه، خپل ځان ئې دي اړخ ته متوجه كړو،
او يو قول دادي، چې دا په اضافت سره دي، وَوَجْهُ هٰهُنَا په دي صورت كښې وجه د جيم په سكون سره دي، او دا مبتداء دي، چې د هغې خبر مقدر دي، يعنى ووجه هٰهُنَا يا جهة هٰهُنَا مقصودة له دي اړخ ته مخ كول (يعنى تلل) هغوی ﷺ ته مقصود وو، او هغوی ﷺ دي اړخ ته راتلل غوښتل۔[5]
قوله: وَوَجَّه هَاهُنَا: د هغوی نه ورستو او د هغوی د قدمونو په نښو باندې، دا لفظ هم په دوۀ طريقو سره منقول دي، يو خو په كسرې د همزې او سكون الثاء المثلثة او دويم بفتح الهمزة والثاء المثلثة .....[6]

---

[1] اوګورئ: كشف البارى: ١١٥٩،٢
[2] اوګورئ: كشف البارى: ١٦٩٠،١
[3] صحيح البخارى، كتاب الفتن، باب الفتنة التى تموج كموج البحر، رقم: ١٦٥٦٨
[4] صحيح مسلم، باب فضائل عثمان، رقم: ٦٤٠٣، روقم: ١٤٤٧٧
[5] فتح البارى: ٤٠٩، وتحفة البارى: ١٩٧،٤، وإرشاد السارى: ١١٦٦،٨
[6] إرشاد السارى: ١١٦٦،٨

قوله: حَتَّى دَخَلَ: په ظاهره دا د خَرَجتُ او أسال وغیره غایة ده، حال دادي چې دا صحیح نه معلومیږی، ځکه چې خروج او سوال د راوی فعل دي، او دخول د رسول الله ﷺ فعل دي، په دي وجه دلته یو مقدر لفظ راؤباسلې شی، "حتى وجدتُه دَخَلَ" تردي پورې چې ما رسول الله ﷺ داخلیدونکې اولیدو، یعنی د خروج غایة ده، "وجدان".

بئرِ أريسٍ څهٔ څیز دي؟: "أريس" بفتح الهمزة وكسر الراء د باغ نوم دي، یعنی د "اریس" نومې باغ کوهې، "أريس" په قول د علامه قسطلانی منصرف دي، او په دې باندې ابن مالك هم په صراحت سره تنبیه کړې ده، او حافظ ابن حجر فرمائی، "يجوز فيه الصَّرف وعدمُه" دا منصرف او غیر منصرف دواړه طریقو سره لوستلې شی، اریس په مدینه کښې د قباء سره نزدې واقع د یو باغ نوم دي، په دې باغ کښې د حضرت عثمان رضی الله عنه د لاس نه د رسول الله ﷺ ګوتمه (خاتم) غورځیدلې وه.(۱)

قوله: تَوَسَّطَ قُفَّهَا: قُف بضم القاف وتشدید الفاء د کوهی غاړې ته وئیلې کیږی، ددې جمع قفاف ده، اوچتې زمکې ته هم وئیلې شی، معنی داده، چې رسول الله ﷺ راغې او د کوهی په غاړه باندې کیناستو.

په صحیح مسلم کښې د عثمان بن غیاث په روایت کښې دا الفاظ دی:

بينا رسول الله ﷺ في حائطٍ من حوائطِ المدينةِ وهو مُتَّكِئٌ ينكُتُ بعودٍ معه بين الماء والطين.(۲)

یعنی رسول الله ﷺ د مدینې د باغونه نه په یو باغ کښې وو، او تکیه ئې لګولې وه، او په یو ډکی (وړوکی لرګی) سره ئې اوبۀ او خټه کنستل.

ایا رسول الله ﷺ ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه پهره دار جوړ کړو؟: لأكُونَنَّ بَوَّابَ.....په بعضې نسخو کښې بوّاب رسول الله ﷺ راغلی دی، او په بعضې کښې د بَوَّاباً لِلنَّبِيِّ الفاظ راغلی دی، دلته په ظاهره خو دا معلومیږی، چې دا کار ابوموسیٰ پخپله اوکړو، او رسول الله ﷺ دې د پاره هغۀ ته نۀ وو وئیلې، او امام بخاری په کتاب الأدب کښې د محمد بن جعفر په روایت کښې او کتاب الفتن کښې ددې تصریح کړې ده، او دا الفاظ ئې ذکر کړی دی، "ولم يأمرني" یعنی هغوی ﷺ ما ته ددې حکم نۀ وو کړې.(۳)

او دلته وړاندې په مناقب عثمان کښې د سلیمان بن حرب په روایت کښې دا الفاظ راغلی دی، "وأمرني بحفظ باب الحائط"(۴) همدغه شان د عبد الرحمٰن بن حرمله په روایت کښې "یاأبا

---

۱) إرشاد الساری: ۱۶۶.۸، وفتح الباری: ۱٤٤.۹

۲) اوګورئ: فتح الباری: ۱٤٤.۹

۳) کتاب الفتن، صحیح البخاری، رقم (۷۰۹۷)

۴) اوګورئ: باب مناقب عثمان، رقم (۳۶۹۵)

موسٰی أملك علی الباب" الفاظ دی۔[1]

همدغه شان په کتاب اخبار الاحاد کښې هم د "وأمرنی بحفظ الباب" تصریح ده،[2] د ترمذی په روایت د أبی عثمان عن أبی موسٰی کښې خو تر دې پورې تصریح ده، "أملك علی الباب فلا یدخلن علیّ أحدٌ"۔[3]

اوس چې دا کوم تضاد او تعارض دې، چې د چرته نه معلومیږی چې رسول الله ﷺ هغهٔ ته حکم کړې وو، او د چرته نه معلومیږی چې حکم ئې نهٔ وو کړې هغوی ﷺ حکم نهٔ وو کړې، بلکه پخپله ابو موسٰی پهره داری شروع کړې وه، ددې د رفع کولو د پاره شارحینو مختلف توجیهات بیان کړی دی۔

د جمع او تطبیق یو صورت خو دادې، چې چرته د ابو موسٰی په حوالې سره دا تصریح منقول ده، چې ما پخپله دا عمل شروع کړې وو، او رسول الله ﷺ ما ته حکم نهٔ وو کړې، یعنی دا د هغهٔ د زړهٔ خبره او بس یو حدیث النفس دې..... بیا اتفاقاً رسول الله ﷺ هغهٔ ته ددې حکم اوکړو، نو بیا هغهٔ ددې هم ذکر اوکړو، او وې وئیل چې رسول الله ﷺ ما ته ددې حکم کړې وو، یعنی دا نفی او اثبات دوؤ مختلفو واقعاتو سره تعلق لری۔

همدغه شان د "لم یأمرنی" جملې دا هم مطلب کیدې شی، چې ما ته د پهره دارئ کولو او ددې د جاری ساتلو حکم هغوی ﷺ نهٔ وو کړې، بلکه په عارضی توګه د لږ خیال ساتلو ئې فرمائیلې وو، او بیا ابو موسٰی رضی الله عنه پخپله مرضئ او د خپل اړخ نه دا جاری ساتلې وه، دا توجیه د امام نووی ده۔[4]

او تر کومې پورې چې د حضرت انس رضی الله عنه د قول "لم یکُن له بَوّابٌ" تعلق دې، نو هغې سره هم د حدیث باب څهٔ تعارض نشته، ځکه چې حضرت انس رضی الله عنه د خبرې مطلب دادې، چې د هغوی ﷺ مستقل څوک دربانچی او مقرر محافظ نهٔ وو، دلته عارضی او په وختی توګه باندې د چا په ګیټ باندې د اودریدو ذکر دې، چې د څهٔ مصلحت له مخې کیدې شی، او دا د هغې منافی نهٔ دې۔[5]

د ابن التین استدلال او د هغې رَد: ابن التین فرمائی، "فیه أن المرء یکون بوّابًا للإمام وان لم یأمُرهُ" یعنی ددې روایت نه دا هم معلومیږی، چې یو سړې د امام د حکم نه بغیر هغهٔ دربانچی او پهره دار جوړیدې شی۔

---

[1] فتح الباری: ۱٤٤،۹

[2] صحیح البخاری، کتاب أخبار الاحاد، رقم (۷۲۶۲)

[3] فتح الباری: ۱٤٥،۹

[4] فتح الباری: ۱٤٥،۹، إرشاد الساری: ۱۶۶،۸، تحفة الباری: ۱۱۹۷،٤

[5] فتح الباری: ۱٤٥،۹

حافظ ابن حجر دا پورتنئ توجیه--چې په هغې کښې اووئیلې شو چې ابو موسیٰ اول د پهره دارئ عمل پخپله شروع کړې وو ،ولې بیا اتفاقًا نبی علیه السلام هم هغۀ ته ددې حکم اوکړو ،--نه ورسته اوفرمائیل،"فبطل أن يُستدل به لما قاله ابن التين"لهذا په دې د ابن التین په وئیلې شوې خبرې باندې استدلال کول صحیح نۀ دی،بلکه باطل دی۔[1]

قوله: فَجَاءَ أَبُوبَكْرٍ فَدَفَعَ البَابَ: ای مستأذناً فی الدخول یعنی دروازه ئې اوټکوله یا دننه د راتلو اجازت ئې اخستلو۔[2]

په بعضې روایاتو کښې داسې دی،"فجاء رجلٌ يستأذِنُ"یعنی یو سړې راغې چې اجازت ئې غوښتلو۔[3]

قوله: يُبَشِّرُكَ بِالْجَنَّةِ: په بعضې روایاتو کښې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ارخ ته د"فحمد الله"نسبت هم منقول دې،چې هغۀ د شکر په توګه د الله تعالی تعریف اوکړو۔[4]

د ابوبکر رسول الله ﷺ سره یو شان والې اختیارول: وَدَلَّى رِجلَيهِ.....یعنی هم هغه څۀ حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم اوکړل،څۀ چې رسول الله ﷺ کړې وو ،چې د هغوی ﷺ په شان خپې ئې کوهی ته ځوړندې کړې،او پنډئ ئې کلاؤ کړې،نو ددې توجیه کولو سره علامه قسطلانی فرمائی:

"موافقةً له علیه السلام،ولیکونَ أبلغَ فی بقائِه علیه السلام علی حالتِه وراحتِه بخلاف ما إذا لم یفعل ذلك فربّما استحیاء منه فیرفع رجلیه الشریفتین"۔[5]

یعنی ابوبکر رضی الله عنه دا عمل یو خو په دې وجه اختیار کړو ،چې رسول الله ﷺ سره د موافقت او یو شان والی سعادت ما ته حاصل شی،او دویم په دې وجه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه داسې نۀ کولې،نو کیدې شی چې رسول الله ﷺ هم د حیاء د وجهې خپلې خپې مبارکې پورته کړې وې،او په دې کښې به رسول الله ﷺ ته تکلیف وو ،په دې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغوی ﷺ د راحت د پاره او هغوی ﷺ په خپل بې تکلفه حالت باندې د باقی ساتلو د پاره پخپله هم هغه شکل اختیار کړو ،دې د پاره چې هغوی ﷺ ته د خپل حالت بدلولو څۀ داعی پاتې نۀ شی،دا د عشق او محبت یو اعلی مثال دې۔

قوله: وَقَدْ تَرَكْتُ أَخِي: د حضرت ابو موسیٰ اشعری دوه وروڼه وو ،ابو رهم او ابو برده،او د یو قول مطابق ددۀ یو بل ورور هم وو ،چې د هغۀ نامه محمد وه،په هر حال ددۀ په وروڼو

---

[1] فتح الباری:۹،۴۵\
[2] إرشاد الساری:۸،۱۶۶\
[3] فتح الباری:۹،۴۵\
[4] فتح الباری:۹،۴۵،وصحیح البخاری،رقم(۳۶۹۳)\
[5] إرشاد الساری:۸،۱۶۷\

کښې مشهور هم دغه ابو برده وو، او د هغۀ نامه عامر وه، او د دۀ نه امام محمد رحمه الله په خپل مسند کښې روایت هم نقل کړی دی۔[1] حضرت ابو موسیٰ فرمائی چې ما هغه په دې حال کښې پریښودې وو، چې هغۀ اودس کولو نه پس ما سره ملاویدو له راتلونکې وو، اوس چې کله به هم دروازې ته څوک راغلل، نو ما به په زړۀ کښې وئیل کۀ الله تعالیٰ د هغۀ په حقله د خیر اراده کړې وی نو دا به هم هغه وی، ولې هر واړې ما د هغۀ په حقله سوچ کولو او راتلونکې به بل څوک وو۔

د ابن التین یو غلط استدلال او د هغې رد: فَإِذَا إِنسَانٌ يُحَرِّكُ الْبَابَ.....دلته هم ابن التین فرمائی، معلومیږی د راتلونکو دا عمل د الله تعالیٰ ددې ارشاد (لا تدخلوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا) د نزول نه وړاندې وو، خو ابن حجر رحمه الله ما أبعدَ ما قال وئیلو سره دا احتمال ډیر مستبعد او بې ځایه ګرځولو سره رد کړو او وې فرمائیل، د عبدالرحمٰن بن حرمله په روایت کښې داسې راغلی دی، "فجاء رجل فأستاذن" یو سړې راغې او اجازت ئې غوښتلو، او په مناقب عمر کښې د ابو عثمان النهدی عن ابو موسیٰ په طریقې سره داسې منقول دی، "فجاء رجلٌ فاستفتح" یو سړې راتلو سره د دروازې د بیرته کولو اووئیل، ددې ټولو طریقو نه معلومیږی، چې د "يُحَرِّكُ الْبَابَ" معنیٰ دا نۀ ده، چې هغوی پخپله دروازه بیرته کول غوښتل، بلکه معنیٰ داده، چې هغوی د اجازت طلب کولو په توګه دروازه بیرته کول اوغوښتل، یا د بیرته کولو عریضه ئې اوکړه، نو دا د قرآن کریم د هدایت (حتّٰی تَسْتَأْنِسُوا) سره منافی نه بلکه په هغې باندې عمل دې۔[2]

د ابو عثمان په روایت کښې حضرت ابوبکر، حضرت عمر، او حضرت عثمان رضی الله عنهم درې واړو ارخ ته د فحمد الله نسبت دې۔[3]

قوله: فَجَلَسَ وجَاهَه: وُجاه بضم الواؤ وکسر الواؤ دواړه قسمه منقول دې، یعنی وړاندې او مخامخ۔

د حضرت عثمان رضی الله عنه د صبر دعا: عَلَىٰ بَلْوَىٰ تُصِيبُهُ.....د ابو عثمان په روایت کښې دا الفاظ دی، "فحمد الله ثم قال: الله المُستعان"[4] او د امام احمد په یو روایت کښې دا الفاظ دی، "فجعل يقول: اللّٰهمَّ صبراً، حتى جَلَس"[5] یعنی حضرت عثمان رضی الله عنه دا اوریدو سره دا وئیل شروع کړل،

---

[1] فتح الباری: ۱۴۵،۹

[2] فتح الباری: ۱۴۵،۹

[3] إرشاد الساری: ۱۱۶۷،۸

[4] صحیح البخاری، مناقب عمر بن الخطاب، رقم: ۳۴۱۷

[5] مسند احمد، حدیث أبی موسیٰ الأشعری، رقم: ۱۱۹۵۲۷

اې الله اصبر راکړې، تر دې پورې چې هغه کیناستو۔

او د عبد الرحمن بن حرمله په روایت کښې دا الفاظ دی، "فَدَخَلَ وهو يحمدُ الله ويقول: اللهُمَّ صبراً"(۱) کوبا په دې کښې وړاندینی دواړه روایتونه جمع کړې شو، چې هغه د الله تعالی حمد هم ادا کړو، او د صبر دعا ئې هم کوله۔

مختلفو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ارخ ته ددې واقعې نسبت: او بیهقی د حضرت زید بن ارقم روایت نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ داسې دی:

"بَعَثَنِي النبی ﷺ فقال: انطلق حتى تأتي أبابكر فقُل له: إن النبی ﷺ يقرء عليك السلام ويقول لك: أبشر بالجنّة، ثم انطلق إلى عمرَ كذلك، ثم انطلق إلى عثمانَ كذلك، وزاد بعد بلاء شديد. قال فانطلق فذكر أنه وجدهم على الصفة التي قال له: وقال أين نَبِيُّ الله؟ قلتُ في مكان كذا وكذا، فانطلق، إليه وقال لي عثمان فأخذ بيدي حتى أتينا رسولَ الله فقال: يا رسولَ الله! إن زيداً قال لي كذا. والذي بعثك بالحق ما تغنيتُ وما تمنيتُ ولا مسستُ ذكري بيميني منذ بايعتُك فأنّى بلاء يصيبُني؟ قال هو ذاك".(۲)

د الله تعالی رسول ما ته دا وئیلو سره اولیږلم، چې لاړ شه ابوبکر ته اووایه، رسول الله ﷺ تا ته سلام وائی، او بیا وائی چې د جنت خوشخبری قبوله کړه، بیا همدغه شان لاړ شه عمر ته اووایه، بیا عثمان ته تلو سره هم دغسې اووایه..... هنه! په دې روایت کښې ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه په حقله څهٔ نور الفاظ هم اوفرمائیل او هغه د، "بعد بلاء شديد" الفاظ وو، یعنی د جنت زیرې خو د حضرت عثمان رضی الله عنه د پاره هم دې، ولې د سخت امتحان او مصیبت نه ورستو..... حضرت زید فرمائی، ما هم دغسې اوکړل، چې ابوبکر ته تلو سره مې سلام او زیرې ورکړو، بیا عمر او بیا عثمان ته، او هغوی د رسول الله ﷺ په حقله پوښتنه اوکړه، نو ما اووئیل، فلانکی ځائې کښې تشریف فرما دی، بیا هغوی هم رسول الله ﷺ ته راغلل..... نو د حضرت عثمان رضی الله عنه په حقله هغه فرمائی، چې هغوی زما لاس اونیولو او مونږ رسول الله ته راغلو، او راتلو سره هغوی اووئیل، زید ما ته داسې وئیلې دی، او ما خو تاسو سره د بیعت کولو نه ورستو نهٔ سندره وئیلې ده، نهٔ مې تمنا کړې ده، او نهٔ مې په سم لاس باندې شرمګاه (ذکر) ته ګوتې وروړلی دی، نو بیا دا څنګه مصیبت به ما ته رسیږی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل، خبره خو دغه ده (چې تا ته به مصیبت رسیږی)۔

بیهقی وائی چې ددې روایت سند خو ضعیف دې، بیا هم د صحیح کیدو په صورت کښې ددې توجیه او د حضرت ابو موسی د واقعې سره ددې تطبیق داسې کیدې شی، چې د حضرت ابو موسی نه وړاندې رسول الله ﷺ زید بن ارقم په دې حضراتو کښې یو یو پسې

---

(۱) مسند الرویانی، رقم: ۵۲۷، مؤسسة الرسالة القاهرة۱

(۲) هکذا فی المعجم الأوسط للطبرانی، رقم: ۸۶۸، ودلائل النبوة للبیهقی، باب ما جاء فی إخبار النبی بالبلوی التی أصابت عثمان: ۶، ۳۹۰، دار الکتب العلمیة۱

لیږلي وی، بیا چې کله هغه راغې، نو تر دې وخته پورې ابو موسی هم راغلې وو، او بیا دوی سره په نمبر نمبر د حضرت ابو موسی په ژبه باندې د رسول الله ﷺ د اړخ نه هم دغه مراسلت او مخاطبت شوی وی، او په دې شان سره دا واقعه پوه وی۔

حافظ ابن حجر عسقلانی فرمائی، چې د حضرت ابو موسی رضی الله عنه ددې قیصې په شان قیصه حضرت بلال رضی الله عنه سره هم واقع شوې ده، لکه څنګه چې ابو داؤد، د اسماعیل بن جعفر عن محمد بن عمرو أبی سلمة عن نافع بن عبد الحارث الخزاعی..... په طریقې سره نقل کوی. او فرمائي، "دخل رسول الله ﷺ حائطاً من حوائط المدینة فقال لبلال: أمسك علی الباب، فجاء أبوبکر یستأذن" بیا هم هغه واقعه ده کومه چې د ابو موسی اشعری رضی الله عنه په روایت کښې ذکر شوې ده. همدغه شان طبرانی په الأوسط کښې د ابو سعید په حوالې سره همدغه شان قیصه ذکر کړې ده۔[1]

حافظ ابن حجر فرمائی "وهذا إن صح حُمل علی التعدُّدِ" یعنی که ددې (واقعې) صحت ثابت شی، نو دا بیا متعدد واقعې دی، چې ابو موسی رضی الله عنه سره هم دا واقعه شوې ده، زید بن ارقم سره هم، او حضرت ابو سعید سره هم، بیا فرمائی: "ثم ظهرلی أن فیه وهما من بعض رُواته فقد أخرجه أحمد عن یزید بن هارون عن محمد بن عمرو، وفی حدیثه أن نافع بن عبد الحارث هو الذی کان یستأذن وهو وهم أیضاً"۔[2]

یعنی ددې نه ورسټو ما ته په دې روایت کښې د بعضې راویانو د اړخ نه د وهم اندازه اوشوه. ددې وهم وضاحت کولو سره هغه فرمائی، احمد د یزید بن هارون عن محمد بن عمرو په طریقې سره ددې حدیث تخریج کړې دې، او د هغۀ په روایت کښې دادی، چې نافع بن عبد الحارث هم هغه نسړې دې. چا چې اجازت طلب کړې وو، او ظاهره ده چې دا هم وهم دې، او هغه داسې چې هم احمد دموسی بن عقبه، عن أبی سلمة، عن نافع..... په طریقې سره حدیث روایت کړې دې، او په دې کښې دا الفاظ دی: "فجاء أبوبکر فاستأذن فقال لأبی موسی فیما أعلم أئذن له"[3]. په دې کښې اجازت طلب کونکی ابوبکر ښودلی شوې دې، او د رسول الله ﷺ د اړخ نه اجازت ورکونکی ابوموسی رضی الله عنه وو، او نسائی هم د ابو الزناد عن أبی سلمة عن نافع بن عبد الحارث..... په طریقې سره دا روایت نقل کړې دې، چې په هغې کښې نافع بن عبد الحارث بیا هم د ابو موسی نه روایت کوي، او هم دغه صحیح دې، ددې نه علاوه چې کوم روایتونه دی، هغه د راوی په وهم باندې مبنی دی، ددې تفصیل نه ورسټو واضحه شوې ده، چې قیصه هم یوه ده. نۀ چې متعدد، او په دې کښې د نبی علیه السلام سره ابوموسی وو، او

---

[1]) المعجم الأوسط للطبرانی، رقم ۱۳۹۸۸

[2]) فتح الباری: ۱۴۶/۹

[3]) مسند احمد، مسند عبدالله بن عمرو، رقم: ۶۵۴۸، ولم اجد فیه زیادة لفظ "فقال لابی موسی.....

اجازت طلب کونکې پرله پسې ابوبکر عمر او عشمان رضی اللہ عنہم وو۔

د "بلوی" نه څهٔ مراد دي؟ د حضرت عشمان رضی اللہ عنہ په حوالې سره چې دلته د کومې "بَلوی" ذکر دې، ددې نه مراد هغه فتنهٔ ده کومه چې د هغهٔ د خلافت په آخر کښې خوره شوې وه، چې هم په هغې کښې د دوی شهادت هم واقع شوې وو، او دلته خو صرف د رسول الله ﷺ نه اشاره منقول ده، او په بل ځائې کښې ددې صراحت راغلې دې، احمد د کلیب بن وائل عن ابن عمر په طریقې سره نقل کړی دی، فرمائی، "ذکر رسول الله ﷺ فتنةً فَمَرَّ رجلٌ فقال: يُقتل فيها هذا يومئذٍ ظُلماً، قال فنظرتُ فاذا هو عُثمان"۔ (۱)

یعنی رسول الله ﷺ د یوې فتنې ذکر اوکړو، نو په دې وخت کښې یو سړې تیر شو، نو حضور ﷺ اوفرمائیل، په هغې کښې به دا سړې ظلماً قتل کولې شی، راوی وائی، چې ما اوکتل نو هغه عشمان وو۔ (۲)

د ابوبکر او عمر قبرونه رسول الله ﷺ سره د کیدو پیشن ګوئی: فَأَوَّلْتُهَا قُبُورَهُمْ..... دلته د بیدارئ په حالت کښې د وړاندې راتلونکې واقعې د تاویل ذکر دې، او ددې قسمه خبرو یا اندازو ته د تعبیر په ځائې فراست یا پیشن ګوئی وئیلې شی، یعنی یو سړې په خپل فراست سره دا اندازه لګوی، چې دا واقعه په مستقبل کښې د ښکاره کیدونکې فلانکئ واقعې اوله برخه ده۔ (۳)

دلته چې د کومې واقعې نه په مستقبل کښې د راتلونکې واقعې اندازه اولګولې شوه، هغه د حضرات أصحاب ثلاثه او د پیغمبر علیہ السلام متعلق ده، دلته په "بئر اریس" کښې حضرات شیخین ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما رسول الله ﷺ سره برابر سم او چَپ ارخ ته وو، نو په قبرونو کښې هم د دوی د رسول الله ﷺ سره هم د داسې صحبت او معیت پیشن ګوئی اوکړې شوه، او هغه پوره هم شوه۔

او حضرت عشمان رضی اللہ عنہ چې کله راغې، نو د هغوی ﷺ نه یو خوا بل خوا ځائې ختم شوې وو، هغه د هغوی ﷺ مخې ته تلو سره کیناستو، هم دغسې په قبرونو کښې د کیدو هم پیشن ګوئی اوکړې شوه، او هم دغسې اوشو هم، چې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا په حجره (کور) کښې د رسول الله ﷺ د تدفین نه ورسته د ابوبکر او عمر هم تدفین اوکړې شو، ولې د حضرت عشمان رضی اللہ عنہ د پاره ځائې نهٔ وو پاتې شوې، نو هغه مخامخ په جنت البقیع کښې دفن کړې شو۔

په باغ کښې د کیناستو ترتیب په قبرونو کښې هم کیدل ضروری نهٔ دی: هنه! په کوم ترتیب سره چې په باغ کښې ابوبکر او عمر رضی اللہ عنہما د رسول الله ﷺ سره ناست وو، هم په دغه ترتیب سره د دوی د قبرونو د کیدلو ذکر مقصود نهٔ دې، صرف نزدې کیدل مراد دی؟ ځکه چې په

---

۱) مسند أحمد، حدیث کعب بن مرة، رقم: ۱۱۸۰۹۳

۲) فتح الباری: ۱۴۶۰۹

۳) فتح الباری: ۱۴۶۰۹

باغ کښې د هغوی ﷺ سم ارخ ته حضرت ابوبکر رضی الله عنه ناست وو، او چپ ارخ ته عمر فاروق، او د وصال نه ورسټو په قبرونو کښې څۀ ترتیب وو، د هغې په حقله قاسم بن محمد فرمائی، "قلت لعائشة: یا أماه اکشفی لی عن قبر رسول الله ﷺ وصاحبیه، فکشفتْ لی" او بیا فرمائی، "فإذا أبوبکر رأسه بین کَتِفَیه، وعمر رأسه عند رِجلَی النبی ﷺ". (۱)

هغه فرمائی، ما عائشې صدیقې رضی الله عنها ته اووئیل، مورجانې! د رسول الله ﷺ او د هغوی د دواړو ملګرو قبرونه لږ ما ته ښۀ ښکاره کړه، هغې حجره کلاؤ کړه، نو څۀ ګورم چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سر مبارک د هغوی ﷺ د دواړو اوګو په مینځ کښې دې، او د حضرت عمر رضی الله عنه سر د هغوی ﷺ د خپو مبارکو سره دې.

هاؤ! ابو نعیم د حضرت عائشې رضی الله عنها نه د درې واړو قبرونو متعلق یو روایت نقل کړې دې، کۀ هغه صحیح وې نو بیا به په باغ کښې او قبرونو کښې تشبیه کامله وه، په هغه حدیث کښې دا وئیلې شوی دی، چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضور ﷺ یمین ارخ ته دې، او حضرت عمر رضی الله عنه یسار ارخ ته. (۲)

ولې دا حدیث د سند په اعتبار سره ضعیف دې، او د ابو داؤد د قاسم بن محمد والا روایت چې اوس پورته ذکر کړې شو، هغه ددې معارض او ددې نه زیات صحیح دې، لهذا مشابهت او مماثلت من کل الوجوه مقصود نۀ دې، بلکه صرف نزدې والې او یوځائې کیدل مراد دی.

څنګه چې د کتاب الفتن په روایت کښې د سعید بن المسیب نه دا الفاظ منقول دی، "فتأولتُ ذلك قبورهم، اجتمعَت ههنا وانفرد عثمان" (۳) ما ددې نه د هغوی قبرونه مراد واخستل، چې دلته جمع دی، او عثمان جدا دې.

او د عبد الرحمٰن بن حرمله په روایت کښې دا الفاظ دی، "فأولتُ ذلك انتهاذَ قبره من قبورهم" (۴) ما ددې تاویل داسې اوکړلو، چې د حضرت عثمان رضی الله عنه قبر به د دوی د قبرونه نه لرې وی. (۵)

علامه قسطلانی فرمائی: "من جهة کون العُمرَین مصاحبین له عند الحضرة المقدَّسة لا من جهة أن أحدهما فی الیمین والاخر فی الیَسار، وأنّ عثمان فی البقیع مقابلاً لهم". (۶)

یعنی د عُمرَینو (ابوبکر او عمر) د رسول الله ﷺ سره د کیدو مراد دادې، چې دوی ته به د

---

۱) سنن أبی داؤد، باب تسویة القبر، رقم: ۳۲۲۲، والسنن الکبریٰ للبیهقی، باب تسویة القبور، رقم: ۷۰۰۶

۲) ما وجدته إلا فی مجمع الزوائد للهیثمی: ۳۲۶.۸، رقم: ۱۴۲۵۴، دار الفکر، ومسند أبی یعلی: ۳۶۸.۸، رقم: ۴۹۶۲

۳) صحیح البخاری، کتاب الفتن، باب الفتنة التی تموج کموج البحر، رقم: ۶۶۸۴

۴) مسند الرویانی، رقم: ۵۲۷، بلفظ "ابترَاز"

۵) فتح الباری: ۱۴۶.۹

۶) إرشاد الساری: ۱۶۷.۸

هغوی ﷺ صحبت حاصل وی، په دې اعتبار سره نه چې څوک به په یمین او څوک به په یسار او څوک به په بقیع کښې وی۔

ترجمة الباب سره مناسبت: په حدیث او ترجمة الباب کښې مطابقت واضح دې، چې د ابوبکر "افضل" کیدل د روایت نه معلومیږی، او هم دغه د ترجمة الباب مدعا ده۔

۳۴۷۲:(۱) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رضى الله عنه - حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - صَعِدَ أُحُدًا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ فَقَالَ «اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ». [۳۴۸۳، ۳۴۹۶]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: دا د حدیثو مشهور امام محمد بن بشار بن عثمان عبدی بصری دې، ددۀ احوال په "کتاب العلم، باب ما کان النبی ﷺ یتخولهم بالموعظة والعلم کی لاینفروا" کښې تیر شوی دی۔(۲)

یَحیَی: دا د حدیثو مشهور امام یحیی بن سعید القطان دې، ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه" لاندې تیر شوی دی۔(۳)

سَعِید: دا سعید بن أبی عروبه مهران الیشکری البصری دې، ددۀ احوال تیر شوی وی۔(۴)

قَتَادَة: دا قتادة بن دعامة السدوسی البصری دې، ددۀ حالات د "کتاب الإیمان، باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه" لاندې تیر شوی دی۔(۵)

أَنَسَ بنَ مَالِک: مشهور صحابئ رسول انس بن مالک ﷺ مراد دې، ددۀ احوال هم په دغه باب "من الإیمان أن یُحب لأخیه مایحب لنفسه" کښې تیر شوی دی۔(۶)

أُحُد یا حراء؟ صَعِدَ أُحُداً..... أُحد د مدینې منورې مشهور غر دې، هغې ته ختل مراد دی، مسلم(۷) او ابو یعلی(۸) د سعید نه روایت کړې دې، په هغې کښې د "أُحد" په ځائې د "حراء" ذکر دې، ولې حافظ ابن حجر خو اول اولنې قول زیات صحیح ګرځولې دې، او فرمائیلې ئې دی، کۀ مخرج یو نۀ وې نو ما به ددې دواړو قیصو د ځان ځان له کیدو امکان

---

(۱) الحدیث سبق تخریجه فی کتاب التیمم، باب: ۱، رقم: ۳۳۴، وفی باب إذا لم یجد ماءً ولا تراباً، رقم: ۳۳۶\

(۲) اوګورئ کشف الباری: ۲۵۸،۳\

(۳) اوګورئ کشف الباری: ۱۲،۲\

(۴) کتاب الغسل، باب من أفرغ بیمینه علی شماله فی الغسل\

(۵) اوګورئ کشف الباری: ۱۲،۲\

(۶) اوګورئ کشف الباری: ۱۲،۲\

(۷) صحیح مسلم، باب من فضائل الصحابة، رقم: ۶۴۰۰\

(۸) مسند أبی یعلی، رقم: ۹۷۰،۱۹۶۹\

منلې وې،ولې اتحاد د مخرج د قیصې په اتحاد باندې دلالت کوی،بیا د هغه رائې بدله شوه،چې د هغې په "ثم ظهرلی....." وئیلو سره هغه اظهار کوی،دلته هم هغه "ثم ظهرلی" وئیلو سره وئیلی دی،چې دا اختلاف د سعید نه واقع شوې دې،ځکه چې مسند حارث بن أبی اسامه کښې روح بن عبادة عن سعید په طریقې سره روایت دې،چې په هغې کښې سعید "أحداً وحراء" په شك سره نقل کوی

او امام احمد د بریدې حدیث هم په لفظ د "حراء" سره روایت کړې دې،او د هغې سند هم صحیح دې[1] او ابو یعلی د سهل بن سعد روایت نقل کړې دې،چې په هغې کښې لفظ د أحد راغلې دې،او دا هم سنداً صحیح روایت دې،[2] په دې سره د قیصې د متعدد کیدو احتمال قوی کیږی،ځکه چې په دوؤ صحیح سندونو سره د "أحد" او "حراء" ذکر راغې،نو معنی دا شوه،چې دواړه ځایه دا واقعه متعدد واړې وړاندې راغلې ده۔

همدغه شان دکتاب الوقف په آخرکښې د عثمان په حدیث کښې هم لفظ د "حراء" وارد شوې دې او امام مسلم د ابو هریره رضی اللہ عنہ یو روایت نقل کړې دې،[3] د هغې نه هم د قیصې د تعدد د احتمال تائید کیږی،او هغه داسې چې هلته د رسول الله ﷺ په حراء باندې د موجود کیدو ذکر دې،او هغوی ﷺ سره ددې مذکوره حضراتو ذکر هم دې،او د نور هم ذکر دې،ددې نه معلومیږی،چې دا ځان له مستقل قیصه ده۔[4]

قوله: وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ: په أن النبی باندې د عطف کیدو په وجه په ظاهره خو أبابکر پکار وو، ولې داسې اونۀ شول، بلکه ابوبکر مرفوع وارد شو،ظاهره ده چې د "صَعِدَ" په ضمیر مرفوع باندې معطوف دې،او هغه ضمیر د صَعِدَ اګر چې متصل دې،ولې د "أحداً" د فاصلې په وجه په هغې باندې د اسم ظاهر عطف کیدل بالاتفاق جائز دی۔[5]

أحد ته نداء حقیقی ده یا مجازی: اُثْبُتْ أُحُدُ..... دا منادی ده،او حرف نداء په دې کښې محذوف دې۔"یاأحد" مراد دې۔

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په مناقبو کښې دې سره دا زیاتوالې هم مروی دې، "فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ وقال: اُثْبُتْ" هغوی دا په خپه باندې اووهلو او وې وئیل اودریږه اثبت،د ثبات نه د امر صیغه ده، چې د هغې معنی استقرار ده،لفظ د أُحُد منادی ده،او دې ته آواز ورکول او مخاطب کول یا

---

[1] مسند احمد عن سعید بن زید: ۱۱۶۳۰

[2] مسند أبی یعلی،مسند ابن عباس،رقم: ۱۳۱۷۱

[3] صحیح مسلم،باب من فضائل الصحابة،رقم: ۱۴۴۰۸،۲۴۱۷

[4] فتح الباری: ۱۴۷،۴۶،۹

[5] فتح الباری: ۴۷،۹،وإرشاد الساری: ۱۱۶۸،۸

خو په حقیقت باندې محمول دی، او هغه داسې چې په غر کښې د اوریدو صلاحیت وی، او د نداء ادراک هم کولې شی، او یا مجازاً دۀ ته نداء اوکړې شوه، چې اصلاً خو په دې کښې د اوریدلو او د قبلولو استعداد نشته، ولې د الله تعالی رسول د خپل رسالت او د خپل ملګرو د لورې مقام اظهار کولو، نو په ډیر بلیغ انداز باندې هغوی ﷺ غر مخاطب کولو سره اظهار اوفرمائیلو، څنګه چې خلق د مصیبت د سخت والی ظاهرولو سره "ویل" (هلاکت) ته آواز کولو سره وائی، واویلا! ګنې "ویل" منادی خو اوریدلې نشی، هغه خو امر حسی نۀ دې بلکه معنوی دې، یا څنګه چې په "وا رأساه" کښې سر ته آواز کوی۔

بیا هم دا په حقیقت باندې حمل کول اولی دی، ځکه چې تر کومې پورې ممکن وی نو کلام په خپله حقیقی او ظاهری معنی باندې حمل کول پکار دی، او حقیقتاً د اُحد مخاطب کولو تائید په دې سره هم کیږی، چې رسول الله ﷺ ددې متعلق اوفرمائیل، "أحد جبل یحبنا ونحبه" احد یو داسې غر دې چې هغه مونږ سره محبت کوی او مونږ هغه سره محبت کوو، او محبت بنکاره خبره ده، د ادراک او احساس متقاضی دې، همدغه شان د "ضرب بالرِجل" نه هم معلومیږی، چې هغه خبرول صحیح او حقیقی وو، په دې وجه هغه داسې خبردار کړې شو۔ (۱)

د غر خوزیدل د خوشالئ نه وو: د غر دا خوځیدل او رپیدل، چې د هغې دلته په لفظ د "رجف" سره ذکر شوې دې، دا د هغه رَجفَۀ د قبیلې نه نۀ دې، کومه چې د حضرت موسی علیه السلام په قوم باندې د تحریف په وجه راغلې وه، بلکه دا د خوشالې نه د خوځیدو (ګډیدو) د قبیلې نه وه، علامه قسطلانی فرمائی:

"قال ابن المنیر: قیل: الحکمة فی ذلك أنه لما أرجف أراد النبی ﷺ أن یبین أن هذا الرجفة لیست من جنس رجفة الجبل بقوم موسی علیه السلام لما حرفوا الکلم وأن تلك رجفة الغضب وهذه هزة الطرب"۔ (۲)

یعنی د غر په خوشالیدو او په هغې باندې د رسول الله ﷺ د تنبیه کولو حکمت دا وو، چې رسول الله ﷺ دا بیانول اوغوښتل چې د غر دا خوځیدل د هغه خوځیدو د قبیلې نه نۀ دی، کوم چې د موسی علیه السلام په قوم باندې واقع شوې وو، ځکه چې هغه "رجفة الغضب" وو، او دا "هزة الطرب" (اهتزاز په معنی د خوشالې) دې۔

په دې وجه حضور ﷺ د خپل نبوت د مقام او د حضرت صدیق د صدیقیت مقام او د نورو حضراتو د شهادت د مقام تصریح اوفرمائیله، ځکه چې دا ټول مراتب او مناصب د "رجفة الغضب" متقاضی نۀ دی، همدغه وجه ده، چې غر د هغوی ﷺ ددې ارشاد نه ورسټو اودریدو،

---

۱) فتح الباری: ۴۷،۹، وإرشاد الساری: ۱۶۸،۸

۲) إرشاد الساری: ۱۶۸،۸

او خوځیدل ئې بند کړل، یو شاعر په دې حوالې سره څه ښه فرمائیلی دی:

ومال حراءٌ تحتَه فرحاً به فلولا مقال "اُسکُن" تَضعضَعَ وانقضا

"حراء" د هغوی ﷺ د موجودګئ په خوشالې کښې د هغوی ﷺ د لاندې اوخوځیدو، او کۀ چرې هغۀ ته د "اُسکُن" اودریږه..... نۀ وو وئیلې شوې نو هغه به نړیدلو سره ختم شوې وو۔[1]

د قسطلانی په رائې کښې دواړه احتماله دی: د قسطلانی د ددې توجیه مطلب کۀ دا وی، چې د اُحد غر دا خوځیدل د خوشالې نه وو، ولې د هغۀ په خوځیدو سره رسول الله ﷺ او د هغوی ﷺ د أصحابؤ د متاثره کیدو او د غورځیدو ویره وه، په دې وجه هغوی اوفرمائیل، اُحد! نبی، صدیق او شهیدینو په ادب کښې اودریږه، او د هغوی د سلامتیا خیال ساتلو سره د خوشالې نه خوځیدل پریږده، نو بیا خو دا صحیح دی، او به بل صورت کښې به په دې باندې دا اشکال وی، چې د اُحد خوځیدل د خوشالې نه وو، نو بیا به هغوی ﷺ هغه نۀ منع کولو، او د منع کولو وجه به ئې ددې لوئې مرتبو د حضراتو موجودګی نۀ ګرځوله، ځکه چې د دوی موجودګی خو سبب د رجف وه، نۀ چې مانع د رجف، هاؤ! کۀ د دۀ خوځیدل د غضب او غصې وو، یا د زمکې د طبعیت او فطرت د وجهې نه وو، نو بیا د هغۀ منع کولو سره د ممانعت وجه ددې پاکو نفوسو او لوئې مرتبې د شخصیاتو موجودګی ګرځول صحیح وو، او څۀ چې دلته وئیلې شوی دی، هغه ددې مخالف دی۔ والله اعلم۔

په مناقبو د عمر کښې د یزید بن زریع روایت دې، چې په هغې کښې دا الفاظ دی:

"فَمَا عَلَيكَ إِلَّا نَبِيٌّ أو صديقٌ أو شهيدٌ" "أو" د شك د پاره نۀ دې بلکه د تنویع د پاره دې، او معنی داده، چې په تا باندې یا خو نبی دې، یا صدیق او یا شهید، یعنی درې واړه نوعې دی، او د هرې نوعې موجود کیدل د احترام موجب دی،[2] ددې نه هم معلومیږی چې "رجفة" د سرور نۀ وه۔ والله اعلم۔

ترجمة الباب سره مناسبت: په باب او حدیث کښې مطابقت واضح دې، ځکه چې د "صدیق" نه مراد حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دې، د هغۀ موجود کیدل ئې د غر د خوځیدو بندولو د پاره سبب اوګرځولو، او ګویا غر ته د هغۀ واسطه ورکړې شوه۔ او رسول الله ﷺ د هغه خپل ځان سره ذکر اوکړو، دا د هغه د أفضلیت او د لوئې مرتبې ښښۀ ده۔

۳۴۷۳: [3] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا صَخْرٌ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «بَيْنَمَا أَنَا

---

[1] اوګورئ: إرشاد الساری: ۱۱۶۸،۸

[2] فتح الباری: ۱٤۷،۹

[3] الحدیث أخرجه البخاری فی صحیحه: ۵۱۸،۱، کتاب فضائل النبی ﷺ، باب قول النبی ﷺ "لو کنتُ متخذاً خلیلاً"، رقم: ۳۶۷۳، ومسلم فی صحیحه: ۳۱۰،۲، کتاب فضائل الصحابة... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه

عَلَى بِئْرٍ أَنْزِعُ مِنْهَا جَاءَنِي أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ الدَّلْوَ، فَنَزَعَ ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ، وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ، ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ مِنْ يَدِ أَبِي بَكْرٍ، فَاسْتَحَالَتْ فِي يَدِهِ غَرْبًا، فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَفْرِي فَرِيَّهُ، فَنَزَعَ حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ». قَالَ وَهْبٌ الْعَطَنُ مَبْرَكُ الإِبِلِ، يَقُولُ حَتَّى رَوِيَتِ الإِبِلُ فَأَنَاخَتْ. [ر: ٣٤٣٤]

رجال الحديث

أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ: دا ابو عبدالله احمد بن سعيد بن إبراهيم الاشقر الرباطى دي، ددۀ احوال تير شوى دى.[1]

يو احمد بن سعيد بل دي، د هغه كنيت ابو جعفر او نسبت سرخسى دي، او د هغه د نيكۀ نامه صخر ده.[2]

وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ: دا وهب بن جرير بن حازم ابو عبد الله الازدى البصرى دي، ددۀ احوال هم تير شوي دى.[3]

صَخْرٌ: دا صخر بن جويريه مولى بنى تميم يا مولى بنى هلال دي. د ددۀ حالات تير شوى دى.[4]

نَافِعٍ: دا ابو عبد الله نافع العدوى مولى عبد الله بن عمر دي. ددۀ احوال "كتاب العلم، باب ذكر العلم فى المسجد" كښې تير شوى دى.[5]

عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ: د عبد الله بن عمر احوال په "كتاب الإيمان، باب الإيمان وقول النبى ﷺ بُنِيَ الإسلام على خمس" كښې تير شوى دى.[6]

دا د خوب واقعه ده: بَيْنَمَا أَنَا عَلَى بِئْرٍ..... اولنۍ خبره خو داده، چې په بعضې نسخو كښې بَيْنَا دي. او په بعضې كښې "بَيْنَمَا" بالميم دي، دويمه خبره داده، چې دا د خوب واقعه ده، يعنى د كوهى په خوا كښې موجود كيدل د بيدارۍ په حالت كښې نۀ دى واقع شوي، بلكه په خوب كښې راوى ته اونبودلې شو. څنګه چې ددې باب په يو بل روايت كښې د ابوهريره رضي الله عنه دا

بقيه حاشيه د تيرمخ] باب تحريم سب الصحابة، رقم: ٢٥٤١، وأبوداؤد فى سننه: ٢، ٢٨٤، كتاب السنة، باب فى النهى عن سب أصحاب رسول الله ﷺ، رقم: ٤٦٥٨، والترمذى فى جامعه: ٢، ٢١٩، كتاب المناقب، باب فيمن سبّ أصحاب النبى ﷺ، رقم: ٣٨٦٠\

[1] كتاب اللقطة، باب كيف تعرّف لقطة أهل مكة.....\

[2] اوګورئ: فتح البارى: ٩، ١٤٧\

[3] كتاب الوضوء، باب من لم يَر الوضوء إلا من المخرَجين من القبل والدُّبر.....\

[4] كتاب الوضوء، باب دفع السِّواك إلى الأكبر.....\

[5] اوګورئ: كشف البارى: ٤، ٦٥١\

[6] كشف البارى: ١، ٦٣٧\

الفاظ منقول دی: "بینا أنا نائم علی قلیب علیها دلو".[۱] په دې کښې د "نائم" تصریح ده۔
همدغه شان په مناقب عمر کښې هم د "أریتُ فی المنام" په الفاظو سره دا روایت ذکر شوې دې۔[۲] په دې کښې هم د "منام" ذکر دې۔
د "ذَنُوب" نه څه مراد دی؟ "فَنَزَعَ ذَنُوبًا، أو ذَنُوبَيْنِ.....د نَزَعَ معنی ده، بوقه د اوبو ډکه راؤباسل۔
د "ذَنُوب" معنی ده، "الدلو الکبیر إذا کان فیها الماء" لویه بوقه چې په هغې کښې اوبه هم وی۔
د حدیث د شارحینو په دې خبره خو اتفاق دې، چې د ذَنوب نه مراد دلته کښې زمانه د خلافت ده، خو په دې باندې یو اشکال واردیږی، او هغه دا چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت مدت دوه کاله پوره او د دریم کال څه لږه برخه وو، نو کله په ذَنوب سره د خلافت کالونو ته اشاره مقصود وی، نو بیا خو ذَنُوبین أو ثلثة پکار وو۔ حافظ ابن حجر فرمائی: "والذی یظهر لی أن ذلك إشارة إلی ما فُتح فی زمانه من الفتوح الکبار وهی ثلاثة" کومه خبره چې زما پوهې ته راځی، هغه داده، چې په دې کښې هغه فتوحاتو ارخ ته اشاره مقصود ده، کوم لوئې لوئې فتوحات چې د هغوی رضی اللہ عنہم په زمانه د خلافت کښې اوشول، او هغه درې دی، کیدې شی "غزوهٔ حیره" "فتح الانبار" او "فتوح الشام" مراد وی، او یا فتنه د ارتداد، فتنه د انکار زکوة او د دروغو د نبوت دعوی کونکی ختمول مراد وی۔[۳]

اشکال خو په دې باندې هم کیدې شی، چې کله فتوحات درې دی، نو بیا خو "ذَنُوبین أو ثلاثة" وئیل پکار وو، نه چې "ذَنُوب او ذَنُوبَین" بیا هم ددې دا جواب ورکولې شی، چې د "ذَنُوبًا أو ذَنُوبَین" یعنی د یو دوؤ بوقو نه شمیر مراد نه دې، بلکه قلت او اختصار ارخ ته اشاره مقصود ده، څنګه چې وئیلې شی، "یو نیم" او د هغې دلیل دادې، چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ متعلق بیا د څه خاص عدد ذکر نه دې شوې، حال دادې چې د هغوی د خلافت کالونه او همدغه شان د فتوحاتو شمیر هم معلوم معدود دې، ولې د هغوی په حقله صرف په بوقه راؤښکلو کښې د قوت او مظبوط والی ذکر دې، چې د هغې معنی داده، چې د هغوی فتوحات زیات دی، او هغوی لوئې فاتح وو۔ واللہ اعلم۔[۴]
امام شافعی رحمہ اللہ په "کتاب الام" کښې ددې حدیث د ذکر کولو نه ورسته ددې تشریح کولو کښې فرمائیلې دی:

"ومعنی قوله وفی نزعه ضعف قصر مدته وعجلة موته وشغله بالحرب لأهل الردة عن الاهتمام والتوید الذی

---

[۱] اوګورئ رقم (۳۶۶۴)۔
[۲] اوګورئ رقم (۳۶۸۲)۔
[۳] تاریخ ابن خلدون: ۲۲۸،۲، تاریخ الکامل لابن الاثیر.....عهد صدیقی: ۶۶۸،۶۔
[۴] اوګورئ فتح الباری: ۱۴۷،۹۔

بلغه عُمرنی طول مدته".(۱)

یعنی د رسول الله ﷺ د ابوبکر په حقله ارشاد د "وفی نزعه ضعف" معنی داده چې د هغوی د خلافت د زمانې اختصار او د هغوی وفات په جلدئ واقع کیدل، او د اهل ارتداد سره په جنګ کولو کښې د مصروف کیدو په وجه هغوی د فتوحاتو او د خلافت اسلامیه د فراخئ نه پاتې کیدل او ددې موقع نه موندل، حافظ ابن حجر فرمائی، امام شافعی په خپل دې قول کښې هغه ټولې خبرې راجع کړې دی، چې نورو متفرقې بیان کړی دی، یعنی چا د خلافت د زمانې اختصار مراد اخستې دې، چا د فتوحاتو کموالې وغیره، امام شافعی دا ټولې مراد اخستې دی، ددې تائید هم ددې په شان د هغه قیصئ د الفاظو نه هم کیږی، چې د ابن مسعود رضی الله عنه نه مروی ده، د هغې الفاظ دی:

"قال النبی ﷺ: فاعبرها یا أبابکر، فقال إلی الأمر من بعدك، ثم یلیه عمر، قال: کذلك عبرها الملَكُ".(۲)

رسول الله ﷺ او فرمائیل، ابوبکر ددې تعبیر اووایه، هغوی اووئیل ستاسو نه ورستو به خلافت ما ته ملاؤیږی، بیا (زما نه ورستو) دا به عمر سنبالوی، نبی علیه السلام او فرمائیل، همدغه شان فرشتې هم ددې تعبیر اوښودلو.

دا حدیث طبرانی روایت کړې دې، ولې ددې سند ضعیف دې.(۳)

د "ضعف" یو بل مطلب: علامه قسطلانی د "وفی نزعه ضعف" متعلق فرمائی:

"إشارة إلی ما کان فی زمنه من الارتداد واختلاف الکلمة، ولین جانبه، ومداراته مع الناس".(۴)

په دې ضعف کښې د رسول الله ﷺ د وصال نه ورستو پیدا کیدونکې فتنې د ارتداد او په خلقو کښې د اختلاف پیدا کیدو اړخ ته ارشاه مقصود ده، او د ابوبکر نرم مزاجئ او خلقو سره حُسن سلوك اړخ ته، چې گویا د هغوی یو قسمه کمزوری وه. او ددې نرمئ او خیال ساتلو په وجه ښکاره خبره ده د هغوی رُعب دبدبه او د خلافت جلالت به دومره نه وو، څومره چې د حضرت عمر رضی الله عنه وو.

د "وَاللهُ یَغفِرُ لَه" مطلب: ددې جملې مختلف مقاصد بیان کړې شوې دی، یو مطلب خو ددې دا بیان کړې شوې دې، چې دا د متکلم د اړخ نه جمله دعائیه ده، او ددې هیڅ مفهوم نشته، یعنی څنګه چې په ظاهره ددې نه پوهې ته راځی، چې کیدې شی په هغوی (یعنی حضرت ابوبکر رضی الله عنه) کښې د خلافت په حوالې سره څۀ کمزوریئ موندلې شوې. په دې وجه د هغوی د پاره د مغفرت دعا اوکړې شوه، دا ممکن مفهوم دلته مراد نۀ دې، بلکه دا د عربو د عادت موافق استعمال شوې دې، عرب وائی، "افعل کذا والله یَغفِرُلك" دغسې اوکړه، الله تعالی دې

---

(۱) کتاب الام، صلاة المسافر: ۱۶۳،۱

(۲) کنز العمال.....فضل الشیخین، رقم: ۳۶۱۳۶، مؤسسة الرسالة

(۳) فتح الباری: ۱۴۷،۹

(۴) اوګورئ إرشاد الساری: ۱۶۸،۸

ستا مغفرت اوکړی۔[۱] زمونږ په معاشره کښې هم د مړ شوی پلار نیکۀ د ذکر په وخت کښې وائی، الله تعالی دې اُوښې زما د پلار یا نیکۀ دا عادت وو.....

دویم قول دادې، چې په دې کښې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د وفات نزدې والی ارخ ته اشاره کړې شوې ده، او دا د الله تعالی ارشاد (فسبّح بحمد ربّك واستغفره)[۲] نظیر دې، ځکه چې دا د سورۀ نصر آیت دې، او مفسرین فرمائی په دې کښې د رسول الله ﷺ وفات ارخ ته اشاره ده۔

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی: "قلتُ: ویحتمل أن یکون فیه إشارة إلی أنّ قِلّة الفتوح فی زمانِه لا صنع له فیه؟ لأن سببَه قصرُ مدّته، فمعنی المغفرة رفعُ الملامة عنه"۔[۳]

یعنی دا هم احتمال شته، چې په دې کښې دې خبرې ارخ ته اشاره وی، چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په عهد خلافت کښې د فتوحاتو کمې د هغوی رضی اللہ عنہ څخه کمې یا دخل نۀ وو، بلکه د هغې وجه هغوی تهَ د ملاؤ شوې موقعې او زمانې کم والې وو، چې د هغې قدرتی او لازمی نتیجه د فتوحاتو کمې او د خلافت نۀ خوریدل وو۔ په دې وجه د مغفرت دعا کولو سره د هغوی نه هر قسمه ملامتیا لرې کړې شوه۔

قوله: غَرِبًا: أی دلوًا عظیماً یعنی وه (معمولی) بوقه بیا په ډیره لویه بوقه باندې بدله شوه۔

د "عبقری" معنی: فَلَم أَرَ عَبْقَرِیًّا.....عبقری بفتح العین وسکون الباء الموحدة وفتح القاف وکسر الراء ددې نه مراد دې "کل شئ بلغ النهایة" هر هغه څیز چې انتهاء ته اورسی، یعنی په هر کمال کښې آخری حد ته رسیدونکې څیز ته عبقری وئیلې کیږی، او عبقر په اصل کښې، "أرض الجن" ته وئیلې کیږی، یعنی هغه ځائې کوم کښې چې پیریان اوسیدلې وی، یا دا د یو کلی نوم دې، چې هلته به خائسته کپړې (رختونه) جوړیدې، د پیریانو په وجود کښې ناآشنا کارونه او مختلف عجائبات وی، په دې وجه عرب عموماً هر هغه څیز عبقر، یا "أرض الجن" ارخ ته منسوب کوی، چې په هغې کښې په حسن یا بل یو څیز کښې کمال یا حیرانتیا وی۔[۴] څنګه چې زمونږ په معاشره کښې هم د "پرِی زاده" وغیره الفاظ په دې معنی کښې وئیلې کیږی۔

قوله: یَفْرِي فَرِیَّهُ: "یفری" بفتح الیاء وسکون الفاء وکسر الراء وسکون التحتانیة فَرِیَّه بفتح الفاء وکسر الراء وتشدید التحتانیة المفتوحة بعضو د راء په سکون سره هم نقل کړې دې، ولې دا غلط دې، ددې جملې معنی ده، "یعمل عملَه الهالغ" څپل لوئې کار کول۔

---

[۱] فتح الباری: ۴۸.۹، وإرشاد الساری: ۱۶۸.۸\

[۲] سورة النصر: ۳\

[۳] فتح الباری: ۴۸.۹\

[۴] فتح الباری: ۴۸.۹\

قوله: حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ: "عَطَن بفتح المهملتين مُنَاخُ الإبل" یعنی د اوښانو د ناستې ځائې ته وئیلې کیږی، او د "ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ" معنٰی داده، چې خلقو اوبۀ څکلو سره خپلو خپلو ځایونو ته لاړل۔

په مناقب عمر کښې دا الفاظ دی، "حتى روى الناسُ وضربُوا بعطنٍ"۔(۱) تر دې پورې چې خلقو اوبۀ اوڅکلې، او خپلو خپلو ځایونو ته لاړل۔

او بزار او طبرانی د ابو الطفیل نه په سندِ حسن سره روایت کړې دې، چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل، "بينا أنا أنزع الليلةَ إذ وردَت على غنم سودٌ وعُفرٌ، فجاء أبوبكر فنزَعَ" په هغه وخت کښې چې ما یوه شپه اوبۀ راؤباسلې، نو په ما باندې د تور او خړ رنګ چیلئ راغلې، بیا ابوبکر راغې اوبۀ ئې راؤباسلې، بیا ئې د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله اوفرمائیل، "فملا الحياض وأروى الواردةَ"۔(۲) عمر حوضونه ډک کړل او راتلونکې چیلئ ئې په اوبو مړې کړې۔

بیا ئې اوفرمائیل، "فأوّلت السُّود العربَ والعُفر العجم"(۳) ما د تورو چیلو تعبیر په عربو سره اوکړو او د خړو چیلو تعبیر مې په عجمو سره اوکړو۔

په دې روایت کښې هم هغه مضمون بیان شوې دې، ولې د صورت او هیئت په لږ اختلاف سره۔

د عطن معنی او مفهوم: قَالَ وَهْبٌ..... دا وهب بن جریر دې، چې د امام بخاری شیخ الشیخ دې، او په دې زیر بحث روایت کښې ددۀ ذکر هم دې، احمد بن سعید ددۀ نه روایت کوی۔

ددۀ دا کلام په سندِ مذکور سره موصولاً ثابت دې، وهب بن جریر د عَطَن معنی ذکر کړې ده، او "يقول: حتى رويت الإبلُ....." هم ددۀ مقوله ده،(۴) علامه قسطلانی فرمائی، د "رَوِيَت" نه ورسته د "فَأَنَاخَت" په ځائې "فانيخت" کیدل پکار وو۔(۵)

د وهب د قول مطلب دادې، چې د "عَطَن" معنٰی ده، "مَبرك الإبل" د اوښانو د کیناستو ځائې، او داسې استعمال شوې دې، چې "رَوِيَت الإبل فانيخَت" اوښانو اوبۀ اوڅکلې نو د کیناستو په ځائې کښې اودرولې شو۔

بیضاوی ددې وضاحت کولو سره فرمائی، په خوب کښې چې کوم کوهې اولیدې شو، ددې نه مراد دین دې، ځکه چې دین یو داسې چینه ده، چې د هغې نه وتونکو اوبو باندې د ځانونو

---

(۱) اوګورئ کتاب الفضائل، باب قول النبی "لو كنتُ متخذا خليلا رقم(۳۶۸۲)

(۲) فتح الباری: ۴۸،۹، ومسند أبی يعلٰی مسند أبی الطفيل، رقم: ۱۴۰۹

(۳) فتح الباری: ۴۸،۹، ومسند أبی يعلى مسند أبی الطفيل، رقم: ۱۴۰۹

(۴) فتح الباری: ۱۴۸،۹

(۵) إرشاد الساری: ۱۱۶۹،۸

ژوند جوړیږی،او په هغې سره د معاد او معاش معامله صحیح کیږی،او د"نزع منه"معنی ده،ددې نه اوبهٔ راؤباسل،او په دې سره د دین د امر اشاعت او د هغې د احکامو اجراء ارخ ته اشاره مقصود ده،او"یغفر الله له"سره دې خبرې ارخ ته اشاره کیږی،چې ددهٔ نرمی یا کمزوری نقصانی نهٔ ده،او په دې باندې د اعتراض کولو جواز نشته۔

دا خو په هغه صورت کښې ده،چې د ضعف نه نرمی مراد وی،کنې د ضعف دویمه معنی په فتنهٔ ارتداد او په مسلمانانو کښې په پیدا کیدونکې اختلاف سره کړې شوې ده،چې په هغې سره په مسلمانانو کښې کمزوری راغلې وه،بیا هغه اختلاف او افتراق ختم شو،او د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه د خلافت کښې اسلام مضبوط شو،او مسلمانان خپل مینځ کښې متفق او طاقتور شو۔(۱)

په"نزع"کښې د ضعف او قوت نه مراد څهٔ دې،دې ارخ ته د امام احمد بن حنبل په یو روایت کښې هم اشاره کړې شوې ده،او روایت د حضرت سمرة دې،هغه فرمائی:

"أن رجلاً قال:یا رسول الله رأیتُ کأن دلواً من السماء دلیت،فجاء أبوبکر فشرب شُرباً ضعیفاً ثم جاء عمر فشرب حتی تضلّع".(۲)

یعنی د آسمان نه یوه بوقه راؤغورځولې شوه،نو ابوبکر راغې او د هغې نه ئې لږې شان اوبهٔ اوڅکلې،بیا عمر راغې او هغوی دومره اوڅکلې چې مور شو،ددې نه معلومه شوه،چې د ضعف نه مراد کم والې د زمانې،او کم والې د خلافت دې،او د قوت نه ددې(خلافت)فراخ والې او ددې ډیره زمانه کیدل مراد دی۔والله اعلم۔(۳)

علامه قسطلانی فرمائی:

"وهذا کلّه فیه إشارة إلی ما أکرم الله عزوجل به عمرَ من امتداد مدّة خلافتِه،ثم القیام فیها بإعزاز الإسلام وحفظِ حدودِه وتقویةِ اهلِه حتی ضرب الناس بعطن أی حتی روّوا وأروّوا إبلَهم وأبرکوها وضربوا لها عطناً وهو مبرک الإبل حول الماء یقال:أعطنتِ الإبل فهی عاطِنة وعواطن أی سقیت وتُرکت عند الحِیاض لتُعاد مرة أخری".(۴)

یعنی په دې تفصیل کښې اشاره ده،هغه عزت او اکرام ارخ ته،چې په هغې سره الله تعالی حضرت عمر رضی الله عنه سرفراز کړې وو،او هغه دا چې الله تعالی د هغوی د خلافت زمانه اوږده اوفرمائیله،بیا په دې خلافت کښې اسلام ته د عزت او غلبې ورکولو د پاره ئې هغوی ته د اوږدیدو موقع ورکړه،د اسلام د حدودو حفاظت او د اهلِ اسلام د طاقتور جوړولو موقعه ئې ورکړه،تر دې پورې چې خلقو"ضرب عطن"اوکړو،یعنی پخپله هم اوبهٔ څکلو سره مارهٔ

---

۱) فتح الباری:۹،۱۴۹

۲) مسند احمد من حدیث سمرة،رقم:۱۲۰۲۵۵

۳) فتح الباری:۹،۱۴۹

۴) إرشاد الساری:۸،۱۱۶۹

شول، او خپل اوښان ئې هم په اوبو څکولو سره مارغ کړل، او خپلو ځایونو ته ئې اورسول.
بیا ئې د "ضرب عطن" معنی بیان کړه، چې "عطن" د اوبو نه کیر چاپیره د اوښانو ځایونو ته وئیلې کیږی، د "أعطنت الإبل فهی عاطنة" معنی ده، اوښانو باندې اوبۀ څکولو سره د حوضونو په خوا کښې پریښودې شو، بیا ورستو راتلو سره هغه واپس کړې شی.

۳۴۷۴: (۱) حَدَّثَنِي الْوَلِيدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحُسَيْنِ الْمَكِّيُّ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - قَالَ إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي قَوْمٍ، فَدَعَوُا اللَّهَ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَقَدْ وُضِعَ عَلَى سَرِيرِهِ، إِذَا رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي قَدْ وَضَعَ مِرْفَقَهُ عَلَى مَنْكِبِي، يَقُولُ رَحِمَكَ اللَّهُ، إِنْ كُنْتُ لأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ، لأَنِّي كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ كُنْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَفَعَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَانْطَلَقْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. فَإِنْ كُنْتُ لأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَهُمَا. فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ. [۳۴۸۲]

قوله: الْوَلِيدُ بْنُ صَالِحٍ: الوليد بن صالح النخاس الضبی أبو محمد الجوزی الفلسطینی.
صاحب د تهذیب الکمال فرمائی:

"الوليد بن صالح النخاس الضبيُّ، أبو محمد الجزري، بيَّاع الرقيق، نزلَ بغداد ويقال: أصله من فلسطين". (۲)

شیوخ او تلامذه: د اسرائیل بن یونس، بقیّة بن الولید، حماد بن زید، حماد بن سلمة، لیث بن سعد وغیره نه روایت کوی.
او ددۀ نه امام بخاری، إبراهیم بن اسحاق الحربی، إبراهیم بن مهدی، احمد بن إبراهیم الدورقی، احمد بن علی الخزاز، احمد بن القاسم بن مساور الجوهری وغیره روایت کړې دي.

جرح او تعدیل: عبد الله بن احمد بن حنبل وائی:

"قُلتُ لأبي: لِمَ لَمْ تكتب عن الوليدِ بن صالح النخّاس؟ قال: رأيتُه يصلي في مسجدِ الجامع يُسيئُ الصلاةَ فتركتُه". (۳)

---

(۱) الحديث أخرجه البخاري في صحيحه: ۵۱۸.۱، كتاب فضائل أصحاب النبي ﷺ، باب قول النبي ﷺ "لو كنتُ متخذاً خليلاً"، رقم: ۳۶۷۴، وفي صحيحه: ۵۲۲.۱، كتاب فضائل أصحاب النبي ﷺ، باب مناقب عمر بن الخطاب، رقم: ۳۶۹۳، وفي مناقب عثمان بن عفان، رقم: ۳۶۹۵، وفي: ۹۱۸.۲، كتاب الأدب، باب من نكت العود في الماء والطين، رقم: ۶۲۱۶، وفي كتاب الفتن، باب الفتنة التي تموج كموج البحر، رقم: ۷۰۹۷، ۱۰۵۱.۲، وفي: ۱۰۷۸.۲، كتاب أخبار الآحاد، باب قول الله تعالىٰ "لا تدخلوا بيوت النبي الا أن يؤذن لكم"، رقم: ۷۲۶۲، ومسلم في صحيحه: ۲۷۷.۲، كتاب في فضائل الصحابة، باب من فضائل عثمان بن عفان رضي الله عنه، رقم: ۲۴۰۳، والترمذي في جامعه: ۲۱۲.۲، كتاب المناقب، مناقب علي، باب: ۶۱، رقم: ۳۷۱\

(۲) تهذيب الكمال: ۱۲۸.۳۱\

(۳) تهذيب الكمال: ۱۳۰.۳۱\

ما خپل پلار (امام احمد بن حنبل)ته اووئیل،تاسو د ولید بن صالح النخاس روایات ولې نه لیکئ؟ وې فرمائیل ما هغه په جامع مسجد کښې په مونځ کولو اولیدو،هغهٔ مونځ صحیح نهٔ کولو،په دې وجه ما پریښودو.

احمد بن ابراهیم الدورقی او ابو حاتم الرازی وائی،"کان ثقة".(۱)
ابن حبان هم په کتاب الثقات کښې ددهٔ ذکر کړې دې.(۲)
حافظ ابن حجر فرمائی: "ولیس له فی البخاری إلا هذا الحدیث الواحد وسیأتی من وجهٍ أخر فی مناقب عمر عن ابن أبی حسین، فظهر أن البخاری لم یحتج به".(۳)
یعنی ددهٔ په صحیح بخاری کښې هم دغه یو روایت دې،او دا هم په بل سند سره په مناقب عمر کښې منقول دې،ددې نه معلومه شوه،چې امام بخاری په دې حدیث سره استدلال نهٔ کوی.

عیسی بن یونس:دا عیسی بن یونس بن أبی اسحاق السبیعی ابوعمرو الکوفی دې.ددهٔ احوال تیر شوی دی.(۴)

عُمَرُ بنُ سَعِیدٍ:دا عمر بن سعید بن حسین قرشی نوفلی مکی دې.ددهٔ احوال په "کتاب العلم، باب الرَّحلَةِ فی المسئلةِ النَّازلةِ وتعلیم أهلِه" کښې تیر شوی دی.(۵)

اِبنِ أبِی مُلَیکَةَ:دا ابوبکر عبد الله بن عبید الله ابن أبی ملیکهٔ القرشی التیمی دې.ددهٔ احوال په "کتاب الإیمان، باب خوف المؤمن من أن یحبط عمله وهو لا یشعر" کښې تیر شوی.(۶)

اِبنِ عَبَّاسٍ:دا د رسول الله ﷺ مشهور صحابی عبد الله بن عباس رضی الله عنه دې.د دوی احوال په "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی.(۷)

عبارت کښې په ترکیبی اعتبار سره اختلاف: کُنتُ،وَأبُوبَکرٍ وَعُمَرُ

دې سره نزدې نزدې یوه جمله تیر شوی سره متصل روایت کښې تیره شوې ده،او هغه ده، "أن النبی صَعِدَ أحدًا وأبوبکرٍ وعُمر....." ددې په حقله ابن التین اوفرمائیل،چې دلته ابوبکر عطف دې د "صَعِدَ" په ضمیر فاعل باندې،او دا بالاتفاق جائز دې،یعنی د اسم ظاهر عطف په ضمیر متصل باندې،ځکه چې په دې کښې د معطوف او معطوفٌ علیه په مینځ کښې په "أحدًا" سره

---

۱) الجرح والتعدیل ج:۹،الترجمة:۱۳۰
۲) الثقات لابن حبان:۹،۲۲۵
۳) فتح الباری:۹،۳۹
۴) کتاب الأذان،باب من صلی بالناس فذکر حاجةً فتخطاهم گ گ گ
۵) اوګورئ کشف الباری:۳،۵۱۵
۶) اوګورئ کشف الباری:۲،۵۴۸
۷) اوګورئ کشف الباری:۱،۴۳۵

فصل واقع دي،او په زير بحث روايت کښې حافظ ابن حجر رحمه الله ددۀ قول نقل کړې دي،هغه فرمائي:

"الأحسنُ عند النحاةِ أن لا يعطف على الضمير المرفوع إلا بعدَ تاكيدِه،حتى قال بعضهم أنه قبيح لكن يرد عليهم قوله تعالى(ما أشركنا ولا آباؤنا)وأجيب بأنه قد وقعَ الحائل وهو قوله "لا" وتعقب بأن العطف قد حصل قبل "لا" قال: ويرد عليهم أيضًا هذا الحديث".(۱)

حافظ ابن حجر فرمائي:"والتعقيب مردودٌ،فإنه وُجِد فاصل في الجملة".(۲)

يعنی د نحاتو په قاعدې باندې په آيت ما أشركنا.....سره چې کوم اعتراض کړې شوې دي،هغه صحيح نۀ دي،ځکه چې دلته په"لا"سره فصل راوړلې شوې دي،او په دې باندې کيدونکي اعتراض چې ددې لا نه په وړاندې باندې عطف شوې دي،دا مردود دي،ځکه چې في الجمله د معطوف او معطوف عليه په مينځ کښې فاصل خو موجود دي،(برابره خبره ده کۀ د حرف نه ورسته وی يا وړاندې)او هم دغه کافی دي۔

بيا ابن حجر رحمه الله د حديث د الفاظو په حقله فرمائي:"وأما هذا الحديث فلم تتفق الرواة على لفظه" يعنی ددې روايت د الفاظو نه چې دا معلوميږی،چې په ضمير مرفوع باندې عطف بغير د تاکيد نه جائز دي،دا په دې وجه معتبر نۀ دي،چې د روايت په دې الفاظو باندې ټول راويان متفق نۀ دی،نو ممکنه ده،چې په دې الفاظو کښې د راوی نه څۀ غلطی شوې وی۔

په مناقبو د حضرت عمر رضی الله عنه کښې په يو بل سند سره دا الفاظ مروی دی،"ذهبتُ أنا وأبوبكر وعمر" دي نه معلوميږی،چې په دې کښې راويانو تصرف کړې دي،او په اصل کښې د معطوف او معطوف عليه په مينځ کښې فصل شته۔(۳)

ترجمة الباب سره مناسبت:ترجمة الباب سره مطابقت واضح دي،ځکه چې دلته هم د ابوبکر د فضيلت ذکر دي،او هغوی به اکثر رسول الله ﷺ سره وو،او هغوی ﷺ به اکثر د دوی ذکر ځان سره کولو۔

۳۴۷۵: (۴)حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِي حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ عَنِ الْأَوْزَاعِي عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو عَنْ أَشَدِّ مَا

---

۱) فتح الباری:۴۹،۹،همدغه شان جامع الدروس العربية:۱۱۸۹،۳

۲) فتح الباری:۱۴۹،۹

۳) فتح الباری:۱۴۹،۹

۴) الحديث أخرجه البخاری في صحيحه:۵۱۹،۱،كتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ،باب قول النبی ﷺ،لو كنتُ متخذًا خليلاً،رقم:۳۶۷۵،وباب عمر بن الخطاب:۵۲۱،۱،رقم الحديث۳۶۸۶،وفي:۵۲۳،۱،باب مناقب عثمان بن عفان،رقم:۳۶۹۹،وأبو داؤد في سننه:۲۸۳،۲،كتاب السنة،...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

صَنَعَ الْمُشْرِكُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ رَأَيْتُ عُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ جَاءَ إِلَى النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَيُصَلِّي ،فَوَضَعَ رِدَاءَهُ فِي عُنُقِهِ فَخَنَقَهُ بِهِ خَنْقًا شَدِيدًا، فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى دَفَعَهُ عَنْهُ فَقَالَ أَتَقْتُلُونَ رَجُلاً أَنْ يَقُولَ رَبِّي اللَّهُ . وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ. [٣٦٤٣ ، ٤٥٣٧]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ يَزِيدَ:حافظ ابن حجر فرمائی، "قيل هوأبوهشام الرفاعی وهومشهور بكنيته".
يعنی دا ابو هشام الرفاعی دي،ولې مشهور په کنيت سره دي.

بيا وائی: "وقال الحاكم والكلاباذی هوغيره".(١) يعنی د حاکم او کلا بازی له مخې دا ابو هاشم الرفاعی نه دي.

علامه قسطلانی هم دي دويم قول ته ترجيح ورکولو سره اوفرمائيل:

"قال ابن خلفون، وليس بأبي هشام محمد بن يزيد بن رفاعة الرفاعی، قال الحاكم والكلاباذی".
يعنی دا محمد بن يزيد ابو هشام الرفاعی نه دي،بلکه دويم(محمد بن يزيد)دي،د قسطلانی په رائې کښې دا محمد بن يزيد الحزامی الكوفی البزاز دي.(٢)

دي د اسحاق بن سليمان الرازی،حبان بن علی الغنزی، رُشد بن سعد المصری، السُّدی بن عبد الله السُّلمی البصری، سفيان بن عيينه، شريك بن عبد الله النخعی، عبد الله ابن المبارك، عبد الرحمٰن بن محمد المحاربی، وليد بن مسلم، يحيى بن زكريا، يونس بن بُكير او ابوبكر بن عياش نه روايت کوی.

او ددۀ نه روايت کونکی امام بخاری، عبد الله بن عبد الرحمٰن الدارمی، محمد بن عثمان بن أبی شيبه، أبو كريب محمد بن العلاء وغيره دی.

د جرحې او تعديل په باب کښې:ابن حبان په کتاب "الثقات" کښې د دوی ذکر فرمائيلې دي،يعنی هغوی دي ثقه ګرځوی.(٣)

امام بخاری په "التاريخ الكبير" کښې صرف دومره فرمائيلی دی:

"محمد بن يزيد الكوفی سمع الوليدَ بن مسلم، وضمرةَ بن ربيعة".(٤)

بقيه حاشيه د تيرمخ] باب فی الخلفاء،رقم:٤٦٥١،والترمذی فی جامعه:٢،٢١٠،كتاب المناقب،باب مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه،رقم:٣٦٩٧.

(١) فتح الباری:٩،١٤٩

(٢) إرشاد الساری:٨،١١٧٠

(٣) الثقات لابن حبان:٩،١٧٨

(٤) التاريخ الكبير:١،الترجمة:١٨٣٦

ابو حاتم فرمائی: "مجهولٌ لا أعرِفه".(۱)

حافظ مزی فرمائی: "هكذا ذكره البخاری وأبو حاتم وغير واحد مفرداً عن أبي هشام الرفاعی وهو صحيح، وزعم بعض من ذكر شيوخ البخاری أنه أبو هشام الرفاعی وذلك غلط لا شك فيه. والله أعلم".(۲)

یعنی" د امام بخاری او ابو حاتم له مخې او د څو نورو حضراتو له مخې دا د ابو هشام الرفاعی نه علاوه بل څوك دي، او هم دا صحیح ده، او د امام بخاری شیوخ ذکر کونکو بعضې حضراتو دې ابو هشام الرفاعی ګرځولې دي، چې بې شکه غلط دي".

ابن حجر عسقلانی وائی: "محمد بن يزيد بن محمد بن كثير العجلی أبو هشام الرفاعی الكوفی قاضی المدائن..... ذكره ابن عدی فی شيوخ البخاری وجزم الخطيب بأن البخاری روی عنه لكن قد قال البخاری رأيتهم مجمعين على ضعفه".(۳)

حافظ ابن حجر فرمائی، چې د ابن السکن عن الفربری په روایت کښې دی، چې دا محمد بن کثیر دي، خو دا د هغۀ وهم دي، څنګه چې ابو علی الجیانی په دې تنبیه کړې ده، او د هغۀ د وهم کیدو وجه داده، چې د محمد بن کثیر (محمد بن یزید نۀ دي،) یو روایت هم د ولید نه ثابت نۀ دي، او دلته محمد بن یزید د ولید نه روایت کړې دي.(۴)

په "رجال البخاری" کښې ابو الولید الباجی وائی، محمد بن یزید دا هم ابو هشام الرفاعی دي، او ابو حاتم چې په دۀ او په محمد بن زید کوفی کښې فرق بیان کړې دي، هغه صحیح نۀ دي، او زما له مخې دا یو سړي دي.

باجي د ابو حاتم د "مجهولٌ لا أعرِفُه" دا توجیه کړې ده، چې هغه خو دي د رفاعی نه علاوه بل څوك ګڼړی، او په نفس الامر کښې خبره داسې نۀ ده، نو هغۀ اووئیل، "لا أعرفه" علامه باجی ددې دا دلیل ورکړې دي، چې د محمد بن یزید کوفی د مناقبِ أبی بکر ددې روایت نه علاوه هیڅ یو روایت او هیڅ تذکره په کتاب کښې نشته.

او د خپلې دې دعوې په تائید کښې هغوی دا هم ذکر کړې دی، چې عبید الله بن واصل په "کتاب الأدب" کښې د عبد الله بن عبد الرحمٰن الدارمی یو روایت نقل کړې دي، چې د هغې الفاظ دی. "أخبرنا محمد بن يزيد الهزار حدثنا يونس بن بكير.....".

او بعینه هم دغه روایت ابو هشام هم د یونس نه روایت کړې دي، او ددې "ابو هشام" په کنیت سره محمد بن یزید معروف دي، نو معلومه شوه، چې د "بزاز" په نسبت سره هم هغه معروف دي.

---

۱) الجرح والتعدیل: ۱۴۸،۷، الترجمة: ۵۷۵\

۲) تهذیب الکمال: ۳۵،۲۷\

۳) تقریب التهذیب: ۱، ۵۱۴\

۴) فتح الباری: ۱۴۹،۹\

او کومو خلقو ته چې دا اشکال وړاندې شوې دې، چې دا دواړه ځان ځان له دی، د هغې وجه داده، چې بخاری ددۀ نه روایت هم کړې دې، چې ددۀ توثیق دې، او خپل تاریخ کښې ئې ددۀ تضعیف هم کړې دې، نو ددې نه خلقو دا اوګنړله، چې کیدې شی دا دوه کسان وی، او ددې وجه ابن عدی دا بیان کړې ده، چې امام بخاری صرف ددۀ نه استشهاد کړې دې۔

په هر حال کښې د اسماء رجال په کتابونو کښې ددۀ په حقله ډیر اختلاف دې، علامه باجی، په رجال البخاری، کښې او ابن عدی د تفریق قائل نۀ دی، او باقی حضرات د محمد بن یزید بزاز او محمد بن یزید أبی هشام الرفاعی کښې تفریق کوی۔

ذهبی، ابن حبان او ابن حجر دۀ ته ثقه وائی، او هم دغه صحیح معلومیږی، بیاهم حافظ عسقلانی ددۀ په حقله والله اعلم وئیلو سره د څۀ یقینی خبرې اظهار نۀ کوی۔[۱]

د محمد بن یزید کوفی متعلق د اسماء رجال په کتابونو کښې اختلاف دې، څوک هم دې محمد بن یزید ابو هشام الرفاعی ګرځوی، او څوک ددۀ نه علاوه مستقل راوی، څوک دۀ ته ثقه وائی، نو څوک ضعیف. حافظ ابن حجر محمد بن یزید کوفی او رفاعی دوه راویان ګرځوی، اوفرمائی، امام بخاری هم دوی جدا جدا ګرځوی، او ابو حاتم ئې هم جدا جدا ګرځوی۔[۲]

او ابو حاتم دۀ ته ضعیف هم وئیلی دی، حافظ مغلطائی په دې حوالې سره په څۀ تفصیل سره بیان کړې دې. هغه فرمائی، چې کلابازی اووئیل، دا محمد بن یزید الکوفی البزار دې، او دا رفاعی نۀ دې، او ابن عدی وئیلی دی، دا محمد بن یزید الرفاعی دې،[۳] بزار نۀ دې۔ یعنی یو د بزار د وجود منکر دې، او بل د رفاعی۔ او بخاری هم بس "الرفاعی" ذکر کړې دې، او بل څوک ئې نۀ دې ذکر کړې، یعنی د هغۀ له مخې بزار هیڅ څیز نۀ دې، او ابو حاتم وائې دا دوه سړی دی، یو "بزار" او بل "رفاعی"۔

مغلطائی وائی، "والذی عندی أنه رجل واحد ولذلك لم یعرفه أبوحاتم"[۴] دا هم یو سړې دې، په دې وجه ابو حاتم د محمد بن یزید کوفی په حقله وائی، "مجهول لا أعرفه" ځکه چې هغه څۀ جدا سړی خو نۀ دې. هغه خو هم هغه محمد بن یزید الرفاعی دې، د چا چې هغه د دې نه ورسته ذکر کوی۔

مغلطائی وړاندې وائی، چې امام بخاری هم صرف د یو محمد بن یزید الرفاعی ذکر کړې دې، او کلا بازی د "رفاعی" په دې وجه انکار کوی، چې امام بخاری په خپل صحیح کښې د الرفاعی لاحقه نۀ ده لګولې، او ابن عدی چې کوم الرفاعی منلې دې، هم دغه صحیح دې،

---

[۱] اوګورئ تهذیب التهذیب: ۵۲۹،۹. الکاشف: ۲۳۱،۲. الترجمة (۵۲۲۶)، وتقریب التهذیب، ص: ۵۱۴، رقم الترجمة (۶۴۰۵)، الثقات: ۷۸،۹۱

[۲] تقریب التهذیب، ص: ۵۱۴، وتهذیب التهذیب: ۵۲۷،۹۱

[۳] اکمال تهذیب الکمال: ۳۹۶،۱۰۱

[۴] تقریب التهذیب، ص: ۵۱۴۱

خکه چې په صحیح بخاری کښې د رفاعی نه علاوه څوک محمد بن یزید بالکل شته نه.
کلا بازی ته اشکال په دې وجه اوشو، چې ابن واصل په "کتاب الأدب" کښې دا سند ذکر کړې دې، "حدثنا عبد الله بن عبد الرحمٰن السمرقندی ثنا محمد بن یزید البزار حدثنا یونس بن بکیر" ددې "البزار" نه دا ګڼړی، چې دا د "رفاعی" نه علاوه بل څوک دې.
بیا کله چې بخاری په "تاریخ" کښې د محمد بن یزید تضعیف اوکړو، او په صحیح کښې ئې د هغهٔ نه تخریج اوکړو، نو د کلابازی وغیره اشکال نور هم مضبوط شو، او معامله داده، چې د امام بخاری له مخې هغه ضعیف دې، څنګه چې هغه فرمائی، "رأیتهم مجمعین علی ضعفه"[1] او بخاری چې ددهٔ نه په صحیح کښې روایت کړې دې، هغه صرف د استشهاد د پاره دې.
حافظ مزی چې په دواړو کښې تفریق کړې دې، مغلطائی په "فیه نظر" وئیلو سره هغه په پورتنی تفصیل سره غلط ثابت کړو، د ابن حجر د قول هم تضعیف کړې شوې دې.[2]
اَلْوَلِیْد: دا ابو عثمان ولید بن سلم الاموی الدمشقی دې، ددهٔ حالات تیر شوی دی.[3]
الأَوْزَاعِیِّ: دا عبد الرحمٰن بن عمرو بن محمد ابو عمرو الاوزاعی دې، ددهٔ احوال په "کتاب العلم باب الخروج فی طلب العلم" کښې تیر شوی دی.[4]
یَحْیَی بنِ أَبِی کَثِیرٍ: دا یحیی بن أبی کثیر الطائی دې، ددهٔ احوال تیر شوی دی.[5]
مُحَمَّدِ بنِ إبراهیم: دا محمد بن إبراهیم بن حارث بن خالد القرشی التیمی دې، ددهٔ حالات په "کتاب الإیمان، باب ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة ولکل امرئ مانوی" کښې تیر شوی دی.[6]
عُرْوَةَ بنِ الزُّبَیْرِ: دا مشهور تابعی، د مدینې په فقهاء سبعه کښې یو، عروه بن الزبیر بن العوام رضی الله عنه دې. ددهٔ حالات په "کتاب الإیمان، باب أحب الدین إلی الله أدومه" کښې تیر شوی دی.[7]
عَبْدَ اللهِ بنَ عَمْرٍو: دا عبد الله بن عمرو بن العاص مشهور صحابی دې، ددهٔ احوال په "کتاب الإیمان، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویدِه" کښې تیر شوی دی.[8]

---

[1] اوګورئ: الکاشف، ص: ۲۳۲، إکمال تهذیب الکمال: ۱۰/۱۳۹۶
[2] الجرح والتعدیل: ۸/۱۱۲۹
[3] کتاب مواقیت الصلاة، باب "وقت المغرب" ۱
[4] کشف الباری: ۳/۱۴۰۸
[5] کتاب العلم، باب کتابة العلم..... ۱
[6] اوګورئ: کشف الباری: ۲/۱۷۳۹
[7] اوګورئ: کشف الباری: ۲/۱۵۴۶
[8] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۱۶۷۹

قوله: وَهُوَ يُصَلِّي: "باب ما لقي النبي وأصحابه من المشركين بمكة" کښې د "فی حجر الکعبة" الفاظ هم دی۔[۱]

قوله: رِدَاءَهُ: د ابوذر په نسخه کښې "رداء" بغیر د اضافت نه راغلې دي۔[۲]

قوله: فَخَنَقَهُ بِهِ: ابو ذر او مستملی "بِهَا" د مؤنث په ضمیر سره نقل کوی۔[۳]

قوله: فَجَاءَ أَبُوبَكْرٍ: د ابو ذر په نسخه کښې "فجاءه أبوبکر" دي۔[۴]

قوله: حَتَّى دَفَعَهُ عَنْهُ: ابن اسحاق دا زیاتوالي نقل کړې دي "وهو يبکی"۔[۵]

یعنی "دفع بيده عقبة" حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په خپل لاس سره عقبه بن أبی معیط ته دیکه ورکړه۔[۶]

ابو بکر او "د ال فرعون مؤمن": حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ دلته د "آل فرعون د مؤمن" هغه الفاظ اووئیل، کوم چې هغه د حضرت موسی علیہ السلام په حقله فرعونیانو ته وئیلی وو، او قرآن کریم هغه د همیشه همیشه د پاره محفوظ کړل، علماء فرمائی، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ "د آل فرعون د مؤمن" نه غوره او افضل دي، ځکه چې هغه د حضرت موسی علیہ السلام صرف په ژبه مدد کړې وو، او ابوبکر په ژبه او لاس دواړو حضرت محمد ﷺ سره د کیدونکې بد تمیزئ بدله واخسته۔[۷]

ترجمة الباب سره مناسبت هم واضح دي، ځکه چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د سختې نه سخته موقعه کښې د رسول الله ﷺ مدد اوکړو، او ښکاره خبره ده، دا د هغوی داسې فضیلت دي، چې ددې په وجه باندې هغوی "افضل الصحابه" کرځیدلې دي۔

د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ وفات: د خلیفهٔ اول امیر المؤمنین حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ فضائل او مناقب کوم چې امام بخاری په خپل صحیح کښې ذکر کړې دی، هغه د تشریحاتو او د متعلقه مباحثو سره دلته ختم شو۔

د حضرت د پیدائش او مبارک ژوند د ذکر کولو نه ورسته د هغوی د وفات هم مختصر تذکره کوی، د دوی د وفات متعلق یو قول خو دادې، چې دوی د "مرض السِّل"[۸] نه وفات شو۔

---

[۱] کتاب مناقب الأنصار، باب ما لقی النبی وأصحابه من المشرکین بمکة، رقم: ۳۸۵٤\

[۲] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۳] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۴] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۵] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۶] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۷] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۰\

[۸] دا یوه بیماری ده، چې په هغې سره په کُلمُو کښې زخم پیدا کیږی، او د خُلې نه وینه شروع شی۔ (فیروز اللغات)

واقدی وائي چې دوی په سخته یخنې کښې غسل اوکړو، چې د هغې نه دوی ته تبه اولګیده، او پنځلس ورځې ورستو وفات شو، او یو قول دادې، چې یهودو دوی ته په حریره کښې زهر ورکړې وو، چې د هغې د اثر د وجهې نه وفات شو، ۲۲ جمادی الاخرة ۱۳ هجری باندې دوی وفات شو، د دوی د خلافت زمانه دوه کاله درې میاشتې او څۀ ورځې ده، د دوی عمر په اتفاق سره هم هغه دې کوم چې د رسول الله ﷺ دې، یعنی ۶۳ کاله، د دواړو په ژوند کښې هم صحبت پاتې شوې وو، عمرئې هم یو اومونډلو، اوخاوړې ئې هم یو اومونډلې، رضی الله عنه وأرضاه وصلی الله علی محمد وعلیه۔[1]

۶-بَابُ: مَنَاقِبُ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ أَبِی حَفْصٍ الْقُرَشِی الْعَدَوِی رضی الله عنه

د عمر بن الخطاب نوم او نسب: د عمر بن الخطاب سلسلۀ نسب څۀ داسې ده:

عمر بن الخطاب بن نفیل بن عبد العزی بن ریاح بن عبد الله بن قرط بن رزاح بن عدی بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر.

د دوی مور حنتمة بنت هاشم بن المغیرة ده، د ابو جهل د ترۀ لور ده، بعضې حضراتو حنتمة بنت هشام وئیلو سره د ابو جهل خور ګرځولې ده۔

ابو حفص د دوی کنیت وو، او ابن اسحاق په خپل "سیرت" کښې فرمائی، چې دا کنیت دوی ته رسول الله ﷺ پخپله ورکړې دې، او په دې کښې د دوی لور ام المؤمنین سیده حفصه رضی الله عنها ارخ ته نسبت دې، چې ددۀ په اولاد کښې د ټولو نه لویه وه۔

د "الفاروق" وجۀ تسمیه: د دوی لقب په اتفاق سره "الفاروق" دې، بیا په دې کښې یو قول خو دا دې، چې دا لقب رسول الله ﷺ دوی ته پخپله ورکړې دې، دا ابو جعفر بن أبی شیبه په خپل تاریخ کښې د ابن عباس عن عمر په طریقې سره روایت کړې دې، او ابن سعد هم دا نقل کړې دی۔[2]

دویم قول دادې، چې په دې لقب سره دې اهل کتابو ملقب کړې دې، او یو دریم قول دې، چې جبرائیل امین په دې لقب سره دې ملقب کړې دې، بغوی هم دا ذکر کړې دی۔[3]

قوله: اَلْقُرَشِی: دا د دوی جدّ اعلی فهر ارخ ته نسبت دې، چې د هغۀ نوم قریش وو، د فهر بن مالك بن نضر اولاد ته قریش وئیلې شی، چې په اتفاق سره په نسبِ او مشرئ، فصاحت، شجاعت او کرم وغیره کښې د ټولو نه اعلی دی۔[4]

---

[1] فتح الباری: ۱۴۹.۹

[2] اسد الغابة: عمر بن الخطاب: ۳۱۸.۲، وکنز العمال، رقم: ۳۵۷۴۲

[3] فتح الباری: ۴۹.۹، وإرشاد الساری: ۱۷۱.۸، والکامل لابن الاثیر: ۱۴۴۹.۲

[4] السیرة النبویة لابی الحسن الندوی، ص: ۷۴، وإرشاد الساری: ۱۷۱.۸

قوله: اَلْعَدَوِي: د قریشو یو شاخ بنی عدی قبیلې ارخ ته نسبت دې، د رسول الله ﷺ او د عمر فاروق په مینځ کښې د اتو واسطو نه ورسټو په کعب باندې نسب ملاویږی، ابوبکر او رسول الله ﷺ په نسب کښې ووۀ واسطې ورسټو ملاویږی، په خلفاء اربعو کښې رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زیات نزدې حضرت علی رضی الله عنه، بیا حضرت عثمان رضی الله عنه، بیا حضرت ابوبکر رضی الله عنه او بیا حضرت عمر رضی الله عنه دي.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خپل ځان نه ورسټو حضرت عمر رضی الله عنه خلیفه ټاکلې وو، بیا هغوی لس کاله شپږ میاشتې او څلور ورځې په شان او شوکت سره د مسلمانانو خدمت اوکړو، او بالآخر د ابولؤلؤه مجوسی د لاس نه شهید شو.[1]

دلته مصنف ۱۶ احادیث ذکر کړې دی، چې د حضرت عمر رضی الله عنه په مناقبو او فضائلو باندې مشتمل دی.[2]

۳۴۷۶: [3] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ الْمَاجِشُونُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضي الله عنهما - قَالَ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «رَأَيْتُنِي دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا أَنَا بِالرُّمَيْصَاءِ امْرَأَةِ أَبِي طَلْحَةَ وَسَمِعْتُ خَشْفَةً، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالَ هَذَا بِلاَلٌ. وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ، فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا فَقَالَ لِعُمَرَ. فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ، فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ». فَقَالَ عُمَرُ بِأَمِّي وَأَبِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعَلَيْكَ أَغَارُ [۴۹۲۸ ، ۶۶۲۱]

رجال الحديث

حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ: دا ابو محمد حجاج بن منهال المناطی بصری دي. ددۀ حالات په کتاب الإیمان، باب "ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة، ولکل امرئ ما نوی" کښې تیر شوی دی.[4]

عَبْدُ الْعَزِيزِ الْمَاجِشُونُ: دا عبد العزیز بن عبد الله بن أبی سلمة الماجشون المدنی دي. ددۀ احوال تیر شوي دی.[5]

مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ: دا محمد بن المنکدر بن عبد الله المدنی دي. د دوی حالات تیر شوی دی.[6]

جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: دا د رسول الله ﷺ صحابی حضرت جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام الأنصاری دي. د دوی احوال تیر شوی دی.[7]

---

[1] إرشاد الساری: ۸، ۱۷۱

[2] فتح الباری: ۹، ۵۴

[3] قد سبق تخریج هذا الحدیث تحت حدیث: ۳۴۳۴

[4] اوګورئ کشف الباری: ۲، ۷۴۴

[5] کتاب العلم، باب السؤال والفتیا عند رمی الجمار.....

[6] اوګورئ کتاب الوضوء، باب "صب النبی وَضوء علی المغمی علیه" رقم (۱۹۴)

[7] اوګورئ کتاب بدء الوحی، رقم الحدیث (۳)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ: اکثرو حضراتو د عبدالعزیز بن الماجشون دا حدیث د محمد بن المنکدر نه روایت کړې دي،او صالح بن مالك دا د عبد العزیز عن حُمید عن أنس.....په طریقې سره روایت کوی،څنګه چې بغوی[1]دا روایت کړې دي،نو کیدې شی په دې کښې د عبد العزیز دوه شیخان وی:①:-محمد بن المنکدر،②:-حمید.[2]

قوله: الرُّمَيْصَاءِ: رمیصاء امرأة أبي طلحة،دا د ابو طلحه د بی بی ام سُلیم لقب یا صفت وو،دا اسم مصغر دي،او رمص وئیلې کیږی د سترګې هغه سپین خیری(چخی)ته چې د سترګې په ګوټ کښې جمع کیږی،په دې صفت سره د متصف کیدو په وجه کیدې شی اُمِّ سُلیم ته رُمیصاء وئیلې کیږی.

اُمِّ سُلیم ددې کنیت دي،او نوم ئې سهله یا رمیله یا ددې په شان بل یو نوم دي.

او بعضې حضراتو وئیلی دی،چې هم"رُمیصَاء"ددې نوم دي.

بعضې حضراتو"غمیصاء بالغین بدل الراء"هم نقل کړې دي.ددې متعلق بعضې حضرات وائی،چې ددې د خور ام حرام صفت دي،او ابو داؤد وائی،"هواسم أُختِ أُمِّ سُلیم من الرضاعة".دا د اُمِّ سُلیم د رضاعی خور نوم دي.[3]

ابن التین وائی رُمیصَاء د ابو طلحه د اُمِّ سُلیم نه علاوه بله یوه بی بی هم کیدې شی.[4]

قوله: خَشَفَةً: بفتح الخاء والشین،په وزن او معنی دواړو کښې د"حَرَكَةً"په شان.احمد"سمعتُ خشفا بدون التاء"نقل کړې دي،ددې معنی ده آواز،ابو عبید وائی"الخشفة الصوت لیس بالشدید"هغه آواز چې تیز نۀ وی،یو قول ددې د اصل متعلق دي،خشفة وائی،"صوت دبیب الحیة"د مارد خرنیدو آواز ته،په هر حال کښې دلته مراد"ما یسمع من حس وقع القدم"دي، یعنی د خپو آواز چې اوریدلې شی.[5]

قوله: فَقَالَ هَذَا بِلَالٌ: دا قول د جبرائیل یا د بلې یوې فرشتې دي،او یا پخپله د حضرت بلال دي.[6]

قوله: وَرَأَيْتُ قَصْراً بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ: د ابو هریره رضی الله عنه په روایت کښې ددې نه ورسته دا زیاتوالې هم دي،تتوضأ إلى جانب قصر[7]او ترمذی د حضرت انس په روایت کښې د قصرًا سره

---

[1] شرح السنة،باب فی فضائل عمر،رقم:۳۸۷۷\
[2] فتح الباری:۹،۵٤\
[3] سنن أبی داؤد،باب فضائل الغزو فی البحر،رقم:۲٤۹٤\
[4] فتح الباری:۹،۵٤\
[5] فتح الباری:۹،۵٤\
[6] إرشاد الساری:۸،۱۷۱،۱۷۲\
[7] صحیح بخاری،کتاب النکاح،رقم(۵۲۲۷)\

"من ذهب" هم نقل کړي دي۔[1]

قوله: فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ: ما ته ستا غيرت رايادشو، يا ما ستا غيرت ياد کړو۔

په کتاب النکاح کښې چې دا روايت ذکر کړې شوې دي، هلته دا الفاظ دي: "فأردتُ أن أدخلَه فلَم يمنعني إلا علمي بغيرتِك۔"[2]

په يو روايت کښې دا الفاظ منقول دي:

"دَخَلتُ الْجَنَّةَ فرأيتُ فيها قصرًا يسمع فيه ضوضاء فقلتُ: لمن هذا؟ فقيل: لعمر....."[3]

زه جنت ته داخل شوم، نو ما په هغې کښې يو محل اوليدو، چې په هغې کښې د شور زوڼ آواز وو، ما پوښتنه اوکړه، دا د چا دي؟ جواب راکړې شو د عمر۔

قوله: فَقَالَ عُمَرُ: په کتاب النکاح کښې دي، "فبكى عمرُ، وهو في المجلس ثم قال....."[4] عمر په مجلس کښې وو، په ژړا شو او بيا ئې اووئيل۔

قوله: بِأَبِي وَأُمِّي: "أي أفديكَ بهما" يعنې (مور پلار) دواړه په تاسو قربان کړم۔

قوله: أَعَلَيْكَ أَغَارُ: دا د قبيلې د قلب نه ګرځولې شوې دي، او په اصل کښې دي، "أعليها أغار منك؟"۔

ابن بطال وائي، دي نه معلومه شوه، چې په هر سړي باندې د هغۀ د هغه اخلاقو په بنياد حکم لګولې شي، کوم چې د هغۀ د الفاظو نه معلوميږي۔[5]

حضرت عمر رضی اللہ عنہ ولې اوژړل؟ تر کومې پورې چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ژړا تعلق دي، نو کيدې شي، چې هغوی د خوشالئ د وجهې نه ژړلې وی، په بعضې روايتو کښې دلته يوه بله اضافه منقول ده: "وهل رفَعَني اللهُ إلا بكَ، يا وهل هداني اللهُ إلا بك؟"۔[6]

ما ته چې کوم رفعت يا هدايت ملاؤ شوې دي هغه ستاسو نه علاوه د چا په وجه دي؟ يعنې هم ستاسو په ذريعه دي، د حديث د باب سره مناسبت واضح دي۔

دا حديث د امام بخاری نه علاوه مسلم په "کتاب الفضائل" کښې او نسائی په "مناقبهو" کښې ذکر کړې دي۔[7]

---

[1] فتح الباری: ٩، ٥٤، إرشاد الساری: ٨، ١٧٢، سنن الترمذی، باب مناقب عمر، رقم: ٣٦٨٨\

[2] اوګورئ: کتاب النکاح، باب الغيرة، رقم (٥٢٢٦)\

[3] مسند أبي يعلىٰ، مسند جابر، رقم: ١٩٧٦\

[4] اوګورئ: کتاب النکاح، باب الغيرة، رقم (٥٢٢٦)\

[5] فتح الباری: ٩، ٥٥\

[6] الأحاديث المختارة، رقم: ٢٠٧٦، مكتبة النهضة الحديثة بمكة\

[7] فتح الباری: ٩، ٥٥، إرشاد الساری: ٨، ١٧٢\

٣٤٧٧:(١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - إِذْ قَالَ «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ، فَإِذَا امْرَأَةٌ تَتَوَضَّأُ إِلَى جَانِبِ قَصْرٍ، فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ قَالُوا لِعُمَرَ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَهُ فَوَلَّيْتُ مُدْبِرًا». فَبَكَى وَقَالَ أَعَلَيْكَ أَغَارُ يَا رَسُولَ اللَّهِ [ر: ٣٠٧٠]

رجال الحديث

سَعِيدُ بنُ أبى مَرْيَمَ:دا سعيد بن الحكم بن محمد بن سالم بن أبى مريم الجمحى دي ـ ددهٔ احوال تير شوى دى ـ(٢)

اللَّيْثُ:دا ابو الحارث ليث بن سعد بن عبد الرحمٰن فهمى دي ـ دده احوال په "كتاب بدء الوحى" كښې تير شوي دى ـ(٣)

عُقَيْلٌ:دا عُقيل(مصغر)بن خالد بن عَقيل(مكبر)ايلى دي ـ ددهٔ احوال په "كتاب العلم،باب رفع العلم وظهور الجهل" كښې تير شوي دى ـ(٤)

ابْنِ شِهَابٍ:دا ابن شهاب ابوبكر محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب زهرى دي ـ ددهٔ حالات په "بدء الوحى" كښې تير شوي دى ـ(٥)

سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ:دا مشهور تابعى سعيد بن المسيّب بن حَزن بن أبى وهب مخزومى دي ـ ددهٔ حالات په "كتاب الإيمان باب مَن قال أن الإيمان هو العمل" كښې تير شوى دى ـ(٦)

أَبَا هُرَيْرَةَ:مشهور صحابى مراد دي،ددهٔ احوال په "كتاب الإيمان،باب أمور الإيمان" كښې تير شوى دى ـ(٧)

په دواړو روايتونو كښې فرق:د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دې روايت كښې هم هغه خبره كړې شوې ده،كومه چې په وړاندينى روايت كښې ده،هنه ا يو خو په هغې كښې د پورته ذكر كړې

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه:١،٥١٩،كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ،باب قول النبى ﷺ لو كنتُ متخذاً خليلاً،رقم:٣٦٧٧،و١،٥٢٠،كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ،باب مناقب عمر بن الخطاب، رقم:٣٦٨٥، ومسلم فى صحيحه:٢،٢٧٤،كتاب فضائل الصحابة،باب من فضائل عمر رضي الله عنه،رقم:١٢٣٨٩\

(٢) كتاب العلم،باب من سمع شيئاً فراجع حتّى يعرفه.....

(٣) اوګورئ كشف البارى:١،٣٢٤\

(٤) اوګورئ كشف البارى:٣،٤٥٥\

(٥) اوګورئ كشف البارى:١،٣٢٦\

(٦) كشف البارى:٢،١٥٩\

(٧) كشف البارى:١٦٥٩\

شوې ښځې د مانړئ په ارخ کښې د اودس کولو ذکر دې،او دویم په هغې کښې د "قال لعمر" په ځائې،د "قالوا:لعمر" د جمع په صیغې سره دې،ښکاره خبره ده،چې د "قالوا" فاعل "الملائکة" دې۔[1]

د حدیث فائدې: ددې روایت نه یو خو دا خبره معلومه شوه،چې رسول الله ﷺ د خپلو صحابو څومره خیال اولحاظ ساتلو،بیاپه دې کښې دحضرت عمر رضی الله عنه د یوواضح فضیلت ذکرهم دې۔[2]

په جنت کښې د اودس کولو نه څهٔ مراد دې؟ دلته په روایت کښې د "تتوضأ" په لفظ باندې دا اشکال کیدې شی،چې جنت خو دار الجزاء دې،په هغې کښې د اودس کولو څهٔ مطلب دې،ځکه چې اودس خو د تکلیف شرعی د وجهې نه دې، او ددې تعلق د دارالتکلیف یعنی دنیا سره دې۔

ددې جواب دادې،چې جنت خو بې شکه دارالجزاء ده،او په هغې کښې به اودس(کوم چې عمل دې)نهٔ وی،بلکه د هغې بدله او ثواب به وی،ولې رسول الله ﷺ دا خوب په دارالتکلیف کښې لیدلې وو،او د کومې ښځې متعلق چې ئې لیدلې وو،هغه هم په دارالتکلیف کښې وه،او په دغه وخت کښې ژوندې وه،لهذا "تتوضأ" کهٔ په خپله ظاهری معنی باندې محمول او حقیقت وی،نو په دې کښې د اعتراض څهٔ خبره ځکه نشته،چې په جنت کښې د اوسیدو په زمانه کښې(یعنی د قیامت په ورځ)او په جنت کښې دننه اودس کول موجب د اشکال دی،او دا اودس خو رسول الله ﷺ په خپل او د هغې ښځې په ژوند یعنی د تکلیف په زمانه کښې وینی،لکه څنګه چې د حدیث د الفاظو نه ظاهره ده،دویم قول دادې،چې "تتوضأ" حقیقت نهٔ دې،بلکه مجاز دې،او خوب لیدل همیشه د پاره په حقیقت باندې نهٔ شی محمول کولې،بلکه اکثر په هغې کښې تاویل کولې شی،او د هغې تعبیر بیانولې شی،او ضروری نهٔ ده،چې د ظاهری معنې مطابق وی۔

نو په جنت کښې د اودس کولو تاویل او تفسیر به داشی،چې دا ښځه په دنیا کښې د اودس او عبادت ډیر زیات اهتمام کوی،په جنت کښې اودس کول ددې ښځې په دنیا کښې په اودس کښې د اوسیدو دلیل دې۔

یا به ئې تاویل داسې اوکړې شی،چې په "تتوضأ" کښې د وضوء نه مراد "تستعمل الماء لأجل الوضاءة" دې یعنی هغې د خپل ځان د پرقولو د پاره اوبهٔ استعمالولې،په دې صورت کښې د وضوء نه مراد وضوء لغوی دې،بیا هم دې احتمال ته بعید وئیلې شوی دی۔

د خطابی او د ابن قُتَیبه عجیبه تاویل: ابن قُتیبه دلته یو عجیبه خبره کړې ده،او خطابی هم هغې پسې تلې دې،هغه وائی چې د "تتوضاء" لفظ دلته بالکل شته نه،بلکه دا تصحیف،او د

---

[1] فتح الباری:۱۵۵،۹

[2] فتح الباری:۱۵۵،۹

ناسخ د ارخ نه بدلون دي،او صحيح لفظ داسې دي:"امرأة شوهاء"چې د صورى مماثلت د وجهې نه په غلطې سره"تتوضأ"اوګنړلې او جوړ کړې شو،او د"تتوضأ"د غير صحيح کيدو وجه ئې دا اوښودله،چې په جنت کښې د اودس کيدل مستبعد دى،ځکه چې دا يو امر شرعى دي،حال دادي چې دا څۀ وجه نۀ ده،ځکه چې د يو حديث د صحيح وجهې نه نۀ خبريدل اودهغې په معنٰى نۀ پوهيدل دحديث د حفاظو د غلطئ هيڅ کله هم تقاضا نۀ کوى[1]

خطابى ددې غلط فهمئ نه ورستو د"شوهاء"تفسير بيان کړې دي،او فرمائيلې ئې دى، د"شوهاء"معنٰى ده، "حسناء"يعنى خائسته ښځه،او دا تفسير هغۀ ابوعبيد ارخ ته منسوب کړې دي[2]حال دادي چې دا صحيح نۀ دي، ځکه چې د"شوهاء"معنٰى حسناء په هغه وخت کښې ده،کله چې دا د اَس صفت وى،جوهرى وائى،"فرس شَوهاء،صفة مَحمودة"[3] او د شوهاء لغوى معنٰى ده،واسعة الفم يعنى کلاؤ خُلۀ او دا په اسونو کښې مستحسن او په ښځو کښې قبيح دي،څنګه چې ابن الاعرابى وغيره په جزم سره وئيلى دى[4]

قرطبى د ابن قتيبۀ او خطابى په دې قول باندې نکير کړې دي،ولې هغۀ دا صرف ابن قتيبۀ ارخ ته منسوب کړې دي۔ قرطبى وائى:

"ووضؤ هذه المرأة فى الجنة إنما هو لتَزداد حسناً ونوراً لا لتزيلَ وسخاً ولا قذراً،إذ الجنة منزهة عن ذلك".[5]

هلته اودس په خائست کښې د زياتوالى د پاره وو،نۀ د صفائئ د پاره،ځکه چې په جنت کښې به نجاست او ګندګى بالکل وى هم نه۔

ترجمه هم د خطابى تکذيب کوى: ابن حجر وائى او امام بخارى چې په کتاب التعبير کښې د"باب الوضؤ فى المنام" باب لګولې دي،ددې نه هم معلوميږى،چې د خطابى دا"شَوهاء"ګرځول غلط دى.بلکه دا هم"تتوضاء"دي،ګنې نو بيا "وضؤ فى المنام"د کوم لفظ نه ثابتيږى[6] په روايت او باب کښې مناسبت واضح دي۔

---

[1] شرح صحيح البخارى لابن بطال:۱۳،۳۱۵

[2] غريب الحديث للخطابى:۱،۱۱۳،ومادة"شوه"

[3] الصحاح للجوهرى مادة"شوه"

[4] كذا فى المغرب بلفظ"امرأة شوهاء قبيحة الوجه مادة"شين"،ولسان العرب مادة"شوه"

[5] المفهم شرح مسلم فضائل عمر.....:۶،۱۲۰۷

[6] فتح البارى:۹،۱۵۵

٣٤٧٨:(١) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ أَبُو جَعْفَرٍ الْكُوفِي حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِي قَالَ أَخْبَرَنِي حَمْزَةُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ شَرِبْتُ - يَعْنِي اللَّبَنَ - حَتَّى أَنْظُرَ إِلَى الرِّي يَجْرِي فِي ظُفُرِي أَوْ فِي أَظْفَارِي، ثُمَّ نَاوَلْتُ عُمَرَ» فَقَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ قَالَ «الْعِلْمَ». [ر: ٨٢]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ الصَّلت: محمد بن الصَّلت بن الحجاج الأسدى، أبو جعفر الكوفى الأصم. حاكم فرمائى، "كان بأصبهان فصار إلى الكوفة". اول په اصبهان كښې وو بيا كوفې ته لاړو.

ددۀ شيوخ دى، ابراهيم بن سعد، احمد بن بشير الكوفى، اسباط بن محمد، اسماعيل بن عياش، بشر بن عمارة الخثعمى، عبد الله بن المبارك، عبد الرحمٰن بن أبى الزناد، عثمان بن يزيد وغيره.

او ددۀ نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، عبد الله بن عبد الرحمٰن الدارمى، ابو زرعه عبد الرحمٰن بن عمر الدمشقى، امام ترمذى، امام نسائى، امام ابن ماجه وغيره شامل دى.(٢)

محمد بن عبد الله بن نمير، ابو زرعه او ابو حاتم وائى: "ثقة".(٣)

ابن حبان هم په كتاب "الثقات" كښې ددۀ ذكر كړې دې.(٤)

ذهبى هم ثقة وئيلى دى.(٥) ابن حجر فرمائى، "ثقة".(٦)

٢١٨، يا ٢١٩ هجرې كښې وفات شوې دې.(٧)

په صحيح بخارى كښې ددۀ هم دغه يو حديث دې، او د امام بخارى د يو بل شيخ نوم هم محمد بن صلت دې، د هغۀ كنيت ابو يعلى دې، حافظ ابن حجر وائى: "وأبو جعفر أكبر من أبي يعلى وأقدم سماعًا" ابو جعفر الكوفى ددۀ نه د سماع په اعتبار سره متقدم او عمر كښې زيات دې.(٨)

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه: ٥١٩، كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ، باب قول النبى ﷺ "لو كنتُ متخذاً خليلاً"، رقم: ٣٦٧٨، وفى كتاب مناقب الأنصار، باب ما لقى النبى ﷺ وأصحابه من المشركين بمكة، رقم: ٣٨٥٤، وفى: ٧١١.٢، كتاب التفسير سورة المؤمن، رقم الحديث: ٤٨١٥، وتفرد به البخارى.\

(٢) تهذيب الكمال للمزى: ٣٩٨.٣٩٧.٢٥، وتهذيب التهذيب للعسقلانى: ١٢٣٢.٩\

(٣) الجرح والتعديل: ٧، الترجمة: ١٥٦٧\

(٤) الثقات: لابن حبان: ٧٧.٩\

(٥) الكاشف: للذهبى: ١٨٢.٢، الترجمة (٤٩١٤)\

(٦) تقريب التهذيب، ص: ٤٨٤، الترجمة (٥٩٧٠)\

(٧) تهذيب الكمال: ٤٠٠.٢٥\

(٨) فتح البارى: ٥٥.٩\

ابنُ المُبَارَک: دا عبدالله بن المبارك بن واضح الحنظلی المروزی دي، ددۀ حالات "بدء الوحی" کښې تیر شوي دی۔[1]

يُونُسَ: دا يونس بن يزيد ايلی دي، ددۀ احوال په "كتاب العلم، باب من جعل لأهل العلم أيامًا معلومة" لاندې تیر شوي دی۔[2]

الزُّهْرِيِّ: دا محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهری دي، ددۀ حالات په "بدء الوحی" کښې تیر شوی دی۔[3]

حَمْزَةُ: دا حمزة بن عبد الله بن عمر بن الخطاب دي، ددۀ احوال په "كتاب العلم، باب الفتيا وهو واقف على الدابة وغيرها" کښې تیر شوي دی۔[4]

أبيه: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما مراد دي، چې د حمزه پلار دي۔

قوله: شَرِبْتُ، يَعْنِي اللَّبَنَ: د شربتُ مفعول "اللَّبَنَ" دي، شودۀ څکل مراد دی۔

"رِی" په کسرې د راء سره دي، او په فتحې سره هم جائز دي۔

"شَرِبْتُ" دلته هم دغه شان مختصر بغیر د ذکر د مشروب نه راغلې دي، او په کتاب التعبیر کښې د عبدان عن ابن المبارك..... په طریقې سره، دا الفاظ منقول دی، "بينا أنا نائم أتيت بقدح لبن فشربت منه."[5] زۀ اودۀ ووم، چې د شودو یوه پیالې راوړلې شوه او ما ته راکړې شوه، نو ما د هغې نه اوڅکل۔

قوله: حَتَّى أَنْظُرَ إِلَى الرِّي: "رِی" بکسر الراء دي او په فتحې سره هم صحیح دي۔[6]

د عبدان په روایت کښې د "حتى أنظر" الفاظ راغلي دی۔[7]

بیا رؤیت چې هغه په "أنظر" یا "أری" سره ذکر کړې شوي دي، دا هم په حقیقت باندې محمول نۀ دي، بلکه د استعارې په توګه مذکور دي، او مراد دادي، چې په ما کښې لوندوالې او تازه والې راغې. او نښکاره شو۔

ګویا "رِی" چې کله د بدن برخه جوړه کړې شوه، نو هغې اړخ ته ددې فعل نسبت اوکړې شو،

---

[1] كشف الباری: ۱۴۶۲،۱\

[2] كشف الباری: ۱۲۸۲،۳\

[3] كشف الباری: ۱۳۲۶،۱\

[4] كشف الباری: ۱۴۵۸،۳\

[5] اوګورئ صحيح البخاری، كتاب التعبير، باب اللبن، رقم (۷۰۰۶)\

[6] فتح الباری: ۵۵،۹\

[7] صحيح البخاری، كتاب التعبير، باب اللبن، رقم (۷۰۰۶)\

چې د بدن د خواصو نه دي،یعنی هغې ارخ ته د رؤیت نسبت اوکړې شو،ځکه چې بدن د اعیانو د قبیلې نه دي،او هغه په نظر راځی،او د بدن رنګونه او کیفیتونه هم په نظر راتلونکې څیزونه دی.لهذا "رِی الجسم" د پاره رؤیت ثابت کړې شو،"أنظر" د مضارع په صیغې سره ذکر کړې شو،حال دادې چې مراد ماضی ده،دا په دې وجه چې په دې سره د ماضی د حالت حکایت کړې شوې دي،د هغه حال د استحضار د پاره.

قوله: يَجْرِي فِي ظُفُرِي: يَجْرِي اللبن يا يَجْرِي الرِّي..... یعنی هغه شودهٔ زما په نوکونو او د ګوتو په سرونو کښې په تیزئ سره روان وو،یا هغه تازه والې روان وو.ظفري أو أظفاري دلته د راوی نه په شك سره مروی دی،او د عبدان په روایت کښې مِن أظافيري[1] او په کتاب العلم کښې "فی أظفاری" بغیر د شك نه مروی دي.[2]

قوله: ثُمَّ نَاوَلتُ: دلته "ناولتُ" راغلې دي،د عبدان په روایت کښې "أعطيتُ فضلی عمر" دي.[3] او په کتاب العلم کښې د "أعطيتُ فضلی عمرَبن الخطاب" الفاظ راغلې دی.[4] او د کتاب التعبیر په یو روایت کښې د أعطيتُ فضله عُمرَ راغلې دي.[5]

د خوب تعبیر چا بیان کړو ؟: فَمَا أَوَّلتَه.قَالَ: العِلمُ..... دلته په دې روایت کښې صحابهٔ کرامو د هغوی ﷺ نه پوښتنه کړې ده،چې تاسو د هغې تعبیر څهٔ اوکړو،او هغوی ﷺ جواب ورکړو.چې ددې تعبیر "علم" دي.

او په "جزء الحُسين بن عرفه" کښې په یوئې بلې طریقې سره د ابن عمر نه مروی دی:

"قال: فقالوا: هذا العلم الذی أتاكه الله،حتى امتلأت وفضلت منه فضلة فأخذها عمر،قال: أصبتم".[6]

یعنی صحابهٔ کرامو هغوی ﷺ ته اووئیل،چې دا خو علم دي،چې الله تعالی تاسو ته درکړې دي،او تاسو په دې سره سیرابه او مارهٔ شوئ،او بیا ستاسو نه پاتې شوې حضرت عمر رضی الله عنه واخستو.

رسول الله ﷺ اوفرمائیل،تاسو صحیح اووئیل.

ددې روایت سند ضعیف دي،او کهٔ ددې سند محفوظ وی،نو بیا په دې کښې دا احتمال دي،چې بعضې حضراتو پوښتنه اوکړه،چې تعبیر څهٔ دي،او بعضې کسانو پخپله تعبیر

---

[1] صحیح البخاری،کتاب التعبیر،باب اللبن،رقم(۷۰۰۶)\

[2] صحیح البخاری،کتاب العلم،باب فضل العلم،رقم(۲)،وکتاب التفسیر،باب اللبن،(۷۰۰۶)\

[3] صحیح البخاری،کتاب التعبیر،باب اللبن رقم(۷۰۰۶)\

[4] صحیح البخاری،کتاب العلم،باب فضل العلم،رقم(۸۲)\

[5] صحیح البخاری،کتاب التعبیر،رقم(۷۰۲۷\

[6] فتح الباری:۹،۵۵\

بیان کړو، چا چې پوښتنه اوکړه، هغوی ته رسول ﷺ بیان کړو، او چا چې صحیح بیان کړو، رسول الله د هغوی تصویب اوفرمائیلو.

په عبارت کښې لفظ د "اَلْعِلْمُ" منصوب کیدې شی، په دې صورت کښې به تقدیر وی، أولتُه العلم ما ددې تعبیر په علم سره اوکړو، او دا مرفوع هم کیدې شی، ای المؤل به هو العلم یعنی په څۀ سره چې تعبیر اوکړې شو، هغه علم دې.[1]

د شودو تعبیر په علم سره ولې اوکړې شو؟ خوب کښې چې شودۀ اولیدلې شی، نو ددې نه مراد علم وی، د شودو تعبیر په علم سره په دې وجه اوکړې شو، چې شودو او علم په ډیر والی د نفعې او د خیر کثیر په سبب کیدو او د هغې د پاره په مفید کیدو کښې مشترک دی، او دواړه د اصلاح په اسبابو کښې دی، نو شودۀ خو بدن ته د غذاء فائده ورکوی، او علم د غذائې معنوی او روحانی فائده ورکوی، یو د بدن د اصلاح د پاره مفید دې، او دویم د اصلاح روح یا د اصلاح دین د پاره.

په حدیث کښې په واضحه توګه د حضرت عمر رضی الله عنه فضیلت ذکر دې، او یوه خبره ددې نه دا هم معلومیږی، چې خوب په خپله ظاهری معنی باندې محمول کول ضروری نۀ دی، اګر چې هغه د انبیاؤ خوب ولې نۀ وی، چې د وحی د قبیلې نه وی، بلکه بعضې خوبونه د هغې په ظاهر باندې محمول کولې شی، او د بعضې خوبونو تعبیر او تاویل بیانولې شی.[2]

د خوبونو نور تفصیل به په کتاب التعبیر کښې راځی انشاء الله تعالیٰ.

د علم نه مراد علم سیاست دې: حافظ ابن حجر دلته یوه عجیبه خبره کړې ده، چې معقوله هم ده. حافظ صاحب فرمائی، "والمراد بالعلم هنا العلم بسیاسة الناس بکتاب الله وسنة رسول الله".[3]

دلته د علم نه مراد د کتاب الله او سنت رسول الله مطابق د خلقو سیاست یعنی د حکومت د کار علم دې. چې د قرآن او سنتو مطابق عام اولسی سیاست او مدنی سیاست څنګه اوکړې شی. او د انسانیت خدمت څنګه اوکړې شی، بیا ئې اوفرمائیل:

"واختص عمر بذلك لطول مدّته بالنسبة إلى أبي بكر وباتفاق الناس على طاعته بالنسبة إلى عثمان، فإن مدّة أبي بكر كانت قصيرة فلم يكثر فيها الفتوح التي هي أعظم الإسباب في الاختلاف ومع ذلك فَسَاسَ عمرُ فيها - مع طول مدّته - الناسَ بحيث لم يُخالفه أحدٌ ثم ازدادت اتساعاً في خلافة عثمان فانتشرت الأموال واختلفت الآراءُ ولم يتّفق له ما اتّفق لِعُمر من طواعية الخلق له فنشأت من ثَمَّ الفتن إلى أن أفضى الأمر بقتله واستخلف على فما ازداد الأمر إلّا اختلافاً والفتن إلّا انتشاراً".[4]

---

[1] فتح الباری: ۱۵۵.۹
[2] فتح الباری: ۱۵۶.۹
[3] فتح الباری: ۱۵۶.۹
[4] فتح الباری: ۱۵۵.۹

د علم سیاست د حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره د اختصاص وجه څۀ ده، خلافت خو نورو خلفاؤ هم کولو.....؟ وې فرمائیل، ددې د اختصاص وجه داده، چې د هغوی زمانه د خلافت د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په نسبت سره ډیره وه، او د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په نسبت خلق د دوی په اطاعت باندې ډیر متفق وو، د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د خلافت زمانه کمه وه په دې وجه فتوحات کم شوی دی، او د حضرت عمر په زمانه کښې ډیر اوشو، چې د اختلاف یو لوئې سبب کیدې شی، ولې دې سره سره حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ د ډیرې زمانې پورې د فتوحاتو داسې ډکۀ بادشاهی او سیاست اوکړو، چې چا هم د هغوی مخالفت اونۀ کړو، بیا د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ زمانه کښې په خلافت کښې نوره هم فراخی راغله، نو قسمًا قسم خبرې خورې شوې، او په آراؤو کښې اختلاف ښکاره شو، او د هغوی داسې اطاعت اونۀ کړې شو، د څنګه اطاعت او حکم منلو اتفاق چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته شوې وو، په دغه وجه فتنې رابرسیره شوې، او خبره د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قتل ته اورسیده، بیا حضرت علی رضی اللہ عنہ خلیفه جوړ کړې شو، ولې د هغوی په زمانه کښې هم په معامله کښې نوراختلاف اود فتنو په خوریدو کښې زیاتوالې اوشو. معلومه شوه، چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په شان سیاسی بصیرت، د حکومت د رازونو پیژندګلو، پوهه او تدبر چا ته هم نۀ دې ملاؤ شوې، هم په دغه وجه د "عبقری" لقب هغوی ته د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه ملاؤ شو، چې هم دا مفهوم ادا کوی، نو د خوب تعبیر او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په سیاسی علم باندې پوهه بالکل ښکاره ده۔

په حدیث او ترجمة الباب کښې مطابقت بالکل ظاهر دې۔

۳۴۷۹: [۱] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُوبَكْرِ بْنُ سَالِمٍ عَنْ سَالِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضی الله عنهما - أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «أُرِيتُ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَنْزِعُ بِدَلْوِ بَكْرَةٍ عَلَى قَلِيبٍ، فَجَاءَ أَبُوبَكْرٍ فَنَزَعَ ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ نَزْعًا ضَعِيفًا، وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ، ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَاسْتَحَالَتْ غَرْبًا، فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِي فَرِيَّهُ حَتَّى رَوِيَ النَّاسُ وَضَرَبُوا بِعَطَنٍ». قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ الْعَبْقَرِي عِتَاقُ الزَّرَابِي. وَقَالَ يَحْيَى الزَّرَابِي الطَّنَافِسُ لَهَا خَمْلٌ رَقِيقٌ (مَبْثُوثَةٌ) كَثِيرَةٌ. [ر: ۳۴۳۴]

رجال الحدیث

مُحَمَّدُ بنُ عَبدِ الله بنِ نُمَيرٍ: دا محمد بن عبد الله نمیر همدانی الکوفی دې، ددۀ حالات تیر شوي دي۔ [۲]

مُحَمَّدُ بنُ بِشْرٍ: دا ابوعبدالله محمدبن بشرالکوفی العبدی دې، ددۀ احوال هم تیرشوي دی۔ [۳]

---

[۱] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب النکاح، باب الغیرة، رقم: ۵۲۲۶

[۲] کتاب العمل فی الصلاة، باب ما ینهی من الکلام فی الصلاة (رقم: ۱۱۹۹)

[۳] کتاب العتق، باب إذا قال: لعبده هو لله ونوی العتق (رقم: ۲۵۳۰)

عُبيدُ الله دا عبيدالله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر الخطاب العمری دي،ددۀ احوال تير شوي دي۔[1]

أبُوبَكر بنُ سَالِم دا ابوبكر بن سالم بن عبدالله بن عمر بن الخطاب القرشی العدوی المدنی دي۔ په صحيح بخاری کښې ددۀ هم دغه يو روايت دي،بخاری او مسلم ددۀ نه روايت کړې دي،عبيدالله بن عمر العمری ددۀ نه روايت کوی۔

ابو حاتم الرازی ددۀ په حقله فرمائی:"لاأعرف له إسماً".

او عجلی دۀ ته ثقه وئيلی دی،ذهبی،ابن سعد او ابن حجر هم ددۀ توثيق کړې دي،ابن سعد د مدنيينو په څلورمه طبقه کښې ددۀ شمير کړې دي۔[2]

امام بخاری ددۀ دا روايت د متابع په توګه ذکر کړې دي،او دا حديث د زهری عن سالم..... په طريقې سره تير شوي دي۔[3]

سَالِم:دا سالم بن عبدالله بن عمر بن الخطاب القرشی العدوی دي،ددۀ حالات په کتاب الإيمان.باب"الحياء من الإيمان"کښې تير شوي دی۔[4]

ابوبكر بن سالم او ددۀ نه روايت کونکې عبيدالله بن عمر العمری دواړه په صغارو تابعينو کښې شمير کړې شوي دی،او دا دواړه معاصر دی،او سالم پخپله په کبار تابعينو کښې دي.او په فقهاء سبعه کښې يو دي۔[5]

قوله: بِدَلْوٍ بَكْرَةٍ: د دَلو(بوقه)اضافت"بَكْرَة"ارخ ته شوي دي،او"بَكْرَة"په سکون د دال سره هم کيدې شي.ددې معنی ده ځوانه اوښۀ،او په فتحې د کاف سره هم کيدې شی،ددې معنی ده.هغه غوندې لرګې چې هغې ته بوقه زورندولې شی۔

د حضرت عمر رضی الله عنه عبقری کيدل او د هغې مفهوم:قَالَ ابنُ جُبَيْرٍ.....مونږ په تير شوی يو روايت کښې وئيلی وو.چې په خوب کښې د شودو څکلو په حديث کښې د لَبَن(شودو)نه علم مراد دي.او د علم نه بيا علم د اسلامی سياست مراد دي،د هغې يو دليل دا هم دي،چې هم د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله د ليدلې شوی يو بل خوب ذکر کولو سره رسول الله ﷺ هغوی ته د"عبقری"لقب ورکړو.دلته د هغه حديث ذکر دي،او ابن جبير د"عبقری"معنی بيان کړې ده.چې د هغې نه د پورته ذکر کړې شوې استدلال او د هغې د صحيح والی او اصابت اندازه لګيدلې شی۔

---

[1] كتاب الوضوء،باب التبرز فی البيوت،(رقم:۱٤۸)۱

[2] تهذيب التهذيب:۲۵،۱۲.تهذيب الكمال:۹۷،۳۳.الكاشف:٤۱۰،۲.(رقم الترجمة:۶۵۱۹).تهذيب التهذيب، ص:۶۲۲.(رقم الترجمة:۷۹۶۶)۱

[3] فتح الباری:۵۶،۹۱

[4] كشف الباری:۱۱۲۸،۲۱

[5] فتح الباری:۵۶،۹۱

د سعید بن جبیر په دې قول کښې د عبقری تفسیر په "عتاق الزرابی" سره کړې شوې دې، الزَّرَابِيُّ زَرِبِيَّةٌ جمع ده،چې ددې معنی ده،ښکلې او اعلی تکیه ګانې او ګدئ،عتاق الزرابی یعنی ښکلې تکیه ګانې او ښکلې او فراخه ګدئ،دویمه معنی ددې دا کړې شوې ده، "النافذ الماضی الذی لا شئ یفوقه".(۱) هغه فعال یا ماهر سړې یا څیز چې د هغهٔ څوک مقابله نهٔ شی کولې،او د هغهٔ نه پورته څوک نهٔ وی.

حافظ ابن حجر د ابو عُمر په حوالې سره نقل کړې دی، "عبقری القوم سیدهم وقیّمهم وکبیرهم" یعنی په قوم کښې عبقری هغه کس ته وئیلې شی،څوک چې د هغوی سپه سالار،او امیر وی، او د فراء قول ئې نقل کړې دې، "العبقری: السید والفاخر من الحیوان،والجوهر،والبساط المنقوش"(۲) یعنی عبقری سردار او د فخر ور حیوان،جوهر او ګدئ وغیره ته وئیلې کیږی.

یو قول دادې چې عبقری منسوب دې "عبقر" ارخ ته،چې په باندو کښې د یو ځائې نوم دې،او یوقول دادې،چې دا یوکلې دې،چې په هغې کښې اعلی کپړې(رختونه)او ډیرې ښکلې بسترې تیارولې شی.یو قول دادې،چې عبقری یو داسې زمکې ارخ ته نسبت دې،چې په هغې کښې جنات اوسیږی،عرب د هر اعلی او لوئې څیز مثال ورکولو د پاره هغې ته عبقری وائی.(۳)

نووی وائی: "العبقری الذی لیس فوقه شیئ،"(۴)

علامه ابن الاثیر ددې په حقله وائی:

"فصاروا کلما رأوا شیئاً غریباً مما یصعب عمله ویدق أو شیئاً عظیماً فی نفسه نسبوه إلیها فقالوا عبقری".(۵)

یعنی عرب چې کله هم یو عجیبه او ناآشنا څیز اوویني،چې په هغې کښې معنویت او دقت وی.یا هغه څیز فی نفسه لوئې وی.نو هغوی دا څیز دې کلې ارخ ته منسوب کولو سره عبقری وائی.بیا په دې کښې وسعت راغې.او هر لوئې سردار او صاحب د کمال سړې په دې سره اونومولې شو.

بیا مصنف د خپل عادت مطابق د "زرابی" معنی هم ذکر کړې ده،او وې فرمائیل زرابی وئیلې شی، "الطنافِسُ لها خمل رقیق" ته،یعنی قالین او درئ چې د هغې نرې جال وی،او وې فرمائیل چې په قرآن کریم کښې(وزرابی مبثوثة) مستعمل دې.

د مذکوره تعلیق تخریج او د هغې موصولاً ذکر: حافظ ابن حجر فرمائی:

---

۱) فتح الباری:۹.۱۵۶

۲) فتح الباری:۹.۱۵۷

۳) شرح النووی علی مسلم:۱۵.۱۱۶۱

۴) النهایة لابن الأثیر:۲.۱۱۵۳

۵) تغلیق التعلیق:٤.۱۶۳

"وأما قول سعيد بن جُبير فأخبرنا به عمر بن محمد الهاشمى أخبرنا على بن أبى بكر بن معالى، أخبرنا على بن أحمد أخبرنا احمد بن محمد بن التيمى فى كتاب، أخبرنا الحسن بن أحمد أخبرنا احمد بن عبد الله، حدثنا سليمان بن احمد حدثنا المقدام بن داود حدثنا أسد بن موسى حدثنا هيثم عن أبى بشير عن سعيد بن جُبير....." (١)

او په يو بلې طريقې سره ئې داسې بيانوى:

"أنبأنا ابوبكر بن أبى عمر الحموى، أن جدّه محمد بن إبراهيم الحاكم أخبره أخبرنا عبد الهادى بن عبد الكريم عن حماد بن هبة الله أن إسماعيل بن أحمد أخبره: أخبرنا أبو الحسين بن النقور أخبرنا عيسى بن على حدثنا البغوى حدثنا نعيم بن الهيثم حدثنا أبو عوانه عن أبى بشر به". (٢)

د يحيى د قول تخريج كولو سره فرمائى:

"وأما قول يحيى وهو ابن زيادة الفراء فأخبرنا به محمد بن أحمد بن على المزاز، إجازة شافهة عن يونس بن أبى اسحاق عن أبى الحسن بن أبى عبد الله عن الفضل بن سهل عن الخطيب أخبرنا أبو سعيد بن أبى عمر، حدثنا أبو العباس محمد بن يعقوب حدثنا محمد بن الجهم حدثنا يحيى بن زياد الفراء فى كتاب معانى القرآن له....." (٣)

٣٤٨٠: (٤) حَدَّثَنَا عَلِىُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِى عَبْدُ الْحَمِيدِ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ سَعْدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَاهُ قَالَ ح حَدَّثَنِى عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِى وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - ، وَعِنْدَهُ نِسْوَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ ، عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ عَلَى صَوْتِهِ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قُمْنَ فَبَادَرْنَ الْحِجَابَ فَأَذِنَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَدَخَلَ عُمَرُ وَرَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَضْحَكُ، فَقَالَ عُمَرُ أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فَقَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - «عَجِبْتُ مِنْ هَؤُلاَءِ اللاَّتِى كُنَّ عِنْدِى فَلَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ». فَقَالَ عُمَرُ فَأَنْتَ أَحَقُّ أَنْ يَهَبْنَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. ثُمَّ قَالَ عُمَرُ يَا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ، أَتَهَبْنَنِى وَلاَ تَهَبْنَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقُلْنَ نَعَمْ، أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -

---

(١) تغليق التعليق: ٤، ١٦٣

(٢) تغليق التعليق: ٤، ١٦٣

(٣) تغليق التعليق: ٤، ٦٤، ١٦٣

(٤) الحديث مر تخريجه فى كتاب بدء الخلق، باب ما جاء فى صفة الجنة وأنها مخلوقة.....١

.فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِيهًا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا قَطُّ إِلاَّ سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ». [ر: ۳۱۲۰]

رجال الحديث

عَلِيُّ بنُ عَبدِ اللهِ: دا امیر المؤمنین فی الحدیث ابو الحسن علی بن عبد الله بن جعفر بن نجیح سعدی البصری دي، چې د ابن المدینی په نوم سره مشهور دي، ددۀ حالات په "کتاب العلم، باب الفهم فی العلم" کښې تیر شوي دی۔[۱]

يَعقُوبُ بنُ ابراهيم: دا ابو یوسف یعقوب بن إبراهیم بن سعد بن إبراهیم بن عبد الرحمٰن بن عوفل القرشی الزهری المدنی دي، ددۀ احوال په "کتاب العلم، باب ما ذکر فی ذهاب موسی ﷺ فی البحر إلی الخضر" کښې تیر شوي دی۔[۲]

صَالِحٍ: دا ابو محمد، یا ابو الحارث صالح بن کیسان المدنی دي، ددۀ حالات په "کتاب الإیمان، باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال" کښې تیر شوي دی۔[۳]

ابنِ شِهَابٍ: دا ابوبکر محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبد الله بن شهاب الزهری دي، ددۀ حالات په "کتاب بدء الوحی" کښې تیر شوي دی۔[۴]

مُحَمَّدِ بنِ سَعدٍ: دا محمد بن سعد بن أبی وقاص دي، ددۀ احوال تیر شوي دی۔[۵]

عَبدُ العَزِيزِ بنُ عَبدِ اللهِ: دا عبد العزیز بن عبد الله بن یحیی بن عمرو بن اویس اویسی دي، ددۀ احوال په "کتاب العلم، باب الحرص علی الحدیث" کښې تیر شوي دی۔[۶]

ابراهيم بنُ سَعدٍ: دا إبراهیم بن سعد بن إبراهیم بن عبد الرحمن بن عوف دي، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال" کښې تیر شوي دی۔[۷]

عَبدِ الحَمِيدِ بنِ عَبدِ الرَّحمٰنِ: دا عبد الحمید بن عبد الرحمن بن زید دي، ددۀ حالات تیر شوي دی۔[۸]

---

[۱] کشف الباری: ۳/۲۹۷

[۲] کشف الباری: ۳/۳۳۱

[۳] اوګورئ: کشف الباری: ۲/۱۲۱

[۴] اوګورئ: کشف الباری: ۱/۳۲۶

[۵] کتاب الزکوٰة، باب قول الله عزوجل (لا یسالون الناس الحافا) (رقم: ۱۴۷۸)

[۶] اوګورئ: کشف الباری: ۴/۱۴۷

[۷] اوګورئ: کشف الباری: ۲/۱۲۰، همدغه شان کشف الباری: ۳/۳۳۳

[۸] کتاب بدء الخلق، باب صفة إبلیس وجنوده، (رقم: ۳۲۹۴)

مُحَمَّد بن سَعد بن أبی وَقاص: ددهٔ اوس پورته تذکره اوکړې شوه.

ځلور مدنی تابعین یو ځائې: په دې روایت کښې اتفاقًا ځلور تابعین یو ځائې کښې مذکور دی،صالح بن کیسان،ابن شهاب زهری،عبد الحمید بن عبد الرحمٰن او محمد بن سعد بن أبی وقاص او دا ټول حضرات مدنیان دی۔[1]

دا ښځې څوک وې؟ وَعِندَهُ نِسْوَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ.....په ظاهره خو دا د حضور ﷺ ازواج مطهرات وې،او دا هم احتمال شته،چې د هغوی نه علاوه نورې ښځې هم وې،خو دا چې د "یَستَکثِرنَه" کوم الفاظ دی،ددې نه د اولنۍ خبرې تائید کیږی،ځکه چې نورې ښځې د حضور ﷺ نه د زیاتوالی(د نان نفقې وغیره)مطالبه څنګه کولې شی،د "یَستَکثِرنَه" معنٰی داده چې هغه ښځو دا مطالبه کوله،چې هغوی ته ددې نه زیاته ورکړې شی،کومه چې دوی ته ورکولې شی،او د داؤدی خیال دې،چې د "یستکثرنه" معنٰی داده،چې هغوی رسول الله ﷺ سره زیاتې خبرې کولې،خو دا تاویل مردود دې:ځکه چې مسلم په خپل صحیح کښې دا روایت ذکر کړې دې،او په هغې کښې دا تصریح ده،چې هغې ښځو په نفقه کښې د زیاتوالی خواهش ظاهر کړې وو،ښکاره خبره ده،ددې تصریح نه ورسته دا احتمال نۀ پاتې کیږی،چې څۀ بله معنٰی به مراد وی۔[2]

"عالیةٌ أصواتهن" عالیة د صفت کیدو په وجه باندې مرفوع دې،او یا د حال کیدو په وجه باندې منصوب دې.

د پیغمبر ﷺ وړاندې "د اواز اوچتولو" د ممانعت سوال: اوس دلته کښې دا سوال پیدا کیږی،چې د الله تعالی د رسول په وړاندې په اوچت آواز باندې خبرې کول شرعًا ممنوع دی،بیا دې ښځو ولې په اوچت آواز باندې خبرې کولې،بیا په خاص توګه دا ښځې وې هم منتخب،او د پیغمبر بیبیانې وې،نوددی دپاره بیا داعمل نورهم زیات شنیع او نامناسب کیدل پکاردی؟ ددې خبرې څو تاویلات کړې شوې دی،او ددې مختلف جوابونه ورکړې شوې دی.

ابن التین فرمائی په دې کښې دا احتمال دې،چې هغوی په اوچت آواز خبرې د رفع صوت د ممانعت نه وړاندې کړی وی،یا دا هم ممکن دی چې رفع صوت د هغوی په طبعیت کښې وو،یعنی هغوی په قدرتی او طبعی توګه جهیر الصوت وې،او ممانعت د هغه رفع صوت دې،چې اختیاری او بالقصد وی۔[3]

دویم بعضې حضراتو دا جواب ورکړې دې،چې رفع صوت د هر مسلمان د پاره ممنوع دې، او په دې ښځو کښې د هر یوئې د پاره په اوچت آواز خبرې کول ممنوع وو،ولې دلته چې کوم رفع صوت وو،هغه د ټولو په یو ځائې د خبرو کولو نه پیدا شوې وو،یعنی په هغې

---

[1] فتح الباری:۱۵۷.۹

[2] فتح الباری:۱۵۷.۹

[3] فتح الباری:۱۵۸.۹

کښې یوئې متعینې ښځې په مشخص توګه د آدابو خلاف نۀ کولو، بلکه د هغوی د اجتماع څخه وجهې نه دا خبره پیدا شوې وه، او ښکاره خبره ده، په دې وجه په متعینه توګه هیڅ یوه ښځه خلاف کونکې نۀ شی ګرځولې کیدې.

بیا هم دا جواب محل د نظر دې، ځکه چې کۀ یو یو آواز د پیغمبر د آواز نه اوچت نۀ وو، نو بیا لامحاله مجموعۀ اصوات هم د رسول الله ﷺ د آواز په مقابله کښې نۀ شو اوچت کیدې.

یو قول دا هم دې، چې دا هم ممکن دی، چې په دوی کښې یوه ښځه "جَهیرة" یعنی داسې وی، چې د هغې آواز اوچت وی، یو قول دا هم دې، چې د رفع صوت ممانعت د سړو د پاره وی د ښځو د پاره نۀ وی، او یو قول دادې، چې د ښځو د پاره ددې کراهت تنزیهی دې، نۀ چې تحریمی. بعضې حضرات وائی، چې دلته کوم رفع صوت وو، هغه د مخاصمت او بحث په وجه باندې وو، او په مخاصمت کښې بغیر د ارادې نه آواز اوچتیږی، او ممنوع هغه رفع صوت دې، کوم چې په ارادې او قصد سره وی.

دا هم په جواب کښې وئیلې شوی دی، چې ازواج مطهراتو خو آواز اوچت کړو ولې هغوی ته دا اعتماد او یقین وو، چې دا د دوی په حق کښې معاف دې، او په یواځې والې کښې ډیر داسې څیزونه جائز وی، چې د خلقو په وړاندې او مجلس کښې جائز نۀ وی،[1] نو کیدې شی، چې د رفع صوت ممانعت یا د خفض صوت ادب، د مجلس د آدابو نه وی، او د ښځې خاوند په مینځ کښې په دې کښې څۀ بدی نۀ وی.

قوله: أَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ: په ظاهره باندې دا د حضرت عمر رضی الله عنه د اړخ نه رسول الله ﷺ ته د کثرت ضحك دعاء ده، حافظ صاحب فرمائی، ددې جملې دا مراد نۀ دې، بلکه د ضحك د لازم دعا مراد ده، او لازم د ضحك "خوشالی" ده، او یا د لازم د ضحك (یعنی خوشالې) د ضد نفی مراد ده، او د خوشالې ضد خفګان دې، نو ګویا حضرت عمر رضی الله عنه داسې دعا اوفرمائیله، "الله تعالی دې تاسو د خفګان نه اوساتی" یا "الله تعالی دې تاسو ټول عمر خوشاله ساتی".[2]

قوله: أَتَهَبْنَنِي: دا د الهیبة نه فعل دې، یعنی آیا تاسو زما نه ویریږئ، او زما هیبت او وقار ستاسو په زړونو کښې زیات دې او د رسول الله ﷺ کم.....؟

د حضرت عمر رضی الله عنه د وئیلو مطلب دا وو، چې رعب، ویره او هیبت خو د مؤمن په زړۀ کښې د الله تعالی او د هغۀ د رسول نه پکار دې، او دا ښځې د رسول الله ﷺ نه زیاتې زما (عمر) نه ویریږی او هیبت محسوس کوی.

دا سوال یا نکیر او شکایت هم د ازواج مطهراتو نه وو، چې د خپل زړۀ په صفائي، ایمان و اخلاص کښې ورته ممتاز مقام ملاؤ شوې وو، هغوی جواب ورکړو، ستاسو نه د ویریدو وجه ستاسو د مزاج سختی او سخت نیول دی، او رسول الله ﷺ ټول په ټول رحمت دې، نو د

---

[1] فتح الباری: ۱۵۸.۹

[2] فتح الباری: ۱۵۸.۹

هغوی ﷺ نه نۀ ویریدل د هغوی ﷺ د عظمت او رفعت دلیل دي،او پاتې شو د رسول الله ﷺ وقار او احترام نو هغې به د ازواج مطهراتو په زړونو کښې په پوره قوت سره موجونه وهل. والله اعلم

حضرت عمر رضی الله عنه ته د سخو د ویریدو علم څنګه اوشو: دلته دا سوال هم پورته کړې شوې دي،چې حضرت عمر رضی الله عنه څنګه وئیل.چې تاسو زما نه ویریږئ،او د رسول الله ﷺ نه نۀ ویریږئ..... د ویریدو پته څنګه اولګیده؟ علماؤ خو یو جواب دا ورکړې دي.چې ټولې سخې د پردې کولو د پاره په ټندئ لاړې.حال دادې چې پرده کولو سره هم دغلته کیناستې هم شوې.دویم جواب دا ورکړې شوې دي.چې هغوی د رسول الله ﷺ د اړخ نه حضرت عمر رضی الله عنه ته د اجازت ملاویدو یا نۀ ملاویدو د خبر نه بغیر د پردې د پاره په ټندئ لاړې.چې د ویرې علامت دي.او دریم جواب دا ورکړې شوې دي.چې د ټولو سخو د پردې د پاره پاسیدل دهیبت علامت دي.ګنې په دوی کښې بعضې دحضرت عمر رضی الله عنه محرماتې هم وې[1]

قوله: أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ: أفظ او أغلَظ،د"فَظاظة"او"غلظة"نه د اسم تفضیل صیغې دی،او د اسم تفضیل قانون دادي.چې هغه په اصلِ فعل کښې د شرکت تقاضا کوی.نو ګویا ددې معنی دا شوه.چې د فظاظة او غلظة صفات خو په رسول الله ﷺ کښې هم دی.ولې په تاسو(عمر) کښې د هغوی ﷺ په مقابله کښې زیات دی،اوس اشکال دادي.چې د حدیث مفهوم خو دغه شو.چې دا صفات د رسول الله ﷺ په ذات مبارک کښې هم شته اګر چې کم دی.او دلته قرآن کریم د هغوی ﷺ د ذات نه ددې صفاتو نفی کوی،په"لوکنت فظاً غلیظ القلب لا انفضوا من حولك"[2] کښې"لَو"سره د فظاظة اوغلظة ذکر کولو سره هم ددې نفی کړې شوې ده.

په قران او حدیث کښې د تعارض خبره: په ظاهره په قرآن او حدیث کښې ددې تعارض جواب دادي.چې په قرآن کریم کښې الله تعالی د رسول الله ﷺ نه د کوم فظاظت او غلظت نفی کوی،هغه د صفت لازمه کیدو په حیثیت سره ددې د وجود نفی کوی،لهذا د مذکوره صفت د مطلق وجود نفیَ ددې نه نۀ کیږی،او په حدیث کښې چې کوم مذکور دی،هغه دا صفت د صفت لازمه په توګه د رسول الله ﷺ د پاره د ثابتولو تقاضا نۀ کوی،بلکه ددې د مجرد وجود تقاضا کوی. او د رسول الله ﷺ د پاره ددې صفت مجرد وجود داسې ثابت دي،چې په کوم وخت کښې به رسول الله ﷺ یو منکر کار وینی،نو په هغوی کښې به سختی راځی،او عام حالت دهغوی ﷺ د نرمئ اوشفقت دي.لهذا په قرآن اوسنت کښې هیڅ تعارض نشته[3] بعضې حضراتو د تطبیق صورت داسې بیان کړې دي،چې په قرآن کښې د صفت مذکوره د رسول الله ﷺ نه نفی ده.او دلته په حدیث کښې ددې د حضرت عمر رضی الله عنه د پاره اثبات

---

[1] لامع الدراری:۱۱۵۹.۸

[2] فتح الباری:۱۵۸.۹

[3] فتح الباری:۱۵۸.۹

دي،پاتي شو اسم تفضيل نو هغه په خپله معنٰی باندي محمول نۀ دي،يعنی په هغوی کښي صفت مذکور دي،نسبتاً د زياتيدو ذکر مقصود نۀ دي،بلکه ددي مجرد وجود ثابت کړي شوي دي،يعنی "الأفظ"په معنٰی د"الفظ"دي،ولي په دي توجيه کښي نظر او اشکال دي،او هغه داسي چي دلته ترجيح صراحةً مذکور ده،او هغه داسي چي حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل،چي تاسو د رسول الله ﷺنه نۀ ويريږئ او زما نه ويريږئ،يعنی په دي حوالي سره تاسو ما ته په رسول الله ﷺباندي ترجيح راکوئ،او په جواب کښي هغوی د ترجيح وجه ذکر کولو سره اسم تفضيل استعمال کړو،چي ذ هغي معنٰی داده،چي د پيغمبر په مقابله کښي ستاسو نه د زيات ويريدو وجه،د پيغمبر په مقابله کښي ستاسو زياته سختی کول دی،من رسول الله.....کښي رسول الله مفضلٍ عليه دي،ددي واضح مفهوم دغه دي،چي فظ اوغلظ خو په رسول الله ﷺکښي هم دی،ولي تاسو(حضرت عمر رضي الله عنه)د هغوی ﷺنه زيات ئي،معلومه شوه،چي"أفظ"په معنٰی د"الفظ"نۀ دي،او د حضرت عمر رضي الله عنه د پاره مطلق فظاظة ثابتول مقصود نۀ دی،بلکه د نورو په مقابله کښي زيات غلظة اوفظاظة ثابتول دی۔(۱)

ايا حضرت عمر رضي الله عنه د غير ضروری حده پوري سختی کونکي وو: په مذکوره تشريح کښي چي دا خبره راغلي ده،چي مطلق غلظة او فظاظت په رسول الله ﷺکښي هم وو،کله چي به هغوی ﷺبو امر منکر اوليدو،نو په هغي به ئي نکير کولو او د سختئ اظهار به ئي کولو،او په عمر رضي الله عنه کښي دا سختی زياته وه،ددي خو دا مطلب يقيناً نۀ دي،چي ضروری او مطلوب سختی په حضرت عمر رضي الله عنه کښي ډيره او په رسول الله ﷺکښي کمه وه؟ځکه چي په منکر او ناجائز باندي خفه کيدل او زړۀ ماتيدل خو د الله تعالی په رسول ﷺکښي د ټولو نه زيات وو،او په دي کښي کمي ثابتولو سره ګويا د هغوی ﷺتنقيص کيږی،دويم مطلب ددي دا کيدي شی،چي د ضرورت په وخت کښي خو رسول الله ﷺهم سختی کوله،او د غلظة او فظاظت مظاهره به ئي کوله،ولي په عامو حالاتو کښي به ئي داسي نۀ کول،او حضرت عمر رضي الله عنه په عامو حالاتو کښي هم سخت وو،حال دادي چي غير ضروری حده پوري سختي او بي رحمی په دين کښي ناخوښه او د ښو اخلاقو سره منافی ده،بيا د حضرت عمر رضي الله عنه په شان جليل القدر صحابئ رسول ﷺکښي دا خبره څنګه کيدي شی؟

ددي خبري جواب دا ورکړي شوي دي،چي حضرت عمر رضي الله عنه د مکروهاتو نه په منع کولو او مندوباتو پوري عمل کولو باندي په زور ورکولو کښي مبالغه کوله،(۲) او رسول الله ﷺبه په زجر عن المکروهات او ترغيب إلی المندوبات باندي دومره سختی نۀ کوله۔

په نورو الفاظو سره رسول الله ﷺطبعاً ډير نرم زړۀ او نرم طبيعت مزاج والا وو،او شدت په

---

(۱) فتح الباری:۱۵۸،۹

(۲) فتح الباری:۱۵۸،۹

هغوی ﷺ کښې دینی او شرعي وو ،چې د ډیر ضرورت او مجبورۍ په وخت کښې به وړاندې راتلو ،او حضرت عمر رضی اللہ عنہ طبعا شدید او سخت مزاج وو ،او په اسلام کښې د داخلیدو نه ورسته دا شدت او سختی هغهٔ د الله تعالی د پاره استعمال کړه ،نو په معمولی غلطئ باندې به ئې هم سختی کوله ،او د وړو وړو آدابو د پاره به ئې هم د شدت نه کار اخستلو ،بس دومره خبره ده۔

قوله: إِيهًا يَا ابْنَ الخَطَّابِ!: "ایها" ددې لفظ په څلورو طریقو سره لوستل منقول دی:

① - "أيهًا بفتح الهمزة وتنوين الهاء المفتوحة، ددې معنی ده، "لاتبتدئنا بحديث" یعنی مونږ سره خبرې مهٔ شروع کوه۔

② - "أيهًا" په دې صورت کښې بغیر د تنوین نه، ددې معنی ده، "كف من حديث عهدنا" یعنی کومه خبره چې مونږه کوو ،یا د کومې خبرې نه چې مونږ خبر یو د هغې نه منع شه۔

③ - "إيهِ" بكسر الهمزة والياء والتنوين، ددې معنی ده، "حدثنا ما شئت" اُووایه څهٔ چې ته وئیل غواړې۔

④ - "إيه" بغیر د تنوین نه، ددې معنی ده، "زدنا ماحدثتنا" یعنی مزید اُووایه ،دا خبره کومه چې ته وائې۔

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ د دې ټولو احتمالاتو ذکر کولو نه ورسته وائی، "ووقع فی روایتنا بالنصب والتنوین" یعنی زمونږ په دې روایت کښې دا لفظ په نصب او تنوین سره وارد شوې دې، چې د هغې معنی شوه، تهٔ په دې معامله کښې خبرې مهٔ کوه۔[1] د ابن التین نه نقل کړې شوی دی، چې دا بغیر د تنوین نه صحیح دې، او معنی ئې ده، "كف عن لومهن" یعنی تهٔ دوی مهٔ ملامته کوه، او په دې سره کیدې شی د حضور ﷺ مطلب دا وو، او چې د دوی مطالبه څهٔ غیر شرعی او د بې ادبې نهٔ ده، په دې وجه دوی ملامته کول صحیح نهٔ دی، هنه کهٔ دوی پخپله د صبر او قناعت نه کار واخلی، نو دا به غوره وی۔[2]

طیبی وائی چې د الله تعالی د رسول تکریم او تعظیم مطلوب لذاته دې، او په دې کښې زیاتوالې د ستائنې ور او ضروری دې، لهذا د رسول الله ﷺ "إيه" وئیلو سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه د مزید وئیلو خواهش ظاهرول معقول او "أقرب إلى الفهم" دی، او ددې قرینه داده، چې رسول الله ﷺ ددې نه ورسته اووئیل، "والذی نفس بیده....." په دې جمله کښې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ ډیر لوئې تعریف کړې شوې دې، چې د هغې نه هم دغه ظاهریږی، چې هغوی ﷺ د هغهٔ حوصله مضبوطه کړه، او د هغهٔ د رائې د صحیح کیدو او د حق وئیلو

---

[1] فتح الباری: ۱۵۸.۹

[2] اوګورئ فتح الباری: ۱۵۸.۹

تعریف ئې اوکړو۔[1]

علامه تورپشتی د کلمهٔ "ایه"په حقله وائی،"ایه"اسم دي،چې په دې سره فعل مسمی کړې شوې دي.ځکه چې ددې معنی امر دي،کله چې د چا نه په قول یا فعل کښې د زیاتوالی او د مزید طلب کولې شی،نو هغه ایه یکسره الهاء وئیلو سره مخاطب کولې شی.بیا کله چې دا د وړاندې کلام سره یو ځائې کول وی،نو دا به په تنوین سره داسې لوستلې شی."ایه حدیثا" یعنی وړاندې خبره کوه.....او کله چې د مخاطب خاموش کول مطلوب وی نو "ایها عنا"په الف سره وئیلې شی.او وې فرمائیل.په دې حدیث کښې معلومیږی.چې هم داسې په الف سره دي.او ددې معنی ده،"کف یا ابن الخطاب عن هذا الحدیث"یعنی دا خبره پریږده.او ددې نه منع شه.او امام بخاری دا مجرور منوّن روایت کړې دي.او صحیح "ایها"په فتحې سره دي.او مسلم دا روایت ذکر کړې دي.ولې په هغې کښې دا کلمه بالکل ذکر شوې نهٔ ده۔[2]

قوله: إلاّ سلك فجاً غير فجّك: دا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ دیر لوئې فضیلت دي.چې هغه د شیطان نه اکثر محفوظ وی.او شیطان د هغوی د لارې نه هم لرې تختی.ورسره تلل او په هغوی حمله کول خو لرې خبره ده۔

ایا حضرت عمر رضی اللہ عنہ معصوم وو؟ اُوس سوال دادي.چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه به شیطان دومره لرې تختیدو.نو بیا خو هغه معصوم اوګرځیدو؟ ځکه کله چې شیطان هغهٔ ته نزدې نهٔ شو راتلې.نو د هغهٔ نه به ئې ګناه څنګه کړې وه.او اهل سنت والجماعت د عصمت عقیده صرف د انبیاء علیہم السلام د پاره ساتی.د نبی نه علاوه څوک چې هر څومره لوئې ولې نهٔ وی.د اهل سنتو له مخې معصوم نهٔ شی کیدې۔

ددې جواب حافظ ابن حجر دا ورکړې دي،چې دا روایت ددې خبرې تقاضا کوی.چې د شیطان د پاره حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته د رسیدو هیڅ لار نشته.او هغه د دوی نه تختی.خو دا د هغوی د عصمت تقاضا ځکه نهٔ کوی.چې په دې کښې ددې خبرې نفی او ممانعت خو نشته.چې شیطان ته د وسوسې په ذریعه د دوی په زړهٔ کښې د څهٔ خبرې اچولو قدرت هم نشته.نو دا قدرت هغهٔ ته حاصل دي.او د وسوسې په ذریعه هغه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زړهٔ کښې هم خبره اچولې شی.لهذا د حدیث نه د هغوی عصمت په هیڅ طریقې سره هم نهٔ ثابتیږی۔[3]

د نبی عصمت واجب او د غیر نبی ممکن دي: دلته یو اشکال کیدې شی.چې د مذکوره روایت نه د مفهوم موافق په توګه دا معلومیږی.چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ معصوم وو.او شیطان د وسوسې په طریقه هم د هغوی په زړهٔ کښې څهٔ خبره اچولو سره هغوی په یو بد فعل باندې نهٔ

---

[1] شرح الطیبی:۱۲۳۱.۱

[2] کتاب المسیر:۱۳۱۵.٤،۱۳۱۶.۱

[3] فتح الباری:۱۵۹.۹

شو وراچولي.او هغه داسي چې په کومه لار حضرت عمر رضی اللہ عنہ روان وی شیطان په هغه لار نۀ شی راتلې.نو هغوی ته دومره نزدې راتلل او میل جول اختیارولو سره د هغوی په زړۀ کښې د وسوسې اچولې زړۀ ورتیا او همت څنګه کیدې شی،ښکاره خبره ده،چې په لار د تلو همت په هغۀ کښې نۀ وو.نو د میل جول اختیارولو سره د وسوسې اچولو طاقت خو به په طریقۀ اولی په هغۀ کښې نۀ وی.او په دې شان سره به حضرت عمر رضی اللہ عنہ د هغۀ د لاس رسیدو نه محفوظ وی.او هم دغه عصمت دې،ددې جواب دادې،چې په دې طریقه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د پاره عصمت ثابتیدل لازم نۀ راځی،کیدې شی چې الله د شیطان نه د هغوی حفاظت کړې وی.او عصمت ثابت هم شی،نو عصمت د نبی په حق کښې واجب دې،او د غیر نبی په حق کښې ممکن دې،ددې مضمون یو روایت په طبرانی "اوسط" کښې ذکر کوی چې د هغې الفاظ دادی،"إن الشیطان لایلقی عمر منذ أسلم إلا خرّ لوجهه".

یعنی حضرت عمر رضی اللہ عنہ چې د کله نه اسلام قبول کړې دې،شیطان هغوی سره نۀ ملاویږی،مګر هغه پر مخې پریوځی.[1]

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه د شیطان تختیدو مطلب: علامه تورپشتی وائی:

"تنبیهٌ علی صلابته فی الدِّین واستمرارِ حاله علی الجدِ الصرفِ والحقِ المحضِ حتی کان بین یدی رسول الله کالسیف الصارمِ والحسامِ القاطعِ إن أمضاه مضی،وإن کفه کفّ،فلم یکن له علی الشیطان سلطان إلا مَن قِبل رسول الله وکان هو کالوازع بین یدی المِلك فلهٰذا کان الشیطان ینحرف عن الفج الذی سلکه".[2]

یعنی د حدیث په دې الفاظو کښې تنبیه ده،د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په صلابت فی الدین(په دین کښې پوخوالی)او ټول عمر د هغوی په خالص ریښتونی او په خالص حق قائم پاتې کیدو باندې.نو هغوی د رسول الله ﷺ د پاره د تیکی نه وتلې توره او سیف قاطع وو،کله چې به رسول الله ﷺ هغه چلوله نو هغه به چلیده،او کله چې به ئې اودروله نو اودریده به.....نو په شیطان باندې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا تسلط د رسول الله ﷺ د اړخ نه وو،په دې حوالې سره د هغوی مثال د بادشاه د یو محافظ او قُمندان وو،په دې وجه شیطان به ټول عمر د هغه لارې نه ډډ کوله.چې په هغې به حضرت عمر رضی اللہ عنہ تلو،ځکه چې هغه د رسول الله ﷺ عسکر وو.

د لارو جدا کیدو دوه مطلبونه: نووی وائی،دا حدیث په خپل ظاهر باندې محمول دې،او ددې مطلب دادې.چې شیطان به کله حضرت عمر رضی اللہ عنہ لیدو،نو تختیدو به،او هغه لار به ئې پریښوده.او قاضی عیاض وائی،په دې کښې دا احتمال هم شته،چې دا ضرب المثل وی،او ددې معنی دا وی.چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شیطان لار پریښوده او په داسې صحیح لار او صحیح طریقې باندې تلې دې،چې هر هغه څیز ئې پریښودو،کوم چې شیطان ته خوښ دې،او ګویا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ او شیطان لارې بالکل جدا جدا دی.

---

[1] فتح الباری:۹،۵۸،۵۹\

[2] کتاب المسیر:۴،۱۳۱۶\

بیا هم اولنئ خبره ډیره صحیح ګرځولې شوې ده،ځکه چې په هغې کښې لفظ په خپله ظاهری او متبادر معنی باندې محمول کړې شوې دې۔[1]

رسول الله ﷺ داسې سختی ولې نۀ کوله: رسول الله ﷺ په خپل مذکوره ارشاد کښې د ازواج مطهراتو د حضرت عمر رضی الله عنه نه په ویریدو باندې بحث کولو سره اوفرمائیل،چې حضرت عمر رضی الله عنه د دین په معامله کښې ډیر سخت او فیصله کونکې وو،او شیطان هغه ته نزدې هم نۀ شو راتلې،او داسې رسول الله ﷺ "ایه"وئیلو سره هغه خبره په نور وضاحت او تفصیل سره د وئیلو مطالبه اوکړه،چې هغه"أتهبنني ولا تهبن رسول الله؟".وئیلو سره د خپل ځان نه د ازواج مطهراتو د ویریدلو او د رسول الله ﷺ نه د نۀ ویریدو باندې وئیلې وه۔

اوس سوال دا پیدا کیږی،چې د حضرت عمر رضی الله عنه دا فیصله کونکې کیدل او سخت انداز رسول الله ﷺ ته دومره خوښ او په دین کښې مطلوب وو،نو بیا رسول الله ﷺ پخپله داسې ولې نۀ وو،او پخپله د هغوی ﷺ نه ازواج مطهرات ولې دومره نۀ ویریدلې؟

علامه تورپشتی ددې جواب ورکولو سره وائی:

"ولما کان النبی ﷺ رحمة مهداة إلی العالمین، مامورا بالعفو عن المذنبین، معنیاً باصفح عن الجاهلین۔لم یکن لیواجههم فیما لا یحمد من فعل مکروه أو سوء أدب بالفظاظة والغلظة والزجر البلیغ، إذ لا یتصور الصفح والعفو مع تلك الخلال فلهذا تسامح هو فیها واستحسن استشعارهن الهیبة من عمر"۔[2]

یعنی تر کومې پورې چې د رسول الله ﷺ تعلق دې،نو هغوی خو د ټول عالم د پاره سراسر رحمت او ذریعه د هدایت وو،د خطاکارو په معاف کولو باندې مامور وو،او ناپوهو ته د معافئ اهتمام کونکې وو،په دې وجه هغوی ﷺ د خلقو په هغه ناخوښه کارونو او د بې ادبئ د حرکتونو په شان په نامناسبو کارونو باندې په سختئ سره راتلونکې نۀ وو،او د هغوی په زجر او توبیخ پسې نۀ شو لګیدلې،ځکه چې عفو او معاف کول سختئ او رټلو سره نۀ شی جمع کیدې،بلکه عفو او صفح به په هغه وخت کښې متحقق کیږی،کله چې د سختئ وغیره نه بچ شې،په دې وجه دلته او ددې په شان په بعضې نورو موقعو باندې هغوی ﷺ به پخپله د تسامح،معافئ خاموشئ مظاهره کوله،خو د حضرت عمر رضی الله عنه د سختئ کولو به ئې هم تحسین فرمائیلو۔

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت واضح دې،ځکه چې د حضرت عمر رضی الله عنه فضیلت او منقبت دلته ذکر دې،چې ترجمة الباب هم دغه دې۔[3]

---

[1]) شرح الطیبی:۲۳۱،۱۱،وفتح الباری:۱۵۹،۹

[2]) شرح الطیبی:۲۳۱،۱۱،وفتح الباری:۱۵۹،۹

[3]) عمدة القاری:

۳۴۸۱: (۱)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا قَيْسٌ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ مَا زِلْنَا أَعِزَّةً مُنْذُ أَسْلَمَ عُمَرُ. [۳۶۵۰]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ المُثَنَّى: دا ابو موسی محمد بن المثنی بن عبید عنزی بصری دي، ددۀ احوال په کتاب الإیمان، باب "حلاوة الإیمان" کښې تیر شوي دی۔(۲)

یحیی: دا یحیی بن سعید القطان دي، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب "من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه" کښې تیر شوي دی۔(۳)

إسماعیل: دا اسماعیل بن أبی خالد أحمسی بَجَلی دي، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلِم المسلمون من لسانه ویده" کښې تیر شوي دی۔(۴)

باب اسلام عمر کښې د اسماعیل بن أبی خالد..... تصریح ده۔(۵)

قیس: دا قیس بن أبی حازم أحمسی بَجَلی دي، ددۀ احوال په کتاب الإیمان، باب "قول النبی: الدین النصیحة: لله ولرسوله ولأئمة المسلمین وعامتهم" کښې تیر شوی دی۔(۶)

عبدالله: دا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه مشهور صحابئ رسول ﷺ دي، ددۀ احوال په کتاب الإیمان، باب "ظلم دون ظلم" کښې تیر شوی دی۔(۷)

"باب إسلام عمر" کښې قیس سره د "ابو حازم" او عبد الله سره د "ابن مسعود" تصریح هم ده۔(۸)

قوله: ما زلنا أعزة.....: یعنی د حضرت عمر رضی الله عنه د قوت، اثر او ویري د وجهې نه مونږ برابر معزز پاتې شو۔

د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله د حضرت عبد الله بن مسعود تاریخی الفاظ: د رسول الله ﷺ په أصحابؤ کښې د حضرت عبد الله بن مسعود ډیر ځانګړي مقام او په فقه او فراست کښې ډیره لویه مرتبه ده، او چرته چې د عامو صحابؤ په حقله وئیلې شوي الفاظ "کانوا أفضل هذه

---

(۱) الحدیث أخرجه البخاری، أیضاً فی کتاب مناقب الأنصار، باب إسلام عمر بن الخطاب، رقم: ۳۸۶۳\

(۲) اوګورئ کشف الباری: ۱۲۵،۲\

(۳) اوګورئ کشف الباری: ۱۲،۲\

(۴) اوګورئ کشف الباری: ۱۶۷۹،۱\

(۵) اوګورئ صحیح البخاری، رقم: ۳۸۶۳\

(۶) کشف الباری: ۱۷۶۱،۲\

(۷) کشف الباری: ۱۲۵۷،۲\

(۸) صحیح البخاری، کتاب مناقب الأنصار، باب إسلام عمر، رقم: ۳۸۶۳\

الأمة، أبرها قلوبًا، وأعمقها علمًا، وأقلها تكلفًا".(۱) د یو تللي شوي موزون الفاظو او د ډیر مناسب بحث حیثیت لري. همدغه شان د حضرت عمر رضی الله عنه د قبول اسلام په حقله هم ددۀ دا الفاظ ابن أبی شیبه او طبرانی د قاسم په طریقي سره نقل کړي دی، "كان إسلام عمر عزًا، وهجرته نصرًا، وإمارته رحمةً، ما استطعنا أن نصلي حول البيت ظاهرين حتى أسلم عمر".(۲)

یعنی د حضرت عمر رضی الله عنه اسلام قبلول د عزت سبب وو، او د هغوی هجرت لوئي نصرت او مدد وو. او د هغوی امارت رحمت وو. مونږ د بیت الله نه ګیر چاپیره مونځ نۀ شو کولي. تر کومې پورې چې حضرت عمر رضی الله عنه اسلام نۀ وو قبول کړي.

د حضرت عمر رضی الله عنه اسلام قبلول او د هغې اثرات: د حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام قبلولو واقعه مشهوره ده. دار قطنی د "قاسم بن عثمان عن أنس" په طریقي سره دا الفاظ نقل کړي دی، "خرج عمر متقلدًا السيف فلقيه رجل من بني زهرة".(۳)

ددې نه ورسته د حضرت عمر رضی الله عنه د خپلې خور کور ته تلل، او د هغې او د هغې د خاوند په اسلام قبلولو باندې غصه کیدل. او بیا د هغوی نه د سورۀ طٰهٰ اوریدل، او اسلام ارخ ته د راغب کیدو ذکر کړي دي. او په آخر کښې ئې د حضرت خباب رضی الله عنه دا الفاظ نقل کړي دی.

"أبشر يا عمر فإني أرجو أن تكون دعوة رسول الله لك، قال: "اللهم أعز الإسلام بعمر أو بعمرو بن هشام".(۴)

عمر: زیرې قبول کړه. ځکه چې ما ته امید دي، چې تۀ د رسول الله ﷺ هغه دعا ئي، چې پیغمبر ستاسو د پاره فرمائیلې ده. او هغه دعا داده. چې اي الله! د عمر (بن خطاب) یا د عمرو بن هشام (ابوجهل) په ذریعي سره اسلام ته عزت او غلبه ورکړه:

د حضرت عمر رضی الله عنه په اسلام قبلولو سره اسلام ته څومره قدري عزت او طاقت ملاؤ شو. دې د پاره د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث اوګورئ. چې صاحب د فتح الباری د ابو جعفر بن أبی شیبه په حوالې سره نقل کړي دي..... د هغې په آخر کښې دا الفاظ دی:

"قلت يا رسول الله ففيم الاختفاء؟ فخرجنا في صفين: أنا في أحدهما، وحمزة في الآخر، فنظرت قريش إلينا فأصابتهم كآبة لم يصبهم مثلها".(۵)

عمر وانی ما اووئیل. اي د الله تعالی رسوله! مونږ پټ ولې ګرځو؟ وې فرمائیل، بیا مونږ په دوو صفونو کښې راوتلو. په یو کښې حضرت حمزه (بن عبد المطلب) وو، او په دویم کښې زۀ پخپله. قریشو چې مونږ اولیدو. نو هغوی ته دومره خفګان اورسیدو او زړونه ئې مات

---

۱) جامع الاصول فی احادیث الرسول: ۱۲۹۲.۱

۲) المعجم الکبیر للطبرانی: ۱۶۲.۹

۳) سنن الدار قطنی. باب فی نهی المحدث عن مس القرآن: ۱۲۳.۱

۴) المعجم الاوسط: ۲۴۰.۲

۵) فتح الباری: ۱۹.۵۹

شو، چې داسې به چرته هم نۀ وو شوې، (ځکه چې د قريشو دوۀ نومورو کسانو اسلام قبلولو سره د هغوی ملا ماته کړه).

ابن أبي هيثم پخپله د حضرت عمر رضي الله عنه روايت نقل کوی چې په هغې کښې هغوی فرمائی:

"لقد رأيتني وما أسلم مع رسول الله ﷺ إلا تسعة وثلاثون رجلاً فكملتهم أربعين، أظهر الله دينه، وأعز الإسلام". (۱)

وې فرمائيل، زۀ خپل ځان وينم، چې رسول الله ﷺ سره يو کم څلويښتو کسانو اسلام قبول کړې وو، ما (اسلام قبلولو سره) دا عدد څلويښت کړو، او بيا الله تعالى خپل دين غالب کړو، او اسلام ته ئې عزت ورکړو.

بزار هم ددې په شان روايت نقل کړې دې، او په هغې کښې ئې دا الفاظ هم راوړلې دی، "فنزل جبريل فقال: يا أيها النبي حسبك الله ومن اتبعك من المؤمنين". (۲)

خيثمه د ابو وائل عن ابن مسعود په طريقې سره دا الفاظ نقل کوی:

"قال رسول الله ﷺ اللهم أيد الإسلام بعمر". (۳)

او د حضرت علي رضي الله عنه د روايت نه ئې هم دغسې نقل کړې دی، ولې په هغې کښې د "أيد" په ځائې "أعز" دې، او په سند صحيح د حاکم نه هم د حضرت عائشې رضي الله عنها همدغه شان روايت منقول دی.

ترمذی د ابن عمر روايت نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ داسې دی:

"اللهم أعز الإسلام بأحب الرجلين إليك، بأبي جهل أو بعمر، قال فكان أحبهما إليه عمر". (۴)

يعنې رسول الله ﷺ دا دعا فرمائيلې وه، چې اې الله! په ابو جهل او عمر بن الخطاب کښې چې کوم تا ته زيات محبوب وی، د هغۀ په ذريعې سره اسلام ته تقويت ورکړه.

بيا هغه وائی، چې په ددې دواړو کښې الله تعالى ته زيات عمر (رضي الله عنه) خوښ وو، ځکه چې هم هغوی ته د اسلام قبلولو توفيق ملاؤ شو.

ترمذی دا حديث "حسن صحيح" کرځولې دې..... (۵) او ابن حجر فرمائی، ددې تصحيح ابن حبان هم کړې ده، ولې د هغه په سند کښې خارجه بن عبد الله دې، چې متكلم فيه دې، بيا هم ددې روايت يو شاهد د ابن عباس رضي الله عنه حديث ترمذی روايت کړې دې، همدغه شان د دار قطنی د انس رضي الله عنه روايت او د اسلم مولى عمر روايت چې د خباب نه مروی دې. (۶)

---

۱) فتح الباری: ۱۵۹.۹

۲) فتح الباری: ۱۵۹.۹

۳) المعجم الأوسط للطبرانی: ۲۴۰.۲، ومسند احمد، مسند عبدالله بن مسعود، رقم: ۴۳۶۲، كنز العمال: ۱۵۹۹.۱۲

۴) المستدرک على الصحيحين، مناقب أمير المؤمنين عمر بن الخطاب، رقم: ۴۴۸۶

۵) سنن الترمذی، باب مناقب عمر بن الخطاب، رقم: ۳۶۸۶

۶) فتح الباری: ۱۵۹.۹

همدغه شان ددي شاهد يو مرسل روايت هم دي،چې هغه ابن سعد د سعيد بن المسيب په طريقي سره نقل کړي دي. چې د هغې سند صحيح دي،ابن سعد يو بل روايت هم نقل کړي دي.دا د صهيب روايت دي،او ددي الفاظ داسې دي:

"لما أسلم عمر قال المشركون انتصف القوم منا".(۱)

يعنې کله چې عمر اسلام قبول کړو نو مشرکينو وئيل چې قوم دوه ټکړي او تقسيم شو.يعنې اوس مونږ په قريشي قوم د پيغمبر اسلام خلاف راپاسولو او راپارولو کښې نۀ شو کاميابيدي.اوس چې څنګه مشرکينو سره د قريشو نوموړي سرداران دي،مسلمانانو سره هم صاحب حيثيت او سيادت قريش موجود دي.(۲)

او واقعي اوشو دهم دغسې.چې د عمر رضي الله عنه اسلام نه ورسټو د دين اسلام په ټندئ خوريدل پرمخ تګ او غلبه او لوړوالي شروع شو.

چې هغه بيا چا هم منع نۀ کړي شو،تر دې پورې چې په جزيرة العرب باندې د اسلام بيرغونه اودرولې شو. د روايت د ترجمة الباب سره مناسبت واضح دي.

۳۴۸۲: (۳) حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ وُضِعَ عُمَرُ عَلَى سَرِيرِهِ، فَتَكَنَّفَهُ النَّاسُ يَدْعُونَ وَيُصَلُّونَ قَبْلَ أَنْ يُرْفَعَ، وَأَنَا فِيهِمْ، فَلَمْ يَرُعْنِي إِلَّا رَجُلٌ آخِذٌ مَنْكِبِي، فَإِذَا عَلِيٌّ فَتَرَحَّمَ عَلَى عُمَرَ، وَقَالَ مَا خَلَّفْتَ أَحَدًا أَحَبَّ إِلَيَّ أَنْ أَلْقَى اللَّهَ بِمِثْلِ عَمَلِهِ مِنْكَ، وَايْمُ اللَّهِ، إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ، وَحَسِبْتُ إِنِّي كُنْتُ كَثِيرًا أَسْمَعُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ ذَهَبْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَدَخَلْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَخَرَجْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. [ر: ۳۴۷۴]

رجال الحديث

عَبْدَانُ دا عبدالله بن عثمان بن جبلة مقلب په عبدان سره دي،ددۀ احوال په "بدء الوحي" کښې تير شوي دي.(۴)

عبد الله دا عبد الله بن المبارك دي.ددۀ احوال هم په دغه باب کښې تير شوي دي.(۵)

عُمَرُ بْنُ سَعِيدٍ دا عمر بن سعيد بن أبي حسين النوافل القرشي المكي دي،ددۀ احوال په "كتاب العلم،باب الرحلة في المسئلة النازلة" کښې تير شوي دي.(۶)

---

۱) لم أجده في الطبقات.وفي تلخيص المتشابه للخطيب بهذا اللفظ وجدنا:۱/۱۳۹۰

۲) اوګورئ:فتح الباري:۹/۱۵۹

۳) الحديث أخرجه البخاري أيضًا في باب مناقب أبي بكر.رقم:۱/۳۶۷۷

۴) کشف الباري:۱/۱۴۶۱

۵) کشف الباري:۱/۱۴۶۲

۶) کشف الباري:۳/۱۵۱۵

ابنِ ابی مُلَیکَۃ: دا عبدا لله بن أبی ملیکۀ دي، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب خوف المؤمن من أن یحبط علمه وهو لا یشعر" کښې تیر شوي دي۔[1]

قوله: وُضِعَ عُمَرُ عَلَى سَرِيرِهِ: د مناقب أبی بکر په آخر کښې په دې روایت کښې دا الفاظ دي، "إني لواقف في قوم یدعون لعمر بن الخطاب وقد وضع....."۔[2]

په دې روایت کښې دا "وقد وضع" جمله حالیه ده، د لفظ "عمر" نه۔[3]

قوله: فَلَمْ يَرُعْنِي: د "روع" نه دي، په معنٰی د خوف او ویرې سره، مطلب دادي، چې ما ناڅاپه اولیدو۔

قوله: أُخِذَ: په یو روایت کښې "أَخَذَ" د فعل ماضی په صیغې سره راغلي دي۔[4]

قوله: فَتَرَحَّمَ عَلَى عُمَرَ: په دویم روایت کښې الفاظ دي، "فقال یرحمك الله"۔[5]

قوله: أَحَبَّ إِلَيَّ: په رفعې سره هم کیدې شي، او په نصب سره هم، د نصب په صورت کښې د "أحداً" صفت او د رفعې په صورت کښې به د "هو" مقدر د پاره خبر وي۔[6]

د "صاحبین" مصداق او د "معیت" مطلب: د صاحبَین مراد رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر رضی الله عنه دي، او د حدیث نه خو یا ظاهری معیت مراد دې، یعنی په قبرونو او تدفین کښې، او دا هم ممکن دی، چې ددې نه د مرګ نه ورسته په قبر کښې یا عالَم آخرت کښې معیت مراد وی۔[7]

حضرت علی رضی الله عنه سره د حضرت عمر رضی الله عنه مقام: د حضرت فاروق اعظم په حقله د سیدنا حضرت علی رضی الله عنه دا ډیر تاریخی الفاظ دی، او هغوی ددې الفاظو نه معلومیږی، چې د هغوی په اعتقاد باندې په دغه وخت کښې د حضرت عمر رضی الله عنه نه زیات نیک عمله او افضل العمل څوک نۀ وو۔

قوله: وَحَسِبْتُ أَنِّي كُنْتُ: دلته په حسبان سره ذکر کړې شوې دي، چې د ګمان په معنٰی باندې دي، او تردُّد ارخ ته اشاره ده، او په "مناقب أبي بکر" کښې "لأني كثيرًا ما كنتُ أسمع" الفاظ دی، یعنی ما به ډیر اوریدل، او په دې کښې لام تعلیلیه دې، او "ما" ابهامیه مؤکده دې، "كثيرًا"

---

[1] کشف الباری: ۲/۱۵٤۸

[2] اوګورئ صحیح البخاری، رقم: ۱۳۶۷۷

[3] فتح الباری: ۹/۱۶۰

[4] فتح الباری: ۹/۱۶۰

[5] فتح الباری: ۹/۱۶۰

[6] فتح الباری: ۹/۱۶۰

[7] فتح الباری: ۹/۱۶۰

ظرف زمان دي. چې په خپل عامل "كنتُ" باندې مقدم شوې دي، لكه په "قليلاً ما تشكرون" وغيره كښې، او په اكثرو نسخو كښې كثيراً مما كنت أسمع د من په زيادت سره واقع دي، بيا هم ددې توجيه داسې كولې شي، "إن أحِدُ كثيرًا مما كنتُ أسمع" يعنى ما چې به څۀ اوريدل نو په هغې كښې به ډير ما دا موندل..... او بيا ددې تولو الفاظو ذكر دي، چې د رسول الله ﷺ او ابوبكر او عمر په خپل مينځ كښې قُرب او نزدې والى باندې دلالت كوى۔[1]

قوله: فَتَكَنَّفَهُ النَّاسُ: "أى أحاطوا به من جوانبه" يعنى خلقو هغوى راګير كړل، او د اړخونو او طرفونو نه د هغوى نه چاپيره جمع شو۔[2]

٣٤٨٣ - [3] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ وَكَهْمَسُ بْنُ الْمِنْهَالِ قَالاَ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - قَالَ صَعِدَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - إِلَى أُحُدٍ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ، فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ، قَالَ «اثْبُتْ أُحُدُ فَمَا عَلَيْكَ إِلاَّ نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدَانِ [ر: ٣٤٧٢]

رجال الحديث

مُسَدَّدٌ: دا مسدّد بن مسرهد اسدى دي، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب "من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" كښې تير شوي دى۔[4]

يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ: دا يزيد بن زريع التيمى دي، ددۀ احوال تير شوى دى۔[5]

سعيد: دا سعيد بن أبى عروبه دي، ددۀ احوال تير شوي دى۔[6]

خَلِيفَةُ: دا خليفة بن الخياط البصرى دي، ددۀ احوال تير شوى دى۔[7]

مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ: دا ابو الخطاب محمد بن سواء بن عنبر السَّدُوسى العنبرى البصرى المكفوف دي، چې د محمد بن ثعلبه بن سواء ترۀ دي، عنبر ابو كردم د دوى جد امجد دي، ١٨٧ هجري كښې وفات شوي دي.

ددۀ په شيوخو كښې غالب القطان، ابو الحباب، ثابت بن عمادة الحنفى، جرير بن حازم، حازم بن إبراهيم البجلى، خالد الخذاء، سعيد بن سماك بن حرب، سعيد بن أبى عروبه، شعبة بن

---

[1]) فتح البارى: ٩، ٦٠

[2]) فتح البارى: ٩، ٦٠، وإرشاد السارى: ٨، ١١٧

[3]) الحديث سبق تخريجه فى كتاب فضائل أصحاب النبى، رقم: ٣٦٧٥

[4]) كشف البارى: ٢، ١٢

[5]) اوګورئ: صحيح البخارى، كتاب الغسل، باب "الجنب يخرج ويمشى فى السوق وغيره"، رقم: ٢٨٤

[6]) اوګورئ: صحيح البخارى، كتاب الغسل، باب: إذا جامع ثم عاد..... رقم: ٢٦٨

[7]) اوګورئ: صحيح البخارى، كتاب الجنائز، باب الميت يسمع خفق النعال، رقم: ١٣٣٨

الحجاج، عبد الله بن عون او هلال بن ميمون الرملي وغيره شامل دی۔
او په شاګردانو کښې ئې إبراهيم بن محمد بن عرعره، ابو حفص احمد بن حميد الصغار، ابو الشعث أحمد بن المقدام العجلي، محمد بن عبد الرحمٰن العلاف، اسحاق بن راهويه، حسن بن قزعه، ابوبكر عبدالله بن محمد بن أبي شيبه، عثمان بن محمد بن أبي شيبه، عمرو بن عيسىٰ الصبعي وغيره شامل دی۔

ابن حبان په خپل کتاب "الثقات" کښې ذکر کړې دی۔[1]
د هغۀ ويتا ده، چې ددۀ وفات په ۱۷۸هجري کښې شوې دې، او عمرو بن عيسىٰ فرمائی، ۱۷۹هجري کښې ددۀ وفات شوې دې۔[2]

حافظ ابن حجر د ابن شاهين په حوالې سره د يزيد بن زريع دا قول نقل کوی، "عليكم به"۔

او ازدی په خپل کتاب "الضعفاء" کښې وئيلی دی، "كان يغلو في القدر وهو صدوق" يعنی ددۀ به د تقدير په مسئله کښې غلو کوله، بيا هم ريښتونې وو۔

ابن المدينی وائی، "هو من الطبقة السابعة من أصحاب شعبة"۔[3]

ابن حجر فرمائی، "صدوق رُمي بالقدر من التاسعة"۔[4]
د حافظ صاحب د خبرې نه معلوميږی، چې د قدريت په هغۀ باندې تور (الزام) وو، يعنی هغه د غالي قدريو نه نۀ وو۔

كهمس بن المنهال: دا کهمس بن المنهال السَّدُوسی، ابو عثمان البصری اللؤلؤی دې۔
دې د حسن بن عُمارة، سعيد بن أبي عروبه، سعيد بن مسلم بن مالك، سهل بن أسلم العدوی او عبد الوارث بن سعيد نه روايت کوی۔
د وومې طبقې نه دې۔

علامه مزی فرمائی، "قال البخاری: كان يقال فيه القَدَر"۔[5]

ابن حبان ددۀ په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې، او وې فرمائيل "كان يقول بالقدر"۔[6]
عبدَ الرحمن بن أبي حاتم وائی:
"سألتُ أبي عنه، فقال كان من أصحاب ابن أبي عروبة، محله الصدق، يُكتب حديثه، أدخله البخاری في كتاب

---

[1] تهذيب الكمال: ۱۳۳۰،۲۵
[2] كتاب الثقات: ۱٤۲،۹
[3] تهذيب التهذيب: ۲۰۸،۹. الجرح والتعديل: ۳۷۵،۷ هم اوګورئ۔
[4] تقريب التهذيب: ٤۸۲، رقم الترجمة: ۵۹۳۹. وفي الكاشف صدوق رمي بالقدر: ۱۷۷،۲
[5] تهذيب الكمال: ۱۲۳۵،۲٤
[6] كتاب الثقات: ۱۲۷،۹

"الضعفاء" سمعتُ أبي يقول: يحوّل من كتاب الضعفاء".(۱)

امام بخاری چې ددۀ په "الضعفاء" کښې ذکر کړې دي، په هغې باندې ابوحاتم نکیر فرمائیلې دي، څنګه چې د پورته عبارت نه واضحه ده. او ددۀ توثیق کولو سره ئې د "يُكتَبُ حديثه، محلّه الصدق" وغیره الفاظ اوفرمائیل. او امام بخاری پخپله ددۀ نه روایات هم کړې دي. اګر چې هغه مقرون بالغیر دي. (یعنی هغه او محمد بن سواء دواړه د سعید بن أبی عروبه نه روایت کوی) حافظ ابن حجر چې په هدی الساری مقدمة فتح الباری کښې کومه خبره فرمائیلې ده. د هغې نه معلومیږی. چې امام بخاری د قدریت په وجه په هغۀ کلام کړې دي. هم دغه وجه ده چې حافظ صاحب په "التقریب" کښې وائی. "صدوق رُمی بالقدر".(۲) یعنی ریښتونې دي. هغه د قدریت په دۀ باندې تور (الزام) دي.

سعید: دا سعید بن أبی عروبه دي، چې د هغۀ اوس پورته ذکر اوشو.

قتادة: دا قتادة بن دعامر دي، ددۀ احوال په کتاب الإیمان، باب "من الإیمان أن یحب لأخیه ما یحب لنفسه" کښې تیر شوی دی.(۳)

أنس بن مالك: دا د رسول الله ﷺ مشهور صحابی دي، ددۀ حالات هم په کتاب الإیمان، باب "من الإیمان أن یحب لأخیه ما یحب لنفسه" کښې تیر شوی دی.(۴)

د حدیث تشریح په مناقب أبی بکر کښې تیره شوې ده.

قوله: فَمَا عَلَيكَ إِلَّا نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ.....: دلته دا الفاظ دی، او په مناقب أبی بکر کښې دا الفاظ دی.: "فإنما علیك نبی وصدیق و شهیدان" په هر حال کښې په دارو کښې حصر موجود دي. او دلته چې کوم "أو" دي. دا د "واؤ" په معنی باندې دي. او "شهید" چې مفرد راوړلې شوې دي. ددې نه جنس "شهید" مراد دي. او په مناقب أبی بکر کښې عدد موجود دي. په دې وجه هلته تثنیه راوړلې شوې ده. او هم تثنیه مراد ده. بیا هم دلته چې شهید مفرد راوړلې شوې دي. دا د هغې سره منافی نۀ دي. ځکه چې دلته عدد مقصود نۀ دي. او جنس د مفرد په شان په تثنیه او جمع هم وئیلې شی.

په بعضې روایاتو کښې د. "نبی وصدیق أو شهید" الفاظ دی. ددې په حقله یو قول خو دادي،

---

(۱) الجرح والتعدیل: ۱۲۳۳.۷

(۲) اوګورئ هدی الساری، ص: ۶۱۶. تهذیب التهذیب: ۴۵۱. تقریب التهذیب، ص: ۴۶۲. الکاشف: ۲، ۱۵۰، الجرح والتعدیل لابن أبی حاتم: ۱۲۳۳.۷

(۳) کشف الباری: ۱۳.۲

(۴) کشف الباری: ۱۴.۲

چې "او" په دې کښې هم د "واو" په معنٰی باندې دې، او دویم قول دادې، چې "او" د تغییرِ اسلوب د پاره دې، او ددې نه مراد دادې، چې د نبوت او صدیقیت په حال کښې او د شهادت په حال کښې فرق دې، ځکه چې نبوت او صدیقیت خو په دغه وخت کښې حاصل وو، او شهادت په دغه وخت کښې حاصل نۀ وو، بلکه ورستو حاصلیدونکې وو، ددې فرق د ظاهرولو د پاره، "او شهید" اوئیلې شو، "نبی و صدیق" خو په حقیقت باندې مبنی دی، او شهید مجاز دې، ځکه چې شهادت مقرر او مقدر خو وو، ولې واقع شوې نۀ وو۔ (۱)

۳۴۸۴: (۲) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ أَسْلَمَ حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ عَنْ بَعْضِ شَأْنِهِ - يَعْنِي عُمَرَ - فَأَخْبَرْتُهُ. فَقَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا قَطُّ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ حِينَ قُبِضَ كَانَ أَجَدَّ وَأَجْوَدَ حَتَّى انْتَهَى مِنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

رجال الحديث

يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ: دا ابو سعید یحیٰی بن سلیمان بن یحیٰی بن سعید الجعفیَ الکوفی دې، ددۀ احوال په کتاب العلم، "باب کتابة العلم" کښې تیر شوی دی۔ (۳)

ابْنُ وَهْبٍ: دا ابو محمد عبد الله بن وهب بن مسلم القرشی المصری دې، ددۀ احوال په کتاب العلم، باب "من جعل لاهل العلم أیاماً معلومة" کښې تیر شوی دی۔ (۴)

عُمَرُ: دا عمر بن محمد بن عبد الله بن عمر بن الخطاب دې، ددۀ احوال هم تیر شوی دی، (۵) د حرمله عن ابن وهب په روایت کښې د حدثنی عمر بن محمد بن زید تصریح ده۔ (۶)

زَيْدَ بْنَ أَسْلَمَ: دا زید بن أسلم مولی عمر بن الخطاب دې، ددۀ حالات په کتاب الإیمان، باب "کفران العشیر" کښې تیر شوي دی۔ (۷)

ابْنِ عُمَرَ: د عبد الله بن عمر بن الخطاب احوال په کتاب الإیمان، باب "الإیمان وقول النبی ﷺ بُنی الإسلام علی خمس" کښې تیر شوي دی۔ (۸)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۶۰، وإرشاد الساری: ۸، ۱۱۷۸

۲) الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی: ۱، ۵۴۵، کتاب مناقب الأنصار، باب إسلام عمر بن الخطاب رضی الله عنه، رقم: ۳۸۶۳

۳) کشف الباری: ۴، ۱۳۲۷

۴) کشف الباری: ۳، ۱۲۷۷

۵) کشف الباری: ۳، ۱۲۷۷

۶) اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب تقصیر الصلاة، باب مَن لم یتطوع فی السفر دبر الصلاة، رقم: ۱۱۰۱

۷) اوګورئ: کشف الباری: ۲، ۱۲۰۳

۸) اوګورئ: کشف الباری: ۱، ۶۳۷

قوله: سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ: یعنی اسلم مولی عمر وائی چې زما نه عبدالله بن عمر د خپل پلار، حضرت عمر رضی الله عنه په حقله پوښتنه اوکړه.[1]

قوله: فَقَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا: دا د ابن عمر مقوله ده، یعنی ابن عمر اووئیل، ما د هغۀ په شان څوک هم نۀ دی لیدلې.[2]

قوله: أَجَدَّ وَأَجْوَدَ: "أَجَدّ" دا د جَدَّ نه اسم تفضیل دې، چې د کوشش او محنت په معنی باندې دې، او أجْوَد، د جُود نه په معنی د سخاوت، او جَوّاد په معنی د سخی نه اسم تفضیل دې.

قوله: بَعْدَ رَسُولِ اللهِ: د بعدیت نه مراد کۀ بعدیت فی الصفات وی، او څۀ مخصوصې زمانې سره تعلق نۀ وی، نو بیا به ددې نه مراد د رسول الله ﷺ په حیات کښې او د هغوی نه ورسته د ټولو خلقو نه زیات أجَد وأجود..... کیدل وی، او په دې باندې اشکال کیدې شی، چې ابوبکر او بعضې نور صحابه خو د افراط د حده پورې په جُهد او جُود باندې متصف وو. بیا د حضرت عمر رضی الله عنه د هغوی نه زیات متصف ګرځول څنګه صحیح کیدې شی، او کۀ ددې نه مراد "بعد زمانِ رسولِ الله ﷺ" وی، نو بیا هم په دې باندې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او بعضې نورو صحابۀ کرامو په حوالې سره اعتراض کیدې شی، په دې وجه ددې نه مراد اخستې شوې دې. د رسول الله ﷺ نه ورسته په خپله زمانه د خلافت کښې، په دې صورت کښې اشکال نۀ واردیږی، او ددې تاویل نه ورسته دا نۀ شی وئیلې کیدې، چې حضرت رسول الله ﷺ او ابوبکر خو د هغۀ نه أجد وأجود وو، لهذا دا دعوی صحیح نۀ ده.[3] اشکال په دې وجه نۀ شی کیدې، چې په عهد فاروقی کښې أجود او أجد کیدل مراد دی، او په دغه وخت کښې د حضرت رسول الله ﷺ او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وفات شوې وو، او د نورو نه د حضرت عمر رضی الله عنه أجد او أجود کیدل.....قابل اعتراض نۀ دی.

دویم احتمال دادې، چې د انتهی فاعل ابن عمر دې، او ددې قائل نافع دې، او ددې تاویل داسې دې. "انتهی ابن عمر فی الإنصاف بعد أجد وأجود حتی فرغ مما عنده" یعنی ابن عمر أجد و أجود ګرځولو سره د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله په انصاف کښې تر آخره پورې اورسیدو، او کوم انصاف چې هغۀ سره وو، د هغې نه فارغ شو، او هغه ئې اووئیل. والله اعلم.[4]
ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې.

---

[1] فتح الباری: ۹، ۶۱
[2] فتح الباری: ۹، ۶۱
[3] فتح الباری: ۹، ۶۱
[4] فتح الباری: ۹، ۷۱، وإرشاد الساری: ۸، ۱۲۷۸

٣٤٨٥: (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ السَّاعَةِ، فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ «وَمَا ذَا أَعْدَدْتَ لَهَا. قَالَ لاَ شَىْءَ إِلاَّ أَنِّى أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ -صلى الله عليه وسلم-. فَقَالَ «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ». قَالَ أَنَسٌ فَمَا فَرِحْنَا بِشَىْءٍ فَرَحَنَا بِقَوْلِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ». قَالَ أَنَسٌ فَأَنَا أُحِبُّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ بِحُبِّى إِيَّاهُمْ، وَإِنْ لَمْ أَعْمَلْ بِمِثْلِ أَعْمَالِهِمْ. [٥٨١٥، ٥٨١٩، ٦٧٣٤]

رجال الحديث

سُلَيمَانُ بنُ حَرْبٍ: دا ابو ايوب سليمان بن حرب بن بجيل ازدى واشجى بصرى دي، ددهٔ حالات په كتاب الإيمان، باب "مَن كَرِهَ أن يعود فى الكفر كما يكره أن يلقى فى النار، من الإيمان" كښې تير شوى دى.(٢)

حَمَّادُ بنُ زَيْدٍ: دا حماد بن زيد بن ردهم الجهمى دي، ددهٔ احوال په كتاب الإيمان، باب "وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا....." كښې تير شوي دى.(٣)

ثَابِتٌ: دا ابو محمد ثابت بن أسلم بُنانى بصرى دي، ددهٔ احوال په كتاب العلم، باب "ما جاء فى العلم وقوله تعالى (وقل رب زدنى علماً)" كښې تير شوى دى.(٤)

أنَسٌ: مشهور صحابى حضرت أنس بن مالك مراد دي، ددهٔ حالات په كتاب الإيمان، باب من "الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه" كښې تير شوى دى.(٥)

د رجل نه څوک مراد دي؟: أن رجلاً..... د رجل نه مراد ذو الخويصرة اليمانى دي، او د بعضو له مخې ابوموسى اشعرى يا ابو ذر دي، حافظ ابن حجر دا قول ابن بشكول ارخ ته منسوب كړي دي، او وې فرمائيل، هغوى بيا د ابوموسى اشعرى رضي الله عنه روايت "قلتُ يا رسول الله المرء يحب القوم ولما يلحق بهم" نقل كړي دي. او د حضرت ابوذر روايت "فقلتُ يا رسول الله المرء يحب القوم ولا يستطيع أن يعمل بعملهم" ئې ذكر كړي دي، او ددې دواړو روايتونو مضمون په ظاهره د روايت باب سره نزدې دي، په دې وجه هغوى ددې نه ددې خبرې د ثابتولو كوشش كړي دي، چې

---

(١) الحديث مرَّ تخريجه فى نفس هذا الكتاب، باب قول النبى ﷺ لو كنتُ متخذا خليلا، رقم: ١٣٦٧٧

(٢) كشف البارى ٢، ١٠٦\

(٣) كشف البارى: ٢، ٢١٩\

(٤) كشف البارى: ٣، ١١٨٣\

(٥) كشف البارى: ٢، ١٤\

رجل ابو موسی اشعری یا ابو ذر غفاری دي۔
بیا هم حافظ صاحب دا رد کولو سره اوفرمائیل،چې ددې دواړو حضراتو سوال عمل سره متعلق دي،او په حدیث باب کښې سوال د قیامت په حقله دي،ددې نه معلومیږی،چې دا ګنړ شمیر واقعات او مختلف کسان دی۔
حافظ صاحب وړاندې فرمائی چې په کتاب الأدب کښې په یوئې بلې طریقې سره د حضرت انس نه دا الفاظ منقول دی، "أن رجلاً من أهل البادية"۔(۱)
ددې نه معلومیږی،چې سوال کونکې څوک باندې چې(او کلی وال)وو۔
همدغه شان دار قطنی د ابو مسعود روایت نقل کړې دي،چې په هغې کښې هغه وائی،چې کوم اعرابی په جمات کښې واړۀ بول کړې وو،هغه پوښتنه اوکړه، "یا محمد متی الساعة" قیامت به کله راځی؟هغوی ﷺ اوفرمائیل، "وما أعددت لها؟" تا د هغې د پاره څومره تیاري کړې ده؟ ددې نه معلومه شوه،چې د انس رضی اللہ عنہ په حدیث کښې د کوم اعرابی ذکر دي،ددې نه هغه اعرابی مراد دي،چا چې په جُمات کښې واړۀ بول کړې وو،او په کتاب الطهارت کښې تیر شوې دی، چې هغه ذو الخویصرة الیمانی دي،څنګه چې ابو موسی المدینی په "دلائل معرفة الصحابه" کښې ذکر کړې دي۔(۲)
ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت: د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت داسې دي،چې دلته سائل د رسول الله ﷺ محبت سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ او ابوبکر رضی اللہ عنہ محبت ملګرې کولو سره د خلاصی امیدونه ترلی دی،چې د ابوبکر په شان د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د فضیلت او عظمت علامت،او په دغه وخت کښې د عامو مسلمانانو په ذهنونو کښې هم ددې تاثر او تصور د موجود کیدو دلیل دي۔(۳) واللہ أعلم
د اسلوب الحکیم په طریقه جواب: وَمَا ذَا أَعْدَدْتَ لَهَا.....علامه طیبی فرمائی:
"سلك مع السائل أسلوب الحكيم، لأنه سأل عن وقت الساعة"۔(۴) یعنی رسول الله ﷺ سائل ته اد اسلوب الحکیم مطابق جواب ورکړو۔
هغه د قیامت د واقع کیدو د وخت په حقله پوښتنه کړې وه،ولې رسول الله ﷺ په ځائې د وخت ښودلو یا د هغې یو علامت ښودلو.....اُلټا د هغۀ نه سوال اوکړو،چې ستا تیاری څومره ده؟ ددې مطلب دا وو،چې د وقوع قیامت په حقله سوال یا د هغې د واقع کیدو وخت پیژندل اهم نۀ دی،بلکه اهم د هغې د پاره د تیاري فکر دي،قیامت چې کله هم راځی،سړی

---

۱) کتاب الأدب،باب ما جاء فی قول الرجل ویلک،رقم:۶۱۶۷
۲) فتح الباری:۹،۶۱
۳) فتح الباری:۹،۶۱
۴) إرشاد الساری:۸،۱۱۷۹

ته د هغې د پاره تیاري کول پکار دی، او د تیاري د پاره فکر مند کیدل پکار دی۔

د معیت نه څه مراد دي ؟ :أنتَ مَعَ مَن أحْبَبْتَ.....د معیت نه مراد د جنت معیت دي، او علامه قسطلانیؒ فرمائی، چې معیت به داسې وی، چې هر یو به بل لیدې شی، اګر د هغوی مکانونه د یو بل نه لرې او بعید ولې نۀ وی، او ښکاره خبره د ه، کله چې حجاب ختم دی، نو بیا یقیناً هر یو بل لیدې هم شی، او کۀ د لیدو یا د ملاقات کولو خواهش اوشو، نو په هغې به قدرت هم حاصل وی، پاتې شو حقیقی معیت چې په هغې کښې د درجې او مرتبې برابر والې هم وی، نو هغه مراد نۀ دي۔[1]

۳۴۸۶: [2]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الأُمَمِ مُحَدَّثُونَ، فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ».

رجال الحديث

يَحيَى بْنُ قَزَعَةَ:دا یحیی بن قزعة البخاری المدنی دي، ددۀ احوال تیر شوي دی۔[3]

ابراهيم بنُ سَعد:دا إبراهيم بن سعد بن إبراهيم بن عبدالرحمٰن بن عوف دي، ددۀ احوال په کتاب الإيمان، باب تفاضل أهل الإيمان لاندې تیر شوی دی۔[4]

او په "کتاب العلم، باب ما ذكر من ذهاب موسى ﷺ في البحر إلى الخضر" کښې په څۀ تفصیل سره ددۀ احوال تیر شوی دی۔[5]

ددۀ د پلار سعد بن إبراهيم احوال هم تیر شوی دی۔[6]

ابي سَلَمَةَ:دا ابو سلمة بن عبد الرحمٰن بن عوف مشهور فقيه دي، ددۀ احوال په "کتاب الإيمان، باب صوم رمضان احتسابًا من الإيمان" کښې تیر شوی دی۔[7]

ابي هُرَيْرَةَ:د رسول الله ﷺ مشهور صحابی دي، ددۀ حالات په "کتاب الإيمان، باب أمور الدين" کښې تیر شوی دی۔[8]

---

[1] إرشاد الساری:۸،۱۱۷۹

[2] الحديث سبق تخريجه في كتاب أحاديث الأنبياء، باب(٥٤)رقم٣٤٦٩

[3] كتاب الأذان، باب صلاة النساء، خلف الرجال.....۱

[4] كشف الباری:۲،۱۱۲۰

[5] كشف الباری:۳،۱۳۳۳

[6] صحيح البخاری، كتاب الوضوء، باب قراءة القرآن بعد الحدث، رقم:۱۱۸۳

[7] كشف الباری:۲،۱۳۳۲۳

[8] كشف الباری:۱،۱۶۵۹

د ابو سلمه د حضرت نه روایت: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ..... "إبراهيم بن سعد بن إبراهيم بن عبد الرحمن بن عوف عن أبيه عن أبي سلمة..... په دې سند سره، د إبراهيم شاګردانو نقل کړې دي.
او ابن وهب ددې مخالفت کړې دي، او د إبراهيم بن سعد په دې سند سره ذکر کولو سره فرمائي: عن أبي سلمة عن عائشة رضي الله عنها".
ابو مسعود وائي:
"لا أعلم أحداً تابع ابنَ وهب على هذا والمعروف عن إبراهيم بن سعد أنه روى عن أبي هريرة لا عن عائشة".(۱)
يعنى د ابن وهب هيڅ يو متابع نشته، او د إبراهيم بن سعد په حقله معروف هم دغه دى، چې هغه دا د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کوى، نه چې د عائشې رضي الله عنها نه، او ددې متابع زكريا بن أبي زائده هم موجود دې، چې مصنّف دلته تعليقاً ذكر كړې دې.
او مسلم، ترمذى او نسائى د محمد بن عجلان، د "سعد بن إبراهيم عن أبي سلمة عن عائشة" په طريقې سره روايت تخريج كړې دې.(۲)
ابو مسعود وائى، د ابن عجلان دا روايت مشهور دې، نو ګويا ابو سلمه دا د حضرت عائشې رضي الله عنها او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دواړو نه اوريدلې دې.
ابن حجر وائى، ددې يو دليل د حضرت عائشې رضي الله عنها هغه حديث هم دى، چې ابن سعد د ابن أبي عتيق په طريقې سره د حضرت عائشې رضي الله عنها نه نقل كړې دې،(۳) او د خفاف بن اسماء حديث ئې هم ذكر كړې دې، چې د هغې الفاظ دادى:
"أنه كان يصلي مع عبد الرحمٰن بن عوف فإذا خطب عمر سمعه يقول أشهد أنك مكلَّم".(۴)
د "محدّثون" معنى او مطلب: د دال په فتحې او تشديد سره، ددې په معنى او مطلب كښې مختلف اقوال دى، يو قول دادې، چې محدّث د "مُلهَمْ" په معنى باندې دې، د اكثرو حضراتو دغه رائې ده، چې د المحدّث بالفتح معنى ده، "الرجل الصادق الظن" هغه سړې چې د هغه خيال او ګمان ربښتيا وى. حافظ ابن حجر رحمه الله ددې تشريح كولو سره وائى:
"وهو من ألقي في روعه شئ من الملاء الأعلى فيكون كالذي حدّثه غيره به".(۵)
يعنى هغه سړې چې د هغه په زړه كښې د ملأ الأعلى نه څه خبره اچولې شوې وى، چې هغه داسې وى، چې ګويا دا خبره د هغه ته بل چا بيان كړې ده، او په دې لحاظ سره هغه محدّث يا

---

۱) الجمع بين الصحيحين: ۱۱۵۸،٤
۲) أخرج مسلم في صحيحه، باب من فضائل عمر، رقم: ۲۳۸۹، والترمذي في سننه، باب مناقب عمر، رقم: ۳۶۹۳، والنسائي في سننه الكبرى، رقم: ۷۰۶۵
۳) فتح الباري: ۶۲،۹
۴) فتح الباري: ۶۲،۹
۵) فتح الباري: ۶۲،۹

مکلّم شو، یعنی اسم مفعول دي، هغه سړي چې هغهٔ سره خبره کړې شوې ده.

یو قول دادي، چې د محدّث معنی ده: "من یجری الصواب علی لسانه من غیر قصد" هغه سړي چې د چا په ژبه باندې بغیر د ارادې نه صحیح خبره جاری وی.

یو بل قول دادي، "مکلّم أی تکلمه الملائکة من غیر نبوة".[1] یعنی د محدّث معنی ده، مکلّم، چا سره چې فرشتو کلام کړې وی، او هغه نبی هم نهٔ وی.

او دا خبره د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه په یو مرفوع حدیث کښې هم مذکور ده، چې د هغې الفاظ داسې دی:

"قیل یا رسول الله وکیف یحدّث؟ قال تتکلم الملائکة علی لسانه".[2]

او دلته مذکور معلق روایت سره هم ددې تائید کیدې شی، چې د محدّث یا مکلّم نه هغه سړي مراد دي، چې هغهٔ سره فرشتې خبرې اوکړی، او بعضې حضرات وائی "مکلّم" لفظ سره چې د محدّث تفسیر کړې شوې دي، د هغې هم هغه معنی ده، کومه چې وړاندې ذکر کړې شوې ده، یعنی "مُلهَم" او هغه داسې چې په دې صورت کښې د مکلّم معنی ده، چې په خپل زړهٔ کښې په یادو خبرې اوکړی، او په ظاهره نهٔ هغهٔ سره په خبرو کولو څوک په نظر راځی او نهٔ هغه خبرې کوی (ولې بیا هم خپل ځان سره د خبرو کولو په سبب هغهٔ ته مکلّم وئیلې شی).

ابن التین وائی ددې معنی ده، "التفرس" یعنی ننبې پیژندل، او په هغې سره یو امر خفی ته رسیدل حاصلول، په پوهې او فراست سره د امورو پیژندګلو.[3]

او په مسند حمیدی کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها حدیث نه ورسټو دا الفاظ واقع دی:

"المحدّث المهلم بالصواب الذی یلقی علی فیه" هغه سړي چې هغهٔ ته د صحیح خبرو الهام کیږی، یعنی هغه ددهٔ په ژبه باندې القاء کولې شی.[4]

په مسلم کښې د ابن وهب په روایت کښې دا الفاظ دی:

"ملهمون، وهی الإصابة بغیر نبوة"[5] یعنی د محدّثون معنی ده، "ملهَمون" چا ته چې صحیح خبره یا صحیح کلام نصیب کیږی، او چې هغه نبی نهٔ وی.

او د ترمذی په یو روایت کښې د ابن عیینه د بعضې شاګردانو نه دا الفاظ منقول دی:

"محدّثون یعنی مُفهَمون"[6] څوک چې پوهه کړې شوې وی، (من جانب الله).

---

[1] فتح الباری: ۹، ۱۸۳

[2] الاعتقاد للبیهقی: ۱، ۳۱٤، والمعجم الأوسط، رقم: ۶۷۲۶

[3] فتح الباری: ۹، ۱۶۲

[4] فتح الباری: ۹، ۱۶۲

[5] الجمع بین الصحیحین: ۳، ۸۱، وشرح مشکل الآثار، رقم: ۱۱۶۹۳

[6] سنن الترمذی، باب فی مناقب، أبی حفص عمر بن الخطاب، رقم: ۱۳۶۹۳

د إبراهیم بن سعد په یو روایت کښې دی، "محدّث أی یُلقی فی روعه".(۱)
ددې تائید په یو بل روایت سره هم کیدې شی، چې د هغې الفاظ دادی:
"إن الله جعل الحق علی لسان عمر وقلبه".(۲) الله تعالی حق د حضرت عمر رضی الله عنه په ژبه او زړه کښې کیښودی دی.
دا د ترمذی روایت دې، چې د ابن عمر نه مروی دې، احمد هم دا د ابوهریره رضی الله عنه او طبرانی د بلال رضی الله عنه نه روایت کړې دې.(۳)
احمد او ابو داؤد چې د ابو ذر نه کوم روایت نقل کړې دې، په هغې کښې د "قلبه" په ځائې د "یقول به" الفاظ دی.(۴)
حاکم دا صحیح ګرځولې دې،(۵) او طبرانی په أوسط کښې پخپله د حضرت عمر رضی الله عنه نه دا لفظ نقل کړې دې، یعنی "یقول به".(۶)
د ابو ذر په نسخه کښې د "ناس محدّثون" الفاظ دی.(۷)
زَادَ زَكَرِيَّاءُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ سَعْدٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لَقَدْ كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ رِجَالٌ يُكَلَّمُونَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَكُونُوا أَنْبِيَاءَ، فَإِنْ يَكُنْ مِنْ أُمَّتِي مِنْهُمْ أَحَدٌ فَعُمَرُ». [ر: ۳۲۸۲]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:
"ورواية زكريا وصله الإسماعيلي وأبو نعيم في مستخرجيهما".(۸)
حافظ صاحب پخپله ددې موصولاً ذکر کړې دې: "أخبرنا أبو بكر بن إبراهيم بن أبي عمر أخبرنا أبو نصر بن الشيرازي في كتابه عن علي بن عبد الرحمن البكري، أن يحيى بن ثابت بن بندار أخبره قال أخبرنا أبي أخبرنا أبو بكر بن غالب أخبرنا أبو بكر الجرجاني حدثنا القاسم بن زكريا به نحوه".(۹)

---

۱) فتح الباری: ۸۳.۹، وفی روایة له هم الذین یُلهمون - شرح مشکل الآثار، رقم: ۱۱۶۵
۲) المعجم الکبیر للطبرانی، رقم: ۱۰۷۷
۳) مسند احمد، مسند عبد الله بن عمر رضی الله عنه، رقم: ۴۱۱۵، ومسند أبی هریرة، رقم: ۹۲۱۳، سنن الترمذی، باب فی مناقب أبی حفص عمر بن الخطاب، رقم: ۳۶۷۲، المعجم الأوسط، رقم: ۱۲۸۹
۴) مسند احمد، حدیث أبی ذر الغفاری، رقم: ۲۱۲۹۵
۵) المستدرک علی الصحیحین، رقم: ۴۵۰۱
۶) فتح الباری: ۶۲.۹
۷) إرشاد الساری: ۱۷۹.۸
۸) فتح الباری: ۶۲.۹، وفی هدی الساری وصلها الاسماعیلی، ص: ۶۴
۹) فتح الباری: ۶۲.۹

هم دغه قاسم بن زکریا هغه اسماعیلی دي، چې د هغهٔ وصل(موصولاً ذکر کولو)ارخ ته حافظ صاحب اشاره کړې ده، او ابو نعیم ددې تخریج داسې کوی:

"حدثنا یحیٰی أبو اسحاق بن حمزة، حدثنا علی بن مهشر، حدثنا الحسن بن خلف حدثنا إسحاق الأزرق عن زکریا بن أبی زائدة عن سعد بن إبراهیم عن أبی سلمة عن أبی هریرة عن النبی ﷺ قال کان فیمن خلا قبلکم من بنی إسرائیل رجال یکلّمون من غیر أن یکونوا أنبیاء....."(۱)

ستاسو نه وړاندې په تیر شوې خلقو کښې په بنی اسرائیلو کښې څهٔ خلق داسې هم وو، چې هغوی سره خبرې کړې شوې وې، حال دادې چې هغوی انبیاء نهٔ وو.

د زکریا بن أبی زائدة په دې معلق روایت کښې دوه ځایه زیاتوالي دي، یو خو دا چې د امم سابقه نه مراد بنی اسرائیل دی، اودا رجالِ محدّثین په بنی اسرائیلو کښې وو، دویم دا چې په دې کښې د "محدّث" معنٰی هم په "یکلّمون من غیر أن یکونوا أنبیاء" الفاظو سره ښودلې شوې ده(۲)

ایا د "محدّثینو" د راتلو صرف احتمال دي؟ إنْ یَکُ فِی أُمَّتِی....."إنْ" دلته د شك او تردد د پاره نهٔ دي، بلکه د تاکید د پاره دي، ځکه چې د رسول الله ﷺ امت د نور امتونو نه افضل دي، او چې په نورو امتونو کښې داسې خلق شته، نو د هغوی ﷺ په امت کښې خو د داسې خلقو د کیدو زیات امکان دي، او دا بالکل داسې دي، څنګه چې یو سړي وائی، "إن یکن لی صدیق فإنه فلان" کهٔ زما څوك دوست وی نو هغه فلانکي دي، یعنی هم فلانکي زما دوست دي، او ددې مثال معنٰی د صداقت او دوستئ نفی نهٔ وی، بلکه فلانکی صاحب سره د کمال دوستئ اختصاص بیانول مقصود دی.

او همدغسې یو بل مثال دي، اجیر وائی، "إن کنتُ عملتُ لکَ فوفِّنی حقِّی" کهٔ ما دا کار ستا د پاره کړې وی، نو ما ته زما حق راکړه، حال دادې چې دلته عامل او چا د پاره چې کار کړې شوې دي، دې دواړو ته معلومه ده، چې عامل(اجیر)کار کړې دي، خو په "إنْ کُنْتُ" سره ددې د ذکر کولو مقصد صرف دادي، چې ستا د ارخ نه زما حق نهٔ راکول، او په هغې کښې د تال متول کولو دا مقصد دي، چې ما خو د سره کار کړې نهٔ دي، ځکه چې داسې کار په استحقاق کښې شك کونکي کوی، او د کار خو تهٔ پخپله اقرار کوي، نو کهٔ ما کار کړې وی، او یقیناً مې کړې دي، نو زما حق راکړه.

همدغه شان مطلب دلته دي، کهٔ زما په اُمت کښې محدّثین وی، او یقیناً شته، نو په هغوی کښې یو حضرت عمر رضی الله عنه دي.

یو قول دادي، چې په "إن" سره په اُمتِ محمدیه کښې د محدّثینو د وجود د ذکر کولو مقصد

---

(۱) تغلیق التعلیق: ۴، ۱۶۳

(۲) فتح الباری: ۹، ۱۶۲

دادي، چې په بنی اسرائیلو کښې د دغه شان محدّثینو وجود خو متیقن او متحقق وو، ځکه په هغوی کښې چې کله انبیاء نه وو، نو بیا د داسې خلقو هغوی ته ضرورت وو، چې هغوی ته د الله تعالی خبرې بیان کړی، او د خپل اُمت په حقله د رسول الله ﷺ دا خیال وو، چې دوی ته به د داسې قسمه خلقو د لار ښودنې ضرورت نه وی، ځکه چې د دوی د لار ښودنې د پاره به قرآن کریم تر قیامته پورې موجود وی، نو په اُمت محمدیه کښې د محدّثینو وجود متحقق نه دي، بلکه محتمل او متوقع دي، او امر واقع هم دغه دي، ځکه چې په اُمت محمدیه کښې که داسې قسمه یو سړې وی هم، نو د هغه قول او عمل به په لازمی توګه قرآن او حدیث ته وړاندې کولې شی.

که هغه د قرآن یا احادیثو سره موافق وو نو په هغې به عمل کولې شی، که نه وی نو پریښودې به شی.[1]

معلومه شوه چې اصل اعتبار د قرآن او سنت دي، نه د هغه سړي، هاؤ! که داسې یو سړې او د هغه خبره وی، نو اهم او مبارك ضرور دي، او په حضرت عمر رضی الله عنه کښې د داسې سړي کیدو علامات او امکانات موجود دی.

په امت مسلمه کښې د "محدّثینو" په وجود کښې څه حکمت دي؟ اوس دا سوال کیدې شی، چې د داسې خلقو په اُمت مسلمه کښې د موجود کیدو څه فائده ده، او په دې کښې څه حکمت دي. نو ددې جواب دادي چې د عهد اول یعنی عهد نبوی نه ورسته د داسې خلقو په کثرت سره د موجود کیدو حکمت دادي، چې په دې سره د اُمت د شرف مرتبه زیاتیږی، او یا حکمت دادي، چې په بنی اسرائیلو کښې انبیاء په کثرت سره راغلی دی، او دا فضیلت اُمت محمدیه ته د ختم نبوت په وجه نه دي حاصل شوې، نو د هغې د تلافئ او د بنی اسرائیلو په مقابله کښې په دې حقله د اُمت د شان د زیاتولو د پاره د انبیاؤ په مقابله کښې مکلمین پیدا کړې شو. نو ځکه چې نورو مناقبو او فضائلو کښې د نورو اُمتونو په مقابله کښې د اُمت مسلمه مقام او مرتبه لوړه ده، چې په دې فضیلت کښې هم دوی د هغوی نه ورسته پاتې نه شی.[2]

دا د حضرت عمر رضی الله عنه امتیازی شان دي: علامه طیبی وائی:

"فالمراد بالمحدّث: المُلهم الملهم فیه الذی انتهی إلی درجة الأنبیاء فی الالهام فالمعنی لقد کان فیما قبلکم من الأنبیاء مُلهمون من قبل الملأ الاعلی، فإن یکن فی أمتی أحد هذا شأنه فهو عمر، جعله لانقطاع قرینه و تفوقه علی أقرانه فی هذا کأنه تردد هل هو نبی أم لا؟ فاستعمل "إن" ویؤیده ما ورد فی الفصل الثانی، "لو کان بعدی نبی لکان عمر بن الخطاب" فلوفی هذا الحدیث بمنزلة "إن" علی السبیل الفرض والتقدیر.

یعنی د "محدّث" نه مراد هغه سړي دي، چې هغه ته د مبالغې تر حده پورې الهام کیږی، او په

---

[1] فتح الباری: ۹: ۱۶۲

[2] فتح الباری: ۹: ۱۶۳

دې کښې هغه د انبیاؤ درجې ته رسیدلې وی.....نو معنی دا شوه، کۀ ستاسو نه په وراندې امتونو کښې انبیاء وو، چې هغوی ته به د ملاء اعلی نه الهام کیدو، نو کۀ زما په اُمت کښې داسې یو سړې وی، نو هغه به یقیناً عمر وی، گویا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خپلو همزولو باندې د لوړ رُتبه کیدو دا مقام دې، چې ددۀ په حقله دا شك کیدې شی، چې هغه نبی دې یا غیر نبی، ددې تردد دپاره "إن" راوړلې شو، (اودا تردد دهغه په محدّث او مُلهَم کیدو کښې نۀ دې، بلکه په نبی کیدو کښې دې، او په دې صورت کښې دا تردد د هغۀ کمال دې، عیب نۀ دې).

او ددې تائید په یو بل روایت سره کیدې شی، چې د هغې الفاظ دی "لوکان بعدی نبی لکان عمر بن الخطاب" دلته "لو" حرف شرط د "إن" شرطیه په معنی کښې دې۔[1]

په هر حال کښې د دواړو روایتونو مطلب دادې، چې د عمر داسې ناآشنا شان دې، او په هغۀ کښې د نبوی صفاتو سره مماثلت لرونکی داسې صفات دی، چې د هغۀ د نبی کیدو شك کیدې شی، اگر چې د رسول اللہ ﷺ نه ورسترو د چا نبی کیدل محال دی، ولې بالفرض والمحال کۀ څوك وی، نو هغه هم دغه عمر دې۔

حافظ صاحب د طیبی دا تشریح رد کوی، او وائی:

"فی تقریر الطیبی نظر لأنه وقع فی نفس الحدیث "من غیر أن یکونوا انبیاء"

د طیبی په دې تقریر کښې نظر او اشکال دې، ځکه چې هم په روایت کښې دَا الفاظ هم دی، چې هغه (خلق) به انبیاء نۀ وی۔

او د طیبی تقدیر به هغۀ وخت کښې ثابت وی، چې دغه محدّثین انبیاء فرض کړې شی، او مذکوره عبارت ددې فرض او تقدیر نفی کوی۔[2]

قوله: قال ابن عباس من نبی ولا محدّث: یعنی حضرت ابن عباس د اللہ تعالی د ارشاد "(وما ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبی الا اذا تمنّٰی.....)"[3] کښې د "نبی ولا محدّث" الفاظ روایت کړې دی۔ یعنی د "محدّث" زیاتوالې ئې نقل کړې دې۔

دا معلّق روایت سفیان بن عیینه په خپل جامع کښې او عبد بن حمید په سندِ صحیح سره موصولاً د حضرت ابن عباس نه روایت کړې دې، او د هغې الفاظ داسې دی۔

"کان ابن عباس یقرأ: وما أرسلنا من قبلك من رسول ولا نبی ولا محدّث....."[4]

ابن عباس به دا آیت داسې لوستلو، (وما ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبی ولا محدث)

---

[1] شرح الطیبی: ۲۲۹.۱۱، کښې عبارت داسې دی، او صاحب د فتح الباری ددې الفاظ داسې ذکر کړی دی: "الملهَم، البالغ فی ذلک مبلغ النبی فی الصدق" اوگوری: فتح الباری: ۶۳.۹

[2] فتح الباری: ۶۳.۹

[3] سورة الحج آیت ۵۲

[4] فتح الباری: ۶۳.۹

اوس پاتې شوه دا خبره چې حضرت عمر رضي الله عنه په خاص توګه "محدّث" ګرځولو کښې حکمت څه دي؟ددې په حقله دا وئيلې شوی دی،چې د هغهٔ موافقات او پيښن ګويانې چې د هغې موافق او په جور باندې د قرآن کريم ګنړ شمير آيتونه نازل شوی دی،او د رسول الله ﷺ نه ورسټو د هغهٔ څو اصابات او صحيح کارونه د هغهٔ د امتيازی شان علامت او د محدّث کيدو دليل دی۔[1]

٣٤٨٧: [2]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنَا عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالاَ سَمِعْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ - رضى الله عنه - يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «بَيْنَمَا رَاعٍ فِي غَنَمِهِ عَدَا الذِّئْبُ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً، فَطَلَبَهَا حَتَّى اسْتَنْقَذَهَا، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الذِّئْبُ فَقَالَ لَهُ مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِي. فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللَّهِ. فَقَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - «فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ» وَمَا ثَمَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. [ر: ٢١٩٩]

رجال الحديث

عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ:دا عبد الله بن يوسف تنسی دي،ددهٔ احوال د"كتاب بدء الوحی"د دويم حديث لاندې تير شوی دی۔[3]

اللَّيْثُ:دا ليث بن سعد بن عبدالرحمٰن فهمی دي،ددهٔ حالات د"بدء الوحی"د دريم حديث لاندې تير شوی دی۔[4]

عُقَيْلٌ:دا عُقيل بن خالد بن عُقيل دي،ددهٔ حالات هم د"بدء الوحی"ددې دريم حديث لاندې مذکور دی۔[5]

ابْنِ شِهَابٍ:دا ابن شهاب زهری دي،ددهٔ احوال هم د"بدء الوحی"ددې دريم حديث لاندې اوګورئ۔[6]

سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ:دا مشهور تابعی سعيد بن المسيب دي،ددهٔ احوال په"كتاب الإيمان،باب مَن قال أن الإيمان هو العمل"لاندې تير شوی دی۔[7]

---

[1] فتح الباری:٦٣،٩،وتعليق التعليق:٦٥،٤\

[2] الحديث سبق تخريجه فی كتاب الحرث والمزارعة،باب استعمال البقر للحراثة،رقم:٢٣٢٤\

[3] كشف الباری:٢٨٩،١\

[4] كشف الباری:٣٢٤،١\

[5] كشف الباری:٣٢٥،١\

[6] كشف الباری:٣٢٦،١\

[7] كشف الباری:١٥٩،٢\

أبي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: دا ابو سلمة بن عبد الرحمٰن بن عوف دي، ددۀ حالات په کتاب الإيمان، "باب صوم رمضان احتسابًا من الإيمان" لاندې تير شوی دی۔[1]

أبُو هُرَيرَةَ: جليل القدر صحابی دي، ددۀ احوال د کتاب الإيمان "باب أمور الإيمان" لاندې تير شوی دی۔[2]

دا روايت دلته مختصراً ذکر شوېدي، او د "بقرې" قيصه دلته نۀ ده ذکر کړې شوې، او په "کتاب الحرث والمزارعة" او کتاب "أحاديث الأنبياء" همدغه شان "مناقب أبي بکر" کښې په تفصيل سره مذکور دي، او هم هلته ددې تشريح هم اوګورئ۔

ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث او ترجمة الباب کښې مطابقت "فإن أومن بها وأبوبکر....." نه واضحه ده، چې رسول الله ﷺ د هغۀ (عمر) په عدم موجودګئ کښې د هغۀ د ايمان او تصديق ذکر فرمائی، هم دا لوئې اعتماد د سيدنا عمر فضيلت او منقبت جليله دي۔

۳۴۸۸: (۳) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو أُمَامَةَ بْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رضي الله عنه - قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَقُولُ «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ عُرِضُوا عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ، فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثَّدْيَ، وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ دُونَ ذَلِكَ، وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ اجْتَرَّهُ». قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ «الدِّينَ». [ر: ۲۳]

يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ: دا ابو زکريا يحيىٰ بن عبدالله بن بکير المخزومی دي، ددۀ احوال د "کتاب بدء الوحی" د دريم حديث لاندې تير شوی دی۔[4]

اللَّيْثُ: دا ليث بن سعد بن عبدالرحمٰن فهمی دي، ددۀ حالات د "بدء الوحی" د دريم حديث لاندې تير شوی دی۔[5]

عُقَيْلٌ: دا عُقيل بن خالد بن عُقيل دي، ددۀ حالات هم د "بدء الوحی" ددې دريم حديث لاندې مذکور دی۔[6]

ابْنِ شِهَابٍ: دا ابن شهاب زهری دي، ددۀ احوال هم د "بدء الوحی" ددې دريم حديث لاندې اوګورئ۔[7]

---

[1] کشف البارى: ۱۳۲۳.۲

[2] کشف البارى: ۱۶۵۹.۱

[3] الحديث سبق تخريجه فی کتاب الحرث والمزارعة، باب استعمال البقر للحراثة، رقم: ۱۱۲۳۲۴

[4] کشف البارى: ۱۳۲۳.۱

[5] کشف البارى: ۱۳۲۴.۱

[6] کشف البارى: ۱۳۲۵.۱

[7] کشف البارى: ۱۳۲۶.۱

اَبُوامَامَةَ بْنُ سَهْلِ بْنِ حُنَيف:دا أبو أمامة أسعد بن سهل بن حُنيف دي،ددۀ حالات په "کتاب الإيمان،باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال" کښې تير شوی دی۔[۱]

عَنْ اَبِی سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ.....:دا ابو سعيد سعد بن مالك الخدری مشهور صحابی دي،ددۀ احوال په "کتاب الإيمان، باب مِنَ الدين الفرار من الفتن" لاندې تير شوی دی۔[۲]

د زهری اکثرو ملګرو داسې روايت کړې دي،يعنی د ابو سعيد تصريح نې کړې ده،او معمر د زهری نه د "عن أبي أمامة بن سهل عن بعض أصحاب النبی.....په الفاظو سره نقل کړې دي،په دې کښې صحابی مبهم پريښودې شوې دي، او ددې تخريج امام احمد کړې دي۔[۳]

او صالح بن کيسان هم دا روايت د زهری نه په "کتاب الإيمان" کښې نقل کړې دي،چې په هغې کښې د ابو سعيد تصريح ده۔[۴]

او په کتاب التعبير کښې هم په دې طريقې سره دا روايت مروی دي،چې په هغې کښې د ابو سعيد تصريح ده،او الفاظ داسې دی: "حدثني،أبوأمامةَ بنُ سهل أنه سمع أبا سعيد الخدری..."۔[۵]

ددې حديث مکمله تشريح په کتاب الإيمان کښې تيره شوې ده۔[۶]

او څۀ به په کتاب التعبير کښې راشی۔انشاء الله۔

د حضرت عمر رضی الله عنه د افضل الصحابه کيدو خيال:هنه ! دلته دومره خبره د کولو ده،چې د حديث نه د حضرت عمر رضی الله عنه أفضليت معلوميږی،او افضل الصحابه خو په اتفاق سره حضرت ابوبکر رضی الله عنه دي۔

ددې جواب دادي چې ابوبکر ددې عموم نه مستثنی دي،لهذا د حضرت عمر رضی الله عنه د هغۀ نه افضل کيدل لازم نۀ راځی، يعنی دلته چې رسول الله ﷺ ته کوم خلق وړاندې کړې شوی وو،په هغوی کښې ابوبکر نۀ وو۔

دويم جواب دادي،چې د عمر د قميص د اُوږدوالی نه دا لازم نۀ راځی،چې د ابوبکر قميص ددې نه زيات اُوږد نۀ وو، لهذا کيدې شی چې د نورو خلقو د قميصونو نه د حضرت عمر رضی الله عنه قميص اوږد او لوئې وی،ولې د ابوبکر قميص د دۀ د قميص نه هم اوږد وی۔

او کله چې دلتۀ مقصود د حضرت عمر رضی الله عنه د فضيلت بيان وو،نو په هغې باندې اکتفاء اوکړې شوه،او د أبوبکر د هغۀ نه د افضل کيدو ذکر اونۀ کړې شو۔[۷]

---

۱) کشف الباری:۲،۱۲۲۱

۲) کشف الباری:۲،۸۲۱

۳) رواه احمد،رقم:۲۳۱۷۲،أحاديث رجال من أصحاب النبی.....۱

۴) اوګورئ:صحيح البخاری،کتاب الإيمان،باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال ،رقم:۱۲۳

۵) اوګورئ:کتاب التعبير،رقم:۷۰۰۸،۷۰۰۹۱

۶) اوګورئ:کشف الباری:۲،۱۲۲-۱۲۷۱

۷) فتح الباری:۹،۶۴،۶۳۱

۳۴۸۹: (۱) حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ جَعَلَ يَأْلَمُ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ - وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ - يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، وَلَئِنْ كَانَ ذَاكَ لَقَدْ صَحِبْتَ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ، ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ، ثُمَّ صَحِبْتَ أَبَا بَكْرٍ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ، ثُمَّ فَارَقْتَهُ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ، ثُمَّ صَحِبْتَ صَحَبَتَهُمْ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُمْ، وَلَئِنْ فَارَقْتَهُمْ لَتُفَارِقَنَّهُمْ وَهُمْ عَنْكَ رَاضُونَ. قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَرِضَاهُ، فَإِنَّمَا ذَاكَ مَنٌّ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى مَنَّ بِهِ عَلَيَّ، وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ أَبِي بَكْرٍ وَرِضَاهُ، فَإِنَّمَا ذَاكَ مَنٌّ مِنَ اللَّهِ جَلَّ ذِكْرُهُ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ، وَأَمَّا مَا تَرَى مِنْ جَزَعِي، فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَأَجْلِ أَصْحَابِكَ، وَاللَّهِ لَوْ أَنَّ لِي طِلاَعَ الأَرْضِ ذَهَبًا لاَفْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ.

رجال الحديث

الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ: دا الصلت بن محمد بن عبد الرحمٰن الخاركی البصری دي، ددۀ احوال تير شوی دی۔ (۲)

اِسْمَاعِيلُ بنُ ابراهيم: دا اسماعيل بن إبراهيم بن عُلَيّه أسدی مصری دي، ددۀ حالات د كتاب الإيمان، باب "حُبّ الرسول من الإيمان" لاندې تير شوی دی۔ (۳)

أَيُّوبُ: دا ايوب بن أبی تميه كيسان السختيانی دي، ددۀ حالات دكتاب الإيمان، باب "حلاوة الإيمان" لاندې تير شوی دی۔ (۴)

ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: دا ابوبكر عبد الله بن عبيد الله بن أبی مليكۀ تيمی قرشی دي، ددۀ حالات دكتاب الإيمان، باب "خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر" لاندې تير شوی دی۔ (۵)

المِسْوَرِ بنِ مَخْرَمَةَ: دا مسمور بن مخرمه بن نوفل دي، ددۀ حالات هم تير شوی دی۔ (۶)

د حضرت عمر رضی الله عنه د شهادت تفصيلات: لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ..... كله چې حضرت عمر رضی الله عنه په خنجر اووهلې شو، او وهونكې ابو لولؤة عبد المغيرة ابن شعبه وو، هغه په ۲۳ هجری ۲۶ د ذی الحجې د چار شنبې په ورځ د سحر په مونځ كښې په حضرت عمر رضی الله عنه باندې ګذار اوكړو، او

---

(۱) أخرجه البخاری هنا وتفرد به أنظر جامع الأصول فی أحاديث الرسول: ۶۲۳۸

(۲) كتاب الصلاة، باب إذا لم يُتم السجود، رقم: ۱۲۸۹

(۳) اوګورئ كشف الباری: ۱۱۲،۲

(۴) اوګورئ كشف الباری: ۱۲۶،۲

(۵) اوګورئ كشف الباری: ۱۵۴۸،۲

(۶) اوګورئ صحيح البخاری، كتاب الوضوء، باب استعمال فضل وضوء الناس، رقم: ۱۱۸۹

په اول محرم ۲۷ هجري کښې د هغوی وصال اوشو.[۱]

قوله: وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ: ددې معنی داده، چې حضرت ابن عباس د حضرت عمر رضی الله عنه ژړا فریاد ارخ ته نسبت کولو. او گویا هغه ئې په دې باندې ملامته کولو. چې هغه (حضرت عمر رضی الله عنه) ژاړی ولې. او یا ددې معنی داده، چې ابن عباس د حضرت عمر رضی الله عنه غم تکلیف او ژړا فریاد لرې کول غوښتل. "یجزع" ددې دواړو معنو احتمال لری.[۲]

ددې دویمې معنې تائید د قرآن کریم په دې آیت سره هم کیږی، (حتّٰی إذا فزع عن قلوبهم)[۳] هلته د فزع معنی ده، "أزيل عنهم الفزع".

د فَزَعه معنی ده، هغۀ ددۀ خفګان او غم لرې کړو، همدغه شان مرَضه هم په هغه وخت کښې وئیلې شی. کله چې څوک د چا د بیماري د لرې کولو کوشش او دهغۀ د پاره منډې اووهی[۴] د جمهور روایت الفاظ خو "کأنه یجزعه" دی. د فاعل او مفعول ضمیر سره. ولې جرجانی د "کأنه جزع" الفاظ روایت کړی دی. په اول صورت کښې به د "یجزع" فاعل ابن عباس او مفعول عمر وی، او په دویم صورت کښې به د جزع فاعل عمر وی.[۵]

د حماد بن زید روایت چې امام بخاری تعلیقًا ذکر کړې دې، په هغې کښې دا الفاظ دی:

"وقال ابن عباس مسست جلدَ عمر فقلت: جلد لا تمسه النار أبدًا قال فنظر إلي نظرة: كنتُ أرى له من تلك النظرة فقلتُ: يا أمير المؤمنين صحبتَ....."[۶]

یعنی ما د حضرت عمر رضی الله عنه څرمن ته لاس اولګولو. نو ما اووئیل چې دې څرمن ته به اُور کله هم نۀ لګی، وې فرمائیل په دې باندې حضرت عمر رضی الله عنه زما ارخ ته نظر اوچت کړو.....دا نظر ئې اوکړو. چې په هغې ما ته ترس راغې.....

قوله: وَلَئِنْ كَانَ ذَاكَ: ابن عباس رضی الله عنه فرمائی. کۀ داسې اوشی (څنګه چې حضرت عمر رضی الله عنه د جزع په حالت کښې وئیل، یعنی زۀ د دنیا نه تلونکې یم) نو تاسو خپله خوش نصیبی او ستاسو رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره خپل ښۀ صحبت یاد کړې، د کشمیهنی په روایت کښې دا الفاظ دی: "ولا كل ذلك" یعنی (الله دې اوکړی چې) داسې هیڅ هم نۀ وی. او په بعضې روایتونو کښې دی، "ولا كذلك" او (الله دې اوکړی چې) داسې نۀ وی.

---

[۱] اوګورئ: إرشاد الساری: ۸، ۱۱۸۱

[۲] اوګورئ: فتح الباری: ۹، ۶۴

[۳] سورة سباء آیت: ۲۳

[۴] فتح الباری: ۹، ۶۴

[۵] فتح الباری: ۹، ۶۴

[۶] فتح الباری: ۹، ۶۴، وتغلیق التعلیق، ص: ۶۶

په هر حال کښې دا دعائیه کلمات دی،او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مطلب دادې چې تاسو(حضرت عمر رضی الله عنه)سخت ژوبل کیدوسره د ډیر تکلیف د وجهې نه آواز کوئ،او مرګ یادولو سره د افسوس اظهار کوې،الله دې اوکړی چې داسې دې څۀ هم نۀ وی،ستاسو مرګ دې نۀ واقع کیږی،او ددې حملې نه دې تاسو ته صحت او شفا ملاؤ شی۔(۱)

قوله: ثُمَّ فَارَقْتَ: په بعضو نسخو کښې د مفعول ضمیر سره "فارقته"او په بعضو کښې بغیر د ضمیر نه دی۔(۲)

بیا تاسو د هغوی نسبۀ صحبت موندلې دې۔

په بعضې روایاتو کښې د "صَحِبتَ صَحَبَتَهم"(بفتح الصاد والحاء والباء)الفاظ دی،چې د هغې معنی ده، بیا تاسو د هغوی(یعنی د رسول الله ﷺ او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه)د أصحابو(صَحبه جمع ده،د أصحاب په معنی باندې)صحبت او معیت اختیار کړو،او په هغې کښې هم تاسو د احسان او غوره والی معامله اوکړه،حافظ ابن حجر وائی په دې صورت کښې یو اشکال دې، چې "صَحَبَتَه" خو د صاحب جمع په معنی د أصحاب او صحابه ده(۳)او مراد هم جماعت دې،ولې ددې اضافت د جمع ضمیر ارخ ته صحیح نۀ دې،ځکه چې مضاف الیه تثنیه ده،چې د هغې مرجع رسول الله ﷺ او ابوبکر دی۔

قاضی عیاض وائی،کیدې شی،"صحبتَ"زائد وی،او اصل کښې وی،"ثُمَّ صحبتَهم"په صیغې د واحد مذکر مخاطب سره،خو صحیح هم اولنې روایت دې،(۴) علامه عینی د حافظ دا نظر بې ځایه ګرځولې دې،او وئیلې ئې دی،چې د رسول الله ﷺ او ابوبکر أصحاب..... مراد دی،چې هم جمع دی،نو د جمع ضمیر صحیح دې،بیا هم د عینی خبره به په دې صورت کښې صحیح وی،کله چې "صحبتهم"فعل وی،جمع مضاف إلی الضمیر نۀ وی۔(۵)

د ابن عمر روایت نقل کړې شوې دې،چې په هغې کښې د ابن عباس دا الفاظ هم مروی دی،"ولما أسلمت کان إسلامك عزاً"او کله چې تاسو اسلام قبول کړو،نو ستاسو اسلام قبلول د عزت باعث وو۔(۶)

قوله: "فإن ذالك مَنٌّ": په یوه بله نسخه کښې د "فإنما ذلك"الفاظ منقول دی۔(۷)

---

۱) فتح الباری:۹،۱۶٤

۲) فتح الباری:۹،۱۶٤

۳) کما قال القسطلانی،انظر إرشاد الساری:۸،۱۱۸۲

٤) فتح الباری:۹،۱۶٤

۵) إرشاد الساری:۸،۱۱۸۲

۶) فتح الباری:۹،۱۶٤

۷) فتح الباری:۹،۱۶٤

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ فکر مند کیدل: "من أجل أصحابك.....د ابوذر او مستملی په روایت کښې "أصيحابك" تصغیر سره مذکور دی۔[1]

ددې جملې مطلب یا خو دادې، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د اُمت په همدردئ او غمخوارئ کښې ددې خبرې د فکرمندئ اظهار کوی، چې ددۀ نه ورستو به د مسلمانانو خلیفه څوك جوړیږی، او بیا به هغه د مسلمانانو سره څنګه سلوك کوی، د دوی د پاره به مفید وی کۀ مضر، او دویم مطلب دا هم کیدې شی، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د تواضع، عاجزئ او خپل ځان سره د حساب کولو د وجهې نه د خلافت د زمانې د خپل سیرت او کردار متعلق فکر مند دې، چې پته نۀ لګی، چې ددۀ نه الله تعالی او د هغۀ مخلوق خوشاله دې، او یا خفه۔[2]

علامه قسطلانی د ابو حاتم په حوالې سره نقل کوی، کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ زخمی شو، نو حضرت ابن عباس راغې او وې وئیل:

"أبشر يا أمير المؤمنين، أسلمتَ مع رسول الله حين كَفَرَ الناس، وقاتَلتَ معه حين خذله الناس ولم يختلف في خلافتك رجلان، وقُتلتَ شهيداً، فقال أعِد، فأعاد. فقال: المغرور من غررتموه.....لو أن لي ما على ظهرها من بيضاء وصفراء لافتديت به من هول المطلع"۔[3]

ابن عباس اووئیل اې امیر المؤمنین زیرې قبول کړه، تا په هغه وخت کښې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړو، کله چې خلقو د رسول الله نه انکار کولو، او تاسو د هغوی په ملګرتیا کښې جنګونه اوکړل، کله چې خلقو هغوی ﷺ پریښودل، او کمزورې کول ئې غوښتل، او ستاسو په خلافت کښې د دوۀ کسانو هم اختلاف پاتې نۀ شو، او بیا تاسو قتلولو سره شهید کړې شوئ، حضرت عمر رضی اللہ عنہ اووئیل، تۀ بیا اووایه! او هغوی په دویم واړې اووئیل، نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ اووئیل، بې شکه هغه کس په دهوکه کښې پریوتو، چا ته چې تاسو دهوکه ورکوئ، او زما حالت خو دادې، کۀ د دنیا ټول سره زر او سپین زر زما شی، نو زۀ به هغه د عذاب نه د بچ کیدو د پاره د فدیې په توګه ورکړم۔

حضرت عمر رضی اللہ عنہ داسې ولې اوفرمائیل؟: حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا ارشاد په دې وجه اوفرمائیلو، چې په دې وخت کښې هغوی ته د خپل عام اولس حقوق په پوره توګه ادا کولو کښې د کمی او تقصیر ویره وه، اویا د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ په شان کسانو دهغوی تعریف اوتوصیف اوکړو نو هغوی ته ددې حضراتو د صفت کولو په وجه فتنه کښې د غورځیدو ویره اوشوه۔[4]

قوله: طِلاَعَ الأرض: د طاء په کسرې او لام په تخفیف سره، ددې معنی ده، "ملأ الأرض" یعنی ډکه زمکه، د طلاع معنی په اصل کښې هغه څیز دې، چې په هغې باندې نمر راخیژی،

---

[1] فتح الباری: ۹، ۱۶۴

[2] فتح الباری: ۹، ۱۶۴

[3] إرشاد الساری: ۸، ۱۱۸۲

[4] فتح الباری: ۹، ۶۵، وإرشاد الساری: ۸، ۱۱۸۲

او کیدې شی، دلته ددې نه مراد په زمکه باندې ښکاره او ظاهریدونکې مال او دولت مراد وی۔[۱]

قَالَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ دَخَلْتُ عَلَى عُمَرَ بِهَذَا.

حدیث باب امام بخاری د خپل شیخ صلت بن محمد په روایت سره موصولا ذکر کړې دې. چې هغه ابن أبی ملیکهٔ د مسور بن مخرمه نه نقل کوی، او تعلیقاً هغه ددې یوئې دویمې طریقې ارخ ته اشاره کوی. چې حماد بن زید د ایوب نه هغه د ابن أبی ملیکهٔ نه، او هغه د حضرت ابن عباس نه روایت کړې دې۔

دا روایت اسماعیلی موصولاً ذکر کړې دی۔[۲]

همدغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله هم په لاندینی سند سره موصولاً ذکر کړې دې، حافظ صاحب د ابوبکر بن إبراهیم بن أبی عمر په سند سره د ابوبکر الجرجانی الاسماعیلی نه روایت کوی. او اسماعیلی بیا په دوؤ طریقو سره دا د حماد بن زید نه روایت کوی، یو إبراهیم بن شریك الاسدی عن شهاب بن عباد عن حماد بن زید.....په طریقې سره، او دویم الهیثم بن خلف عن الفواریری عن حماد.....په طریقې سره۔[۳]

حافظ ابن حجر فرمائی: "ویحتمل أن یکون محفوظاً عن الإثنین"۔[۴]

یعنی په دې اصل او تعلیق کښې دا هم احتمال شته، چې امام بخاری دا روایت د مسور بن مخرمه او ابن عباس دواړونه روایت کړې وی، او هم دا دواړه روایتونه دوی محفوظ کړی وی.

۳۴۹۰: [۵] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ عَنْ أَبِي مُوسَى - رضي الله عنه - قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فِي حَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ، فَجَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَفَتَحْتُ لَهُ، فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ، فَبَشَّرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَحَمِدَ اللَّهَ، ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَفَتَحْتُ لَهُ، فَإِذَا هُوَ عُمَرُ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَحَمِدَ اللَّهَ، ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ، فَقَالَ لِي «افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ». فَإِذَا عُثْمَانُ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - فَحَمِدَ اللَّهَ ثُمَّ قَالَ اللَّهُ الْمُسْتَعَانُ. [ر: ۳۴۷۱]

---

[۱] فتح الباری: ۶۵.۹، والکوثر الجاری: ۱۴۵۳.۶

[۲] هدی الساری. ص: ۶۴، وفتح الباری: ۶۴.۹

[۳] تعلیق التعلیق: ۶۷.۴

[۴] فتح الباری: ۱۴.۹

[۵] الحدیث مر تخریجه فی فضائل أصحاب النبی، رقم: ۳۶۷۴

رجال الحديث

يُوسُفُ بنُ مُوسَى:دا يوسف بن موسى بن راشد القطان دي،ددۀ احوال په كتاب الجمعة، باب(۱۳)كښې تير شوى دى۔

اَبُو اُسَامَةَ:دا ابو اسامه حماد بن أسامة بن زيد القرشى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب"فضل من علِم وعلَّم"لاندې تير شوى دى۔[۱]

عُثمَانُ بنُ غِيَاث:دا عثمان بن غياث الباهلى البصرى دي،ددۀ احوال په(كتاب الحج،"باب قول الله تعالىٰ: ذلك لمن لم يكن أهله حاضرى المسجد الحرام)"لاندې تير شوى دى۔

اَبُو عُثمَانَ النَّهدِيُّ:دا ابو عثمان عبد الرحمٰن بن مل بن عمر النهدى دي،ددۀ احوال هم د"كتاب مواقيت الصلاة،باب الصلاة كفارة"لاندې تير شوى دى۔

ابى مُوسَى:دا حضرت ابو موسى الأشعرى د رسول الله صحابى دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،باب"أىُّ الإسلام أفضل"لاندې تير شوى دى۔[۲]

د حديث شرح په باب قول النبى صلى الله عليه وسلم"لو كنتُ متخذاً خليلاً"كښې تيره شوې ده،او دلته ددې د ترجمة الباب سره مطابقت هم واضح دي،ځكه چې په دې كښې حضرت عمر رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ د ارخ نه د دننه راتلو اجازت ملاويدو سره د جنت د زيرى ملاويدو هم ذكر دي،چې د هغوى رضي الله عنهم لوئې فضيلت او منقبت دي۔

د مصيبت زغملو دعاء:والله المستعان.....حضرت عثمان رضي الله عنه ته چې د حضرت ابوبكر او حضرت عمر رضي الله عنهما خلاف زيرى سره د مصيبت رسيدو هم ذكر اوشو،نو هغۀ د الحمد لله وئيلو نه ورسټو الله المستعان هم اووئيل،چې د هغې مطلب دادي،چې الله تعالى دي دۀ ته په دې مصيبت باندې صبر وركړى،او د هغې سختې او مشكل زغملو په سلسله كښې دي ددۀ معاونت او ملګرتيا اوكړى،ځكه چې هم د هغۀ نه مدد غوښتلې شى،"المستعان"د اسم مفعول صيغه ده،چې ددې نه اسم فاعل"المستعين"دي،څوك چې مدد اوغواړى،او د چا نه مدد اوغوښتلې شى۔[۳]

---

[۱] كشف البارى:۳،۱٤۱٤

[۲] اوګورئ،كشف البارى:۱،۱۶۹۰

[۳] إرشاد السارى:۸،۱۱۸۳

۳۶۹۱ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عَقِيلٍ زُهْرَةُ بْنُ مَعْبَدٍ أَنَّهُ سَمِعَ جَدَّهُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ هِشَامٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. [۵۹۰۹، ۶۲۵۷]

رجال الحديث

يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ: دا يحيى بن سليمان الجعفى الكوفى دي، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "كتابة العلم" كښې تير شوى دى.[۲]

ابْنُ وَهْبٍ: دا د حديثو مشهور امام ابو محمد عبد الله بن وهب مصرى دي، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "من يرد الله به خيراً يفقهه فى الدين" كښې تير شوى دى.[۳]

حَيْوَةُ: دا حيوة بن شُريح بن صفوان بن مالك ابو زرعه الحضرمى المصرى دي.

علامه ذهبى دي د الإمام الربانى، الفقيه، شيخ الديار المصريه، ابو زرعة التبيحى، المصرى په نامې سره ذكر كوى.[۴]

حافظ مزى وائى "الفقيه الزاهد العابد".[۵]

عبد الله بن وهب وائى: "ما رأيتُ أحداً أشد استخفاء بعمل من حيوة بن شريح، وكان يعرف بالإجابة، وكنا نجلس إليه للفقه فكان كثيراً ما يقول لنا: أبدَلنى الله بكم عموداً أقوم إليه أتلو كلام ربى ثم فَعل ما قال، ثم تأبى أن لا يجلس إلينا أبداً وما كنا نأتيه وقت صلاة إلا دخل وأغلق دوننا ودونه الباب ووقف يصلى".[۶]

ما د دوى نه زيات خپل (نيك) عمل پټونكې څوك هم نۀ دي ليدلې، دوى په مستجاب الدعوات كيدو سره مشهور وو، مونږ به دوى ته د فقهې د حاصلولو د پاره تلو، نو دوى به اكثر دا وئيل، چې الله تعالى دې ما ته ستاسو په بدل كښې يوه ستن راكړى، چې هغې سره اودريدو سره څه د خپل رب كلام لولم، او بيا دوى هم دغسې اوكړل، بيا دوى قسم اوكړو. چې دوى به مونږ سره كله هم نۀ كيني، او مونږ چې به كله هم د مونځ په وخت كښې دوى ته راغلو، نو دوى به مونږ پرينبودو، كوټې ته به داخل شو، دروازه به ئې بنده كړه، او مونځ ته به اودريدو.

---

[۱] الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى (۹۲۶.۲) كتاب الاستئذان، باب المصافحة، رقم: ۶۲۶۴، وفى (۹۸۱.۲)، كتاب الأيمان والنذور، باب كيف كانت يمين النبى ﷺ، رقم: ۶۶۳۲

[۲] اوگورئ: كشف البارى: ۳۲۷.۴

[۳] كشف البارى: ۲۷۷.۳

[۴] سير أعلام النبلاء: ۴۰۴.۶

[۵] تهذيب الكمال: ۴۷۸.۷

[۶] تهذيب الكمال: ۴۸۱.۷

عبد الله بن المبارك وائی:

"ما وُصف لی أحد، ورأیته إلا کانت رؤیته دون صفته إلا حیوة بن شریح فإن رؤیته کان أکبر من صفته".(۱)

او بعضو دا الفاظ نقل کړي دی: "وصف لی حیوة، فکانت رؤیته أکثر من صفته".(۲)

یعنی د حیوة صفت ما ته چا بیان کړي وو، او ما چې کله هغه اولیدو، نو د هغوی د تعریف نه مې زیات اومونډلو، او نور خلق ددې په خلاف دومره نۀ وی، څومره چې بیانولې شی.

د دوی د تقوٰی، للّٰهیت او د مقبولیت عند الله په قیصو کښې یوه دا بیان کړي شوي ده، چې ابن وهب وائی:

چې حیوه بن شریح ته به د کال شپیتۀ دینار عطیه ملاویده، او هغوی چې به تر کومې پورې هغه شپیتۀ دینار صدقه کړي نۀ وو، کور ته به نۀ راتلو، او بیا چې به کور ته راغلو نو هغه ټولې پیسې به ئې د خپلې بستري لاندې بیامونډلې.

ددې خبرې د هغوی د ترۀ یو ځوئی ته پته اولګیده، نو هغۀ هم خپله عطیه واخسته او ټوله ئې خرچ کړه، چې کور ته راغلو، او وې کتل نو هیڅ ئې هم اونۀ موندل، هغۀ ددې حیوه ته شکایت اوکړو نو هغوی اووئیل:

"أنا أعطیتُ ربی بیقین، وأنت أعطیتَه تجربة".(۳) ما الله تعالی ته په یو یقین سره ورکړې، او تا د تجربې د پاره ورکړې.

همدغه شان احمد بن سهل اردنی، د خالد الفزر نه نقل کوی، چې حیوه بن شریح په ژړا فریاد سره دعاء کونکې وو، او د هغوی ډیر د غریبې حالت وو، یوه ورځ څۀ هغوی سره ناست ووم، او هغوی په خلوت کښې دعاء کوله، ما اووئیل، الله تعالی دې په تا رحم اوکړی، کۀ تۀ د الله تعالی نه دا اوغواړې چې الله تعالی ستا دا معاشی بد حالی لرې کړی، نو څومره ښۀ به وې، هغۀ سم او چپ اړخ ته اوکتل نو څوک په نظر رانغلل، نو د زمکې نه ئې یو کانړې (ګیټې) اوچت کړو، او وې وئیل، "اللهم اجعلها ذهبًا" اې الله! دا سرۀ زر جوړ کړې، نو هغه سرۀ زر جوړ شو، په خدائې قسم چې د هغې نه ښکلې سرۀ زر ما چرته هم اونۀ لیدل..... بیا هغۀ اووئیل، "وما خیر فی الدنیا إلا للآخرة" په دنیا کښې هیڅ خیر نشته ما سوا ددې نه چې په دې سره د آخرت خیر حاصل کړې شی..... بیا زما اړخ ته متوجه کیدو سره ئې اووئیل، "هو أعلم بما یصلح عباده" الله تعالی ښۀ پوهیږی، چې د هغۀ د بندګانو خیر په څۀ کښې دې، ما ورته اووئیل په دې سرو زرو څۀ اوکړم؟ وې وئیل، دا خرچ کړه.(۴)

---

۱) تهذیب الکمال: ۱۴۸۱،۷

۲) سیَر أعلام النبلاء: ۱۴۰۵،۶

۳) سیَر أعلام النبلاء: ۱۴۰۵،۶

۴) سیَر أعلام النبلاء: ۴۰۵،۶، وتهذیب الکمال: ۱۴۸۱،۷

ددۀ یو بل قول ذکر کړې شوې دې، چې د مصر یو وزیر ورته یو واړې اووئیل:

"یا هذا لا تُخلینّ بلادنا من السلاح ونحن بین قبطی لا ندری متی ینقض، وبین حبشی لا ندری متی یغشانا، وبین رومی لا ندری متی یحلّ بساحتنا وبربری لا ندری متی ینتق".(۱)

یعنی "حضرت! زمونږ ملك د اسلحې نه هیڅ کله هم نۀ دی خالی کول پکار، ځکه چې زمونږ نه یو اړخ ته قبطیان دی، معلومه نۀ ده چې کله وعده ماتوی، یو اړخ ته حبشیان دی، پته نۀ لګی چې کله زمونږ محاصره کوی.

یو اړخ ته رومیان دی معلومه نۀ ده چې کوم وخت کښې زمونږ په صحن او کور کښې راکوزیږی، او یو اړخ ته بَربَریان دی، پته نۀ لګی چې کله شور شغرب او جنګ شروع کوی.

د جرح او تعدیل امامان ددۀ په حقله دا قسمه رائې لری:

عبد اللّٰه بن احمد بن حنبل وائی:

"قیل لأبی: حَیوة بن شُریح، وعمرو بن الحارث؟ فقال جمیعًا، کأنه سوّی بینهما".(۲)

د امام احمد بن حنبل نه پوښتنه اوکړې شوه، چې حَیوه بن شُریح افضل دې، یا عمرو بن الحارث؟ هغوی اووئیل دواړه! گویا هغوی دا دواړه برابر گرځول.

حرب بن اسماعیل د احمد بن حنبل نه نقل کوی، "ثقة، ثقة".(۳)

اسحاق بن منصور د یحیٰی بن معین نه نقل کوی، "ثقة".(۴)

ابو سعید بن یونس وائی، "کانت له عبادة وفضل".(۵)

هغۀ ډیر زیات عبادت کونکې او صاحب د فضیلت وو.

عبد الرحمٰن بن أبی حاتم وائی:

"سمعتُ أبی وسئل عن حَیوة بن شُریح وسعید بن أبی أیوب ویحیٰی بن أیوب فقال: حیوة أعلی القوم وهو ثقة وأحب إلی من المفضّل بن فَضاله".(۶)

حیوه د قوم د ټولو نه اعلی فرد او سړې دې، او ثقه دې، هغه ما ته د مفضّل بن فَضاله په شان خلقو نه هم زیات خوښ دې.

د عبد اللّٰه بن وهب، عبد اللّٰه بن المبارك او احمد بن سهل رائې هم پورته ذکر کړې شوې.

یعقوب بن سفیان وائی: "حدثنا المقرئ، قال: حدثنا حَیوة بن شُریح وهو کِندیٌ، شریفٌ، عَدلٌ، ثقةٌ، رَضیٌ،

---

۱) سیر أعلام النبلاء: ۶، ۴۰۵\
۲) تهذیب الکمال: ۷، ۴۸۰\
۳) تهذیب الکمال: ۷، ۴۸۰\
۴) تهذیب الکمال ۷، ۴۸۰\
۵) تهذیب الکمال ۷، ۴۸۰\
۶) تهذیب الکمال ۷، ۴۸۰، الجرح والتعدیل: ۳، ۳۰۵\

توفی سنة ثمان وخمسین ومائة".(۱)

ابن حبان هم په "الثقات" کښې ددۀ ذکر کړې دې۔(۲)
ابن حجر هم ددۀ د ثقه والی ذکر کړې دې، او د ابن وجاح په حوالې سره فرمائی:
"بلغنی أن رجلاً کان یطوف ویقول اللّٰهم اقض عنی الدین فرأی فی المنام إن کنت تریدوفاء الدین فأت حیوة بن شُریح یدعولك فأتی إلی الإسکندریة بعد العصر یوم الجمعة قال فأقمت حتی صار ما حوله دنانیر فقال لی اتّقِ الله ولاتأخذ إلا قدر دینك فأخذت ثلاثمائة".(۳)
ما ته دا خبر ملاؤ شوې دې، چې یو سړی طواف کولو، او دا دعا ئې کوله، چې یا الله تعالی! زما قرض ادا کړې، بیا هغۀ په خوب کښې اولیدل چې (هغۀ ته اووئیلې شو) کۀ ته د قرض ادا کول غواړې، نو حیوه بن شُریح ته لاړ شه، هغه به ستا د پاره دعا اوکړی، هغه د جمعې په ورځ د ماښیګر نه ورسته اسکندریې ته راغې، بیا هغه وائی، زۀ د هغۀ (حیوه) سره پاتې شوم، تر دې پورې چې د هغۀ سړی نه کیر چاپیره دینارونه جوړ شول، هغۀ اووئیل، د الله تعالی نه اویریږه، او صرف دومره واخله، څومره چې ستا قرضه ده، نو ما درې سوه دینار واخستل۔
د دوی (یعنی د حَیوه) په شیوخو او استاذانو کښې أبوهانئ حُمید بن هانئ، شُرحبیل بن شَریك المغافری، بکر بن عمرو المَغافری، سالم بن غیلان، أبو یونس سُلیم بن جُبیر مولی أبی هریرة، ربیعة بن یزید الدمشقی، أبوصخر الخرّاط، کعب بن علقمة التّنوخی، یزید بن عبدالله بن أبؤ الأسود، محمد بن عَمرو آلرحمن بن توفل وغیره شامل دی۔
او په تلامذۀ او شاګردانو کښې ئې عبد الله بن المبارك، عبد الله بن وَهب، أبو عاصم الضحّاك بن مَخلد النبیل، لیث بن سعد، نافع بن یزید، عبد الله بن یزید المقرئ او عبد الله بن لهیعه وغیره ذکر کړې شوې دی۔(۴)
ددۀ د وفات په حقله یو قول د ۱۵۳ دې، یو قول د ۱۵۸ دې، او یو قول د ۱۵۹ دې۔(۵)
أبُو عَقیلٍ زُهرَۀُ بنُ مَعبدٍ: دا ابو عقیل زهرة بن معبد بن عبد الله بن هشام المدنی دې، ددۀ احوال په کتاب الشرکة، باب "الشرکة فی الطعام" وغیره کښې تیر شوې دی۔
عبد الله بن هشام: دا د زهره بن معبد نیکۀ دې، او ددۀ احوال هم په دغه کتاب الشرکة، باب "الشرکة فی الطعام وغیره" کښې تیر شوی دی، ددۀ نوم عبد الله بن هشام بن زهرة ابن عثمان

---

۱) تهذیب الکمال ۷: ۱۴۸۰
۲) کتاب الثقات: ۳: ۱۳۱۸
۳) تهذیب التهذیب: ۳: ۶۹، ۷۰
۴) تهذیب التهذیب ۳: ۶۹، ۷۰، سیر أعلام النبلاء: ۶: ۴۰۵، وتهذیب الکمال: ۷: ۴۷۹، ۱۴۸۴
۵) سِیَرُ أعلام النبلاء: ۶: ۴۰۵، وتهذیب الکمال: ۷: ۱۴۸۲

التیمی دي، او دا د طلحة بن عبید الله د ترۀ خوئي دي۔[1]

قوله: وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ: دا د هغه حدیث برخه ده کوم چې په کتاب الأیمان والنذور کښې راروان دي، او هم هلته به ددې تفصیل هم راشی، دلته چې کومه جمله ده، وهو آخذ بید عمر ددې نه د رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضی الله عنه سره د محبت او قربت اندازه کولې شی، او ښکاره خبره ده، په دې سره د باب او حدیث مناسبت هم واضح دي۔[2]

۷- باب: مَنَاقِبُ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ أَبِي عَمْرٍو القُرَشِي رضي الله عنه

وَقَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- «مَنْ يَحْفِرْ بِئْرَ رُومَةَ فَلَهُ الْجَنَّةُ». فَحَفَرَهَا عُثْمَانُ. وَقَالَ «مَنْ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَلَهُ الْجَنَّةُ». فَجَهَّزَهُ عُثْمَانُ. [ر: ۲۶۲۶]

حضرت عثمان رضی الله عنه: نوم او نسب ئې داسې دی، حضرت عثمان بن عفان بن أبی العاص بن أمیه بن عبد الشمس ابن عبد مناف، ددۀ د رسول الله ﷺ سره په عبد مناف باندې سلسله د نسب ملاویږی، بیا هم د رسول الله ﷺ او د حضرت عثمان رضی الله عنه په عبد مناف باندې ملاوونکو د پلارانو نیکونو په شمیر کښې اختلاف دي، او د رسول الله ﷺ په مقابله کښې د عثمان په سلسلۀ نسب کښې ددۀ پلار عفان راځی، او په دې لحاظ سره عفان د رسول الله ﷺ د ترۀ خوئي. او حضرت عثمان رضی الله عنه ئې ورارۀ (ابن الاخ) دي۔

د دوی کنیت ابو عبد الله نقل کړې شوې دي، عبد الله د حضرت رقیه بنت رسول الله ﷺ د بطن نه پیدا شوې ددۀ د خوی نوم وو، چې د هغۀ د شپږو کالو په عمر کښې وفات شوې وو، ابن سعد نقل کړې دی، په جاهلیت کښې ددۀ کنیت ابو عمرو وو،[3] بیا د اسلام قبولو نه ورسټو د رقیې نه ددۀ خوئي عبد الله پیدا شو، نو ددۀ کنیت ابو عبد الله شو، ابن سعد وائی، ددۀ وفات په ۴ هجري کښې اوشو۔[4] او ددۀ د مور حضرت رقیې ددۀ نه وړاندې په ۲ هجري کښې وفات شوې وو، او په دغه وخت کښې رسول الله ﷺ په غزوۀ بدر کښې وو۔

د دوی (یعنی د حضرت عثمان رضی الله عنه) بعضې ناقدین دي د ابو لیلی په کنیت سره یادوی، او په دې سرد د هغوی منشاء او مقصد د حضرت عثمان رضی الله عنه په بیخ طبعیت او نرم خوئ باندې تعریض دي۔

ابن حجر وائی: "وکان بعض من ینتقصه یکنیه أبا لیلی یشیر الی لین جانبه"۔[5]

---

[1] فتح الباری: ۹/۱۶۵

[2] إرشاد الساری: ۸/۱۸۴

[3] الطبقات الکبری لابن سعد: ۳/۱۵۳

[4] الطبقات الکبری لابن سعد: ۳/۱۵۳

[5] فتح الباری: ۹/۱۶۷

د عثمان لقب ذو النورین دي، څنګه چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ د یو روایت الفاظ دی:

"ذاك امرؤ یدعی فی السماء ذو النورین".(۱) هم دا هغه سړي دي، چې هغۀ ته په آسمان کښې ذو النورین وئیلې شی.

په ذو النورین سره د ملقب کیدو وجه: د ذو النورین لقب یوه وجه خو دا بیان کړې شوې ده، چې د دوی په نکاح کښې د رسول الله دوه لوریانې سیده رقیه او سیده ام کلثوم راغلې دی، او ښکاره خبره ده، چې هغه دواړه د رسول الله ﷺ د مبارکو سترګو نور وو، دویمه وجه دا بیان کړې شوې ده، چې هغوی رضی اللہ عنہم به په وترو کښې د قرآن کریم ختم کولو، نو قرآن یو نور دي، او قیام اللیل دویم، دریمه وجه داده، چې په جنت کښې به هغۀ ته دوه نوره ملاویږی.(۲)

تر کومې پورې چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د مور د اړخ نه د نسب تعلق دي، نو ددۀ د مور نوم أروی بنت کُریز بن ربیعة بن حبیب بن عبد شمس بن عبد مناف دي، او ددۀ د مور مور (یعنی نیا) ام حکیم البیضاء بنت عبد المطلب ده، چې د رسول الله ﷺ د پلار سکۀ خور ده، نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ کویا د مور د اړخ نه هم د رسول الله ﷺ خورئې (ابن الاخت) دي (یعنی د پیو د لور ځوئې دي)،(۳)

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مور اسلام قبول کړې وو، او دا د خپل ځوی د خلافت په زمانه کښې وفات شوې ده، او هم حضرت عثمان رضی اللہ عنہ دا دفن کړه، او د دوی پلار د جاهلیت په زمانه کښې وفات شوې وو.(۴)

قوله: مَنْ یَحْفِرْ بِئْرَ رُومَةَ فَلَهُ الْجَنَّةُ: دا تعلیق امام بخاری په کتاب الوصایا کښې موصولاً روایت کړې دي.(۵)

قوله: مَنْ جَهَّزَ جَیْشَ الْعُسْرَةِ: دا هم ددې (کتاب الوصایا په) پورتنی روایت کښې مذکور دی.(۶)

قوله: فَجَهَّزَهُ عُثْمَانُ: د "جیش العسرة" نه تبوك مراد دي، او د عبد الرحمن بن حباب السلمی نه منقول دی، چې په دې کښې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ دري سوه اوښان ورکولو سره خپله برخه ملاؤ کړه.(۷)

او د عبد الرحمٰن بن سمره نه روایت کړې شوی دی، چې په دې کښې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ زر

---

۱) فتح الباری: ۹، ۶۷/

۲) إرشاد الساری: ۸، ۱۱۸٤

۳) فتح الباری: ۹، ۶۷/

۴) فتح الباری: ۹، ۶۷/

۵) اوګورئ: صحیح البخاری، کتاب الوصایا، باب إذا وقف أرضًا أو بئرًا، رقم: ۲۷۷۸/

۶) صحیح البخاری، رقم: ۲۷۷۸/

۷) جامع الترمذی، أبواب المناقب، باب مناقب عثمان بن عفان: ۲، ۲۱۱/

دینار راوړل او د رسول الله ﷺ په جهولئ کښې ئې اوغورځول.[۱]
د ابن عدی په یو روایت کښې د لس زرو دینارو ذکر دې، ولې ددې سند کمزورې دې، او د روایت الفاظ دی، "فجاء عثمان بعشرة الآف دینار".[۲]
حافظ ابن حجر وائی، کیدې شی، چې لس زره درهم ئې بیان کړې وی، (دینار نه).
نو بیا به دا د هغه روایت مطابق شې، چې په هغې کښې د زرو دینارو ذکر دې، ځکه چې زر دینار د لسو زرو درهمو برابر وی.[۳]
په دې باب کښې مصنف پنځه حدیثونه ذکر کړې دی.

۳۴۹۲: [۴] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ أَبِي مُوسَى -رضي الله عنه- أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ حَائِطًا وَأَمَرَنِي بِحِفْظِ بَابِ الْحَائِطِ، فَجَاءَ رَجُلٌ يَسْتَأْذِنُ، فَقَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ يَسْتَأْذِنُ فَقَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ». فَإِذَا عُمَرُ، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ يَسْتَأْذِنُ، فَسَكَتَ هُنَيْهَةً ثُمَّ قَالَ «ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى سَتُصِيبُهُ». فَإِذَا عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ.
قَالَ حَمَّادٌ وَحَدَّثَنَا عَاصِمٌ الأَحْوَلُ وَعَلِيُّ بْنُ الْحَكَمِ سَمِعَا أَبَا عُثْمَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي مُوسَى بِنَحْوِهِ، وَزَادَ فِيهِ عَاصِمٌ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ قَاعِدًا فِي مَكَانٍ فِيهِ مَاءٌ، قَدِ انْكَشَفَتْ عَنْ رُكْبَتَيْهِ أَوْ رُكْبَتِهِ، فَلَمَّا دَخَلَ عُثْمَانُ غَطَّاهَا. [ر: ۳۴۷۱]

رجال الحدیث

سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ: دا ابو ایوب سلیمان بن حرب بن بُجَیل ازدی واشحی بصری دې، ددۀ احوال په "کتاب الإیمان، باب مَن کرہ أن یعود فی الکفر کما یکرہ أن یلقی فی النار، من الإیمان" کښې تیر شوي دی.[۵]
حَمَّادٌ: دا حماد بن زید بن درهم ازدی بصری دې، ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب وان طائفتین من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما، سماهم المؤمنین" لاندې تیر شوي دی.[۶]
أَيُّوبَ: دا ایوب بن أبی تمیمه کیسان سختیانی بصری دې، ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب حلاوۃ الإیمان" لاندې تیر شوي دی.[۷]

---

[۱] جامع الترمذی، أبواب المناقب، باب مناقب عثمان بن عفان: ۱۲،۲۱۱
[۲] کنز العمال، رقم: ۳۶۱۸۹،۱۳،۳۸، مؤسسة الرسالة ۱
[۳] فتح الباری: ۹،۶۷ ۱
[۴] الحدیث سبق تخریجه فی باب قول النبی لو کنتُ متخذاً خلیلاً.....، رقم: ۳۶۷۴ ۱
[۵] کشف الباری: ۲،۱۰۵ ۱
[۶] کشف الباری: ۱۲،۲۱۹ ۱
[۷] اوګورئ کشف الباری: ۲،۱۲۶ ۱

ابی عُثمَانَ: دا ابو عثمان عبد الرحمٰن بن ملئ النهدی دي، ددهٔ احوال په کتاب مواقیت الصلوٰة، باب "الصلاة کفارة" کښې تیر شوي دی.....

ابی مُوسَی: دا د رسول الله ﷺ صحابی حضرت ابو موسیٰ عبد الله بن قیس الأشعری دي، ددهٔ احوال د کتاب الإیمان، باب "أيّ الإسلام أفضل" لاندې تیر شوي دی۔[1]

قوله: دَخَلَ حَائِطًا: د حائط نه مراد باغیچه او باغ وغیره دی۔[2]

په وړاندینی باب کښې د "من حیطان المدینة" الفاظ هم دی۔[3]

قوله: فَسَكَتَ هُنَيْهَةً: هنیهة په ضمې د هاء اوفتحې دنون سره تصغیر دي، معنی ئې ده قلیلاً لږ۔[4]

د "حماد" نه څوک مراد دی؟ قَالَ حَمَّادٌ وَحَدَّثَنَا عَاصِمٌ.....حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: د حماد نه حماد بن زید هم راوی د حدیث باب مراد دي، او د ابو ذر په روایت کښې د "حماد بن سلمه" ذکر دي، ولې صحیح اولنې قول دي۔

حافظ ابن حجر د طبرانی نه یوسف القاضی د سلیمان بن حرب په طریقې سره "حدثنا حماد بن زید عن أیوب" په الفاظو سره دا حدیث ذکر کړي دي، او په آخر کښې ئې وئیلي دی:

قال حماد فحدثت علی ابن الحکم وعاصم أنهما سمعا أبا عثمان یحدّث عن أبي موسٰی نحوا من هذا، غیر أن عاصمًا زاد.....[5]

حافظ فرمائی مونږ ته د حماد بن سلمه روایت هم ملاؤ شوي دي، چې په هغې کښې ابو خیثمه په خپل تاریخ کښې د موسیٰ بن اسماعیل نه روایت کوی، خو هغه صرف د علی بن الحکم نه دي، (او د عاصم ذکر په هغې کښې نشته)۔[6]

او طبرانی هم د حجاج بن منهال او هدبة بن خالد په طریقې سره د حماد بن سلمه نه روایت کړي دي. ولې هغه هم صرف د علی بن الحکم نه دي، او په هغې کښې پورته ذکر کړې شوې اضافه او زیادت نشته۔[7]

بیا هم ددې ټولو ذکر کولو نه ورسته حافظ صاحب فرمائی:

---

[1] اوګورئ کشف الباری: ۱/۱۶۹۰

[2] إرشاد الساری: ۸/۱۱۸۵

[3] اوګورئ حدیث: ۳۶۹۳

[4] إرشاد الساری: ۸/۱۱۸۵

[5] فتح الباری: ۹/۱۶۸

[6] فتح الباری: ۹/۱۶۸

[7] فتح الباری: ۹/۱۶۸

"ثم وجدته فی نسخة الصنعانی مثل روایة أبی ذر".(۱)

یعنی د صنعانی په نسخه کښې هم د "حماد بن سلمه" ذکر دي، څنګه چې د ابو ذر په نسخه کښې دي.

قوله: وَزَادَ فِيهِ عَاصِمٌ: د حماد ددې قول مقصد په اصل کښې د عاصم الاحول هغه زیادت بیانول دی، کوم چې د ایوب په طریقې کښې نشته.

ابن التین وائی، چې داؤدی ددې زیادت انکار کړې دې، او وئیلې ئې دی، چې په اصل کښې راویانو یو حدیث په دویم کښې داخل کړې دې.

او دا الفاظ د یو بل حدیث دی، چې په هغې کښې دا منقول دی، چې رسول الله ﷺ په کور کښې تشریف فرما وو، او د هغوی ﷺ فَخذ (پتون) مبارک کلاؤ وو، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ راغې، بیا حضرت عمر رضی اللہ عنہ راغې، بیا کلهٔ چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ راغې، نو رسول الله ﷺ خپل پتون مبارک پټ کړو.(۲)

حافظ ابن حجر وائی، چې د داؤدی په دې قول کښې په اصل کښې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا یو حدیث ارخ ته اشاره ده، چې د هغې الفاظ دادی: "کان رسول الله ﷺ مضطجعًا فی بیته کاشفًا عن فَخِذَیه أو ساقَیه فاستأذن أبوبکر فأذن له وهو علی تلك الحالة".

رسول الله ﷺ په خپل کور کښې دواړه پتونونه یا پنډئ کلاؤ کړې ملاست وو، حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ اجازت اوغوښتلو، او رسول الله ﷺ په خپل حالت باندې وو.....

او بیا وړاندې حضرت عائشه رضی اللہ عنہا رسول الله ﷺ ته مخاطب ده، او د هغې دا الفاظ دی: "ثم دخل عثمان فجلستَ وسوّیتَ ثیابك فقال: ألا أستحی من رجل تستحی منه الملائکة".(۳)

یعنی بیا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ داخل شو، نو هغوی ﷺ کیناستل، او خپلې جامې ئې برابرې کړې.....؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل، آیا زهٔ د هغه سړی نه حیاء اونهٔ کړم، چې د هغهٔ نه فرشتې حیاء کوی؟

او د مسلم په روایت کښې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د سوال په جواب کښې د رسول الله ﷺ دا الفاظ منقول دی:

"أن عثمان رجل حیی وأنی خشیت أن أذنت له علی تلك الحالة لا یبلغ إلی فی حاجته".(۴)

یعنی حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ډیر حیادار سړي دي، او ما ته ویره ده، کهٔ زهٔ په دې حالت کښې هغهٔ ته دراتلو اجازت ورکړم، نو هغه به (د حیاء دوجهې نه) دخپلو ضروریاتو دپاره ماته راوڼهٔ رسی.

---

(۱) فتح الباری: ۹/۱۶۸

(۲) فتح الباری: ۹/۱۶۸

(۳) صحیح مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل عثمان: ۲/۲۷۷، رقم: ۱۲۴۰۱

(۴) صحیح مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل عثمان: ۲/۲۷۷۱

خو د دادوی دا قول او اعتراض په دې وجه صحیح نۀ دی، چې د رسول الله ﷺ او حضرت عثمان رضی الله عنه په مینځ کښې داسې قسمه واقعه پېښیدې شی.
لهذا په دې سره د عاصم د پورتنی روایت تغلیط لازم نۀ راځی، او بیا په خاصه توګه کله چې واقعې هم جدا جدا شی، او مخارج هم مختلف وی، نو دلته هم دغسې دی، چې مخرج جدا جدا دې.[1]
د واقعاتو د جدا جدا کیدو په صورت کښې د یو حدیث په حدیث کښې د داخلولو قول بلا دلیل او بلا جواز دې.[2]

۳۴۹۳: [3] حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ شَبِيبِ بْنِ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ يُونُسَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَدِي بْنِ الْخِيَارِ أَخْبَرَهُ أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الأَسْوَدِ بْنِ عَبْدِ يَغُوثَ قَالاَ مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تُكَلِّمَ عُثْمَانَ لأَخِيهِ الْوَلِيدِ فَقَدْ أَكْثَرَ النَّاسُ فِيهِ. فَقَصَدْتُ لِعُثْمَانَ حَتَّى خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ، قُلْتُ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً، وَهِيَ نَصِيحَةٌ لَكَ. قَالَ يَا أَيُّهَا الْمَرْءُ- قَالَ مَعْمَرٌ أُرَاهُ قَالَ- أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ. فَانْصَرَفْتُ، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِمْ إِذْ جَاءَ رَسُولُ عُثْمَانَ فَأَتَيْتُهُ، فَقَالَ مَا نَصِيحَتُكَ فَقُلْتُ إِنَّ اللَّهَ سُبْحَانَهُ بَعَثَ مُحَمَّدًا- صلى الله عليه وسلم- بِالْحَقِّ، وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ، وَكُنْتَ مِمَّنِ اسْتَجَابَ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ، فَهَاجَرْتَ الْهِجْرَتَيْنِ، وَصَحِبْتَ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- وَرَأَيْتَ هَدْيَهُ، وَقَدْ أَكْثَرَ النَّاسُ فِي شَأْنِ الْوَلِيدِ. قَالَ أَدْرَكْتَ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- قُلْتُ لاَ وَلَكِنْ خَلَصَ إِلَىَّ مِنْ عِلْمِهِ مَا يَخْلُصُ إِلَى الْعَذْرَاءِ فِي سِتْرِهَا. قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ اللَّهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا- صلى الله عليه وسلم- بِالْحَقِّ، فَكُنْتُ مِمَّنِ اسْتَجَابَ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَآمَنْتُ بِمَا بُعِثَ بِهِ، وَهَاجَرْتُ الْهِجْرَتَيْنِ كَمَا قُلْتَ، وَصَحِبْتُ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- وَبَايَعْتُهُ، فَوَاللَّهِ مَا عَصَيْتُهُ وَلاَ غَشَشْتُهُ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ مِثْلُهُ، ثُمَّ عُمَرُ مِثْلُهُ، ثُمَّ اسْتُخْلِفْتُ، أَفَلَيْسَ لِي مِنَ الْحَقِّ مِثْلُ الَّذِي لَهُمْ قُلْتُ بَلَى. قَالَ فَمَا هَذِهِ الأَحَادِيثُ الَّتِي تَبْلُغُنِي عَنْكُمْ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ شَأْنِ الْوَلِيدِ، فَسَنَأْخُذُ فِيهِ بِالْحَقِّ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ دَعَا عَلِيًّا فَأَمَرَهُ أَنْ يَجْلِدَهُ فَجَلَدَهُ ثَمَانِينَ. [۳۶۵۹، ۳۷۱۲]

رجال الحديث

احمدُ بنُ شَبِيبِ بنِ سَعِيدٍ: دا احمد بن شبیب بن سعید التمیمی البصری دې، ددۀ احوال په

---

[1] فتح الباری: ۱۶۸.۹
[2] فتح الباری: ۱۶۸.۹
[3] الحديث أخرجه البخاری أيضًا فی (۵۴۶.۱) كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة الحبشة، رقم: ۳۸۷۲، و (۵۵۹.۱)، باب مقدم النبی ﷺ وأصحابه المدينة، رقم: ۳۹۲۷، ومسلم فی صحيحه (۷۲.۲) كتاب الحدود، باب حد الخمر، رقم: ۱۷۰۶

كتاب الوضوء، باب "إذا شرب الكلب فى إناء أحدكم فليغسله سبعًا" كښې تير شوې دى.....

يُونُسَ: دا ابو يزيد يونس بن يزيد ايلى دې، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "من يرد الله به خيراً يفقهه فى الدين" كښې تير شوې دى۔[1]

ابنُ شِهَاب: دا ابوبكر محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب الزهرى دى، ددۀ احوال په "كتاب بدء الوحى" كښې د دريم حديث لاندې مختصر ذكر كړې شوې دى۔[2]

عُروَةُ: دا عروة بن الزبير مشهور تابعى دې، چې د زبير بن العوام رضی اللہ عنہ څوئې دې، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تير شوې دى۔[3]

عُبيدَ الله بنَ عَدِيِّ بنِ الخِيَارِ (النوفلى): ددۀ احوال په كتاب الأذان، باب "إمامة المفتون والمبتدع" كښې تير شوې دى۔

المسورَ بنَ مَخرَمَةَ: دا مسور بن مخرمة بن نوفل دې، ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "استعمال فضل وضوء الناس" لاندې تير شوې دى۔

عَبدَ الرَّحمٰنِ بنَ الاسوَدِ بنِ عَبدِ يَغُوثَ: ددۀ تذكره په كتاب المناقب، باب "مناقب قريش" كښې تيره شوې ده.....

الوليد: دا وليد بن عقبه دې، څنګه چې د معمر په روايت كښې ددې تصريح ده۔[4]

د حضرت سعد معزول كول او د وليد مقرر كول: حافظ ابن حجر وائى: ددۀ سلسلۀ نسب څۀ داسې ده: وليد بن عقبة بن أبي معيط بن أبي عمرو ابن أميه بن عبد شمس، دا د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مور شريك (يعنى اخيافى) ورور دې۔

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ دې د حضرت سعد بن أبى وقاص رضی اللہ عنہ نه ورستو د كوفې ګورنر جوړ كړې وو، چې هغه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په وصيت سره ولى الامر جوړ شوې وو، اول هغه حضرت سعد ګورنر جوړ كړو، د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه كښې هم ګورنر وو، بيا ئې هغه لرې كړو او خپل ورور وليد ئې ګورنر جوړ كړو۔

دا د ۲۵ هجرې خبره ده، او ددې بدلون سبب دا ښودلې شوې دې، چې حضرت سعد امير وو، او حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ د بيت المال ذمه دار وو، حضرت سعد د حضرت عبد الله بن مسعود نه قرض واخستلو، عبد الله بن مسعود د هغې مطالبه اوكړه، چې د هغې په وجه ددې دواړو حضراتو په مينځ كښې خبرې تيزې شوې، ددې خبرې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ته

---

[1] كشف البارى: ۱۲۸٤،۳\

[2] كشف البارى: ۱۳۲٦،۱\

[3] كشف البارى: ۱٤۳٦،۲\

[4] اوګورئ حديث: ۱۳۸۷۲\

پته اولګیده،نو هغه په دواړو باندې د سختې غصې اظهار اوکړو،او حضرت سعد ئې معزول کړو،او ولید چې د جزیرې ګورنر وو،ئې راؤغوښتلو اود کوفې ګورنر ئې اوټاکلو(۱) ددې اجمال تفصیل دادې،چې سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه د خلافت کښې د کوفې ګورنر وو،د ۱۷هجرې نه تر ۲۰یا۲۱ هجرې پورې،بیا اهل کوفه خلیفة المسلمین حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته راغلل،شکایت ئې اوکړو، حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددې شکایتونو په وجه حضرت سعد معزول کړو،او د هغهٔ په ځائې ئې عمار بن یاسر د کوفې ګورنر جوړ کړو،ورستو حضرت عمر رضی اللہ عنہ د هغې شکایتونو معلومات اوکړل،نو هغه درې واړه شکایتونه غلط او بې بنیاده وو، شکایت کونکې او په حضرت سعد باندې الزام لګونکې اصل ستر مشر (چې د هغهٔ نامه ابو سعده وو) ته حضرت سعد خیرې اوګړې،او څنګه چې هغهٔ وئیلي وو،هغه سړې هم هغسې شو۔

په کتاب الصلوت کښې د هغوی ددې واقعې متعلق تفصیلی حدیث مذکور دې۔(۲)

حضرت عمر رضی اللہ عنہ هم د معلوماتو نه ورستو فرمائیلی وو:

فان لم أعزله من عجز ولا خیانة.(۳)

ما هغهٔ د کوتاهې او بې دیانتې د وجهې نه نهٔ وو معزول کړې۔

ددې بې بنیاده معزولئ تلافې د پاره حضرت عمر رضی اللہ عنہ داسې اوکړل،چې خپل ورستو راتلونکی خلیفه ته ئې په دې الفاظو وصیت اوکړو:

"أوصی الخلیفة من بعدی أن یستعمل سعدَ بن أبی وقاص فإن لم أعزله عن سوء".(۴)

یعنی زهٔ خپل ورستو راتلونکی خلیفه ته وصیت کوم،چې هغه حضرت سعد عامل جوړ کړی،ځکه چې ما هغه د څهٔ بدئ د وجهې نه نهٔ دې معزول کړې۔

نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د سیدنا حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددې وصیت پوره کولو سره حضرت مغیره بن شعبه معزول کړو،او د هغهٔ په ځائې ئې حضرت سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ د کوفې ګورنر مقرر کړو،او طبری وائی:

وکان أول عامل بعث به عثمان سعد بن أبی وقاص علی الکوفة.تاریخ الطبری: ۵۹۰،۲

یعنی اولنې عامل چې هغه حضرت عثمان رضی اللہ عنہ لیږلې وو،هغه هم دغه حضرت سعد رضی اللہ عنہ وو، چې هغه د کوفې ګورنر جوړ کړې شو۔

حضرت سعد د کوفې ګورنر کله جوړ شوې وو؟ حضرت سعد د کوفې عامل کله جوړ کړې شوې وو،په دې کښې دوه قوله دی:

---

۱) فتح الباری:۹،۱۶۹

۲) اوګورئ:کتاب الصلوٰة،باب وجوب القراءة اللإمام والمأموم.....رقم:۱۷۵۵

۳) فتح الباری:۳،۱۳۰۲

۴) تاریخ الطبری:۲،۵۹۰

یو قول خو دادې، چې په ۲۴ هجري کښې کله چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ خلیفه مقرر کړې شو، نو هم په دغه کال هغهٔ حضرت مغیره معزول کولو سره سعد رضی اللہ عنہ د کوفې ګورنر مقرر کړو، او دویم قول د واقدی دې، هغه وائی حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا وصیت کړې وو، چې ددهٔ مقرر کړې شوې عاملین دې یو کال پورې پاتې کړې شی، لهذا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ یو کال ورسته حضرت مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ معزول کولو سره سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ ګورنر جوړ کړو، یعنی په ۲۵ هجري کښې۔(۱)

بیا حضرت سعد بن أبی وقاص ګورنر جوړ شو، نو هغهٔ د حضرت عبد الله بن مسعود نه قرض واخستلو، حضرت عبد الله بن مسعود د بیت المال وزیر وو، ورسته بیا کله چې عبد الله بن مسعود د هغهٔ (سعد) نه قرض واپس اوغوښتلو، نو سعد اووئیل، د هغې بندوبست نهٔ دې کړې شوې، په دې سره د دواړو په مینځ کښې خبرې تیزې شوې، نو حضرت عبد الله بن مسعود د حضرت سعد نه په قرض اخستلو کښې مدد د پاره خلقو ته آواز اوکړو، او سعد بن أبی وقاص خلق د عبد الله بن مسعود نه د نور مهلت اخستلو د پاره راڅوغوښتل۔

طبری وائی د سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ د ورارهٔ (یعنی د ابن الاخ) هاشم بن عتبه په وړاندې د دواړو حضراتو په مینځ کښې یو بل ته سختې خبرې اوکړې شوې، چې په دې باندې هاشم اووئیل: "والله إنکما لصاحبا رسول الله ﷺ ینظر إلیکما"۔

یعنی په خدائې قسم! تاسو دواړه د رسول الله ﷺ صحابه ئې، او ستاسو عمل ته کتلې شی، (یعنی خلق ستاسو عمل ته ګوری)

په دې باندې حضرت سعد یو لرګې واخستلو او حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ ئې اووهلو، بیا ئې د بدعاء (خیرو) د پاره لاس پورته کړل، حضرت سعد مستجاب الدعوات وو، په دې وجه ابن مسعود ورته اووئیل:

ویلك قل خیرًا ولا تلعن: تباه شې نهٔ خبره کوه، او لعنت مهٔ لیږه۔

سعد اووئیل: "أما والله ولولا اتّقاء الله لدعوتُ علیك دعوةً لا تخطئك"۔(۲)

والله! کهٔ د خدائې ویره نهٔ وې، نو ما به تا ته داسې خیرې کړې وې، چې تهٔ به ترې نهٔ خطاء کیدې۔ (یعنی تا ته به ضرور در رسیدلې)

په دې باندې ابن مسعود رضی اللہ عنہ په تیزئ سره اووتلو۔

دا ټوله واقعه امیر المؤمنین حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ته معلومه شوه، نو هغهٔ ابن مسعود اورتلو، او په عهده باندې ئې باقی اوساتلو، او حضرت سعد ئې معزول کړو۔

او ولید بن عقبه ئې د جزیرې نه راغوښتلو سره ګورنر جوړ کړو، تر پنځو کالو پورې هغه ګورنر پاتې شو۔

---

(۱) تاریخ الطبری: ۲، ۱۵۹۰

(۲) تاریخ الطبری: ۲، ۱۵۹۶

په ولید باندې د الزاماتو حقیقت: ددۀ په حقله په تاریخ کښې دا الفاظ منقول دی:

"کان أحب الناس فی الناس وأرقهم بهم، فکان کذلك خمس سنین ولیس علی دارہ باب".(۱)

یعنی هغه په خلقو کښې د ټولو نه زیات محبوب او خلقو سره د ټولو نه زیات په نرمې باندې وړاندې راتلونکې وو، تر پنځو کالو پورې هغه هم دغسې پاتې شو، او د هغۀ کور دروازه نۀ وه.

بیا څۀ خلقو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ته ددۀ شکایت اوکړو، او وې وئیل چې دۀ شراب څکلی دی، دا خبره خوره شوه، او هم په دې وجه په حضرت عثمان رضی اللہ عنہ باندې هم خلقو رد بد وئیل شروع کړل.

مخالفینو دې د مجرمانو او خپلوانو په ملګرتیا کولو باندې متهم کړو.

ددې الزاماتو حقیقت خو الله تعالی ته پته ده، بیا هم د تاریخ نه دا اندازه کیږی، چې د ذاتی خفګان په وجه باندې خلقو د هغۀ خلاف دا قیصه جوړه کړې وه، او دویمه خبره دا وه، چې خواص ددۀ (یعنی د ولید) مخالف او عوام موافق وو.

طبری وائی: "کان الناس فی الولید فرقتین، العامة معه والخاصة علیه".(۲)

یعنی خلق ددۀ په حوالې سره په دوۀ ډلو کښې تقسیم وو، عوام ددۀ ملګری او خواص مخالف وو.

په هر حال کښې د خلقو په اصرار او مطالبې باندې ولید حضرت عثمان رضی اللہ عنہ معزول کړو، په هغۀ ئې حد جاری کړو، او سعید بن العاص ئې ګورنر مقرر کړو.

ولید بن عقبه ډیر سخی هم وو، او په عوامو باندې په خرچ کولو کښې به ئې ډیر د سخاوت نه کار اخستلو. خلقو به د هغۀ په حقله د خپلو جذباتو اظهار په دې ډول کولو:

یا ویلنا قد عزل الولیدُ ... وجاءنا مجوّعًا سعیدُ

ینقص فی الصاع ولا یزیدُ ... فجوّع الإماءُ والعبیدُ(۳)

قوله: ما یمنعك أن یتکلم عثمان: د معمر چې د زهری نه کوم روایت دې، باب "هجرة الحبشة" کښې، په هغې کښې دا الفاظ دی: "ما یمنعك أن تکلم خالك عثمان فی أخیه الولید بن عقبة".(۴)

یعنې مسور بن مخرمه او عبد الرحمن بن الاسود عبید الله بن عدی بن الخیار ته اووئیل، چې تۀ خپل ماما (حضرت عثمان رضی اللہ عنہ) سره د ولید په حلقه خبرې ولې نۀ کوې؟

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د عبید الله بن عدی بن خیار ماما څنګه جوړیدو، نو د هغې تفصیل داسې دې، چې د عبیدالله مور ام قتال بنت الاسد بن أبی العاص بن امیه وه، او هغه د

---

۱) تاریخ الطبری: ۵۹۶،۲\

۲) تاریخ الطبری: ۶۱۲،۲\

۳) تاریخ الطبری: ۶۱۲،۲\

۴) اوګورئ باب هجرة الحبشة، رقم: ۳۸۷۲\

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د ترهٔ لور وه،او د مور په نزدې خپلوانو باندې د ماما اطلاق کیدل خو بنکاره خبره ده،کیږی،لهذا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د عبید الله بن عدی ماما شو۔[1]

قوله: لأَخِيهِ: لام تعلیلیه دې،یعنی ددهٔ د ورور په وجه،یا په معنی د عن دې،یعنی ددهٔ په حقله[2]،او د هجرة الحبشة په روایت کښې د"فی أخیه"الفاظ دی،یعنی د ورور په حقله،د هغهٔ متعلق۔[3]

د ولید بن عقبه په حوالې سره په حضرت عثمان رضی اللہ عنہ باندې رد بد: فَقَدْ أَكْثَرَ النَّاسُ فِيهِ.....

یعنی خلقو د ولید بن عقبه متعلق ډیر ګډې وډې خبرې شروع کړې،لکه دا به ئې وئیل،چې هغهٔ د سحر څلور رکعته اوکړل،او بیا خلقو ارخ ته متوجه کیدو سره ئې اووئیل " أزیدکم؟" آیا نور مونځ اوکړم ؟ دا هغهٔ د نشې په حالت کښې وئیل،هغهٔ شراب څکلې وو،او په دې باندې خلق ډیر زیات خفه وو۔

دا معنی خو په هغه صورت کښې ده،کله چې د"فیه"د ضمیر مجرور مرجع ولید وی۔[4]

او د معمر بن راشد په روایت کښې"ولوکان أکثر الناس فی ما فعل به"دی۔

په دې صورت کښې به معنی دا وی،حضرت عثمان رضی اللہ عنہ چې ولید سره کومه معامله کړې وه،د هغې په حلقه به خلقو په کثرت سره خبرې کولې،لکه دا به ئې وئیل،چې هغهٔ په ولید باندې حدّ الخمر ولې جاری نهٔ کړو،دا اعتراض به ئې کولو،چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ په شان صحابی لرې کولو سره دې(ولید)عامل جوړ کړو،حال دادې چې سعد په عشره مبشره کښې دې،په اهل شورٰی کښې دې،او هغهٔ ته د سبقت إلی الإسلام او په علم دین کښې د کمال ډاسې ډاسې فضیلتونه حاصل دی،چې د هغې عشر عشیر(لسمه برخه)هم ولید ته حاصل نهٔ دی۔

او د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په دې سلسله کښې عذر او جواب دا وو،چې حضرت سعد خو سیدنا عمر رضی اللہ عنہ هم معزول کړې وو،څنګه چې په کتاب الصلوة کښې تیر شوی دی،[5] او دویم واړې چې دې ګورنر جوړ کړې شو،هغه خو صرف دې د پاره چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددهٔ د پاره وصیت فرمائیلې وو،"لانی لم أعزله عن خیانة ولا عجز".

څنګه چې په باب"مَنَاقِبُ عمر"کښې راروان دی۔[6]او په دې وصیت کښې هم حضرت عمر رضی اللہ عنہ

---

[1] فتح الباری:۹.۱۶۸

[2] فتح الباری:۹.۱۹۶

[3] باب هجرة الحبشة،رقم:۱۳۸۷۲

[4] إرشاد الساری:۸.۱۱۸۶

[5] کتاب الصلوة،باب وجوب القراءة.....رقم:۱۷۵۵

[6] اوګورئ حدیث:۱۳۷۰۰

دا الفاظ اووئیل "فإن أصابت الإمرةُ سعداً فهو ذاك وإلا فليستعن به أيكم ما أمّر" چې د امیر المؤمنین جوړیدونکی ته د صحیح کار کولو پته ورکوی، نۀ دا چې په هغۀ باندې د لازم کیدو.

او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د وفاداریٔ او وضعداریٔ ثبوت ورکولو سره د وړاندینی خلیفه حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خبرې لحاظ اوساتلو، او هم هغه (سعد رضی اللہ عنہ) ئې ګورنر جوړ کړو، ولې بیا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ هغه د ابن مسعود سره د قرض د جهګړې په وجه په دویم ځل معزول کړو، نو ګویا چې د حضرت سعد د دوباره مقرر کولو سفارش وو، نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قبول کړو، او بیا چې کله شکایت راغې نو د شکایت په وجه بیا د هغۀ دویم واړې معزول کول هم پکار وو، یعنی د هغۀ د راوستلو هم وجه وه، نو د معزول کولو هم وجه وه، او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ کۀ خپل اختیارات استعمالولو سره حضرت سعد ګورنر جوړولو باندې د تعریف او تحسین قابل دې، نو د هغۀ په لرې کولو باندې هم په دۀ باندې څۀ اعتراض نۀ دی کیدل پکار. او بیا د هغۀ نه ورسته تر کومې پورې چې د ولید د راوستلو تعلق دې، نو د هغې وجه دا وه، چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ خپلو خپلوانو راوستلو سره اقرباء پروری نه صله رحمی کول غوښتل، او د هغۀ (ولید) استحقاق او ورستو د هغۀ کارونه او د خلقو په هغۀ اعتماد او اطمینان نه واضحه شوه، څنګه چې اوس لږ وړاندې د هغې تذکره راغلې وه.(۱)

لهذا د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د الزام او ملامتیا نښه او مورد جوړول هیڅ کله هم جائز نۀ دی، او بیا په خاصه توګه کله چې د ولید متعلق په خلقو کښې خاص تشویش ګډ شو، او د هغۀ په بعضې جرمونو کښې شامل کیدل تقریباً واضح او ثابت شو، هله حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په هغۀ باندې حد هم جاری کړو، چې ددې خبرې دلیل دې، چې د خپلوئ په خیال ساتلو کښې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ تر دې حده پورې تلو ته بالکل تیار نۀ دې، چې په هغې سره د الله تعالی ددین حدود د خپو لاندې راشی.

د حافظ صاحب دا الفاظ دا معامله تر کافی حده پورې واضحه کوی: "فلما ظهر له سوء سيرته عزله، وإنما أخر إقامة الحدّ عليه ليكشف عن حال مَن شَهد عليه بذلك، فلما وضح له الأمر أمر بإقامة الحد عليه، وروى المدائني من طريق الشعبي أن عثمان لما شهدوا عنده على الوليد حبسه.(۲)

کله چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وړاندې د ولید بد اعمال ښکاره شو، نو هغوی رضی اللہ عنہ دې معزول کړو، او په هغۀ باندې حد قائمول ئې په دې وجه مؤخر کړل، چې ددۀ خلاف د ګواهی کونکو حالات معلوم کړی. بیا کله چې معامله واضحه شوه، نو د حد د قائمولو حکم ئې اوکړو، او مدائنی د شعبی په طریقې سره روایت کړې دې، کله چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وړاندې ګواهی اوګړې شوه، نو هغۀ ولید بندی کړو.

---

۱) تفصیل د پاره اوګورئ، فتح الباری: ۶۹،۹

۲) فتح الباری: ۶۹،۹

قوله: فَقَصَدْتُ لِعُثْمَانَ حَتَّى خَرَجَ: دلته د "حتی خرج" الفاظ دی، او د کشمیهنی په روایت کښې د "حین خرج" الفاظ دی، "حتی" د انتهاء د غائې د پاره ده، په دې وجه دې صورت کښې به معنی دا وی، چې د قصد غایه او آخری حد د حضرت عثمان رضی الله عنه راوتل وو. او په دویم صورت کښې به معنی دا وه، چې قصد عثمان سره د خروج عثمان اتفاق اوشو، یعنی ددې قصد کړې شوې وو، خو اتفاقًا هغه هم راوتلو، او په اول صورت کښې یعنی د "حتی خرج" په صورت کښې به معنی دا وی، چې د قصد نه ورسټو د عثمان رضی الله عنه انتظار اوکړې شو، تر دې پورې چې هغه راوتلو.

دحتی والا روایت تائید د معمر په روایت کښې "فانتصبت لعثمان حین خرج"[1] سره هم کیږی[2]

د حضرت عثمان رضی الله عنه مقصد د هر شر نه د بچ کیدو وو: یَاأَیُّهَا الْمَرْءُ مِنْكَ..... د معمر په روایت کښې د "أعوذ بالله منك" الفاظ دی،[3] یعنی زهٔ ستا نه په الله تعالی سره پناه غواړم.

په بعضې نسخو کښې د معمر د قول سره "أراه" یعنی زما خیال دې، دا الفاظ هم دی.[4] او په دې کښې د استعاذې وجه دا وه، چې حضرت عثمان رضی الله عنه ته ویره وه، چې چرته هغهٔ عبید الله بن عدی، دهٔ ته داسې څهٔ خبره اونهٔ کړی، چې د هغې پوره کول د حضرت عثمان رضی الله عنه د پاره ممکن نهٔ وی، او داسې څهٔ مطالبه اونهٔ کړې شی، چې د هغې رد کول پکار وی، او د هغې په وجه بیا هغهٔ ته افسوس او زړهٔ ته ئې د خفګان احساس اوشی، نو هغوی رضی الله عنهم اووئیل، چې ستا د خبرو او په هغې کښې د ممکن شر نه د الله تعالی پناه، ورسټو به حضرت عثمان رضی الله عنه ته خیال راغلې وی، چې ددهٔ په خبره اوریدلو کښې څهٔ حرج وو، کیدې شی ددهٔ څهٔ بل حاجت وو، او ددهٔ په خبره کښې د شر په ځائې خیر وی، نو هغهٔ پسې ئې استاذي (قاصد) اولیږلو، او هغهٔ ئې راوغوښتلو.

عبید الله بن عدی وائی "فانصرفت فرجعت إلیهما" زهٔ د عثمان رضی الله عنه خوا ته واپس راغلم، او لاړم مسور بن مخرمه او عبد الرحمن بن الاسود ته مې زما او د حضرت عثمان رضی الله عنه په مینځ کښې د کیدونکې خبرو په حقله اووئیل، دلته خو صرف د انصراف او رجوع ذکر دې، او د معمر په روایت کښې دا الفاظ مروی دی:

"فحدثتهما بالذی قلت لعثمان وقال لی، فقالا: قد قضیت الذی کان علیك".[5]

---

[1] صحیح البخاری، کتاب مناقب الأنصار، باب هجرة الحبشة، رقم: ۳۸۷۲

[2] فتح الباری: ۹، ۶۹

[3] صحیح البخاری، باب هجرة الحبشة، رقم: ۳۸۷۲

[4] إرشاد الساری: ۸، ۱۸۷

[5] صحیح البخاری، رقم: ۳۸۷۲

یعنی(هغې دواړو اووئیل)تا هغه حق ادا کړو،کوم چې په تا لازم وو،او اوس ته بری الذمه شوې ئې،برابره خبره ده.که هغهٔ ستا خبره په تفصیل سره واؤری یا واؤنهٔ ری.

په دغه وخت کښې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ آستاذي(قاصد)راغې إذ جَاءَ رَسُولُ عُثْمَانَ.....د معمر په روایت کښې ددې الفاظو زیاتوالې دي:

"فبینما أنا جالس معهما إذ جاءنی رسول عثمان، فقال لی: قد ابتلاك الله فانطلقت".

یعنی په دغه وخت کښې چې زهٔ ددې دواړو حضراتو سره ناست ووم،ما ته د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ آستاذي راغې،په دې باندې دې دواړو حضراتو ما ته اووئیل،الله تعالی تهٔ په امتحان کښې واچولې.....خیر زهٔ لاړم.

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ته د تلو نه ورسته هغوی خپله مدعی وراندې کړه،او هغې د پاره د تمهید په توګه ئې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ فضائل او مناقب ذکر کړل،چې په هغې کښې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ په دعوت إلی الإسلام باندې لبیك وئیل،د رسول الله ﷺ سره ډیره زمانه په صحبت کښې پاتې کیدل،د دوؤ هجرتونو(حبشې ته هجرت او مدینې ته هجرت)سعادت حاصلول وغیره داخل دی.

قوله: أَكْثَرَ النَّاسُ فِي شَأْنِ الْوَلِيدِ:د ولید بن عقبه په شان کښې به خلقو اکثر خبرې کولې.....دلته خو صرف د دومره خبرې ذکر دې،او د معمر په روایت کښې دا الفاظ هم منقول دی:"فحق علیك أن تقیم علیه الحد".(۱) نو ستاسو حق جوړیږی چې په هغهٔ باندې حد جاری کړئ.

د عبید الله بن عدی ولادت د رسول الله ﷺ په ژوند کښې شوې وو:

قوله: قَالَ أَدْرَكْتَ رَسُولَ اللهِ؟.....:حضرت عثمان رضی اللہ عنہ عبید الله بن عدی ته اووئیل.آیا تا رسول الله ﷺ موندلې دې،یعنی تا د رسول الله ﷺ نه څهٔ اوریدلی دی،او د هغوی ﷺ نه تا څهٔ حاصل کړی دی،(په علم دین او هدایت کښې)د ادراك نه مراد دا نهٔ دې،چې آیا تهٔ د رسول الله ﷺ په ژوند کښې پیدا شوې ئې،او د رسول الله ﷺ ژوند مبارك تا موندلې دې کهٔ نه ؟ ځکه چې کهٔ دا سوال وې نو حضرت عبید الله به د هغې جواب په "لا" سره نهٔ ورکولو.ځکه کله چې د عبید الله بن عدی ولادت اوشو،نو په هغه وخت کښې د الله تعالی رسول حیات وو.ځنګه چې د مغازی په باب "قتل حمزة بن عبد المطلب" کښې راروان دی(۲) حافظ ابن حجر عسقلانی رضی اللہ عنہ فرمائی:

"ومرادُه بالإدراك إدراك السماع منه والأخذ عنه وبالرؤية رؤية المیز له ولم یرد هنا الإدراك بالسن فإنه ولد

---

(۱) صحیح البخاری،رقم:۱۳۸۷۲

(۲) صحیح البخاری،کتاب المغازی،باب قتل حمزة بن عبد المطلب،رقم:۱٤۰۷۲

فی حیاة النبی ﷺ فیاتی فی المغازی فی قصة مقتل حمزة من حدیث وحشی ابن حرب مایدل علی ذلك".(۱)

د سوال منشاء: حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د عبید اللہ بن عدی شکایت اوریدو سره دا سوال ولې اوکړو، چې آیا تا د رسول اللہ ﷺ نه څهٔ اوریدلې دی؟

ابن التین وائی: "لینبّه علی أن الذی ظنه من مخالفة عثمان لیس کما ظنه".(۲)

یعنی هغوی ﷺ عبید اللہ ددې خبرې نه خبرول غوښتل، چې تا کوم ګمان کړې دې، او په څهٔ پوهه شوې ئې، چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ غلط وائی، داسې نهٔ ده۔

حافظ صاحب وائی، د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ددې سوال د منشاء تائید د امام احمد د هغه روایت نه هم کیږی، چې هغهٔ د "سماك بن حرب عن عبادة بن زاهر" په طریقې سره په دې الفاظو نقل کړې دې: "سمعتُ عثمان خطب فقال: إنا والله قد صحبنا رسول الله ﷺ فی السفر والحضر وإنّ ناساً یعلّمونی سنّته عسی أن لا یکون أحدهم رآه قط".(۳)

یعنی په خدائې قسم! مونږ د رسول اللہ ﷺ په سفر او حضر کښې صُحبت او یوځائې والې اختیار کړې دې، او اُوس داسې خلق مونږ ته د رسول اللہ ﷺ سنت ښائی، کیدې شې چې هغوی رسول اللہ ﷺ لیدلې هم نهٔ وی۔

د عدی بن خیار متعلق اختلاف: په روایت کښې د عبید اللہ بن عدی بن خیار ذکر دې، چې د هغهٔ متعلق دا هم ذکر شو، چې هغه په مکه مکرمه کښې د رسول اللہ په حیات کښې پیدا شوې وو، دلته بعضې حضراتو دا هم نقل کړی دی، چې دا مذکوره قیصه د عبید اللہ بن عدی نهٔ ده، بلکه پخپله د عدی بن خیار ده۔(۴)

همدغه شان د عدی بن خیار متعلق د ابن ماکولا وغیره رائې داده، چې هغه د کفر په حالت کښې قتل کړې شوې وو، او په اسلام باندې مشرف شوې نهٔ وو۔(۵)

او حافظ ابن حجر وغیره فرمائی، چې دا صحیح نهٔ ده، بلکه هغه مسلمان شوې وو، څنګه چې ابن سعد په "فتحیین" کښې د هغهٔ ذکر کړې دې۔(۶)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۷۰

۲) فتح الباری: ۹، ۱۷۰

۳) فتح الباری شرح البخاری کښې دا روایت په دې الفاظو سره منقول دې، او په مسند احمد کښې داسې مروی دې، "سمعتُ عثمان یخطب فقال: إنا والله قد صحبنا رسول الله فی السفر والحضر، فکان یعود مرضانا، ویتبع جنائزنا، ویغزو معنا، ویواسینا بالقلیل والکثیر، وإن ناسًا یعلمون به عسی أن لا یکون أحدهم راٰه قط. مسند احمد، مسند عثمان بن عفان، رقم: ۴۰۵، ۱

۴) فتح الباری: ۹، ۱۷۰

۵) الاکمال لابن ماکولا: ۲، ۱۴۳

۶) الاصابة فی تمیز الصحابة الترجمة: ۵۴۸۲، والجزء المتمم لطبقات بن سعد، الطبقة الرابعة ممن أسلم عند فتح مکة، ومن بنی نوفل بن عبد مناف.....۱

قوله: وَلَكِنْ خَلَصَ: (په فتحي د خاء او ضمي د لام سره، يا په فتحي د لام او صاد سره په معنی د وصل) يعنی عبيد الله بن عدی د حضرت عثمان رضی الله عنه په جواب کښي وائی، چي د رسول الله ﷺ څۀ خبره خو يقيناً ما نۀ ده اوريدلي، ولي د رسول الله ﷺ تعليمات او ارشادات ما ته په دومره خالص او اصلی شکل کښي رارسيدلی دی، څومره خالص او اصليت سره چي پرده کونکو پيغلو زنانو ته رسيدلي دی، مطلب دادي، چي د الله تعالی د رسول اقوال او افعال د الله تعالی د رضا او قضاء مطابق هر لري او نزدي ته اورسيدل، تر دي پوري چي پرده کونکو زنانو ته هم اورسيدل، نو بيا زما په شان د هغې طلب کونکی او خواهش کونکی نه هغۀ څنګه پټ پاتي کيدي شی.(۱)

قوله: ثُمَّ أَبُوبَكْرٍ مِثْلُهُ ثُمَّ عُمَرُ مِثْلُهُ: معنی داده، چي حضرت عثمان رضی الله عنه څنګه د رسول الله ﷺ په حقله اووئيل، چي ما د هغۀ نافرمانی نۀ ده کړي، او تاسو ته مي دهوکه نۀ ده درکړي، همدغه ئي د ابوبکر رضی الله عنه او بيا د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله هم اوفرمائيل، يعنی "ما عصيته ولاغششته" څنګه چي د معمر په روايت کښي ددي تصريح ده.(۲)

قوله: أَفَلَيْسَ لِي مِنَ الحَقِّ.....؟: حضرت عثمان رضی الله عنه وائی، چي آيا مونږ ته د هغې حق نشته، د کومو چي هغوی يعنی (رسول الله ﷺ او دي دواړو صحابو رضی الله عنهم ته وو) يعنی اطاعت، تائيد او د وفاداری حق، چي حضرت عثمان رضی الله عنه څان نه د وړاندو په خپل څان باندي لازم اوګڼله، او هغه ئي ادا هم کړه، هم ددغه اطاعت او فرمانبرداری هغه د خپلو لاندي خلقو نه خواهش لرلو، د معمر په روايت کښي دا الفاظ دی:

"أَفَلَيْسَ لِي عَلَيْكُمْ مِثْلُ الَّذِي كَانَ لَهُمْ عَلَيَّ؟".(۳) آيا زما په تاسو باندي دومره حق نشته، څومره چي د هغوی په ما باندي وو؟

قوله: فَمَا هَذِهِ الأَحَادِيثُ؟: ددي مطلب د عبيد الله بن عدی خبره او ددي په شان نوري ګډي وډي خبري وي، چي په مختلفو طريقو سره به حضرت عثمان رضی الله عنه ته رسيدلي، او هغه دغه وي، چي حضرت عثمان رضی الله عنه وليد ولي نۀ معزولوی، او سزا ولي نۀ ورکوی، او حضرت سعد بن أبی وقاص ئي ولي معزول کړي دي وغيره وغيره.

ددي ټولو اعتراضاتو په حوالي سره د حضرت عثمان رضی الله عنه موقف څۀ وو، هغۀ به څۀ جواب ورکولو، هغه اوس مختصراً بيان کړي شوي دی، نو دلته هغوی رضی الله عنه د عام اولس نه د اطاعت او وفاداری خواهش ظاهر کړو، په شور جوړولو باندي ئي شکايت اوکړو او وي فرمائيل، دا څۀ خبري دی، او څۀ قيصي دی؟.(۴)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۷۰

۲) صحيح البخاری، باب هجرة الحبشة، رقم: ۳۸۷۲

۳) صحيح البخاری، رقم: ۳۸۷۲

۴) فتح الباری: ۹، ۱۷۰

قوله: فَأَمَرَهُ أَنْ يَجْلِدَهُ: د کشمیهنی په روایت کښې "أن یجلده" بالضمیر دي.(۱)
او د ابوذر عن الحموی والمستملی په نسخو کښې د ضمیر په ساقط کولو سره دي، یعنی بغیر د ضمیر نه منصوب دي.(۲)
حضرت عثمان رضی الله عنه په حد کښې تاخیر په دي وجه فرمائیلي وو، چې هغوی معلومات او تحقیق کول غوښتل، او کله چې په تحقیق سره معلومه شوه، چې ولید ددې کار ارتکاب کړي دي، نو حد ئې پرې جاری کړو.(۳)
قسطلانی فرمائی: "وإنما أخر عثمان إقامة الحد عليه ليكشف عن حال من شهد عليه بذلك فلما وضح له ذلك الأمر عزله وأمره عليًا بإقامة الحد عليه".(۴)
د ولید خلاف ګواهی چا اوکړه؟: د ولید خلاف چې کومو دوؤ کسانو ګواهی کړي وه، په هغوی کښې یو عمران مولی عثمان وو، او دویم الصعب بن جثامة یا جثامة بن الصعب بن جثامه وو، او دا صحابی وو.(۵)
دویم قول یعنی د جثامه بن صعب بن جثامه قول طبری ذکر کړي دي، او یو بل روایت دادي، چې په ګواهی ورکونکو کښې ابو زینب بن عوف الاسدی او ابو مورع الاسدی هم دی، او یو قول دا هم دي، چې ابو زینب، ابو مورع، جندب ابن زبیر الازدی او سعد بن مالك الأشعری دا ټول په ګواهی ورکونکو کښې شریك دی.(۶)
د کورو په شمیر کښې اختلاف: دلته په دې روایت کښې د "فَجَلَدَهُ ثَمَانِينَ" الفاظ دی، یعنی اتیا کوړې ئې اووهلو، او د معمر په "باب هجرة الحبشة" والا روایت کښې دا الفاظ دی، "فَجَلَدَ الوليد أربَعِينَ جَلدة" یعنی ولید ئې څلویښت کوړې اووهلو.(۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله د معمر روایت راجح ګرځولو سره فرمائیلی دی:
"وهذه الرواية أصح من رواية يونس، والوهم فيه من الراوي عنه شبيب بن سعيد".(۸)
یعنی د معمر روایت ډیر صحیح دي، او دلته چې کوم د "ثمانین" ذکر دي، نو دا په اصل کښې

---

۱) فتح الباری: ۹/۷۰
۲) إرشاد الساری: ۸/۱۸۸
۳) اګر چې د بعضې محققینو وینا ده، چې په ولید باندې بعضې اهل کوفې د تعصب د وجهې نه الزام لګولې وو، او ابن عبد البر ددې تردید کړې دي، اوګورئ: بذل المجهود فی حل أبی داؤد: ۱۲/۵۷۲
۴) إرشاد الساری: ۸/۱۸۸
۵) فتح الباری: ۹/۷۱، وإرشاد الساری: ۸/۱۸۸
۶) تاریخ الطبری: ۲/۶۱۱، وفتح الباری: ۹/۷۱
۷) اوګورئ صحیح البخاری، رقم: ۳۸۷۳
۸) فتح الباری: ۹/۸۱

د یونس نه روایت کونکی شبیب بن سعید ته وهم شوې دې، د معمر د روایت تائید د مسلم په یو روایت سره هم کیږی. هغه روایت د ابو ساسان نه مروی دې، او د هغې الفاظ دادی:

"شهدتُ عثمانَ بن عفان، أتى بالوليد قد صلّى الصبحَ ركعتَين ثم قال أزيدُكم؟ فشهد عليه رجلان: أحدهما حُمران أنه شرِب الخمر وشهد آخر أنه رآه يتقيأ، فقال عثمان: إنه لم يتقيأ حتى شربها، فقال يا علي! قم فاجلِده، فقال علي قم يا حَسن! فاجلده، فقال الحسن: ولِّ حارَّها من تولى قارَّها! فكأنه وجد عليه، فقال: قم يا عبد الله بن جعفر! قم فاجلِده، فجلَده وعلي يعُدُّ حتى بلغ أربعين، فقال: أمسك، ثم قال: جلَد النبيُّ ﷺ أربعين، وأبو بكرٍ أربعين، وعمرُ ثمانين، (۱) وكلٌّ سنةٌ وهذا أحب إليَّ". (۲)

ابو ساسان وائی زډ حضرت عثمان رضی الله عنه سره حاضر ووم، چې ولید بن عقبه راوستې شو. چې هغهٔ د سحر مونځ کړې وو. او د دوؤ رکعاتو نه ورستو ئې وئیلې وو. چې آیا نور مونځ تاسو ته اوکړم؟ ددې مطلب دادې، چې هغه په دې نهٔ پوهیدو. چې د سحر صرف دوه رکعته وی. او په دې نهٔ پوهیدل ښکاره خبره ده، په دې وجه وو، چې هغه په خود نهٔ وو. او د هغهٔ توازن ګډ وډ شوې وو.

نو دوؤ کسانو د هغهٔ خلاف ګواهی ورکړه، یو حُمران ګواهی ورکړه، چې دهٔ شراب څکلی دی. او یو بل کس دا ګواهی ورکړه، چې ما دې د قیؤ (الټیو) کوشش کولو په وخت کښې لیدلې دې. عثمان اووئیل، دهٔ د قیؤ کوشش په دې وجه کړې دې، چې دهٔ شراب څکلی وو. په دې وجه هغهٔ اووئیل علی پاسه او دهٔ ته کوړې ورکړه! علی رضی الله عنه (خپل ځوی) حسن ته اووئیل، پاسه دې په کوړې اووهه.

حضرت حسن په دې باندې د ناراضګئ اظهار کولو سره اووئیل، چې د دهٔ ګرمی دې اُوس هم هغه څوك اوزغمی. چا چې د دهٔ د یخوالی نه فائده اخستله، یعنی ددهٔ د هغه ښو ورځو او حکومت نه فائده اخستونکی وو، اُوس په دې سخت وخت کښې دې هم ددهٔ په حوالې سره د خپلې ناخوښې او ګرانې ذمه دارئ پوره کړې، په حضرت عثمان رضی الله عنه وغیره باندې تعریض وو، چې هغهٔ د خپلولئ یا د بلې وجهې نه ولید ګورنر جوړ کړو، نو اُوس ددهٔ د جرم په ثابتیدو باندې دې سزا هم هغه پخپله ورکړی، مونږ ولې ورکړو، چې د مزو د پاره هغه پخپله وو. او د سزاګانو د پاره بیا مونږ یو؟

بیا حضرت علی رضی الله عنه عبد الله بن جعفر رضی الله عنه ته حکم اوکړو، نو هغه اودریدو او کوړې وهل ئې شروع کړل. او حضرت علی رضی الله عنه کوړې شمیرلې، تر دې پورې چې هغهٔ څلویښت کوړې

---

(۱) د حضرت عمر رضی الله عنه تر زمانې پورې ددې هیڅ حد متعین نهٔ وو، بیا حضرت عمر رضی الله عنه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم سره مشوره اوکړه. حضرت علی رضی الله عنه دهٔ ته د اتیاؤ کوړو ورکولو مشوره ورکړه، قال مالک.....إن عمر بن الخطاب استشار في الخمر يشربها الرجل فإنه إذا شرب سكر.....فجلد عمر في الخمر ثمانين (أوجز المسالك: ۵۰۸.۱۵)

(۲) صحیح مسلم، کتاب الحدود، باب حد الخمر، رقم: ۱۴۴۵۷

اووهلي،نو حضرت علی رضی الله عنه اووئيل،اوس اودريږه،بيا ئې اووئيل رسول الله ﷺ څلويښت کوړې وهلي دي،ابوبکر هم څلويښت کوړې اووهلي،او عمر اتيا کوړې اووهلي لهذا دواړه د سنت نه ثابت دي،او ما ته هم دغه(څلويښت کوړې)خوښې دي.

حدّ شُرب الخمر کښې د شوافعو مذهب: حافظ صاحب په ډيره واضحه توګه څلويښت کوړو والا حديث ته ترجيح ورکړې ده،او د هغۀ د صنيع نه دا هم معلوميږي،چې د هغۀ له مخې هم څلويښت کوړې د شُرب الخمر حد دي،همدغه د امام شافعی مذهب دي،څنګه چې قسطلانی هم وئيلې دي،او د هغۀ مُستدل د معمر پورتنۍ روايت دي،قسطلانی وائی:

"ومذهب الشافعی أن حدّ الخمر أربعون لِمَا سبق فی روایة معمر،وحدیث مسلم عن أنس کان النبی ﷺ یضرب فی الخمر بالجرید والنعال أربعین نعم للإمام أن یزید علی الأربعین قدرها إن رآه،لما سبق عن عُمر ورآه علی حیث قال:وهذا أحب إلی کما فی مسلم".(۱)

يعنی د امام شافعی له مخې حدّ خمر څلويښت کوړې دي،څنګه چې د معمر په روايت کښې دی،او د مسلم حديث دي،د انس رضی الله عنه نه مروی دي،چې رسول الله ﷺ به د شرابو سزا په څانګه او پنړې سره څلويښت ضربونه ورکول،هاؤ! امام(خليفه)کۀ مناسب اوګڼړی نو په دې کښې زياتوالې هم کولې شی،څنګه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په حوالې سره تفصيل وړاندې راغلې دي،چې هغوی اتيا کوړې ورکړې،او د(يو قول مطابق)حضرت علی رضی الله عنه هم ددې په حقله اوفرمائيل،چې دا ما ته زيات خوښ دي.

يعنی د څلويښتو نه زياتې کوړې حد خو نۀ دي،هنه ! زما په رائې کښې دا زيات غوره ده،چې اتيا کوړې وی،نۀ چې څلويښت،معلومه شوه چې دا د څلويښتو نه زيات مقدار په رائې باندې دي،او د امير د خوښې عمل دي.

قسطلانی د مذهب شافعی نوره توضيح او توجيه کولو سره فرمائی:

"لأنه إذا شرب سکر وإذا سکر هذی وإذا هذی افتری وحدّ الافتراء ثمانون".(۲)

يعنی اتيا کوړې په دې وجه دی،کله چې شراب څکونکې شراب څکی،نو هغۀ نشه کيږی،او نشې والا بيا ګډې وډې خبرې کوی،او ګډې وډې خبرې کولو والا دروغ وائی،او د دروغو سزا(په محصناتو د قذف حد)اتيا کوړې ده،په دې وجه دۀ ته هم اتيا کوړې ورکول پکار دی.

بيا امام شافعی په دې دواړو اقوالو_د څلويښتو کوړو والا او اتيا کوړو والا_کښې تطبيق داسې بيان کړې دي،چې څلويښت کوړې خو حد دي،او باقی څلويښت کوړې د تعزير په توګه ورکولې شی،يعنی کۀ امام ددې ضرورت محسوس کړی،نو دا دي هم جاری کړی،او کۀ ضرورت محسوس نۀ کړی نو نۀ دي ورکوی.

د امام شافعی دا قول قسطلانی ذکر کړې دي او وې فرمائيل:

---

۱) إرشاد الساری:۸/۱۱۸۸

۲) إرشاد الساری:۸/۱۱۸۸

"وهذه الزيادة على الحدّ تعازير لا حدٌّ وإلا لَمَا جاز تركه".(۱)
دا زیادت چې په حد باندې دي، دا تعزیر دي، نهٔ چې حد، کنی ددې پرینبودل به بیا جائزنهٔ وو.
او امام نووی، د امام شافعی او د امت د نورو فقهاؤ مذهبونه بیانولو سره فرمائی:
"واختلف العلماء فی قدر حد الخمر، فقال الشافعی وأبو ثور و داؤد وأهل الظاهر وآخرون: حدّه أربعون. قال الشافعی رضی الله عنه: للإمام أن يبلغ به ثمانين، وتكون الزيادة على الأربعين تعزيرات على تسببه فی إزالة عقله، وفی تعرضه للقذف، والقتل وأنواع الإيذاء وترك الصلاة وغير ذلك..... ونقل القاضی عن الجمهور من السلف والفقهاء منهم: مالك وأبو حنيفةَ والأوزاعیُ والثوریُ وأحمد وإسحاق رحمهم الله تعالى أنهم قالوا حدّه ثمانون، واحتجوا بأنه الذی استقر عليه إجماع الصحابة وأن فعل النبی ﷺ لم يكن للتحديد ولهذا قال فی الرواية الأولى نحو أربعين".(۲)
امام نووی د امام شافعی، ابوثور، داؤد ظاهری وغیره په حوالې سره یوه خبره خو دا کړې ده. چې د هغوی له مخې حدّ شرب الخمر څلویښت کوړې دي، او دویمه خبره ئې دا اوکړه، چې د څلویښتو نه د زیاتو هم هغه قائل دي، خو هغه د امام په صوابدید باندې ده، او ددې مطلب دادي چې هغه حد نهٔ دي، بلکه تعزیر دي.
د احنافو او جمهورو مذهب: او د امام ابوحنیفه، مالك، اوزاعی، سفیان ثوری، امام احمد، امام اسحاق وغیره له مخې هم اتیا کوړې حد شُرب الخمر دي، قاضی عیاض دا د جمهورو قول ګرځولې دي. او دې ته ئې ثابت په اجماع د صحابؤ وئیلې دي، او تر کومې پورې چې د رسول الله ﷺ په حوالې سره منقول دی، چې هغوی ﷺ څلویښت کوړې اووهلې، نو دا د تحدید او تعین د پاره نهٔ دی، هم دغه وجه ده چې په یو روایت کښې د "نحو أربعين" الفاظ راغلی دی. یعنی څلویښتو ته قریب قریب.
او د امام شافعی وغیره دلیل هم دغه د څلویښتو د عدد تصریح ده، او د حضرت عمر رضی الله عنه دغه څلویښت زیاتی کوړې امام شافعی په دې وجه تعزیر فرمائیلې دي، چې د هغې امام ته اختیار دي، د حضرت نبی کریم ﷺ او حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه هم څلویښت کوړې وهل منقول دی، او د حضرت عمر رضی الله عنه نه اتیا. نو د نبی کریم ﷺ او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه دا څلویښت زیاتی کوړې پرینبودل، او د حضرت عمر رضی الله عنه هغه اختیارول په دې حوالې سره د امام د اختیار او صوابدید دلیل دي.
امام نووی دا تفصیل بیانولو سره وائی:
"وحجة الشافعی ومواقفيه، أن النبی ﷺ إنما جلد أربعين كما صرح به فی الرواية الثانية وأما زيادة عمر فهی تعزيرات، التعزير إلى رأی الإمام إن شاء فعله وإن شاء تركه بحسب المصلحة فی فعله وترك فرآه عمر ففعله ولم

---

(۱) إرشاد الساری: ۸/۱۱۸۸
(۲) صحيح مسلم بحاشية النووی: ۱۱/۱۲۱٤

یرہ النبیﷺ ولا أبوبکرؓ ولا علیؓ فترکوہ، وھکذا یقول الشافعیؒ: أن الزیادۃ إلی رأی الإمام".(۱)
د امام شافعی او د هغهٔ د ملګرتیا کونکو د رائې دلیل دادې، چې رسول الله ﷺ څلویښت کوړې اولګولې، څنګه چې په دویم روایت کښې ددې تصریح ده، او تر کومې پورې چې د حضرت عمرؓ ددې زیاتوالی تعلق دې، نو هغه د تعزیراتو نه دې، او تعزیرات د امام په صوابدید باندې وی، کهٔ هغه غواړی نو وردې کړی، او کهٔ نهٔ غواړی نهٔ دی ورکوی، برابره خبره ده کهٔ په کولو کښې مصلحت وی یا په پریښودو کښې، د حضرت عمرؓ رائې دا شوه، چې ورکول پکار دی، نو هغهٔ جاری کړې، او د رسول الله ﷺ، او د حضرت ابوبکر او علیؓ رائې دا وه چې نهٔ دی ورکول پکار، نو هغوی پریښودې، نو همدغه شان امام شافعی فرمائی، چې زیادت (عن الحد) د امام (المسلمین) په رائې باندې دې.
او تر کومې پورې چې د احنافو د مذهب تعلق دې، نو څنګه چې هغه بیان کړې شوې دې، پوره اتیا کوړې د حد ګرځولو دې، او په دې کښې د څهٔ حد کیدل، او د باقی تعزیر کیدل امام ابوحنیفه او نور ائمهٔ متبوعین نهٔ منی.
د احنافو دلائل: د احنافو دلیل د صحابؤ اجماع ده، څنګه چې دلته د قاضی عیاض او امام نووی په حوالې سره هم وئیلې شوی دی، صاحب د هدایې هم وائی:
"وحدُّ الخمر والسکر فی الحُرِّ ثمانون سوطًا لإجماع الصحابة".(۲)
د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د اجماع په وجه باندې د آزاد سړی د پاره د شرابو او نشې حد اتیا کوړې دې.
ددې اجماع تفصیل دادې، چې د شُرب الخمر حد اول څلویښت کوړې وو، بلکه په پنړو، سوکونو، او کپړو وغیره باندې وهل به کافی ګنړلې شو، بیا د حضرت عمرؓ په زمانه کښې هغوی رضی الله عنهم څلویښت کوړې مقرر کړې، او بیا کله چې د هغهٔ د خلافت په آخر کښې د خلقو په کثرت سره په دې کښې مبتلا کیدلو سلسله شروع شوه، نو حضرت عمرؓ اتیا کوړې وهل شروع کړل، او دا خو د صحابؤ په وړاندې او د هغوی په موجودګئ کښې وو، او په دې باندې چا اعتراض هم اونهٔ کړو، په دې وجه دا په اجماع سره ثابت او ګرځولې شو.
امام بخاری د سائب بن یزید روایت نقل کړې دې، هغه فرمائی:
"کنا نُؤتی بالشارب علی عهدِ رسول الله ﷺ وإمرة أبی بکرؓ وصدراً من خلافة عمرؓ، فنقوم إلیه بأیدینا وأردیتنا حتی کان آخر إمرة عمرؓ فجلد أربعین حتی إذا عتوا وفسقوا جلد ثمانین".(۳)
یعنی د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې به شارب الخمر مونږ ته راوستې شو، بیا د ابوبکر د امامت په دور کښې، او د حضرت عمرؓ د خلافت په اولنئ برخه کښې، نو مونږ به

---

(۱) صحیح مسلم: ۱۲۱۵.۱۱
(۲) الهدایة: ۱۱۱۶.٤
(۳) صحیح البخاری، کتاب الحدود، باب الضرب بالجرید والنعال، رقم: ۶۷۷۹

پاسید و سره هغه په لاسونو (سوکونو) پنړو څادرونو باندې وهلو، تر دې پورې چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت اخری وخت راغې، نو هغهٔ څلویښت کوړې اووهلې، بیا چې خلق سرکشه شو او په فسق کښې مبتلاء شو، نو هغهٔ اتیا کوړې اووهلې۔

علامه عینی فرمائی: "جلد ثمانین بحضرة أصحاب رسول الله ﷺ فلم ینکر علیه أحد منهم فحصل الإجماع"۔(۱)

یعنی حضرت عمر رضی اللہ عنہ د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم په موجودګئ کښې اتیا کوړې اووهلې، او په هغوی کښې چا هم په دهٔ اعتراض اونهٔ کړو، لهذا دا اجماع اوګرځولې شوه۔

همدغه شان امام مسلم رحمہ اللہ د حضرت انس رضی اللہ عنہ روایت نقل کړې دې، هغه فرمائی: "أن نبیّ الله ﷺ جَلَدَ فی الخمر بالجرید والنعال ثم جلد أبوبکر أربعین، فلما کان عمر ودنا الناس من الریف والقری، قال ما ترون فی جلد الخمر؟ فقال عبد الرحمٰن بن عوف أری تجعلها کأخف الحدود قال فجلد عمر ثمانین"۔(۲)

یعنی رسول الله ﷺ به په پنړو وغیره باندې سزا ورکوله، بیا ابوبکر څلویښت کوړې وهل شروع کړل، کله چې د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ زمانه راغله، او خلق د باندو وغیره پورې خوارهٔ شول، نو هغوی (عمر) خلقو ته اووئیل، چې حد الخمر ستاسو په رائې څومره کیدل پکار دی؟ ددې په جواب کښې عبد الرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ اووئیل، د ټولو نه د کم حد مقدار اتیا کوړې دې، نو هم اتیا کوړې دې وی، او حضرت عمر رضی اللہ عنہ اتیا کوړې جاری کړې۔

په شافعی مذهب باندې اعتراض: په امام شافعی او د هغهٔ په هم مسلکو باندې یو اعتراض خو دا کیږی. چې د هغوی له مخې څلویښت کوړې د تعزیر ګرځولې شی، او د تعزیر متعلق امام مسلم د باب "قدر أسواط التعزیر" لاندې د ابو هریرة الأنصاری روایت نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:

"لا یُجلد أحد فوق عشرة أسواط إلا فی حدٍّ من حدود الله"۔(۳)

یعنی د حد نه علاوه (تعزیراً) دې چا ته د لسو نه زیاتې کوړې ورنهٔ کړې شی۔

دویم اعتراض دا واردیږی، چې د تعزیر مقدار خو په لازمی توګه د حد نه کم کیدل پکار دی، او دلته هغه ددې برابر دې؟

د شوافعو جواب: ددې په جواب کښې دا وئیلې شوی دی، چې دلته جنایتونه زیات دی، په دې وجه تعزیرات هم د یو نه زیات دی، ولې دا جواب په دې وجه تسلی بخش نهٔ دې، چې په دې شان سره خو بیا د اتیاؤ نه زیاتې کوړې ورکول هم تعزیراً جائز کیدل پکار دی، ځکه چې د جنایتونو خو څهٔ حد نشته، حال دادې، چې دا (یعنی د اتیاؤ نه زیاتې کوړې په تعزیر کښې)

---

(۱) البنایة شرح الهدایة: ۶، ۱۳۵۶

(۲) صحیح مسلم، کتاب الحدود، باب حد الخمر، رقم: ۱۴۴۵۴

(۳) صحیح مسلم، کتاب الحدود، باب قدر أسواط التعزیر، رقم: ۱۴۴۶۰

ممنوع دی۔
په دې وجه دویم جواب دا ورکړې شوې دې،چې دا هغه ځانګړې حَد دې،چې د هغې څخه مقدار(یعنی څلویښت کوړې)خو حتمی دې،او څخه د امام په صوابدید پورې معلق دې۔[۱]
د حنفی مذهب تائید او ترجیح: او د مذهب حنفی تائید خو یو په دې خبره باندې کیږی،چې د حضرت علی رضی الله عنه ارشاد دې: "ما کنتُ أقیم علی أحد حدًا فیموت فیه فأجد منه فی نفسی إلا حدَّ الخمر لأنه إن مات ودیتُه لأن رسول الله ﷺ لم یسنه"۔[۲]
"کهٔ زهٔ په هر یو(مجرم)باندې حد جاری کړم او هغه مړ شی،نو زما هیڅ پروه نهٔ وی،هنه ! کهٔ شرابی ته د حد په دوران کښې مرګ راشی،نو زهٔ به د هغهٔ دیت ادا کوم،ځکه چې رسول الله ﷺ د هغې څهٔ حد نهٔ دې مقرر کړې"۔
ددې نه معلومیږی،چې څلویښت کوړې د حد په توګه مقرر کیدل هم محل د نظر دی،لهذا په څلویښتو او اتیاؤ کوړو کښې د تطبیق دا صورت خو قابل قبول نهٔ دې،چې بعضې ته حَد او بعضې ته تعزیر اووئیلې شی،یا بعضې حتمی او بعضې صوابدیدی اوګرځولې شی،هاؤ ! دا تاویل او توجیه قرین قیاس ده،چې اول ددې څهٔ حد مقرر نهٔ وو ،بیا حضرت عمر رضی الله عنه په مشورې سره ددې مقدار متعین کړو،او دا د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم اجماع قطعی او معتبر هم جوړ کړو۔
دویم په دې خبرې سره ددې تائید کیږی،چې کم نه کم مقدار د حد اتیا کوړې دې،ځنګه چې د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په حوالې سره نقل کړې شو ،لهذا ددې نه کمه سزا حد نهٔ شی ګرځیدلې۔[۳]
او دریمه خبره داده،چې چرته د څلویښتو کوړو ذکر دې،هغه هم په اصل کښې اتیا کوړې وې،ځنګه چې د حضرت انس رضی الله عنه روایت امام مسلم نقل کړې دې:
"فجلَدَه بجریدَتَین نحواً أربعین"۔[۴]
په دوؤ څانګو سره ئې هغه څلویښت واړې اووهلو۔
ددې اګر چې بعضې حضراتو دا معنی کړې ده،چې په دوؤ څانګو لږ لږ ضربونه وهلو سره څلویښت کوړې پوره شوې،بیا هم زمونږ حضرات ددې دا معنی بیانوی،چې په دوؤ څانګو ئې څلویښت څلویښت کوړې اووهلې،او د دواړو مجموعه اتیاؤ پورې اورسیده۔[۵]
د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په اثارو سره د حنفی مذهب تائید: ابن أبی شیبه په خپل مصنف کښې د

---

[۱] إرشاد الساری:۱۱۸۸،۸
[۲] صحیح مسلم،کتاب الحدود،باب حد الخمر،رقم:۱٤٤٥٨
[۳] اوګورئ صحیح مسلم،کتاب الحدود،باب حد الخمر،رقم:۱٤٤٥٤
[٤] صحیح مسلم،کتاب الحدود،باب حد الخمر،رقم:۱٤٤٢٧
[٥] شرح النووی علی مسلم:۱۲۱۵،۱۱

حضرت علی رضی الله عنه اثر نقل کړي دي:

"حدُّ النبيذ ثمانون".(١) د نبيذو د څکلو حد څلويښت کوړې دي.

"أن عمر ضرب في الخمر ثمانين".(٢) چې حضرت عمر رضی الله عنه د شرابو څکلو سزا اتيا کوړې وهلو سره ورکړه.

د ابن عباس رضی الله عنهما اثر ئې نقل کړي دي: "في السكر من النبيذ ثمانون".(٣) کنه په نبيذ څکلو سره نشه شو، نو په دې کښې اتيا کوړې دی.

د شقيق الضبی نه ئې روايت کړي دي: "فيه الحد يضرب ثمانين".(٤)

په دې کښې حد دي، چې د هغې مقدار اتيا کوړې دي.(٥)

٣٤٩٤: (٦) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ حَدَّثَنَا شَاذَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ الْمَاجِشُونُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضي الله عنهما - قَالَ كُنَّا فِي زَمَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - لاَ نَعْدِلُ بِأَبِي بَكْرٍ أَحَدًا ثُمَّ عُمَرَ ثُمَّ عُثْمَانَ، ثُمَّ نَتْرُكُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - لاَ نُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ. تَابَعَهُ عَبْدُ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ. [ر: ٣٤٥٥]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ حَاتِمٍ: دا محمد بن حاتم بن بزيع البصری دي، ددۀ احوال د کتاب الصلاة، باب "الصلاة إلى العنزة" لاندې تير شوي دی.

شَاذَانُ: دا الاسود بن عامر الشامی البغدادی دي، د "شاذان" په لقب سره ملقب دي، ددۀ احوال د کتاب الوضوء، باب "حمل العنزة مع الماء في الاستنجاء" لاندې تير شوي دی.

عَبدُ العَزِيزِ بنُ أَبِي سَلَمَةَ المَاجِشُونَ: ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "السؤال والفتيا عند رمي الجمار" لاندې تير شوی دی.(٧) الماجشون بضم النون هم کيدې شی، په دې شان سره به د عبد

---

(١) مصنّف ابن أبي شيبة: ١٤، ٤٣١، رقم: ٢٨٩٩٠

(٢) مصنّف ابن أبي شيبة: ١٤، ٤٣٣، رقم: ٢٨٩٩٩

(٣) مصنّف ابن أبي شيبة: ١٤، ٤٣٢، رقم: ٢٨٩٩٥

(٤) مصنّف ابن أبي شيبة: ١٤، ٤٣٢، رقم: ٢٨٩٩٦

(٥) دلته د احنافو شوافعو او موالکو په مينځ کښې دا هم يو اختلاف دي، چې د شرابو د قئ کولو په بنياد باندې به حد جاری کولې شي، يا نه. احناف او شوافع وائی، نه، او د مالکيۀ قول دي، چې جاری کيږی به. حديث باب د امام مالک رحمه الله دليل دي. انظر بذل المجهود: ١٢، ١٥٧

(٦) الحديث مرّ تخريجه في فضل أبي بكر بعد النبي ﷺ رقم: ٣٧٦٦

(٧) كشف الباري: ٤، ٥١٨

العزیز صفت وی،او کۀ په کسري د نون سره وی،نو د أبی سلمه صفت به وی،او هسې دغه دواړه په دې سره متصف شوی دی۔[۱]

عُبَیدُ الله:دا عبید الله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر العمری دي،ددۀ احوال د کتاب الوضوء،باب "التیمن فی البیوت" لاندې تیر شوی دی۔

نَافع:دا نافع مولی عبد الله بن عُمر مشهور تابعي دي،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب "ذکر العلم والفُتیا فی المسجد" لاندې تیر شوي دی۔[۲]

ابن عُمَرَ:دا د رسول الله ﷺ صحابی عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دي،ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "الإیمان وقول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس" لاندې تیر شوی دی۔[۳]

په خلفاء اربعؤ کښې د فضیلت مسئله او د حضرت علی رضی الله عنه مرتبه:دا حدیث په فضائل أبی بکر کښې تیر شوي دي،او هم هلته ددې ضروری تشریح هم شوي ده،د خلفاء ثلثه یعنی د حضرت ابوبکر،حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم ددې ترتیب ذکری مطابق د افضلیت چې ترکومې پورې تعلق دي،نو په دې کښې خو څۀ مسئله نشته،او دا د اهل سنت والجماعت متفقه مؤقف دي،چې ابوبکر افضل الصحابه دي،ددې نه ورسته حضرت عمراو بیا حضرت عثمان رضی الله عنهم اوپه دې حوالې سره د حدیث باب نه علاوه د ترمذی هم یو روایت دي،چې هغې حدیث ته هغوی رحمه الله "صحیح غریب" وئیلی دی،او د هغې الفاظ دادی،"کنا نقول ورسول الله ﷺ،أبوبکر،وعمر،وعثمان"۔[۴]

او د طبرانی روایت ددې نه هم زیات صریح دي،چې د هغې الفاظ دادی: "کنا نقول:ورسول الله ﷺ،أفضل هذه الأمة بعد نبیها أبوبکر،وعمر،وعثمان،فیسمع ذلك رسول الله فلا ینکره"۔[۵]

ولې سوال دادې.چې ددې حدیث منشاء او مراد کۀ صرف ظاهری مفهوم بیانول دی،نو بیا خو حضرت علی رضی الله عنه په هیڅ شمیر کښې هم نۀ دي،حال دادې چې د هغۀ څلورمه مرتبه د اهل سنت والجماعت له مخې مسلمه ده.....؟ددې متعلق علامه خطابی رحمه الله وائی:

"إنما لم یذکر ابن عمر علیًا لأنه أراد الشیوخ وذوی الأسنان الذین کان رسول الله اذا حزبه أمرٌ شاورهم وکان علی فی زمانه حدیثَ السن ولم یُرد ابن عمر الإزراء بعلی ولا تأخیره ورفعَه عن الفضیلة بعد عثمان،فضله مشهور لا ینکره ابن عمر ولا غیره من الصحابة وإنما اختلفوا فی تقدیم عثمان علیه"۔[۶]

---

[۱] إرشاد الساری:۱۸۸.۸،وعمدة القاری:۱۲۰۵.۱۵

[۲] کشف الباری:۶۵۱.٤

[۳] کشف الباری:۶۳۷.۱

[٤] فتح الباری:۷۲.۹

[۵] سنن الترمذی،باب فی مناقب عثمان،رقم:۳۳۷۰۷

[۶] المعجم الکبیر:۲۸۵.۱۲،رقم:۱۱۳۱۳۲

یعنی حضرت ابن عمر راوی د حدیث چې د حضرت علی رضی الله عنه ذکر نۀ دې کړې، د هغې وجه داده، چې ابن عمر د لوئې عمر والا د هغه کسانو ذکر کول غواړی، چې د رسول الله ﷺ سره به وو، او هغوی ﷺ ته چې به کله یوه مسئله راپیښه شوه، نو هغوی ﷺ به دوی سره مشوره کوله، او حضرت علی رضی الله عنه په دې وخت کښې نوې زلمې وو، او ددې قابل نۀ وو، چې د هغۀ نه رائې واخستې شی، لهذا د حضرت علی رضی الله عنه نوم په دې وجه نۀ دې پریښودې شوې، چې هغه صاحب د فضیلت یا د هغۀ نه د ورستو صحابۀ نه افضل نۀ وو، او نۀ ابن عمر د هغۀ تحقیر یا توهین کول غوښتل، بلکه صرف د نوی زلمی کیدو په وجه ئې د هغۀ ذکر نۀ دې کړې شوې، کنې د هغۀ فضیلت خو مشهور دې، او د هغې نه ابن عمر یا بل څوك انکار نۀ شی کولې، اختلاف کۀ دې، نو هغه په دې کښې دې، چې آیا حضرت علی رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه نه هم افضل دې، یا حضرت عثمان رضی الله عنه افضل دې۔

حافظ ابن حجر رحمه الله د خطابی دا رائې رد کړې ده، او وې فرمائیل، چې د حضرت علی رضی الله عنه د ذکر نۀ کولو وجه صرف د هغۀ نوې زلمې کیدل ګرځول صحیح نۀ دی، ځکه چې د عمر په افضلیت کښې څۀ اثر او دخل نۀ وی، او د جمهور اهل سنت له مخې د حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورستو د حضرت علی رضی الله عنه د ټولو نه افضل کیدل، بیا د عشره مبشرۀ د باقی ټولو صحابۀ نه، او د بدرییانو د نورو (غیر بدرییانو) نه افضل کیدل محقق او مسلّم دی، په دې وجه (جمهور اهل سنت) ددې روایت په تاویل باندې متفق دی، نو یو تاویل خو دا کړې شوې دې، ابن عمر چې د حضرات أصحاب ثلاثۀ په مینځ کښې د تفضیل ترتیب ذکر کړې دې، ددې مطلب دادې، چې صحابۀ به د تفضیل په باب کښې اجتهاد کولو، نو ددې دریۀ حضراتو فضیلت په مذکوره ترتیب سره خو بالکل واضح دې، نو دا په یقین سره ذکر کولې شی، او د نورو حضراتو درجه په یقین سره نۀ شی ذکر کولې، او تنصیص په دغه وخت کښې د چا په افضلیت باندې نۀ وو شوې۔[1]

ددې تائید د بزار په یو روایت سره هم کیږی، چې د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه مروی دې، او د هغې الفاظ دادی: "کنا تتحدث أن أفضل أهل المدینة علی بن أبی طالب"۔[2]

مونږ به وئیل چې په مدینې والۀ کښې د ټولو نه افضل علی بن أبی طالب دې۔

دلته دا تصریح کړې شوې ده، چې دا به د صحابۀ په خپل مینځ کښې خبرې وې، او هغوی به د خپلې رائې اظهار کولو سره دا وئیل۔

د حضرت علی رضی الله عنه د افضل الصحابه کیدو تاثر: بیا کۀ دا اوئیلې شی چې ددې نه خو د حضرت علی رضی الله عنه د ټولو نه افضل کیدل معلومیږی، او د باب په روایت کښې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضلیت مذکور دې، نو ددې جواب دادې، چې د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ددې قول تعلق د حضرت عمر رضی الله عنه د شهادت نه ورستو زمانې سره دې، او په دغه زمانه کښې په موجود خلقو

---

[1]) فتح الباری: ۷۲،۹

[2]) مسند البزاز: ۵۵،۵ رقم: ۱۱۶۱۶

کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ افضل ترین ګرځیدلو کښې هیڅ د شك خبره نشته. (ما سوا ددې نه چې د هغهٔ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه افضل کیدل لازم راشی. او ددې ذکر وراندې راروان دې).
په هر حال کښې د ابن عمر په حدیث باب کښې په صحابؤ کښې د ابوبکر، عمر او عثمان رضی اللہ عنہم یو بل پسې افضل الصحابه کیدل معلومیږی.
پاتې شوه دا خبره چې حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د اهل سنت والجماعت له مخې د أصحاب ثلاثه نه ورسته ذ نورو نه افضل دې، او دلته د هغې ذکر هم نشته، نو حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی. چې د أصحاب ثلاثه د افضلیت ترتیب د ابن عمر رضی اللہ عنہ د حدیث باب په شان روایاتو نه ثابت دې، او حضرت علی رضی اللہ عنہ خلورم نمبر د حضرت سفینه د مرفوع روایت نه ثابتیږی، چې په هغې کښې د "الخلافة ثلاثون سَنَةً ثم تصیر مُلکا" الفاظ راغلې دی، یعنی خلافت راشده به دیرش کاله وی، بیا به بادشاهت شروع شی. (۱)

په حضرت عثمان رضی اللہ عنہ او حضرت علی رضی اللہ عنہ کښې د افضلیت مسئله: تر کومې پورې چې د حضرت عثمان او حضرت علی رضی اللہ عنہما په مینځ کښې د تفاضل تعلق دې، نو په دې حوالې سره علامه کرمانی د امام شافعی او احمد نه د تفضیل عثمان قول نقل کړې دې. او وې فرمائیل. امام شافعی رحمہ اللہ دا په اجماع د صحابؤ او تابعینو باندې ثابت شوې ګرځولې دې. او د امام مالك مشهور قول هم دغه دې، او بیا فرمائی:

"..... وکافةِ أئمةِ الحدیث والفقه وکثیر من المتکلمین".

چې هم دغه د فقهې او حدیث د ټولو امامانو او د ډیر شمیر متکلمینو هم مذهب دې. او هم دغه د ابو الحسن أشعری او د قاضی ابوبکر باقلانی هم مذهب دې، خو په دې دواړو کښې په دې خبره اختلاف دې، چې آیا دا افضل والې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قطعی دې یا ظنی؟ نو اشعری اول قول یعنی قطعیت ارخ ته مائل دې، او د باقلانی او د امام الحرمین دویم قول (ظنیت) ارخ ته میلان دې. (۲)

قسطلانی ددې د ظنی کیدو د قائلینو مذهب ذکر کولو سره فرمائی:

"لم یقم عندنا دلیل قاطعٌ علی تفضیل بعض الائمة علی بعض اذ العقل لا یدل علی ذلك والاخبار الواردة فی فضائلهم متعارضة ولا یمکن تلقی التفضیل ممن صنَع امامة المفضول ولکن الغالب علی الظن أن أبابکر رضی اللہ عنہ أفضل الخلائق بعد الرسول ثم عمر أفضلهم بعده وتتعارض الظنون فی عثمان وعلی".

یعنی مونږ سره د بعضې ائمو د بعضې نورو په مقابله کښې د افضلیت څهٔ قطعی دلیل نشته، ځکه ظاهره ده، چې عقل خو ددې تقاضا او په دې باندې دلالت نهٔ کوی، او اخبار په دې حوالې سره متعارض دی، او غالب ګمان دغه دې، چې ابوبکر رضی اللہ عنہ خو د رسول الله ﷺ نه ورسته افضل الخلائق دې، ددې نه ورسته حضرت عمر رضی اللہ عنہ افضل دې، او بیا د حضرت

---

(۱) مسند احمد، رقم: ۲۱۹۲۸، وسنن الترمذی، باب ما جاء فی الخلافة، رقم: ۱۲۲۲۶
(۲) إرشاد الساری: ۸، ۱۱۸۹

عثمان رضی الله عنه او د حضرت علی رضی الله عنه په افضلیت کښې ظنون(او آراء)مختلف او متعارض دی، (لهذا دا خبره ظنی شوه)۔[1]

علامه کرمانی رحمه الله د باب په روایت کښې د افضلیت په سلسله کښې د حضرت علی رضی الله عنه د ذکر نۀ کیدو متعلق نور اوفرمائیل،چې اصولیین "کنا نفعل"(د مثبت)په صیغې سره تقریر ثابتوی،او په دې صیغه کښې خو اختلاف دې،او د "کنا لا نفعل"(منفی)په صیغې سره خو د چا له مخې هم تقریر نۀ ثابتیږی،او دلته د "ثم نترك" په "کنا لا نفعل" باندې عطف دې،چې د هغې تقدیر به دا وی، "کنا نترك"۔او "کنا نترك"په عدم فعل باندې د دلالت کولو په وجه د "کنا لا نفعل"په شان دې،لهذا ددې نه دا نۀ ثابتیږی،چې صحابۀ کرام رضی الله عنهم څو څو واړې د أصحاب ثلاثه نه ورسته په باقی صحابۀ کښې تفاضل پریښودو،او رسول الله ﷺ دا اوریدلو او لیدلو سره چپ شو،لهذا معلومه شوه،چې د دوی نه ورسته هیڅ یو کس هم د نورو نه افضل ګرځول صحیح نۀ دی۔

دا وئیل(چې په استمرار سره د تفاضل پریښودلو نه عدم جواز تفاضل ثابتیږی)په دې وجه صحیح نۀ دی،چې د رسول الله ﷺ په سکوت علی استمرار الفعل نه تقریر ثابتیږی،نۀ چې د سکوت علی استمرار الترك نه۔

او کۀ بالفرض ثابت هم شی،نو بیا هم هغه د عملیاتو د قبیلې نه نۀ دې،بلکه د اعتقادیاتو د قبیلې نه دې،لهذا په دې کښې "ظن"کافی نۀ دې،یقینی دلیل کیدل پکار دی،او کۀ ظنی دلیل هم اومنلې شی،نو بیا ددې نه ډیر قوی دلیل ددې سره معارض دې،د هغې په وجه باندې دا د اعتبار ور نۀ دې۔

او بیا د صحابۀ کرام رضی الله عنهم دا عمل چې د هغې ابن عمر ذکر اوفرمائیلو،دا به د رسول الله ﷺ په یو د زمانه کښې شوې وی،خو ددې نه دا څنګه لازم راځی،چې ددې نه ورسته هم د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د حضرت علی رضی الله عنه د نورو نه د افضلیت ذکر نۀ دې راغلې، خامخا به راغلې وی،خصوصاً کله چې ددې ذکر منقول هم دې،او کۀ مونږ دا هم اومنو،چې ذکر به ئې نۀ وی راغلې،نو دا هم مضر نۀ دې،ځکه چې د حضرت عثمان رضی الله عنه نه ورسته د حضرت علی رضی الله عنه په افضلیت باندې اجماع ده۔[2]

د شارحین حدیث ددې تفصیلاتو نه خو دا خامخا معلومیږی،چې د حضرت عثمان رضی الله عنه په تفضیل کښې بعضې اهل سنتو ته تردد او تامل دې،او په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې د حضرت علی رضی الله عنه د تفضیل هم بعضې اهل سنت قائل دی،یا د حضرت عثمان رضی الله عنه افضلیت په حضرت علی رضی الله عنه باندې په هغې قطعیت سره ثابت نۀ دې،په کوم سره چې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضلیت ثابت دې،علامه عینی رحمه الله فرمائی:

---

[1] إرشاد الساری:۸.۱۱۸۹

[2] فتح الباری:۹.۱۷۲

"قلت فی دعواه الاجماع: الکرمانی الإجماع نظر، لأن جماعة من أهل السنة یقدمون علیا علی عثمان رضی الله عنهما".(۱)
یعنی زه وایم چې د کرمانی د اجماع په دعوی کښې د نظر او اشکال څائې شته، ځکه چې هم د اهل سنتو یوه ډله حضرت علی رضی الله عنه په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې مقدم کوی.
خو بیا هم دا خبره په ذهن کښې ساتئ چې حضرت عثمان رضی الله عنه افضل دې، او هم په دې باندې د اهل سنت والجماعت تقریبا اتفاق دې.
شارح د العقیدة الطحاویة علامه ابن أبی العز الحنفی وائی:
"وترتیب الخلفاء الراشدین رضی الله عنهم أجمعین فی الفضل کترتیبهم فی الخلافة".(۲)
یعنی کوم چې د خلافت ترتیب دې، په ابوبکر، عمر، عثمان، علی رضی الله عنهم کښې هم دغه د فضلیت ترتیب هم دې.
او وړاندې فرمائی: "وقد روی عن أبی حنیفة تقدیم علی علی عثمان، ولکن ظاهر مذهبه تقدیم عثمان علی علی وعلی هذا عامة أهل السنة".(۳)
د امام ابو حنیفه رحمه الله نه یو روایت د حضرت علی رضی الله عنه د افضلیت هم منقول دې، خو ظاهر مذهب د هغۀ هم تقدیم د عثمان رضی الله عنه دې، او هم دغه د عام اهل سنت والجماعت مذهب دې.
قوله: تابعه عبد الله بن صالح: یعنی د شاذان متابعت عبد الله بن صالح هم کړې دې، او د ابن صالح نه مراد عبد الله بن صالح الجهنی المصری دې، چې د لیث کاتب دې، او یو قول دادې، چې دا عبد الله بن صالح بن مسلم العجلی الکوفی دې، چې د کتاب الثقات مؤلف دې، او دا دواړه د امام بخاری شیوخ دی.(۴)
د امام بخاری رحمه الله ددې تعلیق مقصد دادې، چې د شاذان د عبد العزیز بن أبی سلمة الماجشون نه روایت ثابت دې، ځکه چې هم دا روایت ابن صالح د عبد العزیز بن أبی سلمه نه روایت کوی.
او د شاذان د عبد العزیز نه د روایت ثابتولو ضرورت په دې وجه پیدا شو، چې عباس الدوری دا روایت د شاذان نه په دې الفاظو سره روایت کړې دې:
"من الفرج بن فضالة عن یحیی بن سعید عن نافع".
چې ددې نه دا وهم پیدا کیدې شی چې شاید شاذان د عبد العزیز نه روایت نۀ وی کړې، نو امام بخاری متابع ذکر کولو سره ددې خبرې توثیق اوکړو، چې د عبد العزیز بن أبی سلمه نه ددې حدیث روایت صحیح دې.

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۰۶،۱۶
۲) شرح العقیدة الطحاویة، ص: ۱۴۸۵
۳) شرح العقیدة الطحاویة، ص: ۱۴۸۵
۴) عمدة القاری: ۱۲۰۶،۱۶

او گويا د شاذان په دې روايت کښې دوه شيخان دى،عبد العزيز او فرج بن فضاله. اسماعيلى هم د ابو عمار، الرمادى، عثمان بن أبى شيبه او د څو نورو حضراتو په طريقې سره د اسود بن عامر(يعنى د شاذان)نه دا روايت کړې دې، هم دغه شان د عبد العزيز نه د هغۀ غلام ابو سلمة الخزامى او حجين بن المثنى دا روايت کړې دې.[1]

ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث او ترجمة الباب کښې مطابقت داسې دې،چې د حديث نه د شيخينو نه ورسټو د حضرت عثمان رضي الله عنه افضليت معلوميږى،او باب هم په مناقبو د "حضرت عثمان رضي الله عنه" کښې دې.[2]

٣٤٩٥: [3] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ - هُوَ ابْنُ مَوْهَبٍ - قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ حَجَّ الْبَيْتَ فَرَأَى قَوْمًا جُلُوسًا، فَقَالَ مَنْ هَؤُلاَءِ الْقَوْمُ قَالَ هَؤُلاَءِ قُرَيْشٌ. قَالَ فَمَنِ الشَّيْخُ فِيهِمْ قَالُوا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ. قَالَ يَا ابْنَ عُمَرَ إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ شَىْءٍ فَحَدِّثْنِي هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ نَعَمْ. قَالَ تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ وَلَمْ يَشْهَدْ قَالَ نَعَمْ. قَالَ تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ. قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ تَعَالَ أُبَيِّنْ لَكَ أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ وَغَفَرَ لَهُ، وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ، فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَكَانَتْ مَرِيضَةً، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - «إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ». وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ مَكَانَهُ فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِيَدِهِ الْيُمْنَى «هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ». فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ، فَقَالَ «هَذِهِ لِعُثْمَانَ». فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ اذْهَبْ بِهَا الآنَ مَعَكَ. [ر: ٢٩٦٢]

رجال الحديث

مُوسى بنُ اسمَاعيلَ: دا موسى بن اسماعيل التبوذكى دې، ددۀ احوال په كتاب بدء الوحى كښې د څلورم نمبر حديث لاندې تير شوې دى.[4]

أَبُو عَوَانَةَ: دا ابو عوانه وضاح بن عبد الله اليشكرى دې، ددۀ احوال هم په كتاب بدء الوحى كښې په څلورم نمبر حديث كښې تير شوې دى.[5]

---

[1] اوګورئ:فتح البارى:٧٢،٩،تغليق التعليق على صحيح البخارى:٤،٦٧

[2] عمدة القارى:١٦،٢٠٥

[3] الحديث مر تخريجه فى كتاب فرض الخمس،باب إذا بعث الإمام رسولاً فى حاجة أو أمره بالمقام هل يسهم له.

[4] كشف البارى:١،٤٣٣

[5] كشف البارى:١،٤٣٤

عُثْمَانُ: دا عثمان بن عبد الله بن موهب الاعرج مولى بن تميم البصرى دي، ددۀ احوال د کتاب الزکاة، باب "وجوب الزکاة" لاندې تير شوي دی.

يو بل عثمان بن موهب هم دي، چې ددۀ نه وړوکې دي، او د حضرت انس نه روايت کوی، د هغۀ راوی دي.[1]

قوله: رَجُلٌ مِنْ أهلِ مِصرَ: حافظ ابن حجر رحمه الله وائی، زۀ ددې سړی د نوم نه، او دۀ ته جواب ورکونکی او د قوم د نومونو نه واقف شوی نۀ یم، بیا هم په دې حوالې سره د علاء بن عرار او حکیم نامې ئې ښودلې دی، او دا نومونه اقرب إلى الصواب ګرځولې شوې دی.[2]

د "مَنِ الشَّیخ" معنی ده، من الشیخ الکبیر؟ یعنی په دوی کښې د مرجع د حیثیت لوئې شیخ څوک دي؟

سائل مذکور د حضرت عثمان رضي الله عنه سخت مخالف وو، ابن عمر د هغۀ په امیدونو باندې اُوبۀ واړولې: کله چې حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه سائل مذکور ته د هغۀ د سوالونو او جوابونو په اثبات کښې جواب ورکړو، او ټول اعتراضات ئې یو قسم تسلیم کړل، نو سائل د الله اکبر نعره وهلو سره د خپلې خوشالئ او په خپل مطلوب کښې د کامیابئ اظهار اوکړو، ددې نه معلومیږی، چې هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه سره سخت تعصب لرو، او د هغۀ په خلاف فضاء جوړولو او شرارتونو کولو کښې مصروف وو.

په کتاب التفسیر کښې دي سره نزدې نزدې قیصه مذکور ده، چې په هغې کښې دا الفاظ هم دی: "فلما رأى أنه لا يوافه فيما يريد قال: فما قولك في علي وعثمان".[3]

کله چې دې سړی ته اندازه اوشوه، چې ابن عمر رضي الله عنه ددۀ د مطلب څۀ خبره نۀ کوی، نو هغۀ بل سوال اوکړو، او د هغۀ په جواب کښې هم ابن عمر رضي الله عنه عجیبه جمله ارشاد فرمائیلو سره د هغۀ خلۀ بنده کړه. وې فرمائیل:

"أما عثمان فكان الله قد عفا عنه فكرهتم أن تعفوا عنه".[4]

د حضرت عثمان رضي الله عنه معامله دادۀ، چې هغه الله تعالى معاف کړو، خو تاسو معاف کولو ته تیار نۀ ئی!

په ظاهره باندې دا یوه قیصه ده، او ددې نه معلومیږی، چې ددې سړی د حضرت عثمان رضي الله عنه سره تعصب وو.

او دلته هم ابن عمر رضي الله عنه په آخر کښې اوفرمائیل: "اذهب بها الآن معك".

---

[1] فتح الباری: ۹، ۱۷۲

[2] فتح الباری: ۹، ۱۷۳

[3] کتاب التفسیر، باب وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة، رقم: ۱٤٦٥٠

[4] کتاب التفسیر، باب وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة، رقم: ۱٤٦٥٠

ددې مطلب هم دغه دې، چې هغې اعتراضاتو او جواباتو سره دا تاویلات او توجیهات هم ملګری کولو سره لاړ شه، دې د پاره چې ستا مطلب بیا هم حاصل نۀ شی، او ددې عذرونو نه ورستو په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې ستا په اعتراضاتو او زما په جواباتو کښې ستا د پاره ځۀ حجیت پاتې نۀ شی. علامه طیبی رحمه الله فرمائی:

"قال له ابن عمر تهکمًا به أی توجّه بما تمسکتَ به فإنه لا ینفعك بعد ما بینتُ لك".(۱)

یعنی ابن عمر رضی الله عنه دغه سړی ته استهزاءً او تهکمًا اووئیل چې لاړ شه ځه، زما ددې بیان نه ورستو په مذکوره واقعاتو کښې ستا د پاره استدلال ممکن پاتې نۀ شو. او ګویا وې فرمائیل، تا ته په هغۀ حضرت عثمان رضی الله عنه باندې د اعتراضاتو تصویب پکار وو، نو واخله زۀ تصویب کووم، او تۀ په شوق سره د هغې نه استدلال کوه، (حال دادې، چې هغۀ د پاره د استدلال هیڅ لار پاتې نۀ شوه).

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه توجیهات: د حدیث د سیاق نه معلومیږی، چې حضرت ابن عمر اول کښې د دغه سړی په مطلب نۀ وو پوهه شوې، په دې وجه د هغۀ د سوالونو جوابونه بغیر د ځۀ شرط او قید نه ورکړې شو، خو کله چې هغۀ د الله اکبر نعره اووهله، نو عبد الله بن عمر رضی الله عنه پوهه شو، چې ددې سړی مقصد صرف معلومات حاصلول نۀ وو، بلکه ځۀ بل ځۀ دی. نو هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل، "تعال أبیّن لك" راشه! زۀ تا ته ددې توجیهات ښائم، او بیا هغۀ هر یو اعتراض په معقول عذر او مناسب توجیه سره دفع کړو، کۀ هغوی ته د شروع نه د سائل د مقصد او نیت اندازه وې، نو د هغۀ د هر اعتراض جواب ورکولو سره سره به ئې د هغې عذر هم بیانولو.

اوګورئ حضرت ابن عمر رضی الله عنه څومره ښکلې جوابونه ورکړل.

ترکومې پورې چې د غزوۀ احد نه د حضرت عثمان رضی الله عنه د فرار د واقعې تعلق دې، نو د هغې په جواب کښې ئې اووئیل: "فأشهد أن الله عفا عنه وغفر له". یعنی زۀ ګواهی ورکوم، چې الله تعالی هغۀ معاف کړو. او بخښش ئې ورته اوکړو.

د هغوی رضی الله عنه د ارشاد اشاره د الله تعالی ارشاد (إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۙ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ۝)(۲) ارخ ته ده.

او پاتې شوه د غزوۀ بدر نه د حضرت عثمان رضی الله عنه د تخلف او پاتې کیدلو معامله، نو وې فرمائیل، چې په غزوۀ بدر کښې شریك کیدونکو ته یو خو دنیوی فائده اوشوه، او دویم اُخروی اجر ملاؤ شو، او هغه دواړۀ څیزونه حضرت عثمان رضی الله عنه ته بغیر د شرکت کولو نه ملاؤ شو. څنګه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دې:

"إن لك أجر رجل ممن شهد بدرًا وسهمه". ستا د پاره په جنګِ بدر کښې د شرکت کونکی یو سړی

---

۱) فتح الباری: ۹، ۷٤. وشرح الطیبی بلفظ غیر هذا.....شرح الطیبی: ۱۱، ۱۲۵۸

۲) سورۃ ال عمران. آیت: ۱۵۵

برابر اجر او د هغهٔ هومره برخه ده(په غنیمت کښې).
حافظ په دې حوالې سره د حاکم یو روایت ذکر کړې دې،چې په مستدرك د حاکم کښې منقول دې:
دا د حماد بن سلمه عن هشام بن عروة عن أبیه په طریقې سره روایت دې،او د هغې الفاظ دادی: "خلف النبی ﷺ عثمان وأسامة بن زید علی رقیة فی مرضها لما خرج إلی بدر فماتت رقیة حین وصل زید بن حارثه بالبشارة، وکان عمر رقیة لما ماتت عشرین سنة."(۱)
اُوس کله چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ورسټو پاتې کیدل د خپل څهٔ ذاتی غرض،ویرې یا د یوې بلې کمزورئ په وجه نهٔ وو،بلکه د رسول الله ﷺ په اجازت او حکم سره د هغوی ﷺ د خوښې لور د وجهې نه وو،نو په دې کښې د قیل او قال،نقد او جرح څهٔ ځائې دې.
پاتې شو د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په بیعة الرضوان کښې نهٔ شریك کیدل،نو دا اعتراض هم څومره بې بنیاده دې؟یو خو دا کتل پکار دی،چې کهٔ په دغه وادې کښې د رسول الله ﷺ په نظر کښې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه زیات معزز بل څوك وې،نو هغوی ﷺ به هم هغهٔ لیږلو،ولې نهٔ وو،په دې وجه ئې هغهٔ(یعنی عثمان رضی اللہ عنہ)اولیږلو،نو کومه خبره چې په هغوی باندې د اعتراض د پاره اوکړې شوه،په هغې سره د هغوی رضی اللہ عنہ نور هم فضیلت ثابت شو.
دویم دا چې په دې بیعت کښې اګر چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ شریك نهٔ شو،او د هغوی رضی اللہ عنہ لاس رسول الله ﷺ ارخ ته د بیعت د پاره وراندې نهٔ شو،نو په دې سره د هغوی رضی اللہ عنہ حیثیت کم نهٔ شو،بلکه نور هم زیات شو،چې رسول الله ﷺ خپل دویم لاس مبارك د هغهٔ د ارخ نه ملاؤ کړو،نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ به پخپله په هغې فخر کولو سره ارشاد فرمائیلو،"فشمال رسول الله ﷺ خیر لی من یمینی".(۲) د رسول الله ﷺ چې لاس زما د خپل سم لاس نه زما د پاره غوره دې.
او دریم دا چې د بیعت رضوان ضرورت خو ددې وجهې پیدا شوې وو،چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ پیغام اخستلو سره مکې معظمې ته تلې وو،هلته د هغوی د قتل وغیره خبره خوره شوه،په دې سره رسول الله ﷺ صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم سره د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د بدل اخستلو د پاره بیعت اوکړو،اُوس په دې کښې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د پاره د ملامتیا خبره څهٔ ده؟دا خو د هغهٔ د پاره د اعزاز خبره ده.(۳)
ترجمة الباب سره مناسبت: د روایت د ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې،ځکه چې دلته د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د مغفور،معفو او ماجور او کم نه کم د معذور کیدو ذکر دې.(۴)

---

(۱) المستدرك علی الصحیحین للحاکم: ۵۱،۴،رقم: ۶۸۵۱
(۲) مسند البزار،مسند لعبد ابن المسیب،رقم: ۳۸۰
(۳) تفصیل د پاره اوګورئ، فتح الباری: ۷۴،۹،وعمدة القاری: ۲۰۷،۱۶
(۴) عمدة القاری: ۲۰۶،۱۶

۳۴۹۶: (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا - رضی الله عنه - حَدَّثَهُمْ قَالَ صَعِدَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أُحُدًا، وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ، فَرَجَفَ وَقَالَ «اسْكُنْ أُحُدُ - أَظُنُّهُ ضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ - فَلَيْسَ عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ» [ر: ۳۴۷۲]

رجال الحديث

مُسَدَّدٌ: دا مُسدَّد بن مُسرهد أسدي دي، ددهٔ احوال په کتاب الإيمان، باب "مِنَ الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" کښې تير شوي دي۔ (۲)

يَحْيَى: دا يحيى بن سعيد القطان دي۔ (۳)

ددهٔ احوال هم په اختصار سره په کتاب الإيمان، باب "مِنَ الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" کښې تير شوي دي۔ (۴)

سَعِيد: دا سعيد بن أبي عروبه دي، ددهٔ احوال په کتاب الغسل، باب "إذا جامع ثم عاد....." کښې تير شوي دي۔

قَتَادَةَ: دا مشهور تابعي قتادة بن دعامه دي، ددهٔ احوال هم په اختصار سره په کتاب الإيمان، باب "مِنَ الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" کښې تير شوي دي۔ (۵)

أَنَس: د رسول الله ﷺ صحابي انس بن مالك مراد دي، ددهٔ احوال هم په اختصار سره په کتاب الإيمان، باب "مِنَ الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه" کښې تير شوي دي۔ (۶)

قوله: أُسْكُنْ أُحُدُ: "أُحد" په ضمي د دال سره منادیٰ مفرد ده، او حرف نداء محذوف ده۔

په أحد او حراء دواړو باندې دا واقعه شوې ده: په بعضي روایاتو کښې د "أحد" په ځائې د "حراء" لفظ دي۔ په دې باندې په فضائل أبي بكر کښې ضروری بحث شوې دي، او په هغې کښې دا خبره هم راغلې ده، چې متعدد واقعات دي، نو کوم ځائې کښې چې د "أحد" ذکر دي، هغه هم صحیح دي۔ او په هغې کښې هغې واقعې ذکر دي، کومه چې د أحد په غر باندې شوې ده، او په کومې کښې چې د حراء ذکر دي، هغه هم صحیح ده، او په هغې کښې د هغې واقعې ذکر دي، کومه چې د غارِ حراء سره نزدې واقع شوه، او د احد د واقعې سره ملاویږي۔

---

(۱) الحديث مرّ تخريجه في (۳۶۷۵)۱

(۲) كشف الباري: ۱۲.۲

(۳) كما يتضح من حديث رقم: ۳۶۷۵. انظر شرح القسطلاني: ۱۶۷.۸۱

(۴) اوګورئ کشف الباري: ۱۲.۲

(۵) اوګورئ کشف الباري: ۱۳.۲

(۶) اوګورئ کشف الباري: ۱۴.۲

حافظ ابن حجر رحمه الله دا ذکر کړې ده،او څو نور روایات ئې ددې په تائید کښې نقل کړې دی،یو خو امام مسلم په خپل صحیح کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت نقل کړې دې:

"ان رسول الله ﷺ کان علی جبل حراء فتحرك،فقال رسول الله ﷺ أسكن حراء فما عليك إلا نبيٌ أو صديقٌ أو شهيد".(۱)

رسول الله ﷺ په جبل حراء باندې وو،نو هغه أوخوزیدو،نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل،حراء اودریږه،چې په تا باندې خو نبی یا صدیق یا شهید ولاړ دې.

دلته اګر چې رسول الله ﷺ سره د أصحاب ثلاثه نه علاوه نورو حضرات صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ذکر هم دې،خنګه چې وړاندې په دې روایت کښې دا الفاظ هم دی:

"وعليه النبي ﷺ وأبوبكر وعمر وعثمان وعلي وطلحة والزبير وسعد بن أبي وقاص رضی الله عنهم".(۲)

یعنی.....په هغې باندې رسول الله ﷺ،ابوبکر،عمر،عثمان،علی،طلحة،زبیر،سعد بن أبی وقاص رضی الله عنهم وو.

بیا هم د خطاب الفاظ هم دغه وو،یعنی "ماعليك إلا نبي أو صديق أو شهيد".

او هم په مسلم کښې ددې نه په وړاندې روایت کښې د "فتحركت الصخرة" او بیا د "اسكن" په ځائې د اهدأ لفظ دې،او په هغې کښې د سعد ذکر هم نشته.(۳)

د ابوهریره رضی الله عنه دا روایت امام ترمذی هم نقل کړې دې،او ددې د یو شاهد ذکر ئې هم د "وفی الباب" په عنوان سره کړې دې،چې د سعید بن زید روایت دې.(۴)

او روایت باب چې په دې کښې د أصحاب ثلاثه ذکر دې،او بیا د أحد نوم دې،نهٔ د حراء،دا هم امام ترمذی د هغې نه ورسته متصلاً ذکر کړې دې.(۵)

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت: ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت دادې،چې دلته د دوؤ شهیدانو ذکر دې.چې ددې نه مراد حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه دی،هم دغه د حضرت عثمان رضی الله عنه منقبت او فضیلت دې،چې رسول الله ﷺ د هغه په ژوند کښې هغهٔ شهید اوګرځولو.دې نه معلومیږی،چې ددهٔ د شهادت خبر رسول الله ﷺ ته د وحی په ذریعه شوې وو.او هم دغه د هغوی د شهادت د قبلیدو هم دلیل دې، رضی الله عنه وارضاه.

د روایت په تقدیم او تاخیر کښې د نسخو فرق: دا روایت د اکثرو له مخې خو دلته یعنی د

---

۱) صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب فضائل طلحة والزبیر،رقم:۶۲۴۸\

۲) صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب فضائل طلحة والزبیر،رقم:۶۲۴۸\

۳) صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب فضائل طلحة والزبیر،رقم:۶۲۴۷\

۴) اوګورئ جامع الترمذی،کتاب المناقب،باب فی مناقب عثمان بن عفان،رقم:۳۶۹۶\

۵) جامع الترمذی،کتاب المناقب،باب مناقب عثمان،رقم:۳۶۹۷\

موسى بن اسماعيل د روايت نه ورستو دي، او د ابو ذر په نسخه كښې دا د محمد بن حاتم د روايت نه وړاندې دي.

د صحيح بخارى چې كومه نسخه متداول ده، او زمونږ وړاندې ده، په هغې كښې هم دا د محمد بن حاتم د روايت نه وړاندې دي، هم دغه ابن حجر هم اختيار كړې دي،[1] او د صحيح بخارى نورو شارحينو دا روايت د دې باب آخرى روايت ګرځولې دي.[2]

۸-باب: قِصَّةُ الْبَيْعَةِ، وَالاِتِّفَاقُ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضى الله عنه

۳۴۹۷:[3] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ: رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه - قَبْلَ أَنْ يُصَابَ بِأَيَّامٍ بِالْمَدِينَةِ وَقَفَ عَلَى حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ وَعُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ، قَالَ كَيْفَ فَعَلْتُمَا أَتَخَافَانِ أَنْ تَكُونَا قَدْ حَمَّلْتُمَا الأَرْضَ مَا لاَ تُطِيقُ قَالاَ حَمَّلْنَاهَا أَمْرًا هِيَ لَهُ مُطِيقَةٌ، مَا فِيهَا كَبِيرُ فَضْلٍ. قَالَ انْظُرَا أَنْ تَكُونَا حَمَّلْتُمَا الأَرْضَ مَا لاَ تُطِيقُ، قَالَ قَالاَ لاَ. فَقَالَ عُمَرُ لَئِنْ سَلَّمَنِي اللَّهُ لأَدَعَنَّ أَرَامِلَ أَهْلِ الْعِرَاقِ لاَ يَحْتَجْنَ إِلَى رَجُلٍ بَعْدِي أَبَدًا. قَالَ فَمَا أَتَتْ عَلَيْهِ إِلاَّ رَابِعَةٌ حَتَّى أُصِيبَ. قَالَ إِنِّي لَقَائِمٌ مَا بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلاَّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ غَدَاةَ أُصِيبَ، وَكَانَ إِذَا مَرَّ بَيْنَ الصَّفَّيْنِ قَالَ اسْتَوُوا. حَتَّى إِذَا لَمْ يَرَ فِيهِنَّ خَلَلاً تَقَدَّمَ فَكَبَّرَ، وَرُبَّمَا قَرَأَ سُورَةَ يُوسُفَ، أَوِ النَّحْلَ، أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ، فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى حَتَّى يَجْتَمِعَ النَّاسُ، فَمَا هُوَ إِلاَّ أَنْ كَبَّرَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ قَتَلَنِي - أَوْ أَكَلَنِي - الْكَلْبُ. حِينَ طَعَنَهُ، فَطَارَ الْعِلْجُ بِسِكِّينٍ ذَاتِ طَرَفَيْنِ لاَ يَمُرُّ عَلَى أَحَدٍ يَمِينًا وَلاَ شِمَالاً إِلاَّ طَعَنَهُ حَتَّى طَعَنَ ثَلاَثَةَ عَشَرَ رَجُلاً، مَاتَ مِنْهُمْ سَبْعَةٌ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، طَرَحَ عَلَيْهِ بُرْنُسًا، فَلَمَّا ظَنَّ الْعِلْجُ أَنَّهُ مَأْخُوذٌ نَحَرَ نَفْسَهُ، وَتَنَاوَلَ عُمَرُ يَدَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فَقَدَّمَهُ، فَمَنْ يَلِي عُمَرَ فَقَدْ رَأَى الَّذِي أَرَى، وَأَمَّا نَوَاحِي الْمَسْجِدِ فَإِنَّهُمْ لاَ يَدْرُونَ غَيْرَ أَنَّهُمْ قَدْ فَقَدُوا صَوْتَ عُمَرَ وَهُمْ يَقُولُونَ سُبْحَانَ اللَّهِ سُبْحَانَ اللَّهِ. فَصَلَّى بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ صَلاَةً خَفِيفَةً، فَلَمَّا انْصَرَفُوا. قَالَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، انْظُرْ مَنْ قَتَلَنِي. فَجَالَ سَاعَةً، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ غُلاَمُ الْمُغِيرَةِ. قَالَ الصَّنَعُ قَالَ نَعَمْ. قَالَ قَاتَلَهُ اللَّهُ لَقَدْ أَمَرْتُ بِهِ مَعْرُوفًا، الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَجْعَلْ مَنِيَّتِي بِيَدِ رَجُلٍ يَدَّعِي الإِسْلاَمَ، قَدْ كُنْتَ أَنْتَ وَأَبُوكَ تُحِبَّانِ أَنْ تَكْثُرَ الْعُلُوجُ بِالْمَدِينَةِ وَكَانَ { الْعَبَّاسُ } أَكْثَرَهُمْ رَقِيقًا. فَقَالَ إِنْ شِئْتَ فَعَلْتُ. أَيْ إِنْ شِئْتَ قَتَلْنَا. قَالَ كَذَبْتَ، بَعْدَ مَا تَكَلَّمُوا بِلِسَانِكُمْ، وَصَلَّوْا قِبْلَتَكُمْ وَحَجُّوا حَجَّكُمْ فَاحْتُمِلَ إِلَى بَيْتِهِ فَانْطَلَقْنَا مَعَهُ، وَكَأَنَّ

---

[1] فتح البارى: ۹.۱۱۱

[2] إرشاد السارى: ۸.۱۹۱، وعمدة القارى: ۱۵.۱۲۰۷

[3] الحديث قد مر تخريجه فى كتاب الجنائز، باب ما جاء فى قبر النبى ﷺ، وأبى بكر وعمر، رقم: ۱۱۳۹۲

النَّاسَ لَمْ تُصِبْهُمْ مُصِيبَةٌ قَبْلَ يَوْمِئِذٍ، فَقَابِلٌ يَقُولُ لاَ بَأْسَ. وَقَابِلٌ يَقُولُ أَخَافُ عَلَيْهِ، فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ فَشَرِبَهُ فَخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ، ثُمَّ أُتِيَ بِلَبَنٍ فَشَرِبَهُ فَخَرَجَ مِنْ جُرْحِهِ، فَعَلِمُوا أَنَّهُ مَيِّتٌ، فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ، وَجَاءَ النَّاسُ يُثْنُونَ عَلَيْهِ، وَجَاءَ رَجُلٌ شَابٌّ، فَقَالَ أَبْشِرْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ بِبُشْرَى اللَّهِ لَكَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَقَدَمٍ فِي الإِسْلاَمِ مَا قَدْ عَلِمْتَ، ثُمَّ وَلِيتَ فَعَدَلْتَ، ثُمَّ شَهَادَةٌ. قَالَ وَدِدْتُ أَنَّ ذَلِكَ كَفَافٌ لاَ عَلَىَّ وَلاَ لِيَ. فَلَمَّا أَدْبَرَ، إِذَا إِزَارُهُ يَمَسُّ الأَرْضَ. قَالَ رُدُّوا عَلَىَّ الْغُلاَمَ قَالَ ابْنَ أَخِي ارْفَعْ ثَوْبَكَ، فَإِنَّهُ أَبْقَى لِثَوْبِكَ وَأَتْقَى لِرَبِّكَ، يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ انْظُرْ مَا عَلَىَّ مِنَ الدَّيْنِ. فَحَسَبُوهُ فَوَجَدُوهُ سِتَّةً وَثَمَانِينَ أَلْفًا أَوْ نَحْوَهُ، قَالَ إِنْ وَفَى لَهُ مَالُ آلِ عُمَرَ، فَأَدِّهِ مِنْ أَمْوَالِهِمْ، وَإِلاَّ فَسَلْ فِي بَنِي عَدِيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَإِنْ لَمْ تَفِ أَمْوَالُهُمْ فَسَلْ فِي قُرَيْشٍ، وَلاَ تَعْدُهُمْ إِلَى غَيْرِهِمْ، فَأَدِّ عَنِّي هَذَا الْمَالَ، انْطَلِقْ إِلَى عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ فَقُلْ يَقْرَأُ عَلَيْكِ عُمَرُ السَّلاَمَ. وَلاَ تَقُلْ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ. فَإِنِّي لَسْتُ الْيَوْمَ لِلْمُؤْمِنِينَ أَمِيرًا، وَقُلْ يَسْتَأْذِنُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَنْ يُدْفَنَ مَعَ صَاحِبَيْهِ. فَسَلَّمَ وَاسْتَأْذَنَ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَيْهَا، فَوَجَدَهَا قَاعِدَةً تَبْكِي فَقَالَ يَقْرَأُ عَلَيْكِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ السَّلاَمَ وَيَسْتَأْذِنُ أَنْ يُدْفَنَ مَعَ صَاحِبَيْهِ. فَقَالَتْ كُنْتُ أُرِيدُهُ لِنَفْسِي، وَلأُوثِرَنَّ بِهِ الْيَوْمَ عَلَى نَفْسِي. فَلَمَّا أَقْبَلَ قِيلَ هَذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قَدْ جَاءَ. قَالَ ارْفَعُونِي، فَأَسْنَدَهُ رَجُلٌ إِلَيْهِ، فَقَالَ مَا لَدَيْكَ قَالَ الَّذِي تُحِبُّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَذِنَتْ. قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ، مَا كَانَ مِنْ شَىْءٍ أَهَمَّ إِلَىَّ مِنْ ذَلِكَ، فَإِذَا أَنَا قَضَيْتُ فَاحْمِلُونِي ثُمَّ سَلِّمْ فَقُلْ يَسْتَأْذِنُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، فَإِنْ أَذِنَتْ لِي فَأَدْخِلُونِي، وَإِنْ رَدَّتْنِي رُدُّونِي إِلَى مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ. وَجَاءَتْ أُمُّ الْمُؤْمِنِينَ حَفْصَةُ وَالنِّسَاءُ تَسِيرُ مَعَهَا، فَلَمَّا رَأَيْنَاهَا قُمْنَا، فَوَلَجَتْ عَلَيْهِ فَبَكَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً، وَاسْتَأْذَنَ الرِّجَالُ، فَوَلَجَتْ دَاخِلاً لَهُمْ، فَسَمِعْنَا بُكَاءَهَا مِنَ الدَّاخِلِ. فَقَالُوا أَوْصِ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اسْتَخْلِفْ. قَالَ مَا أَجِدُ أَحَقَّ بِهَذَا الأَمْرِ مِنْ هَؤُلاَءِ النَّفَرِ أَوِ الرَّهْطِ الَّذِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ. فَسَمَّى عَلِيًّا وَعُثْمَانَ وَالزُّبَيْرَ وَطَلْحَةَ وَسَعْدًا وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ وَقَالَ يَشْهَدُكُمْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَلَيْسَ لَهُ مِنَ الأَمْرِ شَىْءٌ - كَهَيْئَةِ التَّعْزِيَةِ لَهُ - فَإِنْ أَصَابَتِ الإِمْرَةُ سَعْدًا فَهُوَ ذَاكَ، وَإِلاَّ فَلْيَسْتَعِنْ بِهِ أَيُّكُمْ مَا أُمِّرَ، فَإِنِّي لَمْ أَعْزِلْهُ عَنْ عَجْزٍ وَلاَ خِيَانَةٍ.

وَقَالَ أُوصِي الْخَلِيفَةَ مِنْ بَعْدِي بِالْمُهَاجِرِينَ الأَوَّلِينَ أَنْ يَعْرِفَ لَهُمْ حَقَّهُمْ، وَيَحْفَظَ لَهُمْ حُرْمَتَهُمْ، وَأُوصِيهِ بِالأَنْصَارِ خَيْرًا، الَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ، أَنْ يُقْبَلَ مِنْ مُحْسِنِهِمْ، وَأَنْ يُعْفَى عَنْ مُسِيئِهِمْ، وَأُوصِيهِ بِأَهْلِ الأَمْصَارِ خَيْرًا فَإِنَّهُمْ رِدْءُ الإِسْلاَمِ، وَجُبَاةُ الْمَالِ، وَغَيْظُ الْعَدُوِّ، وَأَنْ لاَ يُؤْخَذَ مِنْهُمْ إِلاَّ فَضْلُهُمْ عَنْ رِضَاهُمْ، وَأُوصِيهِ بِالأَعْرَابِ خَيْرًا، فَإِنَّهُمْ أَصْلُ الْعَرَبِ وَمَادَّةُ الإِسْلاَمِ أَنْ يُؤْخَذَ مِنْ حَوَاشِي أَمْوَالِهِمْ وَتُرَدَّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، وَأُوصِيهِ بِذِمَّةِ اللَّهِ وَذِمَّةِ رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يُوفَى لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ، وَأَنْ يُقَاتَلَ مِنْ وَرَائِهِمْ، وَلاَ يُكَلَّفُوا إِلاَّ طَاقَتَهُمْ

فَلَمَّا قُبِضَ خَرَجْنَا بِهِ فَانْطَلَقْنَا نَمْشِي فَسَلَّمَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ يَسْتَأْذِنُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. قَالَتْ أَدْخِلُوهُ. فَأُدْخِلَ، فَوُضِعَ هُنَالِكَ مَعَ صَاحِبَيْهِ، فَلَمَّا فُرِغَ مِنْ دَفْنِهِ اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ الرَّهْطُ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ اجْعَلُوا أَمْرَكُمْ إِلَى ثَلَاثَةٍ مِنْكُمْ. فَقَالَ الزُّبَيْرُ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عَلِي. فَقَالَ طَلْحَةُ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عُثْمَانَ. وَقَالَ سَعْدٌ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ. فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ أَيُّكُمَا تَبَرَّأُ مِنْ هَذَا الْأَمْرِ فَنَجْعَلُهُ إِلَيْهِ، وَاللَّهُ عَلَيْهِ وَالْإِسْلَامُ لَيَنْظُرَنَّ أَفْضَلَهُمْ فِي نَفْسِهِ. فَأَسْكَتَ الشَّيْخَانِ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ أَفَتَجْعَلُونَهُ إِلَيَّ، وَاللَّهُ عَلَيَّ أَنْ لَا آلُوَ عَنْ أَفْضَلِكُمْ قَالَا نَعَمْ، فَأَخَذَ بِيَدِ أَحَدِهِمَا فَقَالَ لَكَ قَرَابَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَالْقَدَمُ فِي الْإِسْلَامِ مَا قَدْ عَلِمْتَ، فَاللَّهُ عَلَيْكَ لَئِنْ أَمَّرْتُكَ لَتَعْدِلَنَّ، وَلَئِنْ أَمَّرْتُ عُثْمَانَ لَتَسْمَعَنَّ وَلَتُطِيعَنَّ. ثُمَّ خَلَا بِالْآخَرِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، فَلَمَّا أَخَذَ الْمِيثَاقَ قَالَ ارْفَعْ يَدَكَ يَا عُثْمَانُ. فَبَايَعَهُ، فَبَايَعَ لَهُ عَلِي، وَوَلَجَ أَهْلُ الدَّارِ فَبَايَعُوهُ. [ر: ١٣٢٨]

رجال الحديث

مُوسَى بنُ اسمَاعيلَ: دا موسى بن اسماعيل التبوذكى دي، ددۀ احوال د "كتاب بدء الوحى" د څلورم حديث لاندې تير شوي دى.[1]

أَبُو عَوَانَةَ: دا ابو عوانة وضاح بن عبد الله اليشكرى دي، ددۀ احوال هم د "كتاب الوحى" د څلورم حديث لاندې تير شوي دى.[2]

حُصَيْنٍ: دا حصين بن عبد الرحمٰن الكوفى دي. ددۀ احوال د "كتاب مواقيت الصلاة، باب "الأذان بعد ذهاب الوقت" د لاندې تير شوى دى.

عَمْرِو بنِ مَيمُونٍ: دا عمرو بن ميمون الازدى ابو يحيىٰ الكوفى دي، ددۀ احوال د "كتاب الوضوء، باب "اذا ألقى على ظهر المصلى قذر أو جيفة لم تفسد عليه صلاته" د لاندې تير شوى دى.

د ترجمې مقصد: د "باب قصة البيعة" مطلب دادي، چې په دې باب کښې د حضرت عثمان رضي الله عنه د بيعت خلافت او د صحابۀ کرامو رضي الله عنهم په هغې باندې د اتفاق ذکر دي.

اود سرخسى په نسخه کښې د "متقل عمر بن الخطاب" هم زياتوالي دي، او بنکاره خبره ده، چې د حضرت عمر رضي الله عنه د شهادت دلته تفصيلى ذکر دي، نو په باب کښې ددې تذکره هم مناسب ده.

د "بيعة" معنى ده، د خلافت معاهده او معاقده، دې معاهدې ته بيعت په دې وجه وئيلې شى، چې په دې کښې په فريقينو کښې هر يو خپل ځان په بل باندې خرڅوى،

---

[1] كشف البارى: ١٤٣٣،١

[2] كشف البارى: ١٤٣٤،١

علامه عینی فرمائی: "فإن كلّ واحد منهما باع ما عنده صاحبه وأعطاه خالصة نفسه وطاعته ودخيلة أمره"[1]
څکه چې په دواړو کښې هر یو په بل باندې هغه هر څه خرڅ کړل، څه چې هغهٔ سره دی، او هغهٔ ته ئې خالص په ځان او د اطاعت کولو او په معامله کښې دخل او اختیار اوسپارلو۔
په حدیث او باب کښې مطابقت ظاهر دې۔

قوله: رَأَيتُ عُمَرَ بنَ الخَطَّابِ قَبْلَ أَنْ يُصَابَ بِأَيَّامٍ: یعنی د قتیل او شهید کیدو نه څو ورځې وړاندې ما هغه اولیدو۔

په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې حمله په کوم تاریخ اوشوه؟ د وړاندې ارشاد "فما أتت عليه إلا رابعة" نه معلومیږی، چې دا روایت د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شهادت بلکه په هغهٔ باندې د حملې نه څلور ورځې وړاندې خبره ده، او د حملې تاریخ بعضې حضراتو ۲۲ ذوالحجة ۲۳ هجری ښودلې دې، او د ۲۴ هجرې محرم نه وړاندې وړاندې هغهٔ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلیفه جوړیدو وئیلی دی۔[2]
او دویم قول په اولنی محرم باندې د هغوی د شهادت ذ واقع کیدو دې۔
طبری رحمہ اللہ په دې سلسله کښې ۲۵، ۲۴، ۲۳، ذی الحجه باندې د حملې کیدلو مختلف اقوال ذکر کړی دی، او د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت متعلق ئې هم د ۲۹ ذی الحجې، ۳ محرم، ۴ محرم مختلف اقوال ذکر کړی دی۔[3]
اکثرو حضراتو د محرم نه وړاندې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خیلفه د جوړیدو لیکلی دی، او دې ته ئې راجح وئیلی دی۔[4]

أبو لُؤلُؤة: حضرت عمر رضی اللہ عنہ چې کوم بدبخت قتل کړې وو، د هغهٔ نوم فیروز او کنیت ابو لؤلؤة وو۔ دا د حضرت مغیرة بن شعبه رضی اللہ عنہ غلام وو، ددهٔ تعلق د نهاوند سره وو، او اکثرو حضراتو دې مجوسی ګرځولې دې، او د بعضو نه د نصرانی قول هم منقول دې۔

د ابو لُؤلُؤة مدینې ته راتلل او په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې د حملې قیصه: عجیبه خبره داده، چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کښې د اسلام اشاعت او اسلامی فتوحات چې په کوم تیزئ سره اوشوې، هغه د اسلامی نړئ د زرین تاریخ برخه ده، هلته د سیدنا فاروق اعظم رضی اللہ عنہ د کامیابو (بریالیو) تدبیرونو، فراست او بصیرت هم روښانه دلیل دې، حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددې خپل فراست او دور اندیشئ په وجه مدینة الرسول (علی صاحبها الصلوات والتسلیمات) ته د هغه مفتوحه سیمو نه د اسلامی فوځونو په لاس بندی کړې شوې غیر مسلم بندیان د راوستلو به سخت مخالفت کولو، او د هغوی په مدینه کښې د موجودګئ په حق کښې بالکل نه وو، ولې

---

[1] عمدة القاری: ۱۲۰۷،۱۶
[2] عمدة القاری: ۲۱۰،۱۶، تاریخ الطبری: ۵۶۰،۲
[3] تاریخ الطبری: ۵۶۰، ۵۶۱، ۱۲
[4] اوګورئ طبقات ابن سعد: ۳۳۲،۳-۳۵۰

بعضې نورو حضراتو په دې معامله کښې د حضرت عمر رضی الله عنه مخالفت کولو، او د دغې خلقو مدینې منورې ته په راتلو کښې ئې څه نقصان نه ګنړلو، په دغې حضراتو کښې حضرت عباس او د هغۀ څوئې حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهم هم وو، او د حضرت عباس رضی الله عنه غلام هم زیات شامل وو۔

هلته حضرت مغیره بن شعبه چې د کوفې ګورنر وو، هغۀ ابو لؤلؤة نومې غلام د پاره حضرت عمر رضی الله عنه ته خط اولیکلو، چې هغه مدینې ته پریږدی، ځکه چې دې ډیر لوئې کاریګر او ماهر ترکان (نجار) دې، حضرت عمر رضی الله عنه ته د مغیرة بن شعبه په شان د ذمه دار او ممتاز صحابی خبره منل په غاړه شو، او ابو لؤلؤة ته اجازت ملاؤ شو، هغۀ دلته راتلو سره خپل کار شروع کړو، حضرت مغیره بن شعبه به د دۀ نه روزانه څلور درهمه یعنی د میاشتې ۱۲۰ درهمه محصول اخستلو، ابو لؤلؤة په دې راضی نۀ وو، او ابن سعد نقل کړې دی:

"کان خبیثًا إذا نظر إلی الصبی الصغار یأتی فیمسح رُؤوسهم ویبکی ویقول: إن العرب أکلت کبدی"۔(۱)

هغۀ ډیر خبیث سړې وو، هغۀ چې به کله ماشومان بندیان اولیدل، راتلو سره به ئې د هغوی په سرونو لاسونه رانبکل او په ژړا کښې به ئې وئیل، عربو زما ځیګر اوخوړو۔

یوه ورځ هغۀ امیرالمؤمنین سیدنا عمر رضی الله عنه د بازار په دوره کولو اولیدو، نو راغې وې وئیل، چې زما مالك مغیره بن شعبه زما نه ډیر زیات محصول (ټیکس) اخلی، عمر رضی الله عنه اووئیل څومره اخلی؟ هغۀ اووئیل څلور درهمه روزانه! حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل، تۀ څۀ کار کوې؟

وې وئیل زۀ میچنې جوړوم، ابن سعد وائی، "وسکت عن سائر أعماله"۔(۲) او خپل نور کارونه ئې اونۀ ښودل۔

او ابن کثیر فرمائی: "کان المغیرة قد ضُرب علیه فی کل یوم درهمین، ثم سأل من عمر أن یزید فی خراجه فإنه نجّار، نقّاش، حدّاد فزاد فی خراجه إلی ستمأة فی کل شهر"۔(۳)

حضرت مغیره بن شعبه په دۀ باندې دوه درهمه روزانه خراج مقرر کړې وو، بیا هغۀ حضرت عمر رضی الله عنه ته اووئیل، په دې کښې زیاتوالی اوکړه، ځکه چې دې نجار هم دې، نقش او نګار والا هم، او لوهار هم، نو حضرت عمر رضی الله عنه دۀ په خراج کښې تر شپږو سوو درهمو پورې زیاتوالی اوکړو۔

اکثرو حضراتو اولنې قول (یعنی ۱۲۰ درهمه د میاشتې) ذکر کړې دی، او دغه صحیح هم دې، د ابن سعد په روایت کښې ددې نه ورسته دادی، چې حضرت عمر رضی الله عنه دۀ ته اووئیل، تۀ میچن په څو جوړوې؟ هغۀ اونښودل، حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل، په څو ئې خرڅئ؟ دۀ هغه هم اونښودل، حضرت عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل:

---

۱) الطبقات الکبری لابن سعد: ۳/۳۴۷

۲) طبقات الکبری لابن سعد: ۳/۳۴۷

۳) البدایة والنهایة: ۷/۱۳۳

"لقد كلفك يسيرًا، انطلق فأعط مولاك ما سألكَ".(۱)

"دا خو ډيرې لږې دی، لاړ شه، او ستا مالك چې ستا نه څومره غواړی، هغه ته ورکړه".

ددې نه ورسټو حضرت عمر رضی الله عنه دهٔ ته اووئيل، ما له به ميچن جوړه نهٔ کړې؟ هغهٔ اووئيل:

"بلى أجعل لك رحًى يَحدث بها الأمصار".(۲)

"خامخا! زهٔ به تاسو له داسې ميچن جوړه کړم، چې په ملکونو کښې به خلق دهغې ذکر کوی"

حضرت عمر رضی الله عنه ددهٔ په مطلب پوهه شو، هغهٔ سره حضرت علی رضی الله عنه هم وو، هغوی رضی الله عنه دوی ته اووئيل، تهٔ څهٔ پوهه شوې، ددهٔ څهٔ اراده ده؟ حضرت علی رضی الله عنه اووئيل، امير المؤمنين! هغهٔ خو تاسو ته دهمکی درکړې ده! حضرت عمر رضی الله عنه اووئيل:

"يكفيناه الله، قد ظننتُ أنه يريد بكلمة غورًا".(۳) "الله به مونږ ددهٔ نه بچ کوی، زما هم دغه خيال وو، چې په دې خبرې سره ددهٔ څهٔ ژور مطلب دې".

ابن سعد د نافع روايت نقل کړې دې هغه فرمائی:

عبد الرحمٰن بن عوف چې کله هغه چارهٔ اوليده، په کومې چې حضرت عمر رضی الله عنه شهيد کړې شوې وو، نو وې فرمائيل، دا چارهٔ خو ما پرون هُرمزان او جُفينه سره ليدلې وه، او ما د هغوی نه پوښتنه اوکړه، تاسو په دې څهٔ کوئ؟ نو هغوی اووئيل، مونږ په دې باندې غوښه کټ کوو، ځکه چې مونږ خلق غوښې ته لاس نهٔ لګوو!

د عبيد الله بن عمر سخت رد عمل: عبيد الله بن عمر رضی الله عنهما چې دا خبره واؤريده، نو وې وئيل، "أنتَ رأيتَهَا معهما؟ تا په رښتيا دا هغوی سره ليدلې وه؟ هغوی اووئيل، هاؤ، عبيد الله تورهٔ واخسته او لاړو دواړه ئې قتل کړل".(۴)

يو روايت هغوی د سعيد بن المسيب نه نقل کړې دې، چې په هغې کښې د عبد الرحمٰن بن أبی بکر رضی الله عنه نه روايت کړې شوې دې، هغه فرمائی: په ابولؤلؤه باندې زهٔ تير شوم، هغهٔ سره جُفينه او هرمزان هم ولاړ وو، د راز پټې پټې خبرې ئې کولې، زهٔ ناڅاپه راغلم نو اُووَيريدل، او د هغوی نه يو خنجر اوغورځيدو، چې د هغې دوه سرونه وو، او لاسکی (دسته) ئې په مينځ کښې وه، لهذا تاسو دا خنجر اوګورئ، په کوم سره چې حضرت عمر رضی الله عنه شهيد کړې شوې دې؟ چې هغوی اوکتل، نو هغه هم هغسې وو، څنګه چې عبد الرحمٰن بن أبی بکر ښودلې وو، دا اوريدلو سره عبيد الله بن عمر تورهٔ واخسته، او هرمزان پسې لاړ، هغه ئې بهر راؤباسلو، او وې فرمائيل، راځه ځما يو آس دې هغهٔ کورو!

کله چې دواړه روان شو، په لاره کښې عبيد الله بن عمر رضی الله عنه په هغه تورهٔ اوچته کړه، عبيد الله

---

۱) طبقات ابن سعد: ۳/۳۴۷

۲) طبقات ابن سعد: ۳/۳۴۷

۳) طبقات ابن سعد: ۳/۳۴۷

۴) طبقات ابن سعد: ۳/۳۵۰

وائی، کله چې هغۀ ته توره داسې په نظر راغله نو هغۀ اووئیل، لااله الا الله۔
وائي چې ما بیا جُفینه راؤغوښتلو، چې د حیرې نصرانی وو، د سعد بن أبی وقاص ناسکۀ (میرنې) پلار وو، او هغوی له د څۀ معاملې په غرض مدینې منورې ته راغلې وو، عبید الله بن عمر رضی الله عنه وائی، کله چې ما په هغۀ توره اوچته کړه، نو هغۀ د خپلو سترګو وړاندې د صلیب نښه جوړه کړه، بیا عبید الله لاړو، او د ابو لؤلؤه لور ئې قتل کړه، او وړاندې وائی:

"وأراد عبیدُ الله أن لایترکَ سبیًا بالمدینة إلا قتلَه"۔(۱)

عبید الله اراده اوکړه، چې په مدینه کښې څومره قیدیان (غلامان) دي، ټول به قتلوم۔
د عبید الله غصه په ځائې وه، ځکه چې د هغوی والد محترم د وړاندې نه ویره ظاهره کړې وه۔ چې دا خلق هر څۀ کولې شی، حدیث باب کښې د سیدنا عمر رضی الله عنه هغه الفاظ موجود دی۔ چې په هغې سره هغوی رضی الله عنه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ته خطاب اوکړو:

"قد کنتَ أنت وأبوك تحبان أن تکثر العلوج بالمدینة"۔(۲) تا او ستا پلار (حضرت عباس) به په مدینه کښې د غیر مهذب او غیر مذهب خلقو زیاتوالې خوښوو۔
عُلُوج د علجٌ جمع ده، بدمعاش، سخت مزاج او غیر مهذب خلقو ته وائی، اُسارٰی (د اسیر جمع) مرادَ ده، په بل ځائې کښې د هغۀ الفاظ دی (حضرت ابن عباس رضی الله عنه ئې مخاطب کولو سره اوفرمائیل):

"هذا عَملُ أصحابك، کنتُ أرید أن لایدخلها علج من السبی فغلبتمونی علی أن غُلِبتُ علی عقلی"۔(۳)

یعنی دا ستاسو د خلقو عمل دې، ما خو غوښتل، چې مدینې ته هیڅ یو غیر مذهب غلام داخل نۀ شی۔ ولې تاسو (په دې صبر کولو سره) په ما باندې غالب شوئ، او زۀ په خپل عقل باندې غالب راغلم (او زما عقل مغلوب شو، نو زۀ هم خاموش شوم)۔
او په یو ځائې کښې دا الفاظ دی:

"ألم أقل لکم لاتجلبوا علینا من العلوج أحدا؟ فغلبتمونی"۔(۴)

او په یو ځائې کښې دا الفاظ دی:

"قد نهیتکم أن تجلبوا علینا من علوجهم أحدا فعصیتمونی"۔(۵)

عبید الله بن عمر رضی الله عنه خپل پلار ددې خدشاتو په اظهار او په دې باندې د عمل نۀ کولو په وجه د سختې غصې او د سخت ردّ عمل اظهار اوکړو، او د ټولو غلامانو د ختمولو اراده ئې اوکړه، په دې باندې حضرت عثمان او نورو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم هغه منع کړو، او په سختئ

---

۱) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۵۶
۲) حدیث باب.....
۳) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۵۲
۴) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۴۹
۵) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۵۰

سره ئې هغه د معاهدینو د قتلولو نه منع کړو، او د هغهٔ د بندی کولو پورې روایات راغلی دی، بلکه قصاصًا د هغهٔ د قتلولو هم خبره اوشوه، ولې عبد الرحمٰن بن عوف په دې کښې خپل کردار ادا کړو، او هغه ئې رفع دفع کړو۔[1]

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ دعا: ابن سعد د سعید بن المسیب نه نقل کړی دی، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ (د حج په دوران کښې) په منٰی کښې په یوئې ډهیرکئ باندې راتلو سره پراؤ واچولو، او ستونی ستغ سملاتو او آسمان اړخ ته ئې خپل لاس پورته کړل، او بیا ئې دعا اوفرمائیله:

"اللّٰهم کبُرت سِنّی وضعفت قوتی، وانتشرت رعیتی فاقبضنی إلیك غیر مضیع ولا مفرّط".[2]

اې الله! زما عمر زیات شوې دې، او طاقت مې کم شوې دې، او زما رعیت (عام اولس) خور شوې دې، نو ما خپل ځان ته په داسې حال کښې اُغواړې، چې زهٔ نهٔ خو نقصان کونکې یم، او نهٔ زیاتې کونکې یم۔

دویم ځائې کښې داسې الفاظ دی:

"کبُرتُ سِنّی ورقّ عظمی وخشیتُ الانتشار من رعیتی فاقبضنی إلیك غیر عاجز ولا ملوم".[3]

یعنی زما عمر زیات شوې دې، او هډوکی مې کمزورې شوی دی، او ما ته د خپل رعیت (یعنی عام اولس) د خوریدو ویره ده، ما په داسې حال کښې، چې نهٔ زهٔ عاجز او بې وسه مړ شم۔ او نهٔ قابل د ملامت یم، خپل ځان ته اوغواړې۔

دا د هغه حج خبره ده، چې هغوی په دې ذی الحجه کښې ادا کړې وو، د کومې په اخیر کښې چې هغوی شهید شو۔

دویم روایت ئې د سعید بن أبی هلال نه نقل کړې دې، هغه فرمائی، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د جمعې خطبه اوفرمائیله، او په هغې کښې ئې د الله د حمد او ثناء نه ورسټو اووئیل:

"أما بعد! یا أیها الناس إنی أریتُ رؤیا لا أراها إلا لحضور أجلی، رأیتُ أن دیکاً أحمر نقرنی نقرتین فحدّثتها أسماء بنت عمیس فحدّثتنی أنه یقتلنی رجل من الأعاجم".[4]

"وې فرمائیل، اې خلقو! ما یو خوب لیدلې دې، چې د هغې مطلب دادې، چې زما د مرګ وخت راغلې دې، ما یو سور بانګی اولیدو، چې هغهٔ په ما دوه ټونګې اووهلې، ما دا خوب اسماء بن عمیس ته بیان کړو، نو هغې اووئیل، چې ما (یعنی عمر) به یو عجمی سړې قتلوی"۔

د کعب احبار پیش ګوئی: یوه بله واقعه دا وراندې راغله، چې د وفات نه دریې ورځې وراندې حضرت کعب احبار هغوی (حضرت عمر رضی اللہ عنہ) ته اووئیل، چې په دریؤ ورځو کښې به تهٔ وفات کیږی، بیا په دویمه ورځ راغې، وې وئیل دوه ورځې پاتې شوې، په دریمه ورځ راغې، وې

---

[1] طبقات ابن سعد: ۱۳۵۲،۳

[2] طبقات الکبریٰ لابن سعد: ۱۳۳٤،۳

[3] طبقات ابن سعد: ۱۳۳۵،۳

[4] طبقات ابن سعد: ۱۳۳۵،۳

وئیل، یوه ورځ پاتې شوه، او بیا په بله ورځ د هغوی شهادت واقع شو، دا واقعه په مختلفو روایاتو کښې په مختلفو الفاظو سره منقول ده، ابن سعد په یوځائې کښې داسې ذکر کړې ده:

"أن عمر بن الخطاب دعا أم كلثوم بنت علي بن أبي طالب، وكانت تحته فوجدها تبكي فقال: ما يبكيك؟ فقالت: يا أمير المؤمنين! هذا اليهودي تعني كعب الأحبار، يقول: إنك على باب من أبواب جهنم، فقال عمر: ما شاء الله، والله إني لأرجو أن يكون ربي خلقني سعيدًا، ثم أرسل إلى كعب فدعاه فلما جاءه كعب قال: يا أمير المؤمنين! لا تعجّل علي، والذي نفسي بيده لا ينسلخ ذو الحج حتى تدخل الجنة، فقال عمر: أي شئ هذا؟ مرة في الجنة ومرة في النار، فقال يا أمير المؤمنين والذي نفسي بيده إنا لنجدك في كتاب الله على باب من أبواب جهنم تمنع الناس أن يقعوا فيها فإذا متّ لم يزالوا يقتحمون فيها إلى يوم القيامة".(۱)

یعنی حضرت عمر رضی الله عنه خپله بی بی ام کلثوم بنت علی بن أبی طالب راوغوښتله، نو وې کتل چې هغې ژړل، پوښتنه ئې ترې اوکړه ولې ژاړې. هَغې اووئیل، امیر المؤمنین! دا یهودی یعنی کعب الأحبار وائی، چې تاسو (یعنی حضرت عمر رضی الله عنه) د جهنم په یوئې دروازه باندې ئې، حضرت عمر اووئیل، څۀ چې الله تعالی ته منظور وی، هنه! زۀ امید ساتم، چې زما رب زۀ نیک بخت پیدا کړې یم، بیا هغوی حضرت کعب راوغوښتلو، کله چې هغه راغې نو وې وئیل. امیر المؤمنین! زما په حوالې سره تُندی او جلدی مۀ کوئ، په خدائې قسم! د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده، کله چې ذو الحجه ختمیږی، نو تاسو به په جنت کښې ئې، حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل، دا څنګه، کله په جنت کښې او کله په جهنم کښې؟ هغوی اووئیل، امیر المؤمنین! په خدائې قسم! مونږ د الله تعالی په کتاب کښې تاسو د جهنم په دروازه کښې ولاړ خلق د هغې نه منع کونکې وینو، او کله چې تاسو ته مړ ک راځی، نو بیا به هغوی تر قیامته پورې په هغې کښې مسلسل داخلیږی۔

حضرت حذیفه او عثمان بن حنیف سره خبرې اترې: حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت حذیفه بن الیمان او حضرت عثمان بن حنیف رضی الله عنهما ارض عراق ته اولیږل، دوی ته ئې هلته د اسلام په قبضه کښې په راغلو زمکو باندې د خراج مقرر کولو او د هغه ځائې په خلقو باندې د جزیې مقررولو حکم ورکړې وو، نو په دې موقع باندې حضرت عمر رضی الله عنه د دغې دواړو حضراتو نه پوښتنه کوی، چې ایا تاسو چې کومه جزیه مقرر کړې ده، د هغې په حوالې سره تاسو ته څۀ ویره او مسئله خو نشته۔

د "کیف فعلتما" معنی ده، تاسو دواړو چې د سواد عراق د ناپ کولو ذمه داری اخستې وه، د هغې څۀ اوشول، څۀ ناپ اوشو؟

حضرت عمر رضی الله عنه ته په خلقو باندې د زیات تیکس مقرر کولو ویره: أَتَخَافَانِ أَنْ تَكُونَا قَدْ حَمَّلْتُمَا الأَرْضَ..... "أن تكونا" په تاویل د مِن کَونِکُما دي، او "ما لا تطيق" د حَمَّلتُما ذ پاره مفعول ثانی

---

(۱) طبقات ابن سعد: ۳/۳۳۲۱

دي،يعنى آيا تاسو ته دا ويره او خدشه ده،چې په مذكوره زمكه او د هغې په اوسيدونكو باندې تاسو د هغوى د طاقت نه زيات بوج اچولې دې؟

هغوى اووئيل،نا،دومره بوج مو پرې اچولې دي،چې د هغې هغوى تحمُل كولې شى.

ابن أبى شيبه د محمد بن فضيل عن حصين نه هم په هغې سند سره دا الفاظ نقل كړى دى:

"فقال حُذيفة لو شئتُ لأضعفتُ أرضى،وقال عثمان:لقد حملتُ أرضى أمرًا هى له مطيقة،وما فيها كبير فضل،

فقال:أنظرا ما لدَيكما:أن تكونا حملتما الأرض ما لا تطيق".(۱)

د"أضعفتُ أرضى"معنى ده،"جعلت خراجها ضِعفين"يعنى ما به د هغې خراج غبرګ(دو چند)كړې وو.

او په يو بل روايت كښې دا الفاظ دى:"أن عمر قال لعثمان بن حنيف:لئن زدتَ على كل رأسٍ درهمين وعلى كل جريب درهمًا وقفيزًا من طعام لأطاقوا ذلك؟قال:نعم".(۲)

يعنى كه په هغوى كښې په هر كس باندې دوه درهمه،او په هر جريب باندې يو درهم او د طعام يو قفيز زيات كړې شى،نو آيا په هغوى كښې ددې طاقت شته؟ وې وئيل،هاؤ!

قوله: قال:أنظرا!: حضرت عمر رضي الله عنه اووئيل،اوګورئ،زيات مو نه وى لازم كړې، يا "انظرا" د حذر نه كنايه ده،يعنى د زياتى نه ځان بچ كړئ.(۳)

قوله: مَا بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا عَبْدُ اللّٰهِ بنُ عَبَّاسٍ: يعنى زما او د حضرت عمر رضي الله عنه په مينځ كښې صرف عبد الله بن عباس وو،د ابو اسحاق په روايت كښې د"إلا رجلان"الفاظ دى،يعنى زمونږ په مينځ كښې صرف دوه سړى وو.(۴)

په بعضې نسخو كښې"أتخافا"بغير د نون نه راغلې دې،او همدغه شان بغير د ناصب او جازم نه د تخفيف د پاره د نون غورځول هم جائز دى.(۵)

قوله: حتّٰى إذا لم يَرَ فيهن: د"هن"مرجع صفوف ده،يعنى كله چې هغۀ ته په صفونو كښې خلل اونۀ ليدې شو.....

د كشميهنى په روايت كښې د"لم يَرَ فيهم"(د جمع مذكر په ضمير سره)دې،يعنى صفونو والا مراد دى.

---

۱) مصنّف ابن أبى شيبة:۲،۱۵۸۷

۲) فتح البارى:۹،۷۷۱

۳) فتح البارى:۹،۷۷،وعمدة القارى:۱۶،۲۱۰۱

۴) فتح البارى:۹،۷۷۱

۵) عمدة القارى:۱۶،۲۱۰۱

او د اسماعیلی په روایت د جریر عن حصین په طریقې سره دا الفاظ مروی دی: "وکان إذا دخل المسجد وأقیمت الصلاة، تأخر بین کل صفین فقال: استووا حتی لا یری خللاً، ثم یتقدم ویکبر".(۱)

حضرت عمر رضی الله عنه چې به کله جمات ته داخل شو، او اقامت به کیدو، نو هغوی به ورستو کیدو سره د هرو دوؤ صفونو په مینځ کښې اودریدو، او د صفونو د نیغولو حکم به ئې کولو، تر دې پورې چې خلل به پاتې نۀ شو، نو وړاندې کیدو سره به ئې تکبیر(تحریمه)وئیله. ابو اسحاق د عمرو بن میمون نه نقل کوی، چې د حملې په وخ هغوی سیدنا عمر رضی الله عنه سره موجود وو، او اول صف ته صرف په دې وجه نۀ وو تلی، چې د حضرت عمر رضی الله عنه مخې ته د هیبت د وجهې نه نۀ شوم راتلی، ځکه چې حضرت عمر رضی الله عنه ډیر لوئې رعب والا سړې وو، (وې فرمائیل)په دې وجه زۀ په دویم صف کښې ووم، او حضرت عمر رضی الله عنه به د تکبیر نه وړاندې اولنی صف ته متوجه کیدو، کۀ په هغې کښې به ئې څوک وړاندې ورستو لیدلو، نو هغه به ئې کوړه باندې وهلو، دې خبرې زۀ د اول صف نه منع کړې ووم.(۲)

قوله: قَتَلَنِي الْكَلْبُ: تکبیر وئیلو سره په حضرت عمر رضی الله عنه باندې ابولؤلؤه مجوسی حمله اوکړه. حضرت عمر رضی الله عنه اندازه اولګوله، چې په ما باندې قاتلانه حمله شوې ده، نو هغوی کافر حمله کونکی ته سپې وئیلو سره اووئیل" قتلنی "هغۀ زۀ قتل کړم، یا "أکلنی "هغۀ زۀ اوخورم، (وې چیچلم)نښکاره خبره ده، د أکل نه مراد هم قتل دې، بیا هم قاتل ته د سپی وئیلو په وجه هغۀ د پاره هغه کار ثابت کړې شو، کوم چې د سپی د پاره مناسب وو، او چې په هغې سره سپې څوک هلاکولې شی، او هغه خوړل(چیچل)دی.

"قتلنی أو أکلنی" دا د راوی شك دې، څنګه چې په "سورة یوسف أو النحل" کښې هم راوی ته شك دې.(۳) ابن سعد تصریح کړې ده "ما أدری أیهما" قال معلومه نۀ ده چې په دې کښې کوم لفظ دې.(۴) او یو قول دادې چې په حقیقت کښې حضرت عمر رضی الله عنه ته دا ګمان شوې وو، چې زۀ سپی اوچیچلم، "وقیل: ظن أنه کلب عضه".(۵)

څومره کسان قتل کړې شو، او حضرت عمر رضی الله عنه څو ضربونه لګیدلې وو: حتی طعن ثلاثة عشر رجلاً..... ابولؤلؤه په حضرت عمر رضی الله عنه باندې د خنجر درې ګذارونه اوکړل، څنګه چې ابن سعد ذکر کړې دی:

---

۱) فتح الباری:۹،۷۷\
۲) فتح الباری:۹،۷۷\
۳) عمدة القاری:۱۶،۲۱۰\
۴) طبقات ابن سعد:۳،۳۳۷\
۵) إرشاد الساری:۸،۱۹٤\

"كمن في زاوية من زوايا المسجدِ في الغلس فلم يزل هناك حتى خرج عمر يوقظ الناس: الصلاة الصلاة، وكان عمر يفعل ذلك، فلما دنا منه عمر وثب إليه فطعنه ثلاث طعنات إحداهن تحت السُّرة قد خرقت الصفاق وهي التي قتلته".(۱)

ابو لؤلؤه مجوسی د جمات په یو ګټ کښې پټ شوې وو، کله چې حضرت عمر رضی الله عنه خلق د مونځ پاره پاسول شروع کړل، او دۀ ته نزدې شو، نو هغۀ په تُندې سره په حضرت عمر رضی الله عنه باندې حمله اوکړه، او درې ګذاره ئې اوکړل، په هغې کښې یو د نوم نه لاندې وو، او دې ګذار د څرمنې مبارکې نه لاندې پرده شلولې وه، او هم ددې نه د هغوی رضی الله عنه موت واقع شو.

د دریو ضربونو اکثرو حضراتو ذکر کړې دې، او ددې تائید د حضرت عمر رضی الله عنه د هغې خوب نه هم کیږی، کوم چې هغوی رضی الله عنه په دې الفاظو بیانوی:

"ورأيتُ ديكًا نقرني ثلاث نقرات ولا أراه إلا حضور أجلي".(۲)

یعنی بانګی (چرګ) په ما درې ټونګې اووهلې، او ددې نه زۀ د مرګ وخت نزدې راغلې ګڼرم.

او په یو روایت کښې د ابن عمر قول، مبارک بن فضاله نقل کوی، چې د هغې الفاظ دادی:

"طَعَنَ أبولؤلؤةُ عمرَ طعنَتَين".(۳)

یعنی ابو لؤلؤه حضرت عمر رضی الله عنه ته دوه ګذارونه ورکړل.

حافظ ابن حجر رحمه الله اول قول ته ترجیح ورکړې ده، او د دویم ئې دا توجیه کړې ده، چې په هغې کښې د "طعنةٌ ثالثةٌ" ذکر نۀ دې کړې شوې،(۴) چې په هغې سره د هغوی شهادت واقع شوې وو.

د ابن حجر رحمه الله ددې توجیه تائید د ابن سعد د هغۀ روایت نه هم کیږی:

"عن سالم بن عبد الله عن أبيه قال سمعت عمر يقول طعنني أبولؤلؤة وما أظنه إلا كلمّا حتى طعنني الثالث".(۵)

یعنی زۀ أبو لؤلؤه دوه ګذاره اووهلم، او ما هغه سپې ګڼرلو، تر دې پورې چې هغۀ په مأ دریم ګذار اوکړو.

په حضرت عمر رضی الله عنه باندې حمله څۀ وخت اوشوه؟: دویمه خبره د ابن سعد د پورتنی روایت نه دا معلومیږی، چې ابو لؤلؤه حمله په هغه وخت کښې کړې وه، کله چې حضرت عمر رضی الله عنه د مونځ د پاره خلق د خوب نه پاسول، او د باب د حدیث نه او د نورو احادیثو نه معلومیږی،

---

۱) الطبقات الكبرىٰ: ۳۴۵.۳
۲) مسند البزاز، رقم: ۳۱٤
۳) الطبقات الكبرىٰ: ۳۲۹.۹
٤) فتح الباری: ۱۷۷.۹
٥) طبقات ابن سعد: ۳٤۸.۳

کله چې هغوی رضی اللہ عنہم تکبیر تحریمه اووئیله،نو په هغوی باندې حمله اوکړې شوه،هلته کښې الفاظ دی: "فما هو إلا أن كبّر فسمعته يقول قتلني....."
یعنی څنګه چې هغوی رضی اللہ عنہم تکبیر اووئیلو،نو ما واوریدل چې هغوی وئیل،زهٔ ئې قتل کړم.
او د ابن سعد په یو روایت کښې "فلما كبّر طعن"(۱) یعنی کله چې ئې تکبیر اووئیلو،نو هغهٔ اووهلو،دا الفاظ راغلی دی.
او په بل روایت کښې دا الفاظ دی:
"فأقبل عمر فعرض له أبو لؤلؤة غلام المغيرة بن شعبة فناجى عمر هنيهة ثم طعنه ثلاث طعنات".(۲)
ددې نه معلومیږی،چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ صفونه نیغول،او اول صف اړخ ته متوجه وو،چې قاتل ئې مخې ته راغلو،حضرت عمر رضی اللہ عنہ لږې شان پټې خبرې اوکړې،چې ابو لؤلؤه په هغه باندې درې ګذاره اوکړه.
او په دواړو روایتونو کښې د مکان خو نه،هنه ا د کیفیت اختلاف او فرق شته،یعنی په دواړو کښې مونځ ته اودریدو په وخت کښې د حملې ذکر دې،نهٔ چې د هغې نه وړاندې.
"شهدت عمر حين طُعِنَ،قال أتاه أبو لؤلؤة وهو يسوّي الصفوف فطعنه وطعن اثنى عشر معه هو ثالث عشر،قال:فأنا رأيت عمر باسطًا يده وهو يقول:أدركوا الكلب فقد قتلني.....فمات منهم سبعة أو ستة".(۳)
ددې روایت نه یو خو دا خبره معلومیږی،چې دلته راوی د خپلې مشاهدې خبره کوی، دویمه خبره دا کوی،چې په دغه وخت کښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ صفونه صحیح کول،دریمه خبره دا چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ لاسونه اوږدولو سره د سپی د نیسلو حکم اوکړو،"باسطًا يده" او "أدركوا الكلب" هم په دې دلالت کوی،څلورمه خبره دا چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه علاوه دولس کسان او دوی سره دیارلس کسان اووهلې شو،او په یو روایت کښې دا الفاظ دی:
"فسمعتُ عمر وهو يقول:هكذا بيده،قد بسطها دونكم الكلب قد قتلني" یعنی حضرت عمر رضی اللہ عنہ لاسونه داسې خوارهٔ کړې وو،او دا ئې وئیل ما واوریدل،دې سپی زهٔ قتل کړم.(۴)
پنځمه خبره دا چې شپږ یا ووهٔ کسان مړهٔ شول،او باقی بچ شول،راوی ته په دې شمیر کښې شك دې،په دې تفصیل سره لاندې ذکر کړې شوې خبرې حل کیږی:
①:-مونځ د پاره د خلقو د پاسولو په وخت په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې د حملې چې کوم روایت دې،هغه د ابن شهاب زهری روایت دې،ظاهره خبره ده چې مرسل دی،ځکه چې ابن شهاب خو زیات نه زیات په صغارو تابعینو کښې دې،چې د هغهٔ روایات د صغارو صحابؤ

---

۱) طبقات ابن سعد:۳،۱۳۳۸
۲) طبقات ابن سعد:۳،۱۳٤۱
۳) طبقات ابن سعد:۳،۱۳٤۰
٤) طبقات ابن سعد:۳،۱۳٤۰

او یا د کبارو تابعینو نه ماخوذ دی،په دې وجه هغه به نۀ شی قبلولې،بلکه دا به د راوی خیال اوګرځولې شی،او راجح به هغه روایتونه وی،په کومې کښې چې د رؤیت او مشاهدې ذکر دې،او هغۀ هغه دی،په کومو کښې چې د تکبیر په وخت کښې د حملې ذکر دې،او دا هم ممکن ده،چې په ایقاظ او تکبیر کښې زیاته وخت نۀ وی،په دې وجه چا ددې ذکر کړې دې،او چا د هغې۔

②:-په کومو روایاتو کښې چې د دیارلسو کسانو د قتلولو ذکر دې،لکه د باب حدیث وغیره.....په هغې کښې پخپله حضرت عمر رضی اللہ عنہ هم مراد او شمیر دې،او په کومو کښې چې د یؤولسو یا دولسو کسانو ذکر دې،په هغې کښې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه علاوه نور صحابۀ کرام رضی اللہ عنہم ذکر کړې شوې دی،حضرت عمر رضی اللہ عنہ په هغوی کښې شمیر نۀ دې۔

څنګه چې د ابن سعد په روایت کښې د "حق طعن سوی عمر أحد عشر رجلا"۔(۱) ذکر دې،یعنی د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه علاوه یؤولس کسان اووهلې شو۔

او د ابو اسحاق په روایت کښې دا الفاظ دی: اثنې عشر رجلاً معه وهو ثالث عشر۔(۲) یعنی هغوی(حضرت عمر رضی اللہ عنہ) سره نور دولس کسان اووهلې شو،او هغوی ئې دیارلسم وو۔

ابن سعد د إبراهیم تیمی په حوالې سره ددې اضافه هم نقل کړې ده:

"وعلی عمر إزار أصفر قد رفعه علی صدره فأهوی وهو یقول: وکان أمر الله قدراً مقدوراً"۔(۳)

یعنی په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې وړوکې شان لنګ وو،چې هغه ئې تر سینې پورې پورته کړې وو،هغه اوغورځیدو،او دا ئې وئیل،"وکان أمر الله قدراً مقدوراً"۔

هم په دې روایت کښې دا الفاظ هم منقول دی:

"فجاء فقال: الصلاة عباد الله، استووا، ثم کبّر"۔یعنی هغوی راغلل،او دا ئې وئیل،د الله تعالی بندګانو! مونځ د پاره پاسې،صفونه نیغ کړئ،او بیا ئې تکبیر اوکړو۔

ددې نه معلومیږی،چې د مونځ د پاره د پاسولو طریقه دغه وه،چې هغوی رضی اللہ عنہ د "الصلاة عباد الله" آواز لګولو، او "استووا" وئیلو سره ئې صفونه هم نیغول،لهذا چا خو دا ذکر کړل،چې هغوی خلق پاسول،چا دا ذکر کړل،چې هغوی صفونه نیغول،او چا د تکبیر تحریمې ذکر اوکړو،او بعضو د دریؤ واړو ذکر اوکړو۔

اصل واقعه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شهادت وه،په دې وجه د باقی حضراتو شمیر معلوم نۀ دی: مات منهم سبعة..... حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره دیارلس کسان په کومو چې حمله اوشوه،په هغوی کښې بعضې کسان خو شهیدان شو،او څۀ ژوندی پاتې شو،دلته د ووه کسانو د شهادت

---

(۱) طبقات ابن سعد:۳،۳۴۵\

(۲) فتح الباری:۹،۷۸\

(۳) طبقات ابن سعد:۳،۳۴۸\

ذکر دي،او په بعضي روایاتو کښي د شپږو او په بعضي روایاتو کښي د څلورو او په بعضي روایاتو کښي د نهو کسانو د شهادت مونډلو ذکر دي۔[1]

په دي کښي هم دا وئیلي کیدي شی،چې بعضي حضراتو حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره د نورو کسانو د شهید کیدو ذکر کړي دي،چې ووه دی،او بعضو د هغوی نه بغیر،چې شپږ دی، همدغه شان دا هم ممکن دی،چې اول کم کسان مثلاً څلور کسان شهیدان شو،دا شمیر ورستو زیاتیدو سره شپږو ته اورسیدو،یا تر ووهٔ یا تر نهو پورې اورسیدو،ولي اصل او اهمه واقعه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شهادت وه،په دي وجه د نورو حضراتو د شهید کیدو په شمیر کښي یقیني پته نهٔ لګیدل یو قدرتی خبره ده،څنګه چې د ابن سعد په روایت کښي د "ومال علی الناس فقتل وجرح بضع عشر".[2] الفاظو نه معلومیږي،یعنی په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې دحملې نه ورستو هغهٔ نورو خلقو اړخ ته راتاؤ شو،او څوکسان ئې ژوبل او شهیدان کړل.

کُلیب لیثی هم شهید شو: حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی،په دي نورو شهید کیدونکو کسانو کښي صرف د یو کس نوم معلوم شوې دي،چې کلیب بن البکیر اللیثی دي،دهٔ او ددهٔ ورونړو عاقل،عامر،او ایاس ته د صحابیت شرف حاصل دي۔

حافظ صاحب د "جزء أبي الجهم" په حوالې سره په صحیح سند سره د ابن عمر روایت نقل کوی:

"کان مع عمر صادراً من الحج،فمر بامرأة فدفنها کُلیب اللیثی فکبر له عمر وقال: أرجو أن یدخله الله الجنة،قال فطعنه أبولؤلؤة لما طُعن عمر فمات".[3]

یعنی دا (کلیب) حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره د حج په سفر کښي شامل وو،بیا دوی په یوې ښځې تیر شول،چې هغه کلیب لیثی دفن کړه،او حضرت عمر رضی اللہ عنہ په هغې تکبیر اووې،او وې فرمائیل.زهٔ د الله تعالی نه امید ساتم،چې الله تعالی به دا جنت ته داخلوی،راوی وائی، دي (یعنی کُلیب لیثی) هم ابو لؤلؤه په هغه وخت کښي شهید کړو کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ شهید کړې شو۔

همدغه شان عبد الرزاق د نافع په طریقې سره دا خبره نقل کړې ده،او د زهری په طریقې سره هغه دا الفاظ روایت کوی:

"طعن أبولؤلؤة اثنی عشر رجلاً فمات منهم عُمر وکُلیب".[4]

او ابن أبی شیبه د ابو سلمه او یحیی بن عبد الرحمٰن په طریقې سره روایت کوی،چې د هغې الفاظ دادی: "فطعَن أبولؤلؤة کُلیبَ بن البکیر فأجهز علیه".[5]

---

[1] طبقات ابن سعد:۳،۳٤۸،۳٤۹\

[2] طبقات ابن سعد:۳،۳٤۸\

[3] فتح الباری:۹،۷۸\

[4] مصنف عبد الرزاق حدیث أبی لؤلؤة قاتل عمر رقم(۵۷۷۵)\

[5] مصنف ابن أبی شیبة:۲،۵۹۷،رقم:۳۸۲۲۹\

ابو لؤلؤه چا اونیولو ؟: "فلما رأى ذلك رجلٌ من المسلمين طرحه عليه بُرنسًا" په روایت کښې د "رجل" ذکر دي، په دې حوالې سره یو خو د ابن سعد روایت دي، چې د هغې الفاظ دادی:

"فطعن نفرًا فأخذ أبا لؤلؤة رهطٌ من قريش: عبد الله بن عوف الزهري، وهاشم بن عتبة بن أبي وقاص، ورجل من بني سهم فطرح عليه عبد الله بن عوف خميصةً كانت عليه فلما ظن بالخنجر حين أخذ". (۱)

ددې روایت نه معلومیږی، چې عبد الله بن عوف او هاشم بن عقبه او یو بل سړی هغه نیسلي وو، بیا عبد الله بن عوف په هغهٔ باندې خپل څادر غورځولو سره هغه نیولي وو، او هغهٔ خپل بد انجام لیدلو سره خود کشی کړې وه، خو حافظ صاحب دا ضعیف او منقطع ګرځولو سره د یو بل، سعید بن یحیی الاموی روایت ته ترجیح ورکړې ده، د هغې الفاظ دادی:

"فلما رأى ذلك رجلٌ من المهاجرين يقال له حطّان التميمي اليربوعي طرحه عليه بُرنساً". (۲)

ددې نه معلومیږی چې ابولؤلؤه نیسلو والا او په هغهٔ باندې څادر غورځولو والا حطّان التمیمی وو۔

حافظ صاحب د ابن سعد د روایت د ثابت او صحیح کیدو په صورت کښې د هغې دا توجیه کړې ده، چې دې ټولو (مذکورو حضراتو) به په شریکهٔ نیسلې وی، او د عبد الله بن عوف په حوالې سرد دا هم منقول دی، "احتز عبدُ الله بن عوف الزهري رأس أبي لُؤلؤة". (۳)

چې دې (عبد الله بن عوف رضی اللہ عنہ) د ابو لؤلؤه سر د خپو لاندې کړې وو۔

په یو روایت کښې د "إنما طعن نفسَه به حتى قتل نفسه". (۴) یعنی هغهٔ خپل ځان هم په هغې خنجر وهلو سرد قتل کړو۔

او په یو بل روایت کښې د "فاتكأ على خنجره فقتل نفسه". (۵) یعنی "بیا هغهٔ په خنجر باندې تکیه لګولو سرد خپل ځان قتل کړو، الفاظ راغلی دی۔

دردناکه پیښه او مونځ ادا کول: د حضرت عمر رضی اللہ عنہ کمال ایمان اوګورئ، چې د خپل ځان په حوالې سرد دا وړاندې راتلونکې دې درد ناکې پیښې نَه زیات هغوی ته د مونځ فکر وو، نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ د عبد الرحمٰن بن عوف لاس نیسلو سره هغه وړاندې کړو او هغهٔ دیر مختصر مونځ اوکړو، د ابن اسحاق په روایت کښې دی، چې د قرآن کریم د ټولو نه په مختصرو سورتونو یعنی سورهٔ کوثر او سورهٔ نصر لوستلو سره ئې مونځ اوکړو۔ (۶)

---

۱) طبقات ابن سعد: ۳/۳٤۷

۲) الاصابة: رقم الترجمة: ۱۷۶۶، حطان التميمي اليربوعي

۳) طبقات ابن سعد: ۳/۳٤۸

۴) طبقات ابن سعد: ۳/۳٤۸

۵) طبقات ابن سعد: ۳/۳٤۸

۶) فتح الباري: ۹/۷۹

او د ابن سعد په روایت کښې د سورۀ نصر او سورۀ کوثر ذکر دي۔(۱)

ابن سعد د ابن عمر رضی اللہ عنہ روایت په دې الفاظو سره نقل کړې دي:

"لما طُعن عمر حُمل فغُشي عليه فأفاق فأخذناه بيده، قال ثم أخذ عمر بيدي فأجلسني خلفه وتساند إلى وجراحه تثعَبُ دماً إني لأضع إصبعي هذه الوسطى فما سد الرتق، فتوضأ ثم صلى الصبح فقرأ في الأولى، والعصر، وفي الثانية، قل يا ايها الكافرون"(۲)

یعنی کله چې په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې حمله اوکړې شوه، نو هغوی اوچت کړې شو، او دې سره په هغوی باندې بې هوشی شروع شوه، بیا هغوی په هوش کښې راغلل، نو مونږ د هغوی لاس اونیسلو، بیا هغوی زما لاس نیسلو سره زۀ د خپل ځان شا ته کینولم، او ما ته ئې تکیه اووهله، او د هغوی د زخم نه وینه روانه وه، او ما دا خپله مینځنې ګوته په زخم باندې کیښودله، خو په دې سره هغوی سوري نۀ بندیدلو، بیا هغوی اودس کولو نه ورستو مونځ اوکړو، او په هغې کښې ئې سورة العصر او سورة الكافرون اولوستل۔

ابن سعد د مسور بن مخرمه روایت هم نقل کړې دي:

"أن عمر لما طُعن جعل يُغمى عليه، فقيل إنكم لن تفزعوه بشيء مثل الصلاة إن كانت به حياة، فقال: الصلاة يا أمير المؤمنين! الصلاة قد صُلّيت، فانتبه فقال: الصلاة هاء الله إذا ولا حظ في الإسلام لمن ترك الصلاة، قال فصلى وإن جُرحه ليثعب دماً"۔(۳)

یعنی کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې حمله کولو سره سخت ژوبل کړې شو، او په هغوی باندې بې هوشی راغله، نو خلقو اووئیل، کۀ په دوی کښې د ژوند ساه وی، نو د مونځ ذکر کولو سره به دې فکر مند کولې شی، او بیدارولې به شی، نو کله چې د مونځ آواز هغوی رضی اللہ عنہ واوریدو، نو ناڅاپه راپاسیدو، او وې وئیل ! په اسلام کښې د هغه سړي هیڅ برخه نشته، څوک چې مونځ پریږدی، او بیا پاسیدو او مونځ ئې اوکړو، او د هغوی رضی اللہ عنہ زخمونو نه وینه بهیدله۔

ابن أبی شیبه د عمرو بن میمون روایت په دې الفاظو سره نقل کوی:

"لما طعن عمر ماج الناس بعضهم في بعض، حتى كادت الشمس أن تطلع، فنادى مناد: الصلاة، فقدموا عبد الرحمٰن بن عوف فصلى بهم، فقرأ بأقصر سورتين في القرآن إنا أعطيناك الكوثر، وإذا جاء نصر الله"۔(۴)

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د مسلمانانو په لاس په نۀ قتل کیدو باندې د ارام ساه واخسته: أنظر من قتلني.. حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته چې کله دا معلومه شوه، چې په ما باندې قاتلانه حمله شوې ده، او بیا دا

---

۱) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳٤۰

۲) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳٤۹

۳) الطبقات الكبرىٰ: ۳، ۱۳۵۰

٤) مصنف ابن أبي شيبة: ۲۰، ۵۹٤

هم اندازه اوشوه. چې زهٔ به ددې نه ژوندې پاتې نهٔ شم، نو هغوی رضی الله عنه ته دا فکر پیدا شو. چې چرته په دې کښې مسلمان خو شریك نهٔ دې.

نو هغوی رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنهما ته په دې حوالې سره د معلوماتو کولو د پاره اووئیل، نو هلته دا الفاظ دی: "انظر مَن قتَلَنی" او ګوره زهٔ چا قتل کړې یم؟

او د ابو اسحاق په روایت کښې دا الفاظ دی: "فقال عمر: یا عبدَ الله بن عباس! أخرج فناد فی الناس: أعَن ملأ منکم کان هذا؟ فقالوا: معاذ الله ما علِمنا ولا اطلعنا".

"یعنی حضرت عمر رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنهما ته اوفرمائیل، خلقو ته آواز اوکړه، چې آیا دا ستاسو په مشورې سره شوې دې؟ هغوی به آواز کړې وی، نو د هغې په جواب کښې خلقو دا اووئیل، په الله تعالی سره پناه غواړو امونږ ته نهٔ څهٔ علم شته او نهٔ څهٔ خبر".

د مبارك بن فضاله نه مروی دی:

"فظن عمر أن له ذنبًا إلی الناس لا یعلمه، فدعا ابن عباس - وکان یُحبه ویُدنیه - فقال: أحب أن تعلم عن ملأ من الناس کان هذا؟ فخرج لا یمر بملأ من الناس إلا وهم یبکون، فکأنما فقدوا أبکار أولادهم، فقال ابن عباس فرأیت البشر فی وجهه".(۱)

حضرت عمر رضی الله عنه ته دا ګمان پیدا شو، چې کیدې شی ما خلقو سره داسې څهٔ زیاتې کړې وی، چې د هغې ما ته علم او خیال نهٔ وی، په دې وجه هغوی حضرت ابن عباس رضی الله عنه راوغوښتلو، چې هغوی سره د حضرت عمر رضی الله عنه ډیر محبت او قربت وو، او هغوی ته ئې اووئیل، زهٔ غواړم. تهٔ لاړ شه او دا معلومه کړه، چې د خلقو په خپل مینځ کښې په مشورې سره دا کار شوې دې؟ هغوی لاړل، او په خلقو کښې چې په چا به هم هغوی تیردل، نو هغوی به ئې په ژړا کښې موندل. ګویا چې د هغوی ځوان اولاد ورك شوې وی، ابن عباس رضی الله عنهما وائی دا حالت ما هغوی رضی الله عنه ته بیان کړو، نو ما د هغوی په مخ باندې خوشالی اولیده.

د ابن أبی شیبه په روایت کښې دا الفاظ دی:

"فقالوا معاذ الله لو ددنا أنا فدیناك بآبائنا، ولو ددنا فی عمرك من أعمارنا".(۲)

یعنی خلقو اووئیل، په الله تعالی سره پناه غواړو! (ددې خبرې نه چې مونږ د حضرت عمر رضی الله عنه د قتل په سازش کښې شریك شوې یو) مونږ په تاسو باندې خپل مور پلار قربانول غواړو، او تاسو ته خپل عمرونه درکول غواړو.

د "الصنع" معنی: "الصنع" بفتح الصاد المهملة والنون الخفیفة.

او ابن أبی شیبة د ابن فضیل عن حصین په طریقې سره روایت نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:

---

(۱) فتح الباری: ۱۷۹.۹

(۲) مصنف ابن أبی شیبة: ۱۵۹۹.۲۰

"فجال ساعة ثم جاء فقال: غلام المغيرة الصناع، وكان نجارًا".(۱)

د الصَّنَع یا د الصناع معنی ده، کاریگر (استاذ)، صنعت کار، ابو لؤلؤه مشهور مجوسی کاریگر وو، حضرت عمر رضی الله عنه چې کله د "غلام المغيرة" الفاظ واوریدل، نو په حیرانتیا ئې اووئیل، هغه کاریگر؟

او د هغهٔ کافر کیدل خو معلوم وو، څنګه چې د ابن أبی شیبه په روایت کښې د "فجاء أبولؤلؤة الكافر المجوسي" الفاظ دی،(۲) په دې وجه حضرت عمر رضی الله عنه د الله تعالی شکر ادا کړو، چې الله تعالی زما مرګ د یو کلمه ویونکی په لاس نهٔ دې فرمائیلې، د اهل لغت نه یو قول خو دا منقول دی، چې "رجل صنَع اليد واللسان وامرأة صَنَاع اليد واللسان". او دویم قول دادی، چې صَنَاع او صَنَع، د دواړو اطلاق په بنځه او سړی دواړو باندې کیږی.(۳)

صرف د نوم مسلمان په لاس قتلیدو سره به هم حضرت عمر رضی الله عنه خفه کیدو: بِيَدِ رَجُلٍ يَدَّعِي الإسلام..... حضرت عمر رضی الله عنه ډیرې ښې معنې والا الفاظ ارشاد اوفرمائیل، څکه چې د هغوی رضی الله عنه په شان لوی صحابی، خلیفهٔ راشد او امیر المؤمنین قتلونکې کهٔ څوک مسلمان وو، نو یقیناً هغه به صرف د اسلام مدعی وو، حقیقی مسلمان به نهٔ وو، بیا هم د مدعئ اسلام او صرف د نوم د مسلمان په لاس هم کهٔ د حضرت عمر رضی الله عنه قتل شوې وو، نو دا هم د هغوی رضی الله عنه د پاره ډیر د غم او خفګان سبب وو، یو خو په دې وجه چې په مسلمان اُولس کښې په خپلې حوالې سره دا قسمه منفی جذبات او احساسات مونډلو سره به هغوی رضی الله عنه ته تکلیف ملاؤ شوې وو.

او دویم د قیامت په ورځ کله چې د الله تعالی مخې ته د هغوی رضی الله عنه مقدمه (دوسه) وړاندې شوې وه. نو بل اړخ ته به هم یو مدعئ اسلام وو، چې د اسلام په وجه به د لحاظ او خیال ساتلو قابل وو. او حضرت عمر رضی الله عنه یقیناً د اسلام د دښمنانو په لاس شهید کیدو سره په پوره توګه د اجر ملاویدو او د خپل قاتل د جهنم د تلو متمنّی به وو، په مختلفو روایتونو کښې راغلې د لاندینی الفاظو نه ددې تائید کیږی، د ابن أبی شَیبه روایت دې:

"فدخل عليه ابن عباس وكان يعجب به فقال: اخرج فانظر من صاحبي؟ ثم خرج فجاء فقال: أبشر يا أمير المؤمنين! صاحبك أبولؤلؤة المجوسي غلام المغيرة بن شعبة، فكبر حتى خرج صوته من الباب ثم قال: الحمد لله الذي لم يجعله رجلاً من المسلمين، يحاجني بسجدة سجدها لله يوم القيامة".(۴)

---

۱) مصنف ابن أبی شیبة: ۱۵۸۸،۲۰

۲) مصنف ابن أبی شیبة: ۱۵۹۷،۲۰

۳) فتح الباری: ۱۷۹،۹

۴) مصنف ابن أبی شیبة: ۱۵۹۹،۲۰

حضرت عمر رضی الله عنه ته ابن عباس راغي رضی الله عنهما، چې د هغوی رضی الله عنه دوی سره ډیر محبت وو، نو حضرت عمر رضی الله عنه هغوی ته اووئیل، لاړ شه اوګوره ما سره دا معامله کونکي څوک دي؟ هغوی لاړل او بیرته راغلل، وې وئیل، امیر المؤمنین ازیري واؤره، ستاسو قتلونکي د مغیره بن شعبة غلام، ابو لؤلؤة مجوسی دي، حضرت عمر رضی الله عنه الله اکبر په دومره زور سره اووې، چې د دروازې نه بهر هم آواز واؤریدې شو.

بیا ئې اووئیل د الله تعالی شکر دې، چې هغهٔ داسې کس زما قاتل جوړ نهٔ کړو، چې په مسلمانانو کښې د هغهٔ شمیر کیږی، او د قیامت په ورځ د هغې سجدې په وجه ما سره جهګړه کوی کومه چې هغهٔ د الله تعالی د پاره کړې وی.

د ابن شهاب په روایت کښې دا الفاظ دی:

"فقال: الحمد لله الذی لم یجعل قاتلی یحاجنی عند الله بسجدة سجدها له قط".(۱)

او د مبارك په فضاله نه دا الفاظ منقول دی: "یحاجنی بقول لا إله إلا الله".(۲)

په یو بل روایت کښې دا الفاظ دی: "قاتله الله لقد أمرت به معروفًا".(۳)

الله تعالی دې هغه تباه کړی، ما خو هغهٔ ته ښهٔ خبره کړې وه.

د حضرت جابر رضی الله عنه روایت دې: "فقال عمر: لا تعجلوا علی الذی قتلنی، فقیل: انه قتل نفسه، فاسترجع عمر، فقیل له إنه أبو لؤلؤة، فقال: الله أکبر".(۴)

حضرت عمر رضی الله عنه او فرمائیل زما د قاتل په معامله کښې تُندی مهٔ کوئ، چا اووئیل هغهٔ خو ځان مړ کړې دې (خودکشی ئې کړې ده)، حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل، "انا لله وانا الیه راجعون" بیا چا اووئیل هغه خو ابو لؤلؤه (کافر) دې، (هغهٔ د پاره استرجاع څنګه؟) حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل، الله اکبر.

د قتل عمد کونکی مسلمان د پاره مغفرت ثبوت: د حضرت عمر رضی الله عنه ددې خبرې نه د قتل عمد کونکی مسلمان د پاره عند الله د معافي په ثبوت او جواز باندې استدلال کړې شوې دې، د اهل سنت والجماعت مذهب د قاتل عمد او د نورو کبائرو مرتکب مسلمانانو په حقله دغه دې، چې هغه مخلد فی النار او د اسلام نه خارج نهٔ دې، په خلاف د بعضې نورو باطلو فرقو (مثلاً خوارج) په شان، چې د هغوی له مخې د قاتلِ عمد د پاره هیڅ معافی نشته، هغه کافر او مخلد فی النار دې.

زمونږ (د اهل سنت والجماعت) طریقه د استدلال داسې ده، چې حضرت عمر رضی الله عنه او فرمائیل، د الله تعالی شکر دې، چې زما قتلونکي مسلمان نهٔ دې، کښې نو هغهٔ به د الله تعالی په

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۸۰
۲) فتح الباری: ۹، ۱۸۰
۳) فتح الباری: ۹، ۱۸۰
۴) فتح الباری: ۹، ۱۸۰

وراندې ما سره د کلمې او سجدې په بنیاد جهګړه کوله، مطلب دغه دې، چې کافر قاتل به جهګړه نه کوی، او که څوک مسلمان د قتل عمد په وجه د اسلام نه خارجیدو، نو د حضرت عمر رضی الله عنه قاتل به هم یقیناً خارج شوې وو، او په کافرانو کښې به داخل شوې وو، او بیا به په مسلمان او غیر مسلم قاتل کښې هیڅ فرق نه وو، او د حضرت عمر رضی الله عنه د شکر اداء کولو به هم څه معنی نه وه.[1]

د حضرت عمر رضی الله عنه د غیر مسلمو نه د احتیاط سوچ صحیح ثابت شو: قَدْ كُنتَ أَنْتَ وَأَبُوكَ.....

حضرت عمر رضی الله عنه چې کله د مجوسی غلام د وجهې نه قتل کړې شو، نو هغوی رضی الله عنه د خپل هغې ویرې تذکره اوکړه، چې هغوی رضی الله عنه د خپل خدا داد بصیرت په بنیاد باندې په مدینه منوره کښې د غیر مسلمو غلامانو د کثرت په حوالې سره ظاهره کړې وه، او حضرت عباس او عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما او غیره صحابو هغه غیر ضروری ګڼلې وه.

حضرت عمر رضی الله عنه په دې موقع باندې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته هغه خدشه رایاده کړه، چې د هغې صحیح والې او هغې اړخ ته توجه کول اُوس په پوره توګه واضحه شوی وو، او مسلمانانو خپله د ټولو نه قیمتی سرمایه په دې وجه باندې ورکه کړې وه، حضرت عمر رضی الله عنه، چې د حضرت عباس رضی الله عنه په کوم عذر او استدلال باندې چپ شوې وو، هغه دا وو، چې د مدینې منورې سخت کارونه د غیر مسلمو نه علاوه هیڅ څوک هم نه شی کولې. د ابن سیرین په طریقې سره د عمرو بن شیبه روایت دې، هغه فرمائی:

"بَلَغنی أن العباس قال لعمر: لما قال: لاتدخلوا علینا من السبی إلا الوصفاء، إن عمل المدینة شدید لا یستقیم إلا بالعلوج".[2]

یعنی حضرت عمر رضی الله عنه چې کله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته اوفرمائیل، چې په دې بندیانو کښې د ماشومانو غلامانو نه علاوه څوک هم مدینې ته مهٔ راوله، نو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ددې په جواب کښې اووئیل، چې د مدینې کارونه ډیر سخت دی، چې هغه ددې مشرکانو غلامانو نه علاوه څوک هم نه شی کولې.

حضرت عمر رضی الله عنه د جنګی بندیانو د قتل نه منع اوکړه: قَالَ كَذَبْتَ..... حضرت ابن عباس رضی الله عنهما سره د خپل پلار (حضرت عباس رضی الله عنه) نه د مسلمانانو په لاس بندی شوې خلقو د پاره چې کومه نرمی لرله، ددې په وجه د دغې خلقو په مدینه منوره کښې د غلامانو په شکل کښې کثرت وو، حضرت عباس رضی الله عنه خو وو "أكثرهم رقيقًا" (د ټولو نه زیات غلامانو والا) نورو خلقو سره هم دا خلق د نوې مسلمانانو یا د غیر مسلمو غلامانو او خدمتګارانو په شکل کښې په کثرت سره موندلې شو، حضرت عمر رضی الله عنه دوی په کثرت او زیاتوالی باندې مناسب خدشات او تحفظات لرل، او کله چې د هغوی رضی الله عنهم ذات مبارک د هغوی رضی الله عنهم نښه او ښکار جوړ

---

[1] انظر، فتح الباری: ۹، ۱۸۰

[2] فتح الباری: ۹، ۱۸۰

شو،نو حضرت عمر رضی الله عنه هغه په لاسونو کښې واخستو،او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ئې د هغوی د احتیاط نۀ کولو په نتیجو باندې خبر کړو،حضرت عباس رضی الله عنه سره ښکاره خبره ده چې ددې نه علاوه بل څۀ جواب نۀ وو،کۀ تاسو غواړئ نو مونږ به دغه خلق قتل کړو! حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل، "کذبتَ" شارحینو ددې ترجمه په "أخطأتَ" سره کړې ده،یعنی دا خلق چې ستاسو په شان قبلې اړخ ته مخ کولو سره مونځ کوی، نو تاسو به هغوی څنګه قتل کړئ،مطلب دادې،چې په دې صورت کښې د هغوی قتل جائز ګنړل او ددې اراده کول غلط او شرعاً صحیح نۀ دی،په یو روایت کښې دا الفاظ دی:

"أبَعدما تکلّموا بکلامکم وصلّوا بصلاتکم ونسَکُوا نسککم؟".(۱)

یعنی ابن عباس رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه په مشیت باندې موقوف کولو سره ددې خلقو د قتل اراده په دې وجه ښکاره کړه،چې هغوی ته علم وو،چې حضرت عمر رضی الله عنه به په دې صورت کښې د هغوی د قتل اجازت ورنۀ کړی۔

او حضرت عمر رضی الله عنه ددې په جواب کښې "کذبتَ" وئیلو سره دا سخت انداز په دې وجه اختیار کړو،چې د هغوی جلالی مزاج همدغه شان سخت او د یوې خبرې وو،چې هغوی ته ئې صفا اووئیل:دروغ وایې،ستا د قتل کولو هیڅ اراده نشته.....او یا دا د "أخطأتَ" په معنی باندې دې۔

د ابن عباس رضی الله عنه د قول "إن شئت فعلت" دویمه توجیه دا کړې شوې ده،چې هغۀ د غیر مسلم غلامانو د قتل کولو اراده لرله، حضرت عمر رضی الله عنه دا اوګنړل چې هغه بغیر د څۀ تفریق نه قتلول غواړی۔(۲) نو وې فرمائیل دا صحیح نۀ دی، تا غلط سوچ کړې دې۔

قوله: فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ فَشَرِبَهُ: یعنی په حضرت عمر رضی الله عنه باندې سخت ګذارونه شوې وو،او خلقو قسمه قسم خبرې کولې،چا به وئیل چې هغوی رضی الله عنه صحیح دی،او زر به صحت اړخ ته لاړ شی.او بعضې حضراتو د نا اُمیدئ اظهار کولو،ددې اندازه لګولو د پاره په هغوی باندې نبیذ اوڅکولې شو،چې د هغوی رضی الله عنه د خیټې نه بهر اووتل،بیا پرې شودۀ اوڅکولې شو،نو هغه هم د زخم نه اووتل۔

د ابو رافع په روایت کښې د "لینظر ما قدرُ جُرحه"(۳) د الفاظو نه معلومیږی،چې د نبیذو د څکولو مقصد د زخم مقدار معلومول وو۔

د طبیب راتلل او د حالت د نازک کیدو اندازه: د ابو اسحاق په روایت کښې دا الفاظ دی:

"فلما أصبح دخل علیه الطبیب فقال: أی الشراب أحب إلیك. قال: النبیذ، فدعا بنبیذ فشرب فخرج من جرحه،

---

۱) طبقات ابن سعد:۳،۱۳۳۸

۲) فتح الباری:۹،۱۸۰

۳) فتح الباری:۹،۱۸۰

فقال: هذا صديد اسقوني بلبن، فأتي بلبن فشربه فخرج من جرحه، فقال الطبيب: أوص فإني لا أظنك إلا ميتًا من يومك أو من غدٍ". (١)

په دې عبارت کښې په واضحه توګه دا مذکور دی، چې طبیب د هغوی رضی الله عنه په خوښه ظاهرولو باندې نبیذ اوڅکول، هغه د هغوی رضی الله عنه د زخمونو نه اووتل، نو حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل، دا خو وینه او نوونه دی، ما له شودهٔ راوړئ، شودهٔ راوړلې شو، او هغوی رضی الله عنه اوڅکل، نو هغه هم د زخمونو نه اوبهیدل، نو دغه وخت طبیب اووئیل، وصیت کوئ، ځکه چې نن یا صبا به تاسو وفات کیږې.

په بعضې نسخو کښې د "فخرج من جوفه" الفاظ دی، او د کشمیهنی په نسخه کښې د "من جرحه" الفاظ دی، او هم دغه زیات صحیح ګرځولې شوې دې، (٢) د جوف نه مراد خیټه او د جرح نه مراد زخم دې، اګرچې دا زخم په خیټه کښې وو، ولې لفظ د "جُرح" راجح دې، نهٔ د "جوف"

د ابو رافع په روایت کښې دا الفاظ دی: "فخرج النبيذ فلم يدر أهو نبيذ أم دم". (٣)

او هم په دغه روایت کښې دا لفاظ هم دی:

"فقالوا لا بأس عليك يا أمير المؤمنين، فقال: إن يكن القتل بأسًا فقد قُتِلتُ". (٤)

خلقو (هغوی رضی الله عنه ته د تسلئ ورکولو د پاره اووئیل) امیر المؤمنین! هیڅ حرج نشته، هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل، کهٔ قتل څهٔ حرج وی نو زهٔ خو قتل کړې شوې یم، د وئیلو معنی داده، چې هغوی رضی الله عنه ته اندازه وه، چې زهٔ نهٔ بچ کیږم، او ددې زخم او ګذار نه به زهٔ وفات کیږم.

د متعددو طبیبانو راغونښتلو قول: په بعضې روایاتو کښې د شودو او نبیذ څکولو والا دوه مختلف طبیبان ښودلې شوی دی، د ابن شهاب روایت دې، هغه وائی:

"أخبرني سالم قال: سمعت ابن عمر يقول: فقال عمر: أرسلوا إلى طبيب ينظر إلى جرحي، قال: فأرسلوا إلى طبيب من العرب فسقاه نبيذا، فشبه النبيذ بالدم حين خرج من الطعنة التي تحت السرة، قال فدعوت طبيبًا آخر من الأنصار فسقاه لبنًا فخرج اللبن من الطعنة أبيض فقال اعهد يا أمير المؤمنين، فقال عمر: صدقني، ولو قال غير ذلك لكذبته". (٥)

یعنی ابن عمر رضی الله عنه فرمائی، چې امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل، څوک طبیب راوغواړئ، چې زما زخمونه اوګوری، نو هغوی یو عرب طبیب راوغښتلو، هغهٔ راتلو سره

---

١) فتح الباری: ٩، ١٨٠
٢) فتح الباری: ٩، ١٨٠
٣) فتح الباری: ٩، ١٨٠
٤) فتح الباری: ٩، ١٨٠
٥) فتح الباری: ٩، ١٨٠

حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته نبیذ اوڅکول، هغه د هغوی د نوم د لاندینې زخم نه د وینې سره ګډ شوې راوتل، ابن عمر فرمائی، بیا ما یو انصاری طبیب راوغښتلو، هغوی راتلو سره په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې شودهٔ اوڅکول، هغه د هغوی د زخمونو نه په سپین شکل کښې راوتل، نو دغه وخت هغه طبیب اووئیل، امیر المؤمنین! تاسو وصیت اوکړې! (یعنی د بچ کیدو څهٔ صورت نشته) حضرت عمر رضی اللہ عنہ اووئیل، دهٔ ما ته ربښتیا خبره اوکړه، او کهٔ دهٔ څهٔ بل څهٔ وئیلې وې، (مثلاً چې زهٔ بچ شوې یم) نو ما به دې دروغژن ګڼلو۔

د مبارک بن فضاله په روایت کښې دا الفاظ دی:

"ثم دعا بشربة من لبن فشربها فخرج مشاش اللبن من الجرحين فعرف أنه الموت فقال: الآن لو أن لي الدنيا كلها لافتديت به من هول المطلع، وما ذلك والحمد لله أن أكون رأيت إلا خيراً"۔(۱)

یعنی بیا هغهٔ د شودو شربت اوغوښتلو، او هغه ئې اوڅکلو، نو د هغې څاڅکی د دواړو زخمونو نه ظاهر شو، په دې سره هغه پوهه شو، چې دا د مرګ علامت دې، په دې باندې هغوی رضی اللہ عنہ اووئیل، اُوس کهٔ دا ټوله دنیا زما شی، نو زهٔ به دا د قیامت د هغې سختې په بدل کښې ورکړم..... خو د الله تعالی شکر دې چې زهٔ خیر وینم۔

د "نبیذ" نور تفصیل به په "کتاب الاشربه" کښې راځی۔

هنه! دومره خبره دې یاده اوساتلې شی، چې دلته د نبیذ نه مراد "تمرات نبذت فی ماء أی نقعت" یعنی د کهٔجورو څو دانې د خوږولو د پاره په اوبو کښې اچول او منقع کول۔

د مختلفو وفدونو راتلل شروع شو: وَجَاءَ النَّاسُ يُثْنُونَ عَلَيهِ..... خلق به حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته راتلل او د هغوی تعریف به ئې کولو، د کشمیهنی په روایت کښې د "فجعلوا يثنون عليه" الفاظ راغلی دی، په مختلفو روایاتو کښې د ګڼ شمیر خلقو نومونه هم مذکور دی، چې هغوی رضی اللہ عنہ ته راغلل، او هغوی رضی اللہ عنہ سره ئې خبرې اترې اوکړې۔

د ابن سعد یو روایت دې، د جویریه ابن قدامه په طریقې سره چې د هغې الفاظ دادی: "فدخل عليه الصحابة، ثم أهل المدينة، ثم أهل الشام، ثم أهل العراق فكلما دخل عليه قوم بكوا وأثنوا عليه"۔(۲)

"یعنی مختلف صحابه هغوی رضی اللہ عنہ ته راغلل، اهل مدینې والا راغلل، بیا اهل شام او اهل عراق راغلل او څوک چې به هم راتلو زړل به ئې، او د هغوی رضی اللہ عنہ تعریف او ستائنه به ئې کوله" په بعضې روایتونو کښې د عبد الرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ، په بعضو کښې د مغیرة بن شعبه رضی اللہ عنہ او په بعضو کښې د کعب احبار رضی اللہ عنہ د راتلو هم ذکر دې۔(۳)

حضرت کعب داځلید و سره هغوی رضی اللہ عنہ ته اووئیل:

---

(۱) فتح الباری: ۹، ۱۸۰

(۲) الطبقات الکبریٰ: ۳، ۱۳۳۶

(۳) فتح الباری: ۹، ۱۸۱

"ألم أقل لك أنك لا تموت إلا شهيدًا وأنت تقول من أين وأنا في جزيرة العرب".(۱)
یعنی ما به تاسو ته نه وئیل، چې ستاسو مرګ به د شهادت وی، او تاسو به وئیل، څنګه؛ زه خو په جزیرة العرب کښې یم.....؟(کوم ځائې چې هیڅ دښمن نشته)

هغه ځوان څوک وو؟ قوله: وَجَاءَ رَجُلٌ شَابٌّ.....: یو ځوان راغلو، دا ځوان څوک وو؟ په کتاب الجنائز کښې د جریر په روایت کښې دا الفاظ دی:

"وولج عليه شابٌ من الأنصار".(۲) یعنی یو انصاری ځوان هغوی رضی الله عنه ته راغلو، او د هغوی رضی الله عنهم مدح ئې اوکړه، د هغوی د فضائلو او مناقبو ذکر ئې اوکړو، څنګه چې دلته مذکور دی.
د ابن سعد په یو روایت کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هم دغه شان د حضرت عمر رضی الله عنه فضائل او مناقب منقول دی، او ددې په جواب کښې حضرت عمر رضی الله عنه هم هغه خبرې اوفرمائیلې، کومې چې د هغه ځوان په جواب کښې د هغوی رضی الله عنه نه منقول دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي، کۀ په دې روایت (کتاب الجنائز) کښې د "من الأنصار" الفاظ نۀ وي، نو د "شابٌ" مبهم تفسیر د ابن عباس رضی الله عنه په نوم سره کیدلې شو، ولې په روایاتو کښې د "من الأنصار" تصریح ده، په دې وجه به دا وئیلې شی، چې د ابن عباس قیصه جدا ده، او د انصاری ځوان جدا، او د حضرت عمر رضی الله عنه د تعریف کونکو په تعدد او د هغوی په جواب کښې د یو قسم الفاظ واردیدو کښې هیڅ یو امر مانع نشته، لهذا متعدد روایت به په اختلاف نه په تعدد باندې حمل کړې شی.
د تعدد تائید په دې سره هم کیږی، چې دلته د کوم ځوان ذکر دې، د هغۀ په حقله دا هم راغلی دی، چې د تلوپه وخت کښې حضرت عمر رضی الله عنه د هغۀ لنګ په زمکه رانښکلې کیدونکې اولیدو، او په هغې ئې نکیر اوفرمائیلو، او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په قیصه کښې ددې ذکر نشته.
حضرت عمر رضی الله عنه د ژوند په اخری لمحو کښې هم امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولو: بیا دلته حضرت عمر رضی الله عنه په دې سخت وخت کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په شان شخصیت باندې یا په یو بل ځوان باندې د نکیر او تنقید نه د سیدنا عمر رضی الله عنه په دین باندې د زبردست کلك والی اندازه هم کیږی، او ددې مطلب دا شو، چې حضرت عمر رضی الله عنه مرګ هم د امر بالمعروف نه نۀ شی منع کولې.(۳)

"ماقدعلمت" مبتداء مؤخر او "تلك" خبر مقدم دې.(۴)

"قدم بفتح القاف" هم منقول دې، چې د هغې معنی ده، فضیلت او شرف، او په بکسر القاف هم

---

۱) الطبقات الکبریٰ: ۳، ۱۳۴۰
۲) کتاب الجنائز، باب ما جاء فی قبر النبی وأبی بکر وعمر.....رقم: ۱۱۳۹۲
۳) فتح الباری: ۹، ۱۸
۴) فتح الباری: ۹، ۱۸

مروی دي، چې د هغې معنی ده، سبقت او تقدم.[1]
حضرت عمر رضی الله عنه ته فضیلت هم حاصل وو، او سبقت هم.

د - ثُمَّ شَهَادَةٌ "اعراب: شهادة مرفوع هم کیدې شی، او په دې صورت کښې به په "ما قد علمت" باندې د عطف په وجه مرفوع وی، او مجرور هم کیدې شی، او د جر وجه به په "صحة" باندې عطف وی، د مفعول مطلق کیدو په بناء باندې منصوب وئیلو ته هم جائز وئیلې شوې دی. ولې راجح اول قول، یعنی د رفعې او د جر دې.

د ابن جریر د کتاب الجنائز په روایت کښې د "ثم الشهادة بعد هذا کله" الفاظ راغلې دی.[2]

قوله: لاَ عَلَيَّ ،وَلاَ لِي :چې نۀ د ګناهونو په وجه عذاب وی، او نۀ د نیکو په وجه ثواب، په یو روایت کښې دا الفاظ منقول دی:

"لیتفی أخرج منها کفافًا لا أجر ولا وزر". یعنی کاش چې زۀ د هغې نه داسې سر په سر خلاص شم، چې نۀ اجر او ثواب وی او نۀ د ګناه بوج او عذاب.

په یو بل روایت کښې د "لَوَدِدتُ أني أنجو منه لا أجر ولا وزر" الفاظ دی.[3]

قوله: أنقى لثوبك: په اکثرو نسخو کښې په نون سره دي، د "نقاوة" نه اسم تفضیل دي، د ډیرې صفایئ او پاکوالی سبب، اود کشمیهنی په نسخه کښې "أبقى" په باء سره دي، د بقاء نه.[4]

ساداتو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم ته د حضرت عمر رضی الله عنه د امتیازاتو علم او اعتراف وو: د مبارک بن فضاله په روایت کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا قول مروی دي:

"وإن قلتَ ذلك فجزاك خيراً، أليس قد دعا رسول الله ﷺ أن يعز الله بك الدِّينَ والمُسلمينَ الذين إذ يخافون بمكة، فلما أسلمتَ كان إسلامك عزًا، وظهر بك الإسلام، وهاجرتَ فكانت هجرتك فتحًا، ثم لم تغب عن مشهد شهده رسول الله ﷺ من قتال المشركين، ثم قبض وهو عنك راض، ووَازرتَ الخليفة بعده على منهاج النبي فضربتَ من أدبر بمن أقبل، ثم قبض الخليفة وهو عنك راض، ثم وُلِّيت بخير ما ولي الناس: مصَّر الله بك الأمصار، وحمابك الأموال، ونفى بك العدو، وأدخل بك على أهل بيت من سيوسِّعهم في دينهم وأرزاقهم ثم ختم لك بالشهادة فهنيئًا لك. فقال: والله إن المغرور من تغرُّونه. ثم قال: أتشهد لي يا عبد الله عند الله يوم القيامة، فقال: نعم، فقال: اللّٰهم لك الحمد".[5]

---

[1] فتح الباری: ۸۱.۹
[2] صحیح البخاری، کتاب الجنائز، رقم: ۱۳۹۲
[3] طبقات ابن سعد: ۳۵۱.۳
[4] فتح الباری: ۸۱.۹
[5] المعجم الکبیر للطبرانی: ۱۶۲.۱۱، وفتح الباری: ۸۲.۹

یعنی ابن عباس په دې موقع باندې اووئیل، کۀ تاسو دا خبره کړې وی نو الله تعالی دې تاسو ته ښۀ بدله درکړی، آیا رسول الله ﷺ دا دعا نۀ وه کړې، چې الله تعالی دې په تا باندې دین او مسلمانانو ته عزت ورکړی، کله چې هغوی په مکه معظمه کښې ویریدل، بیا کله چې تاسو اسلام قبول کړو، نو ستاسو اسلام قبلول خلقو د پاره د عزت سبب وو، او ستاسو په ذریعې سره الله تعالی اسلام غالب کړو، او تاسو هجرت اوکړو، نو ستاسو هجرت د فتحې سبب اوګرځیدو، بیا په هیڅ یوه غزوه کښې تاسو مشرکینو سره د جنګ کولو نه ورستو نۀ ئې پاتې شوې، چې په هغې کښې رسول الله ﷺ شریك شوې وی، او رسول الله ﷺ په دې حالت کښې وفات شوې دې، چې هغوی ﷺ ستاسو نه راضی وو، او تاسو د هغوی ﷺ نه ورستو د هغوی ﷺ په طریقې باندې د جوړ شوی خلیفه مرسته او ملګرتیا اوکړه. تاسو اسلام قبلولو د پاره د راتلونکو په ذریعه ورستو تلونکی ووهل، بیا خلیفة الرسول ته مرګ راغلو، او هغوی ستا نه راضی وو، بیا تاسو په ښکلې طریقې سره ولی الامر جوړ کړې شوئ، په کومه چې خلق جوړیږی، الله ستاسو په ذریعه ځومره ښارونه جوړ کړل، او ستاسو په ذریعه ئې مسلمانانو ته مالونه ورکړل، او ستاسو په ذریعه ئې دښمنان د وطن نه اوویستل، او ستاسو په ذریعه ئې اهل بیتو ته داسې خلق راوستل، چې هغوی د پاره به په دین او رزق کښې د فراخئ ذریعه جوړه شی، بیا الله تعالی ستاسو خاتمه په شهادت سره اوکړه، نو ستاسو د پاره خو زیږې دې، هغوی رضی الله عنهم (یعنی حضرت عمر) اووئیل، بې شکه په دهوکه کښې اوغورځیدو هغه سړې چا ته چې تۀ دهوکه ورکوې، بیا هغۀ ابن عباس ته اووئیل، عبد الله! تۀ به د الله تعالی په وړاندې د قیامت په ورځ ددې ګواهی ورکړې؟ هغوی اووئیل، هاؤ! حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل، یا الله ستا شکر دې.

او د ابن سعد په یو روایت کښې د حضرت ابن عباس امیر المؤمنین سیدنا حضرت عمر رضی الله عنه په دې الفاظو مخاطب کول منقول دی: "یا أمیر المؤمنین والله إن کان إسلامك لعزًا، وإن کانت إمامتك لفتحًا، والله لقد ملات إمارتك الأرض عدلاً، ما من اثنین یختصمان إلیك إلا انتهیا إلی قولك، قال فقال عمر: أجلسونی، لما جلس قال لابن عباس: أعد علی کلامك، فلما أعاد علیه قال: أتشهدلی بذالك عند الله یوم تلقاه؟ فقال ابن عباس: نعم! قال ففرح بذالك عمر وأعجبه".(۱)

ستاسو اسلام قبلول د مسلمانانو د پاره مدد او د عزت سبب جوړ شو، ستاسو امامت د فتحې سبب وو، او په خدائې قسم! ستاسو امارت د زمکې مخ د عدل او انصاف نه ډک کړو، کله چې هم دوۀ کسانو جګړه کړې ده، ستاسو په فیصله ئې معامله ختمه کړه، دا اوریدو سره حضرت عمر رضی الله عنه حاضرینو ته اوفرمائیل، ما کینوئ، کله چې کیناستو نو ابن عباس ته ئې اووئیل، خپله خبره بیا اوکړه، هغۀ بیا اووئیل، نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل، آیا الله تعالی سره د ملاقات په وخت کښې به زما د پاره دا ګواهی اوکړې؟ ابن

---

(۱) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۵٤

عباس او فرمائیل، هاؤ جې دا (جواب) د حضرت عمر رضی اللہ عنہ ډیر زیات خوښ شو، او هغوی په دې باندې د خوشالئ اظهار اوکړو.

د حقوقو په حوالې سره د خپلې ذمه وارئ فکر کول: په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې د الله تعالی د ویرې او خشیت الٰهی شروع کیدو دا عالم وو، چې هغۀ ته د مړ کیدو فکر نۀ وو، بیا هم هغۀ الله تعالی ته د تلو نه وړاندې د خپلو مختلفو اخروی معاملاتو په صفا کولو کښې مشغول وو، د امارت په حوالې سره هغوی رضی اللہ عنہ خپل اعمال او اشغال مسلمانانو ته وړاندې کړل، او په هغې کښې ئې خپل سپین کردار ټولو ته ښکاره کولو سره کله چې دا تسلی اوکړه، چې عام اولس د هغوی نه راضی دې، نو د الله تعالی شکر ئې ادا کړو. د اجتماعی معاملاتو نه ورسته هغوی د خپلو ذاتی مسائلو په حقله خپل ځوی ته چې کوم تفصیلی هدایات اوکړل، هغه په دې حدیث کښې مذکور دی.

دلته د (۸۶۰۰۰) شپږ اتیا زرو ذکر دې، او په "أخبار المدینه" کښې د محمد بن الحسن بن زباله په روایت کښې د (۲۲۰۰۰) شپږیشت زرو ذکر دې. قاضی عیاض همدا راجح ګرځولې دې، بیا هم اولنې قول صحیح دې، حافظ ابن حجر رحمہ اللہ همدغه (اولنې قول) معتمد ګرځولې دې[1]

ابن سعد د عثمان بن عروه روایت نقل کړې دې، هغه وائی:

"کان عمر بن الخطاب قد استسلف من بیت المال ثمانین ألفاً، فدعا عبدَ الله بن عمر فقال: بع فیها أموالَ عمر فإن وفت وإلا فسل بنی عدی....." [2]

یعنی عمر بن الخطاب د بیت المال نه (۸۰۰۰۰) اتیا زره قرضه اخستې وه، اُوس هغۀ عبد الله بن عمر راوغښتلو او وې وئیل، ددې د ادا کولو د پاره د عمر ټول مالونه خرڅ کړه، که هغه (قرضه) په دې مالونو ادا شی نو صحیح ده، او که ادا نۀ شوه، نو د بنو عدی (د حضرت عمر رضی اللہ عنہ اهل قرابت) نه اوغواړه او دا حق ادا کړه.

ددې نه معلومه شوه، چې هغوی رضی اللہ عنہ د بیت المال نه اتیا زره روپې قرض اخستې وې، دلته د اتیا زرو ذکر کولو سره کیدې شی راوی د کسورو اعتبار نۀ وی کړې، لهذا په دې او شپږ اتیا زرو په روایت کښې هیڅ منافات نشته.

د جابر په روایت کښې دا الفاظ دی: "ثم قال: یا عبد الله، أتسمُ علیك بحق الله وحق عمر إذا متُّ فدفنتنی أن لا تغسل رأسك حتی تبیع من رباع آل عمر بثمانین ألفاً فتقضعها فی بیت المسلمین، فسأله عبد الرحمن ابن عوف، فقال: أنفقتها فی حجج حججتها، وفی نوائب کانت تنوبنی" [3]

عبد الله تا ته دې د الله او د عمر (ستا د پلار) د حق قسم وی، کله چې زۀ مړ شم، او تاسو ما دفن کړئ، نو خپل سر د وینځولو (او د خاوړې نه د صفا کولو) نه وړاندې، د آل عمر زمکه د

---

[1] فتح الباری: ۸۲.۹

[2] طبقات ابن سعد: ۱۳۵۸.۳

[3] فتح الباری: ۸۲.۹

اتیا زروپه عوض کښې خرڅه کړه، اوهغه (اتیا زره) دمسلمانانوپه بیت المال کښې جمع کړه.
عبد الرحمٰن پوښتنه اوکړه(چې دا تاسو په کومه سلسله کښې اخستې دی)نو وې فرمائیل، دا ما خپلو حجونو باندې خرچ کړې دی، ما چې څو حجونه کړې دی، او نور عوارض چې ما ته به عارض کیدل.
ابن التین وائی: حضرت عمر رضی اللہ عنہ په دې پوهیدو چې ددې تاوان په ما لازم نۀ دې، ولې بیا هم هغۀ ئې ادا کړل، په دې وجه چې هغۀ په دنیا کښې د خپلو عملونو بدله اخستل نۀ غوښتل (۱) او د بیت المال نه پیسې اخستل په یوه توګه د امارت او د خدمتِ خلق معاوضه وه.

قوله: إِنَّ وَفَى لَهُ مَالُ آلِ عُمَرَ: د آل عمر نه خو یا پخپله حضرت عمر رضی اللہ عنہ مراد دې، ځکه چې "آل فلان" پخپله د فلان د پاره په کثرت سره استعمالیږی، او د هغۀ د کور خلق ښځه او بچی مراد دی، یا خاندان والا مراد دی، او عدی بن کعب هغه ورور ولی ده، کومې سره چې د هغوی رضی اللہ عنہم تعلق دې، او قریش د هغوی رضی اللہ عنہم قبیله ده. (۲)

قوله: لا تعدُّهم: یعنی د هغې نه وړاندې مۀ ځه، تجاوز او تعدی مۀ کوه، بلکه هم په دې خاندان والو باندې اکتفاء اوکړه.

ایا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په ذمه باندې قرضې نۀ وې؟: دلته اُوس دا ذکر شوې دې، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ خپل ځوی ته په خپله ذمه د واجب الاداء حقوقو متعلق اوفرمائیل، چې د هغې د ادا کولو د زر تر زره انتظام اوکړه، او د ابن سعد په یو روایت کښې دا الفاظ منقول دی:

"وما مضت جمعةٌ بعد أن دُفن عمرُ حتى حمل ابن عمر المال إلى عثمان بن عفان وأحضر الشهودَ على البراءة بدفع المال". (۳)

یعنی د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د دفن کولو نه تر اوسه پورې یوه هفته هم نۀ وه شوې، چې حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ هغه ټول مال د نوی تاکلی شوی خلیفه، حضرت عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ په خدمت کښې وړاندې کړو، او د هغۀ نه ئې په برئ الذمه کیدو باندې ګواهان هم جوړ کړل.
خو دې سره سره د بعضې حضراتو خیال دی، چې په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې هیڅ قرضې نۀ وې، نافع مولی عمر رضی اللہ عنہ ددې نه انکار کوی، او د هغۀ دا الفاظ منقول دی:

"من أين يكون على عمر دين وقد باع رجل من ورثته ميراثه بمائة ألف". (۴)

په حضرت عمر رضی اللہ عنہ باندې قرضې د کوم ځائې نه راغلې، او د هغۀ په وارثانو کښې یو کس د هغۀ میراث په یو لاکۀ باندې خرڅ کړو.

---

۱) فتح الباری: ۸۲.۹
۲) فتح الباری: ۸۲.۹
۳) طبقات ابن سعد: ۳۵۸.۳
۴) فتح الباری: ۸۲و۱۹

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، د نافع ددې استدلال نه دا چرته ثابتیږی، چې په حضرت عمر رضي الله عنه باندې قرضي نۀ وې، ددې نه خو زیات نه زیات دومره ثابتیږی، چې حضرت عمر رضي الله عنه د تنګ دستئ په حالت کښې نا، د خوشالي په حالت کښې د دنیا نه تلې وو، د هغوی ترکۀ او پرینبودلي شوې میراث کوم چې وارثانو ته ملاؤشو، هغه هغوی په یو لاکھ باندې خرڅ کړو. ولې په مالدارئ او قرضونو کښې خو څۀ تضاد نشته، مالدار سړی هم د بعضې وجوهاتو په بناء باندې په بعضې وختونو کښې قرضه اخلی، او ددې په هره زمانه کښې مشاهده کیږی.

بیا فرمائی: "فلعل نافعًا أنكر أن يكون دَينه لم يقض".(۱)

یعنی نافع چې کومه خبره کړې ده کیدې شی د هغې معنی دا وی، چې د حضرت عمر رضي الله عنه په ذمه باندې کومې قرضي وې، د هغې د نۀ ادا کولو خیال صحیح نۀ دې، بلکه هغه ادا کړې شوې وې، او ولې به نۀ ادا کیدې، چې حضرت عمر رضي الله عنه په کثیر مقدار کښې مال پرینبودو سره د دنیا نه تشریف ورلې وو.

حضرت عمر رضي الله عنه د خپل امارات نفی ولې اوکړه؟ فَإِنِّي لَسْتُ الْيَوْمَ لِلْمُؤْمِنِينَ أَمِيرًا.....ابن التین وائی، دا الفاظ حضرت عمر رضي الله عنه په هغه وخت کښې اوفرمائیل، کله چې هغوی رضي الله عنه ته د خپل مرګ یقین شوې وو، او ښکاره خبره ده چې د مرګ نه ورسترو امارت او خلافت هم د نورو منصبونو په شان ختمیږی، خو شارحین فرمائی، د هغوی رضي الله عنه ددې قول مطلب دا نۀ وو، چې زما مرګ یقینی شوې دې، نو اُوس دې ما ته امیر المؤمنین نۀ شی وئیلې، بلکه ددې یو اهم مطلب وو، او هغه دا چې حضرت عمر رضي الله عنه دا نۀ غوښتل، چې حضرت عائشه رضي الله عنها د هغوی د خلافت او امارت په وجه باندې صرف په ژبه یا د حیاء د وجهې نه هغوی د دفن کولو اجازت خو ورکړی، او د زړۀ نه هغوی په دې راضی نۀ وی، یا اُوس اجازت ورکړی، او ژوند او خلافت ختمیدو نه ورسترو د تدفین په وخت کښې هغوی په دې پښیمانه وی، په دې وجه حضرت عمر رضي الله عنه دا تصریح اوکړه، چې اُوس زۀ امیر پاتې نۀ شوم، او د خلافت او امارت نه علاوه به حضرت عائشه رضي الله عنها ما ته ځائې راکړی یا د نۀ راکولو فیصله به فرمائی، او صرف دا هم نا، حضرت فاروق اعظم خو دا وصیت هم فرمائیلې وو:

"يا بُنَيَّ إني قد أرسلت إلى عائشة أستأذنها أن أدفن مع أخوي فأذنت لي وأنا أخشى أن يكون ذلك لمكان السلطان، فإذا أنا متُّ فاغسلني وكفني ثم احملني حتى تقف بي على باب عائشة فتقول: هذا عمر يستأذن يقول.....فإن أذنت لي فادفني معهما وإلا فادفني بالبقيع، قال ابن عمر: فلما مات أبي حملناه حتى وقفنا به على باب عائشة فاستأذنتا في الدخول فقالت: ادخل بسلام".(۲)

وې فرمائیل، بچیه ! ما د (سیده) عائشه رضي الله عنها نه خپل دوۀ ورونړو (رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر) سره د دفن کیدو اجازت طلب کړو، هغې ما ته اجازت راکړو، خو ما ته دا ویره ده،

---

۱) فتح الباری: ۸۲.۹

۲) طبقات ابن سعد: ۱۳۶۳.۳

چې چرته دا اجازت زما د سلطنت د مقام د وجهې نه نۀ وی ملاؤ شوې؟نو(په دې باندې د هغې د زړۀ د رضامندئ د پاره دې داسې اوکړې شی)کله چې زۀ مړ شم،نو د غسل راکولو او کفن اچولو نه ورستو ما اوچت کړئ،او د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا دروازې ته مې یوسئ،او بیا تۀ هغې ته اووایه،چې دا عمر دې،چې اُوس بیا هم ستا نه اجازت طلب کوی،او وائی،چې ما ته خپلو ملګرو حضرت محمد رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ سره د دفن کیدو اجازت راکړه!کۀ هغې(یو واړې بیا)اجازت درکړو،نو ما هلته دفن کړئ،کنې بقیع کښې مې دفن کړئ ! ابن عمر فرمائی کله چې هغوی وفات شو،نو مونږ د هداياتو او وصیت مطابق هغوی رضی اللہ عنہ د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا دروازې ته اُوړلو سره د هغې نه اجازت واخستو، هغوی رضی اللہ عنہا اووئیل،د الله تعالی د اړخ نه په سلامتیا سره داخل شه۔

د وفات کیدو نه ورستو دویم واړې د اجازت اخستلو خبره دلته هم مذکور ده۔

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی: "فیحمل هذا النفی علی ما أشارہ إلیه ابن التین أنه أراد أن یُعلم أن سؤاله لها بطریق الطلب لا بطریق الأمر"۔(۱)

خپل ځان نه د امیر المؤمنین نفی کولو وجه به هغه وی،چې هغې اړخ ته ابن التین اشاره کړې ده،او هغه دا چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ غوښتل،چې دا ټولو ته معلومه شی،چې هغوی رضی اللہ عنہ حضرت عائشې ته(د خلیفه په حیثیت سره)حکم نۀ ورکوی،بلکه هغې ته عریضه کوی،چې د هغې د رد کولو او قبلولو دواړو به هغې ته اختیار وی،نو وې فرمائیل:چې نن خو زۀ امیر المؤمنین هم نۀ یم پاتې،نو بیا د آمرانه(یا امیرانه)حکم تصور څنګه کیدې شی۔

ایا مکان د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ملکیت وو؟:علماؤ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ استیذان او د هغې په جواب کښې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ارشاد "ولأوثرن به الیوم علی نفسی"(زۀ به نن حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته په خپل ځان باندې ترجیح ورکوم)نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې،چې دا کور د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ذاتی ملکیت وو،په دې وجه هغې په دې کښې پخپله دفن کیدل غوښتل. او بیا ئې هغه حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته ورکړو،ښکاره خبره ده چې تملیك د ملکیت نه ورستو کیدې شی،او حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته هم د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د اجازت احتیاج په دې وجه وو،چې دا د هغې ذاتی کور وو۔

بیا هم حافظ ابن حجر رحمہ اللہ "وفیه نظر"وئیلو سره ددې د منلو نه انکار کړې دې،هغه فرمائی، واقعه داده،چې حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ددې کور د منافعو ملکیت خو لرو،چې پخپله په دې کښې پاتې شی،یا بل څوك په کښې پاتې کړی،خو د رسول الله ﷺ د میراث په توګه هغې ته ددې ملکیت حاصل نۀ وو،او په دغه وجه د هغوی یو وارث د میراث په توګه ددې مالك هم نۀ شو جوړیدې،بیا هم د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات خو د هغوی ﷺ نه ورستو بل چا سره نکاح نۀ شی کولې،په دې وجه هغوی به همیشه د معتداتو په حکم کښې وی،او معتده

---

۱) فتح الباری:۱۸۲،۹

د عدت د ختمیدو پورې د خاوند په کور کښې اوسیدلې شی۔[۱] او هم هغې ته د سکونت حق حاصل وی۔

حضرت عائشه رضی اللہ عنہا د رسول الله ﷺ په روضه کښې د دفن کیدول د خواهش نه ولې ورستو شوه؟: بیا د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا چې دلته کومه جمله نقل کړې شوې ده:

"کنتُ أریده لنفسی ولأوثرنّه به الیوم علی نفسی". ددې نه معلومیږی، چې ام المؤمنین دا خاص ځائې د خپل تدفین د پاره مختص کړې وو، او بیا کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا ځائې د هغې نه طلب کړو، نو د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا مخې ته دوه صورتونه وو، یو داچې هغه ځائې حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته ور نکړی، او حضرت عمر رضی اللہ عنہ عامې مقبرې ته اوړلو سره هلته دفن کړې شی، او دویم صورت دا وو، چې هغه حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته په خپل ځان باندې ترجیح ورکولو سره هغه ځائې هغوی ته ورکړی، او پخپله په یوې بلې عامې مقبرې کښې دفن کیدو باندې راضی شی، حضرت ام المؤمنین دویم صورت اختیار کړو، حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته ئې ترجیح ورکړه، او په دې طریقه هغې رضی اللہ عنہا ته د خپل سرتاج او سرور دو عالم ﷺ او د خپل والد محترم سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ په اړخ کښې ځائې ملاؤ نۀ شو، ځکه چې د قبر ځائې هم یو وو، چې په هغې کښې به یا حضرت عمر رضی اللہ عنہ دفن کیدو، او یا (حضرت) سیده عائشه رضی اللہ عنہا۔ علامه عینی ددې جملې "ولأوثرنّه....." شرح په دې الفاظو سره کوی: "أی أخصه بمسألة من الدفن عند النبی وأترك نفسی"[۲]

د ځائې کیدلو سره هم سیده عائشې رضی اللہ عنہا دلته دفن کیدل خوښ نۀ کړل: د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا په حوالې سره په بل ځائې کښې دا منقول دی، چې هغې وفات ته نزدې عبد الله بن زبیر ته دا وصیت فرمائیلې وو، "لا تدفنی عندهم"[۳] ما دوی سره مۀ دفن کوه، ددې نه معلومیږی، چې ځائې وو خو حضرت عائشې رضی اللہ عنہا ورستو هلته دفن کیدل نۀ دی خوښ کړې، ځکه کۀ ځائې نۀ وو، نو بیا د نۀ دفن کولو د هدایاتو څۀ ضرورت وو، ځکه چې نۀ دفن کیدل هسې هم متعین وو، بلکه د عائشې رضی اللہ عنہا اول ددې ځائې ځان د پاره د مخصوص کولو تقاضا خو دا وه، چې هغې د مرګ په وخت کښې هم دا اظهار کړې وې، کاش چې ځائې وې، او زۀ دلته کښې دفن کړې شوې وې۔

ددې جواب یا حل دادې، چې ځائې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د تدفین نه ورستو هم وو، ولې حضرت عائشې رضی اللہ عنہا په هغې کښې دفن کیدل خوښ نۀ کړل، ځکه چې اول خو په دې ځائې (د حضرت عائشې په کور) کښې صرف دوه کسان مدفون وو، یو رسول الله ﷺ او دویم سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنہ او د دوی په موجودګئ کښې حضرت عائشې رضی اللہ عنہا دلته د دفن کیدو خواهش لرو، ولې کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ دفن کړې شو، نو ام المؤمنین د غیر محرم په دې احاطه

---

[۱] فتح الباری: ۸۲ و ۱۹

[۲] عمدة القاری: ۱۶، ۲۱۲\

[۳] صحیح البخاری، رقم: ۱۱۳۹۱\

کښې د راتلو په وجه ددې ځائې خیال د زړۀ نه اوباسلو، په دې وجه نه چې ځائې نۀ وو. بلکه په دې وجه چې یو اجنبی سړی هلته تشریف راوړلې دې، ددې تائید ددې نه هم کیدې شی، چې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا نه مروی دی، "لَمْ أَضَعْ ثِيَابِي عَلَى مَنْذُ دُفِنَ عُمَرُ فِي بَيْتِي". (۱)

د مسند احمد په یو روایت کښې دا الفاظ دی: "فلما دفن عمر معهم فوالله ما دخلته إلا وأنا مشدودة على ثيابي، حياءً من عمر". (۲)

د کوم وخت نه چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ زما په کور کښې دفن دې، ما خپل زیاتی لباس (کالی) نۀ دی کوز کړې.

یعنی حضرت عائشې رضی اللہ عنہا به پرده کوله، او چې حضرت عائشه رضی اللہ عنہا په خپل ژوند کښې خاوړو ته د سپارلی شوې حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه پرده ضروری ګنړله، نو د مرګ نه ورسټو به هم هغې د یو اجنبی سړی سره متصل دفن کیدل ناخوښ کړې وی، او ښکاره خبره ده. چې د مرګ نه ورسټو هم انسان خو ختمیږی نه، لهذا مړ انسان او د هغۀ د قبر نه شرمیدل یوه معنی لری. او هم ددغې وجې نه حضرت عائشې رضی اللہ عنہا دلته د دفن کیدلو نه منع اوکړه.

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د پاره د ځائې نۀ پاتې کیدو قول: او کۀ د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا د قول "ولأوثرنه به على نفسي" نه چا ته دا تاثر ملاویږی، چې ځائې صرف د یو قبر وو، ولې حضرت عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی. په ځائې ددې چې زۀ دا ځائې د خپل ځان د پاره مختص اوساتم. دا به زۀ حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته ورکړم، او ددې ځائې په سلسله کښې به خامخا هغوی ته په خپل ځان باندې ترجیح ورکوم، نو دا په دې وجه صحیح نۀ دی، چې د ایثار او ترجیح دلته دا صورت هم کیدې شی. او دې هم، چې حضرت عائشه رضی اللہ عنہا ددې ځائې نه د هغوی (یعنی حضرت عمر رضی اللہ عنہ) د اجنبیت په وجه، نۀ دا چې د ځائې نۀ کیدو په وجه ورسټو شوه، او دا ځائې حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته ورکولو سره دې سره د متصل ځائې نه ئې هم خپل ځان محروم کړو، دا هم د ایثار یو اعلی او بې مثاله صورت دې.

د تطبیق صورت: د تطبیق دویم صورت دادې، چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شهادت نه وړاندې د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا خیال وو، چې دلته صرف د یو سړی د قبر ځائې دې، لهذا د رسول الله ﷺ او د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ نه ورسټو زۀ به هم هغه دریم مړې یم چې دلته به دفن کیږم، او بیا به نور ځائې نۀ وی. ولې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د تدفین نه ورسټو هغې ته اندازه اوشوه، چې دلته د یو بل قبر ځائې هم شته. اُوس مسئله دا راغلې وه، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره متصل دفن کیدل هغې رضی اللہ عنہا نۀ خوښول. نو لهذا اول چې ئې "ولأوثرنه...." اوفرمائیل، هغه هم په ځائې وو، یعنی دهغې هم وجه وه. او ورسټو چې ئې "لاتدفن معهم" اوفرمائیل، هغه هم صحیح دی. (۳)

---

۱) فتح الباری: ۸۲.۹

۲) مسند احمد، رقم: ۲۵۶۶، المستدرک علی الصحیحین: ۱٤٤۲

۳) فتح الباری: ۹.۸۲، ۸۳، ۳.۰، ۱۳۳۰

د حضرت عیسیٰ علیه السلام قبر به کوم ځائې کښې وی؟: دلته په بعضې روایاتو کښې د حضرت عیسیٰ علیه السلام د قبر هم ذکر دې، یو روایت حضرت عائشې رضی الله عنها ارخ ته منسوب دې، چې په هغې کښې حضرت عائشه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه د هغوی په خوا کښې د دفن کیدلو اجازت طلب کوی، او هغوی ﷺ په دې الفاظو سره هغې رضی الله عنها ته جواب ورکوی:

"وأنی لك بذالك، ولیس فی ذلك الموضع إلا قبری وقبر أبی بكر وعمر وعیسی بن مریم". (۱)

نه! دلته تا ته څنګه ځائې ملاویدې شی، دلته خو به صرف زما، د ابوبکر، د عمر او عیسیٰ بن مریم قبرونه وی.

دې روایت ته حافظ ابن حجر رحمه الله "حدیث لا یثبت" وئیلو سره ناقابل د استدلال او اعتبار ګرځولې دې.

همدغه شان عمرو بن أبی شیبه په اخبار المدینة کښې د سعید بن المسیب نه نقل کړی دی، هغه فرمائی: "وهناك موضع قبر یدفن فیه عیسی علیه السلام". (۲)

دې ته هم "من وجه ضعیف" وئیلو سره حافظ ابن حجر عسقلانی کمزورې ګرځولې دې، خو کۀ یو قوی السند روایت نۀ هم وی، بیا هم د حضرت عیسیٰ علیه السلام د رسول الله ﷺ په خوا کښې د دفن کیدلو نه انکار په دې وجه معتبر نۀ دې، چې ددې څۀ دلیل نشته، او دلته په دفن کیدو کۀ یو ضعیف روایت هم وی، نو هغه هم کافی دې.

ایا هغوی رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنه ته تکیه وهلې وه؟: فأسنده رجل.....ارفعونی د الفاظو نه معلومیږی، چې حضرت عمر رضی الله عنه ملاست وو، او هغوی هلته ناستو خلقو ته اوفرمائیل، ما کینوئ، نو یو سړی اوچت کړو او هغوی رضی الله عنه له ئې خپل ځان ته تکیه ورکړه، دا سړې څوك وو؟ حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله فرمائی، لم أقف علی اسمه زۀ د هغۀ د نوم نه واقف نۀ شوم، ولې بیا فرمائی دا ابن عباس کیدې شی، او ددې تائید، د مبارك بن فضاله په روایت کښې ددې الفاظو نه کیږی:

"فقال له عمر: ألصق خدی بالأرض یا عبد الله بن عمر، قال ابن عباس: فوضعت من فخذی علی ساقی فقال: ألصق خدی بالأرض، فوضعته حتی وضع لحیته وخده بالأرض فقال ویلك عمر إن لم یغفر الله لك". (۳)

حضرت عمر رضی الله عنه او فرمائیل، عبد الله بن عمر زما مخ زمکې سره اولګوه، عبد الله بن عباس فرمائی، ما هغوی د پتون نه کوزولو سره په خپلې پنډئ کیښودو، په دې باندې هغوی

---

(۱) کنز العمال، کتاب القیامة، باب نزول عیسیٰ، رقم: ۱۲۹۷۲۸

(۲) فتح الباری: ۸۲،۹، او د ترمذی په یو روایت کښې دا الفاظ منقول دی: مکتوب فی التوراة صفة محمد وعیسی بن مریم یُدفن معه قال: فقال أبو مودود: وقد بقی فی البیت موضع قبر، رقم الحدیث: ۱۳۶۶۷

(۳) فتح الباری: ۸۳،۹، وفی طبقات ابن سعد، ویلی وویل أمی إن لم یغفر الله لی: ۲۷۴،۳، وعند الطبرانی ویلَك وویلَ أمّك یا عمر إن لم یغفر الله لك، المعجم الأوسط، رقم: ۱۵۷۹

اوفرمائیل،زما مخ زمکې سره اولګوه ! نو بیا ما د هغوی سر په زمکه کیښودو،تر دې پورې چې هغوی خپل مخ او ګیره په زمکه باندې کیښودو سره اووئیل،عمره! ستا د پاره هلاکت دې،کهٔ الله تعالی تهٔ اونهٔ ښبلې۔

ددې روایت نه معلومیږی،چې د"رجل"نه مراد ابن عباس دې،ځکه چې کهٔ هغوی ﷺ په زمکه باندې سملولو والا ابن عباس دې،نو ظاهره ده،چې اوچتولو سره خپل ځان ته تکیه ورکولو والا هم ابن عباس کیدې شی۔

علامه عینی د"رجل"نه ابن عباس مراد اخستلو والا احتمال بې بنیاده ګرځولې دې،هغه فرمائی: "إن کان مستنداً هذا القائل فی الاحتمال المذکور کونَ ابن عباس فی القضیة فلیقرره أن یقول یحتمل أن یکون عمرو بن میمون لقوله فی ما مضی فانطلقنا معه"۔(۱)

کهٔ ددې قول قائل(یعنی ابن حجر)د احتمال مذکور اظهار په دې وجه کړې وی،چې په دې مسئله کښې د ابن عباس هم ذکر دې،نو په دې وجه صحیح نهٔ دی،چې په دې کښې د عمرو بن میمون هم ذکر دې،ځنګه چې د هغوی الفاظ "فانطلقنا معه" تیر شوی دی،(نو بیا خو د رجل نه هغوی هم مراد کیدې شی)۔

نو کهٔ د حافظ ابن حجر ؒ د پورته ذکر کړې شوی روایت نه ابن عباس ﷺ مراد اخستل ثابتولې شی،نو په هغې باندې د علامه عینی اشکال نهٔ واردیږی۔

"صالحینو" ته نزدې ذ دفن کیدو فضیلت: مَا کَانَ مِن شَيءٍ أَهَمَّ إِلَيَّ.....حضرت عمر ﷺ فرمائی چې زما د پاره ددې نه اهم ځیز هیڅ هم نشته،چې د رسول الله په خوا کښې ما ته د تدفین د پاره ځائې ملاؤ شی،او هغه هم د حضرت عائشې ﷺ په خوشالئ باندې،دې نه معلومیږی،چې د صالحینو په خوا کښې د دفن کیدو هم ډیر اهمیت او برکات دی،په دې وجه حضرت عمر ﷺ سره په دې سخت حالت،او د مرګ د یقینی کیدو په وخت کښې هم ددې قربت او معیت ځومره فکر وو،او بیا په دې باندې هغوی ځنګه د الله تعالی شکر ادا کړو،او ددې د اهمیت تصریح ئې اوکړه۔

حافظ ابن حجر ؒ فرمائی: "وفیه الحرص علی مجاورة الصالحین فی القبور طمعاً فی إصابة الرحمة إذا نزلت علیهم وفی دعاء من یزورهم من أهل الخیر"۔(۲)

د حضرت عمر ﷺ په دې واقعه کښې د صالحینو په خوا کښې د دفن کیدو اهمیت او دا د حرص قابل امر کیدو اندازه هم کیږی،او(یو مسلمان ته)ددې خواهش په دې وجه وی،چې په صالحینو باندې وریدونکې رحمت نه دې هم برخه مند شی،او د هغوی زیارت له راتلونکی د خیر د خاوندانو په دعاګانو کښې دهٔ ته هم فیض ملاؤ شی۔

---

۱) عمدة القاری:۱۲۱۲،۱۶

۲) فتح الباری:۱۳۳۰،۴

د حضرت حفصې رضی اللہ عنہا په ژړلو د سیدنا حضرت عمر رضی اللہ عنہ خفګان: فَوَلجَتْ عَلَيهِ..... ددې نه ورسټو ام المؤمنین حضرت حفصې رضی اللہ عنہا تشریف راوړو، او د خپل پلار امیر المؤمنین سیدنا عمر رضی اللہ عنہ کوټې ته داخلیدو سزه په ژړا شوه، په بعضې نسخو کښې د "فمکثت" الفاظ راغلی دی، او په بعضو کښې د "فمکت".(۱)

د "فمکت" تائید په دې سره هم کیږی، چې ابن سعد د مقدام بن معدیکرب نه نقل کړی دی، چې حضرت حفصې رضی اللہ عنہا اتلو سره اووئیل:

"یا صاحبَ رسول الله رضی اللہ عنہ یا صهرَ رسول الله، یا أمیرَ المؤمنین فقال عمر: لا صبر لی علی ما أسمع، أحرج علیكِ بمالی علیكِ من الحق أن تندبینی بعد مجلسك هذا، فأما عینك فلن أملكهما".(۲)

ای د الله تعالی د رسول ملګریه! ای د الله تعالی د رسول سخره! ای د مسلمانانو امیره! حضرت عمر رضی اللہ عنہ (د خپلې خوږې لور نه د محبت او غم ډک الفاظ اوریدو سره) اوفرمائیل، څۀ چې اورم ددې د اوریدو طاقت نۀ لرم، زۀ د خپل هغه حق واسطه درکولو سره تا ددې مجلس نه ورستو د ژړا کولو نه منع کوم، کوم حق چې زما په تا باندې دې، هاؤ! ستا د سترګو اختیار ما (او تا ته) تشته، (نو د اوښکو بهیدلو نه دې نۀ منع کوم).

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ خلیفه نۀ مقرر کول او د هغې وجه: "فَقَالُوا أَوْصِ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ" (هغوی اووئیل امیر المؤمنین! وصیت اوکړئ) د حدیث د سیاق نه خو معلومیږی، چې دا د هغه خلقو قول دې، کوم چې په دغه وخت کښې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ عیادت او زیارت له راغلی وو، او د کومو چې په "واستأذن الرجال" سره دلته ذکر راغلې دي، حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی، د بعضې روایاتو نه معلومیږی، چې دا قائل ابن عمر وو، څنګه چې د کتاب الأحکام نه معلومیږی.(۳)

یو روایت چې هغه عمرو بن شبه نقل کړې دې، او په هغې کښې انقطاع هم ده، هغې نه معلومیږی، کله چې اسلم مولی عمر ته پته اولګیده، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ څوک خلیفه نۀ دې مقرر کړې، نو وې وئیل، "یا أمیر المؤمنین! ما ینعك أن تصنع كما صنع أبو بكر".(۴)

امیر المؤمنین! تاسو ولې هغه شان (خلیفه نۀ مقرر) کوئ، څنګه چې ابوبکر کړې وو.

حافظ صاحب وائی دا هم احتمال شته، چې دا د ابو لؤلؤة په لاس د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د زخمې کیدلو نه وړاندې خبره وی، احمد د معدان بن أبی طلحه په طریقې سره روایت کړې دي، چې سیدنا عمر د زخمې کیدلو نه وړاندې په خپله خطبه کښې وئیلی وو:

---

۱) فتح الباری: ۸۳،۹
۲) الطبقات الکبریٰ ذکر استخلاف عمر: ۲۷۵،۳
۳) فتح الباری: ۸۳،۹
۴) فتح الباری: ۸۳،۹

"إن أقوامًا یأمرونني أن أستخلف".(۱) بعضې خلق ما ته دا وائی، چې زهٔ خلیفه مقرر کړم.
کهٔ په خنجر د وهلو نه وړاندې تري پوښتنه کړې شوې وی، یا ورسټو په هر حال کښې هغوی رضی اللہ عنہ د هغې دوه وجوهات بیان کړل:

①:-خلیفه مقرر کول هم زما نه د غوره یعنی د ابوبکر رضی اللہ عنہ نه ثابت دی، او نهٔ مقرر کول هم زما نه(بلکه د ټولو نه)غوره یعنی د رسول الله ﷺ نه ثابت دی.

②:-زهٔ دا نهٔ غواړم چې په ژوند کښې هم او د مرګ نه ورسټو هم د خلافت په حوالې سره ذمه دار پاتې شم.

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ وصیت: ددې نه ورسټو حضرت عمر رضی اللہ عنہ تفصیلی وصیت اوفرمائیلو، او په هغې کښې ئې نهٔ صرف دا چې د خلافت په حوالې سره مسلمانانو ته لارښودنه اوکړه، بلکه په مختلفو اړخونو لارښودونکی هدایات ورکولو سره د دنیا نه رخصت شو، د خلافت ذمه واری یو متعین کس ته د سپارلو په ځائې هغوی د شورٰی خوښې ته پرېښوده، په شورٰی کښې هغوی رضی اللہ عنہ کوم خلق منتخب کړل، او په نورو باندې ئې دوی ته ترجیح ولې ورکړه، بیا ئې هغوی ۵ خلیفه د ټاکلو په سلسله کښې د کومو قواعدو او هدایاتو پابند جوړ کړل، په دې ټولو معاملاتو کښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ کیف ما اتفق څهٔ سرسری خبره نهٔ ده کړې، بلکه د یوې لوئې فسلفې او د اسلام د روح عکاسی کوونکو هدایاتو او اشاراتو په ذریعه ئې خپل فرض منصبی ادا کړل، حضرت عمر رضی اللہ عنہ خو اول ددې خبرې وضاحت کول ضروری اوګڼړل، چې دخلیفه د ټاکلو شرعی حیثیت څهٔ دې، او آیا دوی به په هرصورت کښې خلیفه مقرروی؟

نو د "استخلف" په جواب کښې هغوی رضی اللہ عنہ اوفرمائیل:

"ما أجد أحق بهذا الأمر من هؤلاء النفر-أو الرهط- الذی توفی رسول الله وهو عنهم راض فسمی علیًا وعثمان والزبیر وطلحة وسعدًا وعبد الرحمٰن".(۲)

یعنی زهٔ دې معاملې د پاره ددې ډلې نه علاوه زیات حقدار څوک هم نهٔ ونیم، چې د هغوی نه رسول الله ﷺ په داسې حالت کښې رخصت شو، چې هغوی ﷺ د دوی نه راضی وو، بیا هغوی رضی اللہ عنہ د حضرت علی، عثمان، زبیر طلحه، سعد او عبد الرحمن رضی اللہ عنہم نومونه واخستل.

د ابن سعد په روایت کښې دا الفاظ هم دی: "فأیهم استخلف فهو الخلیفة من بعدی".(۳)
په دوی کښې چې څوک هم خلیفه جوړ کړې شو، هم هغه به زما نه ورسټو خلیفه وی، په زړګونو صحابهٔ کرامو او لاکهونو مسلمانانو کښې ددې شپږو کسانو شورٰی هغوی رضی اللہ عنہ ولې جوړه کړه، ددې وجه هم هغوی رضی اللہ عنہ پخپله اوښودله، چې رسول الله ﷺ د دوی نه د رضامندئ او خوشالئ په حالت کښې د دنیا نه تلې دې، او په دې خبره کښې څهٔ شك او ابهام هم نشته،

---

۱) مسند احمد، مسند عمر بن الخطاب، رقم:۱۱۸۶
۲) حدیث باب.....۱
۳) الطبقات الکبرٰی لابن سعد:۳۲۸،۳

څکه چې دا حضرات په هغه عشره مبشره کښې چا ته چې د جنت زیرې ورکړې شوې دي،هم شمیرلې شی،د الله د رسول رضامندئ هم د الله تعالی د رضامندي سره یو شان ده،او مبشر بالجنة کیدل هم د الله تعالی په دربار کښې د ایمان او عمل د قبولیت دلیل دي،ددې نه معلومه شوه،چې په اسلام کښې د استحقاق خلافت او د بادشاهئ د اهلیت د پاره په دین دارئ او د خدائې نه په ویره کښې فائق او ممتاز کیدل ضروری دی۔

د خلافت په حوالې سره دوه اهم هدایات: د خپل ځان نه د ورستو خلیفه مقرر کولو په سلسله کښې د حضرت عمر رضی الله عنه چې کومه طریقه او نقطهٔ نظر د هغوی رضی الله عنه د هدایاتو او فرموداتو نه معلومیږی په هغې کښې دوه خبرې اهمې دی:

①:-تقوی او للّهیت:ددې دلیل دادې،چې دا معامله په دینداریٔ کښې د ټولو نه ممتاز لبس کسانو پورې محدود ساتلې شوې ده،او د دوی نه علاوه ئې چا ته هم په دې کښې د برخې اخستلو او د زړهٔ په خوښه د کار کولو اجازت ورنهٔ کړو۔

②-شوریٰ ته ئې بنیادی حیثیت ورکړو،په نورو الفاظو سره داسې اووایه،چې د خلافت د پاره ایمان او تقوی شرط اوګرځولې شو،او د خلافت طریقې ئې شوریٰ۔

د ابن سعد په یو روایت سره ددې نور وضاحت کیږی،چې په هغې کښې سعید بن زید حضرت عمر رضی الله عنه ته وائی،کهٔ تاسو د یو مسلمان ټاکلو ارخ ته اشاره هم اوکړئ،نو خلق به په هغهٔ باندې د اعتماد او رضامندئ اظهار اوکړی،حضرت عمر رضی الله عنه اووئیل:

"قد رأیت من أصحابي حرصًا سیئًا وإني جاعل هذا الأمر إلى هؤلاء النفر الستة الذین مات رسول الله ﷺ وهو عنهم راض".(۱)

ما د خپلو ملګرو د ارخ نه ډیر بد حرص اولیدو،او زهٔ د خلافت دا کار دې شپږو کسانو ته ورکوم،د چا نه چې رسول الله ﷺ د دنیا نه د رحلت په وخت کښې راضی وو۔

ددې نه معلومیږی چې نور خلق هم د خلافت امیدوار او متمنیان وو،ولې حضرت عمر رضی الله عنه هغوی په سختئ سره منع کړل،او هم ددې شپږو کسانو شوریٰ ئې جوړه کړه۔

او تر کومې پورې چې د ټاکلو او د خپل شخصی رائې په ځائې شورائیت ته د بنیادی حیثیت ورکولو تعلق دې،نو په دې حوالې سره هم د ابن سعد په یو مفصل روایت کښې دا الفاظ راغلی دی:

"ولیخلُ هؤلاء القوم في بیت،فإذا اجتمعوا على رجل فمَن خالفَهم فاضربوا رأسه فلما خرجوا من عند عمر قال عمر:لو ولّوها الأجلح سلك بهم الطریق فقال له ابن عمر:فما یمنعك یا أمیر المؤمنین؟قال أكره أن أتحمّلها حیًا ومیّتًا".(۲)

وې فرمائیل،دا خلق(یعنی أصحاب سته)دې په یو کور کښې خفیه مشوره اوکړی،او کله

---

۱) طبقات لابن سعد:۳،۳٤۲،۳٤۳

۲) طبقات ابن سعد:۳،۳٤۲

چې دوی په چا باندې متفق شی،نو څوک چې هم د هغوی نه مخالفت اوکړی،د هغه سړی سر کټ کړئ،کله چې دا حضرات د حضرت عمر رضی اللہ عنہ خوا نه پاسیدل،نو هغوی رضی اللہ عنہ اوفرمائیل، کۀ دا خلق څوک بې خکرو ځناور هم مقرر کړی،نو هغه به هم دوی په نیغه لار بوځی،(یعنی اوس به دې شورٰی سره د الله تعالی مدد او نصرت شامل حال وی)ابن عمر اوفرمائیل،تاسو ولې څوک نۀ مقرر کوئ؟حضرت عمر رضی اللہ عنہ اوفرمائیل،ما ته په ژوند کښې او د مرګ نه ورسټو هم د دې ذمه داري اوچتول خوښ نۀ دی۔

په بل روایت کښې دا الفاظ دی: "فمن تأمر منکم علی غیر مشورة من المسلمین فاضربوا عنقه".(۱)
یعنی په تاسو کښې کۀ څوک د مسلمانانو د مشورې نه بغیر امیر جوړ شو،نو هغه قتل کړې همدغه شان حضرت عمر رضی اللہ عنہ د یوې بلې خبرې وضاحت هم اوکړو،هغه دا چې کۀ هغوی (یعنی حضرت عمر)خلیفه مقرروی نو دا هم صحیح دی،ځکه چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ هم مقرر کړې وو،او کۀ نۀ مقرروی نو دا هم صحیح دی،او رسول الله ﷺ څوک هم نۀ دی مقرر کړې،نو هغوی رضی اللہ عنہ فرمائی:

"إن أستخلف فسنة وإلا أستخلف فسنة، توفی رسول الله ﷺ ولم یستخلف وتوفی أبوبکر فاستخلف".(۲)
کۀ زۀ خلیفه مقرروم،نو دا هم سنت دی،او کۀ نۀ مقرروم نو دا هم سنت دی،رسول الله ﷺ وفات شو،اوهغوی خلیفه نۀ وو مقررکړې،او ابوبکر رضی اللہ عنہ وفات شو اوهغوی خلیفه مقررکړو. د دواړو خبرو ځائې موجود دې۔

د خلیفه د ټاکلو درې طریقې: ددې نه دا هم معلومه شوه،چې په اسلام کښې هم ددې دواړو بلکه د درې واړو طریقو ځائې شته:

①:-اوله دا چې د خلیفه تقرر مسلمانان خپل مینځ کښې په فراخې مشورې او اتفاق رائې سره اوکړی،ځنګه چې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په خلافت کښې اوشو۔

②:-دا چې خلیفه خپل قائم مقام پخپله مقرر کړی،په دې شرط چې وصیت کونکې خلیفه هم په دینی اعتبار سره د اعتماد وړ او د تقوٰی او تدین حامل وی،او د هغۀ ټاکونکې خلیفه هم،ځنګه چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ پاره حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ وصیت اوفرمائیلو۔

③:-دا چې د منتخب او غوره کړې شوؤ کسانو مختصره شورٰی جوړه کړې شی،او هغوی ددې فیصله اوکړی،ځنګه چې دلته د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت په سلسله کښې اوشو۔

د خلیفه د ټاکلو په حوالې سره د حضرت عمر او ابن عمر رضی اللہ عنہما په مینځ کښې یوه زړۀ راښکونکې مکالمه هم ابن سعد نقل کړې ده،فرمائی:ابن عمر حضرت عمر ته اووئیل: "لواستخلفتَ"،کۀ تاسو خلیفه مقرر کړې وې نو ښۀ به نۀ وې؟حضرت عمر اوفرمائیل، "مَن"؟ څوک به مې مقرر کولو؟

---

۱) طبقات ابن سعد:۳،٤٤ ۱۳
۲) طبقات ابن سعد:۳،٤٢ ۱۳

ابن عمر اووئیل: "تجتهد فإنك لست لهم برب تجتهد، أرأيت لو أنك بعثتَ إلى قيم أرضك ألم تكن تحب أن يستخلف مكانه حتى يرجع إلى الأرض؟ قال بلى، قال: أرأيت لو بعثت إلى راعي غنمك ألم تكن تحب أن يستخلف رجلاً حتى يرجع؟".(۱)

حماد بن زید راوی وائی: "فسمعت رجلاً يحدث أيوب أنه قال: إن أستخلف فقد استخلَفَ مَن هو خير مني، وإن أترك فقد تركَ مَن هم خير مني فلما عرض بهذا ظننت أنه ليس بمستخلف".(۲)

وي فرمائیل کهٔ ما خلیفه مقرر کړو، نو زما نه غوره (یعنی ابوبکر) مقرر کړي دي، او کهٔ ما پریښودو، نو زما نه غوره (یعنی رسول الله ﷺ) هم پریښودي دي، راوی وائی د هغوی رضی اللہ عنہم په دي تعریض سره زهٔ په دي پوهه شوم، چې هغوی رضی اللہ عنہم خلیفه مقرر کول نهٔ غواړی.

په عشره مبشره کښې د بعضو د نهٔ ذکر کولو وجه: دلته یو سوال کیدې شی، چې په عشره مبشره کښې صرف د شپږو انتخاب ولې اوکړې شو؟

ددې جواب دادي، چې په عشره مبشره کښې دوه خو حضرات یعنی حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او پخپله حضرت عمر رضی اللہ عنہ وو، او ښکاره خبره ده چې دوی دواړه په مشوره کښې نهٔ شو شاملیدې، ځکه چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ خو پخپله صاحب معامله دي، او په شهادت سره د هغهٔ خلافت ختمیږی، او ابوبکر ددې نه وړاندې وفات شوې دي.

پاتې شو ابو عبیدة بن الجراح رضی اللہ عنہ نو د هغهٔ هم انتقال شوې وو.(۳)

سعید بن زید رضی اللہ عنہ په شورٰی کښې ولې وانخستې شو؟ اوس په باقی ووهٔ حضراتو کښې صرف سعید بن زید رضی اللہ عنہ پاتې شو، نو د هغهٔ د نوم د نهٔ اخستو وجه دا کیدې شی، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د اقرباء پروړئ او د هغې د الزام نه بچ کیدل غوښتل، او سعید بن زید خو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ترهٔ خوې او اوښې وو، نو په مشوره کښې د هغهٔ په شاملولو باندې او د خلافت په امیدوار جوړولو باندې اعتراض کیدې شو.

او ممکنه ده، چې د یو بل سبب په وجه باندې هغه ئې د خلافت د پاره مناسب نهٔ وی ګڼلې، علامه عینی وائی:

"أما سعيد فهو ابن عمّ عُمر رضی اللہ عنہ فلعلّه لم يذكره لذلك أو لأنه لم يَرَه أهلاً لها بسبب مِن الأسباب".(۴)

خو د خلافت د پاره اهل نهٔ ګرځولو مطلب دا هم نهٔ دي، چې حضرت سعید بن زید رضی اللہ عنہ په عشره مبشره کښې هم نهٔ وو پاتې شوې، یا د هغهٔ په مقام او مرتبه کښې څهٔ کمې راغلې وو، د مدائنی روایت دي، چې په هغې کښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د سعید بن زید په هغه خلقو کښې شمیر کړې دي، د کومو نه چې رسول الله ﷺ د دنیا نه تلو په وخت کښې راضی وو، ولې

---

۱) الطبقات الکبرٰی لابن سعد: ۱۳۴۳،۳

۲) الطبقات الکبرٰی: ۱۳۴۳،۳

۳) فتح الباری: ۸۴۳،۳

۴) عمدة القاری: ۱۶،۲۱۲، وفتح الباری: ۸۴،۹

حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت د شورٰی نه هغه د قرابت او رشته دارئ د وجهې نه مستثنٰی کړو، دې د پاره چې په هغوی رضی اللہ عنہ د اقرباء پروري الزام اونۀ لګی، په دې روایت کښې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ دا الفاظ مروی دی:

"لاأرب لی فی أموركم فأرغب فیها لأحد من أهلی".(۱)

ما ته ستاسو (د خلافت وغیره) په کارونو کښې هیڅ قسم حاجت او ضرورت نشته، چې د خپل یو رشته دار د پاره په دې کښې کوشش اوکړم.

د ابن عمر رضی اللہ عنہ په شورٰی کښې د نۀ شاملولو وجه: حضرت عمر رضی اللہ عنہ خپل ځوې او جلیل القدر صحابی حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہما هم په شورٰی کښې شامل نۀ کړو، چې د اهلیت او اهمیت سره سره هغۀ د همدردئ او تسلئ هم حق لرلو، ولې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د هغۀ د زړۀ صرف دومره خیال اوساتلو چې وې فرمائیل، "یشهدكم عبد الله بن عمر".

چې عبد الله بن عمر به هم تاسو سره حاضر وی.

علامه عینی رحمہ اللہ فرمائی:

"أی یحضركم، ولكن لیس له من الأمر شیئ، وإنما قال هذا مع أهلیته لأنه رأی غیره أولی منه".(۲)

یعنی حضرت ابن عمر به حاضر خو وی، ولې دۀ سره به د څۀ څیز اختیار نۀ وی، او دا خبره حضرت عمر رضی اللہ عنہ دې د پاره اوفرمائیله، چې هغوی رضی اللہ عنہ نور خلق د عبد الله بن عمر نه زیات حقدار ګنړل، اګر چې اهلیت خو په عبد الله بن عمر کښې هم وو، ولې په نورو کښې به زیات وو، په بعضې روایاتو کښې دا هم راغلی دی، چې بعضې حضراتو ابن عمر رضی اللہ عنہ ته د ذمه دارو ورکولو په حوالې سره حضرت عمر رضی اللہ عنہ سره خبره هم اوکړه، د ابن سعد په روایت کښې دا الفاظ راغلی دی:

"قال عمر مَن أستخلِف؟، لو كان أبو عبیدة بن الجراح، فقال له رجل: یا أمیر المؤمنین! فأین أنت من عبد الله بن عمر؟ فقال قاتلك الله والله ما أردت الله بهذا، أستخلف رجلاً لیس یحسن یطلق امرأته".(۳)

وې فرمائیل کۀ ابو عبیده بن الجراح وې نو څۀ خۀ به وې، ما به هم هغه خلیفه مقررولو، اُوس څوك خلیفه کړم؟ یو سړی اووئیل، امیر المؤمنین! اتاسو ابن عمر ولې هیر کړې دې؟ حضرت عمر رضی اللہ عنہ اوفرمائیل خدائې دې بیړه غرقه کړه، دا تۀ د الله تعالی د پاره نه (زما خوشالولو د پاره یا د یو بل مقصد د پاره) وائې، آیا زۀ یو داسې سړی خلیفه جوړ کړم، چې په صحیح طریقه خپلې ښځې ته طلاق ورکول هم نۀ پیژنی.

حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ خپل محترم پلار په خیر خواهئ، او د خلافت د درنو ذمه دارو نه د هغۀ د بچ کولو په حکمت او مصلحت باندې پوهیدو، همدغه وجه ده، چې د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۸٤

۲) عمدة القاری: ۱۶، ۱۲۱۲

۳) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳٤۳

د خلافت په حوالې سره د مذکوره وصیت نه ورسټو کله چې به حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ د خلافت په مشوره کښې د شریک کولو د پاره راؤغوښتلې شو، نو ابن عمر رضی اللہ عنہ به د هغې نه معذرت کولو، او د شرکت نه ئې کولو وجه به ئې هم هغه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د ارخ نه ممانعت ښودلو، ځکه چې د هغوی له مخې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ رائې د فراست نه خالی نه وه، همدغه مضمون د ابن سعد په لاندینو روایتونو کښې مذکور دې، راوی عبد الله بن عمر فرمائی:

"ثم قال قوموا فتشاوروا، فأمّروا أحدكم. قال: عبد الله بن عمر: فقاموا يتشاورون، فدعاني عثمان مرةً أو مرتين ليُدخلني في الأمر ولا والله ما أحب أني كنت فيه، علماً أنه سيكون في أمرهم ما قال أبي، والله لقلّ ما رأيته يحرك شفتيه بشيء قط إلا كان حقا. فلما أكثر عثمان علي قلت ألا تعقلون؟ أتؤمرون وأمير المؤمنين حي". (۱)

بیا حضرت عمر رضی اللہ عنہ او فرمائیل، اُوس تاسو شورٰی والا لاړ شئ، او په مشورې سره په خپلو کښې یو امیر مقرر کړئ عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ فرمائی، نو دا حضرات پاسیدل او مشورې کولو ته لاړل، حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ما ته هم یو واړې یا دوه واړې آواز اوکړو، دې د پاره چې ما هم په مشوره او خلافت کښې شامل کړی، خو نا، په خدائې قسم چې ما دې ته راتلل نه غوښتل، ځکه ما ته معلومه وه، چې په دې کښې به ضرور څۀ وی، د کومې چې زما والد ما ته وئیلی دی، او په الله مې دې قسم وی ما به داسې ډیر کم لیدلې وی، چې زما والد محترم د یو څیز متعلق شوندې خوځولې وی، او هغه هم هغه شان نه وی شوې. (بلکه څۀ چې به هغوی اووئیل خامخا به هم هغه کیدل) بیا کله چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ډیر اصرار اوکړو، نو ما ورته اووئیل، آیا تاسو نه پوهیږئ؟ امیر المؤمنین تر اوسه پورې ژوندې دې، او تاسو امیر جوړوئ (نو هله ئې زۀ پریښودم).

قوله: کهيئة التعزية له: یعنی کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ خپل ځوې عبد الله بن عمر د خلافت د شورٰی نه اوباسلو، نو د هغۀ د خاطر کولو او د زړۀ خیال ساتلو د پاره ئې هغه په اهل شورٰی کښې داخل کړو.

د تعزیت معنٰی ده د صبر تلقین او تسلی ورکول، یا دا د هغوی د والد محترم په وفات باندې د اهل حل و عقد د ارخ نه هغوی سره د تعزیت برابر وو، په دې وجه ئې اوفرمائیل، "ك هيئة التعزية". د تعزیت په توګه باندې.

کرمانی رحمہ اللہ خیال ظاهر کړې دې، چې د "ك هيئة التعزية" الفاظ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه دی، بلکه د یو راوی دی. (۲)

خو ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی: "لم أعرف من أين تهيأ له الجزم بذلك مع الاحتمال". (۳)

---

۱) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳٤٤

۲) شرح الکرمانی: ۱٤، ۱۲۳۹

۳) فتح الباری: ۹، ۱۸٤

معلومه نۀ ده، چې هغوی ته دا یقین د کوم ځائې نه حاصل شو، حال دا دې چې دا صرف یو احتمال دې، چې دا د راوی زیاتوالې وی۔

حافظ صاحب د مدائنی په حوالې سره ذکر کړی دی، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ شورٰی والو ته دا الفاظ فرمائیلی وو: "إذا اجتمع ثلاثة على رأي فحكموا عبدَ الله بن عمر، فان لم ترضوا بحكمه فتقدِّموا مَن معه عبد الرحمٰن بن عوف"۔(۱)

کله چې درې کسان په یوې رائې باندې جمع شی، نو د هغوی حکم او فیصل عبد اللہ بن عمر جوړ کړئ، او کۀ د هغۀ په فیصله باندې تاسو نۀ راضی کیږئ، نو هغه چا ته ترجیح ورکړې چا سره چې عبد الرحمٰن بن عوف وی۔

د حضرت سعد د پاره خصوصی شفارس: فَانْ أَصَابَتِ الإِمْرَةُ سَعدًا.....دې نه ورسټو حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خاصه توګه د حضرت سعد بن أبی وقاص نامه واخسته، او وې فرمائیل، کۀ تاسو په هغۀ باندې اتفاق کوئ نو صحیح ده، هغه به خلیفه وی، او هغه ددې اهل دې، او کۀ په بل چا باندې اتفاق وی، نو بیا هغه هر څوک چې شو، هغۀ ته د خلافت په امورو کښې د سعد نه خامخا مدد اخستل پکار دی۔

ددې تصریح وجه هم حضرت عمر رضی اللہ عنہ پخپله اوښودله، او هغه دا چې ددې نه وړاندې هغوی رضی اللہ عنہم دې (یعنی حضرت سعد) د کوفې د ګورنرئ نه معزول کړې وو، په هغې سره چا ته دا ګمان کیدې شو، چې دا به د هغوی (یعنی د حضرت سعد) د نا اهلئ د وجهې شوی وی، حضرت عمر رضی اللہ عنہ د داسې هرې یوې خبرې نفی اوکړه، د عجز نه مراد عجز فی التصرف او د خیانة نه خیانت فی المال مراد دې۔(۲) دلته په دې نسخه کښې د "امرة" لفظ راغلې دې، او د کشمیهنی په نسخه کښې "امارة" بالالف راغلې دې۔(۳)

د مدائنی په روایت کښې دا زیاتوالې دې: "وما أظن أن يلي هذا الأمر إلا على أو عثمان فإن ولي عثمان فرجل فيه لين، وإن ولي علي فاختلف عليه الناس، وإن ولي سعد.....وإلا فليستعن به الوالي"۔(۴)

زما دا خیال وو، چې د خلافت دا معامله به حضرت علی رضی اللہ عنہ یا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ تر سره کوی، کۀ حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ته ددې ذمه داری ملاؤ شی، نو هغه یو داسې سړی دې، چې په هغۀ کښې نرمی ده، او کۀ حضرت علی رضی اللہ عنہ خلیفه جوړیږی، نو خلق به هغۀ کښې اختلاف کوی، او کۀ سعد خلیفه جوړ شو، خو صحیح ده، ځکه والی (چې څوک هم جوړ شی) دې د هغۀ نه مدد واخلی۔

---

۱) فتح الباری: ۸۴،۹

۲) عمدة القاری: ۱۲۱۲،۱۶

۳) فتح الباری: ۸۴،۹، وعمدة القاری: ۱۲۱۲،۱۶

۴) فتح الباری: ۸۵،۹

بیا ئې حضرت ابو طلحه انصاری ته په خاصه توګه اووئیل، چې الله تعالی ستاسو د انصارو په ذریعه د اسلام مدد او نصرت اوفرمائیلو، نو تۀ په انصارو کښې پنځوس کسان منتخب کړه، او هغوی ته ترغیب ورکړه، چې بیا هغوی په خپلو کښې یو کس امیر منتخب کړی۔(۱)

راتلونکی خلیفه او نورو حضراتو ته وصیتونه: وقال أوصى الخليفة..... بیا هغوی رضی اللہ عنہم د ځان نه ورسته راتلونکی ممکن خلیفه ته مختلف وصیتونه اوفرمائیل، او ابو اسحاق چې د عمرو بن میمون نه کوم روایت نقل کوی، په هغې کښې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ او د حضرت علی رضی اللہ عنہ نامې اخستلو سره هغوی رضی اللہ عنہم دوی مخاطب کړل، او دا هدایات او وصیتونه ئې د هغوی غوږونو ته واچول۔

نو وائی: "فقال: ادعوا لي عليًا، وعثمان، وعبد الرحمٰن، وسعدًا والزبير، وكان طلحة غائبًا"۔(۲)

حضرت طلحه رضی اللہ عنہ غائب وو، او د هغوی نه علاوه ټول اهل شوریٰ والا حضرت عثمان، علی، عبد الرحمٰن، سعد، زبیر رضی اللہ عنہم ئې راؤغوښتل، راوی وائی، بیا د حضرت عثمان او حضرت علی رضی اللہ عنہما نه علاوه ئې چا سره هم خبرې اونۀ کړې۔

نو وې فرمائیل: "يا علي، لعل هؤلاء القوم يعلمون لك حقك وقرابتك من رسول الله وصهرك وما أتاك الله من الفقه والعلم فإن وليت هذا الأمر فاتق الله فيه"۔(۳)

وې فرمائیل، علی! کیدې شی دا خلق ستا حق، او رسول الله ﷺ سره ستا د رشته دارئ او سخرګنئ تعلق، او هغه علم او فقه پیژنی، کوم چې الله تعالی تا ته درکړې دې، لهذا کۀ تۀ خلیفه جوړیږې، نو ددې خلافت په حقله د الله تعالی نه اویریږه۔

بیا هغوی رضی اللہ عنہم حضرت عثمان رضی اللہ عنہ راؤغوښتلو، او هغۀ ته ئې تقریبًا هم دغه خبرې اوکړې، د اسرائیل عن أبی اسحاق په دې روایت کښې دا الفاظ منقول دی:

"يا عثمان لعل هؤلاء القوم يعرفون لك صهرك من رسول الله وسنك وشرفك فإن ولّوك هذا الأمر فاتق الله فيه ولا تحملن بني أبي معيط على رقاب الناس"۔(۴)

عثمانه! کۀ دا خلق د خلافت معامله تاسو ته سپاری، نو تاسو په هغې کښې د الله تعالی نه ویریږئ، او بنو أبی معیط د خلقو په ستونو باندې سوارۀ نۀ کړئ۔

په یو بل روایت کښې حضرت علی رضی اللہ عنہ سره هم په دې الفاظو د خطاب کولو ذکر دې:

"إن وليتَ من أمر المسلمين شيئًا فلا تحملن بني عبد المطلب على رقاب الناس"۔(۵)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۸۵/۱

۲) فتح الباری: ۹، ۸۵/۱

۳) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۴۱/۱

۴) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۴۱/۱

۵) طبقات ابن سعد: ۳، ۱۳۴۱/۱

یعنی کهٔ د خلافت ذمه داري تا ته سپارلي شی،نو بنو عبد المطلب د خلقو په ستونو باندې مهٔ سوره۔

ددې نه ورستو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په حوالې سره په دې روایت کښې دی: "ثم قال ادعوالی صهیبًا، فدعی فقال: صلِّ بالناس ثلاثًا ولیخل هولاء القوم فی بیت فإذا اجتمعوا علی رجل فمن خالفهم فاضربوا عنقه"(۱)

وې فرمائیل،صهیب ما ته راوُبلئ،راوُبللې شو،نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ ورته اووئیل،تر دریوُ ورځو پورې خلقو ته په جماعت سره مونځ کوه،او دا خلق دې په یو کور کښې جمع وی،او چې په کوم کس باندې اتفاق راشی،نو څوك هم چې د هغهٔ مخالفت کوی نو د هغه سړی سر کټ کړئ۔

د ابن سعد په یو بل روایت کښې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ او حضرت علی رضی اللہ عنہ سره نورو حضراتو ته هم وصیت کړې شوې دې،د هغې الفاظ دادی:

"فقال: إنی قد نظرت لکم فی أمر الناس فلم أجد عند الناس شقاقًا إلا أن یکون فیکم، فإن کان شقاق فهو فیکم وإنما الأمر إلی ستة، الی عبد الرحمٰن، وعثمان، وعلی، والزبیر، وطلحة، وسعید، وکان طلحة غائبًا فی أمواله بالسراة۔ ثم إن قومك إنما یؤمّرون أحدکم أیها الثلاثة۔ لعبد الرحمٰن وعثمان وعلی۔ فإن کنت علی شیئ من أمر الناس یا علی فلا تحملنّ بنی هاشم علی رقاب الناس"۔(۲)

یعنی حضرت عمر رضی اللہ عنہ او فرمائیل،ما د خلقو دې معاملې ته اوکتل نو ما په هغوی کښې نه، په تاسو کښې اختلاف اولیدهٔ، اختلاف کهٔ دی،نو هغه په تاسو کښې دې،دا معامله هسې خو تاسو شپږو کسانو عبد الرحمٰن، علی،عثمان، زبیر، طلحه او سعد ته سپارلې شوې ده، او طلحه خو د خپلو مالونو په سلسله کښې غائب دې،نو بیا ستاسو قوم به په تاسو دریوُ واړو کښې یو کس خلیفهٔ جوړوی،اې عبد الرحمٰن،عثمان،او علی! ددې وجهی نه عبد الرحمٰن ! کهٔ تا ته څهٔ ملاویږی،نو تهٔ خپل رشته دار د خلقو په ستونو باندې مهٔ سوروه، عثمانه ! تهٔ د ابو معیط اولاد او علی ! تهٔ بنو هاشم د خلقو په ستونو باندې مهٔ سوروه۔

قوله: بِالْمُهَاجِرِیْنَ الْأَوَّلِیْنَ: دې نه ورستو سیدنا عمر رضی اللہ عنہ د مهاجرینو،انصارو،اهل امصارو او اعرابو په شان د متخلف پیژندګلو حامل مسلمانانو کښې د هر یو خصوصی او امتیازی شان بیانولو سره د هغهٔ د خیال ساتلو وصیت اوفرمائیلو۔

د مهاجرین اولین نه څوك مراد دی؟: بعضې حضرات وائی،هغه حضرات مراد دی،چا چې دواړو قبلو ارخ ته مونځ کړې دې،یعنی څوك چې د تحویل قبلې نه وړاندې په اسلام مشرف شوی وو،یوقول دا دې،چې په بیعة الرضوان کښې شریك حضرات مراد دی،اودې حضراتو وطن پریښودو سره دار الهجرة او مدینة الرسول ته تشریف راوړو،علامه عینی رحمہ اللہ اول قول

---

(۱) طبقات ابن سعد:۱ ۳۴۱و۱۳

(۲) طبقات ابن سعد:۳، ۳۴۴۱

سعید بن المسیب ارخ ته او دویم شعبی ارخ ته منسوب کړې دي.(۱)

د "انصار" معنی او مصداق: او انصار هغه دی، چې په "دار" یعنی مدینه منوره کښې د وړاندې نه اوسیدل، او د اسلام په وجه د هجرت (ترکِ وطن) کونکو چې چا نصرت اوکړو، هم هغه حضرات مراد دی.

د "تبوؤا الدار والإیمان مِن قبلهم" معنې داده، چې انصار مدینې منورې ته د مهاجرینو نه وړاندې راغلی وو، او د رسول الله ﷺ دلته د تشریف راوړلو نه دوه کاله وړاندې هغوی جماتونه جوړ کړې وو، دا معنی نۀ ده، چې د مهاجرینو نه وړاندې هغوی ایمان راوړلې وو، ځکه چې په ایمان او هجرت کښې سابقیت او اول والې بس هم مهاجرینو ته حاصل وو.(۲)

او تر کومې پورې چې د "الإیمان" تعلق دې، نو ددې متعلق یو قول خو دادې، چې دا هم د مدینې منورې په نومونو کښې یو نوم دې، او گویا د "دار" نه بدل دې، ولې دا قول بعید او بې فائدې اوگرځولې شو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: "والراجح، أنه ضمن "تبوأ" معنی لزم، أو عاملُ نصبِه محذوف وتقدیره واعتقدوا أو أن الإیمان لشدة ثبوته فی قلوبهم کأنه أحاط بهم وکأنهم نزلوه والله أعلم".(۳)

وائې چې راجحه دا ده، چې "تبوأ" د "لزم" معنې ته متضمن دې، او معنی ده، هغه خلق چا چې مدینه منوره او ایمان کلك ټینګ کړو، دویم احتمال دادې، چې ددې عامل ناصب محذوف دې، او تقدیر د عبارت داسې دې، "واعتقدوا الإیمان"، دریم احتمال دادې، چې د هغوی په زړونو کښې ایمان د راسخ او ثابتیدو په وجه گویا ایمان د هغوی زړونه په گیره کښې اخستی دی، او هغوی گویا ایمان سره په احاطه کښې راکوزیږی.

علامه عینی رحمه الله فرمائی: "والإیمان، فیه إضمار أی واثروا الإیمان، من باب علفتها تبنًا وماءً باردًا، لأن الإیمان لیس بمکان فیتبوؤا فیه، التبوؤ التمکن والاستقرار ولیس المراد أن الأنصار امنوا قبل المهاجرین بل قبل مجیئ النبی ﷺ الیهم".(۴)

یعنی د "الدار" نه ورسته چې کوم لفظ د "الإیمان" راغلې دې، د هغې فعل مضمر دې، او هغه دلته "اثروا" کیدې شی، او په دې طریقې سره به دا عبارت د "علفتها تبنًا وماءً باردًا" د قبیلې نه شی، ددې اضمار وجه داده، چې ایمان څۀ مکان نۀ دې، چې هغه د استوګنې ځائې جوړ کړې شی، ځکه د "تبوؤ" معنی ده، د استوګنې ځائې جوړول، او قرار اختیارول، بیا د "قبلهم" نه دې هم

---

(۱) فتح الباری: ۸۵.۹، وعمدة القاری: ۲۱۲.۱۶
(۲) عمدة القاری: ۱۱۶.۲۱۳
(۳) فتح الباری: ۸۵.۹
(۴) عمدة القاری: ۲۱۳.۱۶

دا فهم نۀ کړې شی، چې انصارو د مهاجرینو نه وړاندې اسلام قبول کړې وو، بلکه معنی داده، چې د رسول الله ﷺ او د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم مدینې ته د تشریف راوړلو نه وړاندې هغوی ایمان قبول کړو او په مدینه کښې ئې استوګنه اختیار کړه۔

د عام اُولس (عوامو) د پاره وصیت: انصارو او مهاجرینو سره د متعلق وصیت نه ورسته حضرت عمر رضی الله عنه د عام اُولس (نباریانو) په حقله وصیت اوفرمائیلو، او د هغوی قدر، عزت او اهمیت ئې اوښودلو۔

"ردء الإسلام" په کسرې د راء سره یعنی د اسلام مدد کونکی او حفاظت کونکی۔

"جُباةُ الأموال" جباة، د جابی جمع ده، لکه څنګه چې قضاة د قاضی، او غلاة د غالی جمع ده، معنی ئې ده مال جمع کونکی، غیظ العدو یعنی د خپل کثرت او زیاتوالی په وجه به ئې دښمنانو غصه کول، او هغوی به ئې په ویره کښې ساتل۔ وأن لایؤخذ منهم..... یعنی د هغوی نه دې صرف د ضرورت نه زیات مال واخستې شی، او هغه هم د هغوی په خوشالئ باندې۔

د کشمیهنی په روایت کښې د "ویؤخذ منهم" الفاظ راغلی دی، بغیر د "لا" نه، خو اول صحیح ګرځولې شوې دې۔ (۱)

بیا ئی د اعرابو متعلق وصیت اوفرمائیلو، هغوی ئې اهل عرب اوګرځول، او وې فرمائیل، د هغوی نه دې، حواشی اموال واخستې شی، یعنی غیر عُمده۔

د ذمة الله ورسوله نه مراد ذمی دې، ځکه چې هغه به د الله تعالی او د هغۀ د رسول په ذمه کښې وو، د هغوی په وجه د قتال کولو نه مراد دادې، کۀ دښمن دوی ته نقصان رسول غواړی، نو د هغوی دې د مسلمانانو په شان حفاظت اوکړې شی۔

د ټولو طبقو د پاره وصیت: حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خپل ژوند په آخری لمحو کښې د ټولو خلقو په حقله مفصل او جامع وصیت اوفرمائیلو، چې په هغې کښې د هرې طبقې خصوصیات او امتیازات ذکر کولو سره ئې د هغوی حقوق، اهمیت او قدر و قیمت بنکاره کړو، خلق خو به یا ابتداءً مسلمانان وی، یا کافران، بیا کافر به یا حربی وی یا ذمّی، حربی خو د بحث نه بهر دې، او د هغۀ د پاره خو وصیت نۀ شی کیدې، ذمّی خو په دارِ اسلام کښې د الله تعالی او رسول په ذمه ږاړئ سره آزاد او محفوظ اوسیږی، په دې وجه هغوی د پاره ئې وصیت اوفرمائیلو، بیا مسلمان خو به یا مهاجر وی یا انصاری، د بهر نه اسلام د پاره هجرت کولو سره راتلونکی او د هغوی مدد کونکی مقامی حضرات خو ډیر زیات اهم دی، بیا هغوی به یا نباریان وی، یا باندې چیان، دواړه ئې ذکر کړل، او د مدائنی په روایت کښې دا الفاظ هم دی: "وأحسِنوا موازرة مَن یلی أمرَکم وأعینوه وأدوا إلیه الأمانة"۔ (۲)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۸۵/

۲) فتح الباری: ۹، ۸۵/

یعنی د ولی الامر نبه کلکه ملګرتیا کوئ،او د هغهٔ مدد کوئ،او امانت هغهٔ ته اوسپارئ۔
فانطلقنا مونږ لاړو ،او د کشمیهنی په روایت کښې فانقلبنا راغلې دي،یعنی مونږ راغلو او واپس شو۔[1]

د قبور ثلاثهٔ د وقوع کیفیت: فوضع هناك مع صاحبیه: بیا هغه خپلو دواړو ملګرو ،رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ سره دفن کړې شو ،دومره خبره خو متفق علیه ده،چې رسول الله ﷺ خپلو دواړو ملګرو سره یو ځائې په یوه بقعه(زمکه)مبارکهٔ او په یوه احاطه کښې دفن دي،هنه ا د قبورو په کیفیت او هیئت کښې اقوال مختلف دی۔
اکثر حضرات خو دا فرمائی،چې د رسول الله ﷺ قبر دي،بیا د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ او بیا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ ،بعضې وائی د رسول الله ﷺ قبر قبلې اړخ ته دي،او د هغوی د اُوږو سره ابوبکر او د ابوبکر اُوږو سره د حضرت عمر رضی اللہ عنہ قبر دي،او بعضې حضرات وائی،چې د رسول الله ﷺ سر مبارك اړخ ته د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ قبر دي،او خپو اړخ ته د حضرت عمر رضی اللہ عنہ ،او یو قول دادي،چې د ابوبکر قبر د رسول الله ﷺ خپو مبارکو سره دي،او حضرت عمر رضی اللہ عنہ قبر د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ خپو سره دي،ددې نه علاوه نور هم اقوال شته۔[2]

د نوي امیر المؤمنین تاکل او د عبد الرحمٰن بن عوف د عقل مندئ حکمت عملی: د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د تدفین نه ورسټو د هغوی د وصیت مطابق د نوي امیر المؤمنینَ د تعیین او تقرر معامله شروع شوه،د شپږو أصحابؤ شورٰی حضرت عمر رضی اللہ عنہ پخپله جوړه کړې وه،په دوی کښې حضرت عبد الرحمٰن بن عوف هم وو ،هغوی ټول حضرات جمع کولو سره د ټولو نه اول دري کسان د دریؤ په حق کښې د دستبردار کیدو د پاره اوفرمائیل،په اسلام کښې د خلیفه د ګرانو ذمه دارو او حسّاس معاملې د احساس په وجه د صحابهٔ کرامو د پاره دا څهٔ مسئله نهٔ وه،چې هغوی د امارت د طلب کولو نه دستبردار شی،بلکه ددې(خلافت)د پاره تیاریدل،د هغوی د پاره ګران وو ،نو حضرت زبیر د حضرت علی رضی اللہ عنہ په حق کښې،حضرت طلحه د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په حق کښې،او حضرت سعد د حضرت عبد الرحمٰن رضی اللہ عنہ په حق کښې دستبردار شو ،او اُوس صرف په دریؤ کښې د یو تاکل په نسبت سره په شپږو کښې د یو تاکلو دیر آسان شو ،نو په دې وجه حضرت عبد الرحمٰن بن عوف خپله معامله د شپږو په ځائې په دریؤ کښې د کیدلو د پاره اوفرمائیل،اُوس عبد الرحمٰن بن عوف خو متکلم وو ،او د حضرت عثمان او حضرت علی رضی اللہ عنہما په شان د جلیل القدر شیوخ اسلام نه په ځائې دا متوقع وه،چې هغوی به ددې عهدې نه معذرت کوی،او عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ چې پخپله یو دنګ لوړ صحابئ رسول وو ،د هغهٔ په دې دواړو کښې د یو په حق کښې د رائې ورکولو امکان وو ،حضرت عبد الرحمٰن بن عوف د سترګو رنړا کونکی منطق نه کار واخستو ،وې وئیل په تاسو کښې چې څوك انکار کوی،مونږ به هم هغهٔ ته ذمه داری سپارو ،د اسلام مزاج

---

[1] فتح الباری:۹،۸۵
[2] فتح الباری:۹،۸۵،۸۶

او د حق دستور هم دادي، چې څوك عهده طلب كوي هغه به پخپله د هغې ذمه دار وي، او څوك چې تيار نۀ وي، او عهده هغۀ ته اوسپارلې شوه، نو الله تعالى به د هغۀ مدد كوي.
اُوس كۀ په حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه كښې چا هم د بيزارئ اظهار كولې، نو هغه به ئې امير جوړولو، نو ددې ويرې نه يو هم د براءت اظهار اونۀ كړو.
دويمه خبره عبد الرحمٰن بن عوف اوفرمائيله، چې په تاسو كښې هر يو په خپل زړۀ او اعتقاد كښې چې څوك افضل ګڼې، د هغۀ نامه دې واخلى، او ظاهره ده، د ديانت په وجه هغوى دواړه د خپل مقام او مرتبې نه خبر وو، او پوهيدل، چې افضل خو زۀ پخپله يم، نو هغوى به د واقعې خلاف څنګه د بل چا د افضل كيدو اظهار كولو، نتيجه دا شوه، چې دواړه حضرات خاموش شو.

قوله: وَاللهُ عَلَيهِ وَالإِسلام: دا يو قسمه قسم دې، والله مبتداء او عليه خبر دې، يعنى والله رقيب عليه او "الإسلام" په لفظ الله باندې عطف دې، يعنى الله تعالى او د الله تعالى دين نګهبان منلو سره فيصله اوكړه.(١)

قوله: لَيَنْظُرَنَّ أَفْضَلَهُم فِي نَفسِهِ: د لام په فتحې سره، جواب قسم دې، او معنى ئې داده، چې تا ته د الله تعالى واسطه او قسم دې، چې په تاسو كښې دې هر يو هم هغې سړى ته اوګورى، چې د هغۀ په نظر كښې د ټولو نه افضل وى، او يا په كسرې د لام سره امر غائب دې، او معنى دغه ده، "وفي نفسه" يعنى په خپل اعتقاد او خپل زړۀ كښې څوك چې تاسو ته غوره ښكارى او د ديانت په وجه څوك چې تاسود خلافت اهل ګڼئ، هغه متعين كړئ.(٢)
په يو روايت كښې دا الفاظ دى:

"فقال عثمان: أنا أول مَن رضى وقال: على: أعطني موثقًا لتؤثرن الحق ولا تخصّنّ ذا رحم، قال: نعم، ثم قال أعطني مواثيقكم أن تكونوا معي على مَن خالف".(٣)

حضرت عثمان رضي الله عنه اووئيل، زۀ اول هغه كس ووم چې د هغۀ په خبره باندې راضى شوم، بيا حضرت علي رضي الله عنه اووئيل، ما ته وعده راكولو سره دا يقين راكړه، چې تۀ كومه فيصله هم كوې په هغې كښې به حق ته ترجيح وركوې، او هيڅ يو رشته دار به نۀ مخصوص كوې، هغوى اووفرمائيل، هاؤ زۀ وعده كوم، بيا عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه اوفرمائيل، تۀ هم ما سره وعده اوكړه، چا چې هم ددې (فيصلې) مخالفت اوكړو، د هغۀ خلاف به زما ملګرتيا كوې.

قوله: فَأَسكَتَ: په ضمې د همزې سره، د مجهول صيغه ده، معنى داده چې هغه چُپ كړې شو، "كان مُسكِتًا أسكتها" لكه چې يو چُپ كونكى دوى چُپ كړل، يا په فتحې د همزې سره

---

١) فتح الباري: ٨٦،٩، عمدة القاري: ٢١٣،١٦، إرشاد الساري: ١١٩٨،٨
٢) فتح الباري: ٨٦،٩
٣) فتح الباري: ٨٦،٩

اسکت په معنی د سکتَ، هغهٔ چُپ شو.

قوله: فَأَخَذَ بِيَدِ أَحَدِهِمَا: هغوی رضی اللہ عنہ په دې دواړو کښې د یو کس لاس اونیسلو.
مراد حضرت علی رضی اللہ عنہ دي، چې ددې د وړاندې عبارت نه پته لګی، او د ابنِ فضیل په روایت کښې ددې تصریح هم ده.[1]

ماقدعلمت به.....د.والقِدَم نه بدل دي، یا د هغې صفت دي.[2]

قوله: ثُمَّ خَلَا بِالْآخَرِ: بیا هغه بل سره په خلوت کښې ملاؤ شو.
طبرانی رحمہ اللہ د مدائنی په حوالې سره نقل کړی دی، چې حضرت سعد رضی اللہ عنہ حضرت عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ ته د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلیفه مقرر کولو مشوره ورکړه، او بیا دې دواړو خپلو خپلو دوستانو ته، او په مدینه کښې چې چا سره هم ملاویدل، د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په حقله به ئې ورته وئیل.[3]

د حدیث بعضې فوائد: ددې حدیث نه څو فائدې اخستلې شوی دی: مثلاً:

①:- په مسلمانانو باندې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ شفقت او هغوی سره خیر خواهی.

②:- په هغې کښې د سنتو اقامت یعنی ژوندی کول.

③:- د الله تعالی خوف او ویره.

④:- د خپلې ذاتی معاملې نه زیات د دین د معاملې اهتمام.

⑤:- همدغه شان دا هم معلومیږی چې د چا په وړاندې د هغهٔ د تعریف منع والې په هغهٔ صورت کښې دي، چې په هغې کښې غلو، افراط او تفریط یا د واقعې خلاف خبره وی، او کله چې دا قسمه قباحتونه نهٔ وی، نو بیا په دې کښې حرج نشته: په دې وجه حضرت عمر رضی اللہ عنہ هغې څوان ته (د چا چې په دې حدیث کښې ذکر دې) د خپل کار نه منع نهٔ کړو، چې د هغوی په وړاندې ئې د هغوی رضی اللہ عنہ تعریف کولو، حال دادې چې هغوی رضی اللہ عنہ هغهٔ ته د پینسو اوچتولو حکم ورکوی. مطلب دادې، چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ په دې وخت کښې هم د خپلو ذمه دارو نه غافل نهٔ وو.

⑥:- دا هم معلومیږی چې په دې آخری وخت کښې د قرضونو د ادا کولو وصیت کول پکار دی. څنګه چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ وصیت اوفرمائیلو، ولې د تعریف کولو نه ئې نهٔ منع کولو.

⑦:- دا هم ثابتیږی. چې د اهل خیر او صلاح خلقو سره دفن کیدل هم لوئې اهمیت دي، او سلف صالحینو به ددې ډیر اهتمام کولو.

⑧:- دَا هم ثابتیږی. چې د خلیفه د تقرر په سلسله کښې مشوره کیدل پکار دی، او په هغې

---

[1] فتح الباری: ۱۸۲.۹
[2] فتح الباری: ۱۸۲.۹، إرشاد الساری: ۱۱۹۸.۸
[3] فتح الباری: ۱۸۶.۹

کښې افضل د نور نه غوره مقدم کول پکار دی، او د امام تقرر په بیعت سره کیږی۔[۱]

مفضول د افضل خلیفه جوړولو په جواز باندې استدلال: ابن بطال رحمه الله وائی، ددې قیصې نه دا هم معلومیږی، چې مفضول د افضل امیر او حاکم جوړل جائز دی، ځکه کۀ ددې جواز نۀ وې، نو حضرت عمر رضی الله عنه به د خلافت دا معامله د شپږو کسانو شورٰی ته لا علی التعین نۀ سپارله، ځکه چې خلافت شورٰی ته د سپارلو مطلب دا وو، چې په دې کښې هر یو متعین کول جائز دی، او حال دادې چې په هغوی کښې افضل او مفضول معلوم وو، (ځکه چې افضل خو په ترتیب سره عثمان او علی رضی الله عنهما وو) نو کۀ دا صرف د افضل استحقاق وې، نو هغوی رضی الله عنهم به په متعینه توګه د افضل د پاره وصیت کړې وو، او مفضول به ئې په شمیر کښې هم نۀ راوستلو. د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د طرز عمل نه دا هم معلومیږی، چې مفضول په افضل باندې حاکم او "ولی الامر" جوړیدې شی، ځکه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ارشاد فرمائیلې وو:

"قد رضیتُ لکم أحد الرجلین عمر وأبی عُبیدة".[۲] ما ستاسو د پاره په حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابو عبیده رضی الله عنه دواړو کښې یو خوښ کړې دې۔

حال دادې چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه په دې پوهیدو، چې په دې دواړو کښې افضل څوک دې، او مفضول څوک۔

د حضرت عمر رضی الله عنه په طرز عمل باندې اشکال او د هغې جواب: د افضل یا مفضول خلیفه جوړولو په حوالې سره د حضرت عمر رضی الله عنه په دې عمل باندې هم اشکال کړې شوې دې، کوم چې هغۀ د خلافت په سلسله کښې اختیار کړې وو، او هغه داسې چې کۀ حضرت عمر رضی الله عنه مفضول ته ولایت ورکول جائز نۀ ګنړل، نو بیا خو مطلب دا شو، چې ددې شپږو کسانو نه علاوه هغوی رضی الله عنهم نور ټول حضرات مفضول ګنړل، په دې وجه ئې دوی جدا کړل، ځکه چې کۀ په هغوی کښې داسې څوک سړې وې، چې د ذکر کړې شوې شپږو نه افضل وې، نو بیا خو د هغۀ خلیفه جوړول ضروری وو، خو اشکال دادې، کۀ هغوی رضی الله عنهم ته دا پته وه، چې دا شپږ حضرات د باقی ټولو نه غوره دی، نو بیا خو به ورته یقیناً دا هم پته وه، چې په دې شپږو کښې افضل څوک دې. او کۀ هغوی ته دا پته وه، نو بیا هم هغه په متعینه توګه خلیفه جوړول پکار وو. دا نه چې هغه او نور حضرات په دې استحقاق کښې برابر برابر شریک کړی۔

او کۀ هغوی رضی الله عنهم د مفضول د خلافت د جواز هم قائل وو، نو بیا خو په دې شپږو کښې او د دوی نه علاوه په نورو حضراتو کښې هر څوک خلیفه جوړول ممکن وو، حال دادې چې داسې نۀ ده، ځکه چې شپږو کسانو سره د مخصوص کولو معنٰی داده، چې د دوی نه علاوه بل څوک خلیفه جوړول جائز نۀ دی۔

ددې جواب دادې. چې په اصل کښې د حضرت عمر رضی الله عنه وړاندې دوه مثالونه وو، یو د رسول الله ﷺ مثال وو. ځکه چې رسول الله ﷺ چا ته هم دخپل خلیفه جوړیدو تصریح نۀ وه کړې، او

---

[۱] فتح الباری: ۱۸۲.۹

[۲] فتح الباری: ۱۸۷.۹

گویا دا ئې د اهل حل وعقد په صوابدید باندې پریښودې وه.
او دویم مثال د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ وو، چا چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ خلیفه جوړ کړې وو، اوس حضرت عمر رضی اللہ عنہ ددې دواړو خیال داسې ساتلې دې، چې شپږ افضل او أحق (زیات حقدار) کسان ئې متعین کړل، او په یوه توګه ئې د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په شان د خلیفه تعین اوکړو، ولې په هغوی کښې چې بیا کوم یو ډیر افضل سړې وو، د هغهٔ تعین او تخصیص ئې اونهٔ کړو، دې د پاره چې په تصریح او تعین نهٔ کولو کښې د رسول اللہ ﷺ اطاعت او پیروی اوشی.(۱)
د استخلاف او ترک تعین خلیفه دواړو جمع کولو ددې صورت تائید د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په دې قول سره هم کیږی: "لا أتحملها حیًا و میتًا".(۲)
زهٔ په ژوند کښې او د مرګ نه ورسته هم ددې خلافت د مسئولیت بوج اوچتول نهٔ غواړم.
حیًا او مَیِّتًا یعنی په ژوند او د مرګ نه ورسته د بوج اوچتولو مطلب دادې، چې کهٔ حضرت عمر رضی اللہ عنہ څوک خلیفه مقرر کړې وې، نو د هغهٔ د تولو افعالو نسبت به اجمالاً حضرت عمر رضی اللہ عنہ ارخ ته هم کیدو، او داسې به وئیل کیدل، چې د عمر سړی داسې اوکړل، او هغسې ئې اوکړل..... او گویا د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په ذمه د خلافت بوج به د مرګ نه ورسته هم نهٔ وو ختم شوې، په دې وجه هغوی د خلیفه تعین اونهٔ کړو، بلکه اهل حل وعقد خو ئې متعین کړل، او باقی د خلیفه د تعین ذمه داری ئې په هغوی واچوله، او د هغوی په خپل مینځ کښې ئې د مشورې او مناظرې ځائې پریښودو، دې د پاره چې کوم سړې متعین شی، د هغهٔ نسبت حضرت عمر رضی اللہ عنہ ارخ ته نهٔ کیږی.
بلکه هغهٔ د موجود او حاضر حضراتو په اتفاق سره وی، او غیر موجود حضرات د هغهٔ تابع وی، او همدغسې د تول اُولس په اتفاق سره د خلیفه تعین اوشو،(۳) نو گویا هغهٔ خلیفه مقرر هم کړو او مقرر ئې نهٔ هم کړو.

۹- باب: مَنَاقِبُ عَلِي بْنِ أَبِي طَالِبِ الْقُرَشِي الْهَاشِمِي أَبِي الْحَسَنِ رضي الله عنه

وَقَالَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - لِعَلِي «أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ». وَقَالَ عُمَرُ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ عَنْهُ رَاضٍ. [ر: ۴۰۰۵]

حضرت علی رضی اللہ عنہ بن أبی طالب د رسول اللہ ﷺ د سکهٔ ترهٔ ځوې دې، د هغوی رضی اللہ عنہ والد ابو طالب او د رسول اللہ ﷺ والد محترم دواړه د عبد المطلب ځامن وو.

---

(۱) فتح الباری: ۹، ۱۸۷
(۲) الطبقات الکبریٰ، ذکر استخلاف عمر: ۳، ۱۲۶۰
(۳) فتح الباری: ۹، ۱۸۷

د حضرت علی رضی الله عنه ولادت د صحیح قول مطابق د بعثت نبوی نه لس کاله وړاندې اوشو، او د هغوی تربیت رسول الله ﷺ اوفرمائیلو، نو د ماشوم والی نه هغوی د رسول الله ﷺ صحبت او معیت اختیار کړو، او بیا د ژوند د آخری لمحې پورې ئې هغوی ﷺ پرې نه ښودل، د هغوی رضی الله عنه د مور بی بی نوم فاطمه بنت اسد بن هاشم وو، هغه د دوی رضی الله عنه د پلار د پیو لور وه، اودا هغه اولنې هاشمی ښځه ده، چې د هغې نه یو هاشمی پیدا شو، (یعنی حضرت علی رضی الله عنه) او هغې هم اسلام قبول کړو او د رسول الله ﷺ صحبت ئې اختیار کړو، په کبارو صحابیاتو کښې شمیر شوه، او د هغوی ﷺ په ژوند کښې وفات شوې ده۔ (۱)

د حضرت علی رضی الله عنه ابو تراب کنیت ولې اوګرځیدو؟: ابو الحسن کنیت خو ښکاره دې، د دې وجهې به وی چې د هغوی رضی الله عنه ځوې حسن وو، او هسې هم تفاؤلاً (د نیک فالئ په توګه) دا قسمه کنیتونه اختیارولې شی، نو په ابو تراب کنیت سره هغوی رضی الله عنه څنګه مکنّی (موسوم) شو، دا لږه د غور خبره ده، په دې سلسله کښې دلته وړاندې په دریم روایت کښې ددې ذکر راروان دې۔

کثرت فضائل او د هغې وجه: حافظ ابن حجر رحمه الله د احمد، اسماعیل القاضی، امام نسائی او ابو علی النیساپوری په حوالې سره فرمائی:

"لم یرد فی حق أحد من الصحابة بالأسانید الجیاد أکثر مما جاء فی علی"۔ (۲)

په صحابؤ کښې د چا په حق کښې هم په جیدو سندونو سره دومره فضائل نه دی وارد شوې، څومره چې د حضرت علی رضی الله عنه متعلق وارد شوي دی۔

خو ددې مطلب دا نه دې، چې هغوی (حضرت علی رضی الله عنه) د ټولو صحابؤ نه افضل دی، څنګه چې بعضې خلقو ګڼلې ده، بلکه د هغوی د فضائلو د کثرت نور وجوهات دی، په هغې کښې د ټولو نه لویه وجه داده، چې حضرت علی رضی الله عنه په خلفاء راشدینو کښې د ټولو نه آخری دي، د مرتبې په حوالې سره هم او د عهد خلافت په حوالې سره هم، او د هغوی په عهدِ خلافت کښې اختلافات او نزاعات هم ډیر زیات پیدا شو۔

نو د هغوی رضی الله عنه په خلافت کښې دري قسمه خلق وو، یو د بنو امیه خلق چې د هغوی رضی الله عنه مخالف او ناقدین وو، او هغوی د حضرت (علی رضی الله عنه) مخالفت اوکړو، په هغوی رضی الله عنه باندې لعن، طعن ئې خپله طریقه جوړه کړه، او دا ئې د خپل دین برخه او د دینداریٔ تقاضا اوګڼله، په مجلسونو، غونډو او په محراب او منبر باندې به ئې هغه بیانولو۔

دویم ارخ ته په فتنه د خروج کښې مبتلاء څۀ خلقو هم هغوی رضی الله عنه د نقد او جرح نښنه اوګرځوله، او په یوه توګه ئې د بنو امیو تائید اوکړو، بلکه د هغوی نه هم دوه قدمه وړاندې تللو سره به ئې د حضرت علی رضی الله عنه تکفیر کولو، او په دې حواله ئې هغوی حضرت عثمان رضی الله عنه سره ملاؤ کړل۔

---

(۱) فتح الباری: ۷۹،۹، عمدة القاری: ۲۱٤،۱٦، إرشاد الساری: ۱۱۹۹،۸

(۲) فتح الباری: ۱۸۹،۹

دریم جماعت د اهل سنت والجماعت وو، چې د حضرت علی رضی الله عنه فضائلو، مناقبو او مقام او مرتبې نه خبردار او هغوی سره د عقیدت او احترام تعلق به ئې د ایمان جز ګنړلو، کله چې معاندینو او مخالفینو د هغوی رضی الله عنه په شان کښې ګستاخی شروع کړه، نو حضرات اهل سنت والجماعت د هغوی رضی الله عنه مناقبو او فضائلو د خورولو ضرورت محسوس کړو، او په دې کښې ئې ډیر کوشش کولو - په دغه وخت کښې د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم یو لوی جماعت موجود وو، او هغوی ته په دې سلسله کښې چې څۀ معلوم وو، هغه ئې بیان کړل، او په دې طریقه هر ارخ ته د هغوی رضی الله عنه فضائل او مناقب خوارۀ شول، او د هر عام او خاص د ژبې ذکر شو، او د خلفاء ثلاثو رضی الله عنهم - فضائل فی نفسه اګرچې ډیر وو، ولې دهغې د شیوع او فروغ یعنی د خوریدو دا وجه اوعلت نۀ وو، په دې وجه دهغې د ذکر کولوهم زیات ضرورت پیښ نۀ شو(۱)

قوله: أنت منّي وأنا منك: دا د براء بن عازب رضی الله عنه اوږد حدیث یوه برخه ده، چې د هغې تخریج امام بخاری رحمه الله په کتاب الصلح، باب "کیف یکتب: هذا ما صالح فلانٌ بن فلان، وفلانُ بن فُلان وإن لم ینسبه إلی قبیلة....." (۲) کښې کړې دې.

قوله: وَقَالَ عُمَرُ: تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ عَنْهُ رَاضٍ: [ر: ۳۴۹۷]

دا تعلیق موصولاً اوس په وړاندینی باب کښې تیر شوې دې، په هغې کښې حضرت عمر رضی الله عنه خپل خلیفه د تقرر په سلسله کښې فرمائیلې وو، "ما أجد أحق بهذا الأمر من هؤلاء النفر أو الرهط الذین توفی رسول الله ﷺ وهو عنهم راضٍ". او بیا ئې د حضرت علی، عثمان، زبیر، طلحه، سعد، او عبد الرحمن رضی الله عنهم نومونه واخستل (۳)

د حضرت علی رضی الله عنه خلافت: حضرت علی رضی الله عنه ته د سیدنا عثمان رضی الله عنه شهادت نه ورسټو په ۳۵ هجري کښې د ذوالحجې په اولنو ورځو کښې خلیفه جوړ کړې شوې، مهاجرینو او انصارو ټولو حاضرینو د هغوی په لاس بیعت اوکړو، بیا آفاق او اطرافو یعنی لرې لرې سیمو علاقو او باندو وغیره ته د هغوی د بیعت خبر اولیږلې شو، او اکثرو خلقو هغه قبول کړو، ماسواء د سیدنا حضرت معاویه رضی الله عنه نه، نو ددې دواړو حضراتو په مینځ کښې چې څۀ هم وړاندې راغلی دی، هغه هم ددې برخه او نتیجه وه (۴)

د خلافت ترتیب د نسبی قرابت خلاف وو ؟: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی د خلافت راشده په ترتیب کښې الله رب العزت دا عجیبه صورت کیښودې دې، څومره چې څوک د رسول الله ﷺ په نسبی قرابت کښې نزدې دې، دومره د هغه خلافت د هغوی ﷺ نه لرې دې، حضرت

---

(۱) فتح الباری: ۸۹،۹

(۲) صحیح البخاری، کتاب الصلح، رقم: ۱۲۶۹۹

(۳) کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ، باب قصة البیعة، رقم: ۱۲۷۰۰

(۴) فتح الباری: ۹۰،۹

ابوبکر رضی اللہ عنہ لري وو،نو د هغوی خلافت اولني،بيا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نزدې وو،د هغوی دريم نمبر دي،او حضرت علی رضی اللہ عنہ د ټولو نه قريب النسب وو،ولې د ټولو نه ورستو خليفه جوړ شو،هنه ! د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په خلافت کښې دا کليه نۀ صفاد قيږی۔[1]

په دې باب کښې امام بخاری ټول ووۀ حديثونه ذکر کړی دی۔

اولنې حديث: ۳۴۹۸،[2] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رضي الله عنه- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلاً يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ» قَالَ فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوكُونَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ، غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ « أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ». فَقَالُوا يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ «فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأْتُونِي بِهِ». فَلَمَّا جَاءَ بَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ، وَدَعَا لَهُ، فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ. فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا فَقَالَ «انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلاَمِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللَّهِ فِيهِ، فَوَاللَّهِ لأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلاً وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ». [ر: ۲۷۸۳]

رجال الحديث

قتيبة بن سعيد: دا قتيبه بن سعيد الثقفی دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،باب "إفشاء السلام من الإسلام" لاندې تير شوی دی۔[3]

عبد العزيز: دا عبد العزيز بن أبی حازم دي،د.دوی او د دوی د پلار ابو حازم احوال تير شوی دي۔[4]

سهل بن سعد: درسول الله ﷺ صحابی سهل بن سعد الساعدی دي،ددوی احوال تيرشوی دی۔[5]

ددې حديث څۀ تشريح خو په كتاب الجهاد كښې تيره شوې ده۔[6]

او څۀ تشريح په كتاب المغازی كښې راروانه ده۔[7]

يدوكون بالدال المهملة دا د "باك" نه حال واقع شوې دي،باتُوا يدوكون دوكا په هغه وخت كښې وئيلې شی.كله چې په خپل مينځ كښې اختلاف او اخستل وركول اوشي،او يا بيا "دوك" په

---

[1] اوګورئ:الابواب والتراجم،ص:۱۲۲۲

[2] الحديث مر تخريجه فی كتاب الجهاد،باب "دعاء النبی إلى الإسلام والنبوة.....،رقم:۲۹۴۲

[3] كشف البارى:۸،۱۱۸۹

[4] كتاب الصلاة،باب نوم الرجال فی المسجد.....

[5] كتاب الوضوء،باب غسل المرأة أباها الدم عن وجهه.....

[6] اوګورئ:كشف البارى،كتاب الجهاد والسير:۲،۱۶۵

[7] كتاب المغازی،ص:۴۲۸،و۱۴۲۲

معنی د "الخوض" دي او د "یدوکون" معنی ده "یخوضون ویتحدثون" یعنی په خبرو اترو کښې مشغول او مصروف پاتې کیدل۔
او په بعضې نسخو کښې یذکرون بالذال المعجمة والراء هم راغلې دي، یعنی هغوی ټوله شپه ددې ذکر کولو۔[1]

قوله: کلهم یرجو: هر یوته دا اُمید وو، چې کیدې شی زهٔ مراد یم، اوماته دا سعادت ملاؤشی.
په بعضې نسخو کښې یرجو د مفرد او په بعضو کښې یرجون جمع راغلې ده، یرجو د لفظ کلٌّ د وجهې نه دي (چې مفرد دي) او یرجون دمعنې د کلٌّ د وجهې نه کیدې شی، اوکلٌّ معنًی جمع ده۔[2]

قوله: فأرسلوا إلیه: دا په دوه قسمه محفوظ کړې شوې دي:
①:-ماضی مبنی للفاعل، په دې صورت کښې به "فأتی به" راځی، او معنی به ئې دا وی، چې هغوی حضرت علی رضی اللہ عنہ ته پیغام اولیږلو، یا ئې څهٔ کسان اولیږل، او هغه راوستې شو۔
②:-او یا أرسلوا د امر صیغه ده، په دې صورت کښې به هم ما بعد "فأتوني به" هم د امر په صیغې سره وی، اومعنی به ئې وی، هغې پسې څوک اولیږئ، اوهغه زما خوا ته راُوغواړئ۔[3]

قوله: فأعطاه: په بعضې نسخو کښې ماضی معروف په فاء سره دي، بعضو کښې په واؤ سره راغلې دي، او په بعضو کښې فأعطی مجهول راغلې دي۔[4]

قوله: من حُمر النعم: حُمر بضم الحاء وسکون المیم، د أحمر جمع ده، او النعم بفتح النون والعین اُوښ ته وئیلې کیږی، دا ترتیب د من قبیل إضافة الصفة إلی الموصوف دي، یعنی سور اُوښ..... دا به په عربو کښې ډیر ښهٔ او قیمتی څیز ګڼلې شو۔
علامه عینی رحمہ اللہ وائی: "وهی أحسن أموال العرب یضربون بها المثل فی نفاسة الشیٔ، ولیس عندهم شیٔ أعظم منه"۔[5] دا به د عربو د ټولو نه ښهٔ او اعلی مال تصور کیدو۔
دې سره به هغوی د یو څیز د نفاست او ښهٔ والی مثال ورکولو، او ددې نه لوې څهٔ څیز به هغوی سره نهٔ وو۔
د اُوښانو د ذکر کولو مقصد: څوک د اسلام په مال سره مالدار کول او په هدایت سره هغهٔ روښانه کول، ډیر لوئې د خیر کار دي، او ددې ډیر لوې اجر او ثواب دي، په هر حال کښې

---

[1] عمدة القاری: ۱۶/۲۱۶
[2] اوګوری: عمدة القاری: ۱۶/۲۱۵، وإرشاد الساری: ۸/۱۹۹
[3] عمدة القاری: ۱۶/۲۱۵، وإرشاد الساری: ۸/۱۹۹
[4] عمدة القاری: ۱۶/۲۱۵
[5] عمدة القاری: ۱۶/۲۱۵

اُخروی کار دي، د هغې د اوښانو یا بل یو دنیوی څیز سره تشبیه او مثال په ظاهره باندې د ډیر ښۀ څیز تشبیه د ډیر خراب څیز سره ورکول دی، علامه عینی رحمه الله ددې په حقله وائی:

"وتشبيه أمور الأخرة بأعراض الدنيا إنما هو للتقريب إلى الفهم وإلا فذرّة من الأخرة خير من الدنيا وما فيها بأسرها وأمثالها معها".(۱)

د اُخروی کارونو دنیاوی څیزونو سره تشبیه صرف د پوهې د پاره وی، ګڼې نو د آخرت یوه ذره د دنیا وما فیها او دې سره ددې په مقدار د نورو څیزونو نه غوره او افضل دی.

او یا په حمرالنعم سره مراد د سرو او ښۀ اُوښانو صدقه ده، څنګه چې قسطلانی تتصدق بها وئیلو سره دې اړخ ته اشاره کړې ده.(۲)

په دې صورت کښې به دا تشبیه د أمور الأخرة بأعراض الدنیا د قبیلې نه بالکل شی نه، بلکه په ظاهره به دا دیوورکی امرآخرت تشبیه د یولوئې امرآخرت سره شی. بلکه په هغې باندې تفضیل.

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت واضح دې، څکه چې باب د فضائل و مناقب علی په حوالې سره دې، او په حدیث کښې د حضرت علی رضي الله عنه فضیلت په واضحه توګه دا مذکور دې، چې رسول الله ﷺ هغوی د بیرغ (جهنډې) والا جوړولو سره اعزاز ورکړو، او بیا د هغوی فضیلت او شجاعت داسې هم ښکاره شو، چې د هغوی په لاس باندې خیبر فتح شو.

په دې کښې د رسول الله ﷺ معجزه هم وړاندې راغله، هغوی ﷺ پیشن ګوئې فرمائیلې وه، چې صبا به خیبر فتح کیږی، او د حضرت علی رضي الله عنه په لاس به فتح کیږی، نو همدغسې اوشوه هم.(۳)

دویم حدیث: ۳۴۹۹(۴) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ قَالَ كَانَ عَلِي قَدْ تَخَلَّفَ عَنِ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- فِي خَيْبَرَ وَكَانَ بِهِ رَمَدٌ فَقَالَ أَنَا أَتَخَلَّفُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَخَرَجَ عَلِي فَلَحِقَ بِالنَّبِي -صلى الله عليه وسلم-، فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ اللَّيْلَةِ الَّتِي فَتَحَهَا اللَّهُ فِي صَبَاحِهَا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «لأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ -أَوْ لَيَأْخُذَنَّ الرَّايَةَ- غَدًا رَجُلاً يُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ -أَوْ قَالَ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ- يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَيْهِ». فَإِذَا نَحْنُ بِعَلِي وَمَا نَرْجُوهُ، فَقَالُوا هَذَا عَلِي. فَأَعْطَاهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَفَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ. [ر: ۲۸۱۲]

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۱۵،۱۶

۲) اشاد الساری: ۱۲۰۰،۸

۳) عمدة القاری: ۱۲۱۵،۱۶

۴) الحدیث قد مرّ تخریجه فی کتاب الجهاد والسیر، باب ما قیل فی لِواء النبی، رقم: ۱۲۹۷۵

رجال الحدیث

قُتَیْبَةُ: دا قتیبه بن سعید دي، چې په پورتنی روایت کښې ددۀ ذکر راغلې دي۔

حَاتِمُ: حاتم بن اسماعیل الکوفی المدنی دي، ددۀ احوال په کتاب الوضوء، باب "استعمال نفل وضوء الناس" کښې تیر شوی دی۔

یَزِیْدَ بْنِ اَبِی عُبَیْدٍ: ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "إثم مَن کَذَب علی النبی" لاندې تیر شوی دی۔[۱]

سَلَمَةَ: سلمة بن الاکوع د رسول الله ﷺ صحابی دي، د دوی احوال هم د دې کتاب العلم، باب "إثم مَن کَذَب علی النبی" لاندې تیر شوی دی۔[۲]

حضرت علی رضی اللہ عنہ ارخ ته د الله او رسول د محبت د نسبت مقصد: په دې حدیث کښې هم هغه مضمون مذکور دي، کوم چې په پورتنی حدیث کښې ذکر شو، دلته د حضرت علی رضی اللہ عنہ متعلق چې کومه خبره راغلې ده، چې حضرت علی رضی اللہ عنہ الله او رسول الله سره محبت کوی، یا الله او رسول الله ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ سره محبت کوی، ددې مطلب دادي، چې د الله تعالی او رسول الله ﷺ سره د محبت حقیقت کۀ چرې په چا کښې موندلې شی، نو هغه حضرت علی رضی اللہ عنہ دي. کنې په مطلق محبت کښې خو نور حضرات هم دوی سره شریك او ملګری دی، ولې هغه کامل محبت والا دي۔

او یا د کنایې په توګه ددې نه کامل الاتباع مراد دي، او په دې کښې تلمیح ده، د الله تعالی ارشاد ﴿قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ﴾[۳] ارخ ته، او معنی داده، چې الله تعالی او رسول الله سره د محبت نښه د رسول الله ﷺ اتباع ده، او اتباع کولو والا سره بیا الله تعالی هم محبت کوی. څنګه چې د "اتبعونی یحببکم الله" نه معلومیږی۔

اُوس کله چې رسول الله ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ لره الله تعالی او رسول الله ﷺ سره محبت کونکي اوګرځولو، نو ښکاره خبره ده، ددې مطلب دغه دي، چې هغوی رضی اللہ عنہ کامل الاتباع دی، او کۀ دویم صورت واخستلې شی، چې الله تعالی او رسول الله ﷺ هغوی سره محبت کوی، نو بیا هم ددې مطلب دادي، چې هغوی رضی اللہ عنہ کامل الاتباع دی۔

همدغه وجه ده. چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ محبت د ایمان نښه ګرځولې شوې ده، او د حضرت علی رضی اللہ عنہ سره بغض د نفاق نښه! ځکه چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ سره د محبت معنی به دا وی، چې د رسول الله ﷺ اتباع هغۀ ته محبوب ده، او هغوی رضی اللہ عنہ سره د بغض معنی به دا وی، چې د رسول الله ﷺ اتباع هغۀ ته مبغوض ده۔[۴]

---

[۱] اوګورئ کشف الباری: ۱۱۸۲،۴

[۲] کشف الباری: ۱۱۸۳،۹

[۳] سورة آل عمران: ۳۱

[۴] فتح الباری: ۹۰،۹، وعمدة القاری: ۱۲۱۶،۱۶

څنګه چې یو روایت دې، حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی، رسول الله ﷺ هغوی (یعنی زهٔ) مخاطب کولو سره اوفرمائیل:

"والذی خلق الحبة وبرأ النسمة أنه لعهد النبی أن لایحبك إلا مؤمن ولا یبغضك إلا منافق".(۱)

قوله: لأُعطِيَنَّ الرَّايَةَ،أولَيَأخُذَنَّ.....: دا راوی ته شك دې، چې رسول الله ﷺ خو یا دا الفاظ ارشاد اوفرمائیل، چې زهٔ به هغه ته بیرغ (جهنډه) ورکوم، او یا ئې دا اوفرمائیل، چې هغه به بیرغ (جهنډه) اخلی.

په اول صورت کښې به "رجلاً" د مفعول کیدو په وجه منصوب وی، او په دویم صورت کښې به د "یأخذن" د پاره د فاعل کیدو په وجه مرفوع وی، او کشمیهنی د ابوذر نه هم "رجل" مرفوع نقل کړې دې.(۲) او په نورو نسخو کښې منصوب وارد شوې دې.

قوله: أوقَالَ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ: دا هم راوی ته شك دې، چې یا خو د الله تعالی رسول دا اوفرمائیل، چې هغه سره الله تعالی او رسول محبت کوی، او یا ئې دا اوفرمائیل، چې هغه الله تعالی او رسول الله ﷺ سره محبت کوی.(۳)

د حضرت علی رضی اللہ عنہ سترګې خوږیدل او د رسول الله ﷺ هغهٔ د پاره دعا: په وړاندینې روایت کښې دا هم مذکور وو، چې رسول الله ﷺ د خولې مبارکې لاړې د حضرت علی رضی اللہ عنہ په سترګو باندې اولګولې، چې په هغې سره هغه صحیح شو، او دلته د سلمه په روایت کښې د هغې ذکر نشته.

په یو روایت کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ دا الفاظ منقول دی:

فوضع رأسی فی حجره ثم بصق فی الیة راحتیه ثم دلك بها عینی ثم قال: اللهم لا یشتکی حرًا ولا قرًا قال علی فما اشتکیت عینی لا حرًا ولا قرًا حتی الساعة.(۴)

رسول الله ﷺ زما سر په خپله جولئ مبارکهٔ کښې کیښودو، بیا ئې لاړې د تلو په پورته حصې باندې لګولو سره زما په سترګو اومرلې، او وې فرمائیل، یا الله تعالی اُوس دې دا نهٔ په ګرمی کښې خوږیږی او نهٔ په یخنئ کښې! حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی، د هغې نه ورسته تر اوسه پورې ما دخپلو سترګونهٔ په ګرمئ کښې څهٔ شکایت محسوس کړو، او نهٔ په یخنئ کښې.

یو بل روایت دې، د هغې الفاظ دادی: "دعاله بست دعوات: اللهم أعنه واستعن به وارحمه وارحم به

---

۱) شرح السنة للبغوی، باب فضائل علی بن أبی طالب، رقم: ۳۹۰۸، المعجم الأوسط: ۲۱۵۶، ۴۷۵۱، السنن الکبری للنسائی الفرق بین المؤمن والمنافق: ۸۴۳۳، سنن الترمذی، باب مناقب علی بن أبی طالب: ۳۷۳۶، مسند احمد، مسند علی بن أبی طالب: ۱۱۰۶۲

۲) إرشاد الساری: ۸، ۱۲۰۰

۳) عمدة القاری: ۱۶، ۱۲۱۶

۴) فتح الباری: ۹، ۱۹۰

وانصُرهُ وانصر به، اللّٰهم والِ مَن والاه وعادِ من عَاداه".(۱)
اې الله! ددۀ امداد اوکړې، او ددۀ په ذریعه مدد اوکړې، په دۀ باندې رحم اوکړې، او ددۀ په ذریعه رحم اوکړې، ددۀ نصرت اوکړې، او ددۀ په ذریعه نصرت اوکړې، اې الله! تۀ دوستی اوکړې هغه چا سره څوک چې دۀ سره دوستی اوکړی، او تۀ دښمنی اوکړې هغه چا سره څوک چې دۀ سره دښمنی اوکړی۔

د حضرت علی رضی الله عنه "بیرغ" والا کیدل: علامه عینی د حاکم د "اکلیل" په حوالې سره نقل کوی، چې رسول الله ﷺ اول د خیبر د بعضې قلعو د فتح کولو د پاره حضرت ابوبکر رضی الله عنه اولیږلو، هغوی تلو سره نبۀ جنګ اوکړو، ولې د جړې نه ئې ختم نۀ کړې شو، بیا ئې حضرت عمر رضی الله عنه اولیږلو، ولې د هغوی په لاس باندې هم فتح نۀ شوې، بیا ئې حضرت علی رضی الله عنه ته بیرغ ورکولو سره اولیږلو۔(۲)

د ابن عباس په یو روایت کښې دا الفاظ هم راغلی دی:

"فکانت رأیة رسول الله ﷺ بعد ذلك فی المواطن کلها مع علی رضی الله عنه".(۳)

ددې نه ورسټو د رسول الله ﷺ بیرغ به په ټولو موقعو کښې حضرت علی رضی الله عنه سره وو۔

او د جابر بن سمره رضی الله عنه په روایت کښې دا هم راغلی دی:

"قالُوا یا رسول الله من یحمل رأیتك یوم القیامة؟ قال من عسی أن یکون یحملها یوم القیامة إلا من کان یحملها فی الدنیا، علی بن أبی طالب".(۴)

خلقو اووئیل، یا رسول الله د قیامت په ورځ به ستاسو بیرغ څوک اوچتوی؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل، هغه څوک اوچتولې شی، ما سوا د هغه چا نه چا چې به په دنیا کښې اوچتوله، او هغه دې علی رضی الله عنه۔

یو بل روایت دې، چې د ابو القاسم البصری په کتاب کښې د قیس بن الربیع په حوالې سره د ابو سعید نه منقول دې. هغه وائی، د رسول الله ﷺ ارشاد دې، وې فرمائیل، "لأعطین الرأیة رجلاً کرّارًا غیر فرّار".(۵)

زۀ به بیرغ داسې سړی ته ورکوم، چې بیا بیا حمله کونکې دې، او تختیدونکې نۀ دې، په دې باندې حسان بن ثابت رضی الله عنه اووئیل، یا رسول الله آیا تاسو ما ته د حضرت علی رضی الله عنه په حقله د شعر اجازت راکوئ. هغوی ﷺ اوفرمائیل، وایه انو حسان اووئیل:

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۹۰
۲) عمدة القاری: ۱۶، ۲۱۶
۳) المعجم الکبیر للطبرانی: ۵۳۵۶
۴) مسند البزاز: ۱۰، ۱۹۱، رقم: ۴۲۷۶، من حدیث خیثمة: ۱، ۱۹۹، درا الکتاب العربی لبنان
۵) مناقب علی لابن المغازی، رقم: ۲۱۵، دار الآثار صنعاء وفتح الباری: ۹، ۱۹۳

وكان على أرمد العين ينهى ... دواءً فلما لم يحسن مداويًا
حباه رسول الله منه بتفلة ... فبورك مرقيا وبورك راقيًا
وقال سأعطى الراية اليوم صارمًا ... فذاك محب للرسول مواتيا
يحب النبى و الإله يحبه ... فيفتح هاتيك الحصون التواليا
فأقضى بها دون البرية كلها ... عليًا و سماه الوزير المواخيا[1]

على د سترګو په خوږيدو کښې مبتلاء وو، او د هغې د علاج کولو خواهش ئې کولو، او کله چې هغوی ته څوک ښهٔ علاج کونکی ملاؤ نهٔ شو، نو رسول الله ﷺ هغوی ته خپلې لاړې مبارکې ورکړې، نو څهٔ برکت والا دم کونکې دی، او څومره برکت والا دم کړې شوې دې، او رسول الله ﷺ او فرمائیل، نن به زهٔ یو تورزن (بهادر) ته بیرغ ورکوم، چې د الله تعالی رسول سره محبت کونکې او په هغوی باندې ځان قربانونکې دې۔
نبی هغوی سره محبت کوی، او الله تعالی هم هغوی سره محبت کونکې دې، نو هغوی به هغه پرله پسې قلعې فتح کوی، هغوی د دنیا د تولې دنیا نه زیات صحیح فیصله کونکې دې، هغه علی دې، چې هغوی رسول الله ﷺ خپل وزیر او ورور ګرځولې دې۔

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضح دې، ځکه چې د حضرت علی رضی الله عنه منقبت او فضیلت دلته تصریح ده، او همدغه ترجمة الباب دې۔

دریم حدیث: ۳۵۰۰[2] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلاً جَاءَ إِلَى سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ فَقَالَ هَذَا فُلاَنٌ لأَمِيرِ الْمَدِينَةِ يَدْعُو عَلِيًّا عِنْدَ الْمِنْبَرِ. قَالَ فَيَقُولُ مَاذَا قَالَ يَقُولُ لَهُ أَبُو تُرَابٍ. فَضَحِكَ قَالَ وَاللَّهِ مَا سَمَّاهُ إِلاَّ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -، وَمَا كَانَ لَهُ اسْمٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْهُ. فَاسْتَطْعَمْتُ الْحَدِيثَ سَهْلاً، وَقُلْتُ يَا أَبَا عَبَّاسٍ كَيْفَ قَالَ دَخَلَ عَلِيٌّ عَلَى فَاطِمَةَ ثُمَّ خَرَجَ فَاضْطَجَعَ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ». قَالَتْ فِي الْمَسْجِدِ. فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَوَجَدَ رِدَاءَهُ قَدْ سَقَطَ عَنْ ظَهْرِهِ، وَخَلَصَ التُّرَابُ إِلَى ظَهْرِهِ، فَجَعَلَ يَمْسَحُ التُّرَابَ عَنْ ظَهْرِهِ فَيَقُولُ «اجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ». مَرَّتَيْنِ. [ر: ۴۳۰]

رجال الحديث

عَبْدُ اللهِ بنُ مَسْلَمَةَ: دا عبد الله بن مسلمه بن قعنب قعنبی حارثی دې، ددهٔ احوال په کتاب الإیمان، باب "من الدین الفرار من الفتن" کښې تیر شوی دی۔[3]

---

[1] عمدة القاری: ۱۲۱۶،۱۶
[2] الحدیث قد مرّ تخریجه فی کتاب الصلاة، باب نوم الرجال فی المسجد، رقم: ۱۴۴۱
[3] کشف الباری: ۱۸۰،۲

عبد العزيز بن أبى حازم: ددۀ احوال هم تير شوى دى.(١)

قوله: عَنْ أَبِيهِ: ابو حازم مراد دي، چې د هغوى نوم سلمة بن دينار مولى الاسود المدنى القاص دي. د دوى احوال هم تير شوى دى.(٢)

قوله: أَنَّ رَجُلاً جَاءَ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: "لم أقف على اسمه".(٣) ما ته د دوى نوم معلوم ته شو.

قوله: هَذَا فُلاَنٌ، لأَمِيرِ المَدِينَةِ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: "أى: على أمير المدينة".(٤) يعنى راوى د فلان نه أمير المدينة مراد اخلى.

په إرشاد الساری کښې د "عن أمير المدينة"(٥) الفاظ راغلى دى، دهغې معنى ده، كناية عن أمير المدينة. او د علامه عينى رحمه الله الفاظ دى: "كنى بفلان عن أمير المدينة".(٦) په لفظ د فلان سره كناية أمير المدينه مراد اخلى.

په هر حال كښې د فلان نه "أمير المدينه" مراد دي.

او د أمير المدينه نه مروان بن الحكم مراد دي.(٧)

د اسماعيلى له مخې "هذا فكان فلان بن فلان".(٨) الفاظ راغلى دى.

قوله: يَدْعُو عَلِيًّا: علامه عينى رحمه الله فرمائى: "أراد أنه يذكر عليًا بشئ غير مرضى".(٩) د قائل مطلب دادي، چې د حضرت على رضي الله عنه په ناخوښو خبرو سره ذكر كوى، او په خرابو القاباتو سره هغه يادوى.

قوله: فَيَقُولُ مَاذَا؟: حضرت سهل دغه ويونكى ته اووئيل، مثلاً هغوى د دوى (على رضي الله عنه) په حقله څه وائى؟ هغه سړى اووئيل، د ابوتراب په نامې سره هغوى يادوى. طبرانى په يو بلې طريقې سره د عبد العزيز بن أبى حازم نه روايت نقل كړې دي، چې په هغې كښې د "يدعوك ليَسُبَّ عليًا"(١٠) الفاظ منقول دى.

---

١) كتاب الصلاة، باب "نوم الرجال فى المسجد.....
٢) كتاب الوضو، باب "غسل المرأة أباها الدم عن وجهه.....
٣) فتح البارى: ٩، ١٩٠
٤) فتح البارى: ٩، ١٩٠
٥) إرشاد السارى: ٨، ١٢١٠
٦) عمدة القارى: ١٦، ١٢١٧
٧) إرشاد السارى: ٨، ١١٠١
٨) فتح البارى: ٩، ١٩٠
٩) عمدة القارى: ١٦، ١٢١٧
١٠) المعجم الكبير: ٥، ٤٥٢ (٥٧٤٦)

قوله: وَاللهِ مَا سَمَّاهُ إِلاَّ النَّبِيُّ ﷺ: ددې نه معلومیږی، چې په کنیت باندې هم د اسم اطلاق کیږی، بلکه د کنیت او اسم دواړو په یو بل باندې اطلاق کیږی، څنګه چې عینی رحمه الله وائی: "إسم يراد بالكنية وتطلق التسمية على التكنية".(۱)

قوله: فَاسْتَطْمَعْتُ الْحَدِيثَ سَهْلاً: یعنی ما سهل ته ددې خبرې او قیصې د ذاتی خوند اخستلو اظهار اوکړو، د کلام تشبیه ئې طعام سره ورکړه، یا د طعام لفظ ئې د کلام د پاره د استعارې په توګه استعمال کړو، په دې وجه چې د دواړو خپل خپل خوند وی، یعنی د کلام معنوی او د طعام حسی.(۲)

قوله: يَا أَبَا عَبَّاسٍ كَيْفَ: "ابو عباس" د حضرت سهل رضي الله عنه کنیت دې، ابو حازم وائی، ما په دې قصه کښې د خوند موندلو په وجه اووئیل، هغه څنګه؟

د ابو ذر په نسخه کښې "کیف" سره د "ذلك" هم زیاتوالې دې، او اسماعیلی د "کیف کان أمره" الفاظ نقل کړی دی.(۳)

قوله: أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ: د کتاب الصلاة په روایت کښې ددې څۀ نور تفصیل هم دې، چې رسول الله ﷺ د حضرت فاطمې رضي الله عنها کور ته تشریف راوړو، وې کتل نو حضرت علی رضي الله عنه نۀ وو، د حضرت فاطمې نه ئې پوښتنه اوکړه، نو هغې اووئیل، زمونږ مینځ کښې څۀ خبره شوې ده، د هغې په وجه هغوی زما نه خفه کیدو سره تلې دې، او ما سره ئې قیلوله اونۀ کړه، "كان بيني وبينه شئ فغاضبني فخرج فلم يقل عندي". دا الفاظ دی. ددې معنی ده، زما او د هغوی په مینځ کښې څۀ معامله وه، په هغې زۀ غصه شوم، نو هغوی لاړل، اوماسره ئې قیلوله اونۀ کړه.

بیا دلته په "مناقبو" کښې روایت دې، د حضرت فاطمې رضي الله عنها په حوالې سره مذکور دې، چې هغې اوفرمائیل "په جمات کښې" دې. او په کتاب الصلاة کښې دا دی، چې یو سړی ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل، لاړشه هغه اوګوره، هغه راتلوسره اووئیل هغوی په جمات کښې اودۀ دی. نو په دې دواړو کښې څۀ تضاد په دې وجه نشته، چې حضرت فاطمې رضي الله عنها به د جمات وئیلی وی، او رسول الله ﷺ چې د کتلو اوفرمائیل، ددې مطلب به دا وی، چې هغه په جمات کښې په کوم ځائې کښې دې، دا اوګوره.

حضرت علی رضي الله عنه ته د فاطمې د "ترۀ ځوی" وئیلو جواز او د هغې حکمت: دلته چې رسول الله ﷺ حضرت فاطمې رضي الله عنها ته اوفرمائیل، چې ستا د ترۀ ځوی چرته دې؟ حال دادې چې علی رضي الله عنه د حضرت فاطمې رضي الله عنها نه، بلکه پخپله د رسول الله ﷺ د ترۀ ځوی وو، او د حضرت فاطمې رضي الله عنها

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۱۷،۱۶

۲) فتح الباری: ۹۰،۹. عمدة القاری: ۱۲۱۷،۱۶

۳) إرشاد الساری: ۱۲۱۰،۸

د رشتې ترۀ وو۔
محدثینو او شارحینو حضراتو خو په دې سلسله کښې یوه خبره دا اوفرمائیله، چې د پلار په نزدې خپلوانو باندې د ابناء عم (یعنی د ترۀ د ځامنو) اطلاق کیږی، اګر چې هغوی حقیقی د ترۀ ځامن نۀ وی،[1] نو د "أعمام" او "عمومة" اطلاق د نیکۀ په خاندان او د پلار په خپلوانو باندې او د "أخوال او خؤولة" اطلاق د مور په خپلوانو باندې او د مور د اړخ نه نیکۀ په خاندان باندې معروف او عام دې۔
دویمه خبره داده، په دې وخت کښې رسول الله ﷺ د حضرت رضی اللہ عنہا کور ته تشریف راؤړو نو رسول الله ﷺ ته د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا او حضرت علی رضی اللہ عنہ په مینځ کښې د خفګان پته لګیدلې وه، نو هغوی ﷺ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د زړۀ خوشالولو د پاره او د حضرت علی رضی اللہ عنہ محبت او اهمیت د هغې په زړۀ کښې د پیدا کولو د پاره د هغوی په مینځ کښې د خپلوئ ذکر کول غوښتل۔[2]
اُوس ښکاره خبره ده کۀ رسول الله ﷺ د هغوی د پاره دا فرمائیل چې زما د ترۀ ځوي چرته دي، نو په دې کښې به فاطمې اړخ ته د ابن عم نسبت او اضافت نۀ کیدو، او مطلوب او زړۀ خوشالول به نۀ وو حاصل شوې، او کۀ هغوی ﷺ دا فرمائیلي وې، چې ستا ترۀ چرته دي، نو دا هم صحیح نۀ دی، ځکه چې ترۀ د محرماتونه وی، او حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا خاوند دي، د "ابن عمك" هم دغه تعبیر مناسب وو۔

قوله: وَخَلَصَ التُّرَابُ إِلَى ظَهْرِهِ: خلص په معنی د "وصل" دي، یعنی خاؤرې د هغوی رضی اللہ عنہ ملا پورې رسیدلې وې۔
د اسماعیلی په روایت کښې دی:
"حتى تخلص ظهره إلى التراب"۔[3] خاؤره ملا ته یا ملا خاؤرې ته د رسیدو مطلب دادي، چې کیدې شی په شروع کښې هغوی رضی اللہ عنہ په داسې ځائې کښې ملاست وو، چرته چې خاؤره نۀ وه، بیا اؤړیدو راؤړیدو سره هغوی رضی اللہ عنہ خاؤرې ته راغلی وو، یا خاؤره د هغوی په بدن باندې لګیدلې وه۔[4]

قوله: اِجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ: د حضرت علی رضی اللہ عنہ مذکوره هیئت او کیفیت رسول الله ﷺ ته عجیبه ښکاره شو، او هغوی ﷺ د "ابو تراب" په نامه مخاطب کولو سره هغوی سره توقه اوکړه، حافظ ابن حجر رحمہ اللہ وائی، دا هغه اولنې موقع ده، چې رسول الله ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ

---

[1] فتح الباری: ۱۴۰۵.۲
[2] فتح الباری: ۱۴۰۵.۲
[3] فتح الباری: ۱۹۰.۹
[4] فتح الباری: ۱۹۰.۹

ته د "ابو تراب" کنیت ورکړو، او په دې نوم ئې هغه مخاطب اوفرمائیلو۔[1]

و ابن اسحاق په خپلې طریقې سره او امام احمد د عمار بن یاسر نه روایت کوی، عمار وائی: "نمتُ أنا وعلی فی غزوة العسیرة فی نخل فما أفقنا إلا بالنبی یحرکنا برجله یقول لعلی قم یا أبا تراب! لما یری علیه من التراب"۔[2]

زهٔ او علی رضی الله عنه په غزوهٔ عُسیره کښې د کهٔجورو په یو باغ کښې اودهٔ وو، او بیا مونږ رسول الله ﷺ راپاسولو، او هغه داسې، چې رسول الله ﷺ په خپې سره مونږ ته حرکت راکړو، او هغوی ﷺ حضرت علی رضی الله عنه "قم یا أبا تراب" وئیلو سره راپاسولو، په دې وجه چې هغوی ﷺ په دوی باندې خاوري لګیدلې لیدلې۔

ددې روایت نه معلومیږی، چې رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته د ابو تراب کنیت د غزوة العُسیرة په موقع باندې ورکړې وو۔

حافظ رحمه الله وائی: "وهٰذا إن ثبت حمل علی أنه خاطبه بذلك فی هٰذا الکائنة الأخری"۔[3]

د عماربن یاسر دا روایت کهٔ ثابت شی، نو ددې معنی به دا وی، چې رسول الله ﷺ دویم واړې هغه په دې نوم سره مخاطب کړو۔

د حضرت علی رضی الله عنه د خفه کیدو وجه: د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دی، چې حضرت علی رضی الله عنه په دې وجه خفه شوې وو، چې رسول الله ﷺ د دوؤ دوؤ صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په مینځ کښې د مواخاة او ورور ولئ رشته قائمه کړه، او حضرت علی رضی الله عنه ئې پریښودو، په دې باندې هغه خفه کیدو سره لاړو او په جمات کښې سملاستو، دې نه ورسته رسول الله ﷺ د هغوی کور ته لاړو، او تلو سره ئې اوفرمائیل، "قم فأنت أخی" پاسه او مهٔ خفه کیږه، ځکه تهٔ زما ورور ئې، او ستا "ورور ولی (مواخاة)" ما سره ده۔[4]

ددې تخریج طبرانی کړې دې، او هم ددې په شان د جابر بن سمره روایت ابن عساکر هم ذکر کړې دې۔[5]

ولې حدیث باب زیات صحیح اود اعتماد وړدې، اوترکومې پورې چې د جمع بین الروایتین تعلق دې، نو هغه دلته ممکن نهٔ دې، ځکه د مواخاة چې کومه قیصه ده، هغه د هغه وخت ده، چې رسول الله ﷺ اول اول د مکې معظمې نه مدینې منورې ته هجرت کړې وو، او د حضرت علی رضی الله عنه او د حضرت فاطمې رضی الله عنها په مینځ کښې د نکاح رشته ډیره ورستنۍ خبره ده، اوپه دې وخت کښې د حضرت علی رضی الله عنه په مواخاة باندې خفه کیدل ډیره مستبعده خبره ده۔[6]

---

[1]) فتح الباری: ۹/۱۹۰

[2]) مسند احمد، مسند عمار بن یاسر، رقم: ۱۸۳٤۷/۱

[3]) فتح الباری: ۹/۱۹۱

[4]) المعجم الکبیر: ۱۱/٤۹، (۱۳۳۷۳)/۱

[5]) المعجم الکبیر: ۱۱/٤۹، (۱۳۳۷۳)/۱

[6]) فتح الباری: ۹/۱۹۱

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره مطابقت دادي، چې رسول الله ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه كور ته ځي، بيا هغه پسې جمات ته، د هغوى رضي الله عنه بدن نه خاوري صفا كوى، هغوى ته دمزاق په توګه ابوتراب وائى، او هغه راضى كوى، چې دهغوى رضي الله عنه د علو شان دليل دي[1]

ځلورم حديث: ٣٥٠١[2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ عَنْ زَائِدَةَ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عُمَرَ، فَسَأَلَهُ عَنْ عُثْمَانَ، فَذَكَرَ عَنْ مَحَاسِنِ عَمَلِهِ، قَالَ لَعَلَّ ذَاكَ يَسُوؤُكَ. قَالَ نَعَمْ. قَالَ فَأَرْغَمَ اللَّهُ بِأَنْفِكَ. ثُمَّ سَأَلَهُ عَنْ عَلِي، فَذَكَرَ مَحَاسِنَ عَمَلِهِ قَالَ هُوَ ذَاكَ، بَيْتُهُ أَوْسَطُ بُيُوتِ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - . ثُمَّ قَالَ لَعَلَّ ذَاكَ يَسُوؤُكَ. قَالَ أَجَلْ. قَالَ فَأَرْغَمَ اللَّهُ بِأَنْفِكَ، انْطَلِقْ فَاجْهَدْ عَلَى جَهْدَكَ.

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ: دا محمد بن رافع بن العماد القشيرى دي، ددۀ احوال تير شوى دى[3]

حُسَيْنٌ: دا حسين بن على الجعفى الكوفى دي، ددۀ احوال هم تير شوى دى[4]

زَائِدَةَ: زائدۀ بن قدامه مراد دي، ددۀ احوال تير شوى دى[5]

أَبِي حَصِينٍ: دا ابو حَصين، عثمان بن عاصم بن حسين دي، ددۀ احوال د "كتاب العلم، باب "إثم مَن كَذَبَ على النبي" لاندې تير شوى دى[6]

سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ: دا سعد بن عبيد ابو حمزة الكوفى دي، ددۀ احوال تير شوى دى[7]

قوله: جَاءَ رَجُلٌ: دا رجل، نافع بن الازرق دي، سكسكى نۀ دي[8]

قوله: فَذَكَرَ عَنْ مَحَاسِنِ عَمَلِهِ: "ذكر" اخبر ته متضمن دي، دغه وجه ده، چې ددې په صله كښې ئې "عن" راوړلې دي، كنې نو د "ذكر" په صله كښې عن نۀ راځى[9]

محاسن د حُسن جمع غير قياسى ده، داسماعيلى په روايت كښې فذكر أحسنَ عمله[10] الفاظ

---

[1] عمدة القاري: ١٦.٢١٦

[2] الحديث مر تخريجه فى كتاب فرض الخمس، باب إذا بعث الإمام رسولاً فى حاجة.....رقم: ٣١٣٠

[3] كتاب الصلح، باب الصلح مع المشركين.....١

[4] اوګورئ: كتاب الأذان، باب أهل العلم والفضل أحق بالإمامة.....رقم: ٦٧٨

[5] اوګورئ: كتاب الغسل، باب غسل المذى والوضوء منه.....رقم: ٢٦٩

[6] كشف البارى: ٢.١١٨٩

[7] كتاب الوضوء، باب فضل من بات على الوضوء، رقم: ٢٤٧

[8] إرشاد السارى: ٨.٢٠٢

[9] فتح البارى: ٩.١٩١

[10] فتح البارى: ٩.١٩١

راغلی دی، په هر حال کښې معنی داده، چې ابن عمر رضی الله عنه د حضرت عثمان رضی الله عنه بنهٔ یا د ټولو نه بنهٔ اعمال ذکر کړل، بیا هم دغه خبره د حضرت علی رضی الله عنه په حقله هم اوشوه.

د حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهما بنهٔ اعمال: دلته د حضرت عثمان رضی الله عنه د بنو اعمالو نه مراد د جیش العُسرة د پاره انفاق دې. په بئر رومه کښې مدد او بنیادی کردار، او بعضې نور اعمال دی.

او حضرت علی رضی الله عنه د بنو اعمالو نه مراد په غزوهٔ بدر کښې شریك کیدل، خیبر د هغوی په لاسو فتح کیدل، او مرحب یهودی قتل کول دی وغیره.(۱)

د حضرت علی رضی الله عنه کور په مینځ کښې د کیدو معنی: هو ذاك بیته أوسط بیوت النبی..... د حضرت علی رضی الله عنه متعلق ئې اوفرمائیل، هغه خو هغه دې، چې د هغوی کور د رسول الله ﷺ په کورونو کښې د مینځ کور وو، یا د هغوی په کورونو کښې د ټولو نه غوره او بنهٔ کور وو.

علامه بدر الدین عینی رحمه الله فرمائی: **"یشیر بذالك إلی أن لعلی منزلة عند النبی ﷺ من حیث أن بیته أوسط بیوت النبی ﷺ وقیل أحسنها بناءً".**(۲)

په دې سره دې خبرې ارخ ته اشاره کول مقصود دی، چې د حضرت علی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ له مخې یو خاص مقام او مرتبه وه، په دې خیال سره چې د هغوی کور د رسول الله ﷺ په کورونو کښې بالکل په مینځ کښې وو، او یا د "أوسط" نه "أحسن" مراد دې، یعنی په جوړیدلو او بنکلی والی کښې د ټولو نه بنهٔ وو، په دې سره د "أوسط" معنو ارخ ته اشاره ده، حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا دواړه معنې ذکر اوفرمائیلې او اولنئ معنې ته ئې ترجیح ورکړه، د هغوی عبارت دې:

"أی: أحسنها بناء، وقال الداودی معناه أنه فی وسطها وهو أصح".(۳)

یعنی په جوړیدلو کښې د ټولو نه بنکلې، او داودی وائی، چې د هغوی کور د پیغمبر د کورونو په مینځ کښې وو، او دا زیات صحیح قول دې.

نسائی د عطاء بن السائب په طریقې سره د سعد بن عبیده نه روایت کوی، د هغې الفاظ دادی: **"فقال لا تسأل عن علی ولکن انظر إلی بیته من بیوت النبی ﷺ".**(۴)

یعنی وې وئیل. د حضرت علی رضی الله عنه په حقله هیڅ پوښتنه مهٔ کوه، خو د رسول الله ﷺ کورونو سره د هغهٔ کور اوګوره.

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۱۷.۱۶

۲) عمدة القاری: ۱۲۱۷.۱۶

۳) فتح الباری: ۱۹۱.۹

۴) السنن الکبریٰ للنسائی، کتاب الخصائص، باب ذکر منزلة علی بن أبی طالب وقربه من النبی..... ۴۴۷.۷، رقم: ۸۴۳۸

او علاء بن العیزار نه روایت دي،هغه وائی ما د ابن عمر رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه په حقله پوښتنه اوکړه،نو هغوی اووئیل:

"انظر الی منزله من النبی الله ﷺ لیس فی المسجد غیر بیته".(١)

یعنی د نبی کریم ﷺ له مخي د هغوی مقام او مرتبه اوګوره،چې په جمات کښې د هغوی د کور نه علاوه د بل چا کور نشته.

د صحابهٔ کرام رضی الله عنهم دښمن د پاره بد دعا: فَأَرْغَمَ اللهُ بِأَنْفِكَ.....باء زائده ده،او د "أرغم الله أنفك" معنی ده،الله تعالی دي ستا پوزه په خاوړو ککړه کړی،دا د ذلت او ملامتیا نه کنایه ده،رغام خاوري ته وئیلی شی،او په زمکه د راپریوتونکی مخ او پوزه په خاوړو ککړیږی،په دي وجه د غورځیدو او ذلیل کیدو د پاره دا الفاظ استعمالیږی،دلته مخاطب او سائل صحابهٔ کرام رضی الله عنهم سره خصوصاً حضرت عثمان اوعلی رضی الله عنهما سره بغض ساتلو،حضرت ابن عمر رضی الله عنه دحضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه په تعریف باندي د هغهٔ په خفه کیدلو باندي د ناخوښي اظهار کولو سره هغهٔ د پاره خیري اوفرمائیلي،او وي وئیل،چې الله تعالی دي تا ذلیل او ملامته کړی،چې تهٔ دا حضرات(عثمان او علی رضی الله عنهما) نهٔ خوښوي.

ابن عمر رضی الله عنه صحابهٔ کرام رضی الله عنهم سره د بغض ساتونکی د شر پرواه اونهٔ کړه:

قوله: فَاجْهَدْ عَلَيَّ جَهْدَكَ.....: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حضرت عثمان او علی رضی الله عنهما سره بغض کونکی ته خیري اوکړي،او د هغه په طرز عمل او سوچ باندي ئي رد کولو سره هغه خفه کړو،ښکاره خبره ده،ددي په جواب کښې هغهٔ هر څهٔ کولي شو،او وئیلي ئي شو، حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته ددي پته وه،ولي هغوی د احقاق او اظهار حق فریضه ترسره کړه،او هغهٔ ته ئي صفا اووئیل،تهٔ چې څهٔ کولي شې نو اوکړه،ما ته ستا هیڅ پروا نشته،حافظ ابن حجر رحمه الله ددي الفاظو تشریح کولو سره فرمائی:

"أی: أبلغ علی غایتك فی حقی، فإن الذی قلتُه لك الحق، وقائلُ الحق لا یبالی بما قیل فی حقه من الباطل".(٢)

یعنی زما په حقله تر کومې پورې چې ستا لاس رسی،او چې څهٔ کولي شې،اوکړه،ځکه څهٔ چې ما وئیلی دی.هغه حق دی،او حق ویونکي ددي پروا نهٔ کوی،چې ما سره به څهٔ کیږی.

او د عطاء بن السائب په پورتنی روایت کښې دا الفاظ دی:

"فقال الرجل: فإنی أبغضُه، فقال له ابن عمر: أبغضَك الله تعالی".(٣)

هغه سړی اووئیل.زهٔ خو هغه نهٔ خوښوم،ابن عمر رضی الله عنه اووئیل،الله تعالی دي تا نهٔ خوښوی.

---

١) فتح الباری:٩،١٩١

٢) فتح الباری:٩،١٩١

٣) السنن الکبریٰ للنسائی،کتاب الخصائص،باب ذکر منزلة علی بن أبی طالب وقربه من النبی.....٧،٤٤٧.رقم:٨٤٣٨

ترجمة الباب سره مناسبت: د حدیث د ترجمة الباب سره مناسب داسې دې، چې راوی وائی، "ثم سأله عن علی، فذکر محاسنَ عملِه" سائل د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه د حضرت علی رضی الله عنه په حقله پوښتنه اوکړه، نو ابن عمر رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه نسبۀ صفتونه ذکر کړل، او بیا کله چې سائل په هغې د خفګان اظهار اوکړو، نو ابن عمر رضی الله عنه هغۀ د پاره دا بد دعا اوکړه، او وې فرمائیل، تۀ دې ذلیله ئې او ستا پوزه دې په خاؤرو ککړه وی، دا ټول د حضرت علی رضی الله عنه په عالی مقام او مرتبې باندې دلالت کوی۔[1]

پنځم حدیث: ٣٥٠٢،[2] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى قَالَ حَدَّثَنَا عَلِي أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلاَمُ شَكَتْ مَا تَلْقَى مِنْ أَثَرِ الرَّحَا، فَأَتَى النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- سَبْيٌ، فَانْطَلَقَتْ فَلَمْ تَجِدْهُ، فَوَجَدَتْ عَائِشَةَ، فَأَخْبَرَتْهَا، فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ بِمَجِيءِ فَاطِمَةَ، فَجَاءَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَيْنَا، وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا، فَذَهَبْتُ لأَقُومَ فَقَالَ «عَلَى مَكَانِكُمَا». فَقَعَدَ بَيْنَنَا حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمَيْهِ عَلَى صَدْرِي وَقَالَ «أَلاَ أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَانِي إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا تُكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ، وَتُسَبِّحَا ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ، وَتَحْمَدَا ثَلاَثَةً وَثَلاَثِينَ، فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ». [ر: ٢٩٤٥]

رجال الحديث

مُحَمَّد بنُ بَشَّار: دا محمد بن بشار بن عثمان عبدی بصری، مشهور په "بندار" سره دې، ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "قول النبی رب مبلغ أوعی من سامع" د لاندې تیر شوی دی۔[3]

غُنْدَر: دا ابو عبد الله محمد بن جعفر هذلی دې، چې د غندر په لقب سره مشهور دې، ددۀ احوال د "کتاب الإیمان، باب ظلم دون ظلم" لاندې تیر شوی دی۔[4]

شُعْبَةُ: دا امیر المؤمنین فی الحدیث شعبة بن الحجاج واسطی بصری دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" د لاندې تیر شوی دی۔[5]

الحَكَم: دا الحکم بن عُتیبه الکندی الکوفی دې، ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "السمر فی العلم" لاندې تیر شوی دی۔[6]

---

[1] عمدة القاري: ١٦/٢١٧

[2] الحديث مر تخريجه فی كتاب فرض الخمس، باب الدليل على أن الخمس لنوائب رسول الله والمساكين، رقم: ٣١١٣

[3] كشف الباری: ٣/١٢٥٨

[4] كشف الباری: ٢/١٢٥٠

[5] كشف الباری: ١/١٦٧٨

[6] كشف الباری: ٤/١٤١٤

ابنِ أبی لَیلی: دا عبد الرحمٰن بن أبی لیلی الأنصاری الکوفی دی، ددۀ احوال تیر شوی دی۔[۱]

قوله: مِنْ أَثَرِ الرُّحَا: "کتاب فرض الخُمس" کښې د بَدَلُ بنُ المحبَّر په روایت کښې دې نه ورسته د "مماتطحَنُ" زیاتوالې دي۔[۲]

قوله: فَأَتَى النَّبِيَّ سَبْيٌ: أتى معروف دې، او د ابو ذر عن الکشمیهنی په روایت کښې "أُتِيَ" مبنی للمفعول راغلې دي۔[۳]

قوله: مَا سَأَلْتُمَانِي: امام احمد چې د سائب بن علی په طریقې سره کوم روایت نقل کړې دي، په هغې کښې زیاتوالې دي، "قالا بلیٰ! قال: کلمات علَّمَنِیهن جبریلُ"۔[۴]

قوله: تُكَبِّرَا: د تثنیې صیغه ده، په حذف د نون سره، حذف خو یا د تخفیف د پاره دي، یا په دې وجه چې لفظ "إذا" د شرط د پاره دي، او جازم للفعل دي، همدغه شان "تسبحا او تحمدا....." هم په حذف د نون سره دی، او په بعضې نسخو کښې په اثبات د نون سره دي، او بعضې نسخو کښې "فکبِّرا" او "واحمدا" په امر سره راغلې دي۔[۵]

د "ذکر" د خیریت او افضلیت معنی: علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمائی، رسول الله ﷺ چې تسبیح او تحمید د خادم نه غوره ګرځولی دی، ددې مطلب دادې، چې په خادم سره تاسو ته کوم راحت او آسانتیا ملاویږی، په دې اذکارو سره به د هغې په مقابله کښې زیات راحت او آسانتیا ملاویږی، او د سترې والی او سستیا اثر به ختمیږی، ځکه چې حضرت فاطمې رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته د خپل تکلیف او اذیت شکایت کړې وو، نو ښکاره خبره ده، هغوی ﷺ په دې حوالې سره د خپلې لور لار ښودنه کړې وی، په دې صورت کښې به دا ددې کلماتو خاص تاثیر وی۔

او قاضی عیاض فرمائی، حضرت فاطمې رضی الله عنها دنیوی تکلیف ذکر کولو سره د دنیوی راحت حاصلولو خواهش ښکاره کړو، رسول الله ﷺ (د اسلوب الحکیم په توګه) د تسبیح او تحمید ذکر کولو سره ګویا دا اوښودل، چې د دنیا د راحت او آسانتیا په مقابله کښې اُخروی اجر او ثواب ډیر زیات دي، او تا ته د هغې د حاصلولو کوشش پکار دي۔[۶]

ترجمة الباب سره مناسبت: رسول الله ﷺ د حضرت علی رضی الله عنه کور ته تشریف راوړو، هغه ته ئې

---

[۱] اوګورئ، کتاب الأذان، باب حد إتمام الرکوع والاعتدال فیه.....، رقم: ۷۹۲

[۲] کتاب فرض الخمس، باب الدلیل علی أن الخمس لنوائب رسول الله ﷺ، رقم: ۳۱۱۳

[۳] إرشاد الساری: ۱۲۰۳.۸

[۴] مسند أحمد، مسند علی بن أبی طالب، رقم: ۸۳۹

[۵] إرشاد الساری: ۱۲۰۳.۸

[۶] إرشاد الساری: ۱۲۰۳.۸

د پاسیدو تکلیف هم ورنه کړو ،بیا هغه سره بې تکلفه کیناستو ،او بیا ئې هغه ته او خپلې لور ته د یو ښکلی عمل په بدله کښې اوفرمائیل،"گویا چې څه ئې د خپلې لور د پاره غوښتل هم هغه ئې د حضرت علی رضی الله عنه د پاره هم خوښ کړل،ددې ټولو خبرو نه د رسول الله ﷺ له مخې د حضرت علی رضی الله عنه د قدر ومنزلت او علو مرتبې اندازه کیږی۔"[1]

د خادم نه ورکولو وجه: پاتې شوه دا خبره چې کۀ رسول الله ﷺ خپلې لور او حضرت علی رضی الله عنه ته مذکوره اذکار هم ارشاد فرمائیلی وو ،او خادم ئې هم ورکړې وې،نو هغوی ته به دوه فائدې ملاؤ شوې وې.....؟

نو ددې جواب دادې،چې رسول الله ﷺ ته غلامان وغیره راغلی وو ،هغوی ﷺ په هغی سره د اهل صفه او نورو فقراؤ مدد کول غوښتل،او د خپل اهل وعیال د پاره ئې صبر خوښولو، ځکه چې د صبر د الله تعالی له مخې ډیر لوئې مقام او مرتبه ده۔"[2]او د رسول الله ﷺ نظر په اُخروی فائدې باندې وو ،دنیا کښې خو هغوی په "قوت لایموت" باندې د ګذارې کولو قائل وو۔

شپږم حدیث:۳۵۰۳[3] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ إِبْرَاهِيمَ بْنَ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- لِعَلِيٍّ «أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى». [۴۱۵۴]

رجال الحدیث

مُحَمَّد بنُ بَشَّارٍ،غُندَرٌ،شُعبَةُ: د محمد بن بشار،غندر او شعبه احوال په پورتنی روایت کښې تیر شوی دی۔

سَعْد: دا سعد بن إبراهیم بن عبد الرحمٰن بن عوف دې،ددۀ احوال په کتاب مواقیت الصلاۃ،باب "وقت المغرب" کښې تیر شوی دی۔

إبرَاهِیم بنَ سَعْد: إبراهیم بن سعد ،دا د رسول الله ﷺ مشهور صحابی دې،د حضرت سعد بن أبی وقاص څوې دې،یو بل إبراهیم بن سعد هم دې،چې د سعد بن إبراهیم بن عبد الرحمٰن بن عوف څوې دې،او سعد بن إبراهیم بن عبد الرحمٰن بن عوف ددې إبراهیم بن سعد خورئې (ابن الاخت)دې۔

دلته چې کوم إبراهیم بن سعد راوی دې،دا د بخاری،مسلم،او نسائی وغیره راوی دې،د اسامه بن زید ،خزیمه بن ثابت او د خپل والد سعد بن أبی وقاص رضی الله عنه نه روایت کوی،ددې نه

---

[1] فتح الباری:۹،۱۹۱

[2] فتح الباری:۹،۱۹۲

[3] الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی صحیحه:(۲،۲۳۳)،فی کتاب المغازی،باب غزوة تبوک، رقم:۴۴۱۶، وکذا مسلم فی صحیحه:(۲،۲۷۸)،کتاب فضائل الصحابة،باب من فضائل علی بن أبی طالب، رقم:۲۴۰۴، والترمذی فی جامعه:(۲،۲۱۳)،کتاب المناقب،باب بعث النبی یوم الأثنین وصلی علی یوم الثلاثاء، رقم:۳۷۳۱

معلومیږی چې دا تابعی دې۔[۱]
او ابن سعد وائی:دوی د علی بن أبی طالب نه هم روایت کړې دې۔[۲]
عجلی په خپل کتاب "الثقات" کښې ذکر کړی دی،او وې فرمائیل:"مدنی تابعی،ثقة"۔[۳]
یعقوب بن شعبه وائی:
"إبراهیم معدود فی الطبقة الثانیة من فقهاء أهل المدینة بعد الصحابة وکان ثقة، کثیر الحدیث"۔[۴]
ابن سعد وائی، "کان ثقة کثیر الحدیث"۔[۵]

د حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت هارون علیہ السلام سره د تشبیه مطلب: "أَمَا تَرضَى أَن تَكُونَ مِنِّي بِمَنزِلَةِ هَارُونَ مِن مُوسَى....." آیا تۀ په دې راضی نۀ ئې، چې تۀ زما د پاره داسې شې، څنګه چې موسی علیہ السلام د پاره هارون علیہ السلام وو؟
د غزوۀ تبوك په موقع باندې کله چې رسول الله ﷺ حضرت علی رضی اللہ عنہ په کور کښې پریښودو، او د جنګ د پاره ئې ځان سره بونۀ تلو، نو حضرت علی رضی اللہ عنہ د شکایت په توګه رسول الله ﷺ ته اووئیل، "أتخلفنی فی الصبیان والنساء؟"۔[۶]
اې د الله تعالی رسوله! تاسو ما په ماشومانو او ښځو کښې پریږدئ۔
د حضرت علی رضی اللہ عنہ مطلب دادې، چې ښځو او ماشومانو سره پاتې کیدل خو یو معمولی کار دې، او ددې په وجه به زۀ د جهاد په شان د یو اهم کار نه محروم شم۔
رسول الله ﷺ د حضرت علی رضی اللہ عنہ شکایت لرې کولو او د هغۀ د زړۀ خوشالولو د پاره اوفرمائیل. ستا نه وړاندې همدغه شان کار یو جلیل القدر پیغمبر هم ترسره کړې دې، حضرت موسی علیہ السلام چې کله د الله تعالی د رضا حاصلولو د پاره کوه طور ته تلو، نو ورسته د قوم د خصمانې او خیال ساتلو د پاره ئې خپل ورور هارون علیہ السلام پریښودو، نو آیا تۀ په دې باندې راضی نۀ ئې، چې زما د پاره په منزله د هارون علیہ السلام شې؟ هارون پیغمبر هم وو، او د حضرت موسی علیہ السلام ورور هم..... په بنی اسرائیلو کښې پاتې کیدل د هغوی د پاره نۀ بې عزتی وه، او نۀ هغوی ته ځۀ داسې خبره محسوس شوې وه، بلکه دا د هغوی د پاره اعزاز وو، چې هغوی د حضرت موسی علیہ السلام د پاره جانشین جوړیدو سره پاتې شوې وو، او دلته د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره هم دا د اعزاز خبره وه۔

---

[۱] تهذیب الکمال:۱۹۳،۲
[۲] الطبقات لابن سعد:۱۱۶۹،۵
[۳] الثقات:الورقة ۱۳
[۴] اکمال تهذیب الکمال:۱۵۳،۱
[۵] الطبقات لابن سعد:۱۱۶۹،۵
[۶] صحیح البخاری، کتاب المغازی، باب غزوة تبوک، رقم:۱۴۴۱۶

قوله: بمنزلة هارون: شارحين وائی، دلته باء زائده ده، او د عبارت تقدير داسې دې، "ان تكون منی نازلاً منزلة هرون من موسٰی"(۱) منزلة گويا مفعول مطلق دې، د شبه فعل مقدر د پاره.

د حضرت علی رضی الله عنه د سوال نه ورستو اطمينان: د سعيد بن المسيب د سعد بن أبی قاص رضی الله عنه نه روايت دې، چې احمد نقل کړې دې، او په هغې کښې دا الفاظ دی، "فقال علی: رضيتُ رضيتُ"(۲) زهٔ راضی يم، زهٔ راضی يم.

او د براء بن عازب او د زيد بن ارقم رضی الله عنهما روايت دې، چې په هغې کښې دا الفاظ دی: "قال: بلٰی يا رسول الله، قال فإنه كذلك".(۳)

حضرت علی رضی الله عنه او فرمائيل نه، اې د الله تعالی رسوله! زهٔ په دې راضی يم. رسول الله او فرمائيل، نو خبره داسې ده.

ددې روايت په شروع کښې دا الفاظ راځی، رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته فرمائی:

"لا بد أن أقيم أو تُقيم، فأقام علیّ فسمع ناسًا يقولون: إنما خلّفه لشیء كرهه منه، فأتبعه فذكر له ذلك، فقال له....."(۴)

ضروری ده، چې يا زهٔ پاتې شم يا ته، نو حضرت علی رضی الله عنه پاتې شو، بيا هغوی د څو کسانو نه دا واؤريدل، چې رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ورستو پرېښودو، نو خامخا څهٔ خبره ده، چې د الله تعالی رسول ته ناخوښه ده، چې د هغې په وجه رسول الله ﷺ هغهٔ ځان سره د بوتلو په ځائې ورستو پرېښودو، حضرت علی رضی الله عنه دا خبره رسول الله ﷺ ته اوکړه، نو هغوی ﷺ مذکوره جواب ارشاد اوفرمائيلو.

د حضرت علی رضی الله عنه په خلافت بلا فصل باندې استدلال او د هغې جواب: بعضې خلقو ددې حديث نه د حضرت علی رضی الله عنه د خلافت بلا فصل په ثبوت او د نورو د خلافت په نفی باندې استدلال کړې دې. او وئيلی ئې دی..... څنګه چې هارون عليه السلام د حضرت موسٰی عليه السلام خليفه وو، او بل څوك هغوی سره په دې کښې شريك نهٔ وو، همدغه شان حضرت علی رضی الله عنه د نورو د شرکت نه بغير خليفه دې. او هارون عليه السلام سره په تشبيه کښې هم دغه مقصود دی.

ولې دا استدلال صحيح نهٔ دې، بلکه بعضې ماؤف العقل خلقو ته دا شبهه شوې ده، ځکه چې حضرت هارون عليه السلام د سيدنا موسٰی عليه السلام په ژوند کښې خليفه جوړ شوې وو، نهٔ چې د هغوی د وفات نه ورستو، ځکه چې وفات خو د حضرت هارون عليه السلام د حضرت موسٰی عليه السلام نه وړاندې شوې وو، او د حضرت علی رضی الله عنه هغوی سره د مشابهت تقاضا داده، چې هغوی هم د

---

۱) فتح الباری: ۹/۱۹۲

۲) السنن الكبرٰی للنسائی، رقم: ۸۳۸۲

۳) مسند أبی يعلٰی، مسند انس، رقم: ۱۲۷۸۲

۴) مسند الرويانی، رقم: ۱۴۱۷

رسول الله ﷺ په حیات کښې په یوخاص موقعه باندې خلیفه جوړشوی وی، اوشوې هم دغسې دی.
پاتې شو د رسول الله ﷺ خلافت د هغوی ﷺ د وصال (وفات) نه ورسټو، نو نۀ دلته د هغې ذکر شته، او نۀ د هغې ددې سره څۀ تعلق شته۔[1]
د حضرت هارون علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام د خلافت په حقله علامه عینی رحمه الله فرمائی:
"وانما کان خلیفة فی حیاته فی وقت خاص فلیکن کذلك الأمر فیمن ضرب المثل به"۔[2]
حضرت هارون علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام په ژوند کښې د یو خاص وخت د پاره خلیفه وو، نو د چا تشبیه چې د هغوی سره ورکړې شوې ده، د هغۀ خلافت هم هغه شان کیدل پکار دی۔
او هغه هم دا دې، د کومې چې په دې حدیث کښې ذکر دې۔
ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت ښکاره دې۔

۳۵۰۴[3] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَلِيٍّ - رضي الله عنه - قَالَ اقْضُوا كَمَا كُنْتُمْ تَقْضُونَ ، فَإِنِّي أَكْرَهُ الاِخْتِلاَفَ حَتَّى يَكُونَ لِلنَّاسِ جَمَاعَةٌ، أَوْ أَمُوتَ كَمَا مَاتَ أَصْحَابِي . فَكَانَ ابْنُ سِيرِينَ يَرَى أَنَّ عَامَّةَ مَا يُرْوَى عَلَى عَلِيٍّ الْكَذِبُ.

رجال الحدیث

عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ: دا ابو الحسن علی بن الجعد بن عبید جوهری دې، د دۀ احوال په کتاب الإیمان، باب "أداء الخمس من الإیمان" کښې تیر شوی دی۔[4]
شُعْبَةُ: دا شعبة بن الحجاج دې، د دۀ احوال د کتاب الإیمان باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" د لاندې تیر شوی دی۔[5]
اَیُّوبَ: دا ایوب بن أبی تمیمه کیسان السختیانی دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "حلاوة الإیمان" لاندې تیر شوی دی۔[6]
ابنِ سِیرِیْنَ: دا مشهور تابعی امام المعبرین ابوبکر محمد بن سیرین بصری دی، ددۀ احوال

---

[1] فتح الباری: ۱۹۳،۹
[2] عمدة القاری: ۱۲۱۸،۱۶
[3] الحدیث أخرجه البخاری ههنا وتفرد به.....انظر جامع الأصول: ۷۷،۱، وکنز العمال، فضائل علی، رقم: ۱۳۶۴۰۹
[4] کشف الباری: ۶۹۷،۲
[5] کشف الباری: ۶۷۸،۱
[6] کشف الباری: ۱۲۶،۲

د کتاب الإیمان، باب "اتباع الجنائز من الإیمان" لاندې تیر شوی دی۔(۱)

عَبِیْدَةَ: دا عَبِیدَةُ بن عمرو السلمانی دې، ددۀ احوال د کتاب الوضوء، باب "الماء الذی یغسل به شعر الإنسان" لاندې تیر شوی دی۔

قوله: اقْضُوا کَمَا کُنْتُمْ تَقْضُونَ: د ابوذر په نسخه کښې د کشمیهنی دا الفاظ منقول دی "اقضوا علی ما کنتم تقضون قبل"۔(۲)

حضرت علی رضی اللہ عنہ دا الفاظ کله ارشاد اوفرمائیل؟: حضرت علی رضی اللہ عنہ چې کله عراق ته تشریف راوړو، نو اهل عراق ته ئې اووئیل، چې زما رائې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د رائې سره موافق وه، او مونږ په دې پوهیدو، چې د اُمِّ ولد بیع جائز نۀ ده، ولې اُوس زما رائې بدله شوه، او زۀ وایم د اُمِّ ولد نه "رق" (غلامی) نۀ ختمیږی، او د هغې بیع به هم د وړاندې په شان جائز وی۔
عبیدۀ وائی، په دې باندې ما هغوی رضی اللہ عنہ ته اووئیل:

"رأیك ورأی عمر فی الجماعة أحب إلیّ من رأیك وحدك فی الفرقة"۔(۳)

ستاسو او د حضرت عمر رضی اللہ عنہ رائې په داسې حال کښې چې تاسو یو جماعت کښې ئې، ما ته ددې نه زیاته خوښه ده، چې تاسو جدا کیدو سره ځان له یو مستقل رائې قائمه کړئ، او بعضې حضراتو دا الفاظ ذکر کړې دی:

"رأیك یومئذ فی الجماعة أحب إلیّ من رأیك الیوم فی الفرقة"۔(۴)

په دې باندې حضرت علی رضی اللہ عنہ اوفرمائیل، "اقضوا کما کنتم تقضون"۔
او په یو روایت کښې د عبیده دا تصریح هم منقول ده، چې هم حضرت علی رضی اللہ عنہ هغۀ (یعنی عبیده) ته دا الفاظ ارشاد اوفرمائیل، د حماد بن زید روایت چې ابن المنذر د علی بن عبد العزیز عن أبی نعیم په طریقې سره نقل کړې دې، په هغې کښې دا الفاظ دی:

"قال لی عَبِیدة: بعث إلی علیّ والی شریح فقال: إنی أبغض الاختلاف فاقضوا کما کنتم تقضون"۔(۵)

یعنی علی او شریح ته ئې خبر اولیږلو، نو هغوی اووئیل، زۀ اختلاف نۀ خوښوم، تاسو چې څنګه غواړئ فیصله اوکړئ۔

د اختلاف نۀ خوښولو مطلب: د حضرت علی رضی اللہ عنہ په قول "فانی أکرہ الاختلاف" باندې اعتراض کیږی، چې د اختلاف نه خو خلاصې نشته، او کله کله ضروری شی، اختلاف د امت ته خو

---

۱) کشف الباری: ۲، ۱۵۲٤
۲) إرشاد الساری: ۸، ۱۲۰٤
۳) فتح الباری: ۹، ۱۹۲
٤) عمدة القاری: ۱۶، ۱۲۱۸
۵) فتح الباری: ۹، ۱۹۲

رحمت هم وئیلي شوي دی، بیا حضرت علی رضی الله عنه دا ولي نه خوښوی.....؟

ددي جواب دادي، چې یو خو د حضرت علی رضی الله عنه په دي قول کښې د اختلاف نه مطلق اختلاف مراد نه دي، بلکه ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره اختلاف مراد دي، څنګه چې قسطلانی په "علی الشیخین" الفاظ راوړولو سره او ابن حجر رحمه الله په "یعنی مخالفة أبي بکر وعمر" الفاظو سره او علامه عینی رحمه الله په "یعنی أن یخالف أبابکر رضی الله عنهما" الفاظو سره دي ارخ ته اشاره کړي ده.(۱)

دویم د اختلاف نه مراد هغه اختلاف دي، کوم چې د نزاع او فتنې سبب جوړ شی، د ددي تائید د هغوی رضی الله عنهم په دي ارشاد "حتی تکون للناس جماعة" سره هم کیږی، څکه چې ددي (عبارت، حتی یکون للناس جماعة) تقدیر دي:

"لا أزال علی ذلك حتی یکون للناس جماعة أو أموت".(۲)

یعنی زهٔ به همیشه ددي اختلاف د ختمولو په کوشش باندي قائم یم، دي د پاره چې د خلقو اجتماعیت باقی پاتې شی، او یا زهٔ مړ شم خو چې دي اجتماعیت ته نقصان اونهٔ رسی.

"أو أموت" کښې "أموت" د أنا مبتداء مقدري د پاره خبر دي نو په دي وجه مرفوع دي. او یا په یکون باندي معطوف دي، او په انِ مقدره سره منصوب دي، "أی حتی أن تکون للناس جماعة او أن أموت".(۳)

په لفظ "أو" باندي اشکال او جواب: په "أو أموت" باندي دا هم اشکال کړي شوي دي، چې په دي کښې چې کوم لفظ د "أو" راغلي دي، دا خو د أحد الأمرین د پاره راځی، ددي مطلب خو دا دي، چې زهٔ اختلاف نه خوښوم، تر دي پورې چې یا خو جماعت باقی پاتې شی، او یا زهٔ مړ شم، حال دادي چې دا دواړه کارونه مطلوب دی.

یعنی د جماعت د قیام د پاره ترك اختلاف، او تر مرګه پورې ترك اختلاف، نو بیا "أو" ولي راوړلې شوې دي؟

ددي جواب دادي، چې په دي دواړو کښې اختلاف نشته، بلکه دي کښې جمع ممکن ده، "أو" دلته د أحد الأمرین د پاره نهٔ دي، بلکه د کلا الأمرین د پاره دي.(۴)

قوله: کما مات أصحابي: یعنی څنګه چې ما سره ابوبکر او عمر رضی الله عنهما وغیرهما تر مرګه پورې د امت د جمعیت حفاظت فرمائیلي وو، زهٔ به هم تر مرګه پورې داسې کووم.

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۱۹.۱۶

۲) فتح الباری: ۱۹۲.۹

۳) فتح الباری: ۱۹۲.۹

۴) عمدة القاری: ۱۲۱۹.۱۶

د ابن سیرین د خبرې مقصد: د علامه ابن سیرین په حوالې سره د حماد بن زید په روایت کښې د ایوب نه دا الفاظ منقول دی:

"سمعت محمدًا یعنی ابنَ سیرین یقول لأبی معشر: إنی أتهمکم فی کثیر مما تقولون عن علی".(۱)

زهٔ په تا باندې په ډیرو څیزونو کښې د غلط بیان کولو ګمان کووم، او په تا باندې په ځائې الزام لګوم، کوم چې ته د حضرت علی رضی الله عنه په حقله روایت کوې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، ابو معشر، د چا چې دلته ذکر دې، ددهٔ نه زیاد بن کلیب الکوفی مراد دې. او هغه ثقه راوی دې، مسلم په خپل صحیح کښې د هغهٔ روایات ذکر کړی دی.(۲)

دا اشکال کیدې شی، چې بیا ابن سیرین په داسې ثقه سړی باندې د غلط بیان کولو ګمان او د عدم اعتماد اظهار ولې کوی.

ددې جواب دادې، چې ابن سیرین د زیاد بن کلیب د هغه روایتونو خبره کوی، کوم چې هغه د حارث الاعور په شان خلقو نه روایت کوی، او د هغهٔ دا الزام په حقیقت کښې د زیاد په مروی عنه افرادو باندې دې، (د چا نه چې زیاد بن کلیب روایت کوی) ځکه چې زیاد کله کله ددې حارث الاعور وغیره..... نه روایت کوی، او هغه د حضرت علی رضی الله عنه په حقله موضوعی روایتونه بیانوی.(۳)

د حضرت علی رضی الله عنه نه مروی د شیخینو مخالف روایتونه مردود دی: یَرَی أنَّ عَامَّةَ مَا یُرْوَی عَلَی عَلِیٍّ الْکَذِبُ..... د ابن سیرین مراد هغه روایتونه دی، کوم چې عموماً روافض روایت کوی، او هغه حضرت علی رضی الله عنه ارخ ته منسوب کړې شوې هغه اقوال وی، چې په هغې کښې د حضرات شیخینو مخالفت وی، د هغهٔ (ابن سیرین) هغه مراد نهٔ دی، کوم چې د شرعی احکامو سره متعلق وی، ځکه چې ابن سعد په صحیح سند سره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی، هغه فرمائی: "إذا حدثنا الثقة عن علی بفتیا لم نتجاوزها".(۴)

چې یو ثقه راوی د حضرت علی رضی الله عنه نه یوه فتوی زمونږ وړاندې روایت کوی، نو مونږ د هغې نه تجاوز نهٔ کوو، یعنی هغه اخلو.

په بعضې نسخو کښې د "علی علی" الفاظ راغلی دی، نو ابو ذر او ابوالوقت او ابن عساکر وغیره د "عن علی" الفاظ نقل کړی دی، او هم دغه زیات صحیح دې.(۵)

علامه عینی رحمه الله د ابن سیرین ددې قول توجیه کولو سره فرمائی:

"وإنما قال ذلك لأن کثیرًا من أهل الکوفة الذین یروون عنه لیس لهم ذلك، ولا سیما الرافضة عنهم فإن عامة ما

---

۱) تاریخ ابن خیثمه: ۱۳۷.۵

۲) صحیح مسلم، کتاب الطهارت، باب حکم المنی، حدیث (۶۹۶)۱

۳) فتح الباری: ۱۹۲.۹

۴) فتح الباری: ۱۹۲.۹

۵) عمدة القاری: ۲۱۹.۱۶، وإرشاد الساری: ۱۲۰۵.۸

یرودون عنه کذب واختلاف".(۱)

د حضرت علی رضی الله عنه فضائل کثیره: د احادیثو په کتابونو کښې د حضرت علی رضی الله عنه نور هم ګڼ شمیر مناقب او فضائل مذکور دی، امام مسلم او ترمذی د عامر بن سعد بن أبی وقاص نه روایت نقل کوی، چې حضرت معاویه رضی الله عنه حضرت سعد رضی الله عنه ته اووئیل، "ما منعك أن تسبَّ أبا تراب".(۲) ته حضرت علی رضی الله عنه ته د رد بد وئیلو نه څه څیز منع کړې ئې؟

سعد اووئیل: "أما ما ذكرتُ ثلاثاً قالهن له رسول الله ﷺ فلن أسبَّه".(۳)

دري خبرې چې رسول الله ﷺ د هغوی په حقله فرمائیلې دی، د هغې نه ورستو زهٔ هیڅ کله هم حضرت علی رضی الله عنه ته رد بد نهٔ شم وئیلې، بیا په هغه دریؤ خبرو کښې خو یو هغهٔ هغه حدیث بیانولو سره اووئیلو، یعنی هغوی ته د رسول الله ﷺ دا وئیل، چې ته زما د پاره داسې ئې، څنګه چې د موسیٰ علیه السلام د پاره هارون علیه السلام وو.

دویمه خبره دا چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل، "لأعطین الرایة رجلاً یحبُّ الله ورسوله".

او دریمه خبره دا کله چې د الله تعالی جل جلاله دا ارشاد "فقل تعالَوا ندعُ أبناءنا وأبناءكم".(۴) نازل شو، نو رسول الله ﷺ حضرت علی رضی الله عنه حسن حسین رضی الله عنهما او فاطمه رضی الله عنها راؤغوښتل او وې فرمائیل، "اللهم هؤلاء أهلی".(۵) اې الله! زما اهل وعیال خو دادې.

همدغه شان ابو یعلی د حضرت سعد یو روایت نقل کړې دې، هغه فرمائی:

"لو وضع المنشار علی مفرقی علی أن أسبَّ علیّاً ما سببتُه أبداً".(۶)

کهٔ زما د سر په لار (یعنی د سر په مینځ) آره کیښودې شی، او حضرت علی رضی الله عنه ته د کنځلو ما ته اووئیلې شی، نو بیا هم زهٔ به هیڅ کله هغوی ته کنځل اونهٔ کړم.

حافظ ابن حجر رحمه الله د امام احمد رحمه الله دا قول هم نقل کړې دې.

"ما بلَغنا عن أحد من الصحابة ما بلَغنا عن علی بن أبی طالب".(۷)

د حضرت علی رضی الله عنه (د فضائلو) په حقله چې مونږ ته څومره روایات رارسیدلی دی، په صحابؤ کښې د چا په حقله هم دومره نهٔ دی رارسیدلې.

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۱۹،۱۶

۲) صحیح مسلم، باب من فضائل علی، رقم: ۶۳۷۳

۳) جامع الاصول: ۸، ۶۵۰، وصحیح مسلم، فضائل علی، رقم: ۶۳۷۳

۴) سورة آل عمران: ۶۱

۵) مسند احمد مسند سعد بن أبی وقاص، رقم: ۱۱۶۸

۶) مسند أبی یعلی، مسند سعد بن أبی وقاص، رقم: ۷۷۷، المطالب العالیه: ۳۹۳۹، مجمع الزوائد ۱۱۴۷۳۹

۷) فتح الباری: ۹،۱۹۳

د حضرت سعد رضی الله عنه روایت د ابوذر په روایت کښې د عَبِیدة د روایت نه ورستو واقع دي،او په نورو نسخو کښې وړاندې واقع دي۔[1]

۱۰-باب: مَنَاقِبُ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ الهَاشِمِيِّ رضی الله عنه

وَقَالَ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم-: «أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي».

د ابو ذر په نسخه کښې د ټولو تراجمو نه لفظ د "باب" ساقط کړې شوې دي،او د نورو حضراتو (نسّاخو) په نسخو کښې لفظ د "باب" ثابت دي۔

حضرت جعفر طیار: جعفر د حضرت علی رضی الله عنه سکهٔ ورور وو،او د هغوی نه لس کاله مشر وو،هغوی په غزوهٔ موته کښې شهید شوې دی،او د هغوی عمر د څلویښتو کالو نه زیات وو۔[2]

هغوی رضی الله عنه دوه هجرتونه کړی وو،حبشې ته هجرت او مدینې ته هجرت۔[3]

قوله: أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي: دا د یو لوئې حدیث ټکړه ده،چې په کتاب المغازی کښې د باب عُمرة القضاء لاندې د حضرت براء بن عازب په روایت کښې مذکور ده۔[4]

خَلْق په فتحې د خاء سره،معنٰی ئې ده،خلقت،پیدائشی هیبت ویره او کیفیت او خُلق په فتحې د خاء سره اخلاقو او عاداتو ته وئیلې کیږی۔

حضرت جعفر رضی الله عنه په دې دواړو څیزونو کښې د رسول الله ﷺ سره مشابهت لرلو۔[5] د رسول الله ﷺ مشابهت ګنړ شمیر کسانو ته حاصل وو،په مناقب حسین کښې به انشاء الله تعالی په دې باندې نورد خبرد کیږی۔

۳۵۰۵[6] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ دِينَارٍ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْجُهَنِي عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِي عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضی الله عنه- أَنَّ النَّاسَ كَانُوا يَقُولُونَ أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ. وَإِنِّي كُنْتُ أَلْزَمُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِشِبَعِ بَطْنِي، حَتَّى لاَ آكُلُ الخَمِيرَ، وَلاَ أَلْبَسُ الحَبِيرَ، وَلاَ يَخْدُمُنِي فُلاَنٌ وَلاَ فُلاَنَةُ، وَكُنْتُ أُلْصِقُ بَطْنِي بِالحَصْبَاءِ مِنَ الجُوعِ، وَإِنْ كُنْتُ لأَسْتَقْرِئُ الرَّجُلَ الآيَةَ هِيَ مَعِي كَيْ يَنْقَلِبَ بِي فَيُطْعِمَنِي، وَكَانَ أَخْيَرَ النَّاسِ لِلْمِسْكِينِ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، كَانَ يَنْقَلِبُ بِنَا فَيُطْعِمُنَا مَا

---

[1] فتح الباری:۹،۱۹۴

[2] فتح الباری:۹،۱۹۴

[3] إرشاد الساری:۸،۱۲۰۵

[4] صحیح البخاری،کتاب المغازی،باب عمرة القضاء،رقم:۱۴۲۵۱

[5] کشف الباری،کتاب المغازی،ص:۱۴۷۵

[6] الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی کتاب الأطعمة،باب الحلوی والعسل،رقم:۱۵۴۳۲

كَانَ فِي بَيْتِهِ، حَتَّى إِنْ كَانَ لَيَخْرُجُ إِلَيْنَا الْعُكَّةَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ، فَنَشُقُّهَا فَنَلْعَقُ مَا فِيهَا. [٥١١٦]

رجال الحديث

أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ: دا ابو مصعب أحمد بن أبى بكر القاسم بن الحارث بن ذراره الزهرى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب "حفظ العلم" لاندې تير شوى دى۔[١]

مُحَمَّدُ بْنُ ابراهيم بن دِينَارٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ الجُهَنِيُّ: ددۀ احوال هم د كتاب العلم،باب حفظ العلم لاندې تير شوى دى۔[٢]

ابن أَبِي ذِئْبٍ: دا محمد بن عبد الرحمٰن بن المغيرة بن الحارث بن الجاذب القرشى العامرى دي،ددۀ أحوال هم د "كتاب العلم،باب حفظ العلم" لاندې تير شوى دى۔[٣]

سَعِيدٍ المَقْبُرِيُّ: دا ابو سعد سعيد بن أبى سعيد بن كيسان مقبرى دي،ددۀ حالات د كتاب الإيمان،باب "صوم رمضان إيمانًا واحتسابًا" لاندې تير شوي دى۔[٤]

ابو هريره او كثرت روايات: حضرت ابو هريره رضي الله عنه په صحابۀ كرامو رضي الله عنهم كښې هغه نيك بخت صحابى دي،چې د هغوى مرويات(روايت كړې شوې احاديث)د ټولو نه زيات دى،په دې(كثرت)باندې بعضې خلقو ته تعجب دي،او د صحابۀ كرامو رضي الله عنهم په زمانه كښې هم دا خبره د بحث لاندې راغلې وه۔

پخپله ابو هريره رضي الله عنه ته هم دا خبره كړې شوې وه،چې ستا احاديث دومره زيات ولې او څنګه دى،او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د هغې جوابات وركړې دى،امام بخارى رحمه الله په دې مضمون باندې مشتمل روايتونه په مختلفو ځايونو كښې ذكر كړى دى۔

په كتاب العلم كښې په دې باندې په كافى تفصيل سره خبره كړې شوى ده۔[٥]

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د ارځ نه د هغې جواباتو خلاصه داده،چې انصار او مهاجرينو د خپلو تجارتونو كاروبارونو او مصروفيتونو په وجه ډير وخت نۀ شو اوباسلې،او زۀ(ابو هريره)به هر وخت رسول الله ﷺ سره اوسيدم،نو چې ما حديث نۀ يادول نو څۀ مې كول۔

دويمه خبره داده،چې د قرآن مجيد د كتمان حق په حقله په وعيدونو باندې مشتمل آيتونو زۀ په دې خبره مجبور كړم۔

او دريمه خبره دا چې په شروع كښې زما حافظه كمزورې وه،ورستو د الله تعالى د

---

[١] كشف البارى: ١٤٣٨،٤

[٢] كشف البارى: ١٤٤١،٤

[٣] كشف البارى: ١٤٤٢،٤

[٤] كشف البارى: ١٣٣٦،٢

[٥] اوګورئ كشف البارى: ١٤٥٦،٤٣١،٤

رسول ﷺ د دعاء په برکت سره د حافظې قوت نصیب شو، چې د احادیثِ کثیرۂ د حفظ سبب جوړ شو۔[۱]

دلته په حدیث باب کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله په مجلس کښې د حاضرئ د التزام او اهتمام ذکر کولو سره د خپلې غریبې او مشکلاتو او د الله تعالی د بعضې نیکو بندګانو د اړخ نه هغوی سره د اکرام واحسان و سلوك ذکر کړې دې، چې په هغې کښې د ټولو نه اولنې حضرت جعفر طیار رضی الله عنه دې۔

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې حدیث لاندې وائی، چې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه اشاره د ابن عمر رضی الله عنه د قول په شان اقوالو اړخ ته ده، حضرت ابن عمر رضی الله عنه په دغه وخت کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په حقله "أکثر أبوهریرة علینا" (ابوهریره مونږ ته څۀ ډیر زیات احادیث بیانوی) جمله فرمائیلې وه، کله چې د هغوی وړاندې د حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت "من تبع جنازة فله قیراط" ذکر کړې شو۔[۲]

د حضرت ابن عمر (رضی الله عنهما) ددې قول منشاء دا وه، چې حضرت ابوهریره رضی الله عنه ډیر زیات احادیث بیانول شروع کړی دی، معلومه نۀ ده چې دا هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلی هم دی یا نه. بیا کله چې حضرت عائشې رضی الله عنها د ابوهریره رضی الله عنه ددې روایت تصدیق اوفرمائیلو، نو ابن عمر رضی الله عنه پوهه شو، چې واقعی ابو هریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه ډیر احادیث اوریدلو سره حفظ کړی دی، بیا ابن عمر رضی الله عنه د ابوهریره رضی الله عنه په حدیث کښې د ډیر زیات ثواب والا عمل نه کما حقه فائدۀ نۀ اخستلو باندې د پښیمانتیا اظهار اوکړو، چې د هغوی د روایت د تصدیق کولو په شان دې۔[۳]

همدغه شان یو روایت امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کښې او ابو یعلی په سندِ حسن سره د مالك بن أبی عامر په طریقې سره نقل کړې دې، مالك وائی:

"کنت عند طلحة بن عبید الله فقیل له: ما تدری هذا الیمانی أعلمُ برسول الله ﷺ منکم، أو هو یقل علی رسول الله، مالم یقل؟ قال فقال: والله ما نشكُّ أنه سمع مالم نسمع، وعلِم ما لم نعلم، إنا کنّا أقوامًا لنا بیعات وأهلون وکنا نأتی النبی ﷺ طرفَی النهار ثم نرجع، وکان أبوهریرة مسکینًا لا مال له ولا أهل، إنما کانت یده مع ید النبی ﷺ فکان یدور معه حیث دار، فما نشكُّ أنه قد سمع مالم نسمع"۔[۴]

وائی، زۀ طلحة بن عبید الله سره ووم، نو په دې وخت کښې هغوی ته اووئیلی شو، "مونږ نۀ پوهیږو، چې دا یمانی (ابوهریره) ستاسونه زیات رسول الله ﷺ پیژنی، یا دې د رسول الله ﷺ

---

[۱] اوګورئ کشف الباری: ۴، ۴۳۱، ۴۵۶

[۲] صحیح البخاری، کتاب الجنائز، باب فضل اتباع الجنائز، رقم: ۱۳۲۳

[۳] صحیح البخاری، کتاب الجنائز، باب فضل اتباع الجنائز، رقم: ۱۳۲۴

[۴] مسند أبی یعلیٰ، مسند طلحة بن عبد الله: ۶۳۶، والتاریخ الکبیر: ۶، ۱۳۳

متعلق داسې خبرې کوی، چې هغوی ﷺ نۀ وی کړې؟"
راوی وائی، طلحه اووئیل، زمونږ خیال دغه دې، چې دوی هغه څۀ اوریدلی دی، چې مونږ واؤنۀ ریدې شو، او په هغه څۀ پوهیږی چې زمونږ په علم کښې نشته، ځکه چې مونږ داسې خلق وو، چې زمونږ کورونه او اهل وعیال وو، او مونږ به د ورځې په دواړو اړخونو یعنی سحر او مابنام کښې رسول الله ﷺ ته راتلو، او بیا به تلو، او ابوهریره غریب سړې وو، چې نۀ د هغوی څۀ مال وو او نۀ کور والا، د هغوی لاس به د رسول الله ﷺ په لاس کښې وو، چې رسول الله ﷺ چرته هم تلو، نو هغوی به ورسره وو، نو زمونږ خیال دادې، چې هغوی د رسول الله ﷺ نه هغوی څۀ واؤریدل، کوم چې مونږ نۀ دی اوریدلې۔

د "ما نشكُّ أنه سمع مالم نسمع" معنی ده، زمونږ شك (او خیال) نۀ دې، ولې دا چې هغوی (هغه څۀ) واؤریدل، کوم چې مونږ نۀ دی اوریدلې، امام ترمذی دا الفاظ نقل کړی دی: "ما نشكُّ إلا أنه سمع....."۔(۱)

او بیهقی د اشعث په طریقې سره د طلحه بن عبید الله د یو غلام نه نقل کړی دی، هغه وائی:
"كان أبو هريرة جالسًا فمرَّ رجل بطلحة فقال له: لقد أكثر أبو هريرة، فقال طلحة: قد سمِعنا كما سَمع ولكنه حفِظ ونسِينا"۔(۲)

ابو هریره ﷺ ناست وو، چې د یو سړی په طلحه بن عبید الله باندې تیریدل اوشو، هغوی اووئیل، ابو هریره ډیر حدیثونه روایت کړی دی، طلحه اووئیل، مونږ هم د دوی په شان واؤریدل، ولې دوی یاد اوساتل او مونږ نه هیر شو۔

او ابن سعد په خپل "طبقات" کښې باب اهل العلم والفتوی من الصحابة کښې د سعید بن عمرو بن سعید بن العاص نه په سند صحیح سره نقل کړی دی، چې حضرت عائشې رضی الله عنها ابو هریره رضی الله عنه ته اووئیل: "إنكَ لتحدِّث عن النبی ﷺ حديثًا ما سمعتُه منه، قال: شغلكِ عنه يا أمه المِرآة والمِكحلة وما كان يشغلني عنه شئ"۔(۳)

وې وئیل تۀ د رسول الله ﷺ نه داسې حدیث بیانوې چې ما نۀ دی اوریدلې، ابو هریره ﷺ اووئیل، مور جانې! تاسو آئینې (شیشې) او د رنجو تهیلې (یعنی کجلو) مصروف کړې وئ، او زما د پاره رسول الله ﷺ پریښودو سره په بل کار کښې مشغولیدو والا څیز نۀ وو۔

قوله: بِشِبَعِ بَطْنِي: د کشمیهنی په روایت کښې "شَبَعَ بطني" بدون الباء راغلې دې، چې د مفعول له کیدو په وجه منصوب دې، او یا یشبع د مضارع په صیغې سره دې۔

---

(۱) جامع الترمذی، باب مناقب أبی هريرة، رقم: ۳۸۳۷
(۲) السنن الكبرىٰ للبيهقی، باب ما ورد فی الاضطجاع، رقم: ۱۴۶۶۶
(۳) الطبقات الكبرىٰ: ۲، ۳۶۴، ترجمة: ۱۲۶۳۵

او په کتاب العلم کښې "لِشَبَعِ بطنه" راغلې دي۔[1]

چرته "علی ملء بطنی" هم راغلې دي۔[2] معنی و مفهوم په ټولو صورتونو کښې همدغه دي، چې د مړې کیدې نمړئ په قیمت باندې به زهٔ د هغوی ﷺ سره اوسیدم۔

قوله: حین لا أکل: په بعضې نسخو کښې "حین لا اکل" راغلې دي، او په بعضې کښې "حق لا اکل"۔[3]

قوله: لَاآکُلُ الخَمِیرَ ولَاأَلبَسُ الحَبِیرَ: د خمیر نه مراد خمبیره نمړئ ده، قسطلانی وائی:

"أی: الخبز الذی جعل فی عجینه الخمیر"۔[4] هغه نمړئ چې د هغې په اړو کښې خمبیره اچولې شوې وی۔

او په بعضې نسخو کښې "الخبیز" راغلې دي، چې د هغې معنی ده، "المادوم" یعنی پخکړی سره ملاؤ شوې نمړئ۔

کرمانی رحمه الله او عینی رحمه الله وغیره دلته د "والخبزة الأدم"[5] الفاظ هم نقل کړی دی۔

قوله: الحَبِیرَ: د کشمیهنی په نسخه کښې د "الحریر" لفظ دي، خو راجح اولنې (یعنی "الحبیر") دي۔ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

"والحبیر من البرد ما کان موشی مخططا، یقال برد حبیر وبرد خبرة بوزن عنبة علی الوصف والإضافة"۔

"حبیر" هغه څادر ته وئیلی شی، چې نښکلې او لکیرو والا وی، برد حبیر او برد حبرة د موصوف په توګه هم مستعمل دي، او د مضاف مضاف الیه په توګه هم۔[6]

قوله: مِنَ الجُوعِ: معنی دا ده، چې په ګیده پورې ئې یخې ګټې تړلې، دې د پاره چې ددې د برودت (یخوالی) په وجه د لورې د وجهې پیدا کیدونکې ګرموالې ختم شی، او ددې په هغه شدت کښې لږ کمې راشی۔[7]

د شارحینو اختلاف: **لَأَسْتَقْرِئُ الرَّجُلَ**..... حافظ ابن حجر رحمه الله د دې جملې په تشریح کښې فرمائی:

"أی: أطلب منه القری فیظن أنی أطلب منه القراءة"۔[8]

---

[1] صحیح البخاری، کتاب العلم، باب حفظ العلم، رقم الحدیث: ١١١٨

[2] کتاب البیوع، رقم: ١٢٠٤٧

[3] فتح الباری: ١٩٥،٩

[4] إرشاد الساری: ١٢٠٥،٨

[5] شرح الکرمانی: ٢،١٥، وعمدة القاری: ١٢٠٦،١٦

[6] فتح الباری: ١٩٥،٩

[7] إرشاد الساری: ١٢٠٦،٨

[8] فتح الباری: ١٩٥،٩

یعنی زۀ(ابوهریره)د یو سړی نه دا طلب کوم،چې په ما نمړۍ اوخوروی،او زما میلمستیا اوکړی،او د هغه دا خیال دي،چې زۀ د هغۀ نه قرآن لوستل غواړم،او ددې معنی او مطلب د تائید د پاره حافظ صاحب په حلیة الاولیاء کښې مذکور د ابو نعیم د یو روایت نه استدلال کړې دي،په روایت کښې دی،چې ابو هریره رضی الله عنه فرمائی،چې ما حضرت عمر رضی الله عنه اولیدو،نو هغوی ته مې اووئیل،"أقرینی"د هغوی خیال شو،چې زۀ د دوی نه د قرآءت طلب کووم، نو هغوی ما ته قرآن کریم اولوستو.او نمړۍ ئې راباندې اوتۀ خوړله،"وإنما أردت الطعام"حال دادي چې ما د هغوی نه نمړې طلب کوله.(۱)

علامه عینی رحمه الله د حافظ دا رائې رد کړې ده،او وې وئیل چې لفظ"اية"چې د"استقرئ"سره راغلې دي،هم دغه ښائی،چې د"استقرأ"نه میلمستیا طلب کول مراد نۀ دی،بلکه ددې نه طلب د قرآءت مقصود دي.

او وې فرمائیل چې دا دوه مستقل مسئلې دی،یوه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه سره مخصوص ده،چې حضرت ابوهریره رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه نه قری (میلمستیا)طلب کړه. او هغۀ د قرآءت طلب کول خیال کولو سره آیت اولوستلو.او دلتۀ په حدیث باب کښې چې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه ارشاد دي، دا عام دي.(۲)

اُوس چې چرته استقرائ بالهمزه راځی،یا چرته چې د اية تصریح وی،نو هلته به د قراءت طلب کول مقصود وی.او چرته چې تسهیل د همزې دي،نو هلته د توریه امکان شته،څنګه چې د ابو نعیم د روایت نه معلومیږی،چې د لفظ اقرینی نه ابوهریرة رضی الله عنه طلب قری مراد اخلی،او عمر رضی الله عنه د قراءت د طلب کولو خیال اوکړو.(۳)او حضرت ابوهریره رضی الله عنه به لفظ د استقراء په دې وجه استعمالوی،کۀ مخاطب راباندې نمړۍ اوخوری نو هم هغه مطلوب دي،او کۀ هغۀ بد اوګڼړی یا د قرآءت خیال اوکړی،نو ابوهریره رضی الله عنه به نۀ ملامته کیږی،او دې به هم دغه ښکارد کړی.چې زۀ خو د قراءت طالب ووم.

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی،حافظ ابن حجر رحمه الله چې کومه خبره خیال کړې ده،ابوهریره رضی الله عنه ته هغۀ مقصود نۀ وه،یعنی دوی خو به میلمستیا طلب کوله،او مخاطب به د طلب قرآءت خیال کولو سره قرآن پاك لوستلو،بلکه د دوی(یعنی د ابوهریره رضی الله عنه)مقصد ددې قول نه دادي،چې ډیر واړې داسې کیږی.چې ما ته یو آیت راځی،بیا هم چا ته اووائم،چې ما ته هغه آیت اولوله.په دې سره زما مقصد دا وی،چې هغه ما ځان سره بوځی،او نمړۍ راباندې اوخوروی،او زۀ به کم از کم په دې بهانۀ باندې نمړۍ اوخورم.

---

(۱) حلیة الأولیاء:۱/۳۷۸

(۲) عمدة القاری:۱۶/۱۲۲۰

(۳) إرشاد الساری:۸/۱۲۰۶

قسطلانی وائی،ددې دلیل دادې چې امام بخاری رحمه الله دا روایت په کتاب الأطعمة کښې د عبد الرحمٰن بن شیبه عن أبی الغُدیك عن ابن أبی ذئب عن المقبُری په طریقې سره روایت کړې دې،او په هغې کښې هم "استقرئ" بالهمزة او هغې سره د الأیة الفاظ مذکور دی۔(۱)

همدغه شان امام ترمذی رحمه الله په کتاب المناقب کښې د ابو سعید الاشج عن اسماعیل بن إبراهیم التیمی عن إبراهیم بن اسحاق المخزومی عن سعید المقبری عن أبی هریرة په طریقې سره دا روایت نقل کړې دې،چې د هغې الفاظ دا دی:

"إن کنتُ لأستقرئ الرجل من أصحاب النبی ﷺ عن الأیت من القرآن وأنا أعلم بها منه،ما أساله إلا لیطعمنی شیئًا فکنت إذا سألت جعفر بن أبی طالب لم یجبنی حتی یذهب بی إلی منزله فیقول لامرأته:یا أسماء أطعمینا فإذا أطعمتنا أجابنی"۔(۲)

ابوهریره رضی الله عنه وائی،ما به د رسول الله ﷺ په أصحابؤ کښې یو کس ته اووئیل،چې ما ته د قرآن پاك دا آیت اولوله،حال به دا وو چې دغه آیت به ما ته د هغۀ نه ښۀ یاد وو،ولې ما به صرف په دې وجه هغۀ ته دا وئیل،چې په ما څۀ اوخوروی،نو چې کله به هم ما دا خبره جعفر بن أبی طالب ته اووئیله،نو هغۀ به ما ته جواب نۀ راکولو،تر دې پورې چې کور ته به ئې بوتلم،او خپلې بی بی حضرت اسماء ته به ئې ووئیل،اسماء ! په مونږ نمرئ اوخوروه،کله چې به هغې په مونږ نمرئ اوخوړه،نو دغه وخت به حضرت جعفر ما ته جواب راکړو،(مثلاً آیت به ئې راته اولوستو)ځکه چې هغوی ته به دا اندازه وه،چې زما سوال د یو بل مقصد د پاره دې۔

ددې روایاتو نه معلومیږی،چې حضرت عمر او حضرت جعفر رضی الله عنهما سره د حضرت ابوهریره رضی الله عنه راپیښیدونکې دا دواړه جدا جدا واقعات دی۔(۳)

او دلته د ابوهریره رضی الله عنه چې کومه خبره مذکور ده،هغه داده،چې د هغوی د قرآءت طلب کولو کلام به دې د پاره وو،چې مخاطب په دوی باندې نمرئ اوخوروی،او د ابو نعیم په روایت کښې د یوې خاصې واقعې ذکر دې،چې په هغې کښې ابو هریره رضی الله عنه وائی،چې ما د لفظ "استقرئ" نه طلب قرئ(میلمستیا)قصد کړې وو،اوحضرت عمر رضی الله عنه به طلب د قرآءت خیال کولو.

قوله: وَكَانَ أَخْيَرَ: أخبرَ بعضې نسخو کښې په وزن د افضل راغلې دې،او په بعضو کښې خیر راغلې دې۔(۴)

---

۱) کتاب الأطعمة،رقم:۵۴۳۲\

۲) سنن الترمذی،باب مناقب جعفر،رقم:۱۴۱۳۱\

۳) إرشاد الساری:۸،۱۲۰۶\

۴) فتح الباری:۹،۱۹۵\

د حضرت جعفر رضی اللہ عنہ افضلیت جزوی وو: للمساکین.....د کشمیهنی په روایت کښې مسکین مفرد راغلې دي، ظاهره خبره ده. جنس د پاره به وی (یعنی جنس مسکین) ترمذی او حاکم وغیره یو روایت ذکر کړې دي، کوم چې عکرمه رضی اللہ عنہ د ابو هریره رضی اللہ عنہ نه روایت کړې دي، او په هغې کښې د رسول الله ﷺ نه ورسټو حضرت جعفر رضی اللہ عنہ د ټولو نه غوره ګرځولې شوی دي. د هغې الفاظ دادی:

"ما احتذی النعال ولا رکب المطایا بعد رسول الله ﷺ أفضل من جعفر بن أبي طالب".(۱)

د رسول الله ﷺ نه ورسټو څوک هم د جعفر بن أبی طالب رضی اللہ عنہ نه غوره پیزار پخپو کونکې، او په نبې سورلې باندې سورلی کونکې نۀ وو.

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی، په دې روایت کښې اګر چې د جعفر د مطلق افضلیت ذکر دي. ولې دا به په هغه مقیّد روایت باندې محمول وی، کوم چې دلته مذکور دي، یعنی د جعفر رضی اللہ عنہ افضلیت مطلق نۀ دي، بلکه دا د مسکینانو په خیر خواهئ او هغوی سره په نبۀ سلوک کولو باندې دي.(۲)

د تضاد تاثر او د هغې جواب: إن کان لیخرج إلینا العکة.....دلته په ظاهره په کلام کښې نقض او تضاد دي، او اول ئې اووئیل، حضرت جعفر به د غورو هغه مشکیزه راؤباسله، چې په هغې کښې به هیڅ هم نۀ وو، بیا به ئې هغه اوشکوله (اوشلوله)، چې هغې کښې به څۀ وو، مونږ به هغه څټل، او دا هم وائی، "مافیها شیئ"، په هغې کښې به هیڅ هم نۀ وو. دلته په "التی لیس فیها شیئ"، او "مافیها" کښې تضاد دي؟

ددې جواب دادي. چې د "لیس فیها شیئ" معنی داده، چې په هغې کښې به د راؤباسلو قابل هیڅ هم نۀ وو، او ورسټو چې ئې اووئیل، په هغې کښې چې به څۀ وو، مونږ به هغه څټل. ددې معنی داده، چې دننه په مشکیزه کښې چې به څۀ لږ ډیر انځتې وو. او راویستلې به نۀ شو، د مشکیزې شلولو نه ورسټو به مونږ هغه په خُله باندې څټل.(۳)

حضرت جعفر رضی اللہ عنہ به د سوال جواب ولې ورکولو؟: د حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ او حضرت جعفر طیار رضی اللہ عنہ په مینځ کښې چې دا کومه سلسله جاری وه، چې ابوهریره رضی اللہ عنہ به سوال کولو، او جعفر به تر هغه وخته پورې جواب نۀ ورکولو. تر کومې پورې چې به هغه کور ته تلو سره د حضرت اسماء رضی اللہ عنہا نه نمړئ نۀ وه طلب کړې. او اسماء رضی اللہ عنہا به نمړئ نۀ وه وړاندې کړې، څنګه چې د ترمذی یو روایت اُوس پورته ذکر شوې دي. په دې کښې یو اشکال دا هم کیدې

---

(۱) السنن الکبریٰ للنسائی، رقم: ۸۱۰۱، والمستدرک علی الصحیحین، کتاب المغازی، رقم: ۴۳۵۰، والجامع للترمذی، رقم: ۳۷۶۴، ۴۱۳۱، والمستدرک، باب مناقب جعفر، رقم: ۴۹۳۴، ومسند احمد، مسند أبی هریرة، رقم: ۹۳۴۲، والمعجم الکبیر للطبرانی، رقم: ۱۸۹۰

(۲) فتح الباری: ۹، ۱۹۵

(۳) فتح الباری: ۹، ۱۹۶

شی، کله چې حضرت جعفر رضی الله عنه ته معلومه وه، چې د حضرت ابو هریره رضی الله عنه پوښتنه صرف د طلب ضیافت (میلمستیا) د پاره وی، نو بیا هغوی د نمړۍ خوړولو نه ورسته جواب ولې ورکولو، چې ددې به ضرورت نه وو.

ددې یوه توجیه خو داده، چې حضرت جعفر رضی الله عنه دوه مصلحتونه جمع کول غوښتل. یعنی یو دا چې نمړۍ هم اوخوړلې شی او آیت هم اولوستې شی.

دویمه وجه داده. اګر چې غالبا به د پوښتنې نه مقصود میلمستیا وه، ولې دا امکان هم وو، چې هغوی د آیت پوښتنه کړې وی، او هم هغه هغوی ته مقصود وی. یا هغه هم مقصود وی[1] او دا هم کیدې شی، څنګه چې ابو هریره رضی الله عنه د ملامتیا نه پیچ کیدو د پاره په ظاهره قرآءت طلب کولو، او مقصود به ئې نمړۍ وه. همدغه شان حضرت جعفر رضی الله عنه ته به مقصود په ابو هریره رضی الله عنه باندې نمړۍ خوړول وو، ولې ورسته به ئې هغوی ته هغه آیت لوستلو سره جواب هم ورکولو، او د هغوی د نفس د عزت خیال ساتلو سره ئې دا ظاهروله چې ستاسو مطلوب خو آیت لوستل وو، نمړۍ خو پکښې زما د اړخ نه ضمنا راغلې وه.

د ترمذی په روایت کښې دا هم راځی:

"وکان جعفر یحب المساکین ویجلس الیهم ویحدثهم ویحدثونه، وکان رسول الله ﷺ یکنیه بأبی المساکین".[2]

حضرت جعفر به د مسکینانو سره محبت کولو، او هغوی سره به کیناستو او ګپ شپ به ئې لګولو. او رسول الله ﷺ هغوی له د "ابو المساکین" کنیت ورکړې وو.

ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت واضح دې، څکه چې په حدیث کښې د جعفر بن أبی طالب د فضلیت او منقبت ذکر دې.

۳۵۰۶[3] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ - رضی الله عنهما - كَانَ إِذَا سَلَّمَ عَلَى ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ السَّلاَمُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ. [۴۰۱۶]

رجال الحدیث

عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ: دا عمرو بن علی بن بحر الباهلی الصیرفی الفلاس دې. د دوی احوال تیر شوي دي.[4]

يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ: دا یزید بن هارون الواسطی دې. د دوی احوال تیر شوی دی.[5]

---

[1] فتح الباری: ۹۶،۹.

[2] سنن الترمذی، باب مناقب جعفر، رقم: ۳۷۶۶.

[3] الحدیث أخرجه البخاری أیضاً فی صحیحه: ۶۱۱،۲ فی کتاب المغازی، باب غزوة موته من أرض الشام، رقم: ۴۲۶۴، والنسائی فی سننه الکبریٰ، رقم: ۸۱۰۲.

[4] کتاب الوضوء، باب الرجل یوضئ صاحبه، رقم: ۱۱۸۲.

[5] کتاب الوضوء، باب التبرز فی البیوت، رقم: ۱۱۴۹.

إسْمَاعِيلُ بنُ أَبِي خَالِدٍ: دا اسماعيل بن أبى خالد احمسى بَجَلى كوفى دي،د دوى احوال د كتاب الإيمان،باب "المسلم مَن سلِم المسلمون من لسانه ويده"لاندې تير شوى دى.[1]

الشَّعْبِيِّ: دا عامر بن شراحيل الشعبى دي،ددهٔ تفصيلى احوال د كتاب العلم،باب "كتابة العلم"لاندې تير شوى دى.[2]

او مختصر تذكره ئې د"كتاب الإيمان،باب المسلم من سلِم المسلمون من لسانه ويده"لاندې هم راغلې ده.[3]

قوله: إن ابن عمر كان يسلِّم.....: د ابن جعفر نه عبد الله بن جعفر مراد دي.

د اسماعيلى په روايت كښې د هشيم عن اسماعيل بن أبى خالد په طريقې سره مروى دى،اسماعيلى وائى: "قلنا للشعبى كان ابن جعفر يقال له ابن ذى الجناحين؟

قال:نعم،رأيتُ ابن عمر أتاه يومًا أو لقيه فقال: السلام عليك يابن ذى الجناحين".[4]

د ابن ذى الجَناحَين وئيلو وجه: شارحين فرمائى،چې ابن عمر رضي الله عنهما به په دې وجه د حضرت جعفر رضي الله عنه ځوى ته ابن ذى الجناحين وئيل،چې طبرانى په سند حسن سره د عبد الله بن جعفر نه روايت نقل كړې دي،هغه وائى:

"قال لى رسول الله ﷺ هنيئًا لك،أبوك يطير مع الملئكة فى السماء".[5]

يعنى رسول الله ﷺ ما ته اووئيل،ستا د پاره زيرې دي،چې ستا پلار په آسمان كښې فرشتو سره الوزى(يعنى گرځى).

همدغه شان ترمذى او حاكم د حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت كوى،چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: "رأيتُ جعفر بن أبى طالب يطير مع الملئكة".[6]

ددې روايت په سند كښې ضعف دي،خو ابن سعد د حضرت على رضي الله عنه يو روايت نقل كړې دي.هغه ددې شاهد دي.[7]

د ابو هريره رضي الله عنه يو بل روايت دي،چې هغه ترمذى او حاكم په شرط د مسلم ذكر كړې دي،په هغې كښې د رسول الله ﷺ دا الفاظ منقول دى:

---

[1] كشف البارى:١١،٦٧٩

[2] كشف البارى:١٢٢٩،٤

[3] كشف البارى:١٦٧٩،١

[4] فتح البارى:١٩٦،٩

[5] لم أجده بهذا اللفظ.....والمعنىٰ فى المعجم الكبير،رقم:١١٤٤٣

[6] جامع الترمذى،باب مناقب جعفر بن أبي طالب،رقم:١٣٧٦٣

[7] الطبقات الكبرىٰ لابن سعد:٣٩،٤،ترجمة:١٤٧٩٦

"مرَّ بي جعفر الليلة في ملاء من الملئكة وهو مخضب الجناحين بالدم".(۱)
د فرشتو په یوه ډله کښې د شپې د حضرت جعفر رضی اللہ عنہ په ما باندې تیریدل اوشو، چې د هغۀ دواړه مټې په وینې سره رنګ شوې وې، په دې کښې د لفظ "جناحين" هم تصریح ده.
طبرانی وغیره د ابن عباس مرفوع حدیث نقل کړې دې، چې د هغې الفاظ دادی:
"دخلتُ البارِحَةَ الجنة فرأيتُ فيها جعفرًا يطير مع الملئكة".(۲)
او په یوې طریقې سره دا الفاظ مروی دی:
"أن جعفرًا يطير مع جبريل وميكائيل له جناحان عوضه الله من يدَيه".(۳)
حضرت جعفر د جبرائیل او میکائیل فرشتو سره الوتو. او د هغۀ دوۀ وزرې وې، چې هغۀ ته الله تعالی د هغۀ د شهید کړې شوې لاسونو په بدله کښې ورکړې وې.
ددې روایت سند هم قوی دې، ولې د ابو هریره رضی اللہ عنہ کوم روایت چې حاکم علی شرط مسلم ذکر کړې دې، هغه د ټولو نه قوی دې.
ددې ټولو روایتونو نه معلومیږی، حضرت جعفر رضی اللہ عنہ چې په غزوۀ موته کښې شهید کړې شوې وو. او هغوی د زید بن حارثه رضی اللہ عنہ نه ورسټو د رسول الله ﷺ په حکم سره بیرغ (جهنډه) پورته کړې وه، تر دې پورې چې د هغوی لاسونه کټ کړې شو، او هغوی شهید کړې شو.
الله تعالی هغوی ته ددې دوۀ لاسونو په بدل کښې داسې مټې ورکړې دی، چې د هغې په ذریعه هغوی په جنت کښې فرشتو سره الوزی، ددې دواړو جنتی مټو ذکر رسول الله ﷺ اوفرمائیلو، چې د هغې په وجه جعفر ذوالجناحین او طیّار اوګرځیدو، او د هغوی ځوئې هم ابن الجناحین اوګرځیدو.
د حدیث متبادر معنٰی خو دغه ده، هنه! د نسفی په نسخه کښې دلته ددې الفاظو زیاتوالې هم دې: "قال أبوعبد الله الجناحان كل ناحيتين" یا "كل ذي الحيتين".
ددې معنٰی داده، چې "يا ابن ذي الجناحين" کښې الجناحین امام بخاری په حسی نه معنوی جناحینو باندې حمل کوی، چې د دوۀ اړخونو په معنٰی باندې دی.(۴)
عینی وائی: "أشار بهذا إلى أن الجناحين يطلقان لكل ناحيتين يعني لكل جنبَين وعنه يقال: جنح الطريق جانبه وجنح القوم ناحيهم".(۵)
ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د روایت مطابقت واضح دې، چې د حضرت

---

۱) المستدرک علی الصحیحین، ذکر مناقب جعفر، رقم: ۴۹۴۳، وکتاب المغازی، رقم: ۱۴۳۵۲
۲) المعجم الکبیر للطبرانی، رقم: ۱۱۴۴۸
۳) المعجم الأوسط: ۸۶،۷، رقم: ۶۹۳۲
۴) فتح الباری: ۱۹۵،۹
۵) عمدة القاری: ۱۲۲۱،۱۶

جعفر رضی الله عنه خوی ته به ابن عمر رضی الله عنهما ابن ذی الجناحین وئیلو، یعنی د دوی د پلار شهادت الله تعالی قبول فرمائیلی وو، رسول الله ﷺ هم د جعفر خوی ته زیری ورکړی وو، چې ستا پلار (جعفر) په جنت کښې فرشتو سره الوزی، او هم ددې نبوی بشارت او زیری په بنیاد باندې ابن عمر رضی الله عنهما به عبد الله بن جعفر رضی الله عنهما ته ابن ذی الجناحین وئیلو، نو اصل منقبت په دې کښې د حضرت جعفر رضی الله عنه دی۔[1]

١١-باب: ذِكْرُ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

حضرت عباس رضی الله عنه: عباس بن عبد المطلب د رسول الله ﷺ ترۀ وو، چې د رسول الله ﷺ نه دوه یا دری کاله مشر وو، د دوی کنیت ابوالفضل وو، ډیر ښکلی سپین او زړۀ راښکونکی وو، برابر قد ئې وو، او یا لږ لوړ قد ئې وو، د دوی د ویښتو به دوه سرونه وو۔[2]

د ابن أبی حاتم یو مرفوع روایت دی، چې په هغې کښې د هغوی رضی الله عنه په حقله دا وارد شوی دی: "أجود قریش کفّا وأوصلها رحمًا"۔[3]

په قریشو کښې د ټولو نه زیات سخی او ډیر صلۀ رحمی کونکی وو۔

او ابو عمرو دې سره ددې الفاظو هم زیاتوالی کړې دی: "وکان ذا رأی حسن ودعوة مرجوة"۔[4]

هغه ډیر ښکلی رائې والا وو، او مستجاب الدعوات وو۔

حضرت عباس رضی الله عنه اسلام کله قبول کړو؟: مشهوره داده، چې هغوی د فتح مکې نه ورسته اسلام قبول کړو، او یو قول دادی، چې د فتح مکې نه وړاندې ئې اسلام قبول کړو۔[5]

او یو قول دادی، چې هغوی اسلام ډیر وړاندې قبول کړې وو، ولې د فتح مکې په ورځ ئې ښکاره کړو۔[6]

بعضې حضراتو د ابو رافع قول "کان الإسلام دخل علینا أهل البیت"۔[7] نه استدلال کولو سره وائی. چې دا هغوی د غزوۀ بدر د قیصې په سلسله کښې وئیلې وو، ددې نه معلومه شوه چې عباس رضی الله عنه د بدر په موقع باندې مسلمان وو۔

ابن حجر عسقلانی رحمه الله ددې رائې تردید کولو سره وئیلی دی، چې دا څنګه کیدې شی، چې د غزوۀ بدر په موقع باندې خو حضرت عباس رضی الله عنه مسلمانانو په لاسو کښې بندی کړې شوې

---

[1] عمدة القاری: ١٦، ١٢٢٠

[2] إرشاد الساری: ٨، ١٢٠٧

[3] مسند أحمد: ١٦١٠، مسند سعد بن أبی وقاص واتحاف الخیرة: ١٦٧١٧

[4] الاستیعاب فی معرفة الأصحاب: ١، ١٢٤٥

[5] عمدة القاری: ١٦، ١٢٢١

[6] إرشاد الساری: ٨، ١٢٠٧

[7] تهذیب التهذیب: ٥، ١١٩٨

وو ،بيا هغه خپله او د عقيل بن أبى طالب فديه وركولو سره خلاصى حاصله كړې وه،[1] او هم په دې وجه حضرت عمر رضي الله عنه هغوى په شورىٰ كښې نه وو داخل كړې، چې هغوى د فتح مكې نه وړاندې اسلام نه دې قبول كړې، ګڼې حضرت عمر رضي الله عنه به د هغوى ډير خيال ساتلو، څنګه چې - توسّل د حديث نه معلوميږى،[2] نو د فتح مكې نه وړاندې او ورستو مسلمانانو كښې ډير زيات فرق دې، چې د هغې په وجه حضرت عباس رضي الله عنه د شورىٰ ركن جوړ نه شو.

١٣٥٠٧[3] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِى حَدَّثَنِى أَبِى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُثَنَّى عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَنَسِ عَنْ أَنَسٍ - رضى الله عنه أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ إِذَا قَحَطُوا اسْتَسْقَى بِالْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا - صلى الله عليه وسلم - فَتَسْقِينَا ، وَإِنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا . قَالَ فَيُسْقَوْنَ .[ر: ٩٦٤]

رجال الحديث

الحَسَنُ بنُ مُحَمَّدٍ: دا الحسن بن محمد بن الصباح الزعفرانى البغدادى دې، ددۀ احوال د كتاب الاستسقاء، باب "سؤال الناس الإمام الاستسقاء" لاندې تير شوې دى.

مُحَمَّد بنُ عَبد الله الانصارىُ: ددۀ احوال هم په دې باب "(باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء)" كښې تير شوى دى.[4]

أَبِى، عَبدُ الله بنُ المُثَنّى: عبد الله المثنى بن عبد الله بن انس بن مالك مراد دې، چې د مذكوره محمد راوىٰ پلار دې. او ددۀ احوال هم په دغه باب كښې تير شوى دى.[5]

ثُمَامَةَ بنِ عَبْدِ الله: دا ثمامة بن عبد الله بن انس بن مالك دې، ددۀ احوال د "كتاب العلم، باب من أعاد الحديث ثلاثا" لاندې تير شوې دى.[6]

---

[1] كما هو مذكور فى صحيح البخارى، كتاب بدء الوحى، رقم: ١١٤٢

[2] فتح البارى: ٩٧،٩

[3] الحديث سبق تخريجه فى كتاب الاستسقاء، باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء إذا قحطوا.....١

[4] كتاب الاستسقاء، باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء، رقم: ١١٠١

[5] كتاب الاستسقاء، باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء، رقم: ١١٠١

[6] كشف البارى: ٥٨٢،٣

١٢-باب: مَنَاقِبِ قَرَابَةِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ، وَمَنْقَبَةِ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنتِ النَّبِي ﷺ

وَقَالَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم-«فَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ».

او د ابو ذر په نسخه کښې د "ومنقبة فاطمة بنت النبی" الفاظو زیاتوالې هم دي-

او د رسول الله ﷺ قول "فاطمة سيدة نساء أهل الجنة" دلته ذکر کول د هغې نسخې تائید کوی،حال دادې چې د رسول الله ﷺ دا قول په "مناقب فاطمة" په مستقل باب کښې هم راروان دي.[1]

د قرابة الرّسول نه څهٔ مراد دي؟: د قرابت الرسول نه د رسول الله ﷺ صحبت موندونکی یا د هغوی زیارت کونکی هغه نښې او سړی مراد دی،چې د هغوی ﷺ جدِ اقرب یعنی عبد المطلب ارخ ته منسوب وی،مثلاً:

①:-حضرت علی رضی الله عنه او د هغوی اولاد حسن،حسین،محسن او ام کلثوم رضی الله عنهم ټول چې د فاطمې اولاد دي.

②:-همدغه شان جعفر رضی الله عنه بن أبی طالب او د هغوی اولاد عبد الله،عون،محمد،او یو قول دادې،چې د جعفر احمد نومې یو ځوې هم دې.

③:-همدغه شان عقیل بن أبی طالب او د هغوی ځوې مسلم بن عقیل.

④:-حمزه بن عبد المطلب او د هغوی اولاد یعلی،عماره،امامه.

⑤:-عباس بن عبد المطلب او د هغوی لس ځامن:افضل،عبد الله،قثم،عبید الله، حارث، معبد، عبد الرحمٰن،کثیر،عون،تمام،د حضرت عباس رضی الله عنه ددې لسو ځامنو په حقله چا وئیلی دی:

ع: تَنَوَّابِه "تمام" فصارواعشرة یارب فاجعلهم کرامًا برررة

⑥ د هغوی لورياني هم مراد دی،یعنی ام حبیبه،آمنه،صفیه،او د حضرت عباس رضی الله عنه اکثر اولاد د هغوی د بی بی لبابة امُ الفضل نه وو.

⑦:-همدغه شان د هغوی ﷺ په قرابت کښې معتب بن أبی لهب هم دې.

⑧:-عباس بن عتبة بن أبی لهب چې د آمنة بنت عباس خاوند وو.

⑨:عبد الله بن زبیر بن عبد المطلب،او د هغوی خور ضباعه کومه چې د مقداد بن الاسود بی بی ده.

⑩:-ابو سفیان بن الحارث بن عبد المطلب او د هغوی ځوې جعفر.

⑪:-نوفل بن الحارث بن عبد المطلب او د هغوی ځامن مغیره او حارث.

---

[1]) فتح الباری:٣.١٥٨٢

⑫:-د عبد المطلب لوريانې اروى، عاتكۀ، اميمه، صفيه تولې مراد دى. په هغوى (يعنى د عبد المطلب په لوريانو) كښې د حضرت صفيې اسلام او صحبت ثابت دې، او په باقى كښې اختلاف دى.[1]

قوله: فاطمة سيدة نساء أهل الجنة: دا حديث امام بخارى رحمه الله په كتاب علامات النبوة كښې موصولاً ذكر كړې دې، د هغې الفاظ دادى:

"أما ترضين أن تكونى سيدة نساء أهل الجنة أو نساء المؤمنين".[2]

٣٥٠٨[3] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ قَالَ حَدَّثَنِى عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ فَاطِمَةَ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِى بَكْرٍ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا مِنَ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - فِيمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ - صلى الله عليه وسلم -، تَطْلُبُ صَدَقَةَ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - الَّتِى بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكٍ وَمَا بَقِىَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لاَ نُورَثُ، مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ، إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ - يَعْنِى مَالَ اللَّهِ - لَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَزِيدُوا عَلَى الْمَأْكَلِ». وَإِنِّى وَاللَّهِ لاَ أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْ صَدَقَاتِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - الَّتِى كَانَتْ عَلَيْهَا فِى عَهْدِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم -، وَلأَعْمَلَنَّ فِيهَا بِمَا عَمِلَ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -. فَتَشَهَّدَ عَلِىٌّ، ثُمَّ قَالَ إِنَّا قَدْ عَرَفْنَا يَا أَبَا بَكْرٍ فَضِيلَتَكَ. وَذَكَرَ قَرَابَتَهُمْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَحَقَّهُمْ. فَتَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ، لَقَرَابَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَحَبُّ إِلَىَّ أَنْ أَصِلَ مِنْ قَرَابَتِى. [ر: ٢٩٢٦]

---

[1]) فتح البارى: ٩/٨٩

[2]) صحيح البخارى، كتاب علامات النبوة، رقم: ٣٣٥٢، وكذا أخرجه البخارى فى كتاب المناقب، باب علامات النبوة فى الإسلام بلفظ "سيدة نساء المؤمنين أو سيدة نساء هذه الأمة رقم: ٥٩٢٧، وأخرجه الترمذى فى مناقب الحسن والحسين بلفظ "أن فاطمة سيد نساء أهل الجنة رقم: ٣٧٨١، وأحمد أيضًا بـ"فاطمة سيدة نساء أهل الجنة..... انظر مسند أبى سعيد الخدرى، رمق: ١١٧٧٣، والنسائى بهذا اللفظ انظر السنن الكبرىٰ: ٨٢٤٠ و٨٣٠٧، ٨٤٦١، وأبو يعلى فى مسنده، (مسند أبى سعيد الخدرى، رقم: ١١٦٩) والمستدرك: ٤٧٢١/٣

[3]) الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى صحيحه: (٦٠٩/٢)، فى المغازى، باب غزوة خيبر، رقم: ٤٢٤٠، ومسلم فى صحيحه: (٩٢/٢)، كتاب الجهاد، باب قول النبى لا نورث، رقم: ٤٥٨٠، وأبو داؤد فى سننه: ٥٦/٢، كتاب الخراج، باب فى صفايا رسول الله، رقم: ٢٩٦٨، والنسائى فى سننه الكبرىٰ، رقم الحديث: ٤٤٢٥، وابن ماجه فى سننه، كتاب الفرائض، وأحمد فى مسند أبى بكر الصديق، رقم: ٥٥، والبيهقى فى السنن الكبرىٰ: ١٣١١١، باب كان ماله بعد موته قائمًا.

رجال الحديث

ابو اليمان: دا ابو سليمان الحاكم بن نافع الحمصي البهراني دي،ددهٔ احوال په کتاب بدء الوحي باب:۶،"حدثنا أبواليمان" کښې تير دي۔[۱]

شعيب: دا شعيب بن أبي حمزه القرشي الاموي دي،ددهٔ احوال هم په پورتنۍ باب کښې تير شوي دي۔[۲]

الزهري: د ابن شهاب زهري احوال تير شوي دي۔[۳]

عروة بن الزبير: عروة بن الزبير بن العوام مراد دي،جليل القدر تابعي دي،ددهٔ احوال تير شوي دي۔[۴]

قوله: أَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ: په حديث کښې د هغهٔ مشهوري واقعي ذکر دي،چې د رسول الله ﷺ د وصال نه ورسټو د سيدنا ابو بکر او سيده فاطمه رضي الله عنهما بنت الرسول په مينځ کښې راغله،حضرت فاطمي رضي الله عنها په خُمس او غنائمو د خيبر کښې خپله برخه غوښتله،او حضرت ابوبکر رضي الله عنه د هغې په حق کښې نهٔ وو،ددې مضمون روايت په کتاب الخمس کښې تير شوي دي،او هم هلته په دې باندې تفصيلي بحث هم شوې دي۔[۵]

ترجمة الباب سره مطابقت: دلته ترجمة الباب دي، مناقب قرابة رسول الله ﷺ او په حديث کښې ددې ذکر دي،کله د حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه حضرت فاطمي د رسول الله ﷺ د اولاد کيدو په بنياد باندې د ميراث مطالبه اوکړه،او بيا حضرت علي رضي الله عنه رسول الله ﷺ سره د خپل قرابت ذکر کولو سره د حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه د ميراث توقع نښکاره کړه،نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل: "لقرابة رسول الله أحب إلي أن أصل من قرابتي".

د رسول الله ﷺ د قرابت خيال ساتل ما ته د خپل قرابت دارئ د خيال ساتلو نه زيات خوښ دي.....ولې خبره د قرابت د خيال ساتلو او نهٔ ساتلو نهٔ ده،بلکه د الله تعالى د حکم او د اسلام د قانون ده۔

بيا دلته د قرابت ذکر په خاص توګه د حضرت فاطمي رضي الله عنها په حوالې سره شوې دي،په دې وجه دا د فاطمي رضي الله عنها مناقبو نه ګرځول هم صحيح دي،او د حديث چې څنګه د ترجمة الباب متفق عليه جز سره مناسبت دي،همدغه شان جزء ثاني يعنې "منقبة فاطمة بنت النبي" سره هم ددې مطابقت دي۔

---

[۱] کشف الباری:۱.۵۷۹

[۲] کشف الباری:۱.۵۷۹

[۳] کشف الباری:۱.۳۲۶

[۴] کشف الباری:۱.۲۹۱.۲.۴۲۶

[۵] کتاب فرض الخمس،رقم:۲۹۲۶

او د ابوبکر منشاء داده، چې د رسول الله ﷺ قرابت ما ته د خپل قرابت نه زیات ګران دي، ولې د رسول الله ﷺ میراث تقسیمول ما د پاره ممکن نۀ دی، ځکه چې پخپله رسول الله ﷺ ددې اجازت نۀ دي ورکړي۔[1]

٣٥٠٩ (٢) أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاقِدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِي بَكْرٍ -رضى الله عنهم- قَالَ ارْقُبُوا مُحَمَّدًا -صلى الله عليه وسلم- فِي أَهْلِ بَيْتِهِ. [٣٥٤١]

رجال الحديث

عَبْدُ اللهِ بنُ عَبْدِ الوَهَّابِ: دا عبد الله بن عبد الوهاب الحجبی البصری دي، ددۀ احوال په کتاب العلم، باب "لیبلغ العلم الشاهد الغائب" کښې تیر شوی دی۔[3]

خَالِدٌ: دا خالد بن الحارث بن عبید دي، ددۀ احوال د کتاب الصلاة، باب "فضل استقبال القبلة" لاندې تیر شوی دی۔

شُعْبَةُ: دا شعبة بن الحجاج واسطی بصری دي، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" لاندې تیر شوی دی۔[4]

وَاقِدٍ: دا واقد بن محمد بن زید بن عبد الله بن عمر دي، ددۀ او ددۀ د پلار حالات د کتاب الإیمان، باب "فإن تابوا وأقاموا الصلاة آتوا الزکوٰة فخلوا سبیلهم" لاندې تیر شوی دی۔[5]

قوله: ارقُبُوا مُحَمَّدًا:[6] حافظ ابن حجر رحمه الله ددې روایت لاندې فرمائی:

"یخاطب بذلك الناس ویوصیهم به والمراقبة للشئ المحافظة علیه، یقول: احفظوه فیهم فلا تؤذوهم ولا تسیئوا إلیهم".[7]

---

[1]) فتح الباری: ٩/١٩٨

[2]) الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی صحیحه (٢/٥٧٦)، فی کتاب المغازی، حدیث بنی النضیر: ٤٠٣٦، وفی المغازی، باب غزوة خیبر، رقم: ٤٢٤٠، وأخرجه مسلم فی صحیحه (٢/٩٢)، فی کتاب الجهاد والسیر، باب قول النبی لانُورث ماترکنا فهوصدقة: ٤٦٧٩، وأخرجه أحمد فی مسنده، مسند أبی بکر: ٥٥، وابن حبان فی صحیحه، باب الغنائم وقسمتها، رقم: ٤٨٢٣، والبیهقی فی سننه الکبریٰ، باب بیان مصرف أربعة اخماس: ٦/٣١١١

[3]) کشف الباری: ٤/١٣٨

[4]) کشف الباری: ١/٦٤٨

[5]) کشف الباری: ٢/١٣٥

[6]) الحدیث أخرجه البخاری ایضاً فی مناقب الحسن والحسین، رقم: ٣٧٥١، والبیهقی فی شعب الإیمان، رقم الحدیث: ١٤٩١، وابن أبی شیبة فی مصنفه، رقم الحدیث: ٣/١٣٢٨٠

[7]) فتح الباری: ٩/١٩٩

د مراقبې معنی ده خیال ساتل او لحاظ ساتل، یعنی حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلق مخاطب کولو سره او هغوی ته د اهل بیتو په حقله وصیت کولو سره فرمائی، چې د دوی په حوالې سره د رسول الله ﷺ مقام او مرتبه او د دوی د حقوقو خیال اوساتئ، ځکه چې دوی ته د رسول الله ﷺ د قرابت داری په وجه اهمیت حاصل دی، نو چرته د دوی په احترام کښې کمې کولو سره او د دوی تنقیص او بې ادبی کولو سره تاسو رسول الله ﷺ خفه نه کړئ.

اهل بیت څوک دی؟: علامه عینی رحمه الله فرمائی:

"وأهل بیته هم فاطمة والحسن والحسین لانه ﷺ لف علیهم کساءً وقال هؤلاء أهل بیتی، أو هم مع أزواجه لإنه هو المتبادر إلی الذهن عند الإطلاق".(۱)

د رسول الله ﷺ اهل بیت فاطمه، حسن او حسین دی، ځکه چې مشهور روایت دی، چې رسول الله ﷺ دوی جمع کړل، بیا ئې په دوی باندې یو څادر خور کړو، او وې فرمائیل، دا زما اهل بیت دی.

یا بیا فاطمه حسن او حسین هم او د هغوی ﷺ بیبیانې رضی الله عنهن هم اهل بیت دی، ځکه چې د اهل بیتو نه متبادر هم دغه دی، چې د هغوی ﷺ کور والا، یعنی بیبیانې، او د دوی اولاد تول مراد وی.

حقیقت دا دی چې په احادیث مبارکو کښې په دواړو باندې ځائې په ځائې د اهل بیت اطلاق شوې دی.

په صحیح بخاری کښې د واقعۀ افك په ضمن کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها په حقله د رسول الله ﷺ دا الفاظ منقول دی:

"من یعذرنی رجل بلغنی أذاه فی أهل بیتی".(۲)

او په مناقبو کښې د حضرت فاطمې رضی الله عنها په حقله ارشاد دی:

"إنك أول أهل بیتی لحاقاً بی".(۳)

او د صحیح مسلم په یو روایت کښې د حضرت حصین بن سبره د حضرت زید بن ارقم نه دا پوښتنه مذکور ده. "مَن أهل بیته یا زید، ألیس نساءه من أهل بیته؟". د هغوی ﷺ اهل بیت څوک دی. آیا د هغوی ﷺ بیبیانې د هغوی ﷺ د اهل بیتونه نه دی؟

او زید د هغې جواب ورکوی، "نساءه من اهل بیته".(۴)

د هغوی ﷺ بیبیانې د هغوی ﷺ په اهل بیتو کښې دی.

---

۱) عمدة القاری: ۱۲۲۳،۱۶

۲) صحیح البخاری، کتاب الشهادات، باب إذا عدّل رجل رجلاً فقال لا نعلم إلا خیراً، رقم: ۱۲۶۳۷

۳) کتاب المناقب، باب علامات النبوة فی الإسلام: ۱۳۶۲۴

۴) مسلم، فضائل علی، رقم: ۱۲۴۰۸

٣٥١٠(١) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ » فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي ، فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي «. [ر: ٨٨٤]

رجال الحديث

أَبُو الوَلِيدِ: دا ابو الوليد هشام بن عبد الملك الباهلى الطيالسى دي، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "اثم من كذب على النبى" كښې تير شوى دى.(٢)

ابْنُ عُيَيْنَةَ: دا مشهور محدث سفيان بن عيينه الكوفى دي، ددۀ احوال د كتاب العلم، باب "قول المحدث حدثنا أو أخبرنا أو أنبأنا" لاندې تير شوى دى.(٣)

عَمرِو بنِ دِينَارٍ: دا عمرو بن دينار المكى الجمحى دي، ددۀ احوال د كتاب العلم، باب "كتابة العلم" لاندې تير شوى دى.(٤)

ابنِ أَبِي مُلَيْكَةَ: دا ابوبكر عبد الله بن عبيد الله بن أبى مليكۀ دي، ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر" لاندې تير شوى دى.(٥)

الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ: ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "استعمال فضل وضوء الناس" لاندې تير شوى دى.(٦)

د حضرت فاطمې رضي الله عنها د زړۀ له خاطره رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه د دويمې نكاح نه منع كړو: فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي..... دا په اصل كښې د يو اوږد حديث ټكړه ده، او په دې حديث

---

(١) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه، ذكر أصهار النبى ﷺ منهم أبو العاص بن الربيع: ٣٧٢٩، وفى باب مناقب فاطمة رضي الله عنها (٣٧٦٧)، وفى باب ذب الرجل عن ابنته فى الغيرة والإنصاف، كتاب النكاح (٥٢٣٠)، وأخرجه مسلم فى صحيحه، كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل فاطمة بنت النبى، رقم(٦٣٠٨)، و أبوداؤد فى سننه فى كتاب النكاح، باب ما يكره أن يجمع بينهن من النساء بلفظ إنما ابنتى بضعة منى: رقم(٢٠٧١)، والترمذى فى جامعه فى كتاب المناقب، باب ما جاء فى فضل فاطمة، رقم(٣٨٦٩)، والنسائى فى سننه الكبرى (٨٤٦٥، ٧٣١٢)، وابن ماجه فى سننه فى كتاب النكاح، باب الغيرة، رقم(١٩٩٨)، واحمد فى مسنده، حديث عبد الله بن زبير(١٦١٦٨)، وابن حبان فى صحيحه(٤٠٦، ١٥)\

(٢) كشف البارى: ٤، ١٥٩\

(٣) كشف البارى: ٣، ١٠٢\

(٤) كشف البارى: ٤، ٣٠٩\

(٥) كشف البارى: ٢، ٥٤٨\

(٦) كشف البارى: ٢، ٥٤٨\

کښې د هغې بیان په دې توګه مذکور دي، چې حضرت علی رضی الله عنه د ابوجهل لور ته د نکاح پیغام ورکړو، چې د هغې متعلق حضرت فاطمې رضی الله عنها ته معلومه شوه، او هغې رسول الله ﷺ ته راتلو سره اووئیل، چې د خلقو خیال دادي، چې تاسو د خپلو لوریانو په حقله نۀ غصه کیږئ، نو علی بن أبی طالب کښې دا جرأت پیدا شو، چې هغه زما د پاسه د ابوجهل لور په نکاح اخلی، په دې باندې رسول الله ﷺ راتلو سره خطبه اووئیله، او بیا ئې اوفرمائیل، چې فاطمه زما یوه ټکړه ده، او په کومه خبره چې هغه خفه کیږی، په هغې زۀ هم خفه کیږم، نو د الله تعالی د رسول لور او د الله تعالی د دښمن لور یو سړی سره نۀ شی جمع کیدې۔[1]

دویم ځائې کښې ئې اوفرمائیل، کۀ علی هغې سره نکاح کول غواړی، نو فاطمې ته دې طلاق ورکړی۔[2]

٣٥١١ (٣) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ دَعَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَاطِمَةَ ابْنَتَهُ فِي شَكْوَاهُ الَّذِي قُبِضَ فِيهَا، فَسَارَّهَا بِشَيْءٍ فَبَكَتْ، ثُمَّ دَعَاهَا فَسَارَّهَا فَضَحِكَتْ، قَالَتْ فَسَأَلْتُهَا عَنْ ذَلِكَ. فَقَالَتْ سَارَّنِي النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُقْبَضُ فِي وَجَعِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ فَبَكَيْتُ، ثُمَّ سَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ أَهْلِ بَيْتِهِ أَتْبَعُهُ فَضَحِكْتُ. [ر: ٣٤٢٦]

رجال الحديث

يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ: دا یحیی بن قزعة القرشی المکی دي، ددۀ احوال تیر شوی دی۔[4]

إبراهيم بنُ سَعدٍ: دا إبراهيم بن سعد بن إبراهيم بن عبد الرحمٰن بن عوف دي، ددۀ مختصر حالات د کتاب الإيمان، باب "تفاضل أهل الإيمان في الأعمال" کښې[5] او کتاب العلم، باب "ما ذكر في ذهاب موسى في البحر إلى الخضر" لاندې په څۀ تفصیل سره ذکر شوی دی۔[6]

عُرْوَةَ: دا عروة بن زبير دي، ددۀ احوال د کتاب الإيمان، باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تیر شوی دی۔[7]

په نسخو کښې فرق: دا دواړه روایتونه "فاطمة سيدة نساء أهل الجنة..... او فاطمة بضعة مني" x

---

[1] صحيح البخاری، كتاب فضائل أصحاب النبی، باب ذكر أصهار النبی، رقم: ٣٧٢٩

[2] جامع الترمذی، كتاب المناقب، باب ما جاء فی فضل فاطمة، رقم: ٣٨٦٧

[3] الحديث سبق تخريجه فی المناقب، باب علامات النبوة فی الإسلام، رقم: ٣٦٢٣

[4] كتاب الأذان، باب صلاة النساء خلف الرجال، رقم: ٨٧٠

[5] كشف الباری: ١١٢٠.٢

[6] كشف الباری: ١٣٣٣.٤

[7] كشف البار: ١٤٣٦.٢

ابوذر په نسخه کښې نشته،او د نورو په نسخو کښې شته،او د نسفی په روایت کښې هم نشته،او ددې وجه دا کیدې شی،چې دا حدیث په دې اسناد او متن سره په کتاب المناقب، باب علامات النبوة فی الإسلام او همدغه شان په کتاب المغازی کښې راغلې دې۔(۱)
علامه عینی رحمه الله فرمائی،د ابوذر او نسفی په روایت کښې دلته دا روایت په دې وجه نشته، چې په علامات النبوة کښې په تفصیل سره د راتلو نه ورستو دلته ددې بغیر د څۀ فائدې او اضافې نه ذکر کولو خالص تکرار دې۔(۲)
قسطلانی هم په دې بناء باندې دلته ددې روایت اسقاط د اثبات نه زیات راجح او اولی وئیلی دی۔(۳)

۱۳-باب: مَنَاقِبِ الزُّبَيْرِ بْنُ العَوَّامِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ حَوَارِيُّ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - [ر: ۴۳۸۸]، وَسُمِّيَ الْحَوَارِيُّونَ لِبَيَاضِ ثِيَابِهِمْ.

د ابوذر په نسخه کښې دلته د "باب" لفظ نشته،په دې وجه به مناقب مرفوع وی،او د نورو له مخې د "باب" د اضافت ذ وجهې مجرور دې۔
زبیر بن العوام رضی الله عنه : زبیر بن العوام رضی الله عنه مشهور صحابی دې،چې په عشره مبشره کښې هم شمیر دې۔
په بدر او نورو غزواتو کښې شریك شوې دې،صاحب الهجرتین دې،خصوصًا په غزوۀ یرموك کښې ئې شرکت اوکړو،د مصر په فتح کښې د حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه سره شریك شو.په جنګ جمل کښې ئې هم د حضرت عائشې رضی الله عنها په ملګرتیا کښې برخه واخسته.او په جمادی الاولی ۳۶ هجرې کښې د جنګ جمل نه په بیرته راتلو کښې د بصرې په سیمه وادئ السباع کښې قتل کړې شو۔
وائی چې دې عمرو بن جرموز قتل کړو،حضرت زبیر بن العوام د رسول الله ﷺ د پیو (عمه) ځوې وو،د دوی مور حضرت صفیه رضی الله عنها بنت عبد المطلب وه،چې هغې اسلام قبول کړو،او هجرت ئې هم اوفرمائیلو،د یو قول مطابق حضرت زبیر رضی الله عنه د پنځلسو کالو په عمر کښې اسلام قبول کړو،او د یو قول مطابق د شپاړسو کالو په عمر کښې،او یو قول په کښې د اتو کالو هم دې،ددۀ سلسله د نسب داسې ده:
زبیر بن العوام بن خویلد بن أسد بن عبد العزی بن قصی بن کلاب بن مرۃ ابن کعب بن لؤی، په نسب کښې رسول الله ﷺ سره په قصی کښې ملاویږی،او تر قصی پورې د دواړو د نیکونو شمیر هم

---

(۱) اوګورئ:باب علامات النبوة(۳۶۲۳)او مغازی(۴۴۳۳).همدغه شان فتح الباری:۹،۱۹۹
(۲) عمدة القاری:۱۶،۱۲۲۳
(۳) إرشاد الساری:۸،۱۲۱۱

برابر دي، د هغوی کنیت ابو عبد الله دي، او نسبت ئې اسد ارخ ته أسدی دي۔[۱]

قوله: وقال ابن عباس.....: دا تعلیق امام بخاری په کتاب التفسیر کښې موصولاً ذکر کړي دي، چې د هغې الفاظ دادی: "أما أبوه فحواری النبی ﷺ یرید الزبیر"۔[۲]

ددې حدیث نورې طریقې هم شته، چې په هغې کښې یوه طریقه د زبیر بن بکار هم ده، چې د هغې الفاظ دا دی: "حواري من الرجال الزبیر ومن النساء عائشة".

ددې رجال ثقه دی، ولې روایت مرسل دي۔[۳]

قوله: وسمي الحواريون: د حواری جمع حواریون ده، او په قرآن کریم کښې د حضرت عیسیٰ علیه السلام د حواریینو ذکر دي،[۴] امام بخاری رحمه الله د خپل عادت موافق په قرآن کریم کښې ددې ذکر شوې لفظ معنی او وجهٔ تسمیه بیانوی، او وائی، حواری د لفظ "حور" نه دي، چې معنی ئې سپین ده، د حضرت عیسیٰ علیه السلام د حواریینو لباس (کالی) به سپین وو، په دې وجه به هغوی ته حواریین وئیلې کیدل، دا روایت د ابن عباس رضي الله عنه نه ابن أبی حاتم د سعید بن جبیر په طریقې سره موصولاً نقل کړي دي۔[۵]

د "حواری" په معنی کښې اقوال: علامه عینی رحمه الله فرمائی:

"قال أبو أرطاة كانوا قصارين سموا بذلك لأنهم كانوا يحورون الثياب أي يبيضونها"۔[۶]

یعنی حواریان دهوبیان وو، او هغوی ته حواریان په دې وجه وئیلې شوی دی، چې هغوی به لباس (کالی) صفا او سپین جوړ کړل، د حوّر الثیاب معنی ده، "یبیّضها" کپړه سپینول او صفا کول، او د دهوبی خو کار کپړې سپینول او صفا کول وی۔

ضحاك وائی، "سموا حواريين لصفاء قلوبهم"، یعنی د زړونو د صفایئ او پاکوالی د وجهې نه په ددې نوم سره موسوم کړې شو۔

عبد الله بن المبارك وائی: "سموا بذلك لأنهم كانوا نورانيين، عليهم أثر العبادة ونورها وبهاءها" د نورانی کیدو په وجه دوی ته حواریین وئیلې شوی دی، یعنی په دوی باندې د عبادت اثر او د هغې نور او د هغې ښکلې والې وو۔

یو قول دادې چې حواریین صیادین وو، چې د مهیانو ښکار به ئې کولو، یا "صباغین" یعنی رنګ کونکی وو۔

---

[۱] فتح الباری: ۹: ۱۰۰، عمدة القاری: ۱۶: ۲۲۳، إرشاد الساری: ۸: ۲۱۱\

[۲] صحیح البخاری، کتاب التفسیر، باب قوله "ثانی اثنین"، رقم ۴۶۶۵\

[۳] فتح الباری: ۹: ۱۰۰\

[۴] سورة الصف، آیت: ۱۴، (قال الحواريون نحن انصار الله.....)

[۵] فتح الباری: ۹: ۱۰۰، وتغلیق التعلیق: ۴: ۷۰، مناقب زبیر بن العوام\

[۶] عمدة القاری: ۱۶: ۲۳۴\

د "حوار" اصل د عربو له مخې بیاض (سپین) دي، ددې نه "حُور" جمع د "حَوراء" دي، یعنی داسې ښځه چې د هغې د سترګو سپین والې هم ښۀ تیز وی، او تور والې ئې هم ښۀ تور وو، او "دقیق حواری" میدې، نششتې او سپینو اُوړو ته وئیلې شی.

ترمذی د سفیان بن عیینه نه نقل کوی، چې د حواری معنی نه ناصر (مدد کونکې).

یو قول د یونس بن حبیب دا نقل کړې شوې دي، چې د حواری معنی ده "خالص".

یو قول دادي، "الحواری الخلیل" یعنی حواری دوست ته وئیلې شی، یو بل قول دي، "الحواری الصافی". "حواری" صافی ته وئیلې شی.

د ضحاك نه دا هم نقل کړې شوې دی، "الحواری هو الغسّال بالنبطیه". حواری په نبطی ژبه کښې غسال، غسل ورکونکې ته وائی.

قتاده فرمائی: "الحواری هو الوزیر" یا "هو الذی یصلح للخلافة".(۱) د حواری معنی ده، وزیر یا هغه سړې چې د خلافت صلاحیت لری.

حضرت زبیر ولې "حواری" اوګرځیدو؟: اُوس پاتې شوه دا خبره چې د حواری په ذکر کړې شوې معنو کښې چې کومه معنی هم واخستې شی، هغه به نورو صحابۀ کښې هم موندلې شی، بیا خاص حضرت زبیر د رسول الله ﷺ حواری ولې اوګرځولې شو، ځکه چې ټول صحابۀ کرام رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ انصار او مخلصین وو، ددې جواب دادي، چې رسول الله ﷺ دوی ته دا لقب د غزوۀ احزاب په موقع باندې ورکړو، کله چې هغوی اوفرمائیل، "من یأتینی بخبر القوم؟" ما ته به د قوم خبر څوك راوړی؟ حضرت زبیر اووئیل، زۀ، دا سوال رسول الله ﷺ دری واړې اوکړو، او هم دوی جواب ورکړو، زۀ.

او بې شکه دا د زبیر بن العوام داسې خصوصیت دي، چې په دغه وخت کښې په بل هیڅ چا کښې نۀ شو موندلې کیدې، په دې وجه دوی رضی الله عنه ته حواری اوئیلې شو.(۲)

د امت محمدیه حواریین: نضر بن شمیل وائی:

"الحواری خاصة الرجل الذی یستعین به فیاینوبه" یعنی حواری د یو سړې هغه خاص کس ته وئیلې کیږی، چې په هغۀ سره دي په خپلو مشکلاتو کښې مدد اخلی.

او په دې لحاظ سره چې څنګه د عیسیٰ علیه السلام په امت کښې د هغوی خواص وو، همدغه شان د رسول الله ﷺ هم په خپلو صحابۀ کښې خواص وو، چې د هغوی ﷺ چانړ کړې شوی او د نزدې نه نزدې خلق وو.(۳)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۰۰، عمدة القاری: ۱۶، ۲۲۴، إرشاد الساری: ۸، ۲۱۱

۲) عمدة القاری: ۱۶، ۲۲۳

۳) عمدة القاری: ۱۶، ۲۲۴

علامه عينى رحمه الله د حوارييو متعلق د ثعلبى دا قول نقل كوى:

"كانوا أصفياء عيسى وأولياءه وأنصاره ووزراءه، كانوا اثنى عشر رجلاً واسماءهم: بطرس، يعقوبس، يحنس، اندرابيس، قبيلس، ابرثلماء منتا، اتوماس، يعقوب بن حلقاذا، نشيمس، قنانيا، يوذس".

حواريين د حضرت عيسى عليه السلام چانړ كړې شوى، د هغوى عليه السلام دوستان، ملګرى او ملاتړ وو، چې د هغوى شمير دولس دي، او د هغوى نومونه دلته مذكور دي.....او د امت محمديه حواريان ابوبكر، عمر، عثمان، علي، حمزه، جعفر، ابو عبيدة بن الجراح، عثمان بن مظعون، عبد الرحمن بن عوف، سعد بن أبى وقاص، طلحة بن عبيد الله او زبير بن العوام رضي الله عنهم دى، د دوى شمير هم دولس دي، او دا ټول د قريشو نه دى.[1]

٣٥١٢، ٣٥١٣[2] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَخْبَرَنِي مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ قَالَ أَصَابَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رُعَافٌ شَدِيدٌ سَنَةَ الرُّعَافِ، حَتَّى حَبَسَهُ عَنِ الْحَجِّ وَأَوْصَى، فَدَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ قَالَ اسْتَخْلِفْ. قَالَ وَقَالُوهُ قَالَ نَعَمْ. قَالَ وَمَنْ فَسَكَتَ، فَدَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ آخَرُ - أُحْسِبُهُ الْحَارِثَ - فَقَالَ اسْتَخْلِفْ. فَقَالَ عُثْمَانُ وَقَالُوا فَقَالَ نَعَمْ. قَالَ وَمَنْ هُوَ فَسَكَتَ قَالَ فَلَعَلَّهُمْ قَالُوا الزُّبَيْرَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ لَخَيْرُهُمْ مَا عَلِمْتُ، وَإِنْ كَانَ لَأَحَبَّهُمْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -.

رجال الحديث

خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ: دا ابو الهيثم خالد بن مخلد القطوانى البجلى دي، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "طرح الإمام المسئلة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم" لاندې تير شوى دى.[3]

عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ: دا ابو الحسن على بن مسهر القرشى الكوفى قاضى الموصل دي، ددۀ احوال تير شوى دى.[4]

هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ: دا ابو المنذر هشام بن عروة بن الزبير بن العوام دي، ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تير شوى دى.[5]

---

[1] عمدة القارى: ١٢٢٤،١٦

[2] الحديث أخرجه أحمد فى مسنده، مسند عثمان بن عفان، رقم: ٤٥٥، والنسائى فى سننه الكبرى فى المناقب، رقم: ٨١٥٢٢ والحاكم فى المستدرك، ذكر مناقب حوارى رسول الله. رقم: ١٥٥٦٠

[3] كشف البارى: ١١٣٥،٣

[4] كتاب الحيض، باب مباشرة الحائض، رقم: ١٣٠٢

[5] كشف البارى: ١٤٣٢،٢

أبيه: عروة بن الزبير مراد دي،ددۀ احوال هم د كتاب الإيمان،باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تير شوی دی۔[1]

مَروَانُ بنُ الحَكَم: دا مروان بن الحكم بن أبی العاص بن اميه الاموی المدنی دي،ددۀ احوال هم تير شوی دی۔[2]

قوله: رُعَافٌ: رُعاف،بضم الراء پوزې ماتيدو ته وئيلې شی،د سنة الرُعاف نه ۳۱هجری مراد ده،رُعاف مرفوع دي،د "أصاب" د پاره د فاعل کيدو په وجه باندې،او عثمان منصوب دي،په ترکيب کښې د مفعول به واقع کيدو په بناء باندې۔

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه د خليفه تاكلو مطالبه: په دې مهلك پوزې ماتيدو کښې خلق مړۀ کيدل. او حضرت عثمان رضی اللہ عنہ امير المؤمنين وو،نو ويونکی هغوی ته اووئيل،چې تاسو خليفه مقرر کړئ،او هغۀ د پاره وصيت هم اوکړئ،کۀ ستاسو انتقال اوشی(يعنی وفات شې) نو چې هغه سړې د خلافت ذمه واری تر سره کړی،دلته د دوؤ کسانو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ له د راتلو او ددې خبرې د کولو ذکر دي،د اولنی سړی متعلق دومره خبره خو په حديث کښې مذکور ده، چې د هغۀ تعلق د قريشو سره وو،ولې د هغۀ نوم معلوم نۀ دي،حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی: "لم أقف على اسمه" او د دويم سړی متعلق د راوی الحديث مروان خيال دي، چې د هغۀ ورور حارث وو،مروان بن الحكم او حارث بن الحكم ورونړه وو۔[3]

د زبير بن العوام رضی اللہ عنہ او عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ د خليفه جوړيدو اميد: قَالَ وَقَالُوۡا.....يعنی عثمان رضی اللہ عنہ حارث او هغه دويم ويونکی ته اووئيل،آيا خلقو دا خبره کړې ده،چې زۀ د خليفه د پاره وصيت اوکړم؟حضرت ګنګوهی فرمائی:

"يعني بذلك أن الناس يطلبون أن أستخلف، أم ذلك قولك وحدك؟"

يعنی خلق دا غواړی،چې زۀ خليفه مقرر کړم،يا دا ستا خپل قول دي؟[4]

او د مولانا محمد حسن مکی دا الفاظ نقل کړې شوی دی:

"أأنت قلت هذا القول أم قاله سائر الناس".[5]

ويونکی اووئيل،هاؤ!(خلقو)وئيلی دی،بيا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ پوښتنه اوکړه،د خلقو څۀ خيال دي،چې د دوی د پاره څوك مناسب دی،چې زۀ د هغۀ دپاره وصيت اوکړم؟ نو کله چې هغه چپ شو،نو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ پخپله اووئيل،کيدې شی هغوی د زبير بن العوام په حق

---

[1] كشف البارى:٢،١٤٣٦

[2] كتاب الأذان،باب القراءة فى المغرب.....١

[3] فتح البارى:٩،١٠١،وعمدة القارى:١٦،١٢٢٤

[4] لامع الدرارى:٨،١١٨٢

[5] لامع الدرارى:٨،١١٨٢

کښې وصیت کول غواړی؟ ویونکی اووئیل،هاؤ! د هغوی متعلق وائی۔[1]

د رجل آخر نه مراد د راوی الحدیث مروان بن الحکم ورور حارث مراد دی،دا خبره عمرو بن شبه په "کتاب المدینه" کښې په صراحت سره کړې ده،او حارث سره ئې د ابن الحکم قید هم لګولې دی،هغوی دا هم وئیلی دی،چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت وصیت د عبد الرحمٰن بن عوف د پاره فرمائیلې وو،او دا خبره ئې په خپل کاتب حمران باندې لیکلو سره دا هم وئیلی وو،چې دا په راز کښې اوساته،او چا ته وایه مهٔ،ولې حمران دا خبره عبد الرحمٰن بن عوف ته بیان کړه،او هغوی په دې باندې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ معتوب کړو۔

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په حمران کاتب باندې د راز د ښکاره کولو اظهار اوکړو،او هغه ئې د مدینې نه بصرې ته جلا وطن کړو،دلته عبد الرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ شپږ میاشتې ورسته وفات شو،یعنی په ۳۲ هجری کښې۔[2]

د خلقو د خلیفه د تاکلو خواهش د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه د خفګان په وجه نهٔ وو: علامه سیوطی په تاریخ الخلفاء کښې وائی،د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د دولس کاله خلافت په اولنو شپږو کلونو کښې خلق د هغوی نه ډیر زیات خوشاله وو،په دې وجه د خلیفه د تاکلو خواهش د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه د خفګان په وجه نهٔ وو،بلکه د رُعاف(یعنی پوزې ماتیدو)په وجه وو۔[3]

قوله: إِنَّهُ لَخَيْرُهُم مَا عَلِمْتُ: حضرت عثمان رضی اللہ عنہ اووئیل،تر کومې پورې چې زما علم دی،په خدائې قسم هغه خو ددې ټولو نه غوره دی،"ماعلمتُ" کښې یو احتمال خو دادی،چې دلته "ما" مصدریه ده،او د "ماعلمت" معنی ده،"فی علمی".دویم احتمال دادی،چې "ما" موصوله ده،او د "علمتُ" ضمیر منصوب مقدر دی،چې اسم موصول اړخ ته راجع دی،او "مَاعلمتُ" د مبتداء مقدری د پاره خبر دی،تقدیر د عبارت داسې دی،"هوالذی علمتُ".

حضرت زبیر رضی اللہ عنہ د نورو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم نه د افضل ګنړلو مسئله

اُوس پاتې شوه دا خبره چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ولې حضرت زبیر رضی اللہ عنہ ته ټولو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم نه افضل او غوره اووئیل:

"ثم ترك أصحاب رسول الله رضی اللہ عنہم لا تفاضل بينهم".[4]

یعنی د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه ورسته به مونږ د رسول الله ﷺ صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم همدغه شان پرینبودل،یعنی چا ته به مو هم په بل باندې ترجیح نهٔ ورکوله۔

نو ددې جواب دادی،حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ چې أصحاب رسول الله ﷺ او فرمائیل،په دې

---

[1]) فتح الباری:۹،۱۰۱،وعمدة القاری:۱۶،۱۲۲٤

[2]) فتح الباری:۹،۱۰۱

[3]) لامع الدراری:۸،۱۸۲،وتاریخ الخلفاء.....

[4]) أخرجه البخاری:۲،٤۳۰،وابو داؤد فی سننه(٤۶۲۷)،والترمذی فی سننه:۲،۱۲۹۷

کښې د "تترك" نه ټول صحابهٔ کرام مراد نهٔ دی، چې هیڅ یو صحابی به هم هیڅ یو صحابی په بل باندې افضل نهٔ ګنړلو.....همدغه وجه ده، چې د حضرت عثمان رضي الله عنه له مخې حضرت زبیر رضي الله عنه نورو نه غوره دې، نو حضرت عثمان رضي الله عنه د "تترك" د عموم نه خارج شو، او حضرت زبیر د "أصحاب رسول الله" د عموم نه خارج شو.....

د حضرت عثمان رضي الله عنه قول "إنه لخيرهم" نه معلومیږی، چې د ابن عمر رضي الله عنه په قول کښې عموم نشته.[1]

یو دریم جواب علامه ابن حجر عسقلانی ورکړې دې، چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه قول تعلق د رسول الله ﷺ د ژوند او حیات سره دې، چې د هغوی ﷺ په حیات طیبه کښې به ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په صراحت سره د نورو نه غوره وئیلې کیدل، ولې د دوی نه ورسته په نورو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم کښې به هیڅ تفاضل نهٔ وو، او حضرت عثمان رضي الله عنه چې حضرت زبیر رضي الله عنه ته غوره وئیلی دی، دا د رسول الله ﷺ د وصال نه ورسته خبره ده، نو په دواړو کښې هیڅ تعارض نشته.[2]

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت د "أما والذي نفسي بيده....." نه شروع کیږی، چې په هغې کښې حضرت زبیر بن العوام د رسول الله ﷺ په نظر کښې د ټولو نه د زیات محبوب کیدو او د حضرت زبیر د خلیفه جوړولو د پاره د وصیت مشوره ورکونکو نورو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم نه د غوره کیدو شهادت دې.[3]

٣٥١٣[4] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ أَخْبَرَنِي أَبِي سَمِعْتُ مَرْوَانَ كُنْتُ عِنْدَ عُثْمَانَ، أَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ اسْتَخْلِفْ. قَالَ وَقِيلَ ذَاكَ قَالَ نَعَمْ، الزُّبَيْرُ. قَالَ أَمَا وَاللَّهِ إِنَّكُمْ لَتَعْلَمُونَ أَنَّهُ خَيْرُكُمْ. ثَلَاثًا.

رجال الحديث

عُبَيدُ بنُ اسْمَاعِيلَ: دا عبید بن اسماعیل الهباری القرشی دې، ددهٔ احوال د کتاب الحیض، باب "نقض المرأة شعرها عند غسل المحيض" لاندې تیر شوی دی.

اَبُو اُسَامَةَ: دا ابو اسامه حماد بن اسامه دې، ددهٔ احوال د کتاب العلم، باب "فضل من عِلم وعلَّم" لاندې تیر شوی دی.[5]

---

[1] فتح الباری: ١٠١،٩، وعمدة القاری: ١٢٢٤،١٦

[2] فتح الباری: ١١٠١،٩

[3] عمدة القاری: ١٢٢٤،١٦

[4] الحدیث سبق تخریجه فی الحدیث: ١٣٧١٧

[5] کشف الباری: ١٤١٤،٣

هشام: دا ابو المنذر هشام بن عروة بن الزبير دي، ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تير شوى دى۔[1]

أبي: د أبى نه عروة بن زبير رضی اللہ عنہ مراد دي، ددۀ احوال هم په دغه كتاب الإيمان، باب "أحب الدين إلى الله أدومه" لاندې تير شوى دى۔[2]

مروان بن الحكم: دا مروان بن الحكم بن أبى العاص بن اميه الاموى المدنى دي، ددۀ احوال تير شوى دى۔[3]

په دې حديث كښې هم هغه خبرې دويم واړې كړې شوې ده۔

٣٥١٤[4] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ - هُوَ ابْنُ أَبِي سَلَمَةَ - عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ - رضى الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا، وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ». [ر: ٢٦٩١]

رجال الحديث

مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: دا مالك بن اسماعيل بن زياد بن درهم الاعنان النهدى الكندى دي، ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "الماء الذى يغسل به شعر الإنسان" لاندې تير شوى دى۔

عَبْدُ الْعَزِيزِ: دا عبد العزيز بن عبد الله بن أبى سلمة الماجشون دي، ددۀ احوال د كتاب العلم، باب "السؤال والفتيا عند رمى الجمار" لاندې تير شوى دى۔[5]

مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ: دا محمد بن المنكدر بن عبد الله بن الهُدير التيمى المدنى دي، ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "صب النبى وضوءه على المغمى عليه" لاندې تير شوى دى۔

د حديث تشريح په كتاب الجهاد كښې تيره شوې ده۔[6]

٣٥١٥[7] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا {عَبْدُ اللَّهِ} أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كُنْتُ يَوْمَ الأَحْزَابِ جُعِلْتُ أَنَا وَعُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ فِي النِّسَاءِ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا

---

[1] كشف البارى: ١٤٣٢.٢

[2] كشف البارى: ١٤٣٦.٢

[3] كتاب الأذان، باب القراءة فى المغرب.....١

[4] الحديث سبق تخريجه فى كتاب الجهاد، باب فضل الطليع، رقم: ١٢٨٤٦

[5] كشف البارى: ٥١٨.٤

[6] كشف البارى، كتاب الجهاد، ص: ٣٤٤

[7] الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه فى فضائل الصحابة، باب من فضائل طلحة والزبير، رقم: ٦٢٤٥، وأحمد فى مسنده، مسند الزبير، رقم: ١٤٢٣

بِالزُّبَيْرِ عَلَى فَرَسِهِ، يَخْتَلِفُ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، فَلَمَّا رَجَعْتُ قُلْتُ يَا أَبَتِ، رَأَيْتُكَ تَخْتَلِفُ. قَالَ أَوَهَلْ رَأَيْتَنِي يَا بُنَيَّ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «مَنْ يَأْتِ بَنِي قُرَيْظَةَ فَيَأْتِينِي بِخَبَرِهِمْ». فَانْطَلَقْتُ، فَلَمَّا رَجَعْتُ جَمَعَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَبَوَيْهِ فَقَالَ «فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي».

رجال الحديث

احْمَدُ بنُ مُحَمَّد: دا احمد بن محمد ابو العباس مردويه المروزى السمسار دي، څنګه چې عبد الله الحاكمُ الكلاباذى وئيلى دى، او د دار قطنى له مخې دا ابن شبويه دي، ددهٔ احوال د كتاب الوضوء، باب "مايقع من النجاسات فى الخمس والماء" لاندې تير شوى دى.

عَبْدُ الله: دا عبد الله بن المبارك المروزى دي، ددهٔ احوال د كتاب بدء الوحى، الحديث الخامس لاندې تير شوى دى.[1]

د هشام بن عروة او د هغهٔ د پلار د احوالو د پاره وراندينى روايات اوګورئ.

عَبْدِ الله بنِ الزُّبَيْرِ: د رسول الله ﷺ صحابى عبد الله بن الزبير بن العوام رضي الله عنه مراد دي، ددهٔ احوال د كتاب العلم، باب "إثم من كذب على النبى" لاندې تير شوى دى.[2]

قوله: كُنْتُ يَوْمَ الأَحْزَابِ: عبد الله بن الزبير فرمائى، د غزوهٔ احزاب په موقع باندې، يعنى په كوم وخت كښې چې قريشو او د هغوى حليفانو د مسلمانانو محاصره كړې وه، مسلمانان په مدينه منوره كښې محاصره شوې وو، او هغوى د خپل ځان د بچ كولو د پاره خندق كنستې وو، هغه وخت دي (يعنى عبد الله) او عُمر بن سلمه چې د رسول الله ﷺ ربيب (پالنه موندنكې) او د حضرت ام سلمه رضي الله عنها ځوئې وو، په ازواج مطهراتو رضي الله عنهن كښې ساتلې شوې وو. فى النساء أى بين النساء، او د امام مسلم په روايت كښې د مع النسوة فى أطم حسان الفاظ راغلى دى[3] يا "فى الأطم الذى فيه النسوة"[4] الفاظ دى.

أطم جمع د أطام قلعې او پورته مكان ته وئيلى كيږى.[5]

قوله: فَنَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا بِالزُّبَيْرِ: مسلم د على بن مسهر روايت نقل كړې دي، چې په هغې كښې دا الفاظ دى:

---

[1] كشف البارى: ١٤٦٢،١

[2] كشف البارى: ١٦٤،٤

[3] صحيح مسلم، كتاب فضائل الصحابة، باب فضائل طلحة والزبير، رقم: ٦٢٤٥

[4] صحيح مسلم، كتاب فضائل الصحابة، باب فضائل طلحة والزبير، رقم: ٦٢٤٦

[5] فتح البارى: ١١٠٢،٩

"وكان يطاطئ لي مرة فانظر وأطاطئ له مرة فينظر فكنت أعرف أني إذا مرّ على فرسه في السلاح إلى بني قريظة".(۱)
یعنی کله به عُمر بن أبی سلمه ما د پاره سر ښکته کولو، او ما به د قلعې نه بهر کتل، او کله به ما سر ښکته کولو او هغهٔ به بهر کتل، کله چې به زما پلار په آس سور تیریدلو، نو ما به هغهٔ پیژندلو.

قوله: يَخْتَلِفُ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ: یعنی بنی قریظه ته به تلو راتلو، یذهب ویجیء.(۲)
یعنی زبیر بن العوام رضی الله عنه، د رسول الله ﷺ په حکم باندې به یهودو بنی قریظو ته تلو راتلو، او د هغوی متعلق به ئې رسول الله ﷺ ته وئیل، ددې حدیث مضمون په کتاب الجهاد کښې تیر شوی دې.(۳) او په مغازی کښې به هم راځی.(۴) او په دواړو ځایونو کښې په دې باندې ضروری بحث شوې دې.

قوله: مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله دا الفاظ اسماعیلی ارخ ته منسوب کړی دی، او وئیلی ئې دی، چې د "مرتين أو ثلاثا" الفاظ اسماعیلی د ابو اسامه د روایت نه نقل کړی دی.(۵)
او قسطلانی دا خبره رد کړې ده، او وئیلی ئې دی، چې مونږ څومره هم د اصولو نه خبر یو، په هغه تولو کښې د "مرتين أو ثلاثا" الفاظ موجود دی، بعضې حضراتو د حافظ ابن حجر رحمه الله دفاع کولو سره وئیلی دی، چې دحافظ مراد دادې، چې اسماعیلی ددې الفاظو "رأيتك تختلف" نه ورسته اضافه نقل کړې ده، او امام بخاری ددې نه وړاندې.
قسطلانی رحمه الله وائی چې دا (دفاع او دا تاویل) په دې وجه صحیح نهٔ دې، چې حافظ رحمه الله اسماعیلی ارخ ته ددې نسبت د اولنی قول یعنی "يختلف إلى بني قريظة" نه ورسته ذکر کړې دې، نه چې د قول "حتى رأيتك تختلف" نه ورسته.(۶)
په روایت کښې ادراج: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، امام مسلم بیان کړی دی، چې په دې روایت کښې ادراج دې، ځکه اول هغوی د علی بن مسهر بن هشام په طریقې سره روایت نقل کړې دې، چې إلى بنی قریظة پورې دې، بیا هشام (راوی) وائی:
"وأخبرني عبد الله بن عروة عن عبد الله بن الزبير قال: فذكرت ذلك لأبي....."

---

۱) صحیح مسلم، کتاب فضائل الصحابة، باب فضائل طلحة والزبیر، رقم: ۶۲۴۵
۲) فتح الباری: ۱۰۲،۹
۳) کشف الباری، کتاب الجهاد، ص: ۳۴۱
۴) کشف الباری، کتاب المغازی، ص: ۲۹۴
۵) فتح الباری: ۱۰۲،۹، وعمدة القاری: ۲۶۵،۱۶
۶) إرشاد الساری: ۲۱۳،۸

بیا ئې تر آخره پورې دا حدیث ذکر کړې دې۔
دې نه ورسټو امام مسلم د ابو اسامه عن هشام په طریقې سره همدغه روایت نقل کړې دې،او په هغې کښې امام مسلم فرمائی:
"فساق الحدیث بمعنی حدیث ابن مسهر فی هذا الإسناد،ولم یذکر عبد الله ابن عروة ولکن أدرج القصة فی حدیث هشام عن أبیه".
یعنی ابو اسامه په دې اسناد همدغه حدیث ذکر کړې دې،چې علی بن مسهر روایت کړې دې، او د هشام عن أبیه.....په روایت کښې چې کومه قصه ده،هغه ئې هم لیکلې ده،ولې د "أخبرنی عبد الله بن عروة" الفاظ په کښې نشته۔[1]
حافظ صاحب فرمائی،ددې ادراج تائید په دې سره هم کیږی،چې نسائی دا قیصه د أخبره عبد الله عن هشام عن أخیه عبد الله بن عروة عن عبد الله بن الزبیر په طریقې سره نقل کړې ده۔[2]
د ماشوم د سماع په صحت باندې استدلال: په دې روایت کښې د ماشوم د سماع په صحیح کیدو باندې استدلال کړې شوې دې،د هغۀ عمر دې د دریؤ څلورو کالو نه کم ولې نۀ وی، ځکه چې د عبد الله بن الزبیر عمر په دغه ورځو کښې دوه کاله څو میاشتې یا درې کاله او څو میاشتې وو،او ددې دوؤ او دریؤ اختلاف هم په دې وجه دې،چې د عبد الله بن الزبیر د ولادت په تاریخ کښې او د غزوۀ خندق د واقع کیدو په تاریخ کښې اختلاف دې،نو کۀ مونږ دا اُوایو،چې د عبد الله بن الزبیر ولادت د هجرت نه په اولنې کال اُوشو،او غزوۀ خندق په ۵ هجرې کښې واقع شو،نو بیا خو د هغوی عمر څلور کاله او څو میاشتې وو،او کۀ د هغوی ولادت د هجرت په دویم کال شوی وی،او غزوۀ خندق په ۴ هجرې کښې شوی وی،نو بیا په دې وخت کښې د هغوی عمر ۲ کاله او څو میاشتې وو۔
او کۀ مونږ دا اُوایو،چې د هغوی ولادت لږ وړاندې او غزوۀ خندق لږ ورسټو شوې دې،نو بیا به د هغوی عمر درې کاله او څو میاشتې وی،دې دواړو واقعاتو کښې د تاریخ په حوالې سره اقوال مختلف دی۔[3]
حافظ ابن حجر رحمہ اللہ په مغازی کښې په دې باندې تفصیلی خبره کړې ده،او معتمد ئې دا قول ګرځولې دې،چې غزوۀ خندق په ۵ هجری کښې شوې ده۔[4]
په هر حال کښې عبد الله بن الزبیر چې ددې واقعې په حوالې سره څۀ یاد ساتلې دی،دا قسمه څیزونه یاد ساتل ډیر نا آشنا او عجیبه دی،پاتې شوه د ماشوم د سماع خبره،نو هغه د کتاب العلم،باب "متی یصح سماع الصغیر" د لاندې تیره شوې ده۔[5]

---

[1] صحیح مسلم،کتاب فضائل الصحابة،باب فضائل طلحة والزبیر،رقم:۶۲۴۵،۶۲۴۶\
[2] فتح الباری:۹،۱۱۰۲\
[3] فتح الباری:۹،۱۱۰۲\
[4] فتح الباری:۹،۱۵۰۰\
[5] کشف الباری:۳،۳۷۳

ایا رسول الله ﷺ حضرت زبیر ته "فداک أبی وأمی" فرمائیلی وو؟: جَمَعَ لِی رَسُولُ اللهِ.....

رسول الله ﷺ "فداه أبي وأمي" د پاره به د "فداك أبي وأمي" الفاظ خو بې شمیره کسانو استعمال کړې وی، ولې د بعضې خوش نصیبو د پاره د هغوی ﷺ د ژبې مبارکې نه دا الفاظ وتلی دی، دلته حضرت زبیر بن العوام رضی الله عنه فرمائی، چې رسول الله ﷺ زما د پاره خپل مور او پلار جمع کړل، او وې فرمائیل، چې هغوی دواړه دې په تا باندې قربان وی، او داسې معلومیږی، چې دا د حضرت زبیر خصوصیت او امتیاز دې، ولې وړاندې د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه د حضرت سعد بن أبی وقاص د پاره هم دا الفاظ منقول دی، چې د هغې نه معلومیږی، چې دا د حضرت زبیر خصوصیت نۀ دی، کۀ صرف د حضرت زبیر او سعد رضی الله عنهما دواړو په حق کښې هم دا الفاظ منقول وې، نو بیا هم څۀ مسئله نۀ وه، ولی د حضرت علی رضی الله عنه نه منقول دی:

"ما سمعت النبی ﷺ یجمع أبویه لأحد غیر سعد".(۱)

ما د حضرت سعد نه علاوه چا د پاره هم رسول الله ﷺ خپل مور او پلار جمع کولو سره نۀ دی اوریدلې.

او یو روایت کښې دا الفاظ دی: "ما رأیت النبی ﷺ یفدِّی رجلاً بعد سعدٍ".(۲)

ما نۀ دی لیدلې، چې رسول الله ﷺ د حضرت سعد نه علاوه په یو سړی باندې خپل مور پلار فدا کړی وی.

دې نه معلومیږی، چې رسول الله ﷺ د حضرت سعد بن أبی وقاص رضی الله عنه علاوه چا ته هم د "فداك أبي وأمي" الفاظ نۀ دی فرمائیلې، او دا په دې شان سره د حضرت زبیر رضی الله عنه د حضرت سعد رضی الله عنه خصوصیت دې، او د روایت باب نه معلومیږی، چې رسول الله ﷺ دا الفاظ حضرت زبیر رضی الله عنه ته فرمائیلی دی، ددې تعارض په سلسله کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

"ویجمع بینهما بأن علیًا رضی الله عنه لم یطلع علی ذلك أو مراده بذلك بقید یوم أحد".(۳)

د دواړو روایاتو د جمع صورت دادې، چې حضرت علی رضی الله عنه ته معلومه نۀ وه، چې رسول الله ﷺ دا الفاظ (د حضرت سعد نه علاوه) د بل چا د پاره هم استعمال کړی دی، او یا ددې مطلب دادې، چې د غزوۀ أحد په موقع باندې رسول الله ﷺ دا الفاظ د بل چا د پاره نۀ دی استعمال فرمائیلې، مطلقًا نفی مراد نۀ ده.

څنګه چې د حضرت علی رضی الله عنه د یو بل روایت د الفاظو نه معلومیږی، هغوی فرمائی: "ما سمعتُ النبی ﷺ جمع أبویه لأحد إلا لسعد بن مالك فإنی سمعتُ یقول یوم أحد: یا سعد! ارم فداك أبی وأمی".(۴)

---

۱) کتاب المغازی، باب غزوة أحد، رقم: ۱٤۰۵۸

۲) کتاب الجهاد، باب المجن ومن یترس صاحبه.....رقم: ۱۲۹۰۵

۳) فتح الباری: ۹، ۱۱۰۵

٤) کتاب المغازی، باب غزوة أحد، رقم: ۱٤۰۵۹

يعنى ما نه دى اوريدلي چې رسول الله ﷺ خپل والدين د چا د پاره جمع كړى وى، ما سواء د سعد بن مالك نه، د احد په ورځ باندې ما اوريدل چې رسول الله ﷺ فرمائيل، سعده ! غشى اُوله، زما مور پلار دې په تا قربان وى.

٣٥١٦(١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالُوا لِلزُّبَيْرِ يَوْمَ الْيَرْمُوكِ أَلاَ تَشُدُّ فَنَشُدَّ مَعَكَ فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ، فَضَرَبُوهُ ضَرْبَتَيْنِ عَلَى عَاتِقِهِ، بَيْنَهُمَا ضَرْبَةٌ ضُرِبَهَا يَوْمَ بَدْرٍ. قَالَ عُرْوَةُ فَكُنْتُ أُدْخِلُ أَصَابِعِي فِي تِلْكَ الضَّرَبَاتِ أَلْعَبُ وَأَنَا صَغِيرٌ. [٣٧٥٥ ، ٣٧٥٦]

رجال الحديث

عَلِيُّ بنُ حَفصٍ: دا ابو الحسن على بن حفص المروزى الخراسانى دي، ددۀ احوال د كتاب الجهاد، باب "من احتبس فرساً" لاندې تير شوى دى.(٢)

ابنُ المُبَارَكِ: دا عبد الله بن المبارك المروزى دي، ددۀ احوال د كتاب بدء الوحى، الحديث الخامس لاندې تير شوى دى.(٣)

هِشَامُ: د هشام بن عروة او د هغۀ د پلار احوال تير شوى دى.(٤)

غزوه يرموك: أَصْحَابَ النَّبِيِّ قَالُوا..... يَرموك (بفتح الياء وسكون الراء وضم الميم) په شام كښې د يو ځائې نوم دي، او هلته د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په اولنى وخت كښې د مسلمانانو او روميانو په مينځ كښې يو سخت جنګ شوې وو، چې هغه د غزوۀ يرموك په نامې سره يادولې شى، په دې كښې د مسلمانانو شمير ۴۵ زره يا ۳۶ زره او د روميانو شمير ۷ لاكۀ وو، او د عرب غسان ۷۰ زره كسان هم د جبله بن الايهم سره وو، په دې غزوه كښې مسلمانانو ته فتح اوشوه، په مسلمانانو كښې څلور زره كسان شهيدان شو، او په روميانو كښې يو لاكۀ پنځه زره كسان قتل كړې شو، او څلويښت زره په كښې بنديان كړې شو.(٥)

عروه بن الزبير فرمائى، په دې غزوه كښې شركت كونكو صحابۀ كرامو رضي الله عنهم حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه ته اووئيل. چې تۀ په دښمنانو باندې حملې كولو د پاره نۀ وړاندې كيږې؟ چې مونږه هم حمله اوكړو.

---

(١) الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى صحيحه(٢،٥٨١)،فى كتاب المغازى،باب قتل أبى جهل، رقم: ٣٩٧٣،٣٩٧٥، ومسلم فى صحيحه(٢،٢٨١)،فى فضائل الصحابة،باب فى فضل سعد بن أبى وقاص، رقم:٦٢٤٢.

(٢) كشف البارى،كتاب الجهاد،ص:١٣٧١

(٣) كشف البارى:١،١٤٦٢

(٤) اوګورئ كشف البارى:٢،٤٣٢،١٤٣٦

(٥) فتح البارى:٩،١٠٢،وإرشاد السارى:٨،١٢١٤

قوله: فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ: زبیر دا اؤریدو سره په هغوی حمله اوکړه، د صحیح بخاری په متداول نسخو کښې هم دغه عبارت دې، او حافظ ابن حجر رحمه الله د "الا تشدُّ" جمله ذکر کولو سره ددې په جواب کښې د حضرت زبیر دا جمله نقل کړې ده، "إن شددتُ کذبتم" کۀ زۀ حمله اوکړم، نو تاسو به د وعدې خلاف اوکړئ، او حمله به اونۀ کړئ، د کذب اطلاق اهل حجاز په هر خلاف واقعه کار باندې کوی، نو وعده خلافی هم په کذب کښې داخله شوه[1]، د مغازي په روایت کښې دا جمله (إن شددتُ کذبتم) هم ده،[2]

حافظ صاحب په دې زائدې جملې (یعنی د "إن شددتُ کذبتم") باندې د متن په شان (سُرخی) لګولو سره تشریح کړې ده، ددې نه دا معلومیږی، چې هغۀ سره په موجوده نسخه کښې دا د حدیث برخه یعنی متن دې۔

فضربوه..... ددې جملې نه ورسته رومیانو په حضرت زبیر (رضي الله عنه) باندې دوه ګذارونه (ضربونه) اوکړل، چې د هغې په مینځ کښې هغۀ "کذار (ضرب)" وو، کوم چې په بدر کښې حضرت زبیر باندې لګیدلې وو، او بیا دې لویو لویو ننبو سره عروه وائي "ما به لوبې کولې"

قوله: ضَرْبَتَيْنِ عَلَى عَاتِقِهِ.....: دلته د ګذارونو (ضرباتو) په حقله هم اختلاف دې، د باب په روایت کښې خو دا مذکور دی، چې دوه ګذاره (یعنی ضربین) په یرموک کښې لګیدلې وو. او یو په بدر کښې، او په کتاب المغازی کښې دا هم مذکور دی، او په یو روایت کښې ددې په خلاف هم مذکور دی، او هلته (په مغازی کښې) په دې باندې تفصیلی کلام هم شوې دې۔[3]

١٤ - باب: ذِكْرِ مَنَاقِبِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رضي الله عنه

وَقَالَ عُمَرُ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ عَنْهُ رَاضٍ. [ر: ٣٤٩٧]

طلحة بن عبيد الله: ابن حجر عسقلانی رحمه الله فرمائی، د دوی نوم طلحه، کنیت ابو محمد، د پلار نوم عبید الله او سلسلۀ نسب ئې داسې ده:

طلحة بن عبيد الله بن عثمان بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب، په مره بن کعب باندې ئې رسول الله ﷺ سره سلسلۀ نسب ملاویږی، او ابو بکر صدیق رضي الله عنه سره په تیم بن مره کښې ملاویږی، د دوی د مور نوم صعبة بنت الحضرمی دې، چې د علاء بن الحضرمی خور ده، او اسلام ئې قبول کړې وو، او هجرت ئې هم کړې وو، د ځوی (د مرګ) نه ورسته تر څۀ وخته

---

[1] فتح الباری: ١١٠٢.٩

[2] اوګورئ: حدیث: ٣٩٧٥\

[3] اوګورئ: کشف الباری، کتاب المغازی، باب قتل أبی جهل، ص: ١١١٥\

پوري ژوندئ وه.[1]
او علامه قسطلانی د دوی سلسلهٔ نسب داسې بیان کړې ده:

طلحة بن عبید الله بن عثمان بن عمیر بن عمرو بن عامر بن عثمان بن کعب بن سعد بن تیم بن مرة بن کعب او وائی، او د دوی سلسلهٔ نسب رسول الله ﷺ سره په مره بن کعب کښې ملاویږی، او ابو بکر سره په کعب بن سعد بن تیم کښې .....[2]

د قسطلانی او عسقلانی په مینځ کښې یو بل فرق دادې، چې قسطلانی د "عاشت بعد ابنها قلیلاً" الفاظ ذکر کړې دی، یعنی د طلحه مور د دهٔ د وفات نه ورسټو ترځهٔ وخته پورې ژوندې وه، او ابن حجر د "بعد أبیها قلیلاً" الفاظ وئیلی دی، یعنی د طلحه مور د خپل پلار د وفات نه ورسټو تر ځهٔ وخته پورې ژوندئ وه، خو اول صحیح معلومیږی.
طلحه ته طلحة الخیر او طلحة الجود هم وئیلی شی[3] د خیر او سخاوت غټې یا وګې (مجموعه)
طبرانی د ابن عساکر په طریقې سره دا روایت نقل کوی:

"أسلمت أم أبي بكر وأم عثمان وأم طلحة وأم عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنهم."[4] د ابو بکر، عثمان، طلحه او عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنهم موریانو اسلام قبول کړې وو.

د حضرت طلحه رضي الله عنه خصوصیات او د وفات ذکر: علامه عینی رحمه الله د حضرت طلحه رضي الله عنه خصوصیات او امتیازات ذکر کولو سره فرمائی:

"هو أحد العشرة المشهود لهم بالجنة، وأحد الثمانية الذين سبقوا إلى الإسلام، وأحد الخمسة الذين أسلموا على يدي أبي بكر الصديق وأحد الستة أصحاب الشورى الذين توفي رسول الله ﷺ وهو عنهم راض".[5]

هغوی رضي الله عنه په هغه لسو کسانو کښې یو دي، چا ته چې د جنت خوشخبری ورکړې شوې ده، په هغه اتو کسانو کښې یودې چا چې د ټولو نه اول اسلام قبول کړو، په هغه پنځو کسانو کښې یو دي، چا چې د حضرت ابو بکر رضي الله عنه په لاس باندې اسلام قبول کړو، او د شورئ په هغه شپږو کسانو کښې یو دي، د چا نه چې رسول الله ﷺ د دنیا نه تلو په وخت کښې راضی وو.
حضرت طلحه رضي الله عنه د جنګ جمل په موقع باندې قتل کړې شو، دا د ۳۶ هجری خبره ده، او په دې وخت کښې د هغه عمر څومره وو، په هغې کښې د ۵۸ کالو نه تر ۷۵ کالو پورې مختلف اقوال دی، په جنګ جمل کښې په غشی لګیدو سره دې شهید شو، دا په مختلفو طریقو سره

---

[1] فتح الباری: ۱۱۰۳.۹
[2] إرشاد الساری: ۱۲۱٤.۸
[3] إرشاد الساری: ۱۲۱٤.۸
[4] المعجم الکبیر للطبرانی: ۵۲.۱، نسبة أبی بکر واسمه، المستدرک علی الصحیحین، ذکر مناقب طلحة بن عبید الله التیمی، رقم: ۵۵۷٤
[5] عمدة القاری: ۱۲۲۶.۱۶

مروی دي، چې مروان بن الحکم دې شهید کړې دي، د دوی په کوندې کښې غشی اولګیدو، او ډیره زیاته وینه بهیدو سره د دوی موت واقع شو، په دې ورځ د ټولو نه اول شهید کیدونکې سړې هم دی دي۔[1]

کله چې حضرت علی رضی اللہ عنہ ته د دوی د مرګ خبر اوشو، نو ډیر زیات ئې اوژړل، تر دې پورې چې ګیره مبارکه ئې په اوښکو لمده شوه، او وې فرمائیل:

"إني لأرجو أن أكون أنا وأنت ممن قال الله تعالى فيهم، "ونزعنا ما في صدورهم من غِلٍّ اخوانًا على سُرُرٍ متقابلين"۔[2]

عجیبه خبره داده، چې د دوی تعلق په دې جنګ کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ سره وو، او د حضرت زبیر رضی اللہ عنہ تعلق د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا سره وو، هغوی هم جنګ پریښودو او واپس راتلو کښې شهید کړې شو، او کله چې د هغوی قاتل عمرو بن جرموز د حضرت علی رضی اللہ عنہ د خوشالولو د پاره هغوی ته راغې، نو حضرت علی رضی اللہ عنہ ورته اووئیل ته جهنمی ئې۔[3] ښکاره خبره ده دوارې د عشره مبشره نه دی، نو ددۀ قاتل څنګه جنتی کیدې شی۔

قوله: وقال عمر: توفي النبي ....: په باب قصة البيعة کښې موصولاً تیر شوې دي، کله چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د شپږو کسانو نامې اخستلو سره اوفرمائیل، "هؤلاء النفر أو الرهط الذين توفي رسول الله ﷺ وهو عنهم راض"۔[4]

۳۵۱۷[5] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِي حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ لَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم - فِي بَعْضِ تِلْكَ الأَيَّامِ الَّتِي قَاتَلَ فِيهِنَّ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم - غَيْرُ طَلْحَةَ وَسَعْدٍ. عَنْ حَدِيثِهِمَا. [۳۸۳۴]

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بنُ ابي بَكْرٍ المُقَدَّمِيُّ: دا محمد بن أبی بکر بن علی بن عطاء المقدمی دي، ددۀ احوال د کتاب الصلاة، باب "المساجد التي على طرق المدينة....." لاندې تیر شوی دی۔

مُعْتَمِرٌ: دا معتمر بن سلیمان بن طرفان التیمی البصری دي، ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "من خص بالعلم قومًا دون قوم" لاندې تیر شوی دی۔[6]

---

[1] فتح الباری: ۱۰۳،۹، وعمدة القاری: ۱۲۲۶،۱۶

[2] إرشاد الساری: ۱۲۱۴،۸

[3] فتح الباری: ۱۱۰۳،۹

[4] صحیح البخاری، باب قصة البيعة، رقم: ۳۷۰۰

[5] الحديث أخرجه البخاری فی صحيحه: ۵۸۱،۲ فی كتاب المغازی، باب اذ همت طائفتان، ۴۰۶۰، ۴۰۶۱، ومسلم فی صحيحه: ۲۸۱،۲ فی فضائل الصحابة، باب فضل سعد بن أبی وقاص: ۶۲۴۲

[6] كشف الباری: ۵۹۰،۴

أبيه: سليمان بن طرفان التيمی مراد دي،ددۀ احوال په مذکوره باب کښې تير شوی دی۔[1]

أبِی عُثْمَانَ: دا عبد الرحمٰن بن ملّ ابو عثمان النهدی دي،ددۀ احوال د کتاب مواقيت الصلاة،باب"الصلاة کفارة"لاندې تير شوی دی۔

قوله: بَعْضِ تِلْكَ الأَيَّامِ: ددې نه يوم أحد يا أيام أحد مراد دی،د أحد په موقع باندې حضرت طلحه،اوسعد اوبعضې نورو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په داسې بهادرئ،همت او استقامت سره د مشرکينو مقابله اوکړه،چې د هغې مثال نۀ ملاويږی،په کتاب المغازی کښې ددې تفصيل مذکور دي،کله چې د رسول الله ﷺ د ګير چاپيره نه ټول خلق اخوه ديخوه شو،نو په دغه وخت کښې صرف ابو طلحه (زيد بن سهل انصاری) د هغوی رضی الله عنهم د پاره دهال جوړ شوې ولاړ وو،او په حديث باب کښې د حضرت طلحه او سعد ذکر دي،بلکه په مغازی کښې هم دی چې ټول اخوه ديخوا شوی وو،ولې دا حضرات ولاړ وو۔

در اصل په أحد کښې په مختلفو موقعو باندې مختلفو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم د داسې بهاردئ مظاهره اوکړه،په دې وجه کله د دوی(يعنی طلحه او سعد)ذکر دي،او کله د بعضې نورو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم ذکر دي،خو حضرت سعد د هغې څو شميرلې شوې حضراتو نه يو دي، چې د چا په استقامت کښې هيڅ فرق نۀ وو راغلې۔[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی،د ابو ذر په نسخه کښې د،"فی تلك الأيام"الفاظ راغلې دی،او د نورو له مخې د"فی بعض تلك الأيام"الفاظ راغلې دی،او وې فرمائيل،"وهو أبين،لأن المراد بالبعض يوم أحد"۔[3]

يعنی د"بعض"په لفظ سره چې کوم روايت دي،هغه زيات واضح دي،ځکه چې د بعض نه به يوم أحد مراد وی،او"تلك الأيام"خو عام دي۔

"غيرُ طلحة وسعد"کښې"غير"مرفوع دي،بناء بر فاعليت،او د قاتَلَ مفعول المشرکين دي۔[4]

د ابو ذر په روايت کښې د"الّتی يقاتل فيهن....."الفاظ دی،(په الّتی سره)،او د نورو له مخې"الّذی يقاتل فيهن....."(په الّذی سره)راغلې دي۔[5]

قوله: عَنْ حَدِيثِهِمَا: يعنی أنهما حدّثا أباعثمان بذالك دي دواړو(طلحه او سعد)ابو عثمان ته اووئيل،"مستخرج أبی نعيم وغيره"کښې د عبد الله بن معاذ عن معتمر.....په طريقې سره راغلی

---

[1] کشف البَاری:٤،٥٩٣

[2] اوګورئ صحيح البخاری،کتاب المغازی،باب اذ همت طائفتان.....١

[3] فتح الباری:٩،٤٥٧

[4] إرشاد الساری:٨،٢١٥

[5] فتح الباری:٩،٤٥٧

دی، "قال سلیمان فقلت لأبی عثمان: وما علمك بذلك؟ قال عن حدیثهما". (۱)
سلیمان وائی، ما ابو عثمان ته اووئیل، تا ته ددې څنګه پته اولګیده؟ هغوی اووئیل، دا طلحه او سعد بیان کړی دی۔

او په یوې بلې طریقې کښې دا الفاظ دی، سلیمان وائی، "فقلتُ لأبی عثمان: وما علمك بذلك؟ قال هما أخبراني". (۲) یعنی عثمان اووئیل، هم هغوی دواړو (طلحه او سعد) ما ته اووئیل۔

په اُحد کښې صرف د حضرت طلحه او سعد په پاتې کیدو باندې اعتراض او د هغې جواب: د حاکم یو روایت دې، چې د هغې نه معلومیږی، چې رسول الله ﷺ سره په پاتې کیدونکو کښې یو مقداد بن الاسود هم وو، د روایت الفاظ دادی، عائشه بنت سعد د خپل پلار نه نقل کولو سره وائی:

"جال الناسُ یوم أحد تلك الجولةَ تنحیت فقلت أذود عن نفسی فإما أن أنجوَ وإما أن أستشهد، فإذا رجل محمر وجهه وقد کاد المشرکون أن یرکبوه فملأ یده من الحصی فرماهم، وإذا بینی وبینه المقداد فأردت أن أسأله عن هذا الرجل فقال لی یا سعد رسول الله یدعوك....." (۳)

یعنی خلقو د غزوۀ احد په موقع باندې چې کوم معروف چکر اولګولو، یو ارخ ته کیدو سره ما په خپل زړۀ کښې اووئیل، چې زۀ خپله دفاع کووم، یا خو به بچ شم، او یا به شهید کړې شم، په دې وخت کښې ما یو سور مخ والا سړې اولیدو، او مشرکین هغۀ لره د خپو لاندې کونکی وو، چې هغۀ یو مُټی کانړی راخستلو سره هغوی ارخ ته اُوشیندل..... په دې وخت کښې ما اوولیدل، چې زما او د هغۀ په مینځ کښې مقداد بن الاسود دې، ما د هغۀ نه د دغه سړی په حقله پوښتنه کول غوښتل، نو هغۀ اووئیل، دا رسول الله ﷺ دې تا ته آواز کوی!
حافظ دا ذکر کړل، ددې یو جواب خو داورکړې شوې دې، چې په کوم وخت کښې حضرت سعد او طلحه موجود وو، په دغه وخت کښې به بل څوك هم نۀ وو، کیدې شی مقداد ددې نه ورسترو راغلې وی۔
دویم جواب ئې دا ورکړو، چې کیدې شې په بعضې مقاماتو کښې حضرت سعد او طلحه د هغوی ﷺ سره یواځې پاتې کیدونکی کسان وو، او په بعضې نورو مقاماتو کښې د حضرت مقداد په شان نور حضرات هم پاتې شوې وی، امام مسلم وغیره د ثابت عن انس..... په طریقې سره روایت نقل کوی هغه وائی:

"أفرد رسول الله ﷺ یوم أحد فی سبعة من الأنصار ورجلین من قریش". (۴)

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۰٤ \
۲) فتح الباری: ۹، ۱۰٤ \
۳) المستدرک علی الصحیحین، کتاب المغازی والسرایا، رقم: ٤۳۱٤ \
٤) مسند احمد مسند عبد الله بن مسعود، رقم: ٤٤۱٤، مطبوعة الرسالة، السنن الکبری للبیهقی، رقم: ۱۷۹۱۸، باب مَن تبرع بالتعرض للقتل \

یعنی د احد په ورځ باندې رسول الله ﷺ د ووۀ انصارو او دوۀ قریشو سره یواځې پاتې شوې وو.
او د قریشو د دوۀ کسانو نه سعد او طلحه مراد دی،ددې نه دا هم معلومه شوه،چې د سعد او طلحه انفرادیت او خصوصیت د حضرات مهاجرینو په اعتبار سره دی،نۀ چې مطلق.....
یعنی په مهاجرینو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم کښې ددې دوۀ نه علاوه بل څوک نۀ وو،او د مطلب بن عبد الله بن حنطب مرسل روایت دی،چې په هغې کښې د دولسو کسانو ذکر دی،فرمائی:
"أن الصحابة تفرقوا عن النبی ﷺ یوم أحد حتی بقی معه اثنا عشر رجلاً من الأنصار".(۱)
په انصارو کښې دولس کسان پاتې شو.
او د نسائی او بیهقی د ابو الزبیر عن جابر په طریقې سر روایت دی،هغه وائی:
"تفرق الناس عن النبی یوم أحد وبقی معه أحد عشر رجلاً من الأنصار".(۲) په انصارو کښې یؤولس کسان پاتې شو.
په دې کښې او د حضرت انس رضی الله عنه په حدیث کښې هیڅ تعارض نشته،ما سواء د څلورو کسانو د زیاتوالی نه،اوکیدې شی هغوی ورستو راغلې وی،په دې روایاتوکښې اوپه حدیث باب کښې د جمع صورت به دا وی،د سعد په حقله به وئیلې شی،چې هغه به لږ ورستو راغلی وی.(۳)په دې وجه چرته د هغوی ذکر دی،(لکه په حدیثِ باب کښې)او چرته نشته.
د تطبیق صورت: په هر حال کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:
"فکأنه قال لم یبق معه من المهاجرین غیر هذین-وتعین حمله علی ما أولته وإن ذلك باعتبار اختلاف الأحوال،وأنهم تفرقوا فی القتال فلما وقعت الهزیمة فیمن انهزم وصاح الشیطان "قُتل محمد" اشتغل کلُّ واحد منهم بهمّه والذب عن نفسه کما فی حدیث سعد-ثم عرفوا عن قرب ببقائه فتراجعوا إلیه أولاً فأولاً ثم بعد ذلك کان یندب إلی القتال فیشتغلون به".(۴)
گویا رسول الله ﷺ سره په مهاجرینو کښې(نۀ چې په مجموعه خطاب کښې)ددې دوۀ حضراتو نه علاوه هیڅ څوک هم نۀ وو پاتې شوې،په دې تاویل باندې حدیث محمول کول متعین دی،او دا هم متعین دی،چې د مختلفو حضراتو هغوی ﷺ سره د پاتې کیدو مطلب دادې،چې په مختلفو احوالو کښې داسې اوشو،ځکه چې د جنګ په وخت کښې خلق متفرق او کډ وډ وو،بیا کله چې ماتې اوشوه،او شیطان د محمد(ﷺ) د قتل کیدو چغه اووهله، نو هرکس په خپل فکر کښې شو،بیاکله چې زر دهغوی ﷺ دسلامتیا پته اولګیده، نو اُوس د یو یو راتلل د هغوی ﷺ خوا ته شروع شو،بیا کله چې هغوی ﷺ دوی جنګ د پاره

---

۱) المعجم الاوسط،رقم: ۷۸۰٤
۲) فتح الباری:۹،۱۰٤
۳) فتح الباری:۹،۱۰٤
٤) فتح الباری:۹،۱٤۵۷

راوبلل،نو هغوی به راتلو سره سره په جنګ کښې برخه اخسته،دا صورت حال وراندې کیښودلو سره به په ټولو روایتونو پوهیدل آسان شی۔

۳۵۱۸(۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ الَّتِي وَقَى بِهَا النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَدْ شَلَّتْ. [۳۸۴۶]

رجال الحديث

مُسَدَّدٌ: دا مسدد بن مسرهد دي،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب "من خص بالعلم قومًا دون قومٍ" لاندې تیر شوی دی۔(۲)

خَالِدٌ: دا خالد بن عبد الله الواسطی دي، ددۀ احوال د کتاب الوضوء،باب "من مضمض واستنشق من غرفة واحدة" لاندې تیر شوی دی۔

ابْنُ أَبِي خَالِدٍ: دا اسماعیل بن أبی خالد الاحمسی البجلی دي،د ابو خالد نوم سعد دي،ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" لاندې تیر شوی دی۔(۳)

قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ: دا قیس بن أبی حازم(عوف)الاحمسی البجلی دي،ددۀ احوال د کتاب الإیمان،باب "قول النبی ﷺ الدین النصیحة" لاندې تیر شوی دی۔(۴)

د حضرت طلحه رضی الله عنه لاس شلیدو تفصیل: د شل کیدو معنی داده،چې د لاس تلې داسې متاثره شی،چې په لاس سره کیدونکی کارونه نۀ شی تر سره کولې،ماتیدل،او کټ کیدل مراد نۀ دی،ابن حجر عسقلانی رحمه الله وائی:

"والشلل نقص فی الکف وبطلان لعملها،ولیس معناه القطع کما زعم بعضهم".(۵)

د حضرت طلحه بن عبید الله رضی الله عنه لاس د اُحد په ورځ متاثره شوې وو،کله چې ئې رسول الله ﷺ د مشرکینو نه بچ کولو،بیا هم د هغې کیفیت څۀ وو،ددې په حقله روایات مختلف دی، طبرانی د موسیٰ بن طلحه په طریقې سره روایت کوی: "أصابه فی یده سهم".(۶)

---

(۱) الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی صحیحه،فی المغازی،باب إذ همت طائفتان.....،رقم:۴۰۶۳،وابن ماجه فی سننه،کتاب السنة،باب فضل طلحة بن عبید الله،رقم:۱۲۸،وابن حبان فی صحیحه: ۶۹۸۱، والبیهقی: ۱۲۸۷۷،والطبرانی فی المعجم الکبیر:۱۱۹۱

(۲) کشف الباری:۴،۵۸۸

(۳) کشف الباری:۱،۶۷۹

(۴) کشف الباری:۲،۷۶۱

(۵) فتح الباری:۹،۱۰۴

(۶) فتح الباری:۹،۱۰۴

د هغوی په لاس کښې غشي لګيدلي وو،او د حضرت انس روايت دي،چې د هغې الفاظ دادی: "وقی رسول الله ﷺ لما أراد بعضُ المشرکین أن یضربه".(۱)
هغوی رضی الله عنه رسول الله ﷺ په هغه وخت کښې بچ کولو کله چې مشرکينو د هغوی ﷺ قتلول غوښتل
په مسند طيالسی کښې د حضرت عائشې بنت أبی بکر الصديق په طريقې سره روايت دي،ابو بکر رضی الله عنه فرمائی:
"ثم أتينا طلحة-يعنی يوم أحد-وجدنا به بضعًا وسبعين جراحة،واذا قد قطعت اصبعُه".(۲)
د غزوۀ احد په ورځ بيا مونږ حضرت طلحه ته راغلو،نو اومو کتل چې په هغوی باندې د اوياؤ نه زيات زخمونه لګيدلي وو،او د هغوی يوه ګوته کټ شوې وه.
او په کتاب الجهاد کښې د ابن المبارك د موسیٰ بن طلحه په طريقې سره روايت دي،په هغې راغلې دی،چې د چپ لاس بنصر ګوته ئې کټ شوې وه،الفاظ ئې دادی:
"أصيبت إصبع طلحة البنصر من اليسری من مفصلها الأسفل فَشَلَّت،ترس بها علی النبی".(۳)
قوله: شَلَّتْ: دا د شين په فتحې سره،او لحيانی وائی،د شين په ضمې سره وئيل هم جائز دی،او ابن درستويه وائی دا غلط دي.(۴)
عينی د ابن الاعرابی په حوالې سره نقل کړی دی،هغه وائی:
"لايقال شُلت يعنی بالضم إلا فی لغت رديئة".(۵)
د حضرت طلحه خصوصيات: علامه عينی د ابو الشاه په حوالې سره نقل کړی دی:
"ومن خواص طلحة بن عبيد الله أن رسول الله ﷺ إذا لم يره قال مالی لا أرٰی المليح الفصيح".
کله چې به نبی عليه السلام هغه(يعنی طلحه)اونۀ ليدو،نو رسول الله ﷺ به فرمائيل،هغه ښکلې او ښکلې خبرو والا چرته دي؟
هغوی ﷺ دوی ته د فياض لقب هم ورکړې وو،او د طلحة الخير او طلحة الجود هم.(۶)
او د ترمذی په روايت کښې حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمائی:
"سمعتُ رسول الله ﷺ يقول:من سره أن ينظر إلی شهيد يمشی علی وجه الأرض فلينظر إلی طلحة بن عبيد الله".(۷)

---

۱) كنز العمال،غزوة أحد،رقم:۳۰۰۶۱،۳۰۰۷۳
۲) كنز العمال،غزوة أحد،رقم:۳۰۰۲۵
۳) فتح الباری:۹،۱۰٤
٤) فتح الباری:۹،۱۰٤
۵) عمدة القاری:۱۶،۱۲۲۷
۶) عمدة القاری:۱۶،۱۲۲۷
۷) سنن الترمذی،باب مناقب طلحة بن عبيد الله،رقم:۳۷۳۹

یعنی چې څوک د زمکې په مخ باندې ګرځیدونکې راګرځیدونکې شهید لیدل غواړی، هغه دې طلحه بن عبید الله ته اوګوری. او هم ترمذی د حضرت علی رضی الله عنه روایت نقل کړې دې، هغه وائی "سمعت أذنی من فی رسول الله ﷺ وهو یقول طلحة والزبیر جارای فی الجنة".(۱)

زما غوږونو د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه اوریدلی دی، چې "طلحه او زبیر به په جنت کښې زما ګاونډیان وی"

۱۵-باب: مَنَاقِبُ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ الزُّهْرِي وَبَنُو زُهْرَةَ أَخْوَالُ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ.

حضرت سعد بن ابی وقاص: حضرت سعد بن أبی وقاص هم جلیل القدر صحابی د رسول الله ﷺ دې، او په عشره مبشره کښې یو دوی هم دی، د دوی کنیت ابو اسحاق دې، او لقب ئې "فارس الإسلام" د الله تعالی په لار کښې د توپو نه غوره غشي ویشتونکې وو، مستجاب الدعوات وو، په هغه ووځ کسانو کښې یو دوی دی، چا چې اول اسلام قبول کړې وو، کوفه لرد کوفه جوړونکې او د هغې نه اعاجم اوباسلو سره بهر غورځونکې هم دوی رضی الله عنه دی.(۲)

د دزی تعلق د بنو زهره سره وو، او بنو زهره د رسول الله ﷺ ماما ګان وو، ځکه چې حضرت آمنه یعنی د هغوی ﷺ والده هم ددې قبیلې نه وه، د دوی د پلار نوم مالك وو، او سلسله د نسب ئې داسې ده، سعد بن مالك بن وهیب بن عبد مناف بن زهرة بن كلاب بن مرة. سلسلۀ نسب ئې د رسول الله ﷺ سره په کلاب بن مره کښې ملاویږی، د دوی مور حمنه بنت سفیان بن امیه بن عبد شمس ده، چې اسلام ئې نۀ وو قبول کړې، د مدینې نه په لس میله بیرته په عقیق نومې ځائې کښې د حضرت سعد وفات اوشو، او بیا خلقو په اوږو باندې مدینې ته راوړو، او په جنت البقیع کښې دفن کړې شو، دا د ۵۵ء یا د ۵۸ء خبره ده، په دغه وخت کښې د هغوی عمر ۸۳ یا ۷۳ کاله وو، په عشره مبشره کښې د ټولو نه ورستو دوی وفات شوی دی، او مروان بن الحکم د دوی د جنازې مونځ اوکړو.(۳)

۳۵۱۹(۴) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا يَقُولُ جَمَعَ لِي النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ

[۳۸۲۹ - ۳۸۳۱].

---

(۱) سنن الترمذی، باب مناقب طلحة بن عبید الله، رقم: ۱۳۷۳۹

(۲) فتح الباری: ۹، ۱۱۰۴

(۳) عمدة القاری: ۱۶، ۲۲۷، وفتح الباری: ۹، ۱۱۰۵

(۴) الحدیث أخرجه أیضًا مسلم فی صحیحه، کتاب فضائل الصحابة، باب فی فضل سعد بن أبی وقاص، رقم: ۶۲۳۵، والترمذی فی جامعه، کتاب المناقب، باب ارم فداك أبی و أمی، رقم: ۳۷۵۴، وابن ماجة فی سننه، کتاب السنة، باب فضل سعد بن أبی وقاص، رقم: ۱۳۰، والنسائی فی سننه الکبری، رقم: ۹۹۵۲، وأحمد فی مسنده: ۱۵۶۲

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّى: دا ابو موسىٰ محمد بن المثنى بن عبيد عنزى دي،ددهٔ احوال د كتاب الإيمان،باب"حلاوة الإيمان"لاندې تير شوى دى۔[1]

عَبْدُ الْوَهَّابِ: دا عبد الوهاب بن عبد الحميد الثقفى دي،ددهٔ احوال د كتاب الإيمان،باب"حلاوة الإيمان"لاندې تير شوى دى۔[2]

يَحْيَى: دا يحيىٰ بن سعيد القطان دي،ددهٔ احوال د كتاب الإيمان،باب"من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه"لاندې تير شوى دى۔[3]

سَعِيدَ بنَ الْمُسَيَّبِ: دا مشهور تابعى سعيد بن المسيب دي،ددهٔ احوال د كتاب الإيمان باب"من قال إن الإيمان هو العمل"لاندې تير شوى دى۔[4]

قوله: جَمَعَ لِي النَّبِيُّ أَبَوَيْهِ: د حضرت سعد او زبير رضي الله عنهما د پاره د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه د"فداك أبي و أمي"جمله اُووتله،په دې حوالې سره په فضائل زبير كښې تفصيل تير شوې دې۔

٣٥٢٠، ٣٥٢١[5] حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَأَنَا ثُلُثُ الإِسْلاَمِ.

رجال الحديث

مَكِّيُّ بْنُ ابراهيم: دا مكى بن إبراهيم التميمى الحنظلى دي،ددهٔ احوال د كتاب العلم،باب"مَن أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس"لاندې تير شوى دى۔[6]

هَاشِمُ بنُ هَاشِمٍ: هاشم بن هاشم يا هشام بن هشام بن عتبه بن أبى وقاص الزهرى دي،ددهٔ احوال د كتاب الوصايا،باب"الوصيّة بالثُّلث"لاندې تير شوى دى۔

عَامِرِ بنِ سَعدٍ: دا د سعد بن أبى وقاص ځوئې عامر دي،ددهٔ احوال د كتاب الإيمان،"من قال إن

---

[1] كشف البارى:١٢٥،٢

[2] كشف البارى:١٢٦،٢

[3] كشف البارى:١٢١٢

[4] كشف البارى:١١٥٩،٢

[5] الحديث تفرد به البخارى من أصحاب الصحاح،وأخرجه البزار فى مسنده،مسند سعد بن أبى وقاص:١٠٧٩،وطرفاه فى:٣٧٢٧،١٣٨٥٨

[6] كشف البارى:١٤٨١،٣

الإيمان هو العمل" لاندې تير شوی دی۔[1]

قوله: وَأَنَا ثُلُثُ الإسلام: "أی أنا ثالث من أسلم أولاً" یعنی زهٔ د ټولو نه وړاندې اسلام قبلونکو دریؤ کسانو کښې یم، یقیناً دا ډیر لوئې فضلیت او منقبت دی۔

د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د ثالث الاسلام کیدو تفصیل: ولې په دې کښې لږ تفصیل دی۔

خپل ځان ثالث الإسلام ګرځولو کښې د سعد مطلب دادی، چې زما نه وړاندې په رسول الله ﷺ باندې صرف دوؤ کسانو ایمان راوړلې وو، یو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او دویم حضرت خدیجه رضی الله عنها او یا د دوؤ نه مراد پخپله رسول الله ﷺ او سیدنا ابوبکر رضی الله عنه دې، ددې معنی دا نهٔ ده، چې حضرت خدیجه رضی الله عنها په اولنو اسلام قبلونکو کښې نهٔ ده، او سعد ددې نه وړاندې اسلام قبول کړو، بلکه معنی داده، چې په سړو کښې دریم نمبر اسلام قبلونکې حضرت سعد رضی الله عنه دې، خو په دې باندې بیا هم دا اعتراض کیدې شی، چې په فضائلِ صدیق اکبر کښې حدیث تیر شوی دې، حضرت عمار رضی الله عنه وائی:

"رأیتُ النبی ﷺ وما معه خمسة أعبُد وأبوبکر"۔[2]

یعنی یوه زمانه وه، ما اولیدل چې په رسول الله ﷺ باندې صرف پنځو غلامانو او یو حر یعنی ابو بکر صدیق ایمان راوړلې وو۔

دې نه معلومیږی چې حضرت سعد په ووم نمبر باندې اسلام قبلونکې دې۔

ددې یو جواب خو دادې، چې د حضرت سعد مراد احرار یعنی آزاد او بالغین دی، او دا پنځه واړه حضرات غلامان وو، او حضرت علی رضی الله عنه ماشوم وو، لهذا د دوی (یعنی د حضرت سعد) ثالث الإسلام کیدل ثابت دی۔

دویم جواب دادې، چې په دغه اولنی وختونو کښې به خلقو خپل اسلام پټولو، او ښکاره کولې به ئې نهٔ شو، په دې وجه حضرت سعد ته د ابو بکر رضی الله عنه او حضرت خدیجې رضی الله عنها نه علاوه د بل چا د اسلام قبلولو په حوالې سره علم اونهٔ شو، او دا صرف د هغوی خیال دې، (په حقیقت کښې د دوی نه علاوه نور هم اسلام قبلونکی وو) او ددې توجیه تائید په هغې روایت سره هم کیږی، چې په هغې کښې د دوی دا الفاظ دی۔ "مَا أسلم أحد قبلی"۔

حال دادې چې د هغوی نه وړاندې اسلام قبلونکی خو په هر حال کښې وو، د کم نه کم حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت خدیجه رضی الله عنها خو وو، دا د ابن سعد روایت دی۔[3]

د ابو بدَر عن هاشم په طریقې سره د ابن منده روایت دې، چې د هغې الفاظ دادی:

"ما أسلم أحد فی الیوم الذی أسلمت فیه"۔[4]

---

[1] کشف الباری: ۲، ۱۱۷۲

[2] مسند البزاز مسند عمار بن یاسر: ٤، ٢٤٣، والسنن الکبریٰ للبیهقی: ٦، ٥٩٩، رقم: ١٣٠٩٤، کتاب قسم الفیئ .....باب إعطاء الفیئ علی الدیوان.

[3] فتح الباری: ٩، ١١٠٥

[4] مسند البزار، مسند عمار بن یاسر، رقم: ١٠٧٩، الکنی والاسماء: ١، ٢٧، رقم: ١٧٩

یعنی چې په کومه ورځ ما اسلام قبلول کړو، په دغه ورځ بل هیچ چا هم اسلام قبول نۀ کړو، د دوی دا وئیل صحیح کیږی، او په دې کښې د اعتراض څۀ خبره نشته، ځکه چې په دغه ورځ د حضرت سعد سره په اسلام قبلولو کښې د چا نۀ شریك کیدل عین ممکن دی۔

او په دې باندې د "ما أسلم أحد قبلی" په شان روایات هم محمول کیدلې شی، ولې هم دغه روایت ددې ابن منده په طریقې سره خطیب نقل کړې دی، او په هغې کښې د "إلا فی الیوم..... الفاظ دی، لهذا ددې هم هغه تاویل صحیح دی، کوم چې وړاندې ذکر کړې شوې دې[1] یعنی اسلام خو د دوی نه وړاندې ابوبکر رضی اللہ عنہ، خدیجې رضی اللہ عنہا او پنځو غلامانو..... هم قبول کړې وو، ولې دوی ته د پنځو کسانو علم نۀ وو، او یا دوی د احرارو او بالغینو په حساب سره اووئیل، په حقیقت کښې دې په ووم نمبر باندې اسلام قبلونکې دې، څنګه چې ابن عبد البر په الاستیعاب کښې وئیلی دی، "إنه سابع سبعة فی الإسلام"۔[2] او یا هغوی د خپلو معلوماتو په حساب سره اووئیل، او هغوی ته معلومه نۀ وه، چې د دوی نه وړاندې ډیرو خلقو اسلام قبول کړې دې، ولې اظهار نۀ شی کولې..... او کیدې شی د دوی د اسلام قبلولو نه وروسته دغې ډیرو کسانو خپل اسلام ښکاره کړې وی، نو د دوی خیال وو، چې دوی ټول اُوس اسلام قبلوی۔[3]

٣٥٢١[4] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ مَا أَسْلَمَ أَحَدٌ إِلَّا فِي الْيَوْمِ الَّذِي أَسْلَمْتُ فِيهِ، وَلَقَدْ مَكَثْتُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَإِنِّي لَثُلُثُ الْإِسْلَامِ. تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ حَدَّثَنَا هَاشِمٌ. [٣٦٤٥]

رجال الحدیث

إبراهیم بْنُ مُوسٰی: دا إبراهیم بن موسٰی بن یزید التیمی الفراء الصغیر الرازی دې، ددۀ احوال د کتاب الحیض، باب "غسل الحائض رأس زوجها وترجیله" د لاندې تیر شوی دی۔

ابْنُ أَبِی زَائِدَةَ: دا یحیٰی بن زکریا بن أبی زائده دې، ددۀ احوال د کتاب الوصایا، باب "اذا وقف أرضا أو بئرًا....." لاندې تیر شوی دی۔

هَاشِمُ بن هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ أَبِی وَقَّاصٍ: ددۀ تذکره په پورتنی حدیث کښې تیره شوی ده۔

---

[1] مسند البزار، مسند عمار بن یاسر، رقم: ١١٠٧٩

[2] الاستیعاب: ١، ١١٣١

[3] لامع الدراری: ٨، ١١٧٢

[4] الحدیث سبق تخریجه فی الحدیث السابق، رقم الحدیث: ٣٥٢٠

سعيد بن المسيب: مشهور تابعي دي. ددۀ احوال تير شوى دى۔[1]

قوله: مَا أَسْلَمَ أَحَدٌ: ددې په حوالې سره تفصيل د پورتنى حديث په تشريح كښې راغلې دي، چې دا د دوى خيال دي، چې په عدم اطلاع باندې مبنى دي، يا د أحرارو او بالغينو په اعتبار سره وائي۔[2]

قوله: تَابَعَهُ أَبُو أُسَامَةَ: دا متابعت امام بخارى رحمه الله په باب "إسلام سعد" كښې موصولاً ذكر كړې دي۔[3]

٣٥٢٢[4] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا - رضى الله عنه - يَقُولُ إِنِّي لأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَكُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - وَمَا لَنَا طَعَامٌ إِلاَّ وَرَقُ الشَّجَرِ، حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا يَضَعُ الْبَعِيرُ أَوِ الشَّاةُ، مَا لَهُ خِلْطٌ، ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الإِسْلاَمِ، لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي. وَكَانُوا وَشَوْا بِهِ إِلَى عُمَرَ، قَالُوا لاَ يُحْسِنُ يُصَلِّي. [٥٠٩٦ ، ٦٠٨٨ ، وانظر: ٧٢٢]

رجال الحديث

عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ: دا عمرو بن عون ابن اوس بن الجعد الواسطى البزار دي، ددۀ احوال د كتاب الصلاة، باب "ما جاء فى القبلة ومن لم ير الإعادة" لاندې تير شوى دى۔

خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ: دا خالد بن عبد الله الطحان الواسطى دي، ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "من مضمض واستنشق" لاندې تير شوى دى۔

إِسْمَاعِيلَ: دا اسماعيل بن أبى خالد البجلى دي، ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" لاندې تير شوى دى۔[5]

قَيْسٍ: دا قيس بن أبى حازم دي، ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "قول النبى: الدين النصيحة" لاندې تير شوى دى۔[6]

---

[1] كشف البارى: ١١٥٩.٢

[2] إرشاد السارى: ١٢١٧.٨

[3] اوګورئ: صحيح البخارى، كتاب مناقب الأنصار، باب إسلام سعد، رقم: ١٣٨٥٨

[4] الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى كتاب الأطعمة، باب ما كان النبى وأصحابه يأكلون، رقم: ٥٤١٢، وفى الرقاق، باب كيف كان عيش النبى وأصحابه، رقم: ٦٤٥٣، ومسلم فى الزهد، رقم: ٧٤٣٣، والترمذى فى الزهد، باب ما جاء فى معيشة أصحاب النبى، رقم: ٢٣٦٥، و: ١٢٣٦٦

[5] كشف البارى: ١٦٧٩.١

[6] كشف البارى: ١٧٦١.٢

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ "رمی فی سبیل اللہ" کونکې اولنې عرب: سعد فرمائی، زهٔ هغه اولنې عرب یم، چا چې د الله په لار کښې غشی اویشتو، دا په اصل کښې سریه عبیده بن الحارث ارخ ته اشاره ده، کله چې رسول الله ﷺ د هجرت په اولنی کال مشرکینو سره د جنګ کولو د پاره سریه اولیږله، دا اولنۍ سریه ده، او د مسلمانانو او مشرکینو په مینځ کښې واقع کیدونکې اولنی جنګ دی.

په دې کښې رسول الله ﷺ ۶۰ مهاجرین اولیږل، چې په هغې کښې حضرت سعد رضی اللہ عنہ هم وو، دوی حضرات رابغ نومې ځائې ته تلو سره د مکې د قریشو یوه قافله رایساره کړه، او هغوی سره ئې ترامی بالسهام (غشې ویشتل) شروع کړل، اولنې غشې حضرت سعد رضی اللہ عنہ اُویشتلو، په دې کښې د مسایفې یعنی د تورو د جنګ ضرورت رانغلو، په دې حوالې سره د حضرت سعد رضی اللہ عنہ دا شعر هم نقل کړې شوې دې:

ع: الأهل أتى رسول الله انی حميت صحابتی بصدور نبلی[1]

ابن سعد د حضرت سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ نه نقل کړی دی:

"أنا أول من رمی بسهم، ثم خرجنا مع عبيدة بن الحارث ستين راكبا".[2]

زهٔ اولنې هغه سړې ووم، چا چې غشې اویشتلو، بیا مونږ شپیتهٔ سوارهٔ کسان د عبیده بن الحارث سره اووتلو.

د حضرت سعد رضی اللہ عنہ اسلام د پاره تکلیفونه زغمل: مَالَه خِلْطٌ.....خلط بکسر الخاء ملاویدو ته وائی، حضرت سعد رضی اللہ عنہ د الله تعالی په لار کښې د خپلو قربانو او تکلیفونو زغملو ذکر کولو سره فرمائی، کله چې به مونږ په غزواتو کښې شرکت کولو، نو د لوګې او غریبئ به دا حال وو، چې د مرغوب خوراک ملاویدو خو سوال نهٔ پیدا کیدو، او د اوچ کلك خوراک د وجهې نه به زمونږ لوې اُودس ماتې د ځناورو د پچو په شان وو، او په هغې کښې به هغه اختلاط هیڅ کله هم نهٔ وو، کوم چې په عامه توګه وی، اسلام د پاره ددې حالاتو نه د تیریدو نه ورستو اُوس بنو اسد ته زمونږ په دینداریٔ باندې اعتراضات او تحفظات دی.

بنو اسد څوک دی؟: د بنو اسد نه مراد بنو اسد بن خزیمة مدرکهٔ دی، او دا هغه خلق دی، چا چې د حضرت سعد بن أبی وقاص رضی اللہ عنہ د کوفې د ګورنرئ په زمانه کښې امیر المؤمنین سیدنا عمر رضی اللہ عنہ ته شکایت کړې وو، چې دې مونځ صحیح نهٔ کوی، او یو اووئیل، عدل او انصاف نهٔ کوی، جهاد له نهٔ ځی، او تقسیم صحیح نهٔ کوی.

"لا يسير بالسرية ولا يقسم بالسوية ولا يعدل في القضية".[3]

---

[1] فتح الباری: ۱۰۶،۹، وعمدة القاری: ۲۲۹،۱۶، وإرشاد الساری: ۱۲۱۷،۸

[2] الطبقات الکبریٰ، الطبقة الأولیٰ ذکر أول من رمی بسهم فی سبیل الله: ۱۱۰۳،۳

[3] صحیح البخاری، کتاب الأذان، باب وجوب القراءة للامام والماموم فی الصلوٰات کلها فی الحضر والسفر وما یجهر فیها وما یخافت، رقم: ۷۵۵

ابن بطال وائی، "بنو أسد" وئیلو سره حضرت سعد رضی الله عنه په دې کښې په حضرت عمر رضی الله عنه باندې تعریض اوکړو، حافظ ابن حجر رحمه الله وائی، دا صحیح نه ده، ځکه چې حضرت عمر رضی الله عنه خو د بنی عدی بن کعب بن لوی نه دي، نه چې د بنو اسد نه، او نووی فرمائی، دې نه اسد بن عبد العزیٰ مراد دي، چې د زبیر بن العوام قبیله ده، حافظ صاحب دا هم د هغوی (نووی) وهم ګرځولې دي۔ (۱)

قوله: تُعَزِّرُنِي: بالزاء المعجمة والراء المهملة تعزیر په معنی د تادیب سره، یعنی ما پوهوی، او ما ته ادب ښائی، یا تعزیر په معنی د تعییر دي، یعنی ما ملامته کوی، او ما ته پیغور راکوی، علی الإسلام یعنی هغوی ته د حضرت سعد په اسلام باندې اعتراض وو، چې د دوی په هر عمل کښې کمې او کوتاهي دي، لکه چې څنګه اُوس د کتاب الأذان یو حدیث ذکر کړې شو، یا څنګه چې هم د کتاب الأذان یو بل روایت دي،

حضرت عمر رضی الله عنه هغوی ته فرمائی: "لقد شکوك فی کل شیء حتی الصلاة"۔ (۲)

او یا هم مونږ مراد دي، ولې ددې د اهمیت د وجهې نه ئې ترې تعبیر په اسلام سره اوکړو، څنګه چې "وما کان الله لیضیع ایمانکم"۔ (۳) کښې ئې په ایمان سره تعبیر کړې دي، په دې وجه چې مونږ "عماد الدین" (د دین ستن) او "رأس الإسلام" دي۔ (۴)

قوله: لَقَدْ خِبْتُ إِذًا.....: یعنی کهٔ د اسلام د سابقیت سره سره زهٔ د بنو اسد د تعلیم او تربیت محتاج یم، نو زما نه زیات خائب او خاسر نقصان موندونکې او ملامته بل هیڅ څوك نشته، او ګویا زما اعمال بې فائدې شول (یعنې اُوبو یورل)۔ (۵)

۱۶- باب: ذِكْرُ أَصْهَارِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِنْهُمْ أَبُو الْعَاصِ بْنُ الرَّبِيعِ رضي الله عنه

په بعضې نسخو کښې د "باب" لفظ شته، او په بعضو کښې نشته۔ (۶)

د أصهار معنی او مراد: أصهار د صهر بکسر الصاد جمع ده، جوهری وائی:

"الأصهار أهل بیت المرأة، عن الخلیل قال: ومن العرب من یجعل الصهر من الأحماء والأختان جمیعًا. یقال صاهرت إلیهم إذا تزوجت فیهم، وأصهرتُ بهم إذا اتصلتَ بهم وتحرمت بجوار أو نسب أو تزوج"۔ (۷)

---

(۱) فتح الباری: ۹، ۱۰۶ \
(۲) صحیح البخاری، کتاب الأذان، رقم: ۵۷۰ \
(۳) سورة البقرة: ۱۴۳ \
(۴) إرشاد الساری: ۸، ۲۱۷ \
(۵) فتح الباری: ۹، ۱۰۶، وإرشاد الساری: ۸، ۲۱۷ \
(۶) عمدة القاری: ۱۶، ۲۲۹ \
(۷) الصحاح للجوهری، ص: ۶۰۴

اصهار د نبځي کور والؤ ته وئیلی شی.خلیل وائی بعضي عرب دا هم وائی.چې د "صهر" تعلق د نبځي د خپلوانو سره هم دي.او د لور د سخرګنئ والؤ سره هم.یعنی په دواړو باندې د اصهار اطلاق کیږی.(أحماء.د حمو جمع ده.د نبځي ورور او نورو خپلوانو ته وئیلې شی،او أختان د ختن جمع ده.چې د لور خاوند یعنی زوم وغیره د پاره استعمالیږی).

صاهرت چې کله په إلی سره متعدی شی.نو ددې معنی وی.چې په فلانکی خلقو کښې ما نکاح اوکړه.او أصهرتُ بهم د باب افعال نه چې په باء سره متعدی وی.نو ددې معنی وی.زۀ هغوی سره ملاؤ شوم.او د هغوی په ملګرتیا.خپلولئ او یا په هغوی کښې د نکاح په ذریعه ما عزت اومومندلو.

په هر حال کښې د صحیح بخاری د شارحینو او د اهل لغتو تقریبًا په دې باندې اتفاق دي. چې د اصهار اطلاق د سړی په سخرګنئ او زومتوب په خپلولئ یعنی د لور په نبځرګنئ د او خور په سخرګنئ ټولو باندې کیږی،د حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې عبارت دي:

"وأصل المصاهرة المقاربة،وقال الراغب:الصهر الختن وأهل بيت المرأة يقال لهم الأصهار.قاله الخليل وقال ابن الأعرابي:الأصهار مايتحرم بجوار أو نسب أو تزوج."(۱)

یعنی د مصاهرت معنی په اصل کښې مقاربت ده.امام راغب وائی."صهر" زوم ته وائی.د نبځي کور والؤ ته اصهار وئیلې شی،دا د خلیل قول هم دي،ابن الاعرابی وائی،څوک چې په جوار،نسب او نکاح سره حرامیږی،هغه اصهار دی.

قسطلانی وائی: "أصهار النبی.....جمع الصهر بالكسر.قال فی القاموس وزوج بنت الرجل وزوج أخته.والأختان أصهار أيضا.....والأختان جمع ختن وهو كل من كان من قبل المرأة كالأب والأخ."(۲)

یعنی په أصهار النبی کښې د "أصهار" د صهر جمع ده،په قاموس کښې دی،چې د سړی د لور یا خور خاوند ته صهر وائی.اصهار او أختان جمع ختن دواړو یوه معنی ده،او په دې سره هر هغه خپلوان مراددي،چې د نبځي په وجهې سره خپل شوې وی،لکه د هغې پلار ورور وغیره علامه عینی رحمه الله تقریبا هم د دغې خبرې کولو نه ورسته فرمائی:

"هكذا عند العرب وأما عند العامة فختن الرجل زوج ابنته."(۳)

د عربو له مخې هم دغه تحقیق او تفصیل دي،او عام أولس(یعنی عام خلق)ختن زوم ته وائی

قوله: مِنْهُمْ أَبُو الْعَاصِ بْنُ الرَّبِيعِ: د ابو العاص نوم ربیع،مقسم یا هشیم بن الربیع بن

---

۱) فتح الباری:۹،۱۱۰۷

۲) إرشاد الساری:۸،۱۲۱۸

۳) عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۰

ربیعة بن عبد العزی بن عبد شمس بن عبد مناف دي،او د دوی د مور نوم هاله بن خویلد دي،چې د ام المؤمنین حضرت خدیجې رضی الله عنها خور ده.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

امام بخاری مذکوره ترجمه قائمولو سره د عبد بن أبی أوفی یو مرفوع روایت اړخ ته اشاره اوکړه. دا د حاکم روایت دي،او د هغې الفاظ دادی:

"سألتُ ربي أن لا أتزوج أحدًا من أمتي ولا أتزوج إليه إلا كان معي في الجنة فأعطاني".(۱)

رسول الله ﷺ فرمائی،ما د خپل رب نه دا أوغوښتل،چې زهٔ په خپل امت کښې چا سره هم نکاح اوکړم،یا چاته رشته ورکړم،چې هغه ماسره په جنت کښې وی،نوزما رب ماته دا راکړهٔ

د رسول الله ﷺ ټول زومان مسلمانان وو: مطلب دادي،چې د رسول الله ﷺ سخران ټول مسلمانان دی.ځکه چې رسول الله ﷺ ددې دعا اوفرمائیله او هغه قبوله هم شوه.او د هغوی په سخرانو کښې ابو العاص بن ربیع هم دي،نو هغه هم جنتی دي،اُوس دا خبره چې ابو العاص بن ربیع د رسول الله ﷺ په سخرانو کښې ولې شمیر کړې شو.په دې کښې خو یو قول د نووی رحمه الله دي،او یو د ابن حجر رحمه الله دي.

نووی فرمائی:د"صهر" اطلاق په اقارب الزوجین باندې کیږی،او مصاهرَت مقارَبت بین المتباعدین ته وئیلې شی. په دې باندې د امام بخاری هم عمل دي.ځکه چې ابو العاص بن ربیع د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو خپلوان خو نهٔ وو.ولې صرف تر دې حده پورې چې د حضرت خدیجې رضی الله عنها خورئې(ابن الاخت)وو،ابن حجر رحمه الله دا ذکر کولو سره په دې باندې رد کړې دي.او وې فرمائیل،چې د ابو العاص دلته ذکر او په اصهارو کښې شمیر په دې بناء باندې نهٔ دي.چې هغه د حضرت خدیجې رضی الله عنها د خور ځوې دي،بلکه په دې بناء باندې دي،چې هغه د رسول الله ﷺ د لور خاوند وو.(۲)

لهذا دلته د دوی د ذکر کولو نه دا معلومیږی،چې په ځوم باندې هم د"صهر"اطلاق کیږی.

د زینب رضی الله عنها او ابو العاص رضی الله عنه نکاح او د هغوی بچی: د رسول الله ﷺ د لور سره د دوی د نکاح تفصیل دادي.حضرت زینب رضی الله عنها چې د رسول الله ﷺ د ټولو نه مشره لور وه،دې سره د ابو العاص نکاح د نبی علیه السلام د بعثت نه وړاندې اوشوه،بیا د بدر په موقع باندې ابو العاص هم د نورو مشرکانو په ملګرتیا کښې د مسلمانانو په لاس بندی شو،او حضرت زینب رضی الله عنها دې خلاص کړې دي.ولې رسول الله ﷺ دوی ته په دې شرط باندې آزادی ورکړه،چې دې به حضرت زینب رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته راستوی،هغوی دا شرط اومنلو،او بیا ئې پوره هم کړو،په حدیث باب کښې د نبی علیه السلام د ارشاد"ووعدني فوفى لي"هم دغه معنی ده.

بیا دویم واړې ابو العاص بندی شو،نو د رسول الله ﷺ لور هغه خلاص کړو،او هغه بیا مسلمان شو،نو رسول الله ﷺ حضرت زینب رضی الله عنها هغوی ته بیا په نکاح ورکړه،او بیا د

---

(۱) المستدرک علی الصحیحین للحاکم،ذکر إسلام امیر المؤمنین علی،رقم:۱۲۶۶۷

(۲) فتح الباری:۹،۱۱۰۷

هغوی رضی الله عنهما د خیتې نه امامه پیدا شوه، د هغې په حقله په حدیث کښې مذکور دی، چې رسول الله ﷺ به د مونځ په مینځ کښې پورته کوله.[1] همدغه شان ددې یو ځوې هم پیدا شوې وو. چې د هغهٔ نوم علی وو، او د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هغه مراهق وو، بیا وئیلې شی، چې هغه د رسول الله ﷺ په ژوند کښې وفات شو، او ابو العاص بن الربیع په ۱۲ هجرې کښې وفات شو.

د "منهم ابو العاص" وئیلو حکمت: امام بخاری رحمه الله "منهم أبو العاص" وئیلو سره په هغه خلقو تنقید یعنی رد اوکړو، چا چې د حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه په شان د دوی (یعنی د ابو العاص) د رسول الله ﷺ د زوم کیدو نه انکار کړې دې، یا د دوی ذکر ئې د رسول الله ﷺ په زومانو کښې نهٔ دې کړې، حال دادې چې دې هم د رسول الله ﷺ په زومانو کښې دې، او مسلمان شوې هم دې، ددې دریؤ حضراتو نه علاوه د رسول الله ﷺ لوریانې د چا په نکاح کښې نهٔ دی راغلې، ما سوا د ابو لهب د ځوی نه، چې د هغهٔ نکاح د حضرت زینب رضی الله عنها سره شوې وه، ولې د صحبت نه وړاندې د هغهٔ پلار ددې د پریښودو اووئیل، او هغهٔ پریښوده هم، بیا حضرت عثمان رضی الله عنه هغې سره نکاح اوکړه، او ام کلثوم سره هم د حضرت عثمان رضی الله عنه نکاح شوی وه، د دریمې لور حضرت زینب رضی الله عنها نکاح ابو العاص سره اوشوه، او د څلورمې لور فاطمة الزهراء نکاح د حضرت علی (کرم الله وجهه) سره.

دلته ددې باب لاندې امام بخاری رحمه الله صرف ددې حضراتو ذکر کړې دې، چا سره چې رسول الله ﷺ د خپلو لونړو نکاحونه اوکړل، او تر کومې پورې چې د هغوی تعلق دې، کوم ځائې کښې چې د رسول الله ﷺ نکاحونه اوشو، یعنی د هغوی ﷺ سخرګنئ، نو د هغوی ذکر دلته مقصود نهٔ دې.[2]

٣٥٢٣[3] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ قَالَ إِنَّ عَلِيًّا خَطَبَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ، فَسَمِعَتْ بِذَلِكَ فَاطِمَةُ، فَأَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَتْ يَزْعُمُ قَوْمُكَ أَنَّكَ لاَ تَغْضَبُ لِبَنَاتِكَ، هَذَا عَلِيٌّ نَاكِحٌ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَسَمِعْتُهُ حِينَ تَشَهَّدَ يَقُولُ «أَمَّا بَعْدُ أَنْكَحْتُ أَبَا الْعَاصِ بْنَ الرَّبِيعِ، فَحَدَّثَنِي وَصَدَقَنِي، وَإِنَّ فَاطِمَةَ بَضْعَةٌ مِنِّي، وَإِنِّي أَكْرَهُ أَنْ يَسُوءَهَا، وَاللَّهِ لاَ تَجْتَمِعُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَبِنْتُ عَدُوِّ اللَّهِ عِنْدَ رَجُلٍ وَاحِدٍ». فَتَرَكَ عَلِيٌّ الْخِطْبَةَ. وَزَادَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَلِيٍّ عَنْ مِسْوَرٍ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَذَكَرَ صِهْرًا لَهُ مِنْ بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ فَأَثْنَى عَلَيْهِ فِي مُصَاهَرَتِهِ إِيَّاهُ فَأَحْسَنَ قَالَ «حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي، وَوَعَدَنِي فَوَفَى لِي». [ر: ٨٨٤]

---

[1] المؤطا باب جامع الصلاة، رقم: ٤١٠، وصحيح البخاری، باب إذا حمل جارية صغيرة: ١٥١٦

[2] فتح الباری: ٩، ١١٠٨

[3] الحديث سبق تخريجه فی كتاب الجمعة، باب من قال فی الخطبة، "أما بعد"، رقم: ٩٢٦

رجال الحديث

أبُو اليَمَانِ: دا ابو اليمان الحكم بن نافع بهرانی حمصی دي،ددۀ احوال د کتاب بدء الوحی،الحديث السادس لاندي تير شوی دی۔[1]

شُعَيْبٌ: دا شعيب ابو البشر ابن أبی حمزة القرشی الاموی دي،ددۀ حالات د کتاب بدء الوحی،الحديث السادس لاندي تير شوی دی۔[2]

اَلزُّهْرِيّ: دا ابن شهاب الزهری دي،ددۀ احوال د کتاب بدء الوحی،الحديث الثالث لاندي تير شوی دی۔[3]

عَلِيُّ ابْنُ حُسَيْنٍ: دا علی بن الحسين بن علی زين العابدين دي،ددۀ احوال د کتاب الجمعة، باب "من قال فی الخطبة بعد العشاء.....أما بعد" لاندي تير شوی دی۔[4]

اَلْمِسْوَرَ بْنُ مَخْرَمَةَ: د رسول الله ﷺ صحابی دي،ددۀ احوال د کتاب الوضوء،باب "استعمال فَضل وضوء الناس" لاندي تير شوی دی۔[5]

حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضرت فاطمي رضی اللہ عنہا د پاسه د ابو جهل لور سره ولي نکاح کوله: إِنَّ عَلِيًّا خَطَبَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ.....حضرت علی رضی اللہ عنہ کيدي شی د عموم جواز په وجه باندي د ابو جهل لور ته د نکاح پيغام ورکړي وی.او دلته معامله د رسول الله ﷺ د لور وه،او نبکاره خبره ده د رسول الله ﷺ ځانګړي حقوق او ځانګړي مقام او امتيازی خصوصيات دی۔

نو رسول الله ﷺ راتلو سره خطبه ارشاد اوفرمائيله،او په هغي خطبه کښي ئي ددي اظهار اوفرمائيلو.په هغي کښي ئي يوه خبره خو دا اوفرمائيله،چي د الله تعالی د نبی او د الله تعالی د دښمن لورياني يو ځائي د يو سړی په نکاح کښي نۀ شی جمع کيدي،په دي وجه کۀ علی.د بنت عدو الله يعنی د ابو جهل لور سره په نکاح کولو باندي مصر وی،چي فی نفسه جائز دد.نو بنت رسول الله دي پريږدی۔

دويمه خبره ئي دا اوفرمائيله.چي فاطمه رضی اللہ عنہا د رسول الله ﷺ د زړۀ تکړه ده،او هغي ته به په بني (ضرة) سره تکليف وی،او د هغي په تکليف سره به رسول الله ﷺ ته هم تکليف وی،چي د حضرت علی رضی اللہ عنہ په حق کښي ډير زيات د نقصان خبره ده،او دلته خو معامله د رسول الله ﷺ

---

[1] کشف الباری:۱.۱۴۷۹

[2] کشف الباری:۱.۱۴۸۰

[3] کشف الباری:۱.۱۳۲۶

[4] اوګوری حديث:۱۹۲۹

[5] صحيح البخاری،کتاب الوضوء،حديث:۱۱۸۹

د لور وه،په دې وجه رسول الله ﷺ خطبه ارشاد فرمائیلو سره تولو ته اووئیل،چې د رسول الله ﷺ د لوریانو معامله علی سبیل الایجاب یا علی سبیل الاولویة داده،چې د هغوی د پاسه بل چا سره نکاح اونهٔ کړي شی،حضرت علی رضی الله عنه وراندې ددې علم یا ددې د حساسیت اندازه نهٔ وه،او کله چې معلومه شوه،نو هغوی رضی الله عنهما دا(یعنې ده دویمې نکاح اراده)پریښوده.

د حدیث د موضوعی کړځولو تردید: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی،شریف مرتضٰی ددې نکتې نه د نهٔ خبریدو په وجه وئیلی دی،چې دا حدیث موضوعی دې،او د حضرت علی رضی الله عنه د ارخ نه داسې څهٔ واقعه وراندې نهٔ ده راغلې،او د موضوعی کیدو وجه ئې دا اوښودله،چې دا حدیث مسور بن مخرمه رضی الله عنه روایت کړې دې،چې د حضرت علی رضی الله عنه د مخالفینو نه وو،او یا دا واقعهَ د ابن الزبیر رضی الله عنه په روایت سره منقول ده،او دې خو د حضرت علی رضی الله عنه د مسور نه هم زیات مخالف وو.

د مرتضٰی دا خبره په دې وجه صحیح نهٔ ده،او أصحابو د صحاحو ددې حدیث په تخریج باندې اتفاق کړې دې.[1]

قوله: هَذَا عَلِيٌّ نَاكِحٌ.....: د طبرانی روایت دې،هم د ابو الیمان نه،په هغې کښې "هذا علی ناکحًا" په نصب سره راغلې دې.[2]

دغه شان د مسلم په روایت کښې هم "ناکحًا" منصوب راغلې دې.[3]

حضرت علی رضی الله عنه "ناکح" وئیلې شوی دی،حال دادې چې هغوی نکاح نهٔ وه کړې،ولې د نکاح قصد او اراده ئې کړې وه،په دې وجه د ما یؤول په اعتبار سره په هغوی باندې د ناکح اطلاق اوکړې شو.[4]

د بنت ابی جهل نوم: د ابو جهل د مذکوره لور نوم څهٔ وو،په دې کښې د شارحینِ حدیثو ګڼ شمیر اقوال دی.

یو قول دادې.چې ددې نوم جویریه وو،دا قول حاکم په "الإکلیل" کښې ذکر کړې دې،او هم دا زیات مشهور دې. بعضې حضراتو "عوراء" نوم نقل کړې دې،بعضو "حنفاء" یا "حیفاء" بعضو "جرهمه" او بعضو "جمیله" ذکر کړې دې،هغې سره په نکاح کونکی کښې یو قول خو دادې،چې دې نه ورسته هغې سره بیا عتاب بن اُسید نکاح اوکړه،او یو قول دادې،چې د ابو جهل د کومې لور نوم صفیه ذکر شوې دې،هغې سره سهل بن عمرو نکاح کړې وه،ابن السکت

---

[1] فتح الباری:۹،۱۱۰۸

[2] المعجم الکبیر ۱۴،۴۰۵،(۱۶۴۴۹)

[3] صحیح مسلم،کتاب الفضائل،باب،من فضائل فاطمة بنت الرسول،رقم:۶۳۱۰

[4] فتح الباری:۹،۱۱۰۸

وغیره وائی هغه همدغه نښځه ده۔[1]
نو ګویا د ابو جهل همدغه لور وه، کومې سره چې حضرت علی رضی اللہ عنہ نکاح کول غوښتل، او بیا ورسته هغې سره نکاح کونکې یا عتاب بن اُسید دې، او یا سهل بن عمرو۔

قوله: حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي: ددې جملې مطلب بیانولو سره ابن حجر العسقلانی رحمہ اللہ فرمائی، چې کیدې شی ابو العاص رضی اللہ عنہ پخپله دا پابندی په ځان لګولې وه، چې زهٔ به په زینب بنت الرسول باندې چا سره هم نکاح نهٔ کوم، او همدغه شان حضرت علی رضی اللہ عنہ هم په دې شرط د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا سره نکاح کړې وه، ولې د هغوی نه بیا دا شرط هیر شوې وو، په دې وجه ئې د ابو جهل د لور سره د نکاح خواهش بنکاره کړې وو، او یا شرط خو ئې نهٔ وو لګولې، ولې هسې ئې د هغې خیال ساتل غوښتل، او کله چې ئې خیال اونهٔ ساتلو نو د عتاب لاندې راغې۔[2]

رسول الله ﷺ د عادت خلاف حضرت علی رضی اللہ عنہ ته ولې دومره سختې خبرې اوکړې؟: د رسول الله ﷺ په نظر کښې چې څنګه د خپلې لور حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا لوئې مقام وو، نو حضرت علی رضی اللہ عنہ هم د هغوی ﷺ له مخې څهٔ کم نهٔ وو، او هسې هم د حضرت علی رضی اللہ عنہ لوئې شان معروف او مُسلّم دې، نو بیا رسول الله ﷺ هغوی ته دومره سختې خبرې ولې اوکړې، او د رسول الله ﷺ عادت هم د نامې اخستلو سره مخاطب کولو سره د سختو خبرو کولو نهٔ وو..؟
شارحین فرمائی اصل کښې په دغه وخت کښې د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا حالت داسې وو، چې د هغې مور او خوریانې تولې وفات شوې وې، ځکه چې دا د فتح مکې نه ورسته واقعه ده، په دې وخت کښې حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا ډیره حساسه شوې وه، او کهٔ په دې حالت کښې په هغې باندې بنه هم راوستې شوې وې، نو په دې سره هغې ته د حد نه زیات تکلیف رسیدلو، په دې وجه رسول الله ﷺ د هغې د اکرام او د زړهٔ د خیال ساتلو د پاره دا طریقه اختیار کړه۔[3]

او محبّ طبری وائی، چې د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره د "(ما اٰتٰکم الرسول فخذوه وما نهٰکم عنه فانتهوا)" له مخې د فاطمې رضی اللہ عنہا په ژوند کښې بل چا سره نکاح جائز نهٔ وه، او یو قول دادې، چې په بنات النبی باندې دویم نکاح کول حرام دی۔[4] او چې ددې سره سره حضرت علی رضی اللہ عنہ دویمه نکاح کوله، نو رسول الله ﷺ به خامخه هغوی ته سختې خبرې کولې۔

قوله: وَزَادَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ: د محمد بن عمرو بن حلحله الدیلی احوال د کتاب الأذان، باب "سنة الجلوس فی التشهد" حدیث رقم (۸۲۸) لاندې تیر شوی دی۔

---

[1] فتح الباری: ۹/۱۱۰۸
[2] فتح الباری: ۹/۱۱۰۸
[3] فتح الباری: ۹/۱۱۰۸
[4] إرشاد الساری: ۸/۱۲۱۹

دا حدیث موصولاً د کتاب فرض الخمس په اول کښې تیر شوې دې۔[1]
د بنو عبد شمس نه مراد ابو العاص دې،څنګه چې اُوس د هغوی سلسلهٔ نسب بیان شوې ده،هغوی د شمس بن عبد مناف سره تعلق لری۔

د "فرض الخمس" د مذکوره حدیث نه دا هم معلومیږی،رسول الله ﷺ چې حضرت علی رضی الله عنه د دویمې نکاح نه منع کړې وو،داصرف په هغوی باندې دشفقت اودهغوی د دین خاطره وو۔[2]

١٧-باب: مَنَاقِبُ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ مَوْلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

وَقَالَ الْبَرَاءُ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- «أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلاَنَا». [ر: ٢٥٥٢]

د زید بن حارثه نسب او رسول الله ﷺ ته د راتلو قیصه: د زید بن حارثه بن شرحبیل بن کعب بن عبد العزیٰ الکلبی تعلق د قبیله بنی کلب سره دې،د جاهلیت په زمانه کښې بندی کیدو سره غلام جوړ کړې شوی وو،بیا حکیم بن حزام دې د خپلې پیپو(اخت الاب)حضرت خدیجې رضی الله عنها د پاره واخستو،او ورستو بیا د حضرت خدیجې رضی الله عنها نه رسول الله ﷺ اوغوښتلو، نو هغې دې رسول الله ﷺ ته هبه کړو۔[3]
او یو قول دادې،چې د زید مور دې خپل ځان سره کړو او د خپلو رشته دارو ملاقات ته وتلی وو،چې څو ډاکوانو دې د هغې نه اغواء کړو (اوتختوؤ)،او عکاظ بازار ته راتلو سره ئې په دوی باندې بولی اولګوله،نو حکیم بن حزام دې په څلور سوه درهم باندې واخستو،د دوی (حضرت زید) عمر په دغه وخت کښې اتهٔ کاله وو۔[4]
بیا د دوی د کور خلقو ته پته اولګیده،هغوی د لیدو د پاره مکې مکرمې ته د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل،او کله چې ئې دلته خپل ځوې اولیدو،نو رسول الله ﷺ ته ئې خواست اوکړو،چې تاسو فدیه واخلې او دې مونږ ته حواله کړې،رسول الله ﷺ هغوی ته د خپل پلار او ترهٔ سره د تلو او یا رسول الله ﷺ سره د پاتې کیدو اختیار ورکړو،زید په حیرانه کونکې توګه باندې خپل پلار سره د تلو نه انکار اوکړو،او رسول الله ﷺ سره پاتې کیدو ته ئې ترجیح ورکړه،ابن منده په "معرفة الصحابة" کښې د زید بن حارثه د آل بیتو په حوالې سره روایت ذکر کړې دې،چې حارثه(یعنی د زید پلار)هم په دغه ورځ اسلام قبول کړو۔[5]
او ترمذی رحمه الله د جبلة بن حارثه په طریقې سره نقل کړی دی،چې جبله رسول الله ﷺ ته اووئیل: یا رسول الله! "ابعث معی أخی زیدًا" ای د الله تعالیٰ رسوله! زما ورور ما سره اولیږه۔

---

[1] کتاب فرض الخمس،رقم:٣١١٠،باب ما ذکر من درع النبی وعصاه وسیفه.....١
[2] اوګورئ کتاب فرض الخمس،رقم:٣١١٠١
[3] فتح الباری:٩،١١٠٩١
[4] عمدة القاری:١٦،٢٣١،شرح الکرمانی:١٥،١١٢١
[5] فتح الباری:٩،١١٩١١

رسول الله ﷺ اوفرمائيل، "هوذا فإن انطلق معك لم أمنعه". هغه دادي اكۀ تاسو سره تلل غواړى، نو زۀ ئې نۀ منع كووم، په دې باندې زيد اووئيل، "يا رسول الله! والله لا أختار عليك أحداً" اې د الله تعالى رسوله ! زۀ په تاسو باندې چا له هم ترجيح نۀ شم وركولې.

جَبَله وائى: "فرأيت رأى أخى أفضل من رأيي".(١)

ما د خپل ورور رائې په خپله رائې باندې غوره اوګڼله.

قوله: أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلاَنَا.....: داروايت په كتاب المغازى، باب عمرة القضاء كښې موصولاً مذكور دي.(٢)

٣٥٢٤(٣) حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ بَعَثَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - بَعْثًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، فَطَعَنَ بَعْضُ النَّاسِ فِي إِمَارَتِهِ، فَقَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - « إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ، وَايْمُ اللَّهِ، إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلإِمَارَةِ، وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَى، وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَى بَعْدَهُ». [٤٠٠٤، ٤١٩٨، ٤١٩٩، ٦٢٥٢، ٦٧٦٤]

رجال الحديث

خَالِدُ بنُ مخلَد: دا خالد بن مخلد ابو الهيثم البجلى القَطوانى دي، ددۀ احوال د كتاب العلم، باب "طرح الإمام المسألة على أصحابه ليختبر ما عندهم من العلم" لاندې تيره شوې ده.(٤)

سُلَيْمَانُ: دا سليمان بن بلال قرشى تيمى دي، ددۀ احوال هم د دغې كتاب العلم باب "طرح الإمام المسألة على أصحابه" لاندې تير شوى دى.(٥)

---

(١) حديث: ١٣٢٥١

(٢) جامع الترمذى، كتاب المناقب، باب مناقب زيد بن حارثه، رقم: ١٣٨١٥

(٣) الحديث أخرجه البخارى أيضًا فى صحيحه فى كتاب المغازى، باب غزوة زيد بن حارثه، رقم: ٤٢٥٠، وفى باب بعث النبى أسامة بن زيد ﷺ فى مرضه الذى توفى فيه، رقم: ٤٤٦٩، ٤٤٦٨، وفى باب الأيمان والنذور، باب قول النبى ﷺ "وأيم الله" رقم: ٦٦٢٧، و كتاب الأحكام، باب من لم يكترث بطعن مَن لا يعلم فى الأمراء حديثاً، رقم: ٧١٨٧، وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الفضائل، باب من فضائل زيد بن حارثة، رقم: ٦٢٦٥، ٦٢٦٤، والترمذى فى جامعه، كتاب المناقب، باب مناقب زيد بن حارثة، رقم: ٣٨١٦، والنسائى فى السنن الكبرىٰ، باب مناقب زيد بن حارثه، رقم: ٨١٨١، ٨١٥٢، ١٤٧٠١

(٤) كشف البارى: ١١٣٥،٣

(٥) كشف البارى: ١١٣٥،٣

عَبْدُ اللهِ بْنِ دِينَارٍ: دا عبد الله بن دينار قرشی عدوی مدنی دي،ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "قول المحدث حدثنا أو أخبرنا او نبانا" لاندې تير شوی دی.[1]

عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: صحابی ابن صحابی رسول الله ﷺ دي،د دوی احوال د کتاب الإيمان، باب "الإيمان وقول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس" لاندې تير شوی دی.[2]

د اسامه د لښکر څۀ تفصیل: بعث النبی بعثًا نه مراد د اسامه بن زيد هغه لښکر دي. چې د هغې رسول الله ﷺ په خپل مرض الوفات کښې د شنبې په ورځ يا دپنج شنبې په ورځ حکم ورکړو. ابن اسحاق په خپل سيرت کښې دا په تفصيل سره ذکر کړې دی،په هغې کښې د رسول الله ﷺ دا الفاظ منقول دی: "أغزِ ی سبيل الله وسر إلى موضع مقتل أبيك فقد وليتك هذا الجيش".[3]

اسامه بن زيد د دې لښکر امير جوړولو باندې بعضې خلقو اعتراض اوکړو.

حافظ ابن حجر رحمه الله په مغازی کښې ذکر کړی دی،چې د اعتراض کونکی نوم عياش بن أبی ربيعه دي،او کله چې هغۀ اعتراض اوکړو،نو حضرت عمر رضی الله عنه هغه رد کړو،او بيا ئې رسول الله ﷺ ته اووئيل،رسول الله ﷺ د مرض الوفات په سختئ کښې وو،ولې ددې لښکر د حد درجې اهميت په بناء باندې هغوی ﷺ اوفرمائيل، "انفذوا بعث أسامة" د اسامه لښکر اُولیږئ او بيا د رسول الله ﷺ د وفات نه ورسټو د هغوی خليفه سيدنا صديق اکبر رضی الله عنه د ټولو نامساعدو حالاتو سره سره د ټولو نه اولنې کار دا اوکړو،چې د اُسامه لښکر ئې اُولیږلو.[4]

د حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه په امارت باندې اعتراض: "إن تطعنوا في إمارته فقد كنتم تطعنون في إمارة أبيه....." وئيلو سره رسول الله ﷺ د حضرت اسامه او د هغوی د پلار دواړو اهميت بيان اوفرمائيلو،او دا هم چې د دواړو په امارت باندې خلقو اعتراض اوکړو،ولې دا اعتراض بې ځايه دي.

د حضرت زيد بن حارثه کوم امارت ته چې په دې ځائې کښې اشاره ده،(چې په هغې خلقو اعتراض کړې وو)دې نه په غزوۀ موته کښې د هغوی امارت مراد دي.[5]

د مولی او مفضول د امارت جواز: د حضرت زيد بن حارثه او د هغوی د ځوې حضرت اسامه رضی الله عنهما د امارت نه دا هم معلومه شوه،چې مولی(يعنی آزاد کړې شوې غلام)او مفضول د احرارو او افضل په موجودګئ کښې هم امير جوړول جائز دی،ځکه چې په رواياتو کښې راغلې دی،چې د اسامه په لښکر کښې حضرت ابوبکر،عمر رضی الله عنهما او نور اکابر صحابۀ کرام

---

[1] کشف الباری:٣،١١٢٥

[2] کشف الباری:١،٦٣٧

[3] فتح الباری:٨،١١٩١

[4] فتح الباری:٨،١١٩١

[5] فتح الباری:٨،١١٩٠

هم موجود وو ،ښکاره خبره ده چې مامورین وو ۔[۱]
او کرمانی وائی، چې صغیر په کبیر باندې هم د څۀ مصلحت په وجه باندې امیر جوړول ددې حدیث له مخې جائز دی ۔[۲]
زید بن حارثه د رسول الله ﷺ مولی او متبنّی وو ،د دوی نکاح رسول الله ﷺ د خپلې پالنه کونکې اُمِ ایمن رضی اللہ عنہا سره کړې وه،او هم ددې نه د هغوی ځوې اسامه پیدا شو ،دا زید بن حارثه،واحد هغۀ صحابی دې، چې د دوی په قرآن پاك کښې په نوم سره ذکر موجود دې ۔[۳]
دې په غزوۀ موته کښې شهید شوې دې،او د حضرت اسامه رضی اللہ عنہ په ۵۴ هجری په "وادی القرای" مدینه منوره کښې انتقال اوشو ۔[۴]
ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت ښکاره دې۔
د زید رضی اللہ عنہ او اسامه رضی اللہ عنہ په امارت باندې د اعتراض وجه او د هغوی په امارت کښې حکمت: د لفظ طعن متعلق کرمانی وائی:

"یقال طعَن بالرُّمح والید یطعن بالضم وطعَن فی العرض والنسب یطعن بالفتح، وقیل هما لغتان فیهما"۔[۵]
یعنی د طعن بضم العین فی المضارع معنٰی ده،په نیزې یا لاس سره وهل،او د طعن بفتح العین فی المضارع معنٰی ده،د چا نسب یا عزت ننبه جوړول،او یو قول دادې چې طعن بالضم او بالفتح د دواړو معنٰی په نیزې سره وهل هم ده،او نسب ننبه جوړول هم۔
ښکارد خبره ده دلته دویمه معنٰی مراد ده،ځکه چې خلقو د حضرت زید رضی اللہ عنہ شخصیت او خاندانی حیثیت د تنقید ننبه جوړه کړه،نۀ چې د توري او نیزې ننبه۔
اُوس پاتې شوه دا خبره چې داسې ولې اوشو ،چې په زید رضی اللہ عنہ باندې هم اعتراض اوشو ،او د هغوی په ځوې باندې هم،او د رسول الله ﷺ په نظر کښې هم هغه ددې مستحق وو ۔
د تورپشتی فاضلانه بحث: په دې باندې شارح د مصابیح حسن تورپشتی ډیر فاضلانه بحث فرمائیلې دې،وائی:

"إنما طعَن من طعَن فی إمارتها، لأنها کانا من الموالی، وکانت العرب لا تری تأمیر الموالی وتستنکف من اتباعهم کلَّ الاستنکاف، فلما جاء الله بالإسلام ورفع قدر مَن لم یکن له عندهم قدرٌ بالسابقة والهجرة والعلم والتقوٰی، عرف حقهم المحفوظون من أهل الدین وأما المرتهنون بالعادة والممتحنون بحب الرئاسة من الأعراب ورؤساء القبائل فلم یزل یختلج فی صدورهم شئ من ذلك لا سیما أهل النفاق فإنهم کانوا یسارعون إلی الطعن

---

[۱] فتح الباری:۹،۱۱۱۰
[۲] شرح الکرمانی:۱۵،۱۱۲
[۳] عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۱
[۴] فتح الباری:۹،۱۱۰۹
[۵] شرح الکرمانی:۱۵،۱۱۲

وشدة النكير عليه وكان رسول الله قد بعث زيدَ بن حارثة رضي الله عنه أميراً على عدة سرايا وأعظمها جيش موتة وسار تحت رايته فى تلك الغزوة نُجباء الصحابة، منهم جعفر بن أبى طالب، وكان خليقا بذالك لسوابقه وفضله وقربه مِن رسول الله ﷺ- ثم كان يبعث أسامة وقد أمّره فى مرضه على جيش فيهم جماعة من مشيخة الصحابة وفضلائهم وكأنه رأى فى ذلك- سوى ما توسّم فيه من النجابة- أن يمهّد الأمر ويوطّئه لِمَن يلى الأمر بعده، لئلا ينزع أحد يداً من الطاعة وليعلم كلٌّ منهم أن العادات الجاهلية قد عميت مسالكها وخفيت معالمها". (١)

د زيد او اسامه رضي الله عنهما په امارت باندې طعن کونکو په دې وجه طعن اوکړو، چې دا دواړه د "موالى" نه وو، او عرب د موالى (يعنى د آزاد کړې شوې غلام، يا بالفعل غلام) د امير جوړيدلو قائل نه وو، او د داسې خلقو اتباع به ئې ډير شرم ګڼلو، کله چې الله تعالى اسلام راوليږلو، او چې څوک د هغوى له مخې بې قدره وو، د اسلام په قبلولو کښې په وړاندى والى، هجرت، علم او تقوى باندې ئې د هغوى قدر زيات کړو، نو معتبرو ديندارو د هغوى حقوق اوپيژندل، او څوک چې د عاداتو غلامان او د مشرئ او سردارئ خوښونکى او ددې په محبت کښې راګير باندې چيان او د قبيلو سرداران وو، د هغوى په زړونو کښې په دې حوالې سره تر اوسه پورې يوه خبره پاتې وه، بيا په خاصه توګه منافقان، چې هغوى به په دې طعن او ګډوډ وډو خبرو او په سخت انکار کولو کښې ډير د تُندئ اظهار کولو.

او زيد بن حارثه رضي الله عنهما رسول الله ﷺ په څو غزواتو کښې امير جوړ کړو، چې په هغې کښې د تولو نه لويه غزوۀ موته ده، په دې غزوه کښې د حضرت زيد رضي الله عنه د بيرغ (جهنډې) لاندې لوئې لوئې کمندانانو صحابۀ کرامو رضي الله عنهم برخه واخسته، لکه جعفر طيار رضي الله عنه او نور صحابۀ کرام رضي الله عنهم. او حضرت زيد چې امير جوړ کړې شو، هغه خو د خپلو فضائلو، امتيازاتو او رسول الله ﷺ سره د قربت په وجه ددې مستحق هم وو، دې نه ورسته بيا هغوى ﷺ حضرت اسامه رضي الله عنه ليږلو، نو په مرض الوفات کښې رسول الله ﷺ دې د يو داسې لښکر امير جوړ کړو، چې په هغې کښې څو اکابر صحابۀ کرام رضي الله عنهم موجود وو، ددې يوه وجه په حضرت اسامه کښې د کمندانئ آثارو ليدو نه علاوه دا هم وه، چې رسول الله ﷺ د خپل ځان نه ورسته جوړيدونکى ولى الامر د پاره يو قسم لار هم صفا کوله، ځکه چې د هغۀ (يعنى د ورسته راتلونکى خليفه) د اطاعت نه هر چا لاس بهر کولې شو، نو د هغوى ﷺ په دې عمل سره مقصود دا وو، چې ټول خلق په دې پوهه شى، چې د جاهليت د عادتونو او رسمونو والا طبيعت ختم شو، او د هغې آثار او نښې ختمې شوې.

قوله: إِنْ تطعنُوا فِي إِمَارَتِهِ: طيبى فرمائى، دلته په شرط باندې د جزاء ترتب د تنبيه او توبيخ په تاويل باندې دې، او تقدير د عبارت داسې دې:

"طعنكم الآن فيه سبب لأن أخبركم أن ذلك عن عادة الجاهلية وهجيراهم ومن ذلك طعنكم فى أبيه".

---

(١) كتاب الميسر: ٤، ١١٣٣٥

اودا به هم هغسې وى لكه څنګه چې دالله تعالى ارشاد "إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ" دي[1]

قوله: إِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ: د ابن مالك په اصل كښې د "لَمِن احب" لام ساقط شوې دي، او ددې لام د ساقط كيدو وجه ئې دا بنودلې ده، چې دا إن مخففه متروكة العمل دي، ددې مابعد د عدم ضرورت په وجه د لام فارقة بين أن المخففة وأن النافية نه خالى دي، ددې تفصيل دادي، چې "إن" چې كله د مثقله (مشدده) نه مخففه كيږى، نو هغۀ لفظًا د "إن" نافيه په شان شى، بيا كله چې دا "إن" مخففه عمل نۀ كوى، نو په "إن للإثبات" او "إن نافيه" كښې د ګډوډۍ والى ويره وه، په دې وجه اهل فن ددې نه ورستو د لام تاكيد د راوړلو التزام اوكړو، دې د پاره چې په دې سره په إن للإثبات اوإن نافيه كښې فرق راشى، خو ښكاره خبره ده، چې دا به په هغه وخت كښې كيږى، كله چې د إن په كلمه كښې دواړه احتمالات وى، او په دواړو كښې هر يو په معنى باندې حمل ممكن وى، لكه "إن علمتك لفاضلاً" دلته لام لازم دي، ځكه چې "إن متروكة العمل" دي، او په دې مقام كښې د نفى احتمال موجود دي، نو تر كومې پورې چې لام نۀ وى، نو د اثبات معنى به متيقنه نۀ وى، او چرته چې د نفى صلاحيت نۀ وى، نو لام راوړل او ددې خلاف كول دواړه به جائز وى، او ددې لام د حذف مثال دي، د حضرت عائشې رضي الله عنها قول دي: "إن كان رسول الله يعشّنا ومالنا طعام إلا السلف من التمر".[2]

٣٥٢٥[3] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ دَخَلَ عَلَىَّ قَائِفٌ وَالنَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - شَاهِدٌ، وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ مُضْطَجِعَانِ، فَقَالَ إِنَّ هَذِهِ الأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ. قَالَ فَسُرَّ بِذَلِكَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَأَعْجَبَهُ، فَأَخْبَرَ بِهِ عَائِشَةَ. [ر: ٣٣٦٢]

رجال الحديث

يَحيَى بنُ قَزَعَةَ: دا يحيى بن قزعة المكى القرشى الموذن دي، ددۀ احوال د كتاب الأذان، باب "صلاة النساء خلف الرجال" لاندې تير شوى دى.

إبراهيم بنُ سَعْدٍ: دا إبراهيم بن سعد بن إبراهيم بن عبد الرحمٰن دي، دده احوال د كتاب العلم،

---

[1] سورة يوسف: ١٧٧

[2] شرح الطيبى: ١١، ٢٩٦، إرشاد السارى: ٨، ١٢٢١

[3] سبق تخريجه فى كتاب المناقب، باب صفة النبى، رقم: ١٣٥٥

باب "ما ذکر فی ذهاب موسی فی البحر إلی الخضر" لاندې تیر شوی دی۔[1]

اَلزُّهْرِیّ: دا محمد بن مسلم بن شهاب الزهری دي، ددۀ احوال د کتاب بدء الوحی، الحدیث الثالث لاندې تیر شوی دی۔[2]

عُرْوَۃَ: عروه بن الزبیر بن العوام مراد دي، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "حسن إسلام المرء" لاندې تیر شوی دی۔[3]

قوله: دَخَلَ عَلَیَّ قَائِفٌ: قائف قیافه شناس(قیافه پیژندونکی)ته وئیلې شی، شارحین وائی: "الذی یلحق الفروع بالأصول بالشبه والعلامات" څوک چې مشابهت او علاماتو کتلو سره اصول د فروعو سره ملاووی۔[4]

قائف څوک وو؟: دلته د قائف نه مراد د نبی علیه السلام د زمانې مشهور قیافه شناس مجزز بن الاعور بن جعدة بن معاذ بن عتوارة بن عمر بن مدلج الکنانی المدلجی دي، د مجزز متعلق د بعضې حضراتو قول دي، چې دا بفتح الزاء الأولی دي، ولې راجح دادي، چې دا بکسر الزاء د اسم فاعل صیغه ده، او حافظ ابن حجر د مصعب الزبیری او واقدی په حوالې سره نقل کړی دی، چې دۀ ته مجزز په دې وجه وئیلې شی چې:

"کان إذا أخذ أسیرًا فی الجاهلیة جز ناصیته وأطلقه" د جاهلیت په زمانه کښې چې به دۀ څوک قیدی اونیسلو، نو د هغۀ د تندی ویښتان به ئې کټ کول، او بیا به ئې هغه پریښودو، ددې نه دا هم معلومیږی، چې ددۀ اصلی نوم مجزز نه، بل څۀ وو، دې د قیافې ماهر وو، او عرب ددې(بنی مدلج)او بنی اسد د قیافه شناسئ معترف او قائل وو، خو د صحیح قول مطابق دا قیافه شناسی د دوی سره خاص نۀ ده، د سعید بن المسیب رحمه الله نه د حضرت عمر رضی الله عنه په حقله دا هم منقول دی، چې هغوی قیافه شناس وو، او حال دادي چې هغوی نۀ مدلجی وو او نۀ اسدی۔[5]

د قیافې حیثیت او په ذکر شوي واقعې باندې د رسول الله ﷺ د خوشالئ وجه: د قیافې په شریعت اسلامیه کښې څۀ داسې فیصله کونکې حیثیت او د معتبر دلیل په شان حیثیت نۀ دي، ولې په اصل کښې دلته د حضرت اسامه بن زید رضی الله عنهما په نسب باندې به خلقو قسم قسم خبرې کولې، او دې د حضرت زید رضی الله عنه د څوی کیدو منلو ته تیار نۀ وو، ددې وجه دا وه، چې حضرت رضی الله عنه زید ډیر سور سپین وو، او حضرت اسامه رضی الله عنه ډیر زیات تور رنګ والا وو،

---

[1] کشف الباری:۳۳۳،۳

[2] کشف الباری:۳۲۶،۱

[3] کشف الباری:۴۳۶،۲

[4] بلفظ.....الذی یعرف الشبه ویمیز الأثر سمی بذلک لأنه یقفو الأشیاء أی یتبعها فکأنه مقلوب من القافی قال الأصمعی هو الذی یقفوا الأثر ویقتافه فقوا.فتح الباری:۶۶،۱۵

[5] فتح الباری:۶۶،۱۵

عبدالرزاق د علامه ابن سرین په طریقي سره نقل کوی،چې په اصل کښې د حضرت اسامه رضی الله عنه مور اُمِّ ایمن،چې د رسول الله ﷺ پالنه کونکې وه،د هغې رنګ تور وو،بلکه د ابن شهاب نه مروی دی،چې هغه حبشیه وه،چې د فیل په زمانه کښې بندی کیدو سره وینځه جوړه کړې شوی وه۔

یو قول دادې،چې هغه د عبد المطلب "صفیه" وه،چې هغه د رسول الله ﷺ والد حضرت عبد الله ته ورکړې وه۔

او اول ددې عبید الحبشی سره نکاح شوې وه،او د هغه نه ددې اَیمن لور پیدا شوې وه،بیا ورستو رسول الله ﷺ ددې نکاح د حضرت زید سره اوکړه، او د هغۀ نه ئې حضرت اسامه پیدا شو۔

خو قاضی عیاض په دې باندې نکیر فرمائیلې دې،د هغۀ وینا ده،چې کۀ د حضرت اسامه رضی الله عنه مور اُمِّ اَیمن توره وې،نو بیا به عربو د حضرت اسامه رضی الله عنه په نسب باندې اعتراض نۀ کولو،ځکه چې د سپین سړی د توري ښځې کله خو د پلار په شان سپین بچې پیدا شی،او کله د هغې په شان تور پیدا شی،په دې خبره عرب پوهیدل،او صرف د پلار رنګ د تور نۀ کیدو په صورت کښې داسې قسمه نامعقول اعتراض هغوی نۀ شو کولې،او کۀ کړې ئې هم وې،نو داسې بدیهی البطلان یعنی ښکاره غلطې خبرې ته به رسول الله ﷺ دومره اهمیت نۀ ورکولو،حافظ ابن حجر رحمه الله هم ددې تائید کولو سره وائی،کیدې شی چې د اُمِّ اَیمن رنګ صفا وو،او ددې د ځوی رنګ تور،ددې په وجه خلقو ته اعتراض شوی وی۔[1]

نو څنګه چې په مور پلار کښې د یو کس د توریدو په صورت کښې د بچی توریدل نامعقول نۀ دی،همدغه شان د دواړو د سپین کیدو په صورت کښې هم بچې توریدې شی،څنګه چې په کتاب اللعان کښې د یو سړی قیصه ده،هغۀ راتلو سره رسول الله ﷺ ته د شکایت په توګه اووئیل وُلد لی غلام أسود (زما تور ځوئې پیدا شوې دې)او رسول الله ﷺ په اُونښانو کښې د رنګونو د اختلاف ذکر اوکړو،او هغې سړی هم "لعل نزعه عرق"[2] وئیلو سره ددې د صحیح کیدو او د رنګونو د اختلاف سره سره ثبوتِ نسب اومنلو،او رسول الله ﷺ هم هغۀ ته اووئیل،"لعل ابنك هذا نزعه..."۔

خو په عامه توګه بچې په رنګ کښې د پلار تابع وی،څنګه چې دغې خلقو قاعده کلیه ګنړلو سره د حضرت اُسامه رضی الله عنه نسب ئې مطعون کړو،بغیر د نظر کولو نه د مور رنګ ته چې د هغې رنګ څنګه دې،رسول الله ﷺ په دې باندې خفه وو،او دا ئې غوښتل،چې داسې څۀ خبره پیدا شی،چې ددې خلقو خُلۀ بنده شی،او دوی د حضرت اُسامه رضی الله عنه په نسب باندې د

---

[1] فتح الباری:۱۵،۱۶۷

[2] صحیح البخاری،کتاب الطلاق،باب إذا عرض بنفی الولد،رقم:۵۳۰۵

اعتراض کولو نه منع شی.
د معتبر قیافه شناس په خبره باندې دوی(یعنی عربو)ته ډیر زیات اعتماد وو،چې الله کول نو داسې اوشو،چې مشهور قائف مجزز مدلجی رسول الله ﷺته راغې،اتفاقاً حضرت زید رضی الله عنه او د هغهٔ خوئی حضرت اُسامه دواړه یو خائې ملاست وو،د دوی مخونه پټ او خپې ئې ښکاره وې،مجزز اووئیل،چې په دې خپو کښې بعضې د بعضې نه دی،یعنی دا دواړه خپل مینځ کښې پلار او خوئی دی،کهٔ مخونه کتلو سره هغهٔ وئیلې وو،نو په دې کښې امکان شته،چې د چا طرف داری او ملګرتیا کوی،ولې په خپو کښې داسې څهٔ خبره نهٔ وه،په دې وجه رسول الله ﷺډیر زیات خوشاله شو،په دې وجه نه چې د قیافه شناس په خبره باندې د حضرت اُسامه رضی الله عنه نسب ثابت شو،بلکه په دې وجه چې اوګورئ ستاسو قائف هم اووئیل،اُوس به تاسو څهٔ وائې،او ښکاره خبره ده،چې دې د پاسه هغوی هیڅ هم نهٔ شو وئیلې،نو رسول الله ﷺبه خامخا ددې مشکل په حل کیدو باندې خوشالیدو.

د حضرت عائشې رضی الله عنها په موجودګئ کښې د قائف د راتلو توجیه: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، زما په موجودګئ کښې قائف راغې،ښکاره خبره ده چې هغه د رسول الله ﷺد پاره پرده وو،په دې وجه علماؤ ددې دا توجیه کړې ده،چې دا د پردې د حکم د نازلیدو نه د وړاندې واقعه ده،او یا حضرت عائشه رضی الله عنها موجود وه خو په پرده کښې وه.(۱)

او صاحب د لامع الدراری فرمائی:"دخل علیّ....."کښې مسامحه ده،او قائف رسول الله ﷺته جمات ته راغلې وو،او زید او اُسامه رضی الله عنهما هم په جمات کښې ملاست وو.(۲)

قوله: فَأَخْبَرَ بِهِ عَائِشَةَ رضی الله عنها: روایت د حضرت عائشې رضی الله عنها نه مروی دې،او هغوی رضی الله عنها فرمائی، چې دا واقعه زما وړاندې مخې ته راغله،بیا ددې څهٔ مطلب شو،چې رسول الله ﷺحضرت عائشې رضی الله عنهاته د مجزز خبره اوفرمائیله.
ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی،یو جواب دادې،چې رسول الله ﷺته معلومه نهٔ وه،چې حضرت عائشې رضی الله عنهاته پته شته،دویم جواب دادې،چې رسول الله ﷺته معلومه وه،چې حضرت عائشې رضی الله عنهاته پته شته،خو هغوی ﷺد تاکید په توګه اوفرمائیل،چې دا ډیره اهمه خبره وه،دریم جواب دادې،چې د رسول الله ﷺنه هیر شوی وو،چې حضرت عائشې رضی الله عنهاته پته شته،او نهٔ صرف دا چې پته ورته شته،بلکه هغې خو ددې مشاهده هم کړې ده.(۳)

ترجمة الباب سره مطابقت: ترجمة الباب سره د حدیث مطابقت واضح نهٔ دی،ځکه چې په دې کښې د حضرت زید رضی الله عنه د څهٔ منقبت او فضیلت ذکر نشته،خو شارحین فرمائی،چې مناسبت په"فَسُرَّ بذلك النبی ﷺ"کښې دی،یعنی د حضرت زید رضی الله عنه او د هغوی د خوی په حقله

---

(۱) إرشاد الساری:۸،۱۲۲۱
(۲) لامع الدرازی:۸،۱۱۸٤
(۳) عمدة القاری:۱۶،۱۲۳۲

د يو اعتراض او شك رفع كيدو باندې چې رسول الله ﷺ خوشاله شو،دا د رسول الله ﷺ په نظر كښې د هغوى د اهميت دليل دې،او هم دغه د هغوى منقبت دې۔[1]

١٨-باب: ذِكْرُ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضى الله عنه

٣٥٢٦[2] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَخْزُومِيَّةِ، فَقَالُوا مَنْ يَجْتَرِءُ عَلَيْهِ إِلاَّ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-.

رجال الحديث

قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ: دا شيخ الإسلام ابو رجاء قتيبة بن سعيد بن جميل الثقفى دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،باب إفشاء السلام من الإسلام لاندې تير شوى دى۔[3]

لَيْثٌ: دا ابو الحارث ليث بن سعد بن عبد الرحمٰن دي،ددۀ احوال د كتاب بدء الوحى،الحديث الثالث لاندې تير شوى دى۔[4]

الزُّهْرِىِّ: دا ابن شهاب زهرى دي،ددغې باب د لاندې ددۀ احوال هم تير شوى دى۔[5]

عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ،عائشة: د حضرت عروه بن الزبير او د حضرت عائشې رضی الله عنها احوال د كتاب بدء الوحى،الحديث الثانى لاندې تير شوى دى۔[6]

قوله: أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ: د أهمهم معنى ده،هغوى ئې په "هَم" كښې غورځول،يا ئې پريشان او فكر مند كړل۔

أهمني الأمر أى اقلقني دي كار زۀ بې قراره كړې يم۔[7]

د مخزومى نښځې غلا او د حضرت اُسامه رضی الله عنه د هغې د پاره شفارس: دا حديث په تفصيل سره په "كتاب الحدود" كښې راروان دي۔[8] او هم هلته به ددې تفصيلى تشريح هم راشى،دلته صرف په دومره خبره ځان پوهه كړئ،چې د قريشو يو شاخ بنى مخزوم سره تعلق لرونكى يوې نښځې چې د هغې نوم اكثرو حضراتو فاطمه بنت الاسود ذكر كړې دي،فاطمة بن الاسود

---

[1] عمدة القارى:١٦،٢٣٢.وإرشاد السارى:٨،٢٢١\

[2] الحديث قد سبق تخريجه فى كتاب الشهادات،باب شهادة القاذف والسارق والزانى.....\

[3] كشف البارى:٢،١٨٩\

[4] كشف البارى:١،٣٢٤\

[5] كشف البارى:١،٣٢٦\

[6] كشف البارى:١،٢٩١\

[7] فتح البارى:١٥،١٠٥\

[8] صحيح البخارى.كتاب الحدود،باب كراهية الشفاعة فى الحد،رقم:٦٧٨٨\

بن عبد الاسد بن عبد الله بن عمرو بن مخزوم، دا ابو سلمه بن عبد الاسد - د رسول الله ﷺ صحابی او سیده اُم سلمه رضی الله عنها د اولنی خاوند - وریره (بنت الاخ) وه.
دې بښځې د فتح مکې په وخت کښې کالی (سرۀ زر) پټ کړی وو، په دې باندې رسول الله ﷺ د هغې د لاس کټ کولو فیصله اوفرمائیله، د لاس کټ کیدلو (قطع ید) نه وړاندې قریش دې واقعې ډیر پریشانه کړی وو، او هغوی ددې مخزومی بښځې د بچ کولو ډیر کوشش اوکړو، رسول الله ﷺ سره پخپله خو هغوی خبره نۀ شوه کولې، ځکه چې رسول الله ﷺ به په حدودو کښې د هیڅ قسمه رعایت نۀ کولو، په دې وجه هغوی اُسامه بن زید رضی الله عنهما اوټاکلو، چې د رسول الله ﷺ محبوب وو، د دوی پلار زید رضی الله عنه هم د رسول الله ﷺ محبوب وو، او مور ئې د رسول الله ﷺ پالنه کونکې وه، د هغې په حقله رسول الله ﷺ تر دې پورې فرمائیلې وو، "هی اُمی بعد اُمی" زما د مور نه ورسته هغه زما (دویمه) مور ده.
اسامه رسول الله ﷺ ته شفارس اوکړو، نو هغوی ﷺ ډیر زیات غصه شو، او وې فرمائیل، چې آیا تۀ د الله تعالی په حدودو کښې ماته د قطع ید پریښودو خبره کوې؟
خو دومره خبره خامخا ثابته شوه، چې خلقو سفارش د پاره حضرت اُسامه اُټاکلو، ددې معنی دا شوه، چې د هغوی ﷺ په نظر کښې د دوی نه زیات خوږ او ګران هیڅ څوک هم نۀ وو. او دا د "حُبِّ رسول الله" الفاظ هم دا ښائی، چې هغوی د رسول الله ﷺ محبوب وو. [1]

[2] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ ذَهَبْتُ أَسْأَلُ الزُّهْرِيَّ عَنْ حَدِيثِ الْمَخْزُومِيَّةِ فَصَاحَ بِي، قُلْتُ لِسُفْيَانَ فَلَمْ تَحْتَمِلْهُ عَنْ أَحَدٍ قَالَ وَجَدْتُهُ فِي كِتَابٍ كَانَ كَتَبَهُ أَيُّوبُ بْنُ مُوسَى عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ - رضي الله عنها أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ سَرَقَتْ، فَقَالُوا مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَلَمْ يَجْتَرِئْ أَحَدٌ أَنْ يُكَلِّمَهُ، فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَقَالَ «إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَ إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ الضَّعِيفُ قَطَعُوهُ، لَوْ كَانَتْ فَاطِمَةُ لَقَطَعْتُ يَدَهَا». [ر: ۲۵۰۵]

رجال الحديث

عَلِيٌّ: دا علی بن عبد الله بن جعفر بن نجیح سعدی (ابن المدینی) دې، ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "الفهم فی العلم" لاندې تیر شوی دی. [3]

سُفْيَانُ: دا سفیان بن عیینه دې، ددۀ احوال د کتاب العلم، باب "قول المحدِّث حدَّثنا أو أخبرنا....." لاندې تیر شوی دی. [4]

---

[1] فتح الباری: ۹.۱۱۱، ۱۵.۱۰۵
[2] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الشهادات، باب شهادة القاذف والسارق.....
[3] کشف الباری: ۳.۲۹۷
[4] کشف الباری: ۳.۱۰۲

الزُّهْرِيّ: دا ابن شهاب زهری دي. ددۀ احوال د کتاب بدء الوحی، الحدیث الثالث لاندې تیر شوی وی۔[1]

زهری نه د سفیان د سماع تفصیل: ذَهَبْتُ أَسْأَلُ الزُّهْرِيَّ.....علی بن المدینی وائی، سفیان بن عیینه اووئیل، زۀ زهری ته لاړم د هغوی نه می د حدیث مخزومیه په حقله پوښتنه اوکړه، چې په دې باندې هغوی چغه وهلو سره زۀ اوتوکلم، ددې مطلب په ظاهره دغه شو، چې سفیان دا حدیث د زهری نه نۀ دې اخستې، علی بن المدینی ددې خبرې اطمینان کولو د پاره سفیان بن عیینه نه پوښتنه اوکړه، "فلم تحمله عن أحد" کویا چې هغوی دا روایت دچانه هم نۀ دې اخستې؟ هغوی اووئیل، په اصل کښې دا ما د هغې کتاب نه اخستې دی، کوم چې ایوب بن موسیٰ د زهری نه لیکلې دې، او په هغې کښې دغه الفاظ دی: "أن امرأة من بني مخزوم سرقت" او نسائی د محمد بن منصور روایت نقل کړې دې، هغۀ هم د ابن عیینه نه دغه الفاظ روایت کوی۔[2]

رزق الله بن موسی هم د سفیان نه دغه مضمون نقل کړې دې، د هغوی الفاظ دادی: "أتى النبي بسارق فقطعه"۔[3]

ابو یعلی هم د محمد بن عباد عن سفیان په طریقې سره همدغه شان نقل کړې دې۔[4]

او أحمد هم د سفیان نه دا روایت کړې دې، ولې د هغې په آخر کښې دا الفاظ هم دی: "قال سفیان: لاأدری ماهو؟"۔[5]

نسائی د اسحاق بن راهویه عن سفیان عن الزهری په طریقې سره دا الفاظ نقل کړی دی: "کانت مخزومیة تستعیر المتاع وتجحده"۔[6]

او ددې په آخر کښې دا الفاظ دی: "قیل لسفیان من ذکره؟ قال: أیوب بن موسی"۔[7]

او ابن أبی زائده عن ابن عیینة عن الزهری په طریقې سره بغیر د څۀ واسطې نه نقل کړې دی، چې په هغې کښې لفظ د "سرقت" مذکور دې۔[8]

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ټولو طریقو د ذکر کولو نه ورسټو وائی:

---

[1] کشف الباری: ۱۳۲۶.۱

[2] سنن النسائی، ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین، رقم: ۱۴۹۰۱.۴۸۹۹

[3] فتح الباری: ۱۱۰۷.۱۵

[4] فتح الباری: ۱۱۱۱.۱۵

[5] مسند أحمد، مسند الصدیقة عائشة، رقم: ۱۲۴۱۳۸

[6] سنن النسائی ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین وخبر الزهری فی المخزومیة، رقم: ۱۴۹۰۹

[7] سنن النسائی ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین وخبر الزهری فی المخزومیة، رقم: ۱۴۹۰۹

[8] فتح الباری: ۱۱۱۱.۱۵

قال شیخنا: وابن عیینة لم یسمعه من الزهری ولا ممن سمعه من الزهری إنما وجده فی کتاب أیوب بن موسی ولم یصرح بسماعه من أیوب بن موسی ولهذا قال فی روایة أحمد، "لا أدری کیف هو" کما تقدم....."۔(۱)

یعنی ابن عیینه خو نهٔ پخپله د زهری نه سماع کړې ده، او نهٔ ئې د هغهٔ د یو شاګرد نه کړې ده، بلکه هغهٔ دا د ایوب بن موسی په کتاب کښې اوموندلو، او د ایوب بن موسی نه هم هغوی د سماع تصریح نهٔ ده کړې. همدغه وجه ده، چې هغوی د لا أدری کیف هو؟ الفاظ وئیلو سره په دې حوالې د عدمِ سماع ارشاد اوفرمائیلو څنګه چې د أحمد په روایت کښې تیر شوی دی۔

د سفیان بن عیینه د زهری نه روایت د کوم قسم وو، په دې حوالې سره علامه ابو حمد رامهُرمزی په خپل کتاب "المحدِّث الفاصِل" کښې د سلیمان بن عبد العزیز په طریقې سره د محمد بن ادریس نه روایت کوی، هغه وائی ما سفیان بن عیینه ته اووئیل، کم سمعتَ مِن الزهری؟ تا د زهری نه څومره روایتونه اوریدلې دی؟ هغوی اووئیل "أما مع الناس فما أحصی، وأما وحدی فحدیث واحد"، کوم چې مې نورو خلقو سره شریك اوریدلې دی، هغه خو بې شمیره دی، او کوم چې مې یواځې اوریدلې دی، هغه صرف یو حدیث دې، بیا ئې د هغې تفصیل بیان کړو۔ وې فرمائیل:

"دخلتُ یومًا من باب بنی شیبة فإذا أنا به جالس إلی عمود فقلت: یا أبابکر حدثنی حدیث المخزومیة التی قطع رسول الله ﷺ یدَها، قال فضرب وجهی بالحصی ثم قال: قم فما یزال عبد یقدم علینا بما نکره، قال فمت منکسًا فمر رجل فدعاه فلم یسمع فرماه بالحصی فلم یبلغه فاضطرنی فقال: ادعه لی فدعوته له فأتاه فقضی حاجتَه فنظر إلی فقال: تعال، فجئت فقال أخبرنی سعید بن المسیب وأبو سلمة عن أبی هریرة أن رسول الله قال: "العجماء جبار" ثم قال لی هذا خیر لك من الذی أردتَ"۔(۲)

دې نه هم معلومیږی چې زهری رحمه الله سفیان اورټلو او ملامته ئې کړو، او بیا ورستو "العجماء جبار" بیانولو سره ئې هغه د خپل مطلوب نه منع کړو، په هر حال کښې د سفیان د حدیثِ مخزومیې اوریدل (یعنی سماع) د زهری نه ثابت نهٔ ده۔

حافظ ابن حجر رحمه الله دې تفصیل د ذکر کولو نه وروستو فرمائی:

"قلت وهذا الحدیث الأخیر أخرجه مسلم والأربعة من طریق سفیان بدون القصة"۔(۳)

---

۱) فتح الباری: ۱۵/۱۰۷

۲) المحدث الفاصل بین الراوی والواعی.....باب القول فی أوصاف الطالب: ۱/۱۹۶

۳) فتح الباری: ۱۵/۱۱۱

امام مسلم او په اصحابو د صحاح سته کښې د بخاری نه علاوه څلورو وارو دا آخری روایت د مذکوره قیصې نه بغیر ذکر کړې دي۔

قوله: فَكَلَّمَهُ: په کتاب الحدود کښې د سعید بن سلیمان په روایت کښې د "فکلمه رسول الله" الفاظ دی۔[1]

او د یونس په روایت کښې د "فأتى بها رسول الله فكلّمه فيها" الفاظ دی۔[2] په دې الفاظو کښې څۀ حذف او ایصال دې۔ ځکه چې تقدیر د عبارت داسې دي:

"فجاؤا إلى أسامة فكلّموه في ذلك فجاء أسامة إلى النبي ﷺ فكلّمه"۔[3]

د نسائی په روایت کښې د "فكلّمه فزبره" راغلي دی۔[4]

یعنی هغوی رضی الله عنهم رسول الله ﷺ سره خبره اوکړه، نو هغوی ﷺ دوی ته زورنه اوکړه، او جهل او حماقت ارخ ته ئې د دوی نسبت اوکړو۔ "زبر" په سکون د باء سره عقل ته وائی۔

په یو روایت کښې د "فكلّمه فتلوّن وجهُ رسول الله" الفاظ راغلي دی۔[5]

یعنی هغوی رضی الله عنهم رسول الله ﷺ سره خبره اوکړه، نو د رسول الله ﷺ دمخ مبارك رنګ بدل شو.

او هم د نسائی په یو روایت کښې د "فلما أقبل أسامةُ وراه النبي ﷺ قال: لاتكلّمني يا أسامة" الفاظ دی۔[6]

کله چې أسامه رسول الله ﷺ ارخ ته راتلو، نو رسول الله ﷺ لیدلو سره هغوی ته اوفرمائیل، اسامه! ما سره خبرې مۀ کوه!

۳۵۲۷[7] حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَبَّادٍ يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ حَدَّثَنَا الْمَاجِشُونُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ نَظَرَ ابْنُ عُمَرَ يَوْمًا وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ إِلَى رَجُلٍ يَسْحَبُ ثِيَابَهُ فِي نَاحِيَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَقَالَ انْظُرْ مَنْ هَذَا لَيْتَ هَذَا عِنْدِي. قَالَ لَهُ إِنْسَانٌ أَمَا تَعْرِفُ هَذَا يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ هَذَا مُحَمَّدُ بْنُ أُسَامَةَ، قَالَ فَطَأْطَأَ ابْنُ عُمَرَ رَأْسَهُ، وَنَقَرَ بِيَدَيْهِ فِي الأَرْضِ، ثُمَّ قَالَ لَوْ رَآهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لأَحَبَّهُ.

---

[1] صحيح البخاری، كتاب الحدود، باب كراهية الشفاعة في الحد، رقم: ۶۷۸۸

[2] فتح الباری: ۱۵/۱۱۱

[3] فتح الباری: ۱۵/۱۱۱

[4] سنن النسائی، ذكر اختلاف ألفاظ الناقلين، رقم: ۴۹۰۰

[5] سنن النسائی، رقم: ۴۸۹۸

[6] سنن النسائی، رقم: ۴۸۹۸

[7] الحديث أخرجه أيضًا النسائی في سننه، انظر سنن النسائی، رقم: ۳۸۹۸

رجال الحديث

الحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ: دا حسن بن محمد زعفرانى دي، ددهٔ احوال د كتاب الاستسقاء، باب "سؤال الناس الإمام الاستسقاء إذا قحطوا" كښې تير شوى دى۔[1]

أبُو عَبَّاد يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ: ددهٔ نوم يحيىٰ بن عباد الضّبعى البصرى نزيل بغداد دي، او ابو عباد ئې كنيت دي، ددهٔ په شاګردانو كښې إبراهيم بن خالد الكلبى، أحمد بن حنبل، محمد بن حاتم بن ميمون، محمد بن سعد الكاتب، إسحاق بن إبراهيم الهغوى، خليفة بن الخياط، حسن محمد بن الصباح الزعفرانى هارون بن سليمان الاصبهانى وغيره شامل دى۔

او په شيوخو كښې ئې يونس بن أبى إسحاق، إبراهيم بن سعد، حماد بن زيد، خالد بن أبى خالد، سعيد بن زيد، شريك بن عبد الله، شعبة بن الحجاج، عبد العزيز بن عبد الله بن أبى سلمة الماجشون، فُليح بن سليمان، قيس بن الربيع، مالك بن أنس، معتمر بن سليمان، هِشام الدستوائى وغيره شامل دى۔[2]

صالح بن احمد بن حنبل د دوى په حقله فرمائى:

"سألتُ أبى عن يحيىٰ بن عَبّاد قال: أول ما رأيته فى مجلس أسباط، كيِّس يذاكر الحديث وكتبتُ عنه، قلتُ: أى شئ حالُه؟ قال ما أعلم عليه حجة"۔[3]

ابو حاتم وائى "ليس به بأس"۔[4]

ابن حبان هم په كتاب الثقات كښې د دوى ذكر كړې دي۔[5]

دار قطنى وائى: "يحيىٰ بن عباد بغدادى، يحتج به"۔[6]

بعضې حضراتو په دوى باندې رد هم كړې دي، مثلاً زكريا بن يحيىٰ الساجى وائى:

ضعيف، حدَّث عنه أهل بغداد، سمعتُ الحسن بن محمد الزعفرانى يحدِّث عنه عن شعبة وغيره، لم يحدِّث عنه أحد من أصحابنا بالبصرة لا بندار ولا ابن المثنّىٰ"۔[7]

حسين بن حبان د يحيىٰ بن معين نه نقل كوى:

"لم يكن بذالك، قد سمع وكان صدوقا وقد أتيناه فأخرج كتابا فإذا هو لا يُحسن يقرأ، قلت فيحيىٰ بن السكن

---

[1] صحيح البخارى، كتاب الاستسقاء، حديث: ١١٠١٠

[2] تهذيب الكمال: ٣، ١٣٩٦

[3] الجرح والتعديل: ٩، الترجمة: ١٧١٢

[4] الجرح والتعديل: ٩، الترجمة: ١٧١٢

[5] كتاب الثقات: ٩، ١٢٥٦

[6] تاريخ بغداد: ١٤، ١١٤٥

[7] تاريخ بغداد: ١٤، ١١٤٥

أثبت منه عندك؟ قال نعم هذا أيقظهما وأكيسهما".(١)

گويا ابن معين دي په قراءت كښې كمزورې او د يحيىٰ بن السكن نه هم د كمې درجې گرځولې دي.

همدغه شان علي بن المدينى وائى:

"سمعت أبي يقول: يحيىٰ بن عبّاد ليس ممن أحدّث عنه وبشار الخفاف أمثل منه".(٢)

خو ددې جرحې او تعديل څهٔ خاص اعتبار نشته، ځكه چې ابو بكر الخطيب وائى: "ترك أهل البصرة الرواية عنه لا يوجبُ رد حديثه، وحسبُك برواية أحمد بن حنبل وأبي ثور عنه، ومع هذا فقد احتج بحديثه محمد بن إسماعيل البخاري ومسلم بن الحجاج النيسابوري وأحاديثه مستقيمة لا نعلمه روى منكرًا".(٣)

يعنى د اهل بصره د دوى نه روايت نهٔ كول د دوى د احاديثو د مردود كيدو دليل نهٔ دي، او د احمد بن حنبل او د ابو ثور د دوى نه روايت كول كافى دى، او دې سره سره امام بخارى او امام مسلم د دوى په احاديثو باندې استدلال كړې دې، او د دوى احاديث صحيح دى.

مونږ ته علم نشته چې دوى چرته منكر روايت نقل كړې وى.

ذهبى فرمائى: "صدوق".(٤) ابن حجر هم فرمائى: "صدوق".(٥)

په ١٩٨ هجرې كښې د دوى وفات شوې دې.(٦)

الْمَاجِشُونُ: دا عبد العزيز بن عبد الله بن أبى سلمة الماجشون المدنى دي، ددهٔ احوال د كتاب العلم، باب "السؤال والفتيا عند رمى الجمار" لاندې تير شوى دى.(٧)

عَبْدُ اللهِ بْنُ دِينَارٍ: دا عبد الله بن دينار قرشى عدوى دي، ددهٔ احوال د كتاب العلم، باب "قول المحدّث حدثنا، وأخبرنا" لاندې تير شوى دى.(٨)

قوله: يَسْحَبُ ثِيَابَهُ: يَسحبُ بالياء المثناة دي، او ثياب ددې مفعول دي، او يا بالتاء الفوقانية دي. او ثياب ددې فاعل مرفوع دي.(٩)

---

(١) تاريخ بغداد: ١١٤٥.١٤

(٢) تاريخ بغداد: ١١٤٥.١٤

(٣) تاريخ بغداد: ١١٤٥.١٤

(٤) الكاشف للذهبى: ١٣٦٨.٢

(٥) تقريب التهذيب، ص: ١٥٩٢

(٦) تهذيب الكمال: ١٣٩٨.٣١، وتهذيب التهذيب: ١٢٣٦.١١

(٧) كشف البارى: ١٥١٨.٤

(٨) كشف البارى: ١١٣٥.٣

(٩) فتح البارى: ١١١١.٩

قوله: لَيْتَ هَذَا: معنی داده، چې کاش اکۀ دې ما سره وې، نو ما به دۀ سره د خير خواهئ او خير رسولو معامله کوله.

يا د "عندی" په ځائې "عهدی" (بالياء الموحدة) ده، د هغۀ د تور رنګ په وجه ئې اووئيل چې کاش! دې زما غلام وې، نو ما به دۀ سره ښۀ سلوک کم لې.(۱)

قوله: قَالَ لَه إِنْسَانٌ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، ددې (انسان) نوم معلوم نۀ شو؟(۲)

قوله: أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: دا د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما کنيت دې.(۳)

قوله: فَطَأْطَأَ رَأْسَهُ: يعنی ابن عمر رضی الله عنه د حياء يا د تعظيم د وجهې سر ټيټ کړو، او وې فرمائيل، کۀ رسول الله ﷺ دې ليدلې وې، نو دې به ئې محبوب جوړ کړې وې، حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا ځکه اوفرمائيل، چې رسول الله ﷺ به د دوی پلار اسامه رضی الله عنه، او نيکۀ زيد بن حارثه رضی الله عنهما سره او د دوی (يعنی د زيد) اهليې حضرت اُمِّ أيمن ټولو سره ډير د شفقت او محبت معامله فرمائيله، نو ابن عمر رضی الله عنه اندازه اولګوله، چې ددې کورنئ (خاندان) هر فرد سره د رسول الله ﷺ محبت وو، او کۀ دې ئې ليدلې وې نو خامخا به ئې دې هم محبوب جوړولو.(۴)

حضرت ګنګوهی فرمائی:

"لعله تذكر بعض أمره ﷺ وحبه اياهم".(۵)

يعنی کيدې شی ابن عمر رضی الله عنه ته د رسول الله ﷺ څۀ معامله رايادې شوې وی، او حضرت زيد رضی الله عنه او د هغوی کورنئ سره ئې د رسول الله ﷺ محبت رايادې شوې وی.

ترجمة الباب سره د حديث مناسبت واضح دې.

۳۵۲۸(۶) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رضي الله عنهما- حَدَّثَ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ فَيَقُولُ «اللَّهُمَّ أَحِبَّهُمَا فَإِنِّي أُحِبُّهُمَا». [۳۵۳۷، ۵۶۵۷]

---

۱) فتح الباری: ۹، ۱۱۱\

۲) فتح الباری: ۹، ۱۱۱\

۳) فتح الباری: ۹، ۱۱۱\

۴) فتح الباری: ۹، ۱۱۱، عمدة القاری: ۱۶، ۲۳۳، وإرشاد الساری: ۷، ۲۲۳\

۵) لامع الدراری: ۸، ۱۸۶\

۶) أخرجه البخاری أيضًا فی مناقب الحسن و الحُسين، رقم: ۳۷۴۷، وتفرد به البخاری\

رجال الحديث

مُوسَى بنُ اِسمَاعِيلَ: دا موسى بن اسماعيل التبوذكى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب"من اجاب الفتيا باشارة اليد والرأس"لاندې تير شوى دى۔[1]

مُعتَمِرٌ: دا معتمر بن سليمان بن طرخان تيمى دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب"من خص بالعلم قومًا دون قوم"لاندې تير شوى دى۔[2]

أبِى: سليمان بن طرفان مراد دي،ددۀ احوال هم د دغې باب"من خص بالعلم قومًا دون قومٍ"لاندې تير شوى دى۔[3]

أبُو عُثمَانَ:دا ابو عثمان عبد الرحمٰن بن ملء النهدى دي،ددۀ احوال د كتاب مواقيت الصلاة،باب"الصلاة كفارة"لاندې تير شوى دى۔

قوله: أحِبُّهُمَا: دا د حضرت اسامه او حضرت حسن رضي الله عنهما پاره ډيره لويه د فضليت او اعزاز خبره ده۔[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى،د رسول الله ﷺ محبت ئې په خپل محبت باندې مرتب فرمائيلو سره دا اوښودل،چې د هغوى محبت به لله او فى الله وو۔[5]

۳۵۲۹[6] وَقَالَ نُعَيْمٌ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي مَوْلًى لأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ أَيْمَنَ ابْنِ أُمِّ أَيْمَنَ، وَكَانَ أَيْمَنُ ابْنُ أُمِّ أَيْمَنَ أَخَا أُسَامَةَ لأُمِّهِ، وَهُوَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَرَآهُ ابْنُ عُمَرَ لَمْ يُتِمَّ رُكُوعَهُ وَلاَ سُجُودَهُ فَقَالَ أَعِدْ.

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَحَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ نَمِرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِي حَرْمَلَةُ مَوْلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ بَيْنَمَا هُوَ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ إِذْ دَخَلَ الْحَجَّاجُ بْنُ أَيْمَنَ فَلَمْ يُتِمَّ رُكُوعَهُ وَلاَ سُجُودَهُ، فَقَالَ أَعِدْ. فَلَمَّا وَلَّى قَالَ لِي ابْنُ عُمَرَ مَنْ هَذَا قُلْتُ الْحَجَّاجُ بْنُ أَيْمَنَ ابْنِ أُمِّ أَيْمَنَ. فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لَوْ رَأَى هَذَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله

---

[1] كشف البارى:۳،۱۴۷۷

[2] كشف البارى:۳،۵۹۰

[3] كشف البارى:۳،۱۵۹۳

[4] إرشاد السارى:۸،۱۲۲۳

[5] فتح البارى:۹،۱۱۱

[6] الحديث أخرجه البخارى وتفرد به انظر جامع الأصول،باب زيد بن حارثة وابنه أسامة:۹،۴۱۰،وكذا البيهقى فى سننه الكبرىٰ،باب ما روى فى من يسرق من صلاته،رقم الحديث:۱۴۱۶۸

عليه وسلم - لأَحِبَّهُ، فَذَكَرَ حُبَّهُ وَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّ أَيْمَنَ. قَالَ وَحَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِي عَنْ سُلَيْمَانَ وَكَانَتْ حَاضِنَةَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم -.

رجال الحديث

نُعَيْمٌ: دا نُعيم بن حماد بن معاويه المروزى دي، ددۀ احوال د كتاب الوضوء، باب "دفع السواك إلى الأكبر" لاندې تير شوى دى.

ابْنِ الْمُبَارَكِ: دا ابو عبد الرحمٰن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلى دي، ددۀ احوال د كتاب بدء الوحى، الحديث الخامس لاندې تير شوى دى۔[1]

مَعْمَرٌ: دا معمر بن راشد ازدى بصرى دي، ددۀ احوال د كتاب العلم، باب "كتابة العلم" لاندې تير شوى دى۔[2]

اَلزُّهْرِيَ: دا محمد بن مسلم بن شهاب الزهرى دي، ددۀ احوال د كتاب بدء الوحى، الحديث الثالث لاندې تير شوى دى۔[3]

قوله: مَوْلَى لأُسَامَةَ: د مولى نه مراد حرملة دي،[4] او حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن أبى الدنيا نه د "أخبرنى ابن حرملة مولى أسامة" الفاظ نقل كړى دى، او د ابن حرمله نوم أنس دي۔[5]

قوله: أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ أَيْمَنَ ابْنِ أُيْمَنَ: اُمِّ أيمن د رسول الله ﷺ حاضنه او پالنه كونكې بى بى ده، چې د هغې نكاح حضرت زيد بن حارثة رضي الله عنهما سره شوې ده، ددې نوم "بركة" وو. ايمن ددې ځوې دي، د وراندينى خاوند عبيد نه.

د أيمن نسب د پلار په ځائې مور اړخ ته شوې دي، (يعنى ابن اُمِّ أيمن) د رسول الله ﷺ (حضانت) پالنه كولو په وجه ددې ډيره لويه نيك بختى او فضيلت موندلو په وجه باندې ددې شهرت اوشو.

أيمن چې د حجاج پلار دي، دا د اسامه بن زيد رضي الله عنهما اخيافى وروړ (اخت لام) دي، ځكه چې د اُمِّ أيمن د اولنې خاوند (عبيد) نه ايمن پيدا شوې دي، او هم ددې بى بى د دويم خاوند زيد بن حارثه رضي الله عنهما نه اسامه رضي الله عنه پيدا شو۔[2]

---

[1] كشف البارى: ۱۴۶۲،۱
[2] كشف البارى: ۱۳۲۱،۴
[3] كشف البارى: ۱۳۲۶،۱
[4] إرشاد السارى: ۱۲۲۳،۸
[5] فتح البارى: ۱۱۱۱،۹
[6] إرشاد السارى: ۲۲۳،۸، وعمدة القارى: ۱۲۳۴،۱۶

قوله: وَهُوَ رَجُلٌ مِنَ الأنصار: یعنی د ایمن تعلق د انصارو سره وو، د دوی د پلار عبید بن عمرو بن هلال تعلق د خزرج سره وو، او بعضو وئیلی دی، چې هغه حبشی وو۔(۱)

قوله: فَرَاٰهُ ابْنُ عُمَرَ: یعنی حجاج بن أیمن په مونځ کولو باندې ابن عمر اولیدو، د صحیح بخاری شارحین وائی، چې دلته معطوف علیه مقدر دې، او تقدیری عبارت داسې دې:

"أن الحجاج بن أیمن دخَلَ المسجد فصلی فرآه ابن عمر"

او دا د راتلونکی روایت نه هم معلومیږی۔(۲)

قوله: فَقَالَ أَعِدْ: ابن عمر اوفرمائیل، بیا مونځ اوکړه، او د اسماعیلی په روایت کښې دا الفاظ دي: "فقال: أی ابن أخی تحسب أنك قد صلیتَ، إنك لم تصل فأَعِد صلاتَك"۔(۳)

رجال الحدیث

سُلَیْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰن: دا ابو ایوب سلیمان بن عبد الرحمٰن ابن عیسیٰ بن میمون التمیمی الدمشقی المعروف به ابن بنت شرحبیل بن مسلم الخولانی دي۔

امام بخاری، ابو داؤد او نورو حضراتو د دوی نه روایات نقل کړي دی، او دې روایت کوی د اسماعیل بن عیاش، بشر بن عون، حاتم بن اسماعیل المدنی، سفیان بن عیینه، عبد الله بن وهب وغیره نه۔(۴)

إبراهیم بن عبد الله بن الجنید وائی، یحیٰی بن معین فرمائی "لیس به بأس"۔(۵)

عبد الرحمٰن بن أبی حاتم وائی:

"سمعت أبی یقول: سألتُ یحیٰی بن معین عن أبی أیوب الدمشقی فقال لیس به باس"۔(۶)

او دویم ځائې کښې وائی: "سمعتُ أبی یقول: سُلیمان بن شرحبیل صدوق مستقیم الحدیث"۔(۷)

ابو عبد الله الحاکم وائی، ما د دار قطني رحمه الله نه د سلیمان بن عبد الرحمٰن په حقله پوښتنه اوکړه، نو هغوی اووئیل، ثقة ما اووئیل، آیا هغه منکر روایات نه روایت کوی، وې وئیل:

"حدَّث بها عن قوم ضعفی فأما هو فثقة"۔(۸) یعنی منکر روایات هغوی د ضعیفو خلقو نه روایت

---

۱) فتح الباری: ۹/۱۱۲
۲) فتح الباری: ۹/۱۱۲
۳) فتح الباری: ۹/۱۱۲
۴) تهذیب الکمال: ۱۲/۱۳۰
۵) تهذیب الکمال: ۱۲/۱۳۰
۶) الجرح والتعدیل: ۴، الترجمة: ۵۵۹
۷) الجرح والتعدیل: ۴، الترجمة: ۵۵۹
۸) سؤالات الحاکم للدار قطنی، ۳۳۹

کړی دی، ولې پخپله ثقه دې۔ نسائی وائی، "صدوق"۔[1]

ابو زرعة الدمشقی ددۀ ذکر په "اهل الفتوی بدمشق" کښې کړې دې۔[2]

بعضې حضراتو ددۀ تضعیف کړې دې، ولې ددې اساطینو د تعدیل نه ورستو ددې جرحې هیڅ حیثیت نۀ پاتې کیږی، اود تضعیف وجه دا هم ده، چې هغه دبعضې ضعفاؤنه روایت کوی.

ولید بن مسلم: دا ولید بن مسلم الاموی الدمشقی دې، ددۀ احوال د کتاب مواقیت الصلاۃ، باب "وقت المغرب" لاندې تیر شوی دی۔

عبد الرحمٰن بن نمر: دا عبد الرحمٰن بن نمر الیحصبی الدمشقی دې، ددۀ احوال د کتاب الکسوف، باب "الجهر بالقراءة فی الکسوف" لاندې تیر شوی دی۔

١٩ - باب: مَنَاقِبُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا

٣٥٣٠، ٣٥٣١[3] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِي حَيَاةِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - إِذَا رَأَى رُؤْيَا قَصَّهَا عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -، فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَرَى رُؤْيَا أَقُصُّهَا عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم -، وَكُنْتُ غُلاَمًا أَعْزَبَ، وَكُنْتُ أَنَامُ فِي الْمَسْجِدِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَرَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ مَلَكَيْنِ أَخَذَانِي فَذَهَبَا بِي إِلَى النَّارِ، فَإِذَا هِيَ مَطْوِيَّةٌ كَطَيِّ الْبِئْرِ، فَإِذَا لَهَا قَرْنَانِ كَقَرْنَيِ الْبِئْرِ، وَإِذَا فِيهَا نَاسٌ قَدْ عَرَفْتُهُمْ، فَجَعَلْتُ أَقُولُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ، أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ. فَلَقِيَهُمَا مَلَكٌ آخَرُ فَقَالَ لِي لَنْ تُرَاعَ. فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ. فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ «نِعْمَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللّٰهِ، لَوْ كَانَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ». قَالَ سَالِمٌ فَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ لاَ يَنَامُ مِنَ اللَّيْلِ إِلاَّ قَلِيلاً.

رجال الحديث

مُحَمَّد: دا پخپله مصنّف محمد بن اسماعیل البخاری دې، دا صرف د ابو ذر په نسخه کښې دې، او باقی په ټولو نسخو کښې ساقط دې۔[4]

او ابن السکن د "حدّثنا إسحاق بن منصور" په الفاظو سره روایت کړې دې۔[5]

---

[1] تهذیب الکمال: ١٢، ١٣٠

[2] تهذیب الکمال: ١٢، ١٣٠

[3] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصلاة، باب نوم الرجل فی المسجد، رقم: ١٤٤٠

[4] فتح الباری: ٩، ١١٣، وإرشاد الساری: ٨، ١٢٢٥

[5] فتح الباری: ٩، ١١١٣

إسحَاقُ بنُ نَصرٍ: دا اسحاق بن إبراهيم السعدی المروزی دي، دلته نيکهٔ نصر اړخ ته منسوب دي، ددهٔ احوال د کتاب الغسل، باب "من اغتسل عريانًا وحدَه في الخلوة" لاندې تير شوی دی.

عَبْدُ الرَّزَّاقِ: دا عبد الرزاق بن همام الصنعانی دي، ددهٔ احوال د کتاب الإيمان، باب "حسن إسلام المرء" لاندې تير شوی دی.[1]

مَعْمَرٍ: دا معمر بن راشد أزدی بصری دي، ددهٔ احوال د کتاب العلم، باب "کتابة العلم" لاندې تير شوی دی.[2]

اَلزُّهْرِيّ: دا محمد بن مسلم بن شهاب الزهری دي، ددهٔ احوال د کتاب بدء الوحی الحديث الثالث لاندې تير شوی دی.[3]

سَالِمٍ: دا سالم بن عبد الله بن عمر رضي الله عنهم دي، ددهٔ احوال د کتاب الإيمان، باب "الحياء من الإيمان" لاندې تيره شوی دی.[4]

د "رؤيا" تلفظ او ددې معنی: إذَا رَأَى رُؤْيَا.....کرمانی فرمائی، رؤيَا بدون التنوين په خوب کښې د ليدلو سره خاص دي، ځنګه چې "رؤية" د ويښې سره خاص دي، يعنی رؤيت (په معنی د ليدلو) په ويښه د ليدلو په معنی باندې هم راځی، او په خوب کښې د ليدلو د پاره هم، خو په دې دواړو کښې فرق دادې، چې د خوب ليدو د پاره "رؤيا" په الف مقصوره سره راځی، او په ويښه باندې ليدو د پاره "رؤية" په تائې تانيث سره راځی.[5]

قسطلانی فرمائی، په دې وجه باندې د ابو الطيب متنبی دا شعر غلط او فنی لحاظ سره فاسد ګرځولې شوې دې.

"ورؤياك أحلى في العيون الغُمض".[6]

او ددې د فساد وجه داده، چې متنبی رؤيت د ويښې د حالت د پاره لفظ د "رؤيا" استعمال کړې دي، او ددې دليل دادې، چې "رؤيا" دلته د غمض يعنی د سترګو پټولو په مقابله کښې استعمال شوې دي، اوښکاره خبره ده، سترګې پټول او ددې مخالف دويښې په حالت کښې کيږی. قسطلانی رحمه الله وائی، په متنبّی باندې اعتراض بې ځايه دي، او حقيقت دادي، چې د رؤيت او

---

[1] کشف الباری: ۱٤۲۱.۲\
[2] کشف الباری: ۱۳۲۱.٤\
[3] کشف الباری: ۱۳۲٦.۱\
[4] کشف الباری: ۱۱۲۸.۲\
[5] شرح الکرمانی: ۱۱٦.۱۵\
[6] ديوان المتنبی قافية الضاد، ص: ۲۹۷، مير محمد کتب خانه

رؤیا معنی یوه ده،څنګه چې د قربة او قربی معنی یوه ده،او ددې تائید په دې سره هم کیږی، چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د سورة اسراء د آیت "(وما جعلنا الرؤیا التی أریناك الا فتنة للناس) [۱] په حقله فرمائیلی دی، چې په دې کښې په رؤیا سره رویت عین مراد دي،ځکه چې په دې کښې د رسول الله ﷺ د معراج ذکر دي،او د معراج په شپه کښې رسول الله ﷺ د ویښې په حالت کښې په سترګو سره دعالم بالا(پورتنی عالم)زیارت اوفرمائیلو ،نۀ چې په خوب کښې، دي نه معلومیږی، چې په ویښه په سترګو باندې کتلو باندې هم د رؤیا اطلاق کیږی۔[۲]

د لفظ "رؤیا" په حقله نووی وائی، چې دا په همزې سره هم مستعمل دي،او په قصر سره یعنی بغیر همزې هم،او تنوین سره رؤیًا هم۔[۳]

د حدیث تخریج او تشریح تیره شوې ده۔[۴]

۳۵۲۱[۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ أُخْتِهِ حَفْصَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لَهَا «إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ رَجُلٌ صَالِحٌ». [ر: ۴۲۹]

رجال الحديث

یحیٰی بن سلیمان: دا یحیٰی بن سلیمان ابو سعید الجعفی الکوفی دي،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب "کتابة العلم" لاندې تیر شوی دی۔[۶]

ابن وهب: دا ابو محمد عبد الله بن وهب بن مسلم قرشی مصری دی،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب "مَن جعل لأهل العلم أیامًا معلومة" لاندې تیر شوی دی۔[۷]

یونس: دا یونس بن یزید ایلی دي،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب "من جعل لأهل العلم أیامًا معلومة" لاندې تیر شوی دی۔[۸]

زهری: دا محمد بن مسلم بن شهاب الزهری دي،ددۀ احوال د کتاب بدء الوحی الحدیث الثالث

---

[۱] سورة الاسراء،آیت:۶۰\

[۲] إرشاد الساری:۸،۲۲۶\

[۳] إرشاد الساری:۸،۲۲۶\

[۴] کتاب الصلاة،باب نوم الرجل فی المسجد.....\

[۵] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصلاة،باب نوم الرجل فی المسجد،رقم:۱۴۴۰\

[۶] کشف الباری:۴،۳۲۷\

[۷] کشف الباری:۳،۲۷۷\

[۸] کشف الباری:۳،۲۸۲\

لاندې تیر شوی دی۔[1]

سالم: دا سالم بن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دي،ددۀ احوال د کتاب الإیمان،باب"الحیاء من الإیمان"لاندې تیر شوی دی۔[2]

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما مقام او مرتبه: حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د حضرت عمر رضی الله عنه څوې دي،ددۀ کنیت ابو عبد الرحمٰن دي،خپل پلار محترم سره ئې په ماشوم والی کښې اسلام قبول کړې وو.بیا ئې هغوی سره هجرت اوکړو،د دوی د مور نوم زینب دي،او یو قول دادي چې د هغې نوم رابطه بنت مظعون دي،چې د قدامه او عثمان بن مظعون خور ده،دا ټول حضرات صحابه دی،د لسو کالو په عمر کښې دوی رضی الله عنه هجرت اوکړو،او د بدر او أحد نه ورستو ئې په ټولو جنګونو کښې شرکت اوکړو،په غزوۀ أحد کښې د ماشومو والی په وجه شریك نۀ کړې شو،او په جنګ خندق کښې شریك شو،او د دوی عمر په دې وخت کښې پنځلس کاله وو۔[3]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی،چې د دوی رضی الله عنه پیدائش د بعثت نبوی په دویم یا دریم کال اوشو،ځکه چې د غزوۀ بدر په موقع باندې د دوی عمر دیارلس کاله وو،او غزوۀ بدر د بعثت نبوی په پنځلسم کال واقع شو،او د وفات تاریخ ئې ۷۴ هجری ښودلې شوې ده۔

حضرت ابن عمر رضی الله عنه په عبادلۀ اربعه کښې یو دي،فقهاء صحابه او د مکثرین روایت کونکو نه دي،عالم،مجتهد،متبع سنت،قاطع بدعت او ناصح اُمت دي۔

ابن وهب د امام مالك رحمه الله نه روایت کوی،چې د عبد الله بن عمر رضی الله عنه عمر شپږ اتیا کاله ته رسیدلې وو.او دوی رضی الله عنه د اسلام قبلولو نه ورستو شپیتۀ کاله فتوې ورکړې،او نافع د دوی علم خور کړو۔

سفیان ثوری رحمه الله وائی،چې هغوی ته به خپل مال کښې څۀ خوښ راغلل،نو هغه به ئې صدقه کولو.د دوی غلامانو ته د دوی ددې صفت اندازه وه،په دې وجه کله کله به یو غلام عبادت ته ملا اوترله،جمات ته د تلو به ئې اهتمام شروع کړو،او په اطاعت کښې به وراندې وراندې کیدو.کله چې به ئې هغه اولیدو،نو هغوی رضی الله عنه به آزاد کړو۔

خلقو به هغوی رضی الله عنه ته وئیل،"إنهم یخدعونك"دا خلق تاسو ته دهوکه درکوی،او په حقیقت کښې دیندار نۀ دی،په دې باندې به هغوی رضی الله عنه فرمائیل،"من خدعنا بالله انخدعنا له"څوك چې د الله تعالیٰ نامه استعمالولو سره مونږ ته دهوکه راکوی،نو مونږ د هغۀ دهوکې خوړلو ته تیار وو۔[4]

---

[1]) کشف الباری:۱.۱۳۲۶

[2]) کشف الباری:۲.۱۱۲۸

[3]) إرشاد الساری:۸.۱۲۲۵

[4]) إرشاد الساری:۸.۲۲۵،وفتح الباری:۸.۱۱۱۳

۲۰-باب: مَنَاقِبُ عَمَّارٍ وَحُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا

حضرت عمّار رضی اللہ عنہ: بفتح العین وتشدید المیم عمّار بن یاسر مراد دي، د دوی د پلار نور یاسر او مور نوم سمیه دي، او د دوی پلار د قدیم اسلام قبلونکو نه دي، او د اسلام په وجه د هغوی تکلیف کیدل، او تکلیفونه زغمل هم د هغوی معلوم دی، د دوی پلار خو وړاندې وفات شوې وو، او مور ئې ابو جهل شهیده کړې وه، او پخپله حضرت عمّار رضی اللہ عنہ ژوندي پاتې شو، تر دې چې په جنګ صفین کښې په ۷۳ هجري کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ په ملګرتیا کښې قتل کړې شوی.

حضرت عمّار دوه هجرتونه کړی دی، او قِبلَتَینو (یعنی مکې معظمې او بیت المقدس) ارخ ته مونځ کونکو کښې دي هم شامل دي، د دوی د والد محترم کنیت ابو الیقظان دي.[1]

حضرت حذیفه رضی اللہ عنہ: او حضرت حذیفه ابن الیمان رضی اللہ عنہ د یمان بن جابر بن عمرو العبسی ځوې دي، چې د انصارو د قبیلې بنو الاشهل حلیف دي، حذیفه او د دوی پلار یمان دواړو اسلام قبول کړې وو، حضرت حذیفه رضی اللہ عنہ ته د سیدنا عمر رضی اللہ عنہ د ارخ نه د کوفې د بعضې کارونو نګرانی او ساتنه هم ورکړې شوې وه، څنګه چې حضرت عمّار رضی اللہ عنہ ته هم ورکړې شوې وه، حضرت حذیفه رضی اللہ عنہ ددې نه علاوه د مدائن نګرانی او ساتنه هم کړې ده.

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د شهادت نه څو ورځې ورسته قتل کړې شو، د حضرت عمّار رضی اللہ عنہ شمیر خو په سابقینو اوّلینو کښې کیږی، او حذیفه بن الیَمان رضی اللہ عنہما هم قدیم الإسلام دي، خو د عمّار نه ورسته دي.[2]

د حدیث او باب په حوالې سره اشکال او جواب: ددې دواړو حضراتو د فضائلو د پاره یو باب ځکه قائم کړې شوې دي، چې حضرت ابو الدرداء رضی اللہ عنہ په روایت کښې دلته یو ځائې د دواړو ذکر دي. او په یو حدیث کښې د دواړو تعریف ذکر شوې دي.

سوال کیدې شی، کهٔ د یو ځائې ذکر او تعریف اعتبار وی، نو په دې کښې خو حضرت حذیفه او عمّار رضی اللہ عنہما سره حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ هم شریك دي، خو د هغوی مناقب دلته مذکور نهٔ دی، بلکه د هغې د پاره مستقل باب قائم دي؟

ددې جواب دادي، چې امام بخاری رحمہ اللہ ته د خپلو شرائطو مطابق د ابن مسعود رضی اللہ عنہ په مناقبو کښې بعضې نور روایتونه هم ملاؤ شو، په دې وجه دلته په ترجمه کښې ئې د هغوی رضی اللہ عنہ ذکر اونهٔ کړو، بلکه یو مستقل باب قائمولو سره ئې د هغوی رضی اللہ عنہ ذکر اوفرمائیلو، او په هغې کښې ئې دا مذکور حدیث هم راوړو، او نور روایات هم. او د حذیفه رضی اللہ عنہ ذکر هم وړاندې په مناقبو کښې په مستقل باب کښې راروان دي، نو بیا ددې مطلب دا شو، چې په حدیث کښې د دواړو (حضرت عمّار او حذیفه رضی اللہ عنہما) د ذکر په وجه خو په "ترجمة" کښې د

---

[1]) فتح الباری: ۹، ۱۱٤، وإشاد الساری: ۸، ۱۲۲۷

[2]) فتح الباری: ۹، ۱۱۱٤

دواړو نومونه ذکر شول،ولې ددې تقاضا دا نۀ ده،چې د حذیفه رضی الله عنه ذکر جدا نۀ دی کیدل پکار،لهذا د هغوی مستقل تذکره چې به راځی په هغی څۀ اعتراض نشته۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی،دې کډوډ والی(انتشار)نه زمونږ د هغې خبرې تائید کیږی،چې امام بخاری رحمه الله د مذکوره اصحاب مناقبو د ترتیب خیال نۀ دې ساتلی،او په دې کښې یو حده پورې کډوډ والې او تکرار موجود دې،او هلته د حضرت حذیفه رضی الله عنه د جدا ذکر کولو وجه هم دا کیدې شی،چې امام بخاری د هغوی رضی الله عنه د پلار په حوالې سره د ترجمې قائمولو اراده کړې وی،او ددې دویم مستقل باب نه د هغوی منشاء د"یمان والا حذیفه"ذکر وی۔[1]

۳۵۳۲،۳۵۳۳[2] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ،قَالَ قَدِمْتُ الشَّأْمَ فَصَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ،ثُمَّ قُلْتُ اللَّهُمَّ يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا،فَأَتَيْتُ قَوْمًا فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ،فَإِذَا شَيْخٌ قَدْ جَاءَ حَتَّى جَلَسَ إِلَى جَنْبِي،قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالُوا أَبُو الدَّرْدَاءِ. فَقُلْتُ إِنِّي دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَكَ لِي ، قَالَ مِمَّنْ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ . قَالَ أَوَلَيْسَ عِنْدَكُمُ ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادِ وَالْمِطْهَرَةِ وَفِيكُمُ الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَوَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ سِرِّ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - الَّذِي لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ غَيْرُهُ ثُمَّ قَالَ كَيْفَ يَقْرَأُ عَبْدُ اللَّهِ (وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى)، فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ (وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى * وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى * وَالذَّكَرِ وَالأُنْثَى) .قَالَ وَاللَّهِ لَقَدْ أَقْرَأَنِيهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ.

رجال الحديث

مالک بن اسماعیل: دا مالك بن اسماعيل بن زياد ابو غسان النهدى الكوفى دې،ددۀ احوال د کتاب الوضوء،باب"الماء الذى يغسل به شعر الإنسان"لاندې تیر شوی دی۔

إسرائیل:دا اسرائيل بن يونس بن أبى اسحاق السبيعى دې،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب"من ترك بعض الاختيار مخافة أن يقصر فهم بعض الناس عنه"لاندې تیر شوی دی۔[3]

المغیرة: دا مغيرة بن مقسم الضبى الكوفى دې،ددۀ احوال د کتاب الصوم،باب"صوم يوم وإفطار يوم"لاندې تیر شوی دی۔

إبراهیم: دا ابو عمران إبراهيم بن يزيد بن قيس بن اسود دې،ددۀ احوال د کتاب الإيمان، باب "ظلم دون ظلم"لاندې تیر شوی دی۔[4]

---

[1] فتح البارى:۹،۱۱۱۴

[2] الحديث سبق تخريجه فى بدء الخلق،باب صفة إبليس:۱۳۲۸۷

[3] كشف البارى:۴،۱۴۴۶

[4] كشف البارى:۲،۱۲۵۳

علقمة: دا ابو شبل علقمة بن قيس بن عبد الله بن مالك النخعى دي،ددۀ احوال هم د كتاب الإيمان، باب "ظلم دون ظلم" لاندې تير شوى دى۔[1]

٣٥٣٣(٢) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ ذَهَبَ عَلْقَمَةُ إِلَى الشَّأْمِ، فَلَمَّا دَخَلَ الْمَسْجِدَ قَالَ اللَّهُمَّ يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا. فَجَلَسَ إِلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ فَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ مِمَّنْ أَنْتَ قَالَ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ. قَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ - أَوْ مِنْكُمْ - صَاحِبُ السِّرِّ الَّذِي لاَ يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ يَعْنِي حُذَيْفَةَ. قَالَ قُلْتُ بَلَى. قَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ - أَوْ مِنْكُمْ - الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَعْنِي مِنَ الشَّيْطَانِ، يَعْنِي عَمَّارًا . قُلْتُ بَلَى . قَالَ أَلَيْسَ فِيكُمْ - أَوْ مِنْكُمْ - صَاحِبُ السِّوَاكِ أَوِ السِّرَارِ قَالَ بَلَى . قَالَ كَيْفَ كَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَقْرَأُ (وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى * وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى) قُلْتُ (وَالذَّكَرِ وَالأُنْثَى). قَالَ مَا زَالَ بِي هَؤُلاَءِ حَتَّى كَادُوا يَسْتَنْزِلُونِي عَنْ شَىْءٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -. [ر: ٣١١٣]

رجال الحديث

سليمان بن حرب: دا ابو ايوب سليمان بن حرب ازدى واشحى دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "قول النبى أنا أعلمكم بالله،وأن المعرفة فعل القلب....." لاندې تير شوى دى۔[3]

شعبة: دا امير المؤمنين فى الحديث شعبة بن الحجاج دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" لاندې تير شوى دى۔[4]

د مغيره،إبراهيم او علقمه د حالاتو د پاره پورتنې روايت اوګورې۔

قوله: قدِمت الشأم: د شعبه په پورتنى روايت كښې د "ذهب علقمة إلى الشام" الفاظ دى،او ددې دويم د الفاظو صورت د مرسل روايت په شان دي،خو په دې كښې د "قلت: بلى" په الفاظو سره بيا ددې صورت د موصول روايت په شان جوړ شو،او په كتاب التفسير كښې د علقمة دا الفاظ مروى دى:

"قدمت الشام فى نفر من أصحاب ابن مسعود"۔[5]

---

[1] كشف البارى:٢،١٢٥٦

[2] الحديث سبق تخريجه فى كتاب بدء الخلق،باب صفة ابليس وجنوده.....١

[3] كشف البارى:٢،١١٠٥

[4] كشف البارى:١،١٦٧٨

[5] كتاب التفسير،باب والنهار إذا تجلى،رقم:١٤٩٤٣

زهٔ د ابن مسعود رضی الله عنه د شاګردانو په یو جماعت کښې شام ته راغلم.

قوله: مَن جلس إلى جنبي: بعضې حضراتو جلس.....د ماضی صیغه نقل کړې ده[1] او بعضې حضراتو یَجلس د مضارع صیغه نقل کړې ده.[2] یعنی هغوی د خپلو راتلو غایه او انتهاء زما په خوا کښې ناسته اوښودله، اسماعیلی په خپل روایت کښې د هغوی دا الفاظ هم نقل کړې دی:

"فقلتُ: الحمد لله إني لأرجو أن يكون الله عزوجل استجاب لي دعوتي".[3]

نو ما د الله تعالی شکر ادا کړو، او ما اووئیل، زهٔ امید ساتم چې الله تعالی عزوجل زما دعاء قبوله کړه.

قوله: قالوا: أبو الدَّرداء: د قالوا دفاعل په حقله ابن حجر رحمه الله فرمائی: "لم أقف على اسم القائل".[4]

کوفه د علم او فقهې د مرکز کیدو شهادت: قال: أوَليسَ عندكم ابن أم عبد؟.....د ابن ام عبد نه مراد عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دی، اود ابو الدرداء ددې قول مطلب دادې، چې علقمه دلته د علم حاصلولو دپاره راغلې دې، حال دادې چې هغوی سره په کوفه کښې لوئې لوئې اهل علم او فضل موجود دی، ددې مطلب دا شو، چې تر کومې پورې په خپلې علاقې کښې د موجود. علماؤ او مشائخو نه علم حاصل نهٔ کړې، هغوی پریښودلو سره نور علماؤ پسې تلل صحیح نهٔ دی.[5]

قوله: صاحب النعلين: یعنی د رسول الله ﷺ پنړې اوچتولو والا، او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته دا اعزاز او سعادت حاصل دې، چې هغوی به د رسول الله ﷺ د پنړو اوچتولو اهتمام کولو.

قوله: والوِساد: په اولنې روایت کښې د "وِساد" لفظ راغلې دې، تکیه مراد ده، او په دویم روایت کښې "صاحب السواك" او "الوساد" سره د "أو السِّرار" الفاظ هم مروی دی. بعضو د "السِّواد" الفاظ هم نقل کړې دی.

د "السِّواد او السِّرار" معنی یوه ده، د "ساودتُه" معنی ده، سَارَرْتُه (بالراءین) او دا د "سِرٌّ" نه دې، د "مُساودة یا مسارّة" معنی د راز داري ده.[6] "سواد" او "سِرار" د فعال په وزن باندې د مُساوده او.

---

[1] إرشاد الساری: ۱۲۲۷.۸
[2] فتح الباری: ۱۱۱۵.۹
[3] إرشاد الساری: ۱۲۲۷.۸
[4] فتح الباری: ۱۱۱۵.۹
[5] فتح الباری: ۱۱۱۵.۹
[6] فتح الباری: ۱۱۱۵.۹

مسارہ مصدر دي۔

قوله: والمطهرة: د سرخسی په روایت کښې مطهربدون الهاء(التاء)واقع دي،په هر حال کښې آله د طهارت مراد ده،حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی،داؤدی ډیره عجیبه او بې بنیاده خبره کړې ده،وائی دي نه معلومیږی،چې د هغوی ﷺ ټول سامان او کل اثاثه هم دغه دري څیزونه دی۔ ابن التین ددې تعاقب کړې دي،او په ځائې ئې دا غلطه ګرځولې ده۔(۱)

قسطلانی رحمه الله د مختلفو نسخو په حوالې سره..... د "السواك" "الوِساد"، "السِّواد" او "السرار" الفاظ نقل کولو سره اوښودل،چې د "وِساد"معنی خو "مِخدّة"یعنی بالخت او تکیه ده،او د "سواد" او "سرار"دواړو یوه معنی ده،یعنی راز او نیاز(پټې او د راز خبرې)او هغه داسې،چې د "ساودتُه سواداً" معنی ده،"سارَرتُه سِراراً"یعنی ما هغهٔ سره پټې او د راز خبرې اوکړې،او ددې اصل دادي چې د سواد معنی ده شخص(باډی)خو "مساوَدة"وئیلې شی، "ادنأ سوادك إلی سوادة" خپل شخصیت ئې د هغهٔ شخصیت ته نزدې کړو۔

او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته دا فضیلت په دې شان حاصل وو،چې رسول الله ﷺ به د هغوی نه پرده نهٔ فرمائیله،او نهٔ به ئې څهٔ خبره د هغوی نه پټوله۔(۲)

د مسلم په روایت کښې دا الفاظ دی،رسول الله ﷺ هغوی ته فرمائی:"اذنك علی أن ترفع الحجاب وتسمع سِوادی"۔(۳) ستا د پاره زما نه د اجازت اخستلو دغه صورت دي،چې پرده اوچتوه او زما د راز خبرې اوره،دا د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه هغه ځانګړې خصوصیت دي، چې بل چا ته هم حاصل نهٔ دي۔

د هغوی رضي الله عنه دا خصوصیت وړاندې په مناقبو د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه کښې د حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه د هغې روایت نه هم معلومیږی،چې په هغې کښې حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه فرمائی،چې مونږ د یمن نه راغلې وو،او تر یو وخته پورې رسول الله ﷺ سره پاتې شو،نو خلقو دا ګنړل،چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه هم د نبی علیه السلام د اهل بیتو نه دي،ځکه چې دي او د دوی مور به په کثرت سره د هغوی ﷺ کور ته داخلیدل۔(۴)

د رسول الله ﷺ د قربت او خدمت په وجه د وفورِ علم اثبات: حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه چې د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دا فضیلت او رسول الله ﷺ سره د خدمت او کورنئ نزدې والی ذکر اوفرمائیلو،نو په دې سره د هغوی مقصد دا وو،چې کوم سړې رسول الله ﷺ سره دومره نزدې پاتې شوې وی، نو هغه ډیر نیك بخت دي،او ددې نزدې والی او اعتماد په

---

۱) فتح الباری:۹،۱۱۲۵

۲) إرشاد الساری:۸،۱۲۲۹

۳) فتح الباری:۹،۱۱۱۵

۴) اوګورئ،حدیث:۳۷۶۳

تعلق کښې به هغوی د رسول الله ﷺ نه څومره څۀ نۀ وی حاصل کړې، بیا هم هغوی پریښود و سره ټۀ دلته د علم حاصلولو د پاره راځي؟

په دې توجیه سره دا هم معلومه شوه، داؤدی چې کومه توجیه کړې وه، چې دې روایت نه معلومیږی، او دا بیانول ئې مقصود دی چې د هغوی ﷺ ټول سامان هم دغه دری څیزونه دی، دا صحیح نۀ دی، بلکه صحیح دادی، چې دغه دری خالص د ذاتی استعمال د څیزونو ذکر کولو سره مقصود د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه رسول الله ﷺ سره د ډیر نزدې او ژور نسبت او د قرب او اعتماد د تعلق اظهار او ثبوت دی۔[1]

قوله: أفیکم: دلته په اولنی روایت کښې په بعضې طریقو کښې په همزې سره "أفیکم" دی، او په بعضو کښې "وَفِیکم بالواو"۔ او د شعبه په روایت کښې "أَلیس فیکم أو منکم" الفاظ دی۔[2]

د حضرت عمار د شیطان نه د بچ کولو مطلب: "الذی أجاره الله مِن الشیطان علی لسان نبیه" کښې د "الذی" نه مراد حضرت عماربن یاسر دی، څنګه چې د شعبه په روایت کښې "یعنی عماراً" نه واضحه ده، هنه! د حضرت عمار د شیطان نه د بچ کولو مطلب څۀ دی، په دې کښې مختلف اقوال دی۔

ابن التین وائی "علی لسان نبیه" نه مراد د رسول الله ﷺ دا ارشاد دی، "ویح عمار یدعوهم إلی الجنة ویدعونه إلی النار"۔[3] د حیرانتیا خبره داده، چې عمار خو هغوی جنت ته رابلی، او هغوی عمار اُور ته رابلی، نو ګویا نبی علیه السلام حضرت عمار ته "داعی إلی الجنة" ګرځولو سره د شیطان نه د محفوظ کیدو ګواهی ورکړه۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی، دا هم احتمال شته، (د کومې چې ابن التین ذکر اوکړو) او دا هم احتمال شته، چې په دې سره د حضرت عائشې رضی الله عنها هغې مرفوع حدیث اړخ ته اشاره مقصود وی، "ما خُیِّر بین أمرین إلا اختار أرشدهما"۔[4]

حضرت عمار رضی الله عنه ته چې به کله هم په دوؤ کارونو کښې د یو کار اختیارولو د پاره اووئیلې شو، نو هغوی به هغه کار واخستو، چې په کوم کښې زیات رُشد او هدایت وو، په دې شان سره الله تعالی حضرت عمار رضی الله عنه د شیطان د ګمراهئ نه محفوظ کړو، او د رسول الله ﷺ ژبې مبارکې ددې ګواهی ورکړه، دا روایت د ترمذی نه علاوه أحمد هم د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت کړې دی، او حاکم هم ذکر کړې دی۔[5]

---

[1] فتح الباری: ۹/۱۱۱۵

[2] فتح الباری: ۹/۱۱۱۵، وعمدة القاری: ۱۶/۱۲۲۷

[3] الجمع بین الصحیحین اللحمیدی، رقم: ۱۷۹۴، دار ابن حزم، بیروت، وجامع الأصول فی أحادیث الرسول لابن الاثیر صحیح البخاری، باب مسح الغبار عن الرأس فی سبیل الله: ۱۲۸۱۲

[4] سنن الترمذی، باب مناقب عمار بن یاسر، رقم: ۱۳۷۹۹

[5] مسند أحمد، مسند عائشة، رقم الحدیث: ۲۴۸۲۰، المستدرک علی الصحیحین للحاکم، ذکر مناقب عبد الله ابن زید، رقم الحدیث: ۵۶۶۵

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی:

"فکونه یختار أرشدَ الأمرین دائما یقتضی أنه قد أجیر من الشیطان الذی من شانه الأمر بالغی".(۱)

یعنی د حضرت عمار رضی الله عنه قول عمر "أرشد الأمرین" اختیارول ددې خبرې تقاضا کوی، چې الله تعالی د شیطان نه د هغوی حفاظت فرمائیلی دی، چې قول عمر د گمراهئ حکم ورکوی.
د شیطان نه د بچ کیدو مطلب بعضې حضراتو دا بیان کړې دې. چې رسول الله ﷺ د هغوی رضی الله عنه د کمال ایمان متعلق اوفرمائیل، "ملئ إیمانا إلی مشاشه".(۲)
یعنی حضرت عمار رضی الله عنه د اوگو پورې د ایمان نه ډک کړې شو. یا پوره په پوره ډک کړې شو. دا حدیث ابن حبان، بزار او نسائی نقل کړې دې.(۳)

مُشاش د نلی نه خالی هډوکی ته وئیلې شی یا د اوگو بهر راوتلی هډوکی ته وئیلې شی...
د مشاش پورې ډک کیدل دا کنایه ده د کامل او مکمل کیدو نه.
او کیدې شی په دې کښې هغې قیصې ارخ ته اشاره وی، چې ابن سعد په طبقات کښې ذکر کړې دد، چې د هغې الفاظ دادی:

"قال عمار: نزلنا منزلاً فأخذتُ قربتی ودلوی لأستقی، قال النبی أما انه سیأتیك آت یمنعك من الماء فلما کنتُ علی رأس الماء إذا رجل أسود کأنه مرس.....فصرعته".(۴)

حضرت عمار وائی مونږ رسول الله ﷺ سره په سفر کښې یو ځائې کښې کیناستو، نو ما خپله مشکیزه او لوټه واخسته. دې د پاره چې اوبۀ راؤباسم. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل، تا ته به د اوبو نه منع کونکې یو کس راځی. بیا گله چې زۀ د هغې اوبو خوا ته لاړم، نو د تور رنگ یو سړې راغې. چې ډیر تجربه کار وو، ما هغه راؤپرځولو، او وړاندې د رسول الله ﷺ ارشاد دې. "ذاك الشیطان" دا به شیطان وی.
اوس ښکارۀ خبره ده. چې حضرت عمار رضی الله عنه شیطان راپرځوی، نو ددې یقیناً هم دغه مطلب دې. چې الله تعالی حضرت عمار رضی الله عنه د شیطان نه بچ کړې دې.
او کیدې شی په کښې هغې واقعې ارخ ته اشاره وی، چې په هغې کښې مشرکینو حضرت عمار رضی الله عنه په امتحان کښې راگیر کړې وو، او هغه ئې په کفری کلمه وئیلو باندې مجبور کړې وو، او د حضرت عمار رضی الله عنه زړۀ په ایمان باندې مطمئن وو، او الله تعالی "إلا من أکرہ وقلبه

---

۱) فتح الباری: ۱۱۵،۹
۲) جامع الأصول فی أحادیث خیر الرسول، رقم: ۶۵۸۵، سنن ابن ماجه، فضل عمار بن یاسر، رقم: ۱۴۷، سنن النسائی، تفاضل أهل الإیمان، ۱۵۰۰۰۷
۳) صحیح ابن حبان، کتاب أخباره ﷺ عن مناقب عمار، رقم الحدیث: ۷۰۷۶، مسند أبی یعلی، مسند علی بن أبی طالب، رقم الحدیث: ۱۴۰۴
۴) فتح الباری: ۱۱۱۵،۹

مطمئن بالإیمان"[۱] فرمائیلو سره د هغوی د ایمان ګواهی ورکړه.او ښکاره خبره ده.کفری الفاظو وئیلو سره هم چې دهغوی ایمان محفوظ پاتې شو.داد شیطان نه د بچ کیدو دلیل دې.

قوله: الذي لا یعلم أحدٌ غیره: "لا یعلم"په بعضې نسخو کښې د مفعول د ضمیر په حذف سره دې،او د کشمیهنی په روایت کښې د"لا یعلمه"الفاظ دی،په ضمیر منصوب سره. د"صاحب سر"نه مراد حضرت حذیفه دې،او د"سر"نه مراد د مستقبل فتنې او حادثې او د منافقینو هغه احوال او نومونه دی،چې رسول الله ﷺ حضرت حذیفه رضی الله عنه ته ښودلې وو.[۲] حضرت حذیفه په دې حوالې سره معروف دې،او د سند درجه لری.تر دې پورې چې د حضرت عمر رضی الله عنه معمول وو.چې کله به څوک مړ شول.نو هغوی به کتل.چې حضرت حذیفه رضی الله عنه د هغۀ په جنازه کښې شرکت کوی کۀ نه.کۀ حضرت حذیفه رضی الله عنه به جنازه کښې شریك وو،نو حضرت عمر رضی الله عنه به هم په جنازه کښې شریك کیدو.کۀ هغۀ به نۀ وو،نو دې به هم نۀ شریك کیدو.غیره د مُستثنی واقع کیدو په وجه منصوب دې یا د أحد نه د بدل واقع کیدو په وجه مرفوع دې.[۳]

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قراءت: دې نه ورسته حضرت ابو الدرداء د علقمه نه د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د هغه قراءت پوښته اوکړه،چې هغوی به د سورة اللیل آیت"(وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ)"بغیر د"وما خلق"نه صرف"(والذکر والأنثی)"لوستو.علقمه چې کله دا قراءت ذکر کړو.نو ابو الدرداء قسم کولو سره اوفرمائیل،چې د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه ما پخپله همدغه اوریدلې دې،"مِن فِيهِ إِلَىٰ فِيَّ"یعنی د هغوی ﷺ د خُلې مبارکې نه زما خُلې ته منتقل شو.او هغوی ﷺ په دغه وخت کښې زما مخې ته وو،کله چې ئې دا قراءت فرمائیلو.

د قراءت متواتره خلاف کیدو په وجه دا قراءت مرجوح دې: حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ډیر جلیل القدر صحابی دې.او رسول الله ﷺ سره د دوی تعلق هم ډیر نزدې او د اعتماد وو.همدغه شان د حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه لوئی شان او فقیهانه علو مرتبه هم منلې شوې ده.خو دې سره سره د دوی دا قراءت د قراءت متواتره په مقابله کښې د راتلو په وجه مرجوح دې.او شارحین حدیث فرمائی،اصل کښې اول دا آیت همدغسې نازل شوې وو،څنګه چې به ابن مسعود رضی الله عنه او ابو الدرداء رضی الله عنه لوستلو.ولې ورسته بیا"وما خلق....."سره نازل شو،او ددې نزول ثانی ابن مسعود او ابو الدرداء رضی الله عنهما ته علم نۀ وو.په دې وجه دې دواړو حضراتو به په قراءت اولی باندې اصرار کولو،او نورو ټولو خلقو به ددې قراءت متواتره

---

[۱] سورة النحل،آیت:۱۰۶

[۲] فتح الباری:۹،۱۱۶

[۳] إرشاد الساری:۸،۱۲۲

موافق لوستلو، کوم چې په مصحف شریف کښې هم دي۔[1]

علامه عینی رحمه الله فرمائی، "وهذا کظن عبد الله أن المعوذتین لیستا من القرآن"۔[2]

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دلته د لفظ "ما خلق" نه انکار داسې دي، څنګه چې هغوی د معوذتینو د قرآن کریم نه د نه کیدو قائل وو۔

په دویم روایت کښې په بلې طریقې سره همدغه مضمون منقول دي۔

او علامه عینی رحمه الله ددې تکرار په حقله وائی

"وهو فی نفس الأمر یفسر بعضه بعض الحدیث السابق"۔[3] په اصل کښې دویم حدیث د اولنی حدیث تفسیر او تشریح کوی۔ او په دویم روایت سره د اولنی روایت د بعضې خبرو وضاحت او تشریح کیږی۔

قوله: حتی کادوا یستنزلونني عن شی سمعتُه.....: علقمه وائی، ابو الدرداء اووئیل۔ اهل شام په دومره سختئ او اهتمام سره په دې (مشهور) قراءت باندې قائم دی۔ چې په ما باندې ددې دویم قراءت نه راکوزیدو او پرینبودو ته نزدې دی۔ کوم چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دي۔

کتاب التفسیر کښې د ابو الدرداء رضی الله عنه دا خبره په نور زیات وضاحت سره راغلې ده، حال دادې چې هلته د ابو الدرداء الفاظ دا دی:

"وهؤلاء یریدوننی علی أن أقرء "وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ" والله لا أتابعهم"۔[4]

دا خلق (یعنی اهل شام) زما نه دا غواړی، چې زۀ "وما خلق الذکر والانثی" اُولولم، خو په خدائې قسم! زۀ به ددوی اطاعت اونۀ کړم، ځکه کوم چې ما اوریدلی دی، هغه هم صحیح او ثابت دي۔

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې د بعضې نورو حضراتو زیاتوالي: رمذی د خیثمه بن عبد الرحمن په طریقې سره روایت ذکر کړې دي، هغه فرمائی:

"أتیت المدینة فسألتُ الله أن ییسر لی جلیسًا صالحًا، فیسّر لی أبا هریرة. فقال ممن أنت؟ قلت: من الکوفة، جئت ألتمس الخیر، قال أیس منکم سعد بن مالك مُجاب الدعوة أو ابنُ مسعود صاحبُ طهورِ رسول الله ونعلیه، وحذیفةُ صاحبُ سرّه، وعمّار الذی أجارَه الله مِن الشیطانِ علی لسان نبیّه وسلمانُ صاحب الکتابَین"۔[5]

---

[1] فتح الباری: ۹/۱۱۶، وعمدة القاری: ۱۶/۲۳۷

[2] عمدة القاری: ۱۶/۲۳۷

[3] عمدة القاری: ۱۶/۲۳۷

[4] کتاب التفسیر، باب وما خلق الذکر والانثی، رقم: ۴۹۴۴

[5] جامع الأصول فی أحادیث الرسول، رقم: ۶۳۷۹، سنن الترمذی، باب مناقب عبد الله بن مسعود رضی الله عنه، رقم: ۳۸۱۱

وائی زهٔ مدینې ته راغلم،او د الله تعالی نه مې دعا اوکړه،چې یا الله تعالی ! ما ته خو ښهٔ ملګري راکړه،الله تعالی راته حضرت ابو هریره رضی الله عنه راکړو ،هغوی ما ته اووئیل،ستا تعلق چا سره دې؟ ما اووئیل کوفي نه راغلې یم د خیر طالب یم،هغوی رضی الله عنه اووئیل،آیا ستاسو خواه کښې سعد بن مالك نشته،چې مستجاب الدعوات دې؟ او ابن مسعود رضی الله عنه چې د رسول الله ﷺ د پاره به ئې اُوبهٔ او پنړې اوچتولې،او هغوی ﷺ سره به اوسیدو؟ او حذیفه چې د رسول الله ﷺ رازدار وو؟ او عمار رضی الله عنه چې هغه الله تعالی د خپل رسول په ژبهٔ مبارکهٔ باندې د شیطان نه بچ کړې وو ،او سلمان الفارسی دوۀ کتابونو (قرآن او انجیل)والا ؟

په دې روایت کښې ابن مسعود ،عمار .حذیفه رضی الله عنهم سره د سعد بن مالك(یعنی سعد بن أبی وقاص رضی الله عنه)او د سلمان الفارسی رضی الله عنه هم زیاتوالي دي.

۲۱-باب: مَنَاقِبُ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

په عشره مبشره کښې تر اوسه پورې د ووهٔ حضراتو ذکر راغلې دې.او کوم درې حضرات چې پاتې دی،په هغوی کښې د حضرت ابو عبیدة بن الجراح رضی الله عنه ذکر خو دلته راغلې دې.او د عبد الرحمٰن او سعید بن زید مستقل تذکره دلته نهٔ ده راغلې.او هم ابو عبیده رضی الله عنه په عشره مبشره کښې آخری صحابی دې.د چا چې دلته تذکره راغلې ده.هنه ! د سعید بن زید په حقله په مناقب الأنصار کښې یو مستقل باب راروان دې [۱]،او دلته د عمار او حذیفه رضی الله عنهما(چې د عشره مبشره نه نهٔ دی)متعلق اُوس وړاندینې باب قائم کړې شوې وو ،دې نه معلومیږی چې د عشره مبشرؤ تذکره نهٔ ده مرتب کړې شوې.

حافظ ابن حجر رحمه الله په دې سلسله کښې فرمائی:

"وأظن ذلك مِن تصرُّف الناقلين لِكتاب البخاری، كما تقدم مرارًا أنه ترك الكتَاب مسودَة، فإن أسماء من ذكرهم هنا لم يقع فيهم مراعاةُ الأفضلية ولا السَّابقيَّةِ ولا الأسنيةِ وهذه جهات التقديم فی الترتيب، فلما لم يراع واحدًا منها دلَّ على أنه كتب كلَّ ترجمة على حِدةٍ فضمَّ بعض النَّقَلةِ بعضَها إلى بعض حسبَمَا اتَّفَقَ". [۲]

زما په خیال دا د ناقلینو د تصرف د وجهې نه دې.څنګه چې(فتح الباری کښې)څو څو واړې تیر شوی دی.چې امام بخاری خپل کتاب(صحیح بخاری)د مسودې په شکل کښې پرینبودې وو ،ځکه چې دلته هغوی کوم نومونه ذکر کړې دی،په هغې کښې نهٔ د افضلیت په اعتبار سره ترتیب شته.نهٔ د أسبق (فی الإسلام) کیدو په اعتبار سره،او نهٔ د أسنّ (معمر) کیدو په اعتبار سره.او د ترتیب په صورت کښې تقدیم هم ددې وجوهاتو په اعتبار سره کیدې شی،او کیدل پکار هم وو ،(چې د زیات فضیلت،ډیر عمر.او د اولنی اسلام قبلونکو ذکر اول وی،او د نورو ورستو) اُوس چې په دې کښې د یوې وجهې هم رعایت نهٔ دې کړې

---

[۱] کتاب مناقب الأنصار،باب: ۱۳٤

[۲] فتح الباری:۹،۱۱۱۷

شوې،نو معلومه شوه،چې امام بخاری په ترتیب سره ددې حضراتو تذکره نۀ ده کړې.
بلکه هره هره ترجمه ئې جدا جدا لیکلو سره کیښودې وه،چې هغه ناقلینو ته څنګه آسانه ملاؤ شوې ده،او کوم ځائې چې ئې غوښتله کیښوده ئې.

د ابو عبیدة بن الجراح رضی اللہ عنہ تعارفی خاکه: د ابو عبیده رضی اللہ عنہ نوم عامر او سلسله د نسب ئې داسې ده،ابوعبیدة عامربن عبد الله بن الجراح بن هلال بن أهیب بن ضبة بن الحارث بن فهر. رسول الله ﷺسره په فهر بن مالك کښې د دوی نسب ملاویږی.او د دوی مور د دوی د پلار د ترۀ لور وه.د ابو عبیده د مور په حقله راغلی دی،چې هغې اسلام قبول کړې وو،او پلار ئې کافر مړ شوې وو،په غزوۀ بدر کښې قتل کړې شوې وو.او بعضې حضرات وائی،چې پخپله ابو عبیده رضی اللہ عنہ هغه قتل کړې دې.

پخپله ابو عبیده رضی اللہ عنہ په ۱۸ هجرې کښې په طاعون عمواس کښې وفات شو،په دغه وخت کښې دې د حضرت امیر المؤمنین سیدنا عمر فاروق رضی اللہ عنہ له ارخ نه په شام باندې امیر وو.(۱)

د دوی د قبر په حقله علامه عینی رحمہ اللہ فرمائی چې په"غوربیسان"کښې په"عَمتا" نومې کلی کښې دفن کړې شو.او د هغوی د جنازې مونځ حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ ادا کړې دې.(۲)

حضرت ابو عبیدة بن الجراح رضی اللہ عنہ ته د رسول الله ﷺد ژبې مبارکې نه د"أمین الأمة"لقب ملاؤ شوې وو،هغوی د قد نه دنګ لوړ وو.او وړاندینی غابنونه ئې مات شوی وو،چې د رسول الله ﷺد تندی مبارك نه د غشی ویستلو په وخت کښې مات شوی وو.(۳)

د ابو ذر په نسخه کښې لفظ د باب"نشته،او په نورو نسخو کښې شته.(۴)

۳۵۳۴(۵) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِي حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينًا، وَإِنَّ أَمِينَنَا أَيَّتُهَا الأُمَّةُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ». [۴۱۲۱، ۶۸۲۸]

رجال الحدیث

عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ: دا عمرو بن علی ابن بحر الباهلی البصری الفلاس الصیرفی دې،ددۀ احوال تیر شوی دی.(۶)

---

(۱) فتح الباری:۹.۱۱۱۷
(۲) عمدة القاری:۱۶.۱۲۳۸
(۳) إرشاد الساری:۸.۱۲۲۹
(۴) إرشاد الساری:۸.۱۲۲۹
(۵) الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی صحیحه،فی کتاب المغازی،باب قصة أهل نجران،رقم:۴۳۸۲،وفی کتاب أخبار الآحاد،رقم:۷۲۵۵،ومسلم فی صحیحه،فی کتاب فضائل الصحابة،باب من فضائل أبی عُبیدة بن الجراح،رقم:۱۲۴۱۹
(۶) کتاب الوضوء،باب الرجل یوضئ صاحبه،رقم:۱۱۸۲

عَبدُالأعلی: دا عبد الأعلی بن عبد الأعلی البصری السامی دي،ددۀ احوال هم تیر شوی دی۔[۱]

خَالِدٌ: دا ابو المنازل خالد بن مهران حذاء البصری دي،ددۀ احوال د **کتاب العلم،باب "قول النبی ﷺ علّمه الکتاب"** لاندي تیر شوی دی۔[۲]

أبِی قِلَابَۃَ: دا أو قلابه عبد الله بن زید الجرمی دي،ددۀ احوال د **کتاب الإیمان،باب "حلاوة الإیمان"** لاندي تیر شوی دی۔[۳]

أنَسُ بْنُ مَالِکٍ: د رسول الله ﷺ صحابی دي،د دوی احوال د **کتاب الإیمان،باب "مِن الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه"** لاندي تیر شوی دی۔[۴]

قوله: إِنَّ لِکُلِّ أُمَّةٍ أَمِیناً وَأَمِینُنَا أَیَّتُهَا الأُمَّةُ: دلته "الأمّة" د منادی واقع کیدو په وجه مرفوع ده،او یا منصوب بالاختصاص ده،او ددي تقدیر داسي دي، **"أمَّتَنَا مخصوصین من بین سائرالأمم"**۔[۵]

د امین معنی شارح بیان کړي ده، **"الثقة الرضی"** اعتمادی او خوښ سړي۔[۶]

حضرت ابو عبیده رضی الله عنه سره د امین صفت د خصوصیت وجه: دلته دا اشکال کیدي شی،چې د امانت صفت د حضرت ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه په شان په نورو صحابۀ کښې هم موندلې کیدي شی.او یقیناً موندلې شی،بیا ئې ابو عبیده رضی الله عنه په دې لقب سره ولې ملقّب کړې شو.....؟ ددي جواب دادي.اګر چې دا صفت په ابو عبیده رضی الله عنه او نورو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم کښې مشترک وو.ولې په ابو عبیده رضی الله عنه کښې چې تر کومې مبالغې تر حده پورې وو،هغه د هغوی سره خاص وو.او دا د هر صفت کمال متعلق کنټرل پکار دی،چې هغه رسول الله ﷺ د یو صحابی سره خاص فرمائیلی وی، مثلاً د ابوبکر "أرحم" کیدل.د حضرت عثمان رضی الله عنه د حیاء صفت.او د حضرت علی رضی الله عنه د قضاء او فیصلې صفت، چې دا صفات به په نورو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم کښې هم موندلې کیدل.ولې په بعضو بعضو کښې څۀ زیات موندلې کیږی.نو چې په چا کښې کوم صفت زیات اوموندلې شو.هغه ئې هغۀ ارځ ته منسوب کړو۔[۷]

په بعضې طریقو کښې د نورو الفاظو زیاتوالي: حافظ ابن حجر العسقلانی رحمه الله فرمائی چې

---

[۱]) کتاب الغسل،باب الجنب یخرج ویمشی فی السوق وغیره.....۱

[۲]) کشف الباری:۳،۱۳۶۱

[۳]) کشف الباری:۲،۱۲۶

[۴]) کشف الباری:۱۴۲

[۵]) فتح الباری:۹،۱۱۷،وإرشاد الساری:۸،۲۳۰،وعمدة القاری:۱۶،۱۲۳۸

[۶]) فتح الباری:۹،۱۱۷

[۷]) فتح الباری:۹،۱۱۷،وإرشاد الساری:۸،۲۳۰،وعمدة القاری:۱۶،۱۲۳۸

امام ترمذی او ابن حبان دا حدیث د عبد الوهاب الثقفی عن خالد الخذاء په طریقې سره هم په دې سند سره مطول نقل کړې دې، او د هغې په شروع کښې دا الفاظ دی، "أرحم بأمتی أبوبکر وأشدهم فی أمر الله عمر، وأصدقهم حیاءً عثمان، وأقرأهم لکتاب الله أبیّ، وأفرضهم زید، وأعلمهم بالحلال والحرام معاذ....." (۱)

حافظ صاحب وائی، دا حدیث د سند په لحاظ سره صحیح دې، ولې حفاظ وائی، صحیح خبره داده. چې ددې حدیث اولنۍ برخه مرسل ده، او موصول برخه ئې صرف هغه مقدار ده. چې په کومې باندې امام بخاری رحمه الله دلته اکتفاء کړې ده. والله اعلم. (۲)

۳۵۳۵ (۳) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ صِلَةَ عَنْ حُذَيْفَةَ - رضي الله عنه - قَالَ قَالَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - لأَهْلِ نَجْرَانَ «لأَبْعَثَنَّ - يَعْنِي عَلَيْكُمْ - يَعْنِي أَمِينًا - حَقَّ أَمِينٍ». فَأَشْرَفَ أَصْحَابُهُ، فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ رضي الله عنه.

[۴۱۱۹، ۴۱۲۰، ۶۸۲۸]

رجال الحديث

مُسلِم بنُ ابراهيم: دا ابو عمرو مسلم بن إبراهيم ازدی فراهیدی دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "زیادة الإیمان ونقصانه" لاندې تیر شوی دی. (۴)

شُعبَة: دا شعبة بن الحجاج دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلِمَ المسلمون مِن لسانِه ویَدِه" لاندې تیر شوی دی. (۵)

أبی اسحَاق: دا ابو اسحاق عمرو بن عبد الله سبیعی دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "الصلاة من الإیمان" لاندې تیر شوی دی. (۶)

صِلَة: صِلة بن زفر العبسی، أو العلایا أبوبکر الکوفی، تابعی دې، د عمار بن یاسر، حذیفة بن الیمان ابن

---

(۱) سنن الترمذی، باب مناقب معاذ بن جبل، رقم الحدیث: ۳۷۹۰، صحیح ابن حبان، کتاب اخباره ﷺ، رقم الحدیث: ۷۱۳۱

(۲) فتح الباری: ۹/۱۱۷

(۳) الحدیث أخرجه البخاری أیضاً فی کتاب المغازی، باب قصة أهل نجران، رقم الحدیث: ۴۳۸۱، ۴۳۸۰، وکتاب أخبار الاحاد، باب ما جآء فی إجازة خبر الواحد الصدوق، رقم: ۷۲۵۴، ومسلم فی صحیحه، باب فضائل أبی عبیدة بن الجراح، رقم: ۶۴۰۷، والنسائی فی سننه الکبری أبو عبیدة بن الجراح، رقم: ۸۱۹۸

(۴) کشف الباری: ۲/۴۵۵

(۵) کشف الباری: ۱/۶۷۸

(۶) کشف الباری: ۲/۳۷۰

مسعو .علی او ابن عباس رضی الله عنهم نه روایت کوی.او د دوی نه په روایت کونکو کښې.ربعی بن حراش.مسټور بن الاحنف.ابو اسحاق السبیعی.ایوب السختیانی شامل دی۔[۱]
په ۷ هجري کښې د حضرت زبیر رضی الله عنه په خلافت کښې وفات شوې دې۔[۲]
ابن حجر رحمه الله فرمائی:"ثقة جلیل"۔[۳]
عجلی هم وائی،"ثقة"۔[۴] وهبی هم دې ثقه ګرځولې دې۔[۵]

باب ذِکرِ مُصعَبِ بنِ عُمَیرٍ رضی الله عنه

د مُصعب بن عمیر رضی الله عنه تذکره "مُصعب"بضم المیم وفتح العین،او عُمیر بضم العین وفتح المیم(مصغر)د دوی سلسله د نسب داسې ده.مصعب بن عمیر بن هاشم بن عبد مناف بن عبد الدار بن قُصی القرشی العبدری.د دوی کنیت ابو عبد الله دې.د جلیل القدر صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم نه دې۔
رسول الله ﷺ د هجرت نه وړاندې او عقبهٔ ثانیې نه ورسټو دې مدینې منورې ته لیږلې وو.دې د پاره چې خلقو ته قرآن کریم اوښائی.او دین ورته اوښائی.په دې وجه به دوی ته د قاری او مقری په نامې سره آواز کولې شو.د دوی په حقله دا هم وئیلې شوی دی.چې په مدینه منوره کښې د هجرت نه وړاندې د ټولو نه اول د جمعې مونځ په جمې سره کونکې هم دوی دی۔
په جنګ أحد کښې د څلویښتو کالو یا ددې نه په زیات عمر کښې شهید شوې دې.او چې چا دې شهید کړې دې.د هغهٔ نوم"ابن قمئة"مذکور دې.وئیلې شوی دی.چې د رسول الله ﷺ دار ارقم ته د داخلیدو نه ورسټو دوی ته پته اولګیده چې رسول الله ﷺ د اسلام دعوت ورکوی.نو مصعب هم دلته راغلو.او د رسول الله ﷺ د مرضئ مطابق ئې اسلام قبول کړو.خو د خپلې مور او قوم د ویرې ئې خپل اسلام پټ ساتلې وو.او په پته به د رسول الله ﷺ خوا ته ټلو راتلو.بیا عثمان بن طلحه ته پته اولګیده هغهٔ د دوی مور او قوم ته اووئیل.هغوی دې اونیسلواو بندی ئې کړو.او دې هم په دې حالت کښې وو.تر دې پورې چې حبشې ته ئې هجرت اوکړو.د دوی شمیر هم د ټولو نه په اولنو هجرت کونکو کښې کیږی.دې نه ورسټو ئې په غزوهٔ بدر کښې هم شرکت اوکړو۔
دلته مصنف رحمه الله د دوی په حوالې سره باب خو قائم کړې دې.ولې په دې کښې ئې هیڅ یو حدیث نه دې ذکرکړې.شارحین دې متعلق وائی.چې مصنف به دا ځائې خالی پریښودې وی.بیا به هغه ته د خپلو شرائطو مطابق حدیث نه وی ملاؤ شوې۔

---

[۱] تهذیب التهذیب."حرف الصاد":۴.۳۸۴.والجرح والتعدیل:۴.۴۴۶.رقم الترجمة:۱۹۶۴\
[۲] الثقات لابن حبان:۴.۳۸۳.تقریب التهذیب:۲۷۸\
[۳] الثقات لابن حبان:۴.۳۸۳.تقریب التهذیب:۱.۲۷۸\
[۴] الثقات للعجلی:۱.۴۷۹\
[۵] الکاشف:۱.۱۱۱\

هنه ! په کتاب الجنائز کښې د دوی متعلق څه ذکر شوی دی،مثلاً دا چې د دفن کولو په وخت کښې دوی ته پوره کفن هم نه وو ملاؤ شوې۔[۱]

په بعضې نسخو کښې د "باب ذکر مصعب بن عمر" الفاظ راغلې دی،او په بعضو کښې "باب مناقب مصعب بن عمیر" الفاظ دی،او په بعضې نسخو کښې ترجمه او باب د سره شته هم نه۔[۲]

۲۲-باب: مَنَاقِبُ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا.

قَالَ نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَانَقَ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- الْحَسَنَ. [۲۰۱۶]

حضرات حسنین: د حضرت علی رضی الله عنه د څامنو حسن او حسین رضی الله عنهما د مناقبو بیان۔

حسن او حسین د حضرت فاطمې رضی الله عنها څامن او د رسول الله ﷺ نوسی وو،حضرت حسن مشر او حسین کشر وو،د دواړو بې شمیره فضائل او مناقب دی،حضرت حسن د خلافت نه د لاس اخستلو اعلان کولو سره د حضرت معاویه په لاس باندې بیعت اوکړو،او دا د هغوی هغه کارنامه ده،چې په دې سره د مسلمانانو د دوؤ لویو ډلو په مینځ کښې د جنګ او نزاع او وینې تویید و ویره ختمه شوې وه،او رسول الله ﷺ ددې پیشن ګوئی فرمائیلې وه۔

او د حضرت حسین رضی الله عنه ولادت د ۴ هجري په شعبان کښې شوې وو،او وفات ئې په ۶۱ هجري کښې په کربلا کښې د یزید او عبید الله بن زیاد د فوځیانو په لاسونو شوې وو،د حضرت حسین د شهادت واقعه ډیره مشهوره ده،د هغې خلاصه داده،کله چې حضرت معاویه یزید د خپل ځان نه ورسترو خلیفه اوټاکلو،نو د کوفې خلقو حضرت حسین رضی الله عنه ته خطونه اولیکل،او د هغوی په لاس باندې د بیعت ئې هغوی ته یقین ورکړو،کله چې حضرت حسین رضی الله عنه لاړو نو خلقو هغوی سره بې وفائی اوکړه،او یزیدی فوج سره د هغوی رضی الله عنه مقابله اوشوه،چې په هغې کښې د خپلې ټولې کورنۍ سره هغوی رضی الله عنه د شهادت جام نوش اوفرمائیلو۔[۳]

وقال نافع بن جُبير: نافع بن جبیر،د جبیر بن مطعم ځوې دې،او د دوی دا تعلیق په کتاب البیوع کښې موصولاً مذکور دې۔[۴]

۳۵۳۶[۵] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى عَنِ الْحَسَنِ سَمِعَ أَبَا بَكْرَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى الْمِنْبَرِ وَالْحَسَنُ إِلَى جَنْبِهِ، يَنْظُرُ إِلَى النَّاسِ مَرَّةً وَإِلَيْهِ مَرَّةً، وَيَقُولُ «ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ، وَلَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ». [ر: ۲۵۵۷]

---

[۱] فتح الباری:۹.۱۱۸،وإرشاد الساری:۸.۲۳۱،وعمدة القاری:۱۶.۲۳۹

[۲] الأبواب والتراجم،ص: ۳۲٤

[۳] عمدة القاری:۱۶.۲۳۹،فتح الباری:۹.۱۱۲۰

[۴] اوګورئ کتاب البیوع،باب ما ذکر فی الأسواق،رقم:۲۱۲۲

[۵] الحدیث سبق تخریجه فی کتاب الصلح،باب قول النبی ﷺ للحسن بن علی أن ابنی هذا سید ولعلّ الله أن یُصلح به بین فِئَتین عظیمتین.....

رجال الحديث

صَدَقَةُ: دا صدقة بن الفضل،ابو الفضل المروزی دي،ددهٔ احوال د کتاب العلم،باب"العلم والعظة"لاندي تير شوی دی۔[1]

ابْنُ عُيَيْنَةَ: دا سفيان بن عيينه دي،ددهٔ احوال د کتاب العلم،باب"قول المحدّث حدّثنا أو أخبرنا"لاندي تير شوی دی۔[2]

أبُو مُوسَى: دا ابو موسٰی اسرائيل بن موسی البصری دي،ددهٔ احوال د کتاب الصلح،باب"قول النبی للحسن بن علی إن ابنی هذا....."لاندي تير شوی دی۔

اَلْحَسَنِ: دا حسن بن أبی الحسن بن يسار البصری دي،ددهٔ احوال د کتاب الإيمان،باب"وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فاصلِحوا بَيْنَهما"لاندي تير شوی دی۔[3]

أبَا بَكْرَةَ: دا نُفيع بن الحارث ابو بکره رضی الله عنه دي،ددهٔ احوال د کتاب الإيمان،باب"وان طائفتان من المؤمنين....."لاندي تير شوی دی۔[4]

قوله: اِبْنِی هَذَا سَيِّدٌ: دا د حضرت حسن ډير لوي فضيلت دي،چي رسول الله ﷺ دوی ته"اِبن"(خپل ځوي) وئيلو سره سيد او سردار اوګرځولو۔[5]

د دوو ډلو مينځ کښي د صلحي پيشن کوئی او د هغي وقوع: رسول الله ﷺ چي کومه پيش کوئی فرمائيلي ده هغه ورستو واقع او متحقق شوي ده،کله چي په سيدنا حسن رضی الله عنه او سيدنا معاويه رضی الله عنه او ددي دواړو په ملګرو کښي د خلافت په حوالي سره اختلاف وو.او د ډيرې لوي وينې تويېدو ويره وه،حضرت حسن رضی الله عنه د خلافت نه لاس اخستلو سره ددي ذمه وارئ د ترسره کولو د پاره حضرت معاويه رضی الله عنه ته اووئيل،او حضرت معاويه رضی الله عنه د دواړو ډلو په اتفاق سره د مسلمانانو خليفه او امير اوګرځيدو۔

دا د حضرت حسن رضی الله عنه ډيره لويه قربانی،ايثار او بې مثاله فضيلت او منقبت دي،او ښکاره خبره ده،چي حضرت حسن رضی الله عنه دا کار د څهٔ ذلت يا د ملګرو د کم والی د وجهي نه هيڅ کله هم اونهٔ کړو،ځکه چي د ځلوينښتو زرو نه زياتو کسانو د هغوی په لاس باندي د مرګ بيعت کړي وو،خو هغوی د مسلمانانو د اجتماعی خير خواهئ او قومی سلامتئ د پاره دي ته

---

[1]) کشف الباری: ۱۳۸۸،٤

[2]) کشف الباری: ۱۱۰۲،۳

[3]) کشف الباری: ۱۲۲۰،۲

[4]) کشف الباری: ۱۲۲۵

[5]) إرشاد الساری: ۱۲۳۱،۸

تیار شو،او د قائمي دنیا پوري ئي یو ښکلي مثال پریښودو۔[1]

٣٥٣٧(٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عُثْمَانَ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رضى الله عنهما - عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ وَيَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا». أَوْ كَمَا قَالَ.

رجال الحديث

مُسَدَّدٌ: دا مسدد بن مسرهد دي،ددۀ احوال د کتاب العلم،باب"من خص بالعلم قومًا دون قومٍ"لاندي تیر شوی دی۔[3]

مُعْتَمِرُ: دا ابو محمد معتمر بن سلیمان دي.ددۀ احوال هم په دغه کتاب العلم،باب"من خص بالعلم قومًا دون قومٍ"لاندي تیر شوی دی۔[4]

أَبِي: دا د معتمر پلار سلیمان بن طرخان دي،ددۀ احوال هم د کتاب العلم،باب"من خص بالعلم قوماً دون قومٍ"لاندي تیر شوی دی۔[5]

أَبُو عُثْمَانَ: دا ابو عثمان بن عبد الرحمٰن بن مل النهدی دي،ددۀ احوال د کتاب مواقیت الصلاۃ،باب"الصلاۃ کفارۃ"لاندي تیر شوی دی۔

د حدیث تشریح د اسامة بن زید په حوالي سره ذکر شوی باب کښي تیره شوي ده۔

٣٥٣٨(٦) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رضى الله عنه - أُتِيَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زِيَادٍ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ - عَلَيْهِ السَّلاَمُ - فَجُعِلَ فِي طَسْتٍ، فَجَعَلَ يَنْكُتُ، وَقَالَ فِي حُسْنِهِ شَيْئًا. فَقَالَ أَنَسٌ كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، وَكَانَ مَخْضُوبًا بِالْوَسْمَةِ.

رجال الحديث

مُحَمَّدُ بْنُ الحُسَين بْن ابراهيم: دا محمد بن الحسین بن إبراهیم بن الحرّ بن زعلان العامری ابو جعفر بن اشکاب البغدادی دي،چې د علی بن اشکاب ورور دي،او د هغوی نه کشر دي،

---

[1]) إرشاد الساری:٨،١٢٣١

[2]) الحدیث سَبق تخریجُه فی ذکر أسامة بن زید:١٣٧٣٥

[3]) کشف الباری:٤،١٥٨٨

[4]) کشف الباری:٤،١٥٩٠

[5]) کشف الباری:٣،١٥٩٣

[6]) الحدیث أخرجه الترمذی هَذا الحدیث أیضًا فی المناقب باب مناقب الحسن:١٣٧٧٨

د دوی تعلق په اصل کښې خراسان او "نسا" سره دي.

د دوی په شیوخو کښې د دوی پلار حسین بن إبراهیم، أبو النضر، إسحاق بن سلیمان الرازی، حسین بن محمد المروزی، علی بن حفص المدائنی، محمد بن أبی عبیدة بن معد المسعودی، قراد أبو نوح، عبد الصمد بن عبد الوارث، عبید الله بن موسیٰ وغیره شامل دی، او د دوی نه په روایت کونکو کښې بخاری، أبو داؤد، نسائی، ابن أبی عاصم، ابن أبی حاتم، أبو الطیب أحمد بن أبی القاسم البغوی وغیره شامل دی.

عبد الرحمٰن بن أبی حاتم د دوی په حقله وائی:

"کتبتُ عنه مع أبی وهو ثقة، سئل أبی عنه فقال: "صدوق". ما او زما پلار د دوی نه احادیث لیکلی دی، او هغه ثقه دي، د والد محترم نه د دوی په حقله پوښتنه اوکړې شوه، نو وې وئیل رښتونې دي.

ابو بکر بن أبی عاصم وائی: "أثبت".

ابو العباس بن سعید وائی: "کان من أهل العلم والأمانة".

ابن حبان په کتاب "الثقات" کښې ددۀ تذکره کړې ده.

ابو الحسین ابن المنادی وائی:

"توفی یوم الثلاثاء لعشر خلون من محرم سنة إحدی وستین ومئتین، له ثمانون سنة".

په لسم محرم ۲۶۱ هجري کښې وفات شو، او د دوی عمر ۸۰ کاله وو۔[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی:

"قلت: وقال مسلمة: ثقة، ثبت، جلیل. وقال الخطیب: کان ثقة حافظاً روی البخاری عنه أربعة".

مسلمه دوی ته ثقه ثبت او جلیل وئیلی دی، خطیب هم ثقه او حافظ اووئیل، امام بخاری د دوی نه څلور روایتونه روایت کړی دی۔[2]

حُسَیْنُ بنُ مُحَمَّد: دا حسین بن محمد بن بهرام تمیمی مروزی دي، ددۀ احوال د کتاب الجهاد، باب "من أتاه سهم غرب فقتله" لاندې تیر شوی دی۔[3]

جَرِیْر: دا جریر بن حازم یا ابن أبی حازم بن زید الازدی البصری دي، ددۀ احوال تیر شوی دی۔[4]

مُحَمَّد: دا محمد بن سیرین رحمه الله مشهور تابعی دي، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "اتباع الجنائز من الإیمان" لاندې تیر شوی دی۔[5]

---

[1] تهذیب الکمال: ۷۹.۲۵، و تهذیب التهذیب: ۱۲۱.۹\

[2] تهذیب التهذیب: ۱۲۲.۹\

[3] کتاب الجهاد: ۱۶۴.۱\

[4] کتاب الصلاة، باب الخوخة والممر فی المسجد.....\

[5] کشف الباری: ۵۲۴.۲\

أنس بن مالک: د رسول الله ﷺ مشهور صحابی مراد دي، ددۀ احوال د **کتاب الإیمان، باب "من الإیمان أن یُحبَ لأخیه مایُحب لنفسه"** لاندې تیر شوی دی۔[1]

د یزید او ابن زیاد حکومت:

قوله: أُتِيَ عُبَيْدُ اللهِ بنُ زِيَادٍ.....: عبید الله بن زیاد د یزید بن معاویه رضی الله عنه د ارخ نه د کوفې امیر وو، یزید د حضرت معاویه رضی الله عنه ځوې وو، او د هغوی نه ورسټو بادشاه جوړ شو. او اکثرو مسلمانانو د هغوی په لاس باندې بیعت اوکړو، خو ګنړ شمیر حضرات صحابۀ کرامو رضی الله عنهم د هغوی د خلیفه منلو د او د هغوی په لاس باندې د بیعت کولو نه انکار کړې وو. چې په هغوی کښې حضرت عبد الله بن الزبیر رضی الله عنهما او حضرت سیدنا حسین بن علی رضی الله عنهما په خاصه توګه د ذکر وړ دی۔

بیا حضرت حسین رضی الله عنه ته د کوفې نه د حضرت علی رضی الله عنه ملګرو خطونه لیکلو سره کوفې ته اوغوښتلو. او دا یقین ئې ورکړو، چې دوی به د یزید په ځائې ستا په لاس باندې بیعت اوکړی. حضرت حسین رضی الله عنه د ګنړ شمیر خطونو ملاویدو په وجه کوفې ته تلل مناسب اوګنړل. اوحضرت عبد الله بن عمر، حضرت عبد الله بن عباس او حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنهم په شان جلیل القدر صحابۀ کرامو دوی ته دا وئیلو سر منع کړو. چې کوفې والا دهوکه مار دی، د هغوی په خبرو او وعدو باندې بالکل یقین مۀ کوئ. ځکه چې دې خلقو ستا والد محترم غل کړو. ستاسو ورور ئې یواځې پریښودو. نو یقیناً هغوی به تاسو سره هم دغه کوی۔

خو حضرت حسین رضی الله عنه د هغوی خبره اونۀ منله. او کوفې ته روان شو. چې د هغې نه ورسټو د کربلا تاریخی غمژنه پیښه وزاندې راغله. دا واقعه ډیره تفصیلی ده. او د تاریخ یو مستقل باب نه. بلکه مستقل تاریخ دې. چې په دې باندې ډیر څۀ لیکلې شوې او وئیلې شوی دی. او تر قیامته پورې به لیکلې او وئیلې شی۔

مونږ د تاریخ د مستند او غیر مستند روایاتو. حقیقت او افسانو وضاحت دلته نۀ کوو. او نۀ دا د هغې ځائې دې. هنه ! ددې دومره پس منظر او د تاریخ متفقٌ علیه خبرې ذکر کول ضروری ګنړو. چې په هغې سره په پورتنو روایاتو باندې پوهیدلو کښې مدد ملاویږی۔

د کربلا واقعه او د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت پس منظر او د واقع کیدو اسباب: په کربلا کښې د رسول الله ﷺ د نوسی حضرت حسین رضی الله عنه او د هغوی د کورنئ د نورو حضراتو شهادت خو د انسانی تاریخ زړۀ نرونکې او ډیره د بهیمیت واقعه ده. او په دې نفوس قدسیو باندې چې د ظلم او ستم کوم غرونه اوغورځولې شو. هیڅ یو هوش لرونکې مسلمان د هغې تائید او د هغې د ذمه دارو ملګرتیا نۀ شی کولې. خو په دې پس منظر کښې تلو او د هغې تاریخ کړې یوځائې کولو نه ورسټو معلومیږی. چې ددې پیښې هم د هغه واقعاتو سره تعلق دې. کوم چې د خلافت راشده په زمانه کښې د یهودیانو ایجنټانو سبائی ډلې او د

---

[1] کشف الباری: ۱٤۰۲

نورو سازش کونکو عناصرو او د منافقینو د سازشونو او د هغوی په دهوکه کښې راګیر شوې د ساده زړهٔ مسلمانانو د سادګئ په نتیجه کښې رانښکاره شوې وې.او څهٔ به د الله تعالی خپل حکمت هم په دې کښې پټ وی.

بنو هاشم او بنو اُمیه: علامه ابن خلدون په خپل شهرهٔ آفاق تاریخ کښې په دې حوالې سره ډیره محققه.معتدله او معقوله توجیه فرمائیلې ده.چې د هغې خلاصه داده.چې د رسول الله ﷺ جدّ امجد او د قریشو د سردار عبد مناف په اولاد کښې قدرت لوې فضل او کمال کیښودې وو.او د هغوی نجابت او شرافت یو مسلم حقیقت دې.د عبد مناف په خامنو کښې یو عبد شمس وو.او د مشر کیدو په وجه د قریشو سرداری اول د دوی په لاس کښې پاتې شوه.او بیا د دوی ورور او د عبد مناف بل خوی هاشم ته منتقل شوه.او هاشم د رسول الله ﷺ د نیکهٔ عبد المطلب پلار وو.او عبد الشّمس د ابو سفیان بن حرب بن امیه د نیکهٔ (امیه) پلار وو.

د رسول الله ﷺ د بعثت نه ورسته قریشو (چې د فهر بن مالك بن النضر د اولاد لقب وو) د بنو هاشمو نه پریکړه (یعنی بائیکاټ) اوکړه.دا د ۷ نبوی کال خبره ده.تر دریؤ کالو پورې بنو هاشم په شعب أبی طالب کښې محصور وو.او قسمه قسم تکلیفونه ئې برداشت کړل..... ددې نه ورسته قریشو څهٔ ضمیر لرونکو سردارانو ته دا خبره ډیره بده ښکاره شوه.چې مونږ په بنو هاشمو باندې دا ناروا او غیر انسانی پابندئ لګولې دی.نو هغوی دا پابندئ لرې کړې.بل ارخ ته په رسول الله ﷺ باندې د قریشو د توقعاتو خلاف هیڅ اثر هم اونهٔ شو.

او هغوی ﷺ خپل دعوت د حصار په زمانه کښې هم جاری اوساتلو.او ددې نه ورسته هم.د شمیر څو کسانو نه علاوه تقریبًا ټولو قریشو به د رسول الله ﷺ د دعوت قبلولو نه انکار کولو.او د هغوی ﷺ بابرکت ذات ته او د هغوی ﷺ خاندان ته به ئې تکلیفونه رسول.او رسول الله ﷺ به برابر په هغې باندې صبر کولو.او خلق به ئې پوهه کول.تر دې پورې چې رسول الله ﷺ د الله تعالی په حکم باندې مدینې طیبې ته هجرت اوفرمائیلو.جهاد شروع شو.او بیا په غزوهٔ بدر کښې د قریشو اکثر سرداران قتل کړې شو.اسلام مضبوط ډیدو او کفر کمزورې کیدو.او په اتمه (۸) هجرئ کښې د فتح مکې په صورت کښې الله تعالی اسلام ته فتح مبین او فیصله کونکې غلبه ورعطاء کړه.

د ابو سفیان اسلام قبلول د فتح مکې په ورځ د قریشو سردار ابو سفیان وو.چې د دوی خپل نوم صخر وو.او د حرب بن امیة بن عبد الشمس بن عبد مناف خوی وو.دوی د نورو سردارانو په مقابله کښې زیاد صبر کونکې.پوهه او په نجابت او تدبُر باندې متصف وو.او د هغوی خلاف الله تعالی دوی د اسلام په دولت باندې هم مشرف کړل.رسول الله ﷺ په مکه معظمه کښې په فاتحانه ډول داخل شوې وو.او هغوی ﷺ ته هر یو مخالف سره د هر څهٔ کولو قدرت حاصل وو.ولې هغوی ﷺ د عامې معافئ اعلان اوفرمائیلو.او د فتح مکه ورځ ئې د یوم الملحمه (د جنګ ورځ) په ځائې د یوم المرحمه (د رحمت ورځ) اوګرځوله.او د قریشو په حقله ئې دا تاثر رد اوفرمائیلو.چې الله تعالی نن ورځ قریش ذلیل کړل.بلکه وې

فرمائیل، چې نن الله تعالی قریشو ته عزت ورکړو۔
د رسول الله ﷺ ترۀ عباس هم په دې موقع باندې اسلام قبول کړو، او د هغوی په وینا باندې ابو سفیان هم اسلام قبول کړو، او رسول الله ﷺ نۀ صرف د هغوی اسلام قبول او منظور اوفرمائیلو، بلکه هغوی ته ئې عزت ورکړو، او وې فرمائیل، چې څوك د ابو سفیان کور ته راغې هغه هم په آمان کښې دې۔
د ابو سفیان بی بی عاتکۀ بنت عتبه هم مسلمانه شوه، او د یو قول موافق د هغوی ځوې معاویه رضی الله عنه هم په دې موقع باندې مسلمان شو، دا ټول حضرات په اسلام کښې داخل او د صحابیت په شرف باندې برخه آور شو، او د رسول الله ﷺ په ژوند مبارك کښې او د وصال نه ورسته د اسلام لمن سره پیوست پاتې شو۔
د ابو سفیان د ریښتونې مسلمان کیدو دلائل او قرائن: څنګه چې د رسول الله ﷺ په حقله دا سوچ کول محال دی۔ چې هغوی ﷺ د څۀ خوف یا لالچ په وجه د ابو سفیان په اسلام ښکاره کولو باندې خاموشی اختیار کړې وه، او رسول الله ﷺ د ابو سفیان اسلام نۀ قبلولو باندې پوهه وو..... همدغه شان دا منل هم ناممکن دی، چې ټول عمر رسول الله ﷺ او د هغوی ﷺ بهادرو صحابۀ کرام رضی الله عنهم سره جنګیدونکې او د قیصر په دربار کښې د واقعې خلاف یولفظ وئیلونه ځان بچ کونکی ابوسفیان د ویرې د وجهې خپل اسلام قبلول ښکاره کړل۔ بلکه هغوی خو د اسلام قبلولو نه لږ وړاندې د فاتح اعظم رسول کریم ﷺ په وړاندې د هغوی ﷺ په نبی کیدو باندې د عدمِ اطمینان اظهار کړې وو، او بیا الله تعالی په خپل فضل او کیدې شی درسول الله ﷺ د دعاء په برکت سره د هغوی سینه داسلام دپاره پرانستې وی
د حضرت معاویه رضی الله عنه د خاندان د حکومت ابتداء: د آقائې نامدار ﷺ د وفات نه ورسته د خلافت راشده په زمانه کښې خلیفۀ راشد ثانی سیدنا حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د دمشق والی یزید بن أبی سفیان جوړ کړې وو، او د اُردن ئې معاویه بن أبی سفیان رضی الله عنهم، بیا کله چې د یزید په طاعون عمواس کښې وفات اوشو، نو د دمشق والی د هغۀ ورور حضرت معاویه رضی الله عنه جوړ کړې شو، دمشق د شام دارالخلافه ده، او د حجاز نه علاوه عراق او شام د اَولیٰ زمانې نه د اسلام او مسلمانانو ډیرې اهمې او د ستائنې وړ سیمې ګنړلې شوې۔
د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنهما اختلاف: د سیدنا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه ورسته حضرت رضی الله عنه عثمان امیر المؤمنین جوړ کړې شو، نو هغوی هم حضرت معاویه رضی الله عنه د شام والی جوړ کړې پرینبودو، او بیا کله چې فتنه پیدا کونکو، حضرت عثمان رضی الله عنه، په غمژن کونکې طریقې سره شهید کړو، نو ګنړو صحابۀ کرام رضی الله عنهم د حضرت عثمان رضی الله عنه انتقام اخستل د خلافت د ذمه وارئ پورته کونکو اولین فرض اوګرځولو، د حضرت طلحه او زبیر رضی الله عنهما په شان أصحابو (چې د عشره مبشره نه دی) په وینا باندې خلیفه حضرت علی رضی الله عنه جوړ کړې شو، او خلیفه جوړیدو سره ام المؤمنین حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها، او د رسول الله ﷺ جلیل القدر او مدبر صحابی حضرت عمرو بن العاص، طلحه، وزبیر، مغیره بن شعبه، نعمان بن بشیر، ابو موسیٰ اشعری او د سیدنا معاویه رضی الله عنهم په شان صحابۀ رسول الله ﷺ د هغوی نه د حضرت عثمان رضی الله عنه د انتقام اخستلو مطالبه اوکړه، دلته حضرت

عثمان رضی اللہ عنہ شهید کونکی سبایان او شر پیدا کونکی د حضرت علی رضی اللہ عنہ نه کیر چاپیره وو،او حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره د حضرت عثمان غنی رضی اللہ عنہ د قصاص خبره چیرل ناممکن نۀ وه،خو د فریق ثانی د دې نه لاس اوباسل هم آسان نۀ وو،ځکه چې هغوی د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وارثان هم وو،او د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قتل څۀ وړه خبره خو نۀ وه.

په دې حوالې سره په اختلاف کښې ورو ورو شدّت او سختی راتله،او نعمان بن بشیر د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ قمیص مبارك او د هغوی د بی بی محترمې حضرت نائلې ګوتې (چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د بچ کولو په وخت کښې کټ کړې شوې وې) اخستلو سره شام ته لاړو،او هلته حضرت معاویه د جامع دمشق په منبر باندې کیښودلو سره خلقو سره ئې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د مظلومانه شهادت او د هغوی په قصاص اخستلو کښې په وړاندې ورستو کیدو باندې خبره اوکړه.

د حضرت معاویه د دغه ځائې د خلقو سره د ډیر وخت پېژندګلو،بیا د ډیرې زمانې نه د هغوی خدمت،او خپل خاندانی وجاهیت او طبعی سیاسی تدبر په شان څیزونو د وجهې نه، او څۀ د پیښې د نزاکت او درد مندئ په وجه باندې د حضرت معاویه په حق کښې د عامې رائې کیدل بالکل قدرتی او قرین قیاس وو،نو د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پاره دا مسئله ختمول ډیر مشکل شو،او هم په دې وجه باندې هغوی رضی اللہ عنہ ته د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا خلاف جنګ جمل او د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ خلاف جنګ صفین کول هم په غاړه شو،چې په دې کښې په اولنی کښې (د تاریخی شهادتونو موافق) لس زره او په دویم کښې د یو لاکھ پورې کسانو ژوندونه ختم شو.

اګر چې ددې جنګونو په راګرمولو کښې او دواړو اړخونه ته په نقصان رسولو کښې د فتنې پیدا کونکو بنیادی کردار وو،خو د موقف اختلاف په هر حال کښې په فریقینو کښې وو،اختلاف ته د بنو هاشم (د نبی علیہ السلام او د حضرت علی رضی اللہ عنہ د خاندان) او بنو امیه (د حضرت عثمان او معاویه رضی اللہ عنہما د خاندان) په مینځ کښې د اختلاف په تناظر کښې هم کتلې شوی دی.په دې حوالې سره چې کومو خلقو حضرت علی رضی اللہ عنہ ته د رسول الله ﷺ د خاندان،او زوم کیدو،او سبقت فی الاسلام په وجهې سره افضل او برحق اووئیل.نو هغه په خپل ځائې باندې صحیح دی.ولې د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ خپل جدّ امجد اُمیه اړخ ته نسبت کولو سره هغوی د خاندان نبوت خلاف یا حریف ګرځول،د دوی او د دوی د پلار ابو سفیان اسلام مشکوک ګرځول،دوی د جاهلیت او د باطل شهنشاهیت خوښونکی او غوښتونکی ګرځولو سره ګمراهئ اړخ ته منسوب کول هم په هیڅ شان سره صحیح نۀ دی.

ځکه چې یو خو رسول الله ﷺ د الله تعالی رسول او د حق علم او بیرغ پورته کونکی وو،د خپل نسب د پاره بادشاهت او سرداری حاصلول د هغوی مقصد کله هم نۀ وو،ابو لهب په بنو هاشمو کښې د کیدو سره سره د الله تعالی د رسول دښمن او مردود دې،او د دوی د پلار،کۀ د فتح مکې په وخت اسلام قبلول عیب دې.نو حضرت عباس د رسول الله ﷺ ترڅ هم په دې موقع باندې اسلام قبول کړې وو،او د علی رضی اللہ عنہ پلار خو د سره اسلام قبول کړې نۀ وو،(نو بیا صرف حضرت معاویه په دې بناء باندې د تنقید هدف جوړ شو،) بیا حضرت

عثمان رضی اللہ عنہ هم د بنو امیو نه وو، او خلیفهٔ راشد وو، نو بیا مؤرخ د بنو امیو د حکومت ابتداء د حضرت معاویه نه ولې کوی؟ ددې جړې خو د خلافت راشده په زمانه کښې وې، او د رسول الله ﷺ زوم خو حضرت عثمان رضی اللہ عنہ هم دې، او معاویه د رسول الله ﷺ (اوښې) اخ الزوجة دې او ابو سفیان ئې خُسر دې۔

په هر حال کښې د حضرت علی رضی اللہ عنہ او معاویه رضی اللہ عنہما په مینځ کښې اختلاف وو، او حضرت علی رضی اللہ عنہ د عبد الرحمٰن بن الملجم خارجی په لاسو شهید کیدو نه ورسټو د هغوی رضی اللہ عنہم ځوې حضرت حسن رضی اللہ عنہ امیر جوړ کړې شو، هغوی د حضرت معاویه سره صلح اوکړه، او د هغوی په حقله ئې د امارت نه لاس واخستل، حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کښې راپاسیدونکی، او په عهد مرتضوی کښې نور هم مضبوطیدونکی سبایان او خارجی فتنې ئې په خپل سیاسی تدبُر او حکمت عملئ سره د خپو لاندې کړې، او تر ډیر حده پورې ئې یو مستحکم حکومت قائم کړو۔

د حضرت سیدنا معاویه رضی اللہ عنہ وفات او د یزید خلافت: د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ په ۶۰ هجرې کښې وفات اوشو، د وفات نه وړاندې د حضرت مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ په شان د جلیل القدر او تجربه کار صحابی په مشورې سره ئې د خپل ځوې یزید د حکومت د پاره لار برابرول شروع کړل، حضرت مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ په دې حوالې سره خپل کردار ادا کړو، مغیره بن شعبه رضی اللہ عنہ په دې الفاظو سره په یزید باندې د اعتماد اظهار اوکړو:

"ذهب أعیان الصحابة وکبراء قریش وردوا أسنانهم وإنما بقی أبناءُهم وأنت مِن أفضلِهم وأحسنِهم رأیًا وسیاسةً وما أدری ما یمنع أمیرَ المؤمنین من العهد لك"۔(۱)

لوې لوې صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم او د قریشو لوې کسان هم د دنیا نه تلی دی، هغوی خپل عمرونه اوخوړل، اُوس د هغوی رضی اللہ عنہم ځامن پاتې شوی دی، چې په هغوی کښې تهٔ غوره، او د رائې او سیاست په اعتبار سره د نورو نه ښهٔ ئې، او ما ته علم نشته چې امیر المؤمنین (سیدنا معاویه) ستاسو د پاره د ولی عهد عهده ولې نهٔ اخلی۔

یزید دا خبره حضرت معاویه رضی اللہ عنہ ته اوکړه، حضرت معاویه د حضرت مغیره رضی اللہ عنہ نه پوښتنه اوکړه، نو هغهٔ هغوی ته اووئیل:

"قد رأیت ما کان من الاختلاف وسَفك الدَّم بعد عثمان وفی یزید منك خَلف، فاعهد له یکون کهفًا للناس بعدك فلا تکون فتنةٌ ولا یُسفك دم وأنا أکفیك الکوفة ویکفیك ابنُ زیاد البصرة....."(۲)

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه ورسټو چې کوم اختلاف او وینه تویه شوې وه، ما هغه لیدلې ده، او ستاسو ښکلې جانشینی یزید کولې شی! لهذا د هغهٔ د پاره وصیت اوکړئ، دې به ستاسو نه ورسټو خلقو د پاره ښکلې سهارا او مددګار ثابت شی، او نهٔ به فتنه وی او نهٔ وینه توئیدل...

---

(۱) تفصیل د پاره اوګورئ: تاریخ ابن خلدون: ۱۲۰،۳

(۲) تاریخ ابن خلدون: ۱۲۰،۳

او زهٔ ستا ډ پاره د کوفې ذمه داري اخلم، او ابن زیاد به د بصرې ذمه داری واخلی۔
سیدنا امیر معاویه رضی اللہ عنہ سره ددې خبرو نه ورسټو حضرت مغیره هم د یزید د ولی عهد جوړولو د پاره کار شروع کړو، او حضرت معاویه رضی اللہ عنہ هم په دې حوالې سره د خلقو خیالاتو جوړولو سره د مشورو څهٔ سلسله شروع کړه۔
حضرت مغیره بن شعبه په ۴۹ یا ۵۰ هجرې کښې وفات شو، نو حضرت معاویه د هغوی په ځائې د کوفې والی هم زیاد جوړ کړو، او په دې طریقې سره زیاد سره دوه ښارونه راغلل، بیا زیاد کوفې ته لاړو، او بصره ئې حضرت سمرة بن جندب رضی اللہ عنہ ته اوسپارله۔
زیاد څوک وو؟: د زیاد او ابن زیاد په دې تاریخ (خلافت یزید او شهادت حسین رضی اللہ عنہ) کښې لوئې بنیادی کردار دې، زیاد هغهٔ سړې دې، چې ددهٔ متعلق د ابو سفیانَ دا دعوی وه، چې دې د دوی د زمانهٔ جاهلیت د یوئې نکاح په نتیجه کښې د دوی د نطفې نه پیدا شوې سړې دې، ورسټو حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د زیاد په مطالبې او د نسبونو او قیافې د ماهرینو د ګواهئ په بنیاد باندې د ابن أبی سفیان په توګه قبلولو سره دې په خپل نسب کښې پیوست کړو (چې دې د پاره د استلحاق اصطلاح معروف ده) او بیا د عقل او تدبر په بنیاد باندې ئې دې د حکومت په اعلی مرتبو باندې مقرر کړو، ددهٔ د وفات نه ورسټو ددهٔ په ځامنو کښې عبید الله بن زیاد ئې د خراسان والی جوړ کړو، او هغهٔ ته ئې دا وصیت اوکړو:

"اتق الله ولا توثرنّ علی تقواه شیئًا، فإن لی تقواه عوضًا وتقِ عرضَك مِن أن تدنّسه، وإن أعطیتَ عهدًا فأوفِ به، ولا تتّبِعَنّ کثیرًا بقلیل، ولا یخرجن منك أمر حتی تبرمه، فإذا خرج فلا یردن علیك، وإذا لقیت عدوك فکبر أکبر مَن معكَ وقاسِمهم علی کتاب الله، ولا تطمئن أحدًا أنی غیر حق ولا تؤیسَنّ من حقٍ هُو له". (۱)

ددهٔ ورور عباد بن زیاد ئې د سجستان والی جوړ کړو، او عبد الرحمٰن بن زیاد ئې د عبید الله ملګرې جوړ کړو۔
د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د بصیرت ډک وصیتونه: ۶۰ هجرې کښې حضرت معاویه رضی اللہ عنہ وفات شو۔ او د وفات نه وړاندې هغوی قوم ته خطاب اوفرمائیلو، چې په هغې کښې ئې اووئیل:

"إنی کنزع مستحصد، وقد طالت إمارتی علیکم حتی مللتُکم ومللتمونی وتمنّیت فراقکم وتمنّیتم فراقی ولن یأتیکم بعدی إلا من أنا خیر منه کما أن من کان قبلی خیر منی وقد قیل: من أحبّ لقاءَ الله أحبّ الله لقاءَه اللهم إنی قد أحببت لقاءك فاحبب لقائی وبارك لی". (۲)

دې نه ورسټو خپل ځوی یزید ته ئې اووئیل، چې ما ستا د پاره فضاء برابر کړې ده، او د حکومت په لار کښې د قریشو څلور کسان ستا مخالف جوړیدې شی، حسین بن علی، عبد الله بن عمر، عبد الله بن زبیر، او عبد الرحمٰن بن أبی بکر (رضی اللہ عنہم)۔

---

۱) تاریخ ابن خلدون: ۱۱۹.۳
۲) تاریخ ابن خلدون: ۱۲۲.۳

نو تر کومې پورې چې د ابن عمر (رضی اللہ عنہ) تعلق دې، نو هغۀ خو عبادت نیم مړ کړې دې، او کله چې څوک (د بیعت نه بغیر) نۀ بچ کیږی، نو هغه به ستا بیعت کوی، او د حسین رضی اللہ عنہ په حقله ئې اوفرمائیل:

"وأما الحسين فإن أهل العراق لن يدَعوه حتى يُخرِجوه فإن خرج عليك فظفرتَ به فاصفح عنه فإنَّ له رحماً ما مثله، وحقًا عظيمًا".

حضرت حسین به اهل عراق د مدینې نه د اُوباسلو نه بغیر نۀ پریږدی، کۀ هغوی ستا خلاف راؤوتل، او تۀ په هغوی باندې غالب شوې، نو تۀ هغوی ته هیڅ مۀ وایه، ځکۀ چې د هغوی داسې خپلولی ده. چې تا سره د هغې هیڅ مثال نشته، او ډیر لوئې حق ئې دې، د عبد الرحمٰن بن أبی بکر په حقله ئې اوفرمائیل. کۀ نور خلق څۀ اوکړی نو کیدې شی هغه هم څۀ اوکړی، او د هغۀ د زړۀ مینه په ښځو باندې ده. او بیا ئې اووئیل:

"وأما الذي يجثم لك جثوم الأسد ويراوغك روغانَ الثعلب، وأذا أمكَنه فرصة وثب فذاك ابن الزبير فإن هو فعلَها بك وقدرتَ عليه فقطِّعه أربًا أربًا". (۱)

او تر کومې پورې چې د عبد اللہ بن زبیر تعلق دې، نو هغه به د زمری په شان سینه په زمکه کیښودو سره ستا په انتظار کښې ناست وی، او د لومبړې په ډول به روان وی، او کۀ هغۀ ته موقع ملاؤ شوه، نو به تا به حمله کوی، نو کۀ هغۀ داسې اوکړل، او تا ته په هغۀ باندې قدرت حاصل شو، نو هغه ټکړې ټکړې کړه.

په یو بل روایت کښې راغلې دی، چې د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د وفات په وخت کښې یزید غائب وو، حضرت معاویه اوفرمائیل، هغۀ ته دې زما دا وصیت اورسولې شی، چې اهل حجاز ستا خلق دی، په هغې کښې د هر یو راتلونکی تۀ اکرام کوه، او د غائب اوسیدونکو خیال ساته، او اهل عراق کۀ هره ورځ ستا نه د والی معزول کول غواړی نو معزول کوه ئې، ځکه چې دعامل معزولی ددې نه ډیره کمه ده، چې ستا خلاف یو لاکۀ توري پورته کړې شی. او د شام والو متعلق ئې اوفرمائیل:

"فليكونوا بطانتك وعيبتك، وإن رابك شيئ من عدوك فانتصر بهم". هغوی دې ستا خواص او راز دار وی، او کۀ تا ته د چا دښمن نه ویره وی، نو د هغوی نه مدد واخله.

په دې روایت کښې د عبد الرحمٰن بن أبی بکر ذکر نشته، او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ متعلق دا الفاظ دی: "لو أن صاحبه لعفوتُ عنه وأنا أرجوك أن يكفيك الله بمن قتلَ أباه وخَذَل أخاه".

یعنی کۀ د هغۀ معامله ما سره وه، نو ما به هغه معاف کړې وو، او زۀ امید ساتم چې الله تعالی به ستا د پاره داسې کافی شی، چې ستا د اړخ نه به هغه خلق دوی سره اونخلوی، چا چې د هغۀ پلار قتل کړو، او ورور ئې ورله بې یاره او مددګار پریښودو.

---

(۱) تاریخ ابن خلدون: ۱۲۳.۲۲.۳

او د ابن زبیر رضی اللہ عنہ نه فارغیدو د پاره ئې اووئیل،ولې د مصالحت په صورت کښې د صلح کولو د پاره ئې اوفرمائیل او وې وئیل: "واحقن دماء قومك ما استطعتَ".(۱)
څومره چې درنه کیدې شی د خپل قوم د وینې تویولو نه ځان اوساته.
د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ دې وصیت نه د هغهٔ د جذباتو او احساساتو ډیره ښهٔ اندازه کیدې شی،چې د هغهٔ د ټولو نه سخت موقف د ابن زبیر رضی اللہ عنہ متعلق دې،او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د جلالت او اهمیت هغهٔ ته پوره خیال او احساس دې،او سره د ویرې نه ئې هغهٔ سره د جنګ نهٔ کول طلب کړې دی،په هر حال کښې حضرت معاویه رضی اللہ عنہ انتقال اوکړو،او د یزید په لاس باندې د امارت د پاره بیعت اوشو،په دې وخت کښې د مدینې منورې والی ولید بن عتبة بن أبی سفیان وو،د مکې والی عمرو بن سعید بن العاص،د بصرې عبید الله بن زیاد او د کوفې نعمان بن بشیر .....
د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د توقع مطابق هم دغې څلورو کسانو (حسین بن علی،عبد الله بن زبیر، ابن عمر او عبد الرحمٰن ابن أبی بکر رضی اللہ عنہم) د بیعت نه انکار اوکړو،او یزید د دوی نه د بیعت اخستلو د پاره کوشش شروع کړو.
د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د یزید د خلافت منلو نه انکار: هغوی د مدینې والی ولید بن عتبه ته خط اولیکلو،او په دې کښې ئې هغوی ته د حضرت امیر معاویه رضی اللہ عنہ د وفات خبر ورکړو،او حضرت حسین بن علی رضی اللہ عنہ حضرت عبد الله بن عمر او حضرت عبد الله بن زبیر رضی اللہ عنہم ته د مهلت ورکولو نه بغیر د بیعت اخستلو د پاره اووئیل،دا خط مروان بن الحکم اولوستلو،نو د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ په وفات باندې ئې هغوی ته دعاء اوکړه،او ولید ته ئې دا مشوره ورکړه، چې ددې دریؤ واړو نه د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د وفات د خبریدو نه وړاندې بیعت واخله،او کهٔ دوی نهٔ منی نو قتل ئې کړه.کښې نو دوی به مختلفو اړخونو ته تلو سره تا د پاره مشکلات پیدا کړی،ما سواء د ابن عمر رضی اللہ عنہ نه ځکه چې هغهٔ نهٔ قتال خوښوی،او نهٔ حکومت.
"فإنه لایحب القتال ولایحب الولایة".(۲)
ولید عبد الله بن عمرو بن عثمان حضرت حسین پسې اولیږلو.....نو حضرت حسین خپل ځوانان او د کور خلق جمع کولو سره اووئیل،"هغه (یعنی حسین) د هغهٔ خوا ته ځی،او تاسو په دروازه کښې اوسئ،کهٔ آوازونه پورته شو،نو بیا تاسو ټول راشئ".
حضرت حسین رضی اللہ عنہ تلو سره مروان او ولید ته تعزیت اوکړو،د هغوی په رابطه کولو باندې ئې شکریه ادا کړه،او کله چې هغوی د بیعت د پاره اووئیل،نو حسین اووئیل:
"مثلی لایبایع سرًا ولایکتفی بها منفی".(۳)

---

(۱) تاریخ ابن خلدون:۳،۱۲۳
(۲) تاریخ ابن خلدون:۳،۱۲٤
(۳) تاریخ ابن خلدون:۳،۱۲٤

زما په شان سړي(چې هغهٔ سره په ګنډ شمیر کښې ملګری وو)په پټه باندې بیعت نهٔ شی کولې،او نهٔ په دې(زما په بیعت)باندې اکتفاء کولې شی۔

د حرمینو او کوفې د والیانو د حضرت حسین د قتل نه انکار: د بیعت نهٔ کولو په صورت کښې مروان د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د قتل کولو د پاره اووئیل،د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د تلو نه ورستو کله چې ئې ولید ته پیغورونه اوکړل او ملامته ئې کړو،نو هغوی اووئیل:

"واللہ ما أحِبُّ أن لی ما طلعت الشمس فی مال الدنیا وملکها وأنی قتلت الحسین أن قال لا أبایع"۔(۱)

کهٔ ما ته د دنیا په بادشاهئ کښې هر هغه څهٔ ملاویږی،چې په هغې باندې نمر راختلې دې،نو په خدائی قسم ! زهٔ به هغه د حضرت حسین رضی اللہ عنہ په بیعت نهٔ کولو باندې د قتل کولو په بدله کښې اختیار خوښ نهٔ کړم۔

او بل ارخ ته ابن الزبیر خو تر سو ورځو پورې په کور کښې پټ پاتې شو،او بیا کله چې د ولید د ارخ نه په بیعت کولو باندې زور زیات شو،نو هغوی خپل ورور جعفر ولید ته د پوهولو د پاره اولیږلو او وې وئیل چې زما د کور د دروازې نه خلق واپس کړه،زهٔ صبا ستا خوا ته رازم،او بیا کله چې هغهٔ پیره ختمه کړه،نو ابن الزبیر د شپې شپې د حضرت جعفر په ملګرتیا کښې د مدینې لار واخسته،په دویمه شپه حضرت حسین رضی اللہ عنہ هم د خپلو ورونړو،ځامنو او وریرونو (ابناء الاخ) سره اووتلو،او مکې ته اورسیدل۔

کله چې خلق ابن عمر رضی اللہ عنہ پسې راغلل،نو هغوی اووئیل،زهٔ به د خلقو په مخکې بیعت کووم،او یو روایت دادې،چې ابن عمر،او ابن عباس رضی اللہ عنہما په مکه کښې وو،هغه چې کله مدینې ته راغلو،نو حضرت حسین رضی اللہ عنہ او عبد اللہ بن زبیر سره ملاؤ شو،او وې فرمائیل.چې د تفریق بین المسلمین نه ځان اوساتئ،او ابن عمر او ابن عباس رضی اللہ عنہما پخپله لاړل او هغهٔ (یزید) سره ئې بیعت اوکړو۔

په هر حال کښې ابن عمر او ابن عباس(رضی اللہ عنہما)حضرت حسین رضی اللہ عنہ د یزید د مخالفت نه منع کړو،محمد بن الحنفیه هم د یزید نه د لرې اوسیدو مشوره ورکړه،او وې وئیل،یا په مکه کښې اوسیږه او یا چرته بل ځائې.....تر دې پورې چې د خلقو معامله واضحه او مطلع صفا شی،هلته یزید د دې حضراتو په فیصله کولو کښې د ناکامئ یا د سستئ په وجه ولید معزول کړو،او عمرو بن سعید بن العاص ئې د مدینې والی جوړ کړو،کله چې حضرت حسین رضی اللہ عنہ مکې ته تشریف راوړو،نو د خلقو په کثرت سره د هغوی خوا ته تګ راتګ شروع شو،عبد اللہ بن الزبیر هم یو ځل نیم ملاویدو۔

دلته کوفې والو ته چې د یزید د خلافت او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ مکې ته د راتلو پته اولږیده،نو شیعه ګانو د سلیمان بن صرد په کور کښې جمع کیدو سره حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته خط اولیکلو،چې په هغې کښې ئې اووئیل،چې مونږ د نعمان بن بشیر په لاس باندې بیعت

---

(۱) تاریخ ابن خلدون:۳،۱۲٤

نۀ کوو،او په جمعه او اخترونو کښې د هغۀ نه ځان ساتو،کۀ تاسو راغلئ نو مونږ به هغه اوباسو،په دویمه ورځ ئې بیا د دوه نیمو سوو صفحو یو خط اولیکلو،په دریمه ورځ ئې بیا اولیکلو،حضرت حسین رضی الله عنه په خطونو ملاویدو باندې اوفرمائیل،زۀ خپل د ترۀ خوې او معتمد مسلم بن عقیل درلیږم،هغه به درتلو سره ستاسو حال اوګوری،کۀ ستاسو رائې او حالت هم هغه وی،کوم چې ستاسو آستاذی راتلو سره بیانوی،نو هغه به ما ته خط اولیکی او زۀ به راشم۔

مسلم په لار کښې د مدینې منورې نه دوه لار نبودونکی ځان سره واخستل،هغه دواړه یا په هغوی کښې یو په لاره کښې پټ شو،یا هلاك شو،مسلم د هغې نه بدفالی واخسته،او حضرت حسین رضی الله عنه ته ئې خبر ورکړو،ولې حضرت حسین رضی الله عنه دا د حضرت مسلم بن عقیل جبن او ویره ګرځولو سره رد کړو،او هغۀ ئې تلو ته پریښودو،مسلم بن عقیل چې کله لاړو، نو د حضرت علی رضی الله عنه ډلې والو سره ملاؤ شو،هغوی د همدردۍ او د یو والی یقین ورکړو، او تقریبًا دولس زرو کسانو د هغوی په لاس باندې بیعت اوکړو۔

د مدینې منورې د والی په شان د کوفې نعمان بن بشیر هم ددې هر څۀ نه خبرید و سره هم د هغوی خلاف د څۀ عمل کولو نه ځان اوساتلو،هاؤ!دومره خبره ئې اوکړه،کۀ تاسو زما خلاف بغاوت کوئ،نو زۀ به بیا خپل کار کووم۔

د بنو امیو خلقو او د یزید ملګرو نعمان په دې احتیاط باندې ملامته کول شروع کړل،نو هغوی اووئیل:

"أن أکون ضعیفًا وأنا فی طاعةِ الله أحب إلی من أن أکون قویًا فی معصیة الله وما کنت لأهتك ستراً ستره الله"۔(۱)

کۀ زۀ کمزورې یم اود الله تعالی په اطاعت کښې پاتې شم،نودا ما ته ددې نه زیاته خوښه ده، چې زۀ دالله تعالی په نافرمانې کښې طاقتور پاتې شم،اوزۀ دالله تعالی پردې نۀ شم شلولې۔

او بعضو دا الفاظ نقل کړې دی:

"أکون من المستضعفین فی طاعة الله أحبَّ إلی من أن أکون من الأعزین فی معصیة الله"۔(۲)

په هر حال کښې کله چې یزید ته د نعمان بن بشیر ددې موقف پته اولګیده،نو هغۀ دې معزول کولو سره عبیدالله بن زیاد د کوفې او بصرې دواړو عامل جوړ کړو،او ددې نه وړاندې یزید ددۀ نه خفه وو،او دې ئې د بصرې نه هم معزول کول غوښتل،ولې اُوس ضرورت راغې،نو ددۀ په اختیاراتو کښې ئې توسیع او فراخوالې اوکړو۔

عبید الله بن زیاد په ډیرې چالاکئ سره په کوفه کښې نقاب اچولو سره د حسین بن علی رضی الله عنه په حقله د خلقو د رائې د معلومولو او د هغو د پاره د لار صفا کولو والو د پته لګولو کوشش اوکړو۔

د مسلم بن عقیل او د نورو شهادت: مسلم بن عقیل د هانئ بن عروه په کور کښې وو،هانئ

---

۱) تاریخ ابن خلدون:۳،۲۷۵\

۲) تاریخ ابن خلدون:۳،۲۷\

عبید الله بن زیاد راؤغوښتلو، او راغوښتلو سره ئې قتل کړو، حضرت مسلم ته ددې علم اوشو، نو هغو د خپلو ملګرو سره د دغه ځائې نه اووتل، د ابن زیاد خلقو اول هغه زخمي کړو، او بیا ورسره ئې په یو کور کښې اونیولو او قتل ئې کړو۔

ددې نه ۲۷ ورځې وراندې مسلم بن عقیل خط لیکلو سره حضرت حسین رضی اللہ عنہ راغوښتې وو، او حضرت حسین رضی اللہ عنہ راوتلې وو، د حضرت مسلم د خط الفاظ دا وو:

"أما بعد، فإن الرائد لا یکذب أهله، إن جمیع أهل الکوفة معك أقبل حین تقرء کتابي والسلام علیك".

آستاذی او لیږلې شوې خلقو ته دروغ نۀ وائی، د کوفې والو یو جماعت ستا د پاره جمع شوې دي، تۀ خط لوستلو سره راروان شه۔

حضرت حسین رضی اللہ عنہ د خپلو بچو او زنانو سره اووتلو، او هلته ئې قیس بن مسهر الصیداوی ته خط ورکولو سره کوفې ته اولیږلو، په لار کښې د ابن زیاد کسانو حصین بن تمیم دې اونیسلو، او ابن زیاد ته ئې حاضر کړو، ابن زیاد اووئیل، د حکومت مانړئ ته ختلو سره په کذاب بن کذاب (حسین بن علی رضی اللہ عنہما مراد وو) باندې لعنت اووایه، هغه ختلو سره اووئیل:

"أیها الناس إن هذا الحسین بن علی خیرُ خلقِ الله، ابن فاطمة بنت رسول الله ﷺ وأنا رسوله إلیکم وقد فارقته بالحاجر فأجیبوه".

خلقو! دا حسین بن علی د الله تعالی په مخلوق کښې غوره، د فاطمې بنت رسول الله ﷺ ځوې..... او زۀ ستاسو ارخه ته رالیږلې شوې د هغوی آستاذې یم، ما هغوی په "حاجر" کښې پریښودو سره راغلې یم، نو دا قبول کړې۔

او دې نه ورسره ئې په عبید الله او د هغۀ په پلار زیاد باندې لعنت اووئیلو، د حضرت علی رضی اللہ عنہ د پارې ئې استغفار اووئیلو، عبید الله هغه د چهت نه راغورځولو سره قتل کړو۔

د حضرت حسین رضی اللہ عنہ کوفې ته روانیدل او بالاخر شهادت: حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته چې کله دا حالات معلوم شو، او اکثرو اهل رائې دې د تلو نه منع کړو، نو حضرت حسین رضی اللہ عنہ واپس کیدل غوښتل، ولې د مسلم بن عقیل ورونړو اووئیل، "والله لانرجع حتی نصیب بثأرنا أو نقتل".(۱) مونږ نۀ واپس کیږو، تر دې پورې چې یا خو د خپل (مسلم) بدله واخلو یا مونږه هم مړۀ شو۔

حضرت حسین رضی اللہ عنہ او فرمائیل: "لا خیر فی الحیاة بعدکم".(۲)

تاسو نه ورسره به د ژوند څۀ مزه وی.....؟

عجیبه خبره داده، چې دغه جواب د مسلم ورنړو حضرت حسین ته په هغه وخت کښې ورکړو، کله چې حضرت حسین رضی اللہ عنہ په کربلا کښې هغوی ته اووئیل، چې تاسو حضرات د شپې شپې ددې ځائې نه اُوځئ، ځکه چې اُوس د هغوی صرف ما سره کار دې، تاریخ د حضرت حسین رضی اللہ عنہ دا الفاظ نقل کړې دی:

---

(۱) تاریخ الطبری: ۳/۲۹۸

(۲) تاریخ الطبری: ۳/۲۹۸

"یابنی عقیل حسبکم من القتل بمسلم اذهبوا قد أذنتُ لکم".(۱)
ستاسو د ارخ نه مسلم د قتل کیدو د پاره کافی دي، (چې شهید شوې دي) او تاسو لاړ شئ زهٔ تاسو ته اجازت درکوم.

هغوی جواب ورکړو: "لا والله لا نفعل ولکن نفدیك أنفسَنا وأموالنا وأهلونا ونقاتل معك حتی نرد موردك فقبح الله العیش بعدَك".(۲)
په خدائي قسم! مونږ هیڅ کله هم داسې نهٔ کوو، بلکه مونږ خپل ځانونه، مالونه، او اهل عیال په تاسو قربانوو، او تاسو سره مړهٔ کیږو، الله تعالی دي ستاسو نه ورسټو ژوند خراب او برباد کړی.

د "حُر" کردار: حضرت حسین رضی الله عنه چې کله قادسیې ته اورسیدو، نو د ابن زیاد د ارخ نه حُر بن یزید التمیمی الیربوعی د زرو کسانو لښکر اخستلو سره د حضرت حسین رضی الله عنه د مقابلې د پاره راوُرسیدو، حضرت حسین رضی الله عنه ته هغوی اووئیل، تاسو چرته ځئ؟، حضرت حسین رضی الله عنه ورته اوفرمائیل، چې تاسو خلقو ما ته خطونه رالیږلي وو، او وئیلي مو وو، چې دلته څوك امیر نشته، لهٔذا تاسو راشئ او ددې ځائې معامله سنبال کړې.
حُر بن یزید اووئیل، مونږ ته خو د خطونو هیڅ پته نشته.
حضرت حسین رضی الله عنه د خطونو یو ډهیرې راوړو او د هغهٔ مخې ته ئې کیښودو.
حُر اووئیل. مونږ ددې خطونو لیکلو والا نهٔ یو، حسین رضی الله عنه اووئیل، صحیح ده، چې تاسو خلق نهٔ غواړئ نو مونږ واپس ځو.
د حُر او حضرت حسین رضی الله عنه ملګرو دلته د حضرت حسین رضی الله عنه په اقتداء کښې د ماسپخین او ماښیګر مونځونه ادا کړل، دې نه ورسټو حضرت حسین رضی الله عنه بچو سره سوریدو سره د واپس تلو د پاره اووئیل، نو حُر اووئیل، مونږ تا ته د جنګ د پاره خو نهٔ یو راغلې، ولې ابن زیاد ته ستا د بوتللو مونږ ته حکم دي، حضرت حسین رضی الله عنه اوفرمائیل، دا خو ممکن نهٔ ده، حُر اووئیل. بیا تاسو مدینې او کوفې ته نا، هاؤ چرته بل خوا تلې شئ.
حضرت حسین رضی الله عنه ته څو علاقو ته د تلو وړاندې نه وئیلې شوې وو، چې په هغې کښې جبال طی هم شامل دي، حضرت حسین رضی الله عنه چرته بل خوا تلل هم منظور کړل، او کله چې روان شو، نو د حُر فوځ هغهٔ سره سره تلو، تر دې کله چې نینوی ته اورسیدل، نو یو سړی راتلو سره حُر ته د ابن زیاد خط ورکړو، چې په هغې کښې دا لیکلې شوې وو:

"أما بعدِ! فجعجع بالحسین حین یبلغك کتابی ویقدم علیك رسولی فلا تنزله إلا بالعراء فی غیر حصن، وعلی غیر ماء، وقد أمرت رسولی أن یلزمك ولا یفارقك حتی یأتینی بإنفاذك أمری والسلام".
کله چې زما خط او پیغام درورنکې تا ته ملاؤ شی. نو په حسین باندې دباؤ واچوه، او چرته

---

۱) تاریخ الطبری: ۳۱۵.۳
۲) تاریخ الطبری: ۳۱۵.۳

په وُران ځائي کښې هغوی دیره کړه، چرته چې نۀ د حفاظت څۀ انتظام وی، او نۀ د اُوبو..... او ما خپل قاصد ته حکم کړې دی، چې هغه تر هغه وخته پورې ستا نه جدا نۀ شی، تر کومې پورې چې هغه راتلو سره ما ته دا اونۀ وائی چې تا زما حکم نافذ کړو۔

دا ډیر سخت خط وو، او په حُر باندې د عدم اعتماد اظهار وو، حُر دا خلق هم هلته په وُران ځائي کښې دیره کول شروع کړل، د حضرت حسین رضی اللہ عنہ ملګرو نزدې د دوۀ درېۀ کلو نومونه اخستلو سره اووئیل، مونږ هلته دیره کړه، ولې حُر اووئیل، جاسوسان ما سره دی، او دا زما د پاره ممکن نۀ دی۔

اُوس د حضرت حسین رضی اللہ عنہ قافله په "عقر" نومې کلی کښې دیره شوې وه، چې دیخوا د عمر بن سعد بن أبی وقاص په قیادت کښې څلور زره فوځ راؤرسیدو، عمر بن سعد سره هم دغسې شوې وو، چې عبید الله بن زیاد دې د "رئی" مقام عامل جوړولو سره د حضرت حسین رضی اللہ عنہ مقابلې ته راؤلیږلو، عمر انکار اوکړو، نو ابن زیاد د هغۀ د کور وغیره هر څۀ تباه کولو دباؤ ورکړو، د مخکې او ورستو غور فکر کولو نه پس په خوښه او ناخوښه هغۀ د ابن زیاد د احکاماتو تعمیل اوکړو۔

د عمر بن سعد کردار: عمر بن سعد چې کله حسینی قافلې سره مخامخ شو، نو حضرت حسین رضی اللہ عنہ هغۀ ته هم خبر اولیږلو، چې مونږ دې قوم رابللې وو، اُوس چې دوی ته خوښه نۀ ده، مونږ واپس ځو، مونږ دې پریښودلې شو، عمر بن سعد ابن زیاد ته خط اولیږلو، او دا خبره ئې اوکړه نو ابن زیاد اووئیل:

ع: الآن اذ علقت مخالبُنا به یرجو النجاة ولات حین مناص

آیا اُوس چې زمونږ پنجې دوی سره اونختې، دوی د خلاصی اُمید ساتی، اُوس خلاصې چرته دې.....!

هغۀ عمر بن سعد ته اووئیل، حضرت حسین رضی اللہ عنہ دې یا د یزید په لاس باندې د خپلو ټولو ملګرو سره بیعت اوکړی، او کله چې هغه داسې اوکړی، نو بیا چې مونږ ته څۀ مناسب ښکاری هغه شان به کوو، دې نه ورستو څۀ اوشول، تاریخی روایات مختلف دی، یو قول دادې، حضرت حسین رضی اللہ عنہ دوی ته په دریۀ خبرو کښې د یوې خبرې د منلو د پاره اوفرمائیل،

①:- یا خو مونږ واپس تلو ته پریږدئ۔

②:- او یا د یزید خواد ته د بیعت د پاره مونږ بوځئ۔

③:- او یا بل یو سرحد ته مونږ اولیږئ، چې هلته مونږ نورو خلقو سره اوسیږو۔

د ابن زیاد او شمر کردار: عبید الله بن زیاد دریې واړه خبرې رد کړې، او په خپل لاس باندې بیعت کولو د پاره ئې اصرار اوکړو، او بعضې وائی، چې هغۀ دا خبرې قبولې کړې وې، ولې شمر ذی الجوشن هغه منع کړو، د خُر په شان عمر بن سعد هم د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د پاره نرمی اختیار کړې وه، او حتی الامکان ئې هغوی سره د جنګ نه ځان اوساتلو، په دې وجه بیا شمر ذی الجوشن راغې، په دې وخت کښې حضرت حسین رضی اللہ عنہ په کربلا کښې وو، او په دوی باندې د دریائې فرات اوبۀ هم بندې کړې شوې وې۔ د شمر د راتلو پورې حسینی قافله

او ابن سعد او د حر فوځونه ولاړ وو ،ولې د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د محترم شخصیت،احتیاط او تقوی په وجه هغوی سره د تعرض کولو چا کښې هم همت نۀ وو ،د حر او عمر بن سعد حضرت حسین رضی اللہ عنہ سره اوږدې اوږدې خبرې اترې کیدلې،خو کله چې شمر راغې نو هغۀ د حضرت حسین رضی اللہ عنہ توهین او تنقیص شروع کړو ،او آخر د هغوی د بچو او ملګرو قتلول ئې شروع کړل،بیا په دې کښې نورو خلقو هم برخه واخسته،(هاؤ حر د حضرت حسین رضی اللہ عنہ مطالبې نه منلو باندې د هغوی (حضرت حسین رضی اللہ عنہ) ملګرتیا اوکړه) .

د حضرت حسین رضی اللہ عنہ شهادت او د هغوی د لاش بې حرمتی: او بیا یو یو کولو سره هغوی (دښمنانو) د حسینې قافلې ځوانان او د نبوی خاندان ګلونه شهیدان کول شروع کړل،او آخر د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا د زړۀ ټکړه سیدنا حضرت حسین رضی اللہ عنہ هم شمر یا عروة بن بطار التغلبی یا سنان بن انس شهید کړو ،او دې د حسینی قافلې آخری مقتول وو .

په دې جنګ کښې د حضرت حسین ۷۲ او د عمر بن سعد ۸۸ کسان قتل کړې شو ،تاریخ لیکی،چې دې نه ورستو حضرت حسین رضی اللہ عنہ باندې اسونه اوزغلولې شو ،او د هغوی جسم مبارک د خپو لاندې کړې شو ،او د هغوی سر کټ کړې شو ، چې هغه خولی بن یزید او حمید بن مسلم الازدی راوړلو سره د عبید الله بن زیاد وړاندې کیښودو ،ددې نه یو شپه وړاندې کله چې هغۀ د ابن زیاد د دربار دروازه بنده اوموندله،او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سر ئې کور ته راوړو ،نو د هغۀ ښځې نوار بنت مالك الخضرمیة د شپې هغۀ ته اووئیل،څۀ خبر دې ؟ هغۀ جواب ورکړو ، "جئتك بغنی الدهر" ما تا ته د زمانې د ټولو نه لوئې دولت راوړلې دې،ښځې ورته اووئیل څۀ؟ وې وئیل د حسین سر! ښځې ورته اووئیل خلق لاړ شی سرۀ او سپین راوړی،او تا د رسول الله ﷺ د ځوی سر راوړو ،په خدائې قسم ! ما او تا یو چهت نۀ شی جمع کولې..... او بیا هغې دې پریښودو سره لاړه .

عبید الله بن زیاد ته چې کله د حضرت حسین سر راوړلې شو ،نو هغۀ په دې باندې شکر ادا کړو ،او په حسین او علی باندې ئې لعن او طعن اوکړو ،او په دې وخت کښې هغۀ د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سر سره د هغه ټوقو مسخرو مظاهره هم اوکړه،چې د هغې دلته په روایت کښې ذکر دې.(۱)

د ابن زیاد بد تمیزی: فَجَعَلَ يَنْكُتُ.....ابن زیاد په یوئې څانګې سره د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سر مبارک کنستلو ،او د هغوی د حسن او جمال په حقله ئې د مسخرو خبرې کولې .

د ترمذی او ابن حبان په روایت کښې د "يقول بقضيب له فی أنفه" (۲) الفاظ دی .

او د زید بن ارقم رضی اللہ عنہ نه د طبرانی روایت دې، "فَجَعل يجعل قضيبًا فی يده فی عينه وأنفه" .(۳)

---

۱) تاریخ الطبری:۳،۱۲۳۶

۲) سنن الترمذی،باب مناقب الحسن والحسین،رقم:۳۷۷۸،وصحیح ابن حبان ذکر البیان بان حسین بن علی.....رقم:۶۹۷۲

۳) المعجم الکبیر بلفظ "بقضیبه فی أنفه زید بن ارقم الأنصاری:رقم:۵۱۲۱

د ابن زیاد بد تمیزی بیانولو سره فرمائی چې د هغهٔ په لاس کښې یوه څانګه وه، چې په هغې سره دهٔ د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سترګې پوزه ګرولو سره په هغوی باندې تبصره کوله، زید بن ارقم وائی: ما هغهٔ ته اووئیل، "ارفع قضیبک فقد رأیتُ فَمَ رسولِ اللہ فی موضعه". (۱)

خپله څانګه پورته کړه، په دې ځائې باندې ما رسول اللہ ﷺ په خُلهٔ مبارکه لګولو سره لیدلې دي، او په بعضې روایاتو کښې راغلي دی، "إذا هوینکتُ بقضیبٍ بین ثنیَّتَیه ساعة" هغهٔ د دوی رضی اللہ عنہم د غاښونو په حقله په څانګې سره اشاره کولو سره بد تمیزی کوله، او د هغهٔ په جواب کښې د زید دا الفاظ منقول دی: "أعل بهذا القضیبِ عن هاتین الشفتَین فوالّذی لا إله غیره لقد رأیتُ شفتَی رسولِ اللہ علی هاتین الشفتَین یقبّلهُما". (۲)

دې نه ورسته زید بن ارقم اوژړل نو ابن زیاد اووئیل:

"أبکی اللہ عینَیک فواللہ لولا أنك شیخ قد خرِفتَ وذهب عقلُك لضربتُ عُنقك". (۳)

اللہ تعالی دې تا اوژړوی، کهٔ تهٔ ډیر بوډها نهٔ وې، او ستا عقل نهٔ وې تلې، نو ما به ستا څټ کټ کړې وو.

وائی. چې دې نه ورسته د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سر مبارک شام ته یزید ته یورلې شو، یزید دې نه کتلو سره سترګو کښې اوښکې راغلې.

د ابن زیاد قول د قبیلې د تمسخر نه وو یا د تعریف نه؟: د احادیثو شارحینو د ابن زیاد ددې قول او فعل په حقله دا بحث چیرلې دې، چې آیا هغهٔ په دې توګه د حضرت حسین په حُسن او جمال پورې خندا کوله، یا ئې د هغې اعتراف کولو، اکثرو حضراتو اولنې احتمال راجح ګرځولې دې. او بعضو نورو دویم احتمال ته هم جائز وئیلی دی.

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمہ اللہ د اول قول متعلق فرمائی:

"ولا عجب منه فی ما فعله فإن أباه کان ولد زنیة استلحقه معاویة ولذا یقال له زیاد بن أبیه". (۴)

او حضرت ګنګوهی رحمہ اللہ فرمائی. د ابن زیاد (په شان بد ذوقه سړې) کهٔ د حضرت حسین رضی اللہ عنہ په حسن پورې خندا کوی نو دا عجیبه خبره نهٔ ده، ځکه چې هم یو سړې چا ته بنکلې بنکاری او چا ته بدرنګ، د یو سړی په زړهٔ کښې چې د رسول اللہ ﷺ محبت نهٔ وی، نو د هغهٔ له مخې به رسول اللہ ﷺ سره د مشابهت څهٔ اهمیت وی. (۵)

د طبری روایت دې: "قد معَت عینُ یزید وقال قد کنتُ أرضی من طاعتِکم بدون قتلِ الحُسین، لعن اللہ ابن

---

۱) تاریخ الطبری: ۳، ۱۲۳۶

۲) تاریخ الطبری: ۳، ۱۲۳۶

۳) تاریخ الطبری: ۳، ۱۲۳۸

۴) الکواکب الدری: ۴، ۴۲۲

۵) الکوکب الدری: ۴، ۴۲۲

سُبَيْعَة! أما والله لو أن صاحبُه لعفوت عنه فرحِم الله الحسين، ولم يصله بشئ".(۱)

د حضرت حُسين رضي الله عنه شهادت او د يزيد په دې باندې خفګان کله چې د حضرت حُسين سر د يزيد وړاندې راوړلې شو، نو هغه په ژړا شو، او راوړونکی ته ئې اووئيل: زهٔ ستا په اطاعت باندې د حضرت حسين رضي الله عنه د قتل کولو نه بغير هم راضی ووم، په ابن سُمَيه (عبيد الله بن زياد) باندې دې د الله تعالی لعنت وی، کهٔ زما دوی (حضرت حسين رضي الله عنه) سره واسطه راغلې وې، نو ما به دې معاف کړې وې، الله تعالی دې په حضرت حسين رضي الله عنه باندې رحم اوکړی، او د حضرت حسين رضي الله عنه سر راوړونکی ته ئې هيڅ هم ورنهٔ کړل.

او په يو روايت کښې راغلې دی، چې د حضرت حسين رضي الله عنه او د هغوی د ټولو اهلِ بيتو او ملګرو سرونه کټ کولو سره د يزيد رواندې راوړلې شو، نو هغهٔ اووئيل:

"يفلُقن هامًا من رجال أعزة: علينا وهم كانوا أعقّ وأظلَما".(۲)

هغه (ممدوح) د خپل ځان نه د معززو خلقو سرونه شلوی، او هغه (مقتول) ډير نافرمانه او ظالمان وو.

دا شعر تمثيلاً رسول الله ﷺ په بدر کښې وئيلې وو، او يزيد دلته دې ذکر کولو سره دا ښودل غواړی، چې دا خلق زمونږ د پاره ډير عزت والا وو. ولې کله چې دوی زمونږ خلاف د جنګ ظلم او نافرمانئ ابتداء اوکړه، نو مونږ له هم دغسې کول پکار وو.

بيا هغهٔ اووئيل: "أما والله يا حُسين لو أنا صاحبُك ما قتلتُك".(۳)

کهٔ زما تاسو سره واسطه راغلې وې. نو تهٔ ما نهٔ قتلولې.

په دې واقعه کښې د حضرت حسين د ځامنو علی، زين العابدين او د حضرت حَسن د ځوی عمر نه علاوه د اهل بيتو ټول نارينه شهيدان کړې شوی وو، او ابن العابدين هم ابن زياد قتلول غوښتل. ولې زينب بنت حُسين هغهٔ پورې اونختله. او دا ئې وئيل چې ما هم دهٔ سره قتل کړه. په دې باندې ابن زياد هغهٔ پريښودو، دا دواړه بچی او د اهل بيتو زنانه اول ابن زياد ته بوتلې شو. او بيا يزيد ته. د يزيد کور والو هم چې د حضرت فاطمة الزهره رضي الله عنها دا نيازبين په دې بدحال او کمزورئ حالت کښې اوليدل، نو ډير زيات د حزن او خفګان د ژړا او فرياد اظهار ئې اوکړو. او بيا ئې ډير په اعزاز او اکرام سره د دوی محافظين مقرر کولو سره دوی مدينې طيبې ته اورسول. په دې موقعه باندې هم علی بن حسين رضي الله عنهما سره د يزيد په دې الفاظو کښې خطاب نقل کړې شوې دې:

"لعنَ اللهُ ابن مرجانة، أما والله لو أني صاحبُه ما سألني خصلةً أبدًا إلا أعطيتها إياه ولدفعتُ عن الحتف بكل ما استطعتُ ولو بهلاك بعضِ ولدي ولكن الله قضى ما رأيتَ".(۴)

---

۱) تاريخ الطبری: ۱۲۳۸.۳
۲) ديوان الحماسة. ص: ۱۱۰۶
۳) تاريخ الطبری: ۱۲۳۹.۳
۴) إرشاد الساری: ۱۲۳۳.۸

په ابن مرجانه(ابن زیاد)باندې دی د الله تعالی لعنت وی، کۀ زۀ د حسین مخې ته ووم، نو چې هغۀ څۀ مطالبه هم کوله ما به هغۀ ته ورکوله، او چې څنګه هم ممکن وه د هغۀ به مې هلاکت اړولې وو، اګر چې په دې کښې زما بعضې بچی هم مړۀ کیدل، خو الله تعالی هغه فیصله اوکړه، کومه چې ستا وړاندې ده۔

د واقعۀ کربلا منصفانه جائزه: دا واقعه لږ په تفصیل سره ځکه ذکر کړې شوه، چې ددې د اسبابو او عواملو هم علم اُوشی، ددې تاریخی او روایتی پس منظر وړاندې کیښودو نه ورسټو چې کومه خبره قرین انصاف او اعتدال معلومیږی، هغه داده، چې د حضرت حسین رضی الله عنه او دهغوی د اهلِ بیتو قتل د انسانی تاریخ یوه ډیره درد ناکه پیښه، یو لوئې جرم او ډیر خراب ظلم دې، او ددې ذمه وار په هغوی رضی الله عنهم باندې ګزار کونکی، ددې حکم ورکونکی، او د دې کار کونکو ته حکم ورنکی، دا منصوبه ترونکی او ددې خواهش کونکی ټول دی۔[1]

په دې کښې شمر ذی الجوشن، عمر بن سعد، عبید الله بن زیاد، او یزید ټول شامل دی، او بیا په خاصه توګه شمر او ابن زیاد په دې کښې ډیر مخکې مخکې وو، او په دې دواړو بد بختو باندې چې څنګه د حضرت حسین رضی الله عنه شهید کولو بهوت سور وو، څنګه چې د حضرت حسین رضی الله عنه نه ورسټو ددې دواړو د خرابو عادتونو نه معلومیده، او تاریخ خو دا هم نقل کړی دی، بلکه اصحاب الحدیث هم نقل کړی دی۔

د ابن زیاد د مړ کیدو نه ورسټو یو مار راغې، او درې واړې د ابن زیاد په خُله کښې داخلیدو سره په پوزه باندې او پوزه کښې داخلیدو سره په خُله باندې اُووتلو، صرف یو کال ورسټو په ۶۲ هجرې کښې د مختار بن أبی عبید په حکم باندې إبراهیم بن الاشتر ابن زیاد قتل کړو، او د هغۀ سر ئې کټ کولو سره راوړو۔[2]

یزید د مدینې منورې عامل او بیا د کوفې عامل صرف په دې وجه معزول کړل، چې هغوی د حضرت حسین رضی الله عنه په نیولو او په بیعت باندې مجبور کولو کښې د یزید په منصوبې باندې په عمل کولو کښې کوتاهی کوله، او د ابن زیاد په شان بدنام د زمانې ئې عامل جوړ کړو، او ددۀ په عمر بن سعد او حر بن یزید باندې دباؤ اچول، او بیا د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت نه ورسټو د لوټ کړې شوې حسینی قافلې ښځې او د حضرت حسین رضی الله عنه سر مبارک یزید ته لږل، ددې غمازی کوی، چې یزید حضرت حسین د بیعت کولو نه بغیر پریښودلو ته تیار نۀ وو، خصوصاً تاریخ چې دا وائی، چې حضرت حسین رضی الله عنه د ابن زیاد فوځ ته دری خبرې مخې ته کیښودې، یو دا چې دوی واپس تلو ته پریښودې شی، دویم دا چې د یو بل اړخ تلو ته پریښودې شی، او دریم دا چې دې یزید ته تلو د پاره پریښودې شی، ولې په حیرانه کونکې توګه باندې په دې دریۀ جائزو معقول مطالبو کښې یوه هم نۀ شی قبلولې، او د حضرت حسین رضی الله عنه وینه تویول ضروری ګنړلې شی، دا خو د ظلم حد دې، ښکاره ظلم او زیاتې دې۔

---

[1]) إرشاد الساری:۸،۱۲۳۳

[2]) الکامل فی التاریخ ذکر قتل ابن زیاد:۴،۱۶۳

حضرت حسین رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ نوسي، د رسول الله ﷺ صحابی او د خپلې صلاح او بزرګئ په وجه ددې قابل وو، چې یزید خلافت او امارت هغوی ته اوسپاری، او کۀ په دې حوالې سره پخپله د هغۀ د خلیفه جوړیدلو اراده وی، نو هغه دې حضرت حسین رضی اللہ عنہ په اعتماد کښې واخلی، او یا د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د مقابلې په صورت کښې زیات نه زیات دا چې هغوی دې قید کولو سره ځان ته اُوغواړی.....ولې افسوس چې داسې اونۀ شو، او حضرت حسین رضی اللہ عنہ د خپلو ملګرو سره د حق او صدق بیرغ پورته اوساتلو، او بالآخر په هغې نې خپله کورنئ قربان کړه۔

اهل سنت والجماعت د حضرت حسین رضی اللہ عنہ او د هغوی مخالفین برابر یا د هغوی جنګ ته خپل مینځ کښې د مشاجراتو نه ګرځولو سره د حضرت حسین رضی اللہ عنہ قربانی بې مقصده او بې فائدې نۀ ګرځوی، بلکه حضرت حسین رضی اللہ عنہ د حق علمبردار، او هغوی سره جنګ کول غلط، او د هغوی رضی اللہ عنہ شهادت مظلومانه شهادت ګنړی، او د یزید اقدام غلط ګنړی، ولې ددې هیڅ کله هم دا مطلب نۀ دې، چې یزید ته کافر او د یزید حکومت ته کفریه حکومت اووئیلې شی، او د هغۀ پلار حضرت معاویه رضی اللہ عنہ ته هم رد بد اوئیلې شی، او من حیث النسب بنو امیه "باطل" او بنو هاشم په "حق" اوګنړلې شی، ځکه چې ددې په زد کښې به حضرت عثمان رضی اللہ عنہ، حضرت معاویه رضی اللہ عنہ حضرت عمرو بن العاص، حضرت ابو موسی الأشعری، او حضرت مغیرة بن شعبه، حضرت نعمان بن بشیر او نور په سوؤنو صحابۀ کرام رضی اللہ عنہم هم راځی، ځکه چې یزید حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د صحابۀ په مشورې سره خلیفه جوړ کړې وو، او بیا دا صحابه د آخره پورې د هغوی ملګری هم پاتې شو۔

همدغه شان د حضرت عبد الله بن عمر او حضرت عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہم په شان صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم د هغۀ په لاس باندې بیعت کړې وو، آیا دا ټول حضرات والعیاذ بالله باطل خونبونکی او د کفر او ضلال ملګری کیدې شی، حاشا و کلاً ۔ هاؤ صرف دومره وئیلې کیدې شی. چې یزید د صلاح او تقوٰی په اعلی مرتبه باندې د نۀ کیدو او د هغۀ نه د افضل حضراتو په موجودګئ کښې هم په دې وجه حاکم جوړ کړې شوې وو، چې د هغۀ سیاسی بصیرت. تدبر او د بنو اُمیو د مضبوط طاقت او قدرت په وجه باندې ددۀ حکومت د امت مسلمه په حق کښې غوره او ډیر مفید ګنړلې شو، بس دې حکمران جوړ کړې شو، ولې بیا څۀ د یزید د غیر ذمه دارانه عادتونو، څۀ د شیعه ګانو شیطانئ، څۀ د خارجیانو او تخریب کونکو د سازش او څۀ د یزید د عمّالو د عاقبت نه د ناخبرئ دومره لویه پیښه پیدا کړه، چې په هغې سره یزید د هر یوې همدردې د مستحق کیدو نه محرومه او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ په مقدسې وینې باندې په رنګ کړې شوې لاسونه د انسانی حرمت مجرم اوګرځیدو۔

د دریمې ډلې کردار: دلته د حسینی او یزیدی ډلو نه علاوه یو دریمه ډله هم ده، کیدې شی چې ددې پیښې اصل ذمه داره او لویه مجرمه وی (بلکه ده)، هغه د شیعانِ علی ډله ده، چې هغوی حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته بې شمیره خطونه لیکلو سره هغوی کوفې ته راُوبلل، او د هغوی د ملګرتیا ئې پوره پوره رائې ورکړه، کۀ دا خلق نۀ وې، او یا حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته د

هغوی د ملګرتیا یقین او د هغوی د سختو جذباتو او احساساتو لحاظ او خیال نه وو.نو هغوی رضی الله عنه به هرګز نه تلل،په دې وجه هغوی مسلم بن عقیل د حالاتو د جائزې اخستلو د پاره اولیږلو،د اهل کوفې د غدر او دهوکې د ویرې د وجهې نه حضرت ابن عمر او حضرت ابن عباس رضی الله عنهم ورته دې پورې فرمائیلې وو.

"إن أهل العراق قوم غدر فلا تقربنهم".(١) اهل عراق دهوکه مار دی،هغوی ته نزدې هم ورځه.

او کله چې حضرت حسین رضی الله عنه په هر حال کښې د تللو رائې ورکړه،نو ابن عباس رضی الله عنه ورته اوفرمائیل

"فلا تسر بنساءك وصبيتك فوالله إني خائف أن تقتل كما قُتل عثمانُ ونساءُه وولدُه ينظرون إليه".(٢)

نو بیا ته ځنانه او بچی مه بوځه.ځکه چې ما ته ویره ده،چې ته به د حضرت عثمان رضی الله عنه په شان قتل کړې شې.او د هغوی په شان ستا بچي او زنانه به تاسو ته ګوری.

او حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته ددې خپلې اندازې په رښتیا والی باندې دومره باور او د حضرت حسین رضی الله عنه په تللو دومره یقین وو،چې په آخر کښې ئې ورته اوفرمائیل "والله الذي لا إله إلا هو لو أعلم أنك إذا أخذت بشَعرك وناصِيتِك حتى يجتمع عليّ وعليك الناسُ أطعتَني لفعلتك ذلك.(٣)

په الله تعالی قسم چې د هغه څوك شریك نشته.كه ما ته دا علم وې.چې زه ستا(د ګیرې) وښتې او تندی وینښتې اونبسم.او بیا خلق مونږ ته راجمع شی.او ددې نه ورسترو ته زما خبره منې.نو ما به دا هم کړې وې.

دې نه علاوه د محمد بن الحنفیه،عبد الله بن جعفر په شان خپلوانو هم په بیا بیا وئیلو سره هغوی منع کړل.مسلم بن عقیل هم د خپلې بد فالئ اظهار کړې وو.

عمر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام المخزومی وئیلی وو:

"إنك تأتي بلدًا فيه عُمّاله وأمراءه ومعهم بيوتُ المال وإنما النّاس عبيدٌ لهذا الدِّرهم والدينار ولا آمنُ عليك أن يقاتلك مَن وعَدك نصرَه ومَن أنت أحبُّ إليه ممّن يقاتُلك معه".(٤)

تاسو بو داسې ځائې ته روان یئ،چې هلته د هغوی باقاعده حکّام او عمّال دی،هغوی سره بیوت المال دی.او خلق خو د درهم او دینار غلامان دی.ما ته ویره ده،چې ستاسو خلاف به هم هغه خلق جنګ کوی،چا چې ستا د ملګرتیا وعده کړې ده.او چا ته چې تاسو د هغه خلقو نه زیات خوښ یئ،د چا په ملګرتیا کښې چې به هغوی ستاسو خلاف جنګ کوی،(یعنی هغوی به غواړی خو تاسو.ولې د لالچ یا ویرې د وجهې به هغوی ستاسو خلاف په جنګ کولو باندې مجبور وی.

---

(١) تاريخ الطبری:٢٩١. والبداية والنهاية:٨.١١٩٩

(٢) تاريخ الطبری:٣.٢٩١،والبداية والنهاية:٨.١١٩٩

(٣) تاريخ الطبری:٣.٢٩١،والبداية والنهاية:٨.١١٩٩

(٤) تاريخ الطبری:٣.١٢٩٤

عبد الله بن مطیع په لار کښې حضرت حسین رضی الله عنه سره ملاقات اوکړو. او په دې الفاظو ئې هغوی خبردار کړې وو:

"إياك أن تقرب الكوفة فإنها بلدة مشئومة بها قُتل أبوك وخُذِل أخوك". (۱)

د کوفې نه لرې اوسیږه. هغه ډیر سپیرۀ ښار دي. هلته ستاسو والد محترم قتل او ستاسو ورور یواځې پریښودې شو.

مسلم بن عقیل هم په اول کښې حضرت حسین رضی الله عنه ته د راتلو وئیلي وو. ولې بیا کله چې هغوی د مخالفینو په ګیره کښې راغلل. او ملګرتیا کونکو پریښودو. نو هغوی حضرت حسین رضی الله عنه ته دا پیغام لیږلې وو:

"ارجع بأهل بيتك ولا يغرنك أهل الكوفة فإنهم أصحاب أبيك الذي كان يتمنى فراقهم بالموت أو القتل إن أهل الكوفة قد كذبوك وكذبوني". (۲)

تاسو خپل کور والو سره بیرته لاړ شئ. او د اهل کوفې په دهوکه کښې رانشئ. ځکه چې دا هم هغه ستاسو د پلار خلق دی. چې د هغوی نه ئې د مرګ یا قتل په ذریعه خلاصې غوښتلو. دوی تاسو ته او ما ته دروغ وئیلی دی.

فرزدق شاعر سره په لار کښې د حضرت حسین رضی الله عنه ملاقات اوشو. او کله چې هغوی رضی الله عنه د هغۀ نه د کوفې د خلقو په حقله پوښتنۀ اوکړه. نو هغۀ اووئیل:

"من الخبير سألت، قلوب الناس معك وسيوفهم مع بني أمية". (۳)

بې شکه تاسو د یو خبردار سړی نه پوښتنه کړې ده. د هغې خلقو زړونه تاسو سره دی. او توري ئې بنو امیو سره دی. (یعنی هغوی به ستا خلاف جنګ کوی).

حضرت حسین رضی الله عنه ته هم د اهل کوفې د دهوکه بازئ اندازه شوې وه: حضرت حسین رضی الله عنه ته پخپله هم ددې څۀ نه څۀ اندازه وه. ولې هغوی په دې پوهیدو. چې دا خلق به ما دې (خلافت اخستلو) د پاره د وراندې کولو او په دې مجبور کولو نه بغیر نۀ پریږدی. او یزید ته هم د دوی د ذات نه خطره ده. نو هغه به هم دوی بغیر د بیعت کولو نه نۀ پریږدی. او دې د پاره هغوی په هیڅ توګه تیار نۀ وو. هغوی رضی الله عنه ارخ ته دا الفاظ منسوب دی:

"وأيم الله لو كنت في حُجر هامة من هذه الهوام لاستخرجوني حتى يقضوا إليّ حاجتهم". (۴)

په خدائي قسم! که زۀ د حشراتو په سوري کښې هم ننوزم. نو دا خلق به ما راوباسی. دې د پاره چې زما نه خپل مقصد پوره کړی.

او کوفې ته تلو سره خو بیا هغوی رضی الله عنه ته عین الیقین حاصل شو. په دې وجه هغوی د بیرته

---

۱) تاریخ الطبری: ۱۲۷۷.۳۴
۲) تاریخ الطبری: ۱۲۹۰.۳
۳) تاریخ الطبری: ۱۲۹۶.۳
۴) تاریخ الطبری: ۱۲۹۶.۳

راتلو رائی ظاهره کړه، ولې یزید او د هغهٔ عمّالو ته دا اندازه وه، کهٔ اُوس دوی بیرته لاړل، نو بل واړي به دوی په نورې تیارئ او احتیاطی تدبیرونو کولو سره راځی، او دا به پوره یوه ویره جوړه پاتې شی، په دې وجه هغوی دې په قبضه کښې اخستلو باندې په ضد وو.

یزید هم د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د فضیلت قائل وو : باقی دا چې یزید د حضرت حسین رضی اللہ عنہ نه غوره وو، او د افضیلت په بناء باندې د خلافت زیات حقدار وو، نو ددې خو پخپله یزید هم قائل نهٔ وو.

د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د شهادت نه ورسټو تاریخ د یزید دا الفاظ نقل کړې دی:

"أتدرُون مِن أين أتى هذا؟ قال: أبي علي خير من أبيه وأمي فاطمة خير من أمّه، وجدّي رسول الله ﷺ خير من جدّه، وأنا خير منه وأحق بهذا الأمر منه، فأما قوله "أبوه خير من أبي" فقد حاجّ أبي أباه وعلم الناس أيهما حكم له، وأما قوله "أمي خير من أمّه" فلعمري فاطمة بنت رسول الله خير مِن أمي، وأمّا قوله "جدّي خير من جدّه" فلعمري ما أحد يؤمن بالله واليوم الآخر يرى لرسول الله فينا عدلاً ولا نِدًّا ولكنه إنما أتى من قبل فقهه ولم يقرء "قل اللّهم مالكَ الملك تؤتي الملكَ مَن تشاء وتنزع الملكَ ممن تشاء."(١)

آیا تاسو خلقو ته پته ده چې دا پیښه ولې ورانديږي راغله؟ (حضرت حسین رضی اللہ عنہ) به دا وئیل، چې د هغهٔ پلار حضرت علی رضی اللہ عنہ زما د پلار نه غوره دې، او د هغهٔ مور فاطمه بنت الرسول رضی اللہ عنہا زما د مور نه غوره ده، او د هغهٔ نیکهٔ رسول الله ﷺ زما د نیکهٔ نه غوره دې، او پخپله هغهٔ زما نه غوره او د حکومت زیات حق دار دې..... (اُوس) تر کومې پورې چې د پلار خبره ده، نو د هغهٔ پلار (حضرت علی رضی اللہ عنہ) او زما پلار (حضرت معاویه) اوجنګیدل، او دنیا اولیدل، چې حکومت چا ته ورکړې شو، او تر کومې پورې چې د مور تعلق دې، نو زما دې په خپل عمر قسم وی! د رسول الله ﷺ لور فاطمه رضی اللہ عنہا زما د مور نه غوره وه، او د نیکهٔ چې کومه خبره ده، نو په مونږ کښې هیڅ یو مسلمان چې د هغوی ﷺ برابر څوک اومنی دا ممکن نهٔ دی. ولې دا غوره والې د مور پلار په اعتبار سره، او دا أفضلیت د دین او علم د وجهې نه دې، د حکومت خبره بله ده، هغه خو چې الله تعالی چا ته اُوغواړی ورکوی، څنګه چې ارشاد دې، قل اللّهم مالكَ الملك تؤتي الملكَ مَن تشاءُ وتنزعُ الملكَ مِمن تشاء.

په هر حال کښې یزیدی حکومت د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د قتل ذمه دار دې، ولې اهل کوفه او شیعانِ علی هم په دې کښې برابر برابر شریك دی، چا چې هغوی رضی اللہ عنہ اُوغوښتلو، او بیا ورسټو شو، او هغوی رضی اللہ عنہ یواځې صرف د خپل کور والو د څو وفادارو ملګرو سره د ظالمانو سره په جنګ پاتې شو، او په شپیتو او اویاؤ کسانو باندې مشتمل دا قافله بالاخر پوره په پوره ختمه کړې شوه، رضی الله عنهم وأرضاهم او د شیعانِ علی هیڅ پته هم اونهٔ لګیده، چې چرته وو، او څهٔ شو.

---

(١) تاریخ الطبری: ٣، ٣٤٠، والبدایة والنهایة: ١٩٩، ١٢٠٠

قوله: كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللهِ: "هم" ضمیر اهل بیتو ارخ ته راجع دي، یعنی په اهل بیتو کښې رسول الله ﷺ سره د ټولو نه زیات مشابه حضرت حسین رضی الله عنه وو.

بزار د حضرت انس رضی الله عنه دا روایت په یوئې بلې طریقې سره روایت کړې دي، چې په هغې کښې د حضرت انس رضی الله عنه دا الفاظ منقول دی:

"فقلتُ له إني رأيتُ رسول الله ﷺ يلثم حيث تضعُ قضيبَك قال فانقبض".(۱)

ما رسول الله ﷺ د دغه ځائې په ښکلولو لیدلې دي، په کوم ځائې چې ته دا لرګۍ (یعنی لښته) ږدي. دا اوریدو سره هغهٔ لښته اوچته کړه.

او د زید بن ارقم رضی الله عنه متعلق چې کوم روایت دي، په هغې کښې دا هم مذکور دی، چې حضرت زید رضی الله عنه د ابن زیاد دا بد فعل اوکتلو نو هغه ئې منع کړو، او بیا په ژړا باندې بهر راغې، په دې باندې ابن زیاد اووئیل:

"أبكى الله عينَك فوالله لَولا أنك شيخ قد خرِفتَ وذهب عقلك لضربتُ عنقك".(۲)

الله تعالی دې تا اُوژړوی، په خدائې قسم! که ته داسې بوډها نهٔ وې، چې حواس ئې ګډ وډ شوی وی، او د هغهٔ عقل ختم شوې وی، نو ما به ستا ستې کټ کړې وې.

دې نه ورسته حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه اووئیل:

"ملَك عبدٌ عبيداً فاتخذهم تليداً، أنتم يا معشر العرب العبيدُ بعد اليوم قَتَلتُم ابن فاطمة وأمَّرتم ابنَ مرجانة فهو يقتل خيارَكم ويستعبد شرارَكم فبعدًا لمن رضي بالذل".(۳)

د غلامانو یو غلام مالك جوړ شو، او دا ئې په وراثت کښې موندلې شوې مال اوګنړلو، اې عربو! تاسو د نن نه پس غلامان یئ، تاسو ابن فاطمه (حضرت حسین رضی الله عنه) قتل کړو، او ابن مرجانه (ابن زیاد) مو امیر جوړ کړو، چې ستاسو خوښ خلق به قتل کوی، او خراب خلق به غلامان جوړوی. او هلاك شو هغه څوك چې په دې ذلت باندې راضی دي.

خلقو اووئیل: "والله لقد قالَ زيد بن أرقم كلاماً لَو سمعَه ابن زياد لقتلَه".(۴)

زید بن ارقم داسې خبره کړې ده، که ابن زیاد دا اوریدلې وې، نو دوی به ئې قتل کړې وې.

بعضې حضراتو د یزید متعلق هم دا قسم واقعه ذکر کړې ده.

د ابن أبی الدنیا روایت دي، کله چې یزید ته د حضرت حسین رضی الله عنه سر راوړلې شو، نو هغهٔ قضیب اخستلو سره دا عمل اوکړو، او ابو برزه أسلمی ورته ستغې خبرې اوکړې.(۵)

---

۱) مسند البزار: ۱۳،۱۸٤، رقم: ۶۶۳۲

۲) إرشاد الساری: ۸،۲۳۳، والبدایة والنهایة: ۸،۱۱۹۸

۳) إرشاد الساری: ۸،۲۳۳، والبدایة النهایة: ۸،۱۱۹۸

٤) البدایة والنهایة: ۸،۱۱۹۸

۵) البدایة والنهایة: ۸،۱۲۰۰

دلته د حضرت انس رضی الله عنه قول منقول دي، چې حضرت حسین رضی الله عنه أشبه بالرّسول وو.[1]
دا خبره وړاندې د عبدان په روایت کښې د حضرت ابو بکر رضی الله عنه نه هم مروی ده، هغوی اوفرمائیل، چې حضرت حسین رضی الله عنه د خپل پلار (حضرت علی رضی الله عنه) سره نا، بلکه خپل نیکۀ رسول الله ﷺ سره مشابهت لری.

قوله: مَخْضُوبًا بِالْوَسْمَةِ: وشمة بالشين المعجمه هم منقول دي، او بضم الواؤ والسين المهملة هم، خو راجح په سین مهمله او فتحې د واؤ سره دي، مراد تري د نیل بوټې دي، چې په هغې سره خضاب کولې شی. دې سره رنګ تور والی ته مائل شی، ددې تشریح په دې الفاظو سره کړې شوې ده: "ثبت يختضب به يميل إلى السواد".[2]
خالص "وسمه" تور نه وی، بلکه تور والی ته مائل وی، په دې وجه ددې جنّبوا السواد سره تعارض نشته. او بیا حضرت حسین رضی الله عنه غازی او مجاهد هم وو، او د غازی او مجاهد د پاره ددې هم کنجائش شته.[3]

د حضرت حسین رضی الله عنه جَسد او سر مبارک چرته دفن کړې شوې دی؟ پاتې شوه دا خبره، د حضرت حسین رضی الله عنه سر مبارک چې کله ابن زیاد او بیا یزید ته راوړلې شو، او دوی هغې سره دا پورته ذکر کړې شوې معامله اوکړه، نو بیا د هغوی د سر څۀ اوشول؟ په دې کښې مختلف روایات دی.
یو قول خو دادې، چې ابن زیاد د حضرت حسین رضی الله عنه سر مبارک یزید ته لیږلې هم نۀ دې، خو مشهور قول دادې، چې لیږلې ئې دې، او دا حُر بن قیس یا محفز بن ثعلبه د یزید مخې ته د دود اویاؤ (۷۲) نورو سرونو سره وړاندې کړې وو، ابن کثیر دا راجح ګرځولې دې.
بیا د دفن کولو په حقله یو روایت خو دادې، چې یزید دا عمرو بن سعید ته مدینې منورې ته اولیږلو. او هغوی دا په جنت البقیع کښې حضرت فاطمې رضی الله عنها سره دفن کړو.
دویم یو ضعیف قول دادې. چې هغه سر یزید سره د هغۀ په خزانه کښې پروت وو، تر دې پورې کله چې یزید مړ شو. نو هغه راوُباسلو سره د دمشق په باب الفرادیس کښې دفن کړې شو. او مسجد الرأس په دې مناسبت سره قائم کړې شوې دې، ابن عساکر نقل کړی دی، چې هغه د یزید سره په خزانه کښې پروت وو، تر دې پورې چې ډیر وروستو د سلیمان بن عبد الملك په زمانه کښې راوُباسلې شو. او اُوس هغې د یو سپین هډوکی شکل اختیار کړې وو، بیا هغه د مسلمانانو په مقبره کښې دفن کړې شو، بیا کله چې بنو عباس راغلل، نو هغوی دا راوُباسلو. او څان سره ئې یوړو.[4]

---

[1] إرشاد الساری: ۲۳۳.۸، وفتح الباری: ۱۱۲۱.۹
[2] البدایة والنهایة: ۲۱۱.۸، وتاریخ الطبری: ۳۳۸.۳، ومرقاة المفاتیح: ۱۳۲۳.۱۱
[3] لامع الدراری: ۱۱۸۸.۸
[4] البدایة والنهایة: ۲۱۱.۸، وتاریخ الطبری: ۳۳۸.۳

په مصر کښې کله چې په څلورمه پنځمه او شپږمه صدئ کښې د فاطمییانو حکومت وو، د هغوی وینا ده، چې د حضرت حسین رضی اللہ عنہ سر مونږ ته راوړسیدو، او هغوی دا په مصر کښې دفن کولو سره په هغې باندې یو مشهد (یعنی ننبه) جوړ کړې وو، چې هغې ته د "تاج الحسین" نوم ورکړې شو، ډیرو علماؤ دا خبره بالکل بې بنیاده ګرځولې ده، او وئیلې ئې دی، چې دا فاطمییانو د خپل حکومت د قائمولو او د خپل مذهب د ترویج د پاره د وسلې په توګه استعمال کړو۔[1]

په هر حال کښې قرینِ قیاس په دمشق یا بقیع کښې د هغې دفن کیدل دی۔ واللہ أعلم
او تر کومې پورې چې د جسد تعلق دې، نو هغه په کربلا کښې پاتې شوې وو، او روایت دې، چې عمر بن سعد د ابن زیاد په حکم باندې په هغې آسونه ګرځولې وو، بیا "اهل الغاضریه" چې د بنو اسد نه وو، هغوی د شهادت نه یوه ورځ ورسته دفن کړو۔[2]
او د کربلا د نهر سره چې کوم مزار دې، دغې ته هم د هغوی مدفن وئیلې شوې دې، ابن جریر او بعضې نور حضرات وائی، د مدفَن ځائې ختم شوې دې، او په یقینی توګه د هغې په حقله چا ته هم علم نشته۔[3]

د روافضو او نواصبو افراط او تفریط: د اهل سنت والجماعت عقیده داده، چې سیدنا حضرت حسین رضی اللہ عنہ، امام الهدیٰ او د مناقبو او محاسنو مجموعه وه، خو د هغوی خپله یوه مرتبه وه، او څنګه چې هغوی د یزید او د خپل زمانې د نورو خلقو نه غوره وو، نو دغه شان هغوی د خپل پلار، د نورو خلفاء راشدینو رضی اللہ عنہم او بدریینو او عشرهٔ مبشره نه په درجه کښې کم وو، او تر کومې پورې چې د رسول اللہ ﷺ د نوسی کیدو اعزاز دې، نو دا شرف او اعزاز د هغوی په شان د هغوی مشر ورور حضرت حسن رضی اللہ عنہ ته هم حاصل دې، چې هغوی ته رسول اللہ ﷺ د "ابنی هٰذا سیّدٌ" وئیلو سره، هغه د سرداري په مقام باندې اودرولو، او د حضرت علی رضی اللہ عنہ کنیت هم هغوی ارخ ته په نسبت کولو په وجه باندې "ابو الحسن" دې۔
حضرت علی رضی اللہ عنہ بن زینب بن أبی العاص هم د رسول اللہ ﷺ د ټولو نه مشر نوسې وو، ولې د تعجب خبره داده، چې علی شیر خدا خلیفهٔ راشد او امیر المؤمنین شهید کړې شو، نو د هغوی هیڅ تذکره نشته، او د حضرت حسن رضی اللہ عنہ د وفات د ورځ چا ته علم هم نشته، او د حضرت حسین رضی اللہ عنہ شهادت دومره راپورته کولې شی، ګویا چې د اسلام په لمن کښې د شهادت داسې هیڅ واقعه نهٔ وی، حال دادې چې د رسول اللہ ﷺ د ترهٔ (عم) سید الشهداء

---

[1] البدایة والنهایة: ۱۲۱۱،۸
[2] تاریخ الطبری: ۱۳۳۵،۳
[3] البدایة والنهایة: ۱۲۱۱،۸

حضرت حمزه رضی الله عنه درد ناك شهادت د رسول الله ﷺ په ژوند كښې اوشو، او ددې په شان په سوونو شهادتونه..... د حضرت عثمان رضی الله عنه شهادت، د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت سره څومره مماثلت لري، بلكه ددې نه لوې او زیات درد ناك دې، هغوی هم بندی كولو سره اُوږې تړې ډیر د بې دردئ په حالت كښې شهید كړې شو، ولې د هغوی په غم كښې نۀ چا اسمان په سر راواخستو، او نۀ د هغوی په قاتلانو باندې څۀ مصیبت راغې۔

حقیقت دادې، څنګه چې د اهل بیتو دښمنان او ناصبی عناصر د حضرت حسین رضی الله عنه په شهادت باندې خوشالی كوی، او هغې ته غلط وئیلو سره د الله تعالی او رسول مجرمان جوړیږی، هم دغه شان د صحابۀ كرامو رضی الله عنهم دښمنانو او روافضو خلقو هم د حضرت علی رضی الله عنه څوې حضرت حسین رضی الله عنه كوفې ته غوښتلو سره قتل كولو، یا بې یار او مدد ګار پریښودو سره قتل كیدلو نه ورستو د حضرت حسین رضی الله عنه د غم كولو په نوم باندې د صحابۀ كرامو رضی الله عنهم بغض، بدعات او خرافاتو خورولو كښې داسې غرق دی، چې الامان والحفیظ!۔

دې افلاسِ علم او كردار بنكار كونكو خلقو قیمتی اسلامی اقدار او ددین اسلام اصول او ضوابط د مسخ كولو د پاره تاریخ هم مسخ كړې دې، او نن دا حالت دې، چې د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت په حقله په حقائقو او افسانو كښې فرق كول مشكل شوی دی۔

د حافظ ابن كثیر رضی الله عنه "البدایة والنهایة" د هغوی د ثقاهت په وجه باندې د تاریخ یو عمده مجموعه ګڼلې شی، ولې حافظ صاحب هم د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت واقعه ذكر كولو نه ورستو اوفرمائیل:

"وللشیعة والرافضة فی صفة مصرع الحسین كذب كثیر وأخبار باطلة وفیما ذكرنا كفایة، وفی بعض ما أوردناه نظر لولا أن ابن جریر وغیره من الحفاظ والأئمة ذكروه مما سُقته وأكثره من روایة أبی مخنف لوط بن یحیٰی وقد كان شیعیا وهو ضعیف الحدیث عند الأئمة ولكنه أخباری حافظ عنده من هذه الأشیاء ما لیس عند غیره ولهذا یترامی علیه كثیر من المصنفین فی هذا الشان"۔(۱)

د شیعه ګانو او روافضو د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت په حقله ډیر زیات دروغ او بې بنیاده خبرې دی، او كومې چې مونږ ذكر كړې دی، هغه كافی دی، او زمونږ ذكر كړې شوې بعضې څیزونو كښې د اشكال ځائې شته، او كۀ د ابن جریر په شان حفاظو او ائمو دا نۀ ذكر كولې، نو مونږ به هم نۀ وې راوړلې، او اكثر دا خبرې د ابو مخنف په روایت سره رارسیدلې دی، چې هغۀ د ائمو له مخې شیعه او ضعیف الحدیث دې، ولې اخبار ذكر كولو والا نور حافظان دی، او په دې حوالې سره هغوی سره داسې څیزونه دی، كوم چې نورو سره نشته، په دې وجه اكثرو ورستنو مصنفینو په دې اعتماد كړې دې۔

---

(۱) البدایة والنهایة: ۸/۲۰۹

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې نه ورستو دا هم ذکر کړې دی، چې د ۴۰۰ هجری سره نزدې نزدې د بنو بویه حکومت په دې حوالې سره چې څومره خرافات جوړ کړې دی، د هغې مثال نۀ ملاویږی، مثلاً د عاشورې په ورځ تنبل وهل، په لارو کوسو کښې خزلې او ګندونه الوزول، په دکانونو باندې جهنډې لګول، ډیر زیات ژړل، خوراک څکاک پریښودل، په سراندو ژړل او سینه وهل، او نور بدعات او خرافات او په بنو امیو باندې لعن او طعن کول۔[1] چې ددې مقصد حقیقتًا نا، محاورتًا د حضرت معاویه رضی الله عنه بغض دې، او د حضرت علی رضی الله عنه محبت نۀ دې او ددې په پناه کښې د بنو امیو په نورو جلیل القدر صحابۀ کرامو رضی الله عنهم باندې لعن طعن کول، د دوی کار او اصل مقصد دې، چې په هغې باندې د تبراء کونکو شیعه ګانو د مذهب بنیاد قائم دې۔

أعاذنا الله مِن شرِهم..... آمین یا ربّ العالمین

۳۵۳۹[2] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ الْمِنْهَالِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيٌّ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ - رضي الله عنه - قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَالْحَسَنُ عَلَى عَاتِقِهِ يَقُولُ «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ.

رجال الحدیث

حَجَّاج بْنُ الْمِنْهَال: دا ابو محمد حجاج بن المنهال انماطی دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة" لاندې تیر شوی دی۔[3]

شُعْبَةُ: دا شعبة بن الحجاج بن الورد العتکی الواسطی دې، ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده" لاندې تیر شوی دی۔[4]

عدی: دا عدی بن ثابت الأنصاری دې،[5] ددۀ احوال د کتاب الإیمان، باب "ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة" لاندې تیر شوی دی۔[6]

---

[1] البدایة النهایة: ۸/۲۰۹

[2] الحدیث کما أخرجه البخاری فی صحیحه هنا کذا أخرجه مسلم فی صحیحه فی کتاب فضائل الصحابة، باب فضائل الحسن والحسین رضی الله عنهما، رقم الحدیث: ۲۴۲۲، والترمذی فی جامعه فی کتاب المناقب، باب مناقب الحسن والحسین رضی الله عنهما، رقم الحدیث: ۳۷۸۴

[3] اوګورئ: کشف الباری: ۲/۷۴۴

[4] کشف الباری: ۱/۶۷۸

[5] عمدة القاری: ۱۶/۳۳۳

[6] کشف الباری: ۲/۷۴۵

البَرَاءَ: د رسول الله ﷺ صحابی براء بن عازب مراد دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،باب "الصلاة من الإيمان" لاندې تير شوی دی۔[1]

وَالحَسَنُ بن عَلى: د اسماعيلی په روايت كښې د عمرو بن مرزوق عن شعبة په روايت كښې "الحَسن أو الحُسين" په شك سره راغلې دي۔

بيا هغوی اوفرمائيل،چې د شعبه اكثرو ملګرو "الحَسن" بغير د شك نه ذكر كړې دي،او بيا د شعبه په ملګرو كښې ئې تقريبًا د اَتو كسانو نومونه هم ذكر كړې دی۔[2]

ترجمة الباب سره مناسبت نښكاره دي۔

۳۵۴۰(۳) حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا بَكْرٍ - رضى الله عنه - وَحَمَلَ الْحَسَنَ وَهُوَيَقُولُ بِأَبِي شَبِيهٌ بِالنَّبِي، لَيْسَ شَبِيهٌ بِعَلِي. وَعَلِي يَضْحَكُ. [ر: ۳۳۴۹]

رجال الحديث

عَبْدَانُ: "عبدان" دا د عبد الله بن عثمان بن جبله لقب دي،چې د دوی احوال په كتاب بدء الوحی كښې تير شوی دی۔[4]

عَبْدُ اللهِ: دا د حديثو معروف امام عبد الله بن المبارك الحنظلی دي،د دوی احوال هم د دې بدء الوحي د شپږم نمبر حديث لاندې تير شوی دی۔[5]

عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بنِ أَبِي حُسَيْنٍ: دا عمر بن سعيد بن أبی حسين قرشی نوفلی دي،ددۀ احوال د كتاب العلم،باب "الرحلة فى المسئلة النازلة" لاندې تير شوی دی۔[6]

ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ: دا ابو بكر عبد الله بن عبيد الله بن أبی مليكۀ دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان، باب "خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر" لاندې تير شوی دی۔[7]

عُقْبَةَ بْنِ الحَارِثِ: دا عقبة بن الحارث بن عامر بن نوفل قرشی نوفلی دي،ددۀ احوال د كتاب

---

[1] كشف البارى:۲،۳۷۵

[2] فتح البارى:۹،۱۲۱،وعمدة القارى:۱۶،۳۳۳

[3] الحديث سبق تخريجه فى كتاب المناقب،باب صفة النبى،رقم:۳۵۴۲

[4] كشف البارى:۱،۱۴۶

[5] كشف البارى:۱،۱۴۶۲

[6] كشف البارى:۳،۵۱۵

[7] كشف البارى:۲،۵۴۸

العلم، باب "الرحلة فی المسئلة النازلة" لاندې تیر شوی دی۔[1]

حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا اړخ ته ددې قول نسبت: عن عقبة بن الحارث قال: "رأیت أبابکر رضی الله عنه....

":ددې په شان یو بل روایت د أحمد وغیره د زمعة بن الحارث په حوالې سره نقل کړې دې، په هغې کښې ابن أبی ملیکة وائی:

"کانت فاطمة تنقز الحسنَ بن علی" یعنی د حسن بن علی والدې حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا پورته پورته ویشتلو، او دا ئې وئیل.....

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی، د ابن أبی مُلیکة د عقبة بن الحَارث دا روایت، چې په دې کښې د حضرت ابو بکر په حقله د مذکورې واقعې ذکر دې، هم دغه صحیح دې۔

حافظ صاحب فرمائی، کۀ دا دویم روایت محفوظ وی، نو کیدې شی چې دا واقعه حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ او فاطمې رضی اللہ عنہا دواړو ته راپیښه شوی وی، او دا احتمال هم شته، چې حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا په داسې کولو لیدلې وی، او هم د هغې واقعه ئې ذکر کړې وی، چې هغې حضرت حسن رضی اللہ عنہ پورته کولو سره وئیلی وی، "بأبی شبیه بالنبی....." او د هغې په اتباع کښې بیا ابو بکر رضی اللہ عنہ هم د حضرت حسن رضی اللہ عنہ په حقله دا جمله وئیلی وی۔[2]

أحمد په یوې بلې طریقې سره کانت فاطمة ترقس السن په الفاظو سره هم دا روایت ذکر کړې دې، او په هغې کښې د حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا دا الفاظ منقول دی:

"ابنی هذا شبیه بالنبی لیس شبیهًا بعلی".[3]

حافظ صاحب وائی، ممکنه ده، چې دا د حضرت ابو بکر او حضرت فاطمې رضی اللہ عنہا "توارد" وی، او ممکنه ده، چې په دې دواړو کښې یو کس بل په داسې کولو لیدلې وی، او بیا د هغۀ په اتباع کښې ئې پخپله هم دا جمله وئیلې وی۔[4]

قوله: وَحَمَلَ الْحَسَنَ: واؤ حالیه دې، یعنی په داسې حال کښې چې هغوی رضی اللہ عنہ حضرت حسن رضی اللہ عنہ اوچت کړې وو۔[5]

قوله: بِأَبِي: ددې تقدیر دې، "مفدی بأبی" یعنی زما پلار دې په دۀ باندې فدا وی، او هغۀ مَفدی.....[6]

---

[1] کشف الباری: ۵۱۶،۳\

[2] فتح الباری: ۱۱۲۱،۹\

[3] رواه أحمد.....انظر فتح الباری: ۱۱۲۱،۹\

[4] شرح الطیبی: ۳۰۸،۱۱، فتح الباری: ۱۱۲۱،۹\

[5] عمدة القاری: ۱۳۳۳،۱۶\

[6] عمدة القاری: ۱۳۳۳،۱۶\

قوله: لَيْسَ شَبِيهٌ بِعَلِيٍّ: شبیه مرفوع منقول شوې دې، او ددې وجه دا بیان کړې شوې ده، چې "لیس" په کوفی مذهب کښې حرف عطف دې، لهذا "شبیه بالنبی" معطوف علیه د مبتداء دپاره خبر کیدو په وجه مرفوع دې، نو "لیس شبیه" کښې به "شبیه" هم په دې باندې د عطف کیدو په وجه مرفوع وی، او تقدیر به داسې وی، "لا شبیهٌ بعلی".

دویم قول ابن مالك ارخ ته منسوب کولو سره دا ذکر کړې شوې دې، چې شبیه (ثانی)، د لیس د پاره اسم او مرفوع دې، او ددې خبر د ضمیر په صورت کښې محذوف منوی دې، او منوی د ملفوظ قائم مقام کیدو په توګه قبول کړې شوې دې۔ (۱)

او یو قول دادې، چې "شبیهًا بعلی" منصوب او خبر د لَیس دې، او په دې (لیس) کښې ضمیر مرفوع دې، چې ددې اسم دې۔ (۲)

په حضرت حسن ؓ باندې پلار قربانول د هغوی د مشابهت بالنبی په وجه باندې دی: علامه طیبی فرمائی، "بأبی شبیه بالنبی.....". کښې په ترکیبی اعتبار سره دوه احتمالات دی، یو دا چې ددې تقدیر دې، "هو مفدی بأبی شبیه بالنبی" او په دې کښې مفدی خبرِ اول او شبیه خبر ثانی دې، د هو ضمیر د پاره، او دویم احتمال دادې، چې ددې تقدیر دادې، "أفدیه بأبی، وهو شبیه بالنبی" په دې صورت کښې هم دا "شبیه بالنبی" خبر دې، د مبتداء محذوف د پاره، او "أفدیه بأبی" دویمه جمله ده. په هر حال کښې په دواړو صورتونو کښې "شبیه بالنبی" کیدل تفیدیه (د پلار قربانولو) د پاره علت دی۔ (۳)

ایا حضرت حسن ؓ د نبی ﷺ سره مشابه کیدل د رسول الله ﷺ د بې مثاله "کیدو معارض نه دی؟: دلته یو اعتراض کیدې شی، چې ترمذی په شمائیلو کښې د حضرت علی ؓ دا قول نقل کړې دې. "لم أر قبله ولا بعده مثله"۔ (۴) یعنی ما د رسول الله ﷺ په شان نه د هغوی ﷺ نه وړاندې څوك لیدلې دې، او نه ورسته، نو بیا حضرت حسن څنګه "شبیه بالرسول" شو؟

ددې جواب دا ورکړې شوې دې، چرته چې د "مثل" نفی ده، د هغې نه کلی مماثلت مراد دې، یعنی بالکل او په هر لحاظ سره د رسول الله ﷺ په شان کیدل دا چا دپاره هم ثابت نه دی، او دلته چې کوم اثبات دې، دې نه اکثر او تر ډیرحده پورې د مشابهت اثبات مراد دې۔ (۵)

---

۱) فتح الباری: ۱۲۱،۹، وعمدة القاری: ۱۳۳٤،۱۶
۲) عمدة القاری: ۱۳۳٤،۱۶
۳) فتح الباری: ۱۱۲۱،۹
٤) فتح الباری: ۱۱۲۱،۹
۵) فتح الباری: ۱۲۱،۹، وعمدة القاری: ۱۳۳٤،۱۶

د "شبيه بالنبى" كيدو معنى داده، چې بچې مور ته تلې دې، او نيكۀ (رسول الله ﷺ) سره د دوى مشابهت دې. نۀ چې پلار سره.

په باب او حديث كښې مطابقت بنكاره دې۔[1]

٣٥٤١ (٢) حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ وَصَدَقَةُ قَالاَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ وَاقِدِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ ارْقُبُوا مُحَمَّدًا - صلى الله عليه وسلم - فِي أَهْلِ بَيْتِهِ. [ر: ٣٥٠٩]

رجال الحديث

يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: دا ابو زكريا يحيى بن معين بن ميمون الغطفانى دې، د حديثو معروف امام دې، ددۀ احوال په كتاب الحج، باب "من أين يخرج من مكة" كښې تير شوي دى.

صَدَقَةُ: دا ابو الفضل صدقة بن الفضل المروزى دې، ددۀ احوال په كتاب العلم، باب "العلم والعظة بالليل" كښې تير شوى دى۔[3]

مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ: دا ابو عبد الله محمد بن جعفر الهذلى، معروف په "غندر" دې، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب "ظلم دون ظلم" كښې تير شوى دى۔[4]

شُعْبَةَ: دا امير المؤمنين فى الحديث شعبة بن الحجاج بن الورد العتكى دې، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب "السلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" كښې تير شوى دى۔[5]

واقد بن محمد: دا واقد بن محمد بن زيد بن عبد الله بن عمر رضي الله عنهم دې، ددۀ او ددۀ د پلار محمد بن زيد احوال د كتاب الإيمان، باب "فان تابوا وأقاموا الصلاة وآتوا الزكاة فخلوا سبيلهم" لاندې تير شوې دى۔[6]

ابن عمر: دا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دې، صحابى بن صحابى دې، ددۀ احوال په كتاب الإيمان، باب "الإيمان وقول النبى ﷺ بنى الإسلام على خمس" كښې تير شوى دى۔[7]

د حديث تشريح په باب قرابة النبى ﷺ كښې تيره شوې ده.

---

[1] عمدة القارى: ١٦، ٣٣٤\

[2] الحديث مر تخريجه فى كتاب فضائل الصحابة، باب منقبة قرابة النبى ﷺ، رقم الحديث: ٣٧١٣\

[3] كشف البارى: ٤، ٣٨٨\

[4] كشف البارى: ٢، ٢٥٠\

[5] كشف البارى: ٢، ٦٧٨\

[6] كشف البارى: ٢، ١٣٥\

[7] كشف البارى: ١، ٦٣٧\

٣٥٤٢:(١) حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسٍ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي أَنَسٌ قَالَ لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِالنَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ.

رجال الحديث

ابراهيم بنُ مُوسَى:دا إبراهيم بن موسىٰ بن يزيد التيمى ابو اسحاق الفراء دي،ددۀ احوال د كتاب الحيض،باب"غسل الحائض رأس زوجها وترجيله"لاندې تير شوى دى.

هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ:دا هشام بن يوسف الانبارى ابو عبد الرحمٰن الصنعانى دي،ددۀ احوال د كتاب الحيض،باب"من سمى النفاس حيضا"لاندې تير شوى دى.

مَعْمَرٍ:دا معمر بن راشد ازدى ابو عروه البصرى دي،ددۀ احوال د بدء الوحى،حديث خامس لاندې تير شوى دى.(٢)

الزُّهْرِيِّ:دا ابو بكر محمد بن مسلم بن شهاب الزهرى دي،ددۀ احوال په بدء الوحى كښې تير شوى دى.(٣)

أَنَسٍ:دا د رسول الله ﷺ صحابى حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دي،ددۀ احوال د كتاب الإيمان،باب "من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه"لاندې تير شوى دى.(٤)

د تعليق مقصد:-وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ.....د امام بخارى ددې تعليق مقصد دادي،چې د زهرى روايت چې د انس رضي الله عنه دلته په"عن"سره مروى دي،عبد الرزاق دا روايت كړې دي،او په دې كښې د زهرى د انس رضي الله عنه د سماع ذكر دي،امام بخارى دغه ثابتول غواړى،چې د زهرى سماع د انس رضي الله عنه ثابت ده.(٥)

دا معلق روايت د عبد الرزاق نه احمد په خپل مسند كښې او عبد بن حميد نقل كړې دي.(٦)

او ترمذى هم دا موصولاً ذكر كړې دي.(٧)

---

(١) الحديث أخرجه الترمذى ايضاً فى جامعه فى المناقب،باب مناقب الحسن والحسين رضي الله عنهما،رقم:٣٧٧٨

(٢) كشف البارى:١،٤٦٥

(٣) كشف البارى:١،٣٢٦

(٤) كشف البارى:٢،١٤

(٥) فتح البارى:٩،١٢١،وعمدة القارى:١٦،٣٣٤

(٦) فتح البارى:٩،١٢١

(٧) انظر الجامع للترمذى،كتاب المناقب،باب مناقب الحسن والحسين،رقم:٣٧٨٤

ایا حضرت حسن رضی اللہ عنہ أشبه بالنبی ﷺ وو، یا سیدنا حضرت حسین رضی اللہ عنہ ؟:-د حضرت انس بن مالك رضی اللہ عنہ دا روایت د دوی د یو بل روایت، چې د محمد بن سرین په حوالې سره په دې باب کښې اُوس پورته ذکر شوې دې، سره معارض دی۔

په اولنی روایت کښې هغوی د حضرت حسین رضی اللہ عنہ (یعنی د رسول الله ﷺ د کشر نوسی) په حقله اوفرمائیل، "کان أشبههم برسول الله".

چې هغوی رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ سره د نورو ټولو خلقو په نسبت سره زیات مشابهت لرلو، او دلته د هغوی ﷺ د مشر نوسی حضرت حسن رضی اللہ عنہ د پاره دا خبره ثابت کړې شوې ده۔

ددې تعارض کنړ شمیر اجوابونه ورکړې شوی دی:

اولنې جواب:-اولنې جواب دا ورکړې شوې دې، چې د رسول الله ﷺ په حیات مبارك کښې هغوی ﷺ سره زیات مشابهت د حضرت حسن رضی اللہ عنہ وو، ځکه چې هغوی د زیات عمر وو، او د هغوی رسول الله ﷺ سره مشابهت نښکاره شوې وو۔

او په حضرت حسین رضی اللہ عنہ کښې هم مشابهت وو، ولې هغوی تر اُوسه پورې ماشوم وو، او د دوی د رسول الله ﷺ سره مشابهت د هغوی ﷺ د حیات مبارك نه ورسته (کله چې حضرت حسین لوئې شو) نښکاره شوې وو، نو چرته چې د حضرت حسین رضی اللہ عنہ د اشبه بالنبی ﷺ ذکر دې، د هغې نه مراد د رسول الله ﷺ د حیات مبارك (یعنی د دنیا نه د رحلت) نه ورسته هغوی ﷺ سره مشابهت دې، لهذا هیڅ تعارض نشته، بلکه په دې طریقې سره جمع او تطبیق ممکن دې۔[1]

دویم جواب:-دویم جواب دا ورکړې شوې دې، چې حضرت حسین رضی اللہ عنہ د "أشبه بالرسول" ګرځولو مراد دادې، چې د حضرت حسن رضی اللہ عنہ نه علاوه رسول الله ﷺ سره د ټولو خلقو نه زیات مشابهت حضرت حسین رضی اللہ عنہ لرلو، دا هم د تطبیق او جمع بین الروایتین صورت دې۔[2]

دریم جواب:-دریم جواب دا ورکړې شوې دې، چې په حضرت حسن او حضرت حسین رضی اللہ عنہما دواړو کښې هر یو رسول الله ﷺ سره زیات مشابه وو، خو به بعضې اعضاؤ کښې، ځنګه چې د ترمذی او ابن حبان د روایت نه هم دغه معلومیږی، چې د هانی بن هانی په طریقې سره د حضرت علی رضی اللہ عنہ نه مروی دې، د هغې الفاظ دادی:

"الحسن أشبه برسول الله ما بین الصدر إلی الرأس، والحسین أشبه برسول الله ما کان أسفل من ذلك."[3]

یعنی د سینې نه تر سره پورې رسول الله ﷺ سره زیات مشابهت د حضرت حسن رضی اللہ عنہ وو، او د

---

[1]) فتح الباری:۹،۱۱۲۲

[2]) فتح الباری:۹،۱۱۲۲

[3]) جامع الترمذی، کتاب المناقب، باب حلمه ووضعه الحسن والحسین بین یدیه، رقم الحدیث:۱۳۷۷۹

سینې نه لاندې برخه کښې رسول الله ﷺ سره زیات مشابهت د حضرت حسین رضی الله عنه وو.
او اسماعیلی د عبد الاعلی عن معمر عن الزهری په طریقې سره روایت نقل کړې دې، چې په هغې کښې ئې د حضرت حسن رضی الله عنه په حقله فرمائیلی دی، "وكان أشبههم وجها بالنبي".(۱)

د رسول الله ﷺ سره مشابهت لرونکی نور حضرات:- د حضرات حسنینو نه علاوه هم د بعضې حضراتو رسول الله ﷺ سره مشابهت وو، مثلاً په بنو هاشمو کښې جعفر بن أبی طالب، او د دوی ځوې عبد الله بن جعفر، قثم بن العباس بن عبد المطلب، ابو سفیان بن الحارث بن عبد المطلب، مسلم بن عقیل بن أبی طالب، او د بنو هاشمو نه علاوه په نورو خلقو کښې د امام شافعی رحمه الله جد امجد سائب بن یزید المطلبی، عبد الله بن عامر بن کریز العبشمی او کابس بن ربیعة بن عدی، د حضرات حسنینو سره دا ټول لس کسان شو، چې هغه شاعر د شعر په شکل کښې داسې ذکر کړې دی:

ع: شبه النبی لعشر سائب و أبی سفیان والحسنَین الطاهرین هما
وجعفر، وابنه ثم ابن عامرهم و مسلم، کابس یتلوه مع قثما

بعضې حضراتو نور کسان هم ذکر کړې دی، چې په هغوی کښې د هغوی ﷺ لور حضرت فاطمه رضی الله عنها او ځامن إبراهیم او د عوف بن جعفر هم ذکر دې.(۲) والله اعلم

۳۵۴۳: (۳) حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي نُعْمٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ وَسَأَلَهُ عَنِ الْمُحْرِمِ، قَالَ شُعْبَةُ أَحْسِبُهُ يَقْتُلُ الذُّبَابَ فَقَالَ أَهْلُ الْعِرَاقِ يَسْأَلُونَ عَنِ الذُّبَابِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ ابْنَةِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «هُمَا رَيْحَانَتَايَ مِنَ الدُّنْيَا». [۵۶۴۸]

رجال الحدیث

مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: دا د حدیثو امام ابو بکر محمد بن بشار بن عثمان عبدی، بصری المعروف "بندار" دې، د ددهٔ احوال په کتاب العلم "باب قول النبی ربّ مبلغ أوعی من سامع" کښې تیر شوی دی.(۴)

غُنْدَرٌ: دا ابو عبد الله محمد بن جعفر هذلی المعروف به "غندر" دې، د ددهٔ احوال د کتاب الإیمان، باب "ظلم دون ظلم" لاندې تیر شوی دی.(۵)

---

۱) فتح الباری: ۱۲۲،۹
۲) فتح الباری: ۱۹،۱۲۲،۱۲۳
۳) الحدیث أخرجه البخاری أیضًا فی صحیحه کتاب الأدب، باب رحمة الولد وتقبیله ومعانقته، رقم: ۵۹۹۴، والترمذی فی جامعه، فی المناقب، باب مناقب الحسن والحسین، رقم: ۳۷۷۰
۴) کشف الباری: ۲۵۸،۳
۵) کشف الباری: ۲۵۰،۲

شُعبَة:دا امیر المؤمنین فی الحدیث شعبة بن الحجاج بن الورد العتکی دي،ددهٔ احوال د کتاب الإیمان،باب"المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده"لاندې تیر شوی دی۔[۱]

مُحَمَّدِ بنِ اَبِی یَعقُوبَ:دا محمد بن أبی عبد الله بن أبی یعقوب الضبی البصری دي،نیکهٔ ارخ ته ددهٔ نسبت شوې دي،ددهٔ احوال د کتاب المناقب،باب"ذکر أسلم وغفار ومزینة وجهینة وأشجع" کښې تیر شوی دی۔

ابنَ اَبِی نُعمٍ:دا ابو الحکم عبد الرحمٰن بن أبی نعم البجلی دي، ددهٔ احوال د کتاب أحادیث الأنبیاء، باب"قول الله تعالیٰ:والی عاد أخاهم هودا"لاندې تیر شوی دی۔

عَبدُ الله بنَ عُمَرَ:عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ صحابی دي،ددهٔ احوال تیر شوی دی۔[۲]

په مختلفو روایاتو کښې د الفاظو اختلاف:-دلته د"وسأله عن المُحرم"الفاظ دی،چې ددې معنٰی ده،چې د ابن عمر رضی الله عنه نه یو سړی د مُحرم(احرام تړونکی)په حقله پوښتنه اوکړه۔

او په کتاب الأدب کښې د مهدی بن میمون په روایت کښې د"سأله رجل"تصریح ده۔[۳]

حافظ ابن حجر رحمه الله د ابو ذر الهروی په حوالې سره د سألتُه الفاظ هم نقل کړې شوی دی،کهٔ دا الفاظ محفوظ وي،نو رجل متعین کیدو،ولې د ترمذی د جریر بن حازم عن محمد بن أبی یعقوب روایت دا احتمال رد کوی،ځکه چې په دې کښې د"أن رجلاً من أهل العراق سأل"الفاظ راغلي دی۔[۴]

او د أحمد په روایت کښې د راوی نه د"وأنا جالس عنده"الفاظ منقول دی۔[۵]د دواړو روایتونو نه معلومیږی،چې سائل راوی نهٔ دي،بل څوک دي،او راوی حاضر او شاهد وو، (ولې سائل نهٔ وو)۔

قوله: أحسبه یقتل الذباب: دلته د شعبه روایت په دې الفاظو سره منقول دي،ددې مطلب دادې،چې د شعبه خیال دي،چې سائل د مُحرم د احرام په حالت کښې د مچ د مړ کولو په حقله پوښتنه کوله،او ابو داؤد الطیالسی د شعبه قول بغیر د شك نه نقل کړې دي۔[۶]

سوال څهٔ وو؟:-دویمه خبره داده،چې دلته دا مذکور دی،چې سائل د ابن عمر رضی الله عنه نه دا پوښتنه کړې وه،چې کهٔ چرې مُحرم مچ مړ کړی،نو ددې څهٔ حکم دي؟او د ترمذی د وهب بن

---

[۱] کشف الباری:۱،۶۷۸\

[۲] کشف الباری:۱،۱۲۳۷\

[۳] صحیح البخاری،کتاب الأدب،حدیث:۵۹۹۴\

[۴] جامع الترمذی،کتاب المناقب،رقم الحدیث:۳۷۷۰\

[۵] فتح الباری:۹،۱۲۴\

[۶] فتح الباری:۹،۱۲۴\

جریر بن حازم په روایت کښې د "سأل ابنُ عمر عن دم البعوض یصیب الثوب" الفاظ دی،(۱) یعنی چې د مچ وینه په کپړو اولګی،نو د هغې د پاکوالی او ناپاکوالی څۀ حکم دې؟همدغه شان د بخاری د مهدی بن میمون په روایت کښې هم "دم البعوض" ذکر دې۔
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي،کیدې شی د دواړو څیزونو په حقله پوښتنه شوې وی۔(۲)

قوله: أَهْلُ الْعِرَاقِ يَسْأَلُونَ: دلته دا د غائب په صیغې سره راغلې دې،چې عراق والا پوښتنه کوی،او د مهدی بن میمون او ترمذی په روایت کښې د "انظر إلى هذا يسأل....." الفاظ دی،او د ابو داؤد الطیالسی په روایت کښې خطاب دې په "یا أهل العراق تسألوني عن الذباب....." سره۔(۳)

د ابن عمر رضي الله عنه د تعریض مقصد:-د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ددې اعتراض یا تعریض مقصد دادې. چې اهل عراق د وړو وړو معمولی خبرو په حقله خو سوچ او پوښتنه کوی،ولې د رسول الله ﷺ نوسې شهید کولو سره ئې د یو عظیم جرم کړې دې،او هغوی ته په ظاهره احساس هم نۀ کیږی۔(۴)

قوله: رَيْحَانَتَايَ: اکثرو حضراتو په تائې تانیث سره(د ریحانة)د تثنیې صیغه نقل کړې ده،چې د هغې اضافت یا د متکلم ارخ دې،او د ابو ذر په نسخه کښې په افراد او تذکیر سره "ریحانِي" راغلې دي،(۵) او بعضې حضراتو د "ریحان" تثنیه "رَیحانَیْ" هم نقل کړې ده۔(۶)

حسن او حسین رضي الله عنهما ته د "ریحان" وئیلو وجه:-رسول الله ﷺ حسنینو مکرمینو ته "ریحانتان" ولې اووئیل؟ علماؤ ددې وجه دا اوښودله،چې رسول الله ﷺ د دوی محبوب او مرغوب کیدل بیانوی.او فرمائی چې څنګه ریحان او ریحانة یعنی خوشبو والا بوټی،غوټئ یا ګلدسته خوشبو والا وی.او د هغې بوی کولو سره خوند حاصلیږی،همدغه شان زما ګلونه حسن او حسین رضي الله عنهما دی،چې هغوی څه بویوم،او خوشالی او خوند محسوسوم،او هم دغه شان بچی ښکلولې شی.امام ترمذی د انس رضي الله عنه روایت نقل کړې دې،چې د هغې الفاظ دی، "کان یقول لفاطمة ادعی لی ابنَيَّ فیشمهما ویضمهما إلیه"۔(۷)

---

۱) جامع الترمذی.کتاب المناقب.رقم:۱۳۷۷۰
۲) فتح الباری:۹.۱۲٤
۳) فتح الباری:۹.۱۲٤
٤) فتح الباری:۹.۱۲٤
۵) فتح الباری:۹.۱۲٤
۶) شرح الطیبی:۱۱.۳۰۸
۷) جامع الترمذی.کتاب المناقب.رقم:۱۳۷۷۲

او په طبرانی کښې د ابو ایوب رضی اللہ عنہ نه روایت دې،هغوی فرمائی،زهٔ رسول الله ته لاړم،نو حسن او حسین رضی اللہ عنہما د هغوی وړاندې لوبې کولې،ما د هغوی نه پوښتنه اوکړه،"أتحبهما یا رسول الله؟ یا رسول الله! آیا تاسو دوی سره محبت کوئ؟

هغوی ﷺ اوفرمائیل،"کیف لاوهما ریحانتای من الدنیا أشمّهما".(۱)

ولې او څنګه به نهٔ وی ! هغوی خو په دنیا کښې زما ګلونه دی،زهٔ ئې بوئیوم.

علامه عینی رحمہ اللہ د کرمانی قول نقل کړې دې،د الریحان معنی ده،"الرزق"یا"المشموم".(۲) او وې فرمائیل دلته"ریحان"د رزق په معنی خو نهٔ شی کیدې،هنه ! د مشموم خوشبو په معنی کښې کیدې شی او دې.(۳)

طیبی فرمائی"سبحان الله وریحانه"وئیلې شی،چې ددې معنی ده،"أسبح الله واسترزقه"دې نه معلومیږی چې ریحان د رزق په معنی باندې هم راځی.(۴)

او دلته د رزق معنی داسې کیدې شی،چې الله تعالی ما ته(یعنی رسول الله ﷺ ته)دا تازه ګلونه عطیه کړل او رائې کړل،دې معنی د پاره د"رزقنی الله"تعبیر راځی.

هذا ! وقد فرغت من تسوید(هذا المجلد من) الکتابة وتبیضه صباح یوم الثلاثاء لأربع خلون من شهر ذی الحجة ۱۴۳۲هـ ولله الحمد والمنة علی ما وفقنی للقیام بهذا الأمر المهم وبذل جهودی فی ترتیبه وتهذیبه وتخریج نصوصه وإجادة تحشیته وتذییله.....مع مابی من قصور العلم بصنوفه وفنونه وقلة المهارة فی صناعة الحدیث وعلومه وغایة تخلفی فی العمل فی سائر میادنیه والصلاة والسلام علی أفضل رسله وخاتم انبیائه وآله وأصحابه وعلماء أمته وأولیائه جعلنا الله ممن یسعد بدینه وعلومه وآدابه وخدمة الإسلام وأبنائه ووفقنا لمزید الاهتمام بهذا الأمر العظیم وتتمیم مایلیه من فضائل أصحاب النبی وأنصاره وأزواجه.....

آمین یا رب العالمین.

...

۱) فتح الباری:۹،۱۲٤.وعمدة القاری:۱۶،۳۳۵\

۲) شرح الکرمانی:۱۵،۲۳\

۳) عمدة القاری:۱۶،۳۳۵\

۴) شرح الطیبی:۱۱،۲۹٤\

مصادر و مراجع

❖ القرآن الکریم: کلام رب العالمین۔

❖ الاتقان فی علوم القرآن: حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمۃ اللہ علیہ (متوفی ۹۱۱ھ) شرکۃ مکتبۃ مصطفی البابی الحلبی مصر،

❖ الابواب والتراجم لصحیح البخاری: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب متوفی ۱۴۰۲ھ مطابق ۱۹۸۲ء، ایچ ایم سعید کمپنی پاکستان چوک کراچی۔

❖ احتجاج الطبرسی .... للشیخ ابی منصور أحمد بن علی الطبرسی، مطبوعۃ ایران

❖ الأحادیث الضعیفۃ والموضوعۃ واثرها السیئ فی الأمۃ، لناصر الدین الألبانی، مطبوعۃ المکتبۃ الاسلامی بیروت

❖ الإحسان بترتیب صحیح ابن حبان امام ابوحاتم کحمد بن حبان بُستی رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۳۵۴ھ موسسۃ الرسالۃ بیروت۔

❖ أحکام القرآن — امام ابوبکر محمد بن علی رازی جصاص رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۳۷۰ دار الکتب العربی بیروت، ودار لکتب العلمیۃ بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۴۲۴ھ

❖ أحکام القرآن: (تفسیر قرطبی) للإمام أبی بکر محمد بن عبداللہ المعروف بابن العربی رحمہ اللہ المتوفی ۵۴۳ھ دار الکتب العلمیۃ بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۴۲۴ھ

❖ أحکام القرآن للفقیہ المفسر العلامۃ محمد شفیع المفتی الأعظم بباکستان سابقاً علی ضوء ما أفادہ حکیم الأمۃ أشرف علی التھانوی رحمہ اللہ، ادارۃ القرآن والعلوم الاسلامیۃ، کراتشی، الطبعۃ الأولی ۱۴۱۳ھ

❖ احیاء علوم الدین، للامام أبی حامد محمد بن محمد العزالی رحمہ اللہ، المتوفی ۵۰۵ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت۔

❖ اخبار المدینۃ، الامام ابو زید عمر بن شبۃ النمیری البصری، رحمہ اللہ، المتوفی ۲۶۲ھ، دار الکتب العلمیۃ، بیروت، ۱۴۱۷ھ۔

❖ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری، ابو العباس شہاب الدین احمد القسطلانی، رحمہ اللہ تعالی، متوفی ۹۲۳ھ، المطبعۃ الکبری الامیریۃ، مصر، طبع سادس ۱۳۰۴ھ۔

❖ أساس البلاغۃ: جار اللہ ابو القاسم محمود بن عمر الزمخشری (متوفی ۵۳۸ھ)۔ دار المعرفۃ للطباعۃ والنشر بیروت

❖ الاسامی و الکنی، الامام ابو عبد اللہ احمد بن حنبل الشیبانی، رحمہ اللہ، المتوفی ۲۴۱ھ، مکتبۃ دار الاقصی، الکویت، الطبعۃ الاولی ۱۴۰۶ھ۔

❖ الاستذکار الجامع لمذاہب فقہاء الامصار وعلماء الاقطار ۔۔۔۔، ابو عمر یوسف بن عبد اللہ بن محمد بن عبد البر، رحمہ اللہ تعالی، متوفی ۴۶۳ھ، دار احیاء التراث العربی بیروت، الطبعۃ الاولی ۱۴۲۱ھ۔

❖ الاستیعاب فی اسماء الاصحاب (بهامش الاصابة)، ابوعمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبد البر، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۴۵۳ هـ، دار الفکر بیروت، و مطبوع فی مجلدین، الطبعة الاولیٰ، ۱۴۲۳ هـ۔

❖ اسد الغابة فی معرفة الصحابة، عزالدین ابو الحسین علی بن محمد الجزری المعروف بابن الاثیر، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۶۳۰ هـ، دار الکتب العلمیة بیروت۔

❖ الاسماء المبهمة، الخطیب البغدادی، رحمه الله، المتوفی ۴۶۳ هـ۔

❖ أصول الدین عند الامام أبی حنیفة لمحمد بن عبدالرحمن الخمیس...

❖ الاعتقاد علی مذهب السلف للبیهقی

❖ اکمال تهذیب الکمال، للعلامة علاء الدین مغلطای بن قلیج الحنفی رحمه الله، المتوفی ۷۶۴ هـ، الفاروق الحدیثة للطباعة والنشر، الطبعة الأولی ۱۴۲۲ هـ

❖ الإکمال فی رفع الإرتیاب عن المؤتلف والمختلف فی الأسماء والکنی والأنساب — الأمیر الحافظ ابن ماکولا رحمه الله متوفی (۴۷۵ هـ) دائرة المعارف العثمانیة الهند.

❖ إکمال إکمال المعلم شرح صحیح مسلم، العلامة القاضی أبوالفضل عیاض الیحصبی رحمه الله المتوفی ۵۴۴ هـ۔

❖ الأنساب أبوسعد عبدالکریم بن محمد بن منصور السمعانی رحمه الله المتوفی ۵۶۲ هـ دار الجنان بیروت الطبعة الأولی ۱۴۰۸ هـ ۱۹۸۸ م،

❖ الأنساب للبلاذری

❖ أمالی شیخ طوسی.... للشیخ ابی جعفر محمد بن حسن الطوسی نجف اشرف عراق

❖ أوجزالمسالك إلی مؤطأ مالك: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب کاندهلوی رحمه الله (متوفی ۱۴۰۲ هـ مطابق ۱۹۸۲ م). دار القلم دمشق، الطبعة الاولی ۱۴۲۴ هـ

❖ بدایة المجتهد: للعلامه قاضی أبی الولید محمد بن احمد بن رشد القرطبی، المتوفی ۵۹۵ هـ، مصر طبع خاص، ودار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الثانیة ۱۴۲۴ هـ

❖ البدایة والنهایة: حافظ عمادالدین أبوالفداء إسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر رحمه الله (متوفی ۷۷۴ هـ) مکتبة المعارف. بیروت. طبع ثانی ۱۹۷۷ء

❖ بذل المجهود: حضرت العلامه خلیل أحمد سهارنپوری رحمه الله (متوفی ۱۳۴۶ هـ) مطبع ندوة العلماء لکنهو. ۱۳۹۳ هـ مطابق ۱۹۷۳ء مرکز الشیخ أبی الحسن الندوی، یوپی، الهند، الطبعة الأولی ۱۴۲۷ هـ۔

❖ البنایة شرح الهدایة، العلامة بدرالدین عینی محمود بن احمد رحمه الله، المتوفی ۸۵۵ هـ، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الأولی ۱۴۲۰ هـ۔

❖ تاج العروس من جواهرالقاموس: أبوالفيض سيد محمد بن محمد المعروف بالمرتضى الزبيدی رحمہ اللہ (١٢٠٥ھ). دار مكتبة الحياة بيروت و دار الهداية،

❖ تاريخ الاسلام ووفيات المشاهير والاعلام للامام الحافظ المؤرخ أبي عبدالله شمس الدين محمد بن احمد بن عثمان الذهبي المتوفى ٧٤٨، مطبوعة دار الكتب العلمية.

❖ تاريخ الامم و الملوك (تاريخ الطبری)، الامام ابو جعفر محمد بن جرير الطبری، رحمه الله، المتوفى ٣٢٠ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثالثة، ١٤٢٦ هـ۔

❖ تاريخ بغداد او مدينة السلام، حافظ احمد بن علی المعروف بالخطيب البغدادی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ٤٦٣ هـ، دار الكتاب العربی بيروت۔

❖ تاريخ الطبری، انظر (تاريخ الامم و الملوك)۔

❖ تاريخ عثمان بن سعيد الدارمی، المتوفى ٢٨٠ ه، عن ابی زكريا يحيى بن معين، المتوفى ٢٢٣ هـ، دار المامون للتراث، ١٤٠٠ هـ۔

❖ التاريخ الصغير، امير المؤمنين فی الحديث محمد بن اسماعيل البخاری، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ٢٥٦ هـ، دار المعرفة بيروت۔

❖ التاريخ الكبير، امير المؤمنين فی الحديث محمد بن اسماعيل البخاری، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ٢٥٦ هـ، دار الكتب العلمية بيروت۔

❖ تاريخ مدينة دمشق و ذكر فضلها و تسمية من حلها من الاماثل، ابو القاسم علی بن الحسن ابن هبة الله الشافعی، رحمه الله، المتوفى ٥٧١ هـ، دار الفكر، بيروت ١٩٩٥ م۔

❖ تاريخ يعقوبی: لأحمد بن أبي يعقوب العباسی الشيعی، بيروت

❖ تحفه اثناء عشريه / شاه عبدالعزيز دهلوی رحمہ اللہ، المتوفى ١٢٣٩ هـ، سهيل اكيڈمی لاهور،

❖ تحفة الاشراف بمعرفة الاطراف۔ ابو الحجاج جمال الدين يوسف بن عبد الرحمن المزی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ٧٤٢ هـ۔ المكتب الاسلامی بيروت، طبع دوم ١٤٠٣ هـ۔

❖ تحفة الأحباب فی نوادر آثار الاصحاب للشيخ عباس القمی، مطبوعة ١٣٥٩ هـ

❖ تحفة الباری بشرح صحيح البخاری، شيخ الحديث زكريا بن محمد الانصاری، رحمه الله تعالیٰ، المتوفى ٩٢٦ هـ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الاولیٰ ١٤٢٥ هـ۔

❖ تدريب الراوی شرح تقريب النواوی: حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطی رحمہ اللہ (متوفی ٩١١ ھ) المكتبة العلمية مدينه منوره

❖ تذكرة الحفاظ: حافظ أبوعبدالله شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی رحمه الله (متوف ۷۴۸ ھ)، دار المعارف العثمانيه الهند،

❖ التصريح بما تواتر فی نزول المسيح، لامام العصر، المحدث الكبير محمد انور شاه الكشميری، رحمه الله، المتوفی ۱۳۵۲ ھ، مكتبة دار العلوم كراتشی

❖ التعليق الصبيح: حضرت مولانا محمد ادريس صاحب كاندهلوی رحمه الله متوفی ۱۳۹۴ ھ مكتبة عثمانية لاهور

❖ التعليق الممجد المطبوع مع المؤطا لمحمد، ابو الحسنات محمد عبد الحی اللكنوی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۱۳۰۴ ھ، قديمی كتب خانه كراتشی۔

❖ تعليقات الخطيب على الفتح المطبوع مع فتح البارى، محب الدين الخطيب رحمه الله

❖ تعليقات على بذل المجهود، شيخ الحديث محمد زكريا كاندهلوی رحمه الله تعالى، المتوفی ۱۴۰۲ ھ، المكتبة التجارية، ندوة العلماء لكهنؤ، الطبعة الثالثة ۱۳۹۳ ھ/۱۹۷۳ م، و مركز الشيخ أبی الحسن الندوی، الهند

❖ تعليقات على تحرير تقريب التهذيب الدكتور بشار عواد معروف والشيخ شعيب ارنؤوط حفظهما الله، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الأولى ۱۴۱۷ ھ

❖ تعليقات على تهذيب التهذيب، المطبوع بذيل تهذيب التهذيب

❖ تعليقات على تهذيب الكمال، للدكتور بشار عواد معروف حفظه الله تعالى مؤسسة الرسالة الطبعة الأولى ۱۴۱۳ ھ،

❖ تعليقات على الكاشف للذهبی شيخ محمد عوامة شيخ أحمد محمد نمر الخطيب حفظهما الله مؤسسة دار القبلة موسسة علوم القرآن الطبعة الأولى ۱۴۱۳ ھ،

❖ تعليقات على الكوكب الدری شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله المتوفی ۱۴۰۲ ھ،

❖ تعليقات على لامع الدراری شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله المتوفی ۱۴۰۲ ھ، الموافق ۱۹۸۲ م، مكتبة إمدادية مكة المكرمة۔

❖ تعليقات على المصنف لابن ابی شيبة، الشيخ محمد عوامه، حفظه الله ورعاه، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، كراتشی، الطبعة الثانية، ۱۴۲۸ ھ

❖ تعليقات على المعجم الكبير، حمدی عبد المجيد السلفی، دار احياء التراث العربی، الطبعة الثانية

❖ تغليق التعليق للحافظ أحمد بن على المعروف بابن حجر رحمه الله المتوفی ۸۵۲ ھ، المكتب الإسلامی ودار عمار، والمكتبة الأثرية، لاهور، باكستان

❖ تفسیر آیات الأحکام من القرآن، الشیخ محمد علی الصابونی حفظه الله ورعاه، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الأولی ١٤٢٥ هـ

❖ تفسیر البغوی المسمی بمعالم التنزیل، الامام ابو محمد الحسین بن مسعود البغوی، رحمه الله، المتوفی ٥١٦ هـ، دار المعرفة، بیروت۔

❖ تفسیر البیضاوی مع حاشیة الشهاب: للامام أبوسعید عبدالله بن عمر البیضاوی الشافعی رحمه الله (متوفی ٦٨١ هـ) دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الأولی ١٤١٧ هـ

❖ تفسیر السمرقندی المسمی بحر العلوم، الامام الفقیه نصر بن محمد ابو اللیث السمرقندی، رحمه الله، المتوفی ٣٧٥ هـ، دار الکتب العلمیة، بیروت۔

❖ تفسیر الطبری (جامع البیان)، امام محمد بن جریر الطبری، رحمه الله تعالی، متوفی ٣١٠ هـ، دار المعرفة، بیروت۔

❖ تفسیر القرآن العظیم، حافظ ابو الفداء عماد الدین اسماعیل بن عمر ابن کثیر دمشقی، رحمه الله تعالی، متوفی ٧٧٤ هـ، دار احیاء الکتب العربیة۔

❖ تفسیر القرطبی (الجامع لاحکام القرآن)، امام ابو عبد الله محمد بن احمد الانصاری القرطبی، رحمه الله تعالی متوفی ٦٧١ هـ، دار الفکر، بیروت۔

❖ تفسیر قمی لعلی بن ابراهیم القمی، متوفی ٣٠٧ هـ، مطبوعه ایران

❖ التفسیر الکبیر، (تفسیر الرازی او مفاتیح الغیب)، الامام ابو عبد الله فخر الدین محمد بن عمر الرازی، رحمه الله تعالی، متوفی ٦٠٦ هـ، مکتب الاعلام الاسلامی، ایران۔

❖ تفسیر الکشاف عن حقائق غوامض التنزیل وعیون الأقاویل (تفسیر کشاف): جار الله ابو القاسم محمود بن عمر الزمخشری (متوفی ٥٣٨ هـ). دار الکتاب العربی بیروت،

❖ تفسیر المنار، السید الامام محمد رشید رضا المصری، رحمه الله، المتوفی ١٩٣٥ م، دار الکتب العلمیة بیروت، الطبعة الثانیة، ١٤٢٦ هـ۔

❖ تفسیر النسفی (مدارک التنزیل و حقائق التاویل)، ابو البرکات عبد الله بن احمد النسفی، رحمه الله، المتوفی ٧١٠ هـ، المکتبة العلمیة، لاهور، پاکستان۔

❖ تقریب التهذیب، حافظ ابن حجر عسقلانی، رحمه الله تعالی، متوفی ٧٥٢ هـ، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الاولی ١٤١٣ هـ۔

❖ التمهید لما فی المؤطا من المعانی والأسانید ، للحافظ أبی عمر یوسف بن عبداللہ بن محمد بن عبدالبر مالکی، رحمہ اللہ تعالی، المتوفی ۴۶۳ ھ، المکتبۃ التجاریۃ، مکۃ المکرمۃ

❖ تهذیب الأسماء واللغات: إمام ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ۶۷۶ھ) إدارۃ الطباعۃ المنیریہ،

❖ تهذیب تاریخ دمشق الکبیر۔ الامام الحافظ ابو القاسم علی المعروف بابن عساکر الشافعی، رحمہ اللہ، المتوفی ۵۷۱ ھ، دار المسیرۃ، بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۳۹۹ ھ/ ۱۹۷۹ م۔

❖ تهذیب التهذیب۔حافظ ابن حجر عسقلانی، رحمہ اللہ تعالی، متوفی ۸۵۲ ھ۔ دائرۃ المعارف النظامیۃ، حیدر آباد دکن ۱۳۲۵ ھ۔

❖ تهذیب سنن أبی داود — حافظ شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمہ اللہ متوفی ۷۵۱ھ مطبعۃ أنصار السنۃ المحمدیۃ ۱۳۶۷ھ

❖ تهذیب الکمال: حافظ جمال الدین أبوالحجاج یوسف بن عبدالرحمن مزی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۲ ھ). مؤسسۃ الرسالہ طبع اول ۱۴۱۳،

❖ الثقات (کتاب النفقات): للحافظ أبی حاتم محمد بن حبان بستی رحمہ اللہ (متوفی ۳۵۴ھ) دار المعارف العثمانیہ حیدر اباد ۱۳۹۳ھ،

❖ جامع الأصول من حدیث الرسول: علامہ مجدالدین أبوالسعادات المبارک بن محمد بن الأثیر الجزری رحمہ اللہ (متوفی ۶۰۶ھ) دار الفکر بیروت،

❖ جامع الترمذی (سنن ترمذی): إمام أبوعیسی محمد بن عیسی بن سورۃ ترمذی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۹ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی، دار إحیاء التراث العربی.

❖ جامع الدروس العربیۃ للشیخ مصطفی الغلاییني المتوفی ۱۳۶۴ ھ، قدیمی کتب خانہ

❖ الجامع الصغیر فی احادیث البشیر النذیر: حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ (متوفی ۹۱۱ھ). دار الکتب العلمیۃ، بیروت

❖ الجامع لأحکام القرآن: (تفسیر القرطبی)

❖ جامع المسانید والسنن ، للامام المحدث اسماعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقی رحمہ اللہ، المتوفی ۷۷۴ھ، دار الفکر، بیروت، الطبعۃ الثانیۃ، ۱۴۲۳ ھ

❖ الجرح والتعدیل ، الامام الحافظ عبد الرحمن بن ابی حاتم الرازی ، رحمہ اللہ تعالی ، المتوفی ۳۲۷ ھ، دار الکتب العلمیۃ، بیروت، الطبعۃ الاولی ۱۴۲۲ھ/ ۲۰۰۲ م۔

❖ الجمع بین الصحیحین : البخاری و مسلم ، الامام محمد بن الفتوح الحمیدی ، رحمہ اللہ ، المتوفی ۲۱۹ ھ، دار ابن حزم، بیروت ، الطبعۃ الثانیۃ، ۱۴۲۳ ھ۔

❖ جمع الجوامع (الجامع الكبير و الجامع الصغير و زوائده) الامام جلال الدين السيوطى، رحمه الله، المتوفى ۹۱۱ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولى ۱۴۲۱ هـ۔

❖ جمهرة انساب العرب، ابو محمد على بن احمد بن سعد بن حزم الاندلسى،، رحمه الله، المتوفى ۴۵۶ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، ۱۴۲۴ هـ، الطبعة الثالثة۔

❖ الجوهرة النقى فى الرد على البيهقى، المطبوع فى ذيل السنن الكبرى، العلامة علاء الدين الشهير بابن التركمانى، رحمه الله، المتوفى ۷۴۵ هـ، نشر السنة، ملتان، باكستان

❖ حاشية الجمل على الجلالين (الفتوحات الالهية) الامام العلام سليمان الجمل رحمه الله المتوفى ۱۲۰۴ هـ، قديمى

❖ حاشية الدسوقى على الشرح الكبير، الامام العلامة محمد بن احمد الدسوقى المالكى، رحمه الله، المتوفى ۱۲۳۰ هـ، دار الكتب العلمية، الطبعة الثانية، ۱۴۲۴۔

❖ حاشية السندى على البخارى، امام ابو الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادى السندى، رحمه الله تعالى، متوفى ۱۱۳۸ هـ، دار المعرفة، بيروت۔

❖ حاشية السهارنفورى، المطبوع مع صحيح البخارى، مولانا احمد على السهارنفورى، رحمه الله تعالى، متوفى ۱۲۹۷ هـ، طبع قديمى۔

❖ حاشية الشهاب المسماة: عناية القاضى و كفاية الراضى، على البيضاوى، القاضى شهاب الدين احمد بن محمد بن عمر الخفاجى، رحمه الله، المتوفى ۱۰۶۹ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت۔

❖ حلية الأولياء: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهانى شافعى (متوفى ۴۳۰ھ) دار الفكر بيروت،

❖ الخصائص الكبرى، للامام جلال الدين سيوطى رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ۹۱۱ھ). دار الكتب العلمية بيروت،

❖ خلاصة الخزرجى (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) للعلامة صفى الدين الخزرجى رحمۃ اللہ علیہ المتوفى د ۹۲۳ هـ، نه پس مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب)

❖ دلائل النبوة: حافظ أبوبكر أحمد بن الحسين بن على البيهقى رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ۴۵۸ھ). مكتبه أثريه لاهور،

❖ الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج أبى الفضل عبد الرحمن بن أبى بكر جلال الدين السيوطى رحمه الله، المتوفى ۹۱۱ هـ، ادارة القرآن كراتشى، الطبعة الأولى ۱۴۱۲ هـ

❖ ديوان الحماسه: أبوتمام حبيب بن أوس بن حارث طائى رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ۲۳۱ھ). دار الحديث ملتان، باكستان

❖ ديوان المتنبى لابى الطيب احمد بن حسين الجعفى الكندى المتوفى ۳۵۴ هـ/ مير محمد كتب خانه

❖ رحماء بينهم مولانا محمد نافع مدظلهم، دار الكتاب لاهور

❖ روح المعانى فى تفسير القرآن العظيم والسبع المثانى: أبوالفضل شهاب الدين سيد محمود آلوسى بغدادى رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ۱۲۷۰ھ) مكتبه إمداديه ملتان،

❖ الریاض النضرۃ فی مناقب العشرۃ .....

❖ زاد المعاد من ھدی خیر الأنام: حافظ شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمہ اللہ متوفی ۷۵۱ھ مؤسسۃ الرسالۃ۔

❖ سنن ابن ماجہ: إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجہ رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۳ھ)۔ قدیمی کتب خانہ کراچی/ دار الکتب المصری قاھرہ

❖ سنن ابی داؤد: إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۵ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی/ دار إحیاء السنۃ النبویۃ،

❖ سنن دارقطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دارقطنی رحمہ اللہ (متوفی ۳۸۵ھ) دار نشر الکتب العلمیۃ، بیروت، الطبعۃ الثانیۃ ۱۴۲۴ھ/ ۲۰۰۲م،

❖ سنن الدارمی۔ امام ابومحمد عبداللہ بن عبدالرحمن الدارمی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۲۵۵ ھ۔ قدیمی کتب خانہ کراچی۔

❖ سنن سعید بن منصور، للامام الحافظ سعید بن منصور بن شعبۃ الخراسانی المکی، رحمہ اللہ، المتوفی ۲۲۷، دار الکتب العلمیۃ، بیروت

❖ السنن الصغریٰ للنسائی۔ امام ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۳۰۳ ھ قدیمی کتب خانہ کراچی / دار السلام ریاض۔

❖ السنن الکبری للنسائی۔ امام ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۳۰۳ ھ۔ نشر السنۃ ملتان۔

❖ السنن الکبری للبیھقی۔ امام حافظ ابوبکر احمد بن الحسین بن علی البیھقی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۴۵۸ ھ۔ نشر السنۃ ملتان۔

❖ سیر اعلام النبلاء۔ حافظ ابوعبداللہ شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان ذھبی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفی ۷۴۸ ھ۔ مؤسسۃ الرسالۃ۔

❖ السیر الکبیر انظر کتاب السیر الکبیر

❖ السیرۃ النبویۃ۔ للامام ابومحمد عبدالملک بن ھشام المعافری، رحمہ اللہ تعالیٰ، المتوفی ۲۱۳ ھ۔ مطبعۃ مصطفی البابی، الحلبی، ۱۳۵۵ھ/ ۱۹۳۶م والمکتبۃ العلمیۃ، بیروت۔

❖ السیرۃ النبویۃ۔ للامام أبی الحسن علی الحسنی الندوی، مطبوعۃ النبراس کراتشی

❖ شرح علل الترمذی، الامام الحافظ ابن رجب الحنبلی، رحمہ اللہ، المتوفی ۷۹۵ ھ۔

❖ شرح العقيدة الطحاويه: علامه صدر الدين على بن على بن محمد بن ابى العز حنفى رحمه الله (متوفى ۷۹۲ھ) قديمى كتب خانه كراچى،

❖ شرح الفقه الأكبر: علامه نور الدين على بن سلطان القارى رحمه الله متوفى ۱۰۱۴ھ دار الكتب العلمية بيروت

❖ شرح السنة، الامام المحدث ابو محمد الحسين بن مسعود البغوى، رحمه الله، ۵۱۶ ھ، دار الكتب العلمية، بيروت،

❖ شرح نهج البلاغة \ عبد الحميد بن هبة الله ابن ابى الحديد \ مطبوعه بيروت

❖ شرح التوضيح (التلويح): العلامة سعد الدين التفتازانى الشافعى رحمه الله، المتوفى ۷۹۳ ھ، مير محمد كتب خانه، كراچى

❖ شرح ابن البطال للإمام أبي الحسن على بن خلف بن عبد الملك المعروف بابن بطال رحمه الله المتوفى ۴۴۹ ھ، مكتبة الرشد، الرياض، الطبعة الأولى ۱۴۲۰ ھ،

❖ شرح الزرقانى على الموطاء للشيخ محمد بن عبد الباقى بن يوسف الزرقانى المصرى رحمه الله المتوفى ۱۱۲۲ ھ، دار الفكر بيروت)

❖ شرح السنة، الامام المحدث ابو محمد الحسين بن مسعود البغوى، رحمه الله، ۵۱۶ ھ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية ۱۴۲۴ ھ

❖ شرح الطيبى: (اوگورئ: الكاشف عن حقائق السنن).

❖ شرح السير الكبير: للامام محمد بن أحمد السرخسى رحمه الله، المتوفى ۴۹۰ ھ، دار الكتب العلمية، بيروت

❖ شرح الكرمانى (الكواكب الدرارى) للعلامة شمس الدين محمد بن يوسف الكرمانى رحمه الله المتوفى (۷۸۶ ھ) دار إحياء التراث العربى، بيروت)

❖ شرح مشكل الآثار للإمام أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوى رحمه الله المتوفى ۳۲۱ ھ، مؤسسة الرسالة، الطبعة الثانية، ۱۴۲۷ ھ

❖ شرح معانى الآثار إمام أبوجعفر احمد بن محمد بن سلامة بن سلمه طحاوى رحمه الله (متوفى ۳۲۱ھ) مير محمد آرام باغ كراچى، \ مير محمد آرام باغ كراچى،

❖ شرح النووى على صحيح مسلم إمام أبوزكريا يحيى بن شرف النووى رحمه الله (۶۷۶ھ). قديمى كتب خانه كراچى،

❖ الشفاء بتعريف حقوق المصطفى، للامام القاضى عياض المالكى اليحصبى، رحمه الله، المتوفى ۵۴۴ ھ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية، ۱۴۲۲ ھ۔

❖ الشمائل المحمدية، الامام ابوعيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذى رحمه الله، المتوفى ۲۷۹ ھ، دار الكتب العلمية بيروت ۱۴۲۷ ھ۔

❖ الصحاح (قاموس عربى - عربى)، الامام اسماعيل بن حماد الجوهرى، رحمه الله، المتوفى ۳۹۳ هـ، دار المعرفة، بيروت، الطبعة الثانية، ۱۴۲۸ هـ۔

❖ الصحيح للبخارى، امام ابوعبدالله محمد بن اسمعيل البخارى، رحمه الله تعالى، المتوفى ۲۵۲ هـ، قديمى كتب خانه، كراچى / دار السلام، رياض، الطبعة الاولى ۱۴۱۷ هـ۔

❖ الصحيح لمسلم مع شرحه للنووى رحمة الله عليه، امام مسلم بن الحجاج القشيرى النيسابورى، رحمه الله تعالى، متوفى ۲۶۱ هـ، قديمى كتب خانه، كراچى / دار السلام، رياض۔

❖ الطبقات الكبرىٰ، الامام ابومحمد بن سعد، رحمه الله، المتوفى ۲۳۰ هـ، دار صادر بيروت۔

❖ علوم الحديث لابن الصلاح حافظ تقى الدين أبوعمروعثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح الشهرزورى رحمة الله (۶۴۳ھ)۔ بيروت،

❖ عمدة القارى شرح صحيح البخارى: إمام بدرالدين أبومحمد محمود بن أحمد العينى رحمة الله (متوفى ۸۵۵ ھ) إدارة الطباعة المنيرية،

❖ غريب الحديث: إمام أبوسليمان حمدبن محمد الخطابى رحمة الله (متوفى ۳۸۸ھ)۔ مركزالبحث جامعه ام القرى مكه مكرمه ۱۴۰۲ هـ۔

❖ فتح البارى شرح صحيح البخارى، للامام زين الدين عبدالرحمن بن أحمد ابن رجب الحنبلى رحمه الله، المتوفى ۷۹۵ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى ۱۴۲۷ هـ

❖ فتح البارى: للحافظ احمد بن على المعروف بابن حجر عسقلانى رحمة الله (متوفى ۸۵۲ھ)۔ دار الفكر بيروت،

❖ فتح القدير: (تفسير الجامع بين فنى الرواية والدراية من علم التفسير، للامام محمد بن على الشوكانى رحمه الله، المتوفى ۱۲۵۰ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت

❖ فتح القدير: إمام كمال الدين محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام رحمة الله (متوفى ۸۶۱ھ) مكتبه رشيديه كوئٹه

❖ فتوح البلدان، الامام الجغرافى احمد بن يحيى بن جابربن داود البلاذرى، رحمه الله، المتوفى ۲۷۹ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، ۱۴۰۳ هـ۔

❖ فتح المغيث شرح الفية الحديث/شرح الفية العراقى: إمام أبوالفضل زين الدين عبدالرحيم بن الحسين العراقى رحمة الله (متوفى ۸۰۶ھ) دار الجيل بيروت،

❖ فتح المغيث لشمس الدين محمد بن عبدالرحمن السخاوى رحمة الله المتوفى ۹۰۲ھ، دار الكتب العلمية بيروت،)

❖ فجرالاسلام لأحمد أمين المتوفى ۱۳۷۳ هـ، مطبوعه دار الكتب العلمية بيروت لبنان

❖ فروع الكافى ..... لمحمد بن يعقوب الكلينى، مطبوعه لكهنو

❖ فیروز اللغات، مولانا فیروز الدین زیر ... سنز اردو بازار کراچی
❖ کتاب فرق الشیعة، لأبی محمد الحسن بن موسی نوبختی ..... لمحمد بن یعقوب الکلینی، مطبوعه لکهنو
❖ فیض الباری: إمام العصر علامه أنور شاه کشمیری رحمه الله (متوفی ۱۳۵۲ھ). مطبعة دار المامون، الطبعة الأولی،
❖ فیض القدیر شرح الجامع الصغیر: شیخ عبد الرؤف المناوی رحمه الله (متوفی ۱۰۳۱ھ). دار الکتب العلمیة، الطبعة الثالثة، ۱۴۲۷ھ
❖ القاموس الوحید - مولانا وحید الزمان بن مسیح الزمان قاسمی کیرانوی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۱۴۱۵ھ، /۱۹۹۵م، ادارہ اسلامیات لاهور - کراچی۔
❖ الکاشف: للإمام شمس الدین أبوعبد الله محمد بن أحمد بن عثمان الذهبی رحمه الله المتوفی ۷۴۸ھ، شرکة دار القبلة/موسسة علوم القرآن الطبعة الأولی ۱۹۹۲م، ۱۴۱۳ھ،)
❖ الکاشف عن حقائق السنن - (شرح الطیبی) امام شرف الدین حسین بن محمد بن عبد الله الطیبی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۷۴۳ھ - ادارة القرآن کراچی۔
❖ الکامل فی التاریخ: علامه أبوالحسن عزالدین علی بن محمد بن الأثیر الجزری رحمه الله (متوفی ۶۳۰ھ) دار الکتب العربی، بیروت
❖ الکامل فی ضعفاء الرجال: إمام أبو احمد عبد الله بن عدی جرجانی رحمه الله (متوفی ۳۶۵ھ) دار الفکر بیروت،
❖ کتاب الأم: امام محمد بن ادریس الشافعی رحمه الله متوفی ۲۰۴ھ دار المعرفة بیروت ۱۳۹۳ھ ۱۹۷۳م۔
❖ کتاب التلخیص للشافعی، لابی جعفر الطوسی، مطبوعه ایران
❖ کتاب السیر الکبیر، للامام محمد بن الحسن الشیبانی، رحمه الله، المتوفی ۱۸۹ھ، دار الکتب العلمیة بیروت۔
❖ کتاب السنة، الامام الحافظ ابوبکر احمد بن عمرو بن ابی عاصم الضحاک بن مخلد الشیبانی، رحمه الله، المتوفی ۲۸۷ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت۔
❖ کتاب الشافی للسید مرتضی، علم الهدی مطبوعه ایران
❖ کتاب الضعفاء الکبیر، ابو جعفر محمد بن عمر بن موسی بن حماد العقیلی المکی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۳۲۲ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت۔
❖ کتاب المبسوط، الامام شمس الائمة ابوبکر محمد بن ابی سهل السرخسی، رحمه الله، المتوفی ۴۸۳ھ، دار المعرفة، بیروت، الطبعة الثالثة، ۱۳۹۸ھ۔
❖ کتاب المغازی، الامام محمد بن عمر الواقدی، رحمه الله، المتوفی ۲۰۷ھ، مؤسسة الاعلمی، بیروت۔
❖ کتاب المیسر فی شرح مصابیح السنة، للامام أبی عبد الله الحسن التوربشتی رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۶۶۱ھ، مکتبة مصطفی نزار الباز، مکة المکرمة، الطبعة الأولی ۱۴۲۲ھ
❖ الکتب الستة (موسوعة الحدیث الشریف) باشراف و مراجعة فضیلة الشیخ صالح بن عبد العزیز آل الشیخ، دار السلام، الریاض۔

❖ الكاشف عن حقائق غوامض التنزيل ـــــــ الامام جار الله محمود بن عمر الزمخشری، المتوفی ۵۲۸ ھ، دار الكتاب العربی، بيروت، لبنان۔

❖ كشف الأستار عن زوائد البزار: إمام نور الدين علی بن أبی بكر الهيثمی رحمہ اللہ (متوفی ۸۰۷ ھ). بتحقيق الشيخ حبيب الرحمن الأعظمی، مؤسسة الرسالة الطبعة الثانية ۱۴۰۴ھ،

❖ كشف البارِی شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان مدظلهم العالی مكتبة فاروقية كراچی۔

❖ كشف الخفاء ومزيل الإلباس شيخ إسماعيل بن محمد العجلونی رحمہ اللہ المتوفی ۱۱۶۲ھ دار إحياء التراث العربی بيروت)

❖ كنز العمال فی سنن الأقوال والأفعال: علامه علاء الدين علی متقی بن حسام الدين هندی برهان پوری رحمہ اللہ (متوفی ۹۷۵ھ). مكتبة التراث الإسلامی حلب،

❖ الكنز المتوارِی فی معادن لامع الدرارِی (انظروا تعليقات لامع الدرارِی) لشيخ الحديث مولانا محمد زكريا الكاندهلوی رحمہ اللہ مؤسسة الخليل فيصل آباد،

❖ الكوثر الجارِی الی رياض احاديث البخارِی، الامام احمد بن اسماعيل الكورانی الحنفی، رحمه الله، المتوفی ۸۹۳ ھ، دار احياء التراث العربی بيروت، الطبعة الاولی، ۱۴۲۹ ھ۔

❖ الكوكب الدرِی حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۱۳۲۳ ھ ادارة القرآن كراچی

❖ لامع الدرارِی حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی رحمه الله تعالیٰ متوفی ۱۳۲۳ ھ مكتبه امداديه مكة مكرمة

❖ لسان العرب، لأبو الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور افريقی مصری، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۷۱۱ ھ، نشر ادب الجوزة، قم، ايران، ۱۴۰۵ ھ و دار صادر، بيروت۔

❖ لسان الميزان، للحافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی، رحمه الله، متوفی ۸۵۲ ھ بتحقيق الشيخ عبد الفتاح، رحمه الله، دار البشائر الاسلامية، الطبع الاول، ۱۴۲۳ ھ۔

❖ المؤطا، للامام مالك بن انس، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۱۷۹ ھ، دار احياء التراث العربی بيروت۔

❖ المؤطا، للامام محمد الحسن الشيبانی رحمه الله، المتوفی ۱۸۹ ھ، قديمی كتب خانه كراچی۔

❖ المتوارِی علی تراجم ابواب البخارِی، علامه ناصر الدين احمد بن محمد المعروف بابن المنير الاسكندرانی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۶۸۳ ھ، مظهری كتب خانه كراچی۔

❖ مجمع بحار الانوار، علامه محمد بن طاهر پٹنی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۹۸۲، دائرة المعارف العثمانيه حيدر آباد، ۱۳۹۵ ھ۔

❖ مجمع الزوائد امام نور الدين علی بن ابی بكر الهيثمی رحمه الله تعالیٰ متوفی ۸۰۷ ھ، دار الفكر، بيروت

❖ المجموع (شرح المهذب)، امام محی الدين ابو زكريا يحيیٰ بن شرف النووی رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۶۷۶ ھ، شركة من علماء الأزهر۔

❖ مجموعة رسائل ابن عابدين، العلامة المحقق السيد محمد امين آفندی الشهير بابن عابدين، رحمه الله، المتوفی ۱۲۵۲ ھ، مكتبه عثمانيه، كوئٹه۔

❖ مجموع الفتاوی لشیخ الاسلام العلامة تقی الدین ابی العباس أحمد بن عبدالحلیم بن عبدالسلام بن تیمیة الحرانی المتوفی ۷۸۲ھ، دار الکتب العلمیة بیروت
❖ المحدث الفاصل بین الراوی والواعی، للقاضی الحسن بن عبدالرحمن الرامهرمزی رحمه الله المتوفی ۳۶۰ھ، الاصول..
❖ المحلی للعلامة أبی محمد علی بن أحمد بن سعید بن حزم رحمه الله المتوفی ۴۵۶ھ المکتب التجاری بیروت \ دار الکتب العلمیة بیروت)
❖ مختار الصحاح: لإمام محمد بن أبی بکر بن عبدالقادر الرازی رحمه الله (متوفی ۶۶۶ھ)، نه روستو، دار المعارف مصر،
❖ المدونة الکبری۔ الامام مالك بن انس رحمه الله تعالی، المتوفی ۱۷۹ھ، دار صادر، بیروت۔
❖ مرقاة المفاتیح (شرح مشکوة المصابیح)۔ علامه نور الدین علی بن سلطان القاری رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۱۰۱۴ھ، مکتبه امدادیه ملتان۔
❖ المستدرك علی الصحیحین۔ حافظ ابوعبد الله محمد بن عبد الله الحاکم النیسابوری، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۴۰۵ھ، دار الفکر، بیروت۔
❖ مسند ابی داؤد الطیالسی، الامام المحدث سلیمان بن داؤد بن الجارود رحمه الله، متوفی ۲۰۴ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الاولیٰ ۱۴۲۵ھ۔
❖ مسند ابی یعلی الموصلی، الامام شیخ الاسلام ابویعلی احمد بن علی الموصلی، رحمه الله، المتوفی ۳۰۷ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الاولی، ۱۴۱۸ھ۔
❖ مسند احمد، للامام احمد بن حنبل، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۲۴۱ھ، المکتب الاسلامی، دار صادر، بیروت
❖ مسند اسحاق بن راهویه، الامام اسحاق بن ابراهیم بن مخلد بن راهویه الحنظلی، رحمه الله، المتوفی ۲۳۸ھ، مکتبة الایمان، المدینة المنورة، الطبعة الاولی، ۱۴۱۲ھ۔
❖ مسند البزار (البحر الزخار)، الامام ابوبکر احمد بن عمرو بن عبد الخالق البزار، رحمه الله، المتوفی ۲۹۲ھ مؤسسة علوم القرآن مکتبة العلوم والحکیم بیروت و المدینة المنورة، ۱۴۰۹ھ، الطبعة الاولی
❖ مسند الحمیدی، امام ابوبکر عبد الله بن الزبیر الحمیدی، رحمه الله، متوفی ۲۱۹ھ، المکتبة السلفیة، مدینة منوره۔
❖ مسند الرویانی مؤسسة الرسالة قاهره
❖ المسوی مع المصفی، الامام ولی الله الدهلوی، رحمه الله، المتوفی ۱۱۷۶ھ، کتب خانه رحیمیه، دهلی۔
❖ مشارق الانوار علی صحاح الآثار، القاضی ابو الفضل عیاض بن موسی بن عیاض الیحصبی السبتی المالکی، رحمه الله، المتوفی ۵۴۴ھ، دار التراث۔
❖ مشکاة المصابیح، للشیخ أبی عبد الله ولی الدین خطیب محمد بن عبد الله، رحمه الله، المتوفی ۷۳۷ھ، قدیمی
❖ المصنف لابن ابی شیبة، حافظ عبد الله بن محمد بن ابی شیبة المعروف بابی بکر بن ابی شیبة، رحمه الله تعالیٰ متوفی ۲۳۵ھ، بتحقیق الشیخ محمد عوامة، حفظه الله، دار قرطبة، بیروت، الطبعة الاولی، ۱۴۲۷ھ

❖ المصنف لعبد الرزاق، الامام عبد الرزاق بن همام صنعانی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۲۱۱ ھ، مجلس علمی، کراچی، ودار الکتب العلمیة، بیروت۔

❖ المطالب العالیة بزوائد المسانید الثمانیة، الحافظ ابن حجر العسقلانی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۸۵۲ ھ، دار الهاز، مکة المکرمة۔

❖ معالم السنن، الامام ابوسلیمان حمد بن محمد الخطابی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۳۸۸ ھ، مطبعة انصار السنة المحمدیة، ۱۹۳۸ م/۱۳۶۷ ھ۔

❖ معجم الاسماعیلی، مکتبة العلوم والحکم، بیروت

❖ المعجم الاوسط، الامام ابو القاسم سلیمن بن احمد الطبرانی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۳۶۰ ھ، دار الحرمین، القاهرة، ۱۴۱۵ ھ۔

❖ معجم البلدان، علامه ابوعبد الله یاقوت حموی رومی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۶۲۶ ھ، دار احیاء التراث العربی، بیروت۔

❖ معجم الصحابة، الامام الحافظ ابو الحسین عبد الباقی بن قانع البغدادی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۳۵۱ ھ، مکتبه نزار مصطفی الباز، مکة المکرمة، الریاض، الطبعة الاولیٰ، ۱۴۱۸ ھ۔

❖ المعجم الکبیر امام سلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی رحمه الله تعالیٰ متوفی ۳۶۰ ھ دار الفکر، بیروت

❖ المعجم الفهرس لالفاظ الحدیث النبوی، أ—وی—منسك، و ی—پ—منسج، مطبعة بریلی فی مدینة لیدن ۱۹۶۵ م۔

❖ معجم مقاییس اللغة، امام احمد بن فارس بن زکریا قزوینی رازی، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۳۹۵ ھ، دار الفکر، بیروت۔

❖ المعجم الوسیط، دکتور ابراهیم انس، دکتور عبد الحلیم منتصر، عطیة الصوالحی، محمد خلف الله احمد، مجمع اللغة العربیة، دمشق۔

❖ معرفة الصحابة، الامام الحافظ ابونعیم احمد بن عبد الله الاصبهانی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۴۳۰ ھ، دار الکتب العلمیة، بیروت، الطبعة الاولیٰ، ۱۴۲۲ ھ۔

❖ المغرب، ابو الفتح ناصر الدین مطرزی، رحمه الله تعالیٰ، المتوفی ۶۱۰ ھ، ادارة دعوة الاسلام، کراتشی

❖ المغنی، امام موفق الدین ابو محمد عبد الله بن احمد بن قدامة، رحمه الله تعالیٰ، متوفی ۶۲۰ ھ، دار الفکر، بیروت، وبیت الافکار الدولیة۔

❖ المفردات فی غریب القرآن، العلامة حسین بن محمد المعروف بالراغب الاصفهانی، رحمه الله، المتوفی ۵۰۲ ھ، قدیمی کتب خانه، کراتشی۔

❖ المفهم لما اشکل من تلخیص کتاب مسلم، الامام الحافظ ابو العباس احمد بن عمر بن ابراهیم، القرطبی رحمه الله، المتوفی ۶۵۶ هجری

❖ المكتوبات الربانية، للامام الربانى الشيخ أحمد بن عبدالأحد السرهندى مجدد الالف الثانى، المتوفى ١٠٣٤ هـ.....

❖ المنتقى شرح المؤطا، القاضى ابو الوليد سليمان بن حلف الباجى، رحمه الله، المتوفى ٤٩٤ هـ، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الاولى، ١٤٢٠ هـ-

❖ منهاج السنة النبوية، الامام الهمام ابو العباس احمد ابن تيمية الحرانى، رحمه الله، المتوفى ٧٢٨ هـ، مؤسسة قرطبة، ١٤٠٦، الطبعة الاولى-

❖ المنهل الروى فى مختصر المنهل علوم الحديث النبوى لابن جماعة محمد بن ابراهيم دار الفكر بيروت

❖ موارد الظمآن — امام نور الدين على بن ابى بكر الهيثمى رحمۃ اللہ علیہ متوفى ٨٠٧ هـ دار الكتب العلمية، بيروت

❖ المواهب اللدنية المطبوع مع الشمائل المحمدية، للإمام الشيخ ابراهيم بن محمد بن احمد الشافعى البيجورى رحمۃ اللہ علیہ (المتوفى ١٢٧٧ هـ). فاروقى كتب خانه ملتان)

❖ الموضوعات، للامام ابو الفرج عبد الرحمن ابن الجوزى، رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٩٧ هـ، قرآن محل، اردو بازار كراچى، و دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية، ١٤٢٤ هـ-

❖ موسوعة الامام الشافعى (كتاب الام)، الامام المحدث الفقيه محمد بن ادريس الشافعى، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٠٤ هـ، دار قتيبة، الطبعة الثانية، ١٤٢٤ هـ-

❖ ميزان الاعتدال فى نقد الرجال، حافظ شمس الدين محمد احمد بن عثمان ذهبى، رحمه الله تعالى، متوفى ٧٤٨ هـ، دار احياء التراث العربية، مصر، ١٣٨٢ هـ-

❖ ناسخ التواريخ لسان الملك مرزا محمد تقى، مطبوعه ايران

❖ نسيم الرياض فى شرح شفاء للقاضى عياض، للامام شهاب الدين أحمد بن محمد بن عمر الخفاجى، رحمه الله، المتوفى ١٠٦٩ هـ، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى، ١٤٢١ هـ

❖ النهاية فى غريب الحديث والأثر: علامه مجدالدين أبوالسعادات المبارك بن محمد بن الاثير رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ٦٠٦). دار إحياء التراث العربى بيروت،

❖ نهج البلاغة ....، للشيخ سيد شريف الرضى أبى الحسن، مطبوعه مصر

❖ وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان: قاضى شمس الدين أبوالعباس احمد بن محمد المعروف بابن خلكان رحمۃ اللہ علیہ (متوفى ٦٨١ هـ) دار صادر بيروت،

❖ الهداية، للشيخ برهان الدين أبى الحسن على بن أبى بكر المرغينانى رحمۃ اللہ علیہ المتوفى ٥٩٣ هـ مكتبه شركت علميه، ملتان، ومكتبة البشرى، كراتشى، الطبعة الأولى ١٤٢٨ هـ)

❖ هداية النحو.....، للشيخ سراج الدين النظامى، المتوفى ٧٥٨، مكتبة البشرى بكراتشى

❖ هدى الساري (مقدمه فتح البارى). للحافظ إبن حجر عسقلانى رحمۃ اللہ علیہ (المتوفى ٨٥٢ هـ). دار السلام، الرياض، الطبعة الأولى، ١٤٢١ هـ

...